د میرویس اباسین لخوا سکین شو

# عزیز التفاسیر

د قرآن کریم پښتو ترجمه او تفسیر

ابو حذیفه

مولوي سلطان عزیز

ناشر

دار الکنوز ال

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو

﴿وَإِنَّهُۥ لَكِتَٰبٌ عَزِيزٌ ﴿٤١﴾﴾ [حم السجدة]

او بېشکه دا ذکر (قرآن) هرومرو کلک (قوي) کتاب دی

# عزيز التفاسير

د قرآن کريم پښتو ترجمه او تفسير

"النحل، بني إسرآئيل، الکهف، مريم" څخه د "طه" تر [۲۴] ايت پورې

اوم ټوک

مولوي سلطان عزيز (عزيز) أبو حذيفه عفی‌الله‌عنه

حسن خيل مومند؛ د نجم المدارس پخوانی استاذ

ناشر: دار الکنوز العلمية

Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحیم

- د دې کتاب لیکنه د الله ﷻ په توفیق په دار الهجرة (پېښور - پاکستان) کې په ۱۴۱۱/۲/۳ هـ ق = ۱۳۶۹/۶/۲ هـ ش نېټه د جمعې د شپې په دوه بجو پیل، او په ۱۴۲۶/٤/۱۲ هـ ق = ۱۳۸٤/۱/۳۱ هـ ش نېټه پای ته ورسیده.
- په ۱۴۲۹/۱/۱ هـ ق= ۱۳۸٦/۱۰/۲۰ هـ ش نېټه بي بیا کتنه، تصحیح او ډیزاین ترسره شوه او د الله ﷻ په فضل چاپ ته چمتو شو.
- له شروع نه ترپایه ورباندې اوولس کاله، څلور میاشتې او اوولس ورځې تیرې شوي، البته په دې حساب کې هره میاشت د دیرشو ورځو په لحاظ نیولې شوې ده.
- کمپوز: مولوي تبیان الحق عزیز، تصحیح: قاضي اسامه عزیز، د (دکتور اظهار الحق عزیز، نبراس الحق عزیز او حذیفه عزیز) په همکارۍ. ډیزاین: نبراس الحق عزیز، د حذیفه عزیز په همکارۍ.

## څلورم چاپ

## ۱٤۳۷ هـ ق / ۱۳۹۵ هـ ش

**د دې کتاب ټول حقوق محفوظ دي**

د اړیکو پتې:

۱) بریښنالیک: azizultafasir@gmail.com

۲) ګرځنده تلفون: (۰۰۹۲۳۰۰۵۸۴۶۳۵۱)، (۰۰۹۲۳۱۶۵۲۷۹۳۰۳)

د لاسته راوړلو پتې:

۱) رشیدیه کتب خانه ، کابل، افغانستان.

ګرځنده تلفون: (۰۷۷۱۹۶۱۰۲۸)، (۰۷۹۰۹۶۲۸۰۷)

۲) رشیدیه کتب خانه ، صدف پلازه، محله جنګي، د قصه خواني شاته، پېښور، پاکستان.

تلفون: (۰۹۱۲۵٦٥٥۳۸)

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو

بسم الله الرحمن الرحیم

Scanned by CamScanner

# النحل (١٦)



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

مونږ غواړو چې د ښه بصیرت د موندلو دپاره د دې سورت په تفاسیرو باندې د پیل کولو څخه وړاندې محترمو لوستونکو ته لاندې څو نکات وړاندې کړو:

١ـ دا سورت "النَّحْل" نومېږي چې د "النَّحْل" کلمه د دې سورت په [٦٨] ایت کښې نازله شوې ده. شاید چې ـ والله ﷻ أعلم ـ دا نوم به د دې دپاره ورباندې ایښودلی شوی وي چې:

الف: څرنګه چې "النَّحْل" د شاتو مچیو ته ویل کېږي نو د دې نوم په ایښودلو سره به مسلمانان متوجه کړی شوي وي چې تاسو هم د قرآن کریم د ژورو مفاهیمو د موندلو په غرض او بیا په عملي میدان کښې د پیاده کولو په غرض د شاتو د مچیو غوندې زیار وباسئ او په اخلاص کار وکړئ.

ب: لکه څنګه چې په شاتو کښې د مسلمانانو مادي شفاء او د حسي مرضونو شفاء نغښتې ده همدارنګه قرآن کریم د دوی دپاره معنوي شفاء ده او د معنوي مرضونو دپاره ورته پوره دارو درمل دي. همدې خبرې ته نبي کریم ﷺ اشاره کړې ده چې: «عَلَيْكُمْ بالشِّفَاءَيْنِ الْعَسَلِ وَالْقُرْآنِ»[١] یعني اې مسلمانانو په تاسو باندې ضرور ده چې د خپلو مادي او معنوي مرضونو علاج په دوه وو شفاګانو باندې وکړئ، چې یوه شفاء شات دي او بله شفاء قرآن کریم دی.

٢ـ دا سورت (النَّحْل) د اکثریت ایتونو په اعتبار سره مکي سورت دی مګر په شمېر (پنځه یا اوه) ایتونه پکښې مدني هم شته دي[٢].

٣ـ د دې سورت اعداد په لاندې ډول دي[٣]:

الف: ټول ایتونو یې (چې مکي او مدني ټول پکښې شامل دي) یو سلو اته ویشت (١٢٨) دي[٤].

ب: د کلماتو شمېر یې دوه زره اته سوه څلوېښت (٢٨٤٠) دي.

ج: د حرفونو شمېر یې اوه زره اوه سوه اوه (٧٧٠٧) دي.

٤ـ دا سورت د نورو مکي سورتونو غوندې په عمومي توګه عقیدوي بحث کوي مثلاً:

الف: د الله ﷻ د وحدانیت دلایل پکښې شرحه شوي دي.

ب: د قیامت د ورځې قیام په دلایلو باندې اثبات شوی دی.

ج: د مشرکانو او کفارو اعتراضونه پکښې جواب شوي دي.

د: بالآخره د نبي کریم ﷺ د تسلیت څخه علاوه د الله ﷻ نعمتونو ته پکښې اشارې شوې دي.

٥ـ څرنګه چې وړاندېنی سورت (الحجر) مکي سورت وه نو په عمومي توګه د هغه سورت سره دا سورت په محتویاتو کښې ښه کلک اړوند او ارتباط لري.

---

(١) سنن ابن ماجه ص ٢٤٦

(٢) روح المعاني ج ١٤ ص ٨٩؛ زاد المسير ج ٤ ص ٣١١

(٣) اللباب في علوم الكتاب ج ١٢ ص ٣

(٤) تفسير البغوي ج ٢ ص ٦١

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ أَتَىٰٓ أَمۡرُ ٱللَّهِ فَلَا تَسۡتَعۡجِلُوهُۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ١ يُنَزِّلُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ بِٱلرُّوحِ مِنۡ أَمۡرِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦٓ أَنۡ أَنذِرُوٓاْ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱتَّقُونِ ٢ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[١] د الله ﷻ امر (د قیامت قیام) راغی (ډېر نژدې او یقیني دی) نو تاسو یې په عجله (توندی) سره مه غواړئ (ځکه چې): الله ﷻ ته (د دروغو او باطلو څخه) پاکي ده او د هغو بوتانو څخه اوچت دی چې مشرکان یې ورسره (په عبادت کښې) شریکوي (او د اشتراک عقیده پرې کوي).

[٢] الله ﷻ په وحې سره، چې د ده ﷻ د امر څخه عبارت ده، د خپلو بندګانو څخه په هغه چا باندې پرښتې ورنازلوي چې د ده ﷻ ورته اراده وشي، چې (خلک) د ډارولو سره-سره خبر کړئ چې یقینًا شان دا دی چې په حقه باندې معبود نشته مګر همدا زه یم، نو زما څخه ووېرېږئ (او شریکان راسره مه ودرئ).

## ارتباط

١ـ د وړاندېني سورت په وروستنیو ایتونو کښې الله ﷻ په سوګند سره فرمایلي وه چې مونږ به هرومرو او ضرور د کفارو څخه پوښتنه وکړو. په دې ایتونو کښې د پوښتنې کولو وخت ته اشاره شوې ده چې د قیامت قیام دی او نژدې راروان دی.

٢ـ هلته د استهزاء کوونکو ذکر شوی وه او دلته د هغوی د استهزاء او د ملنډو ډول ته اشاره شوې ده او یو مثال یې ښودلی شوی دی، چې ویل به یې هله ژر شه قیامت قائم کړه.

٣ـ هغه سورت په ﴿ حَتَّىٰ يَأۡتِيَكَ ٱلۡيَقِينُ ﴾ باندې ختم شوی وه چې د مرګ د وخته پورې د خپل رب ﷻ په عبادت باندې مشغول اوسه، او دا سورت په ﴿ أَتَىٰٓ أَمۡرُ ٱللَّهِ ﴾ باندې پیل شوی دی چې د ټولې دنیا مرګ (د قیامت قیام) هم نژدې را روان دی.

## شان نزول

ځینو علماوو کرامو د ذکرو شوو ایتونو دپاره د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په روایت اوږد شان نزول لیکلی دی چې یوه ورځې نبي کریم ﷺ ته د وخت کفار ورغونډ شوه او ورته یې وویلې چې: "يَا مُحَمَّدُ! مَا نَرى شَيْئًا مِمَّا تُخَوِّفُنَا بِهِ" یعنې مونږ خو هغه یو شی هم نه ګورو چې ته مونږ د هغه په راتګ سره ډاروې چې قیامت به قائم شي؛ نو ذکر شوی ایت شریف نازل شو[1]. دا د یو پلوه، او د بله پلوه

(١) اسباب النزول للواحدي ص١٨٧؛ روح المعاني ج١٤ ص٩١

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې: «بُعِثْتُ أَنَا وَالسَّاعَةُ كَهَاتَيْنِ»(۱) يعني زه د قيامت د ورځې سره داسې يو ځای رالېږلی شوی يم لکه دغه دواړه ګوتې، چې يوه سبابه ګوته ده او بله منځنۍ ګوته ده. يا په بل عبارت: زه او قيامت د دغو ګوتو غوندې جوړه ياستو خو زه ترې دومره وړاندې يم لکه د سبابې ګوتې څخه چې منځنۍ ګوته اوږده او وړاندې ده.

## د مطلب خلاصه

يعني ای پيغمبره! خپل معاندين او مخالفين زمونږ د پلوه مخاطب کړه چې: د الله ﷻ په امر (د قيامت په قيام او د عذاب په نزول) باندې توندي مه کوئ، دغه دی نژدې راروان دی چې هيڅ شک او شبهه يې په راتګ کښې نشته، نو تاسو يې داسې وګڼئ لکه چې راغلی وي. او دا ځکه چې:

۱ـ الله ﷻ ته د دې خبرې څخه پاکې ده چې دنيا به يې عبثه او بلا حکمته پيدا کړې وي، او په نتيجه کښې به محاسبه او تصفيه ونه لري، کافر او مسلمان ته به په يو نظر وګوري، نو الله ﷻ د هغو خبرو او چټياتو څخه لوی دی کوم چې مشرکان يې ورته ثابتوي او دروغ ورباندې ورتړي، چې د قيامت د قيام او د عذاب د نزول خبره دروغ ده.

۲ـ الله ﷻ يو لګ څليرشت زره ـزيات يا کم ـ پيغمبران د دې دپاره نه دي لېږلي چې چاته د قيامت د قيام وخت ورتعين کړي او يا په ظالمانو باندې عذاب ورنازل کړي. يا په بل عبارت: الله ﷻ هيڅ پيغمبر ته نه د قيامت د قيام وخت ورښودلی دی او نه يې په تکويناتو کښې څه حصه ورکړې ده بلکې کله چې الله ﷻ اراده وکړي چې د خپلو بندګانو څخه کوم په نبوت باندې سرلوړی کړي نو هغوی ته د خپلو ملکو (پرښتو) په سلسله وحې کوي او يا ورباندې اسماني کتاب ورنازلوي چې:

ټول خلک زما د عذاب څخه وډار کړئ، چې بې شکه شان دا دی چې په حقه باندې معبود نشته مګر همدا زه په حقه معبود يم نو زما څخه ووېرېږئ او د شرکياتو څخه خپل ځانونه په څنګ کړئ او يا بې په څنګ وساتئ، چې داسې ورځ در روانه ده چې تصفيه او محاسبه به پکښې درسره وکړی شي.

## توضيحات

۱ـ په ﴿ أَتَىٰٓ أَمۡرُ ٱللَّهِ ﴾ کښې د ﴿ أَتَىٰٓ ﴾کلمه ماضي ده چې د تېرې زمانې دپاره وضعه شوې ده خو مطلب ترې راتلونکې زمانه ده، که بالفرض خپله زمانه ترې مراده وی نو د ﴿ فَلَا تَسۡتَعۡجِلُوهُ ﴾ په جمله باندې به نه وی تعقيبه شوې.

په عربي ژبه کښې بلکې په ټولو ژبو کښې عادت دی چې د لاندې وجوهو د کبله کله کله د مضارع څخه په ماضي باندې تعبير کېږي او هغه شی چې لا واقع شوی نه وي داسې ګڼل کېږي لکه چې واقع شوی وی:

الف: چې د هغه واقع کېدل بالکل يقيني وي او هيڅ شک شبهه پکښې نه وي، لکه چې الله ﷻ

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۹٦۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



فرمايي: ﴿ وَنَادَىٰٓ أَصْحَٰبُ ٱلْجَنَّةِ أَصْحَٰبَ ٱلنَّارِ ﴾ [الأعراف:٤٤] يعني او د جنت انديوالان به د دوزخ انديوالانو ته غږ وکړي؛ كه څه هم د ﴿ نَادَىٰٓ ﴾ كلمه ماضي ده خو د "يُنَادِيْ" معنى ترې اخستله كېږي چې مضارع ده.

ب: چې واقع كېدل يې رانژدې شوي وي، نو د ډېر نژدېكت د كبله داسې وګڼل شي لكه چې واقع شوى وي.

په ﴿ أَتَىٰٓ أَمْرُ ٱللَّهِ ﴾ كښې ذكرې شوې دواړه وجې صحت لري، نو په لومړنۍ وجې سره يې معنى داسې كېږي چې: د الله ﷻ امر په يقيني ډول سره را روان دى، په واقع كېدلو باندې يې تونډي مه كوئ بلكې خپل ځانونه ورته چمتو كړئ او د فرصت څخه استفاده وكړئ.

او په دوهمه وجه يې معنى داسې كېږي چې: د الله ﷻ امر ډېر نژدې در روان دى او ډېر لږ وخت ورته پاتې دى، د همدغه لږ وخت څخه ګټه پورته كړئ او خپل ځانونه په تلوار غوښتلو باندې مشغول مه ساتئ چې د ارمان سره به مخامخ شئ.

## سوال جواب

٢_ كه څوک وايي چې په دې مقام كښې د ﴿ أَمْرُ ٱللَّهِ ﴾ څخه څه شى مطلب دى؟ يا په بل عبارت: هغه كوم كار دى چې كفارو يې غوښتنه كوله او الله ﷻ ورته اطمنان وركړ چې په هغه كښې شک مه كوئ، دغه دى وخت يې رانژدې شوى او ستاسو ككرى ته رارسېدلى دى؟

مونږ وايو چې: علماء كرامو د ﴿ أَمْرُ ٱللَّهِ ﴾ كلمه دلته په ډېرو معناوو باندې تفسيره كړې ده[١] لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: كوم شى چې كفارو يې په واقع كېدلو باندې عجله كوله هغه د قيامت د قيام څخه عبارت وه[٢] چې الله ﷻ د همدوى څخه حكايت كوي چې: ﴿ يَسْتَعْجِلُ بِهَا ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِهَا ﴾ [الشورى: ١٨] يعني د قيامت په ورځې باندې هغه كسان تادي كوي كوم چېورباندې ايمان نه راوړي، څكه چې دا ورته دروغ ښكاري، اما چا چې ورباندې ايمان راوړى دى هغوى يې د قيام څخه ډارېږي.

ب: كله به چې هغوى د الهي عذاب څخه وډار كړى شول نو هغوى به ورباندې عجله كوله چې دا دروغژنه خبره ده، كه نه نو هله ژرشه عذاب راباندې راكوز كړه[٣]. الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴾ [يونس: ٤٨] او مشركان وايي چې دغه (د عذاب) وعده به كله متحققه شي، كه تاسو رښتيا ويوونكي ياست (نو وخت يې راوټاكئ).

كه څه هم ذكرې شوې معناوې سره يو تربله څه منافات نه لري، د بدليت په اعتبار سره دواړه

(١) زاد المسير ج٤ ص٣١٢
(٢) المحرر الوجيز ج١٠ ص١٥٧
(٣) تفسير الطبري ج١٤ ص٧٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اراده کېدلی شي، مګر جمهور علماء کرام وايي چې دلته د قيامت د ورځې قيام مراد دی چې د شان نزول د روايت سره په ښه ډول سره پيوند نيسي کوم چې وړاندې ذکر شو.

## يو نحوي تحليل

٣ـ په ﴿ يُنَزِّلُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ بِٱلرُّوحِ مِنۡ أَمۡرِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦٓ أَنۡ أَنذِرُوٓاْ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱتَّقُونِ ﴾ کښې علماوو کرامو ډېر تحليلونه کړي دي[1] مګر زمونږ ترجمه او تفسير دلته په لاندې ټکو باندې ولاړ دي:

الف: روح د الهي وحې څخه عبارت دی چې په قرآن کريم باندې مشتمله ده.

ب: د ﴿ مِنۡ أَمۡرِهِۦ ﴾ کلمات د روح دپاره بيان واقع شوی دی.

ج: د ﴿ أَنذِرُوٓاْ ﴾ جمله د "أن" توري په ذريعه د وړاندېنۍ جملې ﴿ يُنَزِّلُ ﴾ دپاره تفسير واقع شوې ده، چې د وحې نازلول د ضمني (غير صريحي) قول څخه خالي نه وي.

د: ﴿ أَنذِرُوٓاْ ﴾ د "إِنذار" څخه اشتقاق موندلی دی. "إِنذار" هغه اخبار ته وضعه شوی دی د کوم سره چې ډارول ملګري وي، لکه چې تبشير هغه اخبار ته وضعه شوی دی د کوم سره چې خوشالول ملګري وي[2].

ه: د ﴿ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ ﴾ جمله د ﴿ أَنذِرُوٓاْ ﴾ دپاره دوهم مفعول دی، چې لومړی مفعول يې مقدر دی چې په "النّاس" سره ترې تعبير کولی شو.

نو حاصل يې داسې راځېږي چې: الله ﷻ د وحې سره پرښتې رالېږلې کوي چې وحې د ده ﷻ د امر څخه عبارت ده او په قرآن کريم باندې مشتمله ده، البته وحې درلودونکې پرښتې د خپلو بندګانو څخه په هغه چا باندې ورنازلوي (او په نبوت باندې يې سرلوړی کوي) کومو ته چې د ده ﷻ اراده وشي. ټولو پيغمبرانو عليهم السلام ته د وحې مضمون همدا يو دی چې ای پيغمبرانو! خلکو ته په ډارولو سره خبر ورکړئ چې: يقينًا شان دا دی چې په حقه باندې معبود نه دی مګر همدا زه يم، نو زما د عذاب څخه ووېرېږئ او زما سره شريکان مه دروئ او بوت پرستي مه کوئ او يا ترې خپل ځانونه بچ وساتئ:

ذکر شوي مضمون ته الله ﷻ په بل ايت کښې داسې اشاره کړې ده چې: ﴿ يُلۡقِي ٱلرُّوحَ مِنۡ أَمۡرِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦ لِيُنذِرَ يَوۡمَ ٱلتَّلَاقِ ﴾ [المؤمن: ١٥] يعني الله ﷻ هغه وحې کومه چې د ده ﷻ د امر څخه عبارت ده، د خپلو بندګانو د جملې څخه په هغه چا باندې وراچوي (ورنازلوي) کومو ته چې د ده ﷻ اراده وشي، البته د دې دپاره چې دوی ټول خلک د ملاقات (قيامت) د ورځې څخه وډار کړي چې هرڅوک به د خپلو کړو وړو سره ملاقي شي.

---

(١) روح المعاني ج١٤ ص٩٣؛ البحر المحيط ج٦ ص٥٠٤؛ تفسير ابي السعود ج٥ ص٩٥

(٢) مفردات الراغب ص٥٠٨

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ بِٱلْحَقِّ تَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٣﴾ خَلَقَ ٱلْإِنسَٰنَ
مِن نُّطْفَةٍ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٌ مُّبِينٌ ﴿٤﴾ وَٱلْأَنْعَٰمَ خَلَقَهَا لَكُمْ فِيهَا دِفْءٌ وَمَنَٰفِعُ وَمِنْهَا
تَأْكُلُونَ ﴿٥﴾ وَلَكُمْ فِيهَا جَمَالٌ حِينَ تُرِيحُونَ وَحِينَ تَسْرَحُونَ ﴿٦﴾ وَتَحْمِلُ أَثْقَالَكُمْ
إِلَىٰ بَلَدٍ لَّمْ تَكُونُوا۟ بَٰلِغِيهِ إِلَّا بِشِقِّ ٱلْأَنفُسِ إِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿٧﴾ وَٱلْخَيْلَ
وَٱلْبِغَالَ وَٱلْحَمِيرَ لِتَرْكَبُوهَا وَزِينَةً وَيَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٨﴾ وَعَلَى ٱللَّهِ قَصْدُ ٱلسَّبِيلِ
وَمِنْهَا جَآئِرٌ وَلَوْ شَآءَ لَهَدَىٰكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٩﴾ ﴾

[۳] الله ﷻ اسمانونه او ځمکې په حقه پیدا کړي دي (حکمتونه یې پکښې نغښتي دي، او) د هغو (بوتانو د اشتراک) څخه اوچت (او پاک) دی کوم چې مشرکان یې (ورسره په عبادت کښې) شریکان ګڼي.

[۴] الله ﷻ بنیادم د نطفې (منی) څخه پیدا کړی دی نو ناڅاپه (بلا دلیله) څرګند جګړه مار دی.

[۵] او څارويَ (ګډې، اوزې، غوایان او اوښان) چې دي الله ﷻ پیدا کړي دي، چې ستاسو دپاره پکښې د تودوښې (سامان) او (نورې) ګټې دي، او (هم) د همدې څارویو څخه تاسو خوراک هم کوئ (چې د غوښو څخه یې استفادې کوئ).

[۶] او تاسو ته په دې څارویو کښې ډېر ښایست دی هم د بېګاه د پلوه چې کله یې تاسو (د څرخای څخه) بېرته (پنډغالو ته) راستانه کړئ او هم چې کله یې تاسو (د پنډغالو څخه څرخایونو ته) روان کړئ (او حرکت ورکړئ).

[۷] او (همدا) څارويَ ستاسو درانه سامانونه داسې ښار ته اوچتوي (انتقالوي) کوم ته چې تاسو (بدون د سامانه) نه یاست رسېدونکي مګر د ځانونو په مشقت (په ډېرې ستوماني او ستړیا) سره. یقینًا ستاسو رب ﷻ (په تاسو باندې) ډېر نرمي کوونکی (او) ډېر مهربان دی (نو تاسو هم په خپلو څارویو باندې نرمي او مهرباني هېره نه کړئ).

[۸] او آسونه او قچرې او (هم) خره (چې دي تاسو ته) د دې دپاره (الله ﷻ پیدا کړي دي) چې تاسو پرې سواره شئ او (تاسو پرې) ښایست (حاصل کړئ). او (په دې باندې علاوه په راتلونکي کښې به) الله ﷻ هغه شیان پیدا کړي په کومو باندې چې تاسو (لا اوس) نه پوهېږئ (او نه یې پېژاندلی شئ).

[۹] او خاص په الله ﷻ باندې (تفضلاً) د سمې لارې بیان (او نزول) دی حال دا چې د لارو څخه ځینې لارې کږې دي (بدون د الهي توفیق څخه ترې بچ کېدل ګران دي)، او که د الله ﷻ اراده شوې وی نو تاسو ټولو ته به یې هدایت کړی وی (او ټول به یې مطلب ته رسولي وی، خو دا کار د حکمت غوښتنه نه وه).

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباطونه

۱ـ په وړاندېنیو ایتونو کښې الله ﷻ اشاره کړې وه چې د قیامت ورځ یقیني راتلونکې ده او په دې ایتونو کښې د راتللو وجه بیانه شوې ده، چې دنیا عبث نه ده پیدا کړی شوې چې تصفیه ونه لري.

۲ـ هلته دې خبرې ته هم اشاره شوې وه چې پیغمبران علیهم السلام صرف د احکامو د ابلاغ دپاره را استولی شوي وه، یوه هم په تکویناتو کښې برخه نه درلوده او بالآخره د ټولو د را استولو څخه یو هدف په نظر کښې وه چې د الله ﷻ د توحید (عبادت) بیان وه. او دلته د تکویناتو او مخلوقاتو نومونه اخستلی شوي دي چې یوازې الله ﷻ پیدا کړي دي، بوتان لا څه چې حتی پیغمبران علیهم السلام هم ورسره پکښې برخوال نه دي.

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې ای پیغمبره! الله ﷻ اسمانونه او ځمکې عبث نه دي پیدا کړي چې په انجام کښې د حساباتو تصفیه او مکافات او مجازات ونه لري بلکې په حقه یې پیدا کړي دي، نو د قیامت د ورځې قیام هم ضرور دی چې په دغې ورځ کښې به په انصاف سره فیصلې کېږي او هیڅ کافر نفس ته به خپل معبودان نه ګټه ورسولی شي او نه به یې شفاعت وکړی شي، نو الله ﷻ ته د هغو بوتانو څخه پاکي ده کوم چې مشرکان یې ورسره په عبادت کښې شریکوي چې دوی به مونږ الله ﷻ ته نژدې کړي او زمونږ شفاعت به وکړي.

۲ـ ای پیغمبره! مونږ انسان د نطفې څخه پیدا کړی دی چې نه یې عقل درلود او نه علم، همدارنګه یې نه ښائسته شکل درلود او نه یې د ځانه څه دفاع کولی شوه، خو کافر انسان خپل اصل هېر کړی دی او ښکاره جګړمار ترې جوړ شوی دی چې هم د قیامت په قیام کښې او هم د الله ﷻ په وحدانیت کښې جګړې کوي، که نوموړی فقط په خپل ګرېوان کښې سر ښکته کړي او په فقط په خپل پیدایښت کښې فکر وکړي نو ذکرو شوو باطلو جګړو ته به لاس وانچوي.

۳ـ برسېره پر دې (ای پیغمبره!) ته د الله ﷻ د پلوه خلک مخاطب کړه چې تاسو د خپلو ابدانو څخه بهر په نورو مخلوقاتو کښې هم فکر وکړئ چې یوازې الله ﷻ ستاسو دپاره پیدا کړی دی او هیڅوک ورسره په پیداکولو کښې نه څه برخه لري او نه یې ورسره کومک کړی دی، دلاندې څو مخلوقاتو نومونه د مثال په توګه یاد کړئ:

الف: ستاسو دپاره الله ﷻ څاروي پیدا کړي دي، لکه اوښان، غوایان، مېږې او اوزې، د دغو څارویو څخه تاسو لاندې ګټې اخلئ:

اول: ستاسو دپاره د څارویو په پوستکو او وړیو او هم په وچغنو کښې د تودوالي سامان په نظر کښې نیولی شوی دی چې خپلو ځانونو ته ترې لباس او پوښاک جوړ کړئ او هم ترې جغجغې پنې او خورا ډولي خولۍ وګنډئ، او داسې نور.

دوهم: په دغو څارویو کښې ستاسو دپاره نورې ګټې هم شته، چې شوده یې وخورئ او یا یې

Scanned by CamScanner

د میرویس ابا سین لخوا سکین شو



وپلوری او په پیسو باندې یې خپل نور احتیاجات پوره کړي.

دریم: حتی چې تاسو د ذکرو شوو څارویو د غوښو څخه هم استفاده کوئ، چې هم یې تازه خورئ او هم یې وچوئ او لاندې ترې جوړوئ.

څلورم: په دې باندې علاوه په څارویو کښې ستاسو دپاره ډول او سنګار هم د نظره نه دی غورزولی شوی، کله چې د ماښام له خوا نه د بېدیا (څرځای) څخه ستاسو کورونو ته بېرته راوګرځي او په بغ او بوغ سره په خپلو پنډغالو کښې ودرېږي، او یا کله چې تاسو د سهار د پلوه د پنډغالو ورونه بېرته کړئ او څرخایونو ته یې ورخوشې کړئ.

پنځم: بالآخره په ذکرو شوو څارویو کښې داسې څاروي هم شته چې ستاسو درانده بارونه د یوه ښار څخه بل ښار ته او د یوه څرځای څخه بل څرځای ته رسوي او په اوږو باندې یې اخلي. یا په بل عبارت: ذکر شوي څاروي ستاسو درانه بارونه داسې مناطقو ته رسوي چې هلته تاسو بدون د بارونو څخه محض خپل ځانونه هم نه شئ رسولی مګر په ډېر مشقت او ستومانۍ سره، پاتې لا د بارونو او سامانونو رسول.

ای خلکو! یقینًا چې الله ﷻ په تاسو باندې ډېر نرمي کوونکی او مهربان دی، چې ستاسو د ژوند ټول مشکلات یې درته حل کړي دي، خو که تاسو خپل رب ﷻ وپېژنئ.

ب: همدارنګه الله ﷻ ستاسو دپاره آسونه، قچرې او خره پیدا کړي دي چې تاسو ترې لاندې استفادې کوئ:

اول: ترڅو تاسو د ذکرو شوو ساکښانو څخه د سورېدلو دپاره ګټه پورته کړئ، او د یو ښار څخه تربله ښاره پورې پرې خپل ځانونه ورسوئ، که بالفرض الله ﷻ د هغو ساختمان داسې نه وی جوړ کړی چې تاسو وربانډې سواره شئ او یا یې ستاسو دپاره نه وی ایل کړي نو تاسو به ترې هیڅکله د سورلۍ استفاده نه وی کړې.

دوهم: په دې باندې علاوه، په دغو ساکښانو کښې ستاسو دپاره ښائست او سنګار نغښتی دی، چې کله کله پرې پرته د ستومانۍ څخه محض د ډول دپاره هم سورېږئ.

ج: ای انسانانو! دا خو هغه شیان دي چې سمدستي ستاسو په وړاندې ګرځي راګرځي او تاسو یې پېژنئ او د استفادې په طرز او طریقه باندې یې پوهېږئ، خو په راتلونکي کښې به الله ﷻ ستاسو دپاره نور داسې شیان خلق کړي چې في الحال تاسو نه په هغو باندې علم لرئ او نه یې درته د استعمال طریقه معلومه ده، مګر د الله ﷻ په اراده کښې شته چې ستاسو د عمر په اوږدو کښې تاسو ته د سورلیو نور شیان پیدا کړي نو بیا به یې هم د جوړولو طرز درزده کړي او هم به مو د هغو څخه د استفادې په طریقه باندې پوه کړي.

۴_ ای پیغمبره! څرنګه چې الله ﷻ د انسانانو د مادي ژوند دپاره او هم د دوی د اسودګۍ او ارامۍ دپاره بشپړ او کامل نظام جوړ کړی دی، لکه چې لږ څه شرحه یې وړاندې ذکره شوه، نو آیا دا معقوله ده چې د دوی د روحي او معنوي ژوند دپاره به یې هیڅ ترتیبات نه وي نیولي. نه به یې

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کوم پیغمبر را استولی وي او نه به یې کوم کتاب رانازل کړی وي؟! ایا د عقل خاوند به دا ومني چې الله ﷻ به د هدایت سامان نه وي نازل کړي؟!

نو (ای پیغمبره!) خلکه ته انسانانو ته یو خل بیا خبر ورکړه چې د حقې او برابرې لارې بیانول الله ﷻ په خپل اقدس ذات باندې په خپل فضل سره لازم کړي دي او د دې التزام یې کړی دی چې تاسو به په څمکه کښې بدون د هدایته او بدون د لارښوونې نه پرېږدي.

الله ﷻ څکه ذکر شوی التزام کړی دی چې په دنیا کښې کړې لارې زښتې ډېرې دي، نو که بالفرض ذکر شوی التزام یې نه وی کړی نو تاسو به د عالم الاسباب په اعتبار سره نه وی توانیدلي چې حقه لاره مو موندلې وی، نو بیا به مو د قیامت په ورځ اعتذار کولی چې: ای ربه! مونږ ته دې خپله حقه لاره ولې نه وه راښودلې؟

هو! دا بېله خبره ده، که بالفرض د الله ﷻ اراده شوې وی چې تاسو ټول په حقه لاره باندې برابر کړي او د ټولو څخه د بدیو استعداد واخلي نو دا کار به یې کړی وي مګر دا کار د حکمت څخه مخالف دی، چې د انسانانو د پیدایښت د هدف سره سمون نه خوري.

## توضیحات

١ـ د ﴿ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٌ مُّبِينٌ ﴾ جمله په لاندې دوه ډولو باندې تفسیره کېدلی شي[١]:

الف: چې الله ﷻ انسان د یوه بې روحه، بې شکله او بې منطقه شي (نطفې) څخه پیدا کړی دی چې د پیدایښت څخه وروسته یې هم روح، هم شکل او هم د منطق (خبرو کولو) قوت ورکړی دی چې په ډېره فصیحه او بلیغه طریقه باندې بحثونه کولی شي.

ب: چې الله ﷻ انسان د ذکرې شوې نطفې څخه پیدا کړی دی خو انسان خپل لومړنی پیدایښت هېر کړی دی او د خپل رب ﷻ سره جګړې کوي چې: ﴿ مَن يُحۡيِ ٱلۡعِظَٰمَ وَهِيَ رَمِيمٞ ﴾ [یس:٧٨] یعنې کافر انسان وایي چې: دا هډوکي به څوک راژوندي کړي حال دا چې دا وراسته شوي دي؟.

## جمال څه معنی؟

٢ـ په ﴿ وَلَكُمۡ فِيهَا جَمَالٌ حِينَ تُرِيحُونَ وَحِينَ تَسۡرَحُونَ ﴾ کښې د ﴿ جَمَال ﴾ کلمه ډېر ښائسته ته وضعه شوې ده[٢].

ښائست په دوه ډوله دی[٣]: یو هغه دی چې په سترګو باندې لیدلی کېږي او په څېره کښې تحقق مونده کوي چې مثالونه یې واضحه دي. بل ډول هغه دی کوم چې د زړه په سترګو (بصیرت) سره لیدل کېږي او په معانیو کښې تحقق مومي، د همدې ډول په اعتبار سره په الله ﷻ باندې د "جَمِيل" د کلمې اطلاق شوی دی، چې د ښو افعالو خاوند دی او په کاملو اوصافو باندې موصوف دی.

---

(١) روح المعاني ج١۴ ص٩۶
(٢) مفردات الراغب ص٩۵
(٣) النهایة في غریب الحدیث ج١ ص٢٩٩

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په یوه اوږده حدیث شریف کښې یوه ورځې نبي کریم ﷺ هغه سړي ته جواب ورکړ کوم چې ترې پوښتنه وکړه چې: ای د الله رسوله! ایا دا کار د کبر څخه شمېرل کېږي چې جامې مې وینځلې وي او څپلۍ مې نوې وي او داسې نور؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل: «لا ذَاكَ الْجَمَالُ إِنَّ اللهَ جَمِيلٌ يُحِبُّ الْجَمَالَ وَلَكِنَّ الْكِبْرَ مَنْ سَفِهَ الْحَقَّ وَازْدَرَى النَّاسَ»[١] یعنې نه، دا کبر نه دی دا ښائست دی، په یقیني توګه الله ﷻ جمیل دی او جمال خوښوي، مګر کبر د هغه چا دی چې حق سپک وګڼي (د پښو لاندې یې کړي) او خلکو ته د حقارت په نظر ګوري.

په دې مقام کښې د جمال د کلمې څخه مطلق جمال مطلب دی[٢] چې شکلي او معنوي دواړو ته شاملېږي. دا څکه لکه څنګه چې په څارویو کښې ظاهري ډول او سنګار نغښتی دی همدارنګه د معنوي ښکلا څخه هم خالي نه دی، چې د یو پلوه پرې د څارویو خاوندان ویاړ او افتخار کوي او د بله د پلوه د خلکو په نظر کښې هم درانه برېښي لکه څنګه چې د قارون مالونو (د خلکو په نظر کښې) د هغه وزن زیات کړی وه.

څرنګه چې د څارویو ښکلا د بېګاه د خوا څخه زیاته وي، چې د څرخایونو څخه د پنډغالي په طرف باندې ورستانه شي او د شودو ډکې غولانځې د خپلو خاوندانو په اختیار کښې ورکړي، نو څکه د ﴿ تُرِيحُونَ ﴾ کلمه د ﴿ تَسْرَحُونَ ﴾ په کلمه باندې په ترتیب کښې وړاندې نازله شوې ده، که څه هم په تحقق کښې وروسته ده.

## اوښان او درانده بارونه

٣_ په ﴿ وَتَحْمِلُ أَثْقَالَكُمْ ﴾ کښې مستتر ضمیر د ﴿ ٱلْأَنْعَٰمَ ﴾ کلمې ته راجع دی چې په وړاندېني ایت کښې ذکره ده او د څلورو ډولو څارویو (اوښانو، غوایانو، اوزو، ګډو) څخه عبارت ده مګر مطلب ترې اوښان دي چې درانه بارونه د یو ځای څخه بل ځای ته انتقالولی شي. په اوزو او ګډو کښې خو د انتقال وسه ستنه او غوایان که څه هم څه ناڅه د انتقال توان لري مګر د انتقال دپاره نه دي خلق شوي لکه چې د نبي کریم ﷺ په حیات کښې په یوه غوایه باندې خپل خاوند څه سامان بار کړی وه نو غوایه په معجزانه توګه خبرې وکړې چې: «إِنِّي لَمْ أُخْلَقْ لِهَذَا وَلَكِنِّي إِنَّمَا خُلِقْتُ لِلْحَرْثِ»[٣] یقیناً زه د دغه (بار وړلو) دپاره نه یم پیدا کړی شوی مګر زه یقیناً د زراعت (کرنې) دپاره خلق کړی شوی یم.

هو! کله چې د قیامت ورځ رانژدې شي نو د درنو بارونو په انتقال کښې به د اوښانو ځای نور وسایل ونیسي لکه موټر، اورګاډي، الوتکې او نور. همدې مضمون ته نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې اشاره کړې ده چې: «وَلَتُتْرَكَنَّ الْقِلَاصُ فَلَا يُسْعَى عَلَيْهَا»[٤] یعنې کله چې د قیامت ورځ

(١) مسند احمد بن حنبل ج٢ ص٥٨
(٢) روح المعاني ج١٤ ص٩٩
(٣) صحیح مسلم ج٢ ص٢٧٤
(٤) صحیح مسلم ج١ ص٨٧

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نژدې شي نو ضرور هرو مرو به تکړه (چالاکه) اوښې پرېښودلی شي، چې زیار به ورباندې نه ایستلی کېږي چې د درنو بارونو د انتقال دپاره وساتلی شي او کار ترې واخستلی شي.

## د ایت شریف ارشاد

۴_ الله ﷻ ذکر شوی مضمون په ﴿ إِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴾ باندې ختم کړی دی ترڅو مونږ په غور باندې ووهلی شو چې په اوښانو باندې د خپل سامان په انتقال کښې نرمي وکړئ او د رحمت څخه کار واخلئ، ځکه چې ستاسو رب ﷻ په تاسو باندې نرمي کوونکی او مهربان دی.

د ښه وضاحت دپاره لاندې ټکو ته متوجه شئ:

الف: نبي کريم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «إِذَا سَافَرْتُمْ فِي الْخِصْبِ فَأَعْطُوا الْإِبِلَ حَظَّهَا مِنَ الْأَرْضِ وَإِذَا سَافَرْتُمْ فِي السَّنَةِ فَأَسْرِعُوا عَلَيْهَا السَّيْرَ»[1] یعنې کله چې تاسو په اباد کال کښې سفر کوئ نو اوښانو ته د ځمکې څخه خپله برخه ورکړئ (موقع ورکړئ چې واښه وخوري او په ښه مره ګېډه مزل وکړي) او کله چې تاسو په وچکالئ کښې سفر کوئ نو مزل پرې ګړندی کړئ ترڅو خپل مطلب ته ورسېږئ حال دا چې په اوښانو کښې مو څه توان باقي وي چې په لاره کښې د ډنګروالي د کبله پاتې نه شي او په نیمايي لاره کښې ونه درېږي.

ب: يوه ورځې عمر الفاروق ﷺ یو اوښ وال ووا‌هه چې: «تَحْمِلُ عَلَى بَعِيرِكَ وَلَا يُطِيقُهُ»[2] ایا ته په خپل اوښ باندې دومره پېټی باروې چې هغه یې طاقت نه لري؟.

## د نحويت تحليلونه

۵_ په ﴿ وَٱلۡخَيۡلَ وَٱلۡبِغَالَ وَٱلۡحَمِيرَ لِتَرۡكَبُوهَا وَزِينَةٗ ﴾ کښې د نحويت لاندې تحلیلونه ولولئ:

الف: لومړنی درېواړه کلمې په ﴿ ٱلۡأَنۡعَٰمَ ﴾ باندې عطفې دي چې د ﴿ خَلَقَهَا ﴾ کلمه ورسره مقدره ګڼله کېږي.

ب: ﴿ وَزِينَةٗ ﴾ د کلمې په اعراب کښې ځینو مفسرینو کرامو څو احتماله ذکر کړي دي[3] مګر مونږ ته بهتره برېښي چې دا به د مقدرې "لتحصلوا" دپاره مفعول وي او جمله به د ﴿ لِتَرۡكَبُوهَا ﴾ په جمله باندې عطفه وي.

نو د معنی حاصل به یې داسې راوخېژي چې: الله ﷻ ستاسو دپاره آسونه، قچرې او خره پیدا کړي دي چې تاسو ترې د یو پلوه د سورلی کار اخلئ او د بله پلوه پرې د ډول او سنګار تحصیل وکړئ.

څرنګه چې الله ﷻ د ذکرو شوو درېواړو ځارویو په فوائدو او ګټو کښې د خوراک ذکر نه دی کړی لکه څنګه یې چې د ﴿ ٱلۡأَنۡعَٰمَ ﴾ په فوائدو کښې ورته اشاره کړې ده، نو محترمو لوستونکو

---

(١) صحيح مسلم ج٢ ص١۴۴

(٢) تفسير القرطبي ج١٠ ص٧٣

(٣) روح المعاني ج١۴ ص١٠١

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ته په کار دي چې د هغو د غوښو د تحلیل او تحریم په هکله لاندې تشریح په نظر کښې ونیسي:

اول: جمهور علماء کرام وایي چې: د خره او قچر غوښه حرامه ده[١] نو د دغو دواړو څخه د غوښې د خوراک څخه په غیر نورې استفادې کولی شي او بس.

دوهم: اما د آس د غوښې په باره کښې د نبي کریم ﷺ څخه دوه ډوله احادیث روایت شوي دي، چې یو ډول یې په تحریم باندې دلالت کوې لکه: «نَهَى رَسُولُ اللهِ ﷺ عَنْ لُحُومِ الْخَيْلِ وَالْبِغَالِ وَالْحَمِيرِ»[٢]، یعنې د الله ﷻ پیغمبر ﷺ د آسونو او قچرو او (بالآخره) د خرو د غوښو څخه منعه کړې ده. او هم لکه نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لَا يَحِلُّ أَكْلُ لُحُومِ الْخَيْلِ وَالْبِغَالِ وَالْحَمِيرِ»[٣] یعنې د آسونو او قچرو او هم د خرو غوښې حلالې نه دي چې وخوړلی شي.

او بل ډول احادیث یې په تحلیل باندې دلالت کوې، لکه چې اسماء بنت ابي بکر الصدیق رضی الله عنهما وایي چې: «ذَبَحْنَا عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ ﷺ فَرَسًا وَنَحْنُ بِالْمَدِينَةِ فَأَكَلْنَاهُ»[٤] مونږ د نبي کریم ﷺ په زمانه کښې یو آس ذبحه کړ حال دا چې مونږ په مدینه منوره کښې وو نو هغه مو وخوړ.

نو د احادیثو د اختلاف د کبله امام ابو حنیفه علیه الرحمة د تحریم احادیثو ته ترجیح ورکړې ده چې د حل او حرمت ترمنځ د حرمت څنډه احتیاطي ده[٥]، اما د ده شاګردان (ابو یوسف، محمد علیهما الرحمة) په دغې مسئله کښې د الشافعي علیه الرحمة سره ملګري شوي دي او د تحلیل څنډه یې مرجحه ګڼلې ده[٦].

## اورګاډی او الوتکه

٦- دا جمله ﴿وَيَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُونَ﴾ علماوو کرامو په متعددو معناوو سره تفسیره کړې ده[٧]، لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: الله ﷻ به په اسمانونو او ځمکو کښې داسې مخلوقات پیدا کړي چې تاسو پرې سمدستي علم نه لرئ او صرف همده ﷻ ته ښه معلوم دي.

ب: د ﴿مَا لَا تَعْلَمُونَ﴾ څخه د جنت نعمتونه او د دوزخ عذابونه مطلب دي چې په دنیا کښې ورباندې هیڅوک پوره علم نه لري.

ج: په کومو شیانو باندې چې مونږ علم نلرو هغه د هغو ساکښانو څخه عبارت دي چې د ځمکو په ګېډه کښې او یا د دریابونو په تل (بېخ) کښې ژوند کوي.

د: په ﴿مَا لَا تَعْلَمُونَ﴾ کښې د پرښتو عالم ته اشاره ده، چې په ډېرو عجیبه ډولونو سره الله ﷻ

---

(١) البدائع ج٥ ص٣٧؛ الهداية كتاب الذبائح ج٢ ص٤٣٩
(٢) سنن ابن ماجه ص٢٣٠
(٣) سنن النسائي ج٢ ص١٩٨
(٤) صحيح البخاري ج٢ ص٨٢٨
(٥) احكام القرآن للجصاص ج٣ ص١٨٤
(٦) شرح معاني الآثار ج٢ ص٢٩١
(٧) زاد المسير ج٤ ص٣١٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پیدا کړي دي چې ځینو علماوو کړامو یې څه مثالونه هم لیکلي دي[۱].

## تبصره

۷ـ زمونږ په فکر بهتره دا ده چې ذکره شوې جمله په خپل عموم سره پرېښودله شي ترڅو د قیامت د ورځې پورې هغو ټولو مخلوقاتو ته شامله شي په کومو باندې چې د قرآن کریم د نزول په وخت کښې څوک نه پوهېده لکه موټر، اورګاډي، بحري جهازونه، هوایي الوتکې او همدارنګه نور تخنیکي وسائل، برقي سامانونه او هم هغه شیان چې تر اوسه پورې لا کشف شوي نه دي او په راتلونکي کښې به میدان ته راووځي او د ایت شریف مصداقات به جوړ شي.

که څوک غواړي چې د دې عصر تازه اختراع شوي تخنیکي او برقي وسائل وپېژني نو ځینو اوږدو کتابونو[۲] ته دې مراجعه وکړي چې ډېر په زړه پورې مثالونه یې ښودلي دي.

## سوال جواب

۸ـ که څوک وایي چې په ﴿ وَعَلَى ٱللَّهِ قَصْدُ ٱلسَّبِيلِ وَمِنْهَا جَآئِرٌ ﴾ کښې د ﴿ مِنْهَا ﴾ ضمیر څه شي ته راجع دی؟

مونږ وایو چې: ذکر شوی ضمیر د ﴿ ٱلسَّبِيل ﴾ کلمې ته راجع دی چې په معنی کښې یې جمعیت پروت دی او سمې لارې او کږې لارې دواړو ته شامله ده[۳].

اما د ﴿ قَصْد ﴾ کلمه مصدر ده چې د "قَاصِد" معنی ورکوي او د "مُسْتَقِيم" سره مرادفه ده[۴]، نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: په الله ﷻ باندې (تفضلاً) ځکه د مستقیمې لارې نزول ضرور دي چې د لارو څخه کږې لارې هم شته لکه یهودیت، نصرانیت او داسې نور؛ نو که بالفرض الله ﷻ حقه لاره نه وی ښودلې نو په باطلو لارو کښې به حقه لاره خلکو ورکه کړې وی او د قیامت په ورځ به یې اعتذار وړاندې کولی چې: ای زمونږ ربه! مونږ ته دې په دنیا کښې حقه لاره ولې نه ده راښودلې.

ذکر شوی مضمون الله ﷻ په بل ایت کښې داسې نازل کړی دی چې: ﴿ وَأَنَّ هَٰذَا صِرَٰطِى مُسْتَقِيمًا فَٱتَّبِعُوهُ وَلَا تَتَّبِعُوا۟ ٱلسُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَن سَبِيلِهِۦ ﴾ [الأنعام:۱۵۳] یعنې او بل دا چې یقینًا دغه (اسلام) زما برابره لاره ده نو پیروي یې وکړئ، او د ډېرو (نورو) لارو پیروي مه کوئ چې د خپل رب ﷻ د لارې څخه به مو تیت پرک کړي.

﴿ هُوَ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً ۖ لَّكُم مِّنْهُ شَرَابٌ وَمِنْهُ شَجَرٌ فِيهِ تُسِيمُونَ ﴿١٠﴾ يُنۢبِتُ لَكُم بِهِ ٱلزَّرْعَ وَٱلزَّيْتُونَ وَٱلنَّخِيلَ وَٱلْأَعْنَٰبَ وَمِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ ۗ إِنَّ فِى

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۰ ص۸۰
(۲) الجواهر للطنطاوي ج۸ ص۸۶، ۱۲۴
(۳) زاد المسیر ج۴ ص۳۱۵
(۴) تفسیر القاسمي ج۱۰ ص۸۳؛ مفردات الراغب ص۴۱۹؛ لسان العرب ج۳ ص۳۵۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ذَٰلِكَ لَأٓيَةً لِّقَوۡمٍ يَتَفَكَّرُونَ (١١) وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ وَٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ
وَٱلنُّجُومُ مُسَخَّرَٰتُۢ بِأَمۡرِهِۦٓۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٍ لِّقَوۡمٍ يَعۡقِلُونَ (١٢) وَمَا ذَرَأَ
لَكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ مُخۡتَلِفًا أَلۡوَٰنُهُۥٓۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةً لِّقَوۡمٍ يَذَّكَّرُونَ (١٣) وَهُوَ
ٱلَّذِي سَخَّرَ ٱلۡبَحۡرَ لِتَأۡكُلُواْ مِنۡهُ لَحۡمًا طَرِيًّا وَتَسۡتَخۡرِجُواْ مِنۡهُ حِلۡيَةً تَلۡبَسُونَهَا
وَتَرَى ٱلۡفُلۡكَ مَوَاخِرَ فِيهِ وَلِتَبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِهِۦ وَلَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ (١٤) وَأَلۡقَىٰ
فِي ٱلۡأَرۡضِ رَوَٰسِيَ أَن تَمِيدَ بِكُمۡ وَأَنۡهَٰرًا وَسُبُلًا لَّعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُونَ (١٥) وَعَلَٰمَٰتٍۚ
وَبِٱلنَّجۡمِ هُمۡ يَهۡتَدُونَ (١٦) ﴾

[١٠] الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې د اسمان (له پلوه) یې داسې اوبه نازلې کړې دي چې ستاسو دپاره د همدې اوبو څخه څښکل دي او هم ترې (ستاسو دپاره) ونې (خنګلونه) دي چې تاسو پکښې (خپل څاروي) څروئ.

[١١] په همدې اوبو باندې الله ﷻ ستاسو دپاره کروندې (حبوبات) را زرغونوي، او زیتون او کجورې (هم) او (بالآخره) انګوران او د هر ډول میوجاتو څخه (هم).

یقیناً په دغه (مذکور بیان) کښې د داسې قوم دپاره (د الهي قدرت) غټه نښه ده کوم چې فکر کوي (او سر سري پرې نه تېرېږي).

[١٢] او الله ﷻ ستاسو دپاره شپه او ورځ دواړه مسخر ګرځولي دي، او لمر او سپوږمۍ هم، او ستوري چې دي (ستاسو دپاره) د همده ﷻ په امر سره په کارونو باندې ګمارلي شوي دي.

یقیناً په دغه (تسخیر) کښې د داسې قوم دپاره (د قدرت) ډېرې نښې دي کوم چې د (خپلو عقلونو څخه کار اخلي (او په حقائقو سترګې نه پټوي).

[١٣] او (الله ﷻ) هغه شیان هم (ستاسو دپاره مسخر کړي دي) کوم یې چې ستاسو دپاره په ځمکه کښې په داسې حال پیدا کړي دي چې رنګونه (ډولونه) یې مختلف دي. یقیناً په دغه (ډول پیدایښت) کښې د داسې قوم دپاره (د قدرت) لویه نښه ده کوم چې لږ تذکر کوي (او پند اخلي).

[١٤] او الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو ته یې دریاب د دې دپاره مسخر کړی دی چې تاسو ترې (د ماهیانو) تازه غوښې وخورئ او هم ترې تاسو داسې ګاڼې (ملغلرې او مرجان) را وباسئ چې تاسو یې اغوندئ (او خپل خانونه پرې ډولي ګرځوئ)، او (ای کتونکیه!) ته خو په دریاب کښې بېړۍ ګورې چې (د اوبو) څیروونکې دي (او ډوبېدونکې نه دي، که نه نو دغه مقاصد به فوت شوي وی).

او (بالآخره) د دې دپاره چې تاسو د الله ﷻ فضل (حلال مال) ولټوئ (او تجارتونه وکړئ) او شاید

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې تاسو (د نعمتونو) شکریه په ځای کړئ.

[١٥] او (الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې) په ځمکه باندې يې غرونه اچولي (پيدا کړي) دي چې تاسو ته به ځمکه (د غرونو د نشتوالي په صورت کښې اضطراري) حرکت درکړي؛ او (هم يې پرې) ويالي (سيندونه) پيدا کړي (بهولې) دي، او (هم يې پکښې) لارې پيدا کړي (غزولې) دي، شايد چې تاسو (خپلو مطالبو ته) هدايت مونده کړئ.

[١٦] او (همدارنګه الله ﷻ ستاسو دپاره د ورځې د پلوه د لارې د موندلو په بنياد) علامې (او نښې) پيدا کړې دي. (ای پيغمبره!) دوی (بنيیادمان د شپې د پلوه) همدوی په ستورو سره (خپلې لارې) موندې کوي (او هم پرې د لارو د ورکولو څخه بچ کېږي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ايتونو کښې د وړاندېنيو ايتونو مضامين تعقيب شوي دي چې الله ﷻ نه د مخلوقاتو په پيداکولو کښې شريک لري او نه د نعمتونو په ورکړه کښې، نو حاصل يې داسې راځېږي چې:

ای پيغمبره! د الله ﷻ څه نور ځانګړي صفات خلکو ته قرائت کړه ترڅو دوی د بوت پرستۍ څخه اجتناب وکړي او خپل رب ﷻ په صحيحو معناوو کښې وپېژني، هغه دا چې:

١ـ الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې د اسمان د پلوه (د غيبو څخه) يې د باران اوبه درنازلې کړې دي، ايا د ده ﷻ څخه په غير څوک شته چې يو ځاڅکی اوبه په تاسو باندې دپاسه درتوی کړي؟ نو د دغو اوبو څخه تاسو لاندې استفادې کوئ:

الف: د دغو اوبو څخه تاسو د ځښکلو کار اخلئ او خپل ژوند ته ورباندې ادامه ورکوئ، چې ستاسو دپاره د لوړو غرونو په څوکو کښې د پوډرو (واورې) په شکل زخيره کېږي، او بيا د رودونو په ډول ښکته دربهېږي؛ همدارنګه د ځمکې په خېټه کښې تقرر مومي او بيا د چينو او تيوبلونو په توګه را اوچتېږي او بروز کوي.

ب: د همدغو اوبو څخه ستاسو د څارويو خوراک او ځښاک هم صورت نيسي، چې د ځمکې څخه ډول ډول وابښه را زرغونېږي او بيا پکښې تاسو خپل څاروي څروئ او څربوئ.

ج: برسېره په دې الله ﷻ په ذکرو شوو اوبو باندې ستاسو دپاره مختلف زراعتونه راشنه کوي، لکه غنم، جوار، وريژې او نور شيان چې ستاسو غذا (خوراک) ترې جوړېږي.

د: په همدې اوبو سره ستاسو دپاره نور حبوبات او بوټي رازرغونوي چې د يو پلوه ترې د کتغونو او لنګولي کار اخلئ او د بله پلوه پرې د خپلو مرضونو معالجه کوئ لکه زيتون او نور بوټي او ونې.

هـ: همدارنګه درته الله ﷻ کجورې او د انګورو مختلف ډولونه بلکې د هر ډول مېوجاتو څخه په همدغو اوبو سره د ځمکې څخه راوباسي.

و: دغه مېوجات يوه د بلې څخه په خوند، رنګ، بوی او شکل کښې بېله او جدا ده حال دا چې ټولې د يوې خاورې څخه را زرغونې شوې دي او په يو ډول اوبو باندې خړوبې شوې دي.

Scanned by CamScanner

یقیناً چې په ذکرو شوو شیانو کښې په هر یوه کښې د الله ﷻ د وحدانیت ډېره لویه نښه پرته ده، البته د داسې قوم دپاره چې هغوی د څه تفکر څخه کار اخلي او د ځناورو په څېر صرف په خوراک او څښاک باندې اکتفاء نه کوي.

۲ـ الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ستاسو د استفادې دپاره یې شپه او ورځ مسخر کړي دي، چې نه شپه د ورځې څخه وړاندې کېږي او نه ورځ د شپې د تعقیب څخه خپل ځان په ځنګولی شي چې د دوارو ترمنځ فرجه (وت) پیدا شي.

۳ـ همدارنګه الله ﷻ ستاسو دپاره لمر او سپوږمۍ هر یو په ټاکلې دوره باندې مسخر کړي دي، چې نه لمر خپل محور بدلوي او نه سپوږمۍ د خپلې ټاکلې دوران څخه تخلف کوي.

۴ـ په دې باندې علاوه ټول ستوري د الله ﷻ په امر سره ستاسو دپاره په ټاکلي معیار باندې هر یو په خپل خپل مدار کښې چورلېږي، او نه ستومانه کېدونکې دورې وهي.

ای پیغمبره! یقیناً په دغو شیانو کښې د داسې قوم دپاره ډېرې لویې نښې او دلائل نغښتي دي کوم چې د عقل څخه کار اخلي. یا په بل عبارت: هوښیاران پوهېږي چې ذکر شوی نظام د الله ﷻ د ارادې څخه پرته قیام او بقاء نه شي موندلی، که بالفرض په دې نظام کښې ورسره بل چا برخه درلودی نو ډېر ژر به رنګ شوی وی او دوام به یې نه وی کړی.

۵ـ لنډه دا چې الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې هغه ټول شیان یې مسخر ګرځولي دي کوم یې چې ستاسو دپاره په ځمکه کښې پیدا کړي دي، حال دا چې رنګونه یې مختلف دي او انواع یې زښت ډېر او متعدد دي، تاسو کولی شئ چې هر یو رنګ او یا هره یوه نوعه د خپلې استفادې دپاره تخصیصه کړئ، حتی ځینې شیان لا ستاسو تخصیص ته څه اړتیا هم نه لري او په دوامداره توګه ستاسو په خدمت کښې چاپېر او لګیا دي، لکه لمر، سپوږمۍ او نور.

یقیناً په دغه ډول پیدایښت کښې د الله ﷻ په وحدانیت باندې ډېره لویه او عظیم الشانه نښه ده مګر د هغه قوم دپاره کوم چې محض د نعمتونو یو تذکر قدرې وکړي او پند ترې واخلي.

۶ـ الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ستاسو دپاره یې دریابونه هم مسخر ګرځولي دي، د دې دپاره چې تاسو ترې لاندې ګټې ترلاسه کړئ:

الف: ترڅو ستاسو دپاره پکښې ماهیان وروزلی شي چې په خپل وخت یې ښکار کړئ او ښې تازه غوښې یې وخورئ، که نه نو تاسو خو نه په لویو دریابونو کښې ماهیان روزلی شئ او نه دا کار ستاسو د وسې څخه پوره دی.

ب: ترڅو الله ﷻ ستاسو دپاره په دریابونو کښې داسې حیواناتو ته ژوند ورکړي کوم چې تاسو ته ملغلرې او مرجان جوړوي، چې تاسو وربانډې خپل خانونه سنګار کړئ او یا یې په ښه لوړ قیمت باندې وپلورئ او برسېره په ښائسته لباسونو خپل نور ضروریات هم پرې تکمیل کړئ.

ج: ترڅو تاسو په بېړیو کښې سفرونه وکړئ او د یو اقلیم څخه بل اقلیم ته د تجارتونو او نورو موخو دپاره وګرځئ راوګرځئ، او په دې باندې علاوه ترڅو تاسو د ماهیانو ښکار (رانیول) په

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اسانۍ سره ترسره کړئ او همدارنګه په پوره سهولت او اطمنان سره تري ملغلرې او مرجانونه راوباسئ: که بالفرض الله ﷻ دریابونه په هغه ډول طبیعت باندې نه وی پیدا کړي په کوم باندې یې چې پیدا کړي دي نو ضرور به پکښې بېړۍ ډوبې شوې وی او د اوبو په څپرولو سره به یې پکښې تګ راتګ نه وی کړی.

لنډه دا چې ای کتونکیه! ته پخپله سترګې وغړوه چې څومره ثقیلې او درنې بېړۍ په دریابونو کښې نه ډوبېږي بلکې اوبه څیروي او پرې تېرېږي!

د: ترڅو تاسو د الله ﷻ فضل (حلال مال) ترلاسه کړئ او د بېړیو په ذریعه په دریابونو کښې خپلو تجارتي مالونو ته په ښه غټه پیمانه باندې انتقال ورکړئ.

هـ: بالآخره ترڅو تاسو د خپل رب ﷻ شکر وکړئ او په وحدانیت سره یې وپېژنئ، او هم د بوتانو عبادت ته خپل سرونه ټیټ نه کړئ.

٧ـ الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ستاسو دپاره یې په ځمکه باندې قوي او دنګ غرونه ایښي دي او د ځمکې د اضطراري حرکت مخه یې نیولې ده، که نه نو تاسو به پرې ژوند نه وی کړی او ستاسو د سکونت جوګه به نه وی.

٨ـ همدارنګه یې ستاسو دپاره په ځمکه باندې د اوبو ویالې بهولې دي او سیندونه یې پرې جاري کړي دي، که نه نو ټولې اوبه به پکښې جذب شوې وی او ټوله ځمکه به بې اوبو بېدیا وی.

٩ـ ستاسو دپاره یې په ځمکه باندې لارې جوړې کړې دي چې په اسانۍ سره پرې تګ راتګ او تلل کولی شي او خپلو مطالبو ته ورباندې رسېدلی شئ، که بالفرض د الله ﷻ فضل نه وی نو په ځمکه باندې به یې داسې بګرین او ښویه اوچت غرونه ایښي وی چې هرڅوک به په خپل وطن کښې ایسار وی او بل بل وطن ته به یې حرکت نه شوی کولی.

١٠ـ همدارنګه الله ﷻ ستاسو دپاره داسې نښې او علامات پیدا کړي دي چې تاسو پرې په بیابانو او شګلنو بېدیاګانو کښې خپله لاره سمه او سیده کولی شئ او یا پرې ورکه شوې لاره موندلی شئ، که نه نو تاسو به د لارو د موجودیت سره سره خپلو مطلوبه وطنونو ته نه وی رسیدلي او په لارو کښې به لا درکه او ورک شوي وی.

١١ـ ای پیغمبره! په دې ټولو باندې علاوه الله ﷻ په اسمان کښې ستوري په داسې منظمه توګه پیدا کړي دي چې بنیادمان ورباندې په توره شپه کښې او هم په خپلو بحري سفرونو کښې خپلې مطلوبې لارې تصحیح کوي او مطلوبه ځایونو ته پرې ځانونه رسوي، که الله ﷻ ذکر شوی فضل نه وی کړی نو نه به چا بحري او هوایي سفرونه کړي وی او نه به څوک په بېدیاګانو کښې د خپله ځایه ښورېدلی وی.

## توضیحات

١ـ که څه هم ﴿وَمِنۡهُ شَجَرٞ﴾ کښې د ﴿شَجَرٞ﴾ کلمه هغه نبات ته وضعه شوې ده کوم چې ډډ ولري

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او د خمکې څخه لوړ وي(١) مګر په دې مقام کښې علماوو کرامو په مطلق زرغونېدونکې نبات سره تفسیره کړې ده(٢) چې لوړو ونو او نورو وښو ته هم شمولیت لري، چې دډ درلودونکې نه وي.

٢_ مونږ _لله الحمد_ د [إبراهيم:٣٢] ایت لاندې د "تسخير" معنی لیکلې ده چې بیا لیکلو ته اړتیا نه ګورو، نو هیله ده چې د دې مقام د ښه وضاحت دپاره هلته یو خل مراجعه وکړی شي.

٣_ څینو مفسرینو کرامو په ﴿ وَمَا ذَرَأَ لَكُمْ فِي ٱلْأَرْضِ مُخْتَلِفًا أَلْوَٰنُهُۥ ﴾ کښې د ﴿ وَمَا ذَرَأَ ﴾ کلمات د ﴿ وَٱلنُّجُومُ ﴾ په کلمه باندې عطف ګڼلي دي(٣)، مګر مونږ ته غوره بریښي چې په ﴿ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ ﴾ باندې عطف شي. دا د یو پلوه، او د بله پلوه څینو علماوو کرامو د "أَلْوَانُهُ" کلمه په خپله معنی باندې تفسیره کړې ده چې د رنګونو معنی ورکوي خو مونږ ته بهتره څرګندېږي چې په دې مقام کښې ذکره شوې کلمه په مختلفو انواعو باندې تفسیره کړی شي چې کله کله په همدې معنی باندې هم استعمالېږي(٤).

نو د معنی حاصل به یې داسې را وخېژي چې: الله ﷻ ستاسو دپاره هغه ټول شیان مسخر کړي هم دي کوم یې چې ستاسو دپاره په خمکه کښې پیدا کړي دي، که څه هم مختلف ډولونه او جنسونه لري. البته چې د څینو تسخیر ستاسو ترلاسه لاندې دی او په څینو باندې مو اختیار نه چلېږي مګر ستاسو په خدمت کښې بدون د اجرت څخه په دوامداره توګه مشغول دي.

## طراوة څه معنی؟

٤_ په ﴿ لَحْمًا طَرِيًّا ﴾ کښې د ﴿ طَرِيًّا ﴾ کلمه د "طَرَاوَة" څخه اشتقاقه شوې ده، "طَرَاوَة" تازګۍ ته وایي، نو "طَرِيٌّ" هغه شي ته ویل کېږي چې تازه وي او وخت ورباندې ډېر نه وي تېر شوی(٥).

## سوالونه او جوابونه

٥_ که څوک وایي چې په دې مقام کښې سرې ته لاندې پوښتنې ذهن ته ورځي:

الف: په ایت شریف کښې صرف دومره اشاره شوې ده چې په دریابونو کښې داسې ساکښان شته چې غوښې یې حلالې دي، اما ساکښان نه دي ښودلي شوي چې کوم- کوم دي؟

ب: کومه غوښه چې ذ بحري حیواناتو څخه ترلاسه کېږي هغه په طراوة (تازګۍ) سره توصیفه شوې ده، نو پوښتنه دا ده چې که د بحري حیواناتو غوښې وچې کړی شي او یا پرې څه وخت تېر شي او د تازګۍ څخه ووځي، ایا بیا حرامې دي؟

---

(١) مفردات الراغب ص٢٦٢
(٢) روح المعاني ج١٤ ص١٠٥
(٣) تفسير ابي السعود ج٥ ص١٠٢
(٤) مفردات الراغب ص٤٧٧
(٥) مفردات الراغب ص٣١٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو چې: د همدې ایت شریف دپاره لاندې حدیث شریف تفسیر واقع شوی دی چې یوه ورځې نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «أُحِلَّتْ لَنَا مَيْتَتَانِ وَدَمَانِ فَأَمَّا الْمَيْتَتَانِ فَالْحُوتُ وَالْجَرَادُ وَأَمَّا الدَّمَانِ فَالْكَبِدُ وَالطِّحَالُ»[١] یعنې زمونږ دپاره دوه مړه شوي حیوانات (بدون د ذبحې) او هم دوه ډوله وینه حلاله کړې شوې ده، نو هر چې حیوانات دي نو (په دریاب کښې) ماهی دی او (په وچه کښې) مولخ دی، او هرچې دوه وینې دي نو یوه (د حلال ساکښ) ینه او بل یې توری دی (چې دواړه منجمدې وینې دي).

په دې باره کښې باید د زیاتې تشریح دپاره ځینو اوږدو کتابونو ته مراجعه وکړی شي[٢].

اما د ماهي غوښه په ایت شریف کښې په "طَرَاوَةً" تازګی سره ځکه توصیفه شوې ده چې دغه غوښه ترهغه وخته پورې ګټوره او خوندوره وي ترڅو چې ښه تازه وي او وخت ورباندې نه وي تېر شوی، چې د وخت په تېرېدلو سره د بدن دپاره ضررناکه او خطرناکه جوړېږي[٣]، ایت شریف مونږ ته ارشاد کوي چې د ماهي د غوښې ځخه د تازګی په حالت کښې استفاده وکړئ او بس.

## یوه عجیبه قیصه

٦ـ یوه ورځې ابو حنیفه علیه الرحمة او سفیان الثوري علیه الرحمة د هغه چا په باره کښې بحث وکړ کوم چې سوګند کړی وي چې غوښه به ونه خوري[٤]، د بحث خلاصه یې دا ده چې:

الف: ابو حنیفه علیه الرحمة فتوی ورکړه چې که نوموړی سړي د ماهي غوښه وخوري نو سوګند (قسم) یې نه ماتېږي او کفاره ورباندې نه لازمېږي ځکه چې د سوګند په هکله عرف د اعتبار وړ دی او په عرف کښې د غوښې په اطلاق کښې د ماهي غوښه نه شاملېږي ترڅو چې ورسره ماهي ذکر نه کړی شي.

ب: سفیان الثوري علیه الرحمة په همدې صورت کښې فتوی ورکړه چې که د ماهي غوښه یې وخوړه کفاره پرې لازمه شوه ځکه چې الله ﷻ د ماهي غوښه په ﴿ لَحۡمٗا طَرِيّٗا ﴾ کښې د غوښې په نامه یاده کړې ده.

ج: ابو حنیفه علیه الرحمة نوموړي عالم ته یو سړی د دې پوښتنې سره ورولېږه چې: ایا په هغه چا باندې د قسم کفاره شته کوم چې سوګند خوړلی وي چې په بساط (فرش) باندې به نه کیني او بیا په ځمکه باندې کیني؟. سفیان الثوري علیه الرحمة جواب ورکړ چې: نه کفاره پرې نشته او قسم نه ماتېږي.

د: ذکر شوي وراستولي شوي سړي ورته وویلې: په کار دي چې کفاره پرې لازمه شي، ځکه چې الله ﷻ ځمکه د بساط (فرش) په نامه یاده کړې ده چې: ﴿ وَٱللَّهُ جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ بِسَاطٗا ﴾ [نوح:١٩] یعنې او الله ﷻ ستاسو دپاره ځمکه غوړولی شوی فرش ګرځولې ده.

هـ: نو دستي سفیان علیه الرحمة پوه شو چې دا سړی خو ابو حنیفه علیه الرحمة د دې دپاره را استولی وه چې ما ملامته کړي (لکه چې ملامته یې کړم).

---

(١) سنن ابن ماجه ص٢٣٨

(٢) البدائع في ترتیب الشرائع ج٥ ص٣٥

(٣) تفسیر القاسمي ج١٠ ص٨٧، تفسیر الکشاف ج٢ ص٥٩٨

(٤) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج٣ ص١٧١

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یوه پوښتنه او د هغې جواب

٧_ که څوک وايي چې په ﴿ لِتَأْكُلُواْ مِنْهُ ﴾ او ﴿ تَلْبَسُونَهَا ﴾ دواړو جملو کښې ټول انسانان (نارينه او زنانه) مخاطب کړی شوي دي، حال دا چې بحري ګاڼې (ملغلرې او مرجان) خو يوازې زنانه استعمالوي (خانونه پرې ډولې کوي) او د ماهيانو د غوښو غوندې دواړه (نارينه او زنانه) پکښې اشتراک نه لري؛ نو پوښتنه دا ده چې د څه حکمت په بنياد د ﴿ تَلْبَسُونَهَا ﴾ په عوض "تَلْبَسْنَهَا" نازل نه شو چې: ای زنانه وو! تاسو بحري ګاڼې (ملغلرې او مرجان) استعمالوئ نو شکريه يې وکړئ او د الله ﷻ سره شريک مه دروئ؟!

مونږ وايو چې:

الف: د [البقرة:٧٢] ايت لاندې د الله ﷻ په توفيق ليکلي شوي دي چې د ځينو خلکو د فعل نسبت کله-کله ټولو خلکو ته هم کېږي، نو په دې مقام کښې د زنانه وو د ګاڼو استعمال (په همدې لحاظ سره) ټولو انسانانو ته کړی شوی دی، ته به وايې چې نارينه هم ګاڼې اچوي.

ب: ځکه چې زنانه د خپلو نارينه وو دپاره ګاڼې استعمالوي نو داسې وګڼل شو لکه چې نارينه وو هم خپل خانونه په ملغلرو او مرجانو سره ښائسته کړي وي[1].

ج: ځينې لا وايئ چې نارينه وو ته هم د ملغلرو او مرجانو استعمال جائز دی[2]، والله ﷻ أعلم.

## يو نحوي تحليل

٨_ ځينو علماوو کرامو د ﴿ وَلِتَبْتَغُواْ ﴾ کلمات په مقدرو کلماتو باندې عطف ګڼلي دي[3] مګر مونږ ته بهتره برېښي چې دا کلمات په ﴿ لِتَأْكُلُواْ مِنْهُ ﴾ باندې عطف شي، چې بې تکلفه روغه معنی ورکوي. يعني الله ﷻ ستاسو دپاره دريابونه مسخر کړي دي چې هم ترې تازه غوښې خورئ، هم ترې ګاڼې راوباسئ او بالآخره هم پکښې د بېړيو په ذريعه وګرځئ راوګرځئ او د الله ﷻ فضل (حلال مال) د تجارتونو په توګه ترلاسه کړئ.

## يادونه

٩_ هېله ده چې د ﴿ وَأَلْقَىٰ فِى ٱلْأَرْضِ رَوَٰسِىَ أَن تَمِيدَ بِكُمْ وَأَنْهَٰرًا ﴾ د تفسير په هکله د [الرعد: ٣] ايت ته مراجعه وکړی شي چې مونږ هلته د الله ﷻ په توفيق لږ څه تحقيق کړی دی او د نورو اوږدو تحقيقاتو دپاره مو ځينې کتابونه ښودلي دي. په دې مقام کښې ورباندې همدومره اضافه کوو چې:

الف: د قتادة رحمه الله څخه روايت دی: چې کله الله ﷻ ځمکه پيدا کړه نو لړزېدله او اضطراري حرکت يې کاوه، پرښتو عليهم السلام وويلې چې دا خو به په خپله شا باندې هيڅا ته ځای ورنه کړي او

(١) البحر المحيط ج٦ ص٥١٣
(٢) تفسير القرطبي ج١٠ ص٨٧
(٣) تفسير ابي السعود ج٥ ص١٠٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هیڅوک به پرې سکونت ونه شي کړی، «فَاصْبَحُوْا وَقدْ خُلِقتِ الْجِبَالُ فَلَمْ تَدرِ الْملائکۃُ مِمْ خُلِقتِ الْجِبَالُ»[١] نو پرښتنو سبا کړ حال دا چې غرونه پیدا کړی شوي وه (او د ځمکې اضطراري حرکت ختم شوی وه) نو دوی پوه نه شوې چې غرونه د کوم شي څخه پیدا کړی شوه.

ب: په ټوله نړۍ کښې د لویو او اوږدو غرونو د سلسلو شمېره (١٨٧) ته رسېږي[٢].

ج: همدارنګه په ټوله دنیا کښې (١٩٦) سیندونه موجودیت لري[٣].

## سوال جواب

١٠_ که څوک وایي چې په ﴿وَأَلْقَىٰ فِى ٱلْأَرْضِ رَوَٰسِىَ﴾ کښې د ﴿رَوَٰسِىَ﴾ په کلمه باندې درې کلمې عطفې دي چې د ﴿وَأَنْهَـٰرًا﴾، ﴿وَسُبُلًا﴾، ﴿وَعَلَـٰمَـٰتٍ﴾ څخه عبارت دي، حال دا چې ذکره شوې کلمه د ﴿أَلْقَىٰ﴾ دپاره مفعول واقع شوې ده چې د "اِلْقَاء" څخه اشتقاقه شوې ده او "اِلْقَاء" د یو شي غورزولو (اچولو) ته وضعه شوې ده[۴]؛ نو پوښتنه دا ده چې: ایا د غورزولو معنی د ذکرو شوو درېواړو کلماتو سره سمون نه خوري؟

مونږ وایو چې: په "اِلْقَاء" کښې د "جَعْل" (خلق) معنی پرته ده. یا په بل عبارت هغه دې ته متضمنه ده[۵]، نو د ذکرو شوو درېواړو کلماتو په عطف کښې همدغې ضمني معنی ته کتلی شوي دي، یعنې الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو ته یې په ځمکه باندې غرونه اچولي دي او ویالي (سندونه) یې درته پرې پیدا کړي (بهولي) دي، او هم یې درته پرې لارې او (د لارې د پېژاندلو) نښې پیدا کړي دي.

## علامات څه معنی؟

٩_ په ﴿وَعَلَـٰمَـٰتٍ﴾ کښې د "عَلَامَاتِ" کلمه د "عَلَامَة" جمعه ده، دا د هغه شي نوم دی چې په بیابانو کښې د دې دپاره ودرولی شوی وي ترڅو پرې خلک د لارو د خطاکېدلو څخه بچ شي[۶] مګر په دې مقام کښې علماوو کرامو په لاندې معناوو باندې تفسیره کړې ده[٧]:

الف: د غرونو او غونډیو غونډې شیان په ورځ کښې د لارې علامات دي.

ب: د خاورو بویول هم د لارې نښې دي، ځکه چې ځینې خلک د لارې په بویولو سره پوهېږي چې څوک ورباندې تېر شوی دی او که نه. د همدې کبله د لارې اوږدو ته د "مسافة" کلمه وضعه شوې ده چې د "سَوْفَ" څخه یې اشتقاق موندلی دی او "سَوْف" د خاورو یا د متیازو (بولو) بویولو ته ویل کېږي[٨].

---

(١) تفسیر ابن کثیر ج٢ ص٥٦٥
(٢) روح المعاني ج١۴ ص١١۶
(٣) روح المعاني ج١٣ ص٩٩
(۴) مفردات الراغب ص ۴٧۴
(۵) تفسیر الکشاف ج٢ ص۵٩٨
(۶) لسان العرب ج١٢ ص۴١٩
(٧) روح المعاني ج١۴ ص١١۶
(٨) مفردات الراغب ص٢۵۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: مکګر عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د "علامات" کلمه په ډېره جامعه معنی باندې تفسیره کړې ده چې د لارې ټولو نښو ته شاملېږي، هغه دا چې: «الْعَلامَاتُ مَعَالِمُ الطَّرِيْقِ وَأَمَارَاتُهَا الَّتِيْ يُهْتَدى بِهَا»[١] يعنې علامات د لارې هغه نښې او اثار دي په کومو باندې چې د ورځې د مخې لاره موندله کېږي، اما د شپې د پلوه خو په ستورو باندې د لارې د خطاکېدلو څخه سړی بچ کېږي.

﴿أَفَمَن يَخْلُقُ كَمَن لَّا يَخْلُقُ ۗ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿١٧﴾ وَإِن تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا ۗ
إِنَّ اللَّهَ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٨﴾ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا تُسِرُّونَ وَمَا تُعْلِنُونَ ﴿١٩﴾ وَالَّذِينَ
يَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ لَا يَخْلُقُونَ شَيْئًا وَهُمْ يُخْلَقُونَ ﴿٢٠﴾ أَمْوَاتٌ غَيْرُ أَحْيَاءٍ ۖ وَمَا
يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ ﴿٢١﴾ إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ۚ فَالَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ
قُلُوبُهُم مُّنكِرَةٌ وَهُم مُّسْتَكْبِرُونَ ﴿٢٢﴾ لَا جَرَمَ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ ۚ
إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْتَكْبِرِينَ ﴿٢٣﴾﴾

[١٧] ايا نو هغه څوک چې پيدا کول کوي د هغه چا غوندې دی چې پيدا کول نه کوي (نه شي کولی)؟ ايا نو تاسو (لږ) تذکر هم نه کوئ (چې په دغې واضحه خبره باندې پوه شئ).

[١٨] او که تاسو چرته (په خپلو ځانونو باندې) د الله ﷻ نعمتونه وشمېرئ نو انتهاء ته به يې ونه شئ رسولی، يقيناً الله ﷻ (تاسو ته) ضرور بښونکی (او) مهربان دی.

[١٩] او الله ﷻ په هغه شي پوهېږي کوم چې تاسو يې پټوئ او په هغه شي (هم پوهېږي) کوم چې تاسو يې څرګندوئ.

[٢٠] او هغه کسان چې کفار يې د الله ﷻ څخه په غير بلنه (عبادت) کوي هيڅ شی نه شي پيدا کولی، حال دا چې دوی (پخپله د الله ﷻ د پلوه) پيدا کول کېږي (وجود ورکولی کېږي).

[٢١] (دوی چې دي) بې روحه دي، ژوندي نه دي (د ژوند استعداد پکښې نشته)، او هم دوی شعور نه لري چې د دوی عبادت کوونکي به څه وخت (د قبرونو څخه) پورته کړی شي.

[٢٢] (ای انسانانو!) ستاسو (په حقه) معبود (فقط) يو معبود دی (چې الله ﷻ دی او بس)، نو هغه کسان چې په وروستنی ورځ (قيامت) باندې ايمان نه راوړي د دوی زړونه انکار کوونکي دي حال دا چې دوی (د حق د قبول څخه) لويي (او سرغړونه) کوي.

[٢٣] دا خبره حقه (او ضرور) ده چې يقيناً الله ﷻ په هغه شي باندې پوهېږي کوم چې دوی يې

---

(١) المحرر الوجيز ج١٠ ص١٧٠

Scanned by CamScanner

پټوي او په هغه شي باندې (هم پوهېږي) کوم چې دوی يې ښکاره کوي (نو ضرور به جزا ورکړي ځکه چې) يقيناً الله ﷻ سرکشان (لويي کوونکي خلک) نه خوښوي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ايتونو کښې د وړاندېنيو ايتونو په هغه مضمون باندې يوې تبصرې ته اشاره شوې ده کوم چې د دې سورت د اول سر څخه پيل شوې وه. يا په بل عبارت: وړاندې د الله ﷻ د وحدانيت دلائل بيان شوي وه او دلته د مقايسې په توګه د بوتانو ناتوانی ته اشاره شوې ده چې حاصل يې داسې راځېږي:

ای پيغمبره! د وحدانيت د دلائلو څخه وروسته اوس په خپل امت باندې د مقايسې په شکل لاندې نکات قرائت کړه:

١ـ ای خلکو! تاسو ذکر شوي دلائل په لحاظ کښې ونيسئ او بيا جواب راکړئ چې: ايا هغه څوک چې ذکر شوي مختلف شيان يې ستاسو د استفادې دپاره پيدا کړي دي او په راتلونکي کښې هم روزمره ډول-ډول شيان پيدا کوي، د هغه چا غوندې کېدلی شي کوم چې نه يې پخوا څه شی پيدا کړي دي او نه به وروسته څه شی پيدا کړی شي؟ هيڅکله نه شي برابرېدلی، نو ايا تاسو عبرت نه اخلئ (پند نه قبلوئ) چې د بوت پرستۍ څخه لاس واخلئ او د خپل رب ﷻ سره هيڅوک په عبادت کښې شريک نه کړئ.

٢ـ ايا هغه څوک چې تاسو ته يې بې شمېره نعمتونه درکړي دي او لا ورکړه يې په دوامداره توګه روانه ده، د هغه چا غوندې کېدلی شي چې د هيڅ يوه نعمت په ورکړه باندې قدرت او وسه نه لري؟

نو تاسو ته په کاري دي چې د الله ﷻ سره په عبادت کښې هيچا ته په اشتراک باندې قائل نه شئ او دا ځکه چې:

الف: د الله ﷻ نعمتونه دومره ډېر دي که بالفرض تاسو يې د شمېر لاندې ونيسئ نو د شمېرلو توان به يې ونه لرئ، حتی د نعمتونو افراد نه بلکې انواع به يې هم ونه شئ شمېرلئ، حال دا چې د ده ﷻ څخه پرته هيڅوک د يوه وړوکي نعمت د ورکړې طاقت او قدرت نه لري.

ب: الله ﷻ د دې سره-سره چې ټول نعمتونه يې په اختيار کښې دي، بښونکی او مهربان هم دی، که څوک د بوت پرستۍ څخه لاس واخلي نو په پخوانۍ ناشکرۍ باندې به يې ونه نيسي، همدارنګه د نعمتونو په اندازه باندې د شکر غوښتونکی هم نه دی بلکې لږ شکر ته (چې اخلاص ورسره ملګری وي) د ډېر شکر بدله او اجر ورکوي.

٣ـ ايا هغه څوک چې په پټو او ښکاره وو ټولو باندې عالم دی د هغه چا غوندې کېدلی شي کوم چې په يوه شي باندې هم علم نه لري؟ نو ای خلکو! د الله ﷻ څخه وډار شئ او بوت پرستۍ پرېږدئ، ځکه چې يوازې همدی ﷻ ستاسو په پټو او ښکارو باندې پوهېږي او بس.

٤ـ بالمقابل (ای پيغمبره!) هغه کسان يا هغه شيان چې مشرکان يې د الله ﷻ څخه پرته بلي او عبادت يې کوي هيڅ شی نه شي پيدا کولی او د يوه شي په پيداکولو کښې هم ورسره سيالي نه شي

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کولی بلکې دوی پخپله د الله ﷻ د پلوه خلق کړی شوي دي. نو څرنګه چې دوی د وجود ورکولو وسه نه لري نو د نعمت د ورکړې څخه خو یقیناً ناتوانه دي.

۵ـ دغه باطل معبودان داسې بې روحه جمادات دي چې نه پخوا ژوندي وه، نه سمدستي ژوند لري او بالآخره نه به په راتلونکي وخت کښې د ژوند خاوندان شي. نو په همدې بنیاد نه د خپلو عابدانو په پټ عبادت باندې پوهیږي، نه یې په څرګند عبادت باندې علم لري او بالآخره نه یې ورته اړتیاوې معلومې دي، او حتی په دې باندې هم شعور (ادنی پوهه) نه لري چې د دوی عبادت کوونکي به څه وخت د قبرونو څخه پورته کړی شي چې دوی یې شفاعت ته ملاوې وتړي او څه ګټه ورته ورسوي، لکه څنګه چې د هغوی ګومان دی.

۶ـ ای پیغمبره! ټولو خلکو ته یو ځل بیا د الله ﷻ د پلوه اطلاع ورکړه چې: ستاسو د ټولو واقعي معبود بل څوک نه دی مګر یوازې یو معبود دی چې الله ﷻ دی او بس، نو د بوتانو د عبادت څخه لاس واخلئ او شریک ورسره مه دروئ.

۷ـ نو نظر دغې اطلاع (اعلان) ته به خلک په لاندې دوه وو ګروپونو باندې وویشلی شي:

الف: څوک چې په آخرت باندې عقیده لري نو هغوی به ستا دعوت په سر او سترګو باندې قبول کړي او خپلې توحیدي کړنلارې ته به ادامه ورکړي.

ب: بالمقابل هغه کسان چې په آخرت باندې عقیده نه لري نو د هغوی زړونه به ستا د دعوت څخه په دوامداره توګه انکار کوونکي وي حال دا چې خپل تکبر ته به په دائمي ډول ادامه ورکړي.

۸ـ نو ای پیغمبره! د الله ﷻ فیصله دا ده چې ضرور به دغو متکبرانو ته سخته سزا ورکړي، ځکه چې الله ﷻ په هغو ټولو حالاتو او خبرو باندې پوهیږي کومې چې دوی یې پټوي او یا یې څرګندوي، او دا ځکه چې یقیناً الله ﷻ متکبران او سرکشان نه خوښوي.

## توضیحات

۱ـ که څوک وایي چې په ﴿أَفَمَن يَخْلُقُ كَمَن لَّا يَخْلُقُ﴾ کښې د "مَنْ" کلمه د بوتانو څخه عبارت ده چې د نطق (خبرو کولو) استعداد نه لري، حال دا چې دغه کلمه د خبرو کوونکو دپاره وضعه شوې ده[1]؛ نو پوښتنه دا ده چې: د څه حکمت په بنیاد د "مَنْ" په عوض د "ما" کلمه نازله نه شوه چې د غیر ناطقینو دپاره وضعه شوې ده؟

مونږ وایو چې:

الف: کله چې مشرکانو خپل معبودان (بوتان) د عبادت لایق وګڼل او د عبادت غوښتنه دا ده چې هغو دې ناطقین هم وي، نو نظر د دوی ګومان ته ترې په "مَنْ" سره تعبیر وکړی شو. د دې وجې نظیر دا دی چې کله یوسف ﷺ یوولس ستوري او لمر او سپوږمۍ په خوب کښې سجده کوونکي ولیده، او سجده د علم او عقل د خاوندانو خاصه ده، نو د عقلاء په جمعه باندې یې جمعه کړه چې:

---

(۱) مفردات الراغب ص۴۹۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ رَأَيْتُهُمْ لِي سَٰجِدِينَ ﴾ [يوسف:۴] يعنې ای پلاره! ما هغوی ټول په خوب کښې د خپل ځان دپاره سجده کوونکي ولیده.

ب: ځکه د "مَنْ" کلمه نازله شوه ترڅو د ﴿ أَفَمَن يَخْلُقُ ﴾ سره مشاکله شي او "مشاکلة" خو د علم البدیع یوه قاعده ده[١]. د دې وجې نظیر په لاندې ایت شریف کښې د اجراء لاندې نیولی شوی دی چې: ﴿ فَمِنْهُم مَّن يَمْشِي عَلَىٰ بَطْنِهِۦ وَمِنْهُم مَّن يَمْشِي عَلَىٰ رِجْلَيْنِ ﴾ [النور:۴۵] یعنې الله ﷻ مختلف مخلوقات پیدا کړي دي نو ځینې هغه څوک دي کوم چې په ګېډه باندې روانېږي ښویېږي (لکه ماران) او ځینې هغه څوک دي چې په دوه وو پښو باندې روانېږي (لکه انسان).

ج: په دې ډول نزول کښې په مشرکانو باندې د الزام غتول دي؛ چې الله ﷻ د هغه چا غوندی هم نه دی کوم چې پوهه او عقل لري مګر پیدا کول نه شي کولی نو د هغو شیانو غوندې ګڼل خو یې ډېره لویه بې عقلي ده چې هغه نه عقل لري، نه پوهه او نه پیدا کول کولی شي.

## سوال جواب

٢_ که څوک وایي چې مشرکانو خو خپل باطل معبودان په معبودیت کښې د الله ﷻ غوندې ګڼل، نه دا چې الله ﷻ یې د بوتانو غوندې ګڼه، نو د دې عقیدې د انکار دپاره په کار وه چې د ذکر شوي عبارت په عوض داسې نازل شوی وی چې: "أَفَمَنْ لَا يَخْلُقُ كَمَنْ يَخْلُقُ" ایا نو هغه څوک چې پیدا کول نه شي کولی (لکه بوتان) د هغه چا غوندې کېدلی شي چې پیدا کول کوي یعنې الله ﷻ؛ نو پوښتنه دا ده چې: د څه حکمت په اساس د مشرکانو ذکره شوې عقیده په مقلوبه تشبیه کښې ذکره شوه؟

مونږ وایو چې: دلته هغه مقلوبه تشبیه نه ده په کومه کښې چې د تشبیه حرف په مشبّه باندې داخل وي او په علم المعاني کښې یې شرحه ذکره ده[٢]، بلکې دلته د نازل شوي عبارت سره هغه متضاد عبارت مقدر دی کوم چې په اعتراض کښې ذکر دی چې تقدیر یې داسې جوړېږي:

الف: "أَفَمَنْ يَخْلُقُ كَمَنْ لَا يَخْلُقُ" ایا نو هغه څوک چې پیدا کول کوي د هغه چا غوندې کېدلی شي چې پیدا کول نه شي کولی؟

ب: "أَوَمَنْ لَا يَخْلُقُ كَمَنْ يَخْلُقُ" ایا هغه څوک چې پیدا کول نه شي کولی د هغه چا غوندې کېدلی شي چې پیدا کول کوي؟ ایا دغه دواړه کسان یو برابر دي؟ ایا هوښیار سړی به د دواړو په مساوات (برابری) باندې حکم وکړي؟

نو په دې مقام کښې د مشرکانو د مساوات (برابری) هغه عقیده رده شوې ده کومې ته چې الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿...إِذْ نُسَوِّيكُم بِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ [الشعراء:۹۸] یعنې د قیامت په ورځ به مشرکان خپل باطل معبودان په سوګند سره مخاطب کړي چې یقینًا مونږ په لویه ګمراهی کښې وو چې تاسو

---

(١) مختصر المعاني ص۴۵۱
(٢) مختصر المعاني ص۳۴۴

Scanned by CamScanner

د مٙیرویس اباسین لخوا سکین شو



مو په دنیا کښې د عبادت په هکله د رب العالمین سره برابرولی:

پاتې شوه دا خبره چې: "مَنْ يَخْلُقُ" او "مَنْ لا يَخْلُقُ" څوک څوک دي؟

نو د دې جواب دا دی چې پیداکوونکی خو هغه اقدس ذات دی چې ټول مخلوقات یې پیدا کړي دي او صراحت ته اړتیا نه لري. اما "مَنْ لا يَخْلُقُ" دلته هغه څوک دی چې په راتلونکې ایت کښې وروباندې صراحت شوی دی چې: ﴿ وَٱلَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَا يَخْلُقُونَ شَيْـًٔا وَهُمْ يُخْلَقُونَ ﴾ او هغه کسان چې مشرکان یې د الله ﷻ څخه په غیر بلي هغوی هیڅ شی نه شي پیدا کولی حال دا چې دوی پخپله (د الله ﷻ د پلوه) پیداکول کېږي (او پیدا کړی شوي دي).

دا وه زموږ جواب مګر نورو مفسرینو کرامو ذکر شوي سوال ته نور جوابونه کړي[1].

## د ذکر شوي ایت نظیر

۳_ زموږ په فکر _والله ﷻ أعلم_ ذکر شوی ایت د متضادې جملې په حذف کښې دغه ایت شریف ته ورته دی چې: ﴿ وَجَعَلَ لَكُمْ سَرَٰبِيلَ تَقِيكُمُ ٱلْحَرَّ ﴾ [النحل: ۸۱]، چې متضاده جمله "وَسَرَابِيلَ تَقِيكُمْ الْبَرْدَ" ورسره ځکه محذوفه شوې ده چې یو ضد په بل ضد باندې دلالت کوي، یعنې الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ستاسو دپاره یې داسې لباسونه (جامې) پیدا کړي دي چې د ګرمۍ په موسم کښې مو د ګرمۍ څخه ساتي، او داسې جامې یې هم درته خلق کړې دي چې د یخنۍ په موسم کښې مو د یخنۍ څخه ساتي.

## یادونه

۴_ د ﴿ وَإِن تَعُدُّوا۟ نِعْمَةَ ٱللَّهِ لَا تُحْصُوهَآ ﴾ غوندې یوه جمله د [إبراهیم: ۳۴] ایت کښې وړاندې تېره شوې ده، چې موږ د الله ﷻ په توفیق هلته بنه پوره څېړلې ده او بیا څېړلو ته یې اړتیا نه ګورو، یوازې همدا یوه خبره وروباندې وراضافه کوو چې:

ذکره شوې جمله په دې مقام کښې په ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ سره تعقیبه شوې ده چې لاندې ټکو ته پکښې اشاره نغښتې ده:

الف: کفارو او مشرکانو ته ډاډ ورکړی شوی دی چې که دوی په صحیحو معناوو کښې په ایمان باندې مشرف شي نو په پخوانیو ناشکریو به ونه نیول شي، ځکه چې الله ﷻ غفور او رحیم دی.

ب: څرنګه چې د الله ﷻ نعمتونه د شمېر لاندې نه شي راتلای نو په کار دي چې بندګان هم یې شمېره شکرونه اداء کړي حال دا چې دا کار د هیچا د لاسه پوره نه دی، نو دوی ته ډاډ ورکړه شو چې الله ﷻ بښونکی او مهربان دی چې په اخلاص سره لږ شکر ګذار ته ډېر اجر ورکوي او هم د شکر څخه ځان عاجز ګڼل په کامل شکر باندې محاسبه کوي.

---

(۱) تفسیر الخازن ج۳ ص۵۹۲- تفسیر الکشاف ج۲ ص۵۹۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## يوه پوښتنه او د هغې جواب

**۵ـ** که څوک وايي چې: په ﴿ أَمْوَٰتٌ غَيْرُ أَحْيَآءٍ ﴾ کښې د څه حکمت په بنياد د ﴿ أَمْوَٰت ﴾ د کلمې په نزول باندې اکتفاء ونه کړی شوه او د ﴿ غَيْرُ أَحْيَآءٍ ﴾ کلمات يې په تعقيب باندې نازل کړی شوه، حال دا چې: أَمْوَات نه دي مګر غَيْر أَحْيَاء دي؟

مونږ وايو چې: ﴿ أَمْوَٰت ﴾ خو هغو شيانو ته ويل کېږي کوم چې بې روحه وي مګر په بې روحه شيانو کښې ځينې داسې دي چې د ژوند قابليت پکښې موجود وي، لکه نطفه او يا لکه د ژوندي ساکښ خاورې شوی کالبوت؛ نو د ﴿ غَيْرُ أَحْيَآءٍ ﴾ د کلماتو په نزول سره اشاره شوې ده چې د مشرکانو بوتان داسې بې روحه شيان دي چې نه پکښې د ژوند قابليت شته او نه پکښې د علم (پوهې) صلاحيت شته، حتى دوی نه پوهېږي چې عبادت کوونکي به يې څه وخت د قبرونو څخه راپورته کېږي او د سخت حالت سره به مخامخ کېږي چې شفاعت ورته وکړي، لکه څنګه چې ورته هغوی په تمه دي.

## يادونه

**۶ـ** مونږ په ﴿ وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ ﴾ کښې د ﴿ يَشْعُرُونَ ﴾ د کلمې ضمير معبودانو ته راجع کړه او د ﴿ يُبْعَثُونَ ﴾ د کلمې ضمير مو عبادت کوونکو (مشرکانو) ته راجع وګڼه، چې د وړاندې او ورپسې مضامينو سره راته مناسب ښکاري شو.

ځينو تفاسيرو[1] د ذکرو شوو دواړو ضميرونو د مراجعو د اختلاف په بنياد د ذکر شوي کلام دپاره نور تفسيرونه خوښ کړي دي، که څوک يې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي.

## استکبار څه معنى؟

**۷ـ** په ﴿ وَهُم مُّسْتَكْبِرُونَ ﴾ کښې د "مُسْتَكْبِرُونَ" کلمه او په ﴿ لَا يُحِبُّ ٱلْمُسْتَكْبِرِينَ ﴾ کښې د "مُسْتَكْبِرِينَ" کلمه دواړه د "استکبار" څخه اشتقاقي شوې دي، استکبار دې ته وايي چې څوک د خپل ځان د رتبې او منزلت د اوچتوالي مطالبه او غوښتنه وکړي. دغه مطالبه په لاندې دوه ډولونو باندې صورت نيسي[2]:

الف: چې د خپل ځان د اوچتوالي په لټونه کښې د غير شرعي لارو چارو څخه کار واخلي.

ب: چې په شرعي چوکاټ کښې د خپلې رتبې د پورته کولو هڅه وکړي.

د کفارو استکبار د لومړي ډول څخه وه، ځکه چې دوی خپله رتبه ـ په خپل ګومان ـ په کفر باندې لوړوله او توحيد ورته سپکاوی ښکارېده.

نو د لومړنۍ جملې د معنى حاصل داسې کېږي چې د کفارو زړونه د توحيد او آخرت څخه انکار

---

(١) روح المعاني ج١۴ ص١٢٠

(٢) مفردات الراغب ص۴٣٨

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کوونکي دي حال دا چې دغه عقیده ورته خپل سپکاوی برېښي او عزت ورته په کفر کښې څرګندېږي.

او د دوهمې جملې حاصل دا دی چې: یقینًا الله ﷻ هغه څوک نه خوښوي کوم چې اسلام ته په سپک نظر ګوري او کفر ورته باعزته ښکارېږي.

همدې حالت ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ إِنَّهُمْ كَانُوٓاْ إِذَا قِيلَ لَهُمْ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ يَسْتَكْبِرُونَ ﴾ [الصافات: ٣٥] یعنې یقینًا په دنیا کښې کفار وه چې کلمه طیبه به ورته وویلې شوه نو دوی به لویې کوله او په همدې کلمې باندې عقیده کول به ورته خپل سپکاوی ښکارېده.

## د کبر، تکبر او کبریاء معناوې

٨ـ د مقام د ارتباط په بنیاد غواړو چې محترمو لوستونکو ته د ذکرو شوو درېواړو کلماتو معناوې شرحه کړو، چې په قرآن کریم کښې ځای په ځای نازلې شوې دي، هغه دا چې:

الف: د "كِبْرٌ" ـلکه "عِلْمٌ"ـ کلمه نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې داسې تفسیره کړې ده چې: «وَلَكِنَّ الْكِبْرَ مَنْ بَطَرَ الْحَقَّ وَغَمَصَ النَّاسَ»[١] یعنې مګر کبر چې دی د هغه چا حالت دی چې حق د پښو لاندې کوي (نه یې قبلوي) او خلک حقیر (سپک) ګڼي.

هو! لوی کبر دا دی چې څوک د توحید کلمه نه قبلوي او مسلمانان ورته سپک ښکارېږي، همدغه لوی کبر ته نبي کریم ﷺ اشاره کړې ده چې: «لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ كِبْرٍ وَلَا يَدْخُلُ النَّارَ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ خَرْدَلَةٍ مِنْ إِيمَانٍ»[٢] یعنې هغه څوک به جنت ته داخل نه شي د چا په زړه کښې چې د اوړې د یوې دانې په اندازه کبر وي، او دوزخ ته به هغه څوک (د خلود په توګه) داخل نه شي د چا په زړه کښې چې د یوه اوړي د دانې په اندازه ایمان وي.

ب: د "تکبر" کلمه د "تفعل" د باب څخه ده چې په لاندې دوه وو ډولونو استعمالېږي[٣]:

اول: چې دغه باب د تفرد او تخصص دپاره شي. نو متکبر هغه چاته ویل کېږي کوم چې لوی او عظمت همده پورې اختصاص لري او هیڅوک ورسره پکښې اشتراک نه شي کولی.

دا معنی په الله ﷻ پورې خاصه ده چې په حمیده وو صفاتو او عظمت کښې ورسره هیڅوک نه سیالي کولی شي او نه ورسره شریکېدلی شي. د همدې کبله الله ﷻ په خپلو مبارکو نومونو کښې یو نوم ﴿ ٱلْمُتَكَبِّرُ ﴾ هم ښودلی دی: [الحشر: ٢٣]، چې ټول حمدونه او ثناګانې واقعًا په همده ﷻ پورې اختصاص لري او بس.

دوهم: چې دغه باب د تکلف دپاره شي. نو متکبر هغه چاته ویل کېږي کوم چې عظمت نه لري

(١) جامع الترمذي ج٢ ص٢٠
(٢) سنن ابي داوٗد ج٢ ص٢١٠
(٣) لسان العرب ج٥ ص١٢٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مگر خپل ځان په نورو باندې په خپل ګومان سره لوی معرفي کوي ترڅو ورته خلک په تخصص سره قائل شي چې د ده غوندې د لوړو صفاتو خاوند هیڅوک نشته.

نو نظر پاسنۍ شرحې ته تکبر یوازې د الله ﷻ پورې خاص دی او هیڅ بنده ته مناسب نه دی چې تکبر وکړي او په خیال کښې یې ورشي چې په نېکو او حمیدو صفاتو کښې سیال نه لري.

نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې د تکبر کوونکو په هکله فرمایي چې: «يُحْشَرُ الْمُتَكَبِّرُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَمْثَالَ الذَّرِّ فِي صُوَرِ النَّاسِ يَغْلُوهُمْ كُلُّ شَيْءٍ مِنَ الصَّغَارِ حَتَّى يَدْخُلُوا سِجْنًا فِي جَهَنَّمَ»[1] یعنې تکبر کوونکي به د قیامت په ورځ د بنیادمانو (خلکو) په څېرو کښې د سرو (وړو) مېږتنو په اشکالو سره حشر کړی شي، چې د وړوکتوب د کبله به پرې هر شي پورته کېږي (او د پښو څخه به یې لاندې کوي) ترڅو چې دوی په دوزخ کښې یوې بندیخانې ته ورداخل شي.

لنډه دا چې تکبر کوونکي به یو ځل د حشر په میدان کښې د مېږتنو په شان کوچنۍ څېرې ولري ترڅو د خلکو د پښو لاندې شي او معذب شي. مگر په دوزخ کښې به د زیات تعذیب دپاره دومره غټ غټ شي چې یو غاښ به یې د اُحد د غره په اندازه وګرځولی شي[2].

ج: د "کبریاء" کلمه دېته وضعه شوې ده چې بل چاته د اطاعت او انقیاد څخه پورته وي[3]، نو ځکه نبي کریم ﷺ په یوه قدسي حدیث کښې د الله ﷻ څخه حکایت کړی دی چې: «الْكِبْرِيَاءُ رِدَائِي وَالْعَظَمَةُ إِزَارِي فَمَنْ نَازَعَنِي وَاحِدًا مِنْهُمَا قَذَفْتُهُ فِي النَّارِ»[4] یعنې کبریاء زما څادر دی او عظمت زما لنګ دی (دغه داوړه زما اختصاصي صفات دي) نو هرڅوک چې زما سره په کوم یوه کښې منازعه وکړي (چې خپل ځان ته یې ثابت وګڼي) نو په اور (دوزخ) کښې به یې ور واچوم. یا په بل عبارت: لکه چې په یوه څادر او یوه لنګ کښې هیڅوک بل چاته ځای نه ورکوي همدارنګه زه هم په ذکرو شوو دواړو صفاتو کښې چاته برخه نه ورکوم او نه پکښې څوک برخه درلودلی شي.

## یادونې

۹ـ په دې مقام کښې د محترمو لوستونکو پام لاندې یادونو ته را اړوو:

الف: ځینو مفسرینو کرامو[5] د کبر او تواضع په هکله زښت ډېر احادیث راغونډ کړي دي هېله ده چې یو ځل هلته مراجعه وکړی شي.

ب: مونږ د الله ﷻ په توفیق د ﴿لَا جَرَمَ﴾ په کلمه کښې د [هود: ۲۲] ایت لاندې یو اندازه مناسب تحلیل کړی دی چې د دې مقام دپاره یې یو ځل لوستل بې ګټې نه دي.

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۵۹۶
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۸۵
(۳) مفردات الراغب ص۴۳۹
(۴) سنن ابي داوُد ج۲ ص۲۱۰، سنن ابن ماجه ص۲۰۸
(۵) الدر المنثور ج۵ ص۱۱۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُم مَّاذَآ أَنزَلَ رَبُّكُمْ ۙ قَالُوٓا۟ أَسَٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ (٢٤) لِيَحْمِلُوٓا۟ أَوْزَارَهُمْ كَامِلَةً
يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۙ وَمِنْ أَوْزَارِ ٱلَّذِينَ يُضِلُّونَهُم بِغَيْرِ عِلْمٍ ۗ أَلَا سَآءَ مَا يَزِرُونَ (٢٥) قَدْ
مَكَرَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَأَتَى ٱللَّهُ بُنْيَٰنَهُم مِّنَ ٱلْقَوَاعِدِ فَخَرَّ عَلَيْهِمُ ٱلسَّقْفُ مِن
فَوْقِهِمْ وَأَتَىٰهُمُ ٱلْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُونَ (٢٦) ثُمَّ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ يُخْزِيهِمْ وَيَقُولُ أَيْنَ
شُرَكَآءِىَ ٱلَّذِينَ كُنتُمْ تُشَٰٓقُّونَ فِيهِمْ ۚ قَالَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ إِنَّ ٱلْخِزْىَ ٱلْيَوْمَ
وَٱلسُّوٓءَ عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ (٢٧) ٱلَّذِينَ تَتَوَفَّىٰهُمُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ ظَالِمِىٓ أَنفُسِهِمْ ۖ فَأَلْقَوُا۟ ٱلسَّلَمَ
مَا كُنَّا نَعْمَلُ مِن سُوٓءٍ ۚ بَلَىٰٓ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌۢ بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ (٢٨) فَٱدْخُلُوٓا۟ أَبْوَٰبَ
جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَا ۖ فَلَبِئْسَ مَثْوَى ٱلْمُتَكَبِّرِينَ (٢٩) وَقِيلَ لِلَّذِينَ ٱتَّقَوْا۟ مَاذَآ أَنزَلَ
رَبُّكُمْ ۚ قَالُوا۟ خَيْرًا ۗ لِّلَّذِينَ أَحْسَنُوا۟ فِى هَٰذِهِ ٱلدُّنْيَا حَسَنَةٌ ۚ وَلَدَارُ ٱلْءَاخِرَةِ خَيْرٌ ۚ وَلَنِعْمَ
دَارُ ٱلْمُتَّقِينَ (٣٠) جَنَّٰتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ ۖ لَهُمْ فِيهَا مَا
يَشَآءُونَ ۚ كَذَٰلِكَ يَجْزِى ٱللَّهُ ٱلْمُتَّقِينَ (٣١) ٱلَّذِينَ تَتَوَفَّىٰهُمُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ طَيِّبِينَ ۙ
يَقُولُونَ سَلَٰمٌ عَلَيْكُمُ ٱدْخُلُوا۟ ٱلْجَنَّةَ بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ (٣٢)﴾

[۲۴] او هر کله چې دوی (متکبرانو) ته وویلی شي چې هغه څه شی دی کوم چې ستاسو رب ﷻ نازل کړی دی، دوی (په جواب کښې) وايي چې (هغه) د پخوانيو قيصې دي (او زمونږ د رب ﷻ د پلوه نه دي نازل شوي).

[۲۵] (د دغه جواب نتيجه دا کېږي چې) دوی به خپل ګناهونه په کامله توګه د قيامت په ورځ (په خپلو اوږو باندې) اوچت کړي، او د هغو کسانو د ګناهونو څخه به هم (څه برخه په خپلو اوږو اوچته کړي) کوم چې دوی بدون د علم څخه ګمراه کړي وه (چې بې د تحقيقه يې د دوی خبره منلې وه).
خبردار! هغه ډېر بد شی دی کوم چې دوی يې اوچتوي (چې د ګمراهۍ او ګمراه کولو مجموعه ګناه ده).

[۲۶] (ای پيغمبره!) يقيناً هغو کسانو (هم د اسلام دمخنيوي دپاره) پټ تدبيرونه کړي وه کوم چې د دوی څخه وړاندې تېر شوي دي، نو الله ﷻ (فرمان) د هغوی (د تدبيرونو) ماڼۍ ته د بنيادونو د پلوه ورغی، نو په دوی باندې يې د پاسه چت ورپرېووت (او ټول ترې لاندې شوه بلکې) دوی ته د

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



داسې خوا څخه عذاب ورغی چې دوی پرې شعور نه درلود (د دوی خیال نه وه چې دا به مونږ ته مصیبت جوړیږي).

[٢٧] (دا خو د دنیا عذاب وه) بیا به د قیامت په ورځ الله ﷻ دوی رسوا کړي او (ورته) وبه وایي چې (ای مشرکانو!) زما هغه شریکان (نن ورځ) چرته دي په کومو کښې به چې تاسو (د پیغمبرانو سره) جګړې کولې (او د هغو په اثبات به مو زور اچاوه)؟

(نو په دغه وخت کښې به) هغه کسان ووایي کومو ته چې علم ورکړی شوی دی (لکه پیغمبران علیهم‌السلام، پرښتې او مؤمنان) چې: یقینًا نن ورځ لویه رسوایي او لویه سختي (روحي عذاب) په کافرانو باندې (پروت) دی.

[٢٨] (کافران) هغه کسان (دي) چې پرښتې یې په داسې حال کښې ارواګانې اخلي چې دوی په خپلو ځانونو باندې (په کفر سره) ظلم کوونکي دي (یعنې هغه کسان دي چې د کفر په حالت باندې مړه شي)، نو کافران به (بیا) روغه (اطاعت) وړاندې کړي (انکار به وکړي او وبه وایي چې) مونږ (په دنیا کښې) نه وو چې څه بدکار مو کړی وي (لکه کفر او شرک).

(د الله ﷻ د پلوه به د دوی خبره رده شي چې) دغسې نه ده لکه چې تاسو یې دعوه کوئ (ځکه چې) یقینًا الله ﷻ په هغو (ټولو) شیانو باندې پوه دی کوم چې تاسو (په دنیا کښې) وئ چې کول به مو.

[٢٩] نو (په دوی باندې به فرمان صادر شي چې: ای کفارو!) د دوزخ دروازو (طبقاتو ته) په داسې حال کښې ور داخل شئ چې تاسو به هلته همېشه یاست.

(ای پیغمبره!) نو هرو مرو د تکبرکوونکو استوګنځای ډېر بد دی (چې دوزخ دی).

[٣٠] او (کله چې) هغو کسانو ته وویلی شي کومو چې (خپل ځانونه د کفر څخه) ساتلي دي (داسې چې): هغه څه شی دی کوم چې ستاسو رب ﷻ نازل کړی دی؟ دوی (په جواب کښې) وایي چې: (زمونږ رب ﷻ) خیر (نازل کړی دی، چې د دنیا او آخرت ښېګڼې پکښې نغښتې وې).

(ای پیغمبره!) خاص هغو کسانو ته چې نېکي کوي په دغې دنیا کښې نېکي (او خوشالي) ده، او هرو مرو د آخرت کور (یې) چې دی (هغه) ډېر بهتر دی، نو بې شکه د متقیانو (وروستنی) کور ډېر ښه دی (چې جنت دی).

[٣١] (دا کور د) داسې دائمي جنت (څخه عبارت دی) چې دوی به هلته (بې تکلفه) ورداخلېږي (او هم) لاندې به ترې (څلور) ویالې بهېږي، (او هم) دوی (جنتیانو) ته به پکښې هغه شیان وي کوم چې دوی یې غواړي (او په زړه کښې یې ګرځي راګرځي).

(ای پیغمبره!) الله ﷻ متقیانو ته دغسې (نېکه) جزا ورکوي.

[٣٢] (متقیان) هغه کسان (دي) چې پرښتې یې (د کفر او شرک څخه) د پاګیزګۍ په حال کښې ارواګانې قبض کوي (چې خاتمه یې په ایمان سره وي)، (دوی ته به د ارواګانو د قبض په وخت کښې) پرښتې وایي چې: په تاسو باندې سلامتیا ده (او د قیامت په ورځ به ورته وویلی شي چې) جنت ته د هغو اعمالو په سبب ننوځئ کوم چې تاسو (په دنیا کښې) وئ چې کول به مو.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباطونه

۱_ په وړاندېنيو ایتونو کښې د توحید دلایل او په زړه پورې تبصره ذکره وه او په دې ایتونو کښې د خلکو عکس العمل ته اشاره شوې ده چې کفار یو ډول نظر ښکاره کوي او مومنان بل ډول.

۲_ هلته د مشرکانو د ضلالت بیان شوی وه او دلته یې اضلال (نور خلک گمراه کول) بیانېږي.

۳_ بالآخره وړاندېنې ایتونه د متکبرینو د حالاتو په بیان باندې ختم شوي وه او دا ایتونه د متکبرینو په اقوالو باندې پیل شوي دي، چې قرآن کریم په کومو-کومو لقبونو باندې یادوي.

## شان نزول

مفسرینو کرامو د ذکرو شوو ایتونو په شان نزول کښې متعدد روایات لیکلي دي[۱] مگر کوم روایت چې مونږ ته د ایتونو سره زیات نژدې څرگند شو د هغه حاصل دا دی[۲] چې:

۱_ یوه ورځ د مکې، مشرکانو په دې اړوند غټه غونډه وکړه چې یقینًا محمد ډېر فصیح او بلیغ سړی دی، د اطرافو خالي ذهنه خلک ډېر ژر تېر ویستلی شي نو په کار دي چې د مکې معظمې په لویو لارو کښې د قوم مخور سړي کېنوو ترڅو هغه جرگې مخاطبې کړي کومې چې د خپلو قومونو دپلوه د هغه (محمد) د حال د کشف دپاره را استولی کېږي، او ورته توصیه وکړي چې:

۲_ زه فلانی د فلاني زوی او د مکې اصلي اوسېدونکی قریشي یم، تاسو ته توصیه کوم چې د همدې ځایه بېرته وگرځئ او خپل قوم ته ووایاست چې محمد لیونی سړی دی، اوتې بوتې وایي، د قوم مخور خلک ورسره نشته، څه گمنامه خلک یې په ځان باندې راغونډ کړي دي او خپل ځان یې ورته د پیغمبر په صفت باندې معرفي کړی دی او بالآخره په څه پخوانیو قیصو باندې یې تېرباسي.

۳_ کومو جرگو به چې د ذکرو شوو شیطانانو خبره ومنله نو له همغه ځایه به بېرته ستانه شوه او خپلو-خپلو قومونو ته به یې د هغوی باطل اقوال ورحکایت کړه.

۴_ په خلکو کښې ځینې داسې جرگې (وفدونه) هم وه چې د هغوی اباطیلو ته به یې اعتناء نه کوله او ویل به یې چې عجیبه خبره ده، مونږ خپل قوم په اعتماد سره رالېږلي یاستو او دومره اوږد مزل مو په څو ورځو او شپو کښې پرې کړ چې مکې ته فقط یوه یا دوه ورځې لاره پاتې ده، اوس بېرته ستانه شو او د ذکر شوي شخص سره مستقیمًا ناسته ولاړه ونه کړو؟ نو ضرور ده چې هغه پخپله وگورو.

۵_ کله به چې دغه با عزته جرگه مکې معظمې ته لاړه او هلته به یې د نبي کریم ﷺ په هکله د مومنانو څخه پوښتنه وکړه چې: محمد څه وایي؟ هغوی به جواب ورکړ چې: د ده ﷺ هر څه د خیر دي، نه لیونی دی، نه جادوگر او نه بل شی دی بلکې د الله ﷻ د پلوه په حقه د پیغمبر په صفت رالېږلی شوی دی.

---

(۱) المحرر الوجیز ج۱۰ ص۱۷۴
(۲) الدر المنثور ج۵ ص۱۲۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو الله ﷻ د ذکرو شوو دواړو ډلو حالاتو ته اشاره وکړه او دغه ایتونه یې نازل کړه چې حاصل یې داسې راخېژي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! د توحید د دلایلو او د تبصرې څخه وروسته په خپل امت باندې د قرآن کریم په هکله د خلکو عکس العمل قرائت کړه، چې مشرکان (کفار) پخپله گمراهان دي او غواړي چې نور هم بې لارې کړي او مؤمنان لکه څنگه چې پخپله په دین باندې کلک دي نورو ته هم دعوت ورکوي چې د همدوی تگلاره تعقیب کړي، هغه دا چې:

١_ کله چې د متکبرانو او سرکشانو څخه پوښتنه وکړی شي چې کوم شی چې ستاسو رب ﷻ ستاسو په پیغمبر باندې نازل کړی دی، هغه څه شی دی؟ څه گټه پکښې شته؟ څه د خیر امید ورته کېدلی شي؟، نو دوی سمدستي پرته د څه درنگ څخه جواب ورکوي چې: زموږ رب ﷻ هیڅ شی نه دی نازل کړی او نه موږ کوم پیغمبر لرو، بلکې دلته په مکه کښې د یوه سړي دماغ خراب شوي دي او د خپلو پلرونو لاره یې پرېښې ده چې د قوم ټول مخور او د شرف خاوندان یې مخالف دي، محض څو وړې او بې حیثیته خلک وربانديې غولېدلي دي، کومه وینا چې نوموړی سړی کوي د پخوانیو د قیصو څخه په غیر کوم خیر او د ښېگڼې څه شی پکښې نشته، نو تاسو ته زموږ توصیه دا ده چې د همدې خایه بېرته ستانه شئ، او که مکې ته تشریف یوسئ نو لطفاً د هغه سړي سره ناسته ولاړه مه کوئ او هغه ته مه ورنژدې کېږئ چې تېر مو نباسي.

٢_ په ذکر شوي جواب سره متکبران غواړي چې د اسلام د ترقۍ مخنیوی وکړي او د وړاندې تللو مخه یې بنده کړي، مگر دوی به په دغه مطلب کښې هیڅکله کامیاب نه شي، د دوی دغه طرز العمل بله هیڅ گټه نه لري بې له دې چې:

الف: دوی د گناهونو او جنایاتو پیټي ښه درانه او کامل کړي چې د قیامت په ورځ یې د غټې جزا سره مخامخ شي.

ب: چې دوی برسېره په خپلو جنایاتو باندې د هغو کسانو د جنایاتو څخه هم ځینې جنایات په اوږو باندې واخلي کوم چې دوی بې لارې کړي دي او بدون د پوهې (په جهالت سره) یې د دوی په اوږو باندې لاسونه اینښي دي.

خبردار! هغه ډېر بد شی دی کوم چې دوی په خپلو اوږو باندې اخستی دی، چې د خپلو گناهونو سره سره یې د نورو خلکو په گناهونو باندې هم خپل بارونه درانه کړي دي.

٣_ ای پیغمبرانو! د متکبرانو تدبیرونه د الله ﷻ د ارادې مخه نه شي نیولی بلکې دوی ته به الله ﷻ د خپلو تدبیرونو او چلونو څخه بلاوې جوړې کړي، نو په هغې ځا کښې به پخپله ولوېږي کومه چې دوی یې د مسلمانانو دپاره کني، او په هغه دام (لومه) کښې به پخپله ونښلي کومه چې دوی د مسلمانانو دپاره اینښې ده.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدغسې چلونه د پخوانیو زمانو کفارو هم د اسلام د مخنیوي دپاره کړي وه مګر الله ﷻ د خاورو سره برابر کړه او هیڅ ګټه یې ورته ونه رسوله بلکې پخپله همدوی ته ترې مصیبتونه جوړ شوه، او داسې مثال یې درلود لکه چې دوی یوه دنګه او اوچته ابادي جوړه کړې وي او د هغې په تخریب باندې د الله ﷻ فرمان صادر شي او پخپله په همدوی باندې سرچپه ورولوېږي، چې چت یې لاندې شي او بنیادونه یې پرې د پاسه شي او بالآخره د همدوی دپاره ترې قبر جوړ شي، او د داسې طرف څخه په بلا باندې اخته شي چې د دوی ورته هیڅ خیال نه وي. یا په بل عبارت: کوم اور یې چې د نورو دپاره بل کړی وه په هغه کښې پخپله په لا شعوري توګه ورولوېده، او پکښې ستي شوه.

۴ـ دا د متکبرانو دنیاوي عذاب دی چې پرې به مبتلا شي، اما د قیامت په ورځ دوی ته اخروي عذاب هم متوجه دی چې:

الف: دوی به هلته د غټې رسوایۍ او شرمندګۍ سره مخامخ شي، الله ﷻ به دوی ته د تخجیل دپاره ووایي چې: ای مشرکانو! نن ورځ (ستاسو په خیال) زما هغه شریکان څه شوه چې تاسو به یې په ثبوت باندې په دنیا کښې جګړې کولې او د هغوی د ابطال یوه دلیل ته به مو هم غوږ نه نیوه؟

ب: نو د دې څخه وړاندې چې مشرکان ذکر شوي تخجیل ته څه بهانه وتراشي، د ایمان او علم خاوندان به وایي چې: یقیناً غټه رسوایي او لوی عذاب نن ورځ په کفارو باندې واقع شوی دی، چې د مادي عذاب څخه علاوه روحي عذاب یې هم ډېر دروند دی چې د حشر په میدان کښې شرمنده شوه، البته په هغو کفارو باندې کوم چې د مرګ د وخته پورې په کفر باندې کلک وه او پرښتو یې په داسې حال کښې ارواګانې قبض کړې چې په خپلو ځانونو باندې یې ظلم کړی وه او کفر یې اختیار کړی وه.

ج: مشرکان به په دغې ورځ کښې توحید ته غاړې کېږدي او یقین به یې راشي چې لار یې خطا کړې وه، مګر په خپل کفر او شرک باندې به په هیڅ ډول پرده نه شي اچولی او نه به بهانه نیولی شي بې له دې چې د کفري عقیدې څخه انکار وکړي چې مونږ په دنیا کښې شرک لا څه چې هیڅ بد او ناکاره عمل نه دی کړی.

د: نو د الله ﷻ د پلوه به د کفارو بهانه رده شي چې دغسې نه ده لکه چې تاسو مدعیان یاست، برسېره په دې چې الله ﷻ ستاسو په ټولو اعمالو باندې پوه او خبردار دی ستاسو اندامونه هم په تاسو باندې شهادت ورکوي، نو انکار درته هیڅ ګټه نه شي رسولی.

هـ: نو (ای مشرکانو!) څرنګه چې تاسو په هیڅ صورت سره په خپل کفر او شرک باندې پرده نه شئ اچولی او نه درته انکار کول څه ګټه رسولی شي نو د دوزخ په مختلفو طبقاتو کښې ورننوځئ او په داسې حال کښې ورداخل شئ چې هلته به همېشه یاست او هیځکله به ترې نجات مونده نه کړئ.

۵ـ ای پیغمبره! بې شکه چې د متکبرانو استوګنځای ډېر ناکاره او بد دی، چې د دوزخ څخه عبارت دی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مؤمنانو او متقیانو جواب

۶_ او کله چې د متقیانو (مؤمنانو) څخه پوښتنه وکړی شي او د کوم وطن وفد (جرګه) ورته سوال راجع کړي چې ستاسو رب ﷻ په خپل پیغمبر باندې څه شی نازل کړی دی؟ ایا څه ګټه پکښې شته او که څنګه؟ نو دوی د متکبرانو په عکس جواب ورکوي چې الحمد لله! زمونږ رب ﷻ په هغه پیغمبر باندې چې مونږ ته یې رااستولی دی قرآن کریم نازل کړی دی چې سراسري خیر او ګټې دي او د دنیا او آخرت د نېکمرغیو ضامن دی حتی خپل حقانیت د اعجاز په توګه پخپله اثباتوي.

۷_ ای پیغمبره! د متقیانو جواب حقیقت لري او دا څکه چې:

الف: د قرآن کریم د ښېګڼو څخه اولنۍ ښېګڼه دا ده چې د الله ﷻ د پلوه د هغو نېکوکارانو د پاره کوم چې په حقائقو باندې اعتراف کوي او پرده پرې نه اچوي، په دنیا کښې نېکي او خوشالي ورکوله کېږي او هم پرې د توفیق د ورکړې مهرباني کېږي.

ب: او همدارنګه دوی ته په اخروي کور کښې لا ډېرې دائمي خوشالۍ ساتلې شوي دي.

ج: او بې شکه چې د متقیانو اخروي کور ډېر ښه او بهتر دی، چې د جنتونو څخه عبارت دی او لاندې صفات لري:

اول: د دوی اخروي کور دائمي استوګنځای دی، چې د ورننوتلو څخه وروسته به ترې هیڅکله ونه ویستلی شي.

دوهم: په دغو جنتونو کښې څلور ډوله (د شودو، اوبو، شرابو، شاتو) ویالې بهېږي.

دریم: په دې باندې علاوه په جنتونو کښې به هغه ټول شیان جنتیانو ته تیار وي کوم چې د دوی زړونه یې وغواړي، او په خیال کښې یې ګرځي راګرځي.

۸_ ای پیغمبره! الله ﷻ متقیانو ته دغسې خوندوره جزا ورکوي کومه چې وړاندې بیانه شوه، البته متقیان د هغو کسانو څخه عبارت دي چې دوی د وروستنۍ سلګۍ پورې د شرک څخه خپل ځانونه ساتلي دي او پرښتو یې د شرکیاتو څخه د پاکیزګۍ په حال کښې ارواګانې قبض کړې وي.

۹_ بلکې د دوی خوشالي د ځنکدن د وخت څخه پیل کېږي، چې پرښتې به ورته د ارواګانو د قبض په وخت کښې اطمنان او ډاډ ورکوي چې بې غمه اوسئ تاسو ته هیڅ خطر نشته، د الله ﷻ د پلوه په تاسو باندې د هر غم او خفګان څخه سلامتي درنازله شوې ده، نو د نن څخه وروسته تاسو د هر ډول مصائبو څخه مامون یاست، حتی (ای متقیانو!) ستاسو مخې ته داسې وخت هم در روان دی په کوم کښې به چې تاسو ته وویلی شي چې د خپلو کړو وړو په برکت جنتونو ته ورننوځئ او په دائمي توګه پکښې استوګنه وکړئ.

## توضیحات

۱_ څرنګه چې په نصوصو کښې قاعده دا ده چې د واقعې خصوص ته نه کتلی کېږي بلکې د مفهوم عموم په نظر کښې نیولی کېږي، نو په همدې بنیاد مونږ وایو چې د قیامت د ورځې پورې په

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هره زمانه کښې د اسلام په هکله د مشرکانو ځواب همغه دی کوم چې د قرآن د نزول په وخت کښې هغوی ورکړی وه، او جزا یې هم همغه ده کومه چې هغوی ته ټاکلې شوې ده.

مونږ د خپلې زمانې په راډیوګانو کښې د اسلام په باره کښې د کفارو نظر اورو او په اخبارونو کښې یې لولو چې دوی اسلام ته د افراطي دین لقب ورکوي، حال دا چې اسلام د افراط او تفریط ترمنځ دی. دوی وایي چې اسلام د جاهلیت قوانین راژوندي کوي، چې د غلو لاسونه پرې کوي او قاتلان قصاصوي. حال دا چې اسلام د جاهلیت د قوانینو او د بې رحمیو لمن ټوله کړې ده او زره سوی ته یې خلک هڅولي دي.

۲ـ نبي کریم ﷺ د ذکر شوو ایتونو په تفسیر کښې فرمایلي دي چې: «مَنْ دَعَا إِلَى هُدًى كَانَ لَهُ مِنَ الْأَجْرِ مِثْلُ أُجُورِ مَنْ اتَّبَعَهُ لَا يَنْقُصُ ذَلِكَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْئًا وَمَنْ دَعَا إِلَى ضَلَالَةٍ فَعَلَيْهِ مِنَ الْإِثْمِ مِثْلُ آثَامِ مَنْ اتَّبَعَهُ لَا يَنْقُصُ ذَلِكَ مِنْ آثَامِهِمْ شَيْئًا»(۱) یعنې هرڅوک چې هدایت ته دعوت وکړي نو ده ته د هغو ټولو کسانو د اجرونو په مثل اجرونه ورکولی کېږي کومو چې د ده پیروي کړې وي او د ده دعوت یې قبول کړی وي، خو د دې سره سره دغه کار (د اجرونو د مثل ورکړه) د هغوی د اجرونو څخه هیڅ شی نه کموي بلکې هغوی ته خپل اجرونه پوره ورکولی کېږي. او هرڅوک چې ګمراهۍ ته دعوت وکړي نو په ده باندې د ګناه څخه د هغو کسانو د ګناهونو مثل هم وربارېږي کومو چې د ده پیروي کړې وي او د ده دعوت یې قبول کړی وي، خو د دې سره سره دغه کار د هغوی د ګناهونو څخه هیڅ شی نه کموي، ځکه چې د هغوی ګناه د ګمراه کېدلو ده او دا د ګمراه کولو ګناه ده.

## دا تمثیل دی که د واقع بیان؟

۳ـ ځینو مفسرینو کرامو دا ایت شریف: ﴿قَدْ مَكَرَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَأَتَى ٱللَّهُ بُنْيَـٰنَهُم مِّنَ ٱلْقَوَاعِدِ فَخَرَّ عَلَيْهِمُ ٱلسَّقْفُ مِن فَوْقِهِمْ﴾ د واقع بیان ګڼلی دی، چې دا د نمرود هغې قیصې ته اشاره ده کومه چې په ډېره اغراق آمېزه توګه روایت شوې ده(۲) که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي. مګر مونږ ته ذکر شوی ایت یو تمثیل برېښي، چې د اسلام د مخنیوي دپاره د کفارو تدبیرونه د هغې مانۍ سره تشبیه شوي دي کومه چې ځینې خلک د خپلو ځانونو د هوساینې دپاره جوړه کړي مګر هغه یې په ضرر باندې تمامه شي، چې پخپله په همدوی باندې ورسرچپه شي او ټول پکښې پوپنا او هلاک شي.

زمونږ په تفسیر باندې د دې جملې تعقیب هم دلالت کوي چې: ﴿وَأَتَىٰهُمُ ٱلْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُونَ﴾ یعنې کفارو ته به د خپلو تدبیرونو څخه داسې آفت جوړ شي چې په لاشعوري توګه به یې پخپله د خانو دپاره تیار کړی وي.

(۱) سنن ابن ماجه ص۱۹؛ صحیح مسلم ج۲ ص۳۴۱
(۲) تفسیر الطبري ج۱۴ ص۹۷؛ زاد المسیر ج۴ ص۳۲۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۴_ که څوک وايي چې د ذکر شوي غوره کړی شوي تفسیر په بنیاد پوښتنه دا ده چې: قریشو ته د خپل تدبیر څخه څنګه بلاء جوړه شوه چې په لویو لارو کښې به یې په کار اچاوه، لکه چې پوره تفصیل یې په شان نزول کښې ذکر دی؟

مونږ وایو چې: د مشرکانو ذکر شوی تدبیر د همدوی په ضرر تمام شو او معکوسه نتیجه یې ورکړه، ځکه کله به چې په لاره کښې ناستو کسانو هغو نوو راتلونکو کسانو ته توصیه وکړه کوم به چې د مکې معظمې محیط ته ورننوتل، چې نبي کریم ﷺ لیونی دی پام کوئ چې ملاقات ورسره ونه کړئ، نو د هغوی سره به تشویش پیدا شو چې د دغه لیوني کتل خو یو ځل ضرور دي، مګر کله به یې چې د نبي کریم سره وکتل نو دستي به په ایمان باندې مشرف شوه او خپلو قومونو ته به یې د اسلام رڼا ورانتقال کړه. د ښه دضاحت دپاره لاندې حدیث او خوندوره قیصه ولولئ:

### یوه خوندوره قیصه

۵_ د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په روایت یوه ورځې مکې معظمې ته یو اطرافي سړی راغی چې "ضماد" نومېده او د "ازد" د قبیلې څخه وه[1]، هلته یې د مکې معظمې د بې عقلانو (کفارو) څخه واورېده چې محمد (نبي کریم ﷺ) لیونی شوی دی او پیریان ورباندې ورځي، امکان لري چې همدغه پروپاګند به یې د هغو کسانو څخه هم اورېدلی وي کوم چې د مکې معظمې په حدودو کښې د هغه غرض دپاره ناست وه کوم ته چې په شان نزول کښې اشاره شوې ده.

نوموړي (ضماد) د خپله ځانه سره قصد وکړ چې باید نبي کریم ﷺ د نژدې څخه وګوري او په کوم مرض باندې چې اخته دی د هغه علاج او دم دوا وکړي.

بله ورځ د نبي کریم ﷺ سره ملاقي شو چې په لاندې ډول شرحه کېږي:

الف: ضماد وویل: ای محمده! زه د دغو مرضونو دم دوا کوم په کوم باندې چې ته اخته یې او الله ﷻ یې زما په دم باندې جوړوي، نو خوښه دې نه ده چې زه دې دم کړم ترڅو د دغه مرض څخه روغ شې په کوم باندې چې اخته یې؟.

ب: نبي کریم ﷺ د دې څخه وړاندې چې ذکر شوي سوال ته جواب ورکړي په یوه لنډه خطبه باندې شروع وکړه چې: «إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ أَمَّا بَعْدُ».

ج: ضماد نبي کریم ﷺ اصلي جواب ته پرېښبود او غوښتنه یې ترې وکړه چې ذکره شوې خطبه ورباندې بیا قرائت کړي.

د: نو نبي کریم ﷺ ورته دغه خطبه درې خله تکراره کړه.

---

(١) صحیح مسلم ج١ ص٢٨٥؛ مسند احمد بن حنبل ج١ ص٦٤٧

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هـ: ضماد وویلې چې یقیناً ما خو د کاهنانو خبرې اورېدلې دي، د جادوګرانو خبرو ته مې غوږ اېښی دی او بالآخره د شاعرانو د خبرو څخه هم ناخبره نه یم. ما خو ستا د ذکرې شوې لنډې خطبې غوندې خبرې هیڅکله نه دي اورېدلې، بې شکه ستا کلمات خو په بلاغت او فصاحت کښې د دریاب بیخ ته رسېدلې دي (نو یقیناً چې هغه القاب ټول دروغ دي کوم چې په تا باندې د مکیانو د پلوه اېښودلی کېږي. او ته په حقه پیغمبر یې) نو «هَاتِ يَدَكَ أُبَايِعْكَ عَلَى الْإِسْلَامِ» لاس دې راکړه چې په اسلام باندې درسره بیعت وکړم او په ایمان مشرف شم.

و: نبي کریم ﷺ ورته وویل چې ستا دغه بیعت به ستا په قوم باندې هم حجت وي؟

ز: ضماد وویل: هو، دا بیعت زه د خپل خان د پلوه اصالةً کوم او د خپل قوم د پلوه یې کفالةً کوم. لنډه دا چې ذکر شوی ضماد په ایمان باندې مشرف شو او د "رضي الله عنه" د لقب لایق شو، او بالآخره د مکې مشرکان په هغې لومه کښې پخپله ونښتل کومه یې چې د اسلام د مخنیوي دپاره اېښې وه، والحمد لله ﷻ علی ذلک.

## يادونه

۶ـ مونږ ـ لله الحمد والشکر ـ د [البقرة: ۲۱۰] ایت لاندې پوره تحقیق کړی دی چې د اتیان نسبت الله ﷻ ته په کومه معنی دی، نو په ﴿ فَأَتَى اللَّهُ بُنْيَانَهُم ﴾ کښې دوهم ځل تحقیق نه شو کولی چې دلته هم الله ﷻ ته د اتیان نسبت شوی دی.

## د مشرکانو شرمول

۷ـ دا جمله ﴿ ثُمَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يُخْزِيهِمْ ﴾ د کفارو او مشرکانو په رسوا کولو باندې دلالت کوي، د رسواکولو یو صورت پخپله په ایت شریف کښې ذکر دی چې الله ﷻ به یې د تخجیل او رسواکولو دپاره ویوښتي چې ستاسو په خیال زما شریکان اوس څه شوه چې تاسو به یې په اثبات باندې زور اچاوه او جګړې به مو وربانذې کولې؟

بل صورت یې نبي کریم ﷺ فرمایلی دی چې «أَلَا إِنَّ لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَاءً يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِقَدْرِ غَدْرَتِهِ يُنْصَبُ عِنْدَ اِسْتِهِ»[1] یعنې خبردار! د هر ټګ دپاره د قیامت په ورځ د هغه د ټګۍ په اندازه بیرغ دی چې د کناټي سره به یې نصب کړی شي (او د محشر ټول خلک به یې ګوري چې دا هغه ټګ دی چې داسې او داسې ټګي یې کوله. لکه د اسلام څخه د خلکو اړول او نور).

## دوه نحوي تحلیلونه

۸ـ په ﴿ قَالُوا خَيْرًا ﴾ کښې د ﴿ خَيْرًا ﴾ کلمه د مقدر "أنزل" دپاره مفعول واقع شوې ده چې تقدیر یې داسې کېږي: "قَالُوا أَنْزَلَ رَبُّنَا خَيْرًا" یعنې متقیان په جواب کښې وایي چې زمونږ رب ﷻ په خپل پیغمبر ﷺ باندې خیر نازل کړی دی چې سراسري ګټه او فائده ده.

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج ۴ ص ۱۲۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اما په ﴿ قَالُوٓاْ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴾ كښې د ﴿ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴾ كلمه د مقدري مبتدا دپاره خبر دى چې تقدير يې داسې راځي: "قالوا ما يدعونه منزلاً أساطير الأولين وليس بمنزل" يعني د كفارو جواب دا دى چې: كوم شى چې مؤمنان يې د الله ﷻ د پلوه نازل كړى شوى ګڼي، هغه د پخوانيو قيصې دي او زمونږ د رب ﷻ د پلوه نه دي نازل كړى شوى، بلكې دوى ورباندې په دروغو د منزل نوم اېښى دى.

﴿ هَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن تَأۡتِيَهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ أَوۡ يَأۡتِيَ أَمۡرُ رَبِّكَۚ كَذَٰلِكَ فَعَلَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ وَمَا ظَلَمَهُمُ ٱللَّهُ وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ﴿٣٣﴾ فَأَصَابَهُمۡ سَيِّـَٔاتُ مَا عَمِلُواْ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ﴿٣٤﴾ ﴾

[٣٣] ايا دوى (مشركان) انتظار وباسي (بلكې انتظار نه وباسي) مګر دې ته چې (د ارواګانو د قبض دپاره) پرښتې ورشي (او ځنكدن يې پيل شي) او يا دې ته چې ستا د رب ﷻ امر (د عذاب فرمان) ورشي (خو په دغو وختونو كښې د دوى ايمان مقبول نه دى).

(اى پيغمبره!) همدغه ډول كار (كفر او شرك) هغو كفارو هم كړى وه كوم چې د دوى څخه وړاندې وه (نو ستا رب ﷻ به د دوى سره هغه څه وكړي چې د هغوى سره يې كړي وه). او په هغوى باندې الله ﷻ (د عذاب په نزول سره) ظلم نه وه كړى مګر هغوى په خپلو ځانونو باندې پخپله ظلم كړى وه (همدارنګه دوى به هم د عذاب د نزول په وخت كښې په خپلو ځانونو باندې پخپله ظلم وكړي).

[٣٤] نو هغوى ته د خپلو عملونو بدي (سزا) ور ورسېده او (د) هغه شي (جزا) ترې راچاپېره شوه په كوم باندې چې هغوى وه چې مسخرې به يې ورباندې كولې (نو دوى به هم د همدغه برخليک سره مخامخ شي).

## ارتباط

د سورت د اول سر څخه تردې ځايه پورې مشركانو ته په بېلو-بېلو اساليبو سره قطعي دلايل قرائت كړى شوه، د پخوانيو مشركانو (كفارو) د حالاتو څخه خبر كړى شوه او هم د آخرت مشكلات ورته ټكي په ټكي ښه پوره بيان كړى شوه، خو د دې ټولو سره- سره ځينې عنادي كفار په خپل كفر باندې كلک پاتې شوه، نو په دغو ايتونو كښې د همدغو عناديانو كفارو عاقبت ته اشاره شوې ده چې حاصل يې داسې راځي:

## د مطلب خلاصه

١ـ اى پيغمبره! څرنګه چې د ذكرو شوو دلايلو د لوستلو سره-سره ځينې عنادي كفار ايمان نه راوړي او برسېره په نه منلو په دلايلو پورې ملنډې او مسخرې هم كوي، نو د دوى په حالت باندې ډېر مه غمژن كېږه، تا خو خپله فريضه اداء كړه او ښه كافي دلايل دې ورباندې قرائت كړه نو چې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اوس هم ایمان نه راوړي دوی څه شي ته منتظر دي؟ ایا ذکر شوي عنادي کفار دې ته منتظر دي چې پرښتې د ارواګانو د قبض دپاره ورشي او ورته ووايي چې: راکړئ خپلې ارواګانې او آخرت ته ور وځغلئ؟ او یا دوی دې ته منتظر دي چې ستا د رب ﷻ د عذاب د نزول فرمان ورشي؟ او بالآخره یا دې ته منتظر دي چې قیامت قائم شي؟

په ذکرو شوو ټولو صورتونو کښې به دوی ایمان راوړي او دلایل به هم ونه غواړي بلکې هغه څه چې نن ورته بالغیب دي هغه به ورته بالمشاهده وګرځي، خو په دغو وختونو کښې د الله ﷻ په نزد ایمان راوړل چاته ګټه نه شي رسولی او د قبول درجې ته نه پورته کېږي.

۲ـ ای پیغمبره! ستا د زمانې د کفارو تګلاره پخوانیو کفارو هم نیولې وه بلکې دوی د هغوی په خط السیر باندې روان دي او د هغوی حلالي شاګردان دي، نو لکه څنګه چې الله ﷻ په هغوی باندې پوپناکوونکی عذابونه ورنازل کړي وه همدارنګه به په دوی باندې هم عذاب ورنازل کړي.

لکه څنګه چې هغوی په خپلو خانونو باندې ظلم (تېری) کړی وه او الله ﷻ ورباندې څه تېری نه وه کړی، ستا د زمانې په کفارو باندې هم الله ﷻ څه تېری نه کوي بلکې دوی خپلو خانونو ته پخپله قبرونه کني او د شرکیاتو او کفریاتو څخه لاس نه اخلي.

۳ـ نو لکه څنګه چې هغوی ته د خپل عمل سزا ورسېده او د مسخرو او استهزاګانو جزا ترې راچاپېره شوه همدارنګه به د دوی څخه هم راچاپېره شي او د نجات لاره به ونه مومي.

﴿ وَقَالَ ٱلَّذِينَ أَشۡرَكُواْ لَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ مَا عَبَدۡنَا مِن دُونِهِۦ مِن شَيۡءٖ نَّحۡنُ وَلَآ ءَابَآؤُنَا
وَلَا حَرَّمۡنَا مِن دُونِهِۦ مِن شَيۡءٖۚ كَذَٰلِكَ فَعَلَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ فَهَلۡ عَلَى ٱلرُّسُلِ إِلَّا
ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ ﴿٣٥﴾ وَلَقَدۡ بَعَثۡنَا فِي كُلِّ أُمَّةٖ رَّسُولًا أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱجۡتَنِبُواْ
ٱلطَّٰغُوتَۖ فَمِنۡهُم مَّنۡ هَدَى ٱللَّهُ وَمِنۡهُم مَّنۡ حَقَّتۡ عَلَيۡهِ ٱلضَّلَٰلَةُۚ فَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ
فَٱنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُكَذِّبِينَ ﴿٣٦﴾ إِن تَحۡرِصۡ عَلَىٰ هُدَىٰهُمۡ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا
يَهۡدِي مَن يُضِلُّۖ وَمَا لَهُم مِّن نَّٰصِرِينَ ﴿٣٧﴾ وَأَقۡسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهۡدَ أَيۡمَٰنِهِمۡ لَا يَبۡعَثُ
ٱللَّهُ مَن يَمُوتُۚ بَلَىٰ وَعۡدًا عَلَيۡهِ حَقّٗا وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٣٨﴾ لِيُبَيِّنَ لَهُمُ
ٱلَّذِي يَخۡتَلِفُونَ فِيهِ وَلِيَعۡلَمَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّهُمۡ كَانُواْ كَٰذِبِينَ ﴿٣٩﴾ إِنَّمَا قَوۡلُنَا لِشَيۡءٍ
إِذَآ أَرَدۡنَٰهُ أَن نَّقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴿٤٠﴾ ﴾

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۳۵] او هغه کسان چې شریکان یې درولي دي وایي چې: که د الله ﷻ اراده شوې وی نو مونږ به د ده ﷻ څخه په غیر د هیڅ شي عبادت نه وی کړی، نه مونږ او نه زمونږ پلرونو؛ او (همدارنګه) مونږ به د ده ﷻ (د فرمان) څخه په غیر نه څه شی حرام کړی وی (لکه بحیره، سائبه او نور).
(ای پیغمبره!) دغه ډول (کفر او شرک) هغو کسانو هم کړی وه کوم چې د دوی څخه وړاندې تېر شوي دي.
نو ایا په پیغمبرانو باندې (څه شی شته؟ هیڅ شی ورباندې نشته) مګر (د الله ﷻ د احکامو ښکاره رسونه (ورباندې لازمه ده، که د دوی خبرې حقیقت درلودی نو پیغمبران علیهم السلام به نه وی مبعوث شوي).
[۳۶] او بې شکه مونږ په هره (پخوانۍ) ډله کښې پیغمبر استولی وه چې: (ای ډلې) د الله ﷻ عبادت وکړئ (او بس) او د بوتانو (طاغوتانو) څخه اجتناب وکړئ. نو د دوی څخه ځینې هغه (خلک) دي کومو ته چې الله ﷻ هدایت کړی دی (اومطلب ته یې رسولي دي) او ځینې هغه (خلک) دي په کومو باندې چې ګمراهي ثابته شوې ده. نو تاسو په ځمکه وګرځئ نو وګورئ چې (پیغمبرانو علیهم السلام ته) د دروغو د نسبت کوونکو انجام څنګه شو (چې ټول مو پوپنا کړه).
[۳۷] (ای پیغمبره) که ته د کفارو په هدایت باندې حرص وکړې (هم الله ﷻ ورته هدایت نه کوي ځکه چې) یقیناً الله ﷻ هغه چاته هدایت نه کوي کوم چې (پخپله باندې ګمراه وي او هم نور خلک ګمراه کوي)، او د دوی دپاره هیڅ کومکیان هم نشته (چې د الله ﷻ د عذاب څخه نجات ورکړي).
[۳۸] او مشرکان (کفار) په الله ﷻ باندې سوګندونه خوري خپل کلک سوګندونه، چې الله ﷻ به هغه څوک (بېرته) راپورته (ژوندي) نه کړي کوم چې مړه شي.
(ای پیغمبره!) دغسې نه ده (بلکې الله ﷻ به یې هرومرو راژوندي کړي. الله ﷻ وعده کړې ده) داسې وعده چې په همده ﷻ باندې (تفضلاً) حقه (ثابته) ده، مګر اکثر خلک نه پوهېږي (چې بیا راژوندي کولو ته ضرورت دی).
[۳۹] (دا) د دې دپاره چې الله ﷻ خلکو ته هغه شی واضحه کړی په کوم کښې چې دوی اختلاف کوي (او نه یې مني)، او (هم) د دې دپاره چې هغه کسان پوه شي کومو چې کفر غوره کړی دی (په دې خبره باندې چې) یقیناً دوی (په دنیا کښې) دروغژنان وه (چې مړي نه ژوندي کېږي).
[۴۰] یقیناً یو شي ته چې مونږ یې (د پیداکولو) اراده وکړو زمونږ فرمان (فقط همدا) دی چې هغه ته ووایو چې شه (موجود شه) نو هغه (دستي) شي (موجود شي).

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې د ځینو عنادي کفارو ذکر وه چې په هیڅ ډول دلایلو باندې قناعت نه کوي. په دې ایتونو کښې د همدغو کفارو هغه بهانې او پلمې جوابې شوې دي د کومو په اعتماد چې هغوی په خپل کفري عناد باندې کلک ولاړ وه او په اصطلاح خپلو وجدانونو ته یې پرې قناعت ورکاوه.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! اوس په خپل امت باندې د عنادي کفارو د هغو شبهاتو څخه لاندې شبهات جواب کړه په کومو باندې چې هغوی د یو پلوه خپل خانونه غولوي او د بله پلوه پرې خپلو وجدانونو ته قناعت ورکوي او د پلمو (بهانو) په شان ترې کار اخلي. هغه دا چې

## لومړۍ شبهه او لومړۍ پلمه

۱ ـ ای پیغمبره! مشرکان او کفار د خپلو کفریاتو د حقانیت دپاره داسې وایي چې:

الف: که الله ﷻ غوښتي وی چې مونږ دې د هغه ﷻ څخه په غیر د بل شي عبادت ونه کړو نو نه به مونږ د بوتانو عبادت کړی وی او حتی نه به زمونږ پلرونو بوتان معبود ګرځولي وی. الله ﷻ خو کمزور نه دی، ایا هغه ﷻ زمونږ پلرونه نه شوه منعه کولی چې بوت پرستی باندې یې پرې مثلاً فالج مرض ورنازل کړی وی؟ همدارنګه ایا مونږ د همدغه پلرني میراثي کار څخه په تکویني دول سره نه شي منعه کولی؟

ب: که د الله ﷻ ارادې شوې وی چې مونږ هغو کارونو ته پرهېزدي کوم چې تاته ممنوع برېښي او د حرامو لقب ورکوي نو مونږ به هغه یو هم نه وی کړی، لکه د بوتانو په نامه باندې د څارویو خوشې کول، چې نه به پرې څوک سورېږي او نه به یې څوک شوده او غوښې خوري.

لنډه دا چې نه بوت پرستي د الله ﷻ په نزد ممنوعه ده او نه تحلیل او تحریم الله ﷻ پورې اختصاص لري، بلکې زمونږ په دغو کارونو باندې الله ﷻ راضي دی.

## د ذکرې شوې اشتباه جواب

۲ ـ نو ای پیغمبره! د مشرکانو ذکره شوې اشتباه په لاندې ډول باندې جوابه کړه چې:

الف: ای مشرکانو! الله ﷻ خو پخواني کفار په بل شي نه دي هلاک کړي بې د دې چې ستاسو غوندې کفریات (بوت پرستي) یې کول او د الله ﷻ په وحدانیت باندې قائل نه وه، او هم یې د پیغمبرانو په خبره باور نه کاوه چې تحلیل او تحریم د الله ﷻ خاصه ده بلکې د څارویو د تحلیل او د تحریم اختیار یې خپلو مشرانو ته ورکړی وه.

نو که بالفرض د هغوی په کفریاتو باندې الله ﷻ راضي وی نو هغوی به یې نه وی هلاک کړي او خپل غضب به یې ورباندې نه وی ورنازل کړی.

ب: دا د یو پلوه، او د بله پلوه که الله ﷻ په کفریاتو باندې راضي وی نو هیڅ پیغمبر به یې نه وی وراستولی چې خلکو ته د الله ﷻ احکام ورسوي او د کفریاتو څخه یې منعه کړي، ایا په پیغمبرانو باندې د الله ﷻ د احکامو د رسولو څخه په غیر بل شی شته؟

ج: له دې کبله چې مونږ په کفریاتو باندې راضي نه یاستو، په پخوانیو هر یوه ټولګي کښې مونږ پیغمبر مبعوث کړی دی چې هغوی ته په پوره وضاحت سره عموماً زمونږ اوامر او نواهي شرحه کړي

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او خصوصاً هغوی ته ورسوي چې یوازې د الله ﷻ عبادت وکړئ او د بوت پرستۍ څخه خپل خانونه بچ وساتئ؛

د: رښتیا ده چې زموږ قدرت کامل دی، موږ کولی شو چې د کفریاتو مخه ونیسو او کفار پرېږدو چې کفري کارونه وکړي، مگر موږ د خپل دغه ډول قدرت څخه کار نه اخلو ترڅو د امتحان او ازمېښت لمن ټوله نه شي. یا په بل عبارت: زموږ اراده بېله ده او رضاء مو بېله ده، په کفریاتو او جنایاتو کښې زموږ اراده شته مگر وربانديې راضي نه یاستو، اما په نېکیو کښې مو هم اراده شته او هم وربانديې راضي یاستو.

دا د کفارو غټه اشتباه ده چې زموږ د ارادې او زموږ د رضاء فرق نه شي کولی او یا یې پرې خپل ځانونه راندہ کانه جوړ کړي دي، دنیا د امتحان په حکمت باندې پیدا کړی شوې ده نو د همدغه حکمت په بنیاد موږ هر ټولگي ته پیغمبر وراستولی دی او خلکو ته مو اختیار ورکړی دی، چې ستاسو خوښه زما پیغمبر قبلوئ او که انکار ترې کوئ، تاسو چې هر یو صورت اختیار کړ نو د قیامت په ورځ به ستاسو سره د همغه اختیار کړی شوي صورت په مقتضی معامله وکړو.

د همدغه امتحان په اساس خلک په لاندې دوه ډلو باندې ویشلې شوي دي او ویشلې کېږي:

اول: ځینو ته الله ﷻ هدایت وکړ او د سمې صحیحې عقیدې توفیق یې ورکړ.

دوهم: او ځینې په خپل ضلالت کښې ښه ورکلک شوه او د پیغمبرانو د دعوت څخه یې انکار وکړ او د تکذیب مرتکب شوه.

موږ د هرې ډلې سره د هغوی د حال سره موافق (په دنیا کښې هم) چال چلند وکړ، چې ایمان درلودونکو ته مو نجات ورکړ او تکذیب (انکار) کوونکي مو پوپنا کړه.

نو ای مشرکانو! تاسو خو د پخوانیو مشرکانو او د تکذیب (انکار) کوونکو عاقبت وگورئ، تاسو خو د عادیانو او ثمودیانو په کنډوالو باندې وگرځئ راوگرځئ، ترڅو تاسو ته پوره څرگنده شي چې په کفریاتو باندې موږ راضي نه یاستو.

۳_ ای پیغمبره! که ته د خپل قوم په هدایت باندې هرڅومره حرص او هلې ځلې وکړې چې هغوی لاره مونده کړي او د گمراهۍ څخه بچ شي، نو هیڅکله به ستا حرص هغوی ته گټه ونه رسوي او د هدایت خاوندان به نه شي. او دا ځکه چې:

الف: الله ﷻ هغه چاته هدایت نه کوي (او توفیق نه ورکوي) کوم چې د هدایت پلټنه نه کوي او په موندلو پسې یې تاند نه وهي، بلکې په عوض د دې چې خپل ځان د گمراهۍ څخه خلاص کړي نور خلک گمراه کوي او په ډول ډول پلمو او چلونو سره یې د هدایت مخه نیسي.

ب: دغه ډول خلک لکه څنگه چې ستا په حرص باندې هدایت نه شي موندلی همدارنگه دوی به د خپلو ځانونو دپاره په هیڅ ډول سره کومکیان هم مونده نه کړي چې زموږ د عذابه یې په دنیا یا آخرت کښې بچ کړي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## دوهمه شبهه او پلمه

۴_ ای پیغمبره! د کفارو دوهمه پلمه دا ده چې دوی د قیامت د ورځې څخه انکار کوي او په کلک سوګند سره وايي چې: الله ﷻ به هغه څوک بېرته را ژوندي نه کړي کوم چې مړه شوي دي.

دوی وايي: هرکله چې د قیامت ورځ نشته او د حساب کتاب سره نه یاستو مخ کېدونکي نو مونږ ته په کار دي چې د خپلو خواهشاتو په مقابل کښې د هیڅا خبره ونه منو او خپلو شرکیاتو او کفریاتو ته په پوره قوت سره ادامه ورکړو.

## د دوهمې اشتباه جواب

۵_ د کفارو سره د سوګند څخه په غیر بل هیڅ دلیل نشته ترڅو په اثبات ورسولی شي چې رښتیا د قیامت قیام نه کېدونکی شی دی، دوی په دې هکله نه عقلي دلیل په لاس کښې لري او نه ورسره نقلي دلیل شته چې کوم پیغمبر دا خبره کړې وي.

نو ای پیغمبره! دکفارو د خبرې (اشتباه) د رد دپاره لاندې د لایل قرائت کړه:

الف: ستاسو خبره څکه غلطه ده چې د الله ﷻ د پلوه په "بلی" سره رده شوې ده، چې دغسې نه ده لکه چې تاسو خیال کوئ، بلکې الله ﷻ مړي راژوندي کوي.

ب: حتی چې الله ﷻ په خپل اقدس ذات باندې لازمه کړې ده چې مړي به بېرته راژوندي کوي او قیامت به قائموي، دا د الله ﷻ وعده ده او د الله ﷻ په وعده کښې هیڅکله تخلف نه واقع کېږي.

ای پیغمبره! کفارو عجیبه تګلاره غوره کړې ده، چې الله ﷻ په خپل معجز کلام کښې وایي چې زه مړي را ژوندي کوم مګر کفار وايي چې الله ﷻ مړي نه ژوندي کوي، دا تګلاره ډېره عجیبه ده مګر اکثره خلک نه پوهېږي او پخپله خبره کلک دي.

ج: برسېره په ذکرو شوو نقلي دلایلو باندې عقلاً هم د قیامت د ورځې قیام ضرور دی، باید چې هر هوښیار ... ی ورباندې اعتراف وکړي او د مړي ژوندي کېدل حتمي وګڼي ترڅو:

اول: چې الله ﷻ ټولو خلکو ته د هغه شي حقانیت څرګند کړي چې دوی پکښې اختلاف کوي او د پیغمبرانو علیهم السلام سره پکښې مناقشې او جګړې کوي، او غاړې ورته نه ږدي.

دوهم: چې د هرچا حساب تصفیه شي، نېکانو ته نېکه جزا ورکړی شي او بدان د خپلو بدیو په سزا باندې ورسولی شي، او هم د دنیاوي امتحان نتائج په ډاګه کړی شي.

دریم: چې کفار په خطا باندې اعتراف وکړي او پخپله ووایي چې: یقیناً مونږ دروغژنان وو چې د قیامت د قیام او د مړو د بیا را ژوندي کېدلو څخه مو انکار کاوه.

لنډه دا چې بالفرض که مړي بیا را ژوندي نه کړی شي او د امتحان نتائج څرګند نه کړی شي نو د اسمانونو او ځمکو پیدا ایښت به د عبثیاتو څخه په غیر بل شی نه وي.

۶_ دا وه د قیام ضرورت چې عقلاً او نقلاً په اثبات ورسېد، اما اوس خلک په دې باندې پوه کړه چې مونږ د مړو د را ژوندي کولو وعده کړې ده او دا کار مونږ ته ډېر اسان دی، مونږ

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې د یوه شي د پیداکولو اراده وکړو نو فقط همدومره ووایو چې: شه!، نو هغه دستي موجودېږي او په هیڅ ډول ځنډ پکښې نه واقع کېږي. نو کله چې مونږ امر وکړو چې: ای مړو راژوندي شئ، نو سمدستي به دوی ټول د قبرونو څخه راپورته شي او د محاسبې په میدان کښې به ودرېږي، که بالفرض مونږ وعده کړې وی او قدرت مو کمزوري وی نو بیا به هم کفار حق په جانب وی، خو خبره دغسې نه ده.

## توضیحات

١_ د ذکرو شوو ایتونو په ارتباط _لله ﷻ الحمد_ د [الأنعام:١٤٨] ایت لاندې ښه تحقیق تېر شوی دی چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو، یوازې لاندې یو حدیث وړاندې وراضافه کوو چې:

یوه ورځې نبي کریم ﷺ معاذ ﷺ مخاطب کړ چې: «يَا مُعَاذُ! أَتَدْرِي مَا حَقُّ اللهِ عَلَى الْعِبَادِ؟» یعنې ای معاذه! ایا ته پوهېږې چې د الله ﷻ په بندګانو څه حق دی؟، هغه عرض وکړ چې: «اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ» یعنې الله ﷻ او د ده پیغمبر ډېر ښه پوهېږي. نو نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «أَنْ يَعْبُدُوهُ وَلَا يُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا. أَتَدْرِي مَا حَقُّهُمْ عَلَيْهِ؟» یعنې د الله ﷻ حق په خپلو بندګانو باندې دا دی چې یوازې د همده عبادت وکړي او هیڅ شی ورسره شریک ونه دروي. بیا یې ترې پوښتنه وکړه چې: ایا ته پوهېږې چې د هغوی په الله ﷻ باندې څه حق دی (چې په خپل اقدس ذات باندې یې منلی دی)؟، ده هماغه عرض تکرار کړ چې: «اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ» الله ﷻ او د ده پیغمبر ﷺ ډېر ښه پوهېږي. نو نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «أَنْ لَا يُعَذِّبَهُمْ»[١] یعنې (د ذکر شوي حق د پوره کېدلو په صورت ګڼې) په الله ﷻ باندې د بندګانو حق دا دی چې دوی نه معذب کوي (او په دوزخ کښې به یې نه اچوي).

٢_ که څه هم ځینو علماوو کرامو لیکلي دي چې: یوه ورځې یوه مسلمان سړي د مشرک سړي څخه د خپل دین غوښتنه وکړه او په خپلو خبرو کښې یې دا هم وویلې چې: زما دې په هغه اقدس ذات باندې سوګند وي چې زه ورته د مرګ څخه وروسته امید کوم چې دا خبره همدغسې ده. نو مشرک ورته وویلې چې: ایا ته یقین کوې چې د مرګ څخه وروسته به ته بېرته راپورته (ژوندی) کړی شې؟ زما دې سوګند وي چې: "لَا يَبْعَثُ اللهُ مَنْ يَمُوتُ" الله ﷻ به هغه څوک راپورته نه کړي کوم چې مړ شي. نو الله ﷻ پورتنی ایت شریف نازل کړ[٢] چې: ﴿وَأَقْسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهْدَ أَيْمَٰنِهِمْ لَا يَبْعَثُ ٱللَّهُ مَن يَمُوتُ﴾ او دوی (مشرکان) په الله ﷻ باندې په خپلو کلکو سوګندونو سره قسمونه کوي چې الله ﷻ به هغه څوک مبعوث نه کړي کوم چې مړه شوي دي (او خاورې شوې دي).

مګر څرنګه چې د قیامت څخه د ټولو منکرانو خبره او عقیده یوه وه او یوه ده نو ځکه الله ﷻ ذکر شوی سوګند ټولو کافرانو ته انتساب کړ او د ﴿وَأَقْسَمُواْ﴾ د جمعې کلمه یې نازله کړه.

---

(١) صحيح البخاري ج٢ ص١٠٩٧

(٢) تفسير الطبري ج١٤ ص١٠٥ ؛ اسباب النزول للواحدي ص١٨٨

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿وَٱلَّذِينَ هَاجَرُوا۟ فِى ٱللَّهِ مِنۢ بَعْدِ مَا ظُلِمُوا۟ لَنُبَوِّئَنَّهُمْ فِى ٱلدُّنْيَا حَسَنَةً ۖ وَلَأَجْرُ ٱلْءَاخِرَةِ أَكْبَرُ ۚ لَوْ كَانُوا۟ يَعْلَمُونَ ﴿٤١﴾ ٱلَّذِينَ صَبَرُوا۟ وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٤٢﴾﴾

[۴۱] او هغه کسان کومو چې د هغه څخه وروسته د الله ﷻ (رضاء) د کبله هجرت کړی دی چې په دوی باندې ظلم (او تېری) وکړی شو، ضرور او هرومرو به دوی ته په دنیا کښې لویه حسنه (نعمت) ورکړو (او په ډېر ښه استوګنځای کښې به یې واوسوو) او خامخا د آخرت اجر خو د دوی دپاره ډېر لوی دی.

که (بالفرض) د دوی دښمنان پوهېدلی (چې هغوی به ذکرې شوې رتبې ته رسېږي نو هجرت ته به یې نه وی مجبور کړي)

[۴۲] (لله في الله مهاجرین) هغه کسان دي کوم چې صبر کوي او په خپل رب ﷻ باندې توکل (او اعتماد) کوي.

## ارتباطونه

۱ـ په وړاندېنیو ایتونو کښې د متکبرینو او جبابره وو څه حالات بیان شوي وه، چې دوی حقوق الله ته غاړې نږدي او د بوتانو په عبادت باندې مشغول دي، او په دې ایتونو کښې د دوی هغو سرکشیو ته اشاره شوې ده د کومو چې دوی په حقوق العباد کښې مرتکب کېږي، چې مسلمانان هجرت ته مجبوروي بلکې غواړي چې د خپلو خانونو غوندې یې بې لارې کړي.

۲ـ هلته د قیامت د ورځې قیام ضروري ګڼلی شوی وه او دلته یې د ضرورت څینو وجوهو ته اشاره شوې ده، چې که مړي بېرته راژوندي نه کړی شي نو مظلومان به بې اجره پرېښودل شي خصوصاً لا هغه مظلومان چې د وطن پرېښودلو ته مجبور کړی شوي وي.

## شان نزول

د ذکرو شوو ایتونو په شان نزول کښې علماوو کرامو متعدد روایتونه لیکلي دي[۱] مګر جمهور علماء کرام وایي چې دا ایتونه د هغو مهاجرینو په شان کښې نازل شوي دي کومو چې د مکې معظمې څخه حبشې ته هجرت کړی وه، چې د ټولو (نارینه وو او زنانه وو) شمېر اتیا (۸۰) تنو ته رسیده چې عثمان بن عفان ﷺ او جعفر بن ابي طالب ﷺ هم پکښې شامل وه[۲].

مونږ وایو چې د ایتونو مضمون په هغوی پورې اختصاص نه لري بلکې د قیامت د ورځې پورې ټول رښتیاني مهاجرین پکښې شامل دي، الله ﷻ ته امید دی چې مونږ افغان مهاجرینو ته هم هغه لوی اجرونه راکړي د کومو وعده چې د بیا را ژوندي کولو څخه وروسته کړی شوې ده، لکه څنګه

(۱) زاد المسیر ج۴ ص۳۲۷؛ اسباب النزول للواحدي ص۱۸۸
(۲) المحرر الوجیز ج۱۰ ص۱۸۶؛ تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۵۷۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بې چې په دنیا کښې خپله وعده راته پوره کړه او د هر ډول فضلونو باران يې راباندې وروللی دی، والحمد لله والشکر له ﷻ.

## د مطلب خلاصه

يعنې ای پيغمبره! په خپل امت باندې لاندې حقايق قرائت کړه:

١ـ هرڅوک چې صرف د الله ﷻ د رضاء په خاطر او د خپل دين د حفاظت په منظور د خپل اصلي وطن څخه هجرت وکړي او د ظالمانو د لاسه ورباندې خپل اصلي ټاټوبی تنګ شي نو زمونږ د پلوه هغوی ته لاندې بشارتونه ورکولی کېږي:

الف: په دنيا کښې به مونږ هغوی ته ښه مزناک او ښائسته ځای ورکړو او د پراخې روزۍ خاوندان به يې وګرځوو، هغوی ته به په دښمنانو باندې بری ورپه برخه کړو او په ټوله دنيا کښې به داسې شرف او نېکنامي ورکړو چې اولادونو او نسلونو ته به يې هم ور وغزېږي.

ب: اما په آخرت کښې د هغوی اجرونه او ثوابونه ډېر لوی دي چې ليدلو پورې اړه لري، بنيادمان نه شي کولی چې په دنيا کښې يې اقلاً تصور وکړی شي او په اذهانو کښې يې تاو راتاو کړي.

لنډه دا چې مونږ به مهاجرينو مظلومانو ته دومره اجرونه ورکړو که بالفرض د هغوی دښمنان (ظالمان) پوهېدلی چې هغوی به د هجرت په سبب دغه شرف او خوشالۍ ته رسېږي نو هجرت ته به يې نه وی مجبوري کړي او د خپل وطن څخه به يې نه وی شړلي.

٢ـ مونږ څکه لله في الله مهاجرينو ته ذکرې شوې دنياوي او اخروي وعدې ورکړې چې هجرت ډېر لوی او ډېر درروند عبادت دی، چې صرف هغه څوک يې کولی شي چې لاندې صفات ولري:

الف: چې په خپل دين باندې کلک وي، د دين د ساتنې دپاره د هرډول مشکلاتو تحمل کولی شي او بالآخره چې په اولنيو مراحلو کښې په هر ډول مصيبتونو باندې صبر وکړي.

ب: چې خاص په خپل رب ﷻ باندې توکل او اعتماد وکړي او په همدې باندې پخه عقيده ولري چې کوم اقدس ذات چې مونږ پيدا کړي ياستو هغه اقدس ذات به په هرځای کښې روزي هم راکړي او هم به د سختيو اجرونه راکړي.

## توضيحات

١ـ په ﴿وَٱلَّذِينَ هَاجَرُواْ فِى ٱللَّهِ﴾ کښې د "في" توری د اجليه "ل" معنی ورکوي لکه څنګه چې په لاندې حديث شريف کښې په همدې معنی باندې استعمال شوې چې يوه ورځې نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې وفرمايل چې: «عُذِّبَتْ امْرَأَةٌ فِي هِرَّةٍ رَبَطَتْهَا حَتَّى مَاتَتْ»[1] يعنې يوه ښځه د يوې پيشو د کبله معذبه شوه (او دوزخ ته داخله شوه) چې هغه يې تړلې وه آن تردې چې له لوږې مړه شوه، نه يې پخپله خوراک او څښاک ورکاوه او نه يې پرېښودله چې د ځمکې حشرات يې خوړلي وی.

---

[1] صحيح البخاري ج١ ص٤٩٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو په دې مقام کښې يې د معنى حاصل داسې کېږي چې: الله ﷻ ذکرې شوې وعدې د هغو کسانو سره کړې دي چې يوازې او يوازې د الله ﷻ د رضاء دپاره يې هجرت کړی وي او صرف د خپل دين حفاظت ورباندې باعث وي، نه يې دنيا ګټل غرض وي او نه يې شهرت او نېکنامي مطلب وي او نه داسې نور.

## "مباءة" څه معنى؟

٢ـ ﴿ لَنُبَوِّئَنَّهُمْ فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً ﴾ کښې د "نُبوِّءَ" کلمه اصلاً د "بَاءَة" او "مُبَاءَة" څخه اشتقاق شوې ده چې د منزل (کور) معنى ورکوي[1]. په لاندې نبوي حديث کښې نکاح ځکه د "بَاءَة" په نامه ياده شوې ده چې کله واده وکړي نو خپله مېرمن خپل کور ته انتقالوي، حديث دا دی چې:

«مَنْ اسْتَطَاعَ الْبَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ فَإِنَّهُ أَغَضُّ لِلْبَصَرِ وَأَحْصَنُ لِلْفَرْجِ وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ فَإِنَّهُ لَهُ وِجَاءٌ»[2] يعنې هرڅوک چې د نکاح وسه لري نو نکاح دې وکړي ځکه چې نکاح ښه سترګې پټونکې ده او د عورت ښه سا تونکې ده، او هرڅوک چې (د نکاح کولو) وسه ونه لري نو په هغه باندې روژه نيول دي (روژې دې ونيسي) ځکه چې روژه د هغه دپاره خسي کوونکې (شهوت ماتونکې) ده.

دا د يو پلوه، او د بل پلوه د ﴿ حَسَنَةً ﴾ کلمه علماوو کرامو په ګڼ شمېر معناوو باندې تفسيره کړې ده، لاندې مثالونه يې ولولئ[3]:

الف: ښائسته او نېک رزق، يعنې هرومرو به مهاجرينو ته حلال او بې تکليفه رزق په دنيا کښې ورکړو.

ب: نيک شهرت، يعنې دوی ته به ضرور په دنيا کښې ډېر ښه شهرت ورکړو چې په اولادونو کښې به يې تر پېړيو پورې وغږېږي.

ج: د اوسېدانې ډېر ښه ځای او کور، يعنې دوی به په دنيا کښې په ډېرو ښو ځايونو کښې واوسوو چې هلته اوسېدانه به د هيچا په خيال کښې نه وي.

زمونږ په فکر، په کار دي چې د ﴿ حَسَنَةً ﴾ کلمه به خپل عموم سره پرېښودله شي، لکه چې څه شرحه يې د [البقرة ٢٠١] ايت لاندې تېره شوې ده. ترڅو هغو ټولو نعمتونو ته شامله شي چې مهاجرينو ته يې الله ﷻ ورکوي او ورکړي يې دي. مونږ ځکه په ذکره شوې کلمه کښې عموم خوښ کړ چې مونږ يې مصداقات په خپلو خانونو (افغان مهاجرينو) کښې په سترګو وکتل چې پراخه او حلاله روزي يې راکړه، ښه ياګانې يې راته ابادې کړې، زمونږ اقتصاديات يې قوي کړه، د شهيدانو په څو چنده اولادونه يې راپېرزو کړه. بالآخره ډېر اولادونه مو ملايان (د علم خاوندان) شوه او ډېرو

---

(١) لسان العرب ج١ ص٣٦، حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج٣ ص١٧٨

(٢) صحيح البخاري ج١ ص٢٥٥

(٣) زاد المسير ج٤ ص٣٢٧، البحر المحيط ج٦ ص٥٣٢، تفسير القرطبي ج١٠ ص١٠٧

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



قرآن کریم حفظ کړ او په ټوله دنیا کښې مو نېکنامي وګټله چې تر ډېرې زمانې پورې به پرې زمونږ اولادونه وياړي.

مګر افسوس چې د بې اتفاقی د کبله او د دښمنانو د لاس وهنې د کبله تر نن[1] ورځې پورې په جنګ ياستو او ومو نه شو کړی چې په اتفاق سره يو اسلامي مستحکم حکومت جوړ کړو، فإنا لله وإنا إليه راجعون.

## د آخرت اجر لوی دی

۳ـ څرنګه چې د مهاجرينو دپاره اخروي نعمتونه په دنيا کښې د هيڅا په تصور کښې نه شي راتلی نو الله ﷻ ورته فقط همدومره اشاره وکړه چې: ﴿ وَلَأَجْرُ ٱلْآخِرَةِ أَكْبَرُ ﴾ يعنې: او بې شکه د آخرت اجرونه د (مهاجرينو دپاره) ډېر لوی دي.

د همدې کبله چې د مهاجرينو نعمتونه په دنيا پورې حصر نه دی نو کله به چې عمر (أمير المؤمنين ﷺ) کوم مهاجر سړي ته څه شی ورکاوه نو ورته به يې ويلې چې: واخله الله ﷻ دې درته پکښې برکت واچوي: «هَذَا مَا وَعَدَكَ اللهُ فِيْ الدُّنْيَا وَمَا ادَّخَرَ لَكَ فِي الآخِرَةِ أَكْبَرُ»[2] دا هغه شی دی چې الله ﷻ يې ستا سره په دنيا کښې وعده کړې ده او هغه شی چې الله ﷻ ستا دپاره په آخرت کښې زخيره کړی (ساتلی) دی (هغه د دې څخه) ډېر لوی دی.

## يادونه

۴ـ علماوو کرامو د ﴿ لَوْ كَانُوا۟ يَعْلَمُونَ ﴾ جمله د ضميرونو د ارجاع په اعتبار سره په څو ډوله تفسيره کړې ده[3] خو مونږ ته بهتره برېښي چې د دغې جملې دواړه ضميرونه په کفارو (د مهاجرينو دښمنانو ظالمانو) ته راجع وي.

نو د معنی حاصل به يې داسې راوځېژي چې: که بالفرض ظالمان پوهېدلی چې هجرت به د دغسې لويو نعمتونو سبب ګرځي نو مسلمانان به يې هجرت ته نه وی اړ کړي.

مونږ څکه دغه تفسير خوښ کړ چې په بل ځای کښې الله ﷻ د مهاجرينو په باره کښې فرمايي چې: ﴿ يَجِدْ فِى ٱلْأَرْضِ مُرَٰغَمًا كَثِيرًا ﴾ [النساء: ۱۰۰] يعنې هرڅوک چې د الله ﷻ په لاره کښې هجرت وکړي نو په ځمکه کښې به ډېر داسې ځايونه مونده کړي چې دښمنان به پرې په غصه شي او د خجالت سره به مخامخ شي (چې شرحه يې هلته تېره شوې ده)، والحمد لله ﷻ.

﴿ وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ إِلَّا رِجَالًا نُّوحِىٓ إِلَيْهِمْ ۚ فَسْـَٔلُوٓا۟ أَهْلَ ٱلذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ

(۱) ۱۳۷۶/۸/۲۴ هـ ش
(۲) الدر المنثور ج۵ ص۱۳۲
(۳) روح المعاني ج۱۴ ص۱۴۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ بِٱلْبَيِّنَٰتِ وَٱلزُّبُرِ ۗ وَأَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ٱلذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٤٤﴾ ﴾

[۴۳] او مونږ (ای پیغمبره!) ستا څخه وړاندې نه دي لیږلي مګر سړي، چې هغوی ته به مو وحې کوله (پرښتې مو نه دي لیږلي)، نو تاسو (ای مشرکانو!) د اهل الذکر (اهل الکتابو) څخه پوښتنه وکړئ که چرته تاسو یاست چې نه پوهېږئ.

[۴۴] (مونږ سړي پیغمبران) په معجزاتو او کتابونو سره (لیږلي دي، چې نبوت یې اثبات شي او خلکو ته هدایت وکړي)، او (ای پیغمبره!) تاته مو د دې دپاره قرآن کریم درنازل کړي دي چې ترڅو ته خلکو ته هغه څه (واضحه) بیان کړې چې دوی ته (د الله ﷻ د پلوه) نازل کړی شوی دی (ستا غوندې یې پرښتې نه شي بیانولی) او شاید چې خلک فکر وکړي (چې د پرښتو نبوت د دوی په ګټه نه وه).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د مشرکانو دریمه پلمه او بهانه جوابه شوې ده چې هغوی به پرې خلک غولول او خپلو وجدانونو ته به یې وربانديې قناعت ورکاوه، هغه دا چې: که الله ﷻ اراده کړې وي چې بنیادمانو ته خپل احکام راواستوي نو دا کار به یې ضرور د پرښتو په لاس کړی وی، نو د انسانانو د نبوت دعوه غلطه او دروغ ده. د جواب حاصل یې داسې راځېږي چې:

۱ـ ای پیغمبره! مونږ خو د ستا څخه وړاندې هم د خپلو احکامو د رسولو دپاره پرښتې نه دي استولي او د پیغمبرانو کار مو ترې نه دی اخستی، بلکې زمونږ ټول پیغمبران انسانان او سړي وه خو د نورو سړیو سره یې فقط همدومره فرق درلود چې هغوی ته مونږ وحې کوله او نورو ته مو وحې نه کوله.

۲ـ نو ته زمونږ دپلوه کفار مخاطب کړه چې که تاسو ته ذکره شوې خبره معلومه نه وي نو د پخوانیو اهل الکتابو څخه پوښتنه وکړئ چې ایا رښتیا پخواني پیغمبران سړي وه او که پرښتې وې؟

۳ـ مونږ پخواني پیغمبران د سړیو د جملې څخه ځیني خاص سړي استولي وه مګر هغوی ته مو معجزات ورکړي وه او کتابونه مو وربانديې ورنازل کړي وه ترڅو د نورو سړیو څخه په ښه توګه ممتاز او جدا شي، چې نورو سړیو نه معجزه درلوده او نه اسماني کتاب.

۴ـ نو په همدې بنیاد (ای پیغمبره!) ته هم د هغوی د جملې څخه یو ممتاز سړی یې چې ښه پرېمانه معجزات مو درکړي دي او خپل معجز کلام (قرآن کریم) مو دربانديې درنازل کړی دی، چې د توحید حقانیت او هم ستا صداقت پکښې د ورایه ځلېږي.

۵ـ ای پیغمبره! مونږ ستا په عوض ځکه پرښته د پیغمبر په حیث وانه استوله چې ترڅو ته خلکو ته هغه احکام په ډېره ښه توګه بیان کړې کوم چې دوی ته ورنازل کړی شوي دي، که بالفرض ستا په عوض مو پرښته وراستولې وی نو خلکو به ترې احکام ښـه نه وی زده کړي ځکه چې د پرښتو صفات

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د بشري صفاتو څخه جدا دي.

٦_ په دې باندې علاوه که انسانان فکر وکړي نو پوه به شي چې بشري پيغمبر د دوی دپاره د ملکي پيغمبر څخه بهتر دی. او دا ځکه که پرښته په خپله څېره باندې رابښکته شوې وی نو د خلکو زهرې به ترقې چاودې وی او د احکامو زده کولو دپاره به وخت نه وی پاتې شوی، او که پرښته مو د سړي په څېره کښې وراستولې وی نو بيا به دوی باور نه کولی چې دا پرښته ده، بلکې دوی به ذکره شوې اشتباه بيا تکراره کړې وی چې مونږ ته ولې پرښته پيغمبر را وانه استولی شو.

## توضيحات

١_ که څوک وايي چې: په ﴿ فَسْـَٔلُوٓا۟ أَهْلَ ٱلذِّكْرِ ﴾ کښې د "اهل الذکر" څخه څوک مراد دی؟ يا په بل عبارت: هغه کسان څوک دي چې مشرکانو ته توصيه شوې ده چې د هغوی څخه د پيغمبرانو په هکله پوښتنه وکړي چې ايا رښتيا هغوی سړي وه؟

مونږ وايو چې: په دې مقام کښې علماوو کرامو "اهل الذکر" په متعددو معناوو سره تفسير کړی دی[1]، لکه اهل القرآن او د پخوانيو امتونو عالمان چې تواريخ ورته معلوم وه، حتی اهل التشيع وايي چې اهل الذکر د اهل البيت او امامانو څخه عبارت دي[2]؛ مگر کوم تفسير چې مونږ ته د مقام په اعتبار سره غوره برېښي هغه د عبدالله بن عباس رضی الله عنهما تفسير دی چې دلته د اهل الذکر څخه اهل الکتاب مطلب دي[3].

د همدې کبله مشرکانو د همدغه ايت د نزول څخه وروسته د مديني منورې اهل الکتابو ته يوه جرگه واستوله ترڅو د هغوی څخه په همدې باره کښې پوښتنه وکړي[4]، په دغه وخت کښې لا د مديني منورې خپل اصلي نوم "يثرب" نه وه تبديل شوی، دا تبديلي په هغه وخت کښې متحققه شوه چې نبي کريم ﷺ هلته هجرت وکړ.

نو د ايت شريف حاصل داسې راځېږي چې: ای مشرکانو! که تاسو نه پوهېږئ چې پخواني پيغمبران سړي وه نو د اهل الکتابو څخه پوښتنه وکړئ چې سرونه مو پرې خلاص شي او پوه شئ.

## يادونه

٢_ ځينو اوږدو کتابونو[5] د ﴿ فَسْـَٔلُوٓا۟ أَهْلَ ٱلذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴾ څخه د عمومي مفهوم په اعتبار سره د ځلورو مذاهبو اتباع او تقليد استنباط کړی دی، که څوک يې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي، مونږ د اوږدوالي د کبله دلته رانقل نه کړه.

---

(١) زاد المسير ج٤ ص٣٢٨
(٢) تفسير نمونه ج١١ ص٢٤٢
(٣) البحر المحيط ج٦ ص٥٣٣
(٤) المحرر الوجيز ج١٠ ص١٨٨
(٥) روح المعاني ج١٤ ص١٤٨

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۳_ که څوک وایي چې: په ﴿ بِٱلۡبَيِّنَٰتِ وَٱلزُّبُرِ ﴾ کښې د "ب" توری څه شي پورې تعلق نیسي؟
مونږ وايو چې: دلته هم علماوو کرامو متعدد احتمالات لیکلي دي[1] مګر کوم احتمال چې د زړه پورې برېښي هغه دا دی چې ذکر شوی توری د هغې مقدرې جملې پورې متعلق دی کومه چې د تقدیري پوښتنې دپاره جواب واقع شوې ده، نو صورت یې داسې جوړېږي چې: "بِمَا أَرْسِلَ الرِّجَالُ فِي السَّابِقِيْنَ؟ أُرْسِلُوْا بِالْبَيِّنَاتِ وَالزُّبُرِ" یعنې په پخوانیو خلکو کښې سړي (پیغمبران) په څه شي باندې استولي شوي وه؟ هغوی په لاندې دوه شیانو باندې استولي شوي وه:
الف: په معجزاتو سره، ترڅو د دوی نبوت خلکو ته په اثبات ورسوي.
ب: په کتابونو او احکامو سره، ترڅو خلکو ته د دنیا او آخرت لارښوونه وکړي.

## یو تذکر

۴_ د دې مطلب دپاره چې د نبوت دپاره سړي انتخاب کړی شوي دي او دا کار د پرښتو څخه نه دی اخستل شوی، په [الأنعام:٨] ایت کښې الله ﷻ ښه قناعت بښونکو دلایلو ته اشارې کړې دي چې پوره وضاحت یې هملته تېر شوی دی، والحمد لله.
په دې مقام کښې همغو دلایلو ته د ایت شریف دا ټکړه ﴿ وَأَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلذِّكۡرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيۡهِمۡ وَلَعَلَّهُمۡ يَتَفَكَّرُونَ ﴾ اشاره کوي. یعنې مونږ تا ته قرآن درنازل کړ چې خلکو ته نازل کړی شوي احکام ښه پوره بیان کړې، چې پرښتې یې ستا غوندې نه شي بیانولی، او د دې دپاره چې خلک فکر وکړي چې د پرښتو نبوت د خلکو احتیاجات نه شو پوره کولی بلکې د دوی نبوت خلکو ته په ضرر تمامېده او ټول مره کېده.

﴿ أَفَأَمِنَ ٱلَّذِينَ مَكَرُواْ ٱلسَّيِّـَٔاتِ أَن يَخۡسِفَ ٱللَّهُ بِهِمُ ٱلۡأَرۡضَ أَوۡ يَأۡتِيَهُمُ ٱلۡعَذَابُ مِنۡ
حَيۡثُ لَا يَشۡعُرُونَ ﴿٤٥﴾ أَوۡ يَأۡخُذَهُمۡ فِي تَقَلُّبِهِمۡ فَمَا هُم بِمُعۡجِزِينَ ﴿٤٦﴾ أَوۡ يَأۡخُذَهُمۡ عَلَىٰ
تَخَوُّفٖ فَإِنَّ رَبَّكُمۡ لَرَءُوفٞ رَّحِيمٌ ﴿٤٧﴾ أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ إِلَىٰ مَا خَلَقَ ٱللَّهُ مِن شَيۡءٖ يَتَفَيَّؤُاْ ظِلَٰلُهُۥ
عَنِ ٱلۡيَمِينِ وَٱلشَّمَآئِلِ سُجَّدٗا لِّلَّهِ وَهُمۡ دَٰخِرُونَ ﴿٤٨﴾ وَلِلَّهِ يَسۡجُدُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا
فِي ٱلۡأَرۡضِ مِن دَآبَّةٖ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَهُمۡ لَا يَسۡتَكۡبِرُونَ ﴿٤٩﴾ يَخَافُونَ رَبَّهُم مِّن فَوۡقِهِمۡ
وَيَفۡعَلُونَ مَا يُؤۡمَرُونَ ۩ ﴿٥٠﴾ ﴾

---

(١) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج٣ ص١٧٨؛ تفسیر ابي السعود ج٥ ص١١٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۴۵] ایا نو هغه کسان په امن کښې دي کوم چې تدبیرونه کوي بد تدبیرونه (د دې څخه) چې الله ﷻ په دوی سره ځمکه خسف کړي (او ټول پکښې دوب کړي)، او یا دوی ته د داسې ځای (طرف) څخه عذاب ورشي چې دوی (ورباندې هیڅ) شعور ونه لري.

[۴۶] او یا یې الله ﷻ د ګرځېدلو راګرځېدلو په حال کښې ونیسي چې دوی الله ﷻ ته عاجزې کوونکې نه دي (چې ورباندې زورور شي).

[۴۷] او (بالآخره) یا یې الله ﷻ په سختو دارولو (حالت کښې) ونیسي (چې په ورو-ورو عذاب ورروان وي).

(په دغو ټولو ډولونو باندې الله ﷻ قدرت لري مګر دوی ته مهلت ورکوي او دا) ځکه چې یقیناً ستاسو رب ﷻ (په تاسو باندې) ضرور نرمي کوونکی (او) مهربان دی.

[۴۸] ایا (دوی کفر ته ادامه ورکوي) او هغه شي ته نه ګوري کوم چې الله ﷻ پیدا کړی دی چې د داسې شي (شیانو) څخه عبارت دي چې سوري یې د ښي او چپو طرفونو څخه په داسې حال کښې راتاوېږي چې خاص الله ﷻ ته سجده کوونکي (انقیاد کوونکي) دي. او (پخپله سوري والا شیان هم خاص د الله ﷻ کامل قدرت ته) ذلت درلودونکي دي.

[۴۹] او خاص الله ﷻ ته هغه شیان سجدې کوي کوم چې په اسمانونو کښې دي او هغه شیان (هم ورته سجدې کوي) کوم چې په ځمکو کښې دي چې (د هر ډول) خوځېدونکي شي څخه عبارت دي، او پرښتې (هم) په داسې حال کښې (ورته سجده کوي) چې (د ده ﷻ د عبادت څخه) تکبر (لوی) نه کوي.

[۵۰] پرښتې د خپل داسې رب ﷻ څخه داریږي چې په دوی باندې (په علم او قدرت کښې) د پاسه دی، او دوی هغه څه کوي په کومو باندې چې ورته امر وکړی شي.

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې د عنادي او متکبرو کافرانو حال بیان شوی وه چې د یو پلوه په پلمو او بهانو باندې خپلو وجدانونو ته قناعت ورکوي او په کفر باندې کلک ولاړ دي او د بله پلوه ورباندې نور خلک بې لارې کوي، په دې ایتونو کښې هغوی متوجه کړی شوي دي چې باید د فریبکارۍ څخه لاس واخلي که نه نو الله ﷻ په هرڅه باندې قادر دی، البته که وغواړي خپل غضب به ورباندې د آخرت څخه وړاندې نازل کړي. نو حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

۱_ ای پیغمبره! څرنګه چې تا د کفارو اشتباهګانو ته جوابونه ورکړه نو اوس دوی متوجه کړه چې: ایا نو هغه کسان چې د خپلې ګمراهۍ او د نورو د ګمراه کولو څخه لاس نه اخلي د دې خبرې څخه خطر نه لري چې د لاندې ډولونو څخه یو ډول عذاب ورباندې الله ﷻ ورنازل کړي؟ ایا دوی کولی شي چې خپلو ځانونو ته ترې نجات ورکړ او یا یې مخه ونیسي؟ ډولونه دادي:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: که الله ﷻ وغواړي چې دوی د قارون غوندې په ځمکه کښې خسف کړي او ټول پکښې ډوب کړي نو ایا دوی وسه لري چې د خسف څخه خانونه بچ کړي؟

ب: ایا دوی د دې څخه په امن کښې دي چې د داسې طرف څخه ورباندې عذاب ورنازل شي چې دوی پرې هیڅ شعور نه لري او په ناڅاپي ډول باندې ورسره مخامخ شي؟ یا په بل عبارت: ایا کله چې دوی په خواږه خوب ویده وي او د عذاب د نزول څخه بې غمه وي؟

ج: ایا دوی د دې څخه په امن کښې دي چې الله ﷻ دوی په رڼا ورځ هلاک کړي حال دا چې دوی بنه په غرو پش کښې ګرځي راګرځي؟

هیڅکله د دوی سره د امن تضمین نشته، او دا ځکه چې دوی په الله ﷻ باندې غالب کېدلی نه شي چې د عذاب مخه یې بنده کړي.

د: بالآخره ایا دوی په امن کښې دي چې الله ﷻ یې په قرارۍ او ارامۍ سره ونیسي، چې دوی ښه پوهېږي چې دغه دی لوی عذاب را روان دی؟

لنډه دا چې هغه عنادي کفار کوم چې د الله ﷻ د دین څخه په چلونو او اشتباګانو اچولو سره خلک بې لارې کوي، هیڅ قدرت نه لري چې د ناڅاپي عذاب مخه ونیسي، لکه خسف او یا لکه د شپې یا ورځ ناڅاپي عذاب، همدارنګه قدرت نه لري چې د هغه عذاب څخه ځانونه بچ کړي کوم چې په مدار سره نازلېدونکي وي، بلکې د الله ﷻ د عذاب په مقابل کښې په دواړو صورتونو کښې دوی عاجزان او ناتوانه دي.

۲_ نو ای پیغمبره! مشرکانو یو ځل بیا خبر کړه چې یقینًا ستاسو رب ﷻ بې اندازې نرمي کوونکی او بې اندازې مهربان دی، چې ستاسو د جنایاتو او کفریاتو سره-سره یو ډول عذاب هم درباندې نه نازلوي او فرصت درکوي چې د خپل کفر څخه توبه تائب شئ او د عناد څخه لاس واخلئ.

۳_ الله ﷻ په هر وخت کښې قادر دی چې په ذکرو شوو جنایتکارانو باندې یو ډول عذاب ورنازل کړي، دا ځکه چې هر شی د همده ﷻ د قدرت لاندې دی او هر شی د همده ﷻ اطاعت کوي.

ایا کفار هغه شي ته نه ګوري کوم چې الله ﷻ داسې پیدا کړي دي چې د هغوی سوري د الله ﷻ په تکوین سره د ښي طرفونو څخه چپو طرفونو ته او د چپو طرفونو څخه ښیو طرفونو ته روزمره په دوامداره توګه اوړي او رااوړي، په داسې حال کښې چې خاص همده ﷻ ته سجده کوونکي او انقیاد کوونکي دي؟. په دې باندې علاوه، ذکر شوي شیان چې د سورو خاوندان دي پخپله هم د الله ﷻ تکویني اوامرو ته عاجزي کوونکي دي، چې غاړه ترې نه شي غړولی.

۴_ یوازې د سورو درلودونکي شیان الله ﷻ ته غاړه ایښودونکي نه دي بلکې ده ﷻ ته هغه ټول شیان سجدې کوي او د اوامرو منونه یې کوي کوم چې په اسمانونو کښې دي او کوم چې په ځمکو کښې دي.

په دې ټولو باندې علاوه ټولې پرښتې هم خاص الله ﷻ ته په داسې حال کښې سجدې کوي چې هیڅکله ترې سرکشي او طغیان نه اختیاروي، بلکې دوی د خپل هغه رب ﷻ څخه د همېشه دپاره

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پارېږي چې په دوی باندې په علم او قدرت سره دپاسه دی، او هم په دوامداره توګه هغه څه په عمل کښې پیاده کوي په کوم باندې چې ورته امر کړی شوی وي او هیڅکله ترې تخلف نه کوي.

۵ـ نو ای پیغمبره! ستا د زمانې سرکشانو او متکبرانو ته په کار دي چې د تکویني انقیاد سره تشریعي انقیاد هم ملګری کړي او خپل ځانونه د خپلو سورو څخه تېټ نه کړي ترڅو د دنیا او آخرت دواړو د نېکمرغیو موندونکي جوړ شي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ مَكَرُواْ ٱلسَّيِّـَٔاتِ ﴾ کښې د "سَيِّئَات" کلمه د "المكرات" دپاره صفت واقع شوې ده چې په عبارت کښې ورسره مقدر دی، "مكرات" د "مكرة" جمعه ده[1] یعنې پټ تدبیرونه، چې څه شرحه یې د [آل عمران: ۵۴] ایت لاندې تېره شوې ده، نو ذکره شوې کلمه د خپل مقدر موصوف په اعتبار سره د پټو بدو تدبیرونو معنی ورکوي.

که څه هم ځینو علماوو کرامو[2] دغه پټ مکاران د قریشو څخه عبارت اخستي دي، مګر مونږ ته بهتره برېښي چې ایت شریف په خپل عموم سره پرېښودل شي ترڅو د قیامت د ورځې پورې ټولو مکارانو ته شامل شي، نو د معنی حاصل به یې داسې راوخېژي چې ایا هغه کسان (کوم چې د الله ﷻ د دین د مخنیوي دپاره پټ تدبیرونه کوي بد تدبیرونه) د الهي عذابونو څخه په امن کښې دي چې وربانديې به نه نازلېږي؟

## تَقَلُّب څه معنی؟

۲ـ په ﴿ أَوۡ يَأۡخُذَهُمۡ فِي تَقَلُّبِهِمۡ ﴾ کښې د "تَقَلُّب" کلمه خو په ښارونو کښې ګرځېدلو راګرځېدلو ته وایي، چې څنګه تصرف یې زړه وغواړي همغسې پکښې جاري کړي[3]. مګر مونږ ته بهتره برېښي چې په دې مقام کښې ذکره شوې کلمه د ورځې څخه کنایه ده چې سړی ښه وینښ او بېدار وي، ځکه چې وراندېنی عذاب په ﴿ مِنۡ حَيۡثُ لَا يَشۡعُرُونَ ﴾ سره توصیف شوی دی ته به وایې چې د شپې څخه کنایې دی.

نو د دواړو حاصل به داسې را وخېژي چې: ایا کفار دِ الله ﷻ د عذاب مخنیوی کولی شي؟ هیڅکله یې د مخنیوي توان نه شي درلودلی بلکې د الله ﷻ عذاب ته په کتلو سره د کفارو شپه او ورځ یا خوب او بیداري په ناتوانۍ کښې یو برابر دي.

نو دا ایت به هغه ایت ته ورته معنی ورکړي په کوم کښې چې ذکر شوی مضمون په صراحت سره نازل شوی دی چې: ﴿ قُلۡ أَرَءَيۡتُمۡ إِنۡ أَتَىٰكُمۡ عَذَابُهُۥ بَيَٰتًا أَوۡ نَهَارًا ﴾ [یونس: ۵۰] یعنې ای پیغمبره!

(۱) لسان العرب ج۵ ص۱۸۴
(۲) تفسیر الخازن ج۳ ص۶۰۶
(۳) مفردات الراغب ص۴۲۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مشرکانو ته ووایه چې: که د الله ﷻ عذاب تاسو ته د خوب په حال (شپې) کښې او یا په ورځ کښې درشي نو تاسو به یې هیڅ مخنیوی ونه کړی شئ او په خپلو کړو وړو باندې به پښېمانه شئ.

## د تخوف دوه معناوې

٣_ په ﴿أَوْ يَأْخُذَهُمْ عَلَىٰ تَخَوُّفٍ﴾ کښې د ﴿تَخَوُّفٍ﴾ د کلمې دپاره علماوو کرامو لاندې دوه معناوې کړې دي[1]:

الف: څرنګه چې د حرفونو زیادت د معنی په زیادت او قوت باندې دلالت کوي نو تخوف د کلک خوف (ډار) څخه عبارت دی. نو د معنی حاصل یې داسې راخېژي چې: ایا کفار د دې څخه مامون دي چې الله ﷻ یې په عذاب باندې په داسې حال کښې مبتلا کړي چې د کلک ډار سره هم مخامخ وي، چې د شاوخوا په ښارونو باندې عذاب نازل شي، یا د عذاب د نزول څخه وړاندې تېز باد راوالوزي، یا ځمکه ولړزېږي او درنه زلزله شروع شي او بالآخره لکه چې سخته ږلۍ او تېز باران او هم د تندرونو ګړزهار پیل شي او بیا پرې مهلک عذاب ورښکته شي.

ب: ﴿تَخَوُّفٍ﴾ د "تنقص" معنی ورکوي، لکه چې لاندې قیصه ورباندې په ډېره ښه وجه دلالت کوي، هغه دا چې:

یوه ورځ امیر المؤمنین (عمر ﷜) په ممبر باندې ولاړ وه او د ذکرې شوې کلمې په تفسیر کښې یې لاندې سوال جواب وکړ[2]:

عمر ﷜: په ﴿أَوْ يَأْخُذَهُمْ عَلَىٰ تَخَوُّفٍ﴾ کښې د ﴿تَخَوُّفٍ﴾ کلمه څه معنی لري؟

ټول ساکت پاتې شوه مګر یوازې یوه بوډا سړي (شیخ) جواب ورکړ چې: ﴿تَخَوُّفٍ﴾ د "تَنَقُّص" معنی ورکوي.

عمر ﷜: ایا د جاهلیت په اشعارو کښې ذکره شوې کلمه په همدې معنی باندې استعماله شوې ده؟

شیخ: هو، زمونږ د (هُذیل) قبیلې یوه شاعر په خپل یوه شعر کښې په همدغه معنی باندې استعماله کړې ده (چې همغه شعر یې ورته ولوست).

عمر ﷜: ای حاضرینو! تاسو د خپل دفتر حفاظت وکړئ چې بې لارې نه شئ.

ټولو حاضرینو د شیخ په شمول پوښتنه وکړه چې: زمونږ دفتر څه شی دی؟

عمر ﷜: ستاسو دفتر د جاهلیت اشعار دي چې په دې کښې ستاسو د کتاب (قرآن کریم) تفسیر او معناوې ساتلې شوې دي.

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: ایا دوی په امن کښې دي چې الله ﷻ ورباندې په مدار او کراره-کراره عذاب ورنازل کړي، مثلاً د مال په تنقیص باندې پیل شي، بیا یې په زراعت (کرونده)

---

(١) زاد المسیر ج٤ ص٣٢٩

(٢) تفسیر الکشاف ج٢ ص٦٠٨

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو

باندې آفت ورنازل شي، بيا پرې کوم مهلک مرض ورحواله کړي او داسې نور او بالآخره په پای کښې د پوهنا کوونکي عذاب سره مخامخ شي.

## تبصره

۴_ مونږ ته داسې برېښي چې ذکرې شوې دواړه معناوې سره څه منافات نه لري، ځکه چې د هر تنقص سره لومړی معنی (تخوف) لازم دی. یا په بل عبارت: د عذاب د کراره-کراره راتګ سره خوف (کلک ډار) تړلی او لازم دی، مګر ځینو علماوو کرامو ملزوم "تَنَقُّص" ذکر کړی دی او ځینو د لازم "تخوُّف" نوم اخستی دی.

## يادونه

۵_ د ﴿ فَإِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴾ جملې ته علماوو کرامو په لاندې دوه ډوله[1] ارتباط ورکړی دی:

الف: دا جمله د همدغه نږدې ډول ﴿ تَخَوُّفٍ ﴾ سره ارتباط لري، يعنې الله ﷻ په تاسو باندې نرمي کوونکی او مهربان دی نو ځکه تاسو په عاجله توګه په عذاب باندې نه نيسي بلکې د تخوف په توګه درباندې عذاب درنازلوي ترڅو تاسو راوېښ شئ او د توبې فرصت درڅخه فوت نه شي.

ب: دا جمله د ذکرو شوو ټولو ډولونو سره ارتباط نيسي، يعنې ستاسو رب ﷻ ستاسو په هر ډول هلاکت باندې قدرت لري، لکه چې څلور مثالونه يې ذکر شوه، خو په تاسو باندې رؤف او رحيم دی چې د قدرت سره سره درباندې هيڅ ډول عذاب نه نازلوي او د ايمان راوړلو فرصت درکوي چې خپل ځانونه اصلاح کړئ او د کفرياتو څخه لاس واخلئ، که نه نو آخر به ورسره مخامخ شئ.

مونږ ته همدغه دوهم ارتباط په زړه پورې برېښي چې ګټه يې عامه ده، معنی يې شامله ده او بالآخره چې لاندې نصوصورباندې دلالت کوي:

اول: الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿ وَأُمْلِي لَهُمْ إِنَّ كَيْدِي مَتِينٌ ﴾ [الأعراف: ۱۸۳] يعنې او زه کفارو ته ټال ورکوم يقيناً زما پټ تدبير ډېر قوي دی (ځوک ترې خلاصون نه شي موندلی).

دوهم: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِنَّ اللهَ لَيُمْلِي لِلظَّالِمِ حَتَّى إِذَا أَخَذَهُ لَمْ يُفْلِتْهُ»[2] يعنې يقيناً الله ﷻ ظالم ته مهلت ورکوي آن ترې چې کله يې (په عذاب سره) ونيسي نو بيا يې نه خوشې کوي.

## سوال جواب

۶_ که څوک وايي چې په ﴿ أَوَلَمْ يَرَوْا إِلَىٰ مَا خَلَقَ اللَّهُ مِن شَيْءٍ يَتَفَيَّأُ ظِلَالُهُ ﴾ کښې د ﴿ مِن شَيْءٍ ﴾ کلمات د "مَا" دپاره بيان واقع شوي دي، حال دا چې پخپله "مَا" هم د شي معنی ورکوي. نو پوښتنه دا

(۱) روح المعاني ج۴ ص۱۵۳
(۲) صحيح البخاري ج۲ ص۶۷۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ده چې: بیان خو د وضاحت دپاره په محاوراتو کښې استعمالېږي او دلته په بیان سره هیڅ وضاحت متحقق نه شو؟

مونږ وایو چې: د ﴿ يَتَفَيَّؤُا ظِلَالُه ﴾ جمله د ﴿ شَيْءٍ ﴾ دپاره صفت ده چې په همدغه صفت سره پکښې وضاحت هم صورت نیسي، نو حاصل یې داسې راخېژي چې ایا دوی هغه شي ته نه ګوري کوم چې الله ﷻ پیدا کړی دی، البته هغه شی چې هغه د سوري خاوند وي[1] چې سوري یې د الله ﷻ په امر سره اوړي او را اوړي.

لنډه دا چې دلته د هغه شي کتلو ته خلک متوجه کول مطلب نه دی کوم چې سوري نه لري لکه پرښتې، پیریان یا لکه شیشې او داسې نور.

## څو پوښتنې او د هغو جوابونو

۷ـ په دې مقام کښې سړي ته لاندې پوښتنې ذهن ته ورځي:

الف: لومړۍ پوښتنه دا ده چې: د ﴿ ظِلَالُه ﴾ ضمیر ﴿ شَيْءٍ ﴾ ته راجع دی حال دا چې "ظِلال" جمعه ده او "شَيْء" مفرد دی، او د مفرد (واحد) شي دپاره خو ډېر سوري نه وي بلکې هر کثیف شی یو سوری لري چې یوه خوا او بله خوا یې اوړي او را اوړي؟.

د دې پوښتنې جواب دا دی چې: د ﴿ شَيْءٍ ﴾ کلمه که څه هم مفرده ده مګر معناً جمعه ده[2] چې په ډېرو شیانو باندې صادقېږي او د ډېرو شیانو سوري خو ډېر وي.

ب: بله پوښتنه دا ده چې په سوري درلودونکو شیانو کښې خو یوازې انسان ښی او چپ لري، نو پوښتنه دا ده چې: ایا په ﴿ عَنِ الْيَمِينِ وَالشَّمَآئِلِ ﴾ کښې یوازې دانسان ښی او چپ مطلب دی او که د نورو شیانو اطراف هم مراد دي؟

مونږ وایو چې: د دې پوښتنې دپاره علماوو کرامو لاندې دوه جوابونه کړي دي:

اول: څرنګه چې په ښي لاس کښې عادةً د چپ لاس څخه قوت زیات وي نو د اسمان مشرق طرف ته یمین ویل کېږي، چې روزمره حرکت ترې پیل کېږي، او مغرب طرف ته یې شمال ویل کېږي، چې د یمین په مقابله کښې واقع دی[3]، یعني د سوري درلودونکو شیانو سوری هم مشرق طرف ته او هم مغرب طرف ته اوړي رااوړي او الله ﷻ ته سجدې کوي.

دوهم: هر شي ته ښی او چپ په دې اعتبار باندې ثابت شوی دی چې نوموړی شی فرضي انسان وګڼل شي، او یا د هغه په څنګ کښې یو انسان ودرولی شوی فرض کړی شي[4].

ج: دریمه پوښتنه دا ده چې: د څه حکمت په بنیاد د ﴿ الْيَمِينِ ﴾ کلمه د ﴿ الشَّمَآئِلِ ﴾ غوندې

(١) تفسیر ابي السعود ج٥ ص١١٨
(٢) تفسیر الكشاف ج٢ ص٦٠٩
(٣) التفسیر الكبیر ج٢٠ ص٤١
(٤) البحر المحیط ج٦ ص٥٣٧

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



جمعه نازله نه کړی شوه حال دا چې ډېر شیان لکه څنګه چې ډېر چپ طرفونه لري همدارنګه ښي طرفونه هم ډېر لري؟

مونږ وایو چې: د دغې پوښتنې د جوابولو دپاره ځینو مفسرینو کرامو ډېر اوږده بحثونه کړي دي[1] او هر طرف ته بلکې ښي طرف ته او چپ طرف ته یې تاندونه وهلي دي، خو کوم جواب چې مونږ ته بهتر او بې تکلفه برېښي هغه دا دی چې: د ﴿ٱلْيَمِينِ﴾ کلمه د ایجاز (لنډون) په بنیاد مفرده نازله شوې ده که څه هم مطلب ترې جمعه ده،

او په دغه مطلب باندې لاندې قرائن هم دلالت کوي:

اول: د ﴿ٱلْيَمِينِ﴾ د کلمې څخه وړاندې د ﴿ظِلَـٰلُهُۥ﴾ کلمه جمعه ده چې د ډېرو شیانو سورې ترې مطلب دي لکه څنګه چې د لومړنۍ پوښتنې په جواب کښې واضحه شوې ده، نو دلته به هم د ډېرو شیانو ښي طرفونه مطلب وي.

دوهم: وروسته ترې د ﴿ٱلشَّمَآئِلِ﴾ کلمه جمعه نازله شوې ده او پوره واضحه ده چې د هر شمال په مقابل کښې یمین وي، نو په کار دي چې د ﴿ٱلْيَمِينِ﴾ څخه "الأیمان" مطلب شي ترڅو یې ورسره مقابله صحت مونده کړي.

دریم: په قرآن کریم کښې د دغه ډول نزول نور نظائر هم شته چې ځینې کلمې مفردې نازلې شوي دي مګر مطلب ترې جمعې وي، لکه:

اول: الله ﷻ فرمایي چې: ﴿سَيُهْزَمُ ٱلْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ ٱلدُّبُرَ﴾ [القمر:۴۵] یعني ای پیغمبره! ژر دی چې د مشرکانو (کفارو) جمعیت به ماتې وخوري او مسلمانانو ته به شاګانې ورواړوي. په دې ایت کښې د ﴿ٱلدُّبُرَ﴾ کلمې څخه د "الأدْبَار" کلمه مطلب ده، چې جمعه ده.

دوهم: الله ﷻ په ټول قرآن کریم کښې د ﴿ٱلْأَرْضِ﴾ کلمه مفرده نازله کړې ده مګر په ډېرو ایتونو کښې ترې جمعه مطلب ده، لکه ﴿لِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ﴾ [لقمان:۲۶] یعني خاص الله ﷻ ته هغه شیان دي کوم چې په اسمانو او ځمکو کښې دي.

د: څلورمه پوښتنه دا ده چې: د هر شي سورې خو څلور طرفه (وړاندې، ببرته، ښي طرف، چپ طرف، اوړې او را اوړې)، نو په دې کښې څه حکمت دی چې په ایت شریف کښې یوازې دوه طرفونه ذکر شوه او نور دواړه طرفه په سکوت کښې پرېښودل شوه؟

مونږ وایو چې: که څه هم ځینو علماوو کرامو د ﴿ٱلشَّمَآئِلِ﴾ کلمه د درې طرفونو څخه عبارت اخستې ده چې وړاندې او ببرته او بالآخره چپ طرف دی[2]، مګر مونږ ته داسې برېښي چې په ایت شریف کښې د دوه وو طرفونو ذکر د مثال په توګه شوی دی او حصر پکښې مطلب نه دی، حتی په

---

[1] روح المعاني ج۱۴ ص۱۵۵؛ المحرر الوجیز ج۱۰ ص۱۹۲
[2] البحر المحیط ج۶ ص۵۳۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بل ایت شریف کښې په یوه طرف باندې هم صراحت نه دی شوی لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَظِلَٰلُهُم بِٱلۡغُدُوِّ وَٱلۡأٓصَالِ ﴾ [الرعد: ١۵] یعنې څوک چې په اسمانونو او ځمکو کښې دي ټول خاص الله ﷻ ته په خوښه او ناخوښه سره سجدې کوي او د دوی سوري هم (چې څوک سوری لري) د سبا او ښګاه په وختونو کښې همده ﷻ ته په سجده باندې پراته دي، چې کله یو طرف ته تاوېږي او کله بل طرف ته کږېږي.

## په اعراب کښې دوه نظره

٨ـ د ﴿ سُجَّدٗا لِّلَّهِ وَهُمۡ دَٰخِرُونَ ﴾ په اعراب کښې د علماوو کرامو لاندې دوه نظرونه دي:

الف: ذکر شوي کلمات دواړه د ﴿ ظِلَٰلُهُۥ ﴾ دپاره دوه حالونه دي[١]، یعنې د ټولو کثیفو شیانو سوري په داسې حال کښې اوړي او رااوړي چې د یوه پلوه الله ﷻ ته په تکویني توګه سجده کوونکي دي او د بله پلوه دغه سوري الله ﷻ ته ذلیله او منقاد هم دي.

په دغه اعتبار سره دوهم حال تقریبًا د اولني حال مضمون تائیدوي چې سجده کول او منقاد ګرځېدل دواړه سره په مصداق کښې ډېر لرې نه دي.

ب: د ﴿ سُجَّدٗا ﴾ کلمه د ﴿ ظِلَٰلُهُۥ ﴾ څخه حال واقع شوې ده مګر د ﴿ وَهُمۡ دَٰخِرُونَ ﴾ جمله د ﴿ ظِلَٰلُهُۥ ﴾ د ضمیر څخه حال ده چې په ﴿ مِن شَيۡءٖ ﴾ کښې ﴿ شَيۡءٖ ﴾ ته راجع دی[٢]. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: ټول سوري اوړي را اوړي او الله ﷻ ته سجده کوونکي دي او پخپله سوري درلودونکي شیان هم د الله ﷻ قدرت ته ذلیل او غاړه ایښودونکي دي.

که څه هم د عربیت په اعتبار سره لومړنی اعراب په زړه پورې دی مګر د فائدې په اعتبار سره دوهم صورت بهتر برېښي او دا ځکه چې په دې صورت کښې تاسیس دی او د تاکید څخه خو تاسیس ښه دی.

## سوال جواب

٩ـ که څوک وایي چې: په ﴿ وَلِلَّهِ يَسۡجُدُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ مِن دَآبَّةٖ ﴾ کښې د ﴿ يَسۡجُدُ ﴾ کلمه د "سجود" څخه اشتقاقه شوې ده او "سجود" دې ته وایي چې یا سر په ځمکه باندې کېښودلی شي او یا انحناء وکړی شي[٣] حال دا چې دغه معنی په لمر، سپوږمۍ او نورو شیانو کښې تحقق نه شي موندلی؟

مونږ وایو چې:

الف: ذکر شوې دواړه معناوې د "سجود" کلمې دپاره شرعي او عرفي معناوې دي اما د "سجود"

---

(١) التفسیر الکبیر ج٢٠ ص۴٢
(٢) تفسیر الکشاف ج٢ ص۶٠٩
(٣) لسان العرب ج٣ ص٢٠۴، ٢٠۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لغوي معنی تذلل او عاجزي کول دي، چې لاندې دوه ډولونه لري[١]:

اول: هغه عاجزي کومه چې په اراده سره صورت نیسي، لکه پرښتې، انسانان او پیریان چې الله ﷻ ته خپله عاجزي څرګندوي او خپله سرونه ورته ښکته کوي.

دوهم: هغه عاجزي کومه چې پرته د ارادې څخه تحقق مومي چې د تسخیر په نامه سره یې بللی شو، نو په دغې معنی باندې ټول مخلوقات لکه جمادات، حیوانات او بالآخره نباتات او نور شیان الله ﷻ ته سجده کوونکي دي، چې ټول په هغو کارونو کښې مشغول دي د کومو دپاره چې پیدا کړی شوي دي، او ټول د الله ﷻ په وحدانیت باندې دلالتونه کوي چې شریک ورسره نشته.

ب: په دې باندې علاوه ټول مخلوقات الله ﷻ ته سجدې کوي که څه هم مونږ یې د سجدو په کیفیت باندې نه پوهېږو، لکه چې ټول مخلوقات یې تسبیحات وایي خو مونږ یې په کیفیت باندې علم نه لرو. الله ﷻ فرمایي چې: ﴿وَإِن مِّن شَيْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِۦ وَلَٰكِن لَّا تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ﴾ [الإسراء:۴۴] او هیڅ شی نه دی مګر د الله ﷻ د حمد (ثناء) سره تسبیحات وایي مګر تاسو یې په تسبیح ویلو باندې نه پوهېږئ.

د ښه وضاحت دپاره د ابو ذر ﷺ قیصه ولولئ چې: یوه ورځې نبي کریم ﷺ مخاطب کړ چې ای ابو ذره! ایا ته پوهېږې چې دا لمر کوم ځای ته ځي (کله چې غروب وکړي او ولوېږي)؟، ابو ذر ﷺ وویلې چې: الله ﷻ او د ده پیغمبر ﷺ ډېر ښه پوهېږي.

نو نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «فَإِنَّهَا تَذْهَبُ حَتَّى تَسْجُدَ تَحْتَ الْعَرْشِ فَتَسْتَأْذِنَ فَيُؤْذَنُ لَهَا وَيُوشِكُ أَنْ تَسْجُدَ فَلَا يُقْبَلَ مِنْهَا وَتَسْتَأْذِنَ فَلَا يُؤْذَنَ لَهَا يُقَالُ لَهَا ارْجِعِي مِنْ حَيْثُ جِئْتِ فَتَطْلُعُ مِنْ مَغْرِبِهَا»[٢] یعنې دا (لمر) لاړ شي حتی چې د عرش العظیم لاندې سجده وکړي، نو بیا اجازه وغواړي چې طلوع وکړي نو اجازه ورته وکړی شي او د خپل مطلع څخه تکراراً طلوع وکړي. خو داسې وخت هم راتلونکی دی چې لمر به نژدې وي چې د خپل عادت په مطابق سجده وکړي او د تکراري راختلو اجازه وغواړي، مګر د ده څخه به سجده قبوله نه کړی شي (د سجدې اجازه به ورنه کړی شي) او اجازه به وغواړي خو اجازه به ورنه کړی شي حتی چې ورته به وویلی شي چې د هغه ځایه بېرته وګرځه د کوم ځای څخه چې (د سجدې کولو او اجازې اخستلو دپاره) راغلی یې (چې د مغرب څخه عبارت دی)، نو لمر به بېرته خپل مغرب ته ورتاو شي او د همدغه مغرب څخه به طلوع وکړي. نو دغه وخت کښې به د توبې دروازه بنده شي.

ذکر شوی حدیث شریف ځینو علماوو کرامو ډېر ښه شرحه کړی دی[٣] که څوک د زیات تفصیل شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي.

---

(١) مفردات الراغب ص٢٢٩

(٢) صحیح البخاري ج١ ص۴۵۴؛ جامع الترمذي ج٢ ص١۵٨؛ مسند احمد بن حنبل ج٨ ص٨٢

(٣) عمدة القاري علی البخاري ج١۴ ص١١٩



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یادونې

۱۰ــ په دې مقام کښې لازمه ګڼو چې لاندې ټکو ته محترم لوستونکي متوجه کړو:

الف: په ذکرو شوو ایتونو کښې د قرآن کریم د تلاوت دریمې سجدې ته اشاره شوې ده هیله ده چې هېره نه کړی شي، چې مربوط احکام یې د الله ﷻ په توفیق د [الأعراف: ۲۰۶] ایت لاندې تېر شوي دي.

ب: یو پښتون شاعر د ذکرو شوو ایتونو مضمون په ډېره ښه توګه په خپلو اشعارو کښې ځای په ځای کړی دی(۱) په کار دي چې په دې مقام کښې یو ځل ولوستلی شي، څو بیتونه یې دا دي:

په نامــه د هغــه خــدای مــې دا بیــان دی :: چې یو نوم یې په نومونو کښې سبحان دی
په سجـود یې ځمکې سر دی لګولـی :: زوړند سر یې په رکوع سره اسمان دی
هـره ونــه پــه قــیــام ورتــه ولاړه :: هر ګیا یې په تسبیح سره ګویان دی
همـه واړه پـه تسبیـ ـح ده مشغـول دي :: که ملک دی که پېری دی که انسان دی
هر ماهي یې په دریاب کښې حمد وایي :: هر مرغه یې په چمن کښې ثناخوان دی
حق په حق یې ثنا هیچا نه ده کړې :: نه له هیچا واقع شوی دا بیان دی
مخلوقـاتـو هسې نه دی پېژاندلی :: لکه ده سره چې قدر د خپل ځان دی
نه یې زیـان نـه یې زوال نـه یې نقصان شته :: دی بې زیانه بې زواله بې نقصان دی
نه یې مثل نه یې مثال نه یې مکان شـته :: دی بې مثله بې مثاله بې مکان دی
که یې څوک په سترګو ویني نه لیدی شي :: او که وایي و هر چا وته عیان دی
منــزه دی د جمـلـه وو جهـتـونـو :: او بیا هر جهت په ده باندې ودان دی
د زرګـونـو صـفـتـونـو راشـه ګـوره :: نیم صفت یې کړی ما عبدالرحمن دی

﴿وَقَالَ ٱللَّهُ لَا تَتَّخِذُوٓاْ إِلَٰهَيۡنِ ٱثۡنَيۡنِۖ إِنَّمَا هُوَ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞ فَإِيَّٰيَ فَٱرۡهَبُونِ ﴿٥١﴾ وَلَهُۥ مَا فِي
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلَهُ ٱلدِّينُ وَاصِبًاۚ أَفَغَيۡرَ ٱللَّهِ تَتَّقُونَ ﴿٥٢﴾ وَمَا بِكُم مِّن نِّعۡمَةٖ فَمِنَ ٱللَّهِۖ
ثُمَّ إِذَا مَسَّكُمُ ٱلضُّرُّ فَإِلَيۡهِ تَجۡـَٔرُونَ ﴿٥٣﴾ ثُمَّ إِذَا كَشَفَ ٱلضُّرَّ عَنكُمۡ إِذَا فَرِيقٞ مِّنكُم بِرَبِّهِمۡ
يُشۡرِكُونَ ﴿٥٤﴾ لِيَكۡفُرُواْ بِمَآ ءَاتَيۡنَٰهُمۡۚ فَتَمَتَّعُواْ فَسَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ﴿٥٥﴾﴾

[۵۱] او الله ﷻ وایي چې (ای خلکو!) تاسو معبودان مه نیسئ (اقلاً) دوه (معبودان)، یقیناً (ستاسو) معبود (فقط) یو معبود دی (چې زه یم) نو خاص زما څخه وېدار شئ (او شریک راسره مه دروئ).

(۱) د عبدالرحمن مومند دیوان ص۱۹۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۵۲] او خاص الله ﷻ ته هغه شیان دي کوم چې په اسمانونو او ځمکو کښې دي، او (همدارنګه) خاص همده ﷻ ته په دوامداره توګه اطاعت (او انقیاد) دی، نو ایا تاسو د الله ﷻ څخه په غیر (د بل چا د عذاب څخه خپل ځانونه) ساتئ (ترې وېرېږئ)؟

[۵۳] او هر شی چې په تاسو پورې ارتباط لري چې د نعمت څخه عبارت دی نو (هغه ټول) د الله ﷻ د پلوه (تاسو ته درکړی شوی) دی، بیا (په دې باندې علاوه) چې کله ضرر (سختي) تاسو مسه کړي (درته ورسېږي) نو خاص همده ﷻ ته (په چیغو چیغو سوالونه (او زاری) کوئ.

[۵۴] بیا چې کله ستاسو څخه سختي لرې کړي (او سوال مو قبول کړي) نو ناڅاپه ستاسو څخه یوه ډله د خپل رب ﷻ سره شریکان دروي (او په کفر باندې کلک پاتې کېږي).

[۵۵] (چې ترڅو نتیجه یې دا شي) چې دوی په هغو (نعمتونو) باندې ناشکري وکړي کوم چې مونږ ورته ورکړي دي، نو (ای پیغمبره! دوی مخاطب کړه چې ای کفارو د الله ﷻ د نعمتونو څخه لنډه تنګه) استفاده وکړئ، نو ډېر ژر دی چې (په خپل انجام باندې به) پوه شئ.

## ارتباط

د وړاندېنیو ایتونو مضمون دا وه چې ټول مخلوقات الله ﷻ ته سر په سجده دي او ټول یې تسبیحات او ستاینه کوي، یا په بل عبارت: ټول د الله ﷻ په وحدانیت باندې شاهدي وایي او دلالت پرې کوي.

په دې ایتونو کښې د یو پلوه د وحدانیت د نقیض (شرک) څخه نهې (منعه) نازله شوې ده او د بله پلوه په وحدانیت باندې امر شوی دی او څه تائیدات یې بیان شوي دي چې حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! اوس نو خپل امت ته ابلاغ کړه چې الله ﷻ تاسو ته ارشاد کوي چې:

۱ـ ای خلکو! تاسو د شریک درولو څخه اجتناب وکړئ او د الله ﷻ سره په عبادت کښې اقلاً یو شریک هم مه دروئ چې معبودان مو دوه جوړ شي، یو الله ﷻ او بل هغه کوم چې تاسو پخپله درولی وي او په شرکت ورته قائل شوي یاست، او دا ځکه چې د یو شریک درول او د زرو شریکانو درول په کفر کښې یو برابر دي او په بطلان کښې یې هیڅ فرق نشته.

۲ـ ای خلکو! ستاسو حقیقي معبود نه دی مګر یو معبود دی چې الله ﷻ دی او بس. نو څرنګه چې تاسو هم د ټولو مخلوقاتو په ضمن کښې بلا اراده د الله ﷻ په وحدانیت باندې قائل یاست او بدون د ارادې څخه ورته غاړه ایښودونکي یاست، تاسو ته په کار دي چې بالاراده او بالاختیار هم د همده ﷻ په وحدانیت باندې قائل شئ او د توحید عقیده خپله کړئ.

۳ـ نو ای خلکو! یوازې او یوازې زما څخه وډار شئ چې زه په تاسو باندې هر ډول عذاب درنازلولی شم او هیڅوک بیا نجات نه شي درکولی، او دا ځکه چې:

الف: هرڅومره شیان چې په اسمانونو او ځمکو کښې موجودیت لري هغه ټول د الله ﷻ ملکیت دی، نو په هر ډول چې وغواړي همغسې تصرف پکښې کولی شي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: په دې باندې علاوه ټول مخلوقات په خوښه او ناخوښه د الله ﷻ اوامرو ته غاړې اېښودونکې دي او هيڅوک او هيڅ شی د ده ﷻ د ارادې څخه مخالفت نه شي کولی او نه توان لري، بلکې خاص همده ﷻ ته په دوامداره توګه او په مستمر ډول سره انقياد ثابت دی. نو په همدغه بنياد باندې تاسو ته پوښتنه متوجه کېږي چې: ايا تاسو د بل چا څخه نه بلکې د الله ﷻ څخه په غير د بل چا يا د بل شي څخه وېرېږئ چې هيڅ واک او وسه نه لري حتی چې په خپل ځان کښې هم څه د تصرف اختيار نه شي درلودلی.

ج: ای خلکو! په تاسو پورې چې هرڅومره (بې شمېره) نعمتونه ارتباط لري هغه ټول د الله ﷻ د پلوه دي او بس، همدی ﷻ لکه څنګه چې د نعمتونو په ورکړې باندې قدرت لري همدارنګه د نعمتونو په بېرته اخستلو باندې هم قادر دی، اما ستاسو باطل معبودان نه تاسو ته څه نعمت درکولی شي او نه يې درڅخه اخستلی شي.

د: برسېره په دې، کله چې تاسو ته څه تکليف او مشقت ورسېږي نو په دغه وخت کښې تاسو يوازې الله ﷻ ته زاری کوئ او د مشقت څخه د خلاصون او نجات سوالونه ترې کوئ، په دغه وخت کښې بيا ستاسو څخه خپل باطل معبودان بالکل هېرېږي او تاسو پوهېږئ چې هغوی څه نجات نه شي درکولی؛ نو تاسو ته څه مناسب دي چې د خوشالۍ او راحت په وخت کښې د باطلو معبودانو په عبادت باندې کلک ياست او د الله ﷻ ارشادات مو د پښو لاندې کړي دي.

هـ: دا د يو پلوه، او د بله پلوه کله چې الله ﷻ ستاسو سوالونه قبول کړي او هغه مشقات (سختي) او مشکلات درڅخه لرې کړي په کومو باندې چې تاسو پوهېدئ چې د دغو څخه نجات د بوتانو (باطلو معبودانو) په وسه کښې نشته، نو بيا همدا تاسو د خپل مهربان رب ﷻ سره همدغه ناتوانه باطل معبودان په عبادت کښې شريکوئ او خپل سرونه ورته په عبادت سره ټيټوئ، ايا تاسو ته د خپل دغه عمل څخه حيا نه درځي؟ ايا تاسو نه شرمېږئ؟

۴_ ای پيغمبره! د دغې ټګلارې نتيجه دا کېږي چې: مشرکان د هغو نعمتونو چې مونږ ورکړي دي او د هغه نجات چې مونږ ورته په نصيب کړی دی، ناشکري وکړي او په دائمي توګه په خپل کفر او ناشکرۍ باندې پاتې شي.

نو زمونږ د پلوه يو ځل بيا دوی ته اعلان وکړه او په ډاګه اخطار ورکړه چې: ای مشرکانو! د الله ﷻ د نعمتونو څخه په دنيا کښې لنډه تنګه استفاده وکړئ، ډېر ژر به پخپله خطا باندې پوه شئ او ډېر ژر به په خپلو کړو وړو باندې پښېمانه شئ خو په هغه وخت کښې به نه تاسو ته پوهه څه ګټه ورسوي او نه به مو پښېماني په درد باندې وخوري.

## توضيحات

۱_ که څوک وايي چې: په ﴿ لَا تَتَّخِذُوٓاْ إِلَٰهَيۡنِ ٱثۡنَيۡنِ ﴾ کښې د ﴿ إِلَٰهَيۡنِ ﴾ کلمه په دوه شيانو دلالت کوي چې يو وصف (عبوديت) دی او بل عدد (دوه) دی. نو پوښتنه دا ده چې د څه حکمت په

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بنیاد ذکره شوې کلمه په ﴿ ٱثۡنَيۡنِ ﴾ سره تعقیبه شوه حال دا چې د هغې په مدلول کښې "اثنین" یعني دوه شامل دي؟

مونږ وايو چې: علماوو کرامو نوموړي سوال ته متعدد جوابونه کړي دي[1]. لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: څرنګه چې په دې مقام کښې نهي ﴿ لَا تَتَّخِذُوٓاْ ﴾ وصف ته متوجه نه ده بلکې عدد ته متوجه ده نو په عدد باندې د ښه وضاحت دپاره صراحت وکړی شو[2] چې ای بندګانو! تاسو د عبادت څخه ممنوع نه یاست بلکې په عبادت کښې د معبود د تعدد څخه ممنوع یاست چې د تعدد ډېره وړه مجموعه فقط دوه ده ځکه چې ﴿ إِنَّمَا هُوَ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞ ﴾ یقینًا ستاسو واقعي معبود نه دی مګر یکي یو معبود دی چې الله ﷻ دی او بس.

ب: څرنګه چې د الوهیت سره تعدد منافي او مناقض دی نو د ﴿ ٱثۡنَيۡنِ ﴾ د کلمې په نزول سره د شرک هغه ابطال ته اشاره شوې ده کوم چې په [الأنبياء: ٢٢] ایت کښې نازل شوی دی[3]. نو حاصل به یې داسې را وخېژي چې: ای بندګانو! په عقیده کښې د تناقض څخه اجتناب وکړئ او د حقیقي معبود سره اقلاً دوهم معبود هم مه شریکوئ پاتې خو لا ډېر.

که بالفرض ستاسو عقیدې څه حقیقت درلودی نو د دنیا نظام به هرومرو خراب شوی وی.

## وصوب څه معنی؟

٢ـ په ﴿ وَلَهُ ٱلدِّينُ وَاصِبًا ﴾ کښې د "وَاصِب" کلمه د "وُصُوب" څخه اشتقاقه شوې ده. "وُصُوب" د یو شي مداومت (همېشوالي) ته ویل کېږي[4] نو حاصل به یې داسې راوخېژي چې: ای بندګانو! الله ﷻ ته په دوامداره توګه د مخلوقاتو بلا اراده انقیاد په عمومي توګه ثابت دی او په خصوصي توګه درته په مخلوقاتو کښې پرښتې بالاراده او بالاختیار دوامدار عبادت کوي، نو تاسو ته په کار دي چې همدغه د پرښتو لاره خپله کړئ او په بالاختیار عبادت کښې ورسره چاته اشتراک ورنه کړئ.

## سوال جواب

٣ـ که څوک وایي چې: د ﴿ إِذَا فَرِيقٞ مِّنكُم بِرَبِّهِمۡ يُشۡرِكُونَ ﴾ څخه څرګندېږي چې د سختیو د لرې کولو څخه وروسته د مشرکانو یوه ډله خپل سابقه شرک او سابقه عقیدې ته ادامه ورکوي حال دا چې په دغه وخت کښې خو ټول کفار په خپله باطله عقیده باندې ودرېږي، نه دا چې دا کار یوه ډله کوي؟

مونږ وایو چې: ځینو علماوو کرامو په ﴿ مِّنكُم ﴾ کښې د "مِنْ" توری د بیان دپاره اخستی دی[5]،

---

(١) التفسیر الکبیر ج٢٠ ص٤٧

(٢) روح المعاني ج١٤ ص١٦٢

(٣) تفسیر القاسمي ج١٠ ص١١٥

(٤) لسان العرب ج١ ص٧٩٧

(٥) تفسیر الکشاف ج٢ ص٦١١

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو د مغنی حاصل يې داسې راځېږي چې: په دغه وخت کښې یوه ډله د خپل رب ﷻ سره شریکان دروي چې دغه ډله همدا ستاسو ټولو څخه عبارت ده.

مگر مونږ ته بهتره برېښي چې ذکر شوی توری به د تبعیض دپاره وي، او دا څکه چې په کفارو کښې ځینې داسې خلک پیدا کېږي چې د سختیو د لرې کېدلو څخه وروسته په ایمان باندې مشرف گرځي، لکه څنگه چې عکرمه بن ابي جهل د مکې معظمې د فتحې په وخت کښې وتښتېد او په بېړۍ کښې سور شو خو کله چې بېړۍ طوفاني شوه او بیا الله ﷻ د غرقېدلو څخه بچه کړه نو نوموړی عکرمه په زغرده نبي کریم ﷺ ته ورغی او په ایمان مشرف شو(1) چې د "رضي الله عنه" مستحق جوړ شو.

د دې قیصې پوره تفصیل د [الأنعام: ٤١] ایت لاندې لیکلی شوی دی، ولله ﷻ الحمد والشکر علی ذلک.

﴿ وَيَجْعَلُونَ لِمَا لَا يَعْلَمُونَ نَصِيبًا مِّمَّا رَزَقْنَٰهُمْ ۗ تَٱللَّهِ لَتُسْـَٔلُنَّ عَمَّا كُنتُمْ تَفْتَرُونَ ﴿٥٦﴾
وَيَجْعَلُونَ لِلَّهِ ٱلْبَنَٰتِ سُبْحَٰنَهُۥ ۙ وَلَهُم مَّا يَشْتَهُونَ ﴿٥٧﴾ وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم بِٱلْأُنثَىٰ ظَلَّ
وَجْهُهُۥ مُسْوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ ﴿٥٨﴾ يَتَوَٰرَىٰ مِنَ ٱلْقَوْمِ مِن سُوٓءِ مَا بُشِّرَ بِهِۦٓ ۚ أَيُمْسِكُهُۥ عَلَىٰ
هُونٍ أَمْ يَدُسُّهُۥ فِى ٱلتُّرَابِ ۗ أَلَا سَآءَ مَا يَحْكُمُونَ ﴿٥٩﴾ لِلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْـَٔاخِرَةِ مَثَلُ
ٱلسَّوْءِ ۖ وَلِلَّهِ ٱلْمَثَلُ ٱلْأَعْلَىٰ ۚ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٦٠﴾ وَلَوْ يُؤَاخِذُ ٱللَّهُ ٱلنَّاسَ بِظُلْمِهِم مَّا
تَرَكَ عَلَيْهَا مِن دَآبَّةٍ وَلَٰكِن يُؤَخِّرُهُمْ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى ۖ فَإِذَا جَآءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَـْٔخِرُونَ
سَاعَةً ۖ وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ﴿٦١﴾ وَيَجْعَلُونَ لِلَّهِ مَا يَكْرَهُونَ وَتَصِفُ أَلْسِنَتُهُمُ ٱلْكَذِبَ
أَنَّ لَهُمُ ٱلْحُسْنَىٰ ۖ لَا جَرَمَ أَنَّ لَهُمُ ٱلنَّارَ وَأَنَّهُم مُّفْرَطُونَ ﴿٦٢﴾ ﴾

[٥٦] او مشرکان هغو (بوتانو) ته برخه گرځوي د کومو (په گټه او تاوان) باندې چې دوی علم نه لري (البته دا برخه دوی) د هغو مالونو څخه (ورته جدا کوي) کوم چې مونږ ورته روزي کړې دي (او بوتان پکښې هیڅ دخل نه لري).

په الله ﷻ باندې سوگند دی چې هرومرو ضرور به تاسو د هغه شي څخه وپوښتلی شئ کوم چې تاسو یاست (چې د هغه) دروغ جوړوئ.

---

(١) الإصابة في تميز الصحابة ج٢ ص٤٩٦

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۵۷] او (همدارنګه) دوی الله ﷻ ته لورګانې ټاکي (چې پرښتې بنات الله دي). الله ﷻ ته (د دغسې چټلو خبرو څخه) پاکې ده، (مشرکان ذکره شوې ټاکنه) په داسې حال کښې (کوي) چې دوی ته هغه شی دی کوم ته چې دوی ډېر رغبت کوي (چې هغه دنارینه اولادونو څخه عبارت دی).

[۵۸] او کله چې د مشرکانو کوم یوه کس ته په لور (زېږېدلو) باندې زیری (خبر) ورکړی شي نو مخ یې (له ډېره غمه) تک تور وګرځي حال دا چې (په خپله ماندینه باندې) د غُصې څخه ډک وي (چې لور به دې نه زېږولی).

[۵۹] (حتی چې د غم او غُصې په حال کښې) د خپل قوم څخه پټېږي (البته) د هغه بد خبر له کبله په کوم باندې چې هغه ته زیری (خبر) ورکړی شوی وي (چې ته د لور پلار جوړ شوې، نوموړی د پټوالي په حال کښې تصمیم نیسي چې) ایا خپله لور د سپکاوي سره-سره وساتي او که په خاورو کښې یې پټه (دفنه) کړي.

خبردار! هغه شی ډېر بد شی دی په کوم باندې چې دوی حکم کوي (چې الله ﷻ ته اولاد او لورګانې دي).

[۶۰] (نو ای پیغمبره!) خاص د هغو کسانو دپاره چې په آخرت باندې عقیده نه لري بدمثال (حالت) دی او خاص الله ﷻ ته لوړ مثال (او لوړ صفت) دی، او الله ﷻ عزیز دی (د ارادې مخه یې هیڅوک نه شي نیولی او) د حکمت څښتن دی (که نه نو مشرکان به یې سمدستي پوپنا کړي وی).

[۶۱] او که الله ﷻ خلک د دوی په ظلم سره (په عجله باندې) نیوی نو په ځمکه باندې به یې هیڅ حرکت کوونکی (ښورېدونکی ژوندی) نه وی پرېښی؛ مګر الله ﷻ خلک د ټاکلې شوې نېټې پورې وروسته کوي (او په عجله سره یې نه نیسي)، نو کله چې د دوی (ټاکلې شوې) نېټه راشي بیا به دوی (د نېټې څخه) نه یوه ګړۍ وروسته شي او نه به (ترې) وړاندې شي.

[۶۲] او مشرکان الله ﷻ ته هغه شی ګرځوي (ثابتوي) کوم چې دوی یې (د خپلو ځانونو دپاره) بدګڼي (او نه یې خوښوي، خو د دې سره-سره) د دوی ژبې دروغ بیانوي چې یقیناً دوی ته (د الله ﷻ په نزد) ډېره ښه درجه ده، (دغسې نه ده لکه چې دوی خیال کوي) په حقه سره بې شکه دوی ته (د الله ﷻ په نزد) اور (دوزخ) دی او بې شکه دوی (د نورو کافرانو څخه اورته) وړاندې کړی شوي دي (چې ړومبی به پکښې ور واچولی شي).

## ارتباط

د وړاندېنیو نږدې ایتونو مضمون دا وه چې مشرکان د الله ﷻ د نعمتونو ناشکري کوي، په دې ایتونو کښې همدغه مضمون تعقیب شوی دی چې دوی برسېره په ناشکرۍ د یو پلوه د الله ﷻ په نعمتونو کښې خپلو باطلو معبودانو ته په برخه قائل دي او د بله پلوه د نعمتونو توهین کوي او خپلو اولادونو (لورګانو) ته د اهانت په نظر ګوري، مګر د دغسې لویو جنایتونو سره سره په آخرت کښې د لوړې درجې تمه لري، نو حاصل یې داسې راوځي:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! په خپل امت باندې د کفارو څه نور جنایتونه هم قرائت کړه، هغه دا چې:

١ـ کله چې الله ﷻ مشرکان د مشکلاتو څخه خلاص کړي او یاورباندې څه نعمتونه وراضافه کړي نو دوی د ناپوهۍ او جهالت د کبله خیال کوي چې دا کار زمونږ بوتانو وکړ، نو د همدې کبله خپلو بوتانو (باطلو معبودانو) ته په هغو نعمتونو او مالونو کښې چې یوازې مونږ ورپېرزو کړي دي څه برخه ټاکي. یا په بل عبارت: دوی په دغه وخت کښې د بوتانو شکریه او منته کوي نو په خپلو مالونو او څارویو کښې ځینې څاروي د خپلې استفادې څخه وباسي او د بوتانو په نامه باندې یې ازاد پرېږدي، چې نه یې څوک غوښه خوري او نه ورباندې څوک سورېږي.

نو ای پیغمبره! زمونږ د پلوه مشرکان په سوګند سره مخاطب کړه چې په الله ﷻ دې زما سوګند وي چې هرومرو او خامخا به تاسو د دغو افتراګانو او دروغو څخه وپوښتلی شئ، او مناسبه جزا به په دوزخ کښې درکړی شي.

٢ـ ای پیغمبره! د مشرکانو بل ډېر لوی کفري جنایت دا دی چې د یو پلوه پرښتو ته د لورګانو (ښځینه وو) لقب ورکوي او د بله پلوه همدغه خیالي ښځینه پرښتې د الله ﷻ لورګانې ګڼي.

نو ته ورته ووایه چې: الله ﷻ د اولاد څخه مطلقًا پاک او منزه دی، نه ښځینه اولاد لري او نه نارینه، نه پخپله د چا څخه زېږېدلی دی او نه یې بل څوک زېږولی دی او بالآخره نه ورسره توالد او تناسل مناسبت لري بلکې دا د ممکناتو (محتاجانو) صفت دی او بس.

٣ـ د مشرکانو بله ډېره غټه بې ادبي لا دا ده چې د خپلو ځانونو دپاره زامن خوښوي او د لورګانو څخه نفرت لري خو د دې سره-سره د همدغه منفور اولاد نسبت الله ﷻ ته کوي.

یا په بل عبارت: الله ﷻ د خپلو ځانونو څخه هم په رتبه او منزلت کښې ښکته ګڼي، چې هغه ﷻ ته د لورګانو د پلار لقب ورکوي خو کله چې د دوی په کوم یوه کس باندې دغه لقب کېښودل شي او د لور پلار جوړ شي نو د لاندېنې کیفیت سره مخامخ کېږي:

الف: د مشرکانو څخه چې چاته زیری (خبر) ورکړی شي چې ستا ماندینې لور وزېږوله نو د دغه خبر د اورېدلو سره سم یې د ډېر خپګان او غم څخه مخ تک تور واوړوي، ته به وایې چې کوم لوی مصیبت ورباندې ورنازل شو او د غټ مشکل سره مخامخ شو.

ب: حتی په دغه وخت کښې د ډېر جهالت د کبله په خپله ماندینه باندې په غُصه کېږي چې ولې دې زوی ونه زېږاوه، ته به وایې چې د زوی یا لور زېږول د ښځو په اختیار کښې دي او د الله ﷻ په اختیار کښې نه دي؛ نو په حقیقت کښې د نوموړي غُصه الله ﷻ ته راجع کېږي چې ولې دې زوی رانه کړ چې لور دې را وبښله.

ج: مشرکانو ته د لور زېږېدنه توهین برېښي نو د همدې کبله د لور پلار د څه وخته پورې د خپل قوم څخه شرمېږي او سترګې ورسره نه شي مخامخ کولی چې پیغور به ورکړي، نو د هغه وخته پورې ترې پټېږي ترڅو د لاندې دوه وو خبرو څخه یوه خبره خوښه کړي او التزام یې وکړي:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: چې لور ژوندۍ پرېږدي او د يو پلوه د خپل قوم په وړاندې خجالت او اهانت په غاړه واخلي او د بله پلوه التزام وکړي چې خپله لور به ترې تر آخره عمره پورې عزت په سترګو ونه ګوري، او په دوامداره توګه به د ذلت او اهانت په ژوند کښې کړېږي.

دوهم: بله دا چې خپل ځان د خجالت څخه بچ کړي او خپله لور د ژوند څخه خلاصه کړي او په يوه بې رحمانه قتل سره يې قتله کړي چې ژوندۍ يې د خاورو څخه لاندې کړي او خاورې پرې وروا ړوي.

۴ـ خبردار! هغه ډېر بد او ناکاره حکم دی چې مشرکان يې د لورګانو په هکله کوي، هغه دا چې د يو پلوه لورګانې سپکې ګڼي او د بله پلوه همدغه لورګانې الله ﷻ ته نسبتوي، چې په پرښتو باندې د بنات الله نوم ږدي.

۵ـ ای پيغمبره! هغو خلکو ته کوم چې په آخرت باندې عقيده او ايمان نه لري، بد صفت دی او ناکاره حال دی، هغه دا چې اولاد ته اړتيا لرئ ترڅو د دوی د مرګ څخه وروسته د دوی په ځای باندې ودرېږي، د کمزورۍ په وخت کښې ترې د کومک استفاده وکړي او په دښمنانو باندې پرې غلبه حاصله کړي، او بالآخره لورګانې ځکه ژوندۍ ښخوي (وژني) چې د يو پلوه يې عار ګڼي او د بله پلوه يې د سوګتیـ (بخل) د کبله په نفقه باندې سختي کوي.

مګر بالمقابل الله ﷻ ته لوړ صفت دی، چې ازلي او ابدي دی، د ټولو احتياجاتو څخه پاک او منزه دی او بالآخره په خزانو کښې يې هيڅ شی نه کمېږي او د هرشي روزي رسان دی.

۶ـ ای پيغمبره! د مشرکانو د هلاکولو او پوپنا کولو دپاره ذکر شوی جنايت کفايت کوي چې الله ﷻ ورباندې بېخ ويستونکی عذاب ورنازل کړي، مګر د دې سره سره چې د الله ﷻ د ارادې مخه هيڅوک نه شي نيولی الله ﷻ د حکمت څښتن هم دی، نو دا د حکمت غوښتنه ده چې مشرکانو ته مهلت ورکوي او سمدستي ورباندې عذاب نه ورښکته کوي.

۷ـ د همدې کبله چې الله ﷻ حکيم دی، د ګناهونو په سبب سره خلک په عجله باندې نه نيسي، که بالفرض په عجله سره يې نيولی نو په ځمکه باندې به يې هيڅ حرکت کوونکی ژوندی نه وی پرېښی او ټول به يې هلاک کړي وی، خو دا کار د حکمت څخه مخالف دی چې په دې صورت کښې د امتحان لمن ټولېږي او د وخت څخه وړاندې په ځمکه کښې د انسان خلافت اختتام پيدا کوي.

هو! کله چې د دنيا د ورانولو او د انسان د خلافت د ختمولو هغه وخت را ورسېږي کوم چې د الله ﷻ په نزد باندې ټاکلی شوی او مقرر دی نو هلته به د ټولو خلکو د مرګ نېټه نه يوه ګړۍ وروسته کړی شي او نه به وړاندې کړی شي.

۸ـ په دې ټولو باندې علاوه (ای پيغمبره) د مشرکانو عجيبه وينا لا دا ده چې د ذکرو شوو جناياتو سره سره د دوی ژبې په دروغو باندې چلېږي چې يقيناً د الله ﷻ په نزد دوی د لوړې رتبې او منزلت خاوندان دي، ته به وايې چې د دوی ذکر شوي جنايات يو هم جنايت نه دی بلکې د عبادتونو مجموعه ده.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



٩_ دغسې نه ده لکه چې مشرکان خيال کوي، په يقين سره د الله ﷻ په نزد د دوی دپاره اور (دوزخ) ټاکلی شوی دی او په يقين سره دوی هغه ته ورتېل وهل شوي دي، چې سر په ځړې به پکښې ور واچولی شي او هيڅکله به ترې نجات مونده نه کړي.

## توضيحات

١_ په ﴿ وَيَجْعَلُونَ لِمَا لَا يَعْلَمُونَ نَصِيبًا ﴾ کښې ځينو علماوو کرامو د "يَعْلَمُونَ" د ضمير راجع کول بوتانو ته هم جائز ګڼلی دی[1] يعنې مشرکان په خپلو مالونو کښې هغو بوتانو ته برخه ټاکي کوم چې جمادات دي او په هيڅ شي باندې نه پوهېږي.

مګر مونږ ته بهتره برېښي چې ذکر شوی ضمير به مشرکانو ته راجع وي. يعنې مشرکان خپلو هغو بوتانو ته په خپلو مالونو کښې د تقرب دپاره برخه ټاکي په کومو باندې چې مشرکان علم نه لري چې هغوی ناتوانه دي او هيڅا ته نه ګټه رسولی شي او نه يې ورته ضرر رسول په وسه کښې شته.

هو! د [الأنعام:١٣٩] ايت لاندې د هغې برخې ځو مثالونه ښه پوره شرحه شوي دي کومه به چې مشرکانو په خپلو مالونو کښې جدا کوله، نو هيله ده چې هلته يو ځل مراجعه وکړی شي.

## الله ﷻ د ولديت څخه پاک او منزه دی

٢_ په ﴿ وَيَجْعَلُونَ لِلَّهِ ٱلْبَنَٰتِ سُبْحَٰنَهُ ﴾ کښې الله ﷻ د مشرکانو هغه شرکي عقيده رده کړې ده چې پرښتو ته به يې د بنات الله (د الله ﷻ لورګانې) لقب ورکاوه، دغه عقيده په دوه وو جناياتو باندې شامله ده:

الف: يو دا چې الله ﷻ اولاد لري،

ب: بله دا چې الله ﷻ په اولادونو کښې ښځينه (زنانه) اولادونه لري چې پرښتې دي او بس.

الله ﷻ د مشرکانو د لومړنې جنايت رد په ډېرو ايتونو کښې کړی دی، لکه د [البقرة:١١٦] ايت او [الأنعام:١٠١] ايت، چې الله ﷻ بالکل د ولديت څخه پاک او منزه دی، برابره خبره ده چې نارينه ولد وي او که ښځينه.

په دې مقام کښې د ولديت موضوع د دوهم جنايت په اعتبار سره مطرحه شوې ده نو حاصل يې داسې کېږي چې: مشرکان د الله ﷻ په باره کښې دومره سپين سترګي او بې ادبي کوي چې په اولادونو کښې ورته ښځينه اولادونه ثابتوي حال دا چې دغه ډول اولادونه د خپلو ځانونو دپاره عار او شرم ګڼي. نو که بالفرض مشرکانو پرښتې د ابناء الله (د الله ﷻ زامن) په نامه يادې کړې وی نو بيا به د يوه کفري جنايت مرتکب شوي وی او بس، هسې نه چې په دې صورت کښې به دوی په حقه وي او د کفري جنايت څخه به بچ شوي وي.

---

(١) البحر المحيط ج۶ ص۵۴٧

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د ذکر شوي رد نظير ته په راتلونکي [النحل:۷۱] ایت کښې اشاره شوې ده، چې مشرکان د خپلو ځانونو سره د خپلو مملوکانو (غلامانو) اشتراک نه قبلوي مګر په دې رووادار دي چې د الله ﷻ سره د ده ﷻ مملوکان او مخلوقات شريک او برخوال وګرځي.

## هېر مو نه شي!

۳ـ هېر مو نه شي چې پرښتې لکه څنګه چې موئنثې (ښځینه) نه دي همدارنګه مذکرې (نارینه) هم نه دي، مګر په عربي ژبه کښې ترې په مذکر سره ځکه تعبير کېږي چې په کلماتو کښې تذکير اصل دی او تانيث فرعه دی. الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ قُلْ يَتَوَفَّىٰكُم مَّلَكُ ٱلْمَوْتِ ٱلَّذِى وُكِّلَ بِكُمْ ﴾ [السجدة:۱۱] يعنې اى پيغمبره! ورته ووايه چې: د مرګ هغه پرښته به مو (ارواګانې) واخلي کومه چې په تاسو باندې مقرره کړی شوې ده.

اما په نورو ژبو کښې د هرې ژبې استعمال پورې اړه لري مثلاً په پښتو ژبه کښې ترې په موئث سره تعبير کېږي لکه چې د همدغه ایت په ترجمه کښې دستي تېر شو. يا په بل عبارت: په دغه ډول کلماتو کښې صرف لفظ ته کتلی کېږي او تعبير په نظر کښې نيول کېږي او بس.

د ښه وضاحت دپاره لاندې مثال ولولئ:

که مونږ هغه شی کوم ته چې په عربي ژبه کښې حجر وايي په "تيږه" ترجمه کړو نو موئث ګرځي، او که په کټ سره يې تعبير کړو نو بيا مذکر جوړېږي، حال دا چې حقيقت په دواړو صورتونو کښې يو دی او هيڅ بدلون پکښې نه دی واقع شوی.

## کظم څه معنی؟

۴ـ په ﴿ وَهُوَ كَظِيمٌ ﴾ کښې د ﴿ كَظِيمٌ ﴾ کلمه د "کَظْم" ـ لکه "قتْل" ـ څخه اشتقاقه شوې ده. "کَظْم" دې ته وايي چې يو سړی خپل غم او غُصه په زړه کښې وساتي او ورباندې چپ پاتې شي[۱] ته به وايي چې د ستوني څخه نيولی شوی دی او نَفَس يې بند کړی شوی دی[۲]. د ايت شريف د نزول په وخت کښې لورګانې خلکو ته ډېر غټ مصيبت ښکارېده، نو کومې زنانه به چې لور وزېږوله نو خاوند به يې ورته په غُصه وه خو غُصه به يې په زړه کښې ساتله او د ډېر غم غُصې د کبله به د خپلې ماندينې سره نه مخامخ کېده؛ لاندې وضاحت يې ولولئ[۳]:

الف: ځينې علماء کرام د خپلې زمانې څه حکايت کوي چې د يوه سړي په کور کښې لور وزېږېدله نو سمدستي يې خپلې ماندينې ته طلاق ورکړ چې زوی به دې زېږولی وی. ته به وايې چې د اولاد نوعيت د ښځو په واک کښې دی.

(۱) لسان العرب ج ۱۲ ص ۵۰۲
(۲) البحر المحيط ج ۶ ص ۵۴۸
(۳) روح المعاني ج ۱۴ ص ۱۶۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: يو خل يوې ښځې لور وزېږوله او نوم يې ورباندې "ذَلْفَاء" کېښوده کله چې يې خاوند خبر شو نو د خپلې ښځې سره يې بالکل رابطه پرې کړه او هغې کوټې ته به نه ورننووت په کومه کښې چې ذلفاء او د دې مور اوسېده. نو د ذلفاء مور همدغه کيفيت په اشعارو کښې داسې راټول کړ چې:

مَا لِاَبِي الذَّلْفَاءِ لَا يَاتِينَا :: يَظِلُّ فِي الْبَيْتِ الَّذِي يَلِينَا

يَحْرُدُ أَنْ لَا نَلِدَ الْبَنِينَا :: وَإِنَّمَا نَاخُذُ مَا يُعْطِينَا

يعنې د ذلفاء پلار ولې مونږ ته نه راځي او په هغې کوټه کښې اوسېږي چې مونږ ته نژدې ده؟. د دې کبله د راتګ څخه امتناع کوي چې مونږ زامن نه دي زېږولي، حال دا دی چې يقيناً مونږ هغه شی اخلو کوم چې مونږ ته يې الله ﷻ راکړي (نارينه اولاد وي او که ښځينه).

## د "هُون" معنی

۵ـ په ﴿ أَيُمْسِكُهُۥ عَلَىٰ هُونٍ ﴾ کښې د ﴿ هُونٍ ﴾ کلمه د رسوايي او سپکاوي معنی ورکوي چې عزت او احترام ورسره مناقض دی[١]، په دې مقام کښې علماوو کرامو ذکر شوي کلمات په لاندې دوه وو ډولونو سره تفسير کړي دي[٢]:

الف: د ﴿ عَلَىٰ هُونٍ ﴾ کلمات د لور د پلار سره ارتباط لري. يعنې د لور پلار به په دې فکر کښې وه چې ايا خپله لور ژوندۍ پرېږدم او هغه رسوايي او سپکاوی قبول کړم کوم چې ماته د لور د زېږېدلو په سبب رامخامخ شوی دی؟

ب: دغه کلمات د خپلې زېږولې شوې ماشومې سره تړاو لري. يعنې هغه به چرت واهه چې ايا خپله لور د رسوايي او سپکاوي په حال باندې ژوندۍ پرېږدم؟. د سپکاوي څو مثالونه يې ولولې:

اول: لور به يې د زوی سره نه برابروله حتی لور ته به يې ميراث نه ورکاوه[٣].

دوهم: وړينې جامې به يې وراغوستلې او په بېديا کښې به يې ورباندې ګډې او اوښان څرول[٤].

## د لورګانو د وژلو ډولونه

۶ـ په ﴿ أَمْ يَدُسُّهُۥ فِي ٱلتُّرَابِ ﴾ کښې د ﴿ يَدُسُّهُ ﴾ کلمه د "دَس" ـ لکه "مَدّ" ـ څخه اشتقاقه شوې ده. "دَس" دې ته ويل کېږي چې په اکراه (زور) سره يو شی په بل شي کښې داخل کړی شي[٥]. يعنې د لور پلار به فکر کاوه چې ايا خپله لور په خاورو کښې په زور ژوندۍ ښخه کړم که څنګه؟

مونږ ـ لله الحمد ـ د [الأنعام: ١٣٧] ايت لاندې د هغه چا نوم ليکلی دی کوم چې په اول خل يې ذکر شوی بې رحمانه عمل اجراء کړی وه او نورو ته يې اساس ايښی وه، مونږ هلته ليکلي دي چې

---

(١) لسان العرب ج١٣ ص٤٣٨

(٢) البحر المحيط ج۶ ص٥٤٩

(٣) تفسير ابن کثير ج٢ ص٥٧٣

(٤) تفسير البغوي ج٣ ص٧٣

(٥) مفردات الراغب ص١٧١

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په عربو کښې دغه بې رحمانه عمل یوازې په لورګانو پرې اختصاص نه درلود بلکې هغوی به خپل زامن هم کله کله وژل، او هلته مو د اولاد وژنې وجوهات هم لیکلي دي چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو، مګر لاندې معلومات وربانديې وراضافه کوو:

الف: کله به چې د لور پلار تصمیم ونیوه چې خپله لور ووژني نو هغه به یې تر شپږ کلنۍ پورې ژوندۍ پرېښودله، بیا به یې ښې جامې ور واغوستلې او ښه به یې ښائسته کړه چې چرته د خپلوانو کورته ځو، حال دا چې په بیدیا کښې به یې ورته لا وړاندې کنده کنودلې وه، نو کله به یې چې هلته ورسوله نو د شا د پلوه به یې ورټیل وهله او خاورې به یې وربانديې انبار کړې[1].

ب: ځینو به خپلې لورګانې د پسه پشان ذبحه کولې، ځینو به په اوبو کښې غرقولې، حتی ځینو به د غره د لوړې څوکې څخه ښکته غورزولې او یا به یې د لوړ کمره څخه کندې ته ختا کولې او داسې نور[2]. نو کوم ډول وژنې ته چې په ایت شریف کښې اشاره شوې ده هغه د مثال په توګه ده او حصر پکښې مطلب نه دی.

## یادونه

۷ـ دغه بې رحمانه عمل په ټولو قبائلو کښې رواج نه وه بلکې په درېوو قبیلو (مضر، خزاعه، بني تمیم) کښې یې رواج درلود، خو د بني تمیم قبیله پکښې د ټولو څخه زیاته متشدده (سختې کوونکې) وه. په دغو درېوو قبیلو کښې هم ټول افراد په دغه کرغېړن عمل باندې اخته نه وه، بلکې په دوی کښې هم ځینې داسې زړه سواندو خلکو موجودیت درلود چې د لور پلار ته به یې د لور د وژنې د مخنیوي دپاره اوښ یا اوښان د فدیې په توګه ورکول چې لور مه وژنه او د هغې په عوض دغه فدیه قبوله کړه[3].

## ایا نن هم لور وژنه شته؟

۸ـ نن ورځ[4] هم داسې قومونه شته چې د ذکر شوي ایت شریف مصداقونه دي نو دوی ته په کار دي چې د الله ﷻ ارشاد عملي کړي او خپل ځانونه اصلاح کړي. د اصلاح بله لاره نشته بې د دې څخه چې په قرآن کریم باندې د عقیدې سره عمل ملګری کړي او په یوازې عقیده باندې اکتفاء ونه کړي.

د اوسنیو ځینو خلکو په کور کښې چې کله لور وزېږېږي د څه تفکر څخه وروسته (د پخوانیو خلکو غوندې) د هغې په هکله د لاندې دوه وو لارو څخه یوه لاره غوره کوي:

الف: یا لور ته د توهینولو نیت کوي او ژوندۍ یې پرېږدي او پخپله هم د لور په توهین سره د سپکاوي او اهانت متحمل کېږي چې د توهین صورتونه یې دا دي:

---

(۱) تفسیر الخازن ج۳ ص۶۱۲

(۲) روح المعاني ج۱۴ ص۱۶۹ ؛ التفسیر الکبیر ج۲۰ ص۵۶

(۳) تفسیر القرطبي ج۱۰ ص۱۱۷

(۴) ۱۳۷۶/۹/۱ هـ ش

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: هغوی به د توهین په غرض ورېنې جامې وراغوستې، خو دوی مینې ژوب (نیم بربنډې) جامې وراغوندې.
دوهم: هغوی بیدیا ته استولې خو دوی یې بازارونو ته ورخوشې کوي، چې بې پردې پکښې ګرځي راګرځي.
درېم: هغوی به پرې شپنې کوله او څاروي به یې وربانديې ځرول خو دوی وربانديې د نارينه وو سره مخلوطه (ګډه) زده کړه کوي.
ب: او یا د تفکر څخه وروسته دې نتیجې ته رسېږي چې خپله لور ووژني، مګر د وژلو څېرې او اشکال یې د پخوانیو د لور وژنې د اشکالو څخه جدا دي، هغه دا چې:
اول: خپله لور د رشوت (ولور) په اخستلو سره ودوي، هرچا چې ډېرې پیسې ورکړې هغه ته یې ورمبارکه کوي، د لور څخه رضایت نه اخلي او پوښتنه ترې نه کوي، ته به وایې چې لور یې یوه غوا ده او په بازار کښې یې خرڅلاو ته وړاندې کړې ده.
په دغه وخت کښې هیڅ پروا نه ساتي چې ولور (رشوت) ورکوونکی زوړ (بوډا) وي او یا ځوان، لیونی وي او که په سد، نېکخویه وي او که بدخویه، بډای وي او که غریب او داسې نور.
دوهم: په اکثرو وختونو کښې ذکر شوی رشوت (ولور) لاس په لاس په نقده توګه اخستلی کېږي خو کله-کله په نسیا ډول باندې هم صورت نیسي، چې یا یې ترې په قسطونو باندې ترلاسه کړي او یا په خپل زوم باندې د خپلو اقاربو کوم یوه د ولور (د نکاح رشوت) ورکړه شرط کړي، چې د فلاني په نکاح کښې د ولور ورکړه ستا په غاړه ده، زوم دغه فاسد شرط مني او د یوه سند په ډول دا معامله په کاغذ باندې لیکلی کېږي او شاهدان وربانديې درولی کېږي، العیاذ بالله.
درېم: داسې مو هم اورېدلي دي چې یوه سړي خپله لور په وزن سره خرڅه کړه چې دیوه کیلو قیمت یې ورسره پنځه زره (۵۰۰۰) کالداري ټاکلی وه، چې تقریبًا درې لکه (۳۰۰۰۰۰) کالداري یې ډکې کړې.
څلورم: د خپلې لور ودول په دې زمانه کښې د شغار په توګه په ډېرو قومونو کښې رواج دي.
"شِغار" _لکه "حِصَار"_ دې ته وایي[1] چې یو سړی خپله لور بل سړي ته په دې شرط ورمبارکه کړي چې هغه هم نوموړي سړي ته په بدل کښې د خپلې لور تبریک ووایي، حال دا چې نه ذکرو شوو دواړو سړیو یوه د بل څخه رشوت (ولور) اخستی وي او نه دواړو زنانه وو ته مهرونه ټاکلي شوي وي، ته به وایې چې هره یوه زنانه د بلې دپاره د مهر په ځای باندې ودرولې شوې ده.
د شغار ذکر شوی تعریف په دوه وو لورګانو کښې او په دوه سړیو کښې د مثال په توګه ښودلی شوی دی که نه نو دا تعریف په خورګانو او نورو خپلوانو زنانه وو کښې او هم په زامنو او نورو خپلوانو نارینه رو کښې هیڅ اختلاف نه لري.

---

(١) صحیح البخاري ج٢ ص١٠٢٩؛ سنن ابي داوٗد ج١ ص٢٨٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د شغار په باب معلومات

الف: په ډېرو احادیثو کښې شغار ممنوع ښودلی شوی دی، لاندې مثالونه یې ولولئ:

اول: د متعددو صحابه وو کرامو ﷺ څخه روایت دی چې: «نَهَى رَسُولُ اللهِ ﷺ عَنِ الشِّغَارِ»[١] نبي کریم ﷺ د شغار څخه منعه کړې ده.

دوهم: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لَا شِغَارَ فِي الْإِسْلَامِ»[٢] په اسلام کښې شغار نشته (دا غیر اسلامي کار دی).

ب: د ټولو علماوو کرامو په اجماع سره شغار غیر شرعي شی دی او په اسلام کښې ممنوع دی، مګر په دې کښې اختلاف دی چې د شغار په توګه نکاح باطله ده او که نه، یا په بل عبارت: په عدم جواز کښې یې اختلاف نشته بلکې په عدم نفاذ کښې یې اختلاف دی[٣].

ج: جمهور (اکثریت) علماء وایي چې ذکره شوې نکاح باطله ده او هیڅ صحت نه لري[۴] مګر احناف علیهم الرحمة وایي چې: یوازې شرط (عدم مهر) باطل دی چې دواړو ته مهر المثل لازمېږي، او نکاح باطله نه ده، د ګناه سره-سره صحت لري[۵]. د دې ډول نکاح نظیر هغه نکاح ده په کومه کښې چې خنزیر د مهر په ډول وټاکل شي، چې نکاح صحیح ده خو د خنزیر مهر ګرځول باطل دي او په عوض یې مهر المثل لازمېږي.

### تبصره

مونږ ته داسې برېښي چې بدون د رضایت څخه د خور او لور په نکاح ورکول د یو ډول وژلو څخه په غیر بل شی نه دی، چې ټولې آرزوګانې یې د خاورو لاندې کېږي، ته به وایې چې یا ژوندۍ ښخه شوې ده، یا د پسه په څېر ذبحه شوې ده، یا په دریاب کښې غرقه شوې ده او یا د غره د لوړې څوکې څخه یوې ژورې کندې ته ورټېل وهلې شوې ده.

بلکې مونږ ته د جاهلیت د زمانې اولاد وژنه د دې زمانې د وژلو څخه اسانه برېښي، ځکه چې هغه وژل خو به په څو دقیقو کښې ختمېدل او په یو ځل به یې صورت نیوه اما د دې زمانې وژل خو هره ګړۍ صورت نیسي او سات په سات ورسره زنانه مخامخه کېږي. ته به وایې چې به دوزخ کښې شپې او ورځې تېروي. الله ﷻ د دوزخیانو په هکله فرمایلي دي چې: ﴿ وَيَأْتِيهِ ٱلْمَوْتُ مِن كُلِّ مَكَانٍ وَمَا هُوَ بِمَيِّتٍ ﴾ [إبراهیم:١٧] یعنې دوزخي ته به د هرې خوا څخه مرګ ور روان وي خو هغه به مړ نه وي او نه به مړ کېږي. او هم فرمایي چې: ﴿ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَىٰ ﴾ [طه:٧۴] یعنې دوزخي به په

---

(١) صحیح البخاري ج٢ ص٧۶۶؛ صحیح مسلم ج٢ ص۴۵۴؛ سنن ابن ماجه ص١٣۵
(٢) سنن النسائي ج٢ ص٨۵
(٣) شرح النووي علی مسلم ج٢ ص۴۵۴
(۴) فتح الباري شرح صحیح البخاري ج٢ ص٧۶۶
(۵) کتاب الفقه علی المذاهب الأربعة ج۵ ص١٢٧

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوزخ کښې نه مري (چې د عذابه خلاص شي) او نه به پکښې ژوندی کېږي (چې ارام ژوند وکړي).

بلکې په دې زمانه کښې بدون د رضايت ځخه د خور يا لور ودول کله-کله د حقيقي مرګ سبب هم جوړېږي، چې پخپله زنانه انتحار وکړي لکه چې ډېرو خپل خانونه وژلي دي، او يا يې خپل خاوند ووژني لکه چې په همدې ورخو کښې يوه ناراضي مېرمن چې د شغار په توګه په نکاح ورکړه شوې وه، د خپل خاوند (مېړه) د پلوه ووژله شوه چې توافق يې ورسره نه وه، نو مېړه او د مېړه خپلوان يې سمدستي هم د افغانستان د ننګرهار ولايت په زندان کښې بنديان دي، او موضوع د تحقيق لاندې ده[1].

## د ذکر شوي ايت شريف ارشاد

٩_ ذکر شوی ايت شريف مونږ ته ارشاد کوي چې د خپلو اولادونو سره د مشرکانو په دود معامله ونه کړو، د ترحم (زړه سوي) ځخه کار واخلو، د الله ﷻ په ورکړې شوي نعمت باندې د زړه د کومې راضي شو، که نارينه اولاد راته وبښي او که زنانه اولاد په دواړو صورتونو کښې د الله ﷻ شکريه وکړو او په دې باندې کلک باور او عقيده وکړو چې په عاقبت باندې يوازې الله ﷻ پوهېږي چې د سړي دپاره به په لور کښې ښېګڼه نغښتې وي او که زوی به ورته د خير سبب جوړ شي.

بالآخره مونږ ته په کار دي چې لاندې احاديث هيڅکله د زړه ځخه ونه باسو:

الف: بي بي عائشه رضي الله عنها (أم المؤمنين) وايي چې: يوه ورځې ماته يوه زنانه راغله چې دوه لورګانې ورسره وې، نو ما هغې ته فقط درې دانې کجورې ورکړې چې هغې يوه کجوره يوې لور ته ورکړه او بله کجوره يې بلې لور ته، او درېمې کجورې ته يې قصد وکړ چې پخپله يې وخوري خو په عين حال کښې ترې دواړو لورګانو دغه درېمه کجوره هم وغوښتله چې مونږ ته يې راکړه، ذکرې شوې زنانه درېمه کجوره پخپله ونه خوړه او په منځ باندې يې نيمه کړه، چې يوه برخه يې يوې لور ته او بله برخه بې بلې لور ته ورکړه. ما ذکره شوې قيصه ټکي په ټکي نبي کريم ﷺ ته تېره کړه. نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «إِنَّ اللهَ قَدْ أَوْجَبَ لَهَا بِهَا الْجَنَّةَ أَوْ أَعْتَقَهَا بِهَا مِنَ النَّارِ»[2] يقيناً الله ﷻ دغه زنانه ته د يوې کجورې په سبب جنت واجب کړی دی، او يا يې وفرمايل چې: د يوې کجورې په سبب يې د اور (دوزخ) ځخه ازاد[illegible]ې (بچ کړې) ده.

ب: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «مَنْ عَالَ جَارِيَتَيْنِ دَخَلْتُ أَنَا وَهُوَ الْجَنَّةَ كَهَاتَيْنِ، وَأَشَارَ بِأُصْبُعَيْهِ»[3] يعنې هرڅوک چې د دوه وو انجنکيو عيالدار شي نو زه او همدغه کس به دغسې (جوړه) جنت ته داخل شو، او په خپلو مبارکو دوه وو ګوتو يې اشاره وکړه.

ج: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «مَنْ كَانَ لَهُ ثَلَاثُ بَنَاتٍ أَوْ ثَلَاثُ أَخَوَاتٍ أَوْ ابْنَتَانِ أَوْ أُخْتَانِ فَأَحْسَنَ

---

(١) ١٣٧٦/٩/٥ هـ ش

(٢) صحيح مسلم ج٢ ص٣٣٠؛ صحيح البخاري ج١ ص١٩٠؛ مسند احمد بن حنبل ج٢٨٢

(٣) جامع الترمذي ج٢ ص١٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مُخْتَنُهنَّ وَاتَّقَى اللهَ فِيهِنَّ فَلَهُ الْجَنَّةُ»[١] یعنې هر څوک چې هغه درې لورګانې او یا درې خورګانې، او یا دوه لورګانې او یا دوه خورګانې ولري نو د دوی سره ښه صحبت وکړي (چې دین ورزده کړي او په روزنه کښې یې قصور ونه کړي) او (هم) د دوی په هکله د الله ﷻ څخه وډار شي (په شرعي توګه یې واده کړي) نو دغه (سړي) ته د الله ﷻ په نزد جنت دی.

## سوال جواب

۱۰_ که څوک وایي چې: د ﴿ وَلَوْ يُؤَاخِذُ ٱللَّهُ ٱلنَّاسَ بِظُلْمِهِم مَّا تَرَكَ عَلَيْهَا مِن دَآبَّةٍ ﴾ څخه څرګندېږي چې یو د بل په ګناه باندې نیولی کېږي، حال دا چې دا کار د عدالت سره منافي دی چې عام حیوانات او حشرات هم د ظالمانو په ګناه باندې ونیولی شي او هلاک کړی شي؟

مونږ وایو چې: د دغې پوښتنې دپاره خو ځینو اوږدو کتابونو[٢] ډېر جوابونه کړي دي، یو جواب پکښې دا دی چې:

که الله ﷻ ګناهګاران په ګناه سره نیولی نو د پیغمبرانو علیهم السلام څخه په غیر به هیڅوک په ځمکه باندې نه وی پاتې شوي ځکه چې بل څوک د ګناه څخه معصوم نه دي. خو په دې صورت کښې به پیغمبران علیهم السلام هم نه وی را استولی شوي چې خلکو ته یې هدایت کړی وی چې د ځمکې په مخ به هیڅ موجودیت نه درلودی. د انسانانو څخه په غیر نور حشرات او حیوانات به هم د ځمکې د مخ څخه پورته کړی شوي وی چې په دې تقدیر به د دغو شیانو پیدا کولو او ژوندي پرېښودلو ته څه ضرورت نه وی، ځکه چې دا ټول د انسانانو د ګټو دپاره پیدا کړی شوي دي؛ هو! دا بېله خبره ده چې دوی په خپلو ټولو ګټو باندې علم او پوهه نه لري.

مګر مونږ ته هغه جواب غوره برېښي کوم چې مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الأنفال: ۲۵] ایت لاندې تفصیلوار لیکلي دي چې دوهم ځل تفصیل ته یې اړتیا نه ګورو، هغه دا چې: دنیاوي عذابونه اصلاً د ګناهونو جزاګانې نه دي چې ګناهګارانو پورې اختصاص ولري، بلکې دا زواجر دي چې نور خلک ترې عبرت واخلي او د ګناهونو مخه یې ونیسي، اصلي جزاګانې د قیامت ورځې پورې تړل دي چې مدعی او مدعي علیه دواړه د الله ﷻ په حضور کښې ودرېږي.

خو په دې مقام کښېورباندې لاندې وضاحت وراضافه کوو:

الف: د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی چې: «كَادَ الْجُعَلُ أَنْ يُعَذَّبَ فِيْ جُحْرِهِ مِنْ خَطِيْئَةِ بَنِيْ آدَمَ»[٣] یعنې: نژدې دی چې ګونګټ په خپله سوړه کښې د بنیادمانو د ګناهونو په سبب باندې معذب کړی شي (لوړه ورباندې ورنازله کړی شي).

---

(١) جامع الترمذي ج٢ ص١٣

(٢) روح المعاني ج١٤ ص١٧١؛ التفسير الكبير ج٢٠ ص٥٩؛ زاد المسير ج٤ ص٣٣٥

(٣) تفسير ابن كثير ج٢ ص٥٧٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: انس بن مالک ﷺ وايي چې: «كَادَ الضَّبُّ أَنْ يَمُوْتَ فِيْ جُحْرِهِ هَوْلًا مِنْ ظُلْمِ ابْنِ آدَمَ»(١) نږدې ده چې سمساره په خپله سوړه کښې د بنيادم د ظلم له ډاره مړه شي.

## حُسْنَىٰ څه معنى؟

١١_ په ﴿أَنَّ لَهُمُ ٱلْحُسْنَىٰ﴾ کښې علماوو کرامو د ﴿ٱلْحُسْنَىٰ﴾ کلمه په دېرو معناوو باندې تفسيره کړې ده(٢) لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: ښه صفت، لکه د زامنو درلودل او په خپلو مالونو کښې استقلال چې غلامان ورسره پکښې اشتراک نه لري. يعنې مشرکان په دروغو خپلو ځانونو ته ښه صفت اثباتوي چې هم زامن لرو او هم راسره غلامان اشتراک نه لري، الله ﷻ هم لوراني لري او هم ورسره مخلوقات (بوتان) په عبادت کښې شريک دي.

ب: نېک عاقبت، چې په آخرت کښې به لوړې درجې راکړې شي. يعنې مشرکان د يو پلوه الله ﷻ ته هغه شيان نسبتوي چې خپلو ځانونو ته يې نه خوښوي او سپکاوی ورته ښکاري او د دې سره-سره له بلې خوا په الله ﷻ باندې دروغ تړي چې دوی ته په آخرت کښې لوړې درجې دي.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

١٢_ که څوک وايي چې: ايا د ﴿ٱلْحُسْنَىٰ﴾ ذکر شوی دوهم تفسير صحت لري، حال دا چې مشرکانو خو د بيا را ژوندي کېدلو څخه انکار کاوه؟

مونږ وايو چې:

الف: په مشرکانو کښې ځينې خلک هم په آخرت باندې قائل وه، حتی ځينو به د خپلو اقاربو په قبرونو باندې ښه جيد اوښان تړل چې ترڅو به هلته مړه شوه، د دوی خيال وه چې د قيامت په ورځ به د دوی سره دغه اوښان هم راژوندي شي او د قبرونو خاوندان به ترې د سورليو کار واخلي.

ب: د مشرکانو مطلب دا وه چې آخرت خو نشته که بالفرض وي نو هلته به هم مونږ د لوړې درجې خاوندان ياستو. الله ﷻ د همدوی د يوه کس د خولې څخه حکايت کوي چې: ﴿وَلَئِن رُّجِعْتُ إِلَىٰ رَبِّيٓ إِنَّ لِي عِندَهُۥ لَلْحُسْنَىٰ﴾ [حم السجدة: ٥٠] يعنې: کافر انسان وايي چې: ګومان نه کوم چې قيامت به قائم شي او که بالفرض زه خپل رب ﷻ ته راجع کړی شم او قيامت قائم شي نو يقينًا ماله به د ده ﷻ په نزد لوړه درجه (جنت) وي.

مونږ ته همدغه جواب په زړه پورې برېښي.

## د مُفْرَطُون معنى

١٣_ په ﴿وَأَنَّهُم مُّفْرَطُونَ﴾ کښې د ﴿مُّفْرَطُونَ﴾ کلمه اصلاً د "فَرَطَ" _لکه "شَرَفَ"_ څخه اشتقاقه

(١) الدر المنثور ج٥ ص١٤٠

(٢) حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج٣ ص١٨٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شوې ده. "فَرَط" هغه چاته وېل کېږي چې کاروانیان یې هغې مېنې ته وړاندې ولېږي په کومه کښې چې دوی تم کېدل په نظر کښې نیولي وي، ترڅو دوی ته پکښې د ژوند سامان برابر کړي[1]. نو په دې مقام کښې یې د معنی حاصل داسې راځېږي چې مشرکان خو خپلو ځانونو ته د لوړې رتبې (جنت) په تمه دي مګر خبره بالعکس ده، چې دوی به په یقین سره د نورو دوزخیانو څخه وړاندې په دوزخ کښې سر په څړې ور واچولی شي.

﴿تَاللَّهِ لَقَدْ أَرْسَلْنَآ إِلَىٰٓ أُمَمٍ مِّن قَبْلِكَ فَزَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيْطَٰنُ أَعْمَٰلَهُمْ فَهُوَ وَلِيُّهُمُ ٱلْيَوْمَ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٦٣﴾ وَمَآ أَنزَلْنَا عَلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ إِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ ٱلَّذِى ٱخْتَلَفُوا۟ فِيهِ ۙ وَهُدًى وَرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٦٤﴾﴾

[٦٣] په الله ﷻ مې دې سوګند وي چې: (ای پیغمبره!) یقیناً ستا څخه وړاندې مونږ ډېرو امتونو ته (پیغمبران علیهم‌السلام) استولي وه نو هغوی ته شیطان خپل عملونه ښائسته کړه نو (ځکه) نن ورځ (د پخوانیو امتونو په زمانه کښې) د دوی دوست شیطان دی، او شته دی دوی لره (په آخرت کښې) دردناک عذاب (نو ستا د زمانې د کفارو حالت هم همداسې درواخله).

[٦٤] او مونږ په تا باندې کتاب (قرآن کریم د بل شي دپاره) نه دی نازل کړی مګر د دې دپاره چې ته خلکو ته هغه شی واضحه بیان کړې په کوم کښې چې دوی اختلاف کوي (او اتفاق یې پکښې صورت نه نیسي) او (هم د دې دپاره چې د قرآن کریم) د داسې قوم دپاره هدایت او رحمت (وګرځي) کوم چې ایمان راوړي.

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې د مشرکانو عنادي کفریاتو او سختو بې رحمیو ته اشاره شوې ده. په دې ایتونو کښې نبي کریم ﷺ ته تسله او ډاډ ورکړی شوی دی چې په هغوی باندې ډېر مه غمژن کېږه، ټول پیغمبران د خپلو خپلو امتونو د پلوه د دغسې حالت سره مخامخ شوي وه. نو حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

١ـ ای پیغمبره! مونږ ستا څخه وړاندې ډېرو امتونو ته پیغمبران ورلېږلي وه چې د الله ﷻ توحید ته یې دعوت کړي او د شیطان د لارې څخه نجات ورکړي، مګر هغوی ته خپل عملونه او خپل کړه وړه شیطان ډولي او ښائسته کړه نو د پیغمبرانو په دعوت سره یې خپلې کړنلارې بدلې نه کړې او فسق او فجور ته یې ادامه ورکړه، نو نن ورځ (په هغې زمانه کښې) د هغوی د پیغمبرانو سره دوستي ختمه شوه او په عوض یې د شیطان دوستي ودرېده چې په ټول ژوند کښې یې د هغه په

(١) مفردات الراغب ص ٩٣٠

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اشاره کار کاوه او روزمره د پیغمبرانو د دوستۍ څخه لرې کیده، نو دنیا او آخرت یې دواړه خراب شوه، چې په دنیا کښې د هلاکت سره مخامخ شوه او په آخرت کښې ورته دردناک عذاب دی.

۲ـ نو ستا د زمانې مشرکانو هم د همغوی لاره خپله کړې ده چې په روزمره معاملاتو کښې د شیطان خبره مني او شیطان یې په دوستۍ سره نیولی دی، نو د قیامت په ورځ به د دردناک عذاب سره مخامخ شي، او په دنیا کښې به هم د عذاب څخه بچ پاتې نه شي.

۳ـ ای پیغمبره! ته د خپل امت په کفارو باندې ډېر مه غمژن کېږه چې په کفر باندې کلک دي او ایمان نه راوړي ځکه چې په تا باندې خو مونږ د بل شي دپاره قرآن کریم نه دی نازل کړی فقط د دې دپاره چې:

الف: ترڅو ته خلکو ته په هغو مسائلو کښې حقاني فیصلې په وضاحت سره بیانې کړې په کومو کښې چې دوی اختلاف لري.

ب: ترڅو ته خلکو ته د سعادت لارې چارې وروښایې او د دنیا او آخرت کارونه یې تصحیح کړې.

ج: ترڅو خلکو ته د الله ﷻ د پلوه رحمت وروړې.

خو ستا فیصلې ته غوږ نه ږدي مګر هغه قوم کوم چې مؤمنان دي، همدارنګه د قرآن کریم د هدایت او رحمت څخه استفاده نه کوي مګر مؤمنان، نو تا ته په کار دي چې زیات غمژن نه شې، په تاکښې قصور نشته قصور په کفارو کښې دی.

## توضیحات

۱ـ که څوک وایي چې: په ﴿ فَهُوَ وَلِيُّهُمُ ٱلۡيَوۡمَ ﴾ کښې خو د جمعې ضمیر پخوانیو کافرو امتونو ته راجع دی حال دا چې د ﴿ ٱلۡيَوۡمَ ﴾ کلمه په حاضره زمانه کښې استعمالېږي، نو د معنی حاصل به یې داسې راوځېژي چې پخوانیو کافرو امتونو نن ورځ (د قرآن کریم د نزول په زمانه کښې) شیطان په دوستۍ سره نیولی وه حال دا چې دا کار خو ډېر پخوا تېر شوی دی؟

مونږ وایو چې: علماوو کرامو د دغه سوال دپاره ډېر جوابونه کړي دي[1]. لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: د ﴿ ٱلۡيَوۡمَ ﴾ د کلمې څخه د دنیا ژوند مطلب دی چې ټولو زمانو ته شامل دی، یعنې هغوی په دنیا کښې دا کار کړی وه.

ب: د دغې کلمې څخه معهوده ورځ مراده ده چې د قیامت ورځ ده، یعنې د پخوانیو کافرو امتونو دپاره د قیامت په ورځ یوازې د شیطان دوستي ورپاتې ده مګر هیڅ ګټه به ورته ونه رسوي.

ج: د جمعې ضمیر د مکې معظمې مشرکانو ته راجع دی، یعنې لکه چې په پخوانیو زمانو کښې د پخوانیو امتونو دپاره شیطان دوست وه همدارنګه نن ورځ د مکې مشرکانو دپاره د شیطان دوستي ثابته ده.

---

(۱) التفسیر الکبیر ج۲۰ ص۶۲؛ المحرر الوجیز ج۱۰ ص۲۰۳؛ تفسیر الکشاف ج۲ ص۶۱۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ذكر شوي دربواره جوابونه متبادر نه دي، او مونږ ته غوره نه برېښي.

د: مونږ ته دا غوره برېښي چې دلته به پخوانۍ زمانه د زيات اهتمام د كبله حاضره ګڼلې شوې وي او په ﴿ ٱلۡيَوۡمَ ﴾ سره به ترې تعبير كړى شوى وي، چې د بلاغت په علم كښې دې ته ورته قانون شته دى[1]. يعني پخوانيو امتونو د الله ﷻ د دوستۍ په عوض د شيطان دوستي خپله كړه، نو اى پيغمبره! ته خو د هغوى زمانه په ذهن كښې مستحضره كړه چې څومره بده زمانه وه او څومره عبثه پرې تېره شوه.

## سوال جواب

٢_ كه څوک وايي چې په ﴿ ٱلَّذِى ٱخۡتَلَفُواْ فِيهِ ﴾ كښې څه شي ته اشاره ده؟ يا په بل عبارت: هغه كوم شى دى چې خلک پكښې اختلاف كوي او د اختلاف پورته كولو دپاره په نبي كريم ﷺ باندې قرآن كريم نازل شوى دى؟

مونږ وايو چې: نبي كريم ﷺ د ټولو اختلافاتو د پورته كولو دپاره را استولى شوى دى، لكه د خلكو د خپلو منځو شخړې او جنګونه، د تحليل او تحريم احكام، د قبرونو څخه د مړو بيا راژوندي كېدل او بالآخره ټول عملي او عقيدوي احكام چې د ټولو په سر كښې د الله ﷻ توحيد واقع دى.

﴿ وَٱللَّهُ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَحۡيَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَآۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةً لِّقَوۡمٍ يَسۡمَعُونَ ﴿٦٥﴾ وَإِنَّ لَكُمۡ فِي ٱلۡأَنۡعَٰمِ لَعِبۡرَةً ۖ نُّسۡقِيكُم مِّمَّا فِي بُطُونِهِۦ مِنۢ بَيۡنِ فَرۡثٖ وَدَمٖ لَّبَنًا خَالِصًا سَآئِغًا لِّلشَّٰرِبِينَ ﴿٦٦﴾ وَمِن ثَمَرَٰتِ ٱلنَّخِيلِ وَٱلۡأَعۡنَٰبِ تَتَّخِذُونَ مِنۡهُ سَكَرًا وَرِزۡقًا حَسَنًاۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةً لِّقَوۡمٍ يَعۡقِلُونَ ﴿٦٧﴾ وَأَوۡحَىٰ رَبُّكَ إِلَى ٱلنَّحۡلِ أَنِ ٱتَّخِذِي مِنَ ٱلۡجِبَالِ بُيُوتًا وَمِنَ ٱلشَّجَرِ وَمِمَّا يَعۡرِشُونَ ﴿٦٨﴾ ثُمَّ كُلِي مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ فَٱسۡلُكِي سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلًاۚ يَخۡرُجُ مِنۢ بُطُونِهَا شَرَابٞ مُّخۡتَلِفٌ أَلۡوَٰنُهُۥ فِيهِ شِفَآءٞ لِّلنَّاسِۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةً لِّقَوۡمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٦٩﴾ وَٱللَّهُ خَلَقَكُمۡ ثُمَّ يَتَوَفَّىٰكُمۡۚ وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰٓ أَرۡذَلِ ٱلۡعُمُرِ لِكَيۡ لَا يَعۡلَمَ بَعۡدَ عِلۡمٖ شَيۡـًٔاۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٞ قَدِيرٞ ﴿٧٠﴾ ﴾

[٦٥] او الله ﷻ د اسمان څخه (دپاسه) اوبه رانازلوي (ورروي) نو په دې اوبو باندې ځمكه د هغې د مرګ څخه وروسته (بېرته) راژوندۍ كوي. يقيناً په دغه (كار) كښې د داسې قوم دپاره (د توحيد)

---

[1] مختصر المعاني في البلاغة ص١١٨

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لویه نښه (پرته) ده کوم چې اوري (او خبرې ته غوږ ږدي).

[۶۶] او یقینًا ستاسو دپاره په څارویو کښې هرومرو عبرت (لوی درس) دی، (چې) مونږ د ځینو هغو شیانو څخه کوم چې د هغو په ګېډو کښې دي (په داسې حال کښې) شوده درڅښکوو (چې) د لیرشنو او وینو د منځ څخه (راوځي)، داسې شوده چې (د بد بوی او سور رنګ څخه) سوچه (صاف) دي (او) د څښونکو دپاره په اسانۍ سره تېرېدونکي دي.

[۶۷] او (یقینًا تاسو لره په هغه شي کښې هم د عبرت درس شته کوم چې مونږ یې تاسو ته) د خرماوو د میوجاتو او د انګورو څخه (درڅښوو) چې تاسو ترې نښه لرونکې شی (شراب) جوړوئ او (هم ترې) ښائسته روزي (ترلاسه کوئ لکه نبیذ او زوښا).

(ای پیغمبره!) یقینًا په دغه (ذکر شوي شي) کښې د داسې قوم دپاره چې د عقل څخه کار اخلي (او په شرابو باندې نه وي بې سده شوي) لویه نښه (علامه) ده.

[۶۸] او (تاسو ته په دې کښې هم د عبرت درس شته چې) ستا رب ﷻ د شاتو مچیو ته وحې وکړه (دوی یې مسخرې کړې) چې: تاسو د غرونو څخه (په عجیبه توګه) کوټې جوړې کړئ، او د ونو څخه او (هم) د هغو ځایونو څخه کوم چې بنیادمان یې درته اوچتوي (تیاروي، کورونه جوړ کړئ).

[۶۹] بیا (د کورونو د جوړښت څخه وروسته) د هر ډول میوجاتو څخه خورئ (لعاب او مزه یې راغونډوئ) نو د خپل رب ﷻ په لارو کښې په داسې حال کښې ورننوځئ چې (تاسو ته) اسانې ګرځولې شوې دي.

(ای پیغمبره! زمونږ په امر) د مچیو د خېټو (باطن) څخه د څښکلو داسې شی راوځي چې رنګونه یې مختلف دي (او هم) د خلکو دپاره پکښې (د مرضونو) شفاء (نغښتې) ده. یقینًا په دغه (ذکر شوي بیان) کښې د داسې قوم دپاره چې (د الله ﷻ په مخلوقاتو کښې) تفکر کوي ډېره لویه نښه ده.

[۷۰] او الله ﷻ تاسو پیدا کړي یاست بیا مو (بېرته) په کامله توګه اخلي (مړه کوي)، او ستاسو ځنې هغه کسان دي چې (مړه نه کړی شي او) حقیر (خوار) عمر ته بېرته ورتاو کړی شي (البته) د دې انجام دپاره چې د علم څخه وروسته په هیڅ شي باندې پوه نه شي (پوهه یې بې اعتباره شي لکه چې په ماشومتوب کښې یې اعتبار نه درلود).

یقینًا الله ﷻ پوه دی (ستاسو ټول کیفیات ورته معلوم دي او هم) د قدرت څښتن دی (څه یې چې خوښه شي هغه کوي).

## ارتباط

د وړاندېنیو ایتونو مضمون دا وه چې نبي کریم ﷺ د دې دپاره دنیا ته استولی شوی دی چې خلکو ته د اختلافي مسائلو په باره کښې ښې کافي فیصلې وکړي، په دې ایتونو کښې د یو پلوه د اختلافي مسائلو مثال ښودلی شوی دی چې د الله ﷻ توحید دی، او د بله پلوه پکښې د فیصلو د بیان طرز ته اشاره شوې ده چې په افاقي او انفسي دلایلو باندې اشتمال لري.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

یعني ای پیغمبره! خلکو ته د ټولو اختلافي مسائلو څخه یوه ډېره مهمه اختلافي مسئله بیان کړه او داسې قاطع فیصله پکښې ورکړه چې په افاقي او انفسي دلایلو باندې ولاړه ده، هغه دا چې الله ﷻ واحد او لا شریک دی او هیڅ ساری او سیال نه لري.

### افاقي دلایل:

نو د افاقي دلایلو څخه وړباندې لاندې مثالونه قرائت کړه چې:

١ـ الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې د اسمان څخه اوبه نازلوي او بیا په همدې اوبو باندې مړه ځمکه بېرته راژوندۍ کوي، او وچه کلکه بیدیا په رنګارنګ ګلونو باندې ښانسته کوي، یوازې په همدې کار کښې د هغو خلکو دپاره کوم چې دلایلو ته غوږ ږدي د الله ﷻ د وحدانیت ډېر لوی دلایل پراته دي، مثلاً:

الف: ایا د الله ﷻ څخه په غیر بل څوک شته چې یو څاڅکی اوبه له اسمانه راتوی کړي؟

ب: که بالفرض المحال الله ﷻ شریک درلودی نو ایا د یوه څاڅکي اوبو په راتویولو باندې به د دواړو ترمنځ جګړه نه وی پیل شوې؟ او په نتیجه کښې به موجوده نظام د خاورو سره نه وی برابر شوی؟.

ج: ایا هغه اقدس ذات به (چې د مړې ځمکې د ژوندۍ کولو دپاره د غیبو څه اوبه راوروي) د مړو زړونو د ژوندي کولو دپاره د قرآن کریم د نزول مرحمت نه وي کړی؟

٢ـ ای پیغمبره! خلکو ته ابلاغ کړه چې: یقیناً ستاسو دپاره په څارویو او میوجاتو کښې د الله ﷻ په وحدانیت باندې ډېر دلایل شته دي، نو تاسو ته په کار دي چې عبرت ترې واخلئ او په عبادت کښې ورسره شریک ونه دروئ، دلایل دا دي چې:

الف: مونږ تاسو ته د څارویو د باطن (ګېډو) څخه سوچه پاکیزه سپین شوده را وباسو چې تاسو وړباندې خړوبوو، چې نه پکښې د وینو رنګ څه نښې ښکاره کېږي او نه پکښې د خوشایانو څه بدبويي (وګمه) د چا پوزو ته ورځي، چې هر څښونکی یې ډېر په مزه باندې او ډېر په اسانۍ سره د ستوني څخه تیروي چې نه ترې چاته کرکه او نفرت ورمخې ته کېږي او نه د چا په ستوني کښې نښلي؛ حال دا چې دغه شوده د بدبویو خوشایو او سور رنګې وینې د منځ څخه راوتلي دي.

ایا د الله ﷻ څخه پرته څوک شته چې د څارویو د غولانزو څخه یو څاڅکی شوده راوباسي؟ ایا په دغه کار کښې ورسره څوک برخوال شته؟

ب: کله چې مونږ په باران باندې مړه ځمکه ژوندۍ کړو نو د یو پلوه د ګیاګانو او نباتاتو په ذریعه تاسو ته د څارویو څخه پاکیزه شوده راوباسو او د بله پلوه تاسو ته د همدغې مړې ځمکې څخه د ډول ډول میوجاتو حاصلات درکوو، چې همدغه میوجات د کجورو او انګورو غوندې میوجاتو باندې هم مشتمل دي چې تاسو ترې لاندې استفادې کوئ:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: د همدغو دواړو (کجورو او انګورو) څخه تاسو شراب جوړوئ او نشې پرې کوئ او د ساتېرئ دپاره ترې کار اخلئ؛

ب: د همدغو دواړو څخه ښائسته او په زړه پورې روزي برابروئ، لکه زوبنا او نبیذ او هم لکه ممیز او وچې خرما اوداسې نور.

یقینًا د ذکرو شوو شیانو څخه په هر یوه کښې د الله ﷻ په توحید او کامل قدرت باندې لويه نښه شته خو د هغه چا دپاره چې د خپل سالم عقل څخه کار واخلي او خپل عقل یې په مسکراتو (نیشه کوونکو شیانو) باندې نه وي خراب کړی. یا په بل عبارت: که بالفرض المحال الله ﷻ شریک درلودی نو ایا د شودو (پیو) او میوجاتو په نظام کښې به بندش نه وی واقع شوی؟ ایا په دوامداره توګه به تاسو د پیو او ډول ډول میوجاتو څخه استفاده کړې وی؟

٣ـ ای پیغمبره! همدارنګه د خپل رب ﷻ د وحدانیت په دلایلو کښې په هغه دلیل باندې هم خلکو ته اطلاع ورکړه کوم چې د شاتو (عسلو) په تکون (جوړېدلو) کښې نغښتې دي، هغه دا چې:

الف: ستا رب ﷻ د شاتو مچیو ته الهام کوي او په زړه کښې ورواچوي چې د شاتو د جوړولو دپاره لاندې کارونه وکړي:

اول: چې دغرونو او ونو څخه او هم د هغو ځایونو څخه کوم چې انسانانو پورته کړي او جوړ کړي دي په ډېره عجیبه توګه مسدس (شپږ ضلعي) کورونه تیار کړي ترڅو هر یو کور په شاتو باندې ډک کړي او خالي ځای پکښې پاتي نه شي.

دوهم: چې د کورونو د تیارولو څخه وروسته د هر ډول میوجاتو د ګلونو څخه استفاده وکړي او لعاب (مزه) ترې راټوله کړي، او د خپلو ځانونو په داخل کښې یې ځای په ځای کړي.

درېم: ته به وایې چې د شاتو مچیو ته توصیه شوې ده چې د ګلانو څخه د مزو د راغونډولو دپاره په هغو لارو باندې لاړې شئ او بیا پرې بیرته خپلې جالې (ګبیني) ته راستنې شئ کومې چې ستاسو دپاره خپل رب ﷻ اسانې کړې دي، چې نه پکښې غلطېږئ او نه خپل ګبینی خطا کوئ.

څلورم: د شاتو د مچیو د ګېډو څخه د الله ﷻ په اراده په مختلفو رنګونو کښې شات راوځي چې هر یو ډول په ښکلو او په اسانۍ د ستونې څخه په ښکته کېدلو کښې کوم تفاوت نه لري، حال دا چې د ټولو مختلفو ډولونو د جوړښت مرکز یو دی.

پنځم: په دغو شاتو کښې -چې په ذکري شوې طریقې سره د الله ﷻ په فضل جوړښت مومي- د خلکو دپاره د مرضونو څخه شفاء نغښتې ده چې ځینې مرضونه ورباندې په انفرادي توګه او ډېر مرضونه ورباندې په ترکیبي توګه د منځه ځي.

٤ـ ای پیغمبره! د ذکرو شوو شیانو څخه په هر یوه کښې د الله ﷻ د وحدانیت او د ده ﷻ د قدرت لوی دلیل نغښتی دی، البته د هغه قوم دپاره کوم چې د الله ﷻ په مخلوقاتو کښې فکر کوي او په سر سري نظر ورباندې نه تېرېږي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## انفسي دلايل:

۵ـ اى پيغمبره! اوس نو خلكو ته د انفسي دلايلو هم لاندې څو مثالونه قرائت كړه چې د الله ﷻ په وحدانيت باندې دلالت كوي. هغه دا چې:

الف: الله ﷻ هغه اقدس ذات دى چې (اى بنيادمانو!) تاسو يې د نشت څخه پيدا كړي ياست، ايا ستاسو په پيدا ينبت كښې ورسره څوک شريک شته؟

ب: بيا چې كله د الله ﷻ اراده وشي نو تاسو په مختلفو حالاتو كښې بېرته اخلي، مثلاً:

اول: ځيني د مور په ګېډه كښې د مرګ سره مخامخ كېږي او كالبوتونه يې تولد كېږي.

دوهم: ځيني د ماشومتوب په حال كښې مړه كېږي.

دريم: ځيني د الله ﷻ د پلوه په زلميتوب او يا د پوخ عمرى په حال كښې بېرته اخستل كېږي.

څلورم: بالآخره ځيني د همده په اراده د خوار عمرى او د ذلت حالت ته رسېږي، څوک چې د دغه حالت پورې ژوندى پرېښودل شي نو په دغه حال كښې وربانديې د ماشومتوب حالت بېرته ورګرځي او زده كړي علوم ترې هېرېږي. يا په بل عبارت: لكه څنګه چې د طفوليت په حال كښې په څه باندې نه پوهيده په دغه حال كښې هم په څه شي باندې نه پوهېږي، ته به وايې چې همدا اوس له موره زېږيدلى دى. او دا ځكه چې:

الله ﷻ په هر شي باندې پوه او په هر شي باندې قادر دى، نو په انسانانو باندې د ابتداء څخه د انتهاء پورې مختلف حالات ور ولي او چې كله يې اراده وشي نو بېرته به يې د خاورو څخه راپورته او راژوندي كړي.

## توضيحات

۱ـ كه څوک وايي چې: په ﴿ مِّمَّا فِي بُطُونِهِ ﴾ كښې خو بارز ضمير د ﴿ ٱلْأَنْعَٰمِ ﴾ كلمې ته راجع دى او تاسو د [آل عمران: ۱۴] ايت لاندې ليكلي دي چې د ﴿ ٱلْأَنْعَٰمِ ﴾ كلمه د "نعم" جمعه ده لكه چې "أجْبَال" د "جَبَل" جمعه ده، نو پوښتنه دا ده چې د څه حكمت په بنياد "مِمَّا فِي بُطُونِهَا" نازل نه شو لكه څنګه چې عين مضمون په ﴿ مِّمَّا فِي بُطُونِهَا ﴾ [المؤمنون: ۲۱] ايت كښې په مونث ضمير سره نازل شوى دى، او دا ځكه چې په عربي ژبه كښې جمعې ته د مفرد مونث تاويل وركول كېږي؟

مونږ وايو چې:

الف: جمعې ته لكه چې د مفرد مونث (جماعة) تاويل وركول كېږي او مفرد مونث ضمير ورته راجع كېږي همدارنګه كله-كله د مفرد مذكر (جمع) په تاويل باندې هم مؤوله ګرځي، البته دغه دوه تاويلونه په هغې جمعه كښې صورت نيولى شي كومه چې د غير عقلاوو جمعه وي[1]؛ نو هغه ايت د لومړني تاويل سره مطابق دى او دا ايت د دوهم تاويل سره مطابقت لري.

---

[1] روح المعاني ج۱۴ ص۱۷۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: ځینې لا وايي چې د ﴿ٱلْأَنْعَٰمِ﴾ کلمه جمعه نه ده بلکې اسم جمعه ده چې لفظاً مفرده ده او معناً جمعه ده<sup></sup>[١] نو دلته يې لفظ په نظر کښې نيولی شوی دی او هلته يې معنی ته کتلی شوي دي.
مونږ ته دغه دواړه جوابونه په زړه پورې ښکاري ځکه چې هم دلته ځینې نور جوابونه هم شته[٢].

## فَرْث څه معنی؟

٢ـ په ﴿مِنۢ بَيۡنِ فَرۡثٖ وَدَمٖ﴾ کښې د ﴿فَرۡثٖ﴾ کلمه هغو پلیتو شیانو ته وضعه شوې ده کوم چې د څارویو په لرو او يا کولمو کښې تقرر لري[٣]، چې په پښتو کښې د لېرشنو په نامه يادېږي او کله چې بهر ته اووځي نو بيا وربانديې د خوشايو يا پچو نوم اېښودلی کېږي.

## سوال جواب

٣ـ که څوک وايي چې: په ذکر شوي عبارت کښې د ﴿بَيۡنِ﴾ کلمه ﴿فَرۡثٖ﴾ او ﴿دَمٖ﴾ ته مضافه ده چې لاندې اشتباهګانې ترې سرې ته په ذهن کښې ګرځي راګرځي:
الف: چې د څارويو په جسم کښې به د لېرشنو او وينو محل يو وي، حال دا چې لېرشن په لري او کولمو کښې پيدا کېږي او وينه په رګونو کښې ځای لري.
ب: چې د شودو جوړښت به د څارويو په لرو او کولمو کښې صورت نیسي، حتی په همدې خبره باندې په ﴿فِي بُطُونِهِۦ﴾ کښې د "بُطُون" کلمه هم دلالت کوي ځکه چې "بُطُون" د "بطن" جمعه ده چې د ګېډې معنی ورکوي چرته چې لېرشن ځای لري.
حال دا چې په عمومي توګه د غولانځو څخه په غیر په بل محل کښې د شودو اثار (نښې) نه دي ليدلې شوي؟
مونږ وايو چې: د ذکر شوي عبارت معنی دا نه ده چې د دوه وو پلیتو شیانو د اجتماع څخه شوده راوځي بلکې مطلب يې دا دی چې د شودو جوړښت څو مرحلې لري چې د لېرشنو او وينو مرحلې وربانديې تېرېږي.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه د "بطن" کلمه لکه څنګه چې ګېډې ته وضعه شوې ده همدارنګه د مطلق باطن او خلاف الظاهر شي په معنی باندې هم استعمالېږي، لکه چې نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي: کله چې ستاسو امران شريران شوه او غنيان مو بخيلان شوه او کارونه مو زنانه وو ته وسپارل شوه «فَبَطْنُ الْأَرْضِ خَيْرٌ لَكُمْ مِنْ ظَهْرِهَا»[٤] نو تاسو ته په دغه وخت کښې د ځمکې باطن د دې د ظاهر (مخ) څخه بهتر دی.

---

(١) تفسير الكشاف ج٢ ص٦١٥
(٢) زاد المسير ج٤ ص٣٣٨
(٣) تفسير ابي السعود ج٥ ص١٢٤
(٤) جامع الترمذي ج٢ ص٥٢

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د شودو د جوړېدلو مراحل

۴_ ځینو مفسرینو کرامو[١] د شودو د جوړښت مراحل په ډېره موثره توګه بیان کړي دي او هم یې پکښې ډېرو حکمتونو ته اشاره کړې ده، چې مونږ یې په دې مقام کښې فقط د لاندې ټکو په رانقلولو باندې اکتفاء کوو:

الف: کله چې یو د شودو والا څاروی واښه وخوري نو د ده په ګېډه (لري) کښې هضم شي او محلول ترې جوړ شي، نو لعاب (صافه مزه) یې ینې ته جذبه شي او کوم یې چې فضلات وي هغه د کولمو په سلسله بهر ته ووځي.

ب: کوم لعاب (صافه مزه) چې ینې ته جذبه شوې ده نو هغه هلته په دوهم ځل باندې هضمه شي او وینه ترې جوړه شي، نو په دغه (دوهم ځل هضم) کښې کوم چې ځګ وي هغه تریخې ته انتقالېږي، خیرې یې په توري کښې ځای نیسي او بالآخره زیات رطوبت یې د پښتورګو په سلسله د بولو په شکل بهر ته وځي او صافه وینه په رګونو کښې جریان پیدا کوي او په ټول جسم کښې خورېږي چې د ودې باعث یې ګرځي.

ج: کومه وینه چې د رګونو په سلسله د څاروي غولانځې ته ورسېږي هلته د الله ﷻ په کامل قدرت سره په سپینو شودو باندې بدله شي چې نه پکښې د لېرشنو بدبویي د چا پوزو ته ورځي او نه پکښې د وینې سور رنګ پاتې کېږي. د همدغه حالت څخه الله ﷻ په ﴿ لَّبَنًا خَالِصًا سَآئِغًا لِّلشَّٰرِبِينَ ﴾ سره تعبیر کړی دی؛ یعنې مونږ تاسو د څارویو د باطن څخه د لېرشنو او وینې د مراحلو د تېرولو څخه وروسته داسې سوچه شوده درڅښنکوو چې څښنکونکي یې بدون د څه کرکې او نفرت څخه ښه په مزه او اسانۍ سره تېروي.

## یو نحوي تحلیل

۵_ مفسرینو کرامو[٢] د ﴿ وَمِن ثَمَرَٰتِ ٱلنَّخِيلِ وَٱلۡأَعۡنَٰبِ تَتَّخِذُونَ مِنۡهُ سَكَرٗا وَرِزۡقًا حَسَنًا ﴾ په اعراب کښې متعددې وجې لیکلې دي او هر چا ورسره څه کلمات مقدر ګڼلي دي. مګر مونږ ته چې کوم تقدیر ښه ښکاره شوی دی هغه دا دی چې[٣]: دا کلمات په ﴿ وَإِنَّ لَكُمۡ فِي ٱلۡأَنۡعَٰمِ لَعِبۡرَةٗ ﴾ باندې عطف دي او د "إِنَّ لَكُمْ فِيمَا نُسْقِيكُمْ لَعِبْرَةً" عبارت مقدر دی چې "وَإِنَّ لَكُمْ فِيمَا نُسْقِيكُمْ لَعِبْرَةً مِنْ ثَمَرَاتِ النَّخِيلِ وَالْأَعْنَابِ" عبارت ترې جوړېږي. یعنې: یقینًا ای بنیادمانو! ستاسو دپاره لکه څنګه چې په څارویو کښې عبرت شته دی همدارنګه ستاسو دپاره په هغه شي کښې هم عبرتي درس شته په کوم باندې چې مونږ تاسو د خرما د مېوو (کجورو) او د انګورو څخه خړوبوو، چې تاسو د ذکر شوي شي څخه شراب جوړوئ او هم ترې ښائسته روزي تیاروئ لکه زوښنا، نبیذ، سره او شنه ممیز او نور.

---

(١) التفسیر الکبیر ج٢٠ ص٦٦
(٢) روح المعاني ج١۴ ص١٧٩؛ تفسیر الکشاف ج٢ ص۶١٧؛ تفسیر القرطبي ج١١ ص١٢٩
(٣) تفسیر الخازن ج٣ ص۶١٧

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

٦ـ که څوک وایي چې دا مقام خو د نعمتونو په یادولو سره توحید ته د متوجه کولو مقام دی نو پوښتنه دا ده چې: ایا شراب د نعمتونو څخه ګڼل کېږي حال دا چې په قطعي توګه حرام دي؟

مونږ وایو چې: د [البقرة:٢١٩] ایت لاندې تېر شوي دي ـالله ﷻ الحمدـ چې شراب په څلورو مرحلو کښې د قطعي تحریم مرحلې ته رسېدلي دي، نو په دغه ایت شریف کښې چې بحث پکښې روان دی اولې مرحلې ته اشاره شوې ده چې هلته لا شراب په قطعي توګه نه وه حرام کړی شوي مګر هوښیار خلک پکښې په غوږ باندې وهلی شوي وه چې په راتلونکي کښې به شراب په بشپړه توګه حرام کړی شي. او دا خکه چې:

الف: د ﴿ سَكَرًا ﴾ کلمه دلته په ﴿ رِزْقًا حَسَنًا ﴾ باندې تعقیبه شوې ده، ته به وایې چې مونږ هڅول کېږو چې د میوجاتو څخه ښائسته روزي ترلاسه کړئ او د بې هوشۍ استفاده ترې مه کوئ.

ب: همدغه ایت په ﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴾ باندې ختم شوی دی، ته به وایې چې مونږ اشارهٔ پوه کړی شوي یاستو چې د الله ﷻ د وحدانیت د دلایلو څخه هغه څوک ګټه اخستی شي چې خپل عقل یې د شرابو په څښکلو باندې نه وي ضائع کړی.

## د "وحي" معنی

٧ـ په ﴿ وَأَوْحَىٰ رَبُّكَ ﴾ کښې د ﴿ أَوْحَىٰ ﴾ کلمه اصلاً د "وَحْي" څخه اشتقاقه شوې ده او مونږ ـالله ﷻ الحمدـ د [النساء: ١٦٣] ایت لاندې د وحې تعریف او ډولونه ښه مشرح لیکلي دي، چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو، فقط دغه اشاره تکراروو چې په دې مقام کښې د وحې څخه تسخیر مطلب دی. یعنې الله ﷻ د شاتو مچۍ په ډېر عجیب جوړښت سره جوړې کړي دي او د جالو جوړول او هم د شاتو راغونډول یې د هغې په خټه کښې اغګلي دي، لکه چې په همدې ایتونو کښې یې خاصیتونو ته اشارې شوې دي.

## نَحل جمعه ده که مفرد؟

٨ـ په ﴿ إِلَى ٱلنَّحْلِ ﴾ کښې د "نَحل" کلمه د "نَحلة" جمعه ده[١] لکه څنګه چې "تَمر" د "تَمْرَة" جمعه ده، دا د هغو مچیو نوم دی کومې چې شات جوړوي. دا نوم په اصل کښې د "نِحْلَة" ـلکه "رِحْلَة"ـ څخه اشتقاق شوی دی، "نِحْلَة" هغه بخشش ته ویل کېږي په کوم کښې چې په هیڅ ډول باندې ضرر موجودیت نه لري، اما "هِبَة" عامه معنی ورکوي او د مطلق بخشش څخه عبارت ده.

د شاتو مچیو ته ځکه دا نوم اېښودلی شوی دی چې مچۍ په مختلفو ګلانو او شیانو باندې کیني او پاڅېږي مګر یوه ته هم د ګټې څخه په غیر ضرر نه رسوي[٢].

---

(١) لسان العرب ج١١ ص٦٤٩

(٢) مفردات الراغب ص٥٠٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## عرش څه معنی؟

٩_ په ﴿ وَمِمَّا يَعْرِشُونَ ﴾ کښې د ﴿ يَعْرِشُونَ ﴾ کلمه د "عرش" څخه اخستله شوې ده. عرش ډېرې معناوې لرې چې ځينو ته يې د [الأنعام: ١٤١] ايت لاندې اشاره شوې ده، مګر په دې مقام کښې مونږ ته بهتره برېښي چې عرش به د بيت او منزل (کور) په معنی وي. لکه چې همدا معنی يې هم ځينو کتابونو ليکلې ده[1].

نو حاصل به يې داسې راوخېژي چې د شاتو مچۍ په هغوکورونو کښې هم خپلې جالې (ګبينې) جوړوي کوم چې ورته انسانانو د صندوقونو په شکل او يا په نورو شکلونو باندې تيارې کړې وي.

که د الله ﷻ نبودانه نه وی نو وحشي مچيو به په ذکرو شوو کورونو کښې خپلې جالې نه وی جوړې کړې او د نورو وحشي ساکښانو په څېر به يې ترې نفرت کولی، په دې تقدير به هيڅکله په فني توګه چا د شاتو حاصل نه وی ترلاسه کړی.

## د شاتو حقيقت څه شی دی؟

١٠_ په دې کښې ټول علماء کرام متفق دي چې د شاتو اصلي مواد هغه دي کوم چې د شاتو مچۍ يې د ګلانو او بوټو څخه راغونډوي، مګر د پخوا زمانو څخه رابه دې خوا ډېرې هلې ځلې شوې دي چې د شاتو د جوړښت کيفيت معلوم کړي خو تراوسه پورې الله ﷻ د څه حکمتونو په بنياد دغه کيفيت د خلکو څخه پټ ساتلی دی، چې په څه ډول سره ذکر شوي مواد په شاتو باندې بدلون مومي او د کومې لارې د مچيو د پلوه په ګبينې کښې اچولی کېږي.

## يوه لنډکې قيصه

١١_ ويل کېږي چې سليمان ؈، اسکندر او ارسطاطاليس د شاتو د مچيو دپاره د ښيښې کورونه جوړ کړه ترڅو وګوري چې شات د مچيو د خولو څخه په ګبينې کښې اچولی کېږي او که د لاندې لارې (معقد) دپلوه هلته تقرر نيسي مګر هغوی په کيفيت باندې پوه نه شوه ځکه چې مچيو د هرڅه څخه وړاندې د ذکر شوي ښيښوي کورونو ديوالونه په ختو باندې تور کړه او بيا يې په خپل کار باندې پيل وکړ[2].

لنډه دا چې په ذکر شوي کيفيت کښې علماء کرام لاندې نظريات لري:

الف: ذکر شوي مواد د مچيو په ګېډو کښې په شاتو باندې بدلون مومي او بيا د فضلاتو د لارې په ګبينې کښې اچولی کېږي، لکه چې د علي ؓ څخه همدا روايت شوی دی[3].

ب: ذکر شوي مواد د مچيو د پلوه په خولو کښې راوړل کېږي او په ګبينې کښې اچولی کېږي.

---

(١) لسان العرب ج٦ ص٣١٤

(٢) البحر المحيط ج٦ ص١٥٦١؛ حياة الحيوان للدميري ج١ ص٣٤٤

(٣) روح المعاني ج١٤ ص١٨٤

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوی وايي چې دا مواد د ګيډې دوره نه ترسره کوي او د ﴿ مِنْۢ بُطُونِهَا ﴾ کلمات د "مِنْ أَفْوَاهِهَا" معنی ورکوي، يعنې شات د مچيو د خولو څخه راووځي[١].

ج: جمهور علماء کرام وايي چې په ذکرو موادو باندې د مچيو د ګېډو دوره تېرېږي او هملته ترې شات جوړېږي چې بيا په ګېډې کښې د مچيو د خولو د لارو څخه د قي (کانګو) په توګه اچولی کېږي[٢]، والله ﷻ أعلم.

## د شاتو مختلف ډولونه

١٢ـ په ﴿ شَرَابٌ مُّخْتَلِفٌ أَلْوَٰنُهُ ﴾ کښې د الله ﷻ يوه بل کامل قدرت ته اشاره ده چې شات په مختلفو رنګونو کښې پيدا کوي، لکه سپين، تور، زيړ، سره او داسې نور.

ځينې علماء کرام وايي چې د رنګونو اختلاف د مچيو په طبائعو او يا عمرونو پورې تړاو لري[٣] خو ظاهره دا ده چې دا اختلاف به د ګلانو او بوټو د رنګونو د اختلاف څخه منشا اخلي، او دا ځکه چې همدغه منشا په خوند باندې هم اثر اچوي حتی چې د شاتو بوی هم د همدې منشا څخه بې اثره نه پاتې کېږي. د ښه وضاحت دپاره ديوه اوږده حديث مضمون ولولئ:

کله چې نبي کريم ﷺ د يوې بي بي (أم المؤمنين) په کور کښې شات خوړلي وه نو بلې بي بي ورته وويلې چې: ايا تا مَغَافِير خوړلي دي؟ نبي کريم ﷺ ځواب ورکړ چې: مَغَافِير مې نه دي خوړلي خو د فلانۍ په کور کښې مې شات څښلي دي. ذکرې شوې بي بي وويلې چې: «جَرَسَتْ نَحْلُهُ الْعُرْفُطَ»[۴] البته د شاتو مچۍ به د «عُرْفُط» په بوټي باندې ناسته شوې وي او د هغه بوټي مزه به يې راغونډه کړې وي، د همدغه بوټي مزه (لعاب) د مغافير په نامه يادېږي، او خوندور بوی نه لري.

## سوال جواب

١٣ـ ځوک وايي چې: په ﴿فِيهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ﴾ کښې د ﴿ لِّلنَّاسِ ﴾ د کلمې څخه ځرګندېږي چې شات د هرچا او هر مرض دپاره شفاء ده حال دا چې ګرم مزاجو خلکو ته خو د شاتو څښکل په ضرر تمامېږي؟

مونږ وايو چې:

الف: په شاتو کښې د ټولو امراضو دپاره شفاء شته مګر ځينو ته په انفرادي توګه ګټه رسوي او ځينو ته د نورو دواګانو په ترکيب سره ګټور تمامېږي، بلکې د هر مرض دپاره چې څه معجون جوړېږي په هغو کښې به ضرور د شاتو څخه کار اخستل کېږي.

(١) التفسير الكبير ج٢٠ ص٧١
(٢) تفسير ابي السعود ج٥ ص٥٦١
(٣) البحر المحيط ج٦ ص٥٦١
(۴) صحيح البخاري ج٢ ص٧٩٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لنډه دا چې په شاتو کښې د هر مرض شفاء شته مګر دا بېله خبره ده چې په ځينو باندې طبيبان پوهېږي او په ځينو باندې نه پوهېږي[١]. د ښه وضاحت دپاره د نبي کريم ﷺ سره د يوه سړي د سوال جواب مضمون ولولئ:

سړی: ای د الله رسوله! زما ورور د ګېډې ځخه شکايت لري (اسهال دی) ګېډه يې روانه ده.

نبي کريم ﷺ: «اسْقِهِ عَسَلاً» يعنې ورور ته دې شات ور وڅښکوه، چې نس يې ودرېږي.

سړی: ای د الله رسوله! ما خو شات وروڅښکول مګر ګټه يې ورته ونه کړه.

نبي کريم ﷺ: «اسْقِهِ عَسَلاً» يعنې نبي کريم ﷺ بيا خپله توصيه تکرار کړه.

سړی: ای د الله رسوله! بيا مې هم شات وروڅښکول مګر نس يې وربانديې ونه درېد.

نبي کريم ﷺ «اسْقِهِ عَسَلاً» يعنې نبي کريم ﷺ ورته د درېم ځل دپاره هم ذکره شوې توصيه وکړه.

سړی: ای د الله رسوله! په درېم ځل باندې هم ورته شاتو څښکلو څه ګټه ونه کړه، ما خو ستاسو توصيه عملي کړه.

نبي کريم ﷺ: «صَدَقَ اللهُ وَكَذَبَ بَطْنُ أَخِيكَ اسْقِهِ عَسَلا»[٢] يعنې الله ﷻ رښتيا ويلي دي چې په شاتو کښې د خلکو دپاره شفاء ده خو ستا د ورور ګېډه دروغ وايي چې بهېدل يې نه درېږي، بيا هم شات ورڅښکوه.

«فَسَقَاهُ فَبَرَأَ» يعنې په څلورم وار باندې چې نوموړي سړي خپل ورور ته شات ور وڅښکول نسناستی يې ودرېد او د مرض دپاره يې شفاء وکرځېده.

که څوک غواړي چې د ذکر شوي حديث په اسرارو باندې خپل ځان پوه کړي نو ځينو اوږدو کتابونو[٣] ته دې مراجعه وکړي.

ب: په ﴿ فِيهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ ﴾ کښې د ﴿ شِفَآءٌ ﴾ کلمه نکره ده او تنوين پکښې د تعظيم دپاره دی، او د عربيت قانون دی چې نکره په اثبات کښې عموم نه فائده کوي[٤].

نو د معنی حاصل يې داسې راځېژي چې په شاتو کښې د خلکو د پاره ډېره لويه شفاء ده، په اغلبو وختونو کښې پرې د مرضونو مخنيوی کېږي. او داسې مطلب نه دی چې په هر وخت کښې د هرچا دپاره پکښې د هر مرض علاج او شفاء شته دی.

ځينو علماء کرام همدې جواب ته د حق جواب لقب ورکړی دی[٥].

دا د يو پلوه، او د بله پلوه د شاتو په ارتباط د نبي کريم ﷺ ځخه زښت ډېر احاديث روايت شوي

(١) زاد المسير ج٤ ص٣٤٠
(٢) صحيح البخاري ج٢ ص٨٤٨
(٣) تفسير الخازن ج٣ ص٦٢٠
(٤) تفسير تيسير الرحمن ج١ ص٤١٢
(٥) روح المعاني ج١٤ ص١٨٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دي چې ځينو علماوو کرامو يې ښه غټه مجموعه راغونډه کړې ده[۱] چې يو ځل لوستل ې هر چا ته په کښه تماميږي.

## شاتو پورې مربوط عجائب او غرائب

۱۴_ الله ﷻ د ﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴾ په لنډو کلماتو کښې د شاتو پورې مربوطو ډېرو عجائبو او غرائبو ته اشاره کړې ده چې ځينو اسلامي متفکرينو پکښې زښت ډېر اوږده بحثونه کړي دي[۲] که څوک يې د لوستولو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي، مونږ يې فقط د لاندې نکاتو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

الف: که بالفرض الله ﷻ د شاتو مچيو ته ذکر شوې الهامات نه وی کړي نو هغوی به هيڅکله په عجيب جوړښت سره خپلې جالې (ګبينې) نه وی جوړ کړي او نه به انسانان په اسانۍ سره توانېدلي وی چې دا کار يې په غاړه اخستی وی.

ب: که د الله ﷻ الهام نه وی نو د شاتو مچيو به په هغو خايونو (پېټيو) او صندقونو کښې خپلې جالې نه وی جوړې کړی کوم چې ورته بنيادمانو تيار کړي وي چې په اسانۍ او هم په کثرت سره شات راغونډ کړي او استفاده ترې وکړي، دوی به د نورو حشراتو او وحشي ساکښانو په څېر خپلې جالې په غرونو او ونو پورې خاصې کړې وی، نو په دې صورت کښې به انسانانو نه شوی کولی چې خپلې شاتي مچې د يوه ګل ځای څخه بل ګل ځای ته انتقال کړي، او يا په خپلو مچيو باندې د خپلې خوښې په مطابق د ګلانو لعاب (مزه) راټوله کړي.

ج: که د الله ﷻ الهام نه وی نو د شاتو مچيو به د هرې مېوې د ګلانو څخه لعاب نه راټولولی او په هر يوه ګل باندې به نه کېناستی، په دې تقدير به بنيادمان د شاتو د ډېرو ډولونو څخه محروم شوي وی. د الله ﷻ فضل دی چې مچې د يوه ګل څخه هم نفرت نه کوي، مثلاً د ببرو ګلان، د سنځلو ګلان، د ټوتلو ګلان او د پلوڅو ګلان بلکې د هر ډول ميوجاتو او غير ميوجاتو ګلان د نظره تېروي او د يوه څخه هم امتناع نه کوي.

د: که د الله ﷻ الهام نه وی نو د شاتو مچيو به خپل خپل ګبينې نه شوی پيدا کولی او د ګلانو د پلټنو څخه وروسته به يې لارې خطا کولی، او هم به د خپل کار په اجراء کښې لرې سيمې ته نه شوی تللی چې د ګلانو دورې وکړي، همدارنګه په دې صورت کښې به هيچا خپلې مچې مصنوعي کورونو ته نه وی راغونډې کړې.

هـ: که د ده ﷻ الهام نه وی نو هغو به د خپلو ګېډو څخه راغونډ کړی شوي لعاب (مزې) نه راوېستلې او هملته به يې هضم کولی، چې په دې تقدير به هيچا د شاتو څکه نه وی کړې.

و: که د ده ﷻ اراده نه وی نو په يوه ګېډه کښې به په مختلفو رنګونو سره شات نه وی جوړ شوي

(۱) تفسير ابن كثير ج۲ ص۵۷۵، الدر المنثور ج۵ ص۱۴۴
(۲) تفسير المراغي ج ص۱۰۷؛ تفسير الخازن ج۳ ص۶۱۸؛ الجواهر للطنطاوي ج۸ ص۱۴۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بلکې تول به په یوه رنګ وی.

ز: بالآخره که د الله ﷻ فضل او بې انتهاء مرحمت نه وی نو په شاتو کښې به د مختلفو ناروغیو دپاره شفاء او روغتیا نه وی نغښتې.

ح: د شاتو مچۍ لکه څنګه چې په خولو باندې د ګلانو او بوټو مزې راغونډوي ترڅو ترې شات جوړ شي، همدارنګه په پښو سره د هغو څخه رطوبات راپورته کوي ترڅو ترې شمعه (موم) جوړ شي چې دوی ترې کورونه جوړ کړي.

ط: د شاتو مچۍ د ذکر شوي موم څخه په یوه جاله کښې بې شمېره کورونه جوړوي او د شاتو څخه يې ډکوي، کله چې یو کور ډک شي نو د هغه سر په موم باندې بند کړي ته به وایې چې شات بې پکښې بلې ورځې ته وساتل، او سمدستي د بل کور په جوړولو پیل وکړي بلکې همدغه سلسله جاري ساتي.

ي: د شاتو مچۍ خپل کورونه مسدس (شپږ ضلعي) جوړوي ترڅو د کورونو په تسلسل کښې څه فرجه (وت) واقع نه شي، که بالفرض د همدغه شکل څخه په غیر يې هر یو شکل د خپلو کورونو د نقشو دپاره انتخاب کړی وی نو هرو مرو به د کورونو اتصال خراب شوی وی او وتونه (فرجې) به پکښې واقع شوي وی، په دغو ټولو کورونو کښې ذکر شوی شکل د هندسي سامان څخه پرته د اجراء لاندې نیولی کېږي چې انسان دا کار بدون د سامانه نه شي کولی.

یا: د شاتو په هر جالکي (ګبیني) کښې د مچیو شمېر پنځوسو زرو (۵۰۰۰۰) ته هم کله-کله رسېږي چې په لاندې توګه افراد پکښې اوسېږي:

اول: په دغو ټولو کښې فقط یوه مچۍ د ټولو مچیو دپاره ملکه او مشره وي چې د "يَعْسُوب" یا "خَشْرَم" په نامه يادېږي، دغه مچۍ د نورو څخه لږ څه غټه ده، دا د ټول جالکي واکداره وي او وظیفه يې توالد او تناسل وي چې په درېوو هفتو کښې د شپږ زرو څخه نیولې آن تر دولس زرو پورې هګۍ اچوي، د همدې کبله دغې مچۍ ته د "أُمُّ النَّحْل" لقب هم ورکول کېږي.

دوهم: په ذکر شوي شمېر کښې د څلور سوو څخه نیولې آن تر پنځو سوو پورې نران وي چې د دوی کار فقط لقاح (باردار کول) دی او بس.

دریم: پاتې ټولې مچۍ کارګرې دي، چې نه توالد او تناسل کوي او نه د لقاح سره کار لري، ته به وایې چې د دغو هر یو فرد خنثی مشکل دی. د دغو مچیو وظیفه دا ده چې موم راغونډ کړي چې کورونه ترې جوړ کړي او شات تولید کړي چې د جالکي ټول اوسېدونکي (واړه او زاړه) ترې د غذا او خوراک استفاده وکړي. دا وه څه لنډ معلومات چې دلته ولیکلی شوه.

## د انسان د عمر مراتب

۱۵ـ علماء کرام وایي چې د انسان عمر په لاندې څلورو مراتبو باندې وېشلی کېږي[١]:

(١) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج٣ ص١٨٩؛ تفسیر ابي السعود ج٥ ص١٢٦؛ تفسیر الخازن ج٣ ص٦٢٢

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: یو د نشا او نمو عمر دی چې بنیادم پکښې غټېږي چې تر د ېرشو کالو پورې دوام کوي.

ب: بل د وقوف (ودرېدلو) عمر دی چې بنیادم پکښې ځای په ځای د ځوانۍ په حال ولاړ وي، چې تر څلوېښتو کالو پورې ادامه لري.

ج: بل د کهولت (ټيټېدلو) عمر دی چې بنیادم د کمزورۍ په لور حرکت کوي مګر په خفي (پټه) توګه، چې څوک پرې چندان نه پوهېږي چې زه مخ ښکته روان یم، دا عمر د څلوېښتو څخه نیولی تر پنځه اویاوو کالو پورې ادامه لري.

د: څلورم د شیخوخت (بوډاتوب) عمر دی چې کمزوري یې پوره ښکاره وي، دا عمر د پنځه اویاوو څخه تر آخرنۍ سلګۍ پورې اوږدېږي.

مونږ ته داسې برېښي ـ والله ﷻ أعلم ـ چې ذکرې شوې څلور رتبې به د بنیادمانو د قوت او ضعف پورې اړه لري او د کلنو اندازه به پکښې موثره نه وي، نو څه لرې نده چې یو سړی څلورمې رتبې ته په اویا کلنۍ کښې ورسېږي او ځینې نور ورته په اتیا کلنۍ کښې ورسېږي او داسې نور.

## په بوډاتوب کښې سوال جواب

١٦ـ که څوک وایي چې: په ﴿ وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰٓ أَرۡذَلِ ٱلۡعُمُرِ ﴾ کښې ﴿ أَرۡذَلِ ٱلۡعُمُرِ ﴾ (حقیر ژوند او بې عزته عمر) د کوم عمر څخه عبارت دی؟

مونږ وایو چې: که څه هم نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې «عُمْرُ أُمَّتِي مِنْ سِتِّينَ سَنَةٍ إِلَى سَبْعِينَ»[(١)] یعنې زما د (اکثره) امت عمر د شپېتو کالو څخه تر اویاوو پورې دی، مګر د لاندې دوه وو عمرونو څخه یې پنا غوښتې ده:

الف: په یوه اوږده حدیث کښې یې فرمایلي دي چې: «وَأَعُوذُ بِكَ أَنْ أُرَدَّ إِلَى أَرْذَلِ الْعُمُرِ»[(٢)] یعنې ای ربه! زه په تا باندې پنا غواړم چې حقیر ژوند ته ورتاو کړی شم او د ماشوم په څېر په څه نه پوهېږم.

ب: په بل اوږده حدیث کښې یې فرمایلي دي چې: «وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْهَرَمِ»[(٣)] یعنې ای ربه! زه په تا باندې د بوډاتوب د عمر څخه پنا غواړم.

نو د ذکرو شوو دواړو احادیثو څخه ښکاره کېږي چې ﴿ أَرۡذَلِ ٱلۡعُمُرِ ﴾ د څلورمې رتبې د عمر څخه عبارت دی، نو په حقیقت کښې د ﴿ لِكَيۡ لَا يَعۡلَمَ بَعۡدَ عِلۡمٍ شَيۡـًٔا ﴾ کلمه د همدغې معنی تشخیص کوي چې د پوهې څخه وروسته بېرته ناپوهۍ ته ورستون شي، ته به وایې چې بیا ترې ماشوم جوړ شو.

همدا مضمون الله ﷻ په بل ایت کښې داسې نازل کړی دی چې: ﴿ وَمَن نُّعَمِّرۡهُ نُنَكِّسۡهُ فِي ٱلۡخَلۡقِ ﴾ [يس:٦٨] یعنې او هر چاته چې مونږ ډېر عمر ورکړو نو هغه په پیدایښت کښې نسکور کړو، بدن

---

(١) جامع الترمذي ج٢ ص٥٩

(٢) صحيح البخاري ج٢ ص٩٤٢

(٣) صحيح البخاري ج٢ ص٩٤٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بې بهرته کمزوري کړو او عقل (فکر) يې بېرته خام او کاواکه کړو.

نبي کريم ﷺ د همدې عمر په باره کښې فرمايلي دي چې: «تَدَاوَوْا فَإِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ لَمْ يَضَعْ دَاءً إِلَّا وَضَعَ لَهُ دَوَاءً غَيْرَ دَاءٍ وَاحِدٍ الْهَرَمُ»[١] يعني اى بندګانو! د خپلو مرضونو تداوي وکړئ او دا ځکه چې الله ﷻ هيڅ مرض نه دى ايښى (نه دى پيدا کړى) مګر هغه ته يې دواء هم ايښې (پيدا کړې) ده غير د يو مرض څخه چې هغه د بوډاتوب څخه عبارت دى.

## پښتون شاعر او بوډا

ذکر شوى مضمون يوه پښتون شاعر په خپلو اشعارو کښې[٢] په ښومره اغېزمنه توګه ځاى په ځاى کړى دى چې:

ښايسته مخ دې تور کودى شي په پيرى کښې :: سم قامت وي کوږ لرګى شي په پيرى کښې
لکه شمع د سحر افتاب د ژمي :: هم بې تاب وهم زيړى شي په پيرى کښې
يو طرف ته يې سر ريږدي بل خوا درومي :: خپل صورت تمام پردى شي په پيرى کښې
د مرده وو په حساب وي غزا وشوه :: که څرګند ليده ژوندى شي په پيرى کښې
مړ لا ښه دى پس له مرګه بيا ژوندى شي :: نشته دا چې څوک زلمى شي په پيرى کښې
که څه وخوري لکه زهر نه هضمېږي :: نه څه ښئي نه څه خوري شي په پيرى کښې
دا ځواني ده چې څه اوري يا څه ويني :: نه ليدى نه اوريدى شي په پيرى کښې
اى رحمانه! پيري هسې عاجزي ده :: که روستم وي زړه پرې سوى شي په پيرى کښې

﴿وَٱللَّهُ فَضَّلَ بَعۡضَكُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖ فِي ٱلرِّزۡقِۚ فَمَا ٱلَّذِينَ فُضِّلُواْ بِرَآدِّي رِزۡقِهِمۡ عَلَىٰ مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُمۡ فَهُمۡ فِيهِ سَوَآءٌۚ أَفَبِنِعۡمَةِ ٱللَّهِ يَجۡحَدُونَ ﴿٧١﴾ وَٱللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّنۡ أَنفُسِكُمۡ أَزۡوَٰجٗا وَجَعَلَ لَكُم مِّنۡ أَزۡوَٰجِكُم بَنِينَ وَحَفَدَةٗ وَرَزَقَكُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِۚ أَفَبِٱلۡبَٰطِلِ يُؤۡمِنُونَ وَبِنِعۡمَتِ ٱللَّهِ هُمۡ يَكۡفُرُونَ ﴿٧٢﴾ وَيَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَمۡلِكُ لَهُمۡ رِزۡقٗا مِّنَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ شَيۡـٔٗا وَلَا يَسۡتَطِيعُونَ ﴿٧٣﴾ فَلَا تَضۡرِبُواْ لِلَّهِ ٱلۡأَمۡثَالَۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ وَأَنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٧٤﴾﴾

[٧١] او الله ﷻ ستاسو څخه ځينې کسان په ځينو نورو باندې په روزۍ (مالونو) کښې بهتر ګرځولي دي (چې ځينې مالکان او ځينې مملوکان ياست)، نو هغه کسان کومو ته چې بهتري ورکړه

(١) سنن ابي داود ج٢ ص١٨٣
(٢) د عبدالرحمن مومند ديوان

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شوې ده په هغو کسانو باندې د خپل روزۍ (مالونو) ورتاوونکي نه دي په کومو باندې چې د دوی ښیو لاسونو ملکیت حاصل کړی دی (چې د خپلو خانونو سره یې پکښې شریکان وګرځوي) نو چې دوی ټول (مالکان اومملوکان) پکښې یو برابر شي.

نو ایا مشرکان د الله ﷻ د نعمتونو څخه انکار کوي (چې ځینې نعمتونه د بوتانو څخه ګڼي او د الله ﷻ سره یې په عبادت کښې شریکان جوړوي).

[۷۲] او الله ﷻ ستاسو دپاره ستاسو د خپلو ځانونو (جنس) څخه جوړې (زنانه) پیدا کړي دي، او (بیا) یې ستاسو دپاره ستاسو د جوړو (مېرمنو) څخه زامن او لمسي ګرځولي دي (پیدا کړي دي)، او هم یې تاسو ته د پاکیزه (سپېڅلو) شیانو څخه در روزي کړې دي.

ایا نو مشرکان په باطلو (بوتانو) باندې ایمان او باور کوي او د الله ﷻ په نعمتونو باندې همدوی کفر (او ناشکري) غوره کوي؟

[۷۳] او (د ناشکرۍ مثال یې دا دی چې) دوی د الله ﷻ څخه په غیر د هغو شیانو عبادت کوي کوم چې د دوی دپاره نه د اسمان څخه د روزۍ ملکیت لري (چې باران وکړي) او نه د ځمکې څخه (چې نباتات رازرغون کړي، لنډه دا چې د دوی معبودان نه) د هیڅ شي (ملکیت لري) او نه (د روزۍ په ورکړه باندې) توانېدلی شي.

[۷۴] نو تاسو الله ﷻ ته مثالونه مه بیانوئ (د څه شي سره تشبېه مه ورکوئ، ځکه چې) یقیناً الله ﷻ پوهېږي (چې په دې کار باندې تاسو ګمراهان کېږئ) او تاسو نه پوهېږئ (دا کار درته خطر نه برېښي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو ایتونو څخه د وروستني ایت مضمون تعقیب شوی دی او د الله ﷻ د وحدانیت څه نورو انفسي دلایلو ته پکښې اشاره شوې ده چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! مشرکانو ته د دوی د نفسونو پورې مربوط څه نور دلایل هم د الله ﷻ په توحید باندې واوروه ترڅو دوی د غفلت د خوبه راوېښ شي، هغه دا چې:

۱ـ ای انسانانو لکه څنګه چې الله ﷻ تاسو په مختلفو عمرونو باندې پیدا کړي یاست او هیڅوک توان نه لري چې په ټاکلي عمر کښې څه زیادت او کمبود واقع کړي، همدارنګه الله ﷻ تاسو په روزۍ کښې هم متفاوت پیدا کړي یاست، چې د ځینو روزي یې په نسبت سره ځینو نورو ته پراخه ګرځولې ده او په پراخۍ کښې یې پرې بهتري ورکړې ده؛ یا په بل عبارت الله ﷻ په تاسو کښې ځینې کسان باداران پیدا کړي دي چې د ملکیت خاوندان دي او په خپلو ورکړی شوو مالونو کښې د خپلې خوښې تصرف کولی شي، او بالمقابل ځینې یې مریان جوړ کړي دي چې بالکل ملکیت نه لري او په خوراک او څښاک کښې یې هم د خپل بادار لاس ته سترګې نیولې وې چې څه ورکړي او د مرګ څخه وربانديې بچ شي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو اوس تاسو ته لاندې پوښتنه متوجه کېږي چې: ایا باداران خپل ملکیت د خپلو مریانو سره شریکوي چې هغوی ورسره په ټول ملکیت کښې یو برابر شریک شي، حال دا چې باداران او مریان په مخلوقیت کښې یو برابر دي؟ پوره واضحه ده چې جواب منفي دی، هیڅکله د فضیلت خاوندان په خپل روزي شوي فضیلت کښې خپل مملوکان د ځانونو سره نه برابروي.

نو ای پیغمبره! ایا مشرکان د الله ﷻ د نعمتونو څخه انکار کوي، چې بوتانو ته یې منسوبوي او په همدې انتساب باندې ورسره مخلوقات مساوي ګرځوي، حال دا چې مخلوق د خالق سره هیڅکله نه شي مساوي کېدلی؟ همدارنګه دغه ټول دلایل د الله ﷻ نعمتونه دي مګر مشرکان ترې انکار کوي او د شرک څخه لاس نه اخلي.

۲_ بل د انفسي دلایلو څخه چې د الله ﷻ په وحدانیت باندې دلالت کوي دا دي چې:

الف: الله ﷻ تاسو ته _ای انسانانو_ ستاسو د خپل جنس څخه جوړې پیدا کړې دي چې ستاسو غونډې انسانانې دي او په خوراک، څښاک او هم په خاصیتونو او کړو وړو کښې ستاسو غونډې دي، که بالفرض ستاسو ماندینې ستاسو د جنس څخه نه وی نو هیڅکله به مو خوږه ګوزاره نه وی په برخه شوې.

ب: او بیا الله ﷻ تاسو ته د همجنسو ماندینو څخه زامن، لمسیان او کړوسیان پیدا کړي دي چې د کمزورۍ په وخت کښې ستاسو کومک وکړي او حتی ستاسو د مرګ څخه وروسته هم ستاسو کور اباد پاتې شي او مینه مو سپېره نه شي. ایا د الله ﷻ څخه په غیر تاسو ته ستاسو باطل معبودان زوی یا لمسی درېښلی شي؟

ج: په دې باندې علاوه الله ﷻ تاسو ته د پاکیزه او خوندورو شیانو څخه روزي تاکلې دي چې د خاورو څخه درته سپېڅلې او لذیذ میوجات او خوراکونه راوباسي. ایا د ذکرو شوو نعمتونو په پیدا کولو کښې ستاسو کوم یو باطل معبود څه برخه لري؟

۳_ ای پیغمبره! مشرکانو عجیبه کړنلاره خپله کړې ده چې په باطلو معبودانو باندې عقیده لري حال دا چې د هغو د لاسه هیڅ شی پوره نه دی، او په الله ﷻ باندې او د ده ﷻ په نعمتونو باندې کفر غوره کوي او ناشکري یې کوي حال دا چې د همده ﷻ د نعمتونو څخه روزمره ګټې اخلي.

یا په بل عبارت: مشرکان د هغو باطلو معبودانو عبادت کوي کوم چې ملکیت نه لري چې دوی ته د اسمانه څه روزي وکړي او باران پرې نازل کړي او یا د ځمکې د پلوه څه روزي او میوجات او خوراکي شیان ورته را زرغون کړي، بلکې نه ملکیت لري او نه وسه لري چې د روزۍ د یوې کوچنۍ برخې په پیداکولو باندې قدرت مونده کړي.

۴_ نو ای مشرکانو! الله ﷻ ته سیالان او امثال مه ثابتوئ ځکه چې الله ﷻ بې مثله او بې نظیر دی او دا ځکه چې الله ﷻ پوهېږي، خپل اقدس ذات ورته معلوم دی چې د ده ﷻ په مثل هیڅ شی نه شي کېدلی، خو تاسو نه پوهېږئ چې د شرک څخه لاس نه اخلئ.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱ـ د ذکر شوي لومړني آیتِ شریف مضمون الله ﷻ په بل ځای کښې داسې نازل کړی دی چې: ﴿ضَرَبَ لَكُم مَّثَلًا مِّنْ أَنفُسِكُمْ هَل لَّكُم مِّن مَّا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُكُم مِّن شُرَكَآءَ فِى مَا رَزَقْنَٰكُمْ فَأَنتُمْ فِيهِ سَوَآءٌ تَخَافُونَهُمْ كَخِيفَتِكُمْ أَنفُسَكُمْ﴾ [الروم:۲۸] یعني الله ﷻ تاسو ته ستاسو د خپلو نفسونو څخه یو مثال بیانوي، هغه دا چې: ایا تاسو ته د هغو غلامانو څخه څوک شریکان شته دي کوم چې ستاسو ښي لاسونه یې مالکان دي (البته) په هغه شي کښې کوم چې مونږ تاسو ته در روزي کړی دی نو چې تاسو ټول (مالکان او مملوکان) پکښې یو برابر یاست، حتی چې تاسو د خپلو مملوکانو څخه داسې دارېږئ لکه څنګه چې د خپلو اصیلو (مالکانو) شریکانو څخه دارېږئ، او د هغوی د مشورې څخه پرته په مالونو کښې تصرف نشئ کولی؟ ایا تاسو دغه ډول شریکان منلی شئ؟

پوره واضحه ده چې ستاسو جواب منفي دی، نو بیا د الله ﷻ سره د ده ﷻ مخلوق او من کل الوجوه مملوک په څه وجهه شریک ګڼئ؟

### حَفَدَةٌ څه معنی؟

۲ـ په ﴿بَنِينَ وَحَفَدَةً﴾ کښې د ﴿حَفَدَةً﴾ کلمه د "حافد" جمعه ده او د "حَفْدًا" ـ لکه "ضَرْبًا" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "حَفْدًا" په خدمت او اطاعت کښې چالاکۍ او سرعت ته ویل کېږي[۱]، په دې مقام کښې علماوو کرامو د ﴿حَفَدَةً﴾ دپاره ډېرې معناوې کړې دي چې په ټولو کښې خدمت او اطاعت پروت دی، نو که بالفرض ټولې معناوې اراده کړی شي هم څه باک یې نشته او څه منافات سره نه لري: هغه دا چې

الف: مشران اولادونه، چې په خدمت کښې د کشرانو او صغیرانو څخه زیاته چالاکي کولی شي

ب: لورګانې، چې اکثرًا د مور او پلار خدمت په کورونو کښې په سرعت سره ترسره کوي

ج: د لورګانو مېړونه او نور خپلوان

د: لمسیان، کړوسیان او نور.

### یو نحوي تحلیل

۳ـ د ﴿شَيْـًٔا﴾ د کلمې په اعراب کښې علماوو کرامو متعدد تحلیلونه کړي دي[۲] مګر مونږ ته بهتره برېښي چې دا کلمه به د "لا يَمْلِكُونَ" په تقدیر سره د وړاندېني کلام دپاره تاکید واقع شوي وي؛ یعني بوتان د هیڅ شي ملکیت نه لري او نه یې د ملکیت توان لري.

### أمثال څه معنی؟

۴ـ د ﴿فَلَا تَضْرِبُوا۟ لِلَّهِ ٱلْأَمْثَالَ﴾ جمله مفسرینو کرامو په دوه معناوو باندې تفسیره کړې ده:

---

(۱) روح المعاني ج۴ ص ۱۹۰، زاد المسیر ج۴ ص ۳۴۲، لسان العرب ج۳ ص۱۵۳

(۲) تفسیر کشاف ج۲ ص ۶۲۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: د "أمثال" كلمه د "مِثْل" ـلكه "عِلم" ـ جمعه ده او د ﴿ فَلَا تَضۡرِبُواْ ﴾ جمله د "فَلا تَجْعَلُوا" معنى وركوي[١]. يعني تاسو د الله ﷻ دپاره سيالان مه ګرځوئ چې په عبادت كښې ورسره شريكان جوړ كړئ.

همدا مضمون الله ﷻ په بل ايت كښې داسې نازل كړى دى چې: ﴿ فَلَا تَجۡعَلُواْ لِلَّهِ أَندَادٗا ﴾ [البقرة: ٢٢] نو تاسو د الله ﷻ دپاره سيالان (شريكان) مه ګرځوئ.

ب: د "أمثال" كلمه د "مَثَل" ـلكه "شَرَف" ـ جمعه ده[٢]. يعني تاسو الله ﷻ ته مثالونه مه بيانوئ او د هيڅ شي سره تشبيه مه وركوئ، ځكه چې ﴿ لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞ ﴾ [الشورى: ١١] د الله ﷻ په مثل هيڅ شى نشته، نه په ذات كښې، نه په صفاتو كښې او نه په احكامو او فيصلو كښې، همدى ﷻ واحد او لا شريک دى؛ دا كار ځكه مه كوئ چې د ناپوهۍ د كبله به خپل ځانونه د ګمراهۍ او ضلالت سره مخامخ كړئ.

مونږ ته همدغه دوهم تفسير په زړه پورې برېښي چې د يو پلوه په اول تفسير باندې تقريبًا مشتمل دى او د بلې خوا د راتلونكو ايتونو سره په ډېره ښه وجه اتصال او ارتباط پيدا كوي.

﴿ ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا عَبۡدٗا مَّمۡلُوكٗا لَّا يَقۡدِرُ عَلَىٰ شَيۡءٖ وَمَن رَّزَقۡنَٰهُ مِنَّا رِزۡقًا حَسَنٗا فَهُوَ يُنفِقُ مِنۡهُ سِرّٗا وَجَهۡرًاۖ هَلۡ يَسۡتَوُۥنَۚ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٧٥﴾ وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا رَّجُلَيۡنِ أَحَدُهُمَآ أَبۡكَمُ لَا يَقۡدِرُ عَلَىٰ شَيۡءٖ وَهُوَ كَلٌّ عَلَىٰ مَوۡلَىٰهُ أَيۡنَمَا يُوَجِّههُّ لَا يَأۡتِ بِخَيۡرٍ هَلۡ يَسۡتَوِي هُوَ وَمَن يَأۡمُرُ بِٱلۡعَدۡلِ وَهُوَ عَلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿٧٦﴾ وَلِلَّهِ غَيۡبُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَمَآ أَمۡرُ ٱلسَّاعَةِ إِلَّا كَلَمۡحِ ٱلۡبَصَرِ أَوۡ هُوَ أَقۡرَبُۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ﴿٧٧﴾ ﴾

[٧٥] الله ﷻ مثال وهي (بيانوي) چې: يو غلام وي مملوک (چې نه مكاتب وي او نه ماذون) چې په هيڅ شي (ګټې او ضرر) باندې قدرت نه لري، او (بل) هغه څوک وي كوم ته چې مونږ د خپله جانبه ښائسته (ډېره) روزي وركړې وي نو دى ترې په پټه او ښكاره نفقه كوي؛ ايا (ذكر شوي دواړه ډوله) سړي يو د بل سره برابر دي؟

(هيڅكله نه شي برابرېدلى، نو اى پيغمبره!) الحمد لله (ووايه! چې دغسې قوي دلايل يې درزده كړه)، بلكې اكثره مشركان نه پوهېږي (او څوک چې پوهېږي هغوى عناد نيولي دي).

[٧٦] او الله ﷻ (بل) مثال وهي (بيانوي) چې: دوه سړي وي چې يو يې ګونګ وي (او) په هيڅ

(١) التفسير الكبير ج٢٠ ص٨٣

(٢) تفسير ابي السعود ج٥ ص١٢٩

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شي باندې وسه نه لري حال دا چې نوموړی په خپل بادار باندې پېټی وي، هر ځای ته يې چې متوجه کړي (ولېږي) هيڅ خير (ګټه) نه راوړي (نه شي راوړلی)؛ ايا دغه (غلام) سړی او هغه څوک (سړی) برابر دي کوم چې په انصاف باندې (خلکو ته) امر کوي او (پخپله) هم په برابره لاره باندې (روان) وي؟

[٧٧] او خاص الله ﷻ ته د اسمانونو او ځمکو غائب (شيان) دي، او (هم) د قيامت کار (په اسانۍ او سرعت کښې) نه دی مګر لکه د سترګې رپ، بلکې دا کار د دې څخه ډېر نژدې (او اسان) دی، يقيناً الله ﷻ په هر شي باندې د قدرت خاوند دی.

## ارتباط او خلاصه

د وړاندېني نژدې ايت مضمون دا وه چې تاسو الله ﷻ ته د هيڅ شي سره تشبيه مه ورکوئ او دا ځکه چې تاسو نه پوهېږئ، په دې ايتونو کښې همدغه مضمون تعقيب شوی دی چې حاصل يې داسې راځېږي:

ای پيغمبره! په لاندې دوه وو مثالونو سره خلکو ته قناعت ورکړه چې د الله ﷻ دپاره د مثالونو د جوړولو څخه خپل خانونه بچ کړي او د هيڅ شي سره يې تشبيه نه کړي مثالونه دا دي:

### لومړی مثال:

الله ﷻ يو مثال د هغو دوه وو نفرو په حالاتو کښې بيانوي کوم چې مختلف کيفيتونه ولري، هغه دا چې:

١_ يو نفر د لاندې صفاتو خاوند وي:

الف: چې برسېره د الله ﷻ په بندګۍ باندې د يوه بل انسان غلام او بنده وي.

ب: چې د بل انسان په ملک کښې شامل وي، هغه کولی شي چې د څاروي په شان يې خرڅ کړي.

ج: چې په هيڅ وجه په هيڅ شي باندې د تصرف قدرت نه لري، نه مکاتب وي چې د خپل ځان د ازادولو دپاره کار او کسب وکړي او نه ماذون وي چې د خپل بادار په اجازه (اذن) په څه ورکړه راکړه کښې مشغول شي او هغه ته څه شی وګټي.

٢_ او بل نفر لاندې صفات ولري:

الف: چې هغه ته مونږ ښه ښائسته روزي ورېه نصيب کړې وي، د خپل ملکيت خاوند وي، د الله ﷻ څخه په غير د بل چا غلام او مملوک نه وي بلکې ازاد او اصيل انسان وي.

ب: چې په خپل ملکيت کښې د خپلې خوښې مطابق تصرف کوي، کولی شي چې په پټه ترې څه انفاق او خرڅه وکړي او يا يې په ډاګه نفقه کړي، په پټه کښې يې غاړه نه بندېږي او ګناهګارېږي نه، او په ښکاره کښې يې څوک مخه نه شي نيولی.

ای پيغمبره! خلکو ته پوښتنه راجع کړه چې: ايا ذکر شوی لومړنی نفر او د ده امثال د دوهم نفر او د ده د امثالو سره برابرېدلی شي او يا بالعکس دوهم د لومړني سره سيالي کولی شي؟ يا په بل عبارت: ايا ذکر شوي دواړه ډلې يوه د بلې سره برابره ده؟

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو

پوره واضحه ده چې د پوښتنې جواب منفي دی او هيڅوک نه شي کولی چې په برابرۍ باندې يې خوله وښوروي.

او بيا ورته ووايه چې: ايا دا انصاف دی چې تاسو لومړۍ ډله د دوهمې ډلې سره نه برابروئ حال دا چې دواړه ډلې په مخلوقيت کښې سره برابرې دي او يوه بلې ته نژدې ده، اما الله ﷻ ته د خپلو باطلو معبودانو سره په مساوات باندې حکم کوئ او په عبادت کښې يې ورسره برابر بولئ حال دا چې الله ﷻ خالق دی او هر شی يې په اختيار کښې دي او ستاسو باطل معبودان مخلوقات دي او هيڅ شی په اختيار کښې نه لري؟!

اى پيغمبره! د الله ﷻ حمد او ثنا ووايه چې مشرکان يې درته په څومره موثره توګه ملامته کړه مګر دا بيله خبره ده چې دوی د خپل خط السير څخه نه اوړي، د دې وجه دا ده چې د مشرکانو اکثريت نه پوهېږي او په ړانده تقليد کښې پراته دي، او اقليت يې که پوهېږي هم خو عناد نيولي دي او په شرک باندې کلک دي.

دوهم مثال:

٣_ همدارنګه الله ﷻ د مشرکانو د تخجيل او ملامتولو دپاره د لاندې دوه وو سړيو مختلف حالات هم بيانوي چې:

الف: يو سړی وي چې ګونګ وي او هيڅ خبرې نه شي کولی.

ب: همدغه سړی په غوږونو باندې کوڼ وي او هيڅ شی نه اوري، چې د همدې کبله يې خبرې نه وي زده کړې.

ج: په دې باندې علاوه نوموړی غلام وي خو د خپل بادار دپاره د هيڅ ګټې کار نه شي کولی، بلکې د هغه دپاره د درونډ پيټي مثال لري چې په اوږو باندې يې بار وي، او دا څکه چې:

د: بادار يې چې هر ځای ته ولېږي او د هر يوه کار امر ورته وکړي نو نوموړی غلام هيڅ ګټه نه شي راوړلی او هيڅ امر يې نه شي اجراء کولی.

۴_ اى پيغمبره! مشرکانو ته دا پوښتنه هم راجع کړه چې په انصاف سره ووایاست چې: ايا ذکر شوی سړی د هغه سړي سره برابر دی کوم چې لاندې صفات ولري:

الف: چې حواس يې ټول سالم او روغ وي، هم خبرې کولی شي او هم خبرې اوري.

ب: چې د وړاندېنې سړي په څېر شوده بوده نه وي بلکې روغو حواسو سره-سره عقل هم ولري چې ښه او بد پېژني.

ج: د همدې کبله چې پوهه او هوښياري لري همېشه خلکو ته په انصاف باندې امر کوي او د بې انصافۍ لارې څخه يې منعه کوي، چې په دې باندې مه ځئ.

د: بالآخره چې په هر کار او هر شي کښې په سمه لاره باندې روان وي او هيڅکله د حقې لارې څخه انحراف او کوږوالی نه کوي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۵_ پوره څرګنده ده چې د دې پوښتنې جواب هم منفي دی او یو مشرک به هم د ذکرو شوو دواړو سړیو په مساوات او برابرۍ باندې حکم ونه کړي.

نو ای پیغمبره! بیا مشرکان مخاطب کړه چې: ایا دا عجیبه نه ده چې تاسو د ذکرو شوو دواړو سړیو په مساوات باندې حکم نه کوئ حال دا دی چې دواړه سړي یو تربله نژدې اړیکې لري، چې دواړه بنیادمان دي او دواړه د مخلوقاتو څخه دي، مګر ړانده او کاڼه او هم ګونګان او بې عقله جمادات (خپل باطل معبودان) د الله ﷻ سره برابروئ حال دا چې دوی د الله ﷻ سره نژدې اړیکې هم نه لري، چې دوی مخلوقات دي او هغه ﷻ خالق دی او داسې نور.

## د قیامت د قیام ضرورت

۶_ ای پیغمبره! څرنګه چې په خلکو کښې داسې ډلې هم شته چې بالکل د څرګندو حقائقو څخه سترګې پټوي، لکه چې په ذکرو شوو دواړو مثالونو کښې ورته اشاره وشوه، نو دغسې خلک پوه کړه چې:

الف: د الله ﷻ په نزد د اسمانونو او ځمکو غیوب او پټ شیان ټول محفوظ دي، چې په همدې جمله کښې د ټولو خلکو اعمال او کړه وړه او همدارنګه د دوی د ابدانو خاورې شوې او خورې ورې شوې برخې او بڅرکي ټول شامل دي.

ب: نو د داسې ورځې قیام ضرور دی چې ټول مړي پکښې بېرته را ژوندي شي او د محاسبې دپاره د الله ﷻ په حضور کښې ودرېږي او مکافات او مجازات وګوري.

هو! دغه ورځ ډېره نژدې راروانه ده او راتلل یې حتمي دي، کله چې ورباندې الله ﷻ د قیام حکم وکړي نو دا کار به د سترګو د رپ غوندې په سرعت سره او بلکې د دې څخه هم په زیات نژدې او لنډ آن کښې صورت ونیسي ځکه چې الله ﷻ یقینًا په هر شي باندې قدرت لري او هر شی کولی شي.

## توضیحات

۱_ که څوک وایي چې: په ﴿ عَبۡدٗا مَّمۡلُوكٗا لَّا يَقۡدِرُ عَلَىٰ شَيۡءٖ ﴾ کښې د "عبد" کلمه د غلام معنی ورکوي چې مملوکیت ورسره لازم دی، همدارنګه بې اختیاري او عدم قدرت هم ورسره تړلي دي، نو پوښتنه دا ده چې: د څه حکمت په بنیاد یوازې د ﴿ عَبۡدٗا ﴾ د کلمې په نزول باندې اکتفاء ونه کړی شوه؟

مونږ وایو چې: د "عَبۡد" کلمه خو اصیل او ازاد سړي ته هم ویل کېږي چې بندګي (عبودیت) یې الله ﷻ ته نسبت کړی شي نو د ﴿ مَّمۡلُوكٗا ﴾ په نزول سره واضحه شوه چې دلته د بنده بندګي مراده ده.

همدارنګه ځینې غلامان د یو شي په کولو باندې قدرت لري، چې یا مکاتب وي او یا ماذون، نو د ﴿ لَّا يَقۡدِرُ عَلَىٰ شَيۡءٖ ﴾ په نزول سره الله ﷻ اشاره وکړه چې دلته هغه غلام مطلب دی چې نه مکاتب وي او نه ماذون.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مکاتب هغه غلام ته ویل کېږي چې خپل بادار د څه قیمت په اشتراط سره ازاد کړی وي، نو هغه څه کار او کسب کوي چې شرط کړی شوی قیمت پوره کړي او خپل ځان پرې بې قیده ازاد کړي.

ماذون هغه غلام ته ویل کېږي چې خپل بادار ورته د کار او کسب اجازه ورکړې وي ترڅو پیسې وګټي او خپل بادار ته یې تسلیم کړي.

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې: په ﴿ هَلْ يَسْتَوُونَ ﴾ کښې څو مستتر ضمیر هغو دواړو نفرو ته راجع دی کوم چې وړاندې ذکر شوي دي چې یو اصیل دی او بل کم اصل، نو پوښتنه دا ده چې د څه حکمت په بنیاد "هَلْ يَسْتَوِيَانِ" نازل نه شو ترڅو ضمیر د خپلې مرجع سره په مثنی توب کښې مطابق شوی وی؟

مونږ وایو چې: د ذکرو شوو دواړو نفرو څخه دوه اشخاص مراد نه دي بلکې په دواړو کښې هغه کسان مطلب دي کوم چې په ذکرو شوو صفاتو باندې موصوف وي، نو د هر یو نفر څخه جماعت او ټولګی مطلب دی او په ﴿ هَلْ يَسْتَوُونَ ﴾ کښې هر یوه ټولګي ته د بدلیت په اعتبار سره ضمیر راجع شوی دی. نو حاصل یې داسې کېږي چې: ایا دا ډله د هغې ډلې سره برابره ده؟ او ایا هغه ډله د دې سره مساوي کېدلی شي؟ بلکې هره یوه د بلې سره منافات لري.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۳_ که څوک وایي چې د ﴿ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ﴾ جمله د کوم مضمون سره ارتباط نیسي؟

مونږ وایو چې: د دغې جملې د ارتباط دپاره څو علماوو کرامو زښتې ډېرې وجهې لیکلې دي[1] مګر بهتره دا ده چې د دې جملې په لوستلو باندې په نبي کریم ﷺ او بیا ټولو مؤمنانو ته توصیه شوې وي چې تاسو د الله ﷻ حمد او ثناء ووایاست او د احسان اظهار یې وکړئ چې د مشرکانو په مقابل کښې یې څومره قوي دلایل درزده کړه، حتی چې هغوی یې په مقابل کښې هک پک ساکت او خجالت ودرېده.

## سوال جواب

۴_ که څوک وایي چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ لَيْسَ كَمِثْلِهِۦ شَىْءٌ ﴾ [الشوری:۱۱] یعنې د الله ﷻ سره هیڅ شی مشابهت او مماثلت نه لري، نو پوښتنه دا ده چې: په ذکروشوو دواړو مثالونو کښې خو الله ﷻ خپل اقدس ذات ته په اول مثال کښې د اصیل ازاد انسان سره او په دوهم مثال کښې د هغه چا سره تشبیه ورکړې ده کوم چې بینا او هوښیار وي[2]؛ یعنې ای مشرکانو! ستاسو باطل معبودان د هغه اقدس ذات سره نه شي مساوي کېدلی کوم چې د ازاد انسان او هوښیار سړي غونډې دی؟

مونږ وایو چې: ځینې مفسرین کرام د ذکر شوي سوال څخه تېښتېدلي دي او ذکر شوي دواړه

(۱) التفسیر الکبیر ج۲۰ ص۸۵

(۲) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۵۷۸؛ تفسیر الکشاف ج۲ ص۶۲۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مثالونه يې د مومن او كافر په حالاتو باندې تطبيق كړي دي، يعنې مومن د ازاد او هوښيار انسان په څېر دى او كافر د غلام او شوده بوده انسان غوندې دى[1]. مګر مونږ ته دا جواب ډېر غير متبادر برېښي، څكه چې خبره په مومن او كافر كښې نه ده راروانه بلكې بحث په الله ﷻ (حق معبود) او باطلو معبودانو (بوتانو) كښې جاري دى.

نو د ذكر شوي سوال جواب دا دى چې په دواړو مثالونو كښې ازاد او هوښيار انسان د الله ﷻ سره نه دى تشبيه شوى بلكې مطلب دا دى چې: د كفارو بوتان (چې د غلام شوده بوده انسان غوندې دي) د ازاد او هوښيار انسان سره نه شي مساوي كېدى نو د الله ﷻ سره به څنګه مساوي شي، حال دا چې مشركان ورته په مساوات باندې قائل دي!.

## يادونه

۵ـ مونږ په ﴿أَوْ هُوَ أَقْرَبُ﴾ كښې د "أو" كلمه په "بل" سره تفسيره كړه. يعنې د قيامت قيام نه دى مګر د سترګو د رپ غوندې دى بلكې د دې څخه هم ډېر نژدې دى، كله يې چې الله ﷻ اراده وكړي نو په زمانه كښې نه بلكې په يو آن كښې به صورت ونيسي او قائم به شي.

كه څوک په ذكره شوې كلمه كښې اوږد بحث غواړي نو اوږدو كتابونو ته دې مراجعه وكړي[2].

﴿وَٱللَّهُ أَخْرَجَكُم مِّنۢ بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمْ لَا تَعْلَمُونَ شَيْـًٔا وَجَعَلَ لَكُمُ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَٰرَ
وَٱلْأَفْـِٔدَةَ ۙ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ (٧٨) أَلَمْ يَرَوْا۟ إِلَى ٱلطَّيْرِ مُسَخَّرَٰتٍ فِى جَوِّ ٱلسَّمَآءِ مَا
يُمْسِكُهُنَّ إِلَّا ٱللَّهُ ۗ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ (٧٩) وَٱللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّنۢ
بُيُوتِكُمْ سَكَنًا وَجَعَلَ لَكُم مِّن جُلُودِ ٱلْأَنْعَٰمِ بُيُوتًا تَسْتَخِفُّونَهَا يَوْمَ ظَعْنِكُمْ وَيَوْمَ
إِقَامَتِكُمْ ۙ وَمِنْ أَصْوَافِهَا وَأَوْبَارِهَا وَأَشْعَارِهَآ أَثَٰثًا وَمَتَٰعًا إِلَىٰ حِينٍ (٨٠) وَٱللَّهُ جَعَلَ
لَكُم مِّمَّا خَلَقَ ظِلَٰلًا وَجَعَلَ لَكُم مِّنَ ٱلْجِبَالِ أَكْنَٰنًا وَجَعَلَ لَكُمْ سَرَٰبِيلَ تَقِيكُمُ
ٱلْحَرَّ وَسَرَٰبِيلَ تَقِيكُم بَأْسَكُمْ ۚ كَذَٰلِكَ يُتِمُّ نِعْمَتَهُۥ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تُسْلِمُونَ (٨١)
فَإِن تَوَلَّوْا۟ فَإِنَّمَا عَلَيْكَ ٱلْبَلَٰغُ ٱلْمُبِينُ (٨٢) يَعْرِفُونَ نِعْمَتَ ٱللَّهِ ثُمَّ يُنكِرُونَهَا
وَأَكْثَرُهُمُ ٱلْكَٰفِرُونَ (٨٣)﴾

---

(١) الدر المنثور ج٥ ص١٥٠، ١٥١

(٢) روح المعاني ج١٤ ص١٩٨؛ البحر المحيط ج٦ ص٥٧٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[٧٨] او الله ﷻ تاسو د مورګانو د ګېډو څخه په داسې حال کښې رابهر کړئ چې تاسو په هيڅ (مهم) شي باندې نه پوهېدئ او (بيا الله ﷻ پوه کړئ او) غوږونه او سترګې او (هم) زړونه يې درته پيدا کړه (د پوهې توان يې درکړ) شايد چې تاسو (د الله ﷻ د نعمتونو) شکر وکړئ (او سوچه عبادت يې وکړئ).

[٧٩] (نو اى پيغمبره!) ايا خلک مرغانو ته نه ګوري چې د اسمان په ګېډه کښې (د پرواز دپاره) مسخر کړى شوي دي، مرغانو لره (په هواء کښې) هيڅوک نه ټينګوي مګر الله ﷻ (او بس). يقيناً په دغه (مذکور بيان) کښې د داسې قوم دپاره چې ايمان راوړي لوى دلايل (نغښتي) دي.

[٨٠] او الله ﷻ ستاسو دپاره ستاسو د کوټو (کورونو) څخه استوګنځي پيدا کړي دي (چې په يو ځاى باندې پراته دي)، او هم يې ستاسو دپاره د څارويو د پوستکو څخه داسې کورونه (خيمې) پيدا کړي دي چې د خپل سفر په وخت کښې او د خپل توقف په وخت کښې يې ښه سپک مونده کوئ، او همدارنګه الله ﷻ ستاسو دپاره) د ګډو د وړيو څخه او (هم) د اوښانو د وړيو څخه او (بالآخره هم) د اوزو د وڅښتو څخه د اغوستلو او فرشونو سامانونه (پيدا کړي دي چې) د څه وخت پورې (ترې استفاده وکړئ).

[٨١] او الله ﷻ ستاسو دپاره د هغو شيانو څخه سوري پيدا کړي دي چې (يوازې) همده ﷻ خلق کړي دي، او ستاسو دپاره يې د غرونو څخه سمڅې (ګارې) پيدا کړي دي، او ستاسو دپاره يې داسې کميسونه (جامې) پيدا کړي دي چې تاسو د ګرمۍ (او د يخنۍ) څخه ساتي او داسې کميسونه (يې هم درته پيدا کړي دي) چې د خپلو جنګونو (د ضرر) څخه مو ساتي.

(اى پيغمبره!) الله ﷻ خپل نعمتونه په تاسو باندې دغسې پوره کوي شايد چې تاسو (ټول د الله ﷻ ارشاداتو ته) غاړې کېږدئ.

[٨٢] نو (اى پيغمبره!) که کفارو مخونه واړول (او کفر ته يې ادامه ورکړه) نو يقيناً په تاباندې (فقط) څرګند پيغام رسول دي (او بس).

[٨٣] (اى پيغمبره!) مشرکان د الله ﷻ (ذکر شوي او نور) نعمتونه پېژني (چې دا ټول د الله ﷻ د پلوه دي خو) بيا ترې (عناداً) انکار کوي (په مطابق يې عمل نه کوي) او د کفارو اکثريت کامل کافران دي (په راتلونکي کښې هم خپل کفر نه پرېږدي).

## ارتباط

وړاندېنې ايتونه د قيامت د ورځې په بيان باندې تمام شوي وه او په دې ايتونو کښې د ځينو نعمتونو نومونه اخستلى شوي دي چې د يو پلوه د الله ﷻ په توحيد باندې دلالت کوي او د بله پلوه سړى کولى شي چې د همدغو نعمتونو څخه په استفادې سره ذکرې شوې ورځې ته تيارى ونيسي، نو حاصل يې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

اى پيغمبره! د الله ﷻ د ځينو نعمتونو نومونه خلکو ته ورپه ياد کړه چې هم ترې د توحيد د اثبات

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په هکله استفاده وکړي او هم ترې د قیامت د ورځې دپاره د تیاري نیولو کار واخلي، هغه دا چې:

۱_ ای خلکو! الله ﷻ تاسو د مورګانو د ګېډو څخه په داسې حالاتو کښې رابهر کړئ چې:

الف: نه مو داسې غوږونه درلوده لکه څنګه یې چې اوس لرئ خو الله ﷻ ستاسو غوږونه مکمل کړه او د اورېدلو ښه قوي توان یې درکړ.

ب: نه مو د اوسنیو سترګو غوندې سترګې درلودې نو الله ﷻ د ښه پوره لیدلو او بصیرت سترګې درپېرزو کړې.

ج: نه مو د تفکر والا زړونه درلوده خو الله ﷻ تاسو ته عقلونه درعنایت کړه او فکري قوه یې درته ښه پیاوړې کړه.

د: همدارنګه ستاسو قوتونه هم کمزوري وه مګر الله ﷻ درته قوي کړه او لطف او فضل یې درباندې وکړ، دا ټول د دې دپاره چې تاسو خپل هر یو بدني نعمت په هغه شي کښې استعمال کړئ د کوم دپاره چې پیدا شوي دي، نو په دې تقدیر به تاسو د نعمتونو شکر وکړئ او الله ﷻ به په وحدانیت سره وپېژنئ او د قیامت د ورځې د مشکلاتو څخه به بچ شئ.

۲_ ای پیغمبره! الله ﷻ انسانان په داسې احکامو باندې نه دي مکلف کړي چې د هغو د اجراء کولو توان او وسائل یې نه وي ورکړي، بلکې الله ﷻ انسانان لا څه چې د حشراتو او نورو حیوناتو دپاره هم د ضرورت وسائل ورکړي دي او احتیاجات یې ورپوره کړي دي.

که په ذکره شوې ورکړه باندې مشرکان عقیده نه کوي نو ایا دوی مرغانو ته نه ګوري چې د اسمان په فضا کښې څنګه په وزرونو باندې الوزي او را الوزي، او په څومره مختلفو کیفیتونو سره پروازونه کوي؟

دا بالکل یقیني خبره ده چې په هوا (فضا) کښې مرغان هیڅوک د رالوېدلو څخه نه ساتي مګر الله ﷻ او بس، همده ﷻ هلته ټینګ کړي دي او د ټینګېدلو وسائل یې ورته برابر کړي دي.

۳_ ای پیغمبره! په دغو ذکرو شوو بیاناتو کښې د مؤمن قوم دپاره ډېر دلایل او قوي براهین دي، نو باید چې دوی پرې منګولې ښخې کړي او دوی پوه شي چې انساني وسائل او اندامونه بې حکمته نه دي او د قیامت په ورځ به بې پوښتنې پاتې نه شي.

۴_ همدارنګه الله ﷻ په تاسو باندې _ای انسانانو!_ ستاسو د ابدانو (نفسونو) څخه دباندې هم د نعمتونو کمی نه دی کړی بلکې ستاسو احتیاجات یې پوره کړي دي، هغه دا چې:

الف: الله ﷻ ستاسو دپاره هغه کورونه پیدا کړي دي په کومو کښې چې تاسو اوسېږئ او د یو ځای څخه یې بل ځای ته نه انتقالوي، بلکې ځای په ځای یې د خختو او ختو څخه جوړوئ.

ب: ستاسو دپاره یې د څارویو د پوستکو څخه هم سفري کورونه او کوټې پیدا کړې دي، چې د هغو حملو نقل او هم ورانول او ودرول دواړه تاسو ته اسان دي، دغه کورونه تاسو د خیمو او تجیرونو په نامه یادوئ او په اکثرو سفرونو کښې ترې کار اخلئ.

۵_ الله ﷻ ستاسو دپاره د څارویو د پوستکو څخه علاوه د هغو د ویښتانو څخه هم ډېر سامانونه

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پیدا کړي دي چې د یو وخته پورې ترې ګټې پورته کوئ او استفاده ترې کوئ. د مثال په ډول تاسو ته یې د مېږو او اوښانو دوړیو څخه او هم د اوزو د وچغنو څخه ډول ډول پوښاکونه او فرشونه جوړول درزده کړي دي.

٦_ الله ﷻ ستاسو دپاره د ډېرو هغو شیانو څخه هم پیدا کړي دي چې تاسو یې د سوروۍ څخه استفاده کوئ او ګټه ترې اخلئ، لکه:

الف: وریځ ستاسو دپاره ښه لوی او پراخه سوري جوړوي، البته کله چې د لمر په مخ باندې خوره شي.

ب: د ونو د سورو او هم د ونو او بوټو د مصنوعي سورو لاندې تاسو ښه خوشاله وخت تېروئ.

ج: غرونه، دیوالونه، ترې او ګټونه هم ستاسو دپاره سوري تهیه کوي.

٧_ الله ﷻ غرونه په داسې عجیبه توګه پیدا کړي دي چې تاسو پکښې سمڅې او غارونه وهئ او خپلو ځانونو ته پکښې د پټېدلو ځایونه تهیه کوئ. همدارنګه ستاسو دپاره یې ځمکه داسې پیدا کړې ده چې تاسو پکښې تاکاوې جوړوئ او زیرزمیني کورونه پکښې برابروئ.

٨_ الله ﷻ ستاسو دپاره لباس پیدا کړی دی چې په دغو جامو (لباس) سره تاسو د ګرمۍ او هم د یخنۍ څخه بچ کېږئ. دغه ډول لباس تاسو د مالوچو، کتان او نورو شیانو څخه د الله ﷻ په هدایت باندې جوړوئ.

٩_ الله ﷻ ستاسو دپاره اوسپنې هم پیدا کړي دي چې تاسو ترې د جنګ په وخت کښې کار اخلئ او د زغرو، خولونو، د آهني واسکټونو او نورو شیانو په شکل یې نښلوئ.

١٠_ ای پیغمبره! په دغه ډول سره الله ﷻ دخپلو نعمتونو لړۍ په تاسو باندې جاري ساتلې ده چې د قیامت ورځې پورې به ادامه ولري، مګر دا ټول د دې دپاره چې تاسو خپل رب ﷻ وپېژنئ او شریعت ته یې غاړې کېږدئ؛ ایا د ده ﷻ څخه په غیر داسې څوک شته چې تاسو ته د ذکرو شوو نعمتونو څخه د یوه وړوکي نعمت پیداکوونکی وي؟

نو تاسو ته په کار دي چې په عبادت کښې هم ورسره هیڅوک شریک ونه ګرځوئ او یوازې د همده ﷻ عبادت وکړئ چې ستاسو حقیقي انعام کوونکی دی.

١١_ ای پیغمبره! که د ذکرو شوو دلایلو سره سره مشرکانو ستا د دعوت څخه خپل مخونه واړول او قبول یې نه کړه نو ته هیڅ مه خپه کېږه، او دا ځکه چې په تاباندې د دعوت څخه په غیر بل هیڅ شی نشته، ته خو د مشرکانو د شرکیاتو مسؤل نه یې، د هغوی د کافرکېدلو ګناه خو په تاباندې نشته، ته خو د دې دپاره نه یې استولی شوی چې ضرور به خلک د کفر څخه اسلام ته راواړوې، لنده دا چې تا خپله غاړه خلاصه کړه نور نو مشرکان (کفار) پوهېږي او کار یې.

١٢_ ای پیغمبره! د اکثرو کفارو د حق څخه انکار عنادي دی چې عارفانه یې کفر اختیار کړی دی، دوی ښه پوهېږي چې ذکر شوي نعمتونه بلکې ټول نعمتونه (چې په لومړي سر کښې یې قرآن کریم واقع دی) د الله ﷻ د پلوه دي او هیڅوک او هیڅ شی پکښې مداخله نه لري، خو د دې سره سره

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوی ترې انکار کوي چې قرآن کريم د الله ﷻ د پلوه نه دی نازل شوی، او هم يې ناشکري کوي چې د خپل حقيقي انعام کوونکي په وحدانيت باندې معترف نه دي.

## توضيحات

١_ الله ﷻ د هر شي دپاره د هغه د ژوندانه اړتياوې ورپوره کړي دي، نو څرنګه چې انسان دوه ژوندونه لري نو د دواړو دپاره يې ورته ضروريات تکميل کړي دي چې په دنيا کښې يې د علم اسباب ورکړي دي لکه غوږ، سترګې، زړه او نور اعضاء، چې دلته ترې استفاده وکړي او د آخرت دپاره ترې ګټه پورته کړي، او د آخرت د ژوند دپاره الله ﷻ قرآن کريم او نور کتابونه نازل کړي دي او په ګڼ شمېر کښې يې پيغمبران را استولي دي ترڅو د هغه ژوند لاره غلطه نه کړي.

اما نور حيوانات يې هم د ضرورياتو د پوره کولو څخه نه دي محروم کړي د مثال په توګه مرغانو ته يې فقط د دې ژوندانه اسباب او سامان ورکړي دي او بس، چې نه ورته جنت شته دی او نه دوزخ.

٢_ په ﴿ أَلَمۡ يَرَوۡاْ إِلَى ٱلطَّيۡرِ ﴾ کښې د "طَيْر" کلمه که څه هم مفرده استعماله شوې ده مګر اصلاً د "طَاير" جمعه ده، "طَاير" کلمه په طيور او اطيار باندې هم جمعه شوې ده[١].

په دې مقام کښې د ذکرې شوې کلمې څخه د جمعې معنی مراده ده ځکه چې په ﴿ يُمۡسِكُهُنَّ ﴾ کښې ورته د جمعې ضمير "هُنَّ" راجع شوی دی.

## سوال جواب

٣_ که څوک وايي چې: په ﴿ فِي جَوِّ ٱلسَّمَآءِ ﴾ کښې د "جَوّ" کلمه د هغې هوا معنی ورکوي کومه چې د ځمکې او اسمان ترمنځ واقع ده[٢] نو پوښتنه دا ده چې د کوم حکمت په بنياد په دې مقام کښې يوازې ﴿ ٱلسَّمَآءِ ﴾ ته مضافه کړی شوې ده؟ په کار خو دا وه چې دواړو ته يې اضافت موندلی وی.

مونږ ..يو چې: د لغات ځينو کتابونو دا هم ليکلي دي چې: "جَوُّ كُلِّ شَيۡءٍ بَطۡنُهُ وَدَاخِلُهُ"[٣] د هر شي جو د هغه د ګېډې او د هغه د داخل څخه عبارت دی؛ نو داسې برېښي چې دلته به د همدغې معنی اراده کولو ته اشاره وي چې: ای انسانانو! مرغانو ته نه ګورئ چې د الله ﷻ د پلوه مسخر کړی شوي دي او د اسمان په ګېډه کښې د ځمکې دپاسه پرواز کوي او د رالوېدو څخه بچ پاتې دي.

که څه هم ځينو علماء کرامو ليکلي دي چې مرغان تر دولس ميله پورې لوړه الوتنه کولی شي[۴] مګر بهتره دا ده چې دغه اندازه الله ﷻ ته ور وسپارو چې پروازونه به يې ترڅو ميله پورې لوړېږي. د مرغانو په هکله که څوک ډېر معلومات غواړي نو ځينو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[۵].

---

(١) لسان العرب ج۴ ص۵۱۹
(٢) مفردات الراغب ص١٠١
(٣) لسان العرب ج١۴ ص١۵٧
(۴) روح المعاني ج١۴ ص٢٠٢
(۵) تفسير القاسمي ج١٠ ص١۴١؛ الجواهر للطنطاوي ج٨ ص١۴٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د ظعن او إقامة معناوې

۴- په ﴿بُيُوتًا تَسْتَخِفُّونَهَا يَوْمَ ظَعْنِكُمْ وَيَوْمَ إِقَامَتِكُمْ﴾ کښې د "ظعن" کلمه تللو او مزله ته وضعه شوې ده[۱]. نو بالمقابل په دې مقام کښې د "إقامة" د کلمې څخه توقف مرادېږي، چې مزل (تلل) بس کړی شي. نو د معنی حاصل يې داسې راځېږي چې: الله ﷻ ستاسو دپاره داسې کورونه (کوټې) پيدا کړې دي چې خای په خای ولاړې دي او د خاورو او خښتو څخه جوړې دي او همدارنګه بې ستاسو دپاره د څارويو د پوستکو څخه سفري کورونه هم پيدا کړي دي چې د سفر په وخت کښې بې ښه په اسانۍ سره انتقالولی شئ او په جلتۍ سره يې رنګولی او ترلی شئ، او بيا يې د توقف په وخت کښې ښه په اسانۍ او خفت سره بېرته ودرولی شئ او استفاده ترې کولی شئ.

## په ياد ولرئ!

۵- په ياد ولرئ چې په ﴿وَمِنْ أَصْوَافِهَا وَأَوْبَارِهَا وَأَشْعَارِهَآ﴾ کښې درېواړه ضميرونه د ﴿ٱلْأَنْعَٰمِ﴾ کلمې راجع دي چې د (اوښانو، غوايانو، ګډو، اوزو) څخه عبارت ده.

څرنګه چې د غوايانو په شاګانو باندې داسې ويښته نه رازرغونېږي چې د هغو څخه څه سامان جوړ کړی شي اما پاتې درېواړه څاروي داسې ويښتان لري چې د هغو څخه ګټه اخستله کېږي او سامانونه ترې جوړېږي؛ نو څکه الله ﷻ د ګډو (مېږو) ورېو ته په ﴿وَمِنْ أَصْوَافِهَا﴾ سره اشاره وکړه چې اصواف د صوف جمعه ده او د ګډو د ويښتانو دپاره وضعه شوې ده[۲] چې په پښتو کښې ورته وړی وايو. او په ﴿وَأَوْبَارِهَا﴾ کښې يې د اوښانو د شاګانو ويښتانو ته اشاره وکړه چې "أوبار" د "وبر" جمعه ده او د اوښ ويښتان پکښې شامل دي[۳] چې دا هم په پښتو کښې د ورېو په نامه يادېږي. اما "أشعار" د "شعر" جمعه ده چې د اوزې د ويښتانو نوم دی[۴] چې په پښتو کښې ورته وچغنه ويل کېږي.

## أثاث او متاع څه فرق لري؟

۶- د "أثاث" کلمه او هم د "متاع" کلمه يوه هم د خپل لفظ څخه مفرد نه لري او په دواړو کښې جمعيت شته، او همدارنګه دواړه سره په معنی کښې يوه بلې ته نژدې ده، دهمدې کبله د دواړو په معناوو او فرقونو کښې علماوو کرامو ډېر څه ليکلي دي، لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: "أثاث" د کور ډېرو سامانو ته ويل کېږي او "متاع" فقط د کور د سامان نوم دی، لږ وي او که ډېر وي[۵].

---

(۱) لسان العرب ج۱۳ ص۲۷۰
(۲) لسان العرب ج۹ ص۱۹۹
(۳) لسان العرب ج۵ ص۵۷۱
(۴) لسان العرب ج۴ ص۴۱۰
(۵) مفردات الراغب ص۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: "أثاث" هغه سامانونه دي کوم چې د اغوستلو او فرشونو دپاره وي او په همدغه غرض کښې بالفعل مستعمل هم وي، اما په "متاع" کښې ورسره د تجارت شرط په نظر کښې دی[١].

ج: "أثاث" هغه سامانونه دي کوم چې سرې یې اغوندې او خان پرې پټوي، او "متاع" هغه سامانونه دي کوم چې په کوټو کښې فرش کېږي او یا ترې همدلته د ډول او سنګار کار اخستلی کېږي[٢]، او داسې نور.

## أكنان څه معنی؟

٧ـ په ﴿ وَجَعَلَ لَكُم مِّنَ ٱلۡجِبَالِ أَكۡنَٰنًا ﴾ کښې د "أكنان" کلمه د "كِنّ" ـلکه "سِرّ" ـ جمعه ده. د "كِنّ، كِنّة، كِنان" درېواړه کلمې لکه څنګه چې په "أكنان" باندې جمعه کېږي همدارنګه په "أكِنّة" باندې هم جمعه شوي دي، ذکرې شوې درېواړه کلمې هره یوه د یوه شي وقایې او پردې ته ویل کېږي[٣]. یا په بل عبارت: هغه شي ته په کوم کښې چې نور شیان ساتلی کېږي ذکر شوي درېواړه نومونه وضعه شوي دي.

مګر د "كِنّ" کلمه کله کله د کوټې معنی هم ورکوي، په دې مقام کښې مونږ ته همدغه معنی په زړه پورې برېښې نو د معنی حاصل به یې داسې راوخېژي چې الله ﷻ تاسو ته توان درکړی دی چې په غرونو کښې غارونه او سمڅې (کوټې) جوړې کړئ او د شیانو د ساتنې او د خپلو ځانونو د پټولو دپاره ترې کار واخلئ.

## سوال جواب

٨ـ که څوک وایي چې د انسانانو دپاره خو لکه چې الله ﷻ په غرونو کښې سمڅې (ګارې) پیدا کړې دي همدارنګه یې په هوارو ځمکو کښې هم د دوی دپاره تاکاویګانې (ځمکنۍ کوټې) پیدا کړې دي، نو پوښتنه دا ده چې د څه حکمت په بنیاد دغه ډول پناځای ته اشاره ونه شوه؟

مونږ وایو چې: د ﴿ مِّنَ ٱلۡجِبَالِ ﴾ کلمه د حصر په توګه نه ده نازله شوې بلکې د مثال په توګه نازله شوې ده نو کله چې د چا ذهن د غرونو سمڅو ته ورواوړي نو ضرور تاکاویو ته یې هم فکر کېږي او د الله ﷻ انعامات وربه زړه کېږي. د همدغه مقایسوي عدم ذکر لاندې دوه مثالونه نور هم ولولئ:

الف: مونږ د [إبراهیم: ٥٠] ایت لاندې لیکلي دي چې د ﴿ سَرَٰبِيلُ ﴾ کلمه د "سِرْبَال" جمعه ده چې د کمیس معنی ورکوي، نو لکه څنګه چې کمیسونه او جامې د څارویو د پوستکو او وېښتانو څخه جوړېږي ـچې په وړاندېنې ایت کښې ورته اشاره شوې ـ همدارنګه د کتان او مالوچو او نورو شیانو څخه هم جوړېدلی شي مګر ذکر یې بالمقائسه پرېښودلی شوی دی.

(١) تفسیر القاسمي ج ١٠ ص ١۴۴
(٢) التفسیر الکبیر ج ٢٠ ص ٩٢
(٣) مفردات الراغب ص ۴٥٩؛ لسان العرب ج ١٣ ص ٣٦٠

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: په ﴿ سَرَٰبِيلَ تَقِيكُمُ ٱلْحَرَّ ﴾ کښې الله ﷻ اشاره کړې ده چې ستاسو کميسونه (جامې) تاسو د ګرمۍ څخه ساتي، مګر د مقايسوي ظهور د کبله يې "تَقِيكُمُ الْبَرْد، وَالْبَرَد، وَالثَّلْج" کلمات نه دي نازل کړي چې ستاسو جامې تاسو د يخنۍ،ږلۍ او واورې څخه ساتي.

شايد چې د دغه عدم ذکر يوه وجه به هغه وي کومې ته چې لږ وړاندې دستي اشاره وشوه او بله وجه به يې دا وي چې د قرآن کريم اولني مخاطبين (صحابه کرام ﷺ) نه د يخنۍ سره ډېر بلد وه ځکه چې هغه مناطق ګرم دي، او نه يې ږلۍ او واوره پېژانده، او دا ځکه چې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې: «اَلثَّلْجُ شَيْئٌ أَبْيَضُ يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ وَمَا رَئَيْتُهُ قَطُّ»[1] يعنې واوره د يوه سپين شي نوم دی چې د اسمانه رانازلېږي او ما هيڅکله نه ده ليدلې.

## يادونه

۹_ که څه هم ځينې مفسرين کرام[2] په ﴿ يَعْرِفُونَ نِعْمَتَ ٱللَّهِ ﴾ کښې د ﴿ نِعْمَتَ ٱللَّهِ ﴾ کلمه په نبي کريم ﷺ باندې تفسيروي، مګر مونږ ته بهتره برېښي چې په عموم سره پرېښودله شي ترڅو پکښې ذکر شوي نعمتونه ټول شامل شي. او دا ځکه چې مشرکان د الله ﷻ د ټولو نعمتونو څخه انکار کوي که څه هم هغه ذکر شوي نعمتونه وي، يا د نبي کريم ﷺ نبوت او يا د قرآن کريم نزول وي.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۱۰_ که څوک وايي چې: ايا د ذکرې شوې جملې سره د ﴿ ثُمَّ يُنكِرُونَهَا ﴾ جمله متناقضه نه ده؟ ايا معرفت او انکار سره څه منافات نه لري؟

مونږ وايو چې: علماوو کرامو[3] د ﴿ ثُمَّ يُنكِرُونَهَا ﴾ جمله په لاندې معناوو باندې تفسيره کړې ده او ذکر شوی منافات يې جواب کړی دی چې:

اول: چې مشرکان د الله ﷻ نعمتونه قلبًا پېژني مګر په عمل کښې ترې انکار کوي چې د بوتانو عبادت کوي، ته به وايې چې نعمتونه يې بالکل نه دي پېژاندلي که نه نو د غير الله عبادت به يې نه وی کړی.

دوهم: مشرکان وايي چې ذکر شوي نعمتونه الله ﷻ خلق کړي دي مګر زمونږ د بوتانو په شفاعت سره، چې دا د انکار معنی ده.

دريم: مشرکان پوهېږي چې الله ﷻ نعمتونه پيدا کړي دي مګر اسباب موثر ګڼي او وايي چې: زمونږ مهارت او په کارونو باندې پوهه هم د نعمتونو په ايجاد کښې بې برخې نه ده.

څلورم: دوی د الله ﷻ نعمتونه په زړونو کښې پېژني مګر په ژبه ترې انکار کوي.

---

(۱) تفسير القرطبي ج ۱۰ ص ۱۵۴

(۲) تفسير الخازن ج ۳ ص ۶۳۱

(۳) تفسير ابي السعود ج ۵ ص ۱۳۴؛ البحر المحيط ج ۶ ص ۵۷۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

١١_ كه څوک وايي چې: په ﴿ ثُمَّ يُنكِرُونَهَا ﴾ كښې ټولو كفارو ته ضمير راجع دی، چې دوی د الله ﷻ د نعمتونو څخه انكار كوي حال دا چې په ﴿ وَأَكْثَرُهُمُ ٱلْكَـٰفِرُونَ ﴾ كښې فـقط اكثرو منكرانو ته د كفر نسبت شوی دی، نو پوښتنه دا ده چې: ايا د انكار سره سره د دوی اقليت كافران نه دي؟

مونږ وايو: علماوو كرامو[1] د ذكرې شوې پوښتنې دپاره ډېر جوابونه كړي دي خو كوم جواب چې راته په زړه پورې برېښي هغه دا دي چې په ﴿ وَأَكْثَرُهُمُ ٱلْكَـٰفِرُونَ ﴾ كښې كامل كافران مطلب دي. نو د معنی حاصل يې داسې راځېږي چې: د الله ﷻ د نعمتونو څخه ټول كفار انكار كوي چې ټول پرې كافر شوي دي، مګر اكثريت په كفر او انكار كښې كاملان دي چې عناد نيولی دي او د مرګ د ورځې پورې به د خپل كفر او انكار څخه وانه وړي.

په همدې جواب باندې اسميه جمله او د ﴿ ٱلْكَـٰفِرُونَ ﴾ اسم فاعل صيغه هم دلالت كوي چې استمرار ترې معلومېږي.

﴿ وَيَوْمَ نَبْعَثُ مِن كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا ثُمَّ لَا يُؤْذَنُ لِلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُونَ ﴿٨٤﴾ وَإِذَا رَءَا ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ ٱلْعَذَابَ فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ وَلَا هُمْ يُنظَرُونَ ﴿٨٥﴾ وَإِذَا رَءَا ٱلَّذِينَ أَشْرَكُوا۟ شُرَكَآءَهُمْ قَالُوا۟ رَبَّنَا هَـٰٓؤُلَآءِ شُرَكَآؤُنَا ٱلَّذِينَ كُنَّا نَدْعُوا۟ مِن دُونِكَ ۖ فَأَلْقَوْا۟ إِلَيْهِمُ ٱلْقَوْلَ إِنَّكُمْ لَكَـٰذِبُونَ ﴿٨٦﴾ وَأَلْقَوْا۟ إِلَى ٱللَّهِ يَوْمَئِذٍ ٱلسَّلَمَ ۖ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا۟ يَفْتَرُونَ ﴿٨٧﴾ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَصَدُّوا۟ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ زِدْنَـٰهُمْ عَذَابًا فَوْقَ ٱلْعَذَابِ بِمَا كَانُوا۟ يُفْسِدُونَ ﴿٨٨﴾ وَيَوْمَ نَبْعَثُ فِى كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا عَلَيْهِم مِّنْ أَنفُسِهِمْ ۖ وَجِئْنَا بِكَ شَهِيدًا عَلَىٰ هَـٰٓؤُلَآءِ ۚ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ ٱلْكِتَـٰبَ تِبْيَـٰنًا لِّكُلِّ شَىْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً وَبُشْرَىٰ لِلْمُسْلِمِينَ ﴿٨٩﴾ ﴾

[٨٤] او (ای پيغمبره! خلک د) هغې ورځې (څخه وډار كړه) چې مونږ به (پكښې) د هر امت څخه شهادت وركوونكي راپورته كړو، (او) بيا به هغو كسانو ته اجازه ورنه كړی شي كومو چې كفر اختيار كړی دی (البته د دې خبرې چې معذرت وړاندې كړي) او نه به د دوی څخه وغوښتل شي چې (د الله ﷻ) رضايت حاصل كړي.

---

(١) روح المعاني ج١٤ ص٢٠٦؛ تفسير القرطبي ج١ ص١٦٢

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[٨٥] او کله چې هغه کسان عذاب وګوري کومو چې ظلم (کفر) کړی دی نو (دوی به تخفیف او انتظار وغوارې خو) نه به ترې عذاب تخفیف کړی شي او نه به مهلت ورکړی شي.

[٨٦] او کله چې هغه کسان خپل شریکان (باطل معبودان) وګوري کومو چې شرک غوره کړی دی نو دوی به ووايي چې: ای زمونږ ربه! دغه دي زمونږ هغه شریکان کوم چې مونږ وو چې ستا ځخه په غیر به مو د هغوی عبادت کاوه (نو زمونږ په عوض دوی معذب کړه).

نو باطل معبودان به کفارو ته خبره ور وغورزوي (ورتاوه کړي) چې: یقینًا تاسو هرومرو دروغژنان یاست (چې تاسو زمونږ عبادت کړی دی).

[٨٧] او کفار به په دغې ورځ کښې الله ﷻ ته انقیاد ور وغورزوي (او وروړاندې کړي چې مونږ تسلیم یاستو)، او د دوی ځخه به هغه شی ورک (لادرکه) شي د کوم چې دوی وه چې دروغ به یې جوړول (چې که بالفرض قیامت قائم شي نو مونږ به د لوړې درجې خاوندان یاستو).

[٨٨] هغه کسان چې دي کومو چې کفر اختیار کړی دی او هم یې (نور خلک) د الله ﷻ د لارې ځخه اړولي دي، دوی ته به مونږ د عذاب دپاسه بل عذاب ور زیات کړو، (البته) په دې سبب سره چې دوی وه چې (په ځمکه کښې به) یې فسادونه کول (او خلک به یې بې لارې کول).

[٨٩] او د هغې ورځې (ځخه هم خلک وډار کړه) چې مونږ به په هر امت کښې په همدوی باندې د همدوی د خپلو نفسونو ځخه شهادت ورکوونکی (پیغمبر) مبعوث کړو (ودروو)، چې د دوی په کفر او یا اسلام باندې شهادت ورکړي)، او مونږ به (په همدې ورځ کښې) همدا تا په دغو (کافرانو) باندې د شهادت ورکوونکي په حیث راولو (ودروو).

او (ای پیغمبره!) مونږ په تاباندې په داسې حال کښې کتاب درنازل کړی دی چې هر شي لره په بلیغه توګه بیانوونکی دی او لاربنودونکی دی، او (هم) رحمت او بشارت دی (البته) د غاړه اېښودونکو دپاره (چې همدوی ترې ګټه پورته کوي).

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې د کفارو دنیاوي حالات بیان شوي وه چې د الله ﷻ د نعمتونو ځخه په استمراري توګه انکار کوي او شرعي ارشاداتو ته غاړې نه ږدي، په دې ایتونو کښې د هغوی اخروي حالاتو ته اشاره شوې ده چې دنیاوي تکبر به یې مات شي او هر طرف ته به د خپل خلاصون دپاره لاسونه اچوي مګر هیڅ به په لاس نه ورځي. نو حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! کله چې د قیامت ورځ قائمه شي او مخلوقات د الله ﷻ په حضور کښې د محاسبې دپاره ودرولی شي نو د کفارو دنیاوي غرور او تکبر به د منځه لاړ شي بلکې په ډېر ذلت او خوارۍ کښې به د لاندې حالاتو سره مخامخ شي:

١- په دې ورځ کښې داسې حالت هم په خلکو باندې ورتلونکی دی چې په هرې ډلې باندې به

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خپل-خپل پیغمبر د شاهد په حیث شاهدي ورکړي چې ما د خپل رب ﷻ احکام او ارشادات دغو خلکو ته رسولي دي، نو دلته به کفار د لاندې ذلتونو سره لاس او ګرېوان شي:

الف: دوی به اجازه وغواړي چې مونږ ته دې اجازه راکړی شي چې خپل معذرتونه وړاندې کړو مګر دا اجازه به ورنه کړی شي، چې د معذرتونو د قبول وخت ستاسو د لاسه وتلی دی.

ب: او نه به د کفارو څخه وغوښتل شي چې د خپل رب ﷻ د رضاکولو هڅې وکړئ، چې ستاسو څخه راضي شي او د کفریاتو څخه درتېر شي، چې دا وخت هم په دنیا کښې تېر شو.

۲ـ بیا چې کفار هغه عذاب وګوري کوم چې د دوی دپاره تیار کړی شوی دی نو په ډېر وارخطا حالت کښې به سوالونه وکړي چې:

الف: هیله ده چې زمونږ څخه دغه عذاب لږ څه تخفیف کړی شي، مګر دا سوال به یې هم رد شي چې دا کار نه کېدونکی دی.

ب: هیله ده چې څه مهلت خو راکړی شي او سمدستي پکښې ور وانچولی شو، نو دا سوال به یې هم په منفي توګه جواب شي چې تاسو ته په دنیا کښې مهلت درکړی شوی وه خو تاسو ضائع کړ، د دوهم ځل دپاره مهلت نه درکول کېږي.

۳ـ کله چې مشرکان خپل باطل معبودان وګوري نو ډېر به خوشاله شي چې د خپلو جنایاتو دروند پېټي به په هغوی باندې ورواچوي او خپلو ځانونو ته به نجات ورکړي نو په دغه وخت کښې به په ډېر لوړ اواز سره ووایي چې ای زمونږ ربه! زمونږ هغه شریکان او باطل معبودان دغه دي د کومو څخه چې مونږ بدون ستا د عبادت څخه عبادت کاوه او د عبودیت سرونه مو ورته ټیټول، نو هیله ده چې زمونږ کفریات په همدوی باندې ورواچوې او همدوی معذب کړې او مونږ ته نجات راکړې.

۴ـ ای پیغمبره! د مشرکانو ذکر شوی سوال به پخپله د همدوی معبودان رد کړي او په ډېر جدیت او شدت سره به یې مخاطب کړي چې: تاسو دروغژنان یاست، تاسو کله زمونږ عبادت کړی دی؟ تاسو خو د خپلو خواهشاتو عبادت کوونکي وئ، ایا مونږ تاسو ته د خپل عبادت دپاره دعوت درکړی وه؟ بیا به کفار د مایوسۍ په حال کښې الله ﷻ ته د خپل انقیاد د قبول وړاندیز وکړي چې: ای الله! مونږ تاته غاړه ایښودونکي یاستو، زمونږ انقیاد قبول کړه او د کفریاتو څخه راتېر شه.

کفار به ښه پوهېږي چې دا وړاندیز هم نه قبلېدونکی دی مګر د ډېرې وارخطائۍ څخه به نه کېدونکي شي ته هم لاس اچوي.

کفار به په دغه وخت کښې هغه خبره هېره او ورکه کړي په کومې باندې به چې دوی خپل ځانونه غولول او هم به یې پرې نورو ته فریب ورکاوه هغه دا چې: ﴿ أَنَّ لَهُمُ ٱلْحُسْنَىٰ ﴾ [النحل: ۶۲] یعنې د قیامت ورځ خو نشته که بالفرض قیامت قائم شي نو هلته به هم دوی ته لوړې درجې ورکړی شي.

۵ـ ای پیغمبره! کفارو ته لکه څنګه چې په دغې ورځ د ګمراهیو عذابونه ورکولی کېږي همدارنګه به دوی د ګمراه کولو د عذاب څخه هم بچ پاتې نه شي، چې خلک به یې په ډول-ډول

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



حیلو سره د لارې څخه اړول او په ځمکه کښې به یې فساد کاوه، نو دا عذاب به دوی ته د غم د پاسه غم وي او د یو عذاب د پاسه به بل عذاب جوړ شي.

۶ـ د مشرکانو بل حالت به دا وي چې کله په دوی باندې د نجات ټولې دروازې وتړلې شي نو د خپلو کفریاتو څخه به انکار وکړي چې: زمونږ دې په خپل رب باندې سوګند وي چې مونږ مشرکان او کافران نه وو، مونږ خو په دنیا کښې د خپل رب ﷻ ارشاداتو ته منقادوو.

نو په دغه وخت کښې به د کفارو خولې مهرولاک شي او په هر چا باندې به خپل خپل اندامونه شهادت ورکړي چې دا په دنیا کښې کافر او مشرک وه او د خپل رب ﷻ ټول ارشادات یې د پښو لاندې کړي وه، نو دا به د دوی ډېر د مایوسۍ او نااُمیدۍ حالت وي.

۷ـ ای پیغمبره! د قیامت په ورځ چې هر یو پیغمبر په خپل خپل امت باندې شاهدي وایي نو په دغه وخت کښې به ته هم په دغو بې ادبو او بې شکره کافرانو باندې شهادت ورکړې، یا په بل عبارت: کله چې ته د خپل امت په نېکو او بدو باندې شهادت ورکوې نو دغه کسان به هم پکښې شامل وي کوم چې نن ورځ ستا یوه دلیل ته هم غوږ نه نیسي او د یوه نعمت شکریه هم نه کوي.

۸ـ ای پیغمبره! مونږ په تا باندې دا باعزته کتاب (قرآن کریم) درنازل کړی دی چې د بنیادمانو ټول ضروریات پکښې بیان شوي دي، هم پکښې دنیاوي ارشادات شته او هم پکښې اخروي حالات او کوائف شته دي. که بالفرض په تاباندې دغسې کتاب نه وی نازل شوی نو ته به څه خبر وی چې د کفارو به د قیامت په ورځ باندې څه حال وي او هلته به څه کیفیتونه پېښ شي.

نو بې شکه دا قرآن کریم د دنیا او د آخرت لارښود دی او هم د الله ﷻ د پلوه رحمت او د خوشالۍ زیرې دی، مګر هغه کسان به ترې ګټه پورته کوي کوم چې د الله ﷻ ارشاداتو ته په دنیا کښې غاړه ږدي، اما څوک چې ورته غاړه نه ږدي د هغوی کفر ورباندې قوي کېږي او عذاب یې ورباندې روزمره اضافه کېږي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُونَ ﴾ کښې د ﴿ يُسْتَعْتَبُونَ ﴾ د کلمې په صرفي تحلیل کښې علماوو کرامو لاندې دوه طریقې خوښې کړې دي:

الف: دغه کلمه اصلاً د "عُتْبى" ـلکه "بُشْرى"ـ څخه اشتقاقه شوې ده[1] نو د معنی حاصل به یې داسې شي چې: او نه به د کفارو څخه په دغې ورځ کښې وغوښتلی شي چې "عُتْبى" حاصله کړئ، یعني په نېک عمل او توبې سره د خپل رب ﷻ رضا حاصله کړئ چې "عُتْبى" د رضا معنی ورکوي[2].

ب: ذکر شوې کلمه د هغه اعتاب څخه اخستله شوې ده په کوم کښې چې همزه د سلب دپاره ده، نو د معنی حاصل یې داسې راځېږي چې: نه به د کفارو څخه وغوښتل شي چې تاسو د خپلو ځانونو

(۱) تفسیر القاسمي ج۱۰ ص۱۴۶
(۲) لسان العرب ج۱ ص۵۷۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



څخه د خپل رب ﷻ عتاب (غضب) سلب (ازاله) کړئ، چې توبه وباسئ او نیک عملونه وکړئ، ځکه چې وخت یې تېر شوی دی.

په دې تحلیل بلندې د اعتاب څخه د استعتاب بناکېدل غیر قیاسي ګڼل کېږي، دا ځکه چې مزید خو د مجردو څخه بنا کېږي او دلته مزید د مزیدو څخه بنا شوی دی[١]. که څه هم د دواړو تحلیلونو په معنی کښې چندان فرق نشته مګر مونږ ته دوهم تحلیل په زړه پورې برېښي چې مقصودې معنی ترې مستقیماً راوځي.

## سوال جواب

٢ـ که څوک وایي چې: د ﴿ فَأَلْقَوْا إِلَيْهِمُ ٱلْقَوْلَ إِنَّكُمْ لَكَـٰذِبُونَ ﴾ څخه په ډاګه څرګندېږي چې د قیامت په ورځ به ټول باطل معبودان خپل عابدین مخاطب کړي چې تاسو دروغژنان یاست؛ حال دا چې د دوی په معبودانو کښې خو ځینې بالکل جمادات دي چې خبرې نه شي کولی او څوک نه شي مخاطب کولی؟

مونږ وایو چې: الله ﷻ به په هغې ورځ کښې د دوی بوتان هم په خبرو باندې راولي ترڅو دوی ښه خجالت او ښه مختوري شي. یا په بل عبارت: هلته لکه چې ځمکه او اندامونه خبرې کوي جمادات به هم خبرې وکړي.

همدې مضمون ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ سَيَكْفُرُونَ بِعِبَادَتِهِمْ وَيَكُونُونَ عَلَيْهِمْ ضِدًّا ﴾ [مریم: ٨٢] یعنې ډېر ژر دی چې د کفارو باطل معبودان به د دوی په عبادت باندې کافر (منکر) شي او په دوی باندې به (په عوض د دوستۍ) دښمنان جوړ شي.

په همدې ارتباط د [الفرقان: ١٧] ایت لاندې څه نور وضاحت هم راروان دی، إن شاء الله ﷻ.

## په یاد ولرئ!

٣ـ مفسرینو کرامو دا ایت شریف ﴿ زِدْنَـٰهُمْ عَذَابًا فَوْقَ ٱلْعَذَابِ ﴾ په لاندې دوه ډولونو باندې تفسیر کړی دی:

الف: چې د هغو کافرانو عذاب به الله ﷻ په کیف کښې زیات قوي کړي کومو چې نور خلک ګمراهان کړي دي او یا یې د دوی د مسلمانېدلو مخه نیولې ده[٢].

ب: په ذکرو شوو کافرانو باندې به الله ﷻ نور عذابونه ور زیات کړي[٣]، مثلا ډېر غټ غټ ماران او لړمان به ورباندې مسلط کړي او یا به یې د ذوب کړی شوو میسو په ویالو کښې ډوب کړي او هم به یې د زمهریر یخ دوزخ باندې معذب کړي.

---

(١) حواشي البخاري ج٢ ص١٠٧٨

(٢) روح المعاني ج١٤ ص٢١٢

(٣) تفسیر البغوي ج٣ ص٨١؛ تفسیر ابن کثیر ج٢ ص٥٨١؛ الدر المنثور ج٥ ص١٥٧

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ ته داسې برېښي چې ذکر شوي دواړه نظرونه سره هيڅ منافات نه لري، نو څه لري نه ده چې ذکر شوي دواړه ډوله زيادت د دوی په تعذب کښې برخوال وګرځولی شي او بالآخره يا به پرې الله ﷻ هلته داسې عذاب ور اضافه کړي کوم چې يوازې همده ﷻ ته معلوم دی او بس. •

## تبيان څه معنی؟

۴ـ په ﴿ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا لِكُلِّ شَيْءٍ ﴾ کښې د "تِبْيَان" کلمه يا د مبالغې دپاره مصدر دی لکه چې "تِلْقَاء" د مبالغې مصدر دی[1] او دريم مصدر په همدغه وزن باندې نشته، او يا اسم دی لکه "تِمْسَاح" او نور[2]. په هر صورت د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: مونږ په تا باندې داسې کتاب نازل کړی دی چې د هر شي بليغ بيان پکښې شته.

په دې هکله چې قرآن کريم د هر شي بيانوونکی دی مونږ ـ لله الحمد ـ د [الأنعام:۳۸] ايت لاندې هغه څه ليکلي دي کوم چې مونږ ته الله ﷻ راښودلي وه او د همدې موضوع د څېړنې دپاره يې کفايت کاوه، نو هيله ده چې هلته يو ځل مراجعه وکړی شي، همدارنګه په دې مقام کښې هم ځينو اوږدو کتابونو ته[3] مراجعه کول بې ګټې نه دي.

﴿ إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيتَاءِ ذِي الْقُرْبَىٰ وَيَنْهَىٰ عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ وَالْبَغْيِ ۚ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴿٩٠﴾ ﴾

[۹۰] يقينًا الله ﷻ د عدل په کولو باندې امر کوي او د احسان په کولو باندې (هم) او د قرابت (خپلوۍ) خاوند ته (د حق) په ورکولو باندې (هم امر کوي). او (همدارنګه) الله ﷻ د زياتو بدو کارونو څخه او (هم په شريعت کښې) د ناآشنا کارونو څخه او (بالآخره) د بغاوت څخه منعه کوي. الله ﷻ تاسو ته د انذار (ډارولو) په توګه (خپل احکام) بيانوي شايد چې تاسو پند (او نصيحت) قبول کړئ.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

وړاندېني ايتونه په دې تمام شوي وه چې قرآن کريم د هر شي دپاره تبيان او هدايت او هم رحمت او بشارت دی، په دې ايت کښې د همدغه مضمون يوه مصداق ته اشاره شوې ده چې ذکر شوي څلور واړه صفات پکښې راغونډ شوي دي، نو حاصل يې داسې راځي:

ای پيغمبره! د دې دپاره چې د قرآن کريم په جامعيت باندې خلک متيقن شي په دوی باندې لاندې اوامر او لاندې نواهي قرائت کړه:

(۱) لسان العرب ج۱۳ ص۶۷
(۲) المحرر الوجيز ج۱۰ ص۲۲۳
(۳) روح المعاني ج۱۴ ص۲۱۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



١ـ يقيناً الله ﷻ په درې احکامو باندې امر کوي، یا په بل عبارت: د الله ﷻ ټول ثبوتي احکام په دغو دریو کښې منحصر دي:

الف: اې بندګانو! الله ﷻ تاسو ته په هر شي کښې په عدل او انصاف او هم د افراط او تفریط ترمنځ په متوسطه لاره باندې د تللو امر او هدایت کوي.

ب: بل تاسو ته هدایت درکوي چې په هر شي کښې احسان وکړئ، چې نه یې په عبادت او نه یې په معاملاتو کښې د نظره وغورزوئ.

ج: بل هدایت دا دی چې د قرابت د خاوندانو او د خپلوانو حقوق مه ضائع کوئ بلکې هرچا ته (د مراتبو په مراعات سره) خپل-خپل حق ورکړئ او صلة الرحم ورسره وکړئ.

٢ـ اې بندګانو! الله ﷻ تاسو د لاندې بدوکارونو څخه منعه کوي:

الف: هیڅ بې شرمه او بې حیا کار ته مه ورنژدې کیږئ، لکه زنا او نور.

ب: همدارنګه هیڅ بد کارونه او قولونه مه کوئ که څه هم بې شرمه او بې حیا نه وي، لکه سود خوري او نور.

ج: بل په خلکو باندې تجاوز او بغاوت مه کوئ، حقوق یې پوره ورکړئ او عزتونه یې وساتئ.

اې بندګانو! بل څوک نه بلکې الله ﷻ تاسو ته د تخویف څخه ډک دعوت درکوي، نو تاسو ته په کار دي چې پند ترې واخلئ او قبول یې کړئ.

## توضیحات

١ـ د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی چې: ذکر شوی ایت شریف د قرآن کریم په ټولو ایتونو کښې جامع ایت دی، چې نه ترې د کوم خیر بیان پاتې دی او نه ترې د کوم شر بیان ترک شوی دی[1]. د ښه وضاحت دپاره لاندې وضاحتونه ولولئ:

الف: عثمان بن مظعون رضي الله عنه وایي چې: ما په نبي کریم ﷺ باندې د زړه څخه ایمان نه وه راوړی بلکې حیا نیولی وم چې د ده ﷺ دعوت رد کړم، بله ورځ ذکر شوی ایت شریف نازل شو او زه په عین مجلس کښې د نبي کریم ﷺ سره ناست وم، نو کله چې ما د ایت جامعیت ته فکر شو نو د تاثیر لاندې راغلم او «اسْتَقَرَّ الْإِيمَانُ فِي قَلْبِي وَأَحْبَبْتُ مُحَمَّدًا»[2] ایمان مې په زړه کښې ځای ونیوه او نبي کریم ﷺ راته په خپل زړه کښې محبوب وګرځید.

ب: اکثم بن صیفي دوه نفره نبي کریم ﷺ ته د دې پو ښتنې سره ولیږل چې ته څوک یې او څه دې راوړي دي؟

نبي کریم ﷺ خپل ځان په لنډه توګه ورمعرفي کړ چې: زه محمد بن عبدالله یم او کوم شی چې ما راوړی دی د هغه مثال دغه ایت شریف دی چې: ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُ بِٱلۡعَدۡلِ ﴾ الآیة.

(١) تفسیر ابن کثیر ج٢ ص٥٨٢؛ تفسیر القرطبي ج١٠ ص١٦٥
(٢) مسند احمد بن حنبل ج١ ص٦٨٢؛ اسباب النزول للواحدي ص١٨٩

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ذکرو شوو دوارو نفرو ایت شریف زده کړ او په نوموړي اکثم باندې يې قرائت کړ، اکثم خپل قوم مخاطب کړ چې: ای زما قومه! زه ګورم چې نبي کريم ﷺ په مکارم الاخلاق باندې امر کوي او د بدو خويونو څخه منعه کوي، نو تاسو ته توصيه کوم چې ايمان وربانده راوړئ «فَكُونُوا فِيْ هَذَا الْأَمْرِ رُءُوْسًا وَلَا تَكُوْنُوْا فِيْهِ أَذْنَابًا»[۱] يعنې نو تاسو په دغه کار کښې مخکښان جوړ شئ او پيروان پکښې مه جوړېږئ.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي چې: په ذکرو شوي ايت شريف کښې د ﴿يَأْمُرُ﴾، ﴿يَنْهَىٰ﴾ کلمې نازلې کړې شوې دي او پوره واضحه ده چې هغه حکم قطعي فرض دی په کوم باندې چې الله ﷻ امر وکړي او هغه حکم قطعي تحريم دی د کوم څخه چې الله ﷻ نهي وکړي؛ نو پوښتنه دا ده چې: ايا د ذکر شوي ايت څخه مستحبات پاتې نه دي چې د الله ﷻ د پلوه نه دي فرض شوي، او همدارنګه د همدې ايت څخه مکروهات او مشتبهات نه دي وتلي چې قطعي حرام نه دي؟

مونږ وايو چې: په دې مقام کښې د ماموراتو څخه ثبوتي احکام مطلب دي، برابره خبره ده چې فرض وي، يا واجب، يا سنت او يا مستحب. د همدې کبله احسان هم په ماموراتو کښې وشمېرلی شو حال دا دی چې دا خو واجب شی نه دی، لکه چې لږ وروسته به ـ إن شاء الله ﷻ ـ واضحه شي. همدارنګه د منهياتو څخه دلته سلبي احکام مراد دي که څه هم مکروه يا مشتبهات وي، لکه چې لږ وروسته به ـ إن شاء الله ﷻ ـ څرګنده شي چې د ﴿ٱلْبَغْىِ﴾ کلمه مشتبهاتو ته هم شامله ده.

## د شپږو لغاتو معناوي

۳ـ په ذکر شوي ايت شريف کښې الله ﷻ په درې شيانو باندې امر کړی او د درېو څخه يې منعه کړې ده، چې تفصيل يې دا دی:

الف: عدل دې ته وايي چې نه پکښې افراط وي او نه تفريط، چې په مقابل کښې يې جَوْر (د حق څخه تجاوز) استعمالېږي[۲]، برابره خبره ده چې دغه تجاوز په کمبود سره وي چې د تفريط په نامه يادېږي او يا په زيادت سره وي چې د افراط کلمه ورته وضعه شوې ده. يا په بل عبارت: خپل حق اخستل او د بل حق ورکول د عدل معنی ده.

عدل لکه څنګه چې په اعمالو کښې واجب دی همدارنګه په عقيدوي مسائلو کښې يې هم مراعات ضرور دی، نو ملحدان او دهريان افراط کوي چې د الله ﷻ د وجود څخه منکر دي، او مشرکان په تفريط باندې اخته دي چې د الله ﷻ سره شريکان دروي. د همدې کبله عبدالله بن عباس

(۱) تفسير ابن کثير ج۲ ص۵۸۳
(۲) لسان العرب ج۱۱ ص۴۳۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



رضي الله عنهما په دې مقام کښې عدل د توحيد په کلمه باندې تفسير کړی دی[١]، چې د الحاد او شرک (دواړو) ترمنځ متوسطه لاره ده.

که څوک غواړي چې په اعمالو او عقائدو کښې د عدل ډېر مثالونه ولولي نو ځينو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[٢].

ب: احسان دېته وايي چې سړی د خپل ځان سره نيکي وکړي چې خپل عمر په طاعتونو او ښېګڼو کښې تېر کړي، او يا د بل چا سره نېکي او انعام وکړي.

په احسان باندې عدل ښائسته کېږي او اجرونه يې ورباندې زياتېږي. يا په بل عبارت: که څوک خپل حق پوره واخلي او د بل چا حق پوره ورکړي نو دا سړی عادل دی، او که خپل حق پخپله _لله في الله_ کم واخلي او يا بل چاته د حق څخه اضافه ورکړي نو دا سړی محسن دی، چې اخلاص يې په نسبت سره لومړني سړي ته زيات دی.

احسان لکه څنګه چې په معاملاتو کښې تحقق مومي همدارنګه عباداتو ته هم شامل دی؛ د ښه وضاحت دپاره لاندې احاديث ولولئ:

اول: يوه ورځې د نبي کريم ﷺ څخه پوښتنه وشوه چې: احسان څه شی دی؟ نو نبي کريم ﷺ جواب ورکړ چې: «أَنْ تَعْبُدَ اللهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ فَإِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ»[٣] يعني احسان دې ته وايي چې د الله ﷻ عبادت په دومره زيات اخلاص سره وکړې لکه چې ته الله ﷻ د عبادت په وخت کښې په خپلو سترګو باندې ګورې، نو که ته يې نه ګورې نو الله ﷻ خو دې ګوري، نو د عبادت په وخت کښې د الله ﷻ ليدنه هېره نه کړې.

دوهم: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ كَتَبَ الْإِحْسَانَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ فَإِذَا قَتَلْتُمْ فَأَحْسِنُوا الْقِتْلَةَ وَإِذَا ذَبَحْتُمْ فَأَحْسِنُوا الذَّبْحَ وَلْيُحِدَّ أَحَدُكُمْ شَفْرَتَهُ وَلْيُرِحْ ذَبِيحَتَهُ»[۴] يعني يقيناً الله ﷻ په هر شي کښې احسان ليکلی (مشروع کړی) دی نو کله چې تاسو (په حقه باندې) وژل کوئ نو په وژلو کښې احسان وکړئ (اضافه تعذيب مه ورکوئ او مُثله مه کوئ)، او کله چې تاسو کوم څاروي ذبحه کوئ نو په ذبحه کښې احسان وکړئ او ستاسو يو کس دې خپله چاړه تېره کړي او خپلې مذبوحې ته دې ارامي ورکړي (په پڅه چاړه دې نه ذبحه کوي او د ذبحې څخه وروسته دې د مړينې څخه مخکښې نه د پوسته کوي او داسې نور).

ج: د ﴿ذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ﴾ څخه ټول خپلوان مراد دي، برابره خبره ده چې د پلار د پلوه وي يا د مور د پلوه وي او يا د دواړو د پلوه وي، او همدارنګه برابره خبره ده چې نژدې وي او که لرې. نو په ذکره شوې کلمه کښې ټول خپلوان شامل دي که څه هم دوی په مراتبو کښې سره يو برابر نه دي، ځينو په

---

(١) تفسير ابن کثير ج٢ ص٥٨٢

(٢) التفسير الكبير ج٢٠ ص١٠٢

(٣) صحيح البخاري ج٢ ص٧٠۴

(۴) سنن ابن ماجه ص٢٢٩

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ښځو باندې د اولیت استحقاق لري، د ښه وضاحت دپاره لاندې احادیث ولولئ:

اول: د يوه حديث مضمون دی چې يوه ورځې يوه صحابي ﷺ د نبي كريم ﷺ سره لاندې سوال جواب وکړ:

صحابي ﷺ: ای د الله رسوله! زه د چا سره نيکي وکړم او د قرابت مراعات يې وکړم؟

نبي کریم ﷺ: د خپلې مور سره نیکي وکړه.

صحابي ﷺ: بیا د چا سره؟

نبي كريم ﷺ: بيا هم د خپلې مور سره.

صحابي ﷺ: بیا د چا سره؟

نبي كريم ﷺ: بيا هم د خپلې مور سره.

صحابي ﷺ: بیا د چا سره؟

نبي كريم ﷺ: «ثُمَّ أَبَاكَ ثُمَّ الْأَقْرَبَ فَالْأَقْرَبَ»[۱] يعنې بيا د خپل پلار سره ښېګڼه وکړه، بیا پسې د نږدې سړي سره، همدارنګه همدغه نږدیکت د ټولو خپلوانو په ښېګڼه کښې مراعات کړه.

دوهم: همدارنګه يوه ورځې نبي کریم ﷺ ته یو سړی ورغی او لاندې خبرې اترې یې ورسره وکړې:

سړی: ای د الله رسوله! ما ډېره لويه ګناه کړې ده، ايا ماته توبه شته؟

نبي کریم ﷺ: «أَلَكَ وَالِدَانِ» یعنې ایا مور او پلار دې ژوندي دي؟

سړی: مور او پلار مې نشته (مړه دي).

نبي کریم ﷺ: «فَلَكَ خَالَةٌ» يعنې نو د مور خور (توره) دې شته؟

سړی: هو، (دا ژوندۍ ده).

نبي كريم ﷺ: «فَبِرَّهَا إِذَنْ»[۲] نو د همدې تورې سره نيکي کوه (الله ﷻ ته امید دی چې توبه دې قبوله کړي).

د: د "فَحْشَاء" كلمه هغه قول يا عمل ته ويل كېږي چې په بدۍ کښې د نورو ځخه زيات وي[۳] لکه بوچه وینا، بهتان ترل، زنا او نور بې شرمه کارونه.

هـ: منکر د هغه نااشنا قول او عمل ځخه عبارت دی چې په ايت او حديث کښې ثبوت نه لري او يا منفي شوی وي. يا په بل عبارت: منکر هغه دی چې په شريعت کښې نااشنا وي[۴].

و: د "بَغْي" اصلاً د حد ځخه تجاوز ته وضعه شوې ده، چې لاندې دوه ډوله لري[۵]:

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۱
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۲۲۸
(۳) مفردات الراغب ص۳۸۷
(٤) تفسير البغوي ج۲ ص۸۲
(۵) مفردات الراغب ص۵۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: چې د عدل څخه د نیکۍ او احسان په طرف تجاوز وکړی شي، لکه چې لاندې حدیث وربانديې دلالت کوي چې سُوید بن قیس رضی الله عنه، وايي چې: مونږ په نبي کريم ﷺ بانديې په منا کښې يو پرتوګ وپلوره، حال دا چې مونږ پیسې په وزن اخستې او مونږ يو تولګر هم درلود چې په مزدورۍ بانديې به يې تول کاوه، نو نبي کريم ﷺ نوموړي ته وويلې چې: «يَا وَزَّانُ زِنْ وَأَرْجِحْ»[1] اى تولګره! تول وکړه او دروند تول وکړه.

دوهم: چې د عدل څخه د بدۍ خوا ته تجاوز وکړی شي، چې يا د چا په حق بانديې ګېډه واچوي او يا د چا څخه د حق څخه اضافه واخلي. په دې مقام کښې همدغه دوهمه معنی مراده ده، حتی شبهاتو ته هم شامله ده.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۴ــ که څوک وايي چې د ذکرو شوو توضیحاتو څخه څرګندېږي چې اقاربو ته حق ورکول په عدل او احسان کښې شامل دي او بغاوت کول په فحشاء او منکر کښې داخل دي، نو پوښتنه دا ده چې: د څه حکمت په بنیاد په دغو دوه وو بانديې صراحت وکړی شو؟

مونږ وايو چې: په دغو دواړو بانديې د دې دپاره صراحت وکړی شو ــ والله ﷻ أعلم ــ ترڅو ورته خلک ښه متوجه کړی شي چې اغماض ترې ونه کړي او د ضائع کولو دپاره يې بهانه ونه تراشي. يا په بل عبارت: ترڅو خلک ورته په اهمیت قائل شي لکه چې الله ﷻ په اهتمام سره نازل کړی دی.

## دا ایت د خطبې جزء وګرځولی شو

۵ــ څرنګه چې بنو امیه وو د ممبر دپاسه د جمعې په خطبه کښې د علي رضی الله عنه په هکله سپکې سپورې خبرې کولې، خو کله چې د دوی څخه وروسته عمر بن عبد العزیز رحمة الله علیه خلیفه شو نو دغه خبرې يې منعه کړې او په عوض يې ذکر شوی ایت شریف د خطبې يوه برخه وګرځاوه، تا به ویل چې نوموړي خلیفه، بنو امیه وو او نورو پوچ خولو ته توصیه کوي چې د بغاوت څخه لاس واخلئ او د مسلمانانو حقوق مه ضائع کوئ[2].

﴿وَأَوْفُوا بِعَهْدِ اللَّهِ إِذَا عَاهَدتُّمْ وَلَا تَنقُضُوا الْأَيْمَانَ بَعْدَ تَوْكِيدِهَا وَقَدْ جَعَلْتُمُ اللَّهَ عَلَيْكُمْ كَفِيلًا ۚ إِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا تَفْعَلُونَ ﴿٩١﴾ وَلَا تَكُونُوا كَالَّتِي نَقَضَتْ غَزْلَهَا مِن بَعْدِ قُوَّةٍ أَنكَاثًا تَتَّخِذُونَ أَيْمَانَكُمْ دَخَلًا بَيْنَكُمْ أَن تَكُونَ أُمَّةٌ هِيَ أَرْبَىٰ مِنْ أُمَّةٍ ۚ إِنَّمَا يَبْلُوكُمُ اللَّهُ بِهِ ۚ وَلَيُبَيِّنَنَّ لَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَا كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴿٩٢﴾ وَلَوْ شَاءَ

(١) سنن النسائي ج٢ ص٢٢٣؛ جامع الترمذي ج١ ص٢٤٤؛ سنن ابن ماجه ص١٦٠
(٢) تفسير القاسمي ج١٠ ص١٥١

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ٱللَّهُ لَجَعَلَكُمْ أُمَّةً وَٰحِدَةً وَلَٰكِن يُضِلُّ مَن يَشَآءُ وَيَهْدِى مَن يَشَآءُ ۚ وَلَتُسْـَٔلُنَّ عَمَّا
كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٩٣﴾ وَلَا تَتَّخِذُوٓا۟ أَيْمَٰنَكُمْ دَخَلًۢا بَيْنَكُمْ فَتَزِلَّ قَدَمٌۢ بَعْدَ ثُبُوتِهَا وَتَذُوقُوا۟
ٱلسُّوٓءَ بِمَا صَدَدتُّمْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ۖ وَلَكُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٩٤﴾ وَلَا تَشْتَرُوا۟ بِعَهْدِ ٱللَّهِ ثَمَنًا
قَلِيلًا ۚ إِنَّمَا عِندَ ٱللَّهِ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٩٥﴾ مَا عِندَكُمْ يَنفَدُ ۖ وَمَا
عِندَ ٱللَّهِ بَاقٍ ۗ وَلَنَجْزِيَنَّ ٱلَّذِينَ صَبَرُوٓا۟ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٩٦﴾
مَنْ عَمِلَ صَٰلِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُۥ حَيَوٰةً طَيِّبَةً ۖ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ
أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٩٧﴾ ﴾

[٩١] او تاسو د الله ﷻ په عهد باندې وفا وکړئ (البته) کله چې تاسو (د الله ﷻ سره) عهد وکړئ (او ایمان پرې راوړئ) او تاسو خپل عهدونه مه ماتوئ (خصوصًا لا په سوګندونو سره) د تاکید څخه وروسته، حال دا چې تاسو په خپلو ځانونو باندې الله ﷻ شاهد ګرځولی دی (چې د ده ﷻ په نامه باندې مو سوګند یاد کړی دی). یقینًا الله ﷻ په هغې شي باندې پوهېږي کوم چې تاسو یې کوئ.

[٩٢] او تاسو د هغې ښځې په شان مه جوړېږئ کومه چې خپل وریښلي تارونه (یا ځینی) د محکمولو (تاوولو) څخه وروسته د ډانډس کولو دپاره ټکړې-ټکړې ګرځوي (البته په داسې حال کښې تاسو د نوموړې زنانه په څېرمه ګرځئ) چې خپل عهدونه (او سوګندونه) د خپل منځ دپاره د ټګیو (او فسادونو) ذرائع جوړ کړئ له دې کبله چې یوه ډله همدا یو ډله د بلې ډلې څخه اوچته (او قوي) وي (او تاسو خپله ګټه په نظر کښې ونیسئ). یقینًا الله ﷻ تاسو په همدې حال باندې امتحانوي (چې ځینې قوي دي او ځینې کمزوري)، او هرومرو ضرور به الله ﷻ تاسو ته د قیامت په ورځ هغه شیان بیان (واضحه) کړي کوم چې تاسو (نن ورځ) یاست چې اختلاف پکښې کوئ.

[٩٣] او که د الله ﷻ اراده شوې وی (چې تاسو امتحان نه کړي) نو ټول به یې یو ټولګی ګرځولي وی، مګر (الله ﷻ تاسو امتحانوي نو) هغه څوک ګمراه کوي چاته یې چې (د استعداد مطابق) اراده وشي او هغه چاته هدایت کوي کومو ته یې چې (د استعداد مطابق) اراده وشي. او هرومرو ضرور به ستاسو څخه د هغه شي پوښتنه وکړی شي کوم چې تاسو یاست چې (په دنیا کښې یې) کوئ.

[٩٤] او تاسو خپل عهدونه (او سوګندونه) د خپل منځ د چل (او فرېب) دپاره ذرائع مه جوړوئ، نو (که تاسو دغه کار وکړئ نو) پښه به د هغې د ثبوت څخه وروسته وښوییږي، او تاسو به بدي (عذاب) په دې سبب وڅکئ چې تاسو د الله ﷻ د لارې څخه (نور خلک) اړوئ، او (په دې صورت کښې) تاسو ته لوی عذاب شته دی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[٩٥] او تاسو د الله ﷻ په عهد باندې لږې (یا ډېرې) پیسې مه اخلئ. یقینًا کوم شی چې د الله ﷻ په نزد دی هغه تاسو ته بهتر دی که تاسو یاست چې (په خیر او شر باندې) پوهېږئ.

[٩٦] (او دا ځکه چې) کوم شی چې ستاسو په نزد دی هغه فنا کېږي (زوال لري) او کوم شی چې د الله ﷻ په نزد دی هغه باقي دی (زوال نه لري).

او هرومرو ضرور به مونږ هغو کسانو ته د دوی اجرونه ورکړو کوم چې صبر کوي (او عهدونه نه ماتوي، البته) په سبب د هغو احسنو عملونو سره چې دوی دي چې (په دنیا کښې یې) کوي (او د دوی حسن عملونه به د احسنو عملونو رتبې ته ورپورته کړو).

[٩٧] هرڅوک چې په داسې حال کښې نېک عمل وکړي چې ایمان دار وي (نارینه وي او که ښځینه) نو مونږ به ورته (په دنیا کښې) پاکیزه ژوند ورکړو، او هرومرو ضرور به د دوی اجرونه هم ورکړو (البته) په سبب د هغو احسنو عملو سره چې دوی دي چې کوي یې.

## ارتباط

ذکر شوی ایت شریف ټولو بهترو او ضروري ارشاداتو ته شامل دی، خو په دې ایتونو کښې د دغو ارشاداتو څخه په یوه ډېر مهم ارشاد باندې صراحت شوی دی چې هغه د خپل عهد ساتنه او حفاظت دی، دا ارشاد د اسلامي نظام په جوړولو کښې د همېشه دپاره زیات موثر دی مګر د قرآن د نزول په وخت کښې ورته اشد ضرورت وه چې د اسلامي نظام د بنیاد ډېره اېښوده کېده.

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! د الله ﷻ د پلوه خلک په لاندې ټکو باندې مخاطب کړه چې:

١ـ ای خلکو! تاسو په هغه عهد باندې کلک ودرېږئ او وفا پرې وکړئ کوم عهد چې تاسو د الله ﷻ سره وکړئ، چې په وحدانیت باندې یې وپېژنئ او نازل کړی شریعت یې قبول کړئ.

٢ـ همدا، ځکه تاسو د هغو عهدونو هم په عمومي توګه پوره مراعات وکړئ کوم چې تاسو د بنیادمانو سره کوئ، او په خصوصي توګه تاسو د هغو عهدونو پوره خیال وساتئ چې تاسو په سوګندونو سره تاکید کړي وي او د الله ﷻ نوم مو د عهد تړلو په وخت کښې یاد کړی وي.

نو دغه ډول عهدونه بالکل مه ماتوئ، مه پکښې په ښکاره ډول خیانت کوئ او مه پکښې په پټه، ځکه چې الله ﷻ په هغو ټولو کارونو باندې پوهېږي کوم چې تاسو یې کوئ، نو که د بندګانو څخه خیانت پټ کړئ نو د الله ﷻ څخه یې نه شئ پټولی.

٣ـ ای خلکو! که تاسو په خپلو عهدونو باندې ونه درېږئ نو ستاسو حالت به هغې لیونۍ زنانه ته ورته جوړ شي کومه چې د لاندې حالاتو درلودونکې وي.

الف: کومه چې د خپلو وړیو یا مالوچو څخه تارونه جوړوي (ښه قوت وربښي).

ب: مګر د ښه مضبوطولو څخه وروسته یې په سپړودلو باندې پیل کوي او وربښلی قوت یې بېرته ختموي او ټوټه- ټوټه کړی شوی پاغونده (سپنیسی) ترې جوړوي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدارنګه که تاسو خپل تعهدات مات کړئ نو هغه قوت به مو پخپله ختم کړی وي کوم چې تاسو خپلو تعهداتو ته په سوګند سره ورکړی وه او د الله ﷻ نوم مو پرې د شاهد او مراقب په حيث ياد کړی وه.

۴_ ای خلکو! تاسو خپل تعهدات او خپل سوګندونه په خپلو منځو کښې د فساد اچولو او يو ځای ته د شر په نيت د ورننوتلو ذرائع مه جوړوئ، چې د خپلې متعهدې کمزورې ډلې سره خيانت وکړئ او بلې قوي غير متعهدې ډلې ته خپل ځانونه ورنژدې کړئ، او يا د خپلې کمزورۍ د کبله يوې قوي ډلې ته ورننوځئ او بيا ورسره خيانت وکړئ.

۵_ ای خلکو! او خاصتاً ای مؤمنانو! تاسو په دې باندې پوه شئ چې الله ﷻ تاسو ته ذکر شوی حالت د امتحان دپاره درمخې ته کوي ترڅو څرګنده شي چې تاسو په خپلو تعهداتو باندې درېږئ او که څنګه؟ نو په يقين سره پوه شئ چې د امتحان د نتائجو سره به تاسو ضرور مخامخ شئ، او ضرور داسې ورځ راتلونکې ده چې الله ﷻ به ستاسو اختلافي مسائل پکښې څرګند کړي او هرچاته به د خپلو کړو وړو آينه په لاس ورکړي.

۶_ ای خلکو! که د الله ﷻ اراده شوې وی نو تاسو ټول به يې يوه ډله او يو ټولګی ګرځولی وی او په مختلفو ټولګيو باندې به يې نه وی ويشلي، چې ځينې ټولګي کمزوري دي او ځينې قوي دي.

خو که دا ډول کار الله ﷻ کړی وی نو د امتحان لمن به ټوله شوې وی او په دې تقدير به دنيا د امتحان او ازمېښت ډګر نه وی جوړه شوې، حال دا چې الله ﷻ دا دنيا د امتحان دپاره پيدا کړې ده ترڅو د امتحان په نتيجه کښې هغه کسان ګمراه کړي کومو ته يې چې د استعداد په مطابق اراده وشي، او هغو کسانو ته هدايت وکړي کومو ته يې چې د استعداد په مطابق اراده وشي.

نو ای خلکو! هرومرو به ضرور ستاسو څخه د قيامت په ورځ د هغو کړو وړو پوښتنه وکړی شي کوم چې تاسو ياست چې کوئ يې.

۷_ ای خلکو! تاسو خپل سوګندونه او خپل تعهدات د خپلو ځانونو ترمنځ د ټګۍ او چل ول سامان مه جوړوئ، چې په همدې ذريعې سره يوه مقام ته خپل ځانونه ورسوئ او بيا هلته د خيانت او عهد ماتونې څخه کار واخلئ. او دا ځکه چې:

الف: په دې صورت کښې به د هغو خلکو پښې هم وښوييږي کوم چې ثابت قدمه وي او په خپلو عهدونو باندې کلک وي، هغوی به په تاسو پسې اقتداء وکړي او ستاسو خوی (عادت) به خپل کړي. او که بالفرض په تاسو کښې مؤمنان عهدماتونه وکړي نو د اسلام او ايمان نوم به بد کړي او د اسلام څخه به خلک زړه تورن کړي چې دا به د ټولو مؤمنانو عادت وي.

ب: دا هم احتمال شته چې ځينې نوي مسلمان شوي خلک مرتد شي او بېرته کفر ته واوړي، البته کله چې ستاسو عهد ماتونه او خيانت وګوري.

ج: د عهد ماتونې په حال کښې د دې خبرې خطر هم شته چې تاسو د الله ﷻ د پلوه بد عذاب

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وځکۍ چې د یو پلوه مو پخپله دغه عمل سره د اسلام د ترقۍ مخه بنده کړه او د بل پلوه مو د الله ﷻ د لارې څخه نور خلک واړول او ګمراه مو کړه او یا یې د مسلمانېدلو په مخکښې خنډ واقع شوئ.

د: په دې ټولو باندې علاوه په دغه صورت کښې تاسو ته د قیامت په ورځ ډېر لوی عذاب ټاکلی شوی دی، چې په لویوالي باندې یې یوازې الله ﷻ پوهېږي او بس.

٨ـ ای خلکو! تاسو د الله ﷻ په عهد باندې پیسې او قیمت مه اخلئ، خپل عهدونه د پیسو په مقابل کښې مه ماتوئ او ټګي برګي مه کوئ، او دا ځکه چې:

الف: که د الله ﷻ د احکامو او تعهداتو په عوض کښې بالفرض تاسو زښتې ډېرې پیسې او عوضونه واخلئ نو بیا به هم هغه کمې او لږې وي، بلکې د الله ﷻ د تعهداتو ارزښت به تاسو ته د قیامت په ورځ څرګند شي چې په بدل کښې یې څومره لوی اجرونه درکولی کېږي؟

ب: نو دا یقیني خبره ده کوم اجرونه چې تاسو ته د الله ﷻ په نزد ټاکلي شوي دي هغه ډېر باارزښته او باعزته دي، او ستاسو دپاره ډېر ګټور او فایده مند دي، که تاسو د پوهې خاوندان یاست او عاقلان یاست نو تاسو به یې ضائع نه کړئ.

ج: لنډه دا چې کوم شی چې د الله ﷻ په نزد ستاسو دپاره په خپلو عهدونو باندې د وفاکولو په صورت کښې ټاکلی شوی دی هغه باقي دی چې د جنتونو څخه عبارت دی، او کوم شی چې په عمومي توګه ستاسو سره دی او یا چې په خصوصي توګه تاسو یې د عهدماتونې او خیانت په مقابل کښې اخلئ هغه فاني دی او د څو ورځو څخه اضافه عمر نه لري، چې یا به ترې تاسو لاړ شئ او یا به ستاسو دلاسه ووځي. نو ډېر دقت وکړئ چې خپل باقیات او دائمي اجرونه په فانیاتو او د دنیا په عوضونو باندې ضائع نه کړئ.

د: مونږ ضرور او هرومرو هغو کسانو ته په ډېره احسنه توګه اجرونه ورکوو کوم چې په خپلو تعهداتو باندې کلک وي او د عهدماتونې څخه صبر کوي او خپل ځانونه پکښې نه اخته کوي.

هـ: بلکې اخروي اجرونه ذکرو شوو وفادارو پورې ځانګړي نه دي، هرڅوک (نارینه وي او که زنانه) چې د ایمان درلودلو په حال کښې صالح عملونه وکړي نو دوی ته به مونږ هرومرو لاندې احسانات ورکړو:

اول: په دنیا کښې به پاکیزه او ارام ژوند ورکړو، چې زړونه به یې په قناعت باندې ډک کړو او په خپل ورکړی شوي نعمت باندې به یې سترګې مړې کړو.

دوهم: او په آخرت کښې به د نېکو اعمالو اجرونه او ثوابونه په احسنه توګه ورکړو، چې اقلاً یو په لسمه به یې عوضونه ورعنایت کړو.

## توضیحات

١ـ په ﴿ وَأَوۡفُواْ بِعَهۡدِ ٱللَّهِ ﴾ کښې د "عهد" کلمه مونږ ـلله الحمدـ د [البقرة: ٤٠] ایت لاندې ښه شرحه کړې ده چې د کلک حفاظت څخه عبارت ده، اما په دې مقام کښې ورباندې ورزیاتوو چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: ځينې علماء كرام وايي چې په دې مقام كښې د "عهد الله" څخه اسلامي بيعت مراد دى[۱]، يعنې اى خلكوا كله چې تاسو اسلامي بيعت وكړ او په ايمان باندې مشرف شوئ نو بيا پرې وفا وكړئ او بېرته مه مرتد كېږئ.

ب: ځينې نور وايي چې د "عهد الله" څخه دلته سوګند مراد دى[۲] لكه چې راتلونكې جمله ﴿ وَلَا تَنقُضُوا۟ ٱلْأَيْمَـٰنَ بَعْدَ تَوْكِيدِهَا ﴾ ورباندې دلالت كوي، يعنې كله چې تاسو په څه شي باندې سوګند وكړ نو په هغه باندې وفا وكړئ او خپل سوګندونه مه ماتوئ.

## تبصره

۲ـ مونږ ته داسې برېښي (والله ﷻ أعلم) چې د ﴿ وَأَوْفُوا۟ بِعَهْدِ ٱللَّهِ إِذَا عَـٰهَدتُّمْ ﴾ څخه به اسلامي بيعت مطلب وي، چې په خپل بيعت باندې وفا وكړئ او بېرته مه مرتد كېږئ. او د ﴿ وَلَا تَنقُضُوا۟ ٱلْأَيْمَـٰنَ بَعْدَ تَوْكِيدِهَا ﴾ څخه به د بنيادمانو خپلمنځي تعهدات مراد وي چې په اكثرو وختونو كښې ورسره د الله ﷻ په نامه باندې سوګندونه هم ذكر كېږي. مګر د تفنن في العبارة دپاره هلته په ايجابي څنډه باندې صراحت وشو او سلبي څنډې ته يې په ﴿ وَلَا تَنقُضُوا۟ ﴾ سره اشاره وشوه او دلته بالكعس په سلبي څنډه صراحت وكړى شو او ايجابي څنډې ته يې په ﴿ وَأَوْفُوا۟ ﴾ سره اشاره وشوه.

نو د همدغې جملې د معنى حاصل به داسې راوخېژي چې: اى بنيادمانو! تاسو په خپلمنځي تعهداتو باندې هم وفا وكړئ او خيانت پكښې مه كوئ، خصوصاً لا په هغه وخت كښې خو په جدي توګه د خيانت څخه اجتناب وكړئ چې تاسو ورباندې د الله ﷻ نوم ياد كړى وي او په سوګند سره مو تاكيد كړى وي.

مونږ ځكه په دوهمه جمله كښې د ﴿ ٱلْأَيْمَـٰنَ ﴾ څخه عهدونه مراد كړه چې "أَيْمَان" خو د "يمين" جمعه ده او عادت دا دى چې عهد د تړولو په وخت كښې دواړه متعاهدين يو بل ته خپل ښى لاس وركوي، بلكې په همدې معنى باندې استعمال شوى هم دى[۳].

## د "توكيد" او "تاكيد" څه فرق دى؟

۳ـ دغه دواړه كلمې مترادفې دي او په معنى كښې څه فرق نه لري اما په صرفي تحليل كښې ځينې علماء كرام وايي چې په "تاكيد" كښې همزه د "و" څخه مبدله ده چې په اصل كښې "توكيد" وه[۴]. او ځينې نور وايي چې په دواړو كلمو كښې بدلون نشته او يوه د بلې څخه نه ده تخفيفه شوې. نو د يوې اصل په "و" سره دى او د بلې اصل په همزې سره[۵].

---

(۱) روح المعاني ج۱٤ ص۲۲۰
(۲) احكام القرآن للجصاص ج۳ ص۱۹۰
(۳) مفردات الراغب ص۳٦۳
(٤) تفسير الكشاف ج۲ ص٦۳۰
(۵) لسان العرب ج۳ ص٤٦٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۴_ که څوک وايي چې: په ﴿ وَقَدْ جَعَلْتُمُ اَللَّهَ عَلَيْكُمْ كَفِيلاً ﴾ کښې د "کفیل" کلمه د ضامن معنی ورکوي حال دا چې خلک په خپلو تعهداتو کښې د الله ﷻ نوم د سوګند په توګه ذکر کوي، نه د ضامن په توګه؟

مونږ وايو: لکه څنګه چې یو متعهد بل متعهد ته د الله ﷻ په نامه سره ډاډ ورکوي نو د الله ﷻ نوم داسې وګڼل شو لکه چې یوه بل ته الله ﷻ ضامن ورکړی وي او په ضمانت سره یې ډاډه کړی وي.

یعنې ای بنیادمانو! تاسو ته په خپلو عهدونو باندې وفا په کار ده حال دا چې تاسو هر یوه خپل مقابل طرف د بل چا په نامه نه دی ډاډه کړی بلکې د الله ﷻ په نامه مو ډاډ ورکړی دی، نو که تاسو خپل عهدونه مات کړئ نو معنی به یې دا وي لکه چې د الله ﷻ نامه ته مو توهین کړی وي.

## دا قیصه ده که تمثیل دی؟

۵_ د ﴿ كَالَّتِي نَقَضَتْ غَزْلَهَا ﴾ په تفسیر کښې علماء کرام لاندې دوه نظره لري:

الف: په ذکرو شوو کلماتو کښې یوه مثال ته اشاره ده[۱] چې عهد ماتوونکي خلک هغسې زنانه ته ورته دي کومه چې په خپل لاس خپل عمل تخریبوي او ضائع کوي.

ب: په دغو کلماتو سره یوې مشخصې زنانه ته اشاره ده چې د ایت شریف د نزول په وخت کښې په ذکر شوي کار باندې مشهوره وه، حتی چې د حماقت او سادګۍ دپاره ضرب المثل ګرځېدلې وه، د دغې زنانه نوم "رِيْطَة بنت عَمْرو" وه او د مکې معظمې او یا د نجد د اوسېدونکو څخه وه[۲].

حتی ځینې علماء کرام وايي چې په ذکرو شوو کلماتو کښې هغه زنانه مطلب ده کومې ته چې په یوه حدیث شریف کښې اشاره شوې ده[۳]، د حدیث مضمون دا دی چې: یوه ورځې عبدالله بن عباس رضي الله عنهما یوې زنانه ته ګوته ونیوه چې دغه زنانه د جنتیانو څخه ده. او دا ځکه چې دغه توره زنانه نبي کریم ﷺ ته ورغله او عرض یې وکړ چې: یا رسول الله! زه د میرګیو په مرض باندې مریضه یم او کله چې په ما باندې دغه حمله راشي نو بیا په خپل ځان باندې نه پوهېږم او خپل ځان بربنډوم، نو زما دپاره د الله ﷻ څخه سوال وکړه چې د دغه مرض څخه عافیت راکړي.

نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: ستا خوښه که په دغه مرض باندې صبر کوې نو ستا دپاره به جنت وي، او که ستا خوښه وي نو الله ﷻ ته به ستا دپاره سوال وکړم چې عافیت درکړي.

نوموړې زنانه اول شق خوښ کړ چې: زه صبر کوم څو الله ﷻ جنت راکړي، خو ای د الله رسوله! الله ﷻ ته سوال وکړه چې د حملې په وخت کښې خپل ځان بربنډ نه کړم. «فَدَعَا لَهَا»[۴] نو نبي کریم ﷺ

(۱) المحرر الوجيز ج ۱۰ ص۲۲۷
(۲) البحر المحيط ج۶ ص۵۸۸
(۳) روح المعاني ج۱۴ ص۲۲۲
(۴) صحيح البخاري ج۲ ص۸۴۴؛ صحيح مسلم ج۲ ص۳۱۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورته دعاء وکړه چې: ای الله! د بربندولو څخه نجات او عافیت ورکړې.

## تبصره

۶ـ مونږ ته داسې برېښي چې ذکر شوي نظریات په هغو نکاتو باندې کوم اثر نه اچوي کومو ته چې په دغې تشبیه کښې اشارې شوې دي، هغه دا چې:

الف: عهد ماتوونکی نفر څه سړیتوب نه لري بلکې د ده عمل زنانه وو ته ورته دی.

ب: په زنانه وو کښې هم هغې زنانه ته ورته دې چې لیونۍ او بې عقله وي، تردې چې په خپل خیر او شر باندې نه پوهېږي او خپل ځان ته په خپل لاس ضرر رسوي.

نو هوښیارانو ته عموماً او مؤمنانو ته خصوصاً په کار دي چې د دغه کرغېړن عمل څخه خپل ځانونه بچ وساتي.

## د څو لغاتو معناوې

۷ـ په ﴿ نَقَضَتۡ غَزۡلَهَا مِنۢ بَعۡدِ قُوَّةٍ أَنكَـٰثٗا ﴾ کښې د لاندې لغاتو معناوې ولولئ:

الف: "غَزْل" هغه تار ته ویل کېږي کوم چې د مالوچو، یا کتان، یا وړیو او یا د بل شي څخه جوړ کړی شي[۱].

ب: کومه آله چې د تار جوړول وروباندې صورت نیسي هغه په عربي ژبه کښې د "مِغْزَل" ـلکه "مِنْبَرـ" په نامه یادېږي[۲] چې په پښتو کښې ورته "څرخه" وایي.

د جوړېدلو صورت یې داسې دی چې مالوچ یا بل شی نری کړی شي او په څرخه باندې ونغښتلی شي ترڅو یې ټول اجزاء یو بل ته ښه نژدې شي او ښه قوت مونده کړي، چې په دې مقام کښې ورته په ﴿ مِنۢ بَعۡدِ قُوَّةٍ ﴾ سره اشاره کړی شوې ده.

ج: "أنكَاث" د "نِكْث" ـلکه "عِلْم"ـ جمعه ده، "نِكْث" د هغه زاړه تار نوم دی کوم چې تکره- تکره شي او بیا د تازه (نوي) تار د جوړولو دپاره تیار کړی شي[۳].

د: کومه آله چې دغه عملیه وروباندې صورت نیسي هغې ته په عربي ژبه کښې "مِنْدَف" ـلکه "مِنْبَرـ" وایي[۴] چې په پښتو کښې د "ډانډس" په نامه یادېږي، اما کارکوونکي ته یې په عربي او پښتو دواړو کښې نداف ـد دال په شد سرهـ ویل کېږي.

## سوال جواب

۸ـ که څوک وایي چې: په دې مقام کښې د ﴿ أَنكَـٰثٗا ﴾ کلمه په څه شي باندې منصوبه شوې ده؟

(۱) زاد المسیر ج۴ ص۳۵۴
(۲) لسان العرب ج۱۱ ص۴۹۱
(۳) لسان العرب ج۲ ص۱۹۷
(۴) لسان العرب ج۹ ص۳۲۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وايو چې: که څه هم علماوو کرامو د ذکرې شوې کلمې په نصب کښې متعدد اقوال کړي دي[١] مګر کوم قول چې مونږ ته غوره څرګند شوی دی هغه دا دی چې د ﴿ نَقَضَتْ ﴾ کلمه د "صيرت" په معنی سره ده، چې ﴿ غَزْلَهَا ﴾ یې اولنی مفعول دی او ﴿ أَنكَثًا ﴾ یې دوهم مفعول دی[٢].

نو د معنی حاصل یې داسې راځېږي چې تاسو د هغې لیونۍ ښځې په څېر مه جوړېږئ چې خپل تارونه د مضبوطولو (تاوولو) څخه وروسته ټکړې-ټکړې ګرځوي او بیا یې په ډانډس باندې وهي ترڅو د دوهم ځل وریشلو دپاره تیار شي.

## دَخَل څه معنی؟

٩_ په ﴿ تَتَّخِذُونَ أَيْمَٰنَكُمْ دَخَلًا بَيْنَكُمْ ﴾ کښې د "دَخَل" _لکه "غَسَل"_ کلمه د فساد او ټګۍ څخه کنایه ده چې د "دَغَل" سره مرادفه ده. دغه جمله د ﴿ وَلَا تَكُونُوا ﴾ د ضمیر څخه حال واقع شوې ده چې د نهې لاندې ده[٣]. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: د لیونۍ زنانه غوندې خپل خانونه مه ګرځوئ او هم خپل تعهدات د خپلمنځي ټګۍ برګۍ ذرائع مه جوړوئ.

په همدې مطلب باندې په راتلونکي جمله کښې صراحت شوی دی چې د ﴿ وَلَا تَتَّخِذُوٓا۟ أَيْمَٰنَكُمْ دَخَلًۢا بَيْنَكُمْ ﴾ او تاسو خپل تعهدات په خپل منځ کښې د ټګۍ او دغل بازۍ ذریعه مه جوړوئ.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

١٠_ که څوک وايي چې په ﴿ إِنَّمَا يَبْلُوكُمُ ٱللَّهُ بِهِۦ ﴾ کښې د ﴿ بِهِۦ ﴾ ضمیر څه شي ته راجع دی؟

مونږ وايو چې: د دغه ضمیر په مرجع کښې علماوو کرامو متعدد اقوال کړي دي[٤] مګر بهتره دا ده چې دا ضمیر هغه حال ته راجع شي په کوم باندې چې وړاندېنۍ جمله دلالت کوي او حکمًا ذکر دی، یعنې یقینًا الله ﷻ تاسو په دې حال باندې د امتحان لاندې واقع کوي چې ستاسو ځینې ډلې کمزورې او ضعیفه ګرځوي او ځینې نورې قوي مقتدرې جوړوي.

## هېر مو نه شي!

١١_ هېر مو نه شي چې الله ﷻ په ﴿ فَتَزِلَّ قَدَمٌۢ بَعْدَ ثُبُوتِهَا ﴾ کښې د قدم کلمه نکره نازله کړې ده ترڅو لاندې ټولو صورتونو ته شامله شي:

الف: که تاسو په خپلو تعهداتو کښې ټګي وکړئ نو ستاسو پښه به وښوییږي او په لوی لاس به خپل خانونه په ذلت کښې واچوئ. او دا خکه چې نبي کریم ﷺ په یوه اورده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «وَلَمْ يَنْقُضُوا عَهْدَ اللهِ وَعَهْدَ رَسُولِهِ إِلَّا سَلَّطَ اللهُ عَلَيْهِمْ عَدُوًّا مِنْ غَيْرِهِمْ فَأَخَذُوا بَعْضَ مَا فِي أَيْدِيهِمْ»[٥]

---

(١) تفسیر ابن کثیر ج٢ ص٥٨٤

(٢) تفسیر البیضاوي في هذا المقام.

(٣) مفردات الراغب ص١٦٨

(٤) تفسیر ابي السعود ج٥ ص١٣٧

(٥) سنن ابن ماجه ص٢٩٠

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يعني هيڅ قوم د الله ﷻ او د ده د پيغمبر ﷺ عهد نه ماتوي مگر الله ﷻ به وربانديې د دوی څخه په غير بل دښمن مسلط کړي، نو ځينې هغه شيان به ترې واخلي کوم چې د دوی په لاس کښې وي او د ذلت سره به يې مخامخ کړي.

ب: که تاسو دغه کار وکړئ نو همدا به مو عادت جوړ شي، بله ورځ به د ايمان معاهده هم ماته کړئ او د ثابت قدمی څخه وروسته به مرتدان جوړ شئ.

ج: په دې صورت کښې به نور خلک په تاسو پسې اقدام وکړي نو د هغوی پښه به هم ونښوييږي او د ثابت قدمی څخه وروسته به بدعهدي غوره کړي[۱].

د: په داسې حال کښې چې تاسو د اسلام مدعيان ياست او په خپلو تعهداتو باندې ونه دريږئ نو اسلام به بدنام کړئ او ځينې جديد الاسلام خلک به بېرته کفر ته ستانه شي، او نور کافران به د اسلام څخه زړه تورن شي[۲].

ه: په دې صورت کښې به ستاسو د متعاهدينو پښه هم ښويه شي او هغوی به هم دغه کار خپل کړي، نو ايا تاسو به دغه کار د خپلو ځانونو دپاره خوښ کړئ؟ او ايا په دې تقدير به د جانبينو څخه اعتماد پورته نه شي؟ ايا ستاسو دنياوي نظام به گډوډ نه شي؟

## سوال جواب

۱۲_ که څوک وايي چې: د ﴿ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ مَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ ﴾ څخه څرگندېږي چې الله ﷻ به صابرانو ته د احسنو عملونو اجر ورکړي؛ نو پوښتنه دا ده چې: ايا دوی ته به الله ﷻ د حسنو (د ښو عملونو) اجرونه ورنه کړي، چې احسن (ډېر ښه) نه وي؟

مونږ وايو چې: په ذکر شوي عبارت کښې مطلب دا نه دی چې د احسنو اعمالو اجرونه به ورکړي او د حسنو به ورنه کړي بلکې مطلب دا دی _ والله ﷻ أعلم_ چې د صابرانو حسن عملونه به هم په خپل فضل سره د احسنو اعمالو درجې ته ورسوي، نو ټول نېک اعمال به يې احسن وگرځوي.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه دا هم لرې نه ده چې مطلب دا وي چې د صابرانو هر نېک عمل ته به احسنه جزا ورکړي چې اقله درجه به يې لس چنده وي.

## پاکيزه د کوم ژوند نوم دی؟

۱۳_ په ﴿ فَلَنُحْيِيَنَّهُۥ حَيَوٰةً طَيِّبَةً ﴾ کښې علماو کرامو د ﴿ حَيَوٰةً طَيِّبَةً ﴾ (پاکيزه او خوندور ژوند) په معنی کښې زښت ډېر تفسيرونه کړي دي چې شمېر يې تقريبًا يوولسو ته رسېږي[۳] مگر کوم تفسير چې مونږ ته غوره برېښي هغه دا دی چې:

---

(۱) تفسير الكشاف ج۲ ص۶۶۲
(۲) تفسير ابن كثير ج۲ ص۵۸۵
(۳) التفسير الكبير ج۲۰ ص۱۱۲؛ روح المعاني ج۱۴ ص۲۲۷؛ زاد المسير ج۴ ص۳۵۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دلته د ﴿ حَيَوٰةً طَيِّبَةً ﴾ (خوندور ژوند) څخه قناعت مطلب دی. نو حاصل به یې داسې راوخېژي چې: هرڅوک (نا رینه وي او که زنانه) چې د سوچه ایمان سره صالح عمل هم ملګری کړي نو مونږ به هغه ته په دنیا کښې ډېر خوندور او پاکیزه ژوند وربه برخه کړو، چې په ورکړی شوي نعمتونو باندې به قناعت ورکړو چې د یو پلوه به د الله ﷻ په ورکړه راضي جوړ شي او شکایت به نه کوي او د بله پلوه به د قناعت څښتن شي چې د چا مال ته به یې سترګې نه وې نیولې، او په خپلو شتو باندې به یې (لږ وي او که ډېر) سترګې مړې وګرځي. د ښه وضاحت دپاره لاندې ټکي ولولئ:

الف: الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ لَهُمُ ٱلْبُشْرَىٰ فِي ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَفِي ٱلْأَخِرَةِ ﴾ [یونس: ۶۴] یعنې متقیانو (اولیاء الله وو) ته په دې نړدې ژوند کښې هم زیری او خوشالي ده او په آخرت کښې هم د بشارت خاوندان دي.

ب: نبي کریم ﷺ په یوه اورږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «وَأَمَّا الْمُؤْمِنُ فَإِنَّ اللهَ يَدَّخِرُ لَهُ حَسَنَاتِهِ فِي الْآخِرَةِ وَيُعْقِبُهُ رِزْقًا فِي الدُّنْيَا عَلَى طَاعَتِهِ»[۱] یعنې او هرچه مؤمن دی نو الله ﷻ به ده ته د ده نیکی په آخرت کښې ذخیره کړي او ده ته به د طاعتونو په تعقیب باندې په دنیا کښې روزي ورکړي (نو نوموړی به د خپل طاعت څخه په دنیا او آخرت دواړو کښې پوره ګټه پورته کړي).

ج: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «قَدْ أَفْلَحَ مَنْ أَسْلَمَ وَرُزِقَ كَفَافًا وَقَنَّعَهُ اللهُ بِمَا آتَاهُ»[۲] یقینًا د فلاح خاوند شو هغه څوک چې اسلام راوړي او د کفایت په اندازه روزي ورکړی شي او (هم) الله ﷻ ورته په هغه څه باندې قناعت ورکړي کوم چې ده ته یې ورکړی وي.

د: نبي کریم ﷺ په یوه اورږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «وَكُنْ قَنِعًا تَكُنْ أَشْكَرَ النَّاسِ»[۳] یعنې ای ابا هریره! او ته قناعت خپل کړه ترڅو د ټولو خلکو ښه شکر کوونکی جوړ شې.

ذکر شوی مضمون یو پښتون شاعر په خپل یوه شعر کښې څومره په ښه توګه رانیولی دی[۴] چې:

قناعت مې د خرقې لاندې اطلس دی :: پټ د درست جهان پاچا ظاهر ګدا یم

﴿ فَإِذَا قَرَأْتَ ٱلْقُرْءَانَ فَٱسْتَعِذْ بِٱللَّهِ مِنَ ٱلشَّيْطَٰنِ ٱلرَّجِيمِ ﴿٩٨﴾ إِنَّهُۥ لَيْسَ لَهُۥ سُلْطَٰنٌ عَلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٩٩﴾ إِنَّمَا سُلْطَٰنُهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ يَتَوَلَّوْنَهُۥ وَٱلَّذِينَ هُم بِهِۦ مُشْرِكُونَ ﴿١٠٠﴾ ﴾

[۹۸] نو (ای پیغمبره!) کله چې ته د قرآن کریم قرائت کوې (اراده ورتـه وکړې) نو (ړومبی) په الله ﷻ سره د رټلي شوي شیطان څخه پنا وغواړه.

---

(۱) صحیح مسلم ج۲ ص۳۷۴
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۵۷۲
(۳) سنن ابن ماجه ص۳۱۱
(۴) د عبدالرحمن مومند دیوان

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[٩٩] یقینًا شیطان چې دی ده لره په هغو کسانو باندې څه سلطه (غلبه) نشته کومو چې ایمان راوړی وي او په خپل رب ﷻ باندې توکل (او اعتماد) کوي.

[١٠٠] بې شکه د شیطان سلطه (غلبه) په هغو کسانو باندې ده کومو چې شیطان په دوستۍ سره نیولی وي او په هغو کسانو باندې ده کوم چې دوی د همدې (شیطان) په سبب سره مشرکان (ګرځېدلي) دي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنیو ایتونو مضمون دا وه چې په خپلو تعهداتو باندې وفا وکړئ او د سیاسي او مالي اغراضو د کبله پکښې خیانت مه کوئ، ترڅو تاسو په دنیا کښې د خوندور ژوند خاوندان جوړ شئ او په آخرت کښې دائمي نعمتونه وګټئ.

په دې ایتونو کښې د شیطان د مخنیوي چاره ښودلې شوې ده چې د همېشه دپاره د انسانانو په دښمنۍ کښې اخته دي، نه یې وړباندې دنیاوي خوندور ژوند پېرزو کېږي او نه یې پرېږي د آخرت دائمي نعمتونه لوربېږي، بلکې د شیطان نهایي هدف دا دی چې د قرآن کریم د ارشاداتو څخه خلک منحرف کړي او په دې کښې اشتباه ور واچوي چې قرآن کریم د ټولو ضروریاتو او احتیاجاتو پوره کوونکی او بیانوونکی دی. نو حاصل یې داسې راوځي:

١ـ ای پیغمبره! کله چې ته اراده وکړې چې قرآن کریم قرائت کړې نو د هرڅه څخه وړاندې په الله ﷻ سره د رټلی شوي شیطان څخه پنا وغواړه، او دا ځکه چې ترڅو ستا امت په تا پسې اقتداء وکړي او د شیطان څخه پنا وغواړي ځکه چې نوموړی ستاسو کلک دښمن دی او غواړي چې په شرعي احکامو کښې مسلمانانو ته اشتباهګانې او دسیسې ورووړاندې کړي او بې اطاعتۍ ته یې وهڅوي.

که څه هم شیطان د مسلمانانو په ګمراه کولو کښې د یوه شرعي حکم په هکله هم صرفه نه کوي مګر په تعهداتو کښې خیانت ته ډېر متوجه دی ځکه چې دا خیانت د ډېرو مفاسدو سرچینه ده.

٢ـ ای پیغمبره! دا یقیني خبره ده چې شیطان په مؤمنانو باندې په عمومي توګه تسلط او اقتدار نه لري چې په زور باندې یې بې لارې کړي او خاصتاً په هغو کسانو باندې خو یې بالکل وسه نه رسېږي کوم چې په خپل رب ﷻ باندې توکل وکړي او په همده ﷻ سره د نوموړي غټ دښمن څخه پنا وغواړي.

٣ـ د شیطان تسلط په هغو کسانو باندې دی کومو چې هغه په دوستۍ سره نیولی وي او خپل خانونه یې ورتسلیم کړي وي او بالآخره په هغو کسانو باندې شیطان مسلط دی کوم چې د شیطان د اجابت د کبله مشرکان ګرځېدلي دي.

لنډه دا چې شیطان په چا باندې تسلط نه لري، مګر دا بېله خبره ده چې څوک په خپله خوښه او خپل اختیار خپل ځان د هغه په ولکه کښې واچوي او په خپل رب ﷻ سره پنا نه غواړي.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



# توضيحات

١ـ نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: زما سره هم شيطان شته دی «وَلَكِنَّ رَبِّي عَزَّ وَجَلَّ أَعَانَنِي عَلَيْهِ حَتَّى أَسْلَمَ»(١) مګر ماته وربانديې خپل رب ﷻ کومک راکړی دی حتی چې ماته يې غاړه اينبې ده، نه ما خطا کولی شي او نه زما په خطاکولو کښې زيار وباسي.

خو د دې سره-سره الله ﷻ توصيه کړې ده چې ای پيغمبره! په الله ﷻ سره د شيطان څخه پنا وغواړه، ترڅو ټول امت د شيطان د دسيسو څخه په ډېر جديت سره پنا وغواړي چې معصوم پيغمبر ته لا په پنا غوښتلو باندې توصيه شوې ده.

٢ـ مونږ د [البقرة:١۴] ايت لاندې ـلله الحمدـ د شيطان د کلمې صرفي تحليل ليکلی دی او دا مو هم ليکلي دي چې دغه کلمه يوازې په جنياتو پورې اختصاص نه لري بلکې په انسانانو کښې هم شيطانان شته دي، لکه چې لاندې حديث وربانديې دلالت کوي چې:

ابو ذر ﷺ وايي چې يوه ورځې ماته نبي کريم ﷺ توصيه وکړه چې د جني او انسي (دواړو) شيطانانو د شر څخه په الله ﷻ باندې پنا وغواړه، نو ما عرض وکړ چې: ای د الله رسوله! ايا په انسانانو کښې هم شيطانان شته؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «نَعَمْ»(٢) هو، په دوی کښې هم شيطان شته دی.

په دې مقام کښې شايد چې همدغه عامه معنی مراده وي او دا څکه چې د قرآن کريم څخه په انحراف کښې لکه چې جني شيطانان زيار وباسي همدارنګه د دوی شاګردان انسي شيطانان هم غلي ناست نه دي.

## څو مسائل

٣ـ هيله ده چې محترم لوستونکي په دې مقام کښې لاندې مسائل (احکام) په نظر کښې ونيسي:

الف: د ﴿ فَإِذَا قَرَأْتَ ٱلْقُرْءَانَ ﴾ معنی دا ده چې کله ته د قرائت اراده وکړې نو د قرائت څخه وړاندې په الله ﷻ باندې پنا وغواړه.

د دې ايت نظير دا ايت شريف دی چې: ﴿ إِذَا قُمْتُمْ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ ﴾ [المائدة:۶] يعنې کله چې تاسو لمانځه ته پورته شئ نو که بې اودسه ياست تاسو اودس وکړئ؛ هسې نه چې کله تاسو لمونځ اداء کړ نو بيا اودس وکړئ.

لنډه دا چې استعاذه د قرائت د پيل څخه وړاندې په کار ده لکه چې نبي کريم ﷺ په خپل فعل سره همدا ډول استعاذه تائيده کړې ده(٣). او همدا د جمهورو علماوو نظر دی(۴) بلکې په همدې باندې اجماع شوې ده(۵).

---

(١) مسند احمد بن حنبل ج٩ ص۴٢۵
(٢) سنن النسائي ج٢ ص٣١٨
(٣) احکام القرآن للجصاص ج٣ ص١٩١
(۴) روح المعاني ج١۴ ص٢٢٩
(۵) تفسير المظهري ج۵ ص٣٧٠

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: استعاذه د قرائت څخه وړاندې سنت ده او واجبه نه ده، برابره خبره ده چې په داخل د لمانځه کښې وي او که د لمانځه څخه بهر وي. همدا د احنافو علیهم الرحمة په نزد غوره ده[1].

## سوال جواب

۴_ که څوک وايي چې: د ﴿ فَٱسۡتَعِذۡ بِٱللَّهِ ﴾ څخه څرګندېږي چې استعاذه واجبه ده ځکه چې امر خو د وجوب دپاره وي، نو تاسو ورته په څه منظور د سنت لقب ورکړ؟

مونږ وايو چې: که بالفرض دغه امر د وجوب دپاره وی نو نبي کريم ﷺ به هيڅکله استعاذه نه وی ترک کړې حال دا چې په ځينو ځايونو کښې يې د استعاذې څخه پرته په قرائت باندې پيل کړی دی[2] لکه چې د يوه اوږده حديث مضمون دی چې کله په نبي کريم ﷺ باندې د "الکوثر" سورت نازل شو نو صحابه وو کرامو ﷺ ته يې پرته د استعاذې څخه په دې ډول قرائت کړ چې: «بسم الله الرحمن الرحيم ﴿ إِنَّآ أَعۡطَيۡنَٰكَ ٱلۡكَوۡثَرَ ۝ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَٱنۡحَرۡ ۝ إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ ٱلۡأَبۡتَرُ ۝ ﴾».

ج: د استعاذې کلمات د نبي کريم ﷺ څخه په يوه حديث کښې داسې روايت شوي دي چې: «أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ»[3] همدا کلمات د لمانځه د اداء کوونکو دپاره د فقهاوو په نزد باندې مستعمل دي[4].

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۵_ که څوک وايي چې: الله ﷻ د شيطان د خولې څخه حکايت کوي چې د قيامت په ورځ به خپل پيروان مخاطب کړي چې: ﴿ وَمَا كَانَ لِيَ عَلَيۡكُم مِّن سُلۡطَٰنٍ إِلَّآ أَن دَعَوۡتُكُمۡ فَٱسۡتَجَبۡتُمۡ لِي ﴾ [إبراهيم: ۲۲] يعني په دنيا کښې ما په تاسو باندې څه سلطان (سلطه) نه درلوده مګر فقط تاسو ته مې دعوت درکړ او تاسو زما د دعوت استجابت وکړ؛ حال دا چې په دې مقام کښې الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ إِنَّمَا سُلۡطَٰنُهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ يَتَوَلَّوۡنَهُۥ ﴾ يعني يقيناً د شيطان سلطه په هغو خلکو باندې شته کوم چې د هغه په دوستۍ باندې قائل دي. نو پوښتنه دا ده چې ايا دغه دواړه ايتونه سره څه منافات نه لري؟

مونږ وايو: لکه چې د دواړو ايتونو د اشارو او کلماتو څخه څرګندېږي چې الله ﷻ په هيڅ انسان باندې شيطان ته داسې سلطه نه ده ورکړې چې خپله اراده وړباندې تحميله کړي او د نجات لاره ترې ورکه کړي، بلکې شيطان ته يې فقط او فقط د دعوت او وسواس توان ورکړی دی، مګر دا بېله خبره ده چې څوک د هغه دعوت ته غاړه کېږدي او ورته تسليم شي؛ نو په لومړني ايت کښې لومړني حال ته اشاره شوې ده او په دې ايت کښې چې اوس د بحث لاندې دی دوهم حال ته اشاره کېږي، چې دواړه حالونه سره هيڅ منافات نه لري.

(۱) بدائع الصنائع في ترتيب الشرايع ج ص۲۰۲
(۲) سنن ابي داود ج۲ ص۲۹۷
(۳) سنن ابي داود ج۲ ص۳۰۳
(۴) تفسير المظهري ج۵ ص۳۱۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ وَإِذَا بَدَّلْنَآ ءَايَةً مَّكَانَ ءَايَةٍ ۙ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يُنَزِّلُ قَالُوٓا۟ إِنَّمَآ أَنتَ مُفْتَرٍۭ ۚ بَلْ
أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٠١﴾ قُلْ نَزَّلَهُۥ رُوحُ ٱلْقُدُسِ مِن رَّبِّكَ بِٱلْحَقِّ لِيُثَبِّتَ ٱلَّذِينَ
ءَامَنُوا۟ وَهُدًى وَبُشْرَىٰ لِلْمُسْلِمِينَ ﴿١٠٢﴾ وَلَقَدْ نَعْلَمُ أَنَّهُمْ يَقُولُونَ إِنَّمَا يُعَلِّمُهُۥ بَشَرٌ ۗ
لِّسَانُ ٱلَّذِى يُلْحِدُونَ إِلَيْهِ أَعْجَمِىٌّ وَهَٰذَا لِسَانٌ عَرَبِىٌّ مُّبِينٌ ﴿١٠٣﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ
لَا يُؤْمِنُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ لَا يَهْدِيهِمُ ٱللَّهُ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٠٤﴾ إِنَّمَا يَفْتَرِى ٱلْكَذِبَ
ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ ۖ وَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْكَٰذِبُونَ ﴿١٠٥﴾ ﴾

[۱۰۱] او هرکله چې مونږ د یوه (منسوخ) ایت په ځای (بدل کښې ناسخ) ایت (نازل) کړو، حال دا چې الله ﷻ په هغه شي (ایت) باندې ډېر ښه پوهېږي کوم چې نازلوي (وخت یې ورته ډېر ښه معلوم دی)، نو کفار (تاته) وايي چې: یقیناً ته دروغ جوړونکی یې (دا د الله ﷻ د پلوه نه دی نازل شوی).
(دغسې نه ده لکه چې دوی یې وايي) بلکې د دوی اکثریت نه پوهېږي (چې په نسخه کښې څومره ډېر حکمتونه نغښتي دي، او اقلیت یې عناد نیولی دی).

[۱۰۲] (ای پیغمبره! ته) ووایه چې دا (قرآن کریم) مقدس روح (جبرائیل امین) ستا د رب ﷻ د پلوه د دې دپاره په حقه (بې شکه) نازل کړی دی ترڅو پرې د هغو کسانو (ایمان) ثابت (قوي) کړي کومو چې ایمان راوړی دی او (هم د دې دپاره) چې د مسلمانانو په ارتباط هدایت او بشارت (جوړ) شي.

[۱۰۳] او (ای پیغمبره!) یقیناً مونږ پوهېږو چې بې شکه کفار (ستا په باره کښې) وايي چې: دا ته بنیادم (د قرآن کریم) ښودانه کوي. (حال دا چې) د هغه چا ژبه اعجمي ده کوم ته چې (ستا د معلمۍ په هکله) دوی میلان (انتساب) کوي، او دغه (قرآن کریم) واضحه عربي ژبه ده.

[۱۰۴] یقیناً هغه کسان چې د الله ﷻ په ایتونو باندې ایمان نه راوړي دوی ته به الله ﷻ (په دنیا کښې) هدایت ونه کړي (توفیق به ورنه کړي) او (همدارنګه) دوی ته (په آخرت کښې) دردناک عذاب دی.

[۱۰۵] یقیناً په الله ﷻ باندې هغه کسان دروغ جوړوي (تړي) کوم چې د الله ﷻ په ایتونو باندې ایمان نه راوړي، او همدغه کسان چې دي همدوی دروغژنان دي (دروغ یې عادت ګرځېدلی دی).

## ارتباط

وړاندېني ایتونه په دوه وو مطالبو باندې مشتمل وه، یو دا چې د قرآن کریم د قرائت په وخت کښې شیطان زیار وباسي چې قاري ته وسواس ورواچوي نو تاسو د دغه وسواس څخه په الله ﷻ سره پنا حاصله کړئ، او بل دا چې د شیطان دوستان د هغه (علیه اللعنة) د تسلط لاندې دي او د مخلصو

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شاګردانو په څېر د هغه په تګلاره باندې ګرندي روان دي.

په دې ایتونو کښې ذکر شوي دواړه مطالب د مثالونو په ضمن کښې ښه شرحه شوي دي چې حاصل يې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

اې پېغمبره! اوس په خپل امت باندې لاندې دوه مثالونه قرائت کړه ترڅو دوی ته واضحه شي چې شيطان څرنګه تشويشونه ايجادوي او مخلص شاګردان يې څرنګه تګلاره تعقيبوي.

لومړی مثال:

١ـ کله چې موږ يو شرعي حکم تبديل کړو، چې يو ايت منسوخ کړو او په عوض يې بل ايت نازل کړو، نو شيطان د خپلو مخلصو شاګردانو په خوله تا مخاطب جوړوي چې: يقينًا ته مفتري يې او تا په الله ﷻ باندې دروغ تړلي دي، او دا ځکه که دا قرآن کريم د الله ﷻ د پلوه نازل شوی وی نو په دې کښې به نسخه نه وی واقع شوې ځکه چې نسخه خو دا معنی ورکوي چې الله ﷻ يو ايت (حکم) پرون سهوًا غير مطابق نازل کړی وه، او نن يې خپله سهوه او غلطي اصلاح کړه.

٢ـ اې پېغمبره! ذکر شوی وسواس په لاندې ټکو کښې جواب کړه چې:

الف: الله ﷻ چې هر يو ايت (حکم) نازلوي په هغه باندې د هرچا ځخه ښه ښه ډېر ښه پوهېږي چې دا حکم به د محدودو ورځو پورې وي، کله چې محدودې ورځې تېرې شي او نازل شوی حکم خپلې ټاکلې شوې انتهاء ته ورسېږي نو خلکو ته څرګنده کړي چې د دې ځخه وروسته د هغه حکم په عوض دغه تازه نازل شوی حکم معمول وګرځوئ.

دغسې نه ده لکه چې کفار خيال کوي بلکې د دوی اکثريت نه پوهېږي او الله ﷻ نه پېژني چې د هرحيثه کامل دی، که نه نو دغه خيال به يې نه وی کړی، اما اقليت يې پوهېږي چې نسخه په ډېرو حکمتونو مشتمله ده خو دوی عناد نيولي دي؟

ب: اې پېغمبره! دغه قرآن د ټولو ايتونو په شمول ستا د رب ﷻ د پلوه مقدس روح (جبريل آمين) په ټاپاندې په تدريج سره نازل کړی دی، نو ته کفارو ته ووايه چې: ما په الله ﷻ باندې دروغ نه دي تړلي او نه د دې قرآن کريم سره د نزول په مراحلو کښې څه دروغ ضميمه شوي دي، او دا ځکه چې دا په حقه سره د واقع په مطابق زما رب ﷻ د دې دپاره نازل کړی دی چې:

اول: ترڅو د ناسخ او منسوخ په نزول سره د مؤمنانو په زړونو کښې ايمان ښه قوي شي چې دوی د شيطان شاګردان نه دي بلکې دوی د الله ﷻ مخلص بندګان دي او هر يو حکم ته يې منقاد دي.

دوهم: ترڅو دوی ته د هرې حادثې په مطابق احکام نازل کړي او هدايت ورته وکړي.

درېم: ترڅو د مسلمانانو دپاره بشارت جوړ شي چې د دوی د حال په مطابق احکام نازلېږي او د تعميل څخه يې په نزول کښې د نظره نه ده غورزولې شوې، که نه نو دوی به د مشکلاتو سره مخامخ شوي وی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



**دوهم مثال:**

۳_ ای پیغمبره! بل هغه شی په کوم باندې چې د شیطان اندیوالان تا ډېر زوروي او مونږ پوهېږو چې تا پرې متهموي، هغه دا دی چې دوی وايي چې: دا قرآن کریم د الله ﷻ د پلوه محمد ﷺ ته جبریل امین ﷺ نه دی تعلیم کړی بلکې دا ورته یوه انسان ښودلی دی او په دروغو باندې یې الله ﷻ ته منسوبوي.

۴_ ای پیغمبره! د ذکر شوي اتهام (تهمت) پورته کول خو دومره واضحه دي چې هرڅوک ورباندې پوهېږي، دا څکه چې کوم انسان چې مشرکان (کفار) یې ستا استاذ ګڼي چې قرآن کریم یې دربښودلی دی هغه اعجمي دی چې عربي ژبه کښې مهارت نه لري او په بلاغت او فصاحت کښې یې نواقص دي، حال دا چې قرآن کریم په داسې عربي لغت باندې نازل شوی دی چې په بلاغت او فصاحت کښې ساری او سیال نه لري، بلکې د عربي لغت ډېر ماهر او پوه طبقه هم ورسره په یوه سورت یا یوه ایت کښې سیالي نه شي کولی او د مقابلې څخه یې عاجز دی.

عجیبه ده چې _د دوی په خیال_ یو اعجمي سړی درګرده په عربي ژبه معجزانه خبرې کوي، او دوی ترې عاجزان دي؟ ایا دا کار د شیطان د دوستۍ او تسلط یوه نښه او علامه نه ده؟

۵_ ذکره شوې خبره پوره واضحه ده چې دروغ ده مګر هغو کسانو ته الله ﷻ هدایت نه کوي کوم چې د ده ﷻ په ایتونو باندې ایمان نه راوړي او د شیطان په دوستۍ باندې کلک وي (عناد نیولی وي)، نو څکه کفارو ته په دنیا کښې توفیق نه په برخه کېږي چې پرته له دلیله د شیطان اوامرو ته غاړې ږدي، او دوی ته په آخرت کښې دردناک عذاب تیاکلی شوی دی.

۶_ ای پیغمبره! نه ته دروغ تړې او نه ستا د شان سره دروغ تړل څه مناسبت لري، بلکې دروغ هغه کسان تړي کوم چې د الله ﷻ په څرګندو او واضحه دلایلو باندې عقیده نه لري او د شیطان ښودانه بدون د دلیل څخه قبلوي او غاړې ورته ږدي، نو دغه کسان همدوی دروغژنان دي او په دروغو ویلـ کښې اول نمره ګان دي، ته به وايې چې د دوی څخه په غیر بل هیڅ دروغژن نشته.

## توضیحات

۱_ په ﴿ وَإِذَا بَدَّلْنَآ ءَايَةً مَّكَانَ ءَايَةٍ ﴾ کښې څینو مفسرینو کرامو د ﴿ ءَايَة ﴾ کلمه په شریعت سره تفسیره کړې ده[۱]. یعنې کله چې مونږ د یو شریعت په ځای بل شریعت راوړو (لکه چې پخواني شریعتونه مو ټول منسوخ کړه او په عوض مو د آخر الزمان پیغمبر ﷺ شریعت کېښود) نو کفار تاته د مفتري (دروغ تړونکي) لقب درکوي.

مګر مونږ ته بهتره برېښي چې ذکره شوې کلمه په قرآني ایت باندې تفسیره شي چې د یو پلوه متبادره ده او د بل پلوه وړاندې وروسته بحث په قرآن کریم کښې روان دی، نو حاصل به یې داسې راوخېژي چې کله مونږ یو ایت په بل ایت باندې منسوخ کړو نو کفار په تاباندې د مفتري نوم ږدي.

(۱) تفسیر القاسمي ج۱۰ ص۱۵۸؛ تفسیر القرطبي ج۱۰ ص۱۷۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۲_ که څوک وايي چې دا سورت خو مکي سورت دی او په مکه معظمه کښې خو په نبي کريم ﷺ باندې په عمده توګه عقیدوي احکام نازلېدل چې نسخه پکښې نشته، نسخه خو په عملي احکامو کښې واقع شوې ده چې په مدینه منوره کښې نازل شوي دي. نو پوښتنه دا ده چې ایا همدغه خبره اولنی تفسير ته ترجيح نه شي ورکولی چې د ﴿ ءَايَةً ﴾ د کلمې څخه شريعت مراد کړی شي؟

مونږ وايو چې: نسخه په مدينه منوره پورې اختصاص نه لري بلکې په مکه معظمه کښې هم په عملي احکامو کښې نسخه واقع شوې ده، لکه چې هلته په مؤمنانو باندې د تهجد لمونځ فرض وه خو بيا الله ﷻ په ﴿ فَٱقۡرَءُواْ مَا تَيَسَّرَ مِنَ ٱلۡقُرۡءَانِ ﴾ [المزمل: ۲۰] سره منسوخ او تخفيف کړ[۱] چې پوره تحقيق به يې _إن شاء الله ﷻ_ په خپل ځای کښې راشي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه دا هم څه لرې نه ده چې د ايت شريف مطلب دا وي چې کله مونږ په راتلونکي کښې کوم حکم منسوخ کړو او مشرکانو ته اطلاع ورسېږي نو دوی به تا ته د "مفتري" لقب درکړي.

## د رُوحُ الْقُدُس معنی

۳_ مونږ د ﴿ رُوحُ ٱلۡقُدُسِ ﴾ په معنی کښې د [البقرة: ۸۷] ايت لاندې (لله الحمد) څه بحث ليکلی دی چې بيا ليکلو ته يې اړتيا نه ګورو مګر په دې مقام کښې ورباندې لاندې وضاحت ورزياتوو:

الف: په دې کښې هيڅ اختلاف نشته چې دلته د ﴿ رُوحُ ٱلۡقُدُسِ ﴾ څخه جبرائيل امين عليه السلام مراد دی[۲].

ب: د ﴿ رُوحُ ٱلۡقُدُسِ ﴾ کلمات په "الرُّوحُ الْقُدُس" سره تعبيرېږي، يعنې هسې روح چې مقدس او پاک دی، لکه چې "حاتم الجود" په "الحاتم الجواد" سره تعبيروو[۳]، يعنې هسې حاتم چې جواد دی.

ج: نو جبرائيل عليه السلام ته ځکه د روح لقب ورکول شوی دی چې نوموړی د هغې وحې راوړونکی دی کومه چې د انسانانو دپاره د روح مقام لري[۴]، او مقدس ورته ځکه ويل کېږي چې د عدم اطاعتی او په وحي کښې د څه نقصان اچولو څخه پاک دی[۵].

## "بشر" يعنې څوک؟

۴_ په ﴿ إِنَّمَا يُعَلِّمُهُۥ بَشَرٞ ﴾ کښې چې کوم بنيادم ته اشاره شوې ده د هغه په نامه او د هغه په

(۱) تفسير ابن كثير ج۴ ص۴۳۶
(۲) البحر المحيط ج۶ ص۵۹۴
(۳) تفسير الكشاف ج۲ ص۶۳۴
(۴) المحرر الوجيز ج۱۰ ص۲۳۱
(۵) تفسير القاسمي ج۱۰ ص۱۵۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تعین کښې علماوو کرامو متعدد اقوال لیکلي دي چې تقریبًا لسو ته رسېږي[١]، شاید چې د تعدد وجوه به يې دا وي چې:

الف: ځینو کافرانو به یو اعجمي سړی نبي کریم ﷺ ته د استاذ په حیث ټاکلی وي او ځینو نورو به بل اعجمي سړي ته دغه لقب ورکړی وي.

ب: دا هم څه لرې نه ده چې اعجمي سړی یو نفر وي خو په نومونو او القابو کښې به يې تعدد واقع شوی وي چې چا به په یوه نامه باله او چا به ورته بل نوم ایښوده لکه جبر، یسار او داسې نور.

دغه اعجمي سړي په هر نامه باندې چې وه خو په پخوانیو کتابونو (تورات، انجیل) باندې پوهیده او کله به چې نبي کریم ﷺ د مشرکانو د ستغو خبرو څخه په تنګ شو نو د هغه ترڅنګ به يې دمه جوړوله.

الله ﷻ ذکر شوی اعتراض په ډېره بسیطه او واضحه توګه جواب کړ چې: چاته چې دوی د معلم القرآن لقب ورکوي هغه خو اعجمي سړی دی چې په عربي لغت کښې فصاحت او بلاغت نه لري، حال دا چې د قرآن د مقابلې څخه ټول فصحاء او بلغاء عاجزان دي، ایا دا عجیبه نه ده چې اعجمي سړی په عربیت کښې په ټولو عربو باندې دپاسه شي؟

## د "لِسَانٌ" د کلمې معنی

۵ـ د "لِسَانٌ" د کلمې معنی معلومه ده مګر کله-کله يې په لغت باندې هم اطلاق کېږي[٢] او په دې مقام کښې همدغه معنی مطلب ده. نو د ﴿ وَهَـٰذَا لِسَانٌ عَرَبِيٌّ مُّبِينٌ ﴾ معنی دا ده چې دغه قرآن عربي فصیح او بلیغ لغت دی چې اعجمیان لا څه چې سوچه عربان يې هم د مقابلې توان نه لري.

﴿ مَن كَفَرَ بِٱللَّهِ مِنۢ بَعْدِ إِيمَـٰنِهِۦٓ إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُۥ مُطْمَئِنٌّۢ بِٱلْإِيمَـٰنِ وَلَـٰكِن مَّن شَرَحَ بِٱلْكُفْرِ صَدْرًا فَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ مِّنَ ٱللَّهِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٠٦﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمُ ٱسْتَحَبُّوا۟ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا عَلَى ٱلْـَٔاخِرَةِ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْكَـٰفِرِينَ ﴿١٠٧﴾ أُو۟لَـٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ طَبَعَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ وَسَمْعِهِمْ وَأَبْصَـٰرِهِمْ ۖ وَأُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْغَـٰفِلُونَ ﴿١٠٨﴾ لَا جَرَمَ أَنَّهُمْ فِى ٱلْـَٔاخِرَةِ هُمُ ٱلْخَـٰسِرُونَ ﴿١٠٩﴾ ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ هَاجَرُوا۟ مِنۢ بَعْدِ مَا فُتِنُوا۟ ثُمَّ جَـٰهَدُوا۟ وَصَبَرُوٓا۟ إِنَّ رَبَّكَ مِنۢ بَعْدِهَا

(١) زاد المسير ج۴ ص۳۵۹؛ روح المعاني ج۱۴ ص۲۳۳؛ اسباب النزول للواحدي ص۱۹۰؛ تفسير البغوي ج۳ ص۸۵
(٢) مفردات الراغب ص۴۷۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١١٠﴾ يَوْمَ تَأْتِي كُلُّ نَفْسٍ تُجَادِلُ عَن نَّفْسِهَا وَتُوَفَّىٰ كُلُّ نَفْسٍ مَّا
عَمِلَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿١١١﴾ ۞

[۱۰۶] هرڅوک چې په الله ﷻ باندې د خپل ایمان څخه وروسته (بېرته) کافر شي (مرتد شي نو په ده باندې د الله ﷻ د پلوه لوی غضب دی) مګر هغه څوک چې (د کافر کېدلو دپاره) پرې زور وکړی شي حال دا چې زړه یې په ایمان باندې مطمئن وي (نو په ده باندې غضب نشته)، مګر هغه څوک چې په کفر سره (خپله) سینه پرانیزي (پرې مطمئن شي) نو په دوی باندې د الله ﷻ د پلوه لوی غضب دی او دوی ته (په آخرت کښې) لوی عذاب دی.

[۱۰۷] دغه (مذکور غضب او عذاب) په دې سبب (دوی ته ټاکلی شوی دی) چې یقیناً دوی نژدې (حقیر) ژوند په آخرت (دائمي ژوند) باندې غوره کړی دی، او په دې سبب چې یقیناً الله ﷻ کافر قوم ته هدایت نه کوي (چې استعداد یې د منځه تللی وي).

[۱۰۸] دغه خلک هغه کسان دي چې الله ﷻ د دوی په زړونو باندې او په غوږونو باندې او (هم) په سترګو باندې مهر وهلی دی، او همدغه کسان همدوی غافلان (بې خبره) دي.

[۱۰۹] دا خبره حقه ده چې: یقیناً دوی په آخرت کښې همدوی زیانکاران (تاوانیان) دي.

[۱۱۰] بیا یقیناً (ای پیغمبره!) ستا رب ﷻ د هغو کسانو دپاره (په نصرت او کومک سره) دی کوم چې د هغه څخه وروسته هجرت هم وکړي چې دوی په فتنه کښې اچولی شوي وي (او کفري کلمه پرې تحمیله شوې وي)، بیا (لا چې في سبیل الله) جهاد وکړي او (د جهاد په مشقتونو باندې) صبر (هم) وکړي، یقیناً ستا رب ﷻ (ای پیغمبره!) د (ذکرې شوې) فتنې څخه وروسته (دوی ته) هرومرو بښونکی (او) مهربان دی.

[۱۱۱] (البته) په داسې (سخته) ورځ کښې (به وربانډې مهرباني وکړي) چې هر یو کس به (د محشر میدان ته) په داسې حال باندې راځي چې (یوازې) د خپل ځان څخه به اعتذار وړاندې کوي (او بس). او هر چاته به (په دغې ورځ کښې) د هغه شي پوره (جزا یا سزا) ورکړی شي کوم یې چې کړی وي حال دا چې په دوی (په هیڅا) باندې به ظلم ونه کړی شي.

## ارتباط

په وړاندېنیو پنځلسو ایتونو کښې محوري مضمونونه یو دا وه چې په تعهداتو باندې وفاء وکړئ او بل دا وه چې شیطان او د ده شاګردان غواړي چې تاسو په ډول ډول حیلو او پلمو سره د خپلو تعهداتو ماتولو ته سوق کړي، په دې ایتونو کښې یو د هغه چا جزا ته اشاره شوې ده کوم چې په خپله خوښه تعهدات مات کړي او د شیطان په لومه کښې ونښلي، او بل پکښې د هغه چا مغفرت بیان شوی دی کوم چې په اکراه (ظلم او زور) سره د تعهداتو ماتولو ته مجبور کړی شي مګر په زړه کښې پرې ناراضي وي، نو حاصل یې داسې راځېږي: 10

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



# د مطلب خلاصه

اې پیغمبره! هرڅوک چې د الله ﷻ سره په خپل تعهد باندې وفا ونه کړي او د ایمان راوړلو (اسلامي بیعت کولو) څخه وروسته بېرته کفر ته رجوع وکړي او مرتد شي، نو په یوې استثناء سره په هغوی باندې د الله ﷻ دپلوه ډېر لوی غضب واقع کېدونکی دی.

استثناء دا ده چې هرڅوک چې په داسې حال کښې د اسلامي بیعت په ماتولو باندې مجبور کړی شي چې زړه یې په ایمان باندې مطمئن وي او بیعت ماتولو پکښې تحقق نه وي موندلی بلکې د مجبورۍ د کبله خپل ځان ته د نجات ورکولو په خاطر فقط په ژبه په کفري خبره باندې تلفظ وکړي او ظاهراً خپل بیعت مات کړي او بس، نو دغه ډول کسانو ته د الله ﷻ د پلوه غضب متوجه نه دی.

اما څوک چې په خپله خوښه اسلامي بیعت مات کړي او یا یې د مجبوریت د کبله مات کړي خو په زړه کښې ورباندې خوښ شي او پرې مطمئن (راضي) شي نو دغسې کسانو ته لاندې عتابونه متوجه دي:

١ـ په دوی باندې د الله ﷻ دپلوه ډېر لوی غضب دی او الله ﷻ ترې ډېر ناراض دی.

٢ـ دوی ته د قیامت په ورځ ډېر لوی عذاب متوجه دی چې په دائمي توګه به په دوزخ کښې پراته وي.

٣ـ د دغسې خلکو فقط دنیا ده او بس، چې په آخرت کښې هیڅ برخه نه لري، دا ځکه چې دوی دغه حقیر ژوند د آخرت په دائمي ژوند باندې غوره کړی دی او په همدې باندې راضي شوي دي.

۴ـ دغو کسانو ته به الله ﷻ هدایت ونه کړي او د نېکو کارونو توفیق به ورنه کړي، ځکه چې دوی کافر قوم دی او الله ﷻ کافر قوم ته هدایت نه کوي چې استعداد یې د منځه تللی وي.

۵ـ ذکر شوي کسان چې د اسلامي بیعت په ماتولو او کفر ته په بېرته ورستنېدلو باندې راضي او خوشاله دي نو الله ﷻ د دوی په زړونو، غوږونو او حتی په سترګو باندې مهر لګولی دی چې د ایمان راوړلو صلاحیت یې ختم شوی دی، نو همدغه کسان په غفلت کښې اول نمرګان دي، ته به وایې چې د همدوی څخه په غفلت کښې بل څوک وړاندې نشته.

۶ـ نو بالآخره ضرور همدوی په آخرت کښې زیانکاران او داسې تاوانیان دي چې په هیڅ صورت سره به یې د زیان او تاوان جبران ونه کړی شي.

اې پیغمبره! د مرتدانو د حالاتو څخه وروسته په خپل امت باندې د هغو کسانو د حالاتو څخه هم څه ارشادات قرائت کړه کوم چې د کفري کلمې په ویلو باندې مجبور کړی شي مګر په زړونو کښې یې ارتداد حلول نه وی کړی، هغه دا چې:

الف: دوی ته د الله ﷻ هغه غضب متوجه نه دی کوم چې مرتد ته متوجه دی.

ب: خاصتاً ستا رب ﷻ د هغو کسانو سره په نصرت او کومک سره لا ملګری هم دی کوم چې د ذکرې شوې مصیبت او لوی امتحان د تېرولو څخه وروسته هجرت هم وکړي او د الله ﷻ د دین په خاطر خپل اصلي ټاټوبی هم پرېږدي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: بیا لا چې د ذکرې شوې فتنې څخه وروسته دوی په في سبیل الله جهاد کښې هم برخه واخلي، او لکه څنګه یې چې د ذکر شوي امتحان په وخت کښې خپل قلبي ثبات د لاسه نه دی ورکړی، د جهاد په مشقاتو باندې هم صبر وکړي او خپل استقامت خراب نه کړي.

نو ای پیغمبره! ضرور ستا رب ﷻ دوی ته بښونکی دی او په دوی باندې مهربان دی، که څه قصور ترې واقع شوی وي نو هغه به ورته وبښي او نوره زیاته مهرباني به پرې هم وکړي.

د: په دغو کسانو باندې به الله ﷻ په ډېره سخته ورځ کښې مهرباني وکړي، چې هرڅوک به پکښې د الله ﷻ مهربانیو ته ډېر زیات لیوال او محتاج وي. دغه ورځ د قیامت ورځ ده، او دا دومره سخته ورځ ده چې هرڅوک به راځي او فقط د خپل ځان غم به ورسره وي چې د عذابونو څخه نجات مونده کړي. یا په بل عبارت: په دغې ورځ کښې داسې وخت هم راتلونکی دی چې هرڅوک به پکښې "نفسي نفسي" وایي او بس.

هـ: په دغې ورځ کښې به هر چاته د خپل عمل بدله پوره ورکړه شي برابره خبره ده چې نیک عمل وي او که بد عمل، او په هیچا باندې به ظلم او تېری ونه کړی شي، چې عاصي د استحقاق څخه زیات معذب شي او یا مطیع ته د استحقاق څخه لږ اجر ورکړی شي، اما دا بېله خبره ده چې په دغې ورځ کښې به د نېکیو اجرونه په ادنی درجه لس چنده ورکولی کېږي.

## توضیحات

١ـ مفسرینو کرامو د ﴿ مَن كَفَرَ بِٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ إِيمَٰنِهِۦٓ ﴾ په اعراب کښې ګڼ شمېر احتمالات لیکلي دي[١]، مګر کوم احتمال چې مونږ ته بهتر برېښي هغه دا دی چې ذکر شوی موصول مبتدا وګڼل شي او خبر یې مقدر شي، چې په "فَعَلَيۡهِمۡ غَضَبٌ مِّنَ ٱللَّهِ" سره ترې تعبیر کوو، او د ﴿ إِلَّا مَنۡ أُكۡرِهَ وَقَلۡبُهُۥ مُطۡمَئِنُّۢ بِٱلۡإِيمَٰنِ ﴾ کلمات د همدغه مقدر خبر څخه استثناء شي.

نو حاصل به یې داسې راوځېږي چې هرڅوک چې په الله ﷻ باندې د ایمان د راوړلو څخه وروسته په کفري کلماتو باندې تلفظ وکړي نو په هغه باندې د الله ﷻ د پلوه لوی غضب دی، مګر په هغه چا باندې غضب نشته چې د کفري کلماتو په تلفظ باندې په داسې حال کښې مجبور کړی شوی وي چې زړه یې په ایمان باندې مطمئن وي او په زړه کښېورباندې ناراض وي.

## سوال جواب

٢ـ که څوک وایي چې په ذکر شوي مقدر خبر باندې قرینه څه شی ده؟ او یا په بل عبارت: د څه شي څخه معلومېږي چې د ذکر شوي موصول دپاره د "فَعَلَيۡهِمۡ غَضَبٌ مِّنَ ٱللَّهِ" کلمات په مشخصه توګه د خبر په حیث مقدر دي؟

مونږ وایو چې: د ﴿ مَن كَفَرَ بِٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ إِيمَٰنِهِۦٓ ﴾ موصول او د ﴿ وَلَٰكِن مَّن شَرَحَ بِٱلۡكُفۡرِ

[١] روح المعاني ج١٤ ص٢٣٥؛ البحر المحیط ج٦ ص٥٩٨

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



صَدۡرٗا ﴾ موصول دواړه په مصداق کښې متحد دي، نو ځرنګه چې د دې موصول خبر ﴿ فَعَلَيۡهِمۡ غَضَبٞ مِّنَ ٱللَّهِ ﴾ جمله نازل شوی دی نو معلومه شوه چې د هغه موصول دپاره به هم عین جمله د خبر په حیث مقدره وي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۳ــ که څوک وایي چې په عربي کلام کښې د "لکن" کلمه د هغه توهم د پورته کولو دپاره استعمالیږي کوم چې د وړاندښي کلام څخه چاته ذهن ته ورځي، نو پوښتنه دا ده چې په دې مقام کښې په ذکرې شوې کلمې سره د کوم توهم مخه نیولې شوې ده؟

مونږ وایو چې: د وړاندېني کلام مضمون دا دی چې د الله ﷻ د غضب څخه هغه څوک بچ دی کوم چې د مجبوریت د کبله په کفري کلمه باندې تلفظ وکړي خو چې زړه یې په ایمان باندې مطمئن وي.

نو ځرنګه چې عدم اطمنان د اصل ایمان سره منافات نه لري، د همدې کبله ابراهیم ﷺ د اطمنان د حاصلولو دپاره د الله ﷻ څخه د مړو د ژوندي کولو کیفیت غوښتی وه چې پوره بیان یې په [البقرة: ۲۶۰] ایت کښې تېر شوی دی ـوالحمد لله ﷻـ، نو دلته توهم پیدا کیده چې هغه مجبور مسلمان به هم د الله ﷻ د غضب لاندې وي چې ایمان یې ثابت وي خو اطمنان ونه لري؟ الله ﷻ د دغه توهم مخه ونیوه چې د الله ﷻ غضب په هغه چا پورې اختصاص لري کوم چې اصل ایمان ونه لري او په کفر باندې یې زړه ډک وي، نه هغه چې ایمان لري خو اطمنان نه لري.

## دا عزیمت دی که رخصت؟

۴ــ مخکښې له دې چې مونږ واضحه کړو چې د مجبوریت په حال کښې په کفري کلمه باندې تلفظ کول عزیمت دی او که رخصت دی، لازمه ګڼو چې د دغو دواړو کلماتو معناوې په لنډه توګه شرحه کړو، که څوک پکښې اوږد تحقیق غواړي نو د اصول الفقه کتابونو ته دې مراجعه وکړي[۱]؛ هغه دا چې:

الف: "عزيمة" د هغه شرعي حکم نوم دی کوم چې په معذرتونو باندې ولاړ نه وي.

ب: "رخصة" د هغه شرعي حکم نوم دی د کوم تشریع چې په معذرتونو باندې ولاړه وي او په عملي کولو باندې یې سړی د عتاب لاندې نه واقع کېږي، بلکې د ممنوعیت څخه وروسته یې تعمیل جائز ګرځولی شوی وي.

همدې مضمون ته نبي کریم ﷺ اشاره کړې ده چې: «إِنَّ اللهَ وَضَعَ عَنْ أُمَّتِي الْخَطَأَ وَالنِّسْيَانَ وَمَا اسْتُكْرِهُوا عَلَيْهِ»[۲] یعنې یقیناً الله ﷻ زما د امت څخه د خطا او نسیان او هم د هغه عمل ګناه وضعه کړې ده (غورزولې ده) په کوم باندې چې دوی مجبور کړی شي.

---

(۱) نور الانوار ص ۱۶۵

(۲) سنن ابن ماجه ص ۱۴۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو د ذکرې شوې شرحې څخه وروسته وایو چې: د مجبوریت په حال کښې د کفري کلمې اظهار رخصت دی، که چا اظهار کړه او خپل مجبوریت یې پرې پورته کړ نو ګناهګار نه دی فقط یو مباح کار یې کړی دی. اما عزیمت په دې کښې دی چې په همدغه حال کښې هم په کفري خبره باندې تلفظ ونه کړي، نو که اذیت وګوري او یا ووژلی شي نو الله ﷻ به ډېر لوی اجرونه ورکړي او یا به یې د جهادي شهیدانو څخه وشمېري[1].

په همدې ارتباط (چې د کفري کلمې اظهار رخصت دی او نه اظهار یې عزیمت دی) د [آل عمران: ۲۸] ایت لاندې پوره بحث تېر شوی دی ـ لله الحمد، هیله ده چې هلته یو ځل مراجعه وکړی شي.

## د شرعي اکراه اندازه

۵ـ "إِکْرَاه" دې ته وایي چې په چا باندې هغه شی تحمیل شي کوم چې نه خوښوي[2]. نو علماء کرام وایي چې د کفري کلمې تحمیل په هغه وخت کښې شرعي اکراه ګڼل کېږي چې سړی په داسې تعذیب باندې تهدید شي چې د هغه تحمل یې د وسې څخه وتلی وي لکه وژل، سخت وهل، د اندام پرې کول، په اور باندې سوزول او داسې نور[3].

## یادونه

۶ـ که څوک غواړي چې د إکراه ډولونه[4]، فقهي احکام او اثرات، د اکراه په هکله د مذاهبو اختلاف او نورې اړونده موضوعګانې ولولي نو ځینو کتابونو[5] ته دې مراجعه وکړي، چې مونږ یې په دې لنډ تفسیر کښې نه شو شاملولی.

## سلفو صالحینو په دواړو عمل کړی دی

۷ـ په سلفو صالحینو کښې ځینو په رخصت باندې عمل کړی دی او د مجبوریت په وخت کښې یې په کفري خبره باندې د تلفظ کولو څخه ډډه نه ده کړې، او ځینو عزیمت عملي کړی دی او د کفري خبرې د تلفظ څخه یې ډډه کړې ده، د ښه وضاحت دپاره لاندې څو مثالونه ولولئ:

الف: د نبي کریم ﷺ په زمانه کښې مُسیلمة الکذاب دوه کسه صحابه کرام ﷺ ونیوه او دې ته یې مجبور کړه چې په خپل نبوت باندې یې قائل کړي، نو یوه صحابي ﷺ عزیمت عملي کړ چې د نوموړي کافر د پلوه شهید کړی شو او بل رخصت غوره کړ چې د هغه د لاسه یې نجات مونده کړ. دغه قیصه د [آل عمران:۲۸] ایت لاندې مفصله لیکلې شوې ده، والحمد لله ﷻ.

ب: په لومړنیو مسلمانانو کښې عمار ﷺ د مشرکانو له پلوه د سخت تعذیب د کبله په کفري

---

(۱) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۱۹۲
(۲) مفردات الراغب ص۴۴۷
(۳) تفسیر الخازن ص۶۴۴
(۴) نور الانوار ص۳۱۱
(۵) الفقه الاسلامي وادلته ج۵ ص۳۸۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خبره باندې تلفظ وکړ او د تعذيب څخه يې خپل ځان خلاص کړ، او په داسې حال کښې چې د خواشينۍ د کبله يې ژړل د نبي کريم ﷺ سره يې لاندې سوال جواب وکړ:

نبي کريم ﷺ: «مَا وَرَاءَكَ» يعنې ستا څخه هغې خوا ته څه شی دي چې ته يې ژړولی يې؟

عمار ﷺ: يا رسول الله! هغه ډېر بدکار دی، چې ستا په هکله مې نامناسبې خبرې وکړې او د مشرکانو بوتان مې په ښه نامه ياد کړه.

نبي کريم ﷺ: په دغه وخت کښې دې زړه په څه حال وه؟

عمار ﷺ: زړه مې په ايمان باندې مطمئن وه، په زړه کښې مې څه شک او اشتباه ځای نه درلود.

نبي کريم ﷺ ورته د سترګو اوښکې وچې (پاکې) کړې او ورته يې وويلې چې «إِنْ عَادُوْا فَعُدْ»[١] يعنې د ذکرو شوو کفري خبرو هيڅ باک نشته، نو که مشرکانو بيا ستا تعذيبول تکرار کړه نو ته ورته بيا ذکرې شوې کفرې خبرې تکرارې کړه.

ج: مګر د عمار ﷺ مور (سمية رضي الله عنها) او د ده پلار (ياسر ﷺ) دواړو د کفري خبرې د تلفظ څخه امتناع وکړه او د کفارو د پلوه په ډېره بې رحمانه توګه شهيدان کړی شوه، فإنا لله وإنا إليه راجعون. دوی دواړه د اسلام لومړني شهيدان دي چې د دوی دواړو څخه وړاندې هيڅوک في سبيل الله نه دی شهيد شوی[٢].

که څوک غواړي چې د عبدالله بن الحذافه ﷺ د عزيمت قيصه ولولي[٣] چې روميانو د عمر ﷺ په خلافت کښې اسير کړی وه، يا د خُبيب ﷺ د عزيمت قيصه د نظره تېره کړي[٤] او يا په دې باره کښې نور مثالونه قرائت کړي[٥] نو ځينو اوږدو کتابونو ته مراجعه وکړي.

## يو نحوي تحليل

٨ـ مفسرينو کرامو د ﴿ ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ هَاجَرُواْ مِنۢ بَعْدِ مَا فُتِنُواْ ﴾ په نحوي تحليل کښې متعددې وجې ليکلي دي[٦] مګر کومه وجه چې بهتره برېښي هغه دا ده چې د ﴿ لِلَّذِينَ هَاجَرُواْ مِنۢ بَعْدِ مَا فُتِنُواْ ﴾ جمله د متعلق (ناصر) په اعتبار سره خبر ده او کلام تمام شوی دی[٧].

دا د يو پلوه، او د بله پلوه د ذکر شوي ايت په شان نزول کښې هم علماوو کرامو زښت ډېر روايتونه ذکر کړي دي[٨] خو که څه هم ايت شريف د مفهوم په اعتبار سره عام دی، د قيامت د

(١) سنن البيهقي الكبرى ج٨ ص٣٦٢
(٢) اسباب النزول للواحدي ص١٩٠
(٣) تفسير ابن كثير ج٢ ص٥٨٨
(٤) صحيح البخاري ج١ ص٤٢٨، ج٢ ص٥٦٨
(٥) سيرت ابن هشام ج١ ص٣٤٠
(٦) البحر المحيط ج٦ ص٦٠١
(٧) حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج٣ ص٢٠٢
(٨) روح المعاني ج١٤ ص٢٤٠

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورځې پورې تول کمزوري مسلمانان پکښې شامل دي، مګر ظاهره دا ده چې دلته به په عبارة النص سره هغه اشخاص مراد وي کومو چې په اکراه سره په کفري کلمه باندې تلفظ کړی وه او رخصت يې عملي کړی وه.

نو مونږ ښکه دغه وجه خوښه کړه چې په وړاندې ایتونو کښې خو د ذکرو شوو کمزوررو مسلمانانو په هکله همدومره اشاره شوې وه چې په دوی باندې د الله ﷻ د پلوه غضب نشته، اما د اجرونو په هکله یې ایتونه ساکت وه، دا دی په دې ایت کښې د هغوی په اجرونو باندې هم صراحت وکړی شو نو حاصل یې داسې راځېږي چې:

ای پیغمبره! ستا په برکت ستا رب ﷻ د هغه کسانو سره په نصرت او دوستۍ سره ملګری دی کوم چې د فتنو او تعذیبونو د ګاللو څخه وروسته د الله ﷻ دپاره هجرت هم وکړي او خپل ایماني اطمنان څرګند کړي، نو که بالفرض د دوی په زړه کښې ایمان ثابت او محکم نه وی نو هجرت به یې نه وی کړی.

## سوال جواب

۹_ که څوک وایي چې: د همدې ایت د دوهمې جملې په ﴿ مِنۢ بَعۡدِهَا ﴾ کښې ضمیر څه شي ته راجع دی؟

مونږ وایو چې: که څه هم ځینو علماوو کرامو ذکر شوی ضمیر د دغو درېواړو افعالو (هجرة، جهاد، صبر) مجموعې ته راجع کړی دی چې د ﴿ هَاجَرُوا، جَٰهَدُوا، صَبَرُوٓا ﴾ کلمات وړباندې دلالت کوي[1] مګر کوم شی چې مونږ ته د مقام په اعتبار سره بهتر برېښي هغه دا دی چې ذکر شوی ضمیر "فتنة" ته راجع شي چې د ﴿ فُتِنُوا ﴾ کلمه وړباندې دلالت کوي. نو د معنی حاصل به یې داسې راوځېږي چې: هرڅوک چې د کفري کلمې په لوستلو باندې مجبور کړی شي، حال دا چې ایمان یې په زړه کښې ښه محکم او قوي وي حتی چې هجرت او جهاد او هم په مشقاتو باندې یې صبر کول خپل کړي، نو الله ﷻ د دوی دپاره د ذکرې شوې فتنې څخه وروسته هم بښونکی او مهربان دی.

## جدال څه معنی؟

۱۰_ په ﴿ يَوۡمَ تَأۡتِي كُلُّ نَفۡسٖ تُجَٰدِلُ عَن نَّفۡسِهَا ﴾ کښې د ﴿ تُجَٰدِلُ ﴾ کلمه د "جِدَال" _لکه "قِتَال"_ څخه اشتقاقه شوې ده خو علماوو کرامو په دې مقام کښې د اعتذار (دفاع) په معنی سره تفسیره کړې ده[2]. دا د یوه پلوه، او د بله پلوه که څه هم صحت لري چې په ذکر شوي ایت کښې د ﴿ يَوۡمَ ﴾ کلمه په مقدر "اذکر" سره منصوبه شي مګر د مقام په اعتبار سره مونږ ته بهتره ښکاري چې د ﴿ رَّحِيمٌ ﴾ په کلمه باندې منصوبه شوې وي چې وړاندېنی ایت وړباندې تمام شوی دی.

---

(۱) التفسیر الکبیر ج۲۰ ص۱۲۶؛ تفسیر الکشاف ج۲ ص٦۳۸
(۲) البحر المحیط ج٦ ص٦۰۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو د معنی حاصل به یې داسې راوخېژي چې: په ذکرو شوو کسانو باندې الله ﷻ په داسې سخته ورځ کښې هم مهربان دی چې په دې کښې به د هیچا سره د خپل ځان څخه په غیر د بل چا غم او فکر نه وي، هرڅوک به په همدې خیال کښې وي چې پخپله د عذاب څخه نجات مونده کړي، خپلوان او دوستان به ترې هېر وي، مګر یوازې د نبي کریم ﷺ سره به د خپل امت د نجات فکر وي او د الله ﷻ څخه به ورته نجات غواړي. د ښه وضاحت دپاره لاندې نصوص ولولئ:

الف: الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ لِكُلِّ ٱمْرِئٍ مِّنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَأْنٌ يُغْنِيهِ ﴾ [عبس: ٣٧] یعنې په دغې ورځ کښې به هر سړی د خپلو اقاربو څخه تښتي (څه د کومک فکر به یې ورسره نه وي) او هرڅوک به د داسې حال سره مخامخ وي چې د نورو له غمه به یې غافل کړی وي.

ب: نبي کریم ﷺ فرمایي چې په دغې سختې ورځ کښې به ابراهیم خلیل الله عليه السلام (د نورو پیغمبرانو په شمول) «نَفْسِي نَفْسِي» وایي[1] چې ای ربه! زما خپل ځان ته نجات راکړه.

یوازې نبي کریم ﷺ به په دغې ورځ کښې وایي چې: «يَا رَبِّ أُمَّتِي يَا رَبِّ أُمَّتِي يَا رَبِّ أُمَّتِي»[2] یعنې ای زما ربه! زما امت ته نجات ورکړه، ای زما ربه! زما امت ته نجات ورکړه، ای زما ربه! زما امت ته نجات ورکړه.

﴿ وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا قَرْيَةً كَانَتْ ءَامِنَةً مُّطْمَئِنَّةً يَأْتِيهَا رِزْقُهَا رَغَدًا مِّن كُلِّ مَكَانٍ
فَكَفَرَتْ بِأَنْعُمِ ٱللَّهِ فَأَذَاقَهَا ٱللَّهُ لِبَاسَ ٱلْجُوعِ وَٱلْخَوْفِ بِمَا كَانُوا۟ يَصْنَعُونَ ﴿١١٢﴾
وَلَقَدْ جَآءَهُمْ رَسُولٌ مِّنْهُمْ فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَهُمُ ٱلْعَذَابُ وَهُمْ ظَٰلِمُونَ ﴿١١٣﴾ فَكُلُوا۟ مِمَّا
رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ حَلَٰلًا طَيِّبًا وَٱشْكُرُوا۟ نِعْمَتَ ٱللَّهِ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ ﴿١١٤﴾ إِنَّمَا حَرَّمَ
عَلَيْكُمُ ٱلْمَيْتَةَ وَٱلدَّمَ وَلَحْمَ ٱلْخِنزِيرِ وَمَآ أُهِلَّ لِغَيْرِ ٱللَّهِ بِهِۦ ۖ فَمَنِ ٱضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلَا
عَادٍ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١١٥﴾ وَلَا تَقُولُوا۟ لِمَا تَصِفُ أَلْسِنَتُكُمُ ٱلْكَذِبَ هَٰذَا
حَلَٰلٌ وَهَٰذَا حَرَامٌ لِّتَفْتَرُوا۟ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ ۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَفْتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ لَا
يُفْلِحُونَ ﴿١١٦﴾ مَتَٰعٌ قَلِيلٌ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١١٧﴾ ﴾

[١١٢] او الله ﷻ (د مکې د مشرکانو دپاره) داسې قریه (ښار) مثال ګرځوي کومه چې امن درلودونکې (او) ارام لرونکې وي (او هم) یې ورته روزي د هر ځایه (هر طرفه) د پریمانۍ په حال

(١) صحیح البخاري ج١ ص٤٧٤
(٢) جامع الترمذي ج٢ ص٧٠

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښې ورځي (ورسېږي)، نو (بيا) دا قريه د الله ﷻ په نعمتونو باندې ناشکري وکړي نو الله ﷻ هغې ته (د ناشکرۍ د امله) د لوږې او ډار لباس وروڅکي (ور واغوندي او ترې راچاپېر يې کړي البته) د هغه څه د کبله چې وي دوی چې (په مستمره توګه) يې کوي (چې هغه بد او ناروا کارونه دي).

[۱۱۳] او يقيناً دوی ته د همدوی د جملې څخه پيغمبر هم ورغلی وي خو دوی يې تکذيب کړي (د دروغو نسبت ورته وکړي) ، نو (بيا) دوی لره عذاب په داسې حال کښې ونيسي چې (په خپلو ځانونو باندې) ظلم کوونکي وي.

[۱۱۴] نو (ای خلکو!) د هغه شي څخه خورئ کوم چې مونږ تاسو ته حلال پاکېزه روزي کړي دي او د الله ﷻ د نعمت (نعمتونو) شکر وکړئ، که تاسو ياست چې خاص همده ﷻ ته عبادت کوئ.

[۱۱۵] يقيناً الله ﷻ په تاسو باندې مرداره حرامه کړې ده، او وينه هم او (بالآخره) د خنزير غوښه او هغه ذبيحه (هم) په کومې باندې چې (د ذبحې په وخت کښې) د غير الله اواز پورته شي، نوهغه څوک چې په داسې حال کښې (د ذکرو شوو محرماتو خوراک ته) مضطر (مجبور) شي چې نه (په بل مضطر باندې) بغاوت کوونکی وي او نه (په خوراک کښې د شرعي حد څخه) تجاوز کوونکی وي؛ نو يقيناً الله ﷻ بښونکی (او) مهربان دی (په نوموړي باندې څه ګناه نشته).

[۱۱۶] او تاسو د هغه شي په باره کښې دروغ مه واياست کوم چې (فقط) ستاسو ژبې يې بيانوي (او شرعي دليل ورباندې ونه لرئ)، چې دغه (شی) حلال دی او دغه (شی) حرام دی، چې په نتيجه کښې تاسو په (بل چانه بلکې په) الله ﷻ باندې دروغ وتړئ.
يقيناً هغه کسان چې په الله ﷻ باندې دروغ تړي هغوی فلاح (کاميابي) نه شي مونْدلی.

[۱۱۷] (ای پيغمبره! کوم سامانونه چې دوی په دروغو تړلو باندې اخلي هغه) ډېر لږ (دنياوي) سامانونه دي او دوی لره (په آخرت کښې) دردناک عذاب دی.

## ارتباط

په وړاندېنيو ايتونو کښې يو د هغو کسان حال بيان شوی وه کوم چې د ايمان راوړلو څخه وروسته بېرته کفر ته واوړي او مرتد شي، او بل پکښې د هغو کسانو حال ته اشاره شوې وه کوم چې د ايمان څخه وروسته د کفري خبرې ويلو ته مجبور کړی شي حال دا چې زړونه يې په ايمان باندې مطمئن وي. په دې ايتونو کښې د هغو خلکو حال بيانېږي چې پخپله په کفر باندې کلک وي او نور خلک هم کفرته هڅوي او يا ځينې مؤمنان کفري وينا ته مجبوروي، نو حاصل يې داسې کېږي:

## د مطلب خلاصه

۱_ای پيغمبره! څرنګه چې د مکې معظمې د ښار اوسېدونکي (مشرکان) د يو پلوه په کفر او شرک باندې کلک دي او د بله پلوه زيار وباسي چې نور خلک ګمراه کړي او يا يې د کفري خبرې کولو ته اړ باسي او مجبور يې کړي، نو دوی ته د هغه ښار اوسېدونکي د مثال په توګه شرحه کړه کوم چې لاندې صفات درلوده:

Scanned by CamScanner

الف: د دغه ښار اوسېدونکي د خارجي او داخلي شخړو او جنګونو څخه په امن کښې وه.

ب: دوی د ارام ژوند خاوندان وه، هلته عمومي مصیبتونو تحقق نه درلود بلکې دوی پوره مطمئن او ډاډه وه.

ج: دوی ته د هره طرفه خوراکي شیان او نور ضروريات ورروان وه او د هر شي پکښې پرېماني وه.

د: خو د دغه ښار اوسېدونکو د الله ﷻ د نعمتونو ناشکري وکړه، چې په شرک او کفر باندې کلک پاتې شوه او نور خلک یې هم همدغې کفرې لارې ته سوقول او یا اقلاً مسلمانان یې مجبورول چې په کفري خبرو باندې تلفظ وکړي.

هـ: نو الله ﷻ ذکرو شوو ناشکرانو (کفارو) ته په غضب شو، چې ارام ژوند یې ورته د اضطراب سره مخامخ کړ او داسې لوږه یې ترې راچاپېره کړه چې د جامو پشان ترې راتاوه شوه او د ژوندانه ضروريات یې د لاسه وواته.

و: د همدغه الهي غضب نتیجه وه چې امن یې په ډار باندې بدل شو او د جامو په څېر ترې راچاپېر شو. د دغه الهي غضب وجه بله نه وه بې له دې چې دوی کفري کړنلاره غوره کړه او همدې ته یې په مستمره توګه ادامه ورکړه.

۲ـ ای پیغمبره! په ذکر شوي هلاک شوي ښار باندې یوازې د مادي نعمتونو پرېماني نه وه بلکې په هغوی باندې الله ﷻ معنوي نعمتونه هم کامل کړي وه، چې د همدوی د جنس او د همدوی د ټبر څخه (چې دوی ښه پېژانده) دوی ته د الله ﷻ پیغمبر هم ورغلی وه چې د کفر څخه لاس واخلئ که نه نو د سخت عذاب سره به مخامخ شئ. مګر دغو خلکو لکه څنګه چې د مادي نعمتونو ناشکري وکړه په معنوي نعمتونو باندې یې هم تکبر وکړ او خپل ورلېږلی شوي پیغمبر ته یې د دروغو نسبت وکړ.

۳ـ نو الله ﷻ ورباندې په داسې حال کښې عذاب ورنازل کړ چې دوی ښه پاخه ظالمان وه او د عذاب د نزول مستحق ګرځېدلي وه.

## د مطلب تطبیق:

۴ـ ای پیغمبره! ذکر شوی حالت کټ مټ د مکې معظمې په ښاریانو باندې تطبیق دي، چې نه ورباندې د مادي نعمتونو کمی شته دی او نه د معنوي نعمتونو کمبود لیده کېږي او دا څکه چې:

الف: دوی په مکه معظمه کښې د هر ډول دښمنانو څخه په امن کښې دي چې چارچاپېر ټول ښارونه ورته په احترام قائل دي، حال دا چې د دوی څخه په غیر نور هیڅوک هم په امن کښې نه دي او هرې خوا چور او چپاول شروع دی.

ب: دوی په ډاډه زړه ژوند کوي او په شاوخوا ښارونو کښې اضطرار او وارخطايي خوره ده، نه څوک د سر له خطره بچ دی او نه څوک له مالي او ناموسي خطره مطمئن دی.

ج: مکیان په وچه کانړه (بېدیا) کښې پراته دي چې نه پکښې کرونده شته او نه پکښې څه کرل

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کېږي او نه پکښې ربېل کېږي مګر په دوی باندې د هر شي پرېماني ده، نه پکښې د غلو دانو کمی شته او نه پکښې میوجات کمبود لري بلکې دغه ټول ضروريات ورته د اطرافو څخه ورروان دي.

د: په دې ټولو باندې علاوه په همدوی کښې الله ﷻ آخر الزمان پيغمبر استولی دی او آخرنی اسماني کتاب يې وربانديې نازل کړی دی چې د دوی دپاره د زيات شرف او اعزاز سبب دی.

## د نتائجو د تطبيق خطر:

۵ـ ای پيغمبره! د مکې ښاريان (مشرکان) مخاطب کړه چې:

الف: د الله ﷻ د نعمتونو څخه استفاده وکړئ، بې غمه خورئ او څښکئ او په ارامی سره په امنيت کښې ژوند تېروئ.

ب: خو د دغو نعمتونو شکريه وکړئ، په خپل پيغمبر باندې ايمان راوړئ او په نبوت باندې يې عقيده وکړئ، که بالفرض تاسو ياست چې د الله ﷻ د عبادت دعوه کوونکي ياست نو په عبادت کښې ورسره شريک مه دروئ.

ج: همدارنګه ای مکيانو! تاسو په مالي عبادتونو کښې د شرک څخه اجتناب وکړئ او د بوتانو په نامه باندې خپل څاروي په خپلو ځانونو باندې حرام مه ګرځوئ، د هر شي تحريم او تحليل د الله ﷻ پورې اختصاص لري حال دا چې الله ﷻ په تاسو باندې هغه څاروي نه دي حرام کړي کوم چې تاسو يې د بوتانو په نامه خوشې کوئ، بلکې په تاسو باندې يې دغه لاندې شيان حرام کړي چې:

اول: الله ﷻ په تاسو باندې مرداره حرامه کړې ده، خو دا تاسو خورئ او اجتناب ترې نه کوئ.

دوهم: په تاسو باندې يې داړې وهونکې وينه هم حرامه ګرځولې ده خو تاسو پرې اخته ياست.

دريم: د خنزير خوښه يې هم درته حرامه ګرځولې ده خو تاسو يې حلاله ګڼئ:

څلور: هغه ټول ذبائح الله ﷻ په تاسو باندې حرام کړي دي کوم چې تاسو په هغو باندې د ذبحې په وخت کښې د الله ﷻ د نامه څخه په غير د بل شي او يا د بل چا د نوم اواز پورته کړئ، حال دا چې تاسو خپل څاروي د بوتانو په نامه باندې ذبحه کوئ.

د: هو دغه څلور محرمات هم ستاسو د جملې څخه هغه چاته حرام نه دي کوم چې د اضطرار په حال کښې واقع وي او خوراک ته يې مجبور شي، مګر لاندې شرطونه لري:

اول: چې په بل مضطر باندې بغاوت ونه کړي، چې د هغه د لاسه يې واخلي او پخپله يې وخوري.

دوهم: چې د اضطرار د پورته کولو څخه اضافه خوراک ونه کړي. ځکه چې الله ﷻ په تاسو باندې بښونکی او مهربان دی چې د اضطرار په حال کښې يې تاسو ته محرمات مباح وګرځول، او همدارنګه تاسو اميد وکړئ چې که بالفرض تاسو د اضطراري خوراک په اندازه کښې خطا شوئ نو تاسو ته به بښنه وکړي او مهرباني به درعنايت کړي.

۶ـ او ای پيغمبره! مکيانو ته دا هم ووايه چې:

الف: تاسو په خپله ژبه باندې د دروغو د کبله داسې مه وایاست چې دغه څاروي او يا دغه شی

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په مونږ پاندې حرام دی او دغه راته حلال دی، بلکې د تحریم او تحلیل کار په الله ﷻ پورې مختص وګڼئ؛ که نه نو تاسو به په الله ﷻ باندې دروغ تړلي وي، ځکه چې الله ﷻ د تحریم او تحلیل اختیار هیچا ته نه دی ورکړی.

ب: ای مکیانو! دا یقیني خبره ده چې هرڅوک په الله ﷻ باندې دروغ تړي هغه نه شي کامیابېدلی او هرو مرو به یو وخت د ناکامۍ سره مخامخ کېږي.

ج: فقط محدوده زمانه به د الله ﷻ د نعمتونو څخه استفاده وکړي خو په پای کښې به د نعمتونو د زوال سره لاس او ګرېوان شي.

د: دا خو د مفتریانو (دروغ تړونکو) دنیاوي انجام دی، اما په آخرت کښې د همدوی دپاره دردناک عذاب ټاکلی شوی دی چې هیڅکله به ترې د نجات لاره مونده نه کړي.

## توضیحات

۱_ په ﴿ وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا قَرْيَةً ﴾ کښې د ﴿ ضَرَبَ ﴾ کلمه د "جعل" معنی ته متضمنه ده چې ﴿ مَثَلًا ﴾ یې دوهم مفعول دی او ﴿ قَرْيَةً ﴾ یې لومړی مفعول دی[۱].

دا د یو پلوه، او د بله پلوه دا مثال د مکې د مشرکانو دپاره بیان شوی دی[۲] خو د مفهوم په اعتبار سره پکښې د قیامت د ورځې پورې ټول متکبران او ناشکران شامل دي. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې الله ﷻ د مکې د ښاریانو دپاره هغه ښار مثال ګرځوي کوم چې په ایت شریف کښې ذکر شوي صفات لري، چې که دوی د هغوی په شان ناشکرۍ ته ادامه ورکړي نو د دوی څخه به هم الله ﷻ خپل نعمتونه واخلي او د ډار، لوږې او اضطراب سره به یې مخامخ کړي.

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې: ایا هغه قریه (ښار) چې الله ﷻ د مکیانو دپاره مثال وګرځاوه د یوه متحقق ښار څخه عبارت دی؟ یا په بل عبارت: ایا همدغسې یو ناشکره ښار الله ﷻ هلاک کړی دی او که نه دا فرضي مثال دی؟

مونږ وایو چې: په دغه مشبه به ښار کښې علماء کرام دوه نظره لري:

الف: یو نظر دا دی چې دا یو فرضي ښار دی[۳] او پوره واضحه ده چې د تشبیه په غرض باندې د مشبه به تحقق او عدم تحقق څه اثر نه اچوي.

ب: ځینې نور وایي چې: الله ﷻ دغه ډول یو ناشکره ښار هلاک کړی دی چې د ډېره تکبره به یې په ډوډۍ باندې استنجا کوله[۴].

---

(۱) تفسیر الکشاف ج۲ ص۶۳۸
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۵۸۹
(۳) روح المعاني ج۱۴ ص۲۴۲
(۴) زاد المسیر ج۴ ص۳۶۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو څرنګه چې مونږ ته دواړه احتماله یو برابر برېښي نو د ایتونو ترجمه مو د اول نظر په مطابق وکړه او د مطلب په خلاصه کښې مو دوهم نظر په لحاظ کښې ساتلی دی، والله ﷻ أعلم بحقیقة الحال وإلیه المرجع والمآل.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۳_ که څوک وايي چې: ایا د مکې معظمې په مشرکانو باندې ذکر شوی مثال تطبیق شو او د خوشالی وخت یې په غم باندې بدل شو؟

مونږ وایو چې: ذکر شوي مشرکان (ناشکران) په لاندې مواقعو کښې په غم باندې اخته شوه:

الف: دوی دوه ځلې د لوږې سره مخامخ شوه چې د جامې په څېر ترې راتاوه شوه:

اول: یو هغه وخت چې کله نبي کریم ﷺ دوی ته ښېراوې وکړې چې: «اللّٰهُمَّ سَبْعًا كَسَبْعِ يُوسُفَ»[۱] یعني ای الله! په دوی باندې د قحطۍ داسې اوه کلونه وروليې لکه د یوسف ﷺ اوه کلونه. الله ﷻ دغه سوال قبول کړ او داسې لوږه یې ورباندې ورنازله کړه چې دوی پکښې مردارې او هډوکي وخوړه، تر دې پورې چې ابو سفیان (چې لا د "رضي الله عنه" لایق نه وو ګرځېدلی) نبي کریم ﷺ ته ورغی او ورته یې وویلې چې: ای محمده! ته خو د دې دپاره راغلی یې چې صلة الرحم وکړې حال دا چې قوم دې هلاک شو الله ﷻ ته سوال وکړه چې قحطي لرې کړي او پراخي راولي. نو الله ﷻ د نبي کریم ﷺ په دعاء باندې قحطي لرې کړه، «ثُمَّ عَادُوا إِلَى كُفْرِهِمْ»[۲] خو دوی بېرته خپل کفر ته وګرځېده او زاړه شرکیات یې بېرته تازه وساتل.

دوهم: بل هغه وخت کله چې نبي کریم ﷺ مدینې ته هجرت وکړ او هلته د ښه قوت خاوند شو نو د مجاهدینو یوې ډلې د "الیمامة" ښار یو مشر (چې "ثمامة" نومېده) اسیر کړ چې نبي کریم ﷺ پرته د کوم عوض څخه بېرته ازاد کړ، نو نوموړی دستي په ایمان باندې مشرف شو، کله چې د عمرې د اداء کولو دپاره مکې معظمې ته لاړ نو مکیانو ته یې وویلې چې ما خو په نبي کریم ﷺ باندې ایمان راوړی دی او زما دې سوګند وي چې زما د وطن (الیمامة) څخه به تاسو ته یوه دانه غنم هم رانه شي ترڅو چې نبي کریم ﷺ اجازه ونه کړي[۳]. څرنګه چې ذکر شوی وطن (الیمامة) د غلو دانو غټ مرکز وه او په مکیانو باندې یې د خپلو غلو دروازه وتړله نو په دغه وخت کښې هم دوی د سختې لوږې سره مخامخ شوه، حتی چې د مکې مشرانو په همدې باره کښې د نبي کریم ﷺ سره خبرې وکړې چې دا خو د سړیو دپاره عذاب دی (چې ستاسو سره دښمني کوي) نو د زنانه وو او ماشومانو څه ګناه ده چې د لوږې سره دې مخامخ کړي دي؟ نو «أُذِنَ لِلنَّاسِ بِحَمْلِ الطَّعَامِ إِلَيْهِمْ وَهُمْ بَعْدُ مُشْرِكُونَ»[۴] نبي

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۱۳۷
(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۱۳۹، ج۲ ص۷۱۴
(۳) صحیح مسلم ج۲ ص۹۴، صحیح البخاري ج۲ ص۶۲۸
(۴) تفسیر القرطبي ج۱۰ ص۱۹۵؛ زاد المسیر ج۴ ص۳۶۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



كريم ﷺ خلكو ته اجازه وركړه چې غلي داني مكې ته وربار (انتقال) كړي حال دا چې دوى په دغه وخت كښې هم مشركان وه.

ب: د مكيانو اطمنان په هغه وخت كښې په اضطراب او وارخطايۍ باندې تبديل شو چې كله هغوى ته د بدر د غزا د ماتې خبر ورسېد لكه څنګه چې "عاتكه بنت عبد المطلب" خوب ليدلى وه[1] نو د مكې معظمې يو كور هم بې غمه پاتې نه شو او ټول په وير او ژړا باندې اخته شوه، او وارخطايي ترې راچاپېره شوه.

ج: د مكيانو امن هغه وخت په خوف باندې تبديل شو چې كله دوى د مجاهدينو د تهديد لاندې واقع شول، چې په نتيجه كښې مكه معظمه فتحه شوه او په جزيرة العرب كښې د شرك جرړې وويستلې شوې، والحمد لله ﷻ.

## يادونه

۴ــ د ﴿ إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ ٱلْمَيْتَةَ وَٱلدَّمَ ﴾ -الآية په اړوند د [البقرة: ١٧٣] او د [الأنعام: ١۴۵] ايتونو لاندې ـلله الحمد والثناءـ خوندور بحثونه تېر شوي دي چې دلته بيا تكرارولو ته يې اړتيا نه ګورو، هېله ده چې هلته مراجعه وكړى شي.

## سوال جواب

۵ــ كه څوک وايي چې: په ﴿ وَلَا تَقُولُوا۟ لِمَا تَصِفُ أَلْسِنَتُكُمُ ٱلْكَذِبَ هَـٰذَا حَلَـٰلٌ وَهَـٰذَا حَرَامٌ ﴾ كښې كومو شيانو ته اشاره ده چې دې ته په دروغو حلال مه واياست او دا په دروغو حرام مه بولئ؟

مونږ وايو چې: د دغو شيانو څه بيان ته په [المائدة: ١٠٣] ايت كښې اشاره شوې ده او ډېر بيان يې د [الأنعام: ١٣۶] ايت څخه پيل شوى، هيله ده چې همهلته مراجعه وكړى شي.

﴿ وَعَلَى ٱلَّذِينَ هَادُوا۟ حَرَّمْنَا مَا قَصَصْنَا عَلَيْكَ مِن قَبْلُ ۖ وَمَا ظَلَمْنَـٰهُمْ وَلَـٰكِن كَانُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿١١٨﴾ ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ عَمِلُوا۟ ٱلسُّوٓءَ بِجَهَـٰلَةٍ ثُمَّ تَابُوا۟ مِنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ وَأَصْلَحُوٓا۟ إِنَّ رَبَّكَ مِنۢ بَعْدِهَا لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١١٩﴾ إِنَّ إِبْرَٰهِيمَ كَانَ أُمَّةً قَانِتًا لِّلَّهِ حَنِيفًا وَلَمْ يَكُ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿١٢٠﴾ شَاكِرًا لِّأَنْعُمِهِ ۚ ٱجْتَبَىٰهُ وَهَدَىٰهُ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿١٢١﴾ وَءَاتَيْنَـٰهُ فِى ٱلدُّنْيَا حَسَنَةً ۖ وَإِنَّهُۥ فِى ٱلْـَٔاخِرَةِ لَمِنَ ٱلصَّـٰلِحِينَ ﴿١٢٢﴾ ثُمَّ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ أَنِ ٱتَّبِعْ مِلَّةَ إِبْرَٰهِيمَ حَنِيفًا ۖ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿١٢٣﴾ إِنَّمَا جُعِلَ ٱلسَّبْتُ عَلَى ٱلَّذِينَ

---

(١) سيرت ابن هشام ج٢ ص٢۴۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اخْتَلَفُوا فِيهِ ۚ وَإِنَّ رَبَّكَ لَيَحْكُمُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿١٢٤﴾

[۱۱۸] او په هغو کسانو باندې چې یهودان دي مونږ هغه شیان حرام کړي وه کوم مو چې په تا باندې د (الانعام په سورت کښې) وړاندې حکایت کړي دي، او مونږ په هغوی باندې (په تحریم سره) ظلم نه وه کړی مګر دوی وه چې په خپلو ځانونو باندې یې (د جنایاتو په ارتکاب سره) ظلم کړی وه.

[۱۱۹] بیا یقینًا (ای پیغمبره!) ستا رب ﷻ د هغو کسانو دپاره کوم چې په نادانۍ (سادګۍ) سره بدعملونه وکړي (او) بیا د همدغې بدعملۍ څخه توبه وباسي او (خپل ځانونه) اصلاح کړي، یقینًا (بل څوک نه) ستا رب ﷻ د توبې څخه وروسته (دوی ته) بښونکی (او) مهربان دی.

[۱۲۰] یقینًا ابراهیم علیه السلام (په محاسنو کښې) یو (کامل) امت وه، (او هم) الله ﷻ ته په دوامداره توګه عاجزي کوونکی (وه او هم) د ټولو باطلو ادیانو څخه حق دین ته تاوېدونکی (وه) او د مشرکانو د ډلې څخه نه وه.

[۱۲۱] (همدارنګه ابراهیم علیه السلام) د الله ﷻ د نعمتونو دپاره شکر کوونکی وه. الله ﷻ (په نبوت او نورو فضائلو سره) غوره کړی وه، او سمې لارې ته یې ورته هدایت کړی وه.

[۱۲۲] او مونږ ابراهیم علیه السلام ته په دنیا کښې حسنة (د هر نعمتونه) ورکړي وه. او یقینًا ابراهیم علیه السلام په آخرت کښې د صالحانو د ډلې څخه دی.

[۱۲۳] بیا مونږ تاته وحې وکړه (ای پیغمبره!) چې د ابراهیم علیه السلام د دین پیروي په داسې حال کښې وکړه چې هغه د ټولو باطلو ادیانو څخه حق دین ته تاوېدونکی دی، او هغه د مشرکانو څخه هم نه دی.

[۱۲۴] یقینًا د خالي (شنبې) ورځې (تعظیم) په هغو خلکو باندې (فرض) ګرځولی شوی وه کومو چې (د خپل پیغمبر موسی علیه السلام سره) پکښې اختلاف (او جګړې) کړې وې (دا د ابراهیم علیه السلام د دین بقایاوو څخه نه دي).

او یقینًا ستا رب ﷻ به (ای پیغمبره!) د دوی په منځکښې د قیامت په ورځ په هغه شي کښې (په حقه) حکم (فیصله) وکړي په کوم کښې چې وه دوی چې اختلاف یې پکښې کاوه.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د وروستنیو ایتونو مضمون دا وه چې: ای مشرکانو! په الله ﷻ دروغ مه تړئ چې دا شی یې راته حرام کړی دی او دا شی یې راته حلال کړی دی. په دې ایتونو کښې په همدغه مضمون باندې څه دلایل اقامه کړی شوي دي چې حاصل یې داسې راځېږي:

۱_ ای پیغمبره! کوم شیان چې مونږ په یهودو باندې حرام کړي وه د هغو نومونه خو مونږ په تا باندې لا پخوا درنازل کړي دي، نو په هغو محرماتو کښې د هغو شیانو نومونه نشته کومو ته چې مشرکان د حرامو لقب ورکوي، که بالفرض په هغو کښې یې نومونه موجود وی نو د دوی خبرې ته

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



به څه دلیل پیدا شوی وی چې دا محرمات مونږ ته آن د تورات څخه راپاتې دي.

په دې باندې علاوه، په یهودو باندې هم نازل کړی شوي محرمات اصلي محرمات نه وه بلکې د هغوی د ظلم او جنایتونو د کبله مو ورباندې حرام کړي وه، نو په حقیقت کښې هغوی په خپلو ځانونو باندې ظلم کړی وه چې د جنایاتو مرتکب شوي وه او مونږ ورباندې ظلم نه وه کړی.

۲_ ای پیغمبره! اوس هم سر وخت دی، که مشرکان د افتراګانو څخه لاس واخلي او الله ﷻ په وحدانیت باندې وپېژني نو ستا رب ﷻ به یې په پخوانیو جنایاتو باندې ونه نیسي دا ځکه چې یقیناً ستا رب ﷻ د هغو کسانو دپاره کوم چې په جهالت (او سادګۍ) سره بدکارونه وکړي او بیا ترې وروسته توبه تائب شي او خپل ځان اصلاح کړي او په خپله توبه باندې کلک ودرېږي (بېرته بدکارۍ او کفریاتو ته ورانه وړي) نو یقینًا د توبې څخه وروسته بل څوک نه بلکې ستا رب ﷻ ورته بې شکه بښونکی دی، او هم ورباندې مهربان دی چې د نورو نیکو اعمالو توفیق به هم ورکړي.

۳_ ای پیغمبره! همدارنګه د مشرکانو دروغین محرمات د ابراهیم ؑ په شریعت کښې هم نه وه، حال دا چې دوی خپل ځانونه ابراهیم ؑ ته منسوبوي چې مونږ د هغه اولاده یاستو او د هغه په پیروۍ باندې روان یاستو.

دغسې نه ده لکه چې دوی مدعیان دي، ابراهیم ؑ خو څه صفات درلوده چې دوی ورسره په یوه صفت کښې هم اشتراک نه لري، هغه دا چې:

الف: ابراهیم ؑ د الله ﷻ په عبادت کښې دومره مخلص وه تا به ویل چې یوازې ابراهیم ؑ یو ټولګی دی او یو جماعت دی، حال دا چې دوی د بوتانو عبادت کوي.

ب: ابراهیم ؑ الله ﷻ ته په دوامداره توګه د عاجزۍ په عبادت مشغول وه، حال دا چې دوی متکبران دي او الله ﷻ ته تواضع او عاجزي نه کوي.

ج: هغه ؑ د ټولو باطلو ادیانو څخه حق دین ته تاوېدونکی وه او دوی په باطلو ادیانو باندې اخته دي.

د: هغه ؑ مشرک نه وه او دوی مشرکان دي.

هـ: هغه ؑ د الله ﷻ د نعمتونو شکرګذار بنده وه او دوی ناشکران دي چې عاقبت به د ناشکرۍ په سزا باندې ورسولی شي.

و: الله ﷻ هغه ؑ غوره بنده ګرځولی وه او په دوی باندې په غضب دی.

ز: هغه ؑ ته الله ﷻ د سمې لارې ښودانه کړې وه او دوی په باطله لاره باندې روان دي.

ح: هغه ؑ ته مونږ په دنیا کښې نېک حالت ورښبلی وه چې د قیامت د ورځې پورې ورباندې د ټولو ادیانو پیروان آفرین وایي او خپل ځانونه همده ؑ ته منسوبوي که څه هم د هغه د تګلارې څخه منحرف وي، او په دوی کښې دا صفت نشته.

ط: په پای کښې ابراهیم ؑ په آخرت کښې د صالحانو او نېکانو د ډلې څخه دی او دوی به

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هلته د شیطانانو او فاجرانو په ډله کښې شامل وي.

لنډه دا چې ای مشرکانو! ستاسو کوم خوی او کوم عادت ابراهیم ﷺ ته ورته دی چې تاسو خپل ځانونه د هغه پیروان بولئ او خپل باطل دین ته د ا براهیمي دین لقب ورکوئ؟.

۴ـ ای پیغمبره! په ابراهیمي دین باندې همدا ته یې او همدا ستا دین ابراهیمي دین دی، ځکه چې مونږ تاته وحې کړې ده چې د ابراهیم ﷺ د دین پیروي وکړه او لکه څنګه چې هغه د ټولو باطلو ادیانو څخه ګرځېدونکی وه ته هم ټول باطل ادیان د پښو لاندې کړه، او لکه څنګه چې هغه د مشرکانو څخه نه وه ته هم د مشرکانو څخه مه جوړېږه همدغه توحیدي حالت ته ادامه ورکړه.

لنډه دا که مشرکان غواړي چې د ابراهیمي دین پیروي وکړي نو فقط ستا د دین پیروي دې وکړي چې فقط همدا په ابراهیمي دین باندې مشتمل دی او بس.

۵ـ ای پیغمبره! که په تا باندې څوک اعتراض وکړي چې ستا دین ابراهیمي دین نه دی ځکه چې په دې دین کښې خو د خالي ورځ معظمه ګڼله کېده حال دا چې ته د جمعې د ورځې تعظیم کوې او د خالي ورځ معظمه نه ګڼې، نو ته ورته په جواب کښې ووایه چې د خالي د ورځې تعظیم د ابراهیم ﷺ څخه نه دی راپاتې شوی، بلکې د دغې ورځې تعظیم په هغو خلکو باندې لازم ګرځولی شوی وو کومو چې د خپل پیغمبر (موسی ﷺ) سره د همدې ورځې په هکله اختلاف کړی وه، البته کله چې د جمعې د ورځې تعظیم په هغوی باندې فرض ګرځولی شوی وه مګر هغوی ورته غاړه کېښنودله او د خالي ورځ یې د تعظیم دپاره غوره کړه.

۶ـ نو ای پیغمبره! د قیامت ورځ راروانه ده، ستا رب ﷻ به په دې ورځ کښې ټولې اختلافي مسئلې حل او فصل کړي چې د همدې جملې څخه ذکره شوې اختلافي مسئله هم ده.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ مَا قَصَصۡنَا عَلَيۡكَ مِن قَبۡلُ ﴾ کښې د "مِن" توری په ﴿ قَصَصۡنَا ﴾ پورې تعلق نیسي. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې په یهودانو باندې حرام کړی شوي شیان مونږ په تا باندې لا پخوا حکایت کړي او بیان کړي دي.

نو په دې ایت شریف کښې د [الأنعام:۱۴۶] ایت ته اشاره ده چې هلته د ذکرو شوو محرماتو بیان نازل شوی دی، هیله ده چې محترم لوستونکي یو ځل هلته مراجعه وکړي.

## یو نحوي تحلیل

۲ـ په ﴿ ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ عَمِلُواْ ٱلسُّوٓءَ بِجَهَٰلَةٖ ثُمَّ تَابُواْ مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ وَأَصۡلَحُوٓاْ إِنَّ رَبَّكَ مِنۢ بَعۡدِهَا لَغَفُورٞ رَّحِيمٌ ﴾ کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

الف: په ﴿ ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ ﴾ کښې د ﴿ رَبَّكَ ﴾ کلمه د "إنّ" دپاره اسم ده او د ﴿ لَغَفُورٞ رَّحِيمٌ ﴾ کلمات یې خبر دی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: د ﴿لِلَّذِينَ عَمِلُوا السُّوءَ﴾ او نور کلمات ټول د خبر د متعلقاتو څخه ګڼل کېږي.

ج: د ﴿إِنَّ رَبَّكَ﴾ کلمات د لومړي ﴿إِنَّ رَبَّكَ﴾ دپاره تاکید واقع شوي دي چې مستقل خبر نه غواړي.

د: د ﴿مِنْ بَعْدِهَا﴾ کلمات د ﴿ثُمَّ تَابُوا﴾ د معنی تاکید دی او ضمیر پکښې د "توبة" کلمې ته راجع دی چې د ﴿تَابُوا﴾ کلمه ورباندې دلالت کوي.

نو د معنی حاصل يې داسې راځېږي چې: ای پيغمبره! يقيناً ستا رب ﷻ هغو کسانو ته بښونکی او مهربان دی کوم چې په نادانۍ سره بدکارونه وکړي او بيا توبه تائب شي او خپل ځانونه اصلاح کړي، بل څوک نه بلکې ستا رب ﷻ د توبې څخه وروسته ورته بښونکی او مهربان دی.

## يادونه

۳ـ مونږ په ﴿ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ عَمِلُوا السُّوءَ بِجَهَالَةٍ﴾ کښې د ﴿لِلَّذِينَ﴾ کلمات د متعلق په اعتبار سره د "إن" د توري دپاره خبر ونه ګڼل لکه چې په [النحل: ١١٠] ايت کښې مو ګڼلی وه، ځکه چې هلته يې صحيح معنی ورکوله او دلته په دې تقدير سره فاسده معنی ورکوي چې: ای پيغمبره! ستا رب ﷻ د هغو کسانو دپاره نصرت کوونکی دی کوم چې په سادګۍ سره ګناه وکړي.

## په ياد ولرئ!

۴ـ مونږ د الله ﷻ په توفيق د [النساء:١٧] ايت لاندې د "جَهَالَة" معنی ليکلې ده چې دلته ترې سادګي مراده ده، او هم مو د [آل عمران:٨٩] ايت لاندې د توبې د قبول شرطونه ليکلي دي چې بيا ليکلو ته يې اړتيا نه ګورو، هيله ده چې هلته مراجعه وکړی شي.

## ابراهيم ﷺ يو امت وه

۵ـ په ﴿إِنَّ إِبْرَاهِيمَ كَانَ أُمَّةً قَانِتًا لِلَّهِ حَنِيفًا﴾ کښې مونږ د ﴿أُمَّةً﴾ د کلمې تفصيلي معنی د [الأنعام:٣٨] ايت لاندې ليکلې ده چې د يوه ټولګي معنی ورکوي خو په دې مقام کښې ابراهيم ﷺ ته ځکه دا لقب ورکړی شوی دی چې په هغه کښې د عبادت او اطاعت صفت دومره قوي او کامل وه چې تا به ويل چې يوازې همدی ﷺ يو لوی ټولګی دی⁽¹⁾. يا په بل عبارت: په هغه کښې دومره محاسن موجود وه لکه چې د يوه بااطاعته ټولګي افراد ورباندې مشتمل وي.

او د "قَانِت" کلمه د "قُنُوت" څخه اشتقاقه شوې ده، "قُنُوت" د عاجزۍ سره سره د دوامداره اطاعت څخه عبارت دی⁽²⁾. او بالآخره مونږ د الله ﷻ په توفيق د [البقرة:١٣٥] ايت لاندې د "حَنِيف" د کلمې ښه اوږده او مشرحه معنی کړې ده چې بيا ليکلو ته اړتيا نه ګورو.

---

(١) تفسير الخازن ج٣ ص٦٥٣
(٢) مفردات الراغب ص٤٢٨

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


نو د وړاندېنې عبارت د معنى حاصل داسې راځېږي چې: ابراهيم عليه السلام د ډېرو داسې محاسنو خاوند وه چې په اکثره وختونو کښې په يوه کس کښې نه جمعه کېږي خو په ده کښې راټول شوي وه، او هم په دوامداره توګه په عاجزۍ سره عبادت کوونکی وه، او بالآخره د ټولو باطلو اديانو څخه ناوېدونکی او په حق دين باندې کلک نښتونکی وه، نو د همدې کبله د "رئيس الموحدين" په لقب مشهور شوی دی[1].

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

٦_ که څوک وايي چې: په ﴿ وَءَاتَيْنَٰهُ فِى ٱلدُّنْيَا حَسَنَةً ﴾ کښې د ﴿ حَسَنَةً ﴾ کلمه د څه شي څخه عبارت ده؟ او يا په بل عبارت: هغه څه شی دی چې الله ﷻ پرې ابراهيم عليه السلام په دنيا کښې سر لوړی کړی وه؟

مونږ وايو چې: ذکره شوې کلمه په دې مقام کښې علماوو کرامو په ډېرو معناوو باندې تفسيره کړې ده[2]، لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

الف: ﴿ حَسَنَةً ﴾ دلته ټولو خلکو ته د محبوبيت څخه عبارت ده، يعنې مونږ ابراهيم عليه السلام په دنيا کښې ټولو خلکو ته محبوب ګرځولی دی، يهود دي، که نصارا دي، که مشرکان دي او که مسلمانان، دوی ټول ورته په نېک نظر ګوري او هره يوه ډله خپل ځانونه ورته منسوبوي.

ب: ﴿ حَسَنَةً ﴾ دلته په بوډاتوب کښې د اولادونو د ښېلو څخه عبارت ده، يعنې مونږ ده ته د بوډاتوب په حال کښې اولاده (اسماعيل عليه السلام، اسحق عليه السلام) ورښېلي وه.

ج: نوموړې کلمه د نبوت د سلسلې څخه عبارت ده، يعنې مونږ د ابراهيم عليه السلام څخه وروسته ټول پيغمبران عليهم السلام د همده په نسل کښې مبعوث کړي وه.

زمونږ په فکر د ﴿ حَسَنَةً ﴾ کلمه عمومي مفهوم لري چې ذکرو شوو معناوو او همدارنګه نورو معناوو ته شاملېږي، څه لري نه ده چې علماوو کرامو به يې يوه-يوه معنى د مثال په توګه ذکره کړې وي. حتى زمونږ په نظر د ذکرې شوې کلمې په مفهوم کښې دا هم شامله ده چې آخر الزمان پيغمبر ﷺ ته الله ﷻ امر وکړ چې: ﴿ أَنِ ٱتَّبِعْ مِلَّةَ إِبْرَٰهِيمَ حَنِيفًا ﴾ ای پيغمبره! د ابراهيم عليه السلام د دين پيروي وکړه چې د ټولو باطلو اديانو پرېښودونکی دی.

## سوال جواب

٧_ که څوک وايي چې: ايا د آخر الزمان پيغمبر ﷺ شريعت د ابراهيم عليه السلام د شريعت سره متحد دی؟ ايا آخر الزمان پيغمبر ﷺ د ابراهيم عليه السلام د امتيانو څخه ګڼل کېږي؟

مونږ وايو چې: په اصولو (عقائدو) او د فروعو په کلياتو کښې د ابراهيم عليه السلام او محمد ﷺ د دواړو

---

(١) روح المعاني ج١۴ ص٢۴٩

(٢) زاد المسير ج۴ ص٣۶٨؛ البحر المحيط ج۶ ص۶١٠

Scanned by CamScanner

شریعتونه پکښې څه تفاوت نه لري ځکه چې شریعتونه متحد دي بلکې د ټولو پیغمبرانو علیهم السلام شریعتونه په عقیدوي احکام نسخه نه قبلوي، او همدارنګه په عملي احکامو کښې هم د کلیاتو په اعتبار سره فرق نه لري، لکه بدني عبادت، مالي عبادت او داسې نور. مګر د فروعو په عملي کیفیاتو کښې یې فرقونه درلودل، مثلاً د موسی ﷺ په شریعت کښې لمونځونه په یوه کیفیت سره اداء کېده او زمونږ په شریعت کښې په بل کیفیت باندې اداء کېږي او داسې نور.

همدې مضمون ته نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې اشاره کړې ده چې: «الْأَنْبِيَاءُ إِخْوَةٌ مِنْ عَلَّاتٍ وَأُمَّهَاتُهُمْ شَتَّى وَدِينُهُمْ وَاحِدٌ»[1] یعنې ټول پیغمبران د مېرې د ورونو غوندې دې چې مورګانې یې متعددې دي (شریعتونه یې جدا-جدا دي) او اصل دین (عقیدوي احکام) یې یو دی او بس.

نو په حقیقت کښې هر یو وروستنی پیغمبر مکلف وه چې د وړاندېنیو پیغمبرانو پیروي وکړي، د همدې کبله الله ﷻ خپل آخر الزمان پیغمبر ﷺ ته امر کړی دی چې: ﴿ فَبِهُدَىٰهُمُ ٱقْتَدِهْ ﴾ [الأنعام: ۹۰] ای پیغمبره! د پخوانیو پیغمبرانو په هدایت سره اقتداء وکړه او د همغوی په قدم باندې لاړ شه.

نو څرګنده شوه چې د ابراهیم ﷺ د دین پیروي دا معنی نه ورکوي چې آخر الزمان پیغمبر ﷺ د هغه ﷺ د امتیانو څخه وشمېرل شو.

هو! په دې مقام کښې ځکه د ابراهیم ﷺ د دین په پیروی، او اتباع باندې صراحت وکړی شو ترڅو مشرکان په غوږ باندې ووهل شي چې د ابراهیم ﷺ اتباع د محمد ﷺ په اتباع کښې نغښتې ده، نو ای مشرکانو! ستاسو ادعاء غلطه ده چې د یو پلوه بوت پرستي کوئ او د بله پلوه مدعیان یاست چې همدا د ابراهیم ﷺ دین دی، ایا ابراهیم ﷺ هم بوت پرست وه؟

همدارنګه اهل الکتاب او د نورو مختلفو ادیانو خاوندان د اشارې په توګه پوه کړی شوي دي چې نن ورځ د آخر الزمان پیغمبر دین د ابراهیم ﷺ د دین دپاره معیار دی او بس، نو تاسو ته په کار دي چې په همدې کنده باندې خپل ځانونه وتلئ.

## یادونه

۸ـ په ﴿ إِنَّمَا جُعِلَ ٱلسَّبْتُ عَلَى ٱلَّذِينَ ٱخْتَلَفُوا۟ فِيهِ ﴾ کښې د یهودانو هغه اعتراض جواب شوی دی کوم چې هغوی په وړاندېنۍ ایت باندې کاوه، هغه دا چې محمد ﷺ هم د ابراهیم ﷺ پیرو نه شي ګرځېدلی او دا ځکه چې د ده په شریعت کښې د خالي د ورځې تعظیم نشته حال دا چې د خالي د ورځې تعظیم خو آن د ابراهیم ﷺ څخه راپاتې دی؟

د جواب حاصل یې داسې راځي چې: د دغې ورځې تعظیم د ابراهیم ﷺ په دین کښې مشروع نه وه بلکې دا تعظیم په هغو خلکو باندې لازم ګرځولی شوی دی کومو چې د همدې ورځې په تعظیم کښې اختلاف کړی وه، چې هغه یهود دي.

---

[1] صحیح مسلم ج۲ ص۲۶۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۱_ که څوک وايي چې يهودان خو د خالي ورځ په تعظيم کښې تول متفق دي (هو! دا بېله خبره ده چې ځينو يهودانو پکښې حيلې جوړې کړې او د ماهيانو ښکار يې پکښې مباح وباله چې په نتيجه کښې ترې بيزوګان جوړ شوه، لکه چې پوره بيان يې د [الأعراف: ۱۶۳] ايت کښې پيـل شوی دی) نو پوښتنه دا ده چې: ايا د ﴿ ٱلَّذِينَ ٱخۡتَلَفُواْ فِيهِ ﴾ څخه د يهودانو مرادول صحت لري؟

مونږ وايو چې: علماوو کرامو د يهودانو اختلاف په لاندې دولونو سره تصوير کړی دی:

الف: يهودانو په ذکره شوې موضوع کښې په خپل منځکښې اختلاف نه وه کړی بلکې د خپل پيغمبر سره يې په دغې موضوع کښې جګړې او اختلاف کړی وه[۱] لکه چې په همدې مطلب باندې لاندې حديث شريف دلالت کوي چې نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې:

«هَذَا يَوْمُهُمْ الَّذِي فُرِضَ عَلَيْهِمْ فَاخْتَلَفُوا فِيهِ فَهَدَانَا اللهُ فَالنَّاسُ لَنَا فِيهِ تَبَعٌ الْيَهُودُ غَدًا وَالنَّصَارَى بَعْدَ غَدٍ»[۲]

يعنې دغه د جمعې ورځ په اهل الكتابو باندې فرض کړی شوې وه چې د دې ورځې تعظيم به په عبادت سره کوئ، خو دوی پکښې اختلاف وکړ، ذکره شوې فريضه يې قبوله نه کړه او په خپل فکر باندې يې د خالي ورځ انتخاب کړه، مګر الله ﷻ مونږ ته هدايت وکړ او د جمعې ورځ يې د تعظيم دپاره راته وټاکله او په همدې باندې يې کلک کړو، نو په همدې بنياد مونږ اول نمرګان ياستو او خلک زمونږ پيروان دي چې يهودان زمونږ د ورځې پسې سبا ته ورځ (د خالي ورځ) تجليلوي او نصارا د بل سبا ورځې (يکشنبې) تعظيم کوي.

د ذکر شوي حديث په شرحه کښې د صحيح البخاري حواشيوو ليکلي دي چې: په يهودانو باندې په هفته کښې يوه ورځ د تعظيم دپاره فرض کړی شوې وه او تعين يې همدوی ته سپارلی شوی وه مګر دوی پکښې تېرواته چې د خالي ورځ يې انتخاب کړه، البته په دې خيال چې په دې ورځ کښې الله ﷻ د دنيا د پيداکولو څخه فارغ شوی دی نو مونږ هم بايد په دغې ورځ کښې د خپلو معاملاتو څخه خپل ځانونه فارغ کړو او صرف په عبادت باندې مشغول شو.

په مونږ باندې الله ﷻ فضل وکړ او د هفتې يوه ورځ (د جمعې ورځ) يې راته وټاکله او زمونږ انتخاب ته يې پرېښنبودله، چې په دې ورځ کښې الله ﷻ د يو پلوه د دنيا پيداکول تکميل کړي دي او د بل پلوه يې په همدې ورځ کښې د ځمکې خليفه (آدم ؑ) پيدا کړی دی چې توله ځمکه د همده ؑ دپاره پيدا شوې ده، نو په مونږ باندې لازمه ده چې دغه ورځ د شکر ګذارۍ په توګه په عبادت باندې تجليله کړو.

مګر زمونږ په فکر ذکرې شوې شرحې ته حاجت نشته، دا ځکه چې يهودانو خو د خپل پيغمبر (موسی ؑ) سره په همدغې يوه موضوع کښې اختلاف نه دی کړی ترڅو مونږ يې تاويل ته مجبور

---
(۱) التفسير الكبير ج ۲۰ ص ۱۳۷
(۲) صحيح البخاري ج۱ ص ۱۲۰؛ صحيح مسلم ج۱ ص ۲۸۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شو چې په دوی باندې ذکره شوې ورځ بالتعیین نه وه فرضه شوې، یهودان خو هغه خلک دي کوم چې موسی ﷺ ته وویلي چې: ﴿ لَن نُّؤْمِنَ لَكَ حَتَّىٰ نَرَى ٱللَّهَ جَهْرَةً ﴾ [البقرة:٥٥] مونږ به هیڅکله په تابانډې عقیده ونه کړو ترڅو چې مونږ الله ﷻ په ښکاره توګه وګورو، او داسې نور.

ذکر شوی مضمون د عبدالله بن عباس (رئیس المفسرین) رضی الله عنهما څخه هم روایت شوی دی(١) چې څو مهم ټکي یې لاندې لوستلی شی:

اول: موسی ﷺ یهودانو ته بالتعین د جمعې ورځ وښودله، چې دا ورځ په عبادت سره تجلیله کړئ او د خپلو معاملاتو څخه خپل خانونه فارغ وګرځوئ.

دوهم: دوی ذکره شوې امریه قبوله نه کړه او ویې ویلي چې مونږ هغه ورځ په عبادت سره تجلیلوو په کومه کښې چې الله ﷻ د دنیا د پیداکولو څخه فارغ شوی دی.

دریم: نو الله ﷻ په دوی باندې د همدغې ورځې (یوم السبت) تعظیم فرض وګرځاوه او په همدې تعظیم باندې یې ډېر شدت نازل کړ، خو په نتیجه کښې دوی په دغې فریضه کښې ناکام شوه او بېزوګان ترې جوړ شوه.

څلورم: بیا عیسی ﷺ خپل امت ته امر وکړ چې د جمعې ورځ په عبادت سره تجلیله کړئ، خو دوی هم د همدغه امر په تعمیل کښې د هغه اطاعت ونه کړ، دوی وویلې چې مونږ نه غواړو چې د یهودانو اختر او خوشالي دې زمونږ څخه وروسته شي نو که مونږ د جمعې ورځ د عبادت دپاره وټاکو د هغوی تعظیم به سبا ته (د شنبې په ورځ) صورت ونیسي، مونږ غواړو چې زمونږ اختر د هغو د اختر څخه یوه ورځ وروسته (د یکشنبې) ورځ صورت ونیسي چې په همدې ورځ کښې الله ﷻ د دنیا په پیداکولو باندې پیل کړی دی او په شپږو ورځو کښې یې د دنیا پیدا کول بشپړ کړي دي، همدغه امتیاز یې د تخصیص دپاره کفایت کوي.

ب: کله چې موسی ﷺ په بني اسرائیلو (یهودانو) باندې د جمعې د ورځې د تعظیم فرضیت قرائت کړ نو هغوی پکښې اختلاف وکړ، ځینو د خالي ورځ د تعظیم دپاره خوښه کړه او ځیني نور د موسی ﷺ په امریه باندې ودرېده، خو بالآخره دوی هم د خپل نظر څخه منصرف شوه او د لومړني ډلې سره متفق شوه، نو په ایت شریف کښې همدغه ابتدایي اختلاف ته اشاره ده(٢).

مونږ ته لومړنی جواب په زړه پورې برېښي او دوهم جواب راته محض عقلي احتمال ښکارېږي، والله ﷻ أعلم.

﴿ ٱدْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِٱلْحِكْمَةِ وَٱلْمَوْعِظَةِ ٱلْحَسَنَةِ ۖ وَجَٰدِلْهُم بِٱلَّتِي هِيَ أَحْسَنُ ۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِۦ ۖ وَهُوَ أَعْلَمُ بِٱلْمُهْتَدِينَ ﴿١٢٥﴾ وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوا

(١) روح المعاني ج١٤ ص٢٥٢
(٢) المحرر الوجيز ج١٠ ص٢٥٠

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بِمِثْلِ مَا عُوقِبْتُم بِهِۦ ۖ وَلَئِن صَبَرْتُمْ لَهُوَ خَيْرٌ لِّلصَّٰبِرِينَ ﴿١٢٦﴾ وَٱصْبِرْ وَمَا صَبْرُكَ إِلَّا
بِٱللَّهِ ۚ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلَا تَكُ فِى ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُونَ ﴿١٢٧﴾ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلَّذِينَ
ٱتَّقَوا۟ وَّٱلَّذِينَ هُم مُّحْسِنُونَ ﴿١٢٨﴾

[١٢٥] (ای پیغمبره!) د خپل رب ﷻ لارې (دین) ته په حکمت او ښائسته موعظې سره بلل وکړه، او (که خلکو درسره مباحثه کوله نو) د دوی سره په هغې طریقې سره مباحثه وکړه کومه چې (په ټولو طریقو کښې) ډېره ښه (او بهتره) وي، یقینًا ستا رب ﷻ همدی ﷻ په هغه چاباندې ډېر ښه پوهېږي کوم چې د ده ﷻ د لارې څخه بې لارې دی، او همدی ﷻ په لاره موندونکو باندې هم ډېر ښه پوهېږي (نو مناسب چال چلند به ورسره وکړي).

[١٢٦] او (ای مؤمنانو) که چرته (تاسو ته د دعوت په لاره کښې چا تعذیب درکړ او بیا) تاسو غوښتل چې (هغوی ته) تعذیب ورکړئ (خپل غچ واخلئ) نو (هغوی ته) د هغه تعذیب په مثل باندې تعذیب ورکړئ په کوم باندې چې تاسو تعذیب کړی شوي یاست، او هرومرو که تاسو صبر وکړئ (او غچ وانخلئ) نو خامخا دا (کار) د صبرکوونکو دپاره (د الله ﷻ په نزد) بهتر دی.

[١٢٧] او (ای پیغمبره!) صبر کوه او ستا صبر نه دی مګر په (توفیق د) الله ﷻ سره دی، او په دوی (کفارو) باندې مه غمژن کېږه او د هغه شي څخه په تنګۍ کښې مه کېږه (زړه مه تنګوه او حوصله مه خرابوه) کوم چې دوی (پکښې) پټ تدبیرونه جوړوي.

[١٢٨] یقینًا الله ﷻ د هغو کسانو سره (ملګری) دی کوم چې تقوی کوي او د هغو کسانو سره هم کوم چې دوی احسان کوونکي (او نیکو کاران) دي.

## ارتباط

په دې ایتونو کښې په هغو ادابو او اصولو باندې صراحت کړی شوی دی کومو ته چې په وړاندېنیو ایتونو کښې د اسلامي دعوت په ارتباط اشارې شوې دي، او نبي کریم ﷺ ورباندې د دې دپاره مخاطب ګرځولی شوی دی ترڅو د قیامت د ورځې پورې ورباندې ټول اسلامي داعیان عمل وکړي نو حاصل یې داسې کېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! د خپل رب ﷻ د دعوت څخه عبرت واخله او په لاندې نصوصو باندې د خپل رب ﷻ لارې ته او د همده ﷻ دین ته خلک دعوت کړه چې:

١ـ په دعوت کښې کمزوري دلایل مه استعمالوه بلکې د پخو او قوي دلایلو څخه کار واخله، که بالفرض ستا په دلایلو کښې څه کمزوري مونده شي نو ټولې هلې ځلې به دې بې نتیجې وګرځي.

Scanned by CamScanner

٢_ په دعوت کښې د خلکو داسې خير غواړه او نصيحت ورته کوه چې نرمي او مهرباني ورسره ملګرې وي، د تخويف دپاره د الله ﷻ عذابونه ورياد کړه او د ترغيب په غرض د الله ﷻ د جنتونو او نعمتونو ذکر هم مه هېروه، بلکې تخويف او ترغيب د خپل دعوت دوه وزرونه وګڼه.

٣_ کله چې د دعوت په جريان کښې د سوال جواب سره مخامخ شوې او خبره مباحثې ته رابنکودل شوه، نو په هغې طريقې باندې د خلکو سره مباحثه وکړه کومه چې احسنه او ښه طريقه وي، مه پکښې سپکې سپورې ويناوې کوه، مه نفرت غورزونکي کلمات استعمالوه او بالآخره مه په غُصه کېږه، ځکه چې ستا رب ﷻ په هغو کسانو باندې ډېر ښه پوه دی ځوک چې د ده ﷻ د لارې څخه بې لارې دي او همدارنګه ستا رب ﷻ په لاره موندونکو باندې هم ډېر ښه پوه دی.

نو که ته هرڅومره په غُصه شې او هرڅومره دې زړه تنګ شي ګمراهان لارې ته نه شې برابرولی او نه دا کار ستا په وسه کښې شته، په تا باندې صرف دعوت او ابلاغ دی او بس، نور نو ستا د رب ﷻ کار دی چې هر ډول جزا ورکوي همغسې جزا به ورکړي ځکه چې همدی ﷻ په هر شي باندې پوه دی.

٤_ ای پيغمبره! د دې سره سره چې په ذکرو شوو ارشاداتو باندې تاسو عمل وکړئ که بالمقابل د خلکو د پلوه درباندې تجاوز وشي او څه بده رويه درسره وکړه شي نو په دې صورت کښې ستاسو دپاره لاندې دوه لارې خلاصې دي:

الف: چې تاسو د ضرر رسوونکو څخه خپل غچ واخلئ. که تاسو دا شق اختيار کړ نو هغوی ته دومره عذاب ورکړئ لکه چې تاسو ته د هغوی د پلوه عذاب درکړی شوی وه، تاسو ته په کار نه دہ چې په غچ اخستلو کښې په غُصه شئ او د خپلې اندازې څخه زيات عذاب ورکړئ او انصاف د لاسه وباسئ.

ب: چې تاسو د دعوت په لاره کښې په مشکلاتو او د خلکو په تعذيبونو او ضررونو باندې صبر وکړئ. نو که تاسو دغه شق اختيار کړئ نو صبرکول د ربښتياني صابرينو دپاره د غچ اخستلو څخه بهتر دي چې د الله ﷻ د پلوه پرې دوی ته بلا حسابه اجرونه ورکول کېږي. او په دې باندې علاوه، دا هم څه لرې نه ده چې ستاسو صبر او د غچ نه اخستل په دعوت کښې موثر واقع شي، نو دا به ستاسو دپاره په پټه خوله دعوت وي.

٥_ ای پيغمبره! ته د الله ﷻ د پلوه دنيا ته د دعوت دپاره استولی شوی يې، په دې لاره کښې به تاته ډېر تکاليف پېښ شي، دا لاره ډېر خنډونه لري، نو لاندې ارشادات کلک ونيسه:

الف: د دعوت په لاره کښې په مشکلاتو باندې صبر کوه، نو څرنګه چې صبر ډېر تريخ او سخت دی نو ستا صبرکول به د الله ﷻ په توفيق باندې صورت نيسي او بس، نو د الله ﷻ څخه د توفيق غوښتنه کوه.

ب: د خلکو طبقات مختلف دي او نفس، شيطان هم ورسره شته دی، ټول خلک ستا دعوت نه مني

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو الله ﷻ تاته توصیه کوي چې د ګمراهانو په ګمراهی باندې دومره مه غمژن کېږه چې خپل خان د مرګ د خطر سره مخامخ کړې.

ج: همدارنګه د دعوت په لاره کښې زړه تنګی کېږه مه، چې د خلکو بد تدبیرونه او فریبونه درباندې غټ اثر وغورزوي. ځکه چې الله ﷻ ستا ملګری او کومکي دی، د معاندینو ډېر تدابیر به په اوبو باندې لاهو کړي او په هیڅ صورت سره به د اسلام د پرمختګ په وړاندې خنډ واقع نه شي.

د: خپلو پیروانو ته دې په تقوی او پرهېزګاری باندې توصیه کوه چې: یقیناً الله ﷻ د پرهېزګارانو ملګری او نصرت کوونکی دی.

هـ: همدارنګه دوی ته په اخلاص او نېک نیتی باندې تاکید وکړه چې: یقیناً الله ﷻ هغو کسانو ته کومکي او مددګار دی کوم چې اخلاص کوونکي او د خلکو دپاره په اخلاص سره د خیر غوښتونکي وي، او د بدی په بدله کښې بدي نه بلکې نېکي کوي.

## توضیحات

۱ـ که څوک وایي چې ځینو علماوو کرامو لیکلي دي[1] چې ذکر شوي ایتونه د حمزه ﷺ د شهادت په هکله نازل شوي دي چې د کفارو د پلوه مُثله شوی وه (پوزه، غوږ او نور شیان یې پرې کړې شوي وه او مبارکه ګېډه یې ورڅیرلې وه)؛ نو پوښتنه دا ده چې ذکر شوی شهادت خو د هجرت څخه وروسته د اُحد په غزا کښې واقع شوی وه حال دا چې دا سورت خو مکي دی او د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی؟

مونږ وایو چې: که څه هم ځینو علماوو کرامو ذکر شوي سوال ته جواب ورکړی دی چې دا ایتونه متکرر نازل شوي دي (د هجرت څخه وړاندې او هم د هجرت څخه وروسته یې نزول موندلی دی)[2] مګر مونږ ته بهتره برېښي چې دلته به د شان نزول څخه د ایتونو مصداق مطلب وي، چې سلف صالحینو په مصداقاتو باندې د شان نزول اطلاق کاوه[3] او په مصداق کښې دا ضرور نه ده چې د ایت شریف په نزول کښې دې موجودیت ولري، نو د امیر حمزه ﷺ د شهادت موضوع د دې ایتونو مصداقاتو څخه ګڼله کېږي. نو که د چا زړه غواړي چې د سید الشهداء (حمزه ﷺ) د شهادت قصه مفصله ولولي نو ځینو کتابونو[4] ته دې مراجعه وکړي.

## د "حکمة" د کلمې معنی

۲ـ د "حکمة" د کلمې متعددو معناوو ته د [البقرة: ۲۶۹] ایت لاندې د الله ﷻ په توفیق اشاره شوې ده، خو په دې مقام کښې دغه کلمه د هغو قوي (مضبوطو) دلایلو څخه عبارت ده په کومو

(۱) اسباب النزول للواحدي ص۱۸۹
(۲) تفسیر المظهري ج۵ ص۳۹۳
(۳) تفسیر القاسمي ج۱ ص۲۷؛ تفسیر المنار ج۹ ص۶۴۲
(۴) صحیح البخاري ج۲ ص۵۸۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



باندې چې د اشتباهګانو جرړې ویستلې کېږي[١] چې په دې سورت (النحل) کښې یې ډېر مثالونه تېر شوي دي، په تېره بیا هغه دلایل چې د دې سورت په اولنیو دواړو رکوعګانو کښې الله ﷻ په خپل وحدانیت باندې اقامه کړي دي. یا لکه چې د [النحل:١٠٣] ایت کښې د مشرکانو پر اعتراض ته ډېر مضبوط (قوي) جواب ورکړی شوی دی، هغه دا چې:

په کوم انسان باندې چې مشرکان تور لګوي چې دا د نبي کریم ﷺ استاذ دی، د هغه ژبه (لغت) اعجمي ده او قرآن کریم په عربي فصیح او بلیغ لغت باندې نازل شوی دی چې ټول فصحاء او بلغاء یې د مقابلې څخه عاجز دي؛ ایا کوم د عقل خاوند به ذکره شوې استاذي ومني؟ او د زړه څخه به پرې قائل شي؟!

## موعظة حسنة د کوم بیان څخه عبارت ده؟

٣ـ "مَوْعِظَة" د هغه زجر نوم دی د کوم سره چې تخویف ملګری وي[٢]، یعنې د منکراتو د مخنیوي بیان چې د الله ﷻ د عذاب څخه ډارول ورسره ملګري وي د "موعظة" په نامه یادېږي.

نو کله چې ذکره شوې کلمه د "حسنة" په کلمه باندې موصوفه شوې ده نو.د معنی حاصل به داسې راځېږي: چې داعي إلى الله ته په کار دي چې په خپله بیانیه کښې جریحه دار کلمات استعمال نه کړي، د مقتضی الحال پوره مراعات وساتي، د خلکو د علمي سویې مراعات د نظره ونه غورزوي، زړه سوی او مهرباني ورباندې وکړي، او بالآخره باید چې په دعوت کښې د پستو الفاظو څخه کار واخستل شي لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ فَقُولَا لَهُۥ قَوْلًا لَّيِّنًا لَّعَلَّهُۥ يَتَذَكَّرُ أَوْ يَخْشَىٰ ﴾ [طه:٤٤] یعنې ای موسی او ای هارونه! تاسو دواړه فرعون ته ورشئ او په پستو الفاظو کښې یې دعوت کړئ شاید چې پند او نصیحت قبول کړي او یا وډار شي، نو تاسو داسې کلمات مه استعمالوئ چې هغه په خپل عناد او عداوت باندې لا کلک وګرځوي.

## ښایسته مباحثه

٤ـ په ﴿ وَجَٰدِلْهُم بِٱلَّتِي هِيَ أَحْسَنُ ﴾ کښې دې ته اشاره ده چې ای پیغمبره! کله چې ستا او د مخالفینو خبره بحث اومناظرې ته ورسېږي نو ته په دغه وخت کښې د لاندې قیوداتو محافظت وکړه:

الف: د خپلې ژبې عفت وساته او توهین آمیز الفاظ مه استعمالوه.

ب: خپل دلایل په واقعاتو باندې ولاړ وساته او د واهیاتو او اشتباهي کلماتو څخه خپل خان اداره کړه.

ج: لنډه دا چې په مباحثه کښې د ابراهیم عليه السلام لاره تعقیبه کړه چې مثالونه یې دا دي:

---

(١) روح المعاني ج١۴ ص٢۵۴

(٢) مفردات الراغب ص۵۶۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: د نمرود کافر پاچا سره يې په [البقرة:۲۵۸] ايت کښې يوې مناظرې ته اشاره شوې ده.

دوهم: بله مناظره يې د خپل پلار (آزر) سره د [الأنعام:۷۴] ايت څخه پيل شوې ده.

د: بالآخره په خپله مناظره کښې يې هغه ډول کيفيات مراعات کړه کوم چې په وړاندې ايت کښې تانه دربنودلی شوي دي، هغه دا چې:

که کفارو ستا سره مناظره پيل کړه چې ته په ابراهيمي ملت باندې نه يې څکه چې ته د خالي د ورځې تعظيم نه کوې، د دې ورځې تعظيم خو د ابراهمي شعائرو څخه دي، نو د کفارو ذکر شوی اعتراض په احسنه توګه جواب کړه چې: د خالي د ورځې تعظيم د ابراهيمي دين د شعائرو څخه نه دی بلکې د د غې ورځې تعظيم ډېر وروسته په هغو خلکو باندې فرض کړی شوی وه کومو چې د خپل پيغمبر (موسى ﷺ) سره پکښې اختلاف کاوه او غاړې يې ورته نه اېښودلې.

## سوال جواب

۵ـ که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې په وړاندې او بېرته ايتونو کښې نبي کريم ﷺ مخاطب کړی شوی دی او په منځکښې په ﴿ وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُواْ ﴾ کښې د کلام مخ ټولو مؤمنانو ته اړولی شوی دی؟

مونږ وايو ـوالله ﷻ أعلم ـ چې: حکمت به پکښې دا وي ترڅو مونږ پوه شو چې دا د مؤمنانو کار دی چې انتقام واخلي، اما پيغمبر ﷺ د خپل شخصي انتقام اخستلو خاصيت نه لري بلکې صبر او عفوه غوره کوي، لکه چې لاندې نصوص وربانديې دلالت کوي:

الف: د يوه اوږد حديث مضمون دی چې د آخر الزمان پيغمبر ﷺ په خواصو کښې آن لا په تورات کښې نازل شوي وه چې: «وَلَا يَدْفَعُ السَّيِّئَةَ بِالسَّيِّئَةِ وَلَكِنْ يَعْفُو وَيَصْفَحُ»[1] يعنې دغه پيغمبر په بدۍ سره د بدۍ مخه نه نيسي مګر عفوه کوي او د غچ اخستلو څخه مخ اړوي.

ب: بي بي عائشه رضي الله عنها (أم المؤمنين) په يوه اوږده حديث کښې وايي چې: «مَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُنْتَصِرًا مِنْ مَظْلَمَةٍ ظُلِمَهَا قَطُّ»[2] يعنې ما نبي کريم ﷺ نه دی ليدلی چې ده د هغې مظلمې څخه انتقام اخستی وي په کومه باندې به چې پرې ظلم شوی وه.

لنډه دا چې په ذکر شوي ډول نزول کښې مونږ مسلمانان ترغيب شوي ياستو چې په خپل پيغمبر ﷺ پسې په دغه افضل کار کښې هم اقتداء وکړو او په انتقام باندې عفوې ته ترجيح ورکړو، او دا ځکه چې د مقتدی صبر د مقتدي د صبر دپاره لاره هواروي، لکه چې يوه شاعر همدا مضمون عبد الله بن عباس رضي الله عنهما (رئيس المفسرين) ته د عباس ﷺ د وفات په وخت کښې د تعزيې په شکل په خپلو شعرونو کښې ځای په ځای کړی وه، شعرونه دا دي:

[1] صحيح البخاري ج۲ ص۷۱۷
[2] شمائل جامع الترمذي ص۲۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اِصْبِرْ نَكُنْ بِكَ صَابِرِيْنَ فَإِنَّمَا :: صَبْرُ الرَّعِيَّةِ عِنْدَ صَبْرِ الرَّأْسِ

خَيْرٌ مِنَ الْعَبَاسِ أَجْرُكَ بَعْدَهُ :: وَاللهُ خَيْرٌ مِنْكَ لِلْعَبَاسِ

يعنې صبر وکړه چې ستا په صبر باندې مونږ هم صبر کوونکي جوړ شو، ځکه چې د رعيت صبر د مشر د صبر په وخت کښې تحقق مونده کوي، د عباس ﷺ د وفات ځخه وروسته تاته د هغه ﷺ ځخه خپل اجر بهتر دی چې په صبر سره يې ترلاسه کړې، او الله ﷻ د عباس ﷺ دپاره ستا ځخه بهتر دی چې د مغفرت دعاگانې ورته وکړې.

رئيس المفسرين ﷺ وايي چې ما ته د ذکرې شوې تعزيې ځخه بهتره تعزيه هيچا ونه کړه[1].

## په قصاص کښې مثليت ضرور دی

۶ـ په ذکر شوي ايت شريف کښې الله ﷻ د انتقام او غچ اخستلو دپاره مثليت ضرور کړی دی چې د ﴿ بِمِثْلِ مَا عُوقِبْتُم بِهِ ﴾ کلمات يې نازل کړي دي، نو په کومو زخمونو کښې چې مثليت په يقين سره نه شي ځرګندېدلی نو هلته انتقام جواز نه لري بلکې هلته ديت واجبېږي. نو که ځوک په دې موضوع کښې اوږد بحث غواړي ترڅو پوه شي چې په کوم جراحت کښې مثليت تحقق مونديلی شي او په کوم کښې يې نه شي مونديلی نو فقهي کتابونو[2] ته دې مراجعه وکړي، چې دا موضوع هلته تفصيلواره ذکره ده.

## يادونه

۷ـ د سلفو صالحينو ځخه يو صالح سړی د ځنکدن په حال کښې وه چې چا ورځخه وصيت کول وغوښتل، نو هغه جواب ورکړ چې: "إِنَّمَا الْوَصِيَّةُ مِنَ الْمَالِ وَلَا مَالَ لِيْ وَ أُوْصِيْكُمْ بِخَوَاتِيْمِ سُوْرَةِ النَّحْلِ"[3] وصيت خو د مال ځخه صورت نيسي او زه مال نه لرم خو تاسو ته د "النحل" سورت په وروستنيو ايتونو باندې وصيت کوم چې عمل پرې وکړئ. يعنې د ﴿ ٱدْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ ﴾ ځخه نيولې ترآخره پورې.

د الله ﷻ په توفيق او بې انتهاء مهربانيو سره ځوارلسمه سپاره ختمه شوه.

د الله ﷻ ځخه لا زيات توفيق غواړو.

۱۱/ رمضان/ ۱۴۱۸ هـ ق - ۱۳۷۶/۱۰/۱۹ هـ ش - ۱۹۹۸/۱/۷ م

(۱) تفسير القاسمي ج۱۰ ص۱۸۱

(۲) الهدايه في الفقه ج۲ ص۵۶۷

(۳) روح المعاني ج۱۴ ص۱۶۰؛ الدر المنثور ج۵ ص۱۸۰

Scanned by CamScanner

# بني إسرائيل (۱۷)



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سريزه

۱ـ دا سورت په لاندې درېوو نومونو باندې نومول شوی دی:

الف: "سبحان" چې په همدغې کلمې باندې پيل شوی دی[۱].

ب: "الإسراء" چې د لومړني ايت ﴿ أَسْرَىٰ ﴾ د کلمې دپاره مصدر دی[۲].

ج: "بني اسرائيل" چې د همدې سورت د څلورم ايت څخه اخستلی شوی دی، خو په درېواړو نومو کښې په درېم نوم باندې ډېر شهرت لري[۳].

مونږ وړاندې هم څو واره ليکلي دي چې د قرآن کريم د سورتونو نومونه د بشري کتابونو د عنوانونو غوندې نه دي چې د هر عنوان لاندې مربوط بحثونه تحقق ولري او بس، بلکې دا نومونه محض د معرفت او پېژاندنې دپاره دي چې د نبي کريم ﷺ د پلوه ورباندې ايښودل شوي دي.

۲ـ د دې سورت ټول ايتونه يو سلو يوولس (۱۱۱) دي[۴].

۳ـ د دې سورت د کلماتو شمېر يو زرو پنځه سوه درې ديرش (۱۵۳۳) دی، او د حرفونو شمېر يې شپږ زره څلور سوه شپيته (۶۴۶۰) دی[۵].

۴ـ که څه هم د دې سورت په ځينو ايتونو کښې اختلاف شته مګر د جمهورو علماوو په نزد ټول ايتونه يې مکي دي[۶] او د هجرت څخه يو کال وړاندې د بعثت په دولسم (۱۲) کال باندې نازل شوي دي، او دا ځکه چې په همدغه کال کښې د نبي کريم ﷺ د معراج مهمه قيصه پېښه شوې وه[۷].

۵ـ د وړاندې سورت (النّحل) په څېر دا سورت هم مکي سورت دی، لکه څنګه چې هغه سورت په عقايدو پورې ارتباط درلود، دا سورت هم په عقيدوي موضوعاتو پورې ارتباط نيسي، که څه هم د ځينو مناسباتو په اعتبار پکښې ځينې عملي احکام هم نازل شوي دي مګر په عمده توګه پکښې عقيدوي احکامو نزول موندلی دی، لکه د الله ﷻ توحيد، د نبي کريم ﷺ نبوت، د قيامت د ورځې قيام، د قرآن کريم اعجاز او داسې نور.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ سُبْحَٰنَ ٱلَّذِىٓ أَسْرَىٰ بِعَبْدِهِۦ لَيْلًا مِّنَ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ إِلَى ٱلْمَسْجِدِ ٱلْأَقْصَا
ٱلَّذِى بَٰرَكْنَا حَوْلَهُۥ لِنُرِيَهُۥ مِنْ ءَايَٰتِنَآ ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْبَصِيرُ ۝١ وَءَاتَيْنَا مُوسَى

(۱) تفسير ابن كثير ج۳ ص۲
(۲) تفسير البغوي ج۳ ص۹۲
(۳) تفسير الخازن ج۴ ص۲
(۴) تفسير القاسمي ج۱۰ ص۱۸۲
(۵) اللباب في علوم الكتاب ج۱۲ ص۱۹۳
(۶) البحر المحيط ج۷ ص۷
(۷) روح المعاني ج۱۵ ص۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ٱلْكِتَـٰبَ وَجَعَلْنَـٰهُ هُدًى لِّبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ أَلَّا تَتَّخِذُوا۟ مِن دُونِى وَكِيلًا ﴿۲﴾ ذُرِّيَّةَ مَنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوحٍ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ عَبْدًا شَكُورًا ﴿۳﴾ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر بارحمه الله ﷻ په نامه

[۱] هغه اقدس ذات ته د پاکۍ نسبت کوم چې خپل بنده (محمد ﷺ) يې د شپې په څه برخه کښې د مسجد حرام څخه هغه مسجد اقصی ته بوته د کوم په شاوخوا کښې چې مونږ (ظاهري او معنوي) برکتونه خواره کړي دي، (البته) د دې دپاره ترڅو مونږ خپل بنده ته د خپلو (معجزانه) ولايلو څخه څه برخه په سترګو باندې ورولیده کړو (چې د دعوت اثر يې زيات شي).

بقيناً الله ﷻ همدی اوربډونکی دی (چې خلک څه وايي او هم) لیدونکی دی (چې خلک څه کوي).

[۲] او مونږ موسی ﷺ ته کتاب (تورات) ورکړی وه او همدا کتاب مو د بني اسرائيلو دپاره لاربنود ګرځولی وه چې (ای بني اسرائيلو) زما څخه پرته بل (هیڅوک او هیڅ شی) کارساز مه نیسی.

[۳] ای د هغه چا اولادې کوم چې مونږ د نوح ﷺ سره (په بېړی کښې) بار کړي وه (او نجات مو ورکړی وه). یقیناً نوح ﷺ (زمونږ) شکر ګذار بنده وه (چې د همدې وجې بېړی نجات وموند).

## ارتباط

۱ـ د "النحل" په وروستنیو ایتونو کښې الله ﷻ نبي کريم ﷺ ته ا مر کړی وه چې: ﴿ أَنِ ٱتَّبِعْ مِلَّةَ إِبْرَٰهِيمَ ﴾ د ابراهيم ﷺ د دين پيروي وکړه. نو د دې دپاره چې د چا ذهن ته ورنه شي چې ابراهيم ﷺ به د الله ﷻ په نزد د محمد ﷺ څخه بهتر وي الله ﷻ ذکر شوي ایتونه نازل کړه چې خبره دغسې نه ده اودا ځکه چې:

الف: الله ﷻ ابراهيم ﷺ ته د ځمکو او اسمانونو عجائب او غرائب وربنودلي وه مګر د محمد ﷺ غوندې معجزانه رحله يې نه وه ورکړې.

ب: الله ﷻ موسی ﷺ ته تورات ورکړی وه او د "کلیم الله" لقب يې هم ګټلی وه مګر د سدرة المنتهی دوره يې نه وه ورکړې.

ج: همدارنګه نوح ﷺ د الله ﷻ شکرګذار بنده وه مګر د نبي کريم ﷺ غوندې سدرة المنتهی ته نه وه بیولی شوی.

۲ـ هلته الله ﷻ نبي کريم ﷺ په دعوت باندې مامور کړی وه او دلته د دعوت د ښه موثريت وجې ته اشاره شوې ده، چې په سترګو باندې لیدلو شوو شیانو (لکه جنت او دوزخ) ته دعوت کول د نالیدلو شیانو د دعوت څخه ډېر موثر واقع کېږي، نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «لَيْسَ الْخَبَرُ كَالْمُعَايَنَةِ»[۱] خبرېدل د ليدلو غوندې نه دي.

[۱] مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۴۶۱

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

يعني اى پيغمبره! د الله ﷻ د پلوه خلكو ته ابلاغ كړه چې:

۱_ اى خلكو! هغه اقدس ذات ته د تنزيه (پاكۍ) نسبت وكړئ او سبحان الله وواياست چې د خپلو خاصو بندګانو د جملې څخه په يوه ډېر خاص بنده (محمد ﷺ) باندې يې لوى فضل وكړ او په ټولو خاصو بندګانو يې امتياز وركړ چې:

الف: د شپې په يوه برخه كښې يې د مسجد حرام څخه مسجد اقصى ته په معجزانه توګه بوتله.

ب: هغه مبارك خايونه يې ور وښودل كوم چې د مادي او معنوي نعمتونو څخه ډك دي، چې هلته د پيغمبرانو عليهم‌السلام اكثريت دفن شوى دى او د ژوند ټول ضروريات پكښې موجوديت لري.

ج: دا د دې دپاره چې مونږ خپل اخص الاخصين بنده (محمد ﷺ) ته د خپلو قدرتي نښو نښانو څخه دومره اندازه ور ولېدى كړو څومره چې ورته د دعوت په ښه موثريت كښې ضرورت دى.

۲_ اى پيغمبره! خلكو ته ورسوه چې: يقيناً الله ﷻ په كامله توګه اورېدونكى او په كامله توګه ليدونكى (بينا) دى، نو د خلكو ټولې ويناوې اوري او اوضاع يې ګوري چې دوى د ذكر شوې پېښې په هكله څه وايي او څه وضعه خرګندوي.

۳_ يا په بل عبارت: مونږ خپل اخص الخواص بنده هغو مناطقو ته بوته د كومو په يوه برخه (د طور په غره) كښې چې مونږ موسى عليه‌السلام ته تورات وركړى وه او مناجات مو ورسره كړى وه، چې دا هم د هغو مناطقو د بركاتو څخه يو بركت ګڼل كېږي، او دا څكه چې تورات داسې كتاب وه چې د بني اسرائيلو دپاره هدايت كوونكى او لارښودونكى وه.

په دې كتاب كښې مونږ بني اسرائيلو ته توصيه كړې وه چې زما څخه پرته بل هيڅوك كارساز مه نيسئ، كارسازي زما خاصه ده.

مونږ هغوى مخاطب كړي وه چې: اى د هغو خلكو اولادونو كوم چې مونږ د نوح عليه‌السلام سره په بېړۍ كښې پورته كړي وه او د غرقېدلو څخه مو نجات وركړى وه، تاسو په خپل كتاب (تورات) باندې د الله ﷻ شكرګذاري وكړئ او د دواړو دارينو دپاره يې دستور العمل وګرځوئ، او دا څكه چې ستاسو نيكه (نوح عليه‌السلام) زمونږ شكرګذار بنده وه چې د همده د شكر ګذارۍ په وجه بېړۍ د غرقېدلو څخه بچه شوه، نو تاسو هم د خپل همدغه نيكه (نوح عليه‌السلام) په قدم باندې قدم كېږدئ او د خپل كتاب شكريه وكړئ.

## توضيحات

۱_ د ﴿سُبۡحَٰنَ﴾ په كلمه كښې څينو علماوو كرامو[1] ډېر اوږد بحث كړى دى او ډېره ښه يې تحليله كړې ده، مګر مونږ يې دلته فقط د لاندې نكاتو په ذكر باندې اكتفاء كوو:

(۱) روح المعاني ج۱۵ ص۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: دا کلمه اصلاً د سباحة څخه اخستلی شوې ده، سباحت په اوبو کښې او یا په هواء کښې تېز (ګړندي) حرکت ته ویل کېږي[۱] چې لرېوالی ورسره لازم دی.

ب: دا کلمه چې کله منصرفه استعماله شي نو د تسبیح دپاره اسم ګڼله کېږي، نو په دې تقدیر پکښې د غیر انصراف یو علت تحقق مومي چې د "غفران" غوندې څه اثر نه لري، او چې کله غیر منصرفه مستعمله شي نو د تسبیح دپاره علم ګڼله کېږي او د "عثمان" غوندې پکښې د غیر انصراف دوه علته تحقق مومي[۲]. چې یو عَلمیت دی او بل الف او نون دی.

ج: په هر تقدیر، په دې مقام کښې ذکره شوې کلمه د مقدر "أُسَبِّحُ" دپاره مصدر ده چې د معنی حاصل یې داسې راځېږي چې: زه هغه اقدس ذات ته د ټولو نواقصو څخه د لوېوالي او پاکۍ نسبت کوم چې خپل بنده (محمد ﷺ) ته یې ذکره شوې مرتبه ورپېرزو کړه، نو ای انسانانو! تاسو هم ورته د نواقصو څخه د لرېوالي او پاکۍ نسبت وکړئ.

## إسراء څه معنی؟

۲_ په ﴿ اَلَّذِىٓ أَسْرَىٰ بِعَبْدِهِۦ لَيْلًا ﴾ کښې د ﴿ أَسْرَىٰ ﴾ کلمه د "إِسْرَاء" څخه اشتقاقه شوې ده، په دې کلمه کښې همزه د تعدیت دپاره نه ده بلکې د خپل مجرد مصدر "سُرَى" _لکه "تُقَى"_ غوندې لازمه ده، چې د ﴿ بِعَبْدِهِۦ ﴾ د "ب" په توري باندې یې تعدیت موندلی دی[۳].

نو "إِسْرَاء" یا "سُرَى" د شپې تللو ته ویل کېږي چې د شپې ﴿ لَيْلًا ﴾ معنی پکښې پرته ده، مګر صراحت پرې ځکه وکړی شو ترڅو مونږ پوه شو چې ذکرې شوې رحلې (د شپې تګ) ټوله شپه نه وه اشغاله کړې بلکې د شپې په یوه برخه کښې یې صورت نیولی وه، او دا ځکه چې کله د "لَيْل، نَهَار" کلمې نکرې ذکرې شي نو په بعضیت باندې دلالت کوي[۴].

۳_ ټول علماء کرام متفق دي، حتی چې یو کس هم پکښې مخالف نشته، چې دلته د "عَبْد" څخه محمد ﷺ مراد دی[۵]. شاید چې په دې مقام کښې به د ده ﷺ څخه د "عَبْد" په کلمې باندې ځکه تعبیر کړی شوی وي ترڅو ټول مؤمنان په غوږ باندې ووهلی شي چې په ذکر شوي خارق العادة بېولو باندې محمد ﷺ د بندګۍ څخه نه اوچتېږي نو تاسو پام کوئ چې خپل پیغمبر ﷺ ته د الوهیت لقب ورنه کړئ، لکه څنګه چې نصاراوو عیسی ؑ ته دغه لقب ورکړی وه او خپل ځانونه یې د ګمراهۍ په کنده کښې وراچولي وه.

همدا مضمون عبد الرحمن مومند په خپل شعر کښې داسې ځای په ځای کړی چې:

---

(۱) مفردات الراغب ص۲۲۶
(۲) لسان العرب ج ص۴۷۱
(۳) مفردات الراغب ص۲۳۷ ؛ تفسیر القاسمي ج۱۰ ص۱۳۸
(۴) روح المعاني ج۱۵ ص۴
(۵) تفسیر الخازن ج۴ ص۳



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خدای یې مه ګڼه بې شکه چې بنده دی :: نور یې کل واړه صفات دي په رښتیا

## شپه د مناجات دپاره مناسبه ده

۴ـ شاید چې د ذکرې شوې رحلې دپاره به ځکه شپه غوره کړی شوې وي چې د راز او مناجات دپاره شپه ډېره مناسبه ده، نو د موسی ﷺ اولنی مناجات هم په شپه کښې صورت نیولی وه. د همدې کبله الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ إِنَّ لَكَ فِي ٱلنَّهَارِ سَبۡحًا طَوِيلاً ﴾ [المزمل: ۷] یعني ای پیغمبره! یقینًا تاته په ورځ کښې اوږده مشغولتیا ده، نو د عبادت دپاره د شپې ځینې برخې ځانګړې وګرځوه او د تهجد لمونځونه پکښې وکړه.

## إسراء او معراج څه فرق لري؟

۵ـ د "إِسْرَاء" د کلمې لغوي معنی خو وړاندې ذکره شوه، او په اصطلاح کښې د نبي کریم ﷺ ذکره شوې رحلې ته د "إِسْرَاء" نوم ایښودلی شوی دی، چې د شپې په یوه برخه کښې د الله ﷻ د پلوه د ویښتیا په حال کښې جسمًا او روحًا د المسجد الحرام څخه المسجد الاقصی ته بیولی شوی وه.

اما "مِعْرَاج" د "عُروج" څخه اشتقاق شوی دی چې د مخ پورته تللو (ختلو) څخه عبارت دی[1]، او په اصطلاح کښې د نبي کریم ﷺ د هغې رحلې نوم دی په کومه کښې چې د ذکرو شوو کیفیاتو سره سره د المسجد الاقصی څخه سدرة المنتهی ته د الله ﷻ د پلوه خېژولی شوی وه.

دا وې د ذکرو شوو کلمو خاصې-خاصې معناوې، که څه هم کله-کله د المسجد الحرام څخه نیولې د المسجد الاقصی په شمول آن د سدرة المنتهی پورې د ټولو کیفیاتو مجموعه د "إِسْرَاء" په نوم یادېږي او کله په همدې مجموعه باندې د معراج اطلاق کېږي چې دا اطلاق زیات مشهور دی.

## ګټور معلومات

۶ـ علماوو کرامو د إسراء او معراج په هکله زښت ډېر ګټور معلومات لیکلي دي او اوږده بحثونه یې پکښې کړي دي. لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: ځینو علماوو کرامو په همدې هکله مربوط احادیث راغونډ کړي دي[2].

ب: ځینو د همدې موضوع د راویانو نومونه شمېرلي دي[3].

ج: ځینو یې ذاتي امکان او وقوعي امکان شرحه کړی دی[4].

د: ځینو هغه شبهات جواب کړي دي کوم چې په همدې ارتباط د چا په ذهن کښې خطور کوي[5].

---

(١) مفردات الراغب ص٣٤١

(٢) تفسیر ابن کثیر ج٣ ص٢؛ الدر المنثور ج٥ ص٢٢٨؛ تفسیر الطبري ج١٥ ص٢؛ تفسیر البغوي ج٣ ص٩٢؛ تفسیر الخازن ج٤ ص٤

(٣) تفسیر القاسمي ج١٠ ص١٨٩

(٤) التفسیر الکبیر ج٢٠ ص١٤٧

(٥) تفسیر المراغي ج١٥ ص٦؛ تفسیر القاسمي ج١٠ ص١٩١

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



څرنګه چې دا کتاب (عزيز التفاسير) د اوږدو بحثونو حوصله نه لري نو د محترمو لوستونکو څخه هيله کېږي چې د ذکرو شوو او نورو اړوندو بحثونو دپاره هملته مراجعه وکړي، مونږ فقط د لاندې معلوماتو په ذکر باندې اکتفاء کوو او بس:

## د دې مبارکې پېښې نېټه

اول: که څه هم اختلاف پکښې شته خو مشهوره دا ده چې ذکرې شوې مبارکې پېښې د بعثت څخه وروسته په دولسم (۱۲) کال (د هجرت څخه يو کال وړاندې) د رجب د مياشتې په اوه ويشتمه (۲۷) شپه صورت نيولی دی[۱].

په همدغې يوه شپه کښې نبي کريم ﷺ د مکې معظمې څخه بيت المقدس ته او بيا له هغه ځايه سدرة المنتهى ته بوتلل شو، بيا په عين شپه کښې بېرته بيت المقدس ته راښکته او بيا په تياره کښې مکې معظمې ته ورسولی شو[۲].

لنډه دا چې په ﴿ أَسْرَىٰ بِعَبْدِهِۦ لَيْلًا ﴾ کښې د ﴿ لَيْلًا ﴾ کلمه په بعضيت باندې دلالت کوي[۳] چې ذکرې شوې رحلې د شپې په يوه برخه کښې صورت نيولی وه، مګر په دې باندې دلالت نه کوي چې ټوله ساتونه يې اشغال کړي وه، خو ذکره شوې رحله د دوهم ځل دپاره نه ده تکراره شوې[۴].

## دا مبارکه رحله په ويښه او جسماني توګه وه

دوهم: نبي کريم ﷺ په خوب کښې نه، او يوازې په روحاني توګه نه، بلکې په ويښه په جسماني توګه د مسجد حرام څخه مسجد اقصى ته او د مسجد اقصى څخه سدرة المنتهى ته بيولی شوی او بېرته راوستلی شوی دی. او دا ځکه چې:

الف: د "عَبْد" د کلمې اطلاق د روح او جسم (جسد) د دواړو په مجموعې باندې کېږي.

يا په بل عبارت: څرنګه چې الله ﷻ د نبي کريم ﷺ څخه په نورو ايتونو کښې د "عَبْد" په کلمې سره تعبير کړی دی او يوازې روح يې نه دی مراد کړی، لکه چې فرمايي: ﴿ وَأَنَّهُۥ لَمَّا قَامَ عَبْدُ ٱللَّهِ ﴾ [الجن:۱۹]، نو په کار دي چې دلته هم د ذکرې شوې کلمې څخه يوازې روح مراد نه کړی شي. نو که بالفرض ذکرې شوې رحلې يوازې په روح باندې او په خوب کښې صورت نيولی وی نو "بِرُوحِ عَبْدِهِ" کلمات به نازل شوي وي.

ب: همدارنګه د ﴿ أَسْرَىٰ ﴾ د کلمې څخه په ويښه باندې جسماني بيول په تبادر سره د سړي ذهن ته ورځي، او ترڅو پورې چې د متبادرې معنى د اراده کولو دپاره څه مانع نه وي موجود شوی نو په کار دي چې غير متبادرې معنى ته ترې انتقال ونه کړی شي.

---

(۱) تفسير القاسمي ج۱۰ ص۱۸۸ ؛ تفسير البغوي ج۳ ص۹۶
(۲) روح المعاني ج۱۵ ص۱۲
(۳) البحر المحيط ج۷ ص۹
(۴) تفسير ابن کثير ج۳ ص۲۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که بالفرض د دې ایت شریف ﴿ فَأَسْرِ بِعِبَادِي لَيْلاً ﴾ [الدخان: ٢٣] څخه څوک داسې معنی واخلي چې: ای موسی! د شپې په یوه برخه کښې زما بندګان په خوب کښې بوځه؛ نو د ځومره غټې خطا مرتکب به شي.

ج: که ذکره شوې رحله په ویښه او جسماني توګه نه وی متحققه شوې نو خلکو ته به خارق العاده نه وی ښکاره شوې او چا به ترې انکار نه وی کړی، ځکه چې په خوب کښې عادي خلک هم د هر لرې سفرونه کولی شي؛ حال دا چې کله نبي کریم ﷺ خپله دغه معجزانه رحله خلکو ته حکایت کړه نو ځینې خلک مرتد شوه او کفر ته ستانه شوه[1].

هو! دا څه لرې نه ده چې نبي کریم ﷺ ذکره شوې مبارکه رحله په خوب کښې هم لیدلې وي او بیا په عین واقعه باندې په ویښه سره هم سرلوړی شوی وي لکه چې د نبي کریم ﷺ د خوبونو په اړه بي بي عائشه رضي الله عنها وایي چې: «فَكَانَ لَا يَرَى رُؤْيَا إِلَّا جَاءَتْ مِثْلَ فَلَقِ الصُّبْحِ»[2] یعني د وحې په ابتداء کښې نبي کریم ﷺ وه چې هیڅ شی به یې په خوب کښې نه لیده مګر هغه به داسې رښتیا ګېده لکه سپین سبا.

## براق د کوم څاروي نوم دی؟

درېم: "براق" یو غیبي څاروی دی چې ابراهیم ﷺ به په همدغه څاروي باندې د شام څخه مکې معظمې ته سفرونه کول[3] البته په هغه وخت کښې چې هلته یې خپله بي بي (هاجره) او خپل زوی (اسماعیل ﷺ) د الله ﷻ په امر دېره کړي وه.

په همدغه څاروي باندې نبي کریم ﷺ هم د معراج معجزانه سیر کړی دی، لکه چې په یوه اوږده حدیث کښې فرمایي: «وَأُتِيتُ بِدَابَّةٍ أَبْيَضَ دُونَ الْبَغْلِ وَفَوْقَ الْحِمَارِ الْبُرَاقُ فَانْطَلَقْتُ»[4] یعني او ماته یو سپین څاروی راوستلی شو چې د قچر څخه وړوکی وه او د خره څخه غټ وه، چې د براق څخه عبارت وه، نو (په همدغه څاروي باندې سور شوم او د جبرائیل ﷺ سره) روان شوم.

## یوه عجیبه اشاره

څلورم: په کوم څاروي باندې چې نبي کریم ﷺ د معراج اوږده رحله ترسره کړې وه هغه یې په وړاندې حدیث شریف کښې د "براق" په نامه یاده کړه، چې اصلي توري (ب، ر، ق) یې د برق د کلمې سره سمون خوري، شاید چې په ذکر شوي نامه سره به مونږ په غوږ باندې وهل شوي یاسو چې دغه څاروي د برق په شان تېز رفتاری وه.

که څه هم زمونږ یقین دی چې د نوموړي څاروي د سرعت په اندازه یوازې الله ﷻ پوهېږي مګر

(١) تفسير الطبري ج١٥ ص٦؛ تفسير القرطبي ج١٠ ص٢٠٩
(٢) صحيح البخاري ج١ ص٢
(٣) الدر المنثور ج٥ ص٢٢٨
(٤) صحيح البخاري ج١ ص٤٥٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ ته څکه اشارة د برق سره تشبیه کړی شو چې د برق د سرعت څخه په زیات سرعت باندې مونږ علم نه لرو.

همدغه بې اندازې سرعت په یوه حدیث کښې نبي کریم ﷺ داسې انځور کړی دی چې: «أُتِيتُ بِدَابَّةٍ فَوْقَ الْحِمَارِ وَدُونَ الْبَغْلِ خَطْوُهَا عِنْدَ مُنْتَهَى طَرْفِهَا فَرَكِبْتُ وَمَعِي جِبْرِيلُ عليه السلام فَسِرْتُ»[1] یعني ماته داسې خاروی راوستلی شو چې د خره څخه غټ او د قچر څخه ووړکی وه، چې قدم یې د نظر په منتهی وه (چرته به یې چې نظر رسېده هملته به یې قدم هم رسېده)، نو زه وربانديې سور شوم حال دا چې جبرائیل عليه السلام راسره وه، نو روان شوم.

## د ټولو پیغمبرانو امامت

پنځم: په ذکره شوې رحله کښې چې کله نبي کریم ﷺ د سدرة المنتهى د دورې څخه راستون شو[2] نو په مسجد اقصى کښې یې ټولو پیغمبرانو او ورسره پرښتو ته د دوه رکعته لمانځه امامت وکړ[3]، ترڅو څرګنده شي چې همدی خیر الانبیاء او خیر الملائکه دی بلکې خیر المخلوقات دی.

همدغه امامت ته نبي کریم ﷺ اشاره کړې ده چې: «ثُمَّ دَخَلْتُ بَيْتَ الْمَقْدِسِ فَجُمِعَ لِيَ الْأَنْبِيَاءُ عليهم السلام فَقَدَّمَنِي جِبْرِيلُ حَتَّى أَمَمْتُهُمْ»[4] یعني بیا زه بیت المقدس ته ورننوتلم نو ټول پیغمبران عليهم السلام راته راټول کړی شول نو جبریل امین عليه السلام زه وړاندې کړم ترڅو چې دوی (ټولو) ته مې امامت وکړ.

همدې مضمون ته یوه پښتون شاعر عبدالرحمن مومند داسې اشاره کړې ده چې[5]:

چې همه واړه خوبان دي مقتديان دي :: د همه واړو امامه راشه راشه
پري رويه سنبل مويه ملک خويه :: عنبر بويه لاله قامه راشه راشه

## د یوه یهودي دیني مشر شهادت

شپږم: کوم اورېد سوال جواب چې محدثینو کرامو د ابو سفیان (چې لا د "رضي الله عنه" مستحق نه وه ګرځېدلی) او د هرقل ترمنځ روایت کړی دی[6] په هغه کښې ځینو علماوو کرامو د یوه یهودي دیني مشر شهادت هم حکایت کړی دی[7]، چې د هرقل په وړاندې یې شهادت ورکړ چې یوه شپه زمونږ په جومات (المسجد الاقصى) کښې یوه پیغمبر لمونځ کړی دی، او په همدې باره کښې یې ورته یوه اورېده قیصه تېره کړه چې پخپله همدغه دیني یهودي مشر په خپلو سترګو باندې لیدلې وه، که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي.

---

(١) سنن النسائي ج١ ص٧٧: صحيح مسلم ج١ ص٩١
(٢) تفسير ابن كثير ج٣ ص٢٣
(٣) روح المعاني ج١٥ ص١٢
(٤) سنن النسائي ج١ ص٧٨
(٥) د عبد الرحمن مومند ديوان ص١٥٥
(٦) صحيح البخاري ج١ ص٤
(٧) تفسير ابن كثير ج٣ ص٢٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ایا د معراج څخه انکار کفر دی؟

اوم: علماء کرام وايي[۱] چې د اسراء څخه انکار کول کفر دی ځکه چې په دغه ایت کښې چې اوس د بحث لاندې دی په صراحت سره ذکر دي او ټول مفسرین کرام وربانديې متفق دي چې هیڅوک پکښې مخالف نشته. اما د معراج څخه (چې په احادیثو باندې په اثبات رسېدلی دی) انکار کول کفر نه دی بلکې بدعت او فسق دی، که څه هم خینو مفسرینو کرامو د «النجم» د سورت اولني څو ایتونه په معراج باندې تفسیر کړي دي مګر اتفاق ورباندې نشته.

### اقصی څه معنی؟

۷ـ په ﴿ إِلَى ٱلْمَسْجِدِ ٱلْأَقْصَا ﴾ کښې د «أقصى» کلمه د «قَصَى» ـ لکه «رَضى» ـ څخه اشتقاق شوې ده چې د بعد او لرېوالي معنی ورکوي[۲]. کوم جومات چې سلیمان ﷵ په شام کښې اباد کړی دی هغه ځکه د اقصی په نامه باندې یاد شوی دی چې د مسجد حرام څخه ډېر لرې پروت دی، حتی چې د دواړو ترمنځ د څلوېښتو شپو مزل دی[۳]، مګر الله ﷻ خپل پیغمبر ﷺ ته دومره اسان کړ چې د شپې په لږه برخه کښې یې هلته ورساوه.

### سوال جواب

۸ـ که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت وه چې الله ﷻ خپل پیغمبر ﷺ ته د معراج رحله وربېرزو کړه خو دغه رحله یې د المسجد الحرام څخه مستقیمًا د سدرة المنتهى په لور پیل نه کړه بلکې د المسجد الاقصى دوره یې هم ورکړه؟

مونږ وايو چې: د ذکر شوي سوال جواب ته الله ﷻ د ﴿ لِنُرِيَهُۥ مِنْ ءَايَٰتِنَآ ﴾ په کلماتو سره د اشارې په توګه جواب ورکړی دی، چې څه ناڅه شرحه یې لاندې لوستلی شئ:

الف: ترڅو نبي کریم ﷺ ته هغه څه په سترګو باندې ورولیده کړي کومو ته چې دعوت چلوي، ترڅو د یو پلوه بنه اغېزمن واقع شي او د بله پلوه د نبي کریم ﷺ د شریعت او د فلاسفه وو د نظریاتو تفرقه په واضحه توګه خلکو ته څرګنده شي، چې د پیغمبرانو شریعتونه حقایق دي او د فلاسفه وو نظریات محض خیالات او فکریات دي، یا به حقیقت ولري او یا نه.

ب: ترڅو اهل الکتاب په غوږ ووهل شي چې د نبي کریم ﷺ نبوت عربو پورې اختصاص نه لري بلکې عربو او عجمو ټولو ته شامل دی، چې د دواړو قبلو (کعبې، بیت المقدس) امام دی، او په نن سبا کښې به یې د نبوت د ډیوې رڼا ټولې دنیا ته ورسېږي.

ج: ترڅو د خپل نبوت د اثبات دپاره مشرکانو ته هغه معجزات وړاندې کړي چې پخپله دوی ترې انکار ونه شي کړی، هغه دا چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لَمَّا كَذَّبَنِي قُرَيْشٌ قُمْتُ فِي الْحِجْرِ

---

(۱) التفسیرات الاحمدیه ص۵۰۳؛ روح المعاني ج۱۵ ص۱۳
(۲) مفردات الراغب ص۴۲۰
(۳) تفسیر الکشاف ج۲ ص۶۴۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



فَجَلَى اللهُ لِي بَيْتَ الْمَقْدِسِ فَطَفِقْتُ أُخْبِرُهُمْ عَنْ آيَاتِهِ وَأَنَا أَنْظُرُ إِلَيْهِ»[۱] يعني کله چې زه د معراج څخه بېرته راستون شوم او پخپله معجزانه رحله باندې مې مشرکان خبر کړه نو هغوی زما رحله دروغ وګڼله چې که ته رښتیا بیت المقدس ته تللی وې نو مونږ ته یې نښې او علامات بیان کړه، خو زه ډېر خفه شوم چې ځینې علامات یې زما څخه هېر شوي وه، الا په حجر (حطیم) کښې غمګین ودرېدم نو الله ﷺ راته بیت المقدس راښکاره کړ او په ټولو نښو باندې مې هغوی ته په داسې حال کښې خبر ورکړ چې ما ورته کاته او په سترګو باندې مې لیده.

ځینو مفسرینو کرامو[۲] د ذکر شوي حدیث شریف تفصیلات روایت کړي دي چې خلاصه یې په لاندې سوال جواب کښې لوستلی شئ:

قریش: زمونږ قافله شام ته تللي ده، هغه دې ولیده او که څنګه؟

نبي کریم ﷺ: هو، فلاني خیلو یو اوښ ورک کړی وه او په لټونه باندې یې بوخت وه، همدارنګه هلته یوه پیاله ایښې وه چې اوبه یې ما وڅښکلې، نو چې کله راغله تاسو ترې پوښتنه وکړئ چې: ایا اوښ ترې نه وه ورک شوی؟ ایا دوی په خپله پیاله کښې اوبه موندې کړې؟

قریش: دا یوه نښه.

نبي کریم ﷺ: د فلاني خیلو په کاروان باندې تېرېدم چې فلانی او فلانی په یوه اوښ باندې سواره وه چې اوښ یې زما څخه تور وخوړ نو فلانی یې وغورزاوه او لاس یې مات شو، چې کله راغله پوښتنه ترې وکړئ.

قریش: دا دوهمه نښه، خو زمونږ قافله به کله راشي؟

نبي کریم ﷺ: ستاسو قافله به په فلانی ورځ د لمر څرک سره سمه راورسېږي، چې ایرو رنګی نر اوښ به د کاروان په سر کښې را روان وي او دوه ګنډلي جوالونه به وربانديې بار وي.

قریش: دا درېیمه نښه.

نو کله چې د قافلې د راتګ ټاکلې شوې ورځ را ورسېدله نو په ډېره ځغاسته ټول قریش په لاره کښې کېناستل چې د نبي کریم ﷺ د خبرې رښتیا او دروغ معلوم کړي، دوی په همدې انتظار کښې وه چې یوه نفر غږ وکړ چې هاغه دی لمر راوخوت او بل غږ وکړ چې دغه ده قافله راښکاره شوه چې ایرو رنګی اوښ یې په اول سر کښې راروان دی،

نو دوی ته په اثبات ورسېده چې نبي کریم ﷺ رښتیا ویلي وه مګر د دې سره-سره په ایمان مشرف نه شوه چې دا جادوګر دی.

﴿وَقَضَيْنَآ إِلَىٰ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ فِى ٱلْكِتَـٰبِ لَتُفْسِدُنَّ فِى ٱلْأَرْضِ مَرَّتَيْنِ وَلَتَعْلُنَّ عُلُوًّا كَبِيرًا ﴿٤﴾ فَإِذَا جَآءَ وَعْدُ أُولَىٰهُمَا بَعَثْنَا عَلَيْكُمْ عِبَادًا لَّنَآ أُو۟لِى بَأْسٍ شَدِيدٍ فَجَاسُوا۟ خِلَـٰلَ

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۶۸۴؛ جامع الترمذي ج۲ ص۱۴۵

(۲) تفسیر البغوي ج۳ ص۹۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ٱلدِّيَارِ ۚ وَكَانَ وَعْدًا مَّفْعُولًا ۝۵ ثُمَّ رَدَدْنَا لَكُمُ ٱلْكَرَّةَ عَلَيْهِمْ وَأَمْدَدْنَٰكُم بِأَمْوَٰلٍ
وَبَنِينَ وَجَعَلْنَٰكُمْ أَكْثَرَ نَفِيرًا ۝۶ إِنْ أَحْسَنتُمْ أَحْسَنتُمْ لِأَنفُسِكُمْ ۖ وَإِنْ أَسَأْتُمْ فَلَهَا ۚ
فَإِذَا جَآءَ وَعْدُ ٱلْـَٔاخِرَةِ لِيَسُـࣳٔوا۟ وُجُوهَكُمْ وَلِيَدْخُلُوا۟ ٱلْمَسْجِدَ كَمَا دَخَلُوهُ أَوَّلَ مَرَّةٍ
وَلِيُتَبِّرُوا۟ مَا عَلَوْا۟ تَتْبِيرًا ۝۷ عَسَىٰ رَبُّكُمْ أَن يَرْحَمَكُمْ ۚ وَإِنْ عُدتُّمْ عُدْنَا ۘ وَجَعَلْنَا جَهَنَّمَ
لِلْكَٰفِرِينَ حَصِيرًا ۝۸ إِنَّ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانَ يَهْدِى لِلَّتِى هِىَ أَقْوَمُ وَيُبَشِّرُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ٱلَّذِينَ
يَعْمَلُونَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا كَبِيرًا ۝۹ وَأَنَّ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْـَٔاخِرَةِ أَعْتَدْنَا لَهُمْ
عَذَابًا أَلِيمًا ۝۱۰ ﴾

[۴] او مونږ بني اسرائيلو ته په تورات کښې کلکه فيصله ورکړې (وحې کړې) وه چې ضرور هرومرو به تاسو په ځمکه کښې دوه ځله فساد وکړئ او ضرور هرومرو به (پکښې دوه ځله) سرکشي وکړئ لويه سرکشي.

[۵] نو کله چې د دواړو ځلو ړومبی ځل وعده راغله (لومړی ځل فساد) نو مونږ په تاسو باندې داسې بندګان مسلط کړه چې د کلک جنګ خاوندان وه، نو (ستاسو) د کورونو په منځکښې وګرځېدل (ورننوتل او مسجد اقصی يې هم خراب کړ)، او دا (کار) کړی شوې وعده وه (ضرور واقع کېدونکې وه).

[۶] بيا مونږ تاسو ته په هغوی باندې قوت (غلبه) بېرته درتاوه کړه او تاسو ته مو په مالونو او زامنو سره امداد درکړ او تاسو مو د نفرو (لښکرو) د حيثه زيات وګرځولئ.

[۷] (او تاسو ته مو وويلې چې) که تاسو نېکي وکړئ نو د خپلو ځانونو دپاره به نېکي وکړئ، او که تاسو بدي وکړئ نو د (خپلو) ځانونو دپاره (به بدي وکړئ).

نو کله چې د آخرنۍ (بلې) وعدې وخت راغی (راورسېد نو په تاسو باندې مو بيا د کلک جنګ درلودونکي بندګان) د دې دپاره (مسلط کړه) چې ستاسو مخونه بد (غمژن تک تور) کړي او د دې دپاره چې (د اقصی) جومات ته داسې (په فساد سره) ورننوځي لکه چې په لومړني نوبت کښې (په فساد سره) ورننوتلی وه، او (بالآخره) د دې دپاره چې دوی هغه شی هلاک (خراب) کړي په کوم باندې چې ورپورته (بريالی) شي، هلاکول (خرابول).

[۸] ستاسو رب ﷻ اميد کوي (اميد ورته وکړئ) چې په تاسو باندې رحم وکړي (او بيا قوت درکړي) او که تاسو بېرته (فسادونو ته) وګرځئ نو مونږ به هم (سزا درکولو ته) درتاو شو. او مونږ د کفارو دپاره دوزخ بنديخانه ګرځولی دی (چې نجات ترې نه شي موندلی).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۹] يقيناً دغه قرآن کريم هغې لارې ته هدايت کوي کومه چې ډېره سمه ده او (هم دا قرآن کريم) مؤمنانو ته زيری ورکوي کوم چې نېک عملونه کوي (داسې زيری چې) يقيناً دوی لره (د الله ﷻ په نزد) لوی اجر دی.

[۱۰] او (دا چې) يقيناً هغه کسان چې دی کوم چې په آخرت باندې ايمان نه راوړي، مونږ د دوی دپاره دردناک عذاب تيار کړی دی.

## ارتباط

د وړاندېنيو ايتونو په مضامينو کښې دا مضمون هم شامل وه چې بني اسرائيلو ته توصيه شوې وه چې د تورات په هداياتو عمل وکړئ او د زړه له کومې يې قبول کړئ مګر هغوی ورته اعتناء ونه کړه او د پښو لاندې يې کړه. په دې ايتونو کښې د هغوی د سرغړونو او د تورات څخه د مخالفتونو څه مثالونو ته اشاره شوې ده، چې حاصل يې داسې راځي:

## د مطلب خلاصه

ای پيغمبره! په خپل امت باندې د بني اسرائيلو څه پخواني تاريخي حالات قرائت کړه ترڅو ترې د قيامت د ورځې پورې ټول خلک عموماً عبرت واخلي او د قرآن کريم هدايات شاته وانچوي، او ترڅو خاصتاً اهل الکتاب (يهود) راوبېښ شي او د قرآن کريم د هداياتو مطابق عقيده او عمل وکړي چې دا خل بيا د عذاب د نزول سره مخامخ نه شي، هغه دا چې:

۱ـ مونږ بني اسرائيلو ته په خارق العاده توګه په تورات کښې د يوه فيصله شوي شي خبر ورکړی وه، چې تاسو به دوه ځلې په ځمکه کښې لوی فساد وکړئ او د تورات هدايات به په ډېر تکبر او سرکشۍ سره د پښو لاندې کړئ، خو په دواړو وارونو کښې به مونږ په تاسو باندې خپل عذاب درنازل کړو او په دنيا کښې به درڅخه انتقام واخلو، مونږ ته واقعي معلومات دي چې تاسو به دغه مخالفتونه وکړئ.

## د بني اسرائيلو لومړنی فساد

۲ـ کله چې د ذکرو شوو دواړو فسادونو څخه د لومړني فساد وخت ورسېد نو لکه څنګه چې مونږ پخوا خبر ورکړی وه د همغه خبر مطابق دوی په لوی فساد باندې پيل وکړه، چې د تورات هدايات او لارښوونې يې د پښو لاندې کړې او حتی د پيغمبرانو په وژنه باندې يې صرفه ونه کړه. نو ای پيغمبره! زمونږ د پلوه بني اسرائيل مخاطب کړه چې: د دغه فساد د مخنيوي دپاره مونږ په تاسو باندې داسې بندګان مسلط کړه چې د کلک جنګ خاوندان وه او تاسو ونه شو کړی چې مقاومت ورسره وکړئ او په مقابل کښې يې ودرېږئ، نو د همدې کبله هغوی په تاسو باندې برلاسي شوه او ډېره بده ورځ يې درباندې جوړه کړه، چې ستاسو کورونو ته ننواته او ستاسو ټول سامان آلات يې چور کړه او د غټ مرګ او ژوبلې څخه علاوه يې تاسو ډېر اسيران وګرځولې او د وينځو او غلامانو په توګه يې په لښکر باندې توزيع کړئ.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دې باندې علاوه ذکر شوي جنګيالان مسجد اقصی ته هم داخل شوه او هلته يې هم په تخريب باندې صرفه ونه کړه. يا په بل عبارت: ستاسو د فساد د کبله ستاسو عبادتځای هم روغ پاتې نه شو. او دا ځکه داسې وشوه چې د دې عذاب نازلېدل کړی شوی کار وه او څه بدلون پکښې صورت نه شو نيولی.

۳ــ بيا څه موده وروسته مونږ بيا تاسو ته قوت درکړ، پخوانی برم (قوت) ته مو بېرته ورتاو کړئ او په دښمنانو باندې مو غلبه درکړه چې:

الف: زيات مالونه مو درپېرزو کړه، احتياجات مو په ښه توګه درپوره کړه.

ب: اولادونه او زامن مو ښه پريمانه در وبښل چې د پخوانيو وژلو شوو او اسيرانو شوو کمبود يې پوره کړ.

ج: بلکې لا د هغوی څخه اضافه شوه او ښه تکړه لښکر ترې جوړ شو، نو په دې باندې علاوه پخواني دښمنان مو درته په ګونډو کړل بلکې په دنيا کښې داسې خلکو موجوديت نه درلود چې په تاسو باندې تعرض ته زړه ښه کړي.

۴ــ مونږ تاسو ته ارشاد کړی وه چې که تاسو ښه کوئ نو هغه ستاسو د ځپلو ځانونو دپاره دي چې زمونږ له عذابه پرې بچ کېږئ، او که تاسو بد وکړئ او فسق فجور ته لاس واچوئ او هم د پخواني وار په څېر بيا پيغمبر ووژنئ او جناياتو ته لاسونه اوږده کړئ نو دا کار به همدا ستاسو په ضرر تمام شي او بيا به زمونږ د عذاب سره مخامخ شئ. نو تاسو ته په کار دي چې د اولني تعذيب څخه عبرت واخلئ او جنايات بيا تکرار نه کړئ.

## د بني اسرائيلو دوهم فساد

۵ــ مګر هغوی د خپل پخواني تاريخ څخه عبرت وانخست نو دوهم ځل يې بيا پخوانيو جناياتو ته لاسونه واچول او زمونږ احسانات يې هېر کړه (شکريه يې ونه کړه)، البته دا هغه وخت وه چې د دوی د دوهم فساد نوبت رارسېدلی وه، نو لاندې کيفيت پېښ شو:

الف: مونږ دا ځل هم په تاسو باندې ښه قوي جنګيالان درمسلط کړه، تاسو مو د داسې حوادثو سره مخامخ کړئ چې د ډېر غم او غُصې څخه مو مخونه تک تور واوښتل چې هرچا پکښې په ډېره اسانۍ سره ستاسو پرېشاني او ذلت حس کولی شو. يا په بل عبارت: دا ځل هم د لومړني ځل په شان ستاسو ډېر کسان ووژل شوه او ډېر بنديان او اسيران د لښکريانو ترمنځ توزيع کړی شوه.

ب: دا ځل هم ستاسو کورونو ته درننوتل او په چور چپاو باندې يې صرفه ونه کړه، حتی چې دا ځل هم برسېره د کورونو په چورکولو باندې ستاسو جومات (المسجد الاقصی) ته د اولني ځل په شان ورننوتل، او چا چې هلته پنا وروړې وه د هغوی په وينو باندې يې جومات رنګ کړ او ستاسو په عبادتګاه کښې يې وينې وبهولې.

ج: دا ځل هم ستاسو دښمنانو هيڅ شی روغ پرېنښود او په هر شي باندې يې چې لاس بر شو هغه

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يې د خاورو سره برابر کړه او د هغه بنياد يې وويست، نه يې د ابادۍ په ورانولو باندې صرفه وکړه او نه د سوزولو څخه صرف نظر شوه.

د: مونږ تاسو ته په همدغه وخت کښې هم توصيه کړې وه چې د خپل رب ﷻ د رحمت او مهربانۍ څخه مه نااُميده کېږئ، او تمه ورته وکړئ چې بيا تاسو ته پخوانی ضائع شوی قوت بېرته درکړي او په دښمنانو باندې مو غالب وګرځوي، خو په ياد ولرئ چې:

هـ: که تاسو بيا جناياتو ته لاس واچاوه او بېرته خپلو خطاکاريو ته ورتاو شوئ نو ضرور به مونږ په تاسو باندې د عذاب درنازلولو ته ورتاو شو او د تېرو شوو وارونو په څېر به درباندې بيا ښه قوي دښمنان مسلط کړو، چې بيا مو تار په تار کړي او ورخ مو بده کړي.

و: مونږ تاسو ته ويلي وه چې: ذکر شوي تعذيبونه صرف د دنيا عذابونه دي چې تاسو به ورسره د عصيان په صورت کښې مخامخ شئ، اما د اُخروي عذاب څخه ورباندې نجات نه شئ موندلی بلکې دوزخ خو مونږ د ټولو کافرانو دپاره بنديخانه ګرځولی دی، چې ټول جنايتکاران به هلته ور واچولی شي که څه هم تاسو ياست.

## دا قرآن کريم ډېر ښه لارښود دی

۶_ ای پيغمبره! د وړاندېنيو عبرتي ارشاداتو څخه وروسته اوس په عربو او عجمو او هم په اهل الکتابو باندې لاندې نکات قرائت کړه چې:

الف: نن ورخ دا قرآن کريم د ټولې دنيا لارښود دی او د تورات د هداياتو څخه بهتر هدايات او ارشادات پکښې شامل دي، بلکې دا د هغه ناسخ دی.

ب: دا قرآن ټولو هغو مؤمنانو ته په لوی اجر سره زيری ورکوي کومو چې د ايمان سره نېک عملونه هم ملګري کړي وي، او په رښتيانيو معناوو کښې يې د خپل ژوند دستور العمل ګرځولی وي، نو دغسې کسانو ته په دنيا او آخرت کښې خوشالي ده.

ج: ای پيغمبره! زمونږ د پلوه خلکو ته ورسوه چې بالمقابل دا قرآن کريم هغو خلکو ته خبر ورکوي کوم چې په آخرت باندې عقيده نه لري او باور پرې نه کوي چې: مونږ ورته په دنيا او آخرت (دواړو) کښې دردناک عذاب تيار کړی دی. يا په بل عبارت: څوک چې د قرآن کريم ارشاداتو ته اعتناء (پاملرنه) ونه کړي نو د بني اسرائيلو په شان به په دنيا کښې د سخت ذلت سره مخامخ او په آخرت کښې به د دوزخ بنديخانې ته ور وغورزولی شي.

## توضيحات

۱_ مونږ د دې سورت په سريزه کښې ليکلي دي چې دا سورت د بعثت په دولسم کال نازل شوی دی، چې د مشرکانو په دعوت باندې دولس کاله تېر شوي وه او د اهل الکتابو مستقيم دعوت د الله ﷻ په علم کښې يو کال وروسته پيل کېدونکی وه، چې نبي کريم ﷺ مدينې منورې ته هجرت وکړي او هلته د هغوی دعوت مستقيماً پيل کړي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو د ذکرو شوو ايتونو په نزول سره مشرکان اشارةً په غوږ باندې وهلی شوي دي چې ستاسو د ذلت او هلاکت وخت رانږدې شوی دی او فسادات مو اوج ته رسېدلي دي، لږ وخت وروسته به تاسو د بني اسرائيلو غوندې د قوت څخه وغورزولی شئ او زور به مو مات شي.

او اهل الکتاب هم د ارشارې په توګه پوه کړی شوي دي او اخطار ورکړی شوی دی چې نن سبا تاسو هم د مستقيم دعوت سره مخامخ کېدونکي ياست، نو که غاړه مو ورته کېښودله، د دنيا او آخرت سرلوړي به حاصله کړئ، او که د خپلو پخوانيو اسلافو غوندې مو خپل فساد ته ادامه ورکړه نو يو ځل بيا به د ذلت سره مخامخ شئ او ښه ورځ به ونه ګورئ.

## ذکرې شوې دواړه اشارې رښتيا شوې

۲ـ الله ﷻ په ذکرو شوو ايتونو کښې خپلې دواړه اشارې رښتيا کړې چې يو کال وروسته نبي کريم ﷺ مدينې منورې ته هجرت وکړ او هلته د قوت خاوند شو چې په نتيجه کښې مکه معظمه فتحه شوه او مشرکان د ډېر ذلت سره مخامخ شوه. همدارنګه په مدينه منوره کښې يهودانو (اهل الکتاب) خپلو فساداتو ته ادامه ورکړه او اسلامي دعوت يې قبول نه کړ چې په نتيجه کښې بني قريظه پوپنا کړی شوه او بني نضير او بني قينقاع د مدينې منورې څخه وشړل شوه، والحمد لله علی ذلک.

## "الکتاب" يعنې تورات

۳ـ په ﴿ وَقَضَيۡنَآ إِلَىٰ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ فِي ٱلۡكِتَٰبِ ﴾ کښې ځينو علماوو کرامو د "کتاب" څخه لوح محفوظ مراد کړی دی او د "إلی" توری يې د "علی" په معنی اخستی دی[1] يعنې مونږ په لوح محفوظ کښې په بني اسرائيلو باندې دا فيصله کړې وه چې دوی به د دوه وو فسادونو مرتکب کېږي.

مګر مونږ ته بهتره برېښي چې کتاب د تورات څخه عبارت شي او د ﴿ قَضَيۡنَآ ﴾ کلمه د "أَوۡحَيۡنَآ" معنی ته متضمنه شي چې په همدغه اعتبار سره به ورپورې د "إلی" توری تعلق ونيسي[2]، نو د معنی حاصل به يې داسې راوخېژي چې: مونږ په تورات کښې بني اسرائيلو ته د موسی ﷺ په ذريعه وحې کړې وه او قطعي فيصله مو ورته اورولې وه چې تاسو به په راتلونکي کښې دوه ځله د خپل کتاب ارشادات په فاحشه توګه د پښو لاندې کړئ. البته هغه کتاب چې مونږ ستاسو دپاره هدايت کوونکی (لارښودونکی) ګرځولی دی.

## د بني اسرائيلو تواريخ

۴ـ په بني اسرائيلو باندې د تاريخ په اوږدو کښې زښت ډېر مختلف حالات ورغلي دي، څو کرته د خپلې بې دينۍ د کبله د ذلت سره مخامخ شوي دي چې په مالونو باندې يې چورچپاو ګډ شوی دی او دوی پخپله اسيران او غلامان ګرځولی شوي دي. که څوک غواړي چې د بني اسرائيلو

(۱) تفسير القرطبي ج۱۰ ص۲۱۴؛ تفسير المظهري ج۵ ص۴۰۴
(۲) البحر المحيط ج۷ ص۱۲؛ تفسير ابي السعود ج۵ ص۱۵۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مفصل تاريخ ولولي نو ځينو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[۱]، موږ فقط د لاندې معلوماتو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

الف: د يوسف ﷺ د زمانې څخه نيولې آن د سليمان ﷺ د زمانې پورې تقريبًا نهه سوه (۹۰۰) کاله بني اسرائيلو لږ څه د عزت ژوند کړی دی[۲].

ب: کله چې سليمان ﷺ وفات شو او په ځای يې زوی پاچا شو نو په مملکت کښې بې اتفاقي او اختلافات پيل شوه، او پوره واضحه ده چې د اختلافونو د موجوديت سره عزت او وقار نه پاتې کېږي، نو په بني اسرائيلو باندې هم بده ورځ او د بې حرمتۍ حالت ورغی چې کله به د يوه دښمن د لاسه تالا ترغه شوه او کله به بل دښمن تالا والا کړه (د بې عزتۍ او اهانت سره به يې مخامخ کړه).

ج: په ذکر شوو ايتونو کښې د بني اسرائيلو د دوه ځله توهين ذکر شوی دی مګر په دې باندې صراحت نه دی شوی چې اول ځل توهين د چا د پلوه وه او په دوهم ځل توهين باندې يې کومو دښمنانو پيل کړی وه، او نه په دغه ډول صراحتونو کښې څه ګټه او فائده شته، که بالفرض فائده او ګټه پکښې نغښتې وی نو په هر ځل کښې به د يرغلګرانو نومونه هم اخستل شوي وی، دا ځکه چې قرآن کريم په تاريخي پېښو کښې صرف د فائدو ټکي ذکر کوي او بس.

د: نو د دې کبله چې په دواړو ځايونو کښې د يرغلګرو په نومونو باندې صراحت نه دی شوی او په بني اسرائيلو باندې ګڼ ځلې بدې ورځې ورغلې دي مفسرين کرام هم د ﴿ عِبَادًا لَّنَآ أُوْلِى بَأْسٍ شَدِيدٍ ﴾ په تفسير کښې اختلاف لري. لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

اول: په لومړي ځل کښې ورباندې بخت نصر البابلي ګمارلی شوی وه[۳] او په دوهم ځل ورباندې فارسيان مسلط کړی شوي وه[۴].

دوهم: په لومړي ځل کښې د سنجاريب البابلي د پلوه تالاترغه شوي وه[۵] او په دوهم ځل ورباندې روميانو چپاو وروړی وه[۶] او داسې نور.

ه: د ذکرو شوو دواړو وارونو توهيناتو څخه پرته د توهيناتو نورو وارونو ته الله ﷻ د ﴿ وَإِنْ عُدتُّمْ عُدْنَا ﴾ په کلماتو باندې اشاره کړې ده. يا په بل عبارت: الله ﷻ بني اسرائيلو ته د هغوی د جناياتو او پيغمبر وژنې په مقابل کښې عمومي قاعده ورنازله کړې وه، هغه دا چې که تاسو جنايتونو ته ورګرځئ نو موږ به ستاسو سرزنش او توهين ته وګرځو.

د همدغې عمومي قاعدې په بنياد په مدينه منوره کښې هم هلته د نبي کريم ﷺ د هجرت څخه

---

(۱) تفسير البغوي ج۳ ص۹۷؛ تفسير الخازن ج۴ ص۱۶
(۲) تفسير القاسمي ج۱۰ ص۲۰۵
(۳) تفسير المظهري ج۵ ص۴۰۴
(۴) زاد المسير ج۵ ص۹
(۵) روح المعاني ج۱۵ ص۱۷
(۶) تفسير المراغي ج۱۵ ص۱۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وروسته د توهين سره مخامخ شوه چې الله ﷻ ورباندې دا خل مسلمانان مسلط کړه، لکه چې وړاندې په دوهمه توضيح کښې ورته اشاره شوې ده.

و: څه لرې نه ده چې ذکره شوې قاعده په راتلونکې کښې هم په بني اسرائيلو باندې د جناياتو په تجدد سره بيا بيا تطبيق شي، لکه چې نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «تُقَاتِلُكُمُ الْيَهُودُ فَتُسَلَّطُونَ عَلَيْهِمْ حَتَّى يَقُولَ الْحَجَرُ يَا مُسْلِمُ هَذَا الْيَهُودِيُّ وَرَائِي فَاقْتُلْهُ»[١] يعنې اى مسلمانانو! ستاسو سره به يهودان (بني اسرائيل) جنګ وکړي خو تاسو به ورباندې د الله ﷻ د پلوه مسلط کړى شئ، حتى چې کاڼي به هم تاسو ته نارې وهي چې: اى مسلمانه! دغه دى زما شاته يهودي پټ دى راشه قتل يې کړه.

## کَرَّة څه معنى؟

٥ـ په ﴿ ثُمَّ رَدَدْنَا لَكُمُ ٱلْكَرَّةَ عَلَيْهِمْ ﴾ کښې مفسرينو کرامو د "کَرَّة" کلمه په دولت او غلبې سره تفسيره کړې ده[٢]، زمونږ په فکر دغه تفسير به هغوى خکه خوښ کړى وي چې د ذکرې شوې کلمې د ډېرو معناوو څخه يوه معنى د قوي پړې معنى ده[٣] او واضحه ده چې د قوي پړې سره قوت او غلبه لازمه ده. نو حاصل به يې داسې راځېږي چې: بيا مونږ تاسو ته قوت او دولت درکړ او په دښمنانو باندې مو غالب او بريالي وګرځولئ خو تاسو بيا فسق او فجور ته لاس واچاوه.

## سوال جواب

٦ـ که څوک وايي چې: په ﴿ وَإِنْ أَسَأْتُمْ فَلَهَا ﴾ کښې د "ل" توری د ګټې دپاره استعمالېږي لکه چې لږ وړاندې په ﴿ لِأَنفُسِكُمْ ﴾ کښې د همدې مطلب دپاره استعمال شوى دى؛ نو پوښتنه دا ده چې د څه حکمت په بنياد د ﴿ فَلَهَا ﴾ په عوض "فَعَلَيْهَا" نازل نه شو، چې حاصل به يې داسې راوتلى وى چې که تاسو بدي وکړئ نو همدا ستاسو په نفسونو باندې به بار شي؟

مونږ وايو چې. مفسرينو کرامو د "ل" توری د "على" د توري[٤] په معنى اخستى دى مګر بهتره دا ده چې دا توری په خپله معنى باندې پرېښول شي، ترڅو اشاره وکړى شي چې ظالمان په ظلم کښې دومره زيار وباسي ته به وايې چې ظلم يې په ګټه باندې دى. نو د معنى حاصل به يې داسې راوځېږي چې که تاسو بدي وکړئ نو دغه بدي ستاسو د خپلو ځانونو دپاره ده، لکه چې الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ هَٰذَا مَا كَنَزْتُمْ لِأَنفُسِكُمْ ﴾ [التوبة: ٣٥] يعنې د قيامت په ورځ به زکات خواره پيسه داران په خپلو پيسو باندې داغل کېږي او ورته به ويل کېږي چې دا هغه شى دى کوم چې تاسو د خپلو ځانونو دپاره زخيره کړى وه.

---

(١) جامع الترمذي ج٢ ص٤٧
(٢) تفسير ابي السعود ج٥ ص١٥٧
(٣) مفردات الراغب ص٤٤٥
(٤) البحر المحيط ج٧ ص١٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یادونه

۷_ د ﴿ لِيَسُـُٔوا۟ وُجُوهَكُمْ ﴾ کلماتو سره دغه عبارت "بَعَثْنَا عَلَيْكُمْ عِبَادًا لَّنَا أُولِي بَأْسٍ شَدِيدٍ" مقدر دی چې په ﴿ لِيَسُـُٔوا۟ ﴾ کښې د "ل" توری ورپورې تعلق نیسي. نو د معنی حاصل یې داسې راوځي: چې کله د ذکرو شوو دوه وو وعدو څخه د وروستنی وعدې وخت راورسېد نو په تاسو باندې مو د دوهم ځل دپاره خپل داسې بندګان (مخلوقات) درمسلط کړه چې د کلک جنګ خاوندان وه، نو دا ځل هم د المسجد الاقصی په شمول ستاسو په کورونو کښې وګرځېده راوګرځېده او تاسو ټول یې تالا والا کړئ. ذکرې شوې مقدرې کلمې د وړاندېنې پنځم ایت څخه څرګندېږي.

## حصیر څه معنی؟

۸_ په ﴿ وَجَعَلْنَا جَهَنَّمَ لِلْكَٰفِرِينَ حَصِيرًا ﴾ کښې د "حَصِير" کلمه د "حَصَرَ" _لکه "ضَرَبَ"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې د تنګوالي معنی ورکوي(۱)، مګر عبدالله بن عباس رضي الله عنهما په بندیخانې باندې تفسیره کړې ده(۲) چې د هره طرفه محاصره وي او هیڅوک ترې وتلو ته نه پرېښودل کېږي، یعنې مونږ په آخرت کښې د کفارو دپاره دوزخ بندیخانه ګرځولی دی چې په هیڅ صورت کښې به ترې بهر وتل مونده نه کړی شي.

﴿وَيَدْعُ ٱلْإِنسَٰنُ بِٱلشَّرِّ دُعَآءَهُۥ بِٱلْخَيْرِ ۖ وَكَانَ ٱلْإِنسَٰنُ عَجُولًا (۱۱) وَجَعَلْنَا ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ
ءَايَتَيْنِ ۖ فَمَحَوْنَآ ءَايَةَ ٱلَّيْلِ وَجَعَلْنَآ ءَايَةَ ٱلنَّهَارِ مُبْصِرَةً لِّتَبْتَغُوا۟ فَضْلًا مِّن رَّبِّكُمْ
وَلِتَعْلَمُوا۟ عَدَدَ ٱلسِّنِينَ وَٱلْحِسَابَ ۚ وَكُلَّ شَىْءٍ فَصَّلْنَٰهُ تَفْصِيلًا (۱۲) وَكُلَّ إِنسَٰنٍ
أَلْزَمْنَٰهُ طَٰٓئِرَهُۥ فِى عُنُقِهِۦ ۖ وَنُخْرِجُ لَهُۥ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ كِتَٰبًا يَلْقَىٰهُ مَنشُورًا (۱۳) ٱقْرَأْ كِتَٰبَكَ
كَفَىٰ بِنَفْسِكَ ٱلْيَوْمَ عَلَيْكَ حَسِيبًا (۱۴) مَّنِ ٱهْتَدَىٰ فَإِنَّمَا يَهْتَدِى لِنَفْسِهِۦ ۖ وَمَن ضَلَّ فَإِنَّمَا
يَضِلُّ عَلَيْهَا ۚ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ۗ وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ حَتَّىٰ نَبْعَثَ رَسُولًا (۱۵) وَإِذَآ
أَرَدْنَآ أَن نُّهْلِكَ قَرْيَةً أَمَرْنَا مُتْرَفِيهَا فَفَسَقُوا۟ فِيهَا فَحَقَّ عَلَيْهَا ٱلْقَوْلُ فَدَمَّرْنَٰهَا تَدْمِيرًا (۱۶)﴾

[۱۱] او بنیادم (په قول او عمل سره) شر لره (داسې په جدیت سره) غوښتنه کوي لکه غوښتنه یې خیر لره (ته به وایې چې خیر غواړي)، او انسان جلتي کوونکي دي.

[۱۲] او مونږ (په خپل کامل قدرت باندې) شپه او ورځ دوه نښې ګرځولې دي، نو د شپې نښه

(۱) مفردات الراغب ص۱۱۹
(۲) الدر المنثور ج۵ ص۲۴۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مو بې نوره کړې ده (بې نوره مو پيدا کړې ده) او د ورځې نښه مو د ليدلو دپاره مساعده (رڼه پيدا کړې ده، (دا دواړه) د دې دپاره چې تاسو د خپل رب ﷻ د پلوه فضل (حلال مال) ولټوئ او د دې دپاره چې تاسو د کلونو په شمېر او (په نورو) حسابونو باندې پوه شئ، او هر شی (مونږ تفصيلوار بيان کړی دی) تفصيلوار مو بيان کړی دی، تفصيلوار بيانول.

[۱۳] هر انسان لره (مونږ) د ده عمل د ده په غاړه کښې (لازم ګرځولی دی) لازم مو ګرځولی دی، او مونږ به ورته د قيامت په ورځ (د ده عمل) د داسې کتاب په شکل راوباسو (راخرګند کړو) چې هر انسان به ورسره په داسې حال کښې ملاقي شي چې (کتاب به يې ورته) پرانستلی وي.

[۱۴] (هر انسان ته به په دغې ورځ کښې وويل شي چې) خپل کتاب (عملنامه) دې (پخپله ولوله، چې نن ورځ ستا خپل ځان په همدا تاباندې د حساب کوونکي په حيث کفايت کوي (نو انصافاً فيصله وکړه).

[۱۵] (ای پيغمبره!) هرڅوک چې لاره موندنه کړي (په سمه لاره روان شي) نو يقيناً د خپل ځان دپاره يې لاره موندنه کړه (ګټه يې همده ته ده)، او هرڅوک چې بې لارې شي نو يقيناً (بې لارې يې په همده باندې ده (فقط د همده په ضرر تمامېږي)، او (دا ښکه چې) يو پښاکوونکی نفس هم د بل پښاکوونکي نفس پېټی (بار) نه پښاکوي (نه اوچتوي). او مونږ ترهغې پورې (هيڅا ته) عذاب ورکوونکي نه ياستو ترڅو چې (ورته) پيغمبر مبعوث کړو (ورولېږو چې دعوت ورکړي).

[۱۶] او کله چې مونږ اراده وکړو چې مونږ يو ښار هلاک (بوينا) کړو نو (د ښار) په نعمتونو باندې مستو (سرکشانو) خلکو ته (په اطاعت باندې) امر وکړو (چې سرکشي پرېږدئ) نو هغوی په ښار کښې فسق وکړي (په خپل فسق او سرکشۍ باندې کلک شي) نو (په دغه وخت کښې) په دوی باندې (د تعذيب) خبره ثابته شي نو مونږ يې هلاک کړو هلاکول (چې بالکل نښې او اثار يې ورک شي).

## ارتباطونه

۱ـ د وړاندېنيو ايتونو د جملې څخه په وروستنيو ايتونو کښې قرآن کريم ته د هدايت کوونکي لقب ورکړی شوی وه، او دلته د يو پلوه د هدايت په هکله د انسان عکس العمل ته اشاره شوې ده او د بله پلوه د قرآن د ارشاداتو او هداياتو څو مثالونه بيان شوي دي چې بايد د عقيدې د پوخوالي استفاده ترې وکړی شي.

۲ـ هلته د الله ﷻ د کتاب صفات بيان شوي وه او دلته د انساني کتاب (عملنامې) څه وضاحت شوی دی، نو حاصل يې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پيغمبره! که څه هم قرآن کريم د سمې او سيدې لارې ښودونکی دی چې د خير کارونو ته بلل کوي او د شر د کارونو څخه خلک منعه کوي مګر انسان د قرآن کريم د هداياتو څخه استفاده نه کوي نو د شر کارونو ته داسې په زغرده ورنژدې کېږي ته به وايې چې دا ورته په ګټه تمامېږي او دا

Scanned by CamScanner

د میرویس اپاسین لخوا سکین شو



د خیر کارونه دي. یا په بل عبارت: قرآن کریم انسان ته د جنت د لارې هدایت کوي مګر انسان د دوزخ لاره خوښوي او د جنایاتو مرتکب کېږي بلکې کله-کله لا په خپله خوله هم خپل خان ته د شر غوښتنه کوي.

د انسان د ذکرې شوې کړنلارې وجه دا ده چې: انسان عجول (تادي کوونکی) دی، هغه شی یې ډېر خوښېږي چې په عجله سره لاس ته ورځي، نو د همدې کبله آخرت په دنیا باندې پلوري او د الله ﷻ غضب د خپل ځان دپاره ګټي.

۲_ قرآن کریم لکه څنګه چې خلکو ته عملي ارشادات کوي همدارنګه په عقیدوي ارشاداتو او د دلایلو په بیان باندې یې هم هیڅ کمی نه دی کړی، ای انسانانو! تاسو لاندې دلایلو ته خیر شئ:

الف: مونږ شپه او ورځ د خپل وحدانیت په اثبات باندې دوه واضحه دلایل درولي دي، که بالفرض المحال الله ﷻ واحد او لا شریک نه وی نو د شپې او ورځې بدلون رابدلون به په دغسې منظمه توګه صورت نه وی نیولی لکه چې اوس په دوامداره توګه بدلېږي رابدلېږي.

ب: په دې باندې علاوه مونږ شپه تیاره پیدا کړې ده خو دومره تیاره نه چې څوک پکښې د خپله ځایه حرکت ونه کړی شي او بالمقابل ورځ مو روښانه ګرځولې ده، که بالفرض المحال الله ﷻ شریک درلودی نو ذکر شوی صورت حال به په دوامداره توګه تحقق نه وی موندلی. دا د دې دپاره چې:

اول: چې تاسو په شپه کښې ارام وکړئ او خپله ستوماني وباسئ او په ورځ کښې د خپل رب ﷻ فضل (حلال مال) حاصل کړئ او کار او کسب وکړئ، نو که ټول عمر مو شپه وي د حلال رزق او نورو ضروریاتو د پوره کولو دپاره به مو وخت نه درلودی، او که ټول عمر مو ورځ وی نو تاسو به ناارامه شوي وی او دنیا به درباندې تنګه شوې وی.

دوهم: ترڅو تاسو د کلونو په شمېر باندې پوه شئ، که نه نو تاسو به د کلونو په شمېر باندې نه دی پوه شوي او مصالح به مو تېل شوي وی.

دریم: ترڅو تاسو د کال په داخل کښې د میاشتو او ساتونو په شمېره باندې هم پوه شئ او خپل احتیاجات پرې پوره کړئ.

ج: ای انسانانو! مونږ تاسو ته ټول ضروریات او احتیاجات پوره کړي دي او هر شی مو درته په قرآن کریم کښې ښه تفصیلوار بیان کړی دی، چې نه مو ستاسو دنیاوي ضروریات پکښې پرېښې دي او نه مو اخروي ضروریات ترک کړي دي.

۳_ ای پیغمبره! څرنګه چې مونږ د انسان ټول ضروریات بیان کړي دي او د قرآن کریم د نزول احسان مو پرې کړی دی نو هیڅوک د قیامت په ورځ د اعتذار وجه نه شي درلودلی، بیا مو د همدې کبله د نتائجو د ثبت په غرض د هر انسان دپاره یو بل کتاب هم لازم ګرځولی دی چې ټول کړه وړه یې پکښې لیکلی کېږي او هیڅوک ترې خپل ځان نه شي ګوښه کولی، ته به وایې چې د هر چا د غاړې هار دی. همدغه کتاب (عملنامه) به د قیامت په ورځ مونږ د هرچا دپاره راخرګنده کړو او هر څوک به د خپل کتاب سره په داسې حال کښې ملاقي شي چې هغه به ورته پرانستی وي او په

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دېره اساني سره به يې لوستلى شي.

نو هر چاته به په دغې ورځ کښې امر وکړى شي چې خپل کتاب دې پخپله ولوله او د ښې دقيقې محاسبې څخه کار واخله، چې ستا په شخصي قضاوت کښې تاته څومره ملامته متوجه ده او يا د څومره سزا يا جزا لايق يې.

۴ـ اى پيغمبره! هرڅوک چې د قرآن کريم په ارشاداتو باندې عمل وکړي نو دا يې د خپل ځان دپاره ګټه ده، الله ﷻ د عبادت کوونکو د عبادت څخه بې پروا دى، او که څوک يې د پښو لاندې کړي نو ضرر يې همده ته متوجه دى او د قيامت په ورځ به يې يوازې همدى د سزا متحمل کېږي، او دا ځکه چې په دغې ورځ کښې هيڅوک د بل چا د ګناه پېټى نه په خپلو اوږو باندې اخلي او نه ورباندې وربارولى شي.

۵ـ مونږ ځکه قرآني ارشادات او هدايات خلکو ته ورنازل کړه چې مونږ تر هغه د هيچا تعذيب کوونکي نه ياستو ترڅو پورې هغوى ته پيغمبر ورولېږو او په شرعي هداياتو باندې يې پوه کړو، نو که د پيغمبر د لېږلو څخه وروسته يې سمه لاره خپله نه کړه او د ضلالت لاره يې غوره کړه نو د هغه څخه وروسته به زمونږ د عذاب سره مخامخ شي.

۶ـ نو د همدې کبله کله چې مونږ اراده وکړو چې يو ښار هلاک کړو نو يو په يو ورباندې عذاب نه ورنازلوو بلکې د هغه مشرانو او د عزت خاوندان مستقيمًا او نور خلک په غير مستقيمه توګه په شرعي احکامو باندې مامور ګرځوو او د خير دپاره دعوت ورکوو، نو کله چې هغوى زمونږ شرعي احکام د پښو لاندې کړي او نافرماني وکړي نو په دغه وخت کښې په دوى باندې د عذاب وربښکته کول حتمي وګرځي، نو عذاب ورباندې وربښکته کړو او ټول يوپنا کړو، چې د قيامت په ورځ مونږ ته اعتذار هم نه شي وړاندې کولى چې: اى ربه! مونږ ته خو به دې په دنيا کښې خپل ارشادات رالېږلي وى نو که مونږ پکښې ناغيرې کړې وى نو بيا به دې په عذاب باندې اخته کړي وى او اوس به دې په دوزخ کښې وراچولي وى.

## توضيحات

۱ـ مونږ د [البقرة: ۷۲] ايت لاندې ـ لله ﷻ الحمد ـ ليکلي دي چې کله-کله په محاوراتو کښې د ځينو افرادو عمل ټول قوم او ټول جنس ته نسبت کېږي. نو په همدې بنياد په ﴿وَيَدۡعُ ٱلۡإِنسَـٰنُ بِٱلشَّرِّ دُعَآءَهُۥ بِٱلۡخَيۡرِ﴾ کښې د کفارو د شر غوښتنه جنس انسان ته منسوبه شوې ده حال دا چې مؤمنان د کفارو غوندې خاصيت نه لري چې د خپل ځان دپاره د شر په غوښتنه کښې زياته عجله (تادي) وکړي. د کفارو د شر غوښتنه په لاندې دوه ډوله ده:

الف: د حال په ژبه خو ټول کفار د خپلو ځانونو دپاره د الله ﷻ د غضب غوښتونکي دي او په دغې عاجلې او فاني دنيا باندې د آخرت دائمي نعمتونه پلوري، لکه چې د [بني اسرائيل: ۷] ايت لاندې ورته په شپږمه توضيح کښې اشاره شوې ده.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: ځيني کفار د ډېر عناد د کبله کله-کله د قال په ژبه هم په ډېر الحاح سره د شر غوښتنه کوي لکه چې الله ﷻ د همدوی د خولو څخه حکايت کوي چې: ﴿ ٱللَّهُمَّ إِن كَانَ هَٰذَا هُوَ ٱلْحَقَّ مِنْ عِندِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِّنَ ٱلسَّمَآءِ أَوِ ٱئْتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴾ [الأنفال: ٣٢] يعنې اى الله! که چرته دغه قرآن کريم ستا په نزد همدا حق وي نو په مونږ باندې د اسمانه ډبرې راووروه او يا راته دردناک عذاب راوله (رابانديې نازل کړه).

## سوال جواب

٢_ که څوک وايي چې: ځينو مفسرينو کرامو خو ذکر شوی ايت شريف د مؤمنانو د حال سره مربوط ګڼلی دی چې په ځينو وختونو کښې د بې صبرۍ د کبله خپل ځان او خپل اولاد ته ښېراوې کوي او شر ورته غواړي، حال دا چې په همدغه ډول تفسير باندې لاندې حديث شريف هم دلالت کوي چې يوه ورځې نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «لَا تَدْعُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ وَلَا تَدْعُوا عَلَى أَوْلَادِكُمْ وَلَا تَدْعُوا عَلَى خَدَمِكُمْ وَلَا تَدْعُوا عَلَى أَمْوَالِكُمْ لَا تُوَافِقُوا مِنَ اللهِ سَاعَةَ نَيْلٍ فِيهَا عَطَاءٌ فَيَسْتَجِيبَ لَكُمْ»[١] (اى مؤمنانو!) تاسو په خپلو ځانونو باندې ښېراوې مه کوئ او په خپلو اولادونو باندې ښېراوې مه کوئ او په خپلو خدمتګارانو باندې ښېراوې مه کوئ او (بالآخره) په خپلو مالونو باندې ښېراوې مه کوئ، له دې کبله چې تاسو د داسې سات سره موافق نه شئ چې په هغه کښې د الله ﷻ د پلوه ورکړه مونده کېږي، نو الله ﷻ به ستاسو ښېراوې قبولې کړي (او بيا به تاسو پخپله پرې خپه ياست)؟

مونږ وايو چې: مونږ څکه ذکره شوې شرحه د ايت شريف د پاره د تفسير په حيث قبوله نه کړه چې وړاندې او ببرته ټول ايتونه د کفارو خاصيت بيانوي، نو مناسبه دا ده چې د ملغلرو امېل پرې نه کړی شي.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

٣_ که څوک وايي چې: په ﴿ فَمَحَوْنَآ ءَايَةَ ٱلَّيْلِ ﴾ کښې د "مَحَوْنَا" کلمه د "مَحْوٌ" _لکه "ضَرْبٌ"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې د يوه شي د اثارو د منځه وړلو معنی ورکوي[٢] نو د معنی حاصل يې بايد داسې راوخېژي چې مونږ شپه او ورځ پيدا کړه چې د الله ﷻ د قدرت دوه نښې دي نو بيا مو د شپې اثار (رڼا) د منځه وېوړه او تياره مو کړه؛ حال دا چې شپه خو همدغسې تياره پيدا کړی شوې ده؟

مونږ وايو چې: د ذکرو شوو کلماتو معنی هغسې نه ده لکه څنګه چې په اعتراض کښې ذکره شوې ده، بلکې معنی يې دا ده چې مونږ شپه همدغسې تياره پيدا کړه ترڅو ستاسو مصالح ټال نه شي. او دا ډول استعمال په عربي ژبه کښې رايج دي لکه چې وايي: "ضَيِّقْ فَمَ الرَّكِيَّةِ"[٣] د څا خوله تنګه کړه، يعنې تنګه يې جوړه کړه.

---

[١] سنن ابي داوُد ج١ ص٢١٤
[٢] مفردات الراغب ص٤٨٤
[٣] روح المعاني ج١٥ ص٢٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۴_ که څوک وايي چې: په ﴿ وَلِتَعۡلَمُواْ عَدَدَ ٱلسِّنِينَ وَٱلۡحِسَابَۚ ﴾ کښې خو د "حساب" کلمه د عدد د استعمال یا شمېرلو څخه عبارت ده[1] نو پوښتنه دا ده چې د څه حکمت په بنیاد په دې مقام کښې د ﴿ عَدَدَ ٱلسِّنِينَ ﴾ کلمې په تعقیب د ﴿ وَٱلۡحِسَابَ ﴾ کلمه هم نازله شوه؟

مونږ وايو چې: که څه هم ځینو علماوو کرامو د "عَدَد" او "حِسَاب" ترمنځ په اوږده بحث کښې څه توپیرونه لیکلي دي[2] مګر کوم شی چې مونږ ته په جواب کښې بهتر برېښي هغه دا دی چې:

د ﴿ عَدَدَ ٱلسِّنِينَ ﴾ څخه د کلونو شمېر مراد دی او د "حساب" څخه د کال په داخل کښې محاسبه مطلب ده، لکه میاشتې، ورځې، ساتونه، دقیقې او داسې نور. ځکه چې د شپې او ورځې په بدلون باندې لکه څنګه چې کلونه څرګندېږي همدارنګه د کال په داخل کښې د نورو برخو څرګندونه هم ترې معلومېږي، نو که بالفرض ټول عمر شپه وی او یا ټول عمر ورځ وی نو نه به چا کال پېژندلی وی او نه به یې د کلونو په برخو (ساتونو او دقیقو) باندې علم حاصل شوی وی.

او یا د ﴿ ٱلۡحِسَابَ ﴾ څخه هغه حسابونه مطلب دي کوم چې په معـاملاتو کښې جریان لري لکه د راکړې ورکړې اوقات، او یا په عباداتو کښې مراعات کېږي لکه د لمانځه وختونه او د حج موسم؛ نو که بالفرض الله ﷻ د شپې او ورځې څخه فقط د یوه په پیداکولو باندې اکتفاء کړې وی نو نه به چا د معاملاتو وختونه پېژندلي وی او نه د عباداتو.

## یو نحوي تحلیل

۵_ په ﴿ وَكُلَّ شَيۡءٖ فَصَّلۡنَٰهُ تَفۡصِيلٗا ﴾ کښې د ﴿ كُلَّ ﴾ کلمه په مقدر فعل "فَصَّلْنَا" سره منصوبه ده چې مذکور فعل ﴿ فَصَّلۡنَٰهُ ﴾ ورته تفسیر واقع شوی دی، ته به وایې چې داسې نازل شوی وي: "وَفَصَّلْنَا كُلَّ شَيْءٍ فَصَّلْنَاهُ تَفْصِيلًا" یعنې او مونږ هر شی بیان کړی دی، بیان کړی مو دی بیانول. د دې ډول منصوب زیات بحث د نحوې په کتابونو کښې دی[3].

اما د دې خبرې تحقیق چې الله ﷻ هر شی بیان کړی دی د [الأنعام:۳۷] او د [النحل:۸۹] ایتونو لاندې تېر شوی دی ـ والحمد لله ﷻ ـ چې تکرار ته یې اړتیا نه ګورو.

## د "طَائِر" کلمه څه معنی؟

۶_ ذکر شوی عین نحوي تحلیل باید په ﴿ وَكُلَّ إِنسَٰنٍ أَلۡزَمۡنَٰهُ طَٰٓئِرَهُۥ فِي عُنُقِهِۦۖ ﴾ کښې هم مراعات شي. دا د یوپلوه، او د بله پلوه د "طَائِر" کلمه علماوو کرامو[4] په متعددو معناوو باندې

(۱) مفردات الراغب ص۱۱۵
(۲) تفسیر ابي السعود ج۵ ص۱۶۰
(۳) شرح ملا جامي في النحو ص۱۱۹
(۴) زاد المسیر ج۵ ص۱۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تفسيره کړې ده لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: په دې مقام کښې د "طَآئِرَ" د کلمې څخه هغه څه مراد دي کوم چې هر انسان ته په ازل کښې ليکلی شوي دي، برابره خبره ده چې خير وي او که شر وي[١].

ب: دا کلمه د هر انسان د هغې عملنامې څخه عبارت ده په کومه کښې چې د هرڅا کړه وړه د ژوند د اختتام پورې ليکلی کېږي. يا په بل عبارت: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په روايت د "طَآئِرَ" کلمه د عمل څخه عبارت ده[٢].

مونږ ته داسې برېښي چې ذکرې شوې دواړه معناوې مرادول څه منافات نه لري، نو څه لرې نه ده چې دواړه مرادې وي. نو د معنی حاصل به يې داسې شي چې مونږ هر انسان ته د ده هغه کړه وړه په غاړه کښې د غاړکۍ په شان لازم ګرځولي دي، لازم مو ورته ګرځولي دي چې نه د تقدير څخه تخلف کولی شي او نه يې د کړو وړو څخه څه شی د ليکلو څخه پرېښودل کېږي.

## سوال جواب

٧_ که څوک وايي چې په څه مناسبت د انسان د هغه عمل څخه په "طَآئِرَ" سره تعبير وکړی شو کوم چې ورته په ازل کښې ليکلی شوي دي او د مرګه پورې يې روزمره په عملنامه کښې ثبت کېږي؟

مونږ وايو چې: ځينو علماوو کرامو د ذکر شوي مناسبت وجه د عربانو عادت ښودلی دی[٣] چې د مرغانو په الوتلو سره به يې د خپلو اعمالو دپاره نېک فالونه او بد فالونه نيول، چې پوره بيان يې د [الأعراف: ١٣١] ايت لاندې تېر شوی دی _والحمد لله ﷻ_، نو قرآن کريم په دې مقام کښې د همدې د عادت په مطابق د اعمالو څخه په "طَآئِرَ" سره تعبير وکړ لکه چې دوی خپل اعمال د مرغانو په الوزولو پورې مربوط کړي وه.

مګر مونږ ته ذکر شوی مناسبت په زړه پورې نه برېښي ځکه چې دا کار يوازې مشرکانو کاوه نه ټولو انسانانو. مونږ ته دا ښه ښکاري چې د "طَآئِرَ" کلمه به د هغې برخې څخه عبارت وي کومه چې چاته په قرعه اچولو سره وروځي، چې په همدې معنی باندې په محاوراتو کښې استعماله شوې ده[٤]، لکه چې أم العلاء رضي الله عنها په يوه اوږده حديث کښې وايي چې: «اِقْتُسِمَ الْمُهَاجِرُونَ قُرْعَةً فَطَارَ لَنَا عُثْمَانُ بْنُ مَظْعُونٍ»[٥] يعنې په مدينه منوره کښې اولنې مهاجرين په قرعه (بچې اچولو) سره وويشلی شول نو زمونږ دپاره په وېش کښې عثمان بن مظعون ﷺ راوالوت (ورسېد)، زمونږ دغه صحابي ﷺ په برخه شو.

---

(١) تفسير الطبري ج١٥ ص٥٠
(٢) تفسير البغوي ج٣ ص١٠٨
(٣) التفسير الكبير ج٢٠ ص١٦٧
(٤) لسان العرب ج٤ ص٥١١
(٥) صحيح البخاري ج١ ص١٦٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو په دې مقام کښې به يې د معنى حاصل داسې راوخېژي چې الله ﷻ هر چاته د اعمالو ازلي برخه لازمه ګرځولې ده چې د همدغې برخې څخه ورته د ژوند په دوران کښې يو کتاب جوړېږي چې د قيامت په ورځ به ورسره ملاقي شي.

## هېر مو نه شي!

۸ـ هېر مو نه شي! چې تقريبًا د عربي محاورې څخه علاوه په ټولو محاورو کښې عادت دی چې د هر چا اعمال او کړه وړه د هغه لاسونو ته نسبت کېږي، که څه هم څوک لاسونه ونه لري او يا يې د لاسونو څخه په غير په بل کوم اندام باندې اجراء کړی وي، همدارنګه په محاوراتو کښې دا هم عادت دی چې د يوه شي د لزوم څخه د غاړې په غاړکۍ باندې تعبير کوي لکه چې په پښتو کښې وايي چې: دا کار ماته په غاړه کښې راولوېد.

نو په دې مقام کښې د همدغې محاورې په لحاظ کښې نيولو سره د اعمالنامو لزوم ﴿ فِي عُنُقِهِ﴾ د هرچا غاړې ته منسوب شو.

## سوال جواب

۹ـ که څوک وايي چې د ﴿ ٱقۡرَأۡ كِتَٰبَكَ ﴾ څخه څرګندېږي چې د قيامت په ورځ به هرڅوک مکلف وي چې خپله اعمالنامه پخپله قرائت کړي، حال دا چې په دنيا کښې خو د اکثرو خلکو ليک او لوست نه وي زده؟

مونږ وايو: خينو علماوو کرامو ذکر شوی سوال داسې جواب کړی دی چې: هلته به ټول اعمال مجسم شي چې هرڅوک به يې کتلی شي او هرچا ته به په سترګو باندې ښکارېږي[1]، مګر مونږ ته دا جواب خوندور نه برېښي ځکه چې د ﴿ ٱقۡرَأۡ كِتَٰبَكَ ﴾ د کلماتو سره سمون نه خوري مونږ ته چې کوم جواب خوندور ښکاري هغه دا دی چې هلته به د الله ﷻ په کامل قدرت سره هرڅوک لوستونکی وګرځي البته د هغه ليک دپاره کوم چې د پرښتو د پلوه په اعمالنامو کښې صورت نيولی وي، لکه چې قتادة ﵀ وايي چې: «سَيَقْرَءُ يَوْمَئِذٍ مَنْ لَمْ يَكُنْ قَارِئًا فِي الدُّنْيَا»[2] ژر دی چې په دغې ورځ کښې به هغه څوک هم لوستل وکړي کوم چې په دنيا کښې لوستونکی نه وي.

## ايا د کفارو ماشومان جنتيان دي؟

۱۰ـ د ﴿ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٞ وِزۡرَ أُخۡرَىٰ ﴾ په تفسير کښې خينو علماوو کرامو کښې د کفارو د ماشومانو او د دوی د لېونيانو موضوع مطرحه کړې ده چې: ايا دوی د مور او پلار په کفر باندې نيولی کېږي چې دوزخ ته لاړ شي او که څنګه؟ څرنګه چې دغه بحث ډېر اوږد بحث دی نو مونږ به دلته فقط د لاندې ټکو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

---

(۱) تفسير القاسمي ج۱۰ ص۲۱۲

(۲) الدر المنثور ج۵ ص۲۵۰؛ تفسير البغوي ج۳ ص۱۰۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: په ذکره شوې موضوع کښې ځينو مفسرينو کرامو متعدد مربوط احاديث راغونډ کړي دي[۱]، الله ﷻ دې ورته اجرونه ورکړي.

ب: په دغې موضوع کښې علماء کرام په پنځو ګروپونو باندې ويشلی شوي دي[۲] او هر يوه ګروپ په يوه حديث باندې استناد کړی دی. ګروپونه دا دي:

اول: د کفارو ماشومان دوزخيان دي.

دوهم: دوی جنتيان دي او د مور پلار په کفر باندې نه نيول کېږي.

دريم: دوی به په جنت کښې د جنتيانو خدمتګاران وي.

څلورم: دوی د الله ﷻ په مشيت او ارادې پورې اړه لري، نو که د جنت اراده يې ورته وشي جنت ته به لاړ شي او که د دوزخ اراده يې ورته وکړه نو دوزخ به يې ځای وي.

پنځم: دوی به د قيامت په ورځ د امتحان لاندې واقع کړی شي نو څوک چې کامياب شو هغه به جنت ته لاړ شي او ناکامان به د دوزخيانو په ډله کښې شامل کړی شي.

ج: مګر تحقيقي خبره دا ده چې د کفارو ماشومان به د مور او پلار په کفر باندې ونه نيول شي او الله ﷻ به يې په خپل فضل سره جنت ته داخل کړي[۳].

د: اما ذکر شوی اختلاف په دنياوي امورو کښې نشته بلکې دلته ټول علماء متفق دي چې په دنيا کښې د کفارو ماشومان د مور او پلار د کفر د کبله د غلامۍ لاندې واقع کېږي او د جنازې د لمانځه څخه محرومېږي او داسې نور.

## هغه کسان چې بې دعوته پاتې وي مکلف دي؟

۱۱ـ په دې مقام کښې د ﴿وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ حَتَّىٰ نَبْعَثَ رَسُولاً﴾ په ارتباط دا پوښتنه پيدا کېږي چې: ايا لاندې کسان به د قيامت په ورځ د عذاب لاندې واقع شي او که نه؟:

الف: هغه کسان چې د فترة (د پيغمبرانو څخه په خالي زمانه) کښې تېر شوي دي، چې د يوه پيغمبر دين د خلکو څخه هېر شوی وي او بل پيغمبر ورته لا نه وي مبعوث شوی ترڅو هغوی ته د الله ﷻ هېر کړی شوی دين ورپه ياد کړي.

ب: هغه کسان کوم چې بالفرض په داسې يوې سيمه کښې ژوند وکړي چې هلته د پيغمبر دعوت نه وي وررسېدلی او هغوی بالکل د نبوت څخه خبر نه وي.

د ذکرې شوې پوښتنې په هکله مفسرينو کرامو[۴] ډېر اوږده بحثونه کړي دي که څوک يې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي، مونږ چې د کوم شي ليکل غواړو هغه دا دی چې اول

---

(۱) تفسير ابن کثير ج۳ ص۲۸
(۲) تفسير المظهري ج۵ ص۴۲۶
(۳) روح المعاني ج۱۵ ص۳۶
(۴) تفسير المظهري ج۵ ص۴۲۲؛ روح المعاني ج۱۵ ص۳۷؛ تفسير المراغي ج۱۵ ص۲۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خو د ذکرو شوو دوارو ډلو شتون محض یوه فرضیه ده او دا ځکه چې الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَإِن مِّنْ أُمَّةٍ إِلَّا خَلَا فِيهَا نَذِيرٌ ﴾ [فاطر: ۲۴] یعنې: هیڅ امت (ډله) نه ده مګر ډارونکی پکښې تېر شوی دی چې یا به پیغمبر وه او یا به یې نائب وه.

او که ومنو چې ذکرې ډلې شته نو بیا وایو چې: د ذکرې شوې پوښتنې جواب د عقل په ارزښت پورې ارتباط لري او د عقل ارزښت په لاندې درېوو موادو کښې خلاصه کېږي[۱]:

اول: اهل الاعتزال (معتزله) وايي چې اصلاً د شرعي احکامو واجبوونکی عقل دی اما شرعي دلایل محض معرف او نښې نښانې دي، نو که بالفرض د سره شریعت نه وی نازل شوی هم انسان به د عقل په سبب مکلف وی چې په الله ﷻ باندې یې د وحدانیت عقیده خپله کړې وی. د دوی په نزد هوښیار ماشوم مکلف دی چې ایمان راوړي او که نه نو په دوزخ کښې به په دوامداره توګه معذب شي.

د دغې ډلې په نزد په هغه شي کښې باید تاویل وکړی شي کوم چې د عقل د احاطې لاندې نه واقع کېږي لکه د الله ﷻ دیدار، د قبر عذاب او داسې نور.

د معتزله وو په نظر په سوال کښې ذکرې شوې ډلې ټولې اهل النار دي په دې شرط چې هوښیارې وي او د وحدانیت عقیده خپله نه کړي، نو د همدې کبله دوی مجبور دي چې په ذکر شوې ایت کښې د رسول کلمه په عقل سره مؤوله کړي[۲] یعنې مونږ ترهغه څوک نه معذبوو ترڅو چې هغه ته عقل ورکړو او هوښیار یې وګرځوو.

دوهم: د الامام الشافعي علیه الرحمة او ځینو نورو علماوو کرامو د عقل په هکله نظر دا دی چې عقل د احکامو په وجوب او عدم وجوب کښې د شریعت څخه په غیر هیڅ حیثیت نه لري، د همدې کبله د هوښیار ماشوم ایمان صحیح نه دی، ځکه چې ماشوم شرعاً مکلف نه دی.

د دوی په نظر ذکرې شوې ډلې هیڅ مسؤلیت نه لري او حتی په کفر او شرک باندې نه نیولی کېږي په دې شرط چې هغوی ته د یوه پیغمبر دعوت نه وي رسېدلی، لکه چې همدا د ایت شریف متبادر مفهوم دی.

درېیم: ابو حنیفه علیه الرحمة او ځینې نور علماء کرام وايي چې عقل په انسان کښې یو جوهر دی خو دومره لوړ هم نه دی لکه چې معتزله ورباندې قائل دي چې په شریعت باندې وړاندې شي، او دومره ټیټ هم نه دی لکه چې په شریعت کښې هیڅ حیثیت ونه لري لکه چې شوافع علیهم الرحمة ورباندې قائل دی. بلکې عقل په اهلیت کښې اعتبار لري چې انسان د احکامو د وجوب دپاره اهل ګرځوي لما د احکامو دپاره واجبوونکی نه دی، نو د هوښیار ماشوم ایمان راوړل صحت لري مګر ایمان راوړل ورباندې واجب نه دي.

---

(۱) الحسامي في اصول الفقه. بحث العقل ص۱۳۶؛ نور الانوار ص۲۸۲

(۲) التفسير الكبير ج۲۰ ص۱۷۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د دوی په نظر په سوال کښې ذکرې شوې ډلې چې هوښيارې وي صرف په عقل باندې مکلفې نه دي چې ايمان راوړي بلکې دوی ترهغه وخته پورې معذورې دي ترڅو چې ورته د پيغمبر دعوت ورسېږي او د عقل دپاره لاره روښانه کړي، او يا وربانديې دومره وخت تېر شي چې د يوه هوښيار سړي د تفکر دپاره کفايت کوي. يا په بل عبارت: د عقل دپاره د مسوئليت په هکله پخپله د دعوت او يا د دعوت د قائم مقام (د تفکر دپاره کافي وخت) موجوديت ضرور دی، نو د ايت شريف د معنى حاصل داسې راوځي چې مونږ ترهغې څوک نه معذبوو ترڅو چې ورته دعوت وکړی شي او يا د دعوت قائم مقام (د تفکر دپاره کافي وخت) ولري.

## سوال جواب

۱۲ـ که څوک وايي چې: ايا د تفکر دپاره کافي وخت او فرصت د پيغمبر د دعوت قائم مقام جوړېدلی شي حال دا دی چې کافي وخت هيڅکله د وحې ځای نه شي نيولی، يا په بل عبارت: ايا د کافي وخت په درلودلو سره عقل د لمانځه رکعتونه ټاکلی شي؟ او د قيامت د ورځې حالات کشفولی شي؟ او يا د دوزخ او جنت او د نورو هغو شيانو څخه پرده پورته کولی شي کوم چې په وحې پورې توقف لري؟

مونږ وايو چې: کافي وخت په سمعياتو کښې چې د وحې پورې توقف لري د دعوت قائم مقام نه ګرځي بلکې په هغو احکامو کښې د دعوت قائم مقام جوړېږي چې په وحې پورې توقف نه لري لکه د الله ﷻ وحدانيت چې يو فطري شی دی، د همدې کبلهٔ هغه څوک کوم چې په دار الحرب کښې په ايمان باندې مشرف شي او د لمانځه او روژې د وجوب څخه خبر نه وي د لمانځه او روژې د قضاء راوړلو څخه عفوه دي[1]. د دې دپاره چې د وخت اهميت ښه څرګند شي لاندې وضاحتونهٔ ولولئ:

الف: کله چې الله ﷻ په عالم الذر کښې ټول انسانان مخاطب کړه چې: ﴿ أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُواْ بَلَىٰ ﴾ [الأعراف: ۱۷۲] ايا زه ستاسو رب نه يم؟ ټولو په يوه خوله جواب ورکړ چې ولې نه، ته زمونږ رب يې.

الله ﷻ ځکه دا کار وکړ چې د قيامت په ورځ څوک بهانه ونه نيسي چې مونږ د وحدانيت څخه غافل وو او يا مو د خپلو اسلافو پيروي کړې ده (د دې پوره بيان په خپل ځای کښې تېر شوی دی).

ب: الله ﷻ د دوزخيانو د خولو څخه حکايت کوي چې: ﴿ وَقَالُواْ لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ أَوْ نَعْقِلُ مَا كُنَّا فِىٓ أَصْحَٰبِ ٱلسَّعِيرِ ﴾ [الملك: ۱۰] يعنې دوزخيان به ووايي چې که مونږ په دنيا کښې د دعوت کوونکي خبرې اورېدلې وی او يا مو د عقل څخه کار اخستی وی نو نن ورځ به د دوزخيانو په ډله کښې شامل نه وی.

ج: الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ أَوَلَمْ نُعَمِّرْكُم مَّا يَتَذَكَّرُ فِيهِ مَن تَذَكَّرَ وَجَآءَكُمُ ٱلنَّذِيرُ ﴾ [فاطر: ۳۷] يعنې کله چې دوزخيان په دوزخ کښې په ډېر الحاح سره وغواړي چې ای زمونږ ربه! مونږ بېرته دنيا

(۱) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۱۹۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ته بوخه چې مونږ هلته دا خل ښه صالح عملونه وکړو او د دغه اوره خلاص شو نو د الله ﷻ د پلوه به جواب ورکړی شي چې: ایا ستاسو عقل اوس سرته درغی؟ ایا مونږ تاسو ته په دنیا کښې دومره عمر او فرصت نه وو درکړی چې که چا پکښې د عقل څخه د حق په پېژاندلو کښې استفاده کولی نو استفاده به يې ترې کړې وی، او علاوه په دې تاسو ته ډاروونکی (پیغمبر) هم درغلی وه.

د: الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَلَا تَأْكُلُوهَآ إِسْرَافًا وَبِدَارًا أَن يَكْبَرُواْ ﴾ [النساء: ٦] يعني د يتيمانو مالونه د شريعت څخه د تجاوز د امله او د ډېر عمرۍ څخه د چالاکۍ د امله مه خورئ چې که د دوی عمر زيات شي نو شريعت به د دوی مالونه زمونږ د لاسونو څخه وباسي (د دې شرحه په خپل ځای کښې تېره شوې ده).

هـ: نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې: «أَعْذَرَ اللهُ إِلَى امْرِئٍ أَخَّرَ أَجَلَهُ حَتَّى بَلَّغَهُ سِتِّينَ سَنَةً»[١] الله ﷻ د هغه سړي څخه د اعتذار وړاندې کول لرې کړه د چا د مرګ نېټه يې چې دومره وروسته کړه تر دې چې شپېتو کالو ته يې ورساوه نو د قيامت په ورځ په خپلې ناپوهۍ باندې استدلال نه شي نيولی.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

١٣ـ که څوک وايي چې: د ﴿ أَمَرْنَا مُتْرَفِيهَا فَفَسَقُواْ فِيهَا ﴾ څخه سړي ته ذهن ته ورځي چې کله مونږ د کوم ښار د هلاکت اراده وکړو نو د ښار مالدارانو او د نعمتونو خاوندانو ته د فسق په کولو باندې امر وکړو نو هغوی په ښار کښې فسق وکړي او زمونږ د عذاب مستحق جوړ شي نو بيا پرې خپل عذاب ورنازل کړو، نو پوښتنه دا ده چې: ایا دغه معنی صحت لري؟

مونږ وايو چې: د ذکر شوې پوښتنې د جوابولو دپاره علماوو کرامو ډېر اوږد بحث کړی دی[٢] مګر په زړه پورې او ژر فهمېدونکی جواب هغه دی کوم چې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت شوی دی هغه دا چې دلته د "بالطَّاعَة" کلمه مقدره ده[٣] چې د ﴿ فَفَسَقُواْ فِيهَا ﴾ کلمه ورباندې دلالت کوي او دا ځکه چې عربان وايي چې: "تُعْرَفُ الْأَشْيَاءُ بِأَضْدَادِهَا" شيان په خپلو ضدونو سره پېژاندل کېږي. همدارنګه د هغو پنځه ويشتو (٢٥) علاقاتو څخه چې مجازي معنی ته صحت ورکوي يوه د تضاد علاقه هم ده[٤] نو د معنی حاصل يې داسې راځېږي: چې کله مونږ د يوه ښار د پوپنا کولو اراده وکړو نو مونږ د نوموړي ښار سرکشو مشرانو ته چې د نعمتونو د پراخۍ د کبله بغاوت کوونکي ګرځېدلي وي د خپل پيغمبر په ذريعه دعوت ورکړو چې د بغاوت څخه لاس واخلئ او د الله ﷻ اطاعت ته غاړې کېږدئ نو هغوی دعوت قبول نه کړي او په ښار کښې خپل فسق او فجور ته ادامه ورکړي او د ﴿ وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ حَتَّىٰ نَبْعَثَ رَسُولًا ﴾ په مطابق هغوی پوپنا کړو.

---

(١) صحيح البخاري ج٢ ص٩٥٠

(٢) البحر المحيط ج٧ ص٢٧

(٣) الدر المنثور ج٥ ص٢٥٤؛ تفسير ابن کثير ج٣ ص٣٢

(٤) نور الأنوار في الأصول ص١٠٤

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ وَكَمۡ أَهۡلَكۡنَا مِنَ ٱلۡقُرُونِ مِنۢ بَعۡدِ نُوحٍۗ وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ بِذُنُوبِ عِبَادِهِۦ خَبِيرَۢا
بَصِيرٗا ﴿١٧﴾ مَّن كَانَ يُرِيدُ ٱلۡعَاجِلَةَ عَجَّلۡنَا لَهُۥ فِيهَا مَا نَشَآءُ لِمَن نُّرِيدُ ثُمَّ جَعَلۡنَا لَهُۥ
جَهَنَّمَ يَصۡلَىٰهَا مَذۡمُومٗا مَّدۡحُورٗا ﴿١٨﴾ وَمَنۡ أَرَادَ ٱلۡأٓخِرَةَ وَسَعَىٰ لَهَا سَعۡيَهَا وَهُوَ مُؤۡمِنٞ
فَأُوْلَٰٓئِكَ كَانَ سَعۡيُهُم مَّشۡكُورٗا ﴿١٩﴾ كُلّٗا نُّمِدُّ هَٰٓؤُلَآءِ وَهَٰٓؤُلَآءِ مِنۡ عَطَآءِ رَبِّكَۚ وَمَا
كَانَ عَطَآءُ رَبِّكَ مَحۡظُورًا ﴿٢٠﴾ ٱنظُرۡ كَيۡفَ فَضَّلۡنَا بَعۡضَهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖۚ وَلَلۡأٓخِرَةُ أَكۡبَرُ
دَرَجَٰتٖ وَأَكۡبَرُ تَفۡضِيلٗا ﴿٢١﴾ ﴾

[۱۷] اوڅومره ډېر خلک د (پخوانیو) پېړیو څخه د نوح ﷺ څخه وروسته مونږ هلاک کړي (او پوینا کړي) دي (لکه عادیان او ثمودیان).

(ای پیغمبره!) ستا رب ﷻ د خپلو بندګانو په ګناهونو باندې د خبردار (او) بینا په حیث بس دی (کفایت کوي، چې د جزا او سزا لیاقت درلودونکی پېژني).

[۱۸] هرڅوک چې (په عمل سره فقط) ژر حاصلېدونکی (نغد) کور غواړي نو په تلوار سره به مونږ ورته په همدې کور (دنیا) کښې هغه شی ورکړو چې زمونږ اراده وشي (مګر) هغه چاته چې مونږ (ورته ورکول) وغواړو (هر چاته نه او هر شی نه).

بیا به ورته جهنم (د دائمي کور په حیث) وګرځوو، چې په داسې حال کښې به ورننوځي چې بد ګڼلی شوی (او) رټلی شوی به وي.

[۱۹] او هرڅوک (چې په خپل عمل سره) آخرت (جنت) غواړي او د همدې دپاره ورسره لایقه سعیه (کوښښ کوي) حال دا چې سوچه مؤمن وي نو دغه کسان چې دي د دوی سعیه (کوښښ د الله ﷻ په نزد) شکر کړی شوی دی (چې مننه به یې وکړي او زیات اجرونه به ورکړي).

[۲۰] (د ذکرو شوو دوه وو ټولګیو څخه) هر یوه ته مونږ (ای پیغمبره!) ستا د رب ﷻ د ورکړې څخه امداد ورکوو، هاغې ډلې ته (چې دنیا غواړي) او دغې ډلې ته (چې آخرت غواړي). او ستا د رب ﷻ ورکړه (په دنیا کښې د کفارو څخه) ممنوعه نه ده.

[۲۱] (ای پیغمبره!) وګوره! چې مونږ (په رزق او نورو شیانو کښې) څنګه خینې په خینو نورو باندې بهتر ګرځولي دي، او هرومرو آخرت (جنت) د درجاتو د حیثه لوی دی او (هم) د بهتر ګرځولو د حیثه لوی دی.

## ارتباطونه

۱- په وړاندېنیو ایتونو کښې انسان ته دعجول لقب ورکړی شوی وه، او دلته د عجولیت په

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نتائجو باندې یوه تبصره شوې ده.

۲ـ هلته د یوه بنار د پوښنا کولو قانون بیان شوی وه، او دلته یې د یو پلوه څه مثالونو ته اشاره شوې ده او د بله پلوه څه وضاحت ورکړی شوی دی چې دا قانون الله ﷻ په عجله سره نه عملي کوي بلکې د حکمت په اقتضاء یې په عمل کښې پیاده کېږي، چې حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

۱ـ ای پیغمبره! ذکر شوی د هلاکت قانون مونږ د هر بل قوم څخه وړاندې د نوح ﷺ په قوم باندې تطبیق کړی دی چې د نهه نیم سوه کاله دعوت څخه وروسته مو هغوی پوښنا کړه او د مؤمنانو د نجات څخه وروسته مو ټول غرق کړه.

همدارنګه مونږ د نوح ﷺ څخه وروسته په ډېرو پېړیو کښې نوموړی قانون په عمل کښې پیاده کړی دی او د عادیانو او ثمودیانو په شمول مو ډېر قومونه هلاک کړي دي، نو په کار دي چې د قیامت تر ورځې پورې د دغه قانون د تطبیق څخه خلک وډار شي، دا ځکه چې:

ای پیغمبره! ستا رب ﷻ د خپلو بندګانو په ګناهونو باندې خبردار دی او هم پرې بینا دی، چې اقوال یې اوري او په زړونو باندې یې پوه دی او بالآخره کارونه او کړه وړه یې ګوري، نو یوازې د الله ﷻ کامله پوهه د ذکر شوي قانون د تطبیق دپاره کفایت کوي.

۲ـ ای پیغمبره! رښتیا چې انسان عجول او توندي کوونکی دی، چې د نسیاوو څخه په نغده باندې ډېر ترکیز کوي، مګر قرآني ارشادات ورته لاربنونه کوي او د توندۍ مخه یې نیسي نو د همدې کبله انسانان په لاندې دوه وو قسمونو باندې وېشل کیږي:

الف: یو قسم هغه انسانان دي چې د شریعت ارشادات د پښو لاندې کړي او د دنیا حقیر ژوند ته په ابدي ژوند باندې ترجیح ورکړي نو د دوی د توندۍ نتیجه لاندې خلاصه کېږي:

اول: کوم شی چې په دنیا کښې په عجله (توندۍ) سره غواړي هغه به ورته ورکړو خو د هغه په خوښه نه بلکې زمونږ په خوښه، چې څومره ورکوو او چاته یې ورکوو.

نو څه لرې نه ده چې خپل آخرت وړباندې خراب کړي مګر د دې سره-سره خپل مطلب ته یا د سره ونه رسېږي او یا د مطلب څه برخه ترلاسه کړي خو په پوره مطلب باندې برلاسي نه شي.

دوهم: دغه توندي کوونکي خلک به مونږ په آخرت کښې د دوزخ اور ته ورواچوو چې په داسې حال کښې به ورداخل شي چې هم به بدحالي او شرمېدلي وي او هم به د الله ﷻ د رحمت څخه په ابدي توګه شړلی شوی او لرې کړی شوی وي.

ب: بل قسم هغه انسانان دي چې دنیا ته د متاع البلاغ په نظر ګوري بلکې دنیا د آخرت د ګټلو دپاره غواړي او ټول کوښښ او زیار یې د آخرت دپاره وي، بلکې د همدې غرض دپاره کار کوي او د همدې غرض دپاره په قرآني ارشاداتو باندې عقیده کوي.

نو د دغه ګروپ انسانانو زیار او هلې ځلې د الله ﷻ په نزد باندې مقبولې دي چې په دنیا او

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



آخرت دوارو کښې به ورته اجرونه ورکړي، او د داسې طرف څخه به روزي ورته ورکړي چې په خیال کښې به یې هم نه ګرځي.

٣ـ ای پیغمبره! دغسې نه ده چې د دنیاوي نعمتونو د ترلاسه کولو دپاره کافر کېدل ګټور واقع کېږي لکه چې کفار خیال کوي، بلکې ذکرو شوو دواړو ډلو انسانانو ته (دغې ډلې ته او هاغې ډلې ته) مونږ په دنیا کښې امداد ورکوو او د ژوند ضروریات ورپوره کوو او دا څکه چې:

ای پیغمبره! دا ستا د رب ﷻ ورکړه ده او ستا د رب ﷻ ورکړه په دنیا کښې د هیچا څخه ممنوعه نه ده او هیڅوک ترې محروم نه دی بلکې د هر ژوندي شي (ساکښ) د روزۍ دپاره ستا رب ﷻ وعده کړې ده او په خپل فضل سره یې د ورکولو التزام کړی دی، د همدې کبله کفار یو په یو (په زغرده) نه نیسي او د کفر په سبب ورباندې روزي نه بندوي، بلکې دوی ته ښه کافي وخت ورکوي چې د پیغمبرانو په دعوت کښې پوره فکر وکړي او د کفر څخه لاس واخلي.

۴ـ ای پیغمبره! که بالفرض ستا رب ﷻ په کفر باندې روزي بندولی نو کفار به د همېشه دپاره په دنیا کښې خوار روزي وی خو خبره دغسې نه ده، د ښه اطمنان دپاره ته وګوره چې مونږ په انسانانو کښې څنګه ځینې ډلې په ځینو نورو کښې بهترې ګرځولې دي.

ځینې کفار په دنیاوي نعمتونو کښې په مؤمنانو باندې دپاسه دي، او بالعکس ځینې مؤمنان د کفارو په نسبت د زیاتو نعمتونو خاوندان دي، بلکې د حکمتونو په بنیاد نه کفار په خپلو منځو کښې په روزۍ کښې یو برابر دي او نه مؤمنان یو تربله په دنیاوي نعمتونو کښې مساوات لري.

۵ـ اما د آخرت نعمتونه په کفارو باندې بالکل حرام ګرځولی شوي دي او یوازې مؤمنانو پورې اختصاص لري خو دوی به هلته هم په خپل منځکښې د متفاوتو درجو درلودونکي وي او دا څکه چې آخرت د درجاتو د حیثه هم ډېر لوی دی او د فضائلو د ورکړې د حیثه هم ډېر لوی دی.

## توضیحات

١ـ په ﴿ مِنَ ٱلْقُرُونِ ﴾ کښې د "قُرُون" کلمه د "قَرْن" جمعه ده چې پوره بیان یې د [الأنعام: ۶] ایت لاندې تېر شوی دی ـ والحمد لله ﷻ ـ چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو.

٢ـ د ﴿ مِنْ بَعْدِ نُوحٍ ﴾ د کلماتو څخه داسې څرګندېږي چې د نوح ﷺ د قوم څخه وړاندې بل قوم د کفر په سبب د بېخه نه دی ویستلی شوی او نه دی پوپنا کړی شوی، د همدې کبله په یوه اوږده حدیث شریف کښې نبي کریم ﷺ نوح ﷺ ته د «أَوَّلُ الرُّسُل» لقب ورکړی دی[1] چې نوح ﷺ د هغو پیغمبرانو لومړنی پیغمبر دی کوم چې د کفر او بوت پرستۍ د مخنیوي دپاره استولی شوی وه.

## یو ارشاد

٣ـ د ﴿ عَجَّلْنَا لَهُۥ فِيهَا مَا نَشَآءُ لِمَن نُّرِيدُ ﴾ کلمات مونږ ته ارشاد کوي چې مونږ باید د دنیاوي

[1] صحيح البخاري ج١ ص٤٧٠؛ جامع الترمذي ج٢ ص٦٩

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



متاع د لاس ته راوړلو دپاره خپل ایمان په خطره کښې وانچوو او دا خکه چې د دنیاوي نعمتونو ورکړه صرف د الله ﷻ په ارادې پورې متوقفه ده چې چاته یې ورکوي او څومره ورکوي. نو د دې خبرې وېره شته چې یو سړی خپل ایمان هم د خطر سره مخامخ کړي او د دنیاوي متاع څخه هم هیڅ شی لاس ته ورنه شي، نو د دنیا او آخرت دواړو د خسران سره به مخامخ شي.

## مشکور عمل څه معنی؟

۴_ په ﴿ فَأُوْلَٰٓئِكَ كَانَ سَعۡيُهُم مَّشۡكُورٗا ﴾ کښې د مؤمنانو عمل او کوښښ ته د "مَشْكُور" لقب ورکړې شوی دی چې د "عَمَلْ" کلمه ورسره مراده ده. نو د معنی حاصل یې داسې راوځي چې دغه کسان کومو چې خپله ټوله توجه آخرت ته اړولې ده د الله ﷻ په نزد د مقبول عمل خاوندان دي چې د دوی د عمل څخه به شکریه وکړی شي او برسېره په آخرت باندې دنیا به هم ورکړی شي لکه چې په همدې مطلب باندې د نبي کریم ﷺ یو اورېد حدیث دلالت کوي چې مضمون یې دی:

هرڅوک چې دنیا اصلي مطلب وګرځوي نو الله ﷻ به یې کار تیت پرک وګرځوي او فقیري به یې په سترګو کښې واقع کړي چې بالکل به نه مرېږي حال دا چې نوموړی سړی به بل شی ترلاسه نه کړي مګر هغه چې په ازل کښې ورته لیکلی شوي وي. او بالمقابل د هرچا چې په زړه کښې آخرت اصلي مطلب وي نو الله ﷻ به یې کار راټول کړي او د افکارو د پرېشانۍ څخه به یې وساتي او زړه به یې په قناعت باندې غني کړي «وَأَتَتْهُ الدُّنْيَا وَهِيَ رَاغِمَةٌ»[١] او بالآخره دنیا به په داسې حال کښې ورروانه وي چې ذلیله (تابع) به وي او بدون د کوښښه به ورته حاصله شي بلکې د داسې طرف څخه به ورباندې برلاسي شي چې د هغه ګومان به هم نه کوي.

## یادونه

۵_ دا جمله: ﴿ كُلّٗا نُّمِدُّ هَٰٓؤُلَآءِ وَهَٰٓؤُلَآءِ مِنۡ عَطَآءِ رَبِّكَ ﴾ تقریباً د دې جملې ﴿ وَمَا مِن دَآبَّةٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِ رِزۡقُهَا ﴾ [هود: ۶] مضمون اداء کوي نو هیله ده چې پوره څېړنه یې هملته وکتله شي، چې الله ﷻ د کافرانو او مؤمنانو په شمول د ټولو ساکښانو د روزۍ د ورکړې التزام کړی دی.

## د آخرت درجات څومره او څو دي؟

۶_ په ﴿ وَلَلۡأٓخِرَةُ أَكۡبَرُ دَرَجَٰتٖ وَأَكۡبَرُ تَفۡضِيلٗا ﴾ کښې د جنت درجاتو ته اشاره شوې ده چې نبي کریم ﷺ په لاندې احادیثو کښې ډېرې ښې تفسیرې کړې دي:

الف: نبي کریم ﷺ په یوه اورېده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «إِنَّ فِي الْجَنَّةِ مِائَةَ دَرَجَةٍ أَعَدَّهَا اللهُ لِلْمُجَاهِدِينَ فِي سَبِيلِ اللهِ مَا بَيْنَ الدَّرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ»[٢] یعني یقیناً په جنت کښې سل درجې دي چې الله ﷻ د الله د لارې مجاهدینو دپاره تیارې کړې دي، چې د دوه وو درجو ترمنځ

---

(١) سنن ابن ماجه ص۳۰۲
(٢) صحیح البخاري ج۱ ص۳۹۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(فاصله دومره ده) لکه چې د ځمکې او اسمان ترمنځ (فاصله).

ب: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «في الْجَنَّةِ مِائَةُ دَرَجَةٍ مَا بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَالْفِرْدَوْسُ أَعْلَاهَا دَرَجَةً وَمِنْهَا تُفَجَّرُ أَنْهَارُ الْجَنَّةِ الْأَرْبَعَةُ وَمِنْ فَوْقِهَا يَكُونُ الْعَرْشُ فَإِذَا سَأَلْتُمُ اللهَ فَاسْأَلُوهُ الْفِرْدَوْسَ»[1] يعني په جنت کښې سل درجې دي چې د هرو دوه درجو ترمنځ (فاصله) د اسمان او ځمکې ترمنځ (د فاصلې غوندې) ده، او جنت الفردوس (په جنتونو کښې) د درجې د حيثه لوړ دی چې د همدې (جنت الفردوس) څخه د جنت څلور ويالې هم بهېږي او د جنت الفردوس څخه پاس عرش العظيم دی، نو تاسو چې کله د الله ﷻ څخه (د جنت) سوال کوئ، نو جنت الفردوس ترې وغواړئ (او د همدې سوال ترې وکړئ).

﴿لَّا تَجْعَلْ مَعَ ٱللَّهِ إِلَـٰهًا ءَاخَرَ فَتَقْعُدَ مَذْمُومًا مَّخْذُولًا ﴿٢٢﴾ وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوٓا۟ إِلَّآ إِيَّاهُ وَبِٱلْوَٰلِدَيْنِ إِحْسَـٰنًا ۚ إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ ٱلْكِبَرَ أَحَدُهُمَآ أَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُل لَّهُمَآ أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا ﴿٢٣﴾ وَٱخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ ٱلذُّلِّ مِنَ ٱلرَّحْمَةِ وَقُل رَّبِّ ٱرْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِى صَغِيرًا ﴿٢٤﴾ رَّبُّكُمْ أَعْلَمُ بِمَا فِى نُفُوسِكُمْ ۚ إِن تَكُونُوا۟ صَـٰلِحِينَ فَإِنَّهُۥ كَانَ لِلْأَوَّٰبِينَ غَفُورًا ﴿٢٥﴾ وَءَاتِ ذَا ٱلْقُرْبَىٰ حَقَّهُۥ وَٱلْمِسْكِينَ وَٱبْنَ ٱلسَّبِيلِ وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيرًا ﴿٢٦﴾ إِنَّ ٱلْمُبَذِّرِينَ كَانُوٓا۟ إِخْوَٰنَ ٱلشَّيَـٰطِينِ ۖ وَكَانَ ٱلشَّيْطَـٰنُ لِرَبِّهِۦ كَفُورًا ﴿٢٧﴾ وَإِمَّا تُعْرِضَنَّ عَنْهُمُ ٱبْتِغَآءَ رَحْمَةٍ مِّن رَّبِّكَ تَرْجُوهَا فَقُل لَّهُمْ قَوْلًا مَّيْسُورًا ﴿٢٨﴾﴾

[۲۲] او ته (ای پيغمبره!) د الله ﷻ سره بل معبود مه ګرځوه چې ته به کښېنې (وګرځې) بدګڼلی شوی (او) بې مدد کړی شوی.

[۲۳] او ستا رب ﷻ حکم کړی دی (په تاسو باندې يې فرض کړې ده) چې تاسو (د بل هيچا) عبادت مه کوئ مګر د همده ﷻ، او (هم) د مور او پلار سره (احسان وکړئ) احسان کول.

که چرته ستا په نزد هرومرو د دوی دواړو څخه يو تن او يا دواړه بوډاوالي ته ورسېږي نو دوی دواړو ته أف (قدرې هم) مه وايه او دوی دواړه مه رټه او (هم) دواړو ته د کرامت څخه ډکه (نرمه او پسته) خبره کوه.

[۲۴] او دوی دواړو ته د تواضع وزر د مهربانۍ (او زړه سوي) د کبله ښکته کړه (خواره کړه) او (خپل رب ﷻ ته د دوی دواړو دپاره د سوال لاسونه پورته کړه) او ووايه چې: ای ربه! په دوی دواړو

[1] جامع الترمذي ج۲ ص۷۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



باندې مهرباني وکړې (او په دنیا او آخرت کښې یې داسې وپالې) لکه چې دوی دواړو زه د ورکتوب په حال کښې پاللې یم

[۲۵] ستاسو رب ﷻ په هغه شي باندې ډېر ښه پوهېږي کوم چې ستاسو په زړونو کښې دی (نو دوی دواړو ته په زړه کښې هم مه په غُصه کېږئ). که چرته تاسو (ظاهرًا او باطنًا) صالحین یاست نو یقینًا الله ﷻ ډېرو رجوع کوونکو ته (د ګناهونو) بښونکی دی.

[۲۶] او د قرابت خاوند ته خپل حق ورکړه او مسکین ته هم او د لارې بچی (مسافر) ته هم (حقونه ورکړه)، او بې سنجشه انفاق (اسراف) مه کوه اسراف کول.

[۲۷] یقینًا اسراف کوونکي د شیطانانو ورونه دي (ناشکري کوي) او شیطان خپل رب ﷻ لره ناشکري کوونکی دی.

[۲۸] او که ته د دوی (دربوارو ډلو) څخه د خپل رب ﷻ د پلوه د رحمت د لټونې د کبله چې ته ورته لرې اعراض وکړې (چې څه دې په لاس کښې موجودیت نه لرې) نو دوی ته اسانه خبره ووایه (په پسته ژبه جواب ورکړه او سخت جواب مه ورکوه).

## ارتباط

د وړاندینیو ایتونو په مضمون کښې دا خبره هم شامله وه چې عجول انسان د شریعت ارشاداتو ته په کتلو سره په دوه وو ګروپونو باندې وېشلی شوی دی: یو ګروپ هغه دی چې په حاضره دنیا باندې د خپل زیار او کوښښ ترکیز کوي او د شریعت ارشادات د پښنو لاندې کوي او په نتیجه کښې د الله ﷻ د غضب لاندې واقع کېږي. او بل ګروپ هغه دی کوم چې خپلې ټولې هلې ځلې د آخرت دپاره کوي او حتی د دنیا په هر یوه کار کښې یې د الله ﷻ رضاء د نظر لاندې نیولې وي، چې دغه ډله په دنیا او آخرت کښې کامیابه ډله ده.

د دې ایتونو څخه نیولې آن تر [۳۹] ایت پورې په اتلس ایتونو کښې د شریعت د ارشاداتو څه مهم مثالونه نازل کړی شوي دي ترڅو پرې ذکرې شوې دواړه ډلې خپل خانونه وتلي چې څومره یې عملي کړي دي او څومره یې تر پښنو لاندې کړي دي.

په دغو اتلس ایتونو کښې تقریبًا د څلرویشتو (۲۴) احکامو نومونه اخستل شوي چې -إن شاء الله ﷻ- د مطالبو په خلاصه کښې به مسلسله شماره ورکړو:

## د مطلب خلاصه

یعني ای پیغمبره! اوس نو په خپل امت باندې د شریعت د احکامو څو مثالونه قرائت کړه ترڅو پرې هرڅوک خپل خان وتلي چې شریعت یې عملي کړی دی او که نه؟، هغه دا چې:

۱- ای پیغمبره! د خپلې تګلارې (خط السیر) تعقیب ته ادامه ورکړه او د الله ﷻ سره بل معبود مه دروه او په شریک ورته مه قائل کېږه او په همدې تګلارې باندې خپل امت ته توصیه وکړه.

که (بالفرض المحال) ته د الله ﷻ سره په عبادت کښې شریک ودروې نو ته به هیڅکله مطلب ته

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ونه رسېږي او د مايوسۍ (نااميدۍ) په حالت کښې به په ځمکه باندې کيني او د حرکته به ولوېږي.
په دې باندې علاوه د الله ﷻ د پلوه او هم د پرښتو او مؤمنانو د پلوه به په بدۍ سره ياد شي او د الله ﷻ توفيق به درسره نه وي.

۲_ اى پيغمبره! ته د خپل رب ﷻ عبادت ته ادامه ورکړه، او د همده ﷻ څخه پرته د بل هيڅ شي او هيچا عبادت مه کوه ځکه چې د ده ﷻ څخه په غير بل د عبادت مستحق نشته.

۳_ په دې باندې علاوه د خپلو والدينو (مور او پلار) سره احسان کوه ځکه چې دوى دواړه ستا د پاره مجازي تربيه کوونکي دي او په تا باندې زښت زيات حق لري مګر عبادت يې مه کوه او د الله ﷻ سره دوى دواړه هم شريکان مه ګرځوه او مه په دې باره کښې د هغوى اطاعت کوه.

۴_ که مور او پلار د بوډاتوب حال ته نه وي رسيدلي نو څه لرې نه ده چې ښې معقولې خبرې وکړي او په ناسته ولاړه کښې ورسره خپل اولادونه بې حوصلې نه شي مګر په اولادونو باندې لازمه ده که مور او پلار (دواړه) او يا د دواړو څخه يو تن د بوډاتوب په حال کښې مونده کړي چې په همدغه حال کښې يې هم خبرو ته زړه تنګى نه شي چې خپله زړه تنګي د "اُفْ" د کلمې په ويلو سره څرګنده کړي او په اشارې سره د دوى زړونه خپه کړي. نو اى پيغمبره! د الله ﷻ د پلوه د پلار او مور موندونکى مخاطب کړه چې په دغه حال کښې ورته د اُف کلمه هم مه استعمالوه.

۵_ او که ته ورته ډېر زړه تنګى شې نو په دغه حال کښې هغوى دواړه مه رټه او د کنځلو او بې عزته کولو خبره ورته مه کوه.

۶_ بلکې په عين حال کښې ورته د وقار او کرامت څخه ډکه وينا وکړه هسې نه چې يا ورباندې خندنۍ وکړې او يا ورته د مسخرو په توګه د کرامت والا خبره وکړې.

۷_ همدارنګه په عين حال کښې ورته د تواضع او عاجزۍ وزرونه خواره کړه او خپل ځان د مهربانۍ د کبله داسې وشمېره لکه چې د مرغۍ بچوړي د خپلې مور په وړاندې د وزرونو په ښورولو سره خپله عاجزي او کمزوري څرګندوي.

۸_ په دې ټولو باندې دپاسه د دواړو دپاره د الله ﷻ په حضور کښې د سوال لاسونه هم پورته کړه چې: اى زما ربه! زما په مور او پلار باندې داسې رحم او مهرباني وکړې لکه څنګه چې دوى دواړو په ما باندې مهرباني کړې ده او زه يې د وړکتوب په حال کښې روحًا او جسمًا تربيه کړى يم او مهرباني يې راباندې کړې ده.

اى انسانانو! ستاسو رب ﷻ ستاسو په زړونو باندې ډېر ښه پوهېږي چې تاسو د خپل مور او پلار دپاره څومره اخلاص لرئ؟ او د دوى سره څومره محبت لرئ؟ که تاسو هغوى دواړه وغولوئ نو خپل رب ﷻ خو نه شئ تېر ويستلى، ځکه چې ستاسو ټول حالات ورته ښه پوره څرګند دي.

نو که چېرته تاسو صالحان ياست او د مور او پلار سره ذکر شوي اقوال او افعال په نېک نيت سره ترسره کړئ او خپل ځانونه په صالحينو کښې وشمېرئ او خپل رب ﷻ ته رجوع وکړئ نو يقينًا ستاسو رب ﷻ د رجوع کوونکو دپاره د ګناهونو ښښونکى دى، نو د تقصيراتو څخه به مو

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



درتېر شي او عفوه به درته وکړي.

۹_ د قرابت خاوندانو ته خپل حق ورکړه برابره خبره ده چې مالي حق وي او که غیر مالي حق وي.

۱۰_ همدارنګه د مسکینانو او فقیرانو په حقونو باندې هم خبته مه اچوه او خپله تقوی وربانديې مه خرابوه.

۱۱_ د لارې د بچیانو (مسافرو) د حق ورکړه درباندې فرض ده چې درڅخه پاى مال نه شي.

۱۲_ همدارنګه خپل مال د شرعي چوکاټ څخه پرته مه مصرفوه او په کم او کیف کښې بې اسراف او فضول خرڅي مه کوه، او دا ځکه چې:

یقینًا اسراف کوونکي او د خپل مال بې ځایه مصرفوونکي د شیطانانو ورونه دي او هر یو شیطان د خپل رب ﷻ د نعمتونو ناشکره دی ځکه چې الله ﷻ ورته د ایمان راوړلو استعداد ښلی وه مګر کار یې ترې وانخست او د پښنو لاندې یې ضائع کړ نو (بدون د شرعي چوکاټ څخه خپل مال مصرفول د شیطان ۱۰ ورور، څخه په غیر بل شی نه دی.

۱۳_ اى پيغمبره! د ذکرو شوو درېواړو ډلو (ذوالقربى، مسكين، ابن السبيل) د حقوقو څخه هیڅکله اعراض مه کوه. هو! که د ضرورت د کبله د هغوی څخه ته اعراض وکړې چې ستا په لاس کښې هغه څه موجودیت ونه لري په کوم باندې چې د هغوی حق او غوښتنه پوره کېدلی شي حال دا چې ته د خپل رب ﷻ د رحمت په پلټنه کښې مصروف یې او اُمید لرې چې په تاباندې به خپل رب ﷻ څه مهرباني او رحمت وکړي او دومره څه به درکړي چې ته وربانديې د ذکرو شوو ټولو غوښتنې جوابې کړې، نو په دې صورت کښې ترې اعراض وکړه خو نرمه او پسته خبره ورته وکړه ترڅو هغوی زړه بدي او د خپګان سره مخامخ نه شي. یا په بل عبارت په ذکر شوي صورت کښې د ورکړې څخه اعراض وکړه مګر د نرمې او پستې خبرې څخه اعراض مه کوه او وچ کلک جواب مه ورکوه.

## توضیحات

۱_ په ﴿ فَتَقْعُدَ مَذْمُومًا مَّخْذُولاً ﴾ کښې د "مَخْذُول" کلمه د "خُذْلَان" _لکه "نُصْرَان"_ څخه اشتقاقه شوې ده. "خُذْلَان" دې ته وايي چې هغه څوک د چا نصرت پرېږدي په کوم باندې چې د نصرت کولو ګومان کېږي[1] نو د معنی حاصل به یې داسې راوخېژي چې هرڅوک د الله ﷻ سره شریک ودروي نو د یو پلوه به بد وګڼلی شي او د الهي غضب به لايق وګرځي او توفیق به مونده نه کړي او د بله پلوه به ورسره هغه څوک کومک ونه کړي په چا باندې چې د نصرت او کومک کولو ګومان کوي او په همدې منظور ورته د الهي شریک په نظر ګوري. همدې مضمون ته نبي کریم ﷺ اشاره کړې ده او فرمايلي يې دي چې: «مَنْ نَزَلَتْ بِهِ فَاقَةٌ فَأَنْزَلَهَا بِالنَّاسِ لَمْ تُسَدَّ فَاقَتُهُ وَمَنْ نَزَلَتْ بِهِ فَاقَةٌ فَأَنْزَلَهَا بِاللهِ فَيُوشِكُ اللهُ لَهُ بِرِزْقٍ عَاجِلٍ أَوْ آجِلٍ»[2] يعنې هر چاته چې حاجت پېښ شي او خلکو ته يې وړاندې

---

(۱) مفردات الراغب ص۱۴۵

(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۵۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کړي نو د حاجت مخه به يې بنده شي (لاس ته به ورنه شي) او هرڅوک چې محتاج شي او خپل حاجت الله ﷻ ته وړاندې کړي (د همده ﷻ څخه يې وغواړي) نو په چالاکۍ سره به الله ﷻ هغه ته عاجله روزي (په دنيا کښې) او يا څه په نښته روزي (په آخرت کښې) ورکړي او حاجت به يې پوره کړي.

## قضاء څه معنی؟

۲_ په ﴿ وَقَضَىٰ رَبُّكَ ﴾ کښې د ﴿ قَضَىٰ ﴾ کلمه د "قضاء" څخه اشتقاقه شوې ده، په قرآن کريم کښې دغه (قضاء) په ډېرو معناوو باندې استعماله شوې ده[۱].

که څه هم په دې مقام کښې مفسرينو کرامود "امر" په معنی اخستې ده يعنې ای پيغمبره! ستا رب ﷻ په راتلونکو کارونو باندې امر کړی دی؛ مګر څرنګه چې راتلونکي کارونه ټول مامورات نه دي بلکې ځينې پکښې منهيات دي _لکه ﴿ وَلَا تَقْتُلُوٓاْ أَوْلَٰدَكُمْ ﴾ او داسې نور_ نو مونږ ته بهتره برېښي چې دلته د قضاء کلمه د توصيةً معنی ورکړو. يعنې ای پيغمبره! ستا رب ﷻ په کلکه سره تاته په راتلونکو شيانو باندې توصيه کړې ده چې ځينې عملي کړي او د ځينو څخه اجتناب وکړي لکه چې فرمايي د ﴿ وَوَصَّيْنَا ٱلْإِنسَٰنَ بِوَٰلِدَيْهِ ﴾ [لقمان: ۱۴] يعنې مونږ انسان ته په کلکه د مور او پلار سره په احسان کولو باندې توصيه کړې ده، چې نوموړې کلمه په همدې معنی باندې استعماله شوې ده[۲].

## سوال جواب

۳_ که څوک وايي چې: د ﴿ لَّا تَجْعَلْ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ ﴾ کلمات خو عين د ﴿ أَلَّا تَعْبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُ ﴾ د کلماتو مضمون اداء کوي نو پوښتنه دا ده چې د څه حکمت په منظور يو مضمون په دوه وو ايتونو کښې په تکرار سره نازل کړی شو؟

مونږ وايو چې: د ﴿ لَّا تَجْعَلْ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ ﴾ کلمات خاص دي، يوازې شرکي عقېدې ته شموليت لري، دهريت ته شامل نه دي. او د ﴿ أَلَّا تَعْبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُ ﴾ کلمات عام دي، هغه کفر ته هم شامل دي کوم چې په شرکي عقيده بناء وي او هغه کفر ته هم شموليت لري چې د دهريت په عقيده ولاړ وي او بالکل د الله ﷻ عبادت نه کوي، د ښه وضاحت دپاره لاندې ايتونه قرائت کړئ:

الف: الله ﷻ فرمايي: ﴿ أَرَءَيْتَ مَنِ ٱتَّخَذَ إِلَٰهَهُۥ هَوَىٰهُ ﴾ [الفرقان:۴۳] يعنې ايا ته ګورې چې چا خپل خواهش معبود نيولی دی؟ ايا ته د هغه د هدايت ذمه واري کولی شې؟.

ب: الله ﷻ د دهريانو کفارو څخه حکايت کوي چې: ﴿ وَمَا يُهْلِكُنَآ إِلَّا ٱلدَّهْرُ ﴾ [الجاثيه: ۲۴] يعنې ای پيغمبره! ځينې کفار وايي چې: بل ژوندون نشته فقط همدغه ژوندون دی چې مونږ د نباتاتو غوندې مړه کېږو او ژوندي کېږو او مونږ بل هيڅوک نه هلاکوي (مړه کوي) مګر زمانه.

---
(۱) تفسير القرطبي ج ۱۰ ص ۲۳۷
(۲) لسان العرب ج ۱۵ ص ۳۹۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو که بالفرض د لومړنيو کلماتو په نزول اکتفاء شوې وی د کفر ځينې ډولونه (لکه دهريت) به د ذکر څخه پاتې شوي وی، او که په دوهمو کلماتو باندې بسوالی شوی وی نو د وخت کفار (مشرکان) به په صراحت سره د شرک څخه نه وی منعه کړی شوي.

## د أُف ويل څه معنی؟

۴_ په ﴿ فَلَا تَقُل لَّهُمَآ أُفٍّ وَلَا تَنۡهَرۡهُمَا ﴾ کښې د ﴿ أُف ﴾ کلمه د لغت په اعتبار سره ډېرې معناوې لرې لکه د نوکانو خيرى او داسې نور[1]، مګر په محاوراتو کښې ذکره شوې کلمه هغه څوک استعمالوي کوم چې د يوه کار او يا يوې وينا څخه زړه تنګی شي او د خپل خان په ضرر باندې يې وګني[2]، د دې کلمې استعمال په عربي محاورې پورې اختصاص نه لري بلکې په پښتو کښې هم ذکر شوی استعمال شتون لري.

نو په دې مقام کښې يې د معنی حاصل داسې راځېژي چې: ای مؤمنانو! تاسو د مور او پلار کارونو او خبرو ته مه زړه تنګي کېږئ چې يا خپله زړه تنګي د أُف د کلمې په ويلو سره ځرګنده کړئ او يا يې ورتېئ چې داسې دې ولې وويلې او يا داسې دې ولې وکړه!؟ لکه چې دوی دواړه ستاسو د ماشومتوب په حال کښې ستاسو په ساده خبرو او يا ساده کارونو باندې نه دي زړه تنګي شوي، چې نه يې تاسو ته د أُف کلمه اورولې ده او نه يې رټلي ياست، بلکې په هغه وخت کښې دوی دواړو ستاسو ماشومانه حرکات په خندا او خوشالۍ سره بدرګه کول. يا په بل عبارت: کله به چې تاسو خپلې جامې چټلې کړې او يا به مو د هغوی په غېږ کښې خپل طبعي ضروريات اجراء کړه نو دوی دواړه به نه تاسو ته په غُصه کېدل او نه به درته زړه تنګي کېدل.

## کريم قول څه معنی؟

۵_ يوه ورځې د سعيد بن المسيّب عليه الرحمة څخه چا پوښتنه وکړه چې: زه د ﴿ وَقُل لَّهُمَا قَوۡلٗا كَرِيمٗا ﴾ په معنی نه پوهېږم چې قول کريم د کوم ډول خبرو څخه عبارت دی؟.

هغه جواب ورکړ چې: "قَوْلُ الْعَبْدِ الْمُذْنِبِ لِلسَّيِّدِ الْفَظِّ"[3] يعنې قول کريم د دې څخه عبارت دی چې سړی د مور او پلار په وړاندې داسې په عاجزۍ خبرې وکړي لکه څنګه چې يو ګنهګار غلام د خپل غُصناک بادار په وړاندې د خپلې ګناه اعتذار وړاندې کوي.

همدارنګه په کار دي چې مور او پلار په نومونو سره ونه بللی شي بلکې د وقار او عزت څخه ډک القاب ورته بايد استعمال کړی شي لکه ای پلاره! او ای مورې! او يا داسې نور[4].

---

(۱) زاد المسير ج۵ ص۱۸
(۲) لسان العرب ج۹ ص۶
(۳) الدر المنثور ج۵ ص۲۵۹
(۴) البحر المحيط ج۷ ص۳۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د جَنَاحَ الذُّلِّ معناوې

۶- په ﴿ وَٱخۡفِضۡ لَهُمَا جَنَاحَ ٱلذُّلِّ مِنَ ٱلرَّحۡمَةِ ﴾ کښې د ﴿ جَنَاحَ ﴾ کلمه د "وزر" څخه عبارت ده او د "ذُل" کلمه د تواضع او عاجزۍ معنی ورکوي نو په دې مقام کښې يې د معنی حاصل په لاندې دولونو باندې راځېږي چې[1]:

الف: د مور پلار په وړاندې د عاجزۍ وزرونه خواره کړه لکه څنګه چې د يوه مرغۍ وړوکی ناتوانه بچی د خپلې مور په وړاندې خپلو وزرونو ته په ځمکه باندې په ورو-ورو حرکت ورکوي او اذوقه ترې غواړي.

ب: د خپلې مور او پلار څخه پرواز (تکبر) مه کوه بلکې د مهربانۍ او نرمۍ د کبله وربانديې د عاجزۍ وزرونه داسې ورخواره کړه لکه څنګه چې يوه چرګه په خپلو چرګوړو باندې خپل وزرونه خوروي او حفاظت يې کوي. نو څه لرې نه ده چې د بدليت په اعتبار سره دواړه معناوې مرادې وي.

## مور او پلار ته مغفرت غوښتل هم يو حق دی

۷- په ﴿ وَقُل رَّبِّ ٱرۡحَمۡهُمَا ﴾ کښې دې خبرې ته اشاره ده چې (برسېره په هغو مهربانيو باندې کومې چې د اولاد په واک او اختيار کښې دي او وړاندې ورته اشاره وشوه) په دوی باندې د مور او پلار د حقوقو څخه يو حق دا هم دی چې د الله ﷻ څخه ورته هم مهرباني وغواړئ او د دوی دپاره د سوال لاسونه پورته کړئ چې: ای ربه! په دواړو باندې داسې مهرباني وکړې لکه چې دوی په ما باندې د ماشومتوب په حال کښې مهربانۍ کړې وه او په خپل فضل سره يې داسې تربيه کړې لکه چې زه يې تربيه کړی او غټ کړی يم، ای ربه! ګناهونه ورو‌ببښې او په دنيا کښې يې د غمونو څخه وساتې او په آخرت کښې ورته جنتونه ورکړې.

هوا که د چا مور او پلار کافران وي او ژوندي وي نو په هغه باندې لازمه ده چې د الله ﷻ څخه ورته يوازې د مهربانۍ سوال وکړي چې: ای ربه! په دوی دواړو باندې رحم وکړې او د ايمان راوړلو توفيق ورکړې چې په ايمان باندې مشرف شي. او دا ځکه چې د کافرانو دپاره د مغفرت د غوښتلو اجازه په شريعت کښې نشته.

## سوال جواب

۸- که څوک وايي چې: وړاندې په پنځو فقرو کښې الله ﷻ نبي کريم ﷺ مخاطب کړ چې: مور او پلار ته أُف مه وايه، او ستغې خبرې ورته مه کوه،او هم ورته پستې خبرې کوه او په وړاندې يې تواضع څرګندوه، او بالآخره د الله ﷻ څخه ورته مرحمت غواړه، نو پوښتنه دا ده چې د نبي کريم ﷺ مور او پلار خو د ايتونو د نزول په وخت کښې ژوندي نه وه (وفات شوي وه) نو په کوم ملحوظ ورته خطاب متوجه کړی شوی دی؟

[1] روح المعاني ج۱۵ ص۵۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو چې: ذکر شوي ارشادات اصلاً ټولو مؤمنانو ته متوجه دي او نبي کريم ﷺ ورباندې د دې دپاره مخاطب کړی شوی دی چې اهميت يې څرګند شي او د قيامت د ورځې پورې خلک په غوږ باندې ووهلی شي چې که بالفرض د نبي کريم ﷺ مور او پلار ژوندي وی نو ده ته به هم مکلفيت متوجه وی.

## د مرګ څخه وروسته د مور او پلار حقوق

۹_ د چا مور او پلار چې وفات شي هم حقوق يې ورباندې نه ختميږي د مثال په توګه لاندې وضاحتونه ولولئ:

الف: په سړي باندې لازمه ده چې خپلو مسلمانانو (مور او پلار) ته د مغفرت دعاوې وکړي، نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِذَا مَاتَ الْإِنْسَانُ انْقَطَعَ عَنْهُ عَمَلُهُ إِلَّا مِنْ ثَلَاثَةٍ إِلَّا مِنْ صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ أَوْ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ أَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُو لَهُ»[۱] يعني کله چې بنيادم مړ شي نو د ده عمل ترې قطعه کيږي (نوی ثواب نه شي ګټلی) مګر د دريو عملونو څخه د نوموړي اجرونه نه قطعه کيږي چې هغه جاري صدقات دي لکه جومات جوړول، مدرسه ابادول او داسې نور چې ثوابونه يې جاري پاتې کيږي. او هم يې علم دی چې ثواب يې نه منقطع کيږي لکه چې شاګردان يې روزلي وي او تصانيف يې پريښې وي، او بالآخره د صالح بچوړي د پلوه يې هم اجرونه جريان لري چې دعاوې ورته کوي.

ب: يوه ورځې د نبي کريم ﷺ څخه يوه سړي پوښتنه وکړه چې: يا رسول الله! ايا په ماباندې د خپل پلار او مور څه د نيکۍ حق شته چې د دواړو د مرګ څخه وروسته يې ورسره وکړم؟

نبي کريم ﷺ جواب ورکړ چې: «نَعَمْ الصَّلَاةُ عَلَيْهِمَا وَالِاسْتِغْفَارُ لَهُمَا وَإِيفَاءُ بِعُهُودِهِمَا مِنْ بَعْدِ مَوْتِهِمَا وَإِكْرَامُ صَدِيقِهِمَا وَصِلَةُ الرَّحِمِ الَّتِي لَا تُوصَلُ إِلَّا بِهِمَا»[۲] يعني هو، په تا باندې يې حق دی چې په دواړو باندې د رحمت نزول وغواړې او دواړو ته د مغفرت دعاوې وکړې او هم د دواړو په عهدونو باندې د دوی د مرګ څخه وروسته هم وفاء وکړې (په خپل عهد باندې ودريږې) او د دواړو د دوستانو (او استاذانو) احترام او عزت وکړې او بالآخره د خپلوۍ هغه څنډه وصل (ټينګه) کړې کومه چې فقط د همدوی دواړو په سلسله (تاته) وصل کيږي او کومه چې فقط د همدوی دواړو د خاطره وصل کول غواړي، لکه د دوی او لادونه او د دوی پلرونه او نيکونه او بالآخره لکه میاره او پلندر او داسې نور.

ج: شايد چې ذکر شوي حقونه به د مور او پلار څخه په غير نور خپلوان هم د درجاتو په تفاوت سره په سړي باندې لري او دا څکه چې په يوه اورږده حديث کښې بي بي عائشه رضي الله عنها (أم المؤمنين) وايي چې: «وَإِنْ كَانَ لَيَذْبَحُ الشَّاةَ فَيَتَتَبَّعُ بِهَا صَدَائِقَ خَدِيجَةَ فَيُهْدِيهَا لَهُنَّ»[۳] يعني او يقيناً نبي کريم ﷺ وه چې پسه به يې ذبحه کاوه او بيا به يې د بي بي خديجة الکبرى (أم المؤمنين رضي الله عنها) دوستانې

(۱) صحيح مسلم ج۲ ص۴۱
(۲) سنن ابن ماجه ص۲۶۰
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۲۲۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورته لېږولې او د مذبوحه پسه غوښه به يې ورته هديه کوله.

د: يوه ورځې عبد الله بن عمر رضي الله عنهما د مکې معظمې په لاره کښې يو سړی د خپلې سورلۍ په خره باندې سور کړ، او خپله پګړۍ يې ورپه سر کړه، کله چې د نوموړي صحابي رضي الله عنه څخه د دغه کار وجه وغوښتله شوه نو جواب يې ورکړ چې د دغه سړي پلار زما د پلار (عمر بن الخطاب رضي الله عنه) دوست وه او ما د نبي کريم ﷺ څخه اورېدلي دي چې: «إِنَّ أَبَرَّ الْبِرِّ صِلَةُ الْوَلَدِ أَهْلَ وُدِّ أَبِيهِ»[۱] يقينًا (د پلار سره) په نېکيو کښې ډېره ښه نيکي دا ده چې يو بچوړی د خپل پلار د دوستۍ د خاوندانو سره پيوستون (او صلة الرحم) وکړي.

## کافره مور او يا کافر پلار هم حق لري

۱۰_ په دنيا کښې د مور او پلار حقونه او امدادونه د دوی دواړو په کفر او شرک باندې د منځه نه ځي، لکه چې يوه ورځې اسماء بنت ابي بکر رضي الله عنهما د نبي کريم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې يا رسول الله! ايا زه د خپلې مور سره صله رحمي وکړم حال دا چې هغه کافره ده او کومک ته رغبت کوونکې ده (ورته اړه ده)؟ نبي کريم ﷺ جواب ورکړ چې: «نَعَمْ صِلِي أُمَّكِ»[۲] هو. د خپلې مور سره صله رحمي وکړه.

## سوال جواب

۱۱_ که څوک وايي چې يوه ورځې نبي کريم ﷺ د نهو کبيره وو ګناهونو څخه عقوق الوالدين هم وشمېرل[۳]، نو پوښتنه داده چې: عقوق الوالدين څه ته وايي او په څه شي باندې تحقق مومي؟

مونږ وايو چې: د "عُقُوق" کلمه د "عَقّ" د کلمې سره په اصلي حرفونو کښې متحده ده، "عَقّ" پرېکولو ته ويل کېږي د همدې کبله ذبحه کړی شوی څاروی د "عَقِيقَة" په نوم يادېږي چې شارګونه او مرۍ يې پرې شوې وي[۴]، هغه څاروي ته هم دغه لقب ورکړی شوی دی کوم چې د يوه ماشوم د سر څخه په اول ځل د وېښتانو د پرېکولو په وخت کښې ذبحه کول کېږي او دا ځکه چې د وېښتانو د پرېکولو د شکريې په خاطر ذبحه شوی دی.

که څه هم ځينو علماوو کرامو[۵] د عُقوق الوالدين په پېژاندلو کښې ډېر اوږد بحث کړی دی که څوک فرصت لري نو هملته دې مراجعه وکړي مګر زمونږ په نظر د مور او پلار عقوق د دې څخه عبارت دی چې حقوق ورنه کړی شي او صلة الرحم ورسره پرې کړی شي يا په بل عبارت چې په ايتونو کښې ذکر شوي پنځه فقرئيز ارشادات د پښو لاندې کړی شي؛ نو که څوک يې ټول حقوق د

(۱) صحيح مسلم ج۲ ص۳۱۴
(۲) صحيح البخاري ج۱ ص۳۵۷
(۳) سنن ابي داود ج۲ ص۴۱
(۴) النهاية في غريب الحديث والاثر ج۳ ص۲۷۶
(۵) روح المعاني ج۱۵ ص۵۹؛ تفسير القرطبي ج۱۰ ص۲۳۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پښو لاندې کړي هغه به په عقوق کښې اول نمره وي که نه نو د هر يوه حق په ضايع کولو باندې (د مراتبو په تفاوت سره) سړی د عاق (پرېکونکي) لقب ګټي.

لنډه دا چې د مور او پلار اطاعت ضرور دی مګر يو شرط لري هغه دا چې د دوی دواړو غوښتنه د شريعت د چوکاټ څخه دباندې نه وي او دا ځکه چې:

الف: الله ﷻ فرمايي چې: ﴿وَإِن جَٰهَدَاكَ عَلَىٰٓ أَن تُشْرِكَ بِى مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا﴾ [لقمان:١٥] يعني او كه ستا مور او پلار کوښښ وکړي او تا دې خبرې ته وهڅوي چې زما سره هغه شی شريک کړې په کوم باندې چې تاته علم نشته، نو د دوی دواړو اطاعت مه کوه (دا په عقوق الوالدين کښې نه شمېرل کېږي).

ب: نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «لَا طَاعَةَ فِي مَعْصِيَةِ اللهِ»[1] يعنې د الله ﷻ څخه په نافرمانۍ کښې بالکل اطاعت نشته که څه هم چاته خپل مور او پلار امر وکړي.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه ځينو مفسرينو کرامو د مور او پلار په ارتباط زښت ډېر احاديث راغونډ کړي دي او هم يې د سلفو صالحينو ډېر اثار راټول کړي دي[2] الله ﷻ دې ورته اجرونه ورکړي که څوک يې د لوستلو شوق لري نو هملته دې لطفاً مراجعه وکړي ځکه چې دا کتاب د اوږدو بحثونو حوصله نه لري او فقط د ضروورياتو په ذکر باندې بسنه کوي.

## اواب څه معنی؟

١٢_ په ﴿فَإِنَّهُۥ كَانَ لِلْأَوَّٰبِينَ غَفُورًا﴾ کښې د "أَوَّابِيْنَ" کلمه د "أَوَّاب" _لکه "عَلَّام"_ جمعه ده، چې د "أَوْب" _لکه "ضَرْب"_ څخه اشتقاقه شوې ده. "أَوْب" د هغې شي رجوع کولو ته ويل کېږي کوم چې د ارادې خاوند وي[3] په دې مقام کښې علماوو کرامو د "أَوَّابِيْنَ" په تفسير کښې متعدد اقوال کړي دي چې تقريباً لسو ته رسېږي[4]. لکه ډېر توبه کوونکي او ډېر لمونځ کوونکي او يا هغه کسان کوم چې د ماښام او ماسخوتن د لمونځونو ترمنځ نوافل کوي او يا د څاښت په وخت د نوافلو اداء کوونکي وي او داسې نور.

مګر شيخ المفسرين (العلامة الطبري عليه الرحمة) وايي چې: "أَوَّاب" د هغه چا څخه عبارت دی کوم چې د ګناه څخه توبه تائب وي او د هغه شي څخه خپل ځان په څنګ ساتي په کوم کښې چې د الله ﷻ څخه عصيان نغښتی وي او د ده رضاء پکښې نه وي[5]. مونږ ته يې همدغه معنی په زړه پورې برېښي چې تقريباً ټولو تفاسيرو ته يې شامله ده.

---

(١) صحيح مسلم ج٢ ص١٢٥

(٢) تفسير ابن كثير ج٣ ص٣٤؛ تفسير الخازن ج٤ ص٣١؛ الدر المنثور ج٥ ص٢٥٨

(٣) مفردات الراغب ص٢٥

(٤) زاد المسير ج٥ ص٢٠

(٥) تفسير الطبري ج١٥ ص٧١

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## تبذير څه معنی؟

١٣_ د ﴿وَلَا تُبَذِّرْ﴾ کلمه د "تَبْذِير" څخه اشتقاقه شوې ده چې په مصداق کښې د اسراف سره مساوي ده چې مونږ _لله ﷻ الحمد والثناء_ د [الأنعام: ١٤١] ایت لاندې په متعددو صورتونو کښې شرحه کړې ده، اما د اشتقاق په اعتبار سره په مفهوم کښې په لاندې ډول فرق لري:

"تَبْذِير" د (إِلْقَاءُ الْبَذْرِ) تخم شيندلو ته ويل کېږي چې شيندونکی د دانو د غورزېدلو مراعات نه کوي چې فلانکۍ دانه دې په فلانکَي ځای کښې ولوېږي او داسې نور.

او "إِسْرَاف" د شرعي حد څخه تجاوز ته ويل کېږي برابره خبره ده چې په افراط سره وي او يا په تفريط سره، او هم برابره خبره ده چې په کميت کښې وي او يا په کيفيت کښې وي.

شايد چې په دې مقام کښې به د "تَبْذِير" کلمه ځکه نازله کړی شوې وي ترڅو مونږ په خپل انفاق کښې دقت وکړو چې غير مستحقو کسانو ته يې ورنه کړو يا په بل عبارت بايد خپل مال د توخم په څېر وشيندو چې چرته لوېږي هلته به لوېږي او مراعات يې د ذهن څخه وباسو.

## سوال جواب

١۴_ که څوک وايي چې: په ﴿ٱبْتِغَآءَ رَحْمَةٍ مِّن رَّبِّكَ تَرْجُوهَا﴾ کښې د ﴿ٱبْتِغَآءَ﴾ کلمې ته څه شي نصب ورکړی دی؟

مونږ وايو چې: که څه هم ځينو علماوو کرامو جائزه ګڼلې ده چې ذکره شوې کلمه د جزا دپاره "مفعول لهُ" واقع شي[1] يعنې ای پيغمبره! که د ذکرو شوو ډلو د انفاق څخه اعراض وکړې او ورکړې ته دې نيت نه وي نو هغوی په نرمه باندې جواب کړه د دې دپاره چې د خپل رب ﷻ هغه رحمت او ثواب ولټوي کوم ته چې ته اُميد لري، که بالفرض ستغ جواب ورکړې نو د دغه اجر څخه به محروم شې؛ مګر مونږ ته بهتره برېښي چې ذکره شوې کلمه د شرط دپاره "مفعول لهُ" واقع شي او ذکر شوي ټول کلمات د ناداری څخه کنايه شي نو د معنی حاصل به يې داسې راوځېژي چې:

ای پيغمبره! که ته د ذکرو شوو دربهاړو ډلو د انفاق څخه د دې کبله اعراض (ډډه) کوې چې څه نه لرې او په تمه يې چې څه حلال مال به لاس ته درشي، نو هغوی ته نرم جواب ورکړه او ستغه خبره ورته مه کوه.

مونږ ځکه ذکر شوی تفسير غوره کړ چې د نبي کريم ﷺ د جواديت او سخاوت سره ښه مناسب دی. لکه چې يوه ورځې ورباندې سوالګرو ټېل وروور حتی چې څادر يې په يوه اغزي لرونکې ونې کښې ونښت نو ويې فرمايل چې څادر مې راکړئ: «فَلَوْ كَانَ عَدَدُ هَذِهِ الْعِضَاهِ نَعَمًا لَقَسَمْتُهُ بَيْنَكُمْ ثُمَّ لَا تَجِدُونِي بَخِيلًا وَلَا كَذُوبًا وَلَا جَبَانًا»[2] که بالفرض د دغو ونو (د بېديا ونو ته يې اشاره وکړه) په اندازه

(١) تفسير الكشاف ج٢ ص٦٦٢

(٢) صحيح البخاري ج١ ص۴۴۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خاروي زه ولرم نو هغه به تول ستاسو په منځکښې ووېشم، نو بیا به مې تاسو نه بخیل مونده کړئ او نه دروغژن او (بالآخره) نه بې زړه (چې د فقر څخه وډار شم).

﴿وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُولَةً إِلَىٰ عُنُقِكَ وَلَا تَبْسُطْهَا كُلَّ ٱلْبَسْطِ فَتَقْعُدَ مَلُومًا مَّحْسُورًا ﴿٢٩﴾
إِنَّ رَبَّكَ يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقْدِرُ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ بِعِبَادِهِۦ خَبِيرًۢا بَصِيرًا ﴿٣٠﴾ وَلَا تَقْتُلُوٓا۟
أَوْلَٰدَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلَٰقٍ ۖ نَّحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَإِيَّاكُمْ ۚ إِنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْـًٔا كَبِيرًا ﴿٣١﴾ وَلَا تَقْرَبُوا۟
ٱلزِّنَىٰٓ ۖ إِنَّهُۥ كَانَ فَٰحِشَةً وَسَآءَ سَبِيلًا ﴿٣٢﴾ وَلَا تَقْتُلُوا۟ ٱلنَّفْسَ ٱلَّتِى حَرَّمَ ٱللَّهُ إِلَّا بِٱلْحَقِّ ۗ وَمَن
قُتِلَ مَظْلُومًا فَقَدْ جَعَلْنَا لِوَلِيِّهِۦ سُلْطَٰنًا فَلَا يُسْرِف فِّى ٱلْقَتْلِ ۖ إِنَّهُۥ كَانَ مَنصُورًا ﴿٣٣﴾﴾

[۲۹] او لاس دې خپلې غاړې ته تړلی شوی مه ګرځوه (بخل مه کوه)، او مه یې خوروه (غزوه) نهایت غزول (په ورکړه کښې افراط مه کوه)، نو ته به (په اول صورت کښې) ملامت کړی شوی او (په دوهم صورت کښې) ستومانه شوی (د مال څخه لوڅ پوڅ) کیني، (چې دواړه صورتونه د ستاینې وړ نه دي).

[۳۰] یقینًا (ای پیغمبره!) ستا رب ﷻ د هغه چا دپاره روزي پراخوي کوم ته یې چې اراده وشي او (چا ته یې چې اراده وشي هغه ته یې) تنګوي (چې ټول کارونه یې په حکمت ولاړ دي).
یقینًا همدی ﷻ په خپلو بندګانو باندې خبردار (او) بینا (لیدونکی) دی.

[۳۱] او تاسو خپل اولادونه د فقیرۍ د ډاره مه وژنئ، مونږ هغوی ته هم روزي ورکوو او تاسو ته هم (اولادونه تاسو نه فقیران کوي).
بې شکه چې د دوی وژل ډېره لویه ګناه (او خطاکاري) ده، (عقلاً او شرعًا).

[۳۲] او تاسو زنا ته مه ورنژدې کېږئ، یقینًا زنا چې ده ډېره قبیحه (بده) ده، او (همدارنګه زنا) د لارې د حیثه ډېره بده ده (چې د ډېرو فتنو او فسادونو سبب جوړېږي).

[۳۳] او تاسو هغه نفس مه وژنئ د کوم (وژل) چې الله ﷻ حرام کړي دي، مګر په حقه سره. او هرڅوک چې د مظلومیت په حال کښې ووژل شي نو مونږ د هغه وارث (یا متولي) ته سلطه (واک ګرځولی (ورکړی) دی (چې قصاص یا دیت واخلي).
نو نوموړی (وارث یا متولي) دې په وژلو (قصاص کولو) کښې د شرعي حد څخه تجاوز نه کوي (ځکه چې) نوموړی (د شریعت د پلوه) نصرت کړی شوی دی (نو د دې شکریه دې وکړي او اسراف دې نه کوي).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې هم د شریعت د ارشاداتو د څو احکامو نومونه اخستلی شوي دي او هغه

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شماره پکښې تعقيب شوې ده کومه چې د وړاندېنيو ايتونو په مطلب خلاصه کښې ديارلسو ته رسېدلی ده نو حاصل يې داسې راځېږي چې:

۱۴_ ای پيغمبره! د خپلو مالونو په انفاق کښې اقتصاد (ميانه روي) کوه يا په بل عبارت مه دومره سختي او بخل کوه لکه چې لاس دې د غاړې پورې تړلی شوی وي او د سوګتی د امله بالکل انفاق ونه کړې، او مه دومره سخاوت او ورکړه کوه چې په لاس کښې هيڅ شی پرېنږدې او په انتهاء درجه کښې خپل لاس وغزوې.

که نه نو په اول صورت کښې به تاته د ملامتی لقب درکړی شي چې په واجبي انفاق کښې به د الله ﷻ دپلوه د ملامتی لاندې واقع شي او بنيادمان خو به درته ضرور د ملامتی ګوته ونيسي، او په دوهم صورت کښې به ستړی ستومانه شي او په خپلو ورکړو باندې به نادم (پښېمانه) شې او يا به خپل لاس چاته د سوال دپاره اوږد کړې او د مجبوری سره به مخامخ شي، چې دغه دواړه صورتونه خوندور نه دي، او د ځان ساتل ترې په کار دي.

نو ای پيغمبره! تاته په کار دي چې د انفاق څخه په کلي توګه لاس وانخلې په دې خيال چې روزي به دې تنګه شي او نه خپل ټول مال انفاق کړې په دې هيله چې د نورو خلکو د روزی تنګي به د منځه يوسې او دا ځکه چې د روزی پراخول او تنګول ستا د رب ﷻ کار دی چاته يې چې اراده وشي هغه ته يې پراخوي او چاته يې چې اراده وشي هغه ته يې تنګوي.

يقيناً چې ستا رب ﷻ په خپلو بندګانو باندې خبردار دی خير او شر يې دواړه ورته معلوم دي چې کوم يو حالت يې په ګټه او کوم يو يې په تاوان دی؟ او هم د خپلو بندګانو ټول کړه وړه ګوري چې په پراخی کښې څه وضعه اختياروي او په تنګسه کښې کوم کيفيت غوره کوي؟.

۱۵_ ای انسانانو! تاسو خپل اولادونه مه وژنئ او د تنګسی څخه مه ډارېږئ چې دوی به درباندې روزي کمه کړي او د فقيری سره به مو مخامخ کړي، او دا ځکه چې:

الف: ستاسو اولادونه ستاسو روزي نه شي خوړلی او تاسو د هغوی روزي نه شئ خوړلی بلکې مونږ تاسو ته هم روزي درکوو او هغوی ته هم روزي ورکوو، نو د هغوی په وژلو سره ستاسو روزي نه زياتېږي او په ژوندي پرېښودلو سره يې نه کمېږي.

ب: يقيناً چې اولاد وژنه ډېره لويه خطاکاري او ګناه ده دغه کار په روزی باندې هيڅ اثر نه غورزوي بلکې د الله ﷻ يو ډېر لوی نعمت د پښو لاندې کېږي او د بې رحمی يوه ډېره غټه مظهره تحقق مومي.

۱۶_ همدارنګه تاسو د زنا څخه خپل ځانونه په جدي توګه وساتئ او د هغو حرکاتو څخه خپل ځانونه په ځنګ کړئ کوم چې تاسو زنا ته ورنږدې کوي او دا ځکه چې:

الف: زنا ډېر بې شرمه او بې حيا ګناه ده او په جنايت کښې ډېره زياته ده او مفاسد يې زښت ډېر دي.

ب: دا ډېره بده لاره ده چې په دې لارې باندې تللو سره د دنيا نظام ګډوډېږي، حتی چې دا کار

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هيڅوک د خپل خان دپاره نه خوښوي چې د ده د اقاربو او خپلوانو سره ترسره شي.

۱۷_ ای انسانانو! تاسو هغه نفس مه وژنئ د کوم وينه تويول چې الله ﷻ حرام کړي دي کوم چې ايمان راوړی وي، او يا يې د مسلمانانو سره معاهده کړې وي چې يا يې امان اخستی وي او يا يې جزيه قبوله کړې وي.

هو! د ذکر شوي نفس په وژلو کښې په تاسو باندې په هغه صورت کښې ګناه نشته چې د وژلو حقورباندې ثابت شي چې يا په ناحقه بل څوک ووژني او تاسو ترې قصاص واخلئ، يا مرتد شي، او يا زنا وکړي او تاسو ورباندې د رجم حکم اجراء کړئ.

۱۸_ هرڅوک چې په ناحقه (په ظلم سره) ووژل شي نو مونږ د هغه ولي (يا وليانو او خپلوانو) ته شرعًا دومره قوت ورکړی دی چې د مقتول (وژل شوي) کسات واخلي او قاتل د قصاص په توګه ووژني (اعدام يې کړي) او يا ترې ديت واخلي، خو په ده يا په دوی باندې لازمه ده چې په وژلو کښې د شرعي اندازې څخه تجاوز ونه کړی چې يا د وژلو سره مُثله (د اندامو پرېکول) هم ملګري کړي، او يا متعدد کسان (چې غير قاتلين هم پکښې شامل وي) اعدام کړي.

د مقتول وارث هم د الله ﷻ د پلوه منصور کړی شوی دی چې د کسات اخستلو اجازه يې ورکړې ده، او هم نور مسلمانان او د اسلامي حکومت حُکام مکلف دي چې په کسات اخستلو کښې ورسره کومک وکړي، نو نوموړي ته په کار دي چې د دغه احسان شکريه وکړي او د قصاص په قتل کښې د شرعي حد څخه تجاوز ونه کړي او په شريعت منګولې ښخې کړي.

## توضيحات

۱_ په ﴿ وَلَا تَجۡعَلۡ يَدَكَ مَغۡلُولَةً إِلَىٰ عُنُقِكَ ﴾ کښې په غاړې پورې د لاس مغلوليت او غوراب کېدل د بخل څخه کنايه دي، لکه چې نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې بخيل سړی د هغه چا غوندې ګڼلی دی د چا چې دواړه لاسونه د اوسپنې په چپن کښې د سينې او غاړې پورې کلک تاو کړی شوي وي «فَلَا يُرِيدُ أَنْ يُنْفِقَ شَيْئًا إِلَّا لَزِقَتْ كُلُّ حَلْقَةٍ مَكَانَهَا فَهُوَ يُوَسِّعُهَا فَلَا تَتَّسِعُ»[1] نو نوموړی هيڅ شي ته اراده نه کوي چې انفاق يې کړي مګر (د نوموړي د اوسپنيزي چپن) هره يوه کړۍ په خپل ځای کښې کلکېږي (او يوه بلې پورې نښلي) چې تاو کړی شوی سړی هرڅومره زور ولګوي چې پراخه يې کړي (او خپل لاسونه ترې د انفاق دپاره خلاص کړي) هغه نه پراخېږي (او لاسونه يې نه خوشې کوي).

## سوال جواب

۲_ که څوک وايي چې: ځينو علماوو کرامو د ﴿ وَلَا تَبۡسُطۡهَا كُلَّ ٱلۡبَسۡطِ ﴾ په ارتباط يو شان نزول ليکلی دي چې حاصل يې په لاندې ټکو کښې خلاصه کېږي[2].

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۱۹۴
(۲) اسباب النزول للواحدي ص۱۹۴؛ روح المعاني ج۱۵ ص۶۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: نبي کريم ﷺ ته يو ماشوم ورغی او ويې ويل چې: ای د الله رسوله! زما مور ستا څخه غواړي چې يو کميس ورکړې، زه يې د همدې خبرې دپاره را استولی يم.

ب: نبي کريم ﷺ ورته جواب ورکړ چې سمدستي خو راسره نشته، تاسو يې په بل وخت کښې پوښتنه وکړئ.

ج: ماشوم مور ته ورغی او بېرته راغی او بيا يې وويل چې ای د الله رسوله! زما مور ستا څخه همدغه کميس غواړي چې تا اغوستی دی.

د: نبي کريم ﷺ کور ته ننووت، هلته يې کميس وويست او ماشوم ته يې راولېږه چې مور ته يې يوسي او پخپله په کور کښې لوڅ کېناست.

ه: د لمانځه وخت راورسېد، بلال ﷺ اذان وکړ او صحابه کرام ﷺ منتظر وه چې نبي کريم ﷺ راووځي چې لمونځ وکړو مګر نبي کريم ﷺ د بربنډتوب د کبله نه شو راوتلی، نو الله ﷻ ذکر شوی ايت نازل کړ، والله ﷻ أعلم بصحة هذه القصة وعلمه أتقن و أكمل.

نو پوښتنه دا ده چې: د قيصې د کيفيت څخه په ډاګه څرګندېږي چې که دا قيصه پېښه شوې وي نو په مدينه منوره کښې به پېښه شوې وي حال دا چې دا سورت مکي سورت دی؟

مونږ وايو چې: که بالفرض قيصه واقعيت ولري نو د شان نزول د روايت سره څه منافي نه ده، او دا ځکه چې سلفو صالحينو په مصداقاتو باندې د شان نزول اطلاق کاوه[1] او په مصدقاتو کښې خو دا ضرور نه ده چې د ايت شريف سره دې په يوه وخت کښې واقع شوي وي.

## محسور څه معنی؟

ج: په ﴿ فَتَقْعُدَ مَلُومًا مَّحْسُورًا ﴾ کښې د "مَحْسُور" کلمه د "حَسْر" ـ لکه "ضَرْب" ـ څخه اشتقاقه شوې ده. "حَسْر" دې ته وايي چې يو شی د بل شي څخه لوڅ او بربنډ کړی شي، لکه لاس د لستوڼي څخه او مذبوحه د پوستکي څخه[2]، کوم څاروی چې د مزل څخه پاتې شي او مزل نه شي کولی هغه ته هم "حَسِيْر" وايي ځکه چې د قوت څخه لوڅ (خالي) شو او کمزوري يې څرګنده شوه.

په دې مقام کښې يې د معنی حاصل داسې راخېژي چې که ته په نهايي درجه سره خپل لاس ازاد کړې او هيڅ شی خپل ځان ته پرېنږدې نو د خپلو ضروورياتو څخه به لوڅ شې او بيا به دې ته مجبور وې چې بل ته لاس ونيسې او خپل ضرورت ترې وغواړې.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وايي چې د ايت شريف څخه څرګندېږي چې خپله ټوله دارايي (شته) د الله ﷻ په لاره کښې نفقه کول ښه کار نه دی حال دا چې همدغسې کار ابو بکر الصديق ﷺ کړی وه چې د ده د لويو مناقبو څخه وشمېرل شو؟ هغه دا چې: يوه ورځې عمر الفاروق ﷺ د خپل مال نيمه برخه خيرات

(١) تفسير القاسمي ج١ ص٢٧؛ تفسير المنار ج٩ ص٦٤٢

(٢) لسان العرب ج٤ ص١٨٧؛ مفردات الراغب ص١١٧

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کړه او خیال یې وکړ چې څه لرې نه ده چې نن ورځ به زه د ابو بکر الصدیق ﷺ څخه په فضیلت کښې وړاندې شم، خو کله چې ابو بکر الصدیق ﷺ د نبي کریم ﷺ حضور ته خیرات راوړ نو پوښتنه یې ترې وکړه: «مَا أَبْقَيْتَ لِأَهْلِكَ»[1] کور کهول ته دې څه شی پرېښودل؟ نو ابو بکر الصدیق ﷺ عرض وکړ چې: ای د الله رسوله! د کور دپاره مې فقط الله ﷻ او د ده پیغمبر ﷺ پرېښي دي (خپل ټول مال مې د خیرات په توګه ستا حضور ته حاضر کړی دی)، په دغه وخت کښې عمر الفاروق ﷺ ووېلې چې: زه به هیڅکله د ده څخه (په فضیلت کښې) مخکښې نه شم.

مونږ وایو چې: ځینې خاص اشخاص چې یقین او ایمان یې قوي وي او بصیرت یې زیات وي او بالآخره په اطمناني توګه په خپل خیرات باندې نه پښېمانه کېږي او خپل خان ته د ملامتۍ ګوته نه نیسي نو د هغوی دپاره د ټول مال خیراتول ډېر زیات فضیلت لري[2] چې ابو بکر الصدیق ﷺ د همدغه ډول اشخاصو څخه شمېرل کېده.

اما د قیامت د ورځې پورې د یوه شرعي قانون په حیث په انفاق کښې اعتدال ضرور دی لکه چې الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ وَٱلَّذِينَ إِذَآ أَنفَقُواْ لَمۡ يُسۡرِفُواْ وَلَمۡ يَقۡتُرُواْ وَكَانَ بَيۡنَ ذَٰلِكَ قَوَامٗا ﴾ [الفرقان: ٦٧] یعنې د الله ﷻ مخلص بندګان هغه دي کوم چې کله انفاق کوي نو نه د اندازې څخه زیات تجاوز کوي او نه تنګي (بخل) کوي بلکې د دغه حال په منځکښې (په اعتدال باندې) ولاړ وي.

## إملاق څه معنی؟

٥ـ په ﴿ وَلَا تَقۡتُلُوٓاْ أَوۡلَٰدَكُمۡ خَشۡيَةَ إِمۡلَٰقٖ ﴾ کښې د ﴿ إِمۡلَٰقٖ ﴾ کلمه مونږ ـ لله الحمد ـ د [الأنعام: ١٥١] ایت لاندې ښه پوره تحلیله کړې ده چې د فقر څخه عبارت ده او هم مو د [الأنعام:١٣٧] ایت لاندې د اولاد وژنې ډولونه لیکلي دي چې د قرآن کریم د نزول په زمانه کښې وړاندې جاهلان اخته وه، نو د دغو دواړو مطلبونو بیا لیکلو ته اړتیا نه ګورو خو فقط همدومره وړاندې وراضافه کوو چې ذکر شوی ایت په هغه سورت کښې بدون د "خَشۡيَةَ" کلمې څخه ﴿ وَلَا تَقۡتُلُوٓاْ أَوۡلَٰدَكُم مِّنۡ إِمۡلَٰقٖ ﴾ نازل شوی دی او دلته ورسره د ﴿ خَشۡيَةَ ﴾ کلمه نازله شوې ده.

نو د دواړو ایتونو څخه داسې څرګندېږي چې په هغه وخت کښې اولاد وژنه په لاندې دوه ډولونو باندې رواج وه:

الف: ځینو خلکو خپل اولادونه د موجوده فقر د امله وژل چې لاس به یې تنګ وه او د خپل اولاد نفقه به وړاندې بوج وه چې دغه ډول ته په هغه ایت کښې اشاره شوې ده.

ب: او ځینې نورو د راتلونکي فقر د ډاره ذکر شوی کار کاوه چې اولادونه به راڅخه دارایي (سرمایه) وخوري او فقیر به شم چې دغه ډول اولاد وژنه په همدغه ایت کښې مطلب ده په کوم کښې چې بحث روان دی.

---

(١) جامع الترمذي ج٢ ص٢٠٨

(٢) تفسیر القرطبي ج١٠ ص٢٥٠

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## زناکاري بده لاره ده

٦- الله ﷻ د زنا دنیاوي او اُخروي مفاسدو ته د ﴿ وَسَآءَ سَبِيلًا ﴾ په نزول سره اشاره کړې ده، نو لاندې مفاسد یې د مثال په توګه ولولئ:

الف: نبي کريم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «لَا يَزْنِي الزَّانِي حِينَ يَزْنِي وَهُوَ مُؤْمِنٌ»[(١)] او زناکار زنا نه کوي په کوم وخت کښې چې په زنا باندې اخته وي حال دا چې دی به مؤمن وي، (په دغه وخت کښې د ده د ایمان رڼا د منځه ځي).

ب: نبي کريم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې زناکاري د قیامت د علاماتو څخه ښودلې ده: «وَيَفْشُوَ الزِّنَا»[(٢)] یعنې د قیامت نښه دا هم ده چې د زناکارۍ عمل به خور شي او رواج به مونده کړي.

ج: همدارنګه نبي کريم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «لَمْ يَظْهَرِ الْفَاحِشَةُ فِي قَوْمٍ قَطُّ حَتَّى يُعْلِنُوا بِهَا إِلَّا فَشَا فِيهِمُ الطَّاعُونُ وَالْأَوْجَاعُ الَّتِي لَمْ تَكُنْ مَضَتْ فِي أَسْلَافِهِمْ»[(٣)] یعنې په هیڅ قوم کښې هیڅکله زناکاري دومره ظهور نه کوي چې حتی دوی یې په ډاګه باندې ترسره کوي مګر په دوی کښې به د طاعون (وباء) مرض او نور هغه دردونه (او مرضونه) خواره شي کوم چې د دوی څخه په وړاندېنیو قومونو کښې نه وي تېر شوي (لکه د ایډز مرض او داسې نور).

د: د نسبونو ثبوت یو لوی نعمت دی چې د ژوند د نظام دپاره د ملا د تیر مثال لري او په زنا سره دغه نعمت د منځه ځي او نسبونه سره ګډوډیږي.

هـ: په زنا سره د هرج مرج (قتل قتول) دروازه خلاصیږي او فتنې زیاتیږي، او همدارنګه په زنا سره د ایډز مرض په خلکو کښې خوریږي او عمومیت پیدا کوي.

### عجیبه قیصه

و: د زناکار په اولاده کښې به داسې څوک تحقق ومومي چې زنا به ورسره وکړی شي -العیاذ بالله ﷻ-، په همدې ارتباط یوه عجیبه قیصه ولولئ چې یوه پاچا په خپل ځان باندې تجربه کړې ده[(٤)]، چې مونږ یې د لاندې مهمو ټکو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

کله چې یوه پاچا د زنا د مفاسدو څخه شپږمه مفسده واورېده نو قصد یې وکړ چې په خپل ځان باندې یې تجربه کړي، خپله یوه ښائسته لور یې په سازوباز برابره کړه او د یوې خدمتګارې په لاس یې ورکړه چې لوڅ مخ یې په ټول بازار کښې کوڅه په کوڅه وګرځوي. خپلې لور ته یې توصیه کړې وه چې د هیچا د غوښتنې په مقابل کښې خنډ واقع نه شي، چې څوک ترې څه غواړي هغه ورکړي. د بازار په کوڅو کښې به چې ذکره شوې حسینه انجلۍ د هرچا سره مخ کېدله هغه به سترګې ښکته

---

(١) سنن ابن ماجه ص٢٨٢
(٢) جامع الترمذي ج٢ ص٤٤
(٣) سنن ابن ماجه ص٢٩٠
(٤) روح المعاني ج١٥ ص٦٨

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اچولي، چې هيچا ترې څه غوښتنه ونه کړه او نه ورباندې چا څه تعرض وکړ.

بالآخره ذکرې شوې خدمتګارې ښځې نومورې انجلۍ بېرته د پاچا کور ته راروانه کړه مګر کور ته د ننوتلو په وخت کښې يوه سړي را ايساره کړه او مچو يې ترې واخستله.

کله چې خدمتګارې ښځې ذکره شوې قيصه د پاچا په حضور کښې هو بهو تېره کړه نو پاچا د شکر په سجده باندې پرېوت چې الحمد لله ﷻ ما په خپل ټول عمر کښې يوه ناجائزه مچو اخستې وه چې د هغې جزا هم په دنيا کښې الله ﷻ راکړه، زه همده ﷻ ته توبه تائب يم او ډېر خوښ يم چې نور څه مې نه دي کړي.

نسأل الله ﷻ أن يعصمنا وذرارينا ومن يُنسب إلينا من الفواحش ما ظهر منها وما بطن. آمين يا رب العالمين.

## په حقه وژل وېړني!

۷_ نبي کريم ﷺ دا ايت شريف ﴿ وَلَا تَقْتُلُوا۟ ٱلنَّفْسَ ٱلَّتِى حَرَّمَ ٱللَّهُ إِلَّا بِٱلْحَقِّ ﴾ په لاندې ډول تفسير کړی دی چې:

«لَا يَحِلُّ دَمُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللهِ إِلَّا بِإِحْدَى ثَلَاثٍ النَّفْسُ بِالنَّفْسِ وَالثَّيِّبُ الزَّانِي والمُفَارِقُ لِدِيْنِهِ التَّارِكُ لِلْجَمَاعَةِ»[۱] يعنې د هغه مسلمان سړي وينه تويول حلال نه دي څوک چې شهادت ورکوي چې په حقه معبود نشته مګر فقط الله ﷻ دی او هم شهادت ورکوي چې يقيناً زه په حقه د الله ﷻ د پلوه رالېږلی شوی يم، (د نومورې سړي وژل روا نه دي) مګر د درېوو وجوهو څخه په يوه وجه، چې نفس د بل نفس په بدل (قصاص) کښې ووژلی شي او يا د واده خاوند زناکار وي چې رجم شي او بالآخره يا د خپل دين (اسلام) څخه جدا شوی (د اسلامي ټولګي پرېښودونکی) وي او مرتد شوی وي العياذ بالله ﷻ.

## په جائز قتل کښې هم اسراف روا نه دی

۸_ علماوو کرامو په ﴿ فَلَا يُسْرِف فِّى ٱلْقَتْلِ ﴾ کښې د اسراف دپاره لاندې معناوې کړې دي[۲] څه لرې نه ده چې په ايت شريف کښې ټولې مرادې وي:

الف: چې د قاتل په شمول يو يا ډېر نور کسان (غير قاتلين) هم ووژني.

ب: چې قاتل بالکل پرېږدي او په عوض يې غير قاتلين يا غير قاتل قتل کړي.

ج: چې د عفوې يا د ديت د اخستلو څخه وروسته (په خپل خيال) قاتل قصاص کړي.

د: چې د قاتل په قتل باندې مثله زياته کړي چې پوزه او غوږ او نور اندامونه ترې پرې کړي.

ه: چې د قتل په هغو ډولونو کښې قاتل ووژني په کومو کښې چې قصاص مشروع نه وي لکه قتل خطا او نور.

---

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۱۰۱۶

(۲) روح المعاني ج۱۵ ص۶۹؛ تفسير القرطبي ج ۱۰ ص۲۵۵؛ زاد المسير ج۵ ص۲۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یادونه

۹_ که څوک غواړي چې د قتل په هکله پوره معلومات ترلاسه کړي نو د [البقرة:۱۷۸] او [النساء:۹۲، ۹۳] ایتونو تفاسیرو ته دې مراجعه وکړي چې بیا لیکل یې د اوږدوالي څخه پرته څه ګټه نه لري.

﴿وَلَا تَقْرَبُوا۟ مَالَ ٱلْيَتِيمِ إِلَّا بِٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ حَتَّىٰ يَبْلُغَ أَشُدَّهُۥ ۚ وَأَوْفُوا۟ بِٱلْعَهْدِ ۖ إِنَّ ٱلْعَهْدَ كَانَ مَسْـُٔولًا ﴿٣٤﴾ وَأَوْفُوا۟ ٱلْكَيْلَ إِذَا كِلْتُمْ وَزِنُوا۟ بِٱلْقِسْطَاسِ ٱلْمُسْتَقِيمِ ۚ ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا ﴿٣٥﴾ وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌ ۚ إِنَّ ٱلسَّمْعَ وَٱلْبَصَرَ وَٱلْفُؤَادَ كُلُّ أُو۟لَٰٓئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْـُٔولًا ﴿٣٦﴾ وَلَا تَمْشِ فِى ٱلْأَرْضِ مَرَحًا ۖ إِنَّكَ لَن تَخْرِقَ ٱلْأَرْضَ وَلَن تَبْلُغَ ٱلْجِبَالَ طُولًا ﴿٣٧﴾ كُلُّ ذَٰلِكَ كَانَ سَيِّئُهُۥ عِندَ رَبِّكَ مَكْرُوهًا ﴿٣٨﴾ ذَٰلِكَ مِمَّآ أَوْحَىٰٓ إِلَيْكَ رَبُّكَ مِنَ ٱلْحِكْمَةِ ۗ وَلَا تَجْعَلْ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ فَتُلْقَىٰ فِى جَهَنَّمَ مَلُومًا مَّدْحُورًا ﴿٣٩﴾﴾

[۳۴] او تاسو د یتیم مال ته (په هیڅ وجه) مه ورنژدې کیږئ مګر په هغې وجې (طریقې) سره چې هغه ښائسته (او نیکه) وي (چې د مال حفاظت پکښې مرموز وي. دا ډول نژدېکت هم باید فقط ترهغه ادامه ولري چې نوموړی خپل قوت ته ورسیږي (او د مال حفاظت پخپله وکړی شي).

او تاسو په (مطلق) عهد باندې وفاء وکړئ، یقیناً عهد پوښتنه کړی شوی دی (په دې باره کښې به ستاسو څخه پوښتنه وکړی شي).

[۳۵] او کله چې تاسو (نورو خلکو ته) پیمانه کول کوئ، پیمانه پوره کړئ (ناقصه مه ورکوئ) او تاسو په ډېره برابره (سمه) تله باندې تول وکړئ (ډنډې او نور خیانت پکښې مه کوئ). دغه (کار ستاسو دپاره په دنیا کښې) بهتر دی او (په آخرت کښې) د انجام د حیثه ډېر ښائسته دی.

[۳۶] او ته هغه شي پسې مه ګرځه (پیروي یې مه کوه) په کوم باندې چې تاته علم نه وي (ځکه چې) یقیناً غوږونه او سترګې او (هم) زړه هر یو د دغو (درېواړو) څخه د خپل ځان په هکله (د قیامت په ورځ) مسول دی (چې په څه شي کښې استعمال شوی دی).

[۳۷] او په ځمکه کښې په افراطي خوشالۍ (تکبر) سره تلل مه کوه، یقیناً ته چې یې (په دغه حالت کښې) به هیڅکله ځمکه (په خپلو پښو باندې) څیرې نه کړې، او نه به هیڅکله د اوږدوالي (لوړوالي) د حیثه غرونو ته ورسیږې (نو تاته تکبر په کار نه دی).

[۳۸] دغه ټول محکمات چې دي د دغو څخه بد محکمات ستا د رب ﷻ په نزد ناخوښه کړی شوي دي (پرې ناراضي کیږي).

Scanned by CamScanner

[٣٩] دغه (ذکر شوي ارشادات) د هغې جملې څخه دي کوم چې ستا رب ﷻ تا ته وحې کړي دي چې د محکمو احکامو څخه عبارت دي.
او ته د الله ﷻ سره بل معبود (شریک) مه ګرځوه نو ته به دوزخ ته په داسې حال کښې ورو غورزولی شې چې ملامت کړی شوی (او د الله ﷻ د رحمت څخه) به رټلی شوی (لرې کړی شوی) یې.

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې هم د شریعت د ارشاداتو څو مثالونه نازل شوي دي او هغه شمېره پکښې تعقیبه شوې ده کومه چې د وړاندېنیو ایتونو د مطلب په خلاصه کښې اتلسو (١٨) ته رسېدلې وه چې حاصل یې داسې راځېږي:
١٩ـ ای انسانانو! تاسو په هیڅ وجه د یتیم مال ته مه ورنژدې کېږئ څکه چې هغه د خپل مال څخه دفاع نه شي کولی (. څه لرې نه ده چې تاسو خپل خانونه اداره نه کړی شئ او په مال به یې قبضه ولګوئ.
هو! په هغې وجه باندې تاسو ته جائزه ده چې ورنژدې شئ کومه چې د نوموړي د مال په خیر تمامېږي او ګټه یې پکښې نغښتې وي، چې یا یې حفاظت وکړئ او یا ورته پکښې د تجارت نیت ولرئ، نو ترهغه پورې خپلې دغې کړنلارې ته ادامه ورکړئ ترڅو چې نوموړی قوت ته ورسېږي او د خپل مال د ادارې جوګه شي.
٢٠ـ همدارنګه چې کله تاسو پیمانه کول کوئ نو په پیمانه کښې ټګي برګي مه کوئ او حقدارانو ته خپل حقونه بنه پوره ورکړئ.
٢١ـ او چې کله تاسو کوم شی په وزن سره اخلئ او یا یې ورکوئ نو په تول او تله کښې هم خیانت مه کوئ، او مه خلک غولوئ چې یا ډنډې ووهئ او یا په کاڼي کښې ټګي وکړئ.
دا کار (په کیل یا وزن کښې استقامت) ستاسو دپاره په دنیا کښې بهتر دی چې د خلکو بې اعتمادي به درباندې نه پیدا کېږي او د حلالې روزۍ سره به مو پلیتي (حرام مال) نه ګډوډېږي، همدارنګه ذکر شوی عمل د عاقبت (انجام) په اعتبار سره هم ګټور دی چې د قیامت په ورځ به یې د ملامتۍ څخه بچ یاست او څوک به درڅخه د الله ﷻ په وړاندې د حقوقو مطالبه نه کوي.
٢٢ـ ای پیغمبره! د خپلې همدغې تګلارې تعقیب ته ادامه ورکړه او په کوم شي باندې چې علم نه لرې هغه پسې مه ګرځه، مه یې په فعل سره تعقیبوه او مه په قول سره، او مه پکښې خپل زړه مصروفوه. او دا څکه چې یقیناً غوږونه او سترګې او بالآخره زړونه چې دي دغه هر یو د قیامت په ورځ د خپل خان په هکله د استنطاق لاندې نیول کېږي چې په تاباندې خپل خاوند څه شی اورېده او څه یې درباندې لیده او هم یې د څه شي په تصوراتو کښې مصروف ساتلی وي.
٢٣ـ همدارنګه په ځمکه کښې په تکبر سره مه ګرځه او د همدغې ځمکې څخه تواضع زده کړه، ته د همدې ځمکې (خاورې) څخه پیدا شوی یې چې ستا پلار (آدم ﷺ) د خاورو څخه جوړ شوی وه.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تاته څکه تکبر په کار نه دی چې ته په تکبر سره ځمکه نه شې څیرلی او چې څومره خپل سر پورته ونیسې نو د غرونو څوکو ته نه شې رسېدلی، نو چې نه زیات قوت لرې او نه غټه جوثه لرې نو تاته تکبر څه په کار دی؟.

ای پیغمبره! په کومو شیانو (کارونو) باندې چې تاسو ته په وړاندېنیو ایتونو کښې ارشادات درنازل کړی شو د هغو بد شیان (بد کارونه) ستا د رب ﷻ په نزد مبغوضات دي، ستا رب ﷻ ورباندې ناخوښ دی او د ده ﷻ د غضب سببونه دي. بالمقابل په ذکر شوو شیانو (کارونو) کښې نېک شیان (نېک کارونه) ستا د رب ﷻ په نزد مرضیات دي، ستا رب ﷻورباندې خوښ او راضي دی او د ده ﷻ د رحمت سببونه دي.

ای پیغمبره! وړاندې ارشادات د هغې جملې څخه دي کوم چې تاته ستا رب ﷻ وحې کړې دي چې ټول د حکمتونو څخه ډک دي او د دنیا او آخرت ګټې پکښې نغښتې دي، که بالفرض ته په حقه پیغمبر نه وې نو دغه ارشادات به تاته نه وی دربښودلی شوي.

۲۴_ ای پیغمبره! د ارشاداتو په پای کښې یو ځل بیا واوره چې: د الله ﷻ سره بل معبود مه ګرځوه او په توحید باندې کلک ودرېږه، که نه نو په دوزخ کښې به ملامته کړی شوی او شړلی شوی ور واچول شې چې هم به د الله ﷻ او پربښتو د پلوه ملامته کړی شي او هم به روزمره د الله ﷻ د رحمت څخه لرېوخې.

## توضیحات

۱_ د یتیم او د ده د مال په اړوند د [النساء:۲_۶] ایتونو لاندې ښه ګټور معلومات تېر شوي دي ـوالحمد لله ﷻ علی ذلک_ چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو، که په دې مقام کښې د چا په زړه کښې څه پوښتنه وګرځي نو هلته دې مراجعه وکړي، إن شاء الله ﷻ چې هلته به جوابه شوې وي.

## "قِسْطَاس" څه معنی؟

۲_ ځینې علماء کرام وایي[۱] چې په ﴿ وَزِنُواْ بِٱلۡقِسۡطَاسِ ٱلۡمُسۡتَقِيمِ ﴾ کښې صحیح خبره دا ده چې د "قِسْطَاس" کلمه اصلاً رومي کلمه ده خو د عربي لغاتو په مجموعه کښې هم شامله ده، ته به وایې چې نوموړې کلمه په رومي او عربي دواړو ژبو کښې مشترکه ده، نو د دغسې عجمي لغاتو استعمال د قرآن کریم د عربي بودن سره څه منافات نه لري چې هیڅ ژبه د مشترکو لغاتو د استعمال څخه خالي نه ده.

لنډه دا چې د "قِسْطَاس" کلمه د انصاف او عدالت تلې ته ویل کېږي برابره خبره ده چې دراهم او دنانیر پرې تللی کېږي او که د نورو شیانو د تول دپاره[۲] په کار اچوله کېږي همدارنګه برابره خبره

(۱) روح المعاني ج۱۵ ص۷۲
(۲) لسان العرب ج۶ ص۱۷۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ده چې د مشهورې تلې په شکل وي چې دوه پلې او يو موټی او ډنډۍ ولري او يا په نورو نوو عصري شکلونو سره وي.

ځرنګه چې د عدالت او انصاف ټکی د "قِسْطَاس" په مفهوم کښې شامل دی نو د ﴿ ٱلْمُسْتَقِيمِ ﴾ په کلمه باندې همدغه مفهوم تاکيد شوی دی. نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې تاسو په ډېره کلکه انصافي تله باندې تول کوئ چې په هيڅ وجه پکښې خيانت واقع نه شي.

## "قَفْوٌ" څه معنی؟

۳ـ په ﴿ وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌ ﴾ کښې د ﴿ تَقْفُ ﴾ کلمه چې په اصل کښې "تَقْفُوْ" وه او د "و" توری يې په جزم سره ساقط شوی دی، اصلاً د "قَفْوٌ" ـ لکه "ضَرْبٌ" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، چې د اتباع او يو شي پسې د وروسته تللو معنی ورکوي[1]. نو د معنی حاصل به يې داسې راوځېږي چې: د هغه شي اتباع (پيروي) مه کوه او وروسته ورپسې تلل مه کوه په کوم باندې چې ستا علم نه وي او تاته په اثبات نه وي رسيدلی.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وايي چې: که څه هم ځينو مفسرينو کرامو[2] د ﴿ وَلَا تَقْفُ ﴾ کلمه په ګڼ شمېر معناوو باندې تفسيره کړې ده، چې دروغ مه وايه او په ناحقه شاهدي مه وايه او هم په پاک لمنو زنانه وو باندې بهتان مه تړه او داسې نور، مګر صحيح خبره داده چې ذکره شوې کلمه په خپل عموم سره پرېښودله شي او ذکر شوي مثالونه يې د افرادو او جزئياتو څخه وګرځي، نو نظر ذکر شوي عموم ته په کار دي چې قياس هم د اعتباره ولوېږي او په خبر واحد باندې هم عمل ونه کړی شي ځکه چې دا دواړه ظني دلائل دي او يقين نه فائده کوي، يعنې نو ته د هغه حکم پيروي مه کوه (په عمل کښې يې مه پياده کوه) په کوم باندې چې ته يقين نه لرې (که څه هم ګومان ورباندې لرې).

مونږ وايو چې: ځينو علماوو کرامو[3] د ذکر شوي سوال په جوابولو کښې ډېر اوږده بحثونه کړي دي که څوک فرصت لري او يو ځل يې پخپله وګوري نو ګټور به ورته واقع شي مګر مونږ په جواب کښې فقط لاندې نکات ذکر کوو چې:

الف: ځرنګه چې په دې مقام کښې د حقوق العباد په هکله بحث راروان دی او سياق او سباق (وړاندې او ېبرته) دلالت کوي چې دلته د ﴿ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌ ﴾ څخه هغه بې علمي مراد ده کومه چې په حقوق العباد پورې تعلق لري او عملي کول ورباندې د دوی په ضرر تمامېږي، نو دلته دا خبره چې قياس او خبر واحد دواړه ظني دلائل دي او علم نه فائده کوي (خو په شريعت کښې پرې احکام ثابتېږي)؛ مطرحه کول چندان په ځای کار نه دی.

---

(۱) لسان العرب ج۱۵ ص۱۹۴

(۲) زاد المسير ج۵ ص۲۶

(۳) التفسير الكبير ج۲۰ ص۲۰۷؛ روح المعاني ج۱۵ ص۷۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: د سړي په ذهن کښې ګرځي چې په کوم ايت شريف کښې چې اوس بحث روان دی د هغه دپاره دغه ايت شريف تفسير واقع شوی دی چې: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن جَآءَكُمۡ فَاسِقُۢ بِنَبَإٖ فَتَبَيَّنُوٓاْ ﴾ [الحجرات:٦] يعنې ای مؤمنانو! که چرته تاسو ته يوه فاسق سړی (د مؤمنانو په هکله) څه خبر دروړي (او څه جاسوسي درته وکړي) نو تاسو په هغه کښې ښه تحقيق وکړئ او سمدستي يې اقتفاء (پيروي) مه کوئ، که نه نو څه لرې نه ده چې تاسو په دغې پيروۍ باندې پښېمانه شئ او داسې قوم ته به ضرر ورسوئ د کومو برائت او پاکي چې درته وروسته څرګنده شي.

ج: په کوم حديث کښې چې نبي کريم ﷺ د ګومان څخه نهي (منعه) فرمايلې ده په هغه کښې يې هم د حقوق العباد څو مثالونه ښودلي دي. حديث دا دی چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ فَإِنَّ الظَّنَّ أَكْذَبُ الْحَدِيثِ وَلا تَحَسَّسُوا وَلا تَجَسَّسُوا وَلا تَحَاسَدُوا وَلا تَبَاغَضُوا وَلا تَدَابَرُوا وَكُونُوا عِبَادَ اللهِ إِخْوَانًا»[1] تاسو د ګومان څخه ځپل ځانونه وساتئ ځکه چې په ګومان کښې ډېر دروغ واقع کېږي (ربښتيا پکښې لږ وي)، او تاسو د مسلمانانو د عيبونو پلټنه مه کوئ، او هم د دوی په اړه جاسوسي مه کوئ، او تاسو يو تربله حسد مه کوئ، او هم يو تربله بغض مه کوئ، او تاسو يو بل ته شا مه واړوئ (چې يو د بل څخه مرور شئ) او (بالآخره) ای د الله ﷻ بندګانو! په خپلو منځو کښې سره ورونه جوړ شئ لکه چې واقعًا تاسو ټول ديني ورونه ياست.

د: په دې باندې علاوه که د احاديثو او قياس (اجتهاد) حجتيت په شريعت کښې په اثبات نه وی رسېدلی نو بيا به د معترض اعتراض څه ارزښت درلودلی وی خو خبره داسې نه ده بلکې د دواړو حجتيت په شريعت کښې په اثبات رسېدلی دی چې د اصول الفقه کتابونو ښه پوره څېړلی دی.

## يادونه

٥ـ په ﴿ كُلُّ أُوْلَٰٓئِكَ كَانَ عَنۡهُ مَسۡـُٔولٗا ﴾ کښې د ﴿ عَنۡهُ ﴾ ضمير په دوه وو ډولونو سره تفسير کېدلی شي که څه هم دواړه ډولونه په اصلي مطلب کښې فرق نه لري، هغه دا:

الف: چې هر يوه (غوږ، سترګې، زړه) ته راجع شي. يعنې د قيامت په ورځ به د ذکرو شوو درېواړو اندامونو د هر يوه څخه د خپل ځان په هکله پوښتنه وکړی شي چې ته خپل خاوند په کوم-کوم شي کښې استعمال کړی وې؟ لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ ٱلۡيَوۡمَ نَخۡتِمُ عَلَىٰٓ أَفۡوَٰهِهِمۡ وَتُكَلِّمُنَآ أَيۡدِيهِمۡ ﴾ [يس: ٦٥] يعنې نن ورځ (د قيامت په ورځ) به مونږ د دوی په خولو باندې مهر ولګوو او زمونږ سره به د دوی لاسونه (او نور اندامونه) خبرې وکړي.

ب: چې ذکر شوی ضمير هغه چا ته راجع شي کوم چې بلا علمه د خلکو په عيبونو پسې تاند وهي. يعنې په هغې ورځ کښې به هرڅوک د استنطاق لاندې ونيولی شي چې خپل غوږونه او سترګې يې په څه شي کښې استعمال کړي وه او په زړه کښې يې د کوم-کوم شي پلانونه سنجولي وه؟

---

[1] صحيح البخاري ج٢ ص٨٩٦؛ صحيح مسلم ج٢ ص٣١٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايي: «وَعَنْ جِسْمِهِ فِيمَا أَبْلاهُ»[۱] يعنې د قيامت په ورځ به څوک ترهغه قدم وانخلي ترڅو چې ترې د جسم (بدن او اندامونو) په هکله پوښتنه وکړی شي چې په څه شي کښې يې زور کړی (زاړه کړي او استعمال کړي) دي؟

## څو يادونې

۶ـ د ﴿ إِنَّكَ لَن تَخْرِقَ ٱلْأَرْضَ وَلَن تَبْلُغَ ٱلْجِبَالَ طُولًا ﴾ په ارتباط لاندې يادونې ولولئ:

الف: ځمکه دومره کلکه ده چې متکبران يې په پښو باندې نه شي څيرلی او د دومره لوړو غرونو درلودونکې ده چې د سرکشانو سرونه نه شي ور رسېدلی، خو د دې سره-سره د ټولو انسانانو دپاره د يوه فرش په شکل خوره ده او په هيڅا باندې تکبر نه کوي چې په خپل ځان باندې يې ګرځېدلو ته پرېښږدي، نو په کار دي چې متکبران د ځمکې څخه تواضع زده کړي او د تکبر څخه لاس واخلي.

ب: مونږ ـلله الحمد والشکرـ د [النحل:۲۲] ايت لاندې د کبر کلمه او د دې مشتقات ښه پوره څېړلي دي هيله ده چې يو ځل هلته مراجعه وکړی شي.

ج: په دې مقام کښې هم ځينو مفسرينو کرامو[۲] د تکبر او تواضع په ارتباط ډېر احاديث راغونډ کړي دي الله ﷻ دې ورته اجرونه ورکړي، که څوک غواړي چې دغه دواړه کلمې د احاديثو په رڼا کښې وڅېړي نو هملته دې ولولي، مونږ د اوږدوالی د کبله دلته رانقل نه کړه.

## يو نحوي تحليل

۷ـ که څه هم مفسرينو کرامو د ﴿ كُلُّ ذَٰلِكَ كَانَ سَيِّئُهُۥ عِندَ رَبِّكَ مَكْرُوهًا ﴾ په ارتباط ډېر اوږده تحليلونه کړي دي[۳] مګر کوم تحليل چې مونږ ته غوره برېښي د هغه مهم ټکی دا دی چې:

الف: د ﴿ ذَٰلِكَ ﴾ کلمه د مذکور په تاويل سره وړاندېنيو متعددو خاصيتونو ته اشاره ده چې ځينې مامورات دي او د الله ﷻ رضامندي پکښې نغښتې ده او ځينې منهيات دي چې د الله ﷻ د ناراضي کېدلو څخه استازيتوب کوي.

ب: د ﴿ سَيِّئُهُۥ ﴾ کلمه د ﴿ كَانَ ﴾ دپاره اسم ده او ضمير يې ﴿ ذَٰلِكَ ﴾ ته راجع دی.

ج: او د ﴿ مَكْرُوهًا ﴾ کلمه د ﴿ كَانَ ﴾ دپاره خبر ده.

نو د معنی حاصل يې داسې راځېږي چې د ذکرو شوو ټولو خاصيتونو د جملې څخه بد خاصيتونه ستا د رب ﷻ په نزد ناخوښ دي او په کولو باندې يې ناراض کېږي، چې دا د يوولسو (۱۱) خاصيتونو څخه عبارت دي لکه: ۱ـ د الله ﷻ سره شريک درول، ۲ـ د غير الله عبادت کول، ۳ـ مور او پلار ته د أف کلمه استعمالول، ۴ـ د مور او پلار رټل، ۵ـ اسراف او تبذير کول، ۶ـ

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۶۷
(۲) روح المعاني ج۱۵ ص۸۰؛ تفسير ابن کثير ج۳ ص۴۰
(۳) تفسير ابي السعود ج۵ ص۱۷۲؛ البحر المحيط ج۷ ص۵۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عدم اقتصاد (په انفاق کښې افراط یا تفریط)، ۷ـ اولاد وژنه، ۸ـ زناکاري، ۹ـ په ناحقه بنیادم وژل، ۱۰ـ په نامعلومه شي پسې ګرځېدل، ۱۱ـ او په ځمکه باندې په نخرو او تکبر باندې تلل.

بالمقابل د ذکرو شوو خاصیتونو څخه نېک خاصیتونه (چې مامورات دي لکه د مور او پلار سره احسان کول او نور) ستا د رب ﷻ په نزد رضامندي ده او په عملي کولو باندې یې راضي کېږي، نو تاسو ته په کار دي چې د خپل رب ﷻ د ناراضي کېدلو څخه ډډه وکړئ او په راضي کېدلو پسې یې تاند ووهئ.

## سوال جواب

۸ـ که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې ذکر شوي متعدد احکام په ﴿ لَا تَجۡعَلۡ مَعَ ٱللَّهِ إِلَـٰهًا ءَاخَرَ ﴾ باندې پیل شوي دي او په ﴿ وَلَا تَجۡعَلۡ مَعَ ٱللَّهِ إِلَـٰهًا ءَاخَرَ ﴾ باندې ختم شوي دي یا په بل عبارت: د توحید په تکراري نزول کښې څه حکمت دی؟

مونږ وایو چې:

الف: ترڅو ټول انسانان په غور باندې ووهلی شي چې د ثواب د ګټلو او د الله ﷻ د راضي کولو دارمدار په توحید پورې ارتباط لري چې بدون د سالمې عقیدې څخه نېک اعمال ضائع کېږي او څه ګټه نه لري، نو په کار دي چې هر نېک کار یوازې د الله ﷻ په نامه پیل شي او یوازې د همده ﷻ په نامه ختم شي او هیچا ته پکښې اشتراک ورنه کړی شي.

ب: په لومړني نزول کښې انسانان د شرکي عقیدې دنیاوي اضرارو ته متوجه کړی شوي دي او په دوهم نزول کښې یې اخروي ضررونو ته اشاره شوې ده د همدې کبله هغه ایت شریف په ﴿ مَذۡمُومًا مَّخۡذُولًا ﴾ سره ختم شوی دی او دا ایت شریف په ﴿ مَلُومًا مَّدۡحُورًا ﴾ باندې اختتام موندلی دی، چې د دغو څلورو واړو کلماتو معناوې دا دي:

اول: د "مَذۡمُوم" کلمه د "ذَمّ" څخه اشتقاقه شوې ده چې د قبیح (بدګڼلو) معنی ورکوي.

دوهم: لکه څنګه چې مونږ د [بني اسرائیل:۲۲] ایت لاندې لیکلي دي د "مَخۡذُول" معنی د "خُذۡلان" څخه اخستله شوې ده، "خُذۡلان" دې ته وایي چې هغه څوک د چا نصرت پرېږدي په کوم باندې چې د نصرت کولو ګومان کېږي.

نو دغه دواړه کلمات د دنیاوي سزا سره ښه مناسبت لري چې په دنیا کښې د شرکي عقیدې خاوند بد ګڼل کېږي او د الله ﷻ د توفیق څخه محرومېږي او هم خپل باطل معبودان ورسره نصرت او کومک نه شي کولی.

دریم: د "ملوم" کلمه د "لوم" _لکه "ضرب"_ څخه اشتقاقه شوې ده "لوم" دې ته وایي چې د یو قبیح کار کوونکي ته ملامتي راجع کړی شي چې دا دې ولې کړي دي؟ او ولې دې خپل ځان ته ضرر رسولی دی؟.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



څلورم: د "مَدْحُور" کلمه د مَرْجُوم (رټلی شوي) او د رحمت څخه د لرې کړی شوي معنی ورکوي.
دغه دواړه کلمات د مشرکانو د اخروي جزا سره ښه پیوستون لري چې د قیامت په ورځ به هم ملامته کړی شي او په همدې باره کښې به د استنطاق لاندې ونیول شي او هم به د الله ﷻ د رحمت څخه په دائمي توګه لرې کړی شي او دوزخ ته به د توهین په توګه ورواچولی شي.

## یادونه

۹_ په دې کښې خو هیڅ شک نشته چې د وړاندېنیو اتلسو ایتونو په احکامو کښې خطاب ټول امت ته متوجه دی چې دا کوئ او دا مه کوئ، خو په ځینو احکامو کښې په صراحت سره امت مخاطب ګرځولی شوی دی او په ځینو نورو کښې خطاب نبي کریم ﷺ ته متوجه شوی دی او د امت د مکلفیت دپاره په اشارې باندې اکتفاء شوې ده.

الله ﷻ د خپل کتاب په اسرارو باندې ډېر ښه پوهېږي چې د کومو حکمتونو په بنیاد باندې به یې په ځینو احکامو کښې په صراحت سره مکلفیت خوښ کړی وي او د کومو حکمتونو په منظور به یې په ځینو نورو کښې په ضمني او غیر صریحي خطاب باندې اکتفاء کړې وي، مونږ ته په دې هکله د نبي کریم ﷺ او سلفو صالحینو څخه څه وجوه په نظر رانغله. اما ځینو مفسرینو پکښې تقریبًا نهه وجې لیکلې دي[1] که څوک یې د لوستلو شوق لري نو همدلته دې مراجعه وکړي.

﴿أَفَأَصْفَىٰكُمْ رَبُّكُم بِٱلْبَنِينَ وَٱتَّخَذَ مِنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ إِنَٰثًا ۚ إِنَّكُمْ لَتَقُولُونَ قَوْلًا عَظِيمًا (٤٠)
وَلَقَدْ صَرَّفْنَا فِى هَٰذَا ٱلْقُرْءَانِ لِيَذَّكَّرُوا۟ وَمَا يَزِيدُهُمْ إِلَّا نُفُورًا (٤١) قُل لَّوْ كَانَ مَعَهُۥٓ
ءَالِهَةٌ كَمَا يَقُولُونَ إِذًا لَّٱبْتَغَوْا۟ إِلَىٰ ذِى ٱلْعَرْشِ سَبِيلًا (٤٢) سُبْحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يَقُولُونَ
عُلُوًّا كَبِيرًا (٤٣) تُسَبِّحُ لَهُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ ٱلسَّبْعُ وَٱلْأَرْضُ وَمَن فِيهِنَّ ۚ وَإِن مِّن شَىْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ
بِحَمْدِهِۦ وَلَٰكِن لَّا تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ ۗ إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا (٤٤)﴾

[۴۰] (ای مشرکانو!) ایا تاسو خپل رب ﷻ په زامنو سره غوره کړي یاست او (پخپله) یې زنانه (د لورګانو په حیث) نیولې دي چې د پرښتو څخه عبارت دي؟
یقینًا تاسو هرومرو (د جنایت د حیثه) ډېره لویه (درنه) خبره کوئ.

[۴۱] او یقینًا مونږ (ای پیغمبره!) په دغه قرآن کریم کښې (د توحید دلایل) بیا-بیا د دې دپاره بیان کړي دي ترڅو ترې دوی پند واخلي (او د شرکیاتو او کفریاتو څخه صرف نظر شي، حال دا چې) دا قرآن کریم په هر ځل بیان سره دوی ته نه وراضافه کوي مګر نفرت (او د الله ﷻ د رحمت څخه لرې کېدل).

(۱) روح المعاني ج۱۵ ص۷۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۴۲] (ای پیغمبره! کفارو ته یو خل بیا) ووایه چې: که (بالفرض المحال) د الله ﷻ سره نور معبودان (په حقه باندې) وی لکه څنګه چې دوی وایي (او پرې قائل دي) نو په دغه وخت کښې به هرومرو دوی (نورو معبودانو) د عرش العظیم خاوند (الله ﷻ) ته (د تقرب) لاره لټولې وی (او د خانونو د نژدېکت هلې ځلې به یې ورته کړې وی).

[۴۳] (خو دغسې نه ده بلکې) الله ﷻ ته (د شرکیاتو څخه) پاکې ده او د هغو (شرکي ویناګانو) څخه هم اوچت دی کومې چې مشرکان یې وایي. ډېر لوی اوچتوالی.

[۴۴] (او دا څکه چې) الله ﷻ ته اوه اسمانونه تسبیحات وایي (د پاکۍ نسبت ورته کوي) او (اوه) ځمکې هم. او (بالآخره) هغه څوک هم (د ده ﷻ په تسبیحاتو باندې مشغول دی) کوم چې د دغو (اسمانونو او ځمکو) په مجموعه کښې موجودیت لري.

او (لنډه دا چې) هیڅ شی نشته مګر د الله ﷻ د حمد سره (د ده ﷻ) تسبیحات وایي مګر تاسو یې په تسبیح ویلو باندې (دقیقه) پوهه نه شئ درلودی.

یقیناً الله ﷻ حلیم دی (په عجله چاته سزا نه ورکوي او) بښونکی دی (څوک چې په ایمان مشرف شي په پخوانیو کفریاتو باندې یې نه نیسي).

## ارتباط

وړاندینې اتلس ایتونه د ځینې شرعي احکامو د بیان په هکله د شرک څخه په اجتناب پیل شوي وه او د همدې مطلب په بیان باندې ختم شوي وه. په دې ایتونو کښې د شرکي عقیدې د ابطال او رد دپاره څه دلایلو ته اشاره شوې ده، چې حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! څرنګه چې وړاندې واضحه شوه د الله ﷻ توحید د ټولو عباداتو د قبول دپاره اصل دی او شرکي عقیده د ټولو نیکو اعمالو ضائع کوونکې ده نو خپل امت لاندې ټکو ته متوجه کړه:

۱ـ د مشرکانو ۱ باطلو عقایدو څخه یوه باطله عقیده دا هم ده چې پرښتو ته د بنات الله لقب ورکوي، نو دوی زمونږ دپلوه مخاطب کړه چې:

الف: ای مشرکانو! ایا دا ډېره عجیبه نه ده چې تاسو ته خپل رب ﷻ د لورګانو په شمول زامن درکوي حال دا چې پخپله یې پرښتې فقط د زنانه وو (لورګانو) په صفت باندې نیولې دي؟ یقیناً چې تاسو ډېره درنه او لویه خبره کوئ او په خپل رب ﷻ باندې ډېر لوی دروغ ورتپئ. او دا څکه چې:

ب: الله ﷻ بالکل د ولدیت څخه پاک او منزه دی، او نه ورسره ولدیت مناسب دی بلکې د ولدیت سلسله د مخلوقاتو او محتاجاتو سره مناسبه ده.

ج: بالفرض المحال که الله ﷻ د خپلو مخلوقاتو څخه څوک په ولدیت نیولی نو یا به یې لورګانې او زامن دواړه په ولدیت سره نیولي وی لکه چې تاسو ته یې دواړه درعنایت کړي دي او یا به یې یوازې زامن په ولدیت سره نیولي وی لکه چې تاسو یې خوښوئ؛ خو خبره دغسې نه ده بلکې الله ﷻ

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ته خپل ټول مخلوقات په مخلوقيت كښې يو برابر دي او يو هم په بل باندې څه رجحان او برلاسي نه لري چې يوازې همده ته دې الله ﷻ د ولديت لقب وركړي او نور دې په مخلوقيت كښې پرېږدي.

يا په بل عبارت: كه بالفرض المحال الله ﷻ خپل اقدس ذات ته د ولديت په نيولو باندې قائل شوی وی نو خپلو ټولو مخلوقاتو ته به يې همدغه لقب وركړی وي، خو حقيقت دغسې نه دی لكه چې مشركان ورباندې معتقد دي.

۲_ ای پيغمبره! مونږ د خپل وحدانيت په اثبات او د شرک په ابطال باندې په دې قرآن كريم كښې بيا- بيا پوره دلايل د دې دپاره نازل كړي دي ترڅو ترې مشركان پند او نصيحت واخلي او د شركياتو څخه اجتناب وكړي، مگر برسېره په دې چې مشركان ترې پند نه اخلي د توحيد څخه يې پرې نفرت لا زياتېږي او د قرآن كريم څخه يې پرې عداوت لا ډېرېږي. او دا ځكه چې دوی په دلايلو كښې د تعمق او تحقيق څخه كار نه اخلي كه نه نو د شركي عقيدې بطلان بالكل څرگند دی، نو دلته يو ځل بيا كفارو ته د شركي عقيدې د بطلان دلايل په لاندې ډول واوروه:

الف: دوی ته ووايه چې كه بالفرض المحال د الله ﷻ سره نور معبودان په حقه موجود وی لكه چې د دوی په عقيده او د دوی په خيال ورسره شته نو ضرور به دغو معبودانو د عرش العظيم خاوند (الله ﷻ) ته په لاندې ډول يوه لاره لټولې وی:

اول: يا به دغه معبودان د الله ﷻ په مقابل كښې پاڅېدلي وی او جگړه به يې ورسره پيل كړې وی چې په نتيجه كښې به دغه موجود نظام باقي نه وی پاتې شوی او اسمانونه او ځمكې به درې ورې شوې وی.

دوهم: يا به يې ورته اطاعت كړی وی او د هغه ﷻ د احكامو پيروي به يې غوره كړې وی، نو په دې تقدير به ذكرو شوو فرضي معبودانو خپل الوهيت د لاسه وركړی وی او د معبوديت وړتيا به يې د دوی په خيال هم نه وی درلودلی ځكه چې معبود د بل چا عبادت او اطاعت نه كوي.

ب: ای پيغمبره! الله ﷻ ته پاكي ده او الله ﷻ د هغه شي څخه په لوی اوچتوالي سره اوچت دی كوم شی چې مشركان يې وايي او پرته له كوم دليله يې ورسره خپل بوتان په عبادت كښې شريكان كړي دي، او دا ځكه چې:

ج: حقيقت دا دی چې اوه اسمانونه، اوه ځمكې او هغه څوک چې په دغو اوو اسمانونو او اوو ځمكو كښې موجوديت لري ټول الله ﷻ ته د پاكۍ نسبت كوي او د هغو شركياتو څخه يې پاک بولي د كومو چې مشركان په عبادت باندې بوخت دي.

د: بلكې هيڅ شی نه وړاندې تېر شوی دی او نه به وروسته تېر شي او نه په اوس وخت كښې موجوديت لري مگر د الله ﷻ په حمد او ثناء باندې مشغول دی او د مشركانو د شركياتو او نورو نواقصو څخه ورته تسبيح وايي، حتی د مشركانو باطل معبودان (بوتان) هم د الله ﷻ په تسبيحاتو باندې مصروف دي او خپله بندگي ورته وړاندې كوي.

مگر دا بېله خبره ده چې تاسو ای انسانانو! نه د اوو اسمانونو او اوو ځمكو په تسبيحاتو باندې

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پرهېږي او نه د نورو شیانو د بندګۍ په اظهار باندې دقیقه پوه لري.

۲ـ ای پیغمبره! الله ﷻ حلیم دی په عجله باندې څوک په جنایاتو باندې نه نیسي، که نه په کار واچې مشرکان یې سمدستي پوپنا کړي وی چې د الله ﷻ د ټولو مخلوقاتو څخه مخالفت کوي او په ارادې عبادت کښې ورسره بوتان شریکوي.

مګر د حلم سره‌سره غفور او بښونکی هم دی، که دوی د خپلو کفریاتو څخه اجتناب وکړي او د توحید عقیدې ته په کلکه باندې راواوړي نو الله ﷻ به یې په پخوانیو کفریاتو او شرکیاتو باندې ونه نیسي، نو اوس هم سر وخت دی باید دوی خپلو ځانونو ته د دائمي عذاب څخه نجات ورکړي او په اخلاص باندې په ایمان مشرف شي.

## توضیحات

۱ـ د [النحل:۵۷] ایت لاندې د مشرکانو د دې کفري عقیدې ښه تحقیق تېر شوی دی ـ لله الحمدـ چې مشرکان پرښتو ته د بنات الله لقب ورکوي، نو بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو، خو فقط په دې مقام کښې ورباندې لاندې تحقیق وراضافه کوو:

هلته الله ﷻ د مشرکانو د شرکي عقیدې څخه د "بَنَات" په کلمې سره تعبیر کړی وه چې ﴿ وَيَجْعَلُونَ لِلَّهِ ٱلْبَنَٰتِ ﴾ یعنې او مشرکان الله ﷻ ته لورګانې ټاکي چې پرښتې بنات الله دي. او په دې مقام کښې یې ترې د "إناث" په کلمې سره تعبیر وکړ چې ﴿ مِنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ إِنَٰثًا ﴾، ترڅو اشاره وکړی شي چې د مشرکانو ذکره شوې عقیده په لاندې دوه وو کفري خبرو باندې مشتمله ده:

الف: یوه دا چې مشرکان پرښتو ته د ښځینه وو لقب ورکوي، ځکه چې د ﴿ إِنَٰثًا ﴾ کلمه د "أنثی" جمعه ده[۱]، حال دا چې هغوی نه مذکرې دي او نه موئنثې دي، تذکیر او تانیث په هغه مخلوق کښې صورت نیسي په کوم چې توالد او تناسُل جاري وي او په دغه مکرم مخلوق کښې توالد او تناسل نشته. لکه چې پوره تحقیق یې د ذکر شوي ایت لاندې تېر شوی دی.

ب: دوهمه دا چې په ښځینه وو کښې ورباندې دوی د بنات الله نوم ږدي، نو که بالفرض مشرکان دوهمه خبره ونه کړي نو یوازې لومړنۍ خبره یې هم کفایت کوي چې دوی په دائمي توګه په دوزخ کښې پاتې شي.

## دوه تفسیرونه

۲ـ مفسرینو کرامو دا جمله: ﴿ إِذًا لَّٱبْتَغَوْا۟ إِلَىٰ ذِى ٱلْعَرْشِ سَبِيلًا ﴾ په لاندې دوه ډوله باندې تفسیره کړې ده:

الف: د ﴿ سَبِيلًا ﴾ څخه د مغالبې او قوت حاصلولو معنی مراده ده[۲]، یعنې که د الله ﷻ سره په

---

[۱] لسان العرب ج۲ ص۱۱۲
[۲] تفسیر ابي السعود ج۵ ص۱۷۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ځمکو او اسمانونو کښې په حقه شريکانو (معبودانو) موجوديت درلودی نو ضرور به هغوی د الله ﷻ سره زور ازمايي کړې وی او په نتيجه کښې به د دنيا نظام خراب شوی وی، لکه چې همدې مضمون ته په بل ايت کښې اشاره شوې ده چې: ﴿لَوْ كَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ لَفَسَدَتَا﴾ [الأنبياء:٢٢] يعنې که بالفرض المحال په ځمکه او اسمان کښې بې د الله ﷻ څخه نورو (په حقه) معبودانو تحقق درلودی نو دواړه (ځمکه او اسمان) به تباه شوي وی او د دنيا نظام به خراب شوی وی.

ب: د ﴿سَبِيلًا﴾ څخه د قربت او نژدېکت لاره مطلب ده[١]، يعنې که -بالفرض المحال- د الله ﷻ سره په وجود کښې (په حقه) شريکانو تحقق درلودی نو هغوی به هم الله ﷻ ته د تقرب او نژدېکت لاره لټولی او کوښښ به يې کولی چې د الله ﷻ رضا حاصله کړي، او دا ځکه چې په عالم وجود کښې هيڅ مخلوق نشته مګر د الله ﷻ تسبيحات وايي او همده ﷻ ته د خپل خان د نژدېکت په هيله تاند وهي. حال دا چې الله ﷻ ته خپله عاجزي وړاندې کول او تقرب حاصلول د الوهيت سره منافي کار دی، نو پوره څرګنده شوه چې د همده ﷻ څخه په غير بل په حقه معبود نشته.

که څه هم ځينو علماوو کرامو لومړي تفسير ته ترجيح ورکړې ده[٢] مګر مونږ ته دوهم تفسير په زړه پورې برېښي او دا ځکه چې د وروستنيو ايتونو سره ډېر ښه پيوند اخلي او د ملغلرو اميل پرې ډېره ښه ښکلا پيدا کوي.

## ايا هر شی د الله ﷻ تسبيحات وايي؟

٣- د ﴿وَإِن مِّن شَيْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِۦ وَلَٰكِن لَّا تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ﴾ په تفسير کښې علماء کرام په لاندې ګروپونو باندې ويشلي شوي دي:

الف: ځينې وايي چې هر شی د الله ﷻ تسبيح وايي او هيڅ شی د دې عمومي قاعدې څخه وتلی نه دی، خو د تسبيح څخه د حال په ژبه (لسان الحال) سره تسبيح مطلب ده، يا په بل عبارت: هر مخلوق د خپل خالق په موجوديت باندې دلالت کوي[٣].

دغه ګروپ علماوو زيات اعتماد په عقل باندې کړی دی چې په جماداتو او نباتاتو کښې د قال په ژبه تسبيحات نشته او دا ځکه چې په دغو شيانو کښې حيات او پوهه نشته.

ب: ځينې نور علماء کرام جماداتو ته هم په تسبيح ويلو باندې قائل دي مګر د مذکورې قاعدې په عموميت باندې قائل نه دي، دوی وايي چې هر مخلوق الله ﷻ ته تسبيحات وايي خو ترهغه پورې چې په خپل اصلي خلقت باندې پاتې وي، نو کوم بوټی چې پرې کړی شي او کومه ونه چې ووهلی شي بيا د الله ﷻ تسبيحات نه وايي[٤]، ته به وايې چې ژوند يې ختم شوی دی او خوله يې په مرګ باندې ماته شوې ده.

---

(١) تفسير الطبري ج١٥ ص٩١
(٢) تفسير الكشاف ج٢ ص٦٦٩
(٣) التفسير الكبير ج٢٠ ص٢١٨
(٤) المحرر الوجيز ج١٠ ص٣٠٠

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دغه گروپ علماء د ذکرې شوې قاعدې تخصیص دپاره هیڅ قوي دلیل نه شي وړاندې کولی چې د ایت شریف د عمومیت مخه ونیسي.

ج. دریم گروپ علماء کرام وايي[1] چې هر شی د جماداتو، نباتاتو، حیواناتو، پرښتو او بالآخره د انسانانو او جنیاتو په شمول ټول د الله ﷻ په تسبیحاتو باندې مشغول دي. همدارنگه دوی وايي چې په دغې قاعده کښې څه تخصیص هم نشته بلکې په خپل عموم سره باقي ده.

د دغه گروپ علماوو کرامو دلایل لاندې لوستلی شئ:

اول: الله ﷻ د غیر ذوي العقولو تسبیحاتو ویلو ته په ﴿ تُسَبِّحُ لَهُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ ٱلسَّبۡعُ وَٱلۡأَرۡضُ ﴾ سره اشاره کړې ده او د ذوي العقولو تسبیحات يې په ﴿ وَمَن فِيهِنَّ ﴾ کښې بیان کړي دي، او بیا يې د ښه تاکید دپاره د ﴿ وَإِن مِّن شَيۡءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمۡدِهِۦ ﴾ کلمات نازل کړي دي، نو د ذکرو شوو تصریحاتو سره-سره د تسبیح څخه مجازي تسبیح (په لسان الحال سره) اخستل او یا ذکر شوی مؤکد عموم ته تخصیص ورکول چندان مزه ناک کار نه دی، بلکې کاواکي پکښې ډېره ده.

دوهم: الله ﷻ ذکر شوی مؤکد ارشاد د ﴿ وَلَٰكِن لَّا تَفۡقَهُونَ تَسۡبِيحَهُمۡ ﴾ په کلماتو باندې تعقیب کړي دي، که بالفرض د تسبیح څخه په لسان الحال سره تسبیح مطلب وي نو ذکر شوي کلمات به نه وی نازل شوي او دا ځکه چې په دې باندې خو هرڅوک پوهېږي چې مخلوق په خالق باندې دلالت کوي، اما دا بېله خبره ده چې کفارو ورباندې خپل خانونه ړانده او کاڼه اچولي دي، بلکې د کفارو اکثریت د عناد د کبله دغسې جهالت ته لاس اچوي او په زړونو کښې پرې ښه قناعت لري.

دریم: الله ﷻ ذکر شوی ایت شریف په ﴿ إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا ﴾ سره ختم کړی دی ترڅو ټول انسانان په غوږ ووهلی شي چې مشرکان د بوتانو عبادت کوي خو بالمقابل د دوی بوتان (باطل معبودان) د الله ﷻ په تسبیح او تقدیس باندې مشغول دي، مگر تاسو ورباندې نه پوهېږئ چې د هغوی لغات ستاسو د لغاتو څخه جدا دي او د هغوی ژبې ستاسو د ژبو څخه بېلې دي.

د مشرکانو د ذکرې شوې کړنلارې غوښتنه دا ده چې الله ﷻ يې سمدستي پوپنا کړي، مگر الله ﷻ حلیم دی او خلکو ته د توبه تائب گرځېدلو فرصت ورکوي، او هم غفور دی که څوک په ایمان مشرف شي نو په پخوانیو کفریاتو باندې يې نه نیسي.

څلوم: الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَسَخَّرۡنَا مَعَ دَاوُۥدَ ٱلۡجِبَالَ يُسَبِّحۡنَ وَٱلطَّيۡرَ ﴾ [الأنبياء: ٧٩] یعنې اومونږ داوُد ﷺ ته غرونه تابع گرځولي وه چې تسبیحات به يې ورسره ویلې او مرغان هم.

پنځم: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې د حیواناتو دوه پېښې حکایت کړې دي[2] یوه دا چې یو سړی په غوا باندې سور وه او وهل يې ورکړه نو غوا ورته وویلې چې: "إنَّا لَمْ نُخْلَقْ لِهَذَا إنَّا خُلِقْنَا لِلْحَرْثِ" یعنې: یقینًا مونږ د دغه کار (سورلی) دپاره نه یاستو پیدا کړی شوي بې شکه مونږ د کښت

(١) تفسیر ابن کثیر ج٣ ص٤٢
(٢) صحیح البخاري ج١ ص٤٩٤

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(زراعت) دپاره پیدا کړی شوي یاستو.

بله دا چې د يوه سړي څخه لېوه (شرمخ) يوه ګډه وتښتوله خو هغه تري خلاصه کړه نو لېوه نوموړی سړی مخاطب کړ چې: «فَمَنْ لَهَا يَوْمَ السَّبُعِ يَوْمَ لا رَاعِيَ لَهَا غَيْرِي» يعني د ميږو (ګډو) د حفاظت دپاره به د لېوانو په ورځ باندې څوک وي؟ په کومه ورځ کښې چې زما څخه پرته بل شپون ونه لري (او خلکو يې د فتنو د کبله د حفاظت څخه لاس اخستی وي).

کله چې د حيواناتو خبرې په ذکر شوي حديث شريف کښې په ثبوت ورسېدې نو د تسبيحاتو په ويلو کښې به يې څه ممانعت تحقق ومومي؟!.

شپږم: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يُلَبِّي إِلَّا لَبَّى مَنْ عَنْ يَمِينِهِ أَوْ عَنْ شِمَالِهِ مِنْ حَجَرٍ أَوْ شَجَرٍ أَوْ مَدَرٍ حَتَّى تَنْقَطِعَ الْأَرْضُ مِنْ هَاهُنَا وَهَاهُنَا»[1] هيڅ مسلمان تلبيه نه وايي مګر هغه شيان ټول ورسره تلبيه وايي کوم چې د نوموړي ښي طرف ته او چپ ته واقع وي چې د ډبرو او ونو او هم د لوټو څخه عبارت دي، آن تر دې چې ځمکه د دې خايه او د دې خايه قطعه شي، يعني د شمال څخه تر جنوب پورې او د شرق څخه تر غرب پورې.

اوم: يوه ورځې نبي کريم ﷺ د يوه سفر څخه د مديني منورې په لور روان وو چې د أحد غر ورته ښکاره شو، نو غره ته يې اشاره وکړه او ووې ويل چې: «هَذَا جَبَلٌ يُحِبُّنَا وَنُحِبُّهُ»[2] دغه يو غر دی چې زمونږ سره مينه (محبت) لري او مونږ هم ورسره مينه (محبت) لرو.

نو کله چې په جماداتو کښې محبت تحقق موندلی شي نو د تسبيحاتو د ويلو به څه مانع موجود وي؟!.

اتم: نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې د پخواني يوه پيغمبر حکايت کړی دی چې يوه مېږي وچيچه نو هغه د مېږتنو ټوله جاله د منځه ويوړه، الله ﷻ ورته وحې وکړه چې: «أَفِي أَنْ قَرَصَتْكَ نَمْلَةٌ أَهْلَكْتَ أُمَّةً مِنَ الْأُمَمِ تُسَبِّحُ»[3] ايا (فقط) د همدې کبله چې ته يوه مېږي وچيچلې تا د داسې امتونو څخه يو امت هلاک کړ کوم (چې د الله ﷻ) تسبيحات وايي؟!.

## د جماداتو او حيواناتو تسبيحات اورېدلی شوي هم دي

۴ـ مونږ د [البقرة:١۴٧] ايت لاندې خو مثالونه د الله ﷻ په توفيق ليکلي دي چې جمادات او حيوانات (ځاروي) هم د الله ﷻ تسبيحات وايي ـولله الحمد والشكر على ذلكـ خو په دې مقام کښې ورباندې لاندې وضاحتونه وراضافه کوو:

الف: عبد الله بن مسعود ﷺ وايي چې: «وَلَقَدْ كُنَّا نَسْمَعُ تَسْبِيحَ الطَّعَامِ وَهُوَ يُؤْكَلُ»[4] او يقيناً مونږ

---

(١) جامع الترمذي ج٢ ص٧٠

(٢) صحيح البخاري ج٢ ص١٠٩٠

(٣) سنن ابي داؤد ج٢ ص٣٥٨

(۴) صحيح البخاري ج١ ص٥٠٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د نبي كريم ﷺ په زمانه كښې) وو چې د خوراكي شيانو تسبيحات به مو اورېده حال دا چې هغه به خوړل كېده.

ب: علي ﷺ وايي چې: زه د نبي كريم ﷺ سره د مكې معظمې په ځينو شاوخوا كښې (بېديا ته) ووتلم: «فما استقبله جبل ولا شجر إلا وهو يقول السلام عليك يا رسول الله!»[1] نو مخې ته يې نه غر ورغى او نه ونه مگر هر يوه به ويلې چې په تا دې سلام وي اى د الله ﷺ پيغمبره!.

## يادونه

۵ـ الله ﷻ دې اجرونه وركړي ځينو مفسرينو كرامو[2] ډېر احاديث او اثار راغونډ كړي چې ټول د جماداتو تسبيحات په اثبات رسوي بلكې ثابتوي چې هيڅ شى د الله ﷻ د تسبيحاتو څخه ساكت نه دى، نو كه څوک يې د لوستلو شوق لري هملته دې مراجعه وكړي.

## تبصره

۶ـ زمونږ په فكر په دريمه توضيح كښې د علماوو كرامو د درې گوني گروپ څخه د اولني او دريم گروپ نظريات سره هيڅ منافات نه لري نو بهتره دا ده چې د تسبيح څخه "ما يُطلَقُ عَلَيْهِ التَّسْبِيحُ" (هر هغه شي چې د تسبيح اطلاق پرې كېږي) اراده كړى شي ترڅو قولي تسبيح او حالي تسبيح دواړو ته شامله شي. نو د معنى حاصل به يې داسې راوځېږي چې:

د كفارو څخه په غير نور ټول مخلوقات په ذكرو شوو دواړو ژبو باندې د الله ﷻ تقدس او پاكي بيانوي او په توحيد باندې يې قائل دي، اما كفار د ټولو مخلوقاتو په مقابل كښې واقع دي او د ټولو څخه مخالفت كوي چې د الله ﷻ تقدس (پاكي) او توحيد يوازې د حال په ژبه څرگندوي چې په تكويني توگه پرې قائل دي؛ مگر د قال په ژبه يا د الله ﷻ د مطلق وجود څخه انكار كوي لكه دهريان، او يا په يوه وجه ترې منكران دي لكه نور كافران، نو دوى ته په كار دي چې د ټولو مخلوقاتو څخه مخالفت ونه كړي او په توحيد باندې قائل شي.

﴿وَإِذَا قَرَأْتَ ٱلْقُرْءَانَ جَعَلْنَا بَيْنَكَ وَبَيْنَ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْـَٔاخِرَةِ حِجَابًا مَّسْتُورًا ﴿٤٥﴾
وَجَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَن يَفْقَهُوهُ وَفِىٓ ءَاذَانِهِمْ وَقْرًا ۚ وَإِذَا ذَكَرْتَ رَبَّكَ فِى ٱلْقُرْءَانِ
وَحْدَهُۥ وَلَّوْا۟ عَلَىٰٓ أَدْبَٰرِهِمْ نُفُورًا ﴿٤٦﴾ نَّحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَسْتَمِعُونَ بِهِۦٓ إِذْ يَسْتَمِعُونَ إِلَيْكَ
وَإِذْ هُمْ نَجْوَىٰٓ إِذْ يَقُولُ ٱلظَّٰلِمُونَ إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا رَجُلًا مَّسْحُورًا ﴿٤٧﴾ ٱنظُرْ كَيْفَ ضَرَبُوا۟
لَكَ ٱلْأَمْثَالَ فَضَلُّوا۟ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ سَبِيلًا ﴿٤٨﴾ وَقَالُوٓا۟ أَءِذَا كُنَّا عِظَٰمًا وَرُفَٰتًا أَءِنَّا

---

[1] جامع الترمذي ج۲ ص۲۰۴
[2] تفسير ابن كثير ج۳ ص۴۱؛ روح المعاني ج۱۵ ص۸۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لَمَبْعُوثُونَ خَلْقًا جَدِيدًا ﴿٤٩﴾ قُلْ كُونُوا۟ حِجَارَةً أَوْ حَدِيدًا ﴿٥٠﴾ أَوْ خَلْقًا مِّمَّا يَكْبُرُ
فِى صُدُورِكُمْ ۚ فَسَيَقُولُونَ مَن يُعِيدُنَا ۖ قُلِ ٱلَّذِى فَطَرَكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ ۚ فَسَيُنْغِضُونَ إِلَيْكَ
رُءُوسَهُمْ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هُوَ ۖ قُلْ عَسَىٰٓ أَن يَكُونَ قَرِيبًا ﴿٥١﴾ يَوْمَ يَدْعُوكُمْ
فَتَسْتَجِيبُونَ بِحَمْدِهِۦ وَتَظُنُّونَ إِن لَّبِثْتُمْ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٥٢﴾

[۴۵] او کله چې ته (ای پیغمبره!) قرآن کریم لولې نو مونږ ستا ترمنځ او د هغو کسانو ترمنځ کلکه (پټه) پرده ګرځوو کوم چې په وروستنۍ ورځې (د قیامت په قیام) باندې ایمان نه راوړي.

[۴۶] او مونږ د هغوی په زړونو باندې پټوونکي (غلافونه) له دې کبله ګرځوو (وراچوو) چې دوی به پرې پوه شي، او (همدارنګه مونږ) د دوی په غوږونو کښې دروندوالی (کوڼوالی پیدا کوو).

او کله چې ته (ای پیغمبره!) خپل رب ﷻ په قرآن کریم کښې یوازې (په وحدانیت سره) یاد کړې نو مشرکان په خپلو شاګانو باندې د نفرت د کبله بېرته ګرځي (او په خپلو شرکیاتو باندې لا کلکېږي).

[۴۷] (ای پیغمبره!) مونږ په هغه شي باندې ښه پوهېږو د کوم په سبب باندې چې دوی غوږ ږدي (البته) کله چې دوی تاته غوږ ږدي (چې هغه د استخفاف او عیب لټوونې څخه عبارت دی).

او (همدارنګه مونږ د دوی په پټو رازونو باندې ښه پوهېږو) کله چې دوی (پټه) جرګه وي، کله چې (همدغه) ظالمان (په جرګه کښې فیصله کوي او) وایي چې تاسو پیروي نه کوئ (د هیچا پیروي ته نه بلل کېږئ) مګر د یوه سړي چې جادوورباندې کړی شوی دی (او عقل ورباندې ولکه نه لري).

[۴۸] (ای پیغمبره!) وګوره چې تاته څنګه مثالونه بیانوي (او څنګه نومونه درباندې ږدي) نو دوی (په دغسې نومونو اېښودلو باندې لا زیات) بې لارې شوه نو دوی په لاره نه شي توانېدلی (چې مونده یې کړي).

[۴۹] او (بله تعجبي خبره یې دا ده چې) دوی وایې چې ایا کله چې مونږ هډوکي شو او وراسته شو (خاورې شو) ایا یقیناً مونږ به (له قبرونو نه) راپورته کړی شوي یاستو په نوي (تازه) پیداکولو سره؟

[۵۰] (ای پیغمبره! ته ورته په جواب کښې) ووایه چې: تاسو (د ورستو هډوکو په عوض) کاڼي او یا اوسپنه جوړ شئ.

[۵۱] (او) یا د بل هغه مخلوق څخه (وګرځئ) کوم چې ستاسو په سینو (زړونو) کښې لوی (او د حیات څخه لرې) ښکارېږي (نو په دغه صورت کښې به هم تاسو د قبرونو څخه راپورته کړی شئ).

نو ژر دی چې (په دغه وخت کښې به تاته) ووایي چې: (ښه نو) مونږ به څوک بېرته (حیات ته) راتاو کړي؟

ته ورته ووایه چې: هغه څوک (به مو بېرته راتاو کړي) چا چې اول کرت (د نشت څخه) پیدا کړي یاست.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو تا ته به (د دغه جواب په اورېدلو سره د تمسخر په توګه) خپل سرونه وښوروي او بيا به (درته) روايي چې: دا به کله وي؟

ته ورته (بيا) ووايه چې: اُميد دی چې دا به نژدې وي (او په لنډ وخت کښې به صورت ونيسي).

[۵۲] (د قيام صورت به يې داسې وي چې) په کومه ورځ چې الله ﷻ تاسو (د قبرونو څخه پورته کېدلو ته) وبلي (چې پورته شئ)، نو تاسو به يې په داسې حال کښې اجابت وکړئ (د قبرونو څخه به راپورته شئ چې ژبې به مو) د الله ﷻ په حمد (او ثناء) باندې (چلېږي) او (هم به) ګومان وکړئ چې تاسو (په دنيا يا په برزخ کښې) درنګ نه دی تېر کړی مګر لږ (وخت).

## ارتباطونه

۱ـ وړاندېنی ايتونه په دې تمام شوي وه چې مشرکانو د ټولو مخلوقاتو څخه مخالفت اختيار کړی دی چې د الله ﷻ تسبيحات نه وايي او د کفرياتو او شرکياتو څخه ورته د تنزيه (پاکۍ) نسبت نه کوي، په دې ايتونو کښې د همدغه مخالفت وجې ته اشاره ده چې د مشرکانو په زړونو باندې مهرونه لګېدلي دي او د نېکۍ استعدادونه يې د منځه تللي دي.

۲ـ هلته دا مضمون هم شامل وه چې د قرآن کريم په اورېدلو سره د مشرکانو نفرت لا اضافه کېږي، په دې ايتونو کښې همدغه مضمون د يو مثال په ضمن کښې واضح کړی شوی دی نو حاصل يې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پيغمبره! په خپل امت باندې د کفارو څه حالات په لاندې ډول قرائت کړه ترڅو ښه پوره څرګنده شي چې دوی په څه وجه د ټولو مخلوقاتو څخه مخالفت کوي او الله ﷻ ته د پاکۍ نسبت نه کوي، هغه دا چې:

۱ـ هغو کفارو او مشرکانو خپل د نېکۍ استعداد د خاورو سره برابر کړی دی کوم چې د قرآن کريم څخه متنفر دي، د همدې کبله:

الف: کله چې ته قرآن کريم تلاوت کوې او هغوی ته د ايمان راوړلو دعوت ورکوې نو مونږ د هغوی د بد استعدادۍ له امله ستا او د هغوی ترمنځه پرده دروو داسې پرده چې د پټوالي درلودونکې ده چې په سترګو باندې نه ښکارېږي، البته د هغو کفارو ترمنځ کومو چې قصد کړی دی چې په آخرت باندې ايمان رانه وړي چې د دوی د شهوت پرستۍ مخه نيسي.

ب: همدارنګه مونږ د ذکرو شوو کافرانو په زړونو باندې غلاف خوروو چې د قرآن کريم په مفاهيمو باندې پوه نه شي او حقائقو ته يې فکرونه ونه رسېږي.

ج: بالآخره په عين حال کښې مونږ د هغوی په غوږو باندې دروندوالی اچوو چې د قرآن کريم د اورېدلو څخه کاڼه وګرځي. نو څکه ستا د انوارو څخه د پردې ترشا استفاده نه شي کولی او

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدارنګه د قرآن کريم حقائق د هغوی په زړونو کښې ځای نه نيسي او ستا د پلوه د وراوروړلو توان هم د لاسه ورکوي.

د: نو د همدې امله د قرآن کريم په قرائت سره د هغوی نفرت په عمومي توګه اضافه کېږي او په خاصه توګه په هغه وخت کښې خو د هغوی نفرت اوج ته رسېږي او د قرائت د ځای څخه تښتي او يا لا په غوږونو کښې ګوتې ږدي په کوم وخت کښې چې ته د خپل رب ﷻ توحيد بيانوې او په همدې مطلب باندې دلايل او قوي حجتونه وراوروې.

که بالفرض المحال تا د الله ﷻ د يادولو سره څنګ په څنګ د هغوی د بوتانو (باطلو معبودانو) ذکر هم کولی نو بيا به هغوی ډېر خوښ وی او په تاباندې به يې افرين ويلی.

٢ـ ای پيغمبره! مونږ د مشرکانو په لاندې حالونو باندې هم پوهېږو:

الف: کله چې هغوی د قرائت مجلس ته شا نه کړي او تاته غوږ ونيسي، مونږ پوهېږو چې په څه منظور تاته غوږ نيسي، هلته په دې منظور غوږ نيسي چې په قرآن کريم کښې کوم د عيب لګولو ټکی مونده کړي او کوم د استخفاف (سپکاوي) بهانه ترلاسه کړي.

ب: همدارنګه مونږ د هغوی په پټو مشورو باندې هم پوهېږو چې هغوی پکښې د اسلام په ضد کومې خبرې غوټه کوي او څه فيصلې پکښې کوي؟ د دغو ظالمانو (مشرکانو) د شورى د فيصلو يو مثال دا دی چې د محمد ﷺ د پيروی څخه خپل ځانونه په کلکه وساتئ؛ که بالفرض تاسو يې پيروي وکړئ نو د داسې سړي پيروي به مو کړې وي په کوم باندې چې جادو کړی شوی دی او پرته له اختياره اوتې بوتې وايي.

٣ـ ای پيغمبره ځرنګه چې د مشرکانو سره د خپلې مدعی دپاره هيڅ دليل په لاس کښې نشته نو د بيا ژوندې کېدلو د عقيدې څخه صرف د استبعاد په مثالونو باندې خپلو ځانونو ته ډاډ ورکوي. نو ته نه ګورې چې تاته مثالونه بيانوي ترڅو تاته قناعت درکړي او خپله مدعی درباندې ومني، خو خبره داسې نه ده، دوی په خپلو مثالونو باندې په ګمراهۍ کښې لا وړاندې تېرېږي او د حقې لارې څخه پرې لا زيات لرې کېږي چې د بېرته راګرځېدلو توان د لاسه ورکوي. د هغوی مثالونه دا دي چې:

مشرکان تاته په تعجب سره خطاب کوي او وايي چې: ايا کله چې مونږ هډوکي هډوکي شو او بيا مو هډوکي وراسته (خوسا) هم شي، نو ايا مونږ به بيا د ځمکې څخه ژوندي راپورته شو؟ ايا مونږ به په نوي او تازه پيداکولو سره بيا موجود کړی شو؟ دا کار هيڅکله نه شي کېدلی.

۴ـ ای پيغمبره! مشرکانو ته د هغوی د مثالونو په رد کښې او په قناعت ورکولو کښې ووايه چې ای مشرکانو! د مرګ څخه وروسته تاسو د وراستو هډوکو په عوض ډبرې جوړې شئ؛ يا کلکې اوسپنې وګرځئ؛ او يا په يوه بل هغه مخلوق باندې بدل شئ؛ کوم چې تاسو ته په زړونو کښې ډېر لوی ښکارېږي او د حيات او ژوند څخه درته ډېر لرې برېښي، نو که بالفرض تاسو د ذکرو شوو مخلوقاتو څخه يو مخلوق جوړ شئ؛ هم تاسو به ضرور راژوندي شئ؛ او د قبرونو څخه به راپورته شئ؛

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۵ـ نو په دغه وخت کښې به مشرکان تاته پوښتنه راجع کړي او تاته به ووايي چې: ښه نو که بالفرض د مرګ څخه وروسته مونږ وراسته هډوکي شو (لکه چې همداسې کېږي) او یا په یوه بل مخلوق باندې تبدیل شو کوم چې د حیات (ژوند) سره زیات منافات ولري، نو مونږ به څوک بېرته راژوندي کړي؟

کله چې هغوی تاته ذکره شوې پوښتنه راجع کړه نو جواب ورکړه چې: هغه اقدس ذات به مو بېرته راژوندي کړي کوم چې اول ځل یې پیدا کړي یاست، چې نه وراسته هډوکي وئ او نه بل مخلوق، بلکې محض د عدم څخه یې بدون د سابق مثاله پیدا کړي یاست، نو ایا هرڅوک چې د نشت څخه پیدا کول کوي هغه ته د ورستو هډوکو ژوندي کول مشکل کار دی؟

۶ـ ای پیغمبره! کله چې ته هغوی ته ذکر شوی جواب ورکړې نو په رد کښې به یې هیڅ ونه ویلی شي خو د مسخرو په توګه به تاته د یو پلوه سرونه وښوروي چې ستا خبره رښتیا ده، او د بله پلوه به درته د ملنډو په توګه ووايي چې: ښه نو دا به کله وي؟ مونږ به څه وخت د قبرونو څخه راپورته شو او قیامت به کله قائم شي؟

۷ـ نو ته ورته په جواب کښې ووايه چې: الله ﷻ ماته د قیامت د قیام وخت نه دی راښودلی خو دومره پوهېږم او تمه کوم چې لرې نه دی، رانژدې دی، د تېر شوي وخت په نسبت ورته پاتې وخت لږ دی، که څه هم نن ورځ تاسو ته د قیامت د قیام وخت لرې برېښي مګر:

۸ـ کله چې الله ﷻ تاسو همدغې ورځې ته د قبرونو څخه راوبلي نو ستاسو حالت به داسې شي چې:

الف: په ډېرې جلتۍ سره به یې تاسو اجابت وکړئ او سمدستي به ترې ژوندي راپورته شئ؛ چې د هیچا په توان کښې به هلته پاتې کېدل تحقق ونه شي موندلی.

ب: نن ورځ خو تاسو د الله ﷻ د قدرت څخه انکار کوئ چې مونږ به څوک را ژوندي کړي؟ او د ټولو مخلوقاتو څخه مخالفت کوئ، چې نه د الله ﷻ په تسبیحاتو باندې خوله ښوروئ او نه یې حمدونه او سپېڅلي صفات بیانوئ، خو په هغې ورځ کښې به د الله ﷻ په کامل قدرت باندې معترف جوړ شئ او په داسې حال کښې به د محشر میدان ته روان یاست چې الله ﷻ ته به د پاکۍ نسبت کوئ او په حمد او ثناء باندې به یې مشغول اوسئ اما څه ګټه به درته نه شي رسولی.

ج: نن ورځ خو تاسو ته د قیامت قیام ډېر لرې او نه کېدونکی برېښي خو په هغې ورځ کښې به خیال وکړئ چې دا خو ډېر په نژدې وخت کښې قائم شو، او ډېر ژر یې تحقق وموند، مونږ په دنیا کښې هیڅ ټال نه دی کړی مګر لږ وخت، ای کاش چې خپل ځانونه مو دغې ورځې ته چمتو کړي وی.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ حِجَابًا مَّسْتُورًا ﴾ کښې د "مَّسْتُور" کلمه د اسم مفعول صیغه ده چې علماوو کرامو دلته په لاندې متعدد دو معناوو سره تفسیره کړې ده[1]:

---

(۱) روح المعاني ج۱۵ ص۸۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: لکه څرنګه چې کله-کله د جامد اسم څخه د "فاعل" په وزن باندې ځينې کلمې اشتقاق کېږي ترڅو څرګنده شي چې موصوف يې د نوموړي جامد اسم خاوند دی، لکه چې وايي: "زَيْدٌ تَامِرٌ وَلَابِنٌ" زيد د تمر (کجورو) او شودو (لبن) خاوند دی[1]؛ همدارنګه د مفعول په وزن هم ځينې کلمې اشتقاق مونده کوي، خو په کثرت کښې د "فاعل" وزن ته نه شي رسېدلی، نو د همدغې قاعدې په بنياد د مستور کلمه دلته د ستر د خاوند معنی ورکوي، يعنې داسې حجاب چې د ستر (پردې) خاوند دی.

ب: په دې مقام کښې اسم مفعول د فاعل معنی ورکوي، يعنې داسې حجاب چې ساتر (پټوونکی) دی.

ج: اسم مفعول په خپله معنی سره دی، يعنې داسې حجاب چې پټ کړی شوی دی او خلکو ته په سترګو نه ښکارېږي. ذکر شوي درېواړه تفسيرونه په مصداق کښې څه تفاوت نه لري بلکې په درېواړو کښې د حجاب قوت او مضبوطوالی نغښتی دی.

خو په ياد ولرئ چې د ﴿ حِجَابًا مَّسْتُورًا ﴾ کلمات او په ﴿ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً ﴾ کښې د ﴿ أَكِنَّةً ﴾ کلمه، چې پوره بيان يې د [النحل:٨١] ايت لاندې تېر شوی دی، او بالآخره په ﴿ وَفِيٓ ءَاذَانِهِمْ وَقْرًا ﴾ کښې د "وَقْر" (دروندوالي) کلمه، دغه ټولې په دې مقام کښې د دې خبرې څخه کنايات دي چې مشرکان ايمان نه راوړي او د ايمان د راوړلو استعدادونه يې ضائع شوي دي، چې په [البقرة:٧] کښې ورته اشاره شوې ده. نو د ټولو د معنی حاصل داسې راځي چې: اې پيغمبره! د مشرکانو په کفرياتو باندې مه غمژن کېږه، دوی د خپلې تګلارې څخه اوښتونکي نه دي، په دوی کښې د ايمان راوړلو استعداد ختم دی، ستا په ابلاغ کښې قصور نشته.

الله ﷻ عين ذکر شوی مضمون د کفارو د خولو څخه هم مونږ ته حکايت کړی دی چې: ﴿ وَقَالُواْ قُلُوبُنَا فِيٓ أَكِنَّةٍ مِّمَّا تَدۡعُونَآ إِلَيۡهِ وَفِيٓ ءَاذَانِنَا وَقۡرٌ وَمِنۢ بَيۡنِنَا وَبَيۡنِكَ حِجَابٌ فَٱعۡمَلۡ إِنَّنَا عَٰمِلُونَ ﴾ [حم السجدة:٥] يعنې اې پيغمبره! د دې دپاره چې مشرکان تا د خپل ايمان راوړلو څخه نا اميده کړي، تاته وايي چې مونږ ته د ايمان راوړلو تمه مه کوه ځکه چې زمونږ زړونه د هغه شي څخه په غلافونو (پردو) کښې دي کوم ته چې ته مونږ وربلې، او زمونږ په غوږونو کښې دروندوالی (کوڼوالی) دی او زمونږ او ستا ترمنځ پرده ده، نو ته خپل کار کوه او مونږ د خپل کار کوونکي ياستو، زمونږ او ستا جوړښت ممکن نه دی.

## فائده ده خو تفسير نه دی

٢ـ ځينو علماوو کرامو[2] په ﴿ وَإِذَا قَرَأۡتَ ٱلۡقُرۡءَانَ ﴾ کښې د "قرآن" څخه لاندې درې ايتونه مراد کړي دي چې:

---

(١) صرف العزيز ص٣٢٠
(٢) تفسير القرطبي ج١٠ ص٢٦٩

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ طَبَعَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ وَسَمْعِهِمْ وَأَبْصَٰرِهِمْ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْغَٰفِلُونَ ﴾ [النحل:١٠٨].

ب: ﴿ إِنَّا جَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَن يَفْقَهُوهُ وَفِىٓ ءَاذَانِهِمْ وَقْرًا ﴾ [الكهف:٥٧].

ج: ﴿ أَفَرَءَيْتَ مَنِ ٱتَّخَذَ إِلَٰهَهُۥ هَوَىٰهُ وَأَضَلَّهُ ٱللَّهُ عَلَىٰ عِلْمٍ وَخَتَمَ عَلَىٰ سَمْعِهِۦ وَقَلْبِهِۦ وَجَعَلَ عَلَىٰ بَصَرِهِۦ غِشَٰوَةً فَمَن يَهْدِيهِ مِنۢ بَعْدِ ٱللَّهِ ۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴾ [الجاثية:٢٣].

ذکر شوي علماء کرام د کعب ﷺ په روایت وایي چې نبي کریم ﷺ به د مشرکانو څخه په دغو درېوو ایتونو باندې پټېده، چې کله به یې ولوستل نو بیا به د هغوی د نظر لاندې نه واقع کېده.

حتی چې یوه ورځې د ابو لهب ښځه ډېره په غُصه د نبي کریم ﷺ پسې ورغله او ډېره یې په لاس کښې نیولې وه خو نبي کریم ﷺ یې د نظر لاندې ورنغی او د ابو بکر الصدیق ﷺ سره د سوال جواب څخه وروسته بېرته ستنه شوه. ابو بکر الصدیق ﷺ نبي کریم ﷺ ته وویلې چې: ای د الله ﷻ پیغمبره! دغې ښځې ونه لېدلې؟، نو نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «لَا، لَمْ يَزَلْ مَلَكٌ بَيْنِي وَبَيْنَهَا»[1] یعني نه (زه دغې ښځې ونه لیدم) چې په دوامداره توګه زما ترمنځ او د هغې ترمنځ یوه پرښته حائله وه، تر آخره یې په ماباندې سترګې ونه لګېدلې.

زمونږ په فکر دغسې تفسیر د ایتونو سلسله پرې کوي او د وړاندې وروسته پیوند د منځه وړي، نو بهتره دا ده چې ذکر شوی تفسیر په حیث قبول نه کړی شي اما د یوې مهمې ګټې او فائدې په حیث ترې باید مسلمانان استفاده وکړي او په خطري مواقعو کښې یې قرائت کړي، الله ﷻ ته امید دی چې دښمنان به پرې ړانده کانه کړي لکه چې په نبي کریم ﷺ باندې یې د همدغو ایتونو په قرائت سره نوموړې ښځه ړنده کنه کړې وه.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې د ﴿ نَّحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَسْتَمِعُونَ بِهِۦٓ إِذْ يَسْتَمِعُونَ إِلَيْكَ ﴾ څخه څرګندېږي چې مشرکانو به قرآن کریم ته غوږ اېښود، حال دا چې لږ وړاندې الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ وَفِىٓ ءَاذَانِهِمْ وَقْرًا ﴾ یعني او مونږ د مشرکانو (کفارو) په غوږونو کښې دروندوالی اچولی دی چې قرآن کریم نه اوري؟

مونږ وایو چې: په لومړي توضیح کښې تېر شوه چې د "وَقْر" کلمه هم د ختم او مهر څخه کنایه ده، او داسې مطلب نه دی چې مشرکان د قرآن کریم د اورېدلو څخه بالکل کانه دي بلکې مطلب دا دی چې د قبول په حیث د قرآن کریم د اورېدلو څخه کانه دي. لکه چې پوره تحقیق یې د [البقرة:۹۳] ایت لاندې تېر شوی دی، والحمد لله والشکر و المنة.

---

[1] تفسیر الخازن ج۴ ص۴۲؛ تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۴۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## دوه ډوله تفسير

۴_ په ﴿ ٱنظُرۡ كَيۡفَ ضَرَبُواْ لَكَ ٱلۡأَمۡثَالَ فَضَلُّواْ ﴾ کښې د "أَمۡثَالَ" کلمه په لاندې دوه ډوله تفسيره شوې ده[1]:

الف: يعنې ای پيغمبره! مشرکان په خپلو خاصو مجالسو کښې ستا دپاره مثالونه جوړوي او لقبونه درباندې ږدي چې ته ساحر يې او يا مسحور (جادو کړی شوی) يې، او يا ته شاعر او ليونی يې، خو دوی د همدغو لقبونو په اېښودلو باندې لا زيات ګمراه کېږي او توان نه لري چې حقه لاره مونده کړي او د پيغمبر حقاني لقب درکړي.

ب: يعنې ای پيغمبره! د مشرکانو يوه بل جهالت ته وګوره چې د بيا ژوندي کېدلو په هکله تاته مثالونه تېروي چې مونږ خاورې، هډوکي او وراسته شوي تيت پرک وګرځو نو ايا بيا به هم مونږ بېرته راژوندي کړی شو؟ نو په دغسې مثالونو باندې لا ګمراه کېږي او د حقې لارې د موندلو توان يې لا پسې ختمېږي.

### تبصره

۵_ څرنګه چې لومړنی تفسير د وړاندېني ايت سره ښه پيوند اخلي او دوهم تفسير د وروستنيو ايتونو سره په ښه ډول سلښبت نيسي او دواړه تفسيرونه سره يو ترېله منافات هم نه لري، نو که د بدليت په اعتبار سره دواړه اراده کړی شي هيڅ بده نه ده او هيڅ مشکل پکښې نشته.

﴿ وَقُل لِّعِبَادِي يَقُولُواْ ٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُۚ إِنَّ ٱلشَّيۡطَٰنَ يَنزَغُ بَيۡنَهُمۡۚ إِنَّ ٱلشَّيۡطَٰنَ كَانَ لِلۡإِنسَٰنِ عَدُوّٗا مُّبِينٗا ﴿٥٣﴾ رَّبُّكُمۡ أَعۡلَمُ بِكُمۡۖ إِن يَشَأۡ يَرۡحَمۡكُمۡ أَوۡ إِن يَشَأۡ يُعَذِّبۡكُمۡۚ وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ عَلَيۡهِمۡ وَكِيلٗا ﴿٥٤﴾ وَرَبُّكَ أَعۡلَمُ بِمَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۗ وَلَقَدۡ فَضَّلۡنَا بَعۡضَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ عَلَىٰ بَعۡضٖۖ وَءَاتَيۡنَا دَاوُۥدَ زَبُورٗا ﴿٥٥﴾ ﴾

[۵۳] او (ای پيغمبره!) زما بندګانو (مؤمنانو) ته ووايه چې: دوی دې (د مشرکانو په مقابل کښې) هغه خبرې وکړي کومې چې (د اثر د حيثه) ښائسته (نرمې) وي (ځکه چې) يقيناً شيطان د انسانانو په منځکښې (د دښمنۍ دپاره) وسوسه اچوي، يقيناً شيطان چې دی د انسان (بنيادم) دپاره ښکاره دښمن دی.

[۵۴] (ښائسته خبره دا ده چې: ای مشرکانو!) ستاسو رب ﷻ په تاسو باندې ډېر ښه پوهېږي که اراده يې وشي نو رحم (مهرباني) به درباندې وکړي (او د توبې توفيق به درکړي) او که اراده يې وشي نو عذاب به درکړي (د توبې توفيق به مونده نه کړئ).

(۱) روح المعاني ج۱۵ ص۹۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او مونږ (ای پیغمبره! حتی ته) په کفارو باندې د وکیل په حیث نه یې استولی (چې د دوی مسؤلیت به ستا غاړې ته درلوېږي نو مؤمنان خو بالکل د دوی وکیلان نه دي).

[۵۵] او (ای پیغمبره!) ستا رب ﷻ په هغو کسانو باندې ښه پوهېږي کوم چې په اسمانونو او ځمکو کښې دي (چې څوک د نبوت دپاره جوګه دي).

او (بیا د پیغمبرانو د فضائلو په تفاوت باندې هم ډېر ښه پوهېږي نو) بې شکه مونږ ځینې پیغمبران په ځینو نورو باندې (فقط په فضائلو کښې) بهتر ګرځولي دي (د مثال په توګه) او مونږ داوُد ﷺ ته (د) زبور (په نوم کتاب) ورکړی دی (چې داوُد او هم د ده کتاب څه امتیازات لري).

## ارتباط او شان نزول

وړاندېنۍ ایتونه په لاندې مضامینو باندې هم شامل وه چې:

۱ـ مشرکان د الله ﷻ د وحدانیت څخه نفرت کوي.

۲ـ دوی قرآن کریم ته د استخفاف او عیب لټون په غرض غوږ نیسي.

۳ـ د اسلام د پرمختګ د مخنیوي دپاره پټ مجالس او مشورې کوي.

۴ـ په نبي کریم ﷺ باندې د ساحر، جادوګر، لیوني او نور نومونه ږدي.

۵ـ حتی دوی په پټو مجالسو کښې وایي چې باید الله ﷻ د نبوت دپاره پرښتې رااستولې وی او یا یې په ځمکه کښې د مکې او طائف په کوم غټ مشر باندې وحې ورنازله کړې وی، ایا د ابو طالب د یتیم څخه په غیر د نبوت د ورکړې دپاره بل څوک مستحق نه وه؟!.

۶ـ د قیامت د قیام د صریحو او واضحو دلایلو څخه په جدي توګه انکار کوي.

۷ـ بالآخره نبي کریم ﷺ ته د ملنډو په توګه سرونه ښوروي چې هو صاحبه! قیامت راتلونکی دی.

نو څه لرې نه ده چې په ذکرو شوو اوضاعو باندې مسلمانان متاثر شوي وي او د مشرکانو په مقابل کښې یې غبرګون ښکاره کړی وي او په مقابل کښې ورته مشرکانو سپکې سپورې خبرې کړې وي.

لکه چې په ځینو روایتونو کښې شته چې: مشرکانو صحابه وو کرامو ﷺ ته په قول او فعل سره ضررونه رسول نو دوی نبي کریم ﷺ ته شکایت وکړ نو الله ﷻ ذکر شوي ایتونه رانازل کړه[۱]، چې حاصل یې داسې راځي:

## د مطلب خلاصه

۱ـ ای پیغمبره! زما بندګانو (مؤمنانو) ته ووایه چې د کفارو (مشرکانو) په مقابل کښې حوصلې مه خرابوئ او د هغوی د ستغو سپورو خبرو د کبله سخت جوابونه مه ورکوئ.

دا د دې دپاره چې دوی داسې کلمې استعمالي کړي کومې چې پستې او نرمې وي او د دعوت دپاره ډېرې بهترې او مناسبې وي، چې د کفارو نفرت لازیات نه شي او عداوت یې لا قوي نه شي.

(۱) اسباب النزول للواحدي ص۱۹۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲_ ځکه چې يقيناً شيطان غوارې چې د دوی (مؤمنانو) او د هغوی (مشركانو) ترمنځ جګړه جوړه کړي او دوی په هغوی باندې په غُصه کړي ترڅو د دعوت مخه بنده شي، او په نتیجه کښې هيڅوک په ايمانْ باندې مشرف نه شي. بې شکه چې شيطان د جمله انسان دپاره ښکاره دښمن دی برابره خبره ده چې مؤمن وي او که کافر وي.

۳_ ای پيغمبره! د مؤمنانو نرمه او پسته خبره دا ده چې مشركان مخاطب کړي چې ستاسو رب ﷻ په تاسو باندې ډېر ښه پوهېږي، چې د هرحيشه يې علم کامل او پوره دی، نو که د ده ﷻ اراده وشي په تاسو باندې به رحم وکړي او د ايمان د راوړلو توفيق به درکړي او د عذاب څخه به نجات مونده کړئ، او که اراده يې وشي نو په عذاب کښې به مو واقع کړي زمونږ په واک او اختيار کښې نه توفيق شته چې د عذابه وربانديې خلاص شئ او نه مونږ د عذاب د درکولو توان لرو.

۴_ ای پيغمبره مونږ لا ته په کفارو باندې څارونکی او د کارونو متولي (جوړونکی) نه يې ګرځولی او د قيامت په ورځ لا ستا څخه د کافرانو د کفر په هکله پوښتنه نه کېږي نو د مؤمنانو څخه به څنګه وکړی شي، نو ښه دا ده چې ته او مؤمنان فقط خپل-خپل وظائف ترسره کړئ، نور نو مونږ پوهېږو او کار مو.

۵_ ای پيغمبره! ستا رب ﷻ په هغه چا باندې ډېر ښه پوهېږي کوم چې په اسمانونو کښې دي او د پرښتو څخه عبارت دی، چې دوی د انسانانو دپاره د نبوت جوګه نه دي، نو مشرکانو ته په کار نه دي چې د پرښتو د جملې څخه د پيغمبر غوښتنه وکړي.

همدارنګه ستا رب ﷻ په هغو مخلوقاتو باندې هم ډېر ښه پوه دی کوم چې په ځمکه کښې استوګنه کوي چې په دوی کښې څوک د نبوت دپاره مناسب دی، نو مشرکانو ته جائزه نه ده چې ستا د نبوت څخه په دې بهانه انکار وکړي چې د نبوت دپاره ولې فلانکی او بستانکی انتخاب نه کړی شو، نو که هغه يا دغه د پيغمبر په حيث را استولی شوی وی نو مونږ به پرې ايمان راوړی وی.

۶_ ای پيغمبره! لکه څنګه چې ستا رب ﷻ په هغو کسانو باندې ډېر ښه پوهېږي کوم چې د نبوت دپاره مناسب دي همدارنګه ستا رب ﷻ د نبيانو په ډله کښې هم د هر يوه په لياقت باندې ډېر ښه پوهېږي چې د څومره فضيلت جوګه دی.

د همدې کبله مونږ ټول پيغمبران په درجاتو کښې نه دي مساوي کړي، ځينې مو اولو العزم ګرځولي دي او ځينې په دغې درجه کښې نه دي، د ځينو سره مو مناجات کړی دی او د ځينو سره مو نه دی کړی، ځينې مو معراج ته پورته کړي دي او نور مو نه دي پورته کړي، بالآخره ځينو ته مو کتاب يا صحيفې ورکړې دي او ځينو ته مو نه دي ورکړي، حتی چې ځينو ته مو اول نمره کتاب (قرآن کريم) نازل کړی دی او چاته مو تورات يا انجيل ورکړی دی خو داوُد ﷺ ته مو څلورم درجه کتاب زبور ورپېرزو کړی دی.

لنډه دا چې ستا رب ﷻ خپل رحمت پخپله په خپلو بندګانو باندې توزيع کوي، ايا نو مشرکان غوارې چې د ده ﷻ د رحمت تقسيمات د دوی په لاس وکړی شي؟

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱_ په ﴿ وَقُل لِّعِبَادِى يَقُولُوا۟ ٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ ﴾ کښې باید هغه دوه نحوي تحلیلونه کټ مټ تطبیق شي کوم چې په [إبراهیم:۳۱] ایت شریف کښې تېر شوي دي. نو په یوه تحلیل باندې یې د معنی حاصل داسې راخېژي چې: ای پیغمبره! زما مخلصو بندګانو (مؤمنانو) ته ووایه چې: تاسو د مشرکانو سره نرمې خبرې وکړئ ترڅو دوی ستا د هدایت په اساس د هغوی سره هغه خبرې وکړي کومې چې ډېرې ښې وي او نفرت غورزونکې نه وي.

او په دوهم تحلیل سره یې د معنی حاصل داسې کېږي چې: ای پیغمبره! مؤمنانو ته ووایه (توصیه وکړه) چې: دوی دې د مشرکانو په مقابل کښې هغه خبرې وکړي کومې چې پستې او نرمې وي او د تنافر باعث نه جوړېږي چې د دعوت مخه بنده کړي.

## دوه خبرې په یاد ولرئ!

۲_ په دې مقام کښې باید محترم لوستونکي لاندې دوه خبرې په یاد ولري:

الف: یوه دا چې په ﴿ يَنزَغُ بَيْنَهُمْ ﴾ کښې بارز ضمیر یوازې مؤمنانو ته نه بلکې ټولو انسانانو ته راجع دی، که بالفرض یوازې مؤمنانو ته راجع وی نو په ﴿ إِنَّ ٱلشَّيْطَٰنَ كَانَ لِلْإِنسَٰنِ عَدُوًّا مُّبِينًا ﴾ کښې به د ﴿ لِلْإِنسَٰنِ ﴾ په عوض "لَهُمْ" نازل شوی وی.

دا د یوه پلوه، او د بله پلوه شیطان لکه څنګه چې د مؤمنانو ترمنځ عداوت او دښمني اچوي همدارنګه زیار باسي چې مؤمنان او کفار هم په جنګ اخته کړي او د دعوت مخه بنده کړي.

ب: بله دا چې په ﴿ رَّبُّكُمْ أَعْلَمُ بِكُمْ إِن يَشَأْ يَرْحَمْكُمْ أَوْ إِن يَشَأْ يُعَذِّبْكُمْ ﴾ کښې د خطاب ضمائر ټول کفارو ته راجع دي او هم دغه درېواړه جملې د ﴿ ٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ ﴾ دپاره تفسیر واقع شوي دي[1].

نو د معنی حاصل یې داسې راخېژي چې مؤمنان دې د کفارو سره په دغه ډول جملو سره مخاطبه وکړي او داسې جملې دې ورته نه استعمالوي چې هغوی په غُصه کړي او نه دې د هغوی معبودان کنځي، چې هغوی به الله ﷻ ته کنځلې وکړي.

## سوال جواب

۳_ که څوک وایي چې: د څه حکمت په بنیاد الله ﷻ په دې مقام کښې د پیغمبرانو د جملې څخه د داوُد په نامه صراحت وکړ او په اسماني کتابونو کښې یې یوازې د زبور نوم واخست؟

مونږ وایو چې: که څه هم ځینو علماوو کرامو د دغه تخصیص دپاره څه وجې ذکرې کړې دي[2] مګر کومه وجه چې مونږ ته ښه ښکاره شوې ده هغه دا ده چې:

---

(۱) تفسیر الکشاف ج۲ ص۶۷۲

(۲) روح المعاني ج۱۵ ص۹۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د داوُد ﷺ ذکر په دې مقام کښې ـوالله ﷻ أعلم ـ د مثال په توګه نازل شوی دی چې نبي کريم ﷺ وربانديِ ښه ربنا اچولې ده او فرمايلي يې دي چې: «أَفْضَلُ الصَّوْمِ صَوْمُ أَخِي دَاوُدَ كَانَ يَصُومُ يَوْمًا وَيُفْطِرُ يَوْمًا وَلَا يَفِرُّ إِذَا لَاقَى»[١] يعنې په روژو کښې بهتره روژه زما د ورور داوُد ﷺ روژه ده، چې په يوه ورځ به يې روژه نيوله او يوه ورځ به يې نه نيوله (يوه ورځ به روژه وه او بله ورځ به بوزه وه)، او همدارنګه د داوُد ﷺ د فضائلو څخه دا هم وه چې کله به د دښمن سره (په جنګ کښې) مخامخ شو نو نه تښتېده.

همدارنګه نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې د داوُد ﷺ د امتيازاتو په هکله فرمايلي دي چې: «وَلَا يَأْكُلُ إِلَّا مِنْ عَمَلِ يَدَيْهِ»[٢] يعنې او داود ﷺ روزي نه خوړه مګر د خپلو لاسونو د عمل څخه (کومه به يې چې په خپلو لاسونو باندې ګټلې وه).

د دې ايت نظير وړاندې تېر شوی دی چې: ﴿ تِلْكَ ٱلرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ﴾ [البقرة: ۲۵۳]. هلته الله ﷻ د فضائلو د تمثيل دپاره موسی ﷺ ته اشاره کړې وه او د عيسی ﷺ په نامه باندې يې صراحت کړی وه.

هو! څرنګه چې زبور په داوُد ﷺ باندې نازل شوی وه نو د هغه د ذکر په ارتباط د زبور ذکر هم وشو، او په دې باندې علاوه د اسماني کتابونو امتيازاتو ته هم اشاره وشوه چې اسماني کتابونه هم په فضائلو کښې يو برابر نه دي لکه چې په زبور کښې مواعظ او دعاګانې (اذکار) زيات وه حتی ځينې لا وايي چې حلال او حرام پکښې نه وه بيان شوي[٣].

﴿ قُلِ ٱدْعُواْ ٱلَّذِينَ زَعَمْتُم مِّن دُونِهِۦ فَلَا يَمْلِكُونَ كَشْفَ ٱلضُّرِّ عَنكُمْ وَلَا تَحْوِيلًا ﴿٥٦﴾ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ يَدْعُونَ يَبْتَغُونَ إِلَىٰ رَبِّهِمُ ٱلْوَسِيلَةَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ وَيَرْجُونَ رَحْمَتَهُۥ وَيَخَافُونَ عَذَابَهُۥٓ ۚ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحْذُورًا ﴿٥٧﴾ وَإِن مِّن قَرْيَةٍ إِلَّا نَحْنُ مُهْلِكُوهَا قَبْلَ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ أَوْ مُعَذِّبُوهَا عَذَابًا شَدِيدًا ۚ كَانَ ذَٰلِكَ فِى ٱلْكِتَٰبِ مَسْطُورًا ﴿٥٨﴾ ﴾

**[٥٦]** (ای پيغمبره! مشرکانو ته) ووايه چې: تاسو (خپل) هغه (معبودان د خپلو احتياجاتو دپاره) وبلئ په کومو باندې چې تاسو د الله ﷻ څخه په غير (د معبودانو) ګومان کوئ نو دوی به ستاسو څخه نه د سختيو د لرې کولو توان ولري او نه يې د مخ اړولو (يا د بدلولو، چې د واقع کېدلو مخه يې ونيسي او يا پکښې بدلون ته تحقق ورکړي).

**[٥٧]** (ای پيغمبره! د مشرکانو) دغه (ناتوانه معبودان) هغه دي کوم چې دوی يې (خپلو احتياجاتو

---

(١) جامع الترمذي ج١ ص١٦٠؛ صحيح البخاري ج١ ص٢٦٦، ٤٨٦

(٢) صحيح البخاري ج١ ص٤٨٥

(٣) المحرر الوجيز ج١٠ ص٣١٠

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نه) وربولي حال دا چې هغوی (ناتوانه معبودان) خپل رب ﷻ ته د تقرب (نژدېکت) حاصلولو لټون کوي (او حارصان دي چې) کوم يو يې ډېر ورنژدې شي، او (همدارنګه) دوی د خپل رب ﷻ د رحمت امید کوي او د عذاب څخه يې ډارېږي (او دا ځکه چې) يقيناً ستا د رب ﷻ عذاب محذور دی (لیاقت لري چې ډار ترې وکړی شي).

[۵۸] او هیڅ یو ښار نه دی مګر مونږ يې د قيامت (د قيام) څخه وړاندې هلاکوونکي (ارواګانې اخستونکي) ياستو او يا يې په سخت عذاب سره عذابوونکي (پوپنا کوونکي) ياستو.

همدغه (مضمون) په لوح محفوظ کښې ليکلی شوی (ثبت شوی) دی.

## ارتباط

د وړاندېنيو ايتونو مضمون په دې باندې هم مشتمل وه چې الله ﷻ چې هرڅه وغواړي هغه کولی شي، چې چاته توفيق ورکوي او د عذابه يې خلاصوي او څوک په عذاب باندې اخته کوي، د پيغمبر جوړولو اختيار هم د همده ﷻ پورې مختص دی او د پيغمبرانو په فضائلو کښې تفاوت هم فقط په همده ﷻ پورې اختصاص لري. په دې ايتونو کښې د باطلو معبودانو ناتواني بيانه شوې ده چې حاصل يې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

۱ـ ای پيغمبره! يو ځل بيا مشرکان مخاطب کړه او داسې ورته ووايه چې:

ای مشرکانو! د الله ﷻ د کامل قدرت مثالونه خو په تاسو باندې په وړاندېنيو ايتونو کښې قرائت شوه خو تاسو د خپلو کفرياتو او شرکياتو څخه لاس وانخست، نو تاسو د امتحان په توګه خپل هغه معبودان وبلئ په کومو باندې چې تاسو د حقو معبودانو ګومان کوئ او د الله ﷻ سره يې په عبادت کښې شريک ګرځوئ. نو تاسو ته به په تجربه باندې په اثبات ورسېږي چې هغوی نه ستاسو څخه سختيګانې لرې کولی شي او نه درڅخه د هغو مشکلاتو مخ اړولی شي کوم چې تاسو ته متوجه وي او په نن سبا کښې درباندې نازلېدونکي وي.

۲ـ ای پيغمبره! د مشرکانو باطل معبودان په ناتوانۍ باندې علاوه د لاندې صفاتو درلودونکي هم دي:

الف: هغه معبودان د کومو چې دوی بلنه او عبادت کوي خپل رب (الله ﷻ) ته محتاج دي او زيار وباسي چې په عبادت سره خپل ځانونه ورنژدې کړي، حتی دوی ټول په همدې لټه کښې دي چې کوم يو به د ده ﷻ په حضور کښې د لوړې درجې څښتن جوړ شي.

ب: دوی ټول د خپل رب ﷻ د رحمت اميدوار دي او لاس ته په راوړلو کښې يې زيار وباسي.

ج: بلکې دوی ټول د خپل رب ﷻ د عذاب څخه ډارېږي او د غضب څخه يې د بچ کېدلو سوالونه کوي، او دا ځکه چې:

يقيناً (ای پيغمبره!) ستا د رب ﷻ عذاب د دې وړ دی چې ډار ترې وکړی شي او د بچ کېدلو

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



څخه ترې سوالونه او زارۍ وکړی شي.

۳_ ټولو خلکو ته په کار دي چې د الله ﷻ د عذاب څخه د خلاصون او نجات لارې چارې ولټوي او دا څکه چې هیڅ داسې ښار او ښاریان نشته چې هغوی به له مرګه بچ شي او د قیامت په ورځ به د ده ﷻ په حضور کښې ونه درولی شي، بلکې د قیامت د قیام څخه وړاندې مونږ د ټولو خلکو یا هلاکوونکي (او د ارواګانو قبض کوونکي) یاستو البته کله چې د دومره جنایت نه وي مرتکب شوي چې په غضب باندې د پوښنا کولو جوګه شي، او یا یې په سخت عذاب باندې تعذیب کوونکی او پوښنا کوونکي یاستو البته کله چې دوی د داسې جنایاتو مرتکب شي چې زمونږ د غضب د ورنازلولو لیاقت ولري.

دا خبره په لوح محفوظ کښې لیکلې شوې ده او زمونږ سره فیصله ده چې هیڅوک ژوندي پاتې کېدونکی نه دی او نه د قیامت د ورځې څخه بچ کېدونکی دی.

## توضیحات

۱_ مونږ د [المائدة:۳۵] ایت لاندې د "وَسِيلَة" کلمه ښه پوره څېړلې ده _الحمد لله الذي وفقنا_ چې بیا څېړلو ته یې اړتیا نه ګورو، او هلته مو لیکلي دي چې دغه کلمه د هغه نژدېکت څخه عبارت ده کوم چې په رغبت او محبت سره صورت نیسي.

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې په ﴿ يَبْتَغُونَ إِلَىٰ رَبِّهِمُ ٱلْوَسِيلَةَ ﴾ کښې خو مستتر ضمیر او هم بارز ضمیر دواړه بوتانو او د کفارو معبودانو ته راجع دی، نو د سړي په ذهن کښې ګرځي چې:

الف: بوتان خو ذو العقول نه دي حال دا چې دغه ضمیرونه د ذو العقولو دپاره وضعه شوي دي؟

ب: بوتان خو جمادات دي، ایا په جماداتو کښې هغه تقرب حاصلول تحقق موندلی شي کوم چې په عقل او علم باندې توقف لري؟

مونږ وایو چې: په دې مقام کښې د مشرکانو د معبودانو څخه بوتان (جمادات) مطلب نه دي چې نه عقل لري او نه علم لري، بلکې دلته ترې پیریان مطلب دي چې د ایت شریف د نزول په وخت کښې به یې څینو مشرکانو عبادت کاوه خو الله ﷻ توفیق ورکړ او په ایمان باندې مشرف شوه او د الله ﷻ د رضامندۍ حاصلولو په هڅه کښې ولېده او د همدې دپاره یې کوښښ پیل کړ، حال دا چې د دوی عبادت کوونکي (مشرکان) خبر نه وه چې معبودین یې په ایمان باندې مشرف شوي دي، خو الله ﷻ د ذکر شوي ایت په نزول سره اطلاع ورکړه چې ستاسو معبودان د الله ﷻ رضاء حاصلوي او تاسو یې په غضب پسې تاند وهئ.

ذکر شوی جواب د عبد الله بن مسعود ﷺ څخه روایت شوی دی[۱]، نو د ذکر شوي صحابي ﷺ د

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۶۸۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تفسیر په بنیاد د باطلو معبودانو څخه هغه باطل معبودان مطلب دي کوم چې پوهه لري لکه پیریان.
اما زمونږ په نظر که باطلو معبودانو ته تخصیص ورنه کړی شي او په عموم سره پرېښودل شي نو دا به بهتره وي، په دې تقدیر به اولنۍ پوښتنه داسې جوابه شي چې: ذکر شوي ضمیرونه په تغلیب باندې بناء دي لکه چې د مور او پلار (أب، أم) څخه کله کله د تغلیب په بنیاد په "ابَوَيْن" سره تعبیر کېږي، نو په دې مقام کښې پوهو باطلو معبودانو ته په ناپوهو باندې غلبه ورکړی شوې ده، او ټول یو ګڼل شوي دي.

او د دوهمې پوښتنې جواب به هغه وي کوم ته چې د همدې سورت په [۴۲، ۴۳] ایتونو کښې اشاره شوې ده چې مراجعه کول ورته لرې نه دي، خو لنډ مطلب یې دا دی چې: بالفرض المحال که د الله ﷻ سره په حقه معبودانو اشتراک درلودی نو ضرور به هغوی هم د نورو مخلوقاتو غوندې د خپل رب ﷻ د رضامندۍ حاصلولو پسې تاند وهلی وی خو په دغه صورت کښې به په حقه معبودان نه وی، بلکې په حقه عابدان به وی.

لکه چې خبره همدغسې ده، د کومو باطلو معبودانو په عبادت باندې چې مشرکان اخته دي هغوی پخپله خپل رب ﷻ ته تقرب حاصلوي او د ټولو مخلوقاتو په ضمن کښې یې په عبادت او تسبیحاتو باندې مشغول دي او حتی په دغې باره کښې په مسابقه لګیا دي چې کوم یو به خپل رب ﷻ ته ډېر ورنژدې شي، ټول یې د رحمت امید لري او ټول یې د عذابه دارېږي، خو د دې سره- سره مشرکان په جاهلانه توګه د دغو محتاجانو څخه خپل احتیاجات پوره کول غواړي او په جاهلانه توګه یې عبادت کوي.

## دلته عامه قریه مراده ده او که خاصه

۳ـ په ﴿ وَإِن مِّن قَرْيَةٍ إِلَّا نَحْنُ مُهْلِكُوهَا قَبْلَ يَوْمِ ٱلْقِيَـٰمَةِ أَوْ مُعَذِّبُوهَا عَذَابًا شَدِيدًا ﴾ کښې ځینو مفسرینو کرامو د ﴿ قَرْيَةٍ ﴾ د کلمې څخه په دې مقام کښې ظالمه او کافره قریه مراده کړې ده[1] یعنې هیڅ یوه کافره قریه به هم د عافیت په حال کښې پرېنږدو مګر یا به یې د قیامت د قیام څخه وړاندې پوپنا کړو او یا به یې په سخت عذاب باندې اخته کړو، نو کفارو ته په کار دي چې زمونږ د غضب څخه وډار شي او ایمان راوړي.

همدا مضمون الله ﷻ په بل ځای کښې داسې بیان کړی دی چې: ﴿ وَمَا كُنَّا مُهْلِكِى ٱلْقُرَىٰٓ إِلَّا وَأَهْلُهَا ظَـٰلِمُونَ ﴾ [القصص: ۵۹] او مونږ په یوه حال کښې هم د ښارونو هلاکوونکي نه یاستو مګر په داسې حال کښې چې اهل یې ظالمان (او کافران) وي.

خو مونږ ته بهتره برېښي چې ذکره شوې کلمه په عموم سره پرېښودله شي چې د تخصیص دپاره یې څه مجبوریت نه لیده کېږي.

[1] تفسیر ابي السعود ج۵ ص۱۷۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو د معنی حاصل به یې داسې شي چې دنیا فاني ده او بقا نه لري، په کار ده چې د دوهم ژوندون دپاره خلک تیاری ونیسي او دا ځکه چې مونږ د یوه ښار هم پرېښودونکي نه یاستو چې اباد به پاتې شي مګر د قیامت د قیام څخه وړاندې به یې په مقرره نېټه باندې ارواګانې قبض کړو، البته په هغه صورت کښې چې دوی ظالمان او کافران نه وي، او یا به یې په سخت عذاب باندې مبتلا او پوپنا کړو، البته که دوی ظالمان او کافران وي.

نو د ټولو انسانانو مړه کیدل یوه حتمي خبره ده او په لوح محفوظ کښې ثبته او فیصله ده، ځکه چې: ﴿ كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ ٱلْمَوْتِ ﴾ [الأنبياء:۳۵] هر نفس د مرګ څکونکی دی او: ﴿ كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُۥ ﴾ [القصص:۸۸] هر شی هلاکېدونکی دی مګر د الله ﷻ اقدس ذات (باقي دی او بس).

لنډه دا چې دنیا نه د نېکانو دپاره دائمي استوګنځای دی او نه د بدانو دپاره د همېشوالي کور دی، دوی ټول دلته مسافران دي باید چې دوی دِ اصل کور د جوړولو څخه بې غمه پاتې نه شي.

## یادونه

۴ـ په دې مقام کښې ځینو مفسرینو کرامو د قیامت د قیام څخه وړاندې د هلاکت په ارتباط د ډېرو ښارونو نومونه اخستي دي چې فلانکی ښار به په فلاني ډول عذاب باندې هلاک شي او فلانی په فلاني[۱]. که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي مونږ ته ذکر شوی نوملیک د روایت په حیث چندان قوي ښکاره نه شو حتی چې ځینو علماوو کرامو لا ورته د اسرائیلیاتو لقب ورکړی دی[۲].

﴿ وَمَا مَنَعَنَآ أَن نُّرْسِلَ بِٱلْءَايَٰتِ إِلَّآ أَن كَذَّبَ بِهَا ٱلْأَوَّلُونَ ۚ وَءَاتَيْنَا ثَمُودَ ٱلنَّاقَةَ مُبْصِرَةً فَظَلَمُوا۟ بِهَا ۚ وَمَا نُرْسِلُ بِٱلْءَايَٰتِ إِلَّا تَخْوِيفًا ﴿٥٩﴾ وَإِذْ قُلْنَا لَكَ إِنَّ رَبَّكَ أَحَاطَ بِٱلنَّاسِ ۚ وَمَا جَعَلْنَا ٱلرُّءْيَا ٱلَّتِىٓ أَرَيْنَٰكَ إِلَّا فِتْنَةً لِّلنَّاسِ وَٱلشَّجَرَةَ ٱلْمَلْعُونَةَ فِى ٱلْقُرْءَانِ ۚ وَنُخَوِّفُهُمْ فَمَا يَزِيدُهُمْ إِلَّا طُغْيَٰنًا كَبِيرًا ﴿٦٠﴾ ﴾

[۵۹] او مونږ هیڅ شي (د دې څخه) منعه کړي نه یاستو چې (فرمایشي) معجزات (خلکو ته) ور واستوو مګر (فقط همدې خبرې منعه کړي یاستو چې) معجزاتو ته پخوانیو (کافرانو) د دروغو نسبت کړی وه (چې بیا پوپنا کړی شول، نو دوی به هم ورته د دروغو نسبت وکړي او د خرمې به هلاک کړی شي). او مونږ ثمودیانو ته (د صالح ﷺ په لاس د معجزې) اوښه په داسې حال کښې ورکړې وه چې پوره څرګندونه (معجزه) وه، خو دوی پرې ظلم وکړ (او قتله یې کړه). او مونږ معجزې

(۱) روح المعاني ج۱۵ ص ۱۰۰
(۲) اضواء البیان ج۳ ص۵۴۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نه لېږو مگر د ډارولو دپاره (نه د قناعت دپاره د قناعت ورکولو دپاره خو دلایل استوو).

[۶۰] او (ای پیغمبره د خپلې تسلۍ دپاره) هغه وخت درپه زړه کړه چې مونږ تاته (د وحې په نوګه) وویلې چې یقیناً ستا رب ﷻ په (ټولو) خلکو باندې (په علم سره) احاطه کړې ده (حالات یې ورته ښه معلوم دي)، او (د همدې کبله) مونږ ستا هغه لیدلي شوي شیان نه دي ګرځولي کوم چې مونږ تاته (د معراج په شپه) درولیده کړه مگر د خلکو دپاره فتنه (او امتحان چې ځینې پرې ېېرته کفر ته واوښتل) او (همدارنګه مونږ) ملعونه ونه (چې خوړونکي یې ملعونان دي) په قرآن کښې (نه ده ګرځولې مگر د خلکو دپاره فتنه او امتحان).

او مونږ خلک (په خوارقو باندې) ډاروو (چې د قناعت دلایلو ته متوجه شي) خو دوی ته نه زیاتوي مگر لوی طغیان (او سرکشي).

## ارتباط او شان نزول

د دې سورت د پیل څخه تردې ځایه پورې د سالمې عقیدې د تثبیت دپاره په ډول-ډول اسالیبو سره زښت ډېر دلایل نازل شوي دي؛ په دې ایتونو کښې په دلایلو باندې علاوه د مشرکانو یوه غوښتنه جوابه شوې ده، چې زمونږ د ایمان د نه راوړلو وجه دا ده چې مونږ ته فرمایشي معجزات نه راکول کېږي که زمونږ دغه مطلب پوره شي نو مونږ به ضرور په ایمان باندې مشرف شو.

همدې مضمون ته عبد الله بن عباس رضي الله عنهما اشاره کړې ده چې یوه ورځې د مکې مشرکانو د نبي کریم ﷺ څخه وغوښتل چې مونږ ته د صفا غونډۍ سره زر وګرځوه او یا زمونږ د شاوخوا څخه غرونه لرې کړه چې مونږ پکښې کښت او زراعت وکړو. خو د الله ﷻ د پلوه نبي کریم ﷺ ته اختیار ورکړی شو چې په لاندې خواوو کښې یوه خوا غوره کړي:

۱ـ چې یا د مشرکانو همدغه غوښتنه پوره نه کړی شي (څه لرې نه ده چې ځینې په ایمان باندې مشرف شي).

۲ـ چې هغه څه ورکړی شي کوم چې دوی یې غواړي نو که بیا یې هم خپل کفر ته ادامه ورکړه نو داسې به هلاک کړی شي لکه چې د دوی څخه وړاندېني نور قومونه هلاک کړی شوي دي.

نو نبي کریم ﷺ لومړنۍ خوا خوښه کړه نو الله ﷻ ذکر شوي ایتونه نازل کړه[1] چې حاصل یې داسې راځېږي.

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! د مشرکانو د معجزاتو فرمایش زمونږ د پلوه په لاندې ډول جواب کړه چې:

۱ـ مونږ د هر ډول معجزاتو په خلق باندې کامل قدرت لرو، نو د هغوی د فرمایش پوره کول مونږ ته هیڅ مشکلات نه لري. یا په بل عبارت: د فرمایشي معجزاتو پیدا کول بل څه مانع نه لري، منعه کوونکي یې فقط دا دی چې:

[1] مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۵۵۵؛ اسباب النزول للواحدي ص۱۹۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: پخوانیو هلاکو شوو قومونو ته مونږ فرمایشي معجزې ورکړې وې خو هغوی وربانديې عقیده ونه کړه او د دروغو نسبت یې ورته وکړ، نو مونږ هغوی پوپنا کړه.

څرنګه چې د ټولو زمانو د کفارو عادتونه سره یو برابر دي او وروستني د اولنیو په قدم باندې روان دي، ته به وایې چې هغوی ورته وصیت کړی دی، نو که د دې زمانې کفارو (مشرکانو) ته مونږ فرمایشي معجزات ورکړو دوی به هم پرې ایمان رانه وړي او ضرور به ورته د دروغو نسبت وکړي، چې په دغه وخت کښې به دوی هم داسې پوپنا کړی شي لکه چې هغوی پوپنا کړی شوي دي، حال دا چې د آخر الزمان پیغمبر ﷺ د امت سره دغسې کار کول د حکمت غوښتنه نه ده.

ب: د مثال په توګه مونږ ثمودیانو ته د صالح ؑ په لاس ښه پوره واضحه فرمایشي معجزه ورکړه او د وچې کلکې ډبرې څخه مو ورته اوښه رالیږلې مګر هغوی پرې ظلم وکړ او قتله یې کړه، نو مونږ د هغوی بیخ او نیله ورکه کړه.

۲ـ ای پیغمبره! د خلکو د قناعت دپاره دلایل په کار دي چې شک او شبه یې د زړونو څخه وباسي او په سمه سیده لاره باندې روان شي، چې مونږ پکښې هیڅ کمی نه دی کړی (په خپل وحدانیت او ستا په نبوت باندې مو هر ډول دلایل نازل کړي دي)، اما د معجزاتو نزول خو د خلکو قناعت نه شي حاصلولی او ایمان ته په زړه کښې تقرر نه شي ورکولی، نو د معجزاتو او خوارقو نزول ته مونږ د بل شي دپاره موجودیت نه ورکوو فقط د همدې دپاره چې په زړونو کښې ډار ورواچوي او دلایلو ته یې متوجه کړي (چې د عقلونو څخه کار واخلي).

۳ـ ای پیغمبره! د فرمایشي معجزاتو په عدم نزول باندې ته مه غمژن کېږه او د دې تمه مه کوه چې مشرکان به د فرمایش د پوره کېدلو په صورت کښې په ایمان باندې مشرف شي. دا ځکه چې:

الف: ته خو هغه وخت دریه زړه کړه او هغه وخې زړه ته حاضره کړه په کومه کښې چې مونږ تاته ویلي وه چې "یقینًا ستا رب ﷻ په ټولو خلکو باندې د علم د حیثه احاطه کړې ده او ټول حالات یې ورته معلوم دي.

نو ستا د زمانې د کفارو حال (د فرمایشي معجزاتو په نسبت) دا دی چې: دوی د فرمایش د پوره کېدلو سره سره ایمان نه راوړي، چې په دې صورت کښې به یې نیله ورکه شي او ټول به پوپنا شي، حال دا چې په دې کار باندې ته هم راضي نه یې.

ب: د خوارقو لیدل په دې عوض چې خلکو ته ګټه ورسوي کله-کله ورته په ضرر تمامېږي او بېرته پرې کفر ته اوړي (ارتداد غوره کوي) د همدې کبله:

اول: مونږ هغه څه د خلکو دپاره فتنه (امتحان) وګرځول کوم مو چې تاته د معراج په شپه باندې در ولیده کړه او تا پرې خپل قوم ته اخبار ورکړ، چې د بیت المقدس نښانې دې ورته بیانې کړې، خو ځینو خلکو پرې باور ونه کړ او خپل کفر ته یې ادامه ورکړه او ځینې لا پرې بېرته مرتد شوه.

دوهم: همدارنګه د هغې ونې په ذکر باندې هم د ځینو کافرانو کفر ښه قوي شو د کومې چې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خوړونكي لعنتيان دي (د الله ﷻ د رحمت څخه لرې دي) او تاته مونږ په قرآن كريم كښې وحې كړې ده، چې هغه د زقوم د ونې څخه عبارت ده او د دوزخ په منځكښې موقعيت لري. همدغې ونې ته هم مځينو كفارو د دروغو نسبت وكړ چې: ايا شنه ونه په اور كښې موقعيت درلودلى شي؟ حال دا چې دوى د الله ﷻ كامل قدرت هېر كړى دى.

۴ـ لنډه دا چې مونږ په قرآني او كوني خوارقو باندې كفار ډاروو ترڅو دلايلو ته متوجه شي او د طغيان او سركشۍ څخه راښكته شي مګر دوى ته نه اضافه كوي مګر لويه سركشي، يا په بل عبارت: دوى ته د لويې سركشۍ څخه په غير د بل شي ګټه نه شي رسولى.

## توضيحات

۱ـ د صالح ﷺ د معجزې (اوښې) بيان د [الأعراف:۷۳] ايت لاندې تېر شوي دي ـ ولله الحمد والشكر والمنة ـ خو په دې مقام كښې ورباندې وراضافه كوو چې دلته ذكرې شوې د معجزې اوښې ته د ﴿ مُبْصِرَةً ﴾ لقب وركړى شوى دى چې علماوو كرامو دغه كلمه په "مُضِيْئَةً لِلأَبْصَارِ" باندې معنى كړې ده[۱]، يعنې ذكره شوې اوښه داسې اوښه وه چې د ثموديانو سترګې يې په كامله توګه روښانه كړې چې صالح ﷺ په حقه پيغمبر دى، خو د دې سره-سره په ايمان باندې مشرف نه شوه.

## په ياد ولرئ!

۲ـ په ﴿ وَمَا نُرْسِلُ بِالْآيَاتِ إِلَّا تَخْوِيفًا ﴾ كښې د "آيات" كلمه د "آية" جمعه ده، "آية" هغه ځرګند شي ته ويل كېږي په كوم باندې چې سړي ته د علم د حاصلېدلو څخه په بل شي باندې هم علم حاصلېږي[۲]. نو لكه چې "كلام الله" ته "آية" لقب وركول كېږي همدارنګه كونيه خارق العاده هر كار هم په همدې نامه بلل كېدلى شي.

د همدې كبله نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ آيَتَانِ مِنْ آيَاتِ اللهِ لَا يَنْكَسِفَانِ لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلَا لِحَيَاتِهِ وَلَكِنْ يُخَوِّفُ اللهُ بِهِمَا عِبَادَهُ»[۳] يعنې يقينا لمر او سپوږمۍ د الله ﷻ د قدرتي نښو څخه دوه د قدرت نښې دي، نه د چا د مرګ د كبله تغير كېږي او نه د چا د حيات د كبله مګر الله ﷻ د دغو دواړو (د تغيركولو) په سبب سره خپل بندګان ډاروي.

## سوال جواب

۳ـ كه څوك وايي چې په ﴿ وَمَا جَعَلْنَا الرُّؤْيَا الَّتِي أَرَيْنَاكَ ﴾ كښې د "رُؤْيَا" كلمه د څه شي څخه عبارت ده؟ يا په بل عبارت: لكه چې تاسو د [يوسف:۵] ايت لاندې ليكلي دي چې د "رُؤْيَا" كلمه په مفعو ليدلو شوو شيانو كښې استعمالېږي چې څوك يې په خوب كښې وګوري، نو پوښتنه دا ده چې

---

[۱] مفردات الراغب ص۴۷
[۲] مفردات الراغب ص۲۸
[۳] صحيح البخاري ج۱ ص۱۴۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نبي کريم ﷺ څه خوب ليدلی وه چې خلک ورباندې په فتنه (امتحان) کښې واچول شوه؟

مونږ وايو چې: که څه هم ځينو علماوو کرامو ذکره شوې "رُؤيَا" د هغه خوب څخه عبارت ګڼلې ده کوم ته چې په [الفتح:۲۷] ايت کښې اشاره شوې ده[۱]، هغه دا چې نبي کريم ﷺ په مدينه منوره کښې خوب ليدلی وه چې مونږ مسجد حرام ته داخل شوي ياستو، خو چې کله يې د عمرې کولو او مسجد حرام ته د داخلېدلو قصد وکړ نو په حديبيه مقام کښې يې مشرکانو مخه بنده کړه او بېرته راستانه شوه، نو منافقانو اوازې خورې کړې چې د پيغمبر خوب دروغ وخوت نو معلومه شوه چې دا د نبوت دعوه په دروغو ده.

د منافقانو دې ته فکر نه وه چې په خوب کښې خو نبي کريم ﷺ ته کال نه وو ټاکلی شوی چې همدا سږ کال به مسجد حرام ته داخلېږي، نو الله ﷻ د خپل پيغمبر خوب رښتيا کړ او د حديبې په دوهم کال د عمرې د قضايي راوړلو دپاره هلته لاړه او مسجد حرام ته داخل شوه.

مګر عبد الله بن عباس رضي الله عنهما (رئيس المفسرين) د ذکر شوي ايت د "رُؤيَا" په کلمه کښې فرمايي چې: «هِيَ رُؤيَا عَيْنٍ أُرِيَهَا رَسُولُ اللهِ ﷺ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِهِ»[۲] دا د خوب لېدل نه دي بلکې د سترګو ليدل دي چې نبي کريم ﷺ ته په هغې شپه کښې ورليدل شوي وه د کومې په يوه برخه کښې چې بيت المقدس او بيا معراج ته پورته کړی شوی وه.

همدغه د جمهورو علماوو کرامو نظر دی[۳]، نو کومه معنی چې مونږ د يوسف په سورت کښې ليکلې ده هغه د "رُؤيَا" دپاره مشهوره معنی ده اما د سترګو په ليدلو کښې هم استعمال مومي[۴] لکه چې په همدې ايت کښې استعماله شوې ده.

پاتې شوه دا خبره چې نبي کريم ﷺ ته د اسراء يا معراج په شپه څه شيان ورښودلی شوي وه چې په إخبار باندې يې ځينې خلک مرتد شوه او باور يې پرې ونه کړ، نو د دې خبرې تفصيلات د همدې سورت د اولني ايت لاندې تېر شوي دي، والحمد لله ﷻ.

## ملعونه شجره د کومې شجرې څخه عبارت ده؟

۴- عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په ﴿وَٱلشَّجَرَةَ ٱلۡمَلۡعُونَةَ فِي ٱلۡقُرۡءَانِ﴾ کښې وايي چې: «وَالشَّجَرَةُ الْمَلْعُونَةُ شَجَرَةُ الزَّقُّومِ»[۵] يعنې او هغه ونه د کومې چې خوړونکي ملعونان دي او د الله ﷻ د رحمت څخه لرې دي د زقوم د ونې څخه عبارت،ده. چې څه شرحه يې دا ده:

الف: الله ﷻ د زقوم د ونې په باره کښې فرمايي چې: ﴿إِنَّهَا شَجَرَةٌ تَخۡرُجُ فِيٓ أَصۡلِ ٱلۡجَحِيمِ﴾

(۱) تفسير القاسمي ج۱۰ ص۲۴۴
(۲) صحيح البخاري ج۲ ص۶۸۶
(۳) البحر المحيط ج۷ ص۷۴؛ المحرر الوجيز ج۱۰ ص۳۱۴؛ تفسير الطبري ج۱۵ ص۱۱۳
(۴) روح المعاني ج۱۵ ص۱۰۵
(۵) صحيح البخاري ج۲ ص۶۸۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[الصافات: ۶۴] يعنې يقينًا دا "شَجَرَةُ الزَّقُّومِ" يوه ونه ده چې راوځي د دوزخ په بېخ کښې (د دوزخ په تل کښې ولاړه ده).

ب: نبي کريم ﷺ فرمايي چې: «لَوْ أَنَّ قَطْرَةً مِنَ الزَّقُّومِ قُطِرَتْ فِي دَارِ الدُّنْيَا لَأَفْسَدَتْ عَلَى أَهْلِ الدُّنْيَا مَعَايِشَهُمْ»[۱] که بالفرض د زقوم د ونې څخه فقط يو څاڅکی په دې دنيا کښې وڅڅولی شي نو د دنيا په ټولو اوسېدونکو باندې به معيشت او ژوند فاسد کړي (هر شی به ورته تريخ او بدبويه وګرځوي).

## سوال جواب

۵ـ که څوک وايي چې د زقوم ونه د خلکو دپاره په څه ډول فتنه او امتحان وګرځېده؟

مونږ وايو: چې کله الله ﷻ د زقوم د ونې په هکله ذکر شوي معلومات نازل کړه او نبي کريم ﷺ ورباندې د وخت کفار وډار کړه نو ابو جهل غږ وکړ چې: "هَاتُوا تَمْرًا وَزُبْدًا فَتَزَقَّمُوا"[۲] يعنې کجورې او کوچ راوړئ نو ويې خورئ (نوش جان يې کړئ) زقوم خو بل شی نه دی په غير د دې څخه.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه ابو جهل د نورو مشرکانو په شمول ووېلې چې: "يُخْبِرُنَا مُحَمَّدٌ أَنَّ فِي النَّارِ شَجَرَةً نَابِتَةً وَالنَّارُ تَأْكُلُ الشَّجَرَ فَكَيْفَ تُنْبِتُ فِيهَا"[۳] يعنې محمد مونږ ته خبر راکوي چې په دوزخ کښې شنه ونه زرغونه ده حال دا چې اور خو ونه خوري (سوزي) نو څنګه به پکښې ونه زرغونه شي.

## کله-کله اور هم سوزول نه کوي

۶ـ ابو جهل او نورو مشرکانو عناداً او د خلکو د غولونې په غرض په ذکره شوې پلمه باندې کلک ولاړ وه، که نه نو الله ﷻ په دنيا کښې هم داسې شيان پيدا کړي دي چې اور ورباندې (د خپل عادت په خلاف) څه اثر نه غورزوي، لاندې مثالونه ولولئ[۴]:

الف: د "نعامة" په نوم يوه مرغۍ ده چې د اور سکروټې ښويه تېروي او د اوسپنې هغه تبوتې د ستونې څخه ښکته کوي کومې چې په اور باندې ګرمې شوې وي او تکې سرې ګرځېدلې وي حال دا چې ذکره شوې مرغۍ ورباندې نه متضرره کېږي.

ب: همدارنګه د "سمندل" په نوم يو ساکښ دی چې خلک يې د وړيو څخه دسمالونه جوړوي او کله چې خيرن شي نو په اور باندې ترې خيرې سوزوي، چې دسمالونه پرې پاکېږي مګر سوزي نه.

﴿وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَٰٓئِكَةِ ٱسْجُدُواْ لِأٓدَمَ فَسَجَدُوٓاْ إِلَّآ إِبْلِيسَ قَالَ ءَأَسْجُدُ لِمَنْ خَلَقْتَ طِينًا ﴿٦١﴾ قَالَ أَرَءَيْتَكَ هَٰذَا ٱلَّذِى كَرَّمْتَ عَلَىَّ لَئِنْ أَخَّرْتَنِ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۸۶؛ سنن ابن ماجه ص۳۲۱
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۸۰۰
(۳) تفسير الطبري ج۱۵ ص۱۱۵
(۴) روح المعاني ج۱۵ ص۱۰۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لَأَحْتَنِكَنَّ ذُرِّيَّتَهُۥٓ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٦٢﴾ قَالَ ٱذْهَبْ فَمَن تَبِعَكَ مِنْهُمْ فَإِنَّ جَهَنَّمَ جَزَآؤُكُمْ
جَزَآءً مَّوْفُورًا ﴿٦٣﴾ وَٱسْتَفْزِزْ مَنِ ٱسْتَطَعْتَ مِنْهُم بِصَوْتِكَ وَأَجْلِبْ عَلَيْهِم بِخَيْلِكَ وَرَجِلِكَ
وَشَارِكْهُمْ فِى ٱلْأَمْوَٰلِ وَٱلْأَوْلَٰدِ وَعِدْهُمْ ۚ وَمَا يَعِدُهُمُ ٱلشَّيْطَٰنُ إِلَّا غُرُورًا ﴿٦٤﴾ إِنَّ
عِبَادِى لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَٰنٌ ۚ وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ وَكِيلًا ﴿٦٥﴾ ﴾

[۶۱] او هغه وخت (یاد کړه) چې مونږ پرښتو ته وویلې چې آدم عليه السلام ته سجده وکړئ نو دوی (ټولو) سجده وکړه، مګر ابلیس (سجده ونه کړه)، ده وویلې چې: ایا زه هغه چاته سجده وکړم کوم چې تا د خټې څخه پیدا کړی دی (او زه دې د اوره پیدا کړی یم).

[۶۲] ابلیس وویلې چې: (ای ربه!) ماته خبر راکړه چې ایا دغه (آدم عليه السلام) هغه څوک دی چې په ما باندې دې ورته عزت ورکړ (نو زما دې سوګند وي چې) که زه دې چرته د قیامت د ورځې پورې روستی کړم نو ضرور هرو مرو به زه د ده اولاده (په معنوي هلاکت باندې) هلاکه کړم، مګر لږ کسان (به یې زما څخه بچ شي).

[۶۳] الله ﷻ وفرمایل چې: (په خپل خط السیر باندې) لاړ شه! نو هغه څوک چې د دوی څخه ستا پیروي وکړي نو یقینًا دوزخ چې دی ستاسو (د کفر) جزا ده، پوره جزا.

[۶۴] او (دا یې هم ورته وفرمایل چې: د حقې لارې څخه) په خپل اواز (دعوت او وسوسې) سره د دوی د جملې څخه هغه څوک تېل وهه په کوم باندې چې ستا وسه رسېږي، او د دوی په ضد په خپلو سوَرو او پیادوؤ باندې غږ وکړه (قومنده ورکړه) او هم ورسره په مالونو او اولادونو کښې شریک شه او (بالآخره) دوی ته (دروغینې) وعدې ورکړه.

(ای پیغمبره!) د دوی (بنیادمانو) سره شیطان (د بل هیڅ شي دپاره) وعدې نه کوي مګر د غولونې دپاره.

[۶۵] یقینًا (ای ابلیسه!) زما (مخلص) بندګان چې دي تالره په دوی باندې څه سلطه (توان) نشته (ستا تسلط په سرکشانو باندې دی). او (ای پیغمبره!) ستا رب ﷻ د کارساز په حیث بس دی (چې څوک پرې توکل وکړي نو شیطان پرې سلطه نه شي موندلی).

## ارتباط

وړاندېنې ایتونه په ﴿ فَمَا يَزِيدُهُمْ إِلَّا طُغْيَٰنًا كَبِيرًا ﴾ باندې تمام شوي وه چې د عناد او حسد د کبله مشرکان د معجزاتو فرمایش درکوي، که نه نو د معجزاتو په ښودلو او د خوارقو په لیدلو باندې د هغوی سرکشي او عداوت لا اضافه کېږي او قناعت یې پرې نه حاصلېږي. په دې ایتونو کښې د مشرکانو د ذکر شوي خاصیت وجې ته اشاره شوې ده چې وجه یې صرف د شیطان پیروي او متابعت دی او بس، نو حاصل یې داسې راځي:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

يعني اى پيغمبره! د خپلې تسلۍ دپاره او هم د دې دپاره چې د مشركانو د سركشۍ وجه خلكو ته ښه څرګنده كړې، د لاندې معلوماتو يادونه وكړه:

۱_ د هرڅه څخه وړاندې هغه وخت وريه زړه كړه چې مونږ پرښتو ته د ابليس په شمول امر وكړ چې: آدم ﷺ ته په سجده پرېوزئ او تعظيم يې وكړئ، نو سجدستي پرښتو زمونږ اطاعت وكړ او په سجدو سره يې د آدم ﷺ تعظيم اداء كړ. مګر يوازې ابليس دغه كار ته چمتو نه شو او د سجدې كولو څخه يې منعه وكړه، او خپله دغه كړنلاره يې داسې توجيه كړه چې:

الف: اى ربه! تاته خوښه پوره څرګنده ده چې زه دې له اوره پيدا كړى يم او آدم ﷺ دې له خاورې او ختې څخه پيدا كړى دى، نو ايا دا عجيبه نه ده چې زه بل چاته نه بلكې دغه ختين مخلوق ته تعظيم وكړم او ورته سلامي شم؟

ب: د تفكر دپاره د كافي وخت څخه وروسته ابليس يو ځل بيا خپله تګلاره تائيده كړه او په داسې حال كښې چې آدم ﷺ ته يې اشاره كوله وويلې چې: اى ربه! ايا دغه هغه څوك دى چې په ماباندې دې هغه ته فضيلت وركړ؟ ايا دا كار مناسب كار دى؟

ج: زما دې ستا په اقدس ذات باندې سوګند وي كه ته ما د قيامت د ورځې پورې ژوندى پرېږدې نو هرومرو او خامخا به زه د ده اولاده بې لارې كړم او خپل تسلط به پرې قائم كړم، يا په بل عبارت: زه به د آدم ﷺ اولاده قيزه كړم؛ مګر لږ كسان به زما د تسلط لاندې واقع نه شي.

۲_ الله ﷻ لا په همغه وخت كښې ابليس مخاطب كړ چې: كومه لاره چې تا د خپل ځان دپاره انتخابه كړه په همدغې باندې تلل وكړه خو لاندې ټكي هېر نه كړې:

الف: هرومرو به زه ستا او ستا د پيروانو څخه دوزخ ډک كړم چې ستاسو دپاره پوره او لايقه جزا ده چې هيڅكله به ترې تاسو نجات ونه شئ موندلى.

ب: اى ابليسه! څومره چې ستا وسه كېږي او توان دې رسېږي د آدم ﷺ اولاده د حقې لارې څخه تېل وهه، او په لاندې وسائلو او طريقو باندې يې بې لارې كړه:

اول: څوک چې په خپل اواز باندې غولولى شې هغه په اواز باندې وغولوه (د سرود اوازونه ورته ښائسته كړه او په غزلياتو او سندرو باندې يې مين كړه).

دوهم: د دوى په بې لارې كولو كښې د خپلو ټولو وسائلو څخه كار واخله او خپل سواره او پياده د همدې غرض دپاره په كار واچوه (خپل ټول لښكر په همدې هكله توظيف كړه).

دريم: په مالونو كښې ورسره خپل ځان برخوال جوړ كړه چې په ناجائزو لارو باندې يې حاصل كړې او په ناروا وو كښې يې ولګوي، او هم چې د باطلو معبودانو په نامه باندې د خپلو مالونو څه برخه وټاكي.

څلورم: په اولادونو كښې يې هم خپل ځان بې برخې پرېنږدې ترڅو ورته غير اسلامي تربيه وركړي

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او د بې دينۍ په لاره باندې يې سوق کړي، او يا خپلې لورګانې ژوندۍ ښخې کړي، يا يې بې مشورې واده کړي او يا پرې رشوتونه (ولوَرونه) واخلي او داسې نور.

پنځم: بالآخره د آدم ﷺ اولادې ته هر ډول د دروغو وعدې ورکړه چې د رښتياوو وعدې د پښو لاندې کړي او د دنيا په لذتونو کښې لتاړ شي.

ای پيغمبره! خپل امت ته خبر ورکړه چې شيطان دوی ته د بل هيڅ شي دپاره وعده نه ورکوي مګر د غولونې او تېر ويستنې دپاره، د ده ټولې وعدې دروغينې دي، ستا امت ته په کار دي چې اعتماد پرې ونه کړي او رښتيانۍ وعدې پرې هېرې نه کړي.

۳_ الله ﷻ په همغه وخت کښې لا ابليس د راتلونکي حالاتو او نتائجو څخه خبر کړ چې: يقيناً زما په مخلصو بندګانو باندې ته څه قدرت نه شې درلودلی، چې د لارې څخه يې واړوې او په غلطو باندې يې روان کړې. يا په بل عبارت: ای ابليسه! ستا د ګمراهۍ وسائل يو هم زما په مخلصو بندګانو باندې موثر نه واقع کېږي، ستا رسوخ به په هغو کسانو باندې اثر واچوي کوم چې ستا غوندې متکبران او سرکشان وي او بس.

۴_ ای پيغمبره! ستا رب ﷻ د خپلو مخلصو بندګانو دپاره د وکيل او کارساز په حيث بس دی، چې د شيطان به ورباندې هيڅ وسه ونه رسېږي چې د حقې لارې څخه يې واړوي.

## توضيحات

۱_ مونږ _الحمد لله ﷻ_ د [الأعراف:۱۱] ايت لاندې ليکلي دي چې د آدم ﷺ او د ابليس قيصه الله ﷻ د قرآن کريم په اوو سورتونو کښې نازله کړې ده چې په هر سورت کښې خاص خاص هدفونه لري، شايد چې په دې سورت کښې به يې د نزول څخه دا هدف وي چې:

خوارق عناديانو ته قناعت نه شي ورکولی، که بالفرض قناعت يې ورکولی شوی نو ابليس ته به يې قناعت ورکړی وی چې په رڼو سترګو باندې يې وليده چې الله ﷻ په خپل کامل قدرت سره آدم ﷺ د تورو خاورو (شنې ختې) څخه پيدا کړ خو د دې سره-سره په عوض د دې چې د الله ﷻ اوامرو ته غاړه کېږدي بغاوت يې وکړ، او د خوارقو ليدلو ورته د کفارو غوندې د ﴿ طُغْيَـٰنًا كَبِيرًا ﴾ غتې سرکشۍ څخه په غير نوره څه ګټه ونه رسولی شوه.

## سوال جواب

۲_ که څوک وايي چې ذکر شوي [۶۱، ۶۲] ايتونه دواړه په "قَالَ، قَالَ" باندې پيل شوي دي او دواړه د ابليس څخه حکايت دي، که بالفرض دوهم ايت په ﴿ قَالَ ﴾ باندې نه وی پيل شوی او د دواړو ايتونو مضامين د لومړي ﴿ قَالَ ﴾ مقولې واقع شوې وی نو د يو پلوه به په معنی کښې څه نقصان نه واقع کېده او د بل پلوه به د محاوراتو د قوانينو سره مطابقت ترلاسه کيده؛ نو پوښتنه دا ده چې: د دوهم ﴿ قَالَ ﴾ په نزول کښې څه حکمت دی؟

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



موږ وايو چې په محاوراتو کښې د يو کس خبرې په هغه وخت کښې په يوه "قال" باندې راحکايت کېږي، که څه هم تعدد ولري، چې د خبرو ترمنځ زمانه فاصله نه وي. مفسرين کرام وايي[1] چې ابليس عليه اللعنة د اولنې ايت خبره د عصيان سره سمه کړې ده. او د دوهم ايت په مضمون باندې يې په بل وخت کښې تلفظ کړی او د په فکر او سنجش څخه ورروسته يې وربانډې استدلال نيولی دی. والله ﷻ أعلم.

## يادونه

۳_ په ﴿ أَرَءَيْتَكَ هَٰذَا ٱلَّذِى كَرَّمْتَ عَلَىَّ ﴾ کښې د ﴿ أَرَءَيْتَكَ ﴾ کلمه بايد په هغه ډول تحليله کړی شي په کوم ډول باندې چې په [الأنعام: ۴۰] ايت کښې د ﴿ أَرَءَيْتَكُم ﴾ کلمه تحليله شوې ده، چې د معنی څخه يې په "اخبرني" باندې تعبير کېږي. او حاصل يې داسې راخېژي چې: ای ربه! ما د هغه کرامت په وجه باندې خبر کړه کوم کرامت چې تا آدم ﷺ ته وربېرزو کړ او ماته دې رانه کړ، حال دا چې د دغه کرامت لياقت يوازې ما درلوده چې له اوره دې جوړ کړی يم.

## احتناک څه معنی؟

۴_ په ﴿ لَأَحْتَنِكَنَّ ذُرِّيَّتَهُۥٓ ﴾ کښې د "احتنكن" کلمه د "احتناك" څخه اشتقاقه شوې ده چې اصلي حرفونه يې: "ح، ن، ک" دي چې "حَنَك" ترې جوړېږي، "حَنَك" _لکه "شَرَف"_ اصلاً د انسان يا د څاروي د خولې په داخل کښې پاسنی برخې ته وضعه شوی دی[2] چې په پښتو کښې ورته تالو وايي. بي بي عائشه (أم المؤمنين رضي الله عنها) روايت کوي چې: «أُتِيَ النَّبِيُّ ﷺ بِصَبِيٍّ يُحَنِّكُهُ فَبَالَ عَلَيْهِ فَأَتْبَعَهُ الْمَاءَ»[3] يعنې نبي کريم ﷺ ته يو ماشوم (هلک) د دې دپاره راوړلی شو چې د تبرک دپاره په خوله کښې خپلې مبارکې لاړې ورکړي او يا کجوره په خپله مبارکه خوله کښې نرمه کړي او بيا يې د ماشوم په تالو پورې وموږي، نو ماشوم پرې متيازې وکړي چې اوبه يې وربانډې ور واچولې او خپلې جامې يې ووينځلې.

اما په استعمال کښې ذکره شوې کلمه په لاندې ډولونو باندې اوربدلې شوې ده[4]:

الف: عرب وايي چې: "احتنكت الدابة" يعنې په څاروي کښې مې پری يا قيزه واچوله او کش مې کړ. نو که ذکره شوې کلمه د همدې څخه واخستله شي نو معنی به يې داسې راوخېژي چې زه به ضرور او هرومرو د آدم ﷺ د اولادې په غاړو کښې پړی او په خولو کښې قيزې واچوم (او په اصطلاح د کرهوان څخه به يې ونيسم) نو کوم لور ته چې زما خوښه وي په همغه لور باندې به يې روان کړم.

---

(۱) روح المعاني ج۱۵ ص۱۰۹
(۲) لسان العرب ج۱۰ ص۴۱۶
(۳) صحيح البخاري ج۲ ص۸۲۱
(۴) لسان العرب ج۱۰ ص۴۱۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: عرب وايي چې: "اِحْتَنَكَ الْجَرَادُ الأَرْضَ" يعنې مولخانو د ځمکې نباتات وخواړه او ټول يې د منځه وېوړه. نو په دې مقام کښې به يې حاصل داسې لاس ته راشي چې: زه به ضرور د آدم ﷺ اولاد په معنوي هلاکت سره هلاک کړم او ټول به د دوزخ د اور خاشاک جوړ کړم.

## سوال جواب

۵_ که څوک وايي چې: ابليس په څه وجه اعتماد درلود چې په کلک يقين سره يې وويلې چې زه به د آدم ﷺ په اولادې باندې هغسې او دغسې کارونه وکړم؟

مونږ وايو چې: که څه هم ځينو مفسرينو کرامو د شيطان د يقين دپاره ډېرې احتمالي وجې ښودلې دي[1] خو بهتره دا ده چې د ابليس يقين به په هغې وجې باندې حاصل شوی وي په کومې باندې چې د پرښتو علم راغلی وه چې د ده اولاده به فساد کوي او وينې به تويه وي، چې بيان يې د [البقرة: ۳۰] ايت لاندې تېر شوی دی، والحمد لله ﷻ.

## هېر مو نه شي!

۶_ هېر مو نه شي چې په ﴿ قَالَ ٱذْهَبْ فَمَن تَبِعَكَ ﴾ کښې د ﴿ ٱذْهَبْ ﴾ کلمه د هغه ذهاب (تللو) څخه نه ده اشتقاقه شوې دکوم په مقابل کښې چې مجئ (راتلل) استعمالېږي، بلکې په دې مقام کښې په هغې لارې باندې تلل مطلب دي کومه چې ابليس د خپل ځان دپاره خوښه کړې وه[2].

نو حاصل يې داسې کېږي چې: ای ابليسه! په خپلې همدغې تګلارې باندې تلل کوه، زه دې ترې نه را ايساروم خو نتيجه يې ستا په ضرر تمامېږي.

## د استفزاز معنی

۷_ په ﴿ وَٱسْتَفْزِزْ مَنِ ٱسْتَطَعْتَ مِنْهُمْ ﴾ کښې د "اسْتَفْزِزْ" کلمه د "اِسْتِفْزَازْ" څخه اشتقاقه شوې ده، "اِسْتِفْزَازْ" دې ته ويل کېږي چې يو شی په خپل ځای کښې ثابت پرېنښودلی شي[3] بلکې حرکت او اضطراب ورکړی شي، نو په دې مقام کښې يې معنی داسې راوځي چې: ای ابليسه! ستا چې د آدم ﷺ د اولادې څخه په هر چا باندې وسه کېږي هغه د خپل فطري دين (اسلام) څخه بې ځايه کړه او د باطلو او ناجائزو کارونو په لور حرکت ورکړه.

## د ابليس اواز يعنې څه؟

۸_ په ﴿ مَنِ ٱسْتَطَعْتَ مِنْهُم بِصَوْتِكَ ﴾ کښې د "صوت" کلمه د اواز دپاره وضعه شوې ده، يعنې ای ابليسه! که د بندګانو څخه څوک په خپل اواز سره بې لارې کولی شې هم صرفه پرې مه کوه.

نو په کومو اوازونو کښې چې د الله ﷻ عصيان منظور وي هغه ټول د ابليس د اواز څخه عبارت

---

(۱) روح المعاني ج۱۵ ص۱۱۰؛ التفسير الكبير ج۲۱ ص۴
(۲) تفسير ابي السعود ج۵ ص۱۸۳
(۳) مفردات الراغب ص۳۹۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دي[1] لكه د ډول، سرني، سندرو او ګمراهۍ اوازونه، برابره خبره ده چې د کوم شخص څخه واوربدل شي، یا په ټیپ کښې فیته چیلانه کړی شي او داسې نور.

## ایا ابلیس اسونه لري؟

۹ـ په ﴿ وَأَجْلِبْ عَلَيْهِم بِخَيْلِكَ وَرَجِلِكَ ﴾ کښې د مقدمې په توګه لاندې لغات ولولئ:

الف: د "أَجْلِبْ" کلمه اصلاً د "جَلْبَةٌ" ـلکه "ضَرْبَةٌ"ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "جَلْبَةٌ" هغې چېغې ته وضعه شوې ده کومه چې د تخویف او ډارولو دپاره صورت ونیسي او مطلب پکښې تېزول وي[2] ته به وايي چې قومنده ورکوي.

ب: د "خَيْل" کلمه د خپل لفظ څخه مفرد نه لري، دا کلمه لکه څنګه چې د آسونو معنی ورکوي همدارنګه د هغو کسانو دپاره هم وضعه شوې ده کوم چې په اسونو باندې سواره وي[3]. په دې مقام کښې دوهمه معنی مراده څکه چې:

ج: د "رَجِل" کلمه د "رَاجِلٌ" جمعه ده، "رَاجِلٌ" هغه چاته ویل کېږي کوم چې پیاده وي، چې په مقابل کښې یې "رَاكِبٌ" استعمالېږي[4] چې د سور معنی ورکوي.

نو مفسرین کرام د ذکرې شوې ټکرې د تفسیر په هکله په دوه وو ګروپونو باندې وېشلي شوي دي[5]: څینې وايي چې د ابلیس پیاده او سواره د تابعانو او پیروانو څخه کنایه دي، نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: ای ابلیسه! د بنیادمانو په ضد خپلو پیروانو ته قومنده ورکړه.

څینې نور وايي چې ابلیس د خلکو د غولونې او تېر ویستلو دپاره لښکرې لري او پوره واضحه ده چې په لښکرو کښې خو پیاده او سواره دواړه شامل وي.

څرنګه چې د [البقرة:۳۴] ایت لاندې ـلله الحمد والشکر والمنةـ مونږ لیکلي دي چې ابلیس د ملائکو د جنس څخه نه دی او د پیریانو د جنس څخه دي، او په احادیثو کښې د ابلیس دپاره عرش تخت ثابت شوی دی چې پیاده او سورې لښکرې ورسره مناسبې یا لازمې دي، اما پیریانو ته خو څاروي ثابت شوي دي؛ نو زمونږ په نزد همدغه دوهم تفسیر غوره برېښي حال دا چې لومړنی تفسیر ورسره څه منافات هم نه لري، د ښه وضاحت دپاره لاندې روایات او نکات ولولئ:

اول: په یوه اوږده حدیث کښې یوه ورځې نبي کریم ﷺ د ابن صیاد څخه پوښتنه وکړه چې څه ګورې؟ هغه جواب ورکړ چې د اوبو د پاسه پاچایي تخت ګورم، نو نبي کریم ﷺ خپلو صحابه وو کرامو ؓ ته مخ وروااړاوه او ویې فرمایل چې: «يَرَى عَرْشَ إِبْلِيسَ فَوْقَ الْبَحْرِ»[6] یعنې: دا د دریاب

---

[1] زاد المسیر ج۵ ص۴۲
[2] لسان العرب ج۱ ص۲٦۹
[3] مفردات الراغب ص۱٦۴
[4] تفسیر الکشاف ج۲ ص٦۷۷
[5] تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۴۹؛ تفسیر القرطبي ج۱۰ ص۲۸۹؛ تفسیر الطبري ج۱۵ ص۱۱۸
[6] جامع الترمذي ج۲ ص۵۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دپاسه د ابلیس تخت ګوري.

دوهم: همدارنګه نبي کریم ﷺ په یوه بل اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «إِنَّ إِبْلِيسَ يَضَعُ عَرْشَهُ عَلَى الْمَاءِ ثُمَّ يَبْعَثُ سَرَايَاهُ فَأَدْنَاهُمْ مِنْهُ مَنْزِلَةً أَعْظَمُهُمْ فِتْنَةً»[١] یعنې یقیناً ابلیس خپل تخت د اوبو د پاسه ږدي بیا خپلې لښکرې (د فتنې اچولو دپاره) استوي (خوروي)، نو د ده لښکریانو څخه ده ته د درجې د حیثه ډېر نږدې هغه لښکرې دي کوم چې د فتنې اچولو (او فساد) د حیثه لویې او لوړې وي.

دریم: په دې باندې علاوه نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لَا تَسْتَنْجُوا بِالرَّوْثِ وَلَا بِالْعِظَامِ فَإِنَّهُ زَادُ إِخْوَانِكُمْ مِنَ الْجِنِّ»[٢] تاسو مه په خرشنو استنجاء کوئ او مه په هډوکو، ځکه چې دا (مذکور) ستاسو د ورونو توښه ده چې د پیریانو څخه عبارت دي (هډوکي د دوی دپاره او خرشنه یې د څارویو دپاره).

څلورم: یوه ورځې نبي کریم ﷺ ته د پیریانو یوه جرګه (وفد) ورغی او عرض یې وکړ چې: ای د الله رسوله! خپل امت دې منعه کړه چې په هډوکي، یا په خرشنو او (بالآخره) یا په سکرو باندې استنجاء وکړي، ځکه چې الله ﷻ مونږ ته په دغو شیانو کښې روزي اچولې ده؛ «فَنَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ»[٣] نو نبي کریم ﷺ خپل امت د دې څخه منعه کړ.

همدغه حدیث شریف ځینو علماوو کرامو د روایتونو په استناد باندې داسې تشریح کړی دی[٤] چې الله ﷻ د پیریانو دپاره په هډوکو باندې هغه غوښه شنه کوي کومه چې ورپورې پخوا نښتې وي (او بیا ترې توبه شوې وي)، د دوی د څارویو دپاره په خرشنو باندې هغځ دانې او هغه واښه شنه کوي کوم چې د خوړلو په وخت کښې یې موجودیت درلود.

## سوال جواب

١٠ـ که څوک وایي چې په ذکرو شوو ایتونو کښې د "اسْتَفْزِزْ، أَجْلِبْ، شَارِكْ، عِدْ" څلور واړه کلمات امرونه دي چې د الله ﷻ د پلوه ورباندې ابلیس مخاطب کړی شوي دي چې دا وکړه او دا وکړه؛ نو پوښتنه دا ده چې: الله ﷻ خو په بدو کارونو باندې امر نه کوي حال دا چې دغه ټولې کلمې په جنایاتو باندې دلالت کوي؟

مونږ وایو چې: ذکر شوی سوال به په هغه وخت کښې وارد شوی وي که بالفرض الله ﷻ دا جمله ﴿ فَمَن تَبِعَكَ مِنْهُمْ فَإِنَّ جَهَنَّمَ جَزَآؤُكُمْ جَزَآءً مَّوْفُورًا ﴾ نه وی نازله کړې، نو د دې جملې په نزول سره د ایتونو مضمون داسې راځېژي چې: په دغو کارونو باندې زه راضي نه یم، دغو ته مه ورورېاندې کېږه، که نه نو په دوزخ کښې به دې د پیروانو سره درواچوم.

---

(١) صحیح مسلم ج٢ ص٣٧٦
(٢) جامع الترمذي ج١ ص١١
(٣) سنن ابي داوٗد ج١ ص٦
(٤) مرقات المفاتیح ج٢ ص٦٧

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الله ﷻ همدا مضمون په بل ځای کښې داسې نازل کړی دی چې: ﴿ ٱعۡمَلُواْ مَا شِئۡتُمۡ إِنَّهُۥ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٌ ﴾ [حم السجدة: ٤٠] يعنې ای کفارو! هر ډول عمل مو چې خوښ وي هغه وکړئ، يقيناً الله ﷻ په هغه شي باندې بينا دی کوم چې تاسو يې کوئ (موافقه سزا به درکړي).

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

١١_ که څوک وايي چې: څه وجه وه چې ابليس د الله ﷻ د عذاب څخه ونه ډار شو حال دا چې په خپلو غوږونو باندې يې ترې وعيدات واورېده او ځينې شيان يې په خپلو سترګو باندې وليدل په کومو باندې چې مونږ بالغيب ايمان راوړو؟

مونږ وايو چې: ځينو مفسرينو د دغه سوال د جوابولو دپاره څه جوابونه کړي دي[1] مګر بهتره دا ده چې د عصيان وجه يې حُبُّ الرِّيَاسَة وه او کله چې په چا باندې د کوم شي محبت غلبه وکړي نو هغه بيا د ليونتوب کارونه کوي.

نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «حُبُّكَ الشَّيْءَ يُعْمِي وَيُصِمُّ»[2] يعنې د يوه شي سره ستا افراطي محبت به دې ړوند کړي او په غوږو باندې به دې کوڼ کړي.

د همدې کبله الله ﷻ د دوزخيانو څخه حکايت کړی دی چې: ﴿ وَلَوۡ رُدُّواْ لَعَادُواْ لِمَا نُهُواْ عَنۡهُ ﴾ [الأنعام: ٢٨] يعنې او که بالفرض دوزخيان بېرته دنيا ته تاو کړی شي نو ضرور به دوی هغو جناياتو ته بېرته ورو ګرځي د کومو څخه چې په پخوا منعه کړی شوي وه خو دوی ترې منعه نه شوه (که څه هم دوی آخرت په سترګو باندې وګوري).

## دوه ډوله تفسير

١٢_ ځينو مفسرينو کرامو[3] په ﴿ وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ وَكِيلًا ﴾ کښې په "ک" سره ابليس مخاطب ګرځولی دی يعنې: ای ابليسه! ستا رب ﷻ د کارساز په حيث بس دی چې ستا د غولونې څخه مؤمنان وساتي او هم ورته هغه ګناهونه وبښي د کومو چې ستا په شيطانت سره مرتکب شي.

مونږ ته بهتره برېښي چې دغه خطاب به نبي کريم ﷺ ته وي يعنې: ای پيغمبره! غمژن کېږه مه، ستا رب ﷻ کافي دی چې خپل بندګان د شيطان د دوکې څخه وساتي، نو دوی ته په کار دي چې د خپل رب ﷻ په ارشاداتو باندې کلک شي او په همده ﷻ باندې د شيطان څخه پنا وغواړي.

﴿ رَّبُّكُمُ ٱلَّذِي يُزۡجِي لَكُمُ ٱلۡفُلۡكَ فِي ٱلۡبَحۡرِ لِتَبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِهِۦٓۚ إِنَّهُۥ كَانَ بِكُمۡ رَحِيمٗا ۝٦٦ وَإِذَا مَسَّكُمُ ٱلضُّرُّ فِي ٱلۡبَحۡرِ ضَلَّ مَن تَدۡعُونَ إِلَّآ إِيَّاهُۖ فَلَمَّا نَجَّىٰكُمۡ إِلَى ٱلۡبَرِّ

---

(١) التفسير الكبير ج٢١ ص٩؛ روح المعاني ج١٥ ص١١٣
(٢) مسند احمد بن حنبل ج٨ ص١٦٣
(٣) تفسير المظهري ج٥ ص٤٥٧

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



أَعْرَضْتُمْ وَكَانَ ٱلْإِنسَٰنُ كَفُورًا ﴿٦٧﴾ أَفَأَمِنتُمْ أَن يَخْسِفَ بِكُمْ جَانِبَ ٱلْبَرِّ أَوْ يُرْسِلَ
عَلَيْكُمْ حَاصِبًا ثُمَّ لَا تَجِدُوا۟ لَكُمْ وَكِيلًا ﴿٦٨﴾ أَمْ أَمِنتُمْ أَن يُعِيدَكُمْ فِيهِ تَارَةً أُخْرَىٰ
فَيُرْسِلَ عَلَيْكُمْ قَاصِفًا مِّنَ ٱلرِّيحِ فَيُغْرِقَكُم بِمَا كَفَرْتُمْ ثُمَّ لَا تَجِدُوا۟ لَكُمْ عَلَيْنَا بِهِۦ تَبِيعًا
﴿٦٩﴾ وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِىٓ ءَادَمَ وَحَمَلْنَٰهُمْ فِى ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ وَرَزَقْنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ
وَفَضَّلْنَٰهُمْ عَلَىٰ كَثِيرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلًا ﴿٧٠﴾

[٦٦] ستاسو رب ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ستاسو (د ګټې په غرض) په دریاب کښې بېړیو ته چلښت ورکوي (البته) د دې دپاره چې تاسو د خپل رب ﷻ فضل (حلال مال) ولټوئ (او تجارتونه وکړئ او خپل ضروریات پوره کړئ). یقیناً ستاسو رب ﷻ په تاسو باندې ډېر مهربان دی.

[٦٧] او کله چې تاسو ته په دریاب کښې سختي ورسېږي نو تاسو هغه څوک (باطل معبودان ورکه وئ (هېروئ، سوال ترې نه کوئ) کوم چې تاسو یې (په وچه او عافیت کښې) بلئ (او په عبادت باندې یې مشغول یاست).

مګر (په دغه وخت کښې تاسو) خپل رب ﷻ (نه هېروئ او خاص د همده ﷻ څخه د نجات سوال کوئ)، نو هرکله چې تاسو ته خپل رب ﷻ نجات درکړي (او) وچې (ته مو روغ رمټ پورې باسي) نو دستي ترې تاسو اعراض کوئ (او د بوتانو په عبادت باندې مشغولېږئ)، او (دا څکه چې) انسان ډېر ناشکره دی.

[٦٨] ایا نو تاسو په امن کښې یاست چې ستاسو رب ﷻ په تاسو باندې د وچې (ځمکې) یوه څنډه خسف کړي (ښکته یې ننباسي)، او یا په تاسو باندې توند باد (چې ډبرې الوزوي) درواستوي، بیا به تاسو د خپلو ځانو دپاره کارساز مونده نه کړئ (چې نجات درکړي).

[٦٩] او یا تاسو په امن کښې یاست چې تاسو بل کرت په دریاب کښې ورتاو کړي (بیا مو د بېړیو سورېدلو ته ارتیا پېښه شي) نو (دا خل) ستاسو رب ﷻ په تاسو باندې تېز اواز کوونکی (هلاکوونکی) باد درولېږي نو (چې بېړۍ مو چپه کړي او) د خپل کفر (او ناشکرۍ) په سبب مو (په دریاب کښې) غرق کړي. بیا به تاسو د خپلو (ځانونو) دپاره په مونږ باندې په غرقولو سره راتاوېدونکی مونده نه کړئ (چې دوی دې ولې غرق کړه او دا کار دې ولې وکړ؟).

[٧٠] او یقیناً مونږ د آدم ؑ اولادې ته کرامت ورکړی دی او په وچه او لمده (دریاب) کښې مو دوی پورته کړي دي (په نورو شیانو باندې مو سواره کړي دي) او هم مو دوی ته د پاکیزه (او خوندورو) شیانو څخه روزي ورکړې ده او (بالآخره) دوی ته مو په ډېرو باندې فضیلت ورکړی دی چې (دغه ډېر) د هغه چا څخه عبارت دي کوم چې مونږ پیدا کړي دي، (البته) ډېر لوی فضیلت.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباطونه

١ـ د وړاندېنیو ایتونو مضمون په دې باندې تمام شوی وه چې الله ﷻ د کارساز په حیث کافي دی، په دې ایتونو کښې همدغه مطلب د مثالونو په ضمن کښې تعقیب شوی دی.

٢ـ هلته د انسان هغه کرامت ته اشاره شوې وه په کوم باندې چې ابلیس په غُصه شو او خپل خان یې ورباندې ملعون او مطرود وګرځاوه او دلته په همدغه کرامت باندې صراحت شوی دی، چې حاصل یې داسې راځي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! څرنګه چې الله ﷻ د کارساز په حیث کافي دی او د ده ﷻ څخه په غیر بل څوک نه چاته ښېګڼه رسولی شي او نه ترې د مصائبو مخ اړولی شي، نو د همدې مطلب د توضیح دپاره په دوی باندې لاندې نکات قرائت کړه:

١ـ ای خلکو! ستا رب ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ستاسو دپاره یې په دریابونو کښې بېړۍ رواني کړې دي، ایا د ده ﷻ څخه په غیر بل څوک دا کار کولی شي؟ که همده ﷻ دریابونه د بېړیو د چلښت دپاره مساعد نه وی جوړ کړي نو ایا بل چا به پکښې دا استعداد اچولی وی؟. نو تاسو د همدغه استعداد څخه استفاده کوئ او د تجارتونو او مالونو د انتقالولو دپاره ترې کار اخلئ او په دریابونو کښې ګرځئ راګرځئ.

یقیناً چې ستاسو رب ﷻ په تاسو باندې ډېر مهربان دی خو تاسو ناشکري کوئ او په عبادت کښې ورسره شریکان دروئ.

٢ـ په دې باندې علاوه، چې کله په دریاب کښې تاسو د څه سختیو سره مخامخ شئ او بېړۍ مو طوفاني شي نو په همدغه سخت حال کښې تاسو فقط د همده ﷻ څخه د خپل نجات غوښتنه کوئ او د سوال لاسونه ورته پورته کوئ، ځکه چې تاسو پوهېږئ چې د همده ﷻ څخه پرته تاسو ته هیڅوک نجات نه شي درکولی او ستاسو باطل معبودان تاسو ته په درد نخوري.

مګر عجیبه دا ده چې کله تاسو ته خپل رب ﷻ د دریابي مشکلاتو څخه نجات درکړي او وچې ته مو روغ رمټ ورسوي نو تاسو سمدستي خپل پخواني شرکي حالت ته بېرته ورګرځئ او د باطلو معبودانو په عبادت باندې پیل کوئ، په دغه وخت کښې تاسو ته د خپل رب ﷻ کامل قدرت او د باطلو معبودانو ناتواني نه درپه زړه کېږي، تاسو ته خپل ځانونه داسې برېښي لکه چې همدوی نجات درکړی وي.

نو دا یقیني خبره ده چې بنیادمان ناشکره دي او د خپل رب ﷻ د نعمتونو قدرداني نه کوي.

٣ـ نو ای خلکو! ای بنیادمانو! تاسو لاندې پوښتنو ته جواب ورکړئ چې:

الف: ایا ستاسو باطل معبودان په وچه کښې تاسو ته د مصائبو او سختیو څخه نجات درکولی شي؟ ایا د دوی ناتواني فقط په دریابونو پورې منحصره ده؟

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: ایا ستاسو رب ﷻ په تاسو باندې په وچه کښې قدرت نه لري؟ نو ایا تاسو له دې څخه په امن کښې یاست چې:

اول: ستاسو رب ﷻ په تاسو باندې د ځمکې کومه څنډه ښکته ننباسي او د قارون غوندې مو پکښې خسف کړي.

دوهم: په تاسو باندې داسې سخت باد وچلوي چې کرتکاڼي درباندې درپورته کړي او درباندې یې وورووي چې د غرقېدلو څخه سخت حالت درباندې درولي.

نو په دغو دواړو صورتونو کښې به تاسو بل کارساز او نجات درکوونکی د خپلو ځانونو دپاره مونده نه کړئ، چې یا مو د خسف څخه بچ کړي او یا درڅخه د تېز باد د چلښت مخه ونیسي.

ج: ایا تاسو په امن کښې یاست چې ستاسو رب ﷻ یو ځل بیا تاسو بېړیو ته ورتاو کړي او دېته مو اړ باسي چې د دوهم ځل دپاره دریابي سفر وکړئ او د وچې څخه دریاب ته ورښکته شئ؟

د: ایا تاسو په خطر کښې نه یاست چې یو ځل بیا ستاسو بېړۍ طوفاني کړي او توند باد درباندې وچلوي او په غرق باندې مو تهدید کړي، حتی چې خپل باطل معبودان درڅخه هېر کړي او بیا د خپل رب ﷻ په حضور کښې د سوال لاسونه پورته کړئ، مګر دا ځل مو سوال قبول نه کړي او د خپلو کفریاتو او ناشکریو په سبب مو په دریاب کښې غرق کړي؟.

هـ: نو ای خلکو! ایا په دغه صورت کښې تاسو ته خپل باطل معبودان نجات درکولی شي؟

پوره واضحه ده چې لکه څنګه چې هغوی تاسو د غرق څخه نه شي خلاصولی همدارنګه زمونږ څخه ستاسو په هکله پوښتنه قدرې هم نه شي کولی چې دا دې ولې غرق کړه؟ او نه ستاسو په ګټه په مونږ باندې څه زور راوړلی شي چې ستاسو نصرت وکړي او یا مو انتقام واخلي.

۴ــ ای پیغمبره! مونږ خو بنیادمان عزتمند پیدا کړي دي او په لاندې شیانو باندې مو کرامت ورکړی دی:

الف: درن مو په وچه او لمده کښې په نورو مخلوقاتو باندې سواره کړي دي، چې په وچه کښې په ځارویو او نورو شیانو باندې سواره ګرځي او په دریاب کښې په بېړیو باندې د یوې خوا څخه بلې خوا ته پورېوزي او بحري سفرونه پرې کوي.

ب: دوی ته مو پاکیزه او لذیذ (خوندور) خوراکونه ورپېزو کړي دي، یا په بل عبارت: د دوی خوراک حبوبات او میوجات دي او د ځارویو خوراک بوس او پاڼې دي، او داسې نور.

ج: بالآخره د بنیادمانو جنس ته مو په هغو ډېرو جنسونو باندې فضیلت ورکړی دی کوم چې مونږ پیدا کړي دي، البته داسې فضیلت چې هیڅوک پرې سترګې نه شي پټولی، د همدې کبله مو د آدم ﷺ په تعظیم باندې پرښتې مکلفې کړي.

نو بنیادمانو ته په کار دي چې د الله ﷻ څخه په غیر بل هیچا او هیڅ شي ته سر په ځمکه باندې کښنږدي او عبادت ورته ونه کړي، مګر په دوی کښې داسې خلک شته چې ذکر شوی کرامت د پښو لاندې کوي او غیر الله ته سجدې کوي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضيحات

۱_ په ﴿ رَّبُّكُمُ ٱلَّذِى يُزۡجِى لَكُمُ ٱلۡفُلۡكَ ﴾ کښې د ﴿ يُزۡجِى ﴾ کلمه د "إزجاء" څخه اشتقاقه شوې ده چې سوق او چلښت ورکولو ته وضعه شوې ده(۱)، يعنې ستاسو رب ﷻ هغه اقدس کارساز دی چې بېړيو ته يې ستاسو د اړتياوو د پوره کولو دپاره په دريابونو کښې چلښت ورکړی دی، که د همده ﷻ مهرباني نه وی نو د بېړيو دروندوالی او د دريابونو نرموالی دواړه د چلښت سره منافات لري.

### د حاصب او د قاصف معناوې

۲_ په ﴿ أَوۡ يُرۡسِلَ عَلَيۡكُمۡ حَاصِبًا ﴾ کښې د "حاصب" کلمه هغه باد ته وضعه شوې ده چې د ډېر قوت د کبله په حصباء (کوچنيو کاڼو) باندې ويشتل کوي(۲). او په ﴿ فَيُرۡسِلَ عَلَيۡكُمۡ قَاصِفًا مِّنَ ٱلرِّيحِ ﴾ کښې د "قاصِف" کلمه د هغه تېز باد نوم دی چې تېره اواز لري او په کوم شي باندې چې تېر شي هغه ټول هلاکوي (ونې له بېخه وباسي او تعميرونه چپه کوي)(۳).

نو د معنی حاصل يې داسې راځېږي چې: ای مشرکانو! لکه څنګه چې الله ﷻ په دريابونو باندې قدرت لري او په تېزو بادونو باندې بېړۍ غرقوي همدارنګه په وچه کښې هم ټول بادونه د همده ﷻ په امر باندې چلېږي، نو تاسو ته په کار نه دي چې په دريابونو کښې الله ﷻ ته په عبادت کښې مخلص ياست او په وچه کښې ورسره پکښې شريکان دروئ، بلکې په وچه او لمده دواړو کښې موحدين جوړ شئ.

### تبيع يعنې څه؟

۳_په ﴿ ثُمَّ لَا تَجِدُواْ لَكُمۡ عَلَيۡنَا بِهِۦ تَبِيعًا ﴾ کښې د "تَبيع" کلمه د "تَبۡع" _لکه "ضَرۡب"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې يوه شي پسې د ګرځېدلو او يا د هغه پيروي کولو معنی ورکوي. مګر په علم اللغة کښې "تبيع" د هغه چا نوم دی کوم چې د خپل حق غوښتنه کوي(۴). دا د يو پلوه، او د بله پلوه د ﴿ بِهِۦ ﴾ ضمير هغه غرق ته راجع دی په کوم باندې چې ﴿ فَيُغۡرِقَكُم ﴾ کلمه دلالت کوي.

نو د معنی حاصل يې داسې راځېږي: که مونږ تاسو په درياب کښې غرق کړو نو بيا به تاسو د خپلو ځانونو دپاره هغه څوک مونده نه کړئ کوم چې ستاسو د غرقولو په هکله مونږ پسې وګرځي او ستاسو د کومک په اړه راڅخه پوښتنه وکړي چې دا کار دې ولې وکړ.

الله ﷻ همدا مضمون په بل ځای کښې داسې بيان کړی دی چې: ﴿ وَلَا يَخَافُ عُقۡبَٰهَا ﴾ [الشمس: ۱۵] يعنې الله ﷻ ثموديان هلاک کړه او د عاقبت څخه يې نه ډارېده چې څوک به يې د انتقام غوښتنه وکړي او مرستې ته به يې راپورته شي.

---

(۱) لسان العرب ج۱۴ ص۳۵۴
(۲) لسان العرب ج۱ ص۳۲۰
(۳) روح المعاني ج۱۵ ص۱۱۷
(۴) لسان العرب ج۸ ص۳۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## انسان د کرامت خاوند دی

۴_ په ﴿ وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيٓ ءَادَمَ ﴾ کښې د ﴿ كَرَّمْنَا ﴾ کلمه د تکریم څخه اشتقاقه شوې ده، چې اصلي مصدر یې "کَرَم" _لکه "شَرَفْ"_ دی، "کَرَم" هغو ټولو ښکو صفاتو ته شامل دی په کومو باندې چې د چا ستاینه او توصیف کېږي[۱]، نو د ذکرو شوو حمیده وو صفاتو خاوند ته کریم وایي چې په مقابل کښې یې د "لَئِيم" کلمه استعمالېږي.

نو تکریم د ذکرو شوو صفاتو د ورکړې څخه عبارت دی، یعنې بنیادمان مونږ مکرم ګرځولي دي او په حمیده صفاتو باندې مو موصوف پیدا کړي دي.

پاتې شوه دا خبره چې دغه حمیده صفات کوم کوم دي چې انسان ته پرې امتیاز ورکړی شوی دی او د ده د کراماتو څخه شمېرلی شوي او حتی کفارو ته هم شامل دي، نو علماوو کرامو پکښې زښت ډېر اقوال کړي دي چې تقریباً یوولسو قولونو ته رسېږي[۲]، لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: ذکر شوی امتیازي صفت د عقل څخه عبارت دی.

ب: انسان سم قامت او ښائسته څېره لري.

ج: انسان خپلې خولې ته خوراکي شیان په لاس باندې ورپورته کوي او نور ساکښان ورپسې یا خپل سرونه ورښکته کوي چې خوله یې ور ورسېږي، یا یې د پیل په شان په خلتم باندې ورجګوي او بالآخره یا یې د ببزو په شان خپلې خولې ته په پښه باندې رسوي.

د: انسان په ناطقه قوه باندې امتیاز موندلی دی، او داسې نور.

په دې باندې علاوه، ځینو مفسرینو کرامو[۳] په همدې ارتباط زیات اوږد بحث کړی دی که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي.

مګر مونږ په داسې حال کښې چې د علماوو کرامو اقوال یو هم نه ردوو، وایو چې د ﴿ وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيٓ ءَادَمَ ﴾ دپاره ښوره تفسیر هغه دی کوم چې د ﴿ قَالَ أَرَءَيْتَكَ هَٰذَا ٱلَّذِى كَرَّمْتَ عَلَىَّ ﴾ [الإسراء: ۶۲] ایت څخه اشارةً معلومېږي، چې لږ وړاندې تېر شو. یا په بل عبارت په ذکره شوې جمله کښې د انسان هغه کرامت مراد دی د کوم په ورکړه باندې چې ابلیس په غُصه شو او خپل خان یې ورباندې د ابد دپاره مبغوض او مطرود وګرځاوه هغه دا چې الله ﷻ انسان (ابو البشر) په ځمکه خپل خلیفه جوړ کړ او پرښتې یې مکلفې کړې چې د تعظیم سجدې ورته وکړي حال دا چې دغه کرامت ابلیس د خپل ځان دپاره خوښاوه او لا ورته په تمه وه خو کله چې لاس ته ورنغی نو په عداوت یې پیل وکړ.

په همدې تفسیر باندې همدغه ایت شریف هم د اشارې په توګه دلالت کوي په کوم کښې چې بحث روان دی، چې:

---

(۱) لسان العرب ج۱۲ ص۵۱۰

(۲) زاد المسير ج۵ ص۴۵؛ تفسير ابي السعود ج۵ ص۱۸۶

(۳) التفسير الكبير ج۲۱ ص۱۲؛ روح المعاني ج۱۵ ص۱۱۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: الله ﷻ بنیادم ته دا رتبه ورکړې ده چې په وچه او لمده (بر، بحر) کښې سور ګرځي، حتی هوا هم د دوی دپاره مسخره ده چې د سلیمان تخت به په هوا روان وه او په نني عصر کښې دوی د الوتکو څخه استفاده کوي.

دوهم: پاکیزه او لذیذ خوراک او څښاک د بنیادمانو په برخه دی، چې پرښتې خو بالکل خوراک او څښاک نه کوي او د پیریانو په هکله نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لَا تَسْتَنْجُوا بِالرَّوْثِ وَلَا بِالْعِظَامِ فَإِنَّهُ زَادُ إِخْوَانِكُمْ مِنَ الْجِنِّ»[1] یعنې تاسو په خرشنو (لدوانو) او هډوکو باندې استنجاء مه کوئ ځکه چې دا (مذکور) ستاسو د ورونو توښه ده چې د پیریانو څخه عبارت دي. د دې حدیث پوره شرحه لږ وړاندې د [۶۴] ایت په (۹) توضیح کښې تېره شوې ده، والحمد لله. دغه دواړه کرامتونه د خلیفه توب څخه نمایندګي کوي.

درېم: دوی ته په ډېرو هغو مخلوقاتو باندې بهتري ورکړه شوې ده کوم چې الله ﷻ پیدا کړي دي. دا کرامت د انسان مسجودیت ته اشاره ده چې د ابلیس په شمول ټولې پرښتې مکلفې وګرځولې شوې چې د تعظیم سجدې ورته وکړي، دا ډول تعظیم د انسان څخه پرته د بل چا نه دی په نصیب شوی.

## سوال جواب

۵ـ که څوک وایي چې الله ﷻ د ﴿وَلَقَدْ كَرَّمْنَا﴾ په تعقیب د ﴿وَفَضَّلْنَاهُمْ﴾ جمله نازله کړې ده، نو پوښتنه دا ده چې د تکریم او تفضیل ترمنځ په دې مقام کښې څه فرق دی؟

مونږ وایو: که څه هم ځینو مفسرینو کرامو د دواړو ترمنځ څه تکلفي (غیر متبادر) فرق لیکلی دی[2] خو ظاهره داسې برېښي چې په دې مقام کښې د دواړو ترمنځ په مصداق کښې څه فرق نشته. مګر دواړه اعتباري فرق لري او بس، هغه دا چې:

په تکریم کښې یوازې د بنیادمانو ذواتو ته کتلی شوي دي چې اعزاز یې په نصیب شوی دی او په تفضیل کښې همدغه اعزاز د نورو مخلوقاتو په تناسب بیان شوی دی. نو حاصل یې داسې راځي چې الله ﷻ انسانان د کرامت او اعزاز خاوندان ګرځولي دي خو د دوی غوندې کرامت او اعزاز یې بل چاته نه دی ورکړی، د همدې کبله یې په خپلو ډېرو مخلوقاتو باندې غوره ګرځولي دي.

## یو نحوي تحلیل

۶ـ په ﴿وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلَىٰ كَثِيرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا﴾ کښې ﴿مِمَّن﴾ په اصل کښې "مِنْ، مَنْ" وه چې[3]:

الف: د "مِنْ" توری د ﴿كَثِيرٍ﴾ د کلمې دپاره بیان واقع شوی دی.

ب: او د "مَنْ" کلمه پکښې د هغه مخلوق څخه عبارت ده چې د عقل او پوهې خاوندان وي، لکه پرښتې، پیریان او انسانان. د الله ﷻ په مخلوقاتو کښې ـ څومره چې مونږ ته معلومات دي ـ درې

---

[1] جامع الترمذي ج۱ ص۱۱
[2] التفسیر الکبیر ج۲۱ ص۱۶
[3] روح المعاني ج۱۵ ص۱۱۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



طائفې د عقل او پوهې خاوندان دي چې يوه طائفه پرښتې دي او دوه طائفې پيريان او انسانان دي. نو د معنى حاصل يې داسې راځېژي چې: او مونږ په ځمكه كښې په خلافت او مسجوديت سره انسان ته په ډېرو باندې فضيلت وركړى دى چې دغه ډېر د هغه چا څخه عبارت دي چې مونږ پيدا كړي دي او عقلونه مو وركړي، چې پرښتې او پيريان دي، نو دوى ته مو نه خلافت وركړى دى او نه مو دوى مسجود ګرځولي دي.

اما كوم اقليت چې انسانان ورباندې بهتري نه لري هغه خپله د انسانانو څخه عبارت دى ځكه چې هيڅوك په خپل ځان باندې بهتر او افضل نه شي جوړېدلى، نو كله چې الله ﷻ انسانانو ته په ذو العقول باندې بهتري وركړې ده چې د خلافت صلاحيت پكښې شته دى، نو په غير ذو العقول باندې خو په طريقه اولى سره بهتر وګرځول شو، لكه نور حيوانات او جمادات.

## يادوني

۷ـ په دې مقام كښې محترمو لوستونكو ته په كار دي چې لاندې يادونې هېرې نه كړي:

الف: د ذكر شوي ايت شريف په تفسير كښې ځينو مفسرينو كرامو[۱] دا خبره مطرحه كړې ده چې انسان بهتر دى او كه پرښته؟ او بيا يې زور اچولى دى چې د پرښتو افضليت ترې راوباسي، حال دا چې نظر هغه تحقيق ته كوم چې وړاندې تېر شو په دې ايت كښې دا مفاضله هيڅ مطرحه نه ده چې څوک الله ﷻ ته په درجه او منزلت كښې لوړ دى، انسان كه پرښته؟

ب: په دې باندې علاوه ذكره شوې مفاضله او يوه طرف ته په بل طرف باندې بهتري وركول مونږ ته چندان په درد باندې نه خوري، مونږ مكلف نه ياستو چې يوه ته په بل باندې د افضليت عقيده وكړو، كه بالفرض مونږ مكلف وى نو په ايت او حديث كښې به راته واضحه ارشاد كړى شوى وى. د همدې كبله پكښې امام ابو حنيفه عليه الرحمة سكوت غوره كړى دى او هيڅ يې پكښې نه دي ويلي[۲].

ج: بالآخره د دې سره سره چې ضرورت ورته نشته كه څوک غواړي چې په همدې موضوع كښې بنه اوږد بحث له نظره تېر كړي نو ځينو اوږدو كتابونو ته دې مراجعه وكړي[۳] مونږ پكښې په هغه لنډ بيان باندې اكتفاء كوو كوم چې د [البقرة:۳۴] ايت لاندې تېر شوي دي، والحمد لله والمنة والإحسان.

﴿ يَوْمَ نَدْعُوا كُلَّ أُنَاسٍ بِإِمَـٰمِهِمْ ۖ فَمَنْ أُوتِىَ كِتَـٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ يَقْرَءُونَ كِتَـٰبَهُمْ وَلَا يُظْلَمُونَ فَتِيلًا ﴿٧١﴾ وَمَن كَانَ فِى هَـٰذِهِۦٓ أَعْمَىٰ فَهُوَ فِى ٱلْـَٔاخِرَةِ أَعْمَىٰ وَأَضَلُّ سَبِيلًا ﴿٧٢﴾ ﴾

---

(۱) تفسير الكشاف ج۲ ص۶۸۰

(۲) شرح العقيده الطحاوية ص۳۱۱

(۳) شرح المقاصد ج۲ ص۱۹۹؛ حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۳ ص۱۳۳؛ شرح العقيدة الطحاويه ص۳۰۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۷۱] هغه ورځ (یاده کړه) چې مونږ هره ډله خلک د خپل مشر په نامه (د قبرونو څخه را) وبلو، نو هرڅوک چې خپله عملنامه یې په ښي لاس باندې ورکړی شي نو دغه خلک به خپلې اعمالنامې قرائت کوي (او د خوشحالۍ په حال کښې به یې نورو ته ورانديې کوي) حال دا چې په دوی باندې به د کجورې (د زړي) د نري تار په اندازه هم ظلم ونه کړی شي.

[۷۲] او هرڅوک چې په دغې (دنیا) کښې (په زړه باندې) ړوند وي نو هغه به په آخرت کښې (په سترګو باندې) ړوند وي (او اعمالنامه به په چپ لاس ورکړی شي) او (هم) هغه به د لارې د حیثه ډېر ګمراه وي (چې د هدایت وخت به ترې تېر وي او د جنت او د نجات لار به مونده نه کړي).

## ارتباط

وړاندې ایتونه په دې تمام شوي وه چې الله ﷻ انسان ته په دنیا کښې څه کرامات ورکړي دي او په خپلو ډېرو مخلوقاتو باندې یې بهتر ګرځولی دی، ترڅو د ده ﷻ د نعمتونو شکریه وکړي چې په آخرت کښې هم د کراماتو خاوند جوړ شي. په دې ایتونو کښې د انسانانو عکس العمل ته اشاره شوې ده، چې څینو ذکر شوي کرامات حفظ کړي دي او د آخرت کرامات به یې په نصیب شي او څینو پکښې ناشکري کړې ده چې په آخرت کښې به د کراماتو په بدل کښې د توهیناتو سره مخامخ شي. نو حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! مونږ خو انسانانو ته په دنیا کښې کرامات ورکړي دي او په نورو باندې مو بهتر ګرځولي دي خو کله چې مونږ هره یوه ډله خلک دخپل امام او لاربنود په نامه د قبرونو څخه د محشر میدان ته راوبلو، او یا کله چې مونږ هره ډله خلک د خپل مشر او لاربنود په موجودیت سره د قبرونو څخه راپورته کړو نو هلته به د دوی دنیاوي عکس العمل په لاندې ډول ښه پوره څرګند شي:

۱ـ هرچا چې د کراماتو شکریه کړې وي او په دنیا کښې د کفریاتو او شرکیاتو نه وي مرتکب شوی نو هغه ته به خپله دنیاوي عملنامه په ښي لاس باندې ورکړی شي، دوی به خپلې عملنامې ډېرې په خوشالۍ سره قرائت کوي او خپلو دوستانو ته به هم دعوت ورکوي چې تاسو راشئ زمونږ عملنامې ولولئ چې څومره ښه اعمال پکښې ثبت دي.

په دغو خلکو باندې به د کجورې د زړي د نري تار په اندازه هم تېری او ظلم ونه کړی شي حال دا چې د هرې نېکۍ اجرونه او ثوابونه به په چندونو چندونو باندې ورکړی شي. یا په بل عبارت: دغه کسان لکه چې په دنیا کښې په ډېرو باندې بهتر ګرځولی شوي وه په آخرت کښې به هم په ډېرو باندې بهتر وګرځولی شي او جنتونه به ورپېرزو کړی شي.

۲ـ بالمقابل چا چې په دنیا کښې د کراماتو شکریه نه وي کړي او د الله ﷻ په شریعت باندې یې خپل خانونه رانده او کاږه اچولي وي نو هغوی ته به په آخرت کښې د کراماتو په عوض اهانتونه ورکړی شي، هغه دا چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: عملنامې به يې ورته په چپو لاسونو ورکړی شي او د محشر په ميدان کښې به د غټ سپکاوي سره مخامخ شي.

ب: دوی به د قبرونو څخه په سترګو باندې ړانده راپورته شي، دوی به هلته پوښتنه وکړي چې دا ولې؟ مونږ خو په دنيا کښې سترګې درلودې؟، جواب به ورکړی شي چې دا ځکه چې په دنيا کښې ستاسو د زړه سترګې ړندې وې او د الله ﷻ په شريعت باندې مو خپل ځانونه ړانده کانه اچولي وه، نو نن ورځ ستاسو قلبي ړوندوالی څرګند شو او د اهانت سره مخامخ شوئ.

ج: دوی به د قيامت په ورځ نه د نجات لاره پيدا کړي او نه به د جنت لاره مونده کړي، بلکې د دوی ګمراهي به هلته ډېره قوي او زياته وي چې د هدايت فرصت به ختم شوی وي او د لارې موندلو امکان به نه وي.

## توضيحات

۱ـ د ﴿يَوْمَ نَدْعُواْ كُلَّ أُنَاسٍ بِإِمَـٰمِهِمْ﴾ جمله علماوو کرامو[1] په لاندې دوه ډوله باندې تفسيره کړې ده:

الف: هغه وخت ياد کړه چې کله مونږ هره يوه ډله خلک د خپل امام په نامه باندې راوبلو چې: ای د فلاني امام خاوندانو يا پيروانو! راپورته شئ.

ب: هغه وخت خلکو ته وريه ياد کړه چې کله مونږ هره يوه ډله د خپل امام په معيت سره وبلو چې د هرې ډلې سره به خپل امام موجوديت ولري.

پاتې شوه دا خبره چې د هرې ډلې خلکو امام د چا يا د څه شي څخه عبارت دی، نو په دې کښې علماء کرامو مختلف نظريات لري[2] لاندې مثالونه يې ولولئ:

اول: د هر چا امام د هغه د پيغمبر څخه عبارت دی، يعنې چې کله مونږ هره ډله د خپل پيغمبر په نامه راوبلو چې: ای د فلانکي پيغمبر امتيانو! راپورته شئ، او يا هره ډله د خپل پيغمبر په شمول د محشر ميدان ته راوبلو.

دوهم: د امام څخه دلته عملنامې مرادې دي، چې: ای د فلانکي ډول عملنامو خاوندانو! راپورته شئ، او يا هرڅوک د خپلې عملنامې سره په خپل حضور کښې ودروو.

دريم: امام يعنې خپل کتاب چې همدوی ته نازل شوی دی چې: ای د قرآن کريم خاوندانو! يا: ای د تورات خاوندانو! راشئ: او يا هرڅوک د خپل کتاب په معيت سره په خپل حضور کښې د حساب کتاب دپاره حاضر کړو.

څلورم: دلته امام د دنياوي مشر او رئيس څخه عبارت دی. لکه ګوندي مشر يا قومي مشر يا ديني مشر او داسې نور چې ای د فلانکي مشر پيروانو!، يا ای مريدانو! راپورته شئ: او يا هره ډله

---

(۱) تفسير القاسمي ج ۱۰ ص ۲۵۲

(۲) تفسير القرطبي ج ۱۰ ص ۲۹۶، زاد المسير ج ۵ ص ۴۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د خپل رئيس په شمول محاسبې ته ودرو.

## تبصره

۲ـ د "إمام" کلمه اصلاً د هغه شي دپاره وضعه شوې ده د کوم چې پيروي کېږي، برابره خبره ده چې هغه انسان وي، يا کتاب وي او يا بل شی وي او هم برابره خبره ده چې پيروي (اقتداء) ورپسې حقه وي او يا باطله وي[۱]. د همدې کبله علماوو کرامو ذکره شوې کلمه په متعددو معناوو باندې تفسيره کړې ده چې د هرې معنی د اراده کولو استعداد پکښې شته دی.

مګر شيخ المفسرين (العلامه الطبري عليه الرحمة) ذکره شوې څلورمه معنی په دې مقام کښې حقه ګڼلې ده چې همدا معنی په عربي استعمال کښې اشهره او اغلبه ده او په کار دي چې حتی الامکان د قرآن کلمات په مشهورو معناوو باندې تفسير شي[۲].

همدا معنی د نبي کريم ﷺ د يوه اوږده حديث څخه هم د اشارې په توګه څرګندېږي چې: «مَنْ كَانَ يَعْبُدُ شَيْئًا فَلْيَتَّبِعْهُ»[۳] يعنې د قيامت په ورځ به امر وکړی شي چې هرڅوک دې هغه شي پسې لاړ شي د کوم عبادت به يې چې په دنيا کښې کاوه.

زمونږ په نزد ذکرې شوې معناوې سره يو تربله څه منافات نه لري نو څه لرې نه ده چې د بدليت په اعتبار سره ټولې مرادې کړی شي، او دا ځکه چې د قيامت ورځ ډېره اوږده ورځ ده چې الله ﷻ ترې په پنځوس زره کاله باندې تعبير کړی دی نو که د هرې يوې معنی د تحقق وخت او حالت بېل-بېل وي هم امکان لري.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِنَّكُمْ تُدْعَوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِأَسْمَائِكُمْ وَأَسْمَاءِ آبَائِكُمْ فَأَحْسِنُوا أَسْمَاءَكُمْ»[۴] يقينًا د قيامت په ورځ به تاسو په خپلو نومونو او د پلرونو په نومونو باندې وبلل شئ (چې ای فلانکيه د فلانکي زويه!)، نو تاسو خپل نومونه ښه کړئ (ښه معنی لرونکي نومونه کېږدئ).

همدارنګه ځينو علماوو کرامو ليکلي دي[۵] چې د قيامت په ورځ به هرڅوک د خپلو مورګانو په نومونو باندې بلل کېږي چې: ای د فلانکي زويه!؛ نو پوښتنه دا ده چې ايا دغه دواړه مطلبونه د ايت شريف سره څه منافات نه لري؟

مونږ وايو چې: په دوهم مطلب باندې خو ځينو علماوو کرامو تنقيد کړی دی چې ثبوت نه لري[۶]

(۱) لسان العرب ج۱۲ ص۲۴؛ مفردات الراغب ص۲۰
(۲) تفسير الطبري ج۱۵ ص۱۲۷
(۳) صحيح البخاري ج۱ ص۱۱۱
(۴) سنن ابي داوٗد ج۲ ص۳۲۰
(۵) تفسير البغوي ج۳ ص۱۲۶
(۶) روح المعاني ج۱۵ ص۱۲۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اما لومړی مطلب خو د ایت شریف سره هیڅ منافات نه لري او په لاندې صورتونو باندې سره مطابقت پیدا کوي:

الف: چې په خینو حالاتو کښې به په خپلو نومونو او د خپلو پلرونو په نومونو باندې هم وبلل شي.

ب: چې د امام د نامه سره د دوی نومونه هم ضمیمه شي مثلاً: ای فلانکیه! د فلانکي زویه او د فلانکي پیروه او یا مریده، او داسې نور.

## فَتِيل څه معنی؟

۴_ په ﴿ وَلَا يُظْلَمُونَ فَتِيلًا ﴾ کښې د "فَتِيل" د کلمې پوره شرحه د [النساء:۴۰۹] ایت لاندې تېره شوې ده چې د هغه نري تار څخه عبارت ده کوم چې د کجورې د زړي په ژوره برخه کښې قرار لري. ذکره شوې کلمه په عربي کلام کښې د یو شي د تقلیل دپاره د مثال په توګه استعمالېږي، په قرآن کریم کښې په همدې منظور نوموړې کلمه درې ځله نازله شوې ده چې همدا یې دریم ځل نزول دی.

## ړوند په دوه ډوله دی

۵_ په ﴿ وَمَن كَانَ فِي هَٰذِهِۦٓ أَعۡمَىٰ فَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ أَعۡمَىٰ ﴾ کښې د ﴿ أَعۡمَىٰ ﴾ دواړه کلمې د "عَمْيٌ" _لکه "ضَرْبٌ"_ څخه اشتقاقي شوې دي، "عَمْيٌ" هغه ړوندوالي ته ویل کېږي کوم چې په دواړو سترګو کښې په کلي توګه صورت ونیسي چې په پښتو کښې ورته تپ ړوندوالی وایي. ړوندوالی لاندې دوه ډولونه لري[1]:

الف: یو د سترګو ړوندوالی دی چې په مقابل کښې یې د "بَصر" کلمه استعمالېږي.

ب: بل د زړه ړوندوالی دی چې په مقابل کښې یې "بَصِيرَة" واقع کېږي.

په دې مقام کښې د ﴿ أَعۡمَىٰ ﴾ لومړنی کلمه د هغه ړانده څخه عبارت ده کوم چې په زړه باندې ړوند وي او بصيرت نه لري، اما په دوهمه کلمه کښې لاندې دوه احتماله تحقق موندلی شي:

اول: چې دا هم د هغې "عَمْيٌ" څخه مشتقه وګڼله شي د کومې څخه چې لومړنی د ﴿ أَعۡمَىٰ ﴾ کلمه مشتقه شوې ده[2]، یعنې په دنیا کښې چې د هرچا زړه ړوند وي او د توحید هغه ټول دلایل نه ګوري کوم چې الله ﷻ په خپل وحدانیت باندې قائم کړي دي نو هغه د آخرت په امورو کښې (لکه جنت، دوزخ او داسې نور) هم ړوند دی او بلکې لا زیات بې لارې او ګمراه دی چې په سترګو باندې یې نه دی لیدلی او لا تر اوسه پورې هلته نه دی ورغلی.

په دې احتمال کښې د ﴿ أَعۡمَىٰ ﴾ دواړه کلمې د دنیا پورې ارتباط نیسي.

دوهم: چې دا د هغې "عَمْيٌ" څخه واخستله شي کومه چې د سترګو د ړوندوالي معنی ورکوي[3]،

---

(۱) لسان العرب ج۱۵ ص۹۶
(۲) تفسير الطبري ج۱۵ ص۱۲۸
(۳) حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۳ ص۲۲۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يعني څوک چې په دې دنيا کښې د شريعت څخه روند وي نو هغه به په آخرت کښې په سترګو باندې روند وي او پټ خبث به يې هلته څرګند شي، او هم به نوموړى هلته زيات ګمراه وي چې نه به د جنت لاره او نه به د خپل نجات لاره مونده کړي، او دا ځکه چې په آخرت کښې به يې استعداد ختم شوى وي او د ايمان د راوړلو چانس به يې په کامله توګه د لاسه وتلى وي.

همدې مضمون ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ وَنَحْشُرُهُۥ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ أَعْمَىٰ ﴾ [طه: ١٢٤] يعني هرڅوک چې په دنيا کښې زما د يادو (دلايلو) څخه اعراض کوي نو يقيناً هغه ته تنګ ژوندون دى او د قيامت په ورځ به يې د قبر څخه روند راپورته کړو.

په دې احتمال کښې د ﴿ أَعْمَىٰ ﴾ لومړنى کلمه د دنيا پورې ارتباط نيسي او دوهمه کلمه يې د آخرت پورې ارتباط پيدا کوي.

## سوال جواب

۶_ که څوک وايي چې الله ﷻ د کفارو څخه حکايت کوي چې: ﴿ رَبَّنَآ أَبْصَرْنَا وَسَمِعْنَا ﴾ [السجدة: ١٢] يعني کفار به د قيامت په ورځ ووايي چې: اى زمونږ ربه! مونږ وليده او مونږ واورېده نو مونږ بېرته دنيا ته تاو کړه چې نېک عملونه وکړو او د يقين کوونکو څخه جوړ شو؛ نو پوښتنه دا ده چې: ايا ذکر شوى تفسير د دې ايت سره منافات نه لري چې د سترګو ليدل ترې حکايت شوي دي؟

مونږ وايو: لکه څنګه چې مونږ د همدې ايتونو په لومړنی توضيح کښې ليکلي دي چې د قيامت ورځ ډېره اوږده ورځ ده، نو څه لرې نه ده چې د تعذيب او تخجيل دپاره ترې په خينو وختونو کښې د سترګو نظر واخستلى شي او په خينو نورو کښې بېرته ورکړى شي، حتى دا هم څه لرې نه ده چې د حشر په لومړي وخت کښې د قبرونو څخه ټول کافران ړانده راپورته کړى شي او بيا وروسته بينا وګرځولى شي، والله ﷻ أعلم بحقيقة الحال.

## تبصره

۷_ مونږ ته د لاندې وجوهو د کبله دوهم احتمال قوي برېښي:

الف: د قرآن کريم په نورو ايتونو کښې د اصحاب اليمين او اصحاب الشمال حالات څنګ په څنګ بيان شوي دي، نو که په دې مقام کښې د ﴿ أَعْمَىٰ ﴾ دوهمه کلمه په دوهم احتمال باندې شرحه شي نو د اصحاب الشمال څخه به کنايه شي او د نورو ايتونو سره به پوره تشابه تحقق ومومي، اما په لومړني احتمال کښې د اصحاب الشمال ذکر بالکل پاتې کېږي.

ب: د ﴿ فَهُوَ فِى ٱلْـَٔاخِرَةِ أَعْمَىٰ ﴾ څخه سړي ته په تبادر سره ذهن ته ورځي چې دلته د ﴿ فِى ٱلْـَٔاخِرَةِ ﴾ څخه اخروي امور مراد نه دي بلکې د آخرت ورځ مراد ده، لکه چې د ﴿ يَوْمَ نَدْعُوا۟ كُلَّ أُنَاسٍۭ بِإِمَـٰمِهِمْ ﴾ کلمات ورباندې دلالت کوي.

﴿ وَإِن كَادُوا۟ لَيَفْتِنُونَكَ عَنِ ٱلَّذِىٓ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ لِتَفْتَرِىَ عَلَيْنَا غَيْرَهُۥ ۖ وَإِذًا لَّٱتَّخَذُوكَ

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خَلِيلاً ﴿٧٣﴾ وَلَوْلَآ أَن ثَبَّتْنَٰكَ لَقَدْ كِدتَّ تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ شَيْـًٔا قَلِيلاً ﴿٧٤﴾ إِذًا لَّأَذَقْنَٰكَ
ضِعْفَ ٱلْحَيَوٰةِ وَضِعْفَ ٱلْمَمَاتِ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ عَلَيْنَا نَصِيرًا ﴿٧٥﴾ وَإِن كَادُوا۟
لَيَسْتَفِزُّونَكَ مِنَ ٱلْأَرْضِ لِيُخْرِجُوكَ مِنْهَا ۖ وَإِذًا لَّا يَلْبَثُونَ خِلَٰفَكَ إِلَّا قَلِيلاً ﴿٧٦﴾
سُنَّةَ مَن قَدْ أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِن رُّسُلِنَا ۖ وَلَا تَجِدُ لِسُنَّتِنَا تَحْوِيلاً ﴿٧٧﴾ ﴾

[۷۳] او یقینًا شان دا دی چې: مشرکان نژدې وه چې تا د هغه شي څخه په فتنه کښې واچوي (واړوي) کوم چې مونږ تاته وحې کړی دی (چې د حق څخه عبارت دي، البته دا) د دې دپاره چې ته د هغه (حق) څخه په غیر (بل شی) په مونږ باندې په دورغو را وتپې (وتړې). او (مشرکان تاته وابي چې:) په دغه وخت کښې به دې هرومرو د دوست په حیث ونیسي (او پیروي به دې وکړي).

[۷۴] او که مونږ ته (په خپل حق دریغ باندې) نه وی کلک کړی نو ضرور به یقینًا ته نژدې شوی وی چې دوی ته کوچنی میلان وکړې (البته) د ډېر لږ میلان.

[۷۵] نو د دغه (لږ میلان) په وخت کښې به مونږ خامخا تاته د ژوند (دنیا) غبرګ (عذاب) او (هم) د مرګ (آخرت) غبرګ (عذاب) درڅکلی وی، بیا به دې د خپل ځان دپاره په مونږ باندې کومک کوونکی (د عذاب څخه بچ کوونکی) نه وی موندلی.

[۷۶] او یقینًا شان دا دی (ای پیغمبره!) چې مشرکان نژدې دي چې تا د ځمکې (مکې معظمې) څخه دیکه کړي (وشړي، البته دا) د دې دپاره چې تا ترې وباسي (او دوی پکښې خپلو کفریاتو ته ادامه ورکړي او بې غمه پکښې ژوند وکړي)، او (زمونږ فیصله دا ده چې) په دغه وخت کښې به ستا (د شړلو) څخه وروسته (پکښې) دوی پاتې نه شي مګر لږ وخت.

[۷۷] (مونږ ستا سره په یوه قانون او یوې طریقې باندې تلل کوو البته) د هغو کسانو په قانون (او طریقه باندې) څوک چې مونږ ستا څخه وړاندې استولي دي چې (دوی) زمونږ د پیغمبرانو څخه عبارت دي. او (ای پیغمبره!) ته به زمونږ قانون (او طریقې) ته اړول (بدلون رابدلون) موندنه نه کړې (دا به ضرور عملي کېږي).

## ارتباط او شان نزول

وړاندېني ایتونه په ﴿ وَأَضَلُّ سَبِيلاً ﴾ باندې تمام شوي وه چې مشرکان په دنیا او آخرت دواړو کښې رانده او بې لارې دي، د دې ایتونو مضمون دا دی چې هغوی برسېره په ګمراهۍ غواړي چې عام خلک په عمومي توګه ګمراهان وګرځوي او په خصوصي توګه زور اچوي چې نبي کریم ﷺ (افضل المخلوقات) هم د لارې څخه واړوي. لکه چې د شان نزول روایتونه ورباندې دلالت کوي[1].

(۱) زاد المسیر ج۵ ص۴۹؛ اسباب النزول للواحدي ص۱۹۶؛ تفسیر القرطبي ج۱۰ ص۲۹۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که څه هم په دې روايتونو کښې داسې تکی هم شته چې نبي کريم ﷺ ته يې نسبت کول صحت نه لري[۱] مګر مونږ د صحيحو او مهمو ټکو په خلاصه باندې اکتفاء کوو کوم چې مونږ ته په زړه پورې ښکاره شوی دی، هغه دا چې:

۱ـ د مکې معظمې مشرکانو يوه شپه تر سبا پورې نبي کريم ﷺ ته خپلې غوښتنې وړاندې کړې او سوال زارۍ يې ورته وکړې چې خپله ټګلاره پرېږدي او د بوتانو سپکاوی ونه کړي. يا په بل عبارت: په اسلام کښې بوت پرستۍ ته هم لږ څه ارزښت او ځای ورکړي[۲].

۲ـ يوه ورځې د ثقيف د قبيلې يوه جرګه نبي کريم ﷺ ته ورغله او لاندې وړانديزونه يې ورته وکړه[۳] چې:

الف: د يو کاله پورې مونږ ته وخت راکړه چې مونږ د خپلو بوتانو فقط هغه شکرانې راغونډې کړو کومې چې ورته دعوامو د پلوه راوړلې کېږي، زمونږ وعده ده چې عبادت به يې نه کوو.

ب: يو کال وروسته به مونږ خپل بوتان په خپلو لاسونو باندې مات کړو.

ج: مونږ ته څه امتيازات راکړه چې مونږ ورباندې د نورو خلکو په نسبت افتخار وکړو هغه دا چې:

اول: زمونږ څخه زکات مه اخله.

دوهم: مونږ د جهاد څخه معاف کړه.

دريم: زمونږ د لمانځه څخه رکوع او سجده لرې کړه چې فقط په قيام باندې اکتفاء وکړو.

څلورم: زمونږ سودونه دې خلک راکړي او په مونږ باندې چې څه سودي پيسې پاتې دي هغه الغاء کړه چې څوک يې راڅخه ونه غوښتلی شي.

پنځم: زمونږ وطن (منطقه) داسې محترم وګرځوه لکه څنګه چې مکه معظمه محترمه ده.

شپږم: که نور عرب زمونږ په امتيازاتو باندې اعتراض وکړي نو هغوی ته جواب ورکړه چې: ماته الله ﷻ همداسې امر کړی دی (دا امتيازات الله ﷻ دوی ته ورکړي دي).

اوم: که ته ذکر شوي وړانديزونه قبول کړې (په الله ﷻ باندې دروغ وتړې) نو مونږ به په تا باندې ايمان راوړو.

نو نبي کريم ﷺ د دوی غوښتنې ردې کړې او دا يې هم ورته وفرمايل چې: «وَلَا خَيْرَ فِي دِينٍ لَيْسَ فِيهِ رُكُوعٌ»[۴] يعنې او په هغه دين کښې هيڅ خير نشته په کوم کښې چې رکوع نه وي.

## د مطلب خلاصه

يعنې ای پيغمبره! د خپل ځان په هکله لاندې نکاتو ته متوجه شه چې:

۱ـ مشرکان په خپله ګمراهۍ باندې نه ودرېږي بلکې غواړي چې ستا غونډې معصوم بنده هم

(۱) تفسير ابن کثير ج۳ ص۵۳
(۲) تفسير الطبري ج۱۵ ص۱۳۰
(۳) روح المعاني ج۱۵ ص۱۲۷
(۴) سنن ابي داود ج۲ ص۷۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بې لارې کړي او په ګناه باندې يې اخته کړي.

الف. ته نه ګورې چې څومره غټه فتنه يې ستا دپاره پلان کړې ده ترڅو پکښې ته واقع شې او په مونږ باندې دروغ وتړې، چې يا بوتانو ته په احترام قائل شې او يا دوی ته په دروغينو او ناجائزو امتيازاتو باندې قول وکړې چې ماته ورباندې امر شوی دی.

ب: يقيناً مشرکان نږدې وه چې خپل پلان په تاباندې تطبيق کړي، او دا څکه چې دوی تاته وعده درکړه چې که ته يې غوښتنې قبولې کړې نو دوی به تا په دوستۍ سره ونيسي (ايمان به درباندې راوړي او د دښمنۍ څخه به دې صرف نظر شي).

۲_ ای پيغمبره! مونږ په تاباندې احسان کړی دی چې د ګناه څخه مو معصوم ګرځولی يې، که بالفرض ستا سره هغه ثابت قدمي موجوده نه وی کومه چې مونږ درپېرزو کړې ده نو د فتنې د قوت د کبله به ته نږدې شوی وې چې مشرکانو ته ډېر لږ ميلان وکړې، خو زمونږ په فضل سره تا هغوی ته نه ډېر لږ ميلان وکړ او نه دغه ډېر لږ ميلان ته ورنږدې قدرې شوې. که بالفرض تا دغه کار کړی وی نو:

الف: په دغه وخت کښې به مونږ تاته په دنيا کښې د نورو په نسبت غبرګ عذاب درڅکلی وی او هم به مو په آخرت کښې (د مرګ څخه وروسته) هم د غبرګ عذاب سره مخامخ کړی وی.

ب: بيا به نو تا د خپل ځان د خلاصون دپاره زمونږ په مقابل کښې هيڅ کومکي نه وی موندلی چې تاته يې نجات درکړی وی.

ج: څکه چې ستا درجه د ټولو مخلوقاتو څخه لوړه ده نو په کار ده چې ستا ډېر لږ ميلان هم غټ جنايت وګڼلی شي، او لکه څنګه چې ستا ثوابونه غبرګ دي بايد چې ستا عذاب هم غبرګ جوړ شي.

۳_ ای پيغمبره! کله چې د کفارو فتنه او پلان شنډ شو او ونه توانېدل چې ستا څخه مفتري (دروغژن) جوړ کړي نو يقيناً دوی نږدې دي چې (په نن سبا کښې) تا د مکې معظمې د ځمکې څخه ديکه کړي ترڅو ته مجبور شې چې له خپله وطنه هجرت وکړې.

نو تاته په کار دي چې د جلا وطنۍ دپاره تياری ونيسې، خو په ياد ولره چې:

الف: کله چې دوی خپله ذکره شوې نقشه په تاباندې عملي کړه او له خپله وطنه يې وشړلې نو دوی به هم ستا د ويستلو څخه وروسته په همدغه وطن (مکه معظمه) کښې پاتې نه شي مګر لږ وخت، بيا به ترې د ابد دپاره وويستلی شي او بالمقابل همدغه وطن به بېرته ستا د تسلط لاندې واقع شي.

ب: ای پيغمبره! مونږ د پخوانيو پيغمبرانو سره په همدې طريقه باندې عمل کړی دی، چې کله به هغوی خپل قوم د وطن څخه شړلو ته مجبور کړل نو لږ وخت وروسته به مونږ د هغوی قوميان د وطن څخه د ابد دپاره وشړل. دا زمونږ دائمي کړنلاره ده او هيڅکله به ته زمونږ دغې کړنلارې ته بدلون رابدلون موندونه کړې.

## توضيحات

۱_ په ﴿ وَإِن كَادُوا لَيَفْتِنُونَكَ ﴾ کښې د "إِنْ" توری د "إِنَّ" څخه مخفف شوی دی چې د تحقيق

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او يقين معنی ورکوي، او د "يَفْتِنُونَ" کلمه د "افتنان" څخه اشتقاقه شوې ده چې په عذاب او مصيبت کښې د اچولو څخه عبارت دی[۱].

يعنې ای پيغمبره! دا خبره يقيني او تحقيقي ده چې مشرکان نژدې وه چې تا په مصيبت اخته کړي او په خپل رب ﷻ باندې دې دروغو تړلو ته اړباسي خو مونږ ستا حفاظت وکړ او ستا ثبات او استقامت مو ښه پیاوړی او کلک کړ چې تاته مو د ګناه څخه عصمت په نصيب کړی دی. يا په بل عبارت: د مشرکانو افتنان ستا په باره کښې دومره غښتلی وه که بالفرض دغه افتنان بل چاته متوجه کړی شوی وی چې د عصمت خاوند نه وی نو ضرور به د خپلې تګلارې څخه اړولی شوی وی.

اما په کومه طريقه باندې چې مشرکانو د نبي کريم ﷺ افتنان غوښت د هغې څه مثالونه د دې ايتونو په شان نزول کښې تېر شوي دي. والحمد لله.

۲ـ د ﴿ لَقَدْ كِدتَّ تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ شَيْئًا قَلِيلاً ﴾ کلمات په زيات تاکيد سره دلالت کوي چې نبي کريم ﷺ ته الله ﷻ د ګناهونو څخه عصمت ورکړی وه، او دا څکه چې:

الف: د ﴿ لَقَدْ كِدتَّ ﴾ کلمه په نزدېکت باندې دلالت کوي[۲].

ب: د ﴿ تَرْكَن ﴾ کلمه د "رکون" څخه اشتقاقه شوې ده چې د کوچني ميلان دپاره وضعه شوې ده[۳].

ج: په ﴿ شَيْئًا قَلِيلاً ﴾ کښې د "شيْء" کلمه د "رکون" څخه عبارت ده چې په ﴿ قَلِيلا ﴾ سره موصوفه شوې ده؛ نو د معنی حاصل يې داسې راځېژي چې: ای پيغمبره! که مونږ تاته ثبات او استقامت نه وی درکړی نو يقينًا ته به نژدې شوی وی چې د مشرکانو غوښتنو ته ډېر لږ کوچنی ميلان وکړې، خو په تاباندې زمونږ فضل وه چې ډېر لږ کوچني ميلان ته ورنژدې هم نه شوې.

ځينې علماء کرام وايي چې د ذکر شوي ايت شريف د قرائت څخه وروسته نبي کريم ﷺ هغه سوال وکړه کوم چې په يوه اوږده حديث کښې روايت شوی دی[۴] چې: «فَلَا تَكِلْنِي إِلَى نَفْسِي طَرْفَةَ عَيْنٍ»[۵] يعنې ای ربه! ما د سترګو د رپ په اندازه وخت کښې هم خپل ځان ته ونه سپارې چې حفاظت او ساتنه مې ونه کړې.

## ضِعْف څه معنی؟

۳ـ په ﴿ ضِعْفَ ٱلْحَيَوٰةِ وَضِعْفَ ٱلْمَمَاتِ ﴾ کښې د ﴿ ضِعْفَ ﴾ کلمه د دې څخه عبارت ده چې د يو شي سره خپل مثل ضميمه شي[۶] چې په پښتو کښې ورته غبرګ ويل کېږي.

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۸۶
(۲) لسان العرب ج۳ ص۳۸۳
(۳) روح المعاني ج۱۵ ص۱۲۸
(۴) تفسير الطبري ج۱۵ ص۱۳۱
(۵) سنن ابو دوود ج۲ ص۳۳۸؛ مسند احمد بن حنبل ج۷ ص۳۱۷
(۶) تفسير القاسمي ج۱۰ ص۲۵۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دې مقام کښې ذکره شوې کلمه د عذاب معنی ورکوي ځکه چې دردونه پکښې غبرګ دي[۱] او يا دلته د (عذاب) کلمه مقدره ده، په هرصورت ذکر شوي کلمات عبدالله بن عباس رضی الله عنهما د دنيا په غبرګ عذاب او د آخرت په غبرګ عذاب سره تفسير کړي دي[۲]، لکه چې په همدې تفسير باندې د ﴿ لَّأَذَقْنَٰكَ ﴾ کلمات هم دلالت کوي چې د معنی حاصل يې داسې راځېږي چې: اى پيغمبره! که بالفرض مونږ ستا ځخه خپل حفاظت اخستې وى نو ضرور به ته د مشرکانو غوښتنو ته ورنږدې شوى وى چې په دغه وخت کښې به مونږ تاته په دنيا او آخرت دواړو کښې غبرګ عذاب درځکلى وى او په دېل عذاب به مو اخته کړى وى او هيچا به راځخه نه وى خلاص کړى.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت دى چې د تخلف په صورت کښې نبي کريم ﷺ ته د غبرګ عذاب وعيد ورکړى شو حال دا چې الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ فَلَا يُجۡزَىٰٓ إِلَّا مِثۡلَهَا ﴾ [الأنعام: ۱۶۰] او هرڅوک چې يوه بدې راولي (وکړي) نو هغه ته به جزا ورنه کړى شي مګر د هغې په مثل (يو په يو)؟

مونږ وايو چې: همدغه وعيد د نبي کريم ﷺ په ډېرې لوړې درجې باندې دلالت کوي چې هغې ته هيڅوک نه شي رسېدلى او دا ځکه چې د نبي کريم ﷺ هر يو کار د قيامت د ورځې پورې د ټول امت دپاره اساس (بنياد) دى، د دې امت ځخه چې هرڅوک نېک کار کوي نبي کريم ﷺ ته پکښې د ثوابونو برخه شته نو که بالفرض المحال نبي کريم ﷺ د کفارو کفري غوښتنو ته ډېر لږ ورنږدې شوى وى او ميلان يې ورته کړى وى نو دا به د قيامت د ورځې پورې د ټولو ميلان کوونکو دپاره بنياد ګڼلى شوى وى، حال دا چې نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «وَمَنْ سَنَّ فِي الْإِسْلَامِ سُنَّةً سَيِّئَةً فَعَلَيْهِ وِزْرُهَا وَوِزْرُ مَنْ عَمِلَ بِهَا مِنْ غَيْرِ أَنْ يَنْقُصَ مِنْ أَوْزَارِهِمْ شَيْئًا»[۳] يعني او هرڅوک چې په اسلام کښې يوه بده لاره جوړه کړي نو په ده باندې د همدغې بدې لارې ګناه ده، او له هغه چا ګناه هم ورباندې ده څوک چې په همدغې بدې لارې باندې عمل وکړي، بې د دې چې د هغوى د ګناهونو ځخه څه شى کم کړى شي.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۵ـ که څوک وايي چې د ﴿ وَإِذٗا لَّا يَلۡبَثُونَ خِلَٰفَكَ إِلَّا قَلِيلٗا ﴾ ځخه ځرګندېږي چې که مشرکانو نبي کريم ﷺ د مکې معظمې ځخه اخراج کړ نو دوى به پکښې د ډېر لږ وخت ځخه په غير پاتې نه شي، حال دا چې د هجرت په اتم کال مکه معظمه فتحه شوه؛ نو پوښتنه دا ده چې: ايا ټول اته کاله د "قليل" په نامه بلل شوي دي؟

(۱) تفسير البغوي ج۳ ص۱۲۷
(۲) الدر المنثور ج۵ ص۳۱۹
(۳) صحيح مسلم ج۲ ص۳۴۱؛ سنن النسائي ج۱ ص۲۵۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو چې:

الف: د ځینو علماوو کرامو نظر دا دی چې نبي کریم ﷺ د مکې معظمې څخه اخراج شوی نه دی، که بالفرض اخراج شوی وی نو د وخت مشرکان به سمدستي هلاک شوي وی او د لږ وخت څخه په غیر به یې پکښې استوګنه نه وی کړې، بلکې الله ﷻ خپل پیغمبر ﷺ ته امر وکړ چې مدینې منورې ته هجرت وکړه. نو اخراج تحقق نه دی موندلی ترڅو ذکره شوې پوښتنه صورت ونیسي بلکې خروج تحقق موندلی دی او دا څکه چې:

اول: د ﴿وَإِن كَادُوا۟ لَيَسْتَفِزُّونَكَ مِنَ ٱلْأَرْضِ﴾ کلمات ورباندې دلالت کوي چې یقینًا مشرکان نږدې شوي وه چې تا د ځمکې (مکې معظمې) څخه اخراج کړي، یا په بل عبارت دوی د نبي کریم ﷺ اخراج ته نږدې شوي وه مګر د اخراج مرتکب شوي یې نه وه.

دوهم: د [الأنفال: ۳۰] ایت لاندې مونږ د الله ﷻ په فضل او توفیق سره لیکلي دي چې په دار الندوه (مقام) کښې مشرکانو د نبي کریم ﷺ په هکله درې طرحې وړاندې کړې چې: یا یې بندي کړي، یا یې له وطنه وشړي او یا یې شهید کړي؛ خو د بحث په نتیجه کښې په درېمه طرحه باندې تصویب وشو خو د الله ﷻ په لطف عملي صورت یې مونده نه کړ، اما نږدې وه چې دوهمه طرحه تصویبه شوې وی او نبي کریم ﷺ یې له وطنه شړلی وی، نو په دغه صورت کښې به مشرکانو په مکه معظمه کښې اته کاله نه وی تېر کړي.

مګر دا جواب د لاندې وجوهو د کبله کمزوری برېښي چې:

• الله ﷻ په ﴿مِّن قَرْيَتِكَ ٱلَّتِىٓ أَخْرَجَتْكَ﴾ [محمد:۱۳] کښې د اخراج نسبت مکې معظمې ته کړی دی یعنې: ای پیغمبره! مونږ د کفارو ډېر ښارونه هلاک کړي دي چې ستا د هغه ښار څخه ډېر قوي وه د کوم اوسېدونکو چې ترې ته اخراج کړې، خو هیچا ورته نجات ورنه کړ.

• کله چې د بعثت په اول وخت کښې ورقه بن نوفل ؓ نبي کریم ﷺ مخاطب کړ چې: کاشکې چې زه په هغه وخت کښې ژوندی وی په کوم کښې چې ستا قوم تا د دې خپل وطن څخه اخراج کوي نو نبي کریم ﷺ ترې په تعجب سره پوښتنه وکړه چې: «أَوَمُخْرِجِيَّ هُمْ»[1] یعنې ایا دوی زما اخراج کوونکي (ویستونکي) دي؟ هغه ورته په «نَعَمْ» "هو" سره جواب ورکړ.

• نبي کریم ﷺ په هجرت باندې په داسې حال کښې پیل وکړ چې کور یې د کفارو له پلوه د محاصرې لاندې وه او د وژلو تصویب یې وربانديې کړی وه، چې بیا یې تر درېوو شپو پورې د ثور په غار کښې پنا واخستله؛ نو پوښتنه دا ده چې: که دغه حالت هم د اخراج (ویستلو) معنی ورنه کړي نو د اخراج معنی به څه وي؟ په دې تقدیر خو به بالکل په هجرت کښې د مجبوریت مفهوم تحقق ونه مومي، په دې تقدیر خو به افغان مهاجرین هم د افغانستان څخه نه وي اخراج شوي؟

ب: اته کاله د "قلیل" په نامه نه دي یاد شوي بلکې فقط یو کال او شپږو میاشتو ته ذکر شوی

[1] صحیح البخاري ج۱ ص۳

Scanned by CamScanner

د ميرويس اباسين لخوا سکين شو



لقب ورکړی شوی دی. دا ځکه چې د نبي کريم ﷺ د هجرت څخه فقط يونيم کال وروسته د بدر غزا صورت ونيوه چې د مشرکانو اويا (٧٠) نفره مشران د خپل وطن څخه وويستل شوه او هلته يې د کالبوتونو څخه ځاګانې ډکې کړی شوې. ايا د اويا نفرو مشرانو وژل او د اويا نفرو مشرانو اسيرول د يو قوم هلاکت نه دی؟

بلکې د نبي کريم ﷺ د اخراج سره سم د مشرکانو د اهلاک او اخراج ډېره کېښودله شوه چې رحمة للعالمين د دوی له منځه خارج کړی شو، چاته چې الله ﷻ خطاب کړی دی چې: ﴿وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنتَ فِيهِمْ﴾ [الأنفال:٣٣] او (ای پيغمبره!) الله ﷻ نه دی چې مشرکان معذب کړي حال دا چې ته په دوی کښې موجوديت لرې.

## يو نحوي تحليل

٦ـ په ﴿سُنَّةَ مَن قَدْ أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِن رُّسُلِنَا﴾ کښې د ﴿سُنَّةَ﴾ کلمې د اعراب دپاره علماوو کرامو متعدد احتمالات ليکلي دي[١] مګر ډېر بې تکلفه احتمال يې دا دی چې نوموړې کلمه د مفعول مطلق په بنياد منصوبه ده چې د وړاندېنۍ جملې مضمون يې تاکيد کړی دی، دغه ډول تاکيد ته نحويان تاکيد لنفسه لقب ورکوي[٢].

په همدې ارتباط د [البقرة:١٣٨] ايت لاندې ـ د الله ﷻ په توفيق ـ څه بحث تېر شوی دی چې يو ځل کتل يې بد نه دي. نو په دې مقام کښې د ذکر شوې مبارک کلام حاصل يې داسې راځېږي چې: ای پيغمبره! نژدې ده چې مشرکان تا د مکې معظمې څخه وشړي خو کله يې چې درباندې خپله دغه نقشه عملي کړه او هجرت ته يې مجبور کړې نو لږ وخت وروسته به ترې مونږ دوی هم د ابد دپاره وباسو، زمونږ دغه ويستل به د يوه قانون لاندې صورت ونيسي چې د ټولو پيغمبرانو سره مو همدغه قانون عملي کړی دی، زمونږ په قانون کښې بدلون نه شي واقع کېدلی.

﴿أَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِدُلُوكِ ٱلشَّمْسِ إِلَىٰ غَسَقِ ٱلَّيْلِ وَقُرْءَانَ ٱلْفَجْرِ إِنَّ قُرْءَانَ ٱلْفَجْرِ كَانَ مَشْهُودًا ﴿٧٨﴾ وَمِنَ ٱلَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهِۦ نَافِلَةً لَّكَ عَسَىٰٓ أَن يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَّحْمُودًا ﴿٧٩﴾ وَقُل رَّبِّ أَدْخِلْنِي مُدْخَلَ صِدْقٍ وَأَخْرِجْنِي مُخْرَجَ صِدْقٍ وَٱجْعَل لِّي مِن لَّدُنكَ سُلْطَـٰنًا نَّصِيرًا ﴿٨٠﴾ وَقُلْ جَآءَ ٱلْحَقُّ وَزَهَقَ ٱلْبَـٰطِلُ إِنَّ ٱلْبَـٰطِلَ كَانَ زَهُوقًا ﴿٨١﴾ وَنُنَزِّلُ مِنَ ٱلْقُرْءَانِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ وَلَا يَزِيدُ ٱلظَّـٰلِمِينَ إِلَّا خَسَارًا ﴿٨٢﴾ وَإِذَآ أَنْعَمْنَا

(١) البحر المحيط ج٧ ص٩٣
(٢) شرح ملا جامي ص١٠٠

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عَلَى ٱلْإِنسَـٰنِ أَعْرَضَ وَنَـَٔا بِجَانِبِهِۦ ۖ وَإِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ كَانَ يَـُٔوسًا ﴿٨٣﴾ قُلْ كُلٌّ يَعْمَلُ عَلَىٰ شَاكِلَتِهِۦ فَرَبُّكُمْ أَعْلَمُ بِمَنْ هُوَ أَهْدَىٰ سَبِيلًا ﴿٨٤﴾

[۷۸] (ای پیغمبره!) د لمر د زوال څخه وروسته آن د پخې تیارې پورې لمونځ (لمونځونه) ودروه او (همدارنګه) د سهار لمونځ هم (ودروه)، یقینًا د سهار قرائت (د سهار لمونځ) چې دی حاضر کړی شوی دی (پرښتې ورته حاضرېږي).

[۷۹] او د شپې په څه برخه کښې (هم لمونځ ودروه) نو په قرائت (لمانځه) سره بې خوبې وکړه په داسې حال کښې چې دا لمونځ ستا دپاره (په فرضي لمونځونو باندې) زيات (اضافه) دی.

(او هم) امید کوه چې خپل رب ﷻ به دې (د قیامت په ورځ) په ستایلي شوي مقام کښې مبعوث کړي (او هلته به دې ودروي).

[۸۰] او (ای پیغمبره!) وایه (سوال کوه) چې: ای زما ربه! ما (مدینې منورې ته) په رښتیاني (او خوندور) ادخال (ننویستلو) سره ننباسې او په رښتیاني (او خوندور) اخراج (ویستلو) سره مې ترې راوباسې، او ماته د خپل نزد څخه مدد ورکوونکی قوت وګرځې (راکړې او کمزوري مې ختمه کړي).

[۸۱] او (ای پیغمبره! په همدغه حال کښې) وایه چې: حق راغی او باطل نابود (ورک) شو، یقینًا باطل چې دی نابودکېدونکی (ورکېدونکی) دی.

[۸۲] او مونږ هغه شی نازلوو کوم چې د مؤمنانو دپاره شفاء او رحمت دی چې د قرآن کریم څخه عبارت دی، او (همدغه قرآن کریم) ظالمانو ته نه زیاتوي مګر زیان (او تاوان چې کفر يې پرې کلکېږي).

[۸۳] او کله چې مونږ په بنیادم باندې انعام وکړو (د حق څخه) مخ اړوي او خپل څنګ ترې لرې کوي (ډډه ترې کوي)، او کله چې ده ته شر (سختي او بدي) ورسېږي نو (د الله ﷻ څخه) نااُمیده ګرځي (جوړېږي).

[۸۴] (ای پیغمبره!) ووایه چې: هرڅوک (کافر وي او که مسلمان) په خپله تګلاره باندې عمل کوي (او خپل خط السیر ورته ښه ښکارېږي) خو ستا رب ﷻ په هغه چا باندې ډېر ښه پوهېږي کوم چې د لارې د حیثه ډېر ښه سم تلوونکی دی.

## ارتباط

په وړاندېنيو ایتونو کښې نبي کریم ﷺ ته په سرې توګه ارشاد شوی وه چې په نن سبا کښې به ته د مشرکانو د پلوه هجرت ته اړ کړی شې او په دې ایتونو کښې ورته توصیه کېږي چې د هجرت تکالیف وزغمې او خپله رتبه لا لوړه کړې، نو حاصل يې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! څرنګه چې تاته د هجرت او جلا وطنۍ مشکلات مخې ته درتلونکي دي نو د خپلې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



حوصلې غښتلو او زغم زیاتولو دپاره لاندې وصایا په نظر کښې ونیسه:

۱ـ د هرڅه څخه وړاندې خپل لمونځونه ودروه او مداومت ورباندې وکړه، ستا د لمونځونو سلسله د لمر د زوال څخه پیل کېږي آن تردې چې شپه ښه تیاره شي، دغه په څلورو لمونځونو باندې مشتمل وخت دی چې د ماسپښین، مازدیګر، ماښام، ماسخوتن د لمونځونو دپاره ټکښې وختونه ټاکلي شوي دي.

په دغو څلورو لمونځونو باندې علاوه د سهار لمونځ هم ښه په کلکه په ښو باندې ودروه چې د اوږده جهري قرائت درلودونکی دی، په دغه لمانځه کښې امتیاز دا دی چې د همدغه لمانځه په وخت کښې پرښتې حاضرېږي چې د الله ﷻ د فیوضاتو څخه نمایندګي کوي.

لنډه دا چې په لمونځونو باندې د غمونو زغم پیاوړی کړه، لمونځونه خو بل شی نه دی بلکې د الله ﷻ ذکر دی او د الله ﷻ په ذکر باندې زړونه اطمنان او ډاډینه موندونه کوي.

۲ـ همدارنګه (ای پیغمبره!) د شپې څه برخې هم په قرآن کریم او د لمونځونو په قیام باندې رڼې کړه او خپل ځان پرې بې خوبه کړه، چې دا کار هم ستا د حوصلې د غښتلو دپاره ډېره ښه ذریعه ده. یا په بل عبارت: د شپې لمونځونه ستا دپاره د هغو لمونځونو څخه اضافه دي کوم چې په تاباندې پنځه وخته فرض شوي دي.

۳ـ ای پیغمبره! خپل رب ﷻ تاته تمه درکوي چې د قیامت په ورځ به تا په یوه ستایلي شوي مقام کښې ودروي چې هرڅوک به یې ستاینه کوي او ستا څخه په غیر به بل هیڅا ته ورنه کړی شي، نو د مشکلاتو د زغملو دپاره د دغه مقام تذکر هم تاته ګټور تمامېږي.

۴ـ ای پیغمبره! د سفر په وخت کښې خپل رب ﷻ ته سوالونه کوه چې: ای ربه! ما خپل هجرت ځای ته په غوره داخلولو سره ورداخل کړې، او د دښمنانو څخه مې په امان کښې وساتې (هلته مې په خیر او خیرت سره ورسوي).

۵ـ او دا سوال هم کوه چې: ای ربه! د خپل هجرت ځای څخه مې په غوره ویستلو سره راوباسې چې د دین د ښمنان تعقیب کړم او د دوی د نابودولو دپاره راووځم.

ای ربه! زما دغه کمزوري ختمه کړې چې د شپې په تیاره کښې د کوره وویستلی شوم او په غار کښې پنا اخستلو ته مجبور کړی شوم. ای ربه! ماته د همدغه غرض د لاس ته راوړلو دپاره ښه غښتلی قوت راوبښه او ډېر کومکیان راته پیدا کړه.

۶ـ ای پیغمبره! دغه مخې ته درتلونکی سفر څه عادي سفر نه دی بلکې په دې سفر سره د حق د غلبې او د باطل د نابودۍ ډېره اینبودله کېږي، ته به په خپلو سترګو باندې ډېر ژر وګورې چې حق د باطل کور څنګه ورانوي او څنګه یې پوپنا کوي.

څرنګه چې دا کار بالکل ستا د رب ﷻ سره فیصله شوی کار دی نو د همدا نن څخه دا خبره کوه چې: دغه دی حق راغی او باطل له منځه لاړ او بې شکه باطل په نن سبا کښې نابودېدونکی او له منځه تلونکی دی.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۷_ ای پیغمبره! مونږ تاته هغه شی درنازلوو چې په هغه کښې د هر ډول امراضو شفاء نغښتې ده، او هم د ټولو مؤمنانو دپاره په دنیا او آخرت کښې رحمت او مهرباني ده، چې دغه شی د قرآن کریم څخه عبارت دی۔ نو تاته په کار دي چې د همدغه قرآن کریم په ایتونو باندې خپل ځان د بې صبرۍ د مرض څخه بچ وساتې او هم خپل امت ته په همدې باندې توصیه وکړې.

په دې قرآن کریم باندې د خپلو عاداتو او خاصیتونو اصلاح هغه کسان کوي کوم چې په همدې قرآن کریم ایمان لري، او یقین لري چې ارشادات یې واقعیت لري، هرڅوک چې ظالمان دي او عقیده پرې نه لري هغوی ته قرآن کریم په زیان تمامېږي، هغوی ته یې ارشادات دروغین برېښي، او د کفر عقیده یې وریاندې لا قوي کېږي.

۸_ ای پیغمبره! چې د مشکلاتو د درمخې کېدلو په وخت کښې د کمزوري انسان د خاصیتونو څخه خپل ځان په ځنګ وساته، هغه دا چې:

الف: کله چې مونږ په کمزوري انسان باندې انعام وکړو او خوشالۍ ورپه برخه کړو نو سمدستي زمونږ د ارشاداتو څخه اعراض کوي او خپل ځان ترې یو طرف ته کوي (ناشکري ته ملا تړي).

ب: او کله چې ورته بدي او سختي ورسېږي نو سمدستي نااُمیده کېږي او خیال کوي چې مونږ به یې مشکل حل نه کړو او د سختیو څخه به نجات ورنه کړو.

بلکې ته زمونږ په نعمتونو باندې شکر ګذار اوسه او په مشکلاتو کښې مونږ ته اُمید کوه چې نجات به درکړو.

۹_ ای پیغمبره! په آخر کښې خپل ټول امت ته اعلان وکړه او ورته ووایه چې: په دنیا کښې هرڅوک د خپل مذهب او د خپلې طریقې مطابق عمل کوي، د همدې کبله قرآن کریم د مؤمنانو دپاره رحمت او شفاء ده او د کفارو دپاره زیان او تاوان دی، چې د مؤمنانو طریقه په قرآن کریم باندې باور او عقیده ده او د کفارو ورباندې کفر او انکار دی.

نو داسې ورځ راتلونکې ده چې د هرچا سره د هغه د عمل او کړنلارې مطابق چال چلند وکړی شي او دا خکه چې ستا رب ﷻ ډېر ښه پوهېږي چې د لارې د حیثه څوک ښه هدایت درلودونکی دی او څوک نه دی.

## توضیحات

۱_ لکه چې الله ﷻ ټولو مؤمنانو ته توصیه کړې ده چې: ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱسْتَعِينُوا۟ بِٱلصَّبْرِ وَٱلصَّلَوٰةِ ﴾ [البقرة:۱۵۳] ای هغو کسانو کومو چې ایمان راوړی دی! تاسو (په مشکلاتو کښې) په صبر او لمانځه سره (د الله ﷻ څخه) کومک وغواړئ؛ همدارنګه یې خپل پیغمبر ﷺ ته د هجرت د نژدېکت په وخت کښې د لمانځه په ودرولو باندې ارشاد کړی دی چې: ﴿ أَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ ﴾ لمونځ ودروه (ودرولو ته یې ادامه ورکړه) ترڅو د لمانځه په برکت مشکلات حل او فصل شي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د دُلوک او غَسَق معناوې

۲_ په ﴿ أَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِدُلُوكِ ٱلشَّمْسِ إِلَىٰ غَسَقِ ٱلَّيْلِ ﴾ کښې لاندې تحقيقات په نظر کښې ساتل په کار دي:

الف: ټول مفسرين کرام متفق دي چې دَلته د ﴿ ٱلصَّلَوٰةَ ﴾ څخه فرضي لمونځونه مطلب دي[۱].

ب: په ﴿ لِدُلُوكِ ٱلشَّمْسِ ﴾ کښې دِ "لِ" توری د توقيت دپاره دی چې د وخت په بيان باندې دلالت کوي او مونږ ترې په "بَعْد" سره تعبير کوو، يعنې د لمر د دُلوک څخه وروسته[۲].

ج: د "دُلُوك" د کلمې اصلي توری (د، ل، ک) دی، او په عربي لغت کښې چې دِ هرې يوې کلمې لومړنی توری "د" وي او دوهم توری يې "ل" وي نو د هغې په معنی کښې به انتقال شامل وي، برابره خبره ده چې دريم توری يې هر توری وي[۳].

د همدې کبله ځينې خلک نايي (سرخريونکي) ته دلاک _لکه "غلام"_ وايي چې د "دالک" مبالغه ده، يعنې هغه څوک چې د سر د خوشتولو او موړلو دپاره خپل لاس د سر د يوې برخې څخه بلې برخې ته انتقالوي.

نو په دې مقام کښې "دُلُوكِ الشَّمْس" په دوه وو معناوو باندې تفسير شوی دی[۴]: يو د لمر زوال چې د نصف النهار د دائرې څخه انتقال وکړي او ورځ د نيمايي څخه واوړي، او بل د لمر غروب چې د افق د دائرې څخه ښکته شي او ولوېږي.

مګر لومړني تفسير چې د عبد الله بن عباس او نورو صحابه کرامو ﷺ څخه روايت شوی دی د لاندې وجوهو د کبله بهتر برېښي:

اول: په دې تفسير سره ايت شريف پنځو واړو لمونځونو ته شاملېږي چې د ماسپښين، مازديګر، ماښام او ماسخوتن لمونځونه په ﴿ لِدُلُوكِ ٱلشَّمْسِ إِلَىٰ غَسَقِ ٱلَّيْلِ ﴾ کښې داخلېږي او د سبا لمانځه ته خو په ﴿ وَقُرْءَانَ ٱلْفَجْرِ ﴾ سره اشاره شوې ده. اما که "دُلوك" په غروب سره تفسير شي نو ايت شريف د ماسپښين او مازديګر (دوه وو لمونځونو) د ذکر څخه ساکت پاتې کېږي او پوره واضحه ده چې بيان خو د عدم بيان څخه بهتر دی.

دوهم: په نبي کريم ﷺ باندې د معراج په شپه پنځه لمونځونه فرض کړی شوه، اما وختونه يې لا ورته نه وه ښودلي شوي، د همدې کبله نبي کريم ﷺ د معراج د شپې د سهار څخه لمونځونه پيل نه کړه بلکې د همدغې ورځې د ماسپښين څخه يې پيل کړه[۵] چې الله ﷻ ورته د جبرائيل امين ﷺ

---

(۱) المحرر الوجيز ج۱۰ ص۳۳۲
(۲) تفسير القاسمي ج۱۰ ص۲۵۹
(۳) روح المعاني ج۱۵ ص۱۳۷
(۴) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۲۰۶
(۵) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۲۰۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وروستاوه او دوه ورځې یې ورته د پنځو واړو لمونځونو تعلیمي امامت وکړ[۱]، چې یوه ورځې یې ټول لمونځونه په اولو وختونو کښې ورته اداء کړه او دوهمه ورځ یې ورته ټول په آخرو وختونو کښې اداء کړه چې د دغو دواړو وختونو په منځکښې ستا د لمونځونو وختونه دي.

نو مناسبه ده چې د ایت شریف دپاره هغه تفسیر غوره وګڼلی شي د کوم سره چې ذکر شوی تعلیمي امامت مطابقت ولري، چې د ماسپښین څخه پیل شي او ټولو لمونځونو ته شامل شي.

ج: د ﴿ غَسَقِ ٱلَّيۡلِ ﴾ کلمه د شپې د تیارې د شدت څخه عبارت ده[۲].

نو د معنی حاصل یې داسې راځېژي چې: ای پیغمبره! خپل لمونځونه د لمر د زوال څخه د ماسپښین په لمانځه پیل کړه او آن په نیمې تېرې شپې کښې یې د ماسخوتن په لمانځه باندې ختم کړه.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې: ایا د ذکر شوي ایت شریف څخه دا نه معلومېږي چې د دغو څلورو لمونځونو ترمنځ د وخت تخصیص نشته بلکې د زوال څخه نیولې آن د تېرې شپې پورې د هر یوه لمانځه اداء کول جائز دي، یا په بل عبارت: جائزه ده چې سړی د ماسپښین لمونځ مثلاً د غروب څخه وروسته اداء کړي؟

مونږ وایو چې: دغه اجمال خو یو خل الله ﷻ د اشارې په توګه پورته کړی دی چې: ﴿ إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ كَانَتۡ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ كِتَٰبٗا مَّوۡقُوتٗا ﴾ [النساء:۱۰۳] یعنې یقیناً لمونځ چې دی په مؤمنانو باندې (فرض) دی په ټاکلو وختونو سره (وخت په وخت). بیا نبي کریم ﷺ په قولي او فعلي احادیثو سره په مفصله توګه ذکر شوی اجمال تفسیر کړی دی لکه چې په کتابونو کښې تفصیلوار روایت شوی دی[۳]. لنډه دا چې د لمونځونو اوقات او د رکعتونو شمېره د جبرائیل ﷺ په امامت سره ـ لکه چې لږ وړاندې ورته اشاره شوې ده ـ او د نبي کریم ﷺ په ارشاداتو سره په اثبات رسېدلې ده.

پاتې شوه د بین الصلاتین د جمعې مسئله، نو هغه د دې ایت شریف سره چندان ارتباط نه لري نو مونږ څخه دلته مطرحه نه کړه، که څوک پکښې د تحقیق او تدقیق اراده لري نو څېنو اوږدو کتابونو[۴] ته دې مراجعه وکړي چې د الله ﷻ په توفیق به یې پرې سر خلاص شي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۴ـ که څوک وایي چې: ﴿ وَقُرۡءَانَ ٱلۡفَجۡرِ ﴾ خو په ﴿ ٱلصَّلَوٰةَ ﴾ باندې عطف دی چې د معنی حاصل یې داسې راځېژي چې ای پیغمبره! د سبا قرآن کریم ودروه؛ نو پوښتنه دا ده چې د سبا یا سهار د قرآن کریم درول څه معنی؟

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۴۵۷؛ جامع الترمذي ج۱ ص۳۸
(۲) مفردات الراغب ص۳۷۳
(۳) صحیح مسلم ج۱ ص۲۲۱؛ جامع الترمذي ج۱ ص۳۸
(۴) شرح معاني الآثار ج۱ ص۱۱۹؛ روح المعاني ج۱۵ ص۱۳۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وايو چې: په دې مقام کښې د ﴿ قُرْءَانَ ﴾ کلمه د قرائت په معنی سره ده[۱] او څرنګه چې قرائت د لمانځه يو رکن او جزء دی نو د ټول لمانځه څخه د مجاز په توګه په قرائت سره تعبير شوی دی، لکه چې په ﴿ وَٱرْكَعُواْ مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ﴾ [البقرة:۴۳] کښې ترې په رکوع سره او په ﴿ وَقُومُواْ لِلَّهِ قَٰنِتِينَ ﴾ [البقرة:۲۳۸] کښې ترې په قيام سره تعبير شوی دی.

## د سهار لمونځ مشهود دی

۵ـ الله ﷻ په ﴿ إِنَّ قُرْءَانَ ٱلْفَجْرِ كَانَ مَشْهُودًا ﴾ کښې د سهار لمانځه ته د "مَشْهُود" لقب ورکړی دی چې د نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې دغه لقب ډېر ښه تفسير شوی چې فرمايلي يې دي: «يَتَعَاقَبُونَ فِيكُمْ مَلَائِكَةٌ بِاللَّيْلِ وَمَلَائِكَةٌ بِالنَّهَارِ وَيَجْتَمِعُونَ فِي صَلَاةِ الْفَجْرِ وَصَلَاةِ الْعَصْرِ»[۲] يعني په تاسو کښې د پرښتو ټولګی يو د بل په تعقيب بدلېږي رابدلېږي، چې دا ټولګی د هغو پرښتو څخه عبارت دی چې ستاسو سره په شپه کښې وي او ستاسو د اعمالو ليکنه کوي او هم ستاسو حفاظت کوي او د هغو څخه چې ستاسو سره په ورځ کښې د همدې غرض دپاره موجوديت لري، دغه دواړه ټولګي د سهار په لمانځه او د مازديګر په لمانځه کښې سره جمعه کېږي چې يو ټولګی تازه راښکته شي او بل ټولګی لا پورته شوی نه وی.

## تهجد څه معنی؟

۶ـ په ﴿ وَمِنَ ٱلَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهِۦ نَافِلَةً لَّكَ ﴾ کښې د "تَهَجُّد" کلمه اصلاً د "هُجُود" ـ لکه "قُتُول" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "هُجُود" مصدر دی او د اضدادو څخه دی، د شپې ويده کېدلو او هم د شپې بې خوبه کېدلو دواړو ته وضعه شوی دی[۳]، اما په دې مقام کښې يې دوهمه معنی مراده ده. دا د يو پلوه، او د بل پلوه د ﴿ بِهِۦ ﴾ ضمير ﴿ قُرْءَانَ ﴾ ته راجع دی چې د مجاز په توګه ترې لمونځ مراد دی، او د ﴿ نَافِلَةً ﴾ کلمه ترې حال واقع شوې ده، نو د معنی حاصل يې داسې راځېږي چې: ای پيغمبره! د شپې په څه برخه کښې د قرآن کريم په لوستلو يعني د لمانځه په اداء کولو باندې خپل ځان بې خوبه کړه په داسې حال کښې چې دغه لمونځ ستا دپاره د پنځو لمونځونو څخه اضافه دی.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۷ـ ايا د تهجد په لمونځونو کښې شرط ده چې د خوب څخه وروسته دې صورت ونيسي؟ يا په بل عبارت: که څوک ټوله شپه په عبادت باندې رڼه کړي او بالکل خوب ونه کړي ايا دغه عبادت (لمانځه) ته د تهجد لمونځ ويلی شي؟

مونږ وايو چې: په اکثرو احاديثو کښې د نبي کريم ﷺ د شپې په لمونځونو کښې د خوب سبقت

(۱) تفسير القاسمي ج۱۰ ص۲۵۳
(۲) صحيح البخاري ج۱ ص۷۹، ۴۵۷
(۳) لسان العرب ج۳ ص۴۳۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نه دي روايت شوي[١]، نو ظاهره دا ده چې ذکر شوي لمانځه ته د تهجد د لمانځه لقب ورکولی کېږي.

## سوال جواب

٨_ که څوک وايي چې: دا خبره خو واضحه ده چې د ﴿ نَافِلَةً ﴾ کلمه د زائد څخه عبارت ده څکه چې دا د "نفل" _لکه "شرف"_ څخه اشتقاقه شوې ده او "نفل" خو زيادت ته ويل کېږي[٢]، خو پوښتنه دا ده چې په کوم بنياد د شپې لمانځه ته دغه لقب ورکړې شوی دی؟

مونږ وايو چې: په دغه لقب کښې علماء کرام په لاندې دوه ګروپونو وېشلی شوي دي:

الف: ځينې وايي چې دغه لقب څکه ورکړی شوی دی چې نبي کريم ﷺ باندې د پنځو لمونځو څخه علاوه د تهجد لمونځ هم فرض وه[٣]، يا په بل عبارت: په امت باندې پنځه لمونځونه فرض دي او په نبي کريم ﷺ باندې شپږ لمونځونه فرض وه چې يو د تهجد لمونځ وه.

يعنې اى پيغمبره! د شپې څه برخه په هغه لمانځه باندې رڼه کړه کوم چې ستا د درجاتو د لوړولو دپاره ستا په فرائضو کښې زيات دی، يا په بل عبارت: شپږم فرض لمونځ هم اداء کړه.

ب: ځينې نور وايي چې د تهجد لمونځ په فرائضو کښې زيادت نه دی بلکې په فرائضو باندې زيات او علاوه دی[٤]، يعنې اى پيغمبره! علاوه په پنځو فرضو لمونځونو باندې د شپې په څه برخو کښې زيات لمونځونه هم د خپلو درجاتو د لوړولو دپاره ورکړه.

مونږ ته همدغه دوهم نظر په زړه پورې برېښي، دا څکه چې نبي کريم ﷺ د معراج په اوږده حديث شريف کښې دا هم فرمايلي دي چې: «فَفَرَضَ عَلَيَّ خَمْسِينَ صَلَاةً فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ»[٥] يعنې الله ﷻ په ما باندې په هره ورځ او شپه کښې پنځوس لمونځونه فرض کړه چې په بيا-بيا مراجعې سره الله ﷻ فضل وکړ او پنځو ته يې راټيټ کړه، مګر ثوابونه يې د پنځوسو دي څکه چې هر يو لمونځ په لسو باندې محاسبه کوي.

هو! د بعثت په اولو وختونو کښې په نبي کريم ﷺ باندې لا څه چې په صحابه کرامو ﷺ باندې هم الله ﷻ د تهجد لمونځ د سورت المزمل په لومړنيو ايتونو باندې فرض کړی وه خو تقريبًا يو کال وروسته د همدې سورت د اختتام ايت نازل شو او د ذکر شوي لمانځه فرضيت منسوخ وګرځېده، چې د قيامت تر ورځې پورې يې پنځو فرضي لمونځونو ځای ونيوه.

ذکر شوی مضمون د بي بي عايشې (أم المؤمنين رضي الله عنها) څخه په يوه اوږده حديث کښې روايت شوی دی چې: «فَصَارَ قِيَامُ اللَّيْلِ تَطَوُّعًا بَعْدَ فَرِيضَةٍ»[٦] يعنې: نو د تهجد لمونځ "قِيَامُ اللَّيْل" د فرضيت

---

(١) روح المعاني ج١٥ ص١٣٨

(٢) مفردات الراغب ص٥٢٤

(٣) تفسير ابن کثير ج٣ ص٥٤، ج٤ ص٤٣٤

(٤) زاد المسير ج٥ ص٥٤؛ احکام القرآن للجصاص ج٣ ص٢٠٧

(٥) صحيح مسلم ج١ ص٩١

(٦) صحيح مسلم ج١ ص٢٥٦؛ سنن النسائي ج١ ص٢٣٧

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



څخه وروسته صرف ثوابي (نفلي) عبادت وګرځېد.

خو د دې سره-سره چې د نبي کريم ﷺ څخه د تهجد د لمانځه فرضيت ساقط شوی وه د اهتمام څخه يې نه وه غورزولی، آن تردې چې مبارکې پښې يې د ډېر قيام د کبله وپړسېدلې. يوه ورځې ورته وويلی شوه چې: ايا په دې اندازه مشقت ګالې حال دا چې الله ﷻ درته ورانديې او ېېرته ټول ګناهونه ښنلي دي (معصوم يې ګرځولی يې)؟ نو نبي کريم ﷺ جواب ورکړ چې: «أَفَلَا أَكُونُ عَبْدًا شَكُورًا»[١] ايا نو زه شکر ګذار بنده نه شم! (زما دا عبادت د مغفرت دپاره نه دی بلکې د شکرګذارۍ دپاره دی).

## د تهجد د لمانځه د رکعتونو شمېره

٩_ د تهجد د لمانځه رکعتونه مشخص نه دي ځکه چې د نبي کريم ﷺ څخه پکښې مختلف اعداد روايت شوي دي، خو ابو عيسى عليه الرحمة وايي چې اکثر تعداد يې د وترو په شمول ديارلس (١٣) رکعته روايت شوی دی او اقل تعداد يې نهه (٩) رکعته روايت شوی دی[٢].

## سوال جواب

١٠_ که څوک وايي چې په دې کښې څه حکمت دی چې په دې مقام کښې الله ﷻ د سهار د لمانځه او هم د تهجد د لمانځه څخه په قرآن سره تعبير وکړ؟

مونږ وايو: شايد چې دا تعبير به د دې دپاره غوره کړی شوی وي ـوالله ﷻ أعلمـ ترڅو مونږ اشارةً پوه کړی شو چې د سهار او هم د تهجد په لمونځونو کښې اوږده قرائتونه ووايو ته به وايې چې دغه دواړه لمونځونه قرائتونه دي.

## يادونه

١١_ که څوک غواړي چې د احاديثو په رڼا کښې د تهجد د لمانځه څرنګوالی خپل ځان ته بنه پوره معلوم کړي نو د احاديثو په کتابونو باندې علاوه دې ځينو اوږدو تفاسيرو[٣] ته مراجعه وکړي، چې په همدې اړه يې زښت ډېر احاديث راغونډ کړي دي الله ﷻ دې ورته اجرونه ورکړي.

## محمود مقام د کوم مقام څخه عبارت دی؟

١٢_ په ﴿ عَسَىٰٓ أَن يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَّحْمُودًا ﴾ کښې د محمود مقام په تفسير کښې علماوو کرامو ډېر اوږده بحثونه کړي دي[٤] او زيات احاديث يې راغونډ کړي دي[٥]، که څوک غواړي چې له خپله نظره يې تېر کړي نو همدلته دې مراجعه وکړي، مونږ د لنډون په غرض په همدې باره کښې په

(١) جامع الترمذي ج١ ص٩٤
(٢) جامع الترمذي ج١ ص١٠٠
(٣) تفسير الخازن ج٤ ص٦٠: تفسير البغوي ج٣ ص١٢٨: تفسير المظهري ج٥ ص٤٦٨
(٤) روح المعاني ج١٥ ص١٤٠: تفسير القاسمي ج١٠ ص٦٩
(٥) تفسير ابن كثير ج٣ ص٥٥: تفسير المظهري ج٥ ص٤٧١

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لاندې وضاحتونو باندې اکتفاء کوو:

الف: نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «فَيَأْتُونِي فَأَسْجُدُ تَحْتَ الْعَرْشِ فَيُقَالُ يَا مُحَمَّدُ! ارْفَعْ رَأْسَكَ وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ وَسَلْ تُعْطَهْ»[١] يعنې کله چې د قيامت په ورځ د حشر په ميدان کښې ټول خلک راغونډ کړی شي نو د آدم ﷺ او نوح ﷺ په شمول د ډېرو پيغمبرانو عليهم السلام څخه به وغواړي چې د الله ﷻ په حضور کښې سوال او شفاعت وکړي ترڅو حساب کتاب شروع شي، خو هر يو پيغمبر به خپل اعتذار وړاندې کړي چې زه دا کار نه شم کولی، نو په پای کښې به ماته راشي چې زه به يې غوښتنه ومنم او د عرش العظيم لاندې به (خپل رب ﷻ ته د شفاعت دپاره) په سجده باندې پرېوزم، نو راته به وويل شي چې: ای محمده! خپل سر د سجدې څخه راپورته کړه او شفاعت وکړه چې شفاعت دې قبول کړی شي او سوال وکړه چې درکړی شي.

ب: د ذکر شوي حديث په يوه بل روايت کښې نبي کريم ﷺ د هغه حديث په پای کښې په کوم کښې چې ذکر شوی مضمون انځور شوی دی، دا جمله هم زياته کړې ده چې: «وَهُوَ الْمَقَامُ الْمَحْمُودُ الَّذِي قَالَ اللهُ ﷻ عَسَى أَنْ يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَحْمُودًا»[٢] يعنې دا هغه محمود مقام دی د کوم په هکله چې الله ﷻ ذکر شوی ايت شريف نازل کړی دی.

ج: همدارنګه عبد الله بن عمر ﷺ وايي چې: «إِنَّ النَّاسَ يَصِيرُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ جُثًا كُلُّ أُمَّةٍ تَتْبَعُ نَبِيَّهَا يَقُولُونَ يَا فُلَانُ اشْفَعْ يَا فُلَانُ اشْفَعْ حَتَّى تَنْتَهِيَ الشَّفَاعَةُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَلِكَ يَوْمَ يَبْعَثُهُ اللهُ الْمَقَامَ الْمَحْمُودَ»[٣] يعنې يقيناً د قيامت په ورځ به خلک ډلې-ډلې شي، هر ټولګی به د خپل پيغمبر پلټنه کوي او ورته به وايي چې: ای فلانيه! شفاعت وکړه، ای فلانيه! شفاعت وکړه چې حساب کتاب شروع شي، خو هر يو به منفي جواب ورکوي آن تر دې چې د شفاعت د غوښتنې خبره به نبي کريم ﷺ ته ورسېږي نو نبي کريم ﷺ به شفاعت وکړي او حساب کتاب به شروع شي، دغه هغه ورځ ده چې الله ﷻ به نبي کريم ﷺ په داسې مقام کښې ودروي او داسې لويه رتبه به ورکړي چې د محشر ټول خلک به يې ستاينه کوي.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۱۳ـ که څوک وايي چې: د ذکر شوو احاديثو څخه څرګندېږي چې شفاعت کبری (لوی شفاعت) به يقين سره نبي کريم ﷺ ته ورکول کېدونکی دی، حال دا چې په ايت شريف کښې د ﴿ عَسَىٰٓ ﴾ کلمه نازله شوې ده چې يقين ترې نه فهمېږي بلکې په تمه (أميد) باندې دلالت کوي؟

مونږ وايو چې: د "عَسَىٰ" او همدارنګه د "لعل" دواړه کلمې د تمې ورکولو دپاره دي مګر کله يې چې الله ﷻ د خپل اقدس ذات د پلوه استعمال کړي نو هلته په يقين باندې دلالت کوي، ځکه چې

---

[١] صحيح البخاري ج١ ص٤٧٠
[٢] جامع الترمذي ج٢ ص١٤٧
[٣] صحيح البخاري ج٢ ص٦٨٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چاته تمه ورکول او بیا پرې وفا نه کول د غولونې معنی لري او الله ﷻ د غولونې او نورو ټولو نواقصو څخه پاک او منزه دی، نو په همدې بنیاد په کوم مضمون باندې چې ایت شریف دلالت کوي عین مضمون په احادیثو کښې منعکس شوي دي او څه مخالفت پکښې نشته.

## د مُدخَل او مُخرَج معناوې

۱۴ـ په ﴿وَقُل رَّبِّ أَدْخِلْنِي مُدْخَلَ صِدْقٍ وَأَخْرِجْنِي مُخْرَجَ صِدْقٍ﴾ کښې د ﴿مُدْخَل﴾ او ﴿مُخْرَج﴾ دواړه کلمې د خپلو خپلو فعلونو دپاره میمي مصدرونه دي، چې دواړه خپلو صفتونو (صدق) ته مضافې دي چې د صادق معنی ورکوي، د دې ډول اضافت پوره شرحه د [یونس:۲] ایت لاندې تېره شوې ده. نو د معنی حاصل یې داسې راځي چې: ای پیغمبره! د همدا اوس څخه خپل رب ﷻ ته سوالونه کوه چې: ای زما ربه! کوم ځای یا کوم شي ته چې ما ننباسې په ډېر ښتیاني او خوندوره توګه مې ورننباسه او د کوم ځای یا کوم شي څخه چې ما وباسې نو په صادقه او خوشالی په ډول مې ترې وباسه.

پاتې شوه دا خبره چې هغه کوم شی او کوم ځای دی چې الله ﷻ خپل پیغمبر ﷺ ته په خیر سره هلته د ورننوېستلو او په خیر سره ترې د وېستلو غوښتل توصیه کړې دي، نو په دې کښې ځینو علماوو کرامو ته ظاهره ځرګنده شوې ده چې په عموم سره پرېښودلی شي ترڅو ټولو مواردو او ټولو ځایونو ته شامل شي[۱]، او ځینو نورو ته د ځای یا د شي تشخیص ښه ښکاره شوی دی چې په تشخیص کښې یې ګڼ شمېر اقوال کړي دي چې تقریبًا یوولسو قولونو ته رسېږي[۲] نو که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هلته دې مراجعه وکړي.

مګر مونږ ته داسې برېښي چې د مفهوم په اعتبار سره ایت شریف عام دی، ټولو مواردو ته شامل دی خو د ایتونو د سباق او سیاق (وړاندې او بېرته) په مراعات سره باید داسې تفسیر کړی شي چې:

الف: ښتیانی ادخال مدینې منورې ته په خیر سره د رسېدلو څخه عبارت دی چې: ای ربه! هلته مې په خیر سره ورسوې او کفارو ته توان ورنه کړې چې مخه مې بنده کړي او یا مې د لارې خنډ شي، او په دې باندې علاوه هلته مې د ژوند ضروریات پوره کړې او د کړاوونو څخه مې بچ وساتې.

ب: ښتیانی اخراج د مدینې منورې څخه د اسلام د ترقی دپاره او د کفارو د تعقیب دپاره د بېرته راوېستلو څخه عبارت دی چې: ای ربه! ماته هلته دومره توان راکړې او ملګري راته مونده کړې ترڅو وکړی شم چې د غزواتو سلسله جاري کړم، هسې نه چې په مدینه منوره کښې د یوه تنبتبدلي سرې په صفت بند پاتې شم.

همدا مضمون د ﴿وَٱجْعَل لِّي مِن لَّدُنكَ سُلْطَٰنًا نَّصِيرًا﴾ څخه په ډاګه ځرګندېږي، او هم په همدې مضمون باندې هغه ایت شریف هم دلالت کوي کوم چې د بدر د غزا په هکله نازل شوی دی چې:

---

(۱) المحرر الوجيز ج۱۰ ص۳۳۷
(۲) زاد المسير ج۵ ص۵۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿كَمَآ أَخۡرَجَكَ رَبُّكَ مِنۢ بَيۡتِكَ بِٱلۡحَقِّ﴾ [الأنفال:۵] يعني د غنيمت مالونه ستاسو په مېړانه لاس ته نه دي درغلي څکه چې: اى پيغمبره! ته خو له خپله كوره پرته له شكه فقط خپل رب ﷻ د بدر د غزا په لور وروېستلى وې او بس، بل هيڅوا ورته نه وې هڅولې.

## د تسلي دپاره يو بل خارق العاده

۱۵ـ په ﴿وَقُلۡ جَآءَ ٱلۡحَقُّ وَزَهَقَ ٱلۡبَٰطِلُ﴾ كښې د ﴿زَهَقَ﴾ كلمه د "زهوق" ـ لكه "قتول" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "زهوق" بطلان او نابود كېدلو نه ويل كېږي[۱].

الله ﷻ خپل پيغمبر ته په داسې حال كښې ذكره شوې جمله توصيه كړه چې د ډېرې كمزورۍ د كبله د مكې معظمې څخه د شړلو په حال كښې وه او كفارو ورته تصميم نيولى وه چې كفر ته غلبه وركړي او حق په ابدي توګه له منځه لاړ او نابود شي.

ته به وايې چې په ذكره شوې توصيه باندې نبي كريم ﷺ ته الله ﷻ تسلي او ډاډينه وركړې ده چې همدا د نن څخه د حق د غلبې ډېره كېښودله شوه، او داسې يې وګڼله لكه چې دا كار انجام شوى وي او كفر بالكل له منځه تللى وى.

الله ﷻ خپله خارق العاده وعده رښتيا كړه كله چې مكه معظمه فتحه شوه، حال دا چې د كعبې شريفې په شاوخوا كښې درې سوه او شپېته (۳۶۰) بوتان د عبادت په غرض درول شوي وه، نو نبي كريم ﷺ هر يو بوت په وړوكي لرګي څوخاوه او دا كلمات يې په خوله وه چې: ﴿وَقُلۡ جَآءَ ٱلۡحَقُّ وَزَهَقَ ٱلۡبَٰطِلُۚ إِنَّ ٱلۡبَٰطِلَ كَانَ زَهُوقٗا﴾[۲] يعني دغه ده الله ﷻ خپله وعده رښتيا كړه، حق راغى او غالب شو او باطل نابود شو او له منځه لاړ، يقيناً باطل (كفر) له منځه تلونكى دى تقرر نه لري.

## يو نحوي تحليل

۱۶ـ په ﴿وَنُنَزِّلُ مِنَ ٱلۡقُرۡءَانِ مَا هُوَ شِفَآءٞ﴾ كښې د "مِنْ" د توري په ارتباط لاندې دوه احتماله ممكن دي:

الف: چې د "ما" د توري دپاره مقدم بيان واقع شي[۳]، نو د معنى حاصل به يې داسې راوخېژي چې: او مونږ هغه شى نازلوو كوم چې د مؤمنانو دپاره شفاء او رحمت دى چې هغه د قرآن كريم څخه عبارت دى، چې ټول روحي امراض پرې لرې كېږي او عقيده پرې تصحيح مونده كوي، او هم يې په تلاوت كښې اجرونه دي او عمل پرې د الله ﷻ د رضامندۍ حاصلولو لويه ذريعه ده، او د ژوند نظام پكښې نغښتى دى.

ب: چې د "من" توري د تبعيض دپاره شي[۴]، په دې معنى نه چې د قرآن كريم ځيني ايتونه شفاء

---

(۱) لسان العرب ج۱۰ ص۱۴۷
(۲) صحيح البخاري ج۲ ص۶۸۶
(۳) حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۳ ص۲۳۸
(۴) تفسير ابي السعود ج۵ ص۱۹۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او رحمت دي او ځينې شفاء او رحمت نه دي بلکې په دې معنی چې په هر کرت نزول کښې مونږ د قرآن کريم څخه شفاء او رحمت نازلوو، چې د مؤمنانو دپاره د قلبي ناروغيو علاج دی او عمل کول ورباندې د دنيا او آخرت خوشالي ده.

## يادونه

۱۷ـ په دې مقام کښې ځينو مفسرينو کرامو دا خبره هم مطرحه کړې ده چې قرآن کريم د جسماني امراضو دپاره هم شفاء دی[۱]، مګر مونږ په داسې حال کښې چې د همدغې خبرې رد نه کوو بلکې يقين ورباندې لرو وايو چې دلته يې مطرح کول د ﴿ وَلَا يَزِيدُ ٱلظَّٰلِمِينَ إِلَّا خَسَارًا ﴾ سره په زړه پورې پيوند نه اخلي، او دا ځکه چې د دې جملې په لحاظ سره يې د معنی حاصل داسې راځي چې قرآن کريم د روحي امراضو دپاره شفاء ده مګر د کفارو دپاره روحا وژونکي زهر دي.

## شاکلة څه معنی؟

۱۸ـ په ﴿ قُلْ كُلٌّ يَعْمَلُ عَلَىٰ شَاكِلَتِهِۦ ﴾ کښې د "شَاكِلَة" کلمه د "شَكْل" ـ لکه "ضَرْب" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، د "شَكْل" کلمه اصلاً د يوه څاروي ترلو او بندولو ته وضعه شوې ده[۲]، څېرې او هيئت ته ځکه شکل وايي چې هرڅوک په خپلې څېرې سره د نورو څخه جدا کېږي، ته به وايې چې په څېره باندې ترلی شوی دی چې څوک ورسره پکښې ګډون نه شي کولی.

د "شَاكِلَة" کلمه په دې مقام کښې علماوو کرامو په خط السير او مذهب او هم په خوی او عادت سره تفسيره کړې ده؛ نو د معنی حاصل يې داسې راځي چې: هرڅوک په هغې لارې باندې روان دی کومه چې ورته ښه او حقه برېښي، يا په بل عبارت: هر چاته خپله تګلاره او خپل مذهب حق ښکاره کېږي، مګر حقيقت دغسې نه دی بلکې حقه لاره هغه ده کومه چې ستاسو رب ﷻ نازله کړې ده نو د حقې لارې خاوند همدی ﷻ دی ښه پېژني او بس.

﴿ وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلرُّوحِ ۖ قُلِ ٱلرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّى وَمَآ أُوتِيتُم مِّنَ ٱلْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٨٥﴾ وَلَئِن
شِئْنَا لَنَذْهَبَنَّ بِٱلَّذِىٓ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ بِهِۦ عَلَيْنَا وَكِيلًا ﴿٨٦﴾ إِلَّا رَحْمَةً
مِّن رَّبِّكَ ۚ إِنَّ فَضْلَهُۥ كَانَ عَلَيْكَ كَبِيرًا ﴿٨٧﴾ قُل لَّئِنِ ٱجْتَمَعَتِ ٱلْإِنسُ وَٱلْجِنُّ عَلَىٰٓ
أَن يَأْتُوا۟ بِمِثْلِ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانِ لَا يَأْتُونَ بِمِثْلِهِۦ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا ﴿٨٨﴾
وَلَقَدْ صَرَّفْنَا لِلنَّاسِ فِى هَٰذَا ٱلْقُرْءَانِ مِن كُلِّ مَثَلٍ فَأَبَىٰٓ أَكْثَرُ ٱلنَّاسِ إِلَّا كُفُورًا ﴿٨٩﴾ ﴾

---

(۱) التفسير الکبير ج۲۱ ص۳۴؛ تفسير القاسمي ج۱۰ ص۲۷۷؛ روح المعاني ج۱۵ ص۱۴۵
(۲) مفردات الراغب ص۲۷۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۸۵] او (ای پیغمبره!) کفار ستا څخه د روح په هکله پوښتنه کوي (چې حقیقت يې څه شی دی)، (دوی ته) ووایه چې روح زما د رب ﷻ د فرمان څخه (موجود شوی) دی (د ده ﷻ يو مخلوق دی) او تاسو (ټولو انسانانو) ته د علم څخه نه دی درکړی شوی مگر لږ (چې د روح حقیقت پرې نه شئ پېژندلی).

[۸۶] او (ای پیغمبره!) ضرور که زمونږ اراده وشي نو خامخا هغه شی (قرآن کریم) به یوسو کوم چې مونږ تاته وحې کړی دی (بالکل به يې د سینو څخه وباسو او د صحیفو څخه به يې محوه کړو) بیا به نه د خپل خان دپاره پرې په مونږ باندې (څوک) کارساز مونده نه کړې (چې بېرته يې درپه یاد کړي).

[۸۷] مگر ستا د رب ﷻ د رحمت د کبله (يې نه درڅخه هېروو او نه يې محوه کوو)، یقیناً چې په تاباندې د خپل رب ﷻ فضل ډېر لوی دی.

[۸۸] (ای پیغمبره! کفارو ته) ووایه چې: که (بالفرض) ضرور بنیادمان او پیریان (چې د سرکشۍ استعداد پکښې شته دی) په دې باندې راټول شي (او قصد وکړي) چې د دغه قرآن کریم مثل (همرنگې کتاب) راوړي نو په مثل سره به يې راتګ ونه شي کړی (جوړ به يې نه کړی شي)، که څه هم د دوی ځینې کسان ځینو نورو ته قوت ورکوونکي (او په اخلاص سره مددکوونکي) وي.

[۸۹] او ضرور بې شکه مونږ د خلکو دپاره په دغه قرآن کریم کښې د هر ډول مثال (او استدلال) څخه بیا-بیا بیان کړی دی، خو اکثره خلک اباء (منعه) کوي مگر د ناشکرۍ څخه (اکثریت يې ناشکران دي).

## ارتباطونه

۱ـ وړاندېني ایتونه په دې تمام شوي وه چې هر څوک په خپل نظر او په خپل صواب دید باندې عمل کوي او په دې ایتونو کښې د همدې مطلب څه مثالونو ته اشاره شوې ده، چې ځینې خلک د روحي امراضو په هکله نه بلکې پخپله د روح په هکله پوښتنه کوي چې هیڅ اړتیا ورته نه لري، او ځینې خلک د خپل روح په هکله نه بلکې د روحي امراضو په ارتباط خپل ځانونه پوه کوي چې په دنیا او آخرت کښې ورته په ګټه تمامېږي.

۲ـ هلته دا مضمون هم شامل وه چې قرآن کریم د مؤمنانو دپاره شفاء او رحمت دی او د کفارو دپاره خساره (تاوان) زیاتوونکی دی، دلته په همدې مطلب باندې د قرآن کریم د اعجاز حجت او دلیل اقامه کړی شوی دی چې حاصل يې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

۱ـ ای پیغمبره! له دې کبله چې خلک د قرآن کریم په نسبت په دوه وو ګروپونو باندې وېشلی شوي دي:

الف: د یوې ډلې صواب دید او خط السیر دا دی چې قرآن کریم ته د یوه اسماني کتاب په نظر ګوري او په تاباندې د یوه حقاني پیغمبر عقیده لري، نو د دوی دپاره د قرآن کریم هر یو ایت شفاء ده

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې د روحي امراضو څخه پرې بچ کېږي او د شيطاني اشتباهاتو مخه يې پرې نيوه کېږي، او هم ورته رحمت دى چې په تعميل سره وربانديې خپله دنيا او خپل آخرت روښانه ګرځوي، او بالآخره ستا څخه د تعميل په غرض په ضرورياتو کښې پوښتنې کوي او بس.

ب: بله ډله خلک (چې د کفارو څخه عبارت دي) په هغې تګلاره باندې روان دي کومه چې په دنيا او آخرت دواړو کښې ورته په نقصان تماميږي، دوی قرآن کريم ته د شک په نظر ګوري او ته ورته د الله ﷻ پيغمبر نه برېښې، نو د همدې کبله ستا څخه د داسې شيانو پوښتنې کوي چې د هغو جوابونو ته دوی ضرورت نه لري، بلکې د عناد څخه منشأ اخلي. مثلاً ستا څخه پوښتنه کوي چې روح څه شى دی؟ او داسې درته نه وايي چې روحي امراض په شي باندې اصلاح کېږي او دارو درمل يې په څه شي باندې صورت نيسي؟

نو اى پيغمبره! ته دغو عنادي سوال کوونکو ته لنډ جواب ورکړه چې:

اول: روح خو زما د رب ﷻ د اوامرو څخه يو امر دى او د ده ﷻ د مخلوقاتو څخه يو مخلوق دى، ترڅو پورې چې دغه امر او دغه شى په بدن کښې موجوديت ولري نو سړى ژوندى وي او کله چې د بدن څخه بهر شي نو سړى مړ شي.

دوهم: که تاسو له دې څخه اضافه معلومات غواړئ چې حقيقت يې څه شى دى نو تاسو پرې د پوهېدلو توان نه لرئ، ځکه چې د روح په حقيقت باندې د پوهېدلو دپاره لوى علم او لوى استعداد په کار دى چې دا تاسو ته نه دی درکړې شوی بلکې تاسو ته ډېر لږ علم درکړې شوی دی چې فقط خپل ضروريات وربانديې پوره کړئ او خپله چاله وربانديې روانه کړئ، او په روح باندې پوهېدل ستاسو د ضرورياتو څخه نه دي.

۲ـ اى پيغمبره! که کفار خپله ذکره شوې تګلاره بدله کړي او د عنادي پوښتنو څخه لاس واخلي نو ضرور به قرآن کريم د دوی دپاره هم شفاء او رحمت جوړ شي، ځکه چې قرآن کريم پخپله په خپل ځان باندې شاهدي اداء کوي چې په حقه د الله ﷻ د پلوه نازل شوی دی، او دا ځکه چې:

الف: که بالفرض قرآن کريم حقاني کتاب نه وی او ته حقاني پيغمبر نه وی نو هيڅ کله به ته نه وی توانېدلی چې يوه ايت يا يوه سورت ته دې په خپل زړه کښې ځاى ورکړی وی، لکه چې د بعثت څخه وړاندې تا دغه کار نه شو کولی.

ب: نو ستا په ژبه باندې د قرآن کريم تلاوت يو دليل دی چې دا حقاني کتاب دی او ستا په سينه کښې يې تقرر نيول بل دليل دی چې الله ﷻ په حقه نازل کړی دی.

نو که بالفرض زمونږ اراده وشي او مونږ وغواړو نو همدغه قرآن کريم به (چې مونږ تاته وحې کړی دی) ستا د سينې څخه بهرته وباسو لکه څنګه يې چې د بعثت څخه وړاندې ستا په سينه کښې موجوديت نه درلود، نو دا کار به وکړو، خو په دغه وخت کښې به ته هيڅوک د خپل ځان دپاره مونده نه کړې چې زمونږ په ضد کار وکړی شي او قرآن کريم بېرته ستا سينې ته درتاو کړي (ستا کارسازي وکړي)، مګر دغه کار به يوازې او يوازې ستا د رب ﷻ په رحمت او فضل سره صورت

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نیسي او بس، نو پوره څرګنده شوه چې (ای پیغمبره!) په تاباندې د خپل رب ﷺ فضل ډېر لوی او عظیم الشان دی چې د یو پلوه یې دربانديې قرآن کریم درنازل کړ او د بله پلوه یې ورته ستا په سینه کښې تقرر او ځای ورکړ.

ج: ای پیغمبره! لکه څنګه چې د قرآن کریم د یوه ایت یا یوه سورت د جوړلو څخه ته عاجز وې او عاجز یې، همدارنګه ترې ټول مخلوقات په عجز او ناتوانۍ کښې وه او دي. نو که بالفرض ټول انسانان او ټول پیریان د دې دپاره راغونډ شي چې د دغه قرآن کریم مقابله وکړي نو دوی به ونه توانېږي او مثل به یې رانه وړلی شي، که څه هم دوی ټول سره لاس یو کړي او یو تربله سره په ډېر اخلاص کومک او یو د بل تائید وکړي.

۳ـ ای پیغمبره! وګوره چې مونږ په واقعي توګه په دغه قرآن کریم کښې د همده د حقانیت د اثبات دپاره بیا-بیا په هر ډول اسالیبو کښې بیان کوو او په ډول-ډول مثالونو کښې یې درته واضحه کوو مګر اکثره خلک خپله تګلاره نه بدلوي او د دغه لوی رحمت شکریه نه کوي، بلکې په بیا-بیا بیان باندې یې ناشکري لا اضافه کېږي او د حسد او کینې اورونه یې په زړونو کښې لا تازه کېږي، او خصاره او تاوان یې پرې لا زیاتېږي.

## توضیحات

۱ـ د ﴿ وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلرُّوحِ ﴾ په مرفوع ضمیر کښې دوه ډوله توجیهات روایت شوي دي، یا په بل عبارت: په دې خبره کښې چې د نبي کریم ﷺ څخه د روح پوښتنه چا کړې ده علماء کرام په لاندې دوه وو ګروپونو باندې وېشلی شوي دي:

الف: عبد الله بن مسعود ﷺ وایي چې یوه ورځې زه د نبي کریم ﷺ سره د مدینې منورې د ابادۍ څخه بهر روان وم حال دا چې نبي کریم ﷺ د خرما د ونې په یوه خاخ باندې تکیه کوله (د همسا کار یې ترې اخست) په عین وخت کښې د یهودانو په ټولګي باندې تېر شو نو هغوی یو تربله سره وویلې چې تاسو د ده څخه د روح په هکله پوښتنه وکړئ.

د همدې ټولګي څخه ځینو کسانو ځینو نورو ته مخ ور واړاوه چې پوښتنه ترې مه کوئ، هسې نه چې داسې جواب درکړي چې هغه ستاسو خوښ نه وي. مګر نورو ټینګار وکړ چې ضرور به ترې پوښتنه کوو، نو د همدوی څخه یو سړی ودرېده او وې ویلې چې: ای ابا القاسمه! روح څه شی دی؟، «فَسَكَتَ فَقُلْتُ إِنَّهُ يُوحَى إِلَيْهِ فَقُمْتُ فَلَمَّا انْجَلَى عَنْهُ فَقَالَ ﴿ وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الرُّوحِ ﴾ (الآية)»[1] نو نبي کریم ﷺ سکوت وکړ، نو ما له خپله ځانه سره وویلې چې یقیناً وحې پرې نازلېږي نو زه ودرېدم، نو کله چې د وحې حالت د نبي کریم ﷺ څخه لرې شو نو ذکر شوی ایت شریف یې ولوست.

ب: زښتو ډېرو مفسرینو کرامو لیکلي دي[2] چې یو ځل د مکې معظمې مشرکانو د مدینې

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۲۴
(۲) تفسیر البغوي ج۳ ص۱۳۴؛ اسباب النزول للواحدي ص۱۹۷؛ المحرر الوجیز ج۱۰ ص۳۴۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



منورې یهودانو ته یوه جرګه ورولېږله ترڅو د هغوی څخه د نبي کریم ﷺ په هکله پوښتنه وکړي چې: ایا د ده نبوت به واقعیت لري او که څنګه، تاسو خو اهل العلم یاست؟. هغوی ورته وویلې چې: تاسو ترې د درې شیانو په باره کښې پوښتنې وکړئ نو که درېواړو ته یې جواب درکړ او یا یې یوه هم جوابه نه کړه نو نوموړی پیغمبر نه دی، او که دوه وو ته یې جواب درکړ او د یوې پوښتنې د جواب څخه ساکت شو نو تاسو پوه شئ چې په حقه پیغمبر دی، درې شیان دا دي:

اول: په پخوانیو زمانو کښې یو ټولګی ځوانان ورک شوي وه د هغوی عجیبه حالات څنګه وه، په څه کیفیت ورک شوي وه او په څه کیفیت مونده شوه؟

دوهم: د هغه سړي هم څه حال شرحه کړه کوم چې د ځمکې شرق او غرب ته رسېدلی وه؟

درېم: همدارنګه مونږ ته څرګنده کړه چې روح څه شی دی؟

کله چې د یهودانو په اشاره ذکرې شوي قریشي جرګې نبي کریم ﷺ ته ذکرې شوې درې پوښتنې راجع کړې نو نبي کریم ﷺ ورته وعده ورکړه چې سباته به جواب در واورم، خو د "إنْ شَاءَ الله" کلمات یې هېر شوه.

د روایاتو په اختلاف سره دولس یا پنځلس ورځې وحې وځنډېده او نبي کریم ﷺ ډېر غمژن شو، او د مشرکانو پروپاګند وربانديې ډېر دروند تمام شو چې مونږ ته یې د جواب دپاره یوه شپه وعده راکړه او اوس دومره او دومره شپې تېرې شوې او جواب نه راکوي.

خو د ذکرو شوو شپو څخه وروسته لاندې ایتونه نازل شوه چې:

﴿ وَلَا تَقُولَنَّ لِشَاْىْءٍ إِنِّى فَاعِلٌ ذَٰلِكَ غَدًا ۝ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ ﴾ [الكهف:۲۳، ۲۴] یعني ای پیغمبره! او د هیڅ شي په باره کښې (داسې) مه وایه چې: زه سباته د دغه کار کوونکی یم، مګر هله چې متصل ورسره ووایې چې: که الله ﷻ اراده فرمایلې وي.

همدارنګه اصحاب الکهف قیصه په ﴿ أَمْ حَسِبْتَ أَنَّ أَصْحَٰبَ ٱلْكَهْفِ وَٱلرَّقِيمِ ﴾ [الكهف:۹] ایت سره پیل شوه، او په ﴿ وَيَسْـَٔلُونَكَ عَن ذِى ٱلْقَرْنَيْنِ ﴾ [الكهف:۸۳] کښې د هغه سړي حال بیان شو چې په شرق او غرب کښې ګرځېدلی وه، یا په بل عبارت: د الکهف سورت ټول نازل شو[۱].

بالآخره د روح په هکله ذکر شوی ایت شریف نازل شو چې حقیقت ورته ونه ښودل شو او په اجمالي بیان باندې یې اکتفاء وکړی شوه چې تاسو په روح باندې د پوهېدلو توان نه لرئ.

ج: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په روایت[۲] یوه ورځې قریشو یهودو ته وویلې چې مونږ ته داسې یو شی (په خوله کښې) راکړئ چې مونږ پرې د دغه سړي (نبي کریم ﷺ) څخه پوښتنه وکړو نو هغوی ورته وویلې چې د روح په هکله ترې پوښتنه وکړئ، نو کله چې قریشو د نبي کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه نو ذکر شوی ایت شریف نازل شو.

(۱) الدر المنثور ج۵ ص۳۵۷؛ تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۷۱
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۱۴۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بیا نو یهودانو اعتراض وکړ چې مونږ ته خو تورات راکړی شوی دی چې د ډېر علم پکښې نغښتې دي نو ایا دا عجیبه نه ده چې مونږ په کم علمانو کښې وشمېرلی شو؟ نو الله ﷻ نبي کریم ﷺ ته جواب ورنازل کړ چې: ﴿قُل لَّوۡ كَانَ ٱلۡبَحۡرُ مِدَادًا﴾ [الكهف: ۱۰۹] یعني ستاسو په شمول د ټولو انسانانو بلکې د ټولو مخلوقاتو علم د الله ﷻ د علم په نسبت ډېر لږ او ناچیز دی.

## تبصره

۲ـ د ذکرو شوو تشریحاتو څخه د سړي په ذهن کښې کیني چې د روح په باره کښې یهودانو دوه کرته سوال کړی دی، یو ځل په غیر مستقیمه توګه د قریشي جرګې په ذریعه او بل ځل په مستقیمه توګه په مدینه منوره کښې.

که څه هم ځینو مفسرینو کرامو لیکلي دي چې امکان لري چې ذکر شوی ایت شریف دوه ځلې نازل شوی وي، یو ځل په مکه معظمه کښې او بل ځل په مدینه منوره کښې[۱]، مګر که څوک د عبد الله بن مسعود ﷺ ذکر شوي روایت ته په ځیر سره وګوري نو پوه به شي چې ایت شریف دوه کرته نه دی نازل شوی، ځکه چې په روایت کښې د "نزلت" کلمه نشته بلکې د «فَلَمَّا انْجَلَى عَنْهُ قَالَ» کلمات روایت شوي دي، یعني کله چې د نبي کریم ﷺ څخه د وحي حالت لرې شو نو ذکر شوی ایت شریف یې ولوست، ته به وایې چې الله ﷻ به ورته وحې کړې وي چې دوی ته هغه جواب مستقیماً ورکړه کوم جواب چې تا په مکه معظمه کښې په غیر مستقیمه توګه ورکړی وه.

## دلته روح په کومه معنی سره دی؟

۳ـ په ﴿وَيَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلرُّوحِ﴾ کښې د "روح" کلمه په ژبنتو ډېرو معناوو باندې استعماله شوې ده، لکه: راحت، قوت، نصرت، قرآن، عیسی ﷺ، جبرائیل امین ﷺ او داسې نور[۲] مګر په دې کښې اختلاف دی چې په دې مقام کښې د روح کلمه په کومې معنی سره ده؟ یا په بل عبارت: په کومه معنی باندې نبي کریم ﷺ ته د روح په هکله پوښتنه راجع کړی شوې ده؟.

په دې معنی کښې علماوو کرامو زښت ډېر اقوال کړي دي چې تقریباً اوو ته رسېږي[۳] خو د جمهورو علماوو کرامو په نظر د هغه روح څخه پوښتنه شوې ده په کوم پورې چې د یوه ساکښ ژوند توقف لري. همدا نظر صحیح دی[۴] خو پوښتنه د حقیقت پېژاندلو ته متوجه ده چې مونږ ته یې حقیقت بیان کړه، مګر جواب د حقیقت په بیان سره ورنه کړی شو چې: تاسو ورباندې د پوهېدلو توان نه لرئ، تاسو ته لږ علم درکړی شوی چې خپل ضروریات پرې پوره کړئ او خپله ځاله پرې روانه کړئ؛ بلکې د روح یو حال ورته واضحه کړی شو چې روح زما د رب ﷻ د اوامرو څخه یو امر دی

---

(۱) روح المعاني ج۱۵ ص۱۵۳
(۲) لسان العرب ج۲ ص۴۶۳؛ تفسير القاسمي ج۱۰ ص۲۹۳
(۳) زاد المسير ج۵ ص۵۸، تفسير ابن كثير ج۳ ص۶۱
(۴) تفسير ابي السعود ج۵ ص۱۹۲؛ البحر المحيط ج۷ ص۱۰۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې همدی ﷻ ورباندې ډېر ښه پوهېږي، نه يې پرې بل چاته علم ورکړی دی او نه يې علم ته څوک اړتيا لري.

دغه ډول جواب ورکولو ته "الأسلوب الحکيم" ويل کېږي، يعنې د حکمت څخه ډکه طريقه. د ښه وضاحت دپاره د ذکر شوي جواب څه نظائر ولولئ:

الف: په [البقرة:۱۸۹] ايت کښې د يوه احتمال په بنياد د نبي کريم ﷺ څخه د مياشتو د تغيراتو وجوه غوښتلی شوي وه، خو الله ﷻ د کيفياتو په بيان سره جواب ورکړ چې تاسو ته مناسب دي چې د مياشتو د تغيراتو فوائدو ته متوجه شئ، نه دا چې دا تغيرات څه وجوه لري.

ب: الله ﷻ د فرعون د خولې څخه حکايت کوي چې موسی ﷺ ته يې وويلې چې: ﴿ وَمَا رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ [الشعراء:۲۳] يعنې هغه رب العالمين کوم چې ته ما هغه ته وردعوت کوې هغه څه شی دی (حقيقت يې څه دی)؟ مګر موسی ﷺ د رب العالمين ﷻ په څه اختصاصي صفاتو باندې جواب ورکړ چې: د اسمانو، ځمکو او د هغو شيانو رب دی چې د دغو دواړو ترمنځ دي.

## سوال جواب

۴_ که څوک وايي چې: د وړاندې بيان څخه واضحه شوه چې د روح موضوع د بحث دپاره (په مستقيمه او يا غير مستقيمه توګه) يهودانو مطرحه کړې وه، خو پوښتنه دا ده چې په ﴿ وَمَآ أُوتِيتُم مِّنَ ٱلْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا ﴾ کښې خطاب يوازې يهودانو ته متوجه دي او که ټول انسانان مخاطب کړی شوي دي؟

مونږ وايو چې: د ځينو مفسرينو کرامو نظر دا دی چې که څه هم يهودانو ته تورات ورکړی شوی وه مګر د روح په حقيقت باندې د پوهېدلو توان نه ورکړی شوی، اما په دې امت کښې الله ﷻ داسې بندګان پيدا کړي دي چې په حقيقت باندې يې پوهېږي[1] نو ذکر شوی خطاب يوازې يهودانو ته متوجه دی.

د همدې کبله ځينو مفسرينو کرامو د روح په حقيقت پېژاندلو کښې ډېر اوږده بحثونه کړي دي[2] که څوک يې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي.

مګر بهتره داسې برېښي چې ذکر شوی خطاب به ټولو انسانانو ته متوجه وي او دا څکه چې:

الف: لږ وړاندې د لومړنۍ توضيح د "ج" په ماده کښې تېر شو چې د يهودانو د قناعت دپاره الله ﷻ [الکهف:۱۰۹] ايت نازل کړ او د يهودانو په شمول د ټولو بنيادمانو علوم قليل وګڼل شوه.

ب: که بالفرض د روح په حقيقت باندې د دې امت څخه څوک پوهېدلی نو اقلاً په يوه خبره او په يوه تعريف باندې خو به سره متفق شوي وی او يا به يې اختلاف زښت ډېر شقونه نه وی پيدا کړي حال دا چې د نوموړي په حقيقت کښې ټول اقوال (۷۰) شقونو ته رسېږي، نو ډېر اختلاف د ناپوهۍ څخه نمايندګي کوي. همدا نظر شيخ المفسرين (العلامه الطبري عليه الرحمة) هم صواب ګڼلی دی[3].

(۱) تفسير المظهري ج۵ ص۴۸۵
(۲) روح المعاني ج۱۵ ص۱۵۴، ۱۶۴؛ التفسير الکبير ج۲۱ ص۳۶، ۵۳؛ تفسير القاسمي ج۱۰ ص۲۸۴
(۳) تفسير الطبري ج۱۵ ص۵۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## يادونه

٥ـ په ﴿ قُل لَّئِنِ ٱجۡتَمَعَتِ ٱلۡإِنسُ وَٱلۡجِنُّ ﴾ (الآية) کښې د قرآن کريم اعجاز ته اشاره شوې ده چې مونږ د الله ﷻ په فضل او توفيق سره د [البقرة:٢٣] ايت لاندې ښه پوره شرحه کړې ده، بيا شرحه کولو ته بې ارتيا نه ګورو.

﴿ وَقَالُواْ لَن نُّؤۡمِنَ لَكَ حَتَّىٰ تَفۡجُرَ لَنَا مِنَ ٱلۡأَرۡضِ يَنۢبُوعًا ﴿٩٠﴾ أَوۡ تَكُونَ لَكَ جَنَّةٞ
مِّن نَّخِيلٖ وَعِنَبٖ فَتُفَجِّرَ ٱلۡأَنۡهَٰرَ خِلَٰلَهَا تَفۡجِيرًا ﴿٩١﴾ أَوۡ تُسۡقِطَ ٱلسَّمَآءَ كَمَا زَعَمۡتَ
عَلَيۡنَا كِسَفًا أَوۡ تَأۡتِيَ بِٱللَّهِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ قَبِيلًا ﴿٩٢﴾ أَوۡ يَكُونَ لَكَ بَيۡتٞ مِّن زُخۡرُفٍ أَوۡ تَرۡقَىٰ
فِي ٱلسَّمَآءِ وَلَن نُّؤۡمِنَ لِرُقِيِّكَ حَتَّىٰ تُنَزِّلَ عَلَيۡنَا كِتَٰبٗا نَّقۡرَؤُهُۥۗ قُلۡ سُبۡحَانَ رَبِّي هَلۡ
كُنتُ إِلَّا بَشَرٗا رَّسُولٗا ﴿٩٣﴾ وَمَا مَنَعَ ٱلنَّاسَ أَن يُؤۡمِنُوٓاْ إِذۡ جَآءَهُمُ ٱلۡهُدَىٰٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ
أَبَعَثَ ٱللَّهُ بَشَرٗا رَّسُولٗا ﴿٩٤﴾ قُل لَّوۡ كَانَ فِي ٱلۡأَرۡضِ مَلَٰٓئِكَةٞ يَمۡشُونَ مُطۡمَئِنِّينَ
لَنَزَّلۡنَا عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَلَكٗا رَّسُولٗا ﴿٩٥﴾ قُلۡ كَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدَۢا بَيۡنِي وَبَيۡنَكُمۡۚ
إِنَّهُۥ كَانَ بِعِبَادِهِۦ خَبِيرَۢا بَصِيرٗا ﴿٩٦﴾ وَمَن يَهۡدِ ٱللَّهُ فَهُوَ ٱلۡمُهۡتَدِۖ وَمَن يُضۡلِلۡ فَلَن تَجِدَ لَهُمۡ
أَوۡلِيَآءَ مِن دُونِهِۦۖ وَنَحۡشُرُهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ عَلَىٰ وُجُوهِهِمۡ عُمۡيٗا وَبُكۡمٗا وَصُمّٗاۖ مَّأۡوَىٰهُمۡ
جَهَنَّمُۖ كُلَّمَا خَبَتۡ زِدۡنَٰهُمۡ سَعِيرٗا ﴿٩٧﴾ ذَٰلِكَ جَزَآؤُهُم بِأَنَّهُمۡ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَقَالُوٓاْ
أَءِذَا كُنَّا عِظَٰمٗا وَرُفَٰتًا أَءِنَّا لَمَبۡعُوثُونَ خَلۡقٗا جَدِيدًا ﴿٩٨﴾ أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّ ٱللَّهَ ٱلَّذِي خَلَقَ
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ قَادِرٌ عَلَىٰٓ أَن يَخۡلُقَ مِثۡلَهُمۡ وَجَعَلَ لَهُمۡ أَجَلٗا لَّا رَيۡبَ فِيهِ فَأَبَى
ٱلظَّٰلِمُونَ إِلَّا كُفُورٗا ﴿٩٩﴾ ﴾

[٩٠] او مشرکان وايي چې مونږ به هيڅکله تاته (د حقانيت) عقيده ونه کړو ترڅو چې ته زمونږ دپاره (د مکې معظمې) د ځمکې څخه بهېدونکې چينه جاري کړې (چې کرونده پرې وکړو).

[٩١] يا تاله د خرماګانو او انګورو باغ شي (ته دغسې باغ ولرې) چې په منځکښې يې وياله رواني کړې (وبهويې) روانول (بهول).

[۹۲] یا لکه څنګه چې ته ګومان کوې په مونږ باندې اسمان په داسې حال کښې راوغورزوې چې ټوټې-ټوټې وي او یا الله ﷻ او پرښتې (مونږ ته) مخامخ راولې (چې ستا د رسالت تصدیق وکړي).

[۹۳] یا تالره شي (ته ولرې) د سرو زرو کوټه (کور)، یا ته (زمونږ د نظر لاندې) اسمان ته وخیژې (هو! اسمان ته به) ستا د ختلو د کبله هم هیڅکله ایمان رانه وړو ترڅو چې په مونږ باندې (د خانه سره) داسې مکتوب راوړې چې مونږ یې پخپله باندې قرائت کړو (او په تاباندې د ایمان راوړلو غوښتنه پکښې لیکلې شوې وي).

(ای پیغمبره! په جواب کښې ورته) ووایه چې: زما رب ﷻ ته (د ټولو شرکیاتو څخه) پاکي ده، ایا زه یم (بلکې نه یم زه) مګر لېږلی شوی بشر یم (ستاسو غوښتنې زما په توان کښې نشته).

[۹۴] او (ای پیغمبره!) خلک (بل شي) نه دي منعه کړي چې دوی ایمان راوړي (البته) کله چې دوی ته هدایت ورغی مګر (همدې منعه کړي دي چې) دوی وایي ایا الله ﷻ بشر (انسان) د پیغمبر په حیث استولی دی؟ (که الله ﷻ دا کار کولی نو پرښته به یې رالېږلې وی).

[۹۵] (په جواب کښې ورته) ووایه: که (بالفرض د بنیادمانو په عوض) په ځمکه کښې پرښتې وی (اوسېدلی) چې پکښې د آرامۍ په حال کښې ګرځېدلی (اسمان ته یې پرواز نه کولی) نو هرومرو به مونږ په دوی باندې د اسمان څخه پرښته د پیغمبر په حیث ورلېږلې وی (چې په اسانۍ سره یې ترې استفاده کړې وی).

[۹۶] (ورته) ووایه چې: زما او ستاسو په منځکښې الله ﷻ د شاهد په حیث بس دی، یقیناً همدی ﷻ په خپلو بندګانو باندې خبردار او بینا دی.

[۹۷] او هرڅوک چې الله ﷻ (ورته) هدایت وکړي نو همدی (سمه) لاره موندونکی دی، او الله ﷻ چې هرڅوک ګمراه کړي نو هیڅکله به ته دوی ته د همده ﷻ څخه په غیر څه دوستان مونده نه کړې (چې هدایت ورته وکړي).

او مونږ به دوی د قیامت په ورځ په خپلو مخونو باندې په داسې حال کښې حشر کړو چې ړانده او ګونګان او (هم) کاڼه به وي. د دوی استوګنځای دوزخ دی، هر کله چې د دوزخ لمبې مړې شې نو مونږ به دوی ته لمبې وهونکی اور ورزیات کړو (لمبې به یې بیا ورتازه کړو).

[۹۸] دغه (دوزخ) د دوی د دې کبله جزاء (ټاکلې شوې) ده چې یقیناً دوی زمونږ په ایتونو باندې کفر غوره کړی دی او وایي چې: ایا کله چې مونږ هډوکي او (ورستې) خاورې شو ایا یقیناً مونږ به په نوي پیدایښت سره راپاڅولی شوي یاستو (مونږ به راپاڅولی شو)؟

[۹۹] ایا (دغه خبره کوي) او نه ګوري (نه پوهېږي) چې یقیناً هغه الله ﷻ چې اسمانونه او ځمکې یې پیدا کړي دي په دې باندې قادر دی چې (دوی او) د دوی امثال (بیا) خلق کړي. او الله ﷻ د دوی دپاره داسې نېټه ټاکلې ده چې شک پکښې نشته (او تر اوسه پورې لا نه ده رارسېدلې).

نو (د ذکرو شوو دلایلو سره-سره) ظالمان (مشرکان د هر شي څخه) منعه کوي مګر د انکار څخه (او دلایل د پښو لاندې کوي).

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط

وړاندې ایتونه په دې تمام شوي وه چې د خلکو اکثریت ناشکره دی، په دې ایتونو کښې یې د ناشکرۍ مثالونو ته اشاره شوې ده چې نه د قرآن کریم شکر اداء کوي او نه د پیغمبر ﷺ په نبوت باندې شکر وباسي، نو حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! اوس نو په خپل امت باندې د اکثره (کفارو) د ناشکرۍ مثالونه په لاندې ډول تلاوت کړه:

۱ـ برسېره په دې چې مشرکان خپله کفري او شرکي تګلاره نه بدلوي او د قرآن کریم د اعجاز څخه د قلبي شبهاتو او شکونو د محوه کولو دپاره کار نه اخلي تاته د معجزاتو فرمایش هم درکوي، نه یه وایي چې د قرآن کریم عظیم الشانه معجزه دوی ته نه ده ورکړه شوې او کفر یې د معجزاتو د عدم موجودیت د کبله صورت نیولی دی. هغه دا چې:

الف: دوی وایي چې: مونږ به په تاباندې ترهغه ایمان رانه وړو، ترڅو چې مونږ ته د مکې معظمې په وچه بیدیا کښې چینې ونه بهوې، ترڅو پرې مونږ خپل بیابانونه اباد کړو او د ښو پرېمانه غلو دانو خاوندان شو.

ب: که دا نه کوې نو اقلاً د خپل ځان دپاره خو د یوه باغ بندوبست وکړه چې د کجورو او انګورو د ونو لرونکی وي او په داخل کښې یې ښې ډکې ویالې رواني وي چې په بهېدلو کښې یې د هیڅ شک او شبهه نه وي، یا په بل عبارت: د خپل ځان دپاره خو د اعجاز په توګه د شام د باغونو غوندې یو باغ ولره، ترڅو ستا امتیاز د نورو خلکو څخه په ډاګه شي.

ج: که دا کار هم نه کوې نو د معجزې په توګه په مونږ باندې د اسمان څخه ټوټې راوغورزوه لکه چې ته کله-کله مونږ په همدغه سقوط باندې ډاروې، که ته په خپله دعوه کښې صادق یې نو دغه عذاب دې ولې ټال کړی دی؟

د: او یا الله ﷻ او پرښتې مخامخ راوله چې زمونږ په وړاندې ستا د نبوت تصدیق وکړي.

هـ: یا باید ته د سرو زرو کوټه ولرې، ترڅو د خلکو څخه ممتاز جوړ شې لکه څنګه چې د امتیاز مدعي یې، که نه نو اقلاً ستا کور ته باید د سرو زرو په اوبو باندې رنګ ورکړی شوی وی.

و: که ذکر شوي کارونه یو هم نه کوې نو باید زمونږ په وړاندې پورته اسمان ته وخېژه چې مونږ دې په سترګو باندې وګورو، هسې نه چې مونږ دې ونه ګورو او ته ادعاء وکړې چې زه بېګاه شپه اسمان ته ختلی وم او سهار بېرته راغلم. خو په یاد ولره چې اسمان ته په محض اوچته کېدلو باندې هم مونږ په تاباندې هیڅکله ایمان نه راوړو ترڅو چې د خپله خانه سره یو کتاب هم رانښکته کړې چې زمونږ په نامه باندې لیکلی شوی وي او مونږ پکښې پخپله ولولو چې: ای فلانکیه! په دغه کتاب (لیک) در ورونکي باندې ایمان راوړه، دا په حقه پیغمبر دی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲ـ نو ای پیغمبره! د مشرکانو د ذکرو شوو فرمایشاتو د رد دپاره لنډ جواب ورکړه چې: زه خپل رب ﷻ ته د دې څخه د پاکۍ نسبت کوم (ده ﷻ ته پاکي ده) چې زه ورسره په تکويناتو کښې شريک جوړ شم، زه نه د ځمکې څخه چينې راغوټولی شم، نه د بيدياګانو څخه باغونه جوړولی شم، نه د اسمان څخه ټوټې راغورزولی شم، نه الله ﷻ او پرښتې ستاسو سره مخامخ کولی شم، نه د سرو زرو کور جوړولی شم او نه اسمان ته ختلی شم چې ستاسو په نامه مکتوبونه راوړم او تاسو يې ولولئ، دا کارونه پخوانيو پيغمبرانو هم نه دي کړي او نه د دغو کارونو دپاره استولي شوي وه.

زه خو بل څوک نه يم فقط بنيادم يم، زه هغه کارونه کولی شم کوم کارونه چې بنيادمان کوي، هو! د بنيادمانو څخه يو امتياز لرم چې: زه د الله ﷻ د پلوه پيغام راوړونکی يم او بس، زه د پيغام رسونې څخه علاوه په تکويناتو کښې هيڅ واک او اختيار نه لرم، نو تاسو ته په کار دي چې زما څخه د نبوت په مربوطاتو کښې پوښتنې او غوښتنې وکړئ او بس.

## د کفارو بله ناشکري

۳ـ ای پيغمبره! الله ﷻ په انسانانو باندې احسان کړی دی چې د همدوی د جنس څخه يې دوی ته پيغمبر ور استولی دی (او تاته يې دغه لوړه درجه درپېرزو کړې ده)، چې ترڅو دوی ورسره ناسته پاسته او خبرې اترې وکولی شي، او د استفادې دپاره يې ورته زمينه برابره کړې ده. مګر کفار د همدغه احسان هم ناشکري کوي او ايمان پرې نه راوړي بلکې همدغه احسان د ايمان راوړلو مانع بولي چې که دا رښتيانی پيغمبر وی نو انسان به نه وی، او دا ورته عجيبه برېښي چې الله ﷻ يو بنيادم د رسول په حيث وراستوي، دوی وايي چې: ايا الله ﷻ بنيادم پيغمبر رالېږلی دی؟!

۴ـ ای پيغمبره! د کفارو ذکره شوې اشتباه جوابه کړه او زمونږ د پلوه ورته د يوه رسول په حيث ورسوه چې: که بالفرض په ځمکه کښې ستاسو په عوض پرښتې ګرځېدلی راګرځېدلی او ستاسو په عوض ځمکه د هغوی مرکز وی او کوم ډول مکلفيت چې تاسو ته متوجه دی دا هغوی ته متوجه وی، نو ضرور به مونږ د هغوی د جنس څخه کومه پرښته د پيغمبر په حيث وراستولې وی او انسان به مو د پيغمبر په صفت نه وی وراستولی، او دا ځکه چې زمونږ د حکمت همدا غوښتنه ده چې هر يو مخلوق ته د همدوی د جنس څخه پيغمبر ور واستوو.

۵ـ ای پيغمنبره! تکراراً کفار مخاطب کړه چې: ای خلکو که الله ﷻ ستاسو د معجزاتو فرمايش پوره نه کړ نو زه خو يې بې معجزو او بې خوارقو نه يم دراستولی بلکې پخپله الله ﷻ زما په رسالت باندې شاهدي وايي چې قرآن کريم (معجز کتاب) يې راباندې رانازل کړی دی، ايا د الله ﷻ شهادت تاسو ته د ايمان د راوړلو دپاره کفايت نه کوي.

په دې باندې علاوه، الله ﷻ په خپلو ټولو بندګانو باندې خبردار او بينا دی، نو که بالفرض ما ورباندې دروغ تړلي وی چې زه پيغمبر يم حال دا چې زه په واقع کښې پيغمبر نه وی، نو ايا مانه به يې جزا نه وی راکړې؟ ايا زما په دروغينې دعوې باندې به يې شاهدي اداء کړې وی؟ او بالآخره ايا

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



زه به یې په دغه صورت کښې نه وی تکذیب کړی؟
۶_ ای پیغمبره! نو د کفارو د ایمان د نه راوړلو وجه د معجزاتو کمبود نه دی بلکې وجه یې دا ده چې د الله ﷻ اراده نه ده شوې چې دوی ته هدایت وکړي، بلکې الله ﷻ اراده کړې ده چې د دوی د حالاتو د غوښتنې په مطابق دوی گمراه او بې لارې کړي.
او پوره واضحه ده چې د الله ﷻ د پلوه لار ښودلی شوی څوک بې لارې کولی نه شي او د همده ﷻ د پلوه گمراه کړی شوی څوک په لار کولی نه شي، حتی ته (چې یو پیغمبر یې) هم دوی ته د الله ﷻ څخه په غیر څه دوستان نه شي موندلی چې د گمراهۍ څخه یې سمې لارې ته واړوي.
۷_ دا خو د ذکرو شوو کفارو دنیاوي جزا ده چې د هدایت توفیق به مونده نه کړي، اما اخروي جزا بې دا ده چې:
الف: ذکر شوي کفار به مونږ د قیامت په ورځ په خپلو مخونو باندې د حساب کتاب میدان ته حشر کړو حال دا چې دوی به په دغه وخت کښې په سترګو ړانده، په ژبه ګونګان او په غوږونو کاڼه وي، چې دوی په دنیا کښې د خپلو ټولو حواسو څخه حقاني کار نه وه اخستی او ټول یې په لهو او لعب کښې کارولي وه.
ب: اما د حشر د میدان څخه وروسته به د ذکرو شوو کافرانو دائمي استوګنځای دوزخ وي چې هیڅکله به په دوی باندې سوړ نه کړی شي، بلکې هر کله چې سړېدلو ته میلان وکړي نو مونږ به یې ورته بیا د ګرمۍ د حیثه زیات کړو، نو د دوزخ اور به سړېږي نه، بلکې لا به تېزېږي او ګرمېږي.
۸_ ای پیغمبره! دغه جزا ذکرو شوو کافرانو ته بې سببه نه ده ټاکلې شوې بلکې سبب یې دا دی:
الف: دوی زمونږ ایتونو (قرآن کریم) ته د دروغو نسبت کوي او عظیم الشانه معجزه یې د پښو لاندې کړې ده او د عناد د کبله فرمایشي معجزات غواړي.
ب: دوی د بیا ژوندي کېدلو څخه انکار کوي او وایي چې کله مونږ هډوکي-هډوکي او ټوټه-ټوټه شو، ایا مونږ به بیا په نوي پیدایښت سره د قبرونو څخه ژوندي راپورته کړی شو؟ دا کار هیڅکله کېدونکی نه دی.
۹_ ای پیغمبره! ایا د حشر منکران نه ګوري او نه پوهېږي چې هغه الله ﷻ کوم چې ځمکې او اسمانونه یې پیدا کړي دي، په دې باندې قادر دی چې دوی او د دوی امثال بیا راژوندي کړي او په نوي پیدایښت سره یې بیا پیدا کړي؟
۱۰_ دوی پرې پوهېږي خو عناداً ترې انکار کوي، الله ﷻ سمدستي هم کولی شي چې پخواني تېر شوي او خاورې شوي خلک راژوندي کړي خو د حکمت په بنیاد یې ورته معینه نېټه مقرره کړې ده چې د هغې نېټې په راتګ کښې نه شک شبه شته او نه باید چې څوک پکښې شک شبه وکړي.
۱۱_ لنډه دا چې عنادي کفار هیڅ ډول دلایلو ته غوږ نه ږدي او په خپل کفر باندې ډېر کلک دي. یا په بل عبارت: د هر شي څخه اباء کوي مګر د حشر د انکار څخه اباء نه کوي (هر شی مني مګر حشر نه مني).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



# توضیحات

۱ـ یوه ورځې مشرکانو نبي کریم ﷺ ته زښت ډېر تعجب آور عنادي وړاندیزونه وکړه چې شپږو غټو وړاندیزونو ته یې په ایت شریف کښې اشاره شوې ده، مونږ هم د همدغو شپږو په ذکر باندې اکتفاء کوو چې وړاندې د مطلب خلاصه تر عنوان لاندې مو څه وضاحت ورکړی دی، که څوک غواړي چې تکی په تکی یې ولولي نو ځینو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[۱].

## یَنْبُوع څه معنی؟

۲ـ په ﴿ حَتَّىٰ تَفْجُرَ لَنَا مِنَ ٱلْأَرْضِ يَنۢبُوعًا ﴾ کښې د "یَنْبُوع" کلمه د اوبو د چینې دپاره وضع شوې ده چې په "ینابیع" باندې جمعه کېږي[۲]، او د ﴿ ٱلْأَرْضِ ﴾ څخه د مکې معظمې ځمکه مطلب ده. یعنې ترهغه به ستا په نبوت باندې مونږ عقیده ونه کړو ترڅو چې مونږ ته د مکې معظمې په وچو ډاګونو کښې دوامداره چینې وبهوې.

۳ـ په ﴿ أَوْ تُسْقِطَ ٱلسَّمَآءَ كَمَا زَعَمْتَ عَلَيْنَا كِسَفًا ﴾ کښې د "کِسَف" کلمه د "کِسْفَة" جمعه ده، چې اصلاً د وریځې یا د مالوچو ټوټې ته وضعه شوې ده[۳]، نو څرنګه چې په دې مقام کښې ذکره شوې کلمه د ﴿ ٱلسَّمَآء ﴾ څخه په اعراب کښې حال واقع شوې ده نو د معنی حاصل یې داسې راځېږي چې: او یا په مونږ باندې (د خپل ګومان په مطابق) اسمان ټوټې ټوټې راوغورزوه.

څرنګه چې الله ﷻ مشرکانو ته اخطار ورکړی وه چې: ﴿ إِن نَّشَأْ نَخْسِفْ بِهِمُ ٱلْأَرْضَ أَوْ نُسْقِطْ عَلَيْهِمْ كِسَفًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ ﴾ [سبأ:۹] یعنې که زمونږ اراده وشي نو په کفارو باندې به ځمکه خسفه کړو او یا به پرې د اسمان څخه ډېرې ټوټې راوغورزوو؛ نو کفارو د نبي کریم ﷺ څخه د خندنی په توګه د ذکر شوي اخطار واقع کېدل وغوښتل چې دا به مونږ د یوې معجزې په توګه قبول کړو او هم به وربانې ستا صدق او کذب معلوم کړو.

## قبیل څه معنی؟

۴ـ په ﴿ أَوْ تَأْتِيَ بِٱللَّهِ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةِ قَبِيلًا ﴾ کښې د "قبیل" کلمه په دې مقام کښې په لاندې معناوو باندې تفسیره شوې ده:

الف: لکه څنګه چې په [الأعراف:۲۷] ایت کښې د "قَبِیل" کلمه د "قَبِیْلَة" جمعه ده دلته هم د جمعیت معنی مراده ده، نو په دې صورت کښې ذکره شوې کلمه یوازې د ﴿ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةِ ﴾ سره ارتباط لري او بس. یعنې یا مونږ ته الله ﷻ راوله چې ستا په نبوت باندې شهادت ورکړي او هم د همدغه غرض

---

(۱) روح المعاني ج۱۵ ص۱۷۰؛ اسباب النزول للواحدي ص۱۹۸
(۲) مفردات الراغب ص۵۰۲
(۳) مفردات الراغب ص۴۴۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دپاره ډلې-ډلې پرښتې رابښکته کړه چې زمونږ یقین راشي[١].

ب: د "قَبِيلًا" کلمه د ضامن معنی ورکوي[٢]، نو په دې صورت کښې ذکره شوې کلمه یوازې د "الله" د کلمې سره ارتباط لري او د "الْمَلَائِكَة" دپاره د "قبلاء" کلمه مقدره ګڼله کېږي. یعنې یا مونږ ته الله ﷻ د ضامن په حیث او هم پرښتې د ضامنانو په حیث راوله چې مونږ درباندې باور وکړو.

ج: مونږ ته بهتره بربښي چې د "قَبِيلًا" کلمه دلته د "مقابلةً" او "عيانًا" په معنی سره واخستله شي[٣]. یعنې یا مونږ ته الله ﷻ او پرښتې په ښکاره توګه مخامخ راوله چې مونږ ترې په خپلو غوږونو باندې شهادت واورو.

همدغه معنی الله ﷻ د کفارو څخه حکایت کړې ده چې: ﴿ وَقَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَآءَنَا لَوْلَآ أُنزِلَ عَلَيْنَا ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ أَوْ نَرَىٰ رَبَّنَا ﴾ [الفرقان: ٢١] یعنې هغه کسان وایي کوم چې زمونږ د ملاقات امید (یقین) نه لري چې ولې په مونږ باندې پرښتې رابښکته نه شوې کړی چې پخپله مو لیدلې وی، او یا ولې مونږ خپل رب ﷻ نه ګورو (چې ستا په هکله ترې شهادت واورو).

## د زخرف معنی

۵ـ په ﴿ أَوْ يَكُونَ لَكَ بَيْتٌ مِّن زُخْرُفٍ ﴾ کښې د ﴿ زُخْرُفٍ ﴾ کلمه سرو زرو ته هم ویل کېږي او هغه شي ته هم کوم چې په سرو زرو باندې ښایسته کړی شوی وي او رنګ یې ورکړی شوی وي[٤]. یعنې یا ستا دپاره د سرو زرو څخه کور جوړ کړی شوی وی، او که نه اقلاً ستا کور خو دې په سرو زرو باندې ښایسته کړی شوی او رنګ کړی شوی وی.

مشرکانو څکه ذکره شوې معجزه وغوښتله چې د دوی په خیال الله ﷻ ته ډېر معزز هغه څوک دی چاته یې چې ډېره دنیا او ډېر مادیات ورکړي وي.

## که پرښتې په ځمکه کښې مېشتې وی

۶ـ په ﴿ يَمْشُونَ مُطْمَئِنِّينَ ﴾ کښې د ﴿ مُطْمَئِنِّينَ ﴾ کلمه د "اطْمِئْنان" څخه اشتقاقه شوې ده، چې د هغه سکون څخه عبارت ده کوم چې د اضطراب او نارامۍ څخه وروسته صورت ونیسي[٥]، خو په دې مقام کښې د دائمي سکونت معنی ورکوي[٦]. یعنې که بالفرض ستاسو په عوض په ځمکه کښې پرښتې اوسېدلې او ستاسو غوندې پکښې په پښو باندې ګرځېدلې راګرځېدلې، چې اسمان ته یې پرواز نه شوی کولی، او حکمت غوښتنه کړې وي چې څه ورزده کړو نو مونږ به ضرور دغه کار د ملکي لېږلي شوي په ذریعه کړی وی نه د انسان په ذریعه.

---

(١) تفسير القرطبي ج١٠ ص٣٢١
(٢) تفسير الكشاف ج٢ ص٦٩٢
(٣) المحرر الوجيز ج١٠ ص٣٤٦
(٤) لسان العرب ج٩ ص١٣٢
(٥) مفردات الراغب ص٣١٧
(٦) تفسير ابي السعود ج٥ ص١٩٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## يادونه

۷ـ د دې موضوع په اړه چې الله ﷻ بنيادمانو ته د دوی د جنس څخه په غير (پرښته) د پيغمبر په صفت راونه لېږله، د [الأنعام:۸] ايت لاندې په دې تفسير کښې ښه اوږد تحقيق تېر شوی دی ـ والحمد لله ﷻ ـ چې بيا ليکلو ته يې څه اړتيا نه ګورو، فقط لاندې سوال جواب ورباندې اضافه کوو.

## سوال جواب

۸ـ که څوک وايي چې: د همدغه قانون په بنياد چې بايد هر جنس ته د خپل جنس څخه پيغمبر ورواستولی شي، په کار وه چې پيريانو ته د نبي کريم ﷺ رسالت نه وی شامل کړی شوی چې د هغوی د جنس څخه نه دی؟

مونږ وايو چې: د جنس د اتحاد وجې ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ وَلَوْ أَنزَلْنَا مَلَكًا لَّقُضِيَ ٱلْأَمْرُ ثُمَّ لَا يُنظَرُونَ ﴾ [الأنعام:۸] يعنې که مونږ بنيادمانو ته پرښته د رسول په حيث ورلېږلې وی او په دعوت يې پيل کړی وی نو ضرور به کار فيصله شوی وی (ټوله به هلاک شوي وی) بيا به نه وی ټال شوي.

او ذکره شوې وجه په پيريانو کښې تحقق نه لري ځکه چې که څه هم دوی د پرښتو د ليدلو توان نه لري مګر د بنيادمانو د ليدلو توان خو پکښې شته دی. اما په انسانانو کښې نه د پرښتو د ليدلو توان شته او نه د پيريانو ليدنه کولی شي.

هو! چاته چې الله ﷻ امتيازي قوت او توان ورکړي لکه چې نبي کريم ﷺ ته يې ورکړی وه، نو هغه بېله خبره ده، چې هم د پرښتو سره ليدل کتل کولی شي او هم د پيريانو سره.

## په مخونو باندې بېول

۹ـ نبي کريم ﷺ دا ايت شريف ﴿ وَنَحْشُرُهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ عَلَىٰ وُجُوهِهِمْ عُمْيًا وَبُكْمًا وَصُمًّا ﴾ په لاندې ډول تفسير کړی دی:

الف: يوه ورځې يوه سړي نبي کريم ﷺ ته عرض وکړ چې يا نبي الله! ايا د قيامت په ورځ به کافر سړی په خپل مخ باندې حشر کړی شي؟ نبي کريم ﷺ جواب ورکړ چې: «أَلَيْسَ الَّذِي أَمْشَاهُ عَلَى الرِّجْلَيْنِ فِي الدُّنْيَا قَادِرًا عَلَى أَنْ يُمْشِيَهُ عَلَى وَجْهِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»[۱] ايا هغه اقدس ذات چې کافر يې په دنيا کښې په دوو پښو باندې روان کړی وه قادر نه دی چې د قيامت په ورځ يې په مخ باندې روان کړي؟.

ب: نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «يُحْشَرُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثَلَاثَةَ أَصْنَافٍ صِنْفًا مُشَاةً وَصِنْفًا رُكْبَانًا وَصِنْفًا عَلَى وُجُوهِهِمْ»[۲] يعنې د قيامت په ورځ به خلک (د قبرونو څخه) د درېيو ډلو په حال کښې راټول کړی شي، يوه ډله خلک به په پښو باندې تلونکي وي او بله ډله به سواره وي او درېيمه ډله به په مخونو باندې روان کړی شوي وي.

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۷۰۱
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۱۴۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## يادونه

۱۰_ د [طه:۱۰۲] ایت لاندې ـإن شاء الله ﷻـ په دې ارونډ څه سوال جواب راروان دی چې په کفارو باندې به د قیامت په ورځ مختلف حالات ورشي، په څینو حالاتو کښې به رانده وي او په څینو نورو کښې به بینا وي، هلته دې مراجعه وکړی شي.

## د خَبو او سَعَر معناوې

۱۱_ په ﴿ كُلَّمَا خَبَتۡ زِدۡنَٰهُمۡ سَعِيرٗا ﴾ کښې د ﴿ خَبَتۡ ﴾ کلمه د "خَبَوٌ" ـلکه "ضَرۡبٌ"ـ څخه او د "سَعِيرٌ" کلمه د "سَعۡرٌ" ـلکه "ضَرۡبٌ"ـ څخه اشتقاقه شوې ده، چې دواړه د اور د حالاتو څخه څه حالات دي په اور باندې د بلېدلو څخه وروسته لاندې حالات ورځي:

الف: چې تیز شي او لوړې لمبې ووهي نو دې ته "سَعۡر" وايي[۱].

ب: کله یې چې لمبه مړه شي او سکروټې په خپل حرارت باندې پاتې وي، نو د دې حالت څخه په "خَبۡوٌ" سره تعبیر کېږي[۲]، همدغه حالت ته "خُمُود" ـلکه "قُتُول"ـ هم ویل کېږي[۳].

ج: چې سکروټې یې هم مړې شي او حرارت یې د منځه لاړ شي، نو د دغه حالت څخه په "هُمُوۡد" ـلکه "قُتُول"ـ سره تعبیر کولی شي[۴].

دا د یو پلوه، او د بله پلوه د ﴿ كُلَّمَا ﴾ کلمه د اوقاتو عموم ته وضعه شوې ده نو د معنی حاصل یې داسې راخېژي چې هرکله چې په دوزخیانو باندې اور بل شي او په تیزو لمبو سره دوی وسوزوي او سکروټې شي او لمبې یې مړې شي، نو مونږ به بیا د هغوی پوستکي وربدل کړو او بیا به ورباندې دوزخ په لمبو شي. همدغه مضمون ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې:

اول: ﴿ كُلَّمَا نَضِجَتۡ جُلُودُهُم بَدَّلۡنَٰهُمۡ جُلُودًا غَيۡرَهَا لِيَذُوقُواْ ٱلۡعَذَابَ ﴾ [النساء:۵۶] یعنې کله چې د کفارو پوستکي په اور باندې پاخه شي او وسوزي نو مونږ به دوی ته نور پوستکي وربدل کړو چې د پخوانیو پوستکو څخه به مغایر وي، دا د دې دپاره چې تازه-تازه عذاب وڅکي او موقع په موقع یې عذاب زیادت ومومي.

دوهم: ﴿ فَلَا يُخَفَّفُ عَنۡهُمُ ٱلۡعَذَابُ وَلَا هُمۡ يُنصَرُونَ ﴾ [البقرة: ۸۶] یعنې د دغو (کفارو) څخه به نه عذاب تخفیف کړی شي او نه به ورسره کومک وکړی شي.

## دوه ډوله تفسیر

۱۲_ علماوو کرامو[۵] دا جمله ﴿ قَادِرٌ عَلَىٰٓ أَن يَخۡلُقَ مِثۡلَهُمۡ ﴾ په لاندې دوه ډوله تفسیره کړې ده:

---

(۱) لسان العرب ج۴ ص۳۶۵
(۲) لسان العرب ج۳ ص۱۶۵
(۳) لسان العرب ج۱۴ ص۲۲۳
(۴) لسان العرب ج۳ ص۴۳۷
(۵) تفسیر الطبري ج۱۵ ص۱۶۹ : تفسیر القاسمي ج۱۰ ص۳۰۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: چې د خلق څخه د نشت څخه پيدا کول مطلب شي او د "مثل" کلمه د دوی د امثالو څخه عبارت شي. يعنې ايا کفار نه پوهېږي چې يقيناً کوم اقدس ذات چې اسمانونه او ځمکې يې د نشت څخه پيدا کړي دي قادر دی چې د دوی امثال (نور انسانان) هم د نشت څخه پيدا کړي لکه چې همدا سلسله د دوی د سترګو لاندې روانه ده. نو چې د نشت څخه په پيدا کولو باندې قادر دی په بيا پيدا کولو باندې خو ضرور د قدرت خاوند دی ځکه چې بيا پيدا کول خو د اول پيدا کولو څخه اسان دي.

ب: چې دِ خلق څخه بيا پيدا کول (را ژوندي کول) مراد شي. يعنې ايا دوی نه پوهېږي چې د اسمانونو او ځمکو پيداکوونکی د دوی د څېرو او اشکالو په بيا پيدا کولو باندې او يا د دوی د پخوانيو تېرو شوو امثالو په اعاده کولو باندې (چې وراسته هډوکي ګرځېدلي دي) هرومرو د قدرت خاوند دی، نو په کار دي چې انکار ترې ونه کړی شي.

مونږ ته دوهم تفسير غوره برېښي چې د موضوع سره مستقيماً ارتباط نيسي.

## يو نحوي تحليل

۱۳ـ په ﴿ وَجَعَلَ لَهُمْ أَجَلًا لَّا رَيْبَ فِيهِ ﴾ کښې لاندې دوه ډوله نحوي تحليل صورت نيولی شي:

الف: يو دا چې دغه جمله په ﴿ قَادِرٍ ﴾ باندې عطفه شي[1]. يعنې ايا کفار نه ګورې (نه پوهېږي) چې الله ﷻ د دوی د مړه کېدلو او هم د بيا راژوندي کولو دپاره داسې يوه نېټه ټاکلې ده چې د هغې په راتللو کښې هيڅ شک شبه نشته.

ب: دغه جمله په هغې جملې باندې عطفه ده په کومې باندې چې انکاري استفهام دلالت کوي چې په "قَدْ عَلِمُوا" باندې ترې تعبير کولی شو[2]. نو د معنی حاصل به يې داسې راوخېژي چې: ای پيغمبره! د بعث بعد الموت د منکرانو په هکله لاندې دوه مطلبه قرائت کړه:

اول: يو دا چې منکران پوهېږي چې الله ﷻ په اعاده باندې قادر دی او دا ځکه چې د ابتدائي خلق څخه اعاده اسانه ده.

دوهم: اما د تاخير وجه يې عجز نه دی بلکې وجه يې داده چې الله ﷻ د دوی د بيا راژوندي کولو دپاره وخت ټاکلی دی چې په راتللو کښې يې بايد هيڅوک شک او شبه ونه کړي، او دغه وخت لا تر اوسه نه دی راغلی.

زمونږ همدغه دوهم تحليل خوښ دی چې د وړاندېنيو ايتونو سره په زړه پورې پيوند اخلي.

﴿ قُل لَّوْ أَنتُمْ تَمْلِكُونَ خَزَآئِنَ رَحْمَةِ رَبِّىٓ إِذًا لَّأَمْسَكْتُمْ خَشْيَةَ ٱلْإِنفَاقِ ۚ وَكَانَ ٱلْإِنسَـٰنُ قَتُورًا ﴿١٠٠﴾ ﴾

(۱) حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۳ ص۲۴۲
(۲) تفسير المظهري ج۵ ص۴۹۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[١٠٠] (ای پیغمبره!) ووایه چې که چرته تاسو (همدا تاسو) زما د رب ﷻ د رحمت د خزانو مالکان وی نو په دغه وخت کښې به هرومرو تاسو (د ورکړې څخه) د لګښت (د تماميدلو) له ډاره څان ساتنه (او شومتیا) کړې وی. او یقیناً انسان (بنیادم) ډېر زیات تنګي کوونکی (شومتیاکوونکی) دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

۱ـ په دې ایت کښې د هغې پلمې رد ته اشاره شوې ده د کومې په لوري چې مشرکانو په وړاندېنیو ایتونو کښې د وهمي ناشکری د جوابولو څخه وروسته تنزل کړی وه، هغه دا چې:

که مونږ ومنو چې انسانانو ته د انسي پیغمبر ضرورت دی او په ملکي پیغمبر باندې یې درد نه دوا کېږي، نو بیا د ابو طالب د یتیم نبوت څکه دروغ ګڼو چې که الله ﷻ مونږ ته انسي پیغمبر رالېږلی نو ضرور به یې دغه منصب یوه مالدار او بډای سړي ته ورکړی وی، نو کله چې دغسې نه دي شوي نو معلومه شوه چې د ابو طالب د یتیم د نبوت دعوه دروغه ده.

۲ـ د رد حاصل دا دی چې: ای مشرکانو! ستاسو د استدلال غوښتنه دا ده چې زما د رب ﷻ د پراخه رحمت خزانې دې ستاسو په خوښه توزیع شي، که بالفرض المحال دغه کار ستاسو په خوښه صورت نیولی وی نو هغه ټول ساکښان به ستاسو د شومتیا د کبله د روزۍ څخه محروم شوي وی د کومو روزي چې زما رب ﷻ په خپل اقدس ذات باندې احساناً واجبه کړې ده. همدارنګه د معنوي رحمت (نبوت) څخه خو به د معدودو انسانانو په استثناء نور ټول بې برخې شوي وی حال دا چې زما رب ﷻ دغه لوړ فضیلت یو لک او څلیرشت زره ـزیات یا کموـ کسانو ته ورکړی دی.

د دغه بخل او شومتیا وجه به دا وي چې انسان بالطبع شوم او بخیل دی، مګر هغه څوک نه چې د الله ﷻ د ارشاداتو پابندي وکړي او شریعت د پښو لاندې نه کړي.

## توضیحات

۱ـ ذکر شوی ایت شریف دې ایتونو ته ورته دی چې: ﴿ لَوْلَا نُزِّلَ هَـٰذَا ٱلْقُرْءَانُ عَلَىٰ رَجُلٍ مِّنَ ٱلْقَرْيَتَيْنِ عَظِيمٍ ﴿٣١﴾ أَهُمْ يَقْسِمُونَ رَحْمَتَ رَبِّكَ ﴾ [الزخرف: ٣١، ٣٢] یعنې او مشرکان وایي چې که دغه قرآن ربښتیاني اسماني کتاب وی نو د دغو دوه وو ښارونو (مکه، طائف) په یوه لوی مالدار (بډای) باندې ولې نازل نه کړی شو؟ نو معلومه شوه چې دا اسماني کتاب نه دی. ای پیغمبره! ایا ستا د رب ﷻ د پراخه رحمت تقسیمات د دوی په لاس دي، چې فلاني ته دې ورکړی شي او فلاني ته دې ورنه کړی شي؟ هیڅکله دغسې نه ده.

## امساک څه ته وایي؟

۲ـ په ﴿ إِذًا لَّأَمْسَكْتُمْ خَشْيَةَ ٱلْإِنفَاقِ ﴾ کښې "أَمْسَكْتُمْ" کلمه د "اِمْسَاكٌ" څخه اشتقاقه شوې ده، "اِمْسَاكٌ" حفظ (ساتنې) ته وضعه شوی دی مګر د کنایې په توګه په بخل کښې استعمالېږي[1] چې په

---

[1] مفردات الراغب ص۴۸۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دې مقام کښې همدغه معنی مراده ده، يعنې که بالفرض الهي خزانې ستاسو په لاس کښې وې هم تاسو به له دې کبله بخل کړی وی چې دا به ختمې شي او تاسو به د فقر سره مخامخ شئ.

## د "قُتَار" معنی

۳_ په ﴿ وَكَانَ ٱلۡإِنسَٰنُ قَتُورٗا ﴾ کښې د "قَتُور" کلمه د "قَاتِر" مبالغه ده او "قَاتِر" د "قُتَار" _لکه "فُوَاق"_ څخه اشتقاق شوی دی، "قُتَارٌ" د هغې لوږې او هغه بوی نوم دی کوم چې د وريت کړی شوې غوښې او يا د سوزول شوي هډوکي څخه پورته کېږي[۱]. په دې مقام کښې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ذکره شوې کلمه په سخت بخيل سره تفسيره کړې ده[۲] يعنې او انسان سخت بخيل دی، ته به وايې چې د وريت کړی شوې غوښې په بوی باندې هم بخل کوي.

## سوال جواب

۴_ که څوک وايي چې: په انسانانو کښې جوادان (سخيان) هم شته نو د کوم حکمت په بنياد ټول شومان وګڼل شوه؟

مونږ وايو: دغه سوال ته ځينو مفسرينو کرامو متعدد جوابونه کړي دي، لاندې مثالونه يې ولولئ[۳]:

الف: انسان بخيل دی ځکه چې محتاج دی، او څوک چې محتاج وي د خپل احتياج پورته کولو فکر يې د مغزو څخه بالکل بهر نه وځي.

ب: د انسان سخاوت بې غرضه نه وي يا به د ثواب په نيت، يا د واجب د اداء کولو په غرض او بالآخره يا د دنياوي اغراضو په ملحوظ صورت نيسي.

مونږ ته هغه جواب په زړه پورې ښکاري کوم ته چې مونږ _لله الحمد_ د [البقرة:۷۳] ايت لاندې اشاره کړې ده، هغه دا چې په محاوراتو کښې عادت شته چې د ځينو افرادو فعل (کار) کله-کله ټول جنس ته نسبت کېږي. په دې مقام کښې همدغه عادت په نظر کښې نيولی شوی دی، يعنې کومو کسانو چې ذکر شوی اعتراض کړی وه چې دغه قرآن کريم ولې په کوم بډای باندې نازل نه کړی شو، هغوی سخت بخيلان وه. نو د دوی بخل ټولو انسانانو ته منسوب کړی شو، والله ﷻ أعلم.

﴿ وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَىٰ تِسۡعَ ءَايَٰتِۭ بَيِّنَٰتٖۖ فَسۡـَٔلۡ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ إِذۡ جَآءَهُمۡ فَقَالَ لَهُۥ فِرۡعَوۡنُ إِنِّي لَأَظُنُّكَ يَٰمُوسَىٰ مَسۡحُورٗا ۝١٠١ قَالَ لَقَدۡ عَلِمۡتَ مَآ أَنزَلَ هَٰٓؤُلَآءِ إِلَّا رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ بَصَآئِرَ وَإِنِّي لَأَظُنُّكَ يَٰفِرۡعَوۡنُ مَثۡبُورٗا ۝١٠٢ فَأَرَادَ أَن يَسۡتَفِزَّهُم

(۱) لسان العرب ج۵ ص۷۱
(۲) تفسير الطبري ج۱۵ ص۱۷۰
(۳) تفسير الخازن ج۴ ص۷۴؛ التفسير الكبير ج۲۱ ص۶۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مِنَ ٱلْأَرْضِ فَأَغْرَقْنَـٰهُ وَمَن مَّعَهُۥ جَمِيعًا ﴿١٠٣﴾ وَقُلْنَا مِنۢ بَعْدِهِۦ لِبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱسْكُنُوا۟ ٱلْأَرْضَ فَإِذَا جَآءَ وَعْدُ ٱلْـَٔاخِرَةِ جِئْنَا بِكُمْ لَفِيفًا ﴿١٠٤﴾ ﴾

[١٠١] او يقيناً مونږ موسی ﷺ ته نهه څرګندې معجزې ورکړې وې نو (ای پیغمبره!) د بني اسرائیلو څخه پوښتنه وکړه (چې څه نتیجه یې ورکړه).

(البته په هغه وخت کښې مو ورکړې وې) کله چې بني اسرائیلو ته (د مدین د ښار څخه بېرته ورغی (او په دعوت یې پیل وکړ)، نو (نتیجه یې دا شوه چې) فرعون ورته وویلې چې: بې شکه زه یقین کوم چې (بل څوک نه) همدا ته جادو کړی شوی یې.

[١٠٢] موسی ﷺ (ورته) وویلې چې: (ای فرعونه!) یقیناً ته خو (په خپل زړه کښې ښه) پوهېږې چې دغه معجزات نه دي نازل کړي مګر د اسمانو او ځمکو رب ﷻ (نازل کړي دي) په داسې حال کښې چې (دغه معجزات) بصیرت درلودونکي دي (په لیدلو سره یې بصیرت پیدا کېږي)، او بې شکه زه یقین کوم چې: ای فرعونه! (بل څوک نه همدا ته) هلاک کړی شوی یې.

[١٠٣] نو فرعون اراده وکړه چې بني اسرائیل د ځمکې څخه تېل وهي (یا یې هلاک کړي او یا یې په دوامداره توګه په خپل بند کښې وساتي) نو مونږ فرعون او هغه څوک چې له ده سره وه (د قلزم په بحیره کښې) ټول غرق کړه.

[١٠٤] او د ده (د غرقولو) څخه وروسته مو بني اسرائیلو ته وویلې چې په ځمکه کښې استوګنه وکړئ (هر چرته مو چې خوښه وي) نو کله چې د آخرت وعده راشي نو تاسو (ټول) به په اجتماعي توګه (د محشر میدان ته) راولو.

## ارتباط

د وړاندېنیو ایتونو محوري مضمون دا وه چې: ای پیغمبره! مشرکان مخاطب کړه چې زه په تکویناتو کښې د خپل رب ﷻ سره اشتراک نه لرم او ستاسو د معجزاتو فرمایش نه شم پوره کولی.

نو څه لرې نه ده چې د نبي کریم ﷺ مبارک زړه غوښتې وي چې: ای کاش! الله ﷻ په خپل فضل سره د هغوی د فرمایشاتو څخه کوم یو پوره کړی وی ګوندې دوی په ایمان باندې مشرف شوي وی، نو الله ﷻ د ده ﷺ د تسلی دپاره ذکر شوي ایتونه نازل کړه چې خلاصه یې داسې راځي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! د دې ارمان مه کوه چې د مشرکانو د معجزاتو د فرمایش څخه کوم یو عملي شوی وی نو دوی به ایمان راوړی وی. او دا ځکه چې:

١- دوی عناد سیولي دي او د ایمان راوړلو استعداد یې ختم شوی دی (په زړونو باندې یې مهر لګېدلی دی). او هرڅوک چې په همدغې مرحله کښې قرار ولري هغه ایمان نه راوړي که څه هم

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تولې غوښتنې يې پوره کړی شي. يا په بل عبارت: که څه هم مړي ورته د هديرو څخه کفنونه په سر ورشي او ستا د رسالت تصديق وکړي.

۲_ ايا نه ګورې چې مونږ موسی ﷺ ته د فرعون د مسلمانولو دپاره يوه نه بلکې نهه معجزات ورکړي وه او هره يوه معجزه په خپل اعجاز کښې دومره څرګنده وه چې بلې ته اړتيا هم نه پاتې کېدله چې د موسی ﷺ د رسالت تصديق وکړي (البته په هغه وخت کښې چې د مدين د ښار څخه هغوی ته ورغی).

۳_ خو د دې سره‌سره فرعون په ايمان باندې مشرف نه شو، او ته خو د بني اسرائيلو څخه پوښتنه وکړه چې کله هغه ته معجزات ورڅرګند کړی شوه هغه څه وويلې؟ په هر ځل به فرعون موسی ﷺ ته وعده ورکوله چې د دې معجزې په ليدلو سره به ايمان راوړم، او په هر ځل به يې په خپله وعده باندې وفاء نکوله او په خپل کفر باندې به لا کلکېده. ترڅو چې بالآخره د موسی ﷺ سره يې لاندې سوال جواب وکړ او کار ختم شو:

الف: فرعون وويلې چې: ای موسی (ﷺ) زه ګومان کوم بلکې يقين کوم چې په تاباندې جادو کړی شوی دی او دغه خوارق نه دي مګر د همدغه جادو اثرات دي.

ب: موسی ﷺ جواب ورکړ چې: ای فرعونه! ته خو په خپل زړه کښې ښه پوهېږې چې دغه خوارق بل چا نه دي نازل کړي مګر هغه اقدس ذات نازل کړي دي چې د اسمانونو او ځمکو رب دی او هرڅه د همده ﷻ په واک او اختيار کښې دي.

ج: دغه ټول معجزات او خوارق زما رسالت ته په اثبات رسوي او ستا د سترګو څخه د ناپوهۍ پردې اوچتوي، نو تکبر مه کوه او په ايمان مشرف شه.

د: که نه نو زما ګومان دی بلکې زما يقين دی چې ای فرعونه! ستا د هلاکت وخت رانژدې شوی دی، او په نن سبا کښې به په تاباندې الهي عذاب درنازل شي او بېخ او بنياد به دې ووځي.

۴_ مګر د دې سره سره چې فرعون نه د معجزاتو څه پروا وکړه او نه يې د موسی ﷺ ارشاداتو ته څه التفات وکړ، تصميم يې ونيوه چې موسی ﷺ او بني اسرائيل د ځمکې د مخ څخه محوه کړي او په دائمي توګه يې د اقتدار څخه محروم کړي، د همدې کبله يې د قلزم د درياب په لور د تېښتې په حال کښې تعقيب کړه.

۵_ مګر نتيجه بالعکس شوه، مونږ فرعون او فرعونيان ټول د قلزم په درياب کښې غرق کړه او د ځمکې مخ مو ترې خلاص کړ، او بالمقابل مو د ده د مرګ څخه وروسته بني اسرائيلو ته په تکويني توګه امر وکړ چې اوس نو بې غمه په ځمکه کښې اوسېږئ او د ټاکلي شوي وخته پورې ژوند وکړئ.

۶_ خو په ياد ولرئ چې تاسو هم په دنيا کښې بې مسوليته نه ياست، د قيامت ورځ راتلونکې ده، هلته به ستاسو سره هم حساب کتاب وکړی شي، په دغې ورځ کښې به ستاسو دښمنان (فرعونيان) هم حاضر کړی شي او څه لرې نه ده چې د هغو مظالمو غوښتنه ترې وکړی شي کوم به چې په تاسو باندې د خپل اقتدار په وخت کښې اجراء کړي وه.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضيحات

۱ـ په ﴿وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَىٰ تِسْعَ ءَايَٰتٍ بَيِّنَٰتٍ﴾ کښې الله ﷻ د موسی ؑ د معجزاتو عدد نهه ښودلی دی، او پوره واضحه ده ترڅو پورې چې قرينه تحقق ونه لري په عدد باندې صراحت کول حصر نه فائده کوي نو د همدې کبله مونږ وايو چې موسی ؑ ته الله ﷻ متعددې معجزې او خوارق ورکړي وه، حتی چې ځينو علماوو کرامو د شپاړلسو نومونه اخستي دي[1].

پاتې شوه دا خبره چې په ايت شريف کښې کومو نهو ته اشاره شوې ده؟ نو د دې تفصيل دا دی چې علماء کرام د (۷) معجزاتو په تعين کښې متفق دي هغه دا دي: ۱ـ د لاس معجزه، ۲ـ د همسا معجزه، ۳ـ د طوفان معجزه، ۴ـ د مولخانو معجزه، ۵ـ د سپږيو معجزه، ۶ـ د چونګښو معجزه، ۷ـ د وينو معجزه.

اما په دوه وو نورو کښې، چې نهه عدد ورباندې پوره شي، اختلاف لري چې ټول اقوال يې تقريبًا اتو ته رسېږي[2] لاندې دوه مثالونه يې ولولئ:

الف: ځينو د موسی ؑ د ژبې غوټه پرانيستل اتمه ګڼلې ده او د درياب (قلزم) په ځيرې کېدلو باندې يې د نهمې نوم ايښی دی.

ب: ځينو ذکر شوی عدد د درياب په ځيرې کېدلو او د غره په پورته کېدلو باندې پوره کړی دی او داسې نور.

## تبصره

۲ـ مونږ ته داسې برېښي ـ والله ﷻ أعلم ـ چې په دې مقام کښې به د معجزاتو څخه هغه خوارق مطلب وي کوم چې فرعون ته د دعوت په اوږدو کښې ورښودل شوي وه ترڅو ترې عبرت واخلي او په ايمان باندې مشرف شي، چې د [الأعراف: ۱۳۰] ايت کښې ورباندې صراحت شوی دی او مونږ به يې د الله ﷻ په توفيق هلته څه رڼا اچولې ده.

نو په کار دي چې په هغو خوارقو باندې ذکر شوی عدد پوره نه کړی شي کوم چې موسی ؑ ته د دعوت د پيل څخه وړاندې ورکړی شوی وه، لکه د ژبې غوټه خلاصېدل، او يا د دعوت د اختتام څخه وروسته يې صورت نيولی وه لکه د قلزم ځيرې کېدل او د بني اسرائيلو ترې معجزانه پورېوتل.

همدارنګه بايد ذکر شوی عدد په هغو خوارقو باندې هم نهو ته ونه رسولی شي کوم چې موسی ؑ ته د فرعونيانو د هلاکت څخه وروسته (د بني اسرائيلو د دعوت په جريان کښې) ورکړی شوي وه، لکه د غره پورته کېدل او يا د ډبرې څخه د دولسو چينو بهېدل او داسې نور.

مونږ څکه چې ذکره شوې تبصره وکړه چې په همدې باندې راتلونکی ايت شريف دلالت کوي چې:

---

(۱) تفسير المراغي ج۱۵ ص۱۰۳؛ التفسير الكبير ج۲۱ ص۶۴

(۲) زاد المسير ج۵ ص۶۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿لَقَدْ عَلِمْتَ مَآ أَنزَلَ هَٰٓؤُلَآءِ إِلَّا رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ بَصَآئِرَ﴾ يعني اى فرعونه! ته خو پوهېږې چې دغه نهه خوارق بل چا نه دي نازل کړي مګر د اسمانو او ځمکو رب ﷻ په داسې حال کښې نازل کړي دي چې بصيرت درلودونکی دی او پوره حقيقت ترې سړي ته څرګندېږي.

## سوال جواب

۳_ که څوک وايي چې يوه ورځې نبي کريم ﷺ ته دوه کسان (يهودان) ورغله او څه سوال جواب يې ورسره وکړ(۱) چې مضمون او وضاحت يې په لاندې کرښو کښې لوستلی شئ:

يهودان: اى ابو القاسمه! په ﴿وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَىٰ تِسْعَ ءَايَٰتٍۭ بَيِّنَٰتٍ﴾ کښې کومې نهه معجزې مطلب دي؟

نبي کريم ﷺ: دغه نهه احکام پکښې مراد دي چې: ۱_ د الله ﷻ سره شريکان مه دروئ. ۲_ زنا مه کوئ. ۳_ ناحقه قتل مه کوئ. ۴_ غلا مه کوئ. ۵_ جادو مه کوئ. ۶_ بې ګناه سړی واکدار ته مه وړولئ چې قتل يې کړي. ۷_ سود مه خورئ. ۸_ پاک لمنو ښځو ته قذف مه وايئ. ۹_ يا د کفارو سره په جنګ کښې مه تښتئ. (په نهم کښې د راوي شک دی چې همدغه يې پکښې شمېرلې وه او که بل کوم يو).

بيا نبي کريم ﷺ وويلې: اى يهودانو! د ذکرو شوو نهو احکامو مراعات خو په ټولو باندې لازم دي مګر په تاسو باندې په خاصه توګه د دې حکم مراعات هم ضرور کړی شوي وه چې د خالي په ورځ به ښکار نه کوئ.

يهودانو د نبي کريم ﷺ پښې او لاسونه مچي کړه او هم يې وويلې چې مونږ شاهدي وايو چې ته په حقه پيغمبر يې.

نبي کريم ﷺ دوی مخاطب کړه چې: نو بيا تاسو (يهودان) په ايمان باندې ولې نه مشرف کېږئ؟

يهودان: ټول يهودان خو ځکه ايمان نه راوړي چې (د دوی په عقيده) داوُد ﷺ الله ﷻ ته سوال کړی وه چې په دائمي توګه دې د ده په اولاده کښې د نبوت سلسله جريان لري، دغه سول يې (د دوی په خيال) الله ﷻ قبول کړی دی، او ته خو د داوُد ﷺ د اولادې څخه نه يې. اما مونږ دواړه ځکه په علني توګه ايمان نه راوړو چې که ايمان راوړو نو دستي به مو يهودان ووژني.

نو پوښتنه دا ده چې: ايا د ﴿تِسْعَ ءَايَٰتٍۭ بَيِّنَٰتٍ﴾ تفسير په نهو معجزاتو سره د ذکر شوي حديث سره څه منافات نه لري چې په نهو احکامو باندې تفسير شوی دی؟

مونږ وايو چې: علماوو کرامو د ايت او حديث ترمنځ د تطبيق دپاره لاندې قولونه کړي دي:

الف: د حديث په راويانو کښې يو راوي عبد الله بن سلمه ﷺ نومېږي چې د حفظ د حيثه ضعيف او کمزوری دی(۲) شايد چې په هغه باندې اشتباه ورغلې وي او اشتباهًا يې ذکر شوی حديث شريف

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۴۶

(۲) تفسير ابن کثير ج۳ ص۶۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د ایت شریف دپاره تفسیر ګڼلی وي.

ب: شاید چې د نبي کریم ﷺ جواب د "أسلوب الحکیم" د قبیلې څخه وي[1] چې ای یهودانو! تاسو ته په کار دي چې د نهو احکامو پوښتنه وکړئ چې د فلاني او فلاني څخه عبارت دي، نه د نهو معجزاتو څخه چې د هغو نومونه اخستل تاسو ته چندان په ګټه نه تماميږي.

ج: شاید چې نبي کریم ﷺ د نهو معجزاتو د بیان څخه وروسته په جواب باندې علاوه ورته ذکر شوي احکام هم ښودلي وي خو راوي به په خپل روایت کښې اصلي جواب نه وي روایت کړی او د علاوه په ذکر باندې به یې اکتفاء کړې وي[2]، والله ﷻ أعلم.

## یادونه

۴ـ جمهورو علماوو کرامو دا جمله ﴿ فَسْـَٔلْ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ إِذْ جَآءَهُمْ ﴾ د لاندې نکاتو په نظر کښې نیولو سره تفسیره کړې ده[3]:

الف: په ﴿ فَسْـَٔلْ ﴾ سره موسی ﷺ مخاطب دی او د "قُلْنَا لَهُ" کلمات ورسره مقدر دي.

ب: د ﴿ فَسْـَٔلْ ﴾ کلمه د هغه سوال څخه اشتقاقه شوې ده کوم چې د پوښتنې معنی نه بلکې د طلب معنی ورکوي، چې غیر مشهوره معنی ده.

ج: د ﴿ إِذْ ﴾ توری په مقدر "قُلْنَا لَهُ" پورې تعلق نیسي.

د: د "هم" ضمیر فرعونیانو ته راجع دی.

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې مونږ موسی ﷺ ته نهه ښکاره معجزې ورکړې وې او مونږ ورته ویلي وه چې کله فرعونیانو ته ورغلې نو غوښتنه تري وکړه چې بني اسرائیل د اسارت څخه خوشې کړي.

مګر ځینې نور علماء کرام د ذکرې شوې جملې په تفسیر کښې د لاندې نکاتو مراعات کوي[4]:

اول: په ﴿ فَسْـَٔلْ ﴾ سره خطاب موسی ﷺ ته نه بلکې نبي کریم ﷺ ته متوجه دی او د "قُلْنَا لَهُ" د کلماتو تقدیر ته اړتیا نشته.

دوهم: سوال په خپله مشهوره معنی سره دی چې پوښتنه کول دي، نه د غوښتنې او طلب معنی چې غیر مشهوره ده.

دریم: د ﴿ إِذْ ﴾ توری په ﴿ ءَاتَيْنَا ﴾ پورې تعلق نیسي چې وړاندې ذکر دی.

څلورم: د "هُمْ" ضمیر فرعونیانو ته راجع نه دی چې مخکښې یې په صراحت ذکر نشته بلکې بني اسرائیلو ته راجع دی چې دېر نژدې ذکر دی.

---

(١) تفسیر ابي السعود ج٥ ص١٩٨
(٢) حواشي سنن النسائي ج٢ ص١٧١
(٣) البحر المحیط ج٥ ص١١٩؛ حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج٣ ص٢۴۴
(۴) روح المعاني ج١٥ ص١٨۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو د معنی حاصل يې داسې راځي چې: مونږ موسی عليه السلام ته نهه (٩) ښکاره معجزې هغه وخت ورکړې وې کله چې د مدين ښار څخه بېرته بني اسرائيلو ته ورغی او په دعوت باندې يې پيل وکړ.

نو ای پيغمبره! ته د بني اسرائيلو څخه پوښتنه وکړه چې د معجزاتو په مقابل کښې فرعون څه غبرګون وښود؟ د هغه غبرګون دا وه چې موسی عليه السلام ته يې د جادوګر او جادو کړی شوي لقب ورکړ او معجزې يې دروغ او کوډې وبللې، نو که ستا د وخت فرعونيانو ته مونږ د فرمايشي معجزاتو غوښتنه پوره کړو دوی به هم د هغوی غوندې په ګمراهۍ کښې لا زيات ورقوي شي.

مونږ ته همدغه دوهم تفسير غوره برېښي چې نه ورباندې د ايتونو ارتباط خرابېږي، نه پکښې د کلماتو تقدير ته اړتيا شته او بالآخره نه د سوال کلمه په غير مشهوره معنی باندې اخستلې شوې ده.

## ثبور څه معنی؟

٥ـ په ﴿ وَإِنِّي لَأَظُنُّكَ يَـٰفِرْعَوْنُ مَثْبُورًا ﴾ کښې د "مَثْبُور" کلمه د "ثبور" ـ لکه "قتول" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې علماوو کرامو يې تقريبًا شپږ معناوې کړې دي[١]، مګر کومه معنی يې چې بهتره برېښي او نژدې ده چې په نورو معناوو باندې اشتمال ولري هغه د هلاک معنی ده.

يعنې ای فرعونه! زه ګومان کوم چې ته هلاک کړی شوی يې او په نن سبا کښې به د الهي غضب لاندې واقع شې.

## يادونه

٦ـ څرنګه په دغو ايتونو کښې په دوه وو جملو کښې د "ظَنٌّ" او د "إِنَّ" دوه کلمې څنګ په څنګ نازلې شوې چې ظاهرًا يې په معناوو کښې منافات معلومېږي، نو هېله ده چې هغه تحقيق ته يو ځل مراجعه وکړی شي کوم چې د [البقرة:٢٤٩] ايت لاندې تېر شوی دی، والحمد لله ﷻ.

## د لفيف معنی

٧ـ په ﴿ جِئْنَا بِكُمْ لَفِيفًا ﴾ کښې د "لَفِيف" کلمه د "لَفّ" څخه اشتقاقه شوې ده چې د تاوولو معنی ورکوي، مګر کله چې نوموړې کلمه په انسانانو کښې استعماله شي نو د هغو خلکو مجموعې ته ويل کېږي کومه چې د مختلفو قبائلو څخه تشکيله شوې وي[٢].

يعنې ای بني اسرائيلو! اوس چې ستاسو دښمن هلاک کړی شو نو ټوله ځمکه ستاسو د اوسېدانې دپاره مساعده ده چې په هر ځای کښې استوګنه کولی شئ، خو په ياد ولرئ چې دنيا دائمي کور نه دی، کله چې د قيامت ورځ راشي نو تاسو او ستاسو دښمنان (فرعونيان) به په مجموعي توګه د حشر په ميدان کښې د حساب کتاب دپاره ودروو.

---

(١) زاد المسير ج٥ ص٦٧؛ لسان العرب ج٤ ص٩٩

(٢) مفردات الراغب ص٤٧٢

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د ایتونو ارشاد

۸_ د ﴿ لَقَدْ عَلِمْتَ ﴾ الآية څخه څرګندېږي چې په علم باندې سړی مؤمن نه شي جوړېدلی که نه نو فرعون خو به مؤمن ګڼل شوی وی، بلکې ایمان د هغه علم څخه عبارت دی د کوم سره چې قبول ملګری وي، نو فرعون د معجزاتو په حقانیت علم درلود خو په حقانیت سره یې قبول کړې نه وه.

همدې مضمون ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ وَاسْتَيْقَنَتْهَا أَنفُسُهُمْ ﴾ [النمل:۱۴] یعنې فرعونیانو د معجزاتو څخه انکار وکړ حال دا چې زړونو یې ورباندې یقین کاوه چې د الله ﷻ د پلوه په حقه نازلې شوې دي، البته چې په دوی باندې فقط تکبر او په خپلو ځانونو باندې ظلم کول باعث وه.

﴿ وَبِالْحَقِّ أَنزَلْنَاهُ وَبِالْحَقِّ نَزَلَ ۗ وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا مُبَشِّرًا وَنَذِيرًا ﴿١٠٥﴾ وَقُرْآنًا فَرَقْنَاهُ لِتَقْرَأَهُ عَلَى النَّاسِ عَلَىٰ مُكْثٍ وَنَزَّلْنَاهُ تَنزِيلًا ﴿١٠٦﴾ قُلْ آمِنُوا بِهِ أَوْ لَا تُؤْمِنُوا ۚ إِنَّ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ مِن قَبْلِهِ إِذَا يُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ يَخِرُّونَ لِلْأَذْقَانِ سُجَّدًا ﴿١٠٧﴾ وَيَقُولُونَ سُبْحَانَ رَبِّنَا إِن كَانَ وَعْدُ رَبِّنَا لَمَفْعُولًا ﴿١٠٨﴾ وَيَخِرُّونَ لِلْأَذْقَانِ يَبْكُونَ وَيَزِيدُهُمْ خُشُوعًا ۩ ﴿١٠٩﴾ ﴾

[۱۰۵] او په حقه سره دا (قرآن کریم) مونږ نازل کړی دی او په حقه سره نازل شوی دی، او مونږ خو ته نه یې استولی مګر په داسې حال کښې چې (فقط) زیری ورکوونکی او ډاروونکی یې (او بس).

[۱۰۶] او مونږ قرآن کریم ټوټه-ټوټه نازل کړی دی (همدا مونږ) د دې دپاره (ټوټه-ټوټه نازل کړی دی) چې ته یې (ای پیغمبره!) په ارامۍ سره په خلکو باندې قرائت کړې، او مونږ دا (قرآن کریم د حوادثو او واقعاتو په ارتباط) په دفعاتو نازل کړی دی، په دفعاتو نازلول.

[۱۰۷] (ای پیغمبره! د قرآن کریم منکرانو ته) ووایه چې: تاسو پرې ایمان راوړئ او یا یې پرې مه راوړئ (ستاسو خوښه)، یقیناً هغه کسان کومو ته چې د دې (قرآن کریم) څخه وړاندې (د نورو کتابونو) علم ورکړی شوی دی کله چې ورباندې دا (قرآن کریم) تلاوت کړی شي نو دوی په زنو (مخونو) سره (نسکور) په داسې حال کښې لوېږي چې (خپل رب ﷻ ته) سجدې کوونکي وي.

[۱۰۸] او دوی (په همدغه حال کښې) وايي چې پاکي ده زمونږ رب ﷻ ته (د وعدې د نه پوره کولو څخه) یقیناً چې زمونږ د رب ﷻ وعده (پوره) کړی شوې ده (خلف پکښې نه واقع کېږي).

[۱۰۹] او دوی په زنو (مخونو) سره (نسکور) لوېږي په داسې حال کښې چې ژاړي، او (په داسې حال کښې چې) قرآن کریم دوی ته (سات په سات) عاجزي زیاتوي.

## ارتباطونه

۱_ د دې سورت په [۸۸] ایت کښې د قرآن کریم عظیم الشاني دائمي معجزې ته اشاره شوې ده

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې بیا د همدې مطلب د تائید دپاره څه نور مضامین نازل شوه، د هغو د ختم څخه وروسته په دې ایتونو کښې یو ځل بیا د کلام مخ ذکر شوي مطلب ته اړولی شوی دی او په دائمي معجزې (قرآن کریم) باندې څه نوره رڼا هم اچولې شوې ده.

۲_ په وړاندېنیو نژدې ایتونو کښې نبي کریم ﷺ ته د موسی ﷺ د نهو معجزو په ذکر باندې تسلي ورکړه شوې وه چې په فرعونیانو باندې یې څه اثر ونه غورزاوه، او په دې ایتونو کښې د قرآن کریم په نزول باندې تسلي ورکوله کېږي چې په بې شمېره معجزاتو باندې مشمل دی، نو حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! د خپل ځان د تسلی دپاره یو ځل بیا د قرآن کریم دائمي اعجاز درپه زړه کړه چې:

۱_ دغه قرآن کریم تاته مونږ په حقه درنازل کړی دی چې په خپل حقانیت باندې پخپله شاهدي وایي او د مقابلې څخه یې ټول مخلوقات عاجز دي او عاجز به وي.

یا په بل عبارت: که دا قرآن کریم مونږ نه وی درنازل کړی او تا له خپله ځانه جوړ کړی وی (لکه چې مشرکان خیال کوي) نو د یو پلوه به پکښې ډېر اختلافات او تناقضونه موندل شوي وُی او د بلې خوا به دغه کار بل چا هم کړی وی، او یا خو به د څو ایتونو په جوړولو کښې لږ څه ورنژدې شوي وی.

نو کله چې د قرآن کریم په مقابل کښې ټول مخلوقات عاجز دي نو معلومه شوه چې دا مونږ درنازل کړی دی او په ډېره محفوظه طریقه باندې تاته دررسېدلی دی، نه یې په اصل کښې غلطي شته او نه ورسره په لاره کښې غلطي خلطه شوې ده.

۲_ ای پیغمبره! ته د کفارو په خط السیر باندې مه خپه کېږه چې په کفر باندې کلک دي، او دا ځکه چې د هغوی د کفریاتو مسوٗلیت خو تاته متوجه نه دی، ته خو په بل هیڅ حیث مونږ نه یې لېږلی مګر په همدې حیث چې خلکو ته زېری ورکړې او د عذاب څخه یې وډار کړې.

۳_ ای پیغمبره! مونږ ټول قرآن کریم په تاباندې په یو ځل درنازل نه کړ او دغه کار ته مو په تدریجي توګه صورت ورکړ ترڅو:

الف: چې ته یې په خلکو باندې په مدار مدار باندې قرائت کړې، نو د یو پلوه به ته د مشقت سره نه مخامخ کېږې او حفظ کول به یې درته اسان وي، او د بل پلوه به خلکو ته د ښه تفکر موقع مساعده شي چې په حقانیت او اعجاز کښې یې په ارامی سره سوچ وکړي.

ب: چې مونږ یې په تاباندې موقع په موقع درنازل کړو او وخت په وخت تازه او د واقعاتو سره مطابقې معجزې په تاباندې درنازلې کړو، او دا ځکه لکه چې ټول قرآن کریم لویه معجزه ده همدارنګه د قرآن کریم هر یو ایت او هر یو سورت هم بیلې بیلې معجزې دي، نو په همدې بنیاد مونږ تاته د بل هر پیغمبر څخه د ډېرو او قوي معجزو درکوونکي یاستو.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۴_ ای پیغمبره! په دې باندې علاوه چې قرآن کریم په خپل حقانیت باندې پخپله شاهدي وايي، هغه کسان پرې هم شاهدي وايي کومو ته چې د دې قرآن کریم څخه وړاندې علم ورکړی شوی وه او د کتاب خاوندان ګرځولي شوي وه. نو ته مشرکان مخاطب کړه چې:
ای مشرکانو! ستاسو خوښه چې ایمان ورباندې راوړئ او که انکار ترې کوئ، ستاسو په ایمان سره د دې قرآن کریم لوړه رتبه او عالي منزلت پورته کېږي نه، او په انکار سره مو راښکته کېږي نه، ذکر شوي د علم خاوندان برسېره په دې چې په قرآن کریم باندې ایمان راوړي دوی د قرآن کریم د تلاوت په وخت کښې (د زیات یقین او قوي علم د کبله) د لاندې کیفیاتو سره هم مخامخ کېږي:
الف: کله چې ورباندې قرآن کریم ولوستلی شي نو د ډېرې تواضع د کبله په څمکه باندې د سجدې په حال کښې نسکور پرېوځي.
ب: دوی وايي چې د دې څخه زمونږ رب ﷻ ته پاکي ده چې په خپله وعده باندې وفا ونه کړي، یقیناً زمونږ د رب ﷻ وعده ضرور او هرومرو پوره کړی شوې ده، چې په پخوانیو کتابونو کښې یې د آخر الزمان پیغمبر د را استولو او د وروستني کتاب د نازلولو وعده کړې وه هغه یې پوره کړه، نبي کریم ﷺ یې راولېږه او قرآن کریم یې ورباندې نازل کړ.
ج: دوی برسېره په دې چې په څمکه باندې د عاجزۍ د اثر د کبله نسکور لوېږي، ژړاګانې هم کوي او قرآن کریم یې عاجزي او تواضع لا وراضافه کوي.

## توضیحات

۱_ په ﴿ وَبِٱلۡحَقِّ أَنزَلۡنَٰهُ وَبِٱلۡحَقِّ نَزَلَ ﴾ کښې د ﴿ أَنزَلۡنَٰهُ ﴾ منصوب ضمیر قرآن کریم ته راجع دی لکه چې وړاندې د ارتباطونو په بیان کښې ورته اشاره وشوه، او د جملې معنی دا ده چې قرآن کریم مونږ نازل کړی دی او دروغین کلام نه دی او د نزول په دوران کښې هم ورپورې چا دروغ نه دي غوټه کړي بلکې په ډېره محفوظه طریقه باندې نازل شوي دي.
الله ﷻ ذکر شوې جمله په بل ایت کښې داسې تفسیره کړې ده چې: ﴿ لَّا يَأۡتِيهِ ٱلۡبَٰطِلُ مِنۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَلَا مِنۡ خَلۡفِهِۦ ﴾ [حم السجدة: ۴۲] یعنې قرآن کریم ته نه د وړاندې طرف او نه د بېرته طرف بلکې د هیڅ طرف څخه باطل او ناحق څه شی نه شي ورتلای (ورنژدې کېدلی).
۲_ په ﴿ وَقُرۡءَانٗا فَرَقۡنَٰهُ ﴾ کښې باید هغه نحوي تحلیل په نظر کښې ونیولی شي کوم چې مونږ _لله الحمد_ د همدې سورت په دولسم ایت کښې لیکلی دی چې حاصل یې داسې راځي چې: او قرآن کریم مونږ جدا جدا نازل کړی دی جدا جدا مو نازل کړی دی.

## سوال جواب

۳_ که څوک وايي چې د ﴿ وَنَزَّلۡنَٰهُ تَنزِيلٗا ﴾ مضمون خو په وړاندېنۍ جمله کښې په ښه توګه منعکس شوی دی، نو پوښتنه دا ده چې: په تکراري نزول کښې یې څه حکمت وه؟

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وايو چې: په وړاندېنۍ جمله کښې د تفريق دوه وو فائدو ته اشاره شوې ده چې يوه په نبي کريم ﷺ باندې اساني او بله خلکو ته د تفکر فرصت ورکول، د همدې کبله په هغې پورې د ﴿ لِتَقۡرَأَهُۥ عَلَى ٱلنَّاسِ عَلَىٰ مُكۡثٖ﴾ کلمات متعلق ګرځولی شوي دي؛ او په دې جمله کښې د تفريق يوې بلې ګټې ته اشاره ده چې ترڅو قرآن کريم د حوادثو او پېښو په مطابق نازل شي او هر يو نزول يې بېله بېله معجزه جوړه شي، نو په دواړو جملو کښې د مضمون تکرار نشته.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۴_ که څوک وايي چې په ﴿ يَخِرُّونَ لِلۡأَذۡقَانِ سُجَّدٗا ﴾ کښې د "ل" توری د "علی" د توري معنی ورکوي[۱] چې د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: د علم خاوندان د قرآن کريم د تلاوت په وخت کښې په زنو باندې سجده کوونکي جوړېږي؛ نو پوښتنه دا ده چې: سجده خو په پوزه او تندي باندې صورت نيسي چې په ځمکه باندې اتصال لري، نه په زنه باندې چې په دغه حال کښې د ځمکې سره اتصال نه لري؟

مونږ وايو چې: ذکر شوی د "ل" توری په ﴿ يَخِرُّونَ ﴾ پورې تعلق نيسي او د "أذقان" کلمه عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په دې مقام کښې د مخونو څخه کنايه اخستې ده[۲]، نو د معنی حاصل يې داسې راځي چې د قرآن کريم د تلاوت په وخت کښې علماء کرام په خپلو مخونو باندې نسکور لوېږي حال دا چې خپل رب ﷻ ته په اوو اندامونو باندې سجدې کوونکي وي.

که بالفرض ذکر شوي د "ل" توري په ﴿ سُجَّدٗا ﴾ پورې تعلق نېولی وی نو ذکر شوی اعتراض به وارد شوی وی.

## يادونه

۵_ د دې سورت په سريزه کښې ليکلي شوي دي چې دا سورت مکي سورت دی نو دا خبره هم د قرآن کريم د معجزاتو څخه شمېرله کېږي چې په مکه معظمه کښې يې د اهل الکتابو د حقاني علماوو کرامو حال بيان کړی وه چې د قرآن کريم د تلاوت په وخت کښې ورباندې داسې- داسې کيفيتونه وردمخه کېږي، حال دا چې د عين کيفيتونو سره هغوی د هجرت څخه وروسته مخامخ شوه لکه چې لږ څه بيان يې د [المائدة:۸۳] ايت لاندې تېر شوی دی، والحمد لله ﷻ.

## د ايت شريف ارشاد

٦_ د ﴿ وَيَخِرُّونَ لِلۡأَذۡقَانِ يَبۡكُونَ وَيَزِيدُهُمۡ خُشُوعٗا ۩ ﴾ ايت شريف مونږ ته ارشاد کوي چې د الله ﷻ له ډاره وژاړو او هم د قرآن کريم د تلاوت يا د اورېدلو په وخت کښې همدغه حالت د خپلو ځانونو دپاره غوره کړو، ترڅو مو د الله ﷻ رضاء په نصيب شي.

---

(۱) تفسير القرطبي ج ۱۰ ص ۳۴۱

(۲) المحرر الوجيز ج ۱۰ ص ۳۵۸؛ احکام القرآن کريم للجصاص ج ۳ ص ۲۰۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د ښه وضاحت دپاره لاندې احادیث ولولئ:

الف: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «عَيْنَانِ لَا تَمَسُّهُمَا النَّارُ عَيْنٌ بَكَتْ مِنْ خَشْيَةِ اللهِ وَعَيْنٌ بَاتَتْ تَحْرُسُ فِي سَبِيلِ اللهِ»[١] يعنې د دوه ډولو سترګو خاوندان به د دوزخ اور مسه نه کړي، يو د هغو سترګو خاوند چې د الله ﷻ له ډاره وژاړي، او بل د هغو سترګو درلودونکی چې د الله ﷻ په لاره کښې حراست (پيره داري) وکړي.

ب: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «لَا يَلِجُ النَّارَ رَجُلٌ بَكَى مِنْ خَشْيَةِ اللهِ تَعَالَى حَتَّى يَعُودَ اللَّبَنُ فِي الضَّرْعِ وَلَا يَجْتَمِعُ غُبَارٌ فِي سَبِيلِ اللهِ وَدُخَانُ نَارِ جَهَنَّمَ»[٢] يعنې اور ته به هغه سړی داخل نه شي کوم چې د الله ﷻ له ډاره ژړلي وي ترڅو چې شوده بېرته غولانزې ته ورداخل شي، او د في سبيل الله غبار (ګرد) او د دوزخ د اور لوږې به په يوه ځای کښې سره جمعه نه شي، نو کوم دماغ ته چې د في سبيل الله ګرد ور رسېدلی وي هغه به دوزخ ته داخل نه شي.

## ځلورمه سجده

٧ـ په ﴿ وَيَخِرُّونَ لِلْأَذْقَانِ يَبْكُونَ وَيَزِيدُهُمْ خُشُوعًا ۩ ﴾ کښې د تلاوت ځلورمه سجده ده چې ضروري احکام يې د الله ﷻ په توفيق د [الأعراف:٢٠٦] ايت لاندې تير شوي دي.

﴿ قُلِ ٱدْعُواْ ٱللَّهَ أَوِ ٱدْعُواْ ٱلرَّحْمَٰنَ ۖ أَيًّا مَّا تَدْعُواْ فَلَهُ ٱلْأَسْمَآءُ ٱلْحُسْنَىٰ ۚ وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا وَٱبْتَغِ بَيْنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا ﴿١١٠﴾ وَقُلِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِى لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ شَرِيكٌ فِى ٱلْمُلْكِ وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ وَلِىٌّ مِّنَ ٱلذُّلِّ ۖ وَكَبِّرْهُ تَكْبِيرًۢا ﴿١١١﴾ ﴾

[١١٠] (ای پيغمبره! خپل امت ته) ووايه چې (خپل رب ﷻ) د الله ﷻ (په نوم) وبلئ او يا (يې د) الرحمن (په نامه) وبلئ.

په هر يوه نامه باندې يې چې وبلئ نو (تاسو حق ته رسېدلي ياست ځکه چې) همده ﷻ ته سپېڅلي (او پاکيزه) نومونه دي (او ذکر شوي دواړه نومونه پکښې شامل دي).

او (ای پيغمبره!) په خپل لمانځه (قرائت) سره جهر مه کوه او مه پرې پټوالی کوه او د دغو دواړو ترمنځ (متوسطه) لاره ولټوه (غوره کړه).

[١١١] او (ای پيغمبره! د دلايلو ښځه وروسته) ووايه چې هغه الله ﷻ ته حمد (او ثناء) ده چې نه يې ولد نيولی دی او نه ورته په واکدارۍ کښې شريک شته دی او (هم) نه ورته د ناتوانۍ ځخه دوست (کارساز) شته دی (چې د هر حيثه توانا دی).

---

(١) جامع الترمذي ج١ ص٢٩٣

(٢) سنن النسائي ج٢ ص٥٤

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او (ای پیغمبره!) الله ﷻ ته د کبریاء نسبت وکړه، د کبریاء نسبت کول (او ووایه چې: اللهُ أَكْبَرُ كَبِيرًا وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْدًا كَثِيرًا).

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې د قرآن کریم په ارتباط د حقاني علماوو کرامو تګلاره بیان شوې وه او په دې ایتونو کښې په همدې اړوند د جهالو غبرګون ته اشاره شوې ده.

## شان نزول او توضیحات

۱ـ د ﴿ قُلِ ٱدْعُواْ ٱللَّهَ أَوِ ٱدْعُواْ ٱلرَّحْمَٰنَ أَيًّا مَّا تَدْعُواْ فَلَهُ ٱلْأَسْمَآءُ ٱلْحُسْنَىٰ ﴾ په شان نزول کښې علماوو کرامو متعدد روایتونه لیکلي دي، لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: یوه ورځې نبي کریم ﷺ په مکه معظمه کښې لمونځ وکړ او بیا یې په دعاء کښې ویلې چې: یا الله! یا رحمن!، نو مشرکانو ویلې چې: تاسو دغه صابي (د دین څخه اووښتي) ته وګورئ چې مونږ د دوه وو معبودانو د عبادت څخه منعه کوي او پخپله دوه معبودانو ته سوال کوي چې یو الله دی او بل رحمن دی. نو الله ﷻ ذکر شوی ایت نازل کړ[۱]، چې ای پیغمبره! خلکو ته ووایه چې: ستاسو خوښه چې د الله ﷻ په نامه سوال کوئ او که د رحمن په نامه یې بلئ، او دا ځکه چې په هر نامه باندې یې چې تاسو وبلئ هغه د ده ﷻ په نومونو کښې شامل دی، چې ده ﷻ ته د ډېر نومونه دي خو واحد او لا شریک دی.

ب: تر هغه وخته پورې چې ﴿ بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴾ نه وه نازله شوی نو نبي کریم ﷺ به په "بِاسْمِكَ اللّٰهُمَّ" باندې شروع کوله، خو کله چې ﴿ بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴾ نازله شوه نو بیا به یې په همدې باندې شروع کوله. نو مشرکانو ویلې چې: رحیم خو مونږ پېژنو «فَمَا الرَّحْمٰنُ»[۲] نو "الرحمن" څه شی دی، دا خو مونږ نه پېژنو؟. نو الله ﷻ ذکر شوی ایت نازل کړ چې دا د الله ﷻ د مبارکو نومونو څخه یو نوم دی.

همدغې خبرې ته ورته خبره د حدیبې د صلحې په وخت کښې د مشرکانو استازي (سُهیل) هم کړې وه چې: «أَمَّا الرَّحْمَنُ فَوَاللهِ مَا أَدْرِي مَا هُوَ؟»[۳] یعنې هر چې رحمن دی نو په الله ﷻ مې دې سوګند وي چې زه نه پوهېږم چې دا څه شی دی.

## یادونه

۲ـ د أَسْمَاءُ الْحُسْنَى په باب د الله ﷻ په توفیق د [الأعراف: ۱۸۰] ایت لاندې ښه په زړه پورې ضروري تحقیق تېر شوی دی چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو، فقط همدومره ورباندې وراضافه

(۱) الدر المنثور ج۵ ص۳۴۸
(۲) اسباب النزول للواحدي ص۲۰۰
(۳) صحیح البخاري ج۱ ص۳۷۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کوو چې په يوه حديث شريف کښې نبي کريم ﷺ د الله ﷻ نهه نوي (۹۹) نومونه مونږ ته راښودلي دي[۱] نو هيله ده چې هلته يو ځل مراجعه وکړی شي (خو حصر پکښې مطلب نه دی).

۳- د ﴿وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا وَابْتَغِ بَيْنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا﴾ په شان نزول کښې هم علماوو کرامو متعدد روايتونه ليکلي دي، لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وايي چې: ذکر شوی ايت شريف په داسې وخت کښې نازل شوی دی چې د نبي کريم ﷺ نبوت شهرت ته نه وه رسېدلی[۲]، نو کله به يې چې خپلو صحابه وو کرامو ﷺ ته لمونځ ورکاوه خپل مبارک اواز به يې په قرآن کريم باندې پورته کاوه (ترڅو دوی قرآن کريم واوري) نو کله به چې مشرکانو واورېد نو قرآن کريم ته به يې هم کنځاوې کولې او هغه چاته هم چې قرآن کريم يې نازل کړی دی او بالآخره هغه چاته هم چې قرآن کريم يې راوړی دی، نو الله ﷻ خپل پيغمبر ﷺ ته هدايت وکړ چې: په خپل لمانځه يعنې قرائت باندې زيات جهر مه کوه چې مشرکان يې واوري او قرآن کريم ته کنځاوې وکړې، او مه ورباندې ډېر پټوالی کوه چې خپلو صحابه وو کرامو ﷺ ته يې وروانه اورو‌ې، او د همدې جهر او پټوالي ترمنځ منځنۍ لاره ولټوه.

ب: يو ځل نبي کريم ﷺ د سبا په لمانځه کښې قرآن کريم په لوړ اواز سره لوست چې ابو جهل ورباندې غږ وکړ چې: "لا تفتر على الله" په الله ﷻ باندې دروغ مه تړه، نو نبي کريم ﷺ خپل اواز ټيټ کړ. بيا ابو جهل نور مشرکان مخاطب کړه چې: ايا تاسو نه ګورئ چې څنګه مې غلي کړ؟ نو الله ﷻ ذکر شوی ايت شريف نازل کړ[۳].

نو د ذکرو شوو دواړو روايتونو په بنياد د ﴿بِصَلَاتِكَ﴾ څخه "بِقِرَائَتِكَ" مطلب دی، يعنې د قرآن کريم په قرائت باندې مه ډېر جهر کوه او مه پرې ډېر پټوالی کوه.

## دغه توصيه عامه ده

۴- که څه هم په ايت شريف کښې يوازې نبي کريم ﷺ ته خطاب شوی دی مګر په حقيقت کښې دا خطاب ټولو مؤمنانو ته متوجه دی. د ښه وضاحت دپاره د يوه اورېده حديث مضمون ولولئ:

الف: يوه شپه نبي کريم ﷺ په ابو بکر ﷺ باندې تېر شو چې د تهجد په لمانځه کښې يې قرائت ډېر په پټه لوست، او په عمر الفاروق ﷺ باندې تېر شو چې ډېر په لوړ اواز سره يې لوست.

ب: نو کله چې سبا دواړه د نبي کريم ﷺ په حضور کښې حاضر شوه، نو نبي کريم ﷺ ورسره لاندې سوال جواب وکړ:

ج: ای ابو بکره! زه بېګاه شپه په تا باندې تېر شوم چې قرائت دې په پټه لوست (دا ولې؟).

ابو بکر ﷺ عرض وکړ چې: ای د الله رسوله! د چا سره چې ما مناجات کاوه هغه ﷻ اورېد.

---

[۱] جامع الترمذي ج۲ ص۱۸۸
[۲] صحيح البخاري ج۲ ص۶۸۶
[۳] زاد المسير ج۵ ص۷۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


د: ای عمره! په تا باندې هم تېر شوم چې لمونځ دې کاوه او قرائت دې په لوړ اواز سره لوست (دا ولې؟).

عمر ﷺ عرض وکړ چې: ای د الله رسوله! ما هغه څوک راویښاوه کوم چې ډېر کلک ویده نه وي، او بل مې شیطان شاړه.

نو نبي کریم ﷺ ابو بکر ﷺ ته وفرمایل چې: «يَا أَبَا بَكْرٍ ارْفَعْ مِنْ صَوْتِكَ شَيْئًا» ای ابو بکره! خپل اواز دې لږ څه لوړ کړه، او عمر ﷺ ته یې وویلې چې: «اخْفِضْ مِنْ صَوْتِكَ شَيْئًا»[1] د خپل اواز څخه دې لږ څه ټیټ کړه.

## د غلو څخه د په امن کېدلو دعاء

۵ـ ځینو علماوو کرامو[2] د ذکرو شوو دواړو ایتونو څخه د لومړني ایت دپاره د غلو څخه د په امن کېدلو خاصه ثابته کړې ده، او ځېنو نورو[3] همدغه خاصه دوهم ایت ته منسوبه کړې ده. مونږ ته داسې برېښي ـ والله ﷻ أعلم ـ چې هرڅوک چې ذکر شوي دواړه ایتونه د ویده کېدلو په وخت کښې قرائت کړي نو امید دی چې الله ﷻ به یې د غلو څخه په امن کښې وساتي، ترڅو د دواړو روایتونو مراعات وکړی شي.

## یادونه

۶ـ که څه هم ځینو علماوو کرامو د ﴿ بِصَلَاتِكَ ﴾ څخه دعاء اخستې ده[4] چې په دعاء کښې اعتدال کوه، او ځینو ترې پخپله لمونځ مراد کړی دی[5] چې په ځینو لمونځونو کښې جهر کوه لکه د ماښام، ماسخوتن، او د سبا لمونځ، او په ځینو کښې خفیه قرائت لوله لکه د ماسپښین او مازدیګر دوه لمونځونه؛ مګر مونږ ته د ایتونو د ارتباط د کبله همغه تفسیر غوره څرګند شو کوم چې وړاندې ذکر شو چې د ذکر شوي عبارت څخه قرائت مطلب دی.

## هېر مو نه شي!

۷ـ هېر مو نه شي چې الله ﷻ دا سورت په ﴿ سُبْحَٰنَ ٱلَّذِىٓ أَسْرَىٰ بِعَبْدِهِۦ ﴾ الآیة سره شروع کړی وه چې هغه اقدس ذات ﷻ ته (چې خپل ممتاز بنده یې د شپې په څه برخه کښې آن بیت المقدس ته ورساوه او د معراج د دورې څخه وروسته یې بېرته مکې معظمې ته راووست) د هغو ټولو اقوالو او افعالو څخه پاکې ده په کومو باندې چې مشرکان او کفار قائل دي او د ده ﷻ سره مناسب نه دي.

---

(۱) سنن ابي داوُد ج۱ ص۱۸۸
(۲) الدر المنثور ج۵ ص۳۴۸
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۷۰
(۴) صحیح البخاري ج۲ ص۶۸۷
(۵) روح المعاني ج۱۵ ص۱۹۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په همدې مطلب باندې د اثبات دپاره زښت ډېر دلایل تېر کړی شوه، د دلایلو څخه وروسته د نتیجې په شکل الله ﷻ خپل پیغمبر (خپل ممتاز بنده) ته توصیه وکړه چې: ﴿وَقُلِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ﴾ الآیة.
یعنې ای پیغمبره! څرنګه چې په تېر شوي سورت کښې الله ﷻ خپل وحدانیت او د کفارو د مزخرفو اقوالو رد په ډېره ښه توګه په اثبات ورساوه، نو ته د همدغه الله ﷻ حمد اوثناء ووایه چې د لاندې مطالبو د اثبات دپاره یې ډېر قوي دلایل درزده کړه:
الف: الله ﷻ ولد نه دی نیولی او نه ورسره د اولاد نیول مناسبت لري، نو نه عیسی علیه السلام ابن الله دی او نه عزیر ابن الله دی لکه چې اهل الکتاب ورباندې قائل دي، او بالآخره نه پرښتې بنات الله دي لکه چې مشرکان ورباندې قائل دي.
ب: الله ﷻ په خپله پاچاهۍ او د معبودیت په استحقاق کښې شریک نه لري، نو د بوت پرستانو او نورو کفارو ادعاګانې ټولې غلطې دي.
ج: الله ﷻ د هر حیثه کامل دی، هیچاته احتیاج او ارتیا نه لري، ده ﷻ ته د بیوسیتوب د کبله دوست او کارساز نشته ځکه چې د بیوسیتوب او ناتوانۍ څخه منزه او پاک دی.
د: ای پیغمبره! الله ﷻ ته د ټولو نواقصو څخه د لوېۍ نسبت کوه د لوېۍ نسبت کول، او په أَللهُ أَكْبَرُ كَبِيرًا سره اواز پورته کوه.

سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ للهِ ولا إلهَ إلا الله وَاللهُ أَكْبَرُ وَلا حَوْلَ وَلا قُوَّةَ إِلَّا باللهِ الْعَظِيمِ، اللَّهُمَّ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ.

د الله ﷻ په توفیق د "الإسراء" سورت ترجمه او تفسیر ختم شو.
۱۴۱۸/۱۲/۴ هـ ق = ۱۳۷۷/۱/۱۲ هـ ش = ۱۹۹۸/۳/۱ میلادي.

Scanned by CamScanner

# الكهف (١٨)



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سريزه

د دې ښخه وړاندې چې د سورت په تفسير باندې پيل وكړو د محترمو لوستونكو پام لاندې ټكو ته رااړوو:

۱ـ دا سورت مكي سورت دی، همدا د عبد الله بن عباس رضي‌الله‌عنهما روايت دی[۱]، او هم د ټولو مفسرينو كرامو نظر دی[۲].

۲ـ ټول ايتونه يې يو سلو لس (۱۱۰) دي[۳].

۳ـ د كلماتو شمېر يې يو زرو پنځه سوه اوه اويا (۱۵۷۷) دی، او د حرفونو شمېر يې شپږ زره درې سوه شپېته (۶۳۶۰) دی[۴].

۴ـ دا سورت د نورو مكي سورتونو په شان د عقائدو تصحيح او د طرز الفكر سمون په اثبات رسوي، همدارنګه د الله ﷻ د وحدانيت او د قيامت د ورځې حقانيت پكښې نازل شوی دی، او داسې نور.

### د وړاندېني سورت سره د دې سورت تناسب

۵ـ د "الكهف" سورت د "بني اسرائيل" د سورت سره په ډېرو وجوهو سره تناسب لري، لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: هغه سورت په تسبيح پيل شوی وه چې: ﴿ سُبۡحَـٰنَ ٱلَّذِیۤ أَسۡرَىٰ بِعَبۡدِهِۦ ﴾، او دا سورت په تحميد باندې پيل كېږي چې: ﴿ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِیۤ أَنزَلَ عَلَىٰ عَبۡدِهِ ٱلۡكِتَـٰبَ ﴾. يا په بل عبارت: دواړه سورتونه د الله ﷻ په صفاتو باندې پيل شوي دي خو هغه په سلبي صفت باندې شروع شوی دی او دا په ثبوتي صفت باندې، او په دواړو كښې نبي كريم ﷺ د بنده په نوم باندې ياد شوی دی چې د ده ﷺ ډېر عالي صفت دی، ټولو مؤمنانو ته لازمه ده چې خپل پيغمبر د بندګۍ ښخه الوهيت ته ورتېر نه كړي لكه ښنګه چې نصاراوو عيسى عليه‌السلام د بندګۍ ښخه الوهيت ته ور ويستلی وه.

ب: هلته يو مضمون دا وه چې بندګانو ته لږ علم وركړی شوی دی او په دې سورت كښې د موسى عليه‌السلام او خضر عليه‌السلام قيصه په همدې مضمون باندې د شاهد په توګه نازله شوې ده.

ج: هلته حشر او بعث بعد الموت ته اشاره شوې وه او دلته د همدې مطلب د ښه اثبات دپاره د اصحاب الكهف قيصه نازله شوې ده، او داسې نور.

### د دې سورت شان نزول

۶ـ مونږ ـ لله الحمد والمنة ـ د [الإسراء: ۸۵] ايت په توضيحاتو كښې ليكلي دي چې د "الكهف"

---

(۱) الدر المنثور ج۵ ص۳۵۴
(۲) المحرر الوجيز ج۱۰ ص۳۶۱
(۳) روح المعاني ج۱۵ ص۱۹۹
(۴) اللباب في علوم الكتاب ج۱۲ ص۴۱۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سورت په یو ځل نازل شوی دی او د نزول سبب یې دا وه چې مشرکانو د نبي کریم ﷺ څخه د اصحاب الکهف، ذو القرنین او د روح په هکله د یهودانو په لمسون درې پوښتنې وکړې چې:

الف: په پخوانیو زمانو کښې یو ټولګی خوانان تریتم شوي وه د هغوی حال بیان کړه.

ب: هغه سړی چې د دنیا شرق او غرب ته یې سیاحت کړی وه هغه څوک او څنګه وه؟

ج: روح څه شی دی چې هر ساکښ وربانديې ژوندی دی؟

نو الله ﷻ ذکر شوی سورت نازل کړ او دریواړه پوښتنو ته یې مناسب جوابونه ورکړه.

## سوال جواب

۷_ که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت د چې د روح په هکله ایت شریف د بني اسرائیل سورت په ایتونو کښې شامل کړی شوی دی حال دا چې نزول یې د الکهف په سورت کښې صورت موندلی دی، یا په بل عبارت: څرنګه چې د ایتونو ترتیب توقیفي دی (نزولي نه دی) نو په څه ملحوظ دا ایت د هغه سورت په ایتونو کښې مرتب کړی شو؟

مونږ وایو چې: الله ﷻ د خپل کتاب په اسرارو باندې ډېر ښه پوهېږي خو یوه وجه یې دا هم برېښي چې: هلته د معراج قیصې ته اشاره شوې ده چې عقل یې د درک څخه عاجز دی، ترڅو چې د شریعت کومک نه وي د هوښیارانو سر پرې نه خلاصېږي، او د روح جواب هم هغه ته ورته دی چې تاسو ته لږ علم درکړی شوی دی چې د روح ادراک پرې نه شئ کولی. نو د روح په هکله سوال هلته کېښودلی شو او د نورو دواړو سوالونو څخه (چې معلوماتي جوابونه لري) جدا کړی شو، والله ﷻ اعلم.

## یادونه

۸_ د دې سورت په فضائلو کښې خینو علماوو کرامو ډېر احادیث راغونډ کړي دي[1]، مونږ د اوږدوالي د ک '، دلته رانقل نه کړ نو هیله ده چې علاقمندان هملته مراجعه وکړي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ عَلَىٰ عَبۡدِهِ ٱلۡكِتَٰبَ وَلَمۡ يَجۡعَل لَّهُۥ عِوَجَاۜ ﴿١﴾ قَيِّمٗا لِّيُنذِرَ بَأۡسٗا
شَدِيدٗا مِّن لَّدُنۡهُ وَيُبَشِّرَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٱلَّذِينَ يَعۡمَلُونَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أَنَّ لَهُمۡ أَجۡرًا حَسَنٗا ﴿٢﴾
مَّٰكِثِينَ فِيهِ أَبَدٗا ﴿٣﴾ وَيُنذِرَ ٱلَّذِينَ قَالُواْ ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ وَلَدٗا ﴿٤﴾ مَّا لَهُم بِهِۦ مِنۡ عِلۡمٖ
وَلَا لِأٓبَآئِهِمۡۚ كَبُرَتۡ كَلِمَةٗ تَخۡرُجُ مِنۡ أَفۡوَٰهِهِمۡۚ إِن يَقُولُونَ إِلَّا كَذِبٗا ﴿٥﴾ فَلَعَلَّكَ بَٰخِعٞ

(۱) الدر المنثور ج۵ ص۳۵۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نفسك عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِمۡ إِن لَّمۡ يُؤۡمِنُواْ بِهَٰذَا ٱلۡحَدِيثِ أَسَفًا ﴿٦﴾ إِنَّا جَعَلۡنَا مَا عَلَى ٱلۡأَرۡضِ
زينة لَّهَا لِنَبۡلُوَهُمۡ أَيُّهُمۡ أَحۡسَنُ عَمَلٗا ﴿٧﴾ وَإِنَّا لَجَٰعِلُونَ مَا عَلَيۡهَا صَعِيدٗا جُرُزًا ﴿٨﴾

د ډېر مهربان (او) خورا بارحمه الله ﷻ په نامه

[۱] هره یوه ستاینه (بلکې ټولې ستاینې) هغه الله ﷻ پورې اختصاص لري چې په خپل (مقرب بنده باندې یې (یو مهم) کتاب نازل کړی دی او (د دې کتاب) حال دا دی چې الله ﷻ ورته هیڅ کوږوالی نه دی ګرځولی.

[۲] (او) د سموالي خاوند (یې ګرځولی) دی (چې د قیامت د ورځې پورې به په همدغه صفت باندې موصوف وي)، (دا) د دې دپاره چې الله ﷻ د خپله نزده د سخت عذاب څخه (خلک عموماً) وېدار کړي او هم هغو مؤمنانو ته کوم چې نېک عملونه کوي په دې سره زېرې ورکړي چې یقیناً دوی لره (د ده ﷻ په نزد) ښائسته اجر دی.

[۳] په داسې حال کښې چې دوی به پکښې تالېدونکي (اوسېدونکي) وي همېشه.

[۴] او (هم د دې دپاره) چې الله ﷻ په خاصه توګه هغه کسان وېدار کړي چې دوی وایي چې الله ﷻ ولد (زوی یا لور) نیولی دی.

[۵] نه دوی لره په دې خبرې باندې څه علم شته او نه د دوی پلرونو لره (پرې څه یقین وه، دا خبره) د یوې خبرې په حیث ډېره لویه ده چې د دوی د خولو څخه (پرته له دلیله) راوځي. (او دا ځکه چې) دوی نه وایي مګر دروغ (په بل چا نه، بلکې په الله ﷻ باندې).

[۶] نو (ای پیغمبره!) شاید چې ته د ډېر غم او غُصې د کبله د دوی په قدمونو باندې (چې بېرته ستنېږي او اعراض کوي) خپل ځان لره هلاکوونکی شې (خلک به ستا د هلاکت خیال وکړي. البته دا هغه وخت) که چرته کفار په دغې (حقې) خبرې باندې ایمان رانه وړي.

[۷] یقیناً مونږ هغه ټول (غیر ذو العقول) شیان چې د ځمکې په مخ دي همدې (ځمکې) ته د دې دپاره ډول (سنګار) ګرځولي دي ترڅو مونږ امتحان کړو چې د دوی (خلکو) کوم یو د عمل (او کړنلارې) د حیثه بهتر دی (ترڅو موافقه سزا یا جزا ورکړو).

[۸] او یقیناً مونږ هغو شیانو لره کوم چې په ځمکه باندې دي داسې خاوره ګرځوونکي یاستو چې د هر شي څخه صافه وي (نه پرې بوټی وي او نه کوم تعمیر او ابادي).

## ارتباط

د وړاندېنې سورت په وروستني ایت کښې نبي کریم ﷺ مخاطب کړی شوی وه چې د الله ﷻ ستاینه کوه چې په تاباندې یې د هر ډول کفارو په مقابل کښې غالبې ماتوونکي دلایل درنازل کړي دي، او په دې ایتونو کښې د یو پلوه ټول مؤمنان په غوږ وهلی شوي دي چې د خپل پیغمبر ﷺ او د خپل کتاب (قرآن کریم) شکریه وکړئ او د ارشاداتو په تعمیل کښې یې بېره وکړئ او د کفارو غونډې بې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ثبوته خبرې د خولو څخه مه راوباسئ، او د بله پلوه نبي کريم ﷺ ته تسلي ورکړه شوې ده چې د کفارو په کافر پاتې کېدلو باندې خپل ځان ډېر ونه کړوي او فقط خپل دعوت ته ادامه ورکړي، دوی خو دنيا غولولې دي او ډېر ژر به په خپله غولونې باندې پوه شي. نو حاصل يې داسې کېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پيغمبره! د "بسم الله الرحمن الرحيم" د لوستلو څخه وروسته په خپل امت باندې لاندې مطالب قرائت کړه چې:

١ـ ټولې ستاينې او ثناګانې هغه اقدس ذات لره دي او بس چې خپل مقرب بنده (محمد ﷺ) يې په بندګۍ کښې لوړې درجې ته پورته کړی دی، او په ټولو مخلوقاتو باندې يې فضيلت ورکړی دی، چې يو ډېر معزز کتاب يې وربانديّ وَرنازل کړی دی چې لاندې صفات لري:

الف: دا کتاب (قرآن کريم) داسې کتاب دی چې د کتاب نوم په همدې کتاب باندې ښه ښکارېږي، ته به وايې چې نسبت همدې کتاب ته بل هيڅ کتاب موجوديت نه دی درلودلی.

ب: الله ﷻ په دې کتاب کښې هيڅ ډول کوږوالي او نواقصو ته ځای نه دی ورکړی، عبارتونه يې سليس او د فصاحت او بلاغت څخه ډک دي، په مضامينو کښې يې نقصان نشته، نه پکښې څوک باطل او د واقع سره عدم مطابقت موندلی شي او نه پکښې موجوديت لري، بلکې په ټولو زمانو کښې او په ټولو مکانو کښې د دنيا او آخرت په ارشاداتو مشتمل دی.

ج: دغه کتاب د نورو کتابونو غوندې زړېږي نه، او همېشه ترو تازه دی او په دوامداره توګه د غوره صفاتو درلودونکی دی.

٢ـ الله ﷻ دا کتاب صرف د دې دپاره نازل کړی دی چې:

الف: ترڅو خلک په عمومي توګه د خپل سخت عذاب څخه وډار کړي.

ب: ترڅو ښک عملو مؤمنانو ته د دې خبرې بشارت او زيری ورکړي چې: يقينًا د همده ﷻ په نزد ورته ډېر ښائسته اجرونه ټاکلي شوي دي.

ج: دغه اجرونه د جنتونو څخه عبارت دي چې ذکر شوي نېک عمله مؤمنان به پکښې د همېشه دپاره اوسېږي او هيڅکله به ترې ونه ويستلی شي.

٣ـ الله ﷻ دا کتاب په خصوصي توګه د هغو خلکو د ډارولو دپاره رانازل کړي دي کوم چې په الله ﷻ باندې د ولد نيولو دروغ تړي، چې ځينې عيسى ؑ ته د ابن الله لقب ورکوي او ځينې نور پرښتې د بنات الله په نامه بولي. البته د دې څخه يې ډاروي چې د دغې عقيدې نتيجه د ډېر سخت عذاب څخه پرته بل شی نه دی، ځکه چې:

الف: ذکر شوي کسان په خپله عقيده باندې هيڅ علم نه لري (د ثبوت دپاره يې هيڅ برهان او دليل په لاس کښې نشته).

ب: هو! د دوی ډېر لوی دليل د خپلو پخوانيو پلرونو ړوند تقليد دی او بس، خو لکه څنګه چې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د دوی په لاس کښې کوم دلیل نشته همدارنګه یې پلرونو هم د ذکرې شوې عقیدې د ثبوت دپاره کوم دلیل نه درلود ، بلکې:

ج: ذکر شوي ټول کافران (پلرونه دي او که اولادونه) ډېره لویه خبره د خولو څخه راوباسي حتی چې نژدې ده چې اسمانانونه پرې راولوېږي او غرونه پرې دړې وړې شي.

د: لنډه دا چې هغوی بل هیڅ شی نه وایي مګر په بل چا نه بلکې په الله ﷻ باندې دروغ تړي او دروغ پرې وایي.

۴ـ ای پیغمبره! څرنګه چې الله ﷻ په تاباندې قرآن کریم د بشارت او ډارولو دپاره نازل کړی دی، نو ته هم بل څوک نه یې فقط بشیر او نذیر یې، په تاباندې د کفارو هیڅ ذمواري نشته چې دوی ولې د کفر څخه لاس وانخست.

نو تاته په کار دي چې د کفارو په کفري کړنلارې باندې د کلک پاتې کېدلو د کبله خپل ځان ونه کړوې او ډېر پرې غمژن نه شې، که ته خپلې همدغې وضعې ته ادامه ورکړې نو شاید چې د هغوی په دستور العمل باندې خپل ځان هلاک کړې، د بلې وجې د کبله نه بلکې فقط د همدې کبله چې هغوی ولې په الله ﷻ باندې دروغ تړي او په دغې حقه خبره (چې قرآن کریم یې ورته بیانوي) ولې ایمان نه راوړي.

۵ـ ای پیغمبره! دنیا د امتحان میدان دی، څه چې مونږ په ځمکه باندې پیدا کړي دي او د دې ډول (سنګار) موورباندې برابر کړی دی دا ټول د دې دپاره دي چې مونږ پرې خلک د امتحان لاندې ونیسو، چې څوک د عمل او کړنلارې د حیثه ښه دی او څوک بد دی؟.

که څه هم په ذکر شوي امتحان سره فقط هغه څه عملي جامه اغوندي کوم چې لا مونږ ته پخوا په ازل کښې معلوم وه، خو په دغه امتحان سره به هرڅوک هم پوه شي چې د سزا لایق دی او که د جزا؟ او هم به پوه شي چې د سزا یا جزا ونډه یې څومره-څومره ده؟.

۶ـ نو کله چې د امتحان دوره پای ته ورسېده او هغه وخت پوره شو کوم چې زمونږ په علم کښې ثابت دی، نو ضرور به مونږ د ځمکې ډول او سنګار په خاورو باندې تبدیل کړو او خامخا هرومرو مونږ د دې کار کوونکي یاستو، نو کله چې دنیا دړې وړې شي قیامت به قائم شي او ټول خلک به ستا د بشیریت او نذیریت نتیجه وګوري.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ وَلَمْ يَجْعَل لَّهُۥ عِوَجَا ۜ قَيِّمًا ﴾ کښې د ﴿ قَيِّمًا ﴾ کلمه علماوو کرامو په متعددو معناوو باندې تفسیره کړې ده[۱] او هم یې د همدې کلمې په اعراب کښې متعدد احتمالات ذکر کړي دي[۲] مګر مونږ ته بهتره برېښي چې په مستقیمًا باندې تفسیره شي او د اعراب دپاره یې د "جَعَلَهُ" کلمه

(۱) روح المعاني ج۱۵ ص۲۰۱
(۲) البحر المحيط ج۷ ص۱۳۵، اضواء البيان ج۷ ص۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مقدره کړی شي چې د ﴿ وَلَمْ يَجْعَل لَّهُۥ ﴾ جمله ورباندې دلالت کوي. نو د معنی حاصل به یې داسې راوخېژي چې: الله ﷻ دا کتاب (قرآن کریم) د هر ډول خلل او نقصان څخه پاک او صاف نازل کړی دی او د نزول څخه وروسته یې په همدغه کیفیت باندې په دائمي توګه مستقیم ګرځولی دی، نو دا کتاب د نزول په وخت کښې هم د نواقصو څخه خالي وه او د قیامت د ورځې پورې به هم ترې بچ پاتې وي، نو نه پکښې ذاتي نواقص شته او نه به پکښې عارضي نواقص صورت ونیسي.

همدې مضمون ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا ٱلذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَـٰفِظُونَ ﴾ [الحجر:۹] او یقینًا همدا مونږ ذکر (قرآن کریم) نازل کړی دی او یقینًا همدا مونږ یې (د قیامت د ورځې) پورې ساتونکي یاستو.

## آثار څه معنی؟

۲_ په ﴿ فَلَعَلَّكَ بَـٰخِعٌ نَّفْسَكَ عَلَىٰٓ ءَاثَـٰرِهِمْ ﴾ کښې د "آثار" کلمه د "أثرٌ" _لکه "شرفٌ"_ جمعه ده، "أثرٌ" هغې نښې ته ویل کېږي کومه چې د یو شي د نقش څخه پاتې شي[۱]، لکه چې څوک په لاره باندې تېر شي او د قدمونو نښې یې په لاره باندې پاتې وي، په دې مقام کښې ذکر شوې کلمه د اعراض څخه کنایه ده[۲]، نو د معنی حاصل یې داسې راخېژي چې: ای پیغمبره! شاید چې ته د کفارو په هغو قدمونو باندې له خپګانه خپل خان د هلاکت سره مخامخ کړې کوم چې دوی یې د اسلام څخه د مخ اړولو په غرض اخلي، خو دومره ډېر ورباندې مه غمژن کېږه، یا په بل عبارت: شاید چې خلک ستا د همدغه حالت څخه تمه وکړي چې ته به د هلاکت سره مخامخ شې.

## یادونه

۳_ مونږ د [یوسف:۸۴] ایت لاندې _لله الحمد_ لیکلي دي چې د "أسَف" د کلمې اطلاق لکه څنګه چې په خپګان او یا په غضب باندې کېږي همدارنګه کله د دواړو مجموعې ته هم "أسَف" وایي، په دې مقام کښې همدغه معنی مراده ده، څکه چې نبي کریم ﷺ په کفارو باندې خپه وه چې دوزخ ته روان دي او د معنوي مرګ سره مخامخ دي، او هم ورباندې په غُصه او غضب وه چې په عناد باندې کلک دي او پخو دلایلو ته غوږ نه ږدي.

## یو پوښتنه او د هغې جواب

۴_ که څوک وایي چې: په ﴿ إِنَّا جَعَلْنَا مَا عَلَى ٱلْأَرْضِ زِينَةً لَّهَا ﴾ کښې د "مَا" توری عام دی، هغو ټولو غیر ذو العقولو ته شامل دی کوم چې د ځمکې په مخ باندې ژوند کوي او یا ورباندې ځمکه مشتمله ده لکه باغونه معادن او داسې نور[۳]؛ نو پوښتنه دا ده چې: ایا مار او لړم او همدارنګه

---

(۱) لسان العرب ج۴ ص۵
(۲) تفسیر البغوي ج۳ ص۱۴۴
(۳) تفسیر ابی السعود ج۵ ص۲۰۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



زهري بوټي او نور شيان هم د ځمکې ښايست ګڼلی کېږي؟

مونږ وايو چې: د ځمکې مربوط ټول شيان د ځمکې دپاره ښايست دی چې اولاً د ځمکې په خالق ﷻ باندې دلالت کوي او د دوزخ مار او لړم او هم د دوزخ د زقوم د ونې زهرجنتوب سړي ته ور په يادوي، ترڅو په ځمکه کښې فساد ونه کړی شي او په عبادت سره يې ډولي کړی شي. يا په بل عبارت: د ځمکې ټول غير ذو العقول شيان (چې ساکښ وي او که غير ساکښ وي) د ذو العقولو دپاره د امتحان او ازمېښت په بنياد پيدا کړی شوي دي.

## د صعيد او جرز معناوې

۵ـ په ﴿ مَا عَلَيْهَا صَعِيدًا جُرُزًا ﴾ کښې د "صَعِيد" کلمه د خاورې معنی ورکوي[۱] او د "جُرُز" کلمه اصلاً د پرې کولو په معنی سره ده خو کله چې د ځمکې صفت واقع شي نو د هغې ځمکې (خاورې) ښخه عبارت ګڼله کېږي په کومه کښې چې نه هيڅ زرغونه ونه موجوديت ولري او نه تعمير او ابادي، ته به وايې چې دا ټول ترې پرې کړی شوي دي او پاکه صافه ګرځولې شوې ده.

نو د معنی حاصل يې داسې راځېږي چې: هرومرو مونږ د هغه شيانو کوم چې مونږ نن ورخ د ځمکې په مخ باندې د ډول او سنګار دپاره پيدا کړي دي، د صافې خاورې جوړونکي ياستو چې ټول به پوپنا کړو.

﴿ أَمْ حَسِبْتَ أَنَّ أَصْحَٰبَ ٱلْكَهْفِ وَٱلرَّقِيمِ كَانُوا۟ مِنْ ءَايَٰتِنَا عَجَبًا ﴿٩﴾ إِذْ أَوَى ٱلْفِتْيَةُ إِلَى ٱلْكَهْفِ فَقَالُوا۟ رَبَّنَآ ءَاتِنَا مِن لَّدُنكَ رَحْمَةً وَهَيِّئْ لَنَا مِنْ أَمْرِنَا رَشَدًا ﴿١٠﴾ فَضَرَبْنَا عَلَىٰٓ ءَاذَانِهِمْ فِى ٱلْكَهْفِ سِنِينَ عَدَدًا ﴿١١﴾ ثُمَّ بَعَثْنَٰهُمْ لِنَعْلَمَ أَىُّ ٱلْحِزْبَيْنِ أَحْصَىٰ لِمَا لَبِثُوٓا۟ أَمَدًا ﴿١٢﴾ ﴾

[۹] (ای پيغمبره!) ايا ته ګومان کوې چې د سمڅې او ليکلې شوې (لوحې) ملګري زمونږ د قدرتي نښو ښخه عجيبه وه؟ (ته خو ګومان نه کوې مګر ستا مخالفين پرې ګومان کوي).

[۱۰] (ای پيغمبره! دوی ته) ورياد کړه چې کله يوې ځوانې ډلې سمڅې ته پنا وېوړه نو دوی وويلې چې: ای زمونږ ربه! مونږ ته د خپله نزده مهرباني راکړه، او (هم) مونږ ته زمونږ (په همدغه کار کښې د لارې سمون راجوړ کړه (د نجات لاره را وښايه).

[۱۱] نو مونږ د دوی په غوږو باندې په سمڅه کښې (پرده) ووهله (او) شمېرل شوي کلونه (مو هلته ويده کړه).

[۱۲] بيا مو (د خوب ښخه) را پورته (راويښ) کړه ترڅو مونږ پوه شو چې (د دوی) د دوه وو ډلو ښخه کومې يوې ډلې (په سمڅه کښې) خپل درنګ کول د انتهاء د حيثه شمېرلي دي.

---

[۱] لسان العرب ج۳ ص۲۵۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط

په وړاندېنيو ايتونو کښې د مقدمې په توګه دوه وو مهمو مطالبو ته اشاره شوې وه (يو د قرآن کريم معجز کتاب نزول او بل د قيامت د ورځې قيام او ضرورت)، په دې ايتونو کښې د اصحاب الكهف قيصه پيل شوې ده چې ذکر شوي دواړه مهم مطلبونه په اثبات رسوي، نو حاصل يې داسې کېږي:

## د مطلب خلاصه

۱ـ اى پيغمبره! ايا ته ګومان کوې چې د کهف (سمڅې) ملګري او د هغې تختې ملګري په کومه باندې چې د دوى نومونه ليکلي شوي وه، زمونږ د قدرت د دلايلو څخه عجيبه دلايل دي؟ ته دا ګومان نه کوې بلکې هغه کسان ذکر شوى ګومان کوي کوم چې تاته د امتحان په توګه د هغوى د حال څخه پوښتنه وړاندې کوي، دوى په خپل ګومان کښې خطا شوي دي، ستا په رسالت باندې ډېر لوى دليل د قرآن کريم نزول دى چې د قيامت د ورځې پورې په همدې مطلب باندې دلالت کوي. يا په بل عبارت: د اصحاب الكهف قيصه ډېره عجيبه نه ده بلکې ډېر عجيب هغه کتاب دى په کوم کښې چې د هغوى حالات بيان شوي دي، او ډېر عجيب د الله ﷻ هغه بنده دى په کوم باندې چې د هغوى قيصه ورنازلېږي.

۲ـ نو اى پيغمبره! يو ځل ذکره شوې قيصه په اجمالي توګه هغوى ته واوروه او بيا يې ورباندې د مهمو ټکو تفصيل قرائت کړه. اجمال يې دا دى چې:

الف: په پخوانۍ زمانه کښې يو ظالم او بوت پرست پاچا وه چې په خلکو باندې به يې خپل باطل مذهب تحميلاوه او موحدين به يې تعذيبول، يا په بل عبارت: د مکې معظمې د مشرکانو غونډې خاصيت يې درلود چې هم پخپله ګمراهان دي او هم نور خلک همدغه باطل مسلک ته دعوتوي.

ب: ذکر شوى ټولګى د همدغه ظالم څخه وتښتېدل او د خپل دين د حفاظت دپاره يې يوه غار ته پنا وېوړه، لکه څنګه چې د مکې معظمې د مشرکانو د ظلم د کبله ځينو مسلمانانو حبشې ته پنا وېوړه او په نن سبا کښې به نور مسلمانان هم مجبور کړى شي چې بل وطن ته هجرت وکړي او يا په کوم غار کښې (لکه د ثور غار) پنا واخلي.

ج: دغو ځوانانو خپل رب ﷻ ته د سوال لاسونه پورته کړه چې: اى زمونږ ربه! مونږ ستا څخه په غير بل هيڅ ناصر او کارسازى نه لرو، نو ته مونږ ته د خپله نزده خپل فضل او مهرباني راکړې، په کومې مشکله کښې چې مونږ راګير ياستو د هغې څخه د خلاصون او نجات لاره راته برابره کړې.

د: نو مونږ د هغوى سوالونه قبول کړه او په ذکر شوي غار کښې مو څو ورځې نه بلکې څو کلونه د بې غمۍ او اطمنان په خوب باندې ويده کړه، چې ظالمانو ونه شو کړى چې يا خپل غابښ چيچې ورولېده کړي او يا سپکې سپورې (تهديد آميزه) خبرې ورواوروي.

هـ: بيا مو له څو کلونو اوږده خوبه راويښ کړه ترڅو د خپل ازلي پوهې په مطابق پوه شو چې د دوه وو ټولګيو څخه کوم يو ټولګى هغه موده محاسبه کولى شي کومه چې دوى په غار کښې

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خوب باندې تېره کړې وه؟. خو دغه موده يوه ټولګي هم محاسبه نه کړی شوه، د همدې کبله ټولو په يوه خوله وويلې چې ﴿ رَبُّكُمْ أَعْلَمُ بِمَا لَبِثْتُمْ ﴾ ستاسو رب ﷻ د هغې مودې په اندازه ډېر ښه پوهېږي کومه چې تاسو دلته په غار کښې په خوارږه خوب باندې تېره کړې ده.

## توضيحات

۱_ کومه سمڅه چې تنګه وي هغې ته په عربي لغت کښې "غار" وايي او کومه چې پراخه وي هغې ته "کهف" ویل کېږي[۱]. د همدې کبله الله ﷻ هغه سمڅه د [التوبة: ۴۰] ایت کښې په ﴿ ٱلْغَارِ ﴾ سره ياده کړې ده په کومه کښې چې نبي کريم ﷺ او ابو بکر الصديق ﷺ پنا اخستې وه، او دغې سمڅې ته يې د الکهف لقب ورکړی دی چې بحث پکښې روان دی، دا ځکه چې هغه تنګه وه او دا پراخه وه.

## اصحاب الرقيم څوک وه؟

۲_ په ﴿ أَنَّ أَصْحَٰبَ ٱلْكَهْفِ وَٱلرَّقِيمِ ﴾ کښې د "رَقِيم" کلمه علماوو کرامو په متعددو معناوو سره تفسيره کړې ده لاندې مثالونه يې ولولئ[۲]:

الف: "رَقِيم" د هغه سپي نوم دی کوم چې د اصحاب الکهف سره په غار کښې ويده شوی وه.

ب: دا د هغه ښار نوم دی په کوم کښې چې هغوی اوسېدل.

ج: دا د هغه غره نوم دی په کوم کښې چې ذکره شوې سمڅه واقع وه.

دغه دربواره تفسيرونه مونږ ته چندان مزناک نه برېښي.

د: ځينې وايي چې د ﴿ ٱلرَّقِيمِ ﴾ يعنې د اصحاب الرقيم څخه هغه درې کسيزه ډله مطلب ده کومې چې د ډېر باران د کبله په يوه غار کښې پنا اخستې وه او بيا د غار خوله په ډېره غټه ډېره باندې بنده شوې وه چې په نتيجه کښې هر يوه خپل نېک عمل الله ﷻ ته واسطه کاوه او د نجات سوال يې کاوه چې بالآخره الله ﷻ د غار خوله خلاصه کړه او درېواړو ته يې نجات ورکړ.

ذکره شوې قيصه نبي کريم ﷺ په صحيح حديث کښې فرمايلې ده[۳]، مګر دلته يې د تفسير په حيث قبلول د سړي زړه ته نه لوېږي او د مقام سره پيوند نه اخلي.

هـ: مونږ ته بهتره برېښي چې "رقيم" به د هغې لوحې نوم وي په کومه کښې چې د اصحاب الکهف نومونه ليکلی شوي وه، البته کله چې هغوی په معجزانه توګه تريتم شوه او ټول خلک يې په حيرت کښې واچول نو د هغوی نومونه او شهرتونه يې په يوه لوحه باندې وليکل ترڅو د راتلونکي نسل د عبرت دپاره د تاريخ په توګه پاتې شي. نو د ﴿ ٱلرَّقِيمِ ﴾ په نزول کښې به دې خبرې ته اشاره شي چې اصحاب الکهف ته د ويده کېدلو په وخت کښې هم خلک حيران وه او د راوېښېدلو په وخت کښې هم ورته خلک په حيرت کښې پراته وه.

---

(۱) روح المعاني ج۱۵ ص۲۰۹.

(۲) تفسير القاسمي ج۱۱ ص۹؛ زاد المسير ج۵ ص۷۶

(۳) مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۴۵۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ څکه دا تفسیر غوره کړ چې:

اول: د ﴿ ٱلرَّقِيمِ ﴾ کلمه د "رَقْمٌ" ـلکه "ضَرْبٌ"ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "رَقْمٌ" هغه کلک خط ته ویل کېږي کوم چې ژر نه محوه کېږي، چې په ډبره یا بل کلک شي باندې ولیکل شي. نو "رَقِيمٌ" د "مرقوم" یعنې د لیکلی شوي معنی ورکوي[۱].

دوهم: همدې معنی ته شیخ المفسرین (ابو جعفر الطبري علیه الرحمة) د صواب لقب ورکړی دی چې د "رَقِيمٌ" څخه هغه تخته مراده ده په کومه باندې چې د اصحاب الکهف شهرت لیکلی شوی وه، برابره خبره ده چې ذکره شوې تخته د لرګي، یا ډبرې، یا د سرو زرو، یا د اوسپنې څخه او یا د بل شي څخه جوړه شوې وه، او هم برابره خبره ده چې ذکره شوې تخته د وخت پاچا ساتلې وه او یا د ښار د کوم سړي په نزد محفوظه وه[۲].

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې د ﴿ فَضَرَبْنَا عَلَىٰٓ ءَاذَانِهِمْ ﴾ څخه خو مطلب دا دی چې مونږ اصحاب الکهف ویده کړه، نو پوښتنه دا ده چې: د څه حکمت په بنیاد د "أَنَمْنَاهُمْ" کلمه نازله نه شوه چې په مطلب باندې صراحت شوی وی؟

مونږ وایو چې: د خوب څخه د راببدارولو مهمه لاره اواز دی نو الله ﷻ د ذکر شوي عبارت په نازلولو سره اشاره وکړه چې مونږ د هغوی په غوږونو باندې پرده وهلې وه چې په هیڅ ډول تېز اواز یې نه اورېده چې پرې راويښ شوي وی، نو که بالفرض د "أَنَمْنَاهُمْ" کلمه نازله شوې وی (چې مونږ دوی په سمڅه کښې ویده کړه) نو ذکره شوې اشاره به پټه پاتې شوې وی.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۴ـ که څوک وایي چې په ﴿ لِنَعْلَمَ أَيُّ ٱلْحِزْبَيْنِ ﴾ کښې د ﴿ لِنَعْلَمَ ﴾ کلمه د [البقرة:۱۴۳] ایت لاندې ښه پوره شرحه شوې ده اما پوښتنه دا ده چې: په دې مقام کښې د ﴿ أَيُّ ٱلْحِزْبَيْنِ ﴾ څخه څوک څوک مراد دي؟

مونږ وایو چې: مفسرینو کرامو د ﴿ أَيُّ ٱلْحِزْبَيْنِ ﴾ کلمه په ډېرو معناوو سره تفسیره کړې ده چې تقریبًا اوو معناوو ته رسېږي[۳] مګر مونږ ته هغه معنی غوره برېښي کومه چې د راتلونکي [۱۹] ایت څخه د اشارې په توګه معلومېږي، هغه دا چې د راويښېدلو په وخت کښې اصحاب الکهف د خپلې هغې مودې په هکله مختلف شوه کومه چې دوی په خوب باندې تېره کړې وه، ځینو وویلې چې یوه ورځ مونږ دلته ویده پاتې شوي یاستو او ځینو وویلې چې بلکې نیمه ورځ مو دلته په خوب

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۶۸۷؛ لسان العرب ج۱۲ ص۲۴۹؛ مفردات الراغب ص۲۰۷

(۲) تفسیر الطبري ج۱۵ ص۱۹۹؛ روح المعاني ج۱۵ ص۲۱۰

(۳) روح المعاني ج۱۵ ص۲۱۲؛ اضواء البیان ج۴ ص۲۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



باندې تېره کړې ده، بالآخره د دغه اختلاف نتيجه دا شوه چې ټولو په خپلې ناپوهۍ باندې اعتراف وکړ او د مودې اندازه يې د خپل رب ﷻ علم ته وسپارله. او هم دوی پوه شوه چې زمونږ هغه سوال زمونږ رب ﷻ قبول کړی دی کوم چې مونږ د ظالم پاچا څخه د تښتېدلو په وخت کښې کړی وه چې: ای ربه! مونږ ته د خپله جانبه مهرباني راکړې او د نجات لاره راته برابره کړې.

## يو صرفي او نحوي تحليل

۵ـ په ﴿أَحۡصَىٰ لِمَا لَبِثُوٓاْ أَمَدٗا﴾ کښې د ﴿أَحۡصَىٰ﴾ کلمه د "احصاء" څخه اشتقاقه شوې ده چې د مزيد فيه مصدر دی، نو د ځينو علماوو کرامو نظر دا دی چې ذکره شوې کلمه د اسم تفضيل صيغه ده[1] مګر دا نظر د ځينو نورو علماوو کرامو خوښ نه دی، ځکه چې د اسم تفضيل په اشتقاق کښې شپږ شرطونه ضرور دي[2] چې د دغو شپږو شرطونو څخه يو شرط دا دی چې بايد مشتق منه مصدر يې د مجردو څخه وي او "احصاء" خو مزيد فيه مصدر دی.

زمونږ هم ذکر شوی نظر خوښ نه دی مګر د ناخوښۍ وجه يې هغه نه ده کومه چې وړاندې ذکره شوه بلکې د ناخوښۍ وجهه يې دا ده چې په دې مقام کښې دواړه ډلې په سمڅه کښې د اوسېدانې په اندازه باندې پوه نه شوې لکه چې وړاندې په څلورمه توضيح کښې يې شرحه تېره شوه، که بالفرض ذکره شوې کلمه د اسم تفضيل صيغه وی نو دواړه به د اوسېدانې په اندازه پوهېدلی خو د يوې ډلې احصاء او ضبط به د بلې ډلې څخه زيات او قوي وی، خو خبره داسې نه وه.

نو بهتره دا ده چې د ﴿أَحۡصَىٰ﴾ کلمه د ماضي صيغه شي او په ﴿لِمَا لَبِثُوٓاْ﴾ کښې د "ما" توری مصدري وګڼل شي، او د جر توری (ل) ذکرې شوې کلمې پورې تعلق ونيسي. دا د يو پلوه، او د بله پلوه د ﴿أَمَدٗا﴾ کلمه د "غاية" معنی ورکړي[3] او د تميز په حيث منصوبه شي.

نو د معنی حاصل به يې داسې راوخېژي ترڅو مونږ پوه شو چې کوم يوه ټولګي په سمڅه کښې د انتهاء د حيثه خپل درنګ کول د انضباط لاندې راوستلي دي چې څومره کلونه وروسته راويښ شوه، خو يوه ټولګي هم دا کار ونه شو کړی.

دا وه څه لنډ معلومات، که څوک غواړي چې په ذکرو شوو دواړو تحليلونو کښې اوږده معلومات ترلاسه کړي نو ځينو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[4].

﴿نَّحۡنُ نَقُصُّ عَلَيۡكَ نَبَأَهُم بِٱلۡحَقِّۚ إِنَّهُمۡ فِتۡيَةٌ ءَامَنُواْ بِرَبِّهِمۡ وَزِدۡنَٰهُمۡ هُدٗى ۝١٣ وَرَبَطۡنَا
عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ إِذۡ قَامُواْ فَقَالُواْ رَبُّنَا رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ لَن نَّدۡعُوَاْ مِن دُونِهِۦٓ إِلَٰهٗاۖ

---

(۱) تفسير الکشاف ج۲ ص۷۰۵
(۲) صرف العزيز ص۲۰۶
(۳) تفسير ابن کثير ج۳ ص۷۳
(۴) البحر المحيط ج۷ ص۱۴۶؛ حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۳ ص۲۵۰؛ اضواء البيان ج۴ ص۲۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لَّقَدۡ قُلۡنَآ إِذٗا شَطَطًا ﴿١٤﴾ هَٰٓؤُلَآءِ قَوۡمُنَا ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةٗۖ لَّوۡلَا يَأۡتُونَ عَلَيۡهِم
بِسُلۡطَٰنِۭ بَيِّنٖۖ فَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبٗا ﴿١٥﴾ وَإِذِ ٱعۡتَزَلۡتُمُوهُمۡ وَمَا
يَعۡبُدُونَ إِلَّا ٱللَّهَ فَأۡوُۥٓاْ إِلَى ٱلۡكَهۡفِ يَنشُرۡ لَكُمۡ رَبُّكُم مِّن رَّحۡمَتِهِۦ وَيُهَيِّئۡ لَكُم مِّنۡ أَمۡرِكُم
مِّرۡفَقٗا ﴿١٦﴾ وَتَرَى ٱلشَّمۡسَ إِذَا طَلَعَت تَّزَٰوَرُ عَن كَهۡفِهِمۡ ذَاتَ ٱلۡيَمِينِ وَإِذَا غَرَبَت
تَّقۡرِضُهُمۡ ذَاتَ ٱلشِّمَالِ وَهُمۡ فِي فَجۡوَةٖ مِّنۡهُۚ ذَٰلِكَ مِنۡ ءَايَٰتِ ٱللَّهِۗ مَن يَهۡدِ ٱللَّهُ فَهُوَ
ٱلۡمُهۡتَدِۖ وَمَن يُضۡلِلۡ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ وَلِيّٗا مُّرۡشِدٗا ﴿١٧﴾ وَتَحۡسَبُهُمۡ أَيۡقَاظٗا وَهُمۡ رُقُودٞۚ
وَنُقَلِّبُهُمۡ ذَاتَ ٱلۡيَمِينِ وَذَاتَ ٱلشِّمَالِۖ وَكَلۡبُهُم بَٰسِطٞ ذِرَاعَيۡهِ بِٱلۡوَصِيدِۚ لَوِ ٱطَّلَعۡتَ
عَلَيۡهِمۡ لَوَلَّيۡتَ مِنۡهُمۡ فِرَارٗا وَلَمُلِئۡتَ مِنۡهُمۡ رُعۡبٗا ﴿١٨﴾ ﴾

[۱۳] (ای پیغمبره!) مونږ په تاباندې د اصحاب الکهف مهم خبر (قیصه) په حقه سره (د واقع په مطابق) لولوو (هغه دا چې):

یقینًا اصحاب الکهف د ځوانانو یو ټولګی وه چې په خپل رب ﷻ باندې یې ایمان راوړی وه، او مونږ دوی ته (خپل) هدایت ور زیات کړ (د ایمان د حفاظت توفیق مو ورکړ).

[۱۴] او مونږ د دوی په زړونو غوټه واچوله (د دوی زړونه مو) په هغه وخت کښې (مضبوط او قوي کړه) چې دوی (د کافر او ظالم پاچا په وړاندې) ودرېده (او په جرئت او صراحت سره یې د خپلې عقیدې اظهار وکړ) نو وې ویلې زمونږ رب ﷻ د اسمانونو او ځمکو رب دی، مونږ به هیڅکله د همده ﷻ څخه په غیر د (بل) معبود بلنه (عبادت) ونه کړو، (که بالفرض مونږ دا کار وکړو نو) په دغه وخت کښې به مونږ (د حق څخه ډېره) لرې خبره کړې وي (او په باطله لاره به روان شوي یاستو).

[۱۵] (دوی دا هم وویلې چې:) دغه زمونږ قوم د اسمانونو او ځمکو د رب ﷻ څخه په غیر (ډېر) معبودان نیولي دي (او په باطله لاره باندې روان دي که نه نو) دوی د خپلو معبودانو (په ثبوت) باندې ولې واضح حجت نه راوړي؟ (خو اصلاً ثبوت نه لري). نو د هغه چا څخه به زیات ظالم بل څوک وي چې په الله ﷻ باندې دروغ تړي (چې شریکان لري)؟

[۱۶] او (په خپل منځکښې یې وویلې:) اوس چې د کفارو څخه او د هغه بوتانو څخه چې کفار یې د الله ﷻ څخه په غیر عبادت کوي (جسمًا) جدا شوئ (لکه څنګه چې ترې عقیدةً جدا یاست) نو تاسو (معهودې) سمڅې (غار) ته پنا یوسئ (ترڅو) تاسو ته ستاسو رب ﷻ د خپل رحمت څخه څه (برخه) وغوړوي (درکړي)، او (ترڅو) تاسو ته ستاسو د (هغه) کار (چې شروع کړی مو دی) هغه سبب

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



درتیار (جوړ) کړي چې گټه ترې پورته کړئ (او په اسانۍ سره پرې ژوند وکړئ).

[۱۷] (نو مونږ یې سوال قبول کړ) او (داسې غار ته مو ورواستول چې) ته لمر گورې کله چې طلوع کوي (راخېژي چې) د دوی د غار (سمڅې) څخه (د دوی) ښي پلو ته میلان کوي او کله چې غروب کوي (لوېږي نو) دوی په خپل چپ پلو (شرقي طرف) کښې پرېږدي، حال دا چې دوی د همدغې سمڅې په ارت (پراخه ځای) کښې (ملاست) دي.

(ای پیغمبره!) دغه (ذکر شوی کیفیت) د الله ﷻ د (قدرتي) دلایلو څخه دی، هر چاته چې الله ﷻ هدایت وکړي نو همدی لاره موندونکی دی او هرڅوک چې (د حکمت په مقتضی) بې لارې کړي نو هیڅکله به ته هغه ته لاره ښودونکی دوست مونده نه کړې.

[۱۸] او ته (ای لیدونکیه! او یا ای پیغمبره!) په اصحاب الکهف باندې گومان کوې چې ویښ دي، حال دا چې دوی ویده دي، او مونږ دوی ښي پلو (اړخ) او چپ پلو ته اړوو. او سپی یې (د سمڅې) په دروازه (خوله) کښې د خپلو څنگلو غوړونکی (پروت) دی. که ته په دوی باندې ورښکاره شې (د کتلو دپاره) نو ضرور به د تښتېدلو د کبله بېرته راستون شې او هرومرو به د دوی څخه ته د رعب د کبله ډک شې (ترې وبه ډار شې).

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې الله ﷻ د اصحاب الکهف قیصه په اجمالي توگه بیان کړې وه او د هغې ابتداء او انتهاء ته یې اشاره کړې وه، په دې ایتونو کښې ذکره شوې قیصه د ځینو مهمو ټکو په تفصیل سره پیل کېږي، البته په هغه اندازه تفصیل سره په کوم کښې چې عظیمې فائدې نغښتې دي.

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! د اصحاب الکهف د قیصې د اجمال څخه وروسته اوس په خپل امت باندې د هغې د ځینو مهمو ټکو تفصیل په لاندې ډول قرائت کړه:

۱ـ د هرڅه څخه وړاندې خلک خبر کړه چې دغه قیصه مونږ په تاباندې د واقع په مطابق بیانوو، که نه نو ته خو د اصحاب الکهف سره په سمڅه کښې ناست نه وې چې د هغوی خبرې اترې دې اورېدلې وې او یا دې د هغوی کړه وړه په سترگو باندې لیدلې وي.

یا په بل عبارت: د همدغې قیصې حقاني بیان ستا د رسالت او نبوت قوي دلیل دی.

۲ـ اصحاب الکهف بل څوک نه وه بلکې یو تولگی ځوانان وه (بوډاگان نه وه)، چې لاندې صفات یې درلوده:

الف: دغو ځوانانو نوره څه گناه نه وه کړې، د دوی گناه (د ظالم پاچا په نزد) فقط همدا وه چې په خپل رب ﷻ باندې یې ایمان راوړی وه، او دا کار د هغه نه خوښېده.

ب: برسېره په دې چې د هغوی زړونه په ایمان باندې روښانه شوي وه، مونږ یې هدایت ورزیات کړ او د استقامت توفیق مو ورکړ.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: نو مونږ د هغوی زړونه په هغه وخت کښې مضبوط او قوي کړه په کوم وخت کښې چې ظالم پاچا ته د استنطاق دپاره ورروستلی شوه او د هغه په وړاندې ودرېده.

د: نو په ډېر جرئت سره یې د خپلې عقیدې اظهار وکړ چې زمونږ رب هغه یو بوت هم نه شي کېدلی د کومو عبادت ته چې ته مونږ وربلې او هغه راباندې تحمیلوې، زمونږ رب ﷻ د اسمانونو او ځمکو رب دی. یا په بل عبارت: چا چې دنیا پیدا کړې ده همغه اقدس ذات مونږ هم پیدا کړي یاستو او همغه اقدس ذات د عبادت مستحق دی.

هـ: مونږ به هیڅکله د همدغه اقدس ذات څخه په غیر نه د بل چا عبادت وکړو او نه به ترې خپل احتیاجات وغواړو او نه یې څه د لاسه پوره دي.

و: که بالفرض المحال مونږ دغه کار وکړو لکه چې ته یې راباندې اجباراً تحمیلوې نو په دغه وخت کښې به مونږ کوم سم او صحیح کار نه وي کړی او نه به مو کومه سمه خبره کړې وي، بلکې په دغه وخت کښې به مونږ د دروغژنانو څخه پرته بل څوک نه یاستو او د حق څخه به ډېر لرې وتلي یاستو.

ز: ای پاچا! رښتیا چې زمونږ دغه قوم ذکر شوی کار کړی دی خو د دې معنی دا نه ده چې کوم کار چې اکثریت خلک کوي هغه به صحیح وي، مونږ د خپل قوم څخه مخالفت کوو او د هغوی په لار باندې به هیڅکله یو قدم هم وانخلو. او دا ځکه چې:

ح: که بالفرض زمونږ قوم په حقه وي او څه چې دوی وایي هغه رښتیا وي نو اقلاً یو قوي برهان او دلیل خو دې ورباندې تېر کړي، نو عجیبه ده چې دوی ولې د خپل دین په ثبوت باندې واضحه او څرګند دلیل نه شي وړاندې کولی؟

ط: کله چې د ذکرې شوې عقیدې د اثبات دپاره نه ستا سره څه حجت شته (ای پاچا) او نه زمونږ قوم پرې څه ثبوت لري، نو پوره واضحه شوه چې ذکره شوې عقیده د افتراء او د دروغو څخه په غیر بل شی نه دی، او دروغ هم په بل چا نه دي بلکې په الله ﷻ باندې دي چې دغه معبودان ورسره په عبادت کښې شریک دي.

او په دې باندې خو هرڅوک پوهېږي چې د هغه چا څخه به بل غټ ظالم څوک وي کوم چې په بل چا نه بلکې په الله ﷻ باندې دروغ تړي، نو مونږ هیڅکله دا کار نه شو کولی.

۳ـ ای پیغمبره! کله چې ذکرې شوې مجاهدې ځوانې ډلې د ظالم پاچا په وړاندې د خپلې عقیدې اظهار وکړ او هغه د تفکر کولو (سوچ کولو) دپاره څه وخت ورکړ، چې دا ستاسو دپاره ورروستنی چانس دی بیا به یا زما غوښتنه قبولوئ او یا به وژل کېږئ، نو مجردې چې دوی د ذکر شوي استنطاقي مجلس څخه رابېل شوه نو په خپلو منځو کښې یې لاندې مشوره وکړه او ځینو ځینې نور مخاطب کړه چې:

الف: دا دی اوس الله ﷻ فضل وکړ او تاسو د ظالمانو د مجلس څخه راپه څنګ شوئ او هم د هغو معبودانو څخه په ډډه پاتې شوئ د کومو چې ظالمان د الله ﷻ څخه په غیر عبادت کوي، نو پام

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کوئ چې د دوهم ځل دپاره د هغوی په ولکه کښې خپل ځانونه ورنه کړئ، او په یوه غار (سمځې) کښې پنا واخلئ:

ب: ستاسو رب ﷻ ته امید دی چې د خپل رحمت او مهربانۍ پرده به درباندې درخوره کړي او د کفارو څخه به نجات درکړي.

ج: دغه کار به ستاسو په گټه تمام کړي، او هلته به ستاسو د ژوند وسائل دربرابر کړي.

## اصحاب الکهف خپله فیصله عملي کړه

۴ـ ذکرې شوې مجاهدې ډلې خپله فیصله عملي کړه چې په یوه غار کښې یې پنا واخستله او د اصحاب الکهف لقب یې وګاټه او لاندې مهربانۍ موورباندې وکړې:

الف: کوم امید چې دوی کاوه په هغه باندې مو سرلوړي کړه، چې د کفارو څخه مو نجات ورکړ او د دوی ډار مو په امن او د بې غمۍ په خوب باندې بدل کړ.

ب: په داسې سمځه کښې مو پنا ورکړه چې تعفن یې نه درلود او تنګه نه وه بلکې د لاندې صفاتو درلودونکې وه:

اول: ذکره شوې سمځه لمر ته مخامخ نه وه پرته چې تېز لمر د دوی بدنونو ته ضرر ورسوي، او نه یې لمر ته شا وه چې په دائمي توګه د لمر د شعاعو څخه محروم پاتې شي، بلکې د سمځې ساختمان داسې وه چې د لمر شعاع (پلوشې) به په دوی باندې د طلوع (راختلو) په وخت کښې لګېدلې او بیا به یې ترې ښي پلو ته میلان کاوه او کله به چې لمر غروب (لوېدلو) ته نژدې کېده نو دوی به یې د کیڼ لاس پلو ته پرېښودل.

دوهم: د سمځې داخل پراخه (ارت) وه چې په همدغه ارت ځای کښې په خواږه خوب باندې ویده شوه (د سمځې خواوو ته نژدې نه وه، او یو په بل باندې نه لګېده).

ای پیغمبره! ذکر شوی کیفیت د الله ﷻ د لویو قدرتونو څخه د یوه قدرت نښه ده، چې یو ډروکی تولګی د ظالم پاچا په وړاندې په حق باندې کلک ودرېده او د خپلو پلرونو او قومیانو باطله لاره یې پرېښودله او بالآخره ذکر شوی غار یې د خپلې اوسېدانې دپاره خوښ کړ.

دا خبره یقیني ده چې لاره موندونکی همغه څوک دی چې الله ﷻ ورته هدایت وکړي، او هر چاته چې الله ﷻ هدایت ونه کړي او د خپل سوء استعداد په مطابق یې بې لارې کړي، نو هیڅکله به ته هم (چې د الله ﷻ پیغمبر یې) ورته لاربښودونکی دوست موندلی نه کړې.

ج: هغوی ته مو د خوب په اوږدو کښې دا خاصیت ورکړی وه چې ته به پرې د ویښو ګومان کوې حال دا چې هغوی په خواږه او اوږده خوب باندې ویده وه، نو هیچا جرئت نه شو کولی چې هغوی ته ورنژدې شي.

د: هغوی مونږ په خپل کامل قدرت سره د ښي اړخ څخه چپ اړخ ته او د چپ اړخ څخه ښي اړخ ته اړول او رااړول چې غوښې یې ځمکه ونه خوري.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هـ: د هغوی له برکته مو د هغوی په سپي باندې هم خوب ورنازل کړ چې د سمڅې په خوله کښې یې خپلې څنګلې (وړاندېنۍ پښې) خورې کړې وې او سر یې ورباندې ایښی وه.

و: بالآخره هغوی ته مو رعب ورکړی وه چې هیچا څه جرئت نه درلود چې سمڅې ته ورداخل شي، حتی که بالفرض ته (ای پیغمبره!) هغوی ته وربښکاره شوی وی نو ضرور به ترې د تښتېدلو په حال کښې بېرته راستون شوی وی او د هغوی د رعب د کبله به دې زړه په ډار باندې ډک شوی وی.

## توضیحات

۱_ په ﴿ نَّحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ نَبَأَهُم بِالْحَقِّ ﴾ کښې د "نَبَأ" کلمه هغه خبر ته وضعه شوې ده په کوم باندې چې عظیمه ګټه حاصلېږي[1] او د ﴿ بِالْحَقِّ ﴾ معنی دا ده چې دغه خبر د دروغو څخه خالي دی.

نو د معنی حاصل یې داسې راځېږي چې: ای پیغمبره! مونږ په تاباندې د اصحاب الکهف د قیصې ډېر مهم ټکي په ربښتیانۍ توګه باندې بیانوو.

د همدې کبله الله ﷻ په ذکره شوې قیصه کښې هغه ټکی نه دی بیان کړی په کومو کښې چې عظیمې فائدې او ګټې موجودیت ونه لري لکه:

الف: ذکره شوې قیصه په کوم تاریخ کښې واقع شوې وه د عیسی ﷺ څخه وړاندې او که وروسته؟

ب: د هغه ظالم پاچا نوم څه شی وه (دقیانوس وه او که بل شی)؟

ج: ذکره شوې خوانه ډله د کوم وطن اوسېدونکې وه؟ ایا د شام مربوط وه، که د عراق، که د طرابلس، که د ترکیه او یا عمان؟

د: د دوی د ښار نوم غرناطه وه، که افسوس یا طرسوس او یا بل شی وه؟

هـ: د اصحاب الکهف نومونه کوم-کوم وه او مشر یې څه نومېده؟

ذکر شوي سوالونه او داسې نور په ځینو اوږدو کتابونو کښې جواب شوي دي[2] که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي خو د اسرائیلیاتو د ګډون احتمالات پکښې شته دي[3]، تحقیق او تدقیق پکښې په کار دی.

## سمڅې ته د پنا وړلو سبب

۲_ که څه هم ځینو علماوو کرامو د اصحاب الکهف د تښتېدلو او په غار کښې د پنا اخستلو دپاره درې سببونه ذکر کړي دي[4] مګر د ایتونو څخه لاندې ټکي څرګندېږي:

الف: اصحاب الکهف د خوانانو ډله وه او بوډاګان نه وه: ﴿ إِنَّهُمْ فِتْيَةٌ ﴾ یقینًا دوی یوه خوانه ډله وه.

---

(۱) مفردات الراغب ص۵۰۰

(۲) تفسیر القاسمي ج۱۱ ص۱۱؛ تفسیر الخازن ج۴ ص۸۴؛ تفسیر الطبري ج۱۵ ص۲۰۱؛ تفسیر البغوي ج۳ ص۱۴۵؛ تفسیر المراغي ج۱۵ ص۱۱۸

(۳) اضواء البیان ج۴ ص۳۳

(۴) زاد المسیر ج۵ ص۷۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: دوی بل شي نه بلکې فقط د خپل ایمان حفاظت په سمڅه کښې پنا اخستلو ته مجبور کړي وه:
﴿ءَامَنُواْ بِرَبِّهِمۡ﴾ دوی په خپل رب ﷻ باندې ایمان راوړی وه، (او غوښتل یې چې د عزیمت په توګه
درباندې کلک ودرېږي، په رخصت باندې یې عمل ونه کړ چې د قلبي اطمنان سره-سره یې د کفر په
کلمه باندې تلفظ کړی وی).

ج: دوی په همدغه سبب د استنطاق لاندې ونیول شوه او په اعدام باندې تهدید شوه خو ثبات یې
د لاسه ورنه کړ او په جرئت سره یې د حق اظهار وکړ: ﴿وَرَبَطۡنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ إِذۡ قَامُواْ فَقَالُواْ﴾ الآیة،
یا په بل عبارت: دوی بهتر جهاد وکړ ځکه چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «أَفۡضَلُ الۡجِهَادِ كَلِمَةُ
عَدۡلٍ عِنۡدَ سُلۡطَانٍ جَائِرٍ»[۱] یعنې ډېر بهتر جهاد د حقې خبرې ویل دي، البته د ظالم پاچا په وړاندې.
دا هم څه لرې نه ده چې دُ ﴿إِذۡ قَامُواْ﴾ معنی دا وي چې دوی په حق او د ایمان په مقتضی کلک
ودرېدل او د کاواکۍ سره مسامخ نه شوه.

## شطط څه معنی؟

۳ـ په ﴿لَّقَدۡ قُلۡنَآ إِذٗا شَطَطًا﴾ کښې د "شَطَط" کلمه ډېر لرېوالي ته وضعه شوې ده[۲]، د همدې
کبله د دریاب هغې غاړې ته "شَطُّ الۡبَحۡرِ" ویل کېږي کومه چې د اوبو د څپو څخه ښه لرې واقع وي.
خو په دې مقام کښې د حق څخه لرېوالی مطلب دی، یعنې که بالفرض مونږ د الله ﷻ سره شریک
ودروو لکه څنګه چې زمونږ څخه غوښتنه کېږي نو مونږ به په دغه وخت کښې د حق څخه ډېر لرې
شوي یاستو او د ډېرې غټې ګناه به مرتکب شوي یاستو.

## یادونه

۴ـ مونږ دا ایت شریف ﴿هَٰٓؤُلَآءِ قَوۡمُنَا ٱتَّخَذُواْ﴾ الآیة، د اصحاب الکهف د هغو خبرو څخه د یوې
خبرې حکایت ګڼلی دی کومې چې دوی د ظالم پاچا په وړاندې په جرئت سره کړې وې، چې د دوی د
حالت سره ښه سمون خوري، اما ځینو علماوو کرامو ذکر شوی ایت شریف د راتلونکي ایت شریف
په شمول آن د ﴿مِّرۡفَقٗا﴾ پورې د هغوی د خپلمنځي خبرو اترو حکایت ګڼلی دی[۳]، والله ﷻ أعلم.

## د سمڅې عجیبه جوړښت

۵ـ د ﴿وَتَرَى ٱلشَّمۡسَ إِذَا طَلَعَت تَّزَٰوَرُ عَن كَهۡفِهِمۡ ذَاتَ ٱلۡيَمِينِ وَإِذَا غَرَبَت تَّقۡرِضُهُمۡ ذَاتَ
ٱلشِّمَالِ﴾ په تفسیر کښې د ځینو علماوو کرامو نظر دا دی چې دغه کیفیت په خارق العاده توګه
صورت نیولی وه، او په قدرتي ډول به دوی د لمر د سترګې څخه بچ ساتل کېده[۴].

---

(۱) سنن ابن ماجه ص۲۸۹
(۲) مفردات الراغب ص۲۶۷
(۳) روح المعاني ج۱۵ ص ۲۲۰
(۴) اضواء البیان ج۴ ص۳۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


مګر مونږ ته بهتره برېښي چې په ایت شریف کښې به د سمڅې عجیبه جوړښت ته اشاره وي، چې الله ﷻ په قدرتي ډول سره اصحاب الکهف دغې ډول سمڅې ته ورداخل کړه.

د سمڅې جوړښت په لاندې ټکو کښې واضحه کېږي:

الف: د ﴿ تَّزَٰوَرُ ﴾ کلمه اصلاً د "زَوَر" ـلکه "قَلَم"ـ څخه اخستله شوې ده چې د میلان معنی ورکوي[1]، د همدې مادې څخه د "زُوْر" کلمه هم مشتقه شوې ده چې د دروغو معنی ورکوي، دروغ خو د حق او واقعیت څخه باطل طرف ته مایل کېدل دي.

که بالفرض ذکره شوې کلمه د "زَوْر" ـلکه "ضَرْب"ـ څخه اصلاً اشتقاقه شوې وی نو بیا به یې د مخامخ ورتللو معنی ورکړې وی[2] او دا ځکه چې "زَوْر" سینې (ټټر) ته ویل کېږي، د همدې کبله میلمه ته زائر وایي چې مخامخ کوربه ته ورغلی وي.

ب: د ﴿ ذَاتَ ٱلۡيَمِينِ ﴾ څخه د سمڅې غربي طرف مطلب دی چې د ورداخلېدونکی په ښي طرف کښې واقع کېږي.

ج: د "تَقْرِضُ" کلمه د "قَرْض" ـلکه "ضَرْب"ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د "قَطْع" (پرېکولو) معنی ورکوي، په دې مقام کښې علماوو کرامو د ترک (پرېښودلو) په معنی سره تفسیره کړې ده[3].

د: ﴿ ذَاتَ ٱلشِّمَالِ ﴾ څخه د سمڅې شرقي خوا مراده ده چې د ورننوتونکي چپ پلو ته پرته ده.

نو د ذکرو شوو وضاحتونو څخه څرګنده شوه[4] چې:

ه: د سمڅې خوله شمال طرف ته واقع وه، د همدې کبله د لمر شعاع (پلوشې) د راختلو په اول وخت کښې ورننوتلې او بیا ترې د لمر په راپورته کېدلو سره په کراره-کراره بېرته وتلې، خو مستقیماً یې ورباندې تماس نه درلود، چې جامې یې پوده نه شي او بدنونو ته یې تاوان ونه رسوي.

و: همدارنګه د غروب په وخت کښې هم ذکره شوې سمڅه د لمر د شعاعو څخه بې برخې نه پاتې کېدله، چې تعفن یې ورباندې د منځه ته او هوا یې ورته تصفیه کوله.

ز: که بالفرض د سمڅې خوله شرق طرف ته وی نو په سبا کښې به ورپورې د لمر پلوشو مستقیماً تماس نیولی او د ښکا د پلوه به د لمر پلوشې بالکل نه ورداخلېدلې.

ح: او که خوله یې غرب طرف ته بېرته وی نو د سهار د پلوه به د لمر انرژي او تودوخې هلته موجودیت نه درلودی.

ط: او که خوله یې جنوب طرف ته بېرته وی نو نه به د سهار د پلوه د لمر پلوشې ورننوتلې وی او نه به د ښکا د پلوه هلته ورداخلې شوې وی.

ي: بالآخره مونږ ته داسې برېښي ـوالله ﷻ أعلمـ چې اصحاب الکهف به په سمڅه کښې په داسې

---

(۱) مفردات الراغب ص۲۲۱
(۲) لسان العرب ج۴ ص۳۳۳
(۳) المحرر الوجیز ج۱۰ ص۳۷۶؛ الدر المنثور ج۵ ص۳۷۲
(۴) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۷۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وضعه باندې غزيدلي ويده شوي وه لكه څنګه چې مړي په قبر كښې غزيدلي پروت وي، نو سرونه به يې شمال ته او پښې به يې جنوب ته، او هم ښي اړخونه به يې غرب ته او چپ اړخونه به يې شرق طرف ته واقع وه.

نو په دې اعتبار سره به د ﴿ذَاتَ ٱلۡيَمِينِ﴾ او ﴿ذَاتَ ٱلشِّمَالِ﴾ څخه د اصحاب الكهف ښي طرفونه او چپ طرفونه مطلب وي.

## سوال جواب

۶ـ كه څوک وايي چې د ﴿وَتَحۡسَبُهُمۡ أَيۡقَاظٗا﴾ څخه څرګندېږي چې د اصحاب الكهف په هكله به سړي ته خيال پيدا كېده چې دوى ويښ دي حال دا چې دوى ويده وه؛ نو پوښتنه دا ده چې: څه وجه وه چې ليدونكي به وربانديې د ويښو ګومان كاوه؟

مونږ وايو چې: علماوو كرامو د ذكر شوي ګومان وجه دا ښودلې ده چې د اصحاب الكهف سترګې ښېرته وې او د ويدو خلكو په څېر يې پټې كړې نه وې[۱].

خو دا هم څه لرې نه ده چې د ګومان وجه به دا وه چې الله ﷻ د دوى د خوندي ساتلو په بنياد هغو ته دا كرامت هم وركړى وه چې ليدونكي به پرې د ويښو ګومان كاوه، د دې ډول كرامت څه نظائرو ته په [الأنفال:۴۴] ايت كښې اشاره شوې ده، چې لږ مجاهدين كفارو ته د اصل شمېر څخه ډېر څرګند شوي وه. يا په بل عبارت: اصحاب الكهف ته لكه چې د كرامت په توګه رعب وركړى شوى وه چې څوک له ډاره نژدې نه شو ورتلاى، همدارنګه دا كرامت هم وربېرزو كړى شوى وه چې چا وربانديې د ويدو ګومان نه كاوه.

په دې مقام كښې ځينو علماوو كرامو ښه اوږده خبره ليكلې ده كه څوک يې د لوستلو شوق لري نو هملته[۲] دې مراجعه وكړي.

## د اصحاب الكهف سپى

۷ـ الله ﷻ د ﴿وَكَلۡبُهُم بَٰسِطٞ ذِرَاعَيۡهِ بِٱلۡوَصِيدِ﴾ په نازلولو سره اشاره كړې ده چې هغوى سپى هم درلود چې په ﴿كَلۡبُهُم﴾ كښې يې ټولو ته اضافت شوى، چې په "وَصيد" يعنې د سمڅې په دروازه (خوله) كښې يې[۳] خپلې دواړه پښې غزولې وې او سر يې وربانديې ايښى وه (د خپلو خاوندانو غونډې په خواړه خوب ويده وه).

الله ﷻ ذكره شوې جمله د دې دپاره نازله كړې ده چې د صالحانو سره ناسته ولاړه او مينه محبت څناورو ته هم په ګټه تمامېږي پاتې خو لا انسانان.

---

[۱] تفسير البغوي ج۳ ص۱۵۴
[۲] روح المعاني ج۱۵ ص۲۲۷
[۳] تفسير الطبري ج۱۵ ص۲۱۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدې مضمون ته نبي كريم ﷺ په يوه حديث كښې اشاره كړې ده چې: «اَلْمَرْءُ مَعَ مَنْ أَحَبَّ»[۱] يعني د قيامت په ورځ به هر سړى د هغه چا سره حشر كړى شي چې په دنيا كښې يې ورسره مينه محبت وه، كه څه هم خپل محبوب يې ليدلى نه وي او د هغه د نېک عمل په اندازه يې نېک عمل هم نه وي كړى.

اما د لاندې پوښتنو جوابولو ته الله ﷻ څه اشاره نه ده كړې او نه پكښې څه ګټه شته چې:

الف: د سپي نوم څه شى وه؟ رقيم وه، كه قطمير او يا بل شى؟

ب: څه رنګ يې درلود؟ سورنګى سپى وه او كه بل رنګ؟

ج: په سپيو كښې د كومې نوعې څخه وه؟

د: جوثه يې غټه وه او كه وړه؟

ه: ذكر شوى سپى به جنت ته لاړ شي او كه څنګه؟ او داسې نور.

كه څوک غواړي چې د ذكرو شوو پوښتنو جوابونه په تفاسيرو كښې ولولي نو هملته[۲] دې مراجعه وكړي، مونږ ته يې په ثبوت باندې كوم دليل په نظر رانغى.

﴿وَكَذَٰلِكَ بَعَثْنَٰهُمْ لِيَتَسَآءَلُوا۟ بَيْنَهُمْ ۚ قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ كَمْ لَبِثْتُمْ ۖ قَالُوا۟ لَبِثْنَا يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ ۚ قَالُوا۟ رَبُّكُمْ أَعْلَمُ بِمَا لَبِثْتُمْ فَٱبْعَثُوٓا۟ أَحَدَكُم بِوَرِقِكُمْ هَٰذِهِۦٓ إِلَى ٱلْمَدِينَةِ فَلْيَنظُرْ أَيُّهَآ أَزْكَىٰ طَعَامًا فَلْيَأْتِكُم بِرِزْقٍ مِّنْهُ وَلْيَتَلَطَّفْ وَلَا يُشْعِرَنَّ بِكُمْ أَحَدًا ﴿١٩﴾ إِنَّهُمْ إِن يَظْهَرُوا۟ عَلَيْكُمْ يَرْجُمُوكُمْ أَوْ يُعِيدُوكُمْ فِى مِلَّتِهِمْ وَلَن تُفْلِحُوٓا۟ إِذًا أَبَدًا ﴿٢٠﴾ وَكَذَٰلِكَ أَعْثَرْنَا عَلَيْهِمْ لِيَعْلَمُوٓا۟ أَنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ وَأَنَّ ٱلسَّاعَةَ لَا رَيْبَ فِيهَآ إِذْ يَتَنَٰزَعُونَ بَيْنَهُمْ أَمْرَهُمْ ۖ فَقَالُوا۟ ٱبْنُوا۟ عَلَيْهِم بُنْيَٰنًا ۖ رَّبُّهُمْ أَعْلَمُ بِهِمْ ۚ قَالَ ٱلَّذِينَ غَلَبُوا۟ عَلَىٰٓ أَمْرِهِمْ لَنَتَّخِذَنَّ عَلَيْهِم مَّسْجِدًا ﴿٢١﴾﴾

[۱۹] او (لكه څنګه مو چې اصحاب الكهف اوده كړي وه) همدارنګه مو دوى (د خوبه) د دې دپاره راپاڅول چې په خپل منځكښې يو تربله پوښتنې وكړي (هغه دا چې):

د دوى د جملې څخه يوه ويونكي (نورو ته) وويلې چې: څومره درنګ مو (دلته) كړى دى (څومره موده دلته ويده شوي ياست)؟ دوى (څينو) وويلې چې يوه ورځ مو (دلته) درنګ كړى دى او (څينو وويلې چې) د يوې ورځې څه برخه (دلته ويده پاتې شوي ياستو).

(۱) صحيح مسلم ج۲ ص۳۳۲

(۲) تفسير القرطبي ج۱۰ ص۳۷۰؛ تفسير البغوي ج۳ ص۱۵۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(بیا) ټولو (په یوه خوله) وویلې چې ستاسو رب ﷻ په هغې موده باندې ډېر ښه پوهېږي چې تاسو (دلته په خوب باندې) تیره کړې ده. نو (دا خبرې پرېږدئ او) خپل یو کس د خپلو دغو پیسو سره ښار ته واستوئ نو هغه دې وګوري چې د دې ښار (د اهل) څخه هرڅوک د طعام د حیثه ډېر پاکیزه وي د هغه څخه دې تاسو ته څه روزي (خوراکي شی) راوړي، او (په خپل تګ راتګ کښې دې) ډېر دقت وکړي او هرومرو هیڅوک دې په تاسو باندې خبر نه کړي (او دا ځکه چې):

[۲۰] یقیناً که دوی (ښاریان) په تاسو باندې غلبه مونده کړي (درباندې خبر شي او قدرت یې ورسېږي) نو تاسو به رجم (سنګسار) کړي او یا به مو خپل (کفري) دین ته بېرته ورتاو کړي، او تاسو به په دغه وخت کښې د همېشه دپاره خلاصی (او کامیابي) مونده نه کړئ.

[۲۱] او (لکه څنګه مو چې هغوی په خوب سره د خلکو څخه پټ کړي وه) همدارنګه مو ورباندې (خلک) د دې دپاره (بدون د پلټنې) خبر کړه ترڅو دوی پوه شي چې یقیناً د الله ﷻ وعده حقه ده او د قیامت ورځ (راتلونکې ده) هیڅ شک پکښې نشته.

(ای پیغمبره!) هغه وخت (خپل امت ته) ذکر کړه کله چې خلکو په خپل منځکښې د اصحاب الکهف په کار کښې جګړه کوله (چې دوی مړه دي او که ویده دي) نو (د جګړې په نتیجه کښې یې) وویلې چې په دوی باندې یو عمارت جوړ کړئ (دفن کوئ یې مه)، د دوی رب ﷻ په دوی باندې ډېر ښه پوهېږي.

(بالآخره) هغو کسانو وویلې کومو چې د اصحاب الکهف په کار باندې غلبه (قدرت) درلود چې: هرومرو او ضرور به مونږ په دوی باندې عبادتځای جوړ کړو (چې زیارت کوونکي د الله ﷻ عبادت وکړي، نه عمارت چې نندارتون ترې جوړ شي).

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې د اصحاب الکهف د ویده کېدلو حالاتو ته اشاره شوي وه او په دې ایتونو کښې د هغوی د راویښېدلو او په هغوی باندې د خلکو د خبرېدلو حالات بیان شوي دي، چې حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

۱_ ای پیغمبره! لکه څنګه چې مونږ اصحاب الکهف په قدرتي توګه ویده کړي وه همدارنګه مو په قدرتي توګه راویښ کړه ترڅو چې سره یو تربله پوښتنې وکړي، چې په نتیجه کښې یې په لاندې خبرو اترو پیل وکړ:

الف: د هرڅه څخه وړاندې د دوی څخه یو کس پوښتنه وکړه چې تاسو دلته څومره وخت تېر کړی دی اوڅومره موده په خواره خوب ویده پاتې شوي یاست؟

ځینو جواب ورکړ چې: مونږ دلته فقط یوه ورځ خوب کړی دی، او ځینو نورو په جواب کښې وویلې چې ایله نیمه ورځ مونږ دلته ویده پاتې شوي یاستو.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


ب: د جر او بحث او هم د نښو او علاماتو د ليدلو څخه وروسته ټولو په يوه خوله ذکر شوی جواب خپل رب ﷻ ته محول (ورتاو) کړ چې په دغې موده باندې ستاسو رب ﷻ ډېر ښه پوهېږي، نو خپل بحث ته په همدې موضوع کښې خاتمه ورکړئ او:

ج: د خوراک او څښاک څه غم وخورئ، چې خپل يو ملګری د خپلو دغو پيسو سره بازار ته واستوئ چې څه خوراکي شيان درته راوړي.

د: خو هريو ملګری چې بازار ته لاړ شي نو لاندې نصيحتونه دې نه هېروي:

اول: په بازار کښې دې پاکيزه او سپېڅلی خوراک ولټوي او د چټلو (ناپاکه) او حرامو شيانو څخه دې ډډه وکړي. يا په بل عبارت: د پاکيزه دوکاندار څخه دې خريداري وکړي.

دوهم: ډېر احتياط دې وکړي چې هيڅوک درباندې خبر نه شي چې تاسو لا په سمڅه کښې پناه اخستې ده، په دې باره کښې دې د پوره هوښيارۍ څخه کار واخلي او په دقت سره دې لاړ او راشي، او دا خکه چې:

درېم: که کفار په تاسو باندې خبر شي او د هغوی ولکې ته ورشئ نو ضرور به يا تاسو رجم کړي او يا به مو په ډبرو باندې قتل کړي، او يا به مو خپل باطل دين ته ورواړوي.

څلورم: د دغو دواړو صورتونو څخه اجتناب په کار دی، په اول صورت کښې څه موقت عذاب دی تېر به شي، اما که دوهم صورت درباندې عملي شي نو هيڅکله او د ابد الآباد پورې به ښه ورځ ونه ګورئ او کاميابي به لاس ته درنه شي.

۲ـ ای پيغمبره! لکه څنګه چې مونږ اصحاب الکهف د خوب څخه راويښ کړه همدارنګه مو د دوی په حالاتو باندې د وخت خلک هم خبر کړه ترڅو دوی پوه شي چې د الله ﷻ وعده حقه ده او د قيامت ورځ ضرور راتلونکې ده، يا په بل عبارت: لکه څنګه چې اصحاب الکهف د خوبه راپورته شوه همدارنګه به يوه ورځ ټول مړي د قبرونو څخه را اوچت شي.

۳ـ ای پيغمبره! د هغه وخت يادونه هم خپل امت ته وکړه کله چې د اصحاب الکهف په هکله د هغو خلکو جګړه پېښه شوه کومو ته چې الله ﷻ هغوی کشف کړه چې:

الف: ځينو يې په نومونو کښې اختلاف کاوه او ځنيو يې په شمېر کښې بحث پيل کړی وه چې څوک دي او شمېره يې څو ته رسېږي، او داسې نور.

ب: چا ويل چې دوی بېرته ويده شوه نو د غار خوله مه بندوئ، او چا ويل چې هغوی دا خل وفات شوه نو په کار دي چې د غار خوله بنده کړو چې څوک ورداخل نه شي.

ج: بالآخره فيصله وشوه چې د دغو خبرو علم د دوی رب ﷻ ته وسپارئ خو يو تعمير وربانديې جوړ کړئ ترڅو دلته زيارت کوونکي راشي او لاړ شي او په دوامداره توګه د اصحاب الکهف يادښت تازه وساتل شي.

د: مګر د هغو کسانو فيصله دا وه کومو چې د هغوی په کار باندې غلبه او قدرت درلود او واکې يې په لاس کښې وې چې هرومرو او ضرور به مونږ په اصحاب الکهف باندې يو جومات جوړ

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کړو چې زیارت کوونکي پکښې عبادت وکړي او خپل رب ﷻ یاد کړي، یا په بل عبارت: دا مقام مونږ میله ځای نه جوړوو بلکې عبادتځای یې جوړوو.

## توضیحات

١ـ که څه هم په ﴿ قَالُوا۟ لَبِثْنَا يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ ﴾ کښې د اکثرو علماوو کرامو په نزد د ﴿ قَالُوا ﴾ ضمیر ځینو اصحاب الکهف ته راجع دی (نه ټولو ته) یعنې د دوی ځینو کسانو وویلې چې مونږ دلته یوه ورځ یا د ورځې په څه برخه کښې ویده پاتې شوي یاستو.

مګر مونږ ته بهتره بریښي چې ذکر شوی ضمیر به ټولو اصحاب الکهف ته راجع وي چې د یوې ډلې ګومان به پوره یوه ورځ وه او د بلې ډلې ګومان به د ورځې څه برخه وه.

د دغې جملې نظیر دا جمله ده چې: ﴿ وَقَالُوا۟ لَن يَدْخُلَ ٱلْجَنَّةَ إِلَّا مَن كَانَ هُودًا أَوْ نَصَـٰرَىٰ ﴾ [البقرة: ١١١] یعنې یهودانو وویلې چې: جنت ته به هیڅکله داخل نه شي مګر یهود، او نصاراوو وویلې چې جنت ته به هیڅکله داخل نه شي مګر نصارا؛ خو په ﴿ قَالُوا ﴾ کښې دواړو ډلو (یهود، نصاراوو) ته په اجتماعي توګه ضمیر راجع کړی شوی دی، چې اهل الکتاب وایي چې جنت ته به داخل نه شي مګر یهود یا نصارا.

## هېر مو نه شي!

٢ـ ځینو علماوو کرامو[1] د ﴿ وَلَن تُفْلِحُوٓا۟ إِذًا أَبَدًا ﴾ په جمله باندې استدلال نیولی دی چې په اکراه (زور) سره په کفري خبره باندې د تلفظ کولو جواز په همدې (آخر الزمان امت) پورې اختصاص لري چې مفصل بحث یې د [النحل: ١٠٦] ایت لاندې تېر شوی دی. او دا ځکه چې:

د ذکرې شوې جملې حاصل داسې راځېږي چې که ظالمان تاسو په زور سره خپل کفري دین ته واړوي نو په دغه وخت کښې به په ابدي توګه فلاح مونده نه کړئ او د همېشه دپاره به په دوزخ کښې یاست؛ نو که بالفرض هغوی ته د اکراه په صورت کښې په کفري خبرې باندې تلفظ جائز وی او د الله ﷻ په نزد وریاندې کافر نه ګرځېدلی نو ذکره شوې جمله به یې نه وی ویلې، والله ﷻ اعلم.

## اصحاب الکهف راوېښ شوه

٣ـ د دې خبرې په جواب کښې چې اصحاب الکهف څنګه رابیدار (راوېښ) شوه، مفسرینو کرامو ډېره اوږده خبره کړې ده[2] حتی ځینو لا ویلې دي چې د رابېدارېدلو طریقه یې دا وه چې یوه شپونکي د غار خوله ببرته کړه ترڅو پکښې خپلې رمې (ګډو) ته د باران څخه پناځای مونده کړي.

دوی وایي چې د غار خوله ظالم پاچا په هغه وخت کښې بنده کړې وه کله چې اصحاب الکهف غار ته ننوتل، نومړي وغوښتل چې همدا غار ورته قبر جوړ کړي نو د غار خوله یې ټپه بنده کړه[3]

---

(١) اضواء البيان ج۴ ص۸۱

(٢) تفسير الطبري ج١٥ ص٢١٦؛ تفسير البغوي ج٣ ص١٤٩

(٣) تفسير القاسمي ج١١ ص١١

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې درې سوه او نهه (۳۰۹) کاله وروسته شپونکي بهرته کړه[١].

مونږ ته د رابېداريدلو ذکره شوې طریقه د لاندې وجوهو د کبله په زړه پورې نه بريښي:

الف: مونږ د همدې سورت د [۹] ایت لاندې لیکلي دي چې اصحاب الكهف د وخت د پاچا او نورو ظالمانو څخه تریتم شوه د همدې کبله یې د دوی شهرتونه په لوحه کښې ولیکل او په دولتي خزانه کښې یې وساتل، که بالفرض پاچا په غار کښې بندیان کړي وی چې د لوږې مړه شي نو بیا خو به یې د شهرت لیکلو ته څه اړتیا نه وی پېښه شوې.

ب: د همدې سورت د [۱۷] ایت په وضاحتونو کښې تېر شوه چې په اصحاب الكهف باندې سبا او بېګا د لمر پلوشې په غیر مستقیمه توګه د لږ وخت دپاره لګېدلې، نو که بالفرض د غار خوله بنده وی نو بیا خو به د لمر څخه بالکل محروم وی.

ج: د همدې سورت د [۱۸] ایت څخه څرګندېږي چې الله ﷻ اصحاب الكهف د رعب د کبله د خلکو د تماس څخه ساتلی وه، نه له دې کبله چې د غار خوله بنده وه.

د: د همدې ایتونو څخه ـچې بحث پکښې روان دیـ څرګندېږي چې د اصحاب الكهف اولنۍ خبرې په خپلو منځو کښې پیل شوې، نو که بالفرض شپونکي رابېدار کړي وی نو اولنۍ خبرې به یې د هغه سره کړې وی، او د کشف صورت حال به یې د همدې ځای څخه پیل شوی وی حال دا چې د کشف اولنی صورت حال یې د خپل هغه ملګري څخه پیل شوی دی کوم چې هغوی بازار ته د خوراکي شیانو د راوړلو دپاره استولی وه چې ځینې مهم ټکي یې لاندې لوستلی شئ[٢]:

اول: کله چې الله ﷻ اصحاب الكهف په خپل کامل قدرت سره له درانه خوبه راویښ کړه نو د خپلو قدیمي سکو سره یې یو ملګری بازار ته ولېږه چې څه خوارکي شیان پرې خریداري کړي.

دوهم: نو قدیمي سکې یې دوکاندار ته ورکړې چې هغه شی او دغه شی راکړه.

دریم: دوکاندار چې قدیمي سکې ولیدې نو ګومان یې وکړ چې دغه سړي کومه قدیمي خزانه موندلې ده، او د شاوخوا نور خلک یې هم پرې خبر کړه.

څلورم: آن تردې چې خبره غټه شوه او د وخت پاچا ته ورسېده، او ذکر شوی ملګری یې د استنطاق لاندې ونیوه چې دا ډول سکې درسره څومره دي؟ او هغه خزانه چرته ده چې تا ترې دغه سکه راختسې ده؟

پنځم: هغه (رحمة الله علیه) همدا جواب ورکاوه چې مونږ فقط پرون د دې ځای څخه لاړو او هلته مو په سمڅه کښې پنا واخستله ترڅو د خپل دین حفاظت وکړو.

شپږم: پاچا ته خیال پیدا شو چې دوی به هغه ډله وي کومه چې څو پېړۍ پخوا لا درکه او ترې تم شوي وه نو د دولتي خزانې څخه یې د لا درکه شوې ځوانې ډلې لوحه وغوښتله او په ذکر شوې

---

(١) تفسير الخازن ج۴ ص۸۷
(٢) تفسير ابن کثير ج۳ ص۷۷؛ الدر المنثور ج۵ ص۳۷۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ملګري باندې بې ولوستله چې ستاسو فلانی او فلانی نومونه دي؟ چې ده (رحمة الله عليه) په هوا، هوا سرا جواب ورکړ.

اوم: پاچا د اصحاب الکهف استازی له خپله خانه سره واخست او د کهف (غار) په لور روان شو ترڅو د دغې مبارکې ډلې سره ملاقات وکړي.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وايي چې: ايا د وخت پاچا چې ښه مسلمان سړی وه، د اصحاب الکهف سره يې ملاقات وکړ او که څنګه؟

مونږ وايو چې: په دې باره کښې مفسرينو کرامو لاندې دوه روايتونه ليکلي دي[۱] چې:

الف: پاچا غار ته ورننووت او ښه روغبړ يې ورسره وکړ او بيا ورباندې اصحاب الکهف د رخصت کېدلو سلام واچاوه او هر يو د خپلو څملاستلو ځای ته ورغی او هملته يې خپلې ارواګانې خپل رب ﷻ ته ورسپارلې او وفات شوه، فإنا لله وإنا إليه راجعون.

ب: کله چې پاچا د غار خولې ته ورسېد نو ذکر شوي استازي (عليه الرحمة) ورته وويلې چې: تاسو دلته ودرېږئ زه به خپلو ملګرو ته ستاسو څخه وراندې ورشم او په ټول کيفيت باندې به يې خبر کړم، بيا به نو تاسو ورسره ملاقات وکړئ، که نه نو دوی به په هيبت کښې ولوېږي.

خو څرنګه چې استازي خپلو ملګرو ته حالات بيان کړه نو الله ﷻ د ټولو ارواګانې قبض کړې ـفإنا لله وإنا إليه راجعونـ او پاچا د ملاقات څخه محروم پاتې شو.

مونږ ته همدغه دوهم روايت په زړه پورې برېښي لکه چې په راتلونکي پنځمه توضيح کښې ورباندې لږ څه رڼا اچولې شوې ده، او د اصحاب الکهف د مستور حال سره ښه مناسب دی.

البته دا هله که اصحاب الکهف مړه شوي وي، او که بېرته ويده شوي وي او يا يې د مرګ او ژوند دوه حالونه د خلکو څخه پټ پاتې شوي وي[۲] نو بيا هم راته دا بهتره څرګندېږي چې پاچا به ورسره ملاقات نه وي کړی.

## د اصحاب الکهف د بيدارېدلو حکمتونه

۵ـ الله ﷻ د اصحاب الکهف د راوېښولو لاندې دوه حکمتونه نازل کړي دي:

الف: يو حکمت پخپله په اصحاب الکهف پورې ارتباط نيسي چې ﴿ لِيَتَسَآءَلُوا۟ بَيْنَهُمْ ﴾ ترڅو دوی په خپل منځکښې سره پوښتنې وکړي چې مونږ دلته څومره وخت ويده پاتې شوي ياستو. نو په نتيجه کښې به دوی پوه شي چې الله ﷻ د دوی هغه سوال قبول کړی دی کوم چې دوی په غار کښې د پنا اخستلو په وخت کښې کړی وه، چې مونږ ته د ظالمانو څخه نجات راکړې او زمونږ ايمانونه د

---

[۱] تفسير القرطبي ج۱۰ ص۲۷۹؛ المحرر الوجيز ج۱۰ ص۳۸۲
[۲] روح المعاني ج۱۵ ص۲۳۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



زوال څخه بچ نکړي (په خپل دربار کښې يې قبول کړي).

ب: بل حکمت د وخت خلکو ته راجع دی چې: ﴿ لِيَعْلَمُوا أَنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ وَأَنَّ السَّاعَةَ لَا رَيْبَ فِيهَا ﴾ ترڅو دوی پوه شي چې د الله ﷻ هره يوه وعده حقه ده او د قيامت په قيام کښې هيڅ شک شبه نشته.

د دغه دوهم حکمت څخه په کار دي چې په هره زمانه کښې خلک استفاده وکړي، د حشر منکران دې پرې خپل قناعت حاصل کړي او مؤمنان دې پرې ښه مطمئن جوړ شي.

## يادونه

۶- مفسرينو کرامو په ﴿ إِذْ يَتَنَٰزَعُونَ بَيْنَهُمْ أَمْرَهُمْ فَقَالُوا ابْنُوا عَلَيْهِم بُنْيَانًا رَّبُّهُمْ أَعْلَمُ بِهِمْ ﴾ کښې متعدد تحليلونه کړي دي[1]، او ځينې ډېرې معناوې يې ترې اخستي دي چې په ايت شريف کښې د هرې يوې معنى د اخستلو استعداد شته دی، خو مونږ چې په کومه معنى باندې تفسير کړی دی هغه په لاندې نکاتو باندې ولاړه ده:

الف: د ﴿ إِذْ ﴾ کلمه مو په مقدر "اذْكُرْ" پورې متعلقه ګڼلې ده[2] او په ﴿ أَعْثَرْنَا ﴾ پورې مو ارتباط نه دی ورکړی.

ب: د ﴿ يَتَنَٰزَعُونَ ﴾ کښې مو مستتر ضمير د وخت خلکو ته راجع اخستی دی چې مقام ورباندې دلالت کوي او اصحاب الكهف ته مو راجع نه دی اخستی.

ج: په ﴿ بَيْنَهُمْ أَمْرَهُمْ ﴾ کښې مو د "أمر" کلمه د هغو ټولو پوښتنو څخه عبارت ګڼلې ده کومو چې په هغه وخت کښې اصحاب الكهف پورې تعلق نيولی وه لکه: دوی مړه شوه او که بېرته ويده شوه؟ د دوی شمېر څو تنو ته رسېږي؟ يا په بل عبارت: د دوی سره په لاره کښې نور کسان ضميمه شوي دي لکه چې سپی ورسره ضميمه شوی وه او په لوحه کښې يې ذکر نشته او که څنګه؟ په دوی باندې بايد ميله خای جوړ شي او که عبادتخای (جومات) او داسې نور.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه د ﴿ بَيْنَهُمْ ﴾ ضمير مو د وخت خلکو ته راجع ګڼلی دی او د ﴿ أَمْرَهُمْ ﴾ ضمير مو اصحاب الكهف ته راجع کړی.

د: د ﴿ رَّبُّهُمْ أَعْلَمُ بِهِمْ ﴾ جمله مو د وخت د خلکو د خبرو حکايت ګڼلې ده.

هـ: بالآخره په ﴿ غَلَبُوا عَلَىٰ أَمْرِهِمْ ﴾ کښې مو د "أمر" کلمه د تدبير په معنى اخستې ده او ضمير مو اصحاب الكهف ته راجع اخستی دی، او هم مو د غلبې خاوندان د وخت په حکومتي مشرانو باندې معنى کړي دي.

د ذکرو شوو نکاتو په رعايت سره يې د معنى حاصل هغسې راځېږي لکه څنګه چې په خلاصه مطلب کښې ليکلی شوي دي.

---

(۱) روح المعاني ج۱۵ ص۲۳۵

(۲) المحرر الوجيز ج۱۰ ص۳۸۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## دوه پوښتني او د هغو جوابونه

۷_ په ﴿لَنَتَّخِذَنَّ عَلَيۡهِم مَّسۡجِدٗا﴾ کښې د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتني ګرځي راګرځي:

الف: يوه دا چې په هغه وخت کښې خو مسلمانان د عيسى ﷺ پيروان وه په کوم وخت کښې چې اصحاب الكهف راوپېښ شوه او خلک ورباندې خبر شوه، نو په کار وه چې د ﴿مَّسۡجِدٗا﴾ په عوض "بِيۡعَةٗ" نازل شوی وی چې د عيسويانو د عبادتځای نوم دی چې مونږ يې په کليسا سره معنى كوو، ځکه چې د مسجد کلمه د آخرالزمان پيغمبر ﷺ د امتيانو عبادت ځای پورې اختصاص لري.

د دې جواب دا دی چې: دلته د "مَسۡجِد" د کلمې لغوي معنى مطلب ده، يعنې د سجده کولو ځای، چې په دې معنى زمونږ په جوماتونو پورې اختصاص نه لري بلکې په همدې معنى باندې ټوله ځمکه زمونږ دپاره مسجد او جومات ګرځولې شوې ده.

ب: دوهمه پوښتنه دا ده چې د ايت شريف څخه په قبرونو باندې د معبد (جومات) جوړولو جواز استنباطول صحيح دي او که څنګه؟ لکه چې اهل التشيع دا ډول استنباط جائز ګڼلی دی، دوی وايي چې: "اين نشان مي دهد كه ساختن معبد به احترام قبور بزرگان دين نه تنها حرام نيست _آن چنان كه وهابيها مي پندارند_ بلكه كار خوب و شائسته است"[۱].

مونږ وايو چې: ذکر شوی سوال ته ځينو علماوو کرامو د اوږده بحث په ضمن کښې جواب ورکړی دی[۲] چې ځينې مهم ټکي يې د څه زيادت سره محترمو لوستونکو ته وړاندې کوو:

الف: ذکر شوی استنباط به په هغه وخت کښې په ځای وی چې د آخر الزمان پيغمبر ﷺ په شريعت کښې د ذکر شوي کار څخه په صراحت سره نهي (منعه) نه وی روايت شوی، حال دا چې نبي کريم ﷺ د خپل مرض الموت په وخت کښې فرمايلي دي چې: «لَعَنَ اللهُ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ»[۳] يعنې په يهودو او نصاراوو باندې دې د الله ﷻ لعنت وي چې د خپلو پيغمبرانو د قبرونو څخه يې جوماتونه جوړ کړه (او سجدې يې ورته وکړې).

ب: په ايت شريف کښې په اصحاب الكهف باندې د جومات د جوړولو کار د کوم پيغمبر څخه نه دی راحکايت شوی چې زمونږ په شريعت کښې اعتبار ولري، بلکې دا د هغه چا د کار حکايت دی د کومو چې د حکومت واګې په لاس کښې وې او اقتدار يې درلود.

ج: په ذکر شوي جومات باندې د قبرونو د جومات جوړلو قياس کول فرق لري، او دا ځکه چې د اصحاب الكهف په مرګ او ژوند کښې اختلاف وه ځينو ورباندې د دوهم ځل ويده کېدلو عقيده درلوده، د همدې کبله هغوی د نورو يقيني مړو غوندې دفن نه کړی شوه، اما اهل التشيع خو ترې د هغو جوماتونو جوړولو دپاره جواز راوباسي کوم چې يقيني مړه دي او د هيچا پکښې اختلاف نشته.

---

(۱) تفسير نمونه تصنيف اهل التشيع ج۱۲ ص۳۸۸
(۲) روح المعاني ج۱۵ ص۲۳۹
(۳) صحيح البخاري ج۱ ص۱۷۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: په دې ټولو باندې علاوه په ځينو روايتونو کښې شته چې د وخت حاکمانو د سمڅې سره نژدې په يوه غونډۍ باندې جومات جوړ کړ، نه په اصحاب الکهف باندې د پاسه چې هغوی ته سجدې وکړی شي، همدې خبرې ته نبي کريم ﷺ اشاره کړې ده چې: «لَا تَجْلِسُوا عَلَى الْقُبُورِ وَلَا تُصَلُّوا إِلَيْهَا»[١] تاسو مه په قبرونو باندې کينئ او مه ورته سجدې کوئ.

## سوال جواب

٨ـ که څوک وايي چې: ايا په قبر باندې د جومات د جوړولو دپاره د دې څخه جواز نه معلومېږي چې ټولو صحابه وو کرامو ﷺ په اتفاق سره نبي کريم ﷺ د جومات ترڅنګ دفن کړ او هيچا ورباندې اعتراض ونه کړ؟

مونږ وايو چې:

الف: په دې مقام کښې د بحث موضوع دا ده چې د تعظيم دپاره په قبرونو باندې د جوماتونو جوړول جواز نه لري چې عوام به ورته د ناپوهۍ له امله سجدې وکړي او خپل ځانونه به پرې کفر ته وباسي، چې بوت پرستي د همدغسې کارونو څخه پيل شوې ده. اما نبوي جومات خو د وړاندې څخه جوړ وه، د نبي کريم ﷺ د مبارک قبر د تعظيم دپاره خو نه دی جوړ شوی، اما دا بېله خبره ده چې د مؤمنانو د زيادت د کبله جومات پراخي وموندله او د مبارک قبر څخه راچاپېر شو. يا په بل عبارت: نبي کريم ﷺ په جومات کښې نه دی دفن شوی، بلکې جومات ته نژدې د بي بي عايشې (أم المؤمنين رضي الله عنها) په کور کښې دفن شوی دی، او بيا ترې جومات د وسعت د کبله چاپېر شوی دی.

ب: په دې باندې علاوه، د نبي کريم ﷺ د مبارک قبر (روضې) د شاوخوا ديوالونه بېخي پوره لوړ دي چې د عبادت کوونکي سترګې ورباندې نه شي لګېدلی، د همدې کبله عائشه رضي الله عنها وايي چې: «فَلَوْلَا ذَاكَ أُبْرِزَ قَبْرُهُ غَيْرَ أَنَّهُ خُشِيَ أَنْ يُتَّخَذَ مَسْجِدًا»[٢] يعنې که د يهودو او نصاراوو ذکر شوی عمل نه وی (چې د خپلو پيغمبرانو قبرونه يې جوماتونه جوړ کړه) نو د نبي کريم ﷺ قبر به لوڅ کړی شوی وی او لوړ ديوالونه به ترې نه وی چاپېر کړی شوي، د دې کار بله وجه نه ده غير له دې څخه چې صحابه وو کرامو ﷺ ته ډار واقع شو چې د نبي کريم ﷺ قبر به هم جومات جوړ کړی شي او جُهال به ورته سجدې وکړي، نو د ليدونکو د سترګو څخه يې د ديوالونو په لوړولو سره پټ کړ.

﴿ سَيَقُولُونَ ثَلَٰثَةٌ رَّابِعُهُمْ كَلْبُهُمْ وَيَقُولُونَ خَمْسَةٌ سَادِسُهُمْ كَلْبُهُمْ رَجْمًا بِالْغَيْبِ وَيَقُولُونَ سَبْعَةٌ وَثَامِنُهُمْ كَلْبُهُمْ قُل رَّبِّي أَعْلَمُ بِعِدَّتِهِم مَّا يَعْلَمُهُمْ إِلَّا قَلِيلٌ فَلَا تُمَارِ فِيهِمْ إِلَّا مِرَاءً ظَٰهِرًا وَلَا تَسْتَفْتِ فِيهِم مِّنْهُمْ أَحَدًا ﴿٢٢﴾ وَلَا تَقُولَنَّ لِشَاْىْءٍ إِنِّي

---

(١) صحيح مسلم ج١ ص٣١٢
(٢) صحيح مسلم ج١ ص٢٠١

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



فَاعِلٌ ذَٰلِكَ غَدًا ﴿٢٣﴾ إِلَّا أَن يَشَاءَ اللَّهُ ۚ وَاذْكُر رَّبَّكَ إِذَا نَسِيتَ وَقُلْ عَسَىٰ أَن يَهْدِيَنِ
رَبِّي لِأَقْرَبَ مِنْ هَٰذَا رَشَدًا ﴿٢٤﴾ وَلَبِثُوا فِي كَهْفِهِمْ ثَلَاثَ مِائَةٍ سِنِينَ وَازْدَادُوا تِسْعًا
﴿٢٥﴾ قُلِ اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا لَبِثُوا ۖ لَهُ غَيْبُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۖ أَبْصِرْ بِهِ وَأَسْمِعْ ۚ مَا لَهُم
مِّن دُونِهِ مِن وَلِيٍّ وَلَا يُشْرِكُ فِي حُكْمِهِ أَحَدًا ﴿٢٦﴾ ﴾

[۲۲] ژر دی چې (جګړه ماران به) ووايي چې: (اصحاب الکهف) درې تنه دي (او) څلورم يې
سپی دی، او وبه وايي چې (دوی) پنځه تنه دي (او) شپږم يې سپی دی، (البته) په غيبي ويشتلو سره
(پرته له دليل څخه)، او دوی به ووايي چې اوه کسه دي او اتم يې سپی دی.

(خو) ته ورته ووايه چې زما رب ﷻ يې په شمېر باندې ډېر ښه پوه دی (چې څو تنو ته رسېږي) د
اصحاب الکهف (په شمېر) باندې نه پوهېږي مګر لږ (کسان چې زما رب ﷻ ورته معلومات ورکړي
دي لکه چې ماته يې راکړي دي).

نو (ای پيغمبره! جګړه مارانو سره) مباحثه مه کوه مګر څرګنده مباحثه (چې زما رب ﷻ يې په
شمار باندې ډېر ښه پوهېږي) او (همدارنګه) د اصحاب الکهف په هکله د دوی څخه د يوه نفر څخه
هم د فتوی غوښتنه مه کوه (نه تخجيلاً او نه تعلماً).

[۲۳] او (ای پيغمبره!) ته يوه شي ته هرومرو په هيڅ حال کښې مه وايه چې: يقيناً زه دغه کار له
سبانه (په راتلونکي کښې) کوونکی يم

[۲۴] مګر په داسې حال کښې چې د الله ﷻ په مشيت (ارادې) پورې تماس نيوونکی يې (چې
"إن شاء الله" ووايې).

او (ای پيغمبره!) خپل رب ﷻ ياد کړه ("إن شاء الله" ووايه او خپله بندګي اظهار کړه) چې کله تا
("إن شاء الله" ويل) هېر کړه (او بيا درته ياد شوه) او ووايه چې خپل رب ﷻ ته مې اميد دی چې د
دغو معلوماتو څخه (د خلکو) د ارشاداتو دپاره به ډېرو نږدو (معلوماتو) ته راته هدايت وکړي (راز ده
به يې کړي).

[۲۵] او (دا خبره هم د نورو معلوماتو څخه ده چې) اصحاب الکهف په خپل غار (سمڅه) کښې
درې سوه کاله پاتې شوي وه او نهه کاله يې (هلته نور هم) زيات کړي وه (چې ټول درې سوه او نهه
کاله جوړېږي).

[۲٦] (او) ووايه چې: الله ﷻ د اصحاب الکهف په درنګ کولو باندې ډېر ښه پوه دی (لکه چې
درانديې يې معلومات راکړه).

خاص الله ﷻ لره د اسمانونو او ځمکو (د) غيبو (علم) دی (او بس).
(او هم ووايه چې) الله ﷻ څومره ښه ليدونکی دی او څومره ښه اورېدونکی دی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(ای پیغمبره!) د الله ﷻ څخه په غیر دوی (جګړه مارانو) ته دوست (کارسازی) نشته، او الله ﷻ په خپل حکم کښې هیچا ته اشتراک نه ورکوي.

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې هغو جګړو ته هم اشاره شوې وه په کومو باندې چې د اصحاب الکهف د کشف په وخت کښې خلک اخته وه او په دې ایتونو کښې هغو جګړو ته اشاره شوې ده چې د قرآن کریم د نزول په وخت کښې د خلکو ترمنځ روانې وې چې د اصحاب الکهف شمېر څو تنو ته رسېده، نو حاصل یې داسې راځېږي چې:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! د پخوانیو زمانو څخه را په دې خوا د اصحاب الکهف په هکله د خلکو په مابین کښې په بې فائدې شیانو کښې بحثونه روان دي او څه نتیجې ته نه دي رسېدلي، نو لاندې ارشاداتو ته متوجه شه:

١ـ ژر دی چې ستا په زمانه کښې به هم د اصحاب الکهف د شمېر موضوع د بحث لاندې واقع کړی شي او هغه کسان به پکښې چې خپلو ځانونو ته اهل الکتاب وایي لاندې نظریات څرګند کړي:

الف: ځینې به وایي چې اصحاب الکهف درې تنه وه او څلورم یې سپی وه.

ب: ځینې نور به وایي چې دوی پنځه تنه وه او شپږم ورسره سپی ملګری شوی وه.

ذکرې شوې دواړه ډلې د خپلو-خپلو ویناوو دپاره څه دلیل او برهان په لاس کښې نه لري بلکې غیبانه او په پټو سترګو ګوزارونه کوي.

ج: او بالآخره ځینې نور به وایي چې دوی اوه تنه وه او اتم ملګری یې سپی وه.

٢ـ ای پیغمبره! ټولو خلکو ته ووایه چې: زما رب ﷻ یې په شمېر باندې ډېر ښه علم لري چې شمېر یې څو تنو ته رسیده، د دوی په شمېر باندې علم نه لري مګر لږ خلک (چاته چې زما رب ﷻ پرې علم ورکړی دی). نو تاته په کار دي چې لاندې وصایا په نظر کښې ونیسې:

الف: دَ اهل الکتابو سره د اصحاب الکهف په هکله فقط سرسري خبرې کوه، چې هغوی د سرسري معلوماتو څخه علاوه کوم دقیق او محقق معلومات نه لري چې په دقیق بحث سره به را څرګند شي. نو د بحث په وخت کښې هغوی ته فقط همدومره وایه چې: زما رب ﷻ یې د شمېر په اندازه باندې ډېر ښه پوه دی.

ب: تا خو د اهل الکتابو جواب په وحې سره ورکړه حتی چې د هغوی شاګردان (مشرکان) هم په حیرت کښې واقع شوه. یا په بل عبارت: کوم عجیب خبر چې اهل الکتابو ستا څخه د مشرکانو په سلسله غوښتی وه، هغه معلومات خو دې ورکړه او خپل نبوت دې یو ځل بیا په اثبات ورساوه.

نو ته د هغوی څخه خپل غږ مه اخله چې د تخجیل په موخه د هغوی څخه معلومات وغواړې چې د اصحاب الکهف په هکله د هغه او د دغه شي معلومات راکړئ چې تاسو خپلو ځانونو ته د

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اهل العلم لقب ورکوئ. نو ته د خپل شرافت څخه کار واخله او د اهل الکتابو د یوه تن څخه هم تخجیلي پوښتنې مه کوه، همدارنګه د هغوی څخه د زده کړې دپاره هم پوښتنه مه کوه چې که هغوی صحیح معلومات لري چې تاته جواب درکړي، او نه ته د هغوی جواب ته محتاج یې.

ج: ای پیغمبره! د اهل الکتابو د پوښتنو څخه وروسته چې ته څه وخت د جواب څخه ساکت وې د هغه وجه دا وه چې تاته الله ﷻ معلومات نه وو درنازل کړي او په پټو سترګو سره ګوزارونه تا نه کول، نو د څه وخت پورې د جوابونو څخه غلی پاتې شوې، خو کفارو درپورې ملنډې وهلې چې وعده یې د سبا راکړې وه او دومره دومره ورځې جواب ټال شو.

نو د دې دپاره چې په راتلونکي کښې د هغوی د ملنډو څخه خپل ځان بچ وساتې، د هیڅ کار په هکله داسې مه وایه چې: زه سبا ته د دې کار کوونکی یم، مګر د الله ﷻ اراده یاده کړه او "إِنْ شَاءَ اللّٰهُ" ووایه، چې زه د دغه کار کوونکی یم خو که د الله ﷻ اراده وي او بس.

د: هو! که د خبرې کولو په وخت کښې دې "إِنْ شَاءَ اللّٰهُ" ویل هېر کړه او فکر دې ورته نه شو نو بیا خپل رب ﷻ یاد کړه کله چې درپه یاد شي، یا په بل عبارت: هر وخت چې په خپل نسیان باندې پوه شوې نو د خپلې سهوې مخنیوی وکړه او خپله بندګي او عجز خپل رب ﷻ ته وړاندې کړه.

۳ـ ای پیغمبره! څرنګه چې تاته خپل رب ﷻ د اصحاب الکهف په هکله د نبوت د ثبوت دپاره قوي دلایل درنازل کړه، نو وایه چې خپل رب ﷻ ته امید کوم چې د دغو دلایلو څخه د خلکو د هدایت دپاره نور داسې دلایل راعنایت کړي چې لاربنودانې او ارشاد ته ډېر نژدې وي.

۴ـ تاته خپل رب ﷻ وحې کوي چې اصحاب الکهف په سمڅه کښې د ننوتلو څخه تر کشف کېدلو پورې درې سوه کاله (درې پېړۍ) پاتې شوي وه چې په دغو کلونو باندې یې نهه کاله نور هم وراضافه کړي وه، چې ټول درې سوه او نهه (۳۰۹) کاله کېږي. که بالفرض تاته خپل رب ﷻ وحې نه وی کړې او ته په حقه پیغمبر نه وې نو دغه معلومات به دې له کومه کړي وی.

۵ـ څه لرې نه ده چې په غار کښې د اصحاب الکهف د پاتې کېدلو په موده کښې هم خلک مختلفې خبرې وکړې چې ځوک یوه موده په ګوته کړي او ځوک بله موده چې تر اوسه وربانډې دومره وخت تیر شوی دی.

مګر ته ورته ووایه چې: الله ﷻ په سمڅه کښې د دوی د پاتې کېدلو په موده باندې ډېر ښه پوهېږي نو د ده ﷻ په معلوماتو کښې د هیڅ رد او شکـ ځای نشته، او دا ځکه چې:

الف: خاص الله ﷻ د اسمانو او ځمکو په غیبو باندې پوه دی او بس، چې له دې جملې څخه د اصحاب الکهف په غار کښې د پاتې کېدلو موده هم ده.

ب: او هم ورته ووایه چې الله ﷻ څومره ښه بینا دی چې هر شی ګوري، او څومره ښه اورېدونکی دی چې هره خبره اوري، نو د اصحاب الکهف اوسېدانه یې لیدلې ده او د هغوی خپلمنځي خبرې اترې یې اورېدلې دي، ایا د ده ﷻ څخه په غیر بل ځوک شته چې یا یې هغوی په ټولو حالاتو کښې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لیدلي وي او یا یې د هغو خپلمنځي مباحثه اورېدلې وي؟
نو جګړه مارانو ته هیڅ دوست او کارسازی نشته چې یا صحیح معلومات ورکړي او یا یې د الله ﷻ له عذابه وژغوري.
ج: الله ﷻ په خپل حکم کښې هیڅوک نه شریکوي چې بل چاته د ځمکې او اسمانونو په غیبو باندې د خپل علم غوندې کامل او پوره علم ورکړي.

## توضیحات

که څوک وایي چې: په ﴿ سَيَقُولُونَ ثَلَٰثَةٌ ﴾، ﴿ وَيَقُولُونَ خَمْسَةٌ ﴾، ﴿ وَيَقُولُونَ سَبْعَةٌ ﴾ کښې مستتر ضمیرونه چاته راجع دي؟
مونږ وایو چې: ذکر شوي ضمائر جګړه کوونکو ته راجع دي چې په وړاندې ایت کښې د ﴿ إِذْ يَتَنَٰزَعُونَ ﴾ کلمه ورباندې دلالت کوي، یعني ای پیغمبره! ژر ده چې جګړه کوونکي به تاته داسې داسې ووایي.
بله ورځ د همدغه ایت مصداق متحقق شو او د نبي کریم ﷺ سره د مباحثې په ضمن کښې د نجران نصاراوو ذکر شوي درېواړه نظرونه وړاندې کړه[1].

## سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې: د ﴿ مَّا يَعْلَمُهُمْ إِلَّا قَلِيلٌ ﴾ څخه څرګندېږي چې لږو کسانو ته د اصحاب الکهف عدد معلوم دی، نو پوښتنه دا ده چې دغه لږ کسان څوک دي او د اصحاب الکهف واقعي عدد څو تنو ته رسېده؟
مونږ وایو چې: لږ کسان هغه څوک دي چې الله ﷻ ورته وحې کړې وي لکه نبي کریم ﷺ، او هم هغه څوک دي چې پیغمبر ﷺ ورته د هغوی عدد ښودلی وي، لکه عبد الله بن عباس رضي الله عنهما چې وایي: زه د همدغو لږو کسانو څخه یم چې د اصحاب الکهف عدد راته معلوم دی چې اوه تنه وه[2]، نو څرنګه چې دغسې معلومات څوک په عقل سره نه شي موندلی نو څرګنده شوه چې نبي کریم ﷺ به ورته د هغوی عدد ښودلی وي، دغه ډول حدیث ته محدثین کرام د حکمي مرفوع حدیث لقب ورکوي.
او یا به نوموړي صحابي ؓ ذکر شوی عدد د قرآن کریم د اشاراتو څخه فهم کړی وي لکه چې عین عدد خینو مفسرینو کرامو[3] په شپږو وجهو سره د ایت شریف د اشاراتو څخه معلوم کړی دی، دغه یو مثال یې ولولئ چې: الله ﷻ لومړني دواړه قولونه (چې اصحاب الکهف درې تنه دي، یا پنځه تنه دي) د ﴿ رَجْمًۢا بِٱلْغَيْبِ ﴾ په کلماتو سره تعقیب کړي دي ته به وایې چې دې ته یې اشاره کړې ده

---

(۱) زاد المسیر ج۵ ص۸۷؛ التفسیر الکبیر ج۲۱ ص۱۰۵
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۷۸
(۳) تفسیر کبیر ج۲۱ ص۱۰۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې دغه دواړه عددونه غلط دي او دربم قول يې (چې اصحاب الكهف اوه تنه دي) په ﴿ قُل رَّبِّيٓ أَعۡلَمُ بِعِدَّتِهِم ﴾ باندې تعقيب کړی دی او د ﴿ رَجۡمَۢا بِٱلۡغَيۡبِ ﴾ د کلماتو څخه يې وروسته کړي دي، او پوره ځرګنده ده چې کوم قول رجمًا بالغيب نه وي نو هغه به ضرور واقعيت لري.

که څه هم مناسبه ده چې د اصحاب الكهف د عدد په باره کښې سړی توقف وکړي او الله ﷻ ته يې وسپاري چې څه اړتيا ورته نشته، خو د دې سره-سره که څوک پکښې د اوږده بحث شوق لري نو ځينو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[1]، چې هلته د هغوی نومونه او د نومونو خواص هم ښودلي شوي دي چې د زنانه وو ولادت پرې اسانېږي او د ظالمانو څخه پرې نجات موندلی کېږي او داسې نور، مونږ يې د اوږدوالي د کبله دلته نه شو رانقلولی.

## مُمَارَاةٌ څه معنی؟

۳ـ په ﴿ فَلَا تُمَارِ فِيهِمۡ ﴾ کښې د "لا تُمَارِ" کلمه د "مِرَاءٌ" او "مُمَارَاةٌ" څخه اشتقاقه شوې ده لکه څنګه چې په: ﴿ وَجَٰدِلۡهُم بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُ ﴾ [النحل:۱۲۵] کښې د "جَادِلْ" کلمې د "جِدَالٌ" او "مُجَادَلَةٌ" څخه اشتقاق موندلی دی، نو "مُمَارَاةٌ" د "مُجَادَلَةٌ" سره مرادف دی چې پوره بيان يې د همدغه ايت لاندې هلته تېر شوی دی ـ ولله ﷻ الحمد والشکر ـ خو په دې مقام کښې يې مفسرينو کرامو د معنی حاصل داسې اخستې دی[2] چې:

الف: ای پيغمبره! د اهل الكتابو سره د اصحاب الكهف د عدد په هکله هيڅ بحث مه کوه څه چې تاته خپل رب ﷻ وحې کړه همدا کفايت کوي، هو! که هغوی درسره جګړه پيل کړه همدغه ځرګنده خبره ورته وکړه چې: ﴿ رَّبِّيٓ أَعۡلَمُ بِعِدَّتِهِم ﴾ زما رب ﷻ د هغوی په شمېر باندې ډېر ښه پوه دی.

ب: په جګړه کښې ورسره سپکې سپورې خبرې مه کوه او لکه څنګه چې ته د لوی او عالي خوی خاوند يې د خپلو عالي اخلاقو په مقتضی ورسره تګ وکړه.

## يو نحوي تحليل

۴ـ په ﴿ وَلَا تَقُولَنَّ لِشَاْيۡءٍ إِنِّي فَاعِلٞ ذَٰلِكَ غَدًا ۝ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُۚ وَٱذۡكُر رَّبَّكَ إِذَا نَسِيتَ ﴾ کښې د ﴿ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ ﴾ کلمات د مقدر حرف جر او د مقدر متعلق په اعتبار سره مستثنی واقع شوې دهِ چې د ظهور په لحاظ سره داسې کېږي چې: "إلا مُتَلَبِّسًا بِمَشِيَّةِ اللهِ".

يعنې ای پيغمبره! لکه چې پخواني غيوب فقط الله ﷻ ته معلوم دي همدارنګه په راتلونکو غيوبو باندې هم د همده ﷻ څخه پرته بل څوک نه پوهېږي، نو د هيڅ شي په باره کښې داسې مه وايه چې: زه د دغه شي سبا-بل سبا (په راتلونکي کښې) کوونکی يم، مګر په داسې حال کښې چې ته د الله ﷻ په ارادې پورې متلبس يې (چې د "إِنْ شَاءَ اللهُ" ويلو د لباس اغوستونکی يې)، دا څکه

[1] تفسير روح المعاني ج۱۵ ص۲۴۲ـ ۲۴۷؛ تفسير ابي السعود ج۳ ص۲۱۵؛ تفسير القاسمي ج۱۱ ص۲٦
[2] المحرر الوجيز ج۱۰ ص۳۸٦؛ تفسير الكشاف ج۲ ص۷۱۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې که الله ﷻ ذکر شوی کار تاته اسان کړ خو هیڅ خبره نشته او که نه نو په تاباندې به هیڅ اعتراض نه وي او د ملامتی ګوته به درته ونه نیوه شي، نو که بالفرض د اصحاب الکهف د قیصې د بیانولو په هکله (چې بله ورځ به یې درته بیان کړم) تا "إِنْ شَاءَ اللهُ" ویلي وی نو د بیان د ځنډېدلو د کبله به په تاباندې د مشرکانو اعتراض نه وی واقع شوی او تاته به یې د دروغژن نسبت نه وی کړی.

هو! که په ذکر شوي صورت کښې ستا څخه د "إِنْ شَاءَ اللهُ" ویل هېر شوه نو خپل رب ﷻ یاد کړه یعنې "إِنْ شَاءَ اللهُ" وو ایه هر کله چې درپه یاد شوه، که څه هم ډېره موده وروسته درپه یاد شي.

دا ډول تفسیر د عبد الله بن عباس (رئیس المفسرین) رضي الله عنهما څخه روایت شوی دی[1]، او همدا تفسیر د نبي کریم ﷺ د عمل څخه څرګندېږي چې کله ـ د روایاتو په اختلاف ـ پنځلس ورځې بعد همدا ایت نازل شو او نبي کریم ﷺ ته الله ﷻ ورپه یاد کړه چې تا د "إِنْ شَاءَ اللهُ" کلمات نه دي ویلي، نو سمدستي یې همدغه کلمات (إِنْ شَاءَ اللهُ) وویلې[2].

## ایا "إن شاء الله" د نفاذ مخه نیسي؟

۵ـ په دې کښې ټول علماء کرام متفق دي چې څوک د خپل کلام سره د "إِنْ شَاءَ اللهُ" په جمله باندې متصل تلفظ وکړي نو د خپل کلام د نفاذ مخه یې بنده کړه چې کوم شرعي اثرورباندې نه مرتب کېږي[3]، نو که کلام سوګند وه سوګند یې باطل کړ منعقد نه شو، او که بل کوم عقد وه لکه نکاح او نور نو د هغه مخه ونیوله شوه. او که په ذکره شوې جمله باندې د کلام څخه منفصل او وروسته تلفظ وکړي نو په دې کښې اختلاف دی، هغه دا چې:

الف: ځینې علماء کرام ـ چې ابن عباس رضي الله عنهما هم پکښې شامل دی ـ وایي چې په دغه صورت کښې هم د نفاذ مخه نیسي، نو که وړاندېنی کلام سوګند وي نو حنث ورباندې نشته او که بیه وه نو ملکیت ورباندې نه مرتب کېږي[4].

ب: اکثره علماء کرام ذکره شوې جمله د انفصال په صورت کښې موثره نه ګڼي چې نه ورباندې د سوګند د حنث مخه نیوه کېږي او نه د نورو عقدونو په موثریت باندې کوم اثر غورزوي[5].

### تبصره

۶ـ همدغه دوهم نظر قوّي او صحیح برېښي او دا ځکه چې:

اول: په لومړي نظر سره هر عقد شرعي اعتبار د لاسه ورکوي او هیڅوک ورباندې ډاډه نه شي موندلی چې کوم یو عاقد به نن یا سبا د "إِنْ شَاءَ اللهُ" جمله ووایي او د عقد نفاذ به د منځه یوسي.

(١) الدر المنثور ج۵ ص۳۷۷
(٢) روح المعاني ج۱۵ ص۲۴۹
(٣) الفقه الاسلامي و ادلته ج۳ ص۳۹۷
(۴) اللباب في علوم الكتاب ج۱۲ ص۴۶۰
(۵) احكام القرآن للجصاص ج۳ ص۲۱۴؛ اضواء البيان ج۴ ص۸۶؛ تفسير ابي السعود ج۵ ص۲۱۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: د همدې کبله الله ﷻ ایوب ﷺ ته د سوګند د حنث څخه د بچ کولو دپاره ارشاد وکړ چې: ﴿وَخُذْ بِيَدِكَ ضِغْثًا فَاضْرِب بِّهِۦ وَلَا تَحْنَثْ﴾ [ص:۴۴] یعنې په خپل لاس سره د خاشاکو یوه موټی واخله او (خپله میرمن) ورباندې ووهه (چې د سوګند څخه خلاص شې) او (خپل خان) مه حانث کوه که بالفرض د انفصال په صورت کښې ذکره شوې جمله موثره واقع کېدلی شوی نو الله ﷻ به ورته ارشاد کړی وی چې "إِنْ شَاءَ اللهُ" ووایه.

ج: یو خل عباسي خلیفه (منصور) غوښتل چې د خپل نیکه (عبد الله بن عباس رضي الله عنهما) په ذکر شوي اجتهادي نظر باندې ابو حنیفه علیه الرحمة مجبور کړي چې ته هم همدغه نظر تائید کړه، مګر ابو حنیفه علیه الرحمة نوموړي ته قناعت ورکړ چې که زه دغه فتوی ورکړم نو خلک به د "إِنْ شَاءَ اللهُ" جمله وایي او ستا سره به خپل بیعت مات کړي (په بغاوت به پیل وکړي)[۱].

## سوال جواب

۷ـ که څوک وایي چې: ایا ابن عباس رضي الله عنهما په خپل اجتهاد سره د "إِنْ شَاءَ اللهُ" جمله د انفصال په صورت کښې هم موثره ګڼلې ده حال دا چې د یو پلوه ورته په دین کښې د فقاهت په زیادت سره دعاء کړی شوي ده[۲] او د بله پلوه نبي کریم ﷺ د هغې جملې په موثریت باندې فقط د اتصال په صورت کښې صراحت کړی دی چې: «مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ فَقَالَ إِنْ شَاءَ اللهُ فَلَا حِنْثَ عَلَيْهِ»[۳] یعنې هرڅوک چې په یوه عهد باندې سوګند یاد کړي نو ووایي چې "إِنْ شَاءَ اللهُ" نو په ده باندې حنث نشته (د عدم وفا په صورت کښې ورباندې کفاره نشته).

مونږ وایو چې: د دغه سوال په جوابولو کښې مونږ تقریبًا دوه ورځې پلټنه وکړه چې جواب ورته مونده کړو او خپل خان د حیرت څخه خلاص کړو، بالآخره مو له خپله خانه سره فیصله وکړه او د حیرت څخه مو خپل خان راوویست چې د یوه کلام سره د "إِنْ شَاءَ اللهُ" په ضمیمه کولو باندې دوه مطلبه مرتبېږي:

الف: یو تشریعي مطلب چې د سابق کلام د حکم د نفاذ مخه نیسي.

ب: بل د بندګۍ د څرګندولو مطلب چې په تلفظ سره پرې تبرک حاصل کړی شي او خپل عجز ښکاره کړی شي.

نو غالبه دا ده چې ذکر شوي جلیل القدر صحابي رضي الله عنه به د انفصال په صورت کښې د "إِنْ شَاءَ اللهُ" موثریت د دوهم مطلب په لحاظ اخستی وي او خلک به نه وي پوه شوي او د ده رضي الله عنه قول به یې په لومړني مطلب باندې حمل کړی وي.

نو د ایت شریف مضمون دا دی چې: ای پیغمبره! کله چې ته ووایې چې سبا ـ بل سبا دا کار کوم نو

---

(۱) اضواء البیان ج۴ ص۸۷
(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۲٦؛ صحیح مسلم ج۲ ص۲۹۸
(۳) جامع الترمذي ج۱ ص۳۸۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



"إن شاء الله" ورسره متصله وایه او د خپلې بندګۍ او د خپل عجز اظهار کوه، او که "إن شاء الله" ویل درڅخه هېر شو نو په هغه وخت کښې یې ووایه کله چې درپه یاد شو او د خپل بندګۍ څرګندونه وکړه.

اما د حدیث مضمون فقط په حنث او عدم حنث پورې ارتباط لري او د بندګۍ او عجز اظهار پکښې مطلب نه دی، د همدې کبله «فَقَالَ إِنْ شَاءَ اللهُ» په "ف" سره روایت شوی دی چې "ف" توری ظاهراً په اتصال باندې دلالت کوي.

## حسن توافق

۸_ کله چې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د قول د تصحیح په هکله مونږ خپله ذکره شوې توجیه ولیکله نو وروسته راته معلومه شوه چې عین توجیه شیخ المفسرین العلامه الطبري علیه الرحمة هم کړې وه[۱]، فالحمد لله والشكر على حسن التوافق العجيب.

## سوال جواب

۹_ که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې الله ﷻ د اصحاب الکهف د هغه مودې په بیان کښې کومه چې دوی په خوب تېره کړې وه داسې عبارت نازل نه کړ چې: "ثَلَاثَ مِائَةٍ وَتِسْعَ سِنِينَ" دوی هلته درې سوه او نهه کاله په خوب تېر کړي وه؟ حال دا چې دا عبارت د نازل شوي عبارت څخه لنډ دی او مطلب پکښې مصرح دی.

مونږ وایو چې: د ذکر شوي عبارت د حکمت په هکله مفسرینو کرامو متعددې وجې لیکلې دي[۲] د مثال په توګه: څرنګه چې د اصحاب الکهف په هکله پوښتنې د اهل الکتابو او قریشو په اشتراک سره صورت نیولی وه، نو الله ﷻ د ﴿ثَلَٰثَ مِاْئَةٍ سِنِينَ﴾ په نزول سره اهل الکتابو ته جواب ورکړ چې د هغوی خپل حسابات په شمسي کلونو باندې محاسبه کول، او د ﴿وَٱزْدَادُواْ تِسْعًا﴾ په نزول سره یې قریشو (عربو) ته جواب ورکړ چې د دوی حساباتو په قمري کلونو باندې جریان درلود، او د دواړو ډولو کلونو ترمنځ په هرو سلو کلونو کښې تقریباً درې کاله تفاوت واقع کېږي.

مګر مونږ ته بهتره برېښي چې د دغه ډول عبارت په نزول کښې به حصر ته اشاره وي، ځکه چې:

الف: الله ﷻ د هر څه څخه وړاندې د اصحاب الکهف د خوب مودې ته په اجمال سره اشاره وکړه چې: ﴿فَضَرَبْنَا عَلَىٰٓ ءَاذَانِهِمْ فِى ٱلْكَهْفِ سِنِينَ عَدَدًا﴾ [الکهف: ۱۱] نو مونږ د دوی په غوږونو باندې په غار کښې څو شمېرل شوي کلونه پرده ووهله.

ب: بیا یې دغه اجمال په ذکر شوي عبارت سره پورته کړ چې حصر ترې څرګندېږي او دې عبارت ته ورته دی چې: ﴿وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِۦ فَلَبِثَ فِيهِمْ أَلْفَ سَنَةٍ إِلَّا خَمْسِينَ عَامًا﴾ [العنکبوت: ۱۴] یعنې مونږ نوح علیه السلام خپل قوم ته ولېږه نو په هغوی کښې یې زر کاله تېر کړه مګر نه پنځوس

(۱) تفسیر الطبري ج۱۵ ص۲۲۹
(۲) روح المعاني ج۱۵ ص۲۵۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کاله، یعني فقط (٩٥٠) کاله یې پکښې تېر کړي وه او بس.
نو په دې مقام کښې که بالفرض د معترض عبارت نازل شوی وی نو حصر به یې نه وی فائده کړې او په نازل شوي عبارت کښې د اشارې په توګه حصر معلومېږي.

## یادونه

۷ـ ځینو علماوو کرامو[١] د اصحاب الکهف په ارتباط د اولیاء الله د کراماتو په هکله ښه اوږد بحث کړی دی نو که اوږده بحث ته د چا حوصله نه په تنګېږي او د لوستلو شوق یې لري نو هملته دې مراجعه وکړي، خو په دې شرط چې په عربي ژبه پوهېږي.

## دوه د تعجب صیغې

۸ـ د ﴿أَبۡصِرۡ بِهِۦ وَأَسۡمِعۡ﴾ دواړه د تعجب صیغې دي چې نحوي علماوو کرامو[٢] یې په اعرابي تحلیل کښې ښه اوږد بحث کړی دی چې دا کتاب یې د رانقلولو حوصله نه لري، نو د همدې کبله مونږ د دواړو کلمو په تعجبي تفسیر باندې اکتفاء کوو او بس، چې څومره ښه لیدونکي دي او څومره ښه اورېدونکي دي.

﴿وَٱتۡلُ مَآ أُوحِيَ إِلَيۡكَ مِن كِتَابِ رَبِّكَۖ لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَٰتِهِۦ وَلَن تَجِدَ مِن دُونِهِۦ
مُلۡتَحَدٗا ﴿٢٧﴾ وَٱصۡبِرۡ نَفۡسَكَ مَعَ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ رَبَّهُم بِٱلۡغَدَوٰةِ وَٱلۡعَشِيِّ يُرِيدُونَ
وَجۡهَهُۥۖ وَلَا تَعۡدُ عَيۡنَاكَ عَنۡهُمۡ تُرِيدُ زِينَةَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَا تُطِعۡ مَنۡ أَغۡفَلۡنَا قَلۡبَهُۥ عَن
ذِكۡرِنَا وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ وَكَانَ أَمۡرُهُۥ فُرُطٗا ﴿٢٨﴾ وَقُلِ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكُمۡۖ فَمَن شَآءَ فَلۡيُؤۡمِن
وَمَن شَآءَ فَلۡيَكۡفُرۡۚ إِنَّآ أَعۡتَدۡنَا لِلظَّٰلِمِينَ نَارًا أَحَاطَ بِهِمۡ سُرَادِقُهَاۚ وَإِن يَسۡتَغِيثُواْ
يُغَاثُواْ بِمَآءٖ كَٱلۡمُهۡلِ يَشۡوِي ٱلۡوُجُوهَۚ بِئۡسَ ٱلشَّرَابُ وَسَآءَتۡ مُرۡتَفَقًا ﴿٢٩﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ
ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجۡرَ مَنۡ أَحۡسَنَ عَمَلًا ﴿٣٠﴾ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ جَنَّٰتُ
عَدۡنٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهِمُ ٱلۡأَنۡهَٰرُ يُحَلَّوۡنَ فِيهَا مِنۡ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٖ وَيَلۡبَسُونَ ثِيَابًا خُضۡرٗا مِّن
سُندُسٖ وَإِسۡتَبۡرَقٖ مُّتَّكِـِٔينَ فِيهَا عَلَى ٱلۡأَرَآئِكِۚ نِعۡمَ ٱلثَّوَابُ وَحَسُنَتۡ مُرۡتَفَقٗا ﴿٣١﴾﴾

---

[١] التفسیر الکبیر ج٢١ ص٨٤، ٩٧
[٢] شرح ملا جامي في النحو ص٣٤٤

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۷] (ای پیغمبره! په خلکو باندې) هغه شی ولولوه (قرائت کړه) کوم چې تاته وحي کېږي چې ستا د خپل رب ﷻ د کتاب (د قرآن کریم) څخه عبارت دی.

ستا د رب ﷻ کلماتو (احکامو) ته هیڅ بدلوونکی نشته او (که ستا رب ﷻ يې پخپله بدل کړي نو) هیڅکله به ته د همده ﷻ څخه په غیر پناه ځای مونده نه کړې (چې د تبدیلۍ مخه يې ونیسي).

[۲۸] او خپل ځان د هغو کسانو سره کلک کړه (ترې مه جدا کېږه) کوم چې خپل رب ﷻ سبا او بېګاه (په دوامداره توګه) يادوي (او) د ده ﷻ رضاء غواړي. او د دوی څخه دې ستا سترګې (هم بل چاته) تجاوز ونه کړي (چې د دوی څخه هغوی ته مخ وروارووې او) د نړدې (حقیر) ژوند ډول (سنګار غواړې، او (همدارنګه) ته د هغه چا اطاعت مه کوه د چا زړه چې مونږ د خپل ذکر څخه غافل کړی دی او د خپل خواهش پیروي کوي او کار يې (د شریعت څخه) تجاوز دی (په هر کار کښې د شریعت څخه تېری کوي).

[۲۹] او (ای پیغمبره! خلګوته) ووایه چې: حق (او رښتیا فقط) ستاسو د رب ﷻ د پلوه دی، نو د چا چې خوښه وي هغه دې ایمان راوړي او د چا چې خوښه وي هغه دې کافر شي (یا دې خپل کفر ته ادامه ورکړي). یقیناً مونږ د ظالمانو (کافرانو) دپاره داسې اور تیار کړی دی چې په دوی باندې يې دیوالونو احاطه کړې ده، او که دوی فریاد وکړي (او اوبه وغواړي) نو په داسې اوبو باندې به يې فریادرسي وکړی شي چې د تېلو د خیرې غونډې به وي (او) مخونه به وریتوي، (دا څښل شوې اوبه) ډېر بد څښل شوی شی دی او (دا دوزخ) د ارامګاه د حیثه ډېر بد (ارامځای) دی.

[۳۰] بې شکه هغه کسان چې ایمان يې راوړی دی او نېک عملونه يې کړي دي، یقیناً مونږ د هغه چا اجر نه ضائع کوو کوم چې د عمل د حیثه ښائسته وي (لکه چې دوی ښائسته دي).

[۳۱] دغه کسان چې دي دوی لره د اقامت (او همېشوالي) جنتونه دي، چې د هغوی څخه لاندې به (ځلور ډوله) ویالې بهېږي (او هم به) دوی پکښې د داسې باهوګانو (بنګړیو) څخه چې د سرو زرو څخه به (جوړ کړی شوي) وي ګاڼه دار (جراوو) کړی شي، او (هم به پکښې) دوی داسې شنې جامې اغوندي چې د نریو او غټو وربښمنو څخه به (جوړې کړی شوې) وي، په داسې حال کښې چې دوی به په جنتونو کښې په ډولیو کښې په تختونو باندې تکیه کوونکي وي.

(دا جنت) ډېر ښه اجر (او ثواب) دی او د ارامګاه د حیثه ښائسته (ځای) دی.

## ارتباطونه

۱ــ په وړاندېنیو ایتونو کښې د اصحاب الکهف د قیصې بیان ختم شوی وه او د کفارو غوښتنې ته جواب ورکړل شوی وه، او دلته د هغوی د څه نورو غوښتنو په هکله نبي کریم ﷺ ته ارشادات نازل شوي دي.

۲ــ هلته د اسمانونو او ځمکو په غیبو باندې پوهېدل د الله ﷻ خاصه ښودلې شوې وه، او دلته د همدې خاصې یوه مثال ته اشاره شوې ده چې د قرآن کریم څخه عبارت دی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



٣_ بالآخره هلته د دنياوي غيوبو بيان وه چې د اصحاب الكهف كيفيات واضحه شوي وه او دلته اخروي غيوبو ته اشاره شوې ده چې د كفارو اخروي حالات به داسې صورت ونيسي او د مؤمنانو انجام به داسې تحقق ومومي.

## د مطلب خلاصه

يعنې اى پيغمبره! اوس نو په خپل امت باندې لاندې مطالب قرائت كړه:

١_ د هرڅه څخه وړاندې په دوى باندې هغه كتاب تلاوت كړه كوم چې تاته خپل رب ﷻ درنازل كړى دى او د ده ﷻ د غيبي علومو يو مثال دى، ترڅو دوى پوه شي چې ستا رب ﷻ د خپلو غيبي علومو څخه په هغې اندازې سره راڅرګندوي څومره ته چې خلك اړتيا او احتياج لري.

٢_ كوم غيبي علوم چې ستا رب ﷻ په دې قرآن كريم كښې نازل كړي دي هغه د واقع سره مطابق دي او په راتلونكي كښې به هم مطابق پاتې وي، نه پكښې څه بدلون رابدلون صورت نيسي او نه پكښې څوك څه تبديلي واقع كولى شي.

٣_ هو! كه بالفرض ستا رب ﷻ اراده وكړي او دغه قرآني غيبي علوم ستا څخه بېرته واخلي نو بيا به ته هيڅ پناګاه مونده نه كړې چې د ده ﷻ د ارادې مخه ونيسي او د بېرته اخستلو څخه يې منعه كړي.

٤_ اى پيغمبره! د مشركانو بې هوده غوښتنې د اصحاب الكهف په قيصې باندې نه دي ختمې شوې بلكې دوى څه نورې بې هوده غوښتنې هم كوي چې ته غريبان او فقيران مسلمانان له خپله حضوره وشړه نو مونږ به ستا سره ناسته ولاړه پيل كړو او ستا خبرې به واورو، نو په دې هكله لاندې وصايا په نظر كښې ونيسه:

الف: مشركان خو غواړي چې تا د هغو مخلصو مؤمنانو څخه جدا كړي كوم چې سبا او بېګا (تول وختونه) خپل رب ﷻ بلي او د همده ﷻ رضامندي غواړي. نو پام كوه چې د دوى څخه جدا نه شې ترڅو د هغه ځا سره ناسته پاسته پيل كړې كوم چې سبا او بېګا (تول وختونه) د الله ﷻ سره په عبادت كښې شريكان دروي او د الله ﷻ د رضامندي حاصلولو په عوض د شيطان رضامندي حاصلوي.

ب: حتى اى پيغمبره! د ذكرو شوو مؤمنانو څخه خپل نظر هم بل طرف ته مه تاوه وه چې د دوى څخه مخ واړوې او هغه چا ته مخ كړې كوم چې په نړدې او حقير ژوند باندې غره دي او اخروي عظيم الشان ژوند يې هېر كړى دى.

ج: ته د هغه چا اطاعت مه كوه او خبره يې مه منه د چا زړه چې مونږ د خپل ذكر څخه غافل كړى دى او (د خپل استعداد په مطابق) د خپلو خواهشاتو پيروي كوي، بلكې هر يو كار يې د شريعت څخه تجاوز او تېرېدنه ده.

د: د دغسې غوښتنو په جواب كښې هغوى ته ووايه چې:

اول: كوم شى چې حق دى هغه ستاسو د رب ﷻ د پلوه دى، د فقيرانو مسلمانانو د پلوه نه دى

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې تاسو ترې نفرت کوئ، نو تاسو ته په کار دي چې د حق پیروي وکړئ او په حیلو او پلمو سره حق د پښو لاندې نه کړئ.

دوهم: زه خو د دې دپاره رالېږلی شوی یم چې تاسو ته حق بیان کړم، ماته دا اجازه نشته چې ستاسو بې هوده غوښتنې ومنم، ما خپله ذمواري پوره کړه نور نو ستاسو په شمول ټولو خلکو ته اختیار دی، د چا چې زړه غواړي چې ایمان راوړي هغه دې ایمان راوړي او د چا چې کفر خوښ وي هغه دې په خپل کفر باندې کلک شي، د سپیناوي او جزا ورځ را روانه ده.

## د کفارو اخروي حال

۵ـ ای پیغمبره! مونږ د ظالمانو (د کفارو) دپاره په آخرت کښې سخت عذاب تیار کړی دی نو ځینې کیفیات یې په خپل امت باندې په لاندې ډول قرائت کړه:

الف: کفارو ته مو داسې اور تیار کړی دی چې د دوی څخه به راچاپېر وي، ته به وایې چې خیمه یې پرې وهلې ده او د هر طرفه یې پټ کړي دي.

ب: د دغه اور په زیات حرارت کښې کفارو ته څه خوندوري اوبه نشته چې خپل زړونه ورباندې یخ کړي او څه دمه پرې جوړه کړي، د همدې کبله دوی د اوبو غوښتنه نه کوي او که د زیاتې مجبورۍ د کبله فریادونه وکړي او اوبه وغواړي، نو دوی ته به داسې اوبه ورکړی شي چې:

اول: هغه به د ویلي کړی شوو زیړو غوندې ټینګ خیري او زوي وي چې د دوزخیانو د وریت کړی شوو بدنونو څخه به رواني وي.

دوهم: دغه اوبه به د څښلو څخه وړاندې د دوزخیانو مخونه وریتوي او کله چې ترې دوی غړپ وکړي نو هغه به یې په ستونو کښې کلکې بندې شي او چې کله یې ګېډو ته ورښکته شي نو کولمې به یې د لمنې د پلوه ښکته وغورزوي.

ای پیغمبره! دغه ډول څښل شوې اوبه ډېرې بدې څښل شوې اوبه دي چې په دنیا کښې نظیر او مثال نه لري او هم دغه دوزخ د ارامګاه د حیثه ډېره بده ارامګاه ده.

## د مؤمنانو اخروي حال

۶ـ بالمقابل د مؤمنانو صالحانو حال دا دی چې:

الف: یوازې دا نه چې دوی ته به د سخت عذاب څخه نجات ورکړو لکه چې په خپل ذات کښې دا هم یو ډېر ښه حال دی بلکې:

ب: مونږ به د دوی یو نېک عمل هم ضائع نه کړو چې بې اجره او بې ثوابه یې پرېږدو، د دوی د اجرونو او ثوابونو حال به دا وي چې:

ج: دغه کسان به په دائمي جنتونو کښې استوګنه لري چې هیڅکله به ترې بیرون نه کړی شي.

د: د دوی لاندې به څلور ډوله ویالې بهېږي (لکه شوده، شراب، شات، سوچه اوبه) او دوی به یې په څښلو او لیدلو باندې خوښېږي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هـ: دوی به په جنت کښې د سرو زرو په باهوګانو باندې ښائسته او ګانه دار کړی شي.

و: د غټو او نریو وربښمنو څخه به شنې جامې اغوندي چې نه به خیرنېږي او نه به زړېږي.

ز: په دې باندې علاوه په تختونو باندې به یې پکښې تکیاګانې وهلې وي ته به وایې چې ټول پاچایان دي او یو هم پکښې ناداره سړی نشته.

ای پیغمبره! دغه ډېر ښه اجر او ثواب دی او دغه جنت د ارامګاه د حیثه ډېر ښه ځای دی، په کار دي چې په حصول کښې یې هیڅوک سستي ونه کړي.

## توضیحات

۱ـ د نبي کریم ﷺ څخه د کفارو یوه غوښتنه دا وه چې ته فقیر او ناداره مسلمانان د خپله ځانه جدا کړه ترڅو مونږ ستا سره ناسته ولاړه وکړو او ستا خبرې اترې واورو، نو کېدی شي چې په نتیجه کښې مونږ درباندې ایمان راوړو.

کفارو به د فقیرانو مسلمانانو د شړلو دپاره لاندې بهانې او پلمې جوړولې چې:

الف: د دوی په ناسته باندې مونږ شرمېږو چې فقیران حقیران دي او مونږ بډایان اشراف یاستو.

ب: د دوی څخه زمونږ دماغونو ته بدبویي راپورته کېږي، مونږ د دغو بدبویه خلکو سره نه کېنو.

ج: څه لرې نه ده چې د مشرکانو به د فقیرانو په شړلو کښې سیاسي غرض هم درلود چې نبي کریم ﷺ د خپلو ملګرو څخه تجرید کړي، او دا ځکه چې بډایانو خو په اولو وختونو کښې د نبي کریم ﷺ پیروي نه کوله نو که فقیران هم شړل شوي وی نو نبي کریم ﷺ به یوازې پاتې شوی وی.

د: او همدارنګه دوی غوښتل چې د نبي کریم ﷺ سره د خپلو پیروانو مینه او محبت د منځه لاړ شي او یا اقلاً کمبود ومومي، خو الله ﷻ نبي کریم ﷺ ته په دې باره کښې لاندې ارشادات نازل کړه:

اول: په دې ایت کښې چې د بحث لاندې دی د ﴿ وَٱصْبِرْ نَفْسَكَ ﴾ کلمات نازل شوي دي چې: ته ترې مه جدا کېږه. همدې ارشاد ته نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې اشاره کړې ده چې: «اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي جَعَلَ مِنْ أُمَّتِي مَنْ أُمِرْتُ أَنْ أَصْبِرَ نَفْسِي مَعَهُمْ»[1] هغه الله ﷻ ته حمد (ثناء) ده چې زما د امت څخه یې هغه کسان هم ګرځولي دي د کومو په هکله چې زه مامور کړی شوی یم چې خپل ځان د دوی سره ثابت وساتم (او د کفارو د غوښتنې د کبله ترې جدا نه شم).

دوهم: او په بل ځای کښې الله ﷻ د ﴿ وَلَا تَطْرُدِ ٱلَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم ﴾ [الأنعام:۵۲] کلمات نازل کړي دي، یعنې او هغه کسان د خپله ځانه مه شړه کوم چې د خپل رب ﷻ بلنه کوي، چې پوره بیان یې هلته تېر شوی دی ــ والحمد لله ﷻ.

نو د دوارو ایتونو څخه دا نتیجه لاس ته راځي چې مه ترې ته جدا کېږه او مه دوی د خپله ځانه جدا کوه. همدې تلازم ته نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې اشاره کړې ده چې: «اَللّٰهُمَّ أَحْيِنِي

[1] سنن ابي داود ج۲ ص ۱۶۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مِسْكِينًا وَأَمِتْنِي مِسْكِينًا وَاحْشُرْنِي فِي زُمْرَةِ الْمَسَاكِينِ»[۱] ای الله ﷻ ما د مسکنیت په حال کښې ژوندی ولرې (چې تواضع کوونکی یم) او د مسکنیت په حال کښې مې مړ کړې او د مسکینانو په ډله کښې مې (د قبر څخه) حشر کړې.

دا حدیث ځینو محدثینو ډېر ښه شرحه کړی دی او هم یې مضمون په یوه بل حدیث کښې ډېر ښه مفصل روایت شوی دی[۲] باید هلته وکتل شي.

نو که بالفرض د فقیرانو په شړلو کښې د مشرکانو سیاسي غرض نه وی او واقعًا یې دغه کار د خپلو ایمانونو د راوړلو دپاره شرط ګرځولی وی، نو مونږ ګومان کوو چې نبي کریم ﷺ ته به الله ﷻ ارشاد کړی وی چې: د فقیرانو د ناستې دپاره یو وخت وټاکه او د غنیانو دپاره بل وخت تعین کړه چې یو هم ستا د فیوضاتو څخه محروم پاتې نه شي. یا په بل عبارت: که دغسې نه وی نو نبي کریم ﷺ به د لږ ضرر متحمل شوی وی او د څه وخته پورې به د فقیرانو څخه جدا شوی وی او د لوی ضرر مخنیوی به یې کړی وی چې کفار په کفر باندې کلک پاتې نه شي، خو الله ﷻ ته معلومه وه چې خبره دغسې نه وه (دغه خبره یې دروغ وه).

## د "فرط" معنی

۲ـ په ﴿ وَكَانَ أَمْرُهُۥ فُرُطًا ﴾ کښې د "فُرُط" کلمه د حد څخه تجاوز ته او هم ظلم ته وضعه شوې ده[۳]، په دې مقام کښې مونږ ته دوهمه معنی بهتره برېښي چې راتلونکی ﴿ إِنَّآ أَعْتَدْنَا لِلظَّٰلِمِينَ نَارًا ﴾ ورباندې دلالت کوي، نو د معنی حاصل یې داسې راځېږي چې: ای پیغمبره! د هغه چا غوښتنه مه منه چې د هغه کار ظلم او تېری وي، ایا دا تېری او ظلم نه دی چې د فقیرانو د شړلو مطالبه کوي.

## سُرادق څه ته وایي؟

۳ـ په ﴿ نَارًا أَحَاطَ بِهِمْ سُرَادِقُهَا ﴾ کښې د "سُرَادِق" کلمه مفرده ده چې په سرادقات باندې جمعه کېږي، دا کلمه که څه هم د خیمې په معنی باندې استعماله شوې ده[۴] مګر په اصل کښې هر هغه شي ته "سُرَادِق" وایي چې په بل شي باندې یې احاطه کړې وي[۵] لکه چې د یو ښار څخه څلور طرفه دېوال راتاو شوی وي.

په دې مقام کښې نبي کریم ﷺ ذکره شوې کلمه داسې تفسیره کړې ده چې: «لِسُرَادِقِ النَّارِ أَرْبَعَةُ جُدُرٍ كِثَفُ كُلِّ جِدَارٍ مَسِيرَةِ أَرْبَعِينَ سَنَةً»[۶] یعنې د دوزخ د سُرادق (احاطې) دپاره داسې څلور دېوالونه دي چې د هر یوه دېوال پیړوالی د څلوېښتو کلونو د مزله په اندازه غټ (پېړ) دی.

---

(۱) سنن ابن ماجه ص۳۰۴

(۲) سنن ابي داوُد ج۲ ص۱۶۰؛ مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المصابیح ج۹ ص۹۷

(۳) لسان العرب ج۷ ص۳۶۸

(۴) صحیح البخاري ج۱ ص۲۰۶. ص۲۲۵

(۵) لسان العرب ج۱۰ ص۱۵۷

(۶) جامع الترمذي ج۲ ص۸۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## مهل د څه شي څخه عبارت دی؟

۴_ په ﴿ يُغَاثُوا بِمَاءٍ كَالْمُهْلِ ﴾ کښې د "مهل" کلمه خو اصل د مهلت او سکون دپاره وضعه شوې ده خو د تیلو خیرې ته هم مهل ویل کېږي[۱]، مګر علماوو کرامو په دې مقام کښې په متعددو معناوو باندې تفسیره کړې ده[۲]، خو د ټولو څخه بهتر تفسیر یې هغه دی کوم چې د نبي کریم ﷺ څخه روایت شوی دی هغه دا چې: «كَعَكَرِ الزَّيْتِ فَإِذَا قُرِّبَ إِلَيْهِ سَقَطَتْ فَرْوَةُ وَجْهِهِ فِيهِ»[۳] یعنې د ﴿ كَالْمُهْلِ ﴾ معنی دا ده چې د دوزخیانو څښاک به د تیلو د خیرې په شان وي، کله یې چې مخ ته ورنژدې شي نو د مخ پوستکی به یې پکښې راولوېږي.

## د ارتفاق معنی

۵_ په ﴿ وَسَاءَتْ مُرْتَفَقًا ﴾ او ﴿ وَحَسُنَتْ مُرْتَفَقًا ﴾ کښې د ﴿ مُرْتَفَقًا ﴾ دواړه کلمې د ظرف صیغې دي او د "اِرْتِفَاق" څخه اشتقاقي شوې دي، "اِرْتِفَاق" اصلاً دې ته وایي چې: سړی خپل لاس په څنګله باندې ودروي او مخ ورباندې د ارام حاصلولو دپاره کېږدي؛ د همدې کبله مفسرینو کرامو د ﴿ مُرْتَفَقًا ﴾ کلمه په دواړو ایتونو کښې په تکیه ځای باندې تفسیره کړې ده، که څه هم په دوزخ کښې ارام نشته خو د جنت سره د مشاکلة دپاره په هغه باندې هم د "مُرْتَفَق" اطلاق شوی دی[۴].

## د أَسَاوِر تحلیل

۶_ په ﴿ مِنْ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٍ ﴾ کښې د ﴿ أَسَاوِر ﴾ کلمه د "أَسْوِرَة" _لکه "أَرْغِفَة"_ جمعه ده چې دا بیا د "سِوَار" _لکه "نِصَاب"_ جمعه ده[۵]، "سِوَار" د هغې ګاڼې نوم دی چې په لاس کښې اچول کېږي، لکه بنګړي او باهوګان.

که څه هم په دنیا کښې دغه ډول سنګار نارینه نه خوښوي مګر دا بېله دنیا ده او هغه بېله دنیا ده، دلته الله ﷻ نارینه په ډېرو باندې ښایسته کړي دي او کوسه سړی ښه نه ښکاري خو هلته به د یو جنتي هم ږیره نه وي. په دې باندې علاوه، څه لرې نه ده چې په دې دنیا کښې هم د قومونو او وطنونو او یا د زمانو په اختلاف سره په بنګړو باندې د نارینه وو سنګار تفاوت ولري، چې څوک به یې خوښوي او څوک به یې نه خوښوي.

## سُنْدُس او إِسْتَبْرَق څه فرق لري؟

۷_ د ﴿ سُندُسٍ ﴾ کلمه په اتفاق سره اعجمي ده او د ﴿ إِسْتَبْرَقٍ ﴾ کلمه هم د اکثرو په نزد اعجمي

---

(۱) مفردات الراغب ص۴۹۷
(۲) زاد المسیر ج۵ ص۹۵
(۳) مسند احمد بن حنبل ج۳ ص۱۴۱
(۴) تفسیر ابي السعود ج۵ ص۲۲۰
(۵) لسان العرب ج۴ ص۳۸۷

Scanned by CamScanner

ده[۱]، خو مفسرینو کرامو په دې مقام کښې لومړنۍ کلمه په نریو وریښمینو او دوهمه کلمه په غټو وریښمینو سره تفسیره کړې ده[۲]. څه لرې نه ده چې جنتیان به د نریو وریښمینو څخه جوړې جامې اغوندي او د غټو څخه به بل ډول جامې استعمالوي، خو دا هم احتمال شته چې په یوه جامه کې دواړه ډوله استعمال شوي وي چې د نریو وریښمو څخه یې مخ جوړ شوی وي او د غټو وریښمو څخه استر ورکړی شوی وي، والله ﷻ اعلم.

د جنتیانو د جامو په هکله یوه ورځې د نبي کریم ﷺ څخه چا پوښتنه وکړه چې: ای د الله رسوله د جنت جامې هلته په قدرتي توګه پیدا کېږي او که د دنیا د جامو غوندې رخشونه اوبدل کېږي او بیا ترې جامې جوړولی کېږي؟ نو نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې جواب ورکړ چې: «بَلْ تَشَقَّقُ عَنْهَا ثَمَرُ الْجَنَّةِ»[۳] یعنې: نه! بلکې جنتي جامې د جنت د ونو محصول دي، لکه څنګه چې میوجات د ونو څخه راویستلی کېږي همدارنګه د ونو غوټۍ بېرته کېږي او جامې ترې راوځي، دغه خبره یې درې کرته تکراره کړه. د ښه وضاحت دپاره لاندې نبوي احادیث ولولئ:

الف: «حُرِّمَ لِبَاسُ الْحَرِيرِ وَالذَّهَبِ عَلَى ذُكُورِ أُمَّتِي وَأُحِلَّ لِإِنَاثِهِمْ»[۴] یعنې د وریښمینو او سرو زرو اغوستل او استعمالول زما د امت په نارینه وو باندې حرام کړی شوي دي او زنانه وو ته یې حلال کړی شوي دي.

ب: «مَنْ لَبِسَ الْحَرِيرَ فِي الدُّنْيَا لَمْ يَلْبَسْهُ فِي الْآخِرَةِ»[۵] یعنې هرڅوک چې وریښمینې جامې په دنیا کښې واغوندي نو په اخرت کښې به یې وانه غوندي.

## أريكة څه معنی؟

۸ـ په ﴿ مُتَّكِئِينَ فِيهَا عَلَى الْأَرَائِكِ ﴾ کښې د "أَرَائِك" کلمه د "أَرِيكَة" لکه "سَفِينَة" جمعه ده، "أَرِيكَة" هغه تخت ته ویل کېږي کوم چې په مستور ځای کښې ایښی وي[۶] لکه د ډولۍ په داخل کښې چې د ناوې دپاره ځای جوړ کړی شي، که په مستور ځای کښې نه وي نو هغه ته "سرير" ویلی شي خو "أَرِيكَة" ورته نه شي ویلی.

همدې مضمون ته نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې اشاره کړې ده چې د قبر د سوال جواب څخه وروسته به کامیاب سړي ته پرښتې ووايي چې: «نَمْ كَنَوْمَةِ الْعَرُوسِ»[۷] ویده شه! د ناوې د ویده کېدلو غوندې.

---

(۱) روح المعاني ج۱۵ ص۲۷۱
(۲) تفسیر الخازن ج۴ ص۱۰۵
(۳) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۶۹۳
(۴) جامع الترمذي ج۱ ص۳۰۲
(۵) صحیح البخاري ج۲ ص۸۶۷
(۶) لسان العرب ج۱۰ ص۳۸۹
(۷) جامع الترمذي ج۱ ص۲۰۵

د میرویس اباسین لخوا سکین شو
Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿وَاضْرِبْ لَهُم مَّثَلًا رَّجُلَيْنِ جَعَلْنَا لِأَحَدِهِمَا جَنَّتَيْنِ مِنْ أَعْنَابٍ وَحَفَفْنَاهُمَا بِنَخْلٍ
وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمَا زَرْعًا ﴿٣٢﴾ كِلْتَا الْجَنَّتَيْنِ آتَتْ أُكُلَهَا وَلَمْ تَظْلِم مِّنْهُ شَيْئًا ۚ وَفَجَّرْنَا
خِلَالَهُمَا نَهَرًا ﴿٣٣﴾ وَكَانَ لَهُ ثَمَرٌ فَقَالَ لِصَاحِبِهِ وَهُوَ يُحَاوِرُهُ أَنَا أَكْثَرُ مِنكَ مَالًا
وَأَعَزُّ نَفَرًا ﴿٣٤﴾ وَدَخَلَ جَنَّتَهُ وَهُوَ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهِ قَالَ مَا أَظُنُّ أَن تَبِيدَ هَٰذِهِ أَبَدًا ﴿٣٥﴾
وَمَا أَظُنُّ السَّاعَةَ قَائِمَةً وَلَئِن رُّدِدتُّ إِلَىٰ رَبِّي لَأَجِدَنَّ خَيْرًا مِّنْهَا مُنقَلَبًا ﴿٣٦﴾ قَالَ لَهُ
صَاحِبُهُ وَهُوَ يُحَاوِرُهُ أَكَفَرْتَ بِالَّذِي خَلَقَكَ مِن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ سَوَّاكَ رَجُلًا
﴿٣٧﴾ لَّٰكِنَّا هُوَ اللَّهُ رَبِّي وَلَا أُشْرِكُ بِرَبِّي أَحَدًا ﴿٣٨﴾ وَلَوْلَا إِذْ دَخَلْتَ جَنَّتَكَ قُلْتَ مَا شَاءَ اللَّهُ
لَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ ۚ إِن تَرَنِ أَنَا أَقَلَّ مِنكَ مَالًا وَوَلَدًا ﴿٣٩﴾ فَعَسَىٰ رَبِّي أَن يُؤْتِيَنِ خَيْرًا مِّن جَنَّتِكَ
وَيُرْسِلَ عَلَيْهَا حُسْبَانًا مِّنَ السَّمَاءِ فَتُصْبِحَ صَعِيدًا زَلَقًا ﴿٤٠﴾ أَوْ يُصْبِحَ مَاؤُهَا غَوْرًا فَلَن
تَسْتَطِيعَ لَهُ طَلَبًا ﴿٤١﴾ وَأُحِيطَ بِثَمَرِهِ فَأَصْبَحَ يُقَلِّبُ كَفَّيْهِ عَلَىٰ مَا أَنفَقَ فِيهَا وَهِيَ خَاوِيَةٌ
عَلَىٰ عُرُوشِهَا وَيَقُولُ يَا لَيْتَنِي لَمْ أُشْرِكْ بِرَبِّي أَحَدًا ﴿٤٢﴾ وَلَمْ تَكُن لَّهُ فِئَةٌ يَنصُرُونَهُ مِن
دُونِ اللَّهِ وَمَا كَانَ مُنتَصِرًا ﴿٤٣﴾ هُنَالِكَ الْوَلَايَةُ لِلَّهِ الْحَقِّ ۚ هُوَ خَيْرٌ ثَوَابًا وَخَيْرٌ عُقْبًا ﴿٤٤﴾﴾

[٣٢] او دوی (مؤمنانو او کافرانو) ته د دوه وو سړیو (قیصه) د مثال په توګه بیانه کړه چې مونږ یې یو نفر ته د انګورو څخه دوه باغونه ګرځولي (ورکړي) وه، او دواړه باغونه مو د خرماګانو (په قطارونو) سره چاپیر کړي وه، او (بالآخره) د دواړو باغونو په منځکښې مو کرونده (د زراعت جوګه ځمکه (هم) ګرځولې (پیدا کړې) وه.

[٣٣] دواړو باغونو (هر یوه) خپله خپله مېوه ورکوله او د خپلې خپلې مېوې څخه یې هیڅ شی نه کماوه، او (هم) د دواړو باغونو ترمنځ مو ویاله جاري کړې وه.

[٣٤] او نوموړي ته نور مالونه هم وه (نورې ګټې وټې یې هم درلودې).
نو خپل (یوه) ملګري ته یې (چې باغونه او ګټې وټې یې نه درلودې) په داسې حال کښې وویل چې د هغه (دعوت یې) رداوه چې زه ستا څخه د مال د حیثه زیات یم او د نفرو (اولادونو او خدمتګارانو) د حیثه (درځخه) عزتمند یم (نو زه به هیڅکله ستا دعوت قبول نه کړم).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۳۵] او (بیا) نوموړي خپل (دنیاوي) جنت (باغ) ته (د ملګري سره) په داسې حال کښې ورننووت چې په خپل ځان باندې تېرى کوونکى وه (او) ويې ويلې چې: زه ګومان نه کوم چې دغه جنت (باغ) به هلاک (د منځه لاړ) شي، هيڅکله (دا ګومان نه کوم).

[۳۶] او (همدارنګه) زه ګومان نه کوم چې قيامت به قائم شي (لکه چې ته عقيده لرې)، او که چرته (بالفرض قيامت قائم شي او) زه خپل رب ﷻ ته بېرته ورتاو کړى شم نو ضرور او هرومرو به زه (هلته) د دې جنت څخه بهتر د ورګرځېدلو ځاى مونده کړم (هلته به هم د جنت خاوند شم).

[۳۷] ده ته خپل (مؤمن) ملګري په داسې حال کښې ووېلې چې د هغه خبرې يې ردولې (او جوابولې) چې: ايا ته په هغه اقدس ذات باندې کافر شوې چې (لومړى يې) د خاورو څخه پيدا کړې (او) بيا د نطفې څخه (او) بيا يې د سړي په حيث برابر (جوړ) کړې؟

[۳۸] مګر زه (خو ستا غوندې خبره نه کوم زه وايم) چې: شان دا دى چې الله ﷻ زما رب دى (او بس) او زه د خپل رب ﷻ سره (ستا غوندې) هيڅوک نه شريکوم.

[۳۹] او کله چې ته خپل جنت ته داخل شوې نو داسې دې ولې ونه ويلې چې: مَا شَآءَ اللّٰهُ لَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ (څه چې د الله ﷻ اراده وي همغه کېږي او په هيڅ شي باندې توان نشته مګر د الله ﷻ په کومک سره). که ته ما ګورې همدا ما چې ستا څخه د مال او اولاد د حيثه کم يم.

[۴۰] نو زه خپل رب ﷻ ته اميد لرم چې ستا د (دنياوي) جنت څخه بهتر (جنت په آخرت کښې) راکړي او (هم اميد لرم چې) ستا په دنياوي جنت باندې له اسمانه (د غيبو) څخه عذاب (آفت) ورولېږي (ورنازل کړي) چې بنويه خمکه وګرځي (او هيڅ ګيا پرې ولاړه پاتې نه شي).

[۴۱] يا يې الله ﷻ اوبه ژورې وګرځوي (وچې کړې) نو هيڅکله به ته توان ونه لرې چې پلټنه يې وکړى شې (او بېرته يې جاري کړې).

[۴۲] (نو د مؤمن اميد پوره شو) او د نوموړي کافر په مېوه (مېوه لرونکو باغونو) باندې (د الهي عذاب) احاطه وکړى شوه (او ټول يې پوپنا کړه)، نو هغه داسې وګرځېد چې (د حسرت د کبله يې) خپل دواړه ورغوي (په باغونو باندې علاوه) په هغو مصارفو باندې موښل کوم يې چې پکښې (د حاصلاتو د ډېروالي په غرض) مصرف (نفقه) کړي وه، حال دا چې باغ (د باغ ديوالونه نړېدلي وه او) په خپلو چتونو باندې دپاسه پراته وه، او (په حسرت سره يې) ويلې چې: اى کاش! چې د خپل رب ﷻ سره مې هيڅوک شريک نه وى نيولى.

[۴۳] او ده لره داسې ټولګى (هم) نه وه چې د الله ﷻ څخه په غير يې ورسره کومک کړى وى او نه پخپله انتقام اخستونکى وه (چې د تلف شوي باغ تاوان واخلي).

[۴۴] په دغه وخت کښې (چې باغ يې د هلاکت سره مخامخ شو) نصرت (او کارسازي) الله ﷻ پورې خاص وه (چې) په حقه (ورپورې اختصاص لري).

همدى ﷻ د عوض ورکولو د حيثه هم بهتر دى او (خپلو دوستانو ته) د (نېک) انجام (ورکولو) د حيثه هم بهتر دى.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباطونه

دا ایتونه د وړاندینیو ایتونو سره د هر کلک اړوند لري لاندې مثالونه يې ولولئ:

۱ـ هلته د دې زمانې د کافرانو عادت بیان شوی وه چې مؤمنانو (فقیرانو) ته د حقارت په نظر ګوري او په حقیرې دنیا باندې غولېدلي دي، او دلته د پخوانیو زمانو د کافرانو څخه د یوه کافر دنیادار د عادت بیان ته اشاره شوې ده، چې دنیا ورته بقاء ونه کړه او د حسرت سره مخامخ شو.

۲ـ هلته نبي کريم ﷺ ته توصیه شوې وه او ټول مؤمنان په غوږ وهلی شوي وه چې د هغو کسانو اندیوالي وکړئ کوم چې شپه او ورځ خپل رب ﷻ یادوي، برابره خبره ده چې دنیادار وي او که نفیران وي. دلته عین توصیه مؤمنانو ته متوجه شوې ده چې د کفارو په مقابل کښې د پخواني يوه مسلمان څخه د ثبات او استقامت درس زده کړي او په دنیا باندې ونه غولېږي.

۳ـ هلته د کافر دنیادار او د فقیر مسلمان اخروي نتائج بیان شوي وه او دلته د دواړو دنیاوي نتائجو ته اشاره شوې ده، چې حاصل يې داسې راوځي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! اوس نو د خپلې زمانې کافرانو او مؤمنانو ته د پخوانیو زمانو د دوه وو کسانو قیصه د مثال په توګه بیانه کړه ترڅو ترې کفار عبرت واخلي او مؤمنان د يو پلوه متسلي شي او د بله پلوه خپل ثبات او استقامت له لاسه ورنه کړي، هغه دا چې:

۱ـ په پخوانیو زمانو کښې دوه اندیوالان وه چې يوه ته مونږ دنیاوي مال او سرمایه نه وه ورکړې مګر قوي ایمان او په شریعت باندې استقامت مو ورکړی وه، او بل قوي ایمان لا څه چې بالکل يې ایمان نه درلود اما په دغې حقیرې دنیا کښې مو ورته د هر نعمتونه ورکړي وه چې د همده دپاره ترې بلاوې جوړې شوې. لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: نوموړي ته مو څنګ په څنګ د انګورو دوه باغونه ورکړي وه چې د تاکونو په ډېرو انواعو باندې مشتمل وه.

ب: دواړه باغونه مو د خرماګانو په قطارونو باندې ښائسته کړي وه چې چار چاپېره ترې راتاوې شوې وې او د باغونو ډول او سنګار يې زيات کړی وه.

ج: د دواړو باغونو ترمنځ مو ورته زراعتي ځمکه پیدا کړې وه ترڅو نوموړی دنیادار د غلو دانو څخه هم پوره حاصلات واخلي او په میوجاتو باندې يې وراضافه کړي.

د: دواړو باغونو خپل خپل حاصلات ښه پرېمانه ورکول او هیڅ کمبود يې پکښې نه واقع کاوه چې يو کال حاصلات ورکړي او بل کال يې حاصلات بې مزې پاتې شي.

هـ: په دې باندې علاوه د دواړو باغونو په منځکښې مو ورته د اوبو ښه ویاله روانه کړې ده چې د باران د کمبود په وخت کښې ترې باغونه خړوب کړی شي.

و: نوموړي دنیادار برسېره په باغونو او زراعتي ځمکې باندې نور عائدات هم درلوده لکه

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تجارتي ګټې وټې او نور.

ز: په دې ټولو باندې د پاسه ښه پرېمانه اولادونه (خامن) يې هم درلوده، يا په بل عبارت: لکه چې هغه ته خپلو باغونو او زراعتي ځمکو او نورو ثروتي منابعو حاصلات ورکول مېرمنو يې هم په اولاد زېږولو کښې څه نقصان نه وه واقع کړی، چې په نتيجه کښې د پرېمانه مالونو او پرېمانه اولادونو خاوند وګرځېد.

۲ـ نو ذکر شوی دنیادار یوه ورځې خپل مسلمان ملګري ته د خبرو اترو په ترځ کښې وویلې او د حقارت په نظر يې ورته وکتل چې:

الف: زه ځکه تاته د حقارت په نظر ګورم او خپل سیال دې نه ګڼم، چې زه ستا څخه د مال د حیثه او هم د نفرو د حیثه زیات یم چې پرېمانه خدمتګاران او نوکران راته ګرځي راګرځي او پرېمانه اولادونه راڅخه راتاو دي.

ب: نوموړی یو خل مسلمان ملګری د لاسه ونیوه او خپل یوه باغ ته ورداخل شو ترڅو په هغه باندې په غړولو سترګو سره خپل فضیلت په اثبات ورسوي.

ج: که څه هم نوموړي په خپل ځان باندې لا د وړاندې څخه ظلم کړی وه خو چې باغ ته ورداخل شو نو یو خل بیا یې په صراحت سره په خپل کفر باندې داسې اعتراف وکړ چې:

د: ای فقیره ملګریه! زه ګومان نه کوم چې زما دغه باغ به (چې تازګي يې ته په خپلو سترګو باندې ګورې) هلاک او خزان شي لکه چې ته همدا خیال کوې.

هـ: زه ګومان نه کوم چې قیامت به قائم شي او زما سره به حساب کتاب پیل شي لکه چې ته ورباندې عقیده لرې او ستا ورباندې باور دی.

و: که بالفرض ستا وینا صحت مونده کړې او قیامت قائم شي نو په یاد ولره چې زه به هلته هم ستا څخه باعزته او با وقار یم، د دې باغونو څخه به هلته بهتر باغونه راکړی شي. دلته چې ماته خپل رب ﷻ څه راکړي دي زه د همدغه انعام مستحق یم نو که هلته د محشر میدان ته ورتاو کړي شم نو هلته به هم ذکرې شوې ښېګڼې او انعامونه مونده کړم او ستا څخه به په رتبه کښې اوچت جوړ شم.

## د مسلمان ملګري جواب او عکس العمل:

۳ـ مسلمان ملګري د خپل کافر ملګري ویناوې ښه په سړه سینه واورېدې او بیا يې د خبرو اترو په ترځ کښې مخاطب کړ چې:

الف: عجیبه ده! ایا ته په هغه اقدس ذات باندې کافر شوې چې ته يې اصلاً د خاورو څخه پیدا کړی يې (چې آدم ﷺ يې د خاورو څخه جوړ کړی وه چې ستا بابا دی) او بیا يې ته مستقیماً د یوې نطفې څخه پیدا کړی يې، ایا دغه اقدس ذات په دې باندې قادر نه دی چې تا دوهم ځل د خاورو څخه ژوندی راپورته کړي او حساب کتاب درسره شروع کړي؟

ب: په دې باندې علاوه، الله ﷻ ته د تورو خاورو څخه جوړ کړی يې، او ښه ښایسته صورت يې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دربېلې دي او قوي سرې يې درخښه جوړ کړي دي، ايا همدغه اقدس ذات دغه کار په بل خل نه شي کولی؟!

ج: کوم مالونه او ثروتونه چې تاته الله ﷻ درکړي دي دا له دې کبله نه دي چې ته يې مستحق يې بلکې دا په تا باندې امتحان او ازمېښت دی، نو ډېره توجه وکړه چې په امتحان کښې ناکام نه شې.

یا په بل عبارت: ما خپل رب ﷻ په فقيري باندې امتحانوي او ته يې د دنياداري په اعتبار سره د امتحان لاندې واقع کړی يې.

د: زه خو يو خل بيا د خپلې عقيدې اظهار کوم او تاته يې دراوروم چې الله ﷻ زما رب دی، په هر حالت کښې د همده ﷻ رضامندي زما هدف دی، زه په همدغه حالت باندې د خپل رب ﷻ څخه راضي يم، او اميد کوم چې همدی ﷻ راڅخه هم راضي شي.

ه: زه په خپل رب ﷻ باندې د واحد لا شريک عقيده لرم او په عبادت کښې ورسره هيڅوک او هيڅ شی نه شريکوم، نو تاته هم په کار دي چې خپله کفري عقيده زما د عقيدې غوندې تصحيح کړې.

و: تاته په کار دي چې د الله ﷻ د نعمتونو شکريه وکړې، نه دا چې همدا نعمتونه د خپل ځان دپاره آفت او مصيبت جوړ کړې، نو د همدې کبله زه تاته وايم چې:

ز: کله چې ته خپل باغ ته داخل شوې او په کفري خبرو باندې دې پيل وکړ نو هلته دې ولې د خپل رب ﷻ ناشکري وکړه؟ هلته دې ولې "مَا شَاءَ اللهُ، لَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ" ونه ويلې؟ يعنې څه چې د الله ﷻ اراده وي همغه ضرور کېدونکی کار دی، د الله ﷻ څخه په غير هيڅ قوت نشته چې د ده ﷻ د ارادې مخنيوی وکړي.

ح: که دغه ذکرې شوې کلمې دې لوستلې وی نو د خپل باغ څخه به درته بلا نه وی جوړه شوې او په دنيا او آخرت کښې به د مصيبت د خطر څخه بچ پاتې شوی وی.

ط: که ته ما ګورې چې ستا څخه په مالونو او اولادونو کښې ټيټ يم او ستا په اندازه شته او دارايي نه لرم، خو زه اميد لرم چې ماته خپل رب ﷻ په آخرت کښې ستا د دنياوي باغ څخه بهتر باغ راکړي چې نه ورباندې زوال ورځي او نه د نابودۍ سره مخامخ کېږي.

ي: بالمقابل زه خپل رب ﷻ ته اميد لرم چې ستا د دنياوي باغ سره لاندې چال چلند وکړي:

اول: چې د اسمانه ورباندې کوم مصيبت او آفت ورنازل کړي او ټول پوپنا کړي، چې نه يې ونه پاتې شي او نه زراعتي ځمکې او نور، حتی چې هلته د ګرځېدونکو پښې ښويېږي او نه دومره بوټي پاتې شي چې د چا پښه راټينګه کړي.

دوهم: او يا يې اوبه په ځمکه کښې ژورې کړي او د کومو چينو څخه چې ستا د باغونو اوبه راخوټېږي هغه وچې کړي، چې بيا راخوټول يې ستا په وسه او توان کښې نه دي.

### د مؤمن اميد پوره شو:

۴ـ بالآخره، الله ﷻ د مؤمن اميد ته د تحقق جامه ورواغوسته او د ذکر شوي کافر مالدار په

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



میوجاتو باندې له هر طرفه آفتونو احاطه وکړه او د لاندې حالتونو سره مخامخ شو:

الف: نوموړي د یو پلوه په خپلو باغونو باندې حسرت کاوه او دواړه لاسونه یې یو په بل باندې موښل، او د بله پلوه په هغو مبالغو باندې پښېمانه شو کوم چې نوموړي د خپلو باغونو په ښه فعالولو باندې مصرف کړي او لګولي وه.

ب: نوموړي به چې کله خپل نسکور شوي باغ ته وکتل چې دیوالونه یې د خپلو چتونو په چتونو باندې د پاسه پراته وه نو په ډېر افسوس سره به یې د خولې څخه چیغه وتله چې: ای کاش چې ما د خپل رب ﷻ سره هیڅوک شریک نه وی درولی، او کفر مې نه وی اختیار کړی.

۵ـ ای پیغمبره! ذکر شوی مالدار ډېرې د حسرت چیغې وکړې او خپل لاسونه یې ډېر وموښل خو هیڅ ټولګی یې مونده نه کړ چې د الله ﷻ څخه په غیر ورسره کومک وکړي او باغونه یې د آفت څخه بچ کړي، او نه یې پخپله د دې خبرې توان درلود چې خپل انتقام واخلي او خپل باغونه بېرته په پخواني حالت باندې فعال کړي، دا ځکه چې:

په دغه وخت او په دغه حال کښې ټوله کارسازي او نصرت کول په الله ﷻ پورې اختصاص درلود لکه چې په هر وخت کښې کارسازي په الله ﷻ پورې اختصاص لري، نو کله چې الله ﷻ د ده کار سازي ونه کړه چې ترې ناراض وه نو هیڅ کارساز یې مونده نه کړ، یقیناً چې د هر شي واکداري او د هر کار جوړول الله ﷻ پورې اختصاص لري خو ځینې بندګان غولېږي چې په بل چا یا په بل شي باندې اعتماد کوي او یا ورته تمه کوي، نو همدی ﷻ د عوض ورکولو په حیث هم بهتر دی او د خپلو دوستانو ته د نېک انجام ورکولو په حیث هم بهتر دی.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ وَٱضۡرِبۡ لَهُم مَّثَلٗا رَّجُلَيۡنِ ﴾ کښې ځینې علماء کرام وایي چې: ذکر شوی مثال یو فرضي مثال دی[1]، مګر مونږ ته د ایتونو د کلماتو سره دا بهتره برېښي چې دا فرضي مثال نه دی بلکې دا قیصه ده چې په پخوانیو زمانو کښې تېره شوې ده او دلته الله ﷻ د کفارو د عبرت دپاره او د مؤمنانو فقیرانو د تسلی دپاره رانازله کړې ده، والحمد لله ﷻ علی ذلک.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۲ـ که څوک وایي چې: په ﴿ جَنَّتَيۡنِ مِنۡ أَعۡنَٰبٖ ﴾ کښې د ﴿ أَعۡنَٰبٖ ﴾ کلمه د "عِنَبٌ" جمعه ده چې د انګور معنی ورکوي، نو پوښتنه دا ده چې باغونه خو د ونو څخه جوړېږي نه د میوجاتو څخه؟.

مونږ وایو چې: د ذکرې شوې کلمې اطلاق لکه چې په انګورو باندې کېږي همدارنګه د انګورو ونې (تاکونه) هم د اعناب په نامه یادېږي[2]، په دې مقام کښې د همدغه اطلاق مراعات شوی دی.

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۰ ص۴۰۱
(۲) روح المعاني ج۱۵ ص۲۷۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۳_ که څوک وايي چې: په ﴿ كِلْتَا ٱلْجَنَّتَيْنِ ءَاتَتْ أُكُلَهَا ﴾ کښې د ﴿ كِلْتَا ﴾ کلمه د مثنی معنی ورکوي حال دا چې په ﴿ ءَاتَتْ ﴾ کښې ورته د مفرد ضمیر راجع شوی دی چې د خپلې مرجع سره مطابقت نه لري؟

مونږ وايو چې:

الف: د ﴿ كِلْتَا ﴾ کلمه که څه هم په معنی کښې مثنی ده مګر په لفظ کښې مفرده ده، نو ذکرې شوې کلمې ته د ضمائرو په ارجاع کښې کله د لفظ مراعات په نظر کښې نيولی کېږي او کله د معنی لحاظ ساتل کېږي، په دې مقام کښې د لفظ مراعات شوی دی[۱].

ب: د ﴿ كِلْتَا ﴾ کلمه او همدارنګه د "كِلَا" کلمه د "كُل" معنی ورکوي، نو څرنګه چې په "كُل" کښې د افرادو او هم د جمعیت دواړو مراعات کېدلی شي نو په "كِلَا، كِلْتَا" کښې هم دواړه مراعاتونه جائز دي[۲]، لاندې مثالونه د ښه وضاحت دپاره ولولئ:

اول: ﴿ وَكُلُّهُمْ ءَاتِيهِ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ فَرْدًا ﴾ [مریم:۹۵] او د دوی هر یو الله ﷻ ته د قیامت په ورځ یوازې ورتلونکی دی.

دوهم: ﴿ وَكُلٌّ أَتَوْهُ دَٰخِرِينَ ﴾ [النمل:۸۷] او هر یو کس (ټول) به (د قیامت په ورځ) الله ﷻ ته په داسې حال کښې ورشي چې ذلیل (خوار) به وي.

## هېر مو نه شي!

۴_ هېر مو نه شي چې په ﴿ فَقَالَ لِصَـٰحِبِهِۦ ﴾ کښې د "صَاحِب" کلمه په پښتو ژبه کښې د ملګري او انډيوال په معنی باندې استعمالېږي چې د دوستۍ او محبت مفهوم ترې سړي ته ذهن ته ورځي، مګر په عربي ژبه کښې د ملازم په معنی باندې استعمالېږي چې یو شی د بل شي سره د اوږده وخت دپاره پیوستون ولري، برابره خبره ده چې مینه او محبت ورسره وي لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ إِذْ يَقُولُ لِصَـٰحِبِهِۦ لَا تَحْزَنْ ﴾ [التوبة: ۴۰] یعنې هغه وخت چې نبي کریم ﷺ خپل ملګري (ابو بکر الصدیق ﷺ) ته وویلې چې مه خپه کېږه یقینًا الله ﷻ زمونږ سره دی؛ او یا ورسره مینه محبت نه وی لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ أَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوا۟ ۗ مَا بِصَاحِبِهِم مِّن جِنَّةٍ ﴾ [الأعراف:۱۸۴] یعنې ایا مشرکان فکر نه کوي چې د دوی صاحب (محمد ﷺ) پورې څه لیونتوب نشته، چې د دوی په منځکښې یې ډېر عمر تېر کړی دی.

په دې مقام کښې د "صَاحِب" کلمه په همدغې دوهمې معنی باندې استعماله شوې ده چې په قیصه کښې د ذکرو شوو دواړو سړیو یو تربله ملازمت (پیوستون) وه مګر محبت یې نه وه.

---

(۱) زاد المسیر ج۵ ص۹۸
(۲) تفسیر الکشاف ج۲ ص۷۲۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۵_ که څوک وایي چې په ﴿ وَكَانَ لَهُۥ ثَمَرٌ ﴾ کښې د ﴿ ثَمَرٌ ﴾ کلمه د مېوجاتو څخه عبارت ده چې په نژدې ایت کښې ورته په ﴿ ءَاتَتْ أُكُلَهَا ﴾ سره اشاره شوې ده، نو پوښتنه دا ده چې: د میوجاتو په تکراري نزول کښې څه حکمت دی؟

مونږ وایو چې: د ﴿ ثَمَرٌ ﴾ کلمه لکه چې په مېوجاتو کښې استعمالېږي همدارنګه دغه کلمه د مال د ډولونو په ډېروالي کښې هم استعمال مومي[1] او په دې مقام کښې همدغه استعمال مطلب دی. نو د معنی حاصل یې داسې راځېږي چې: ذکر شوي کافر سرمایه دار برسېره پر مېوجاتو او غلو دانو باندې نور ډول-ډول مالونه هم درلوده او د هر قسم مال ورباندې پرېماني وه.

### د دوارو سړیو پیوستون (علاقه) څه وه؟

۶_ د ذکرو دوارو سړیو د علاقې او پیوند په هکله مفسرینو کرامو ګڼ اقوال ذکر کړي دي، لاندې څو مثالونه یې ولولئ[2]:

الف: دواړه سړي د بني اسرائیلو د یوه پاچا زامن وه چې د پلار څخه ورته ښه پرېمانه مالونه پاتې شوي وه، نو یوه پرې د دنیا دبدبه جوړه کړه او بل پرې آخرت واخست.

ب: دواړه د مکې معظمې د پخوانیو اوسېدونکو څخه وه.

ج: دواړه اهنګران (پخان) وه چې د ډېرو مالونو خاوندان شوه، خو یوه پرې هغه دنیا واخستله او بل پرې دا دنیا خریداري کړه.

د: پلار یې پاچا نه وه خو یو بډای او ثروتمند سړی وه، چې د مرګ څخه وروسته یې دوارو زامنو ته ډېر مال او ثروت (سرمایه) پاتې شوه.

څرنګه چې د دوارو د علاقې په تشخیص کښې ګټه نه وه نو الله ﷻ مشخصه نه کړه، نو مونږ ته هم په کار دي چې په بې ګټې شیانو پسې ونه ګرځو.

### حوار او محاوره څه معنی؟

۷_ په ﴿ فَقَالَ لِصَـٰحِبِهِۦ وَهُوَ يُحَاوِرُهُۥٓ ﴾ کښې د "يُحَاوِرُ" کلمه د "مُحَاوَرَةٌ" او "حِوَارٌ" _لکه "مُضَارَبَةٌ" او "ضِرَابٌ"_ څخه اشتقاقه شوې ده[3]، "مُحَاوَرَةٌ" یا "حِوَارٌ" دې ته وایي چې: یو سړی بل ته په قصدي توګه جواب ورکړي او بل سړی هم جواب ورکړي خو په ضمني توګه، او که دوه سړي یو بل ته په قصدي توګه جواب ورکړي نو بیا ورته "تَحَاوُرٌ" یا "تَجَاوُبٌ" _لکه "تَضَارُبٌ"_ ویل کېږي.

نو داسې معلومېږي _والله ﷻ أعلم_ چې د هرڅه څخه وړاندې به مؤمن سړي ذکر شوی بډای سړی

---

(۱) لسان العرب ج۴ ص۱۰۶

(۲) تفسیر الخازن ج۴ ص۱۰۵؛ زاد المسیر ج۵ ص۹۷

(۳) لسان العرب ج۴ ص۲۱۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اسلامي عقيدې ته دعوت کړی وي او نوموړي به د دعوت په رد کښې هغه خبرې کړې وي کومې چې په ايت شريف کښې ذکرې دي، بيا به مؤمن سړی د نوموړي د غصې او د فاسد استدلال په مقابل کښې راپورته شوی وی او په قصدي توګه به يې خپل اصليت او د الله ﷻ کامل قدرت ته متوجه کړي وی، چې الله ﷻ مونږ ته د ﴿ فَقَالَ لِصَٰحِبِهِۦ وَهُوَ يُحَاوِرُهُۥ ﴾ په کلماتو سره حکايت کړی دی.

نو په دې تقدير به د مؤمن سړي د پلوه دوه خله محاورې صورت نيولی وی چې يوه به د دعوت محاوره وي چې په ايت شريف کښې په اشارې سره ذکره ده او بل ځل به د کافر بډای د استدلالاتو د رد محاوره وي چې په ايت شريف کښې په صراحت سره ذکره ده.

## سوال جواب

۸_ که څوک وايي چې: وړاندې الله ﷻ د کافر سړي دپاره د دوه وو جنتونو ذکر کړی دی حال دا چې په ﴿ وَدَخَلَ جَنَّتَهُۥ ﴾ کښې د يوه جنت ذکر نازل شوی دی، نو پوښتنه دا ده چې د څه حکمت په بنياد "وَدَخَلَ جَنَّتَيْهِ" نازل نه کړی شو؟

مونږ وايو چې: د دغه سوال دپاره ځينو علماوو کرامو ډېر جوابونه کړي دي[۱] خو بهتره دا ده چې دلته د ﴿ جَنَّتَهُۥ ﴾ څخه اختصاصي جنت مطلب دی، يعنې کله چې نوموړی هغه جنت ته داخل شو کوم چې يوازې همده ته جنت ښکارېده او د دوام حکم يې وړباندې کاوه نو داسې-داسې خبرې يې وکړې.

لنډه دا چې په ذکر شوي ايت کښې د کلام سوق د کافر بډای د کفري خبرو د حکايت دپاره شوی دی او د جنت (باغ) افراد او تعدد ته نه دي کتل شوي، او نه پکښې څه مهمه نکته پرته ده.

## يو نحوي تحليل

۹_ په ﴿ لَّٰكِنَّا۠ هُوَ ٱللَّهُ رَبِّي ﴾ کښې مفسرينو کرامو ډېر اوږده اعرابي تحليلونه کړي دي[۲]، مګر کوم تحليل چې مونږ ته بهتر ښکاره شوی دی هغه د شيخ المفسرين (**العلامة الطبري** عليه الرحمة) تحليل دی[۳] چې په لاندې ټکو کښې واضحه کېږي:

الف: د ﴿ لَّٰكِنَّا۠ ﴾ کلمه په اصل کښې "لَكِنْ أَنَا" وه چې همزه حذفه شوې ده او يو نون په بل نون کښې ادغام موندلی دی، چې "لَكِنَّا" ترې جوړ شوی دی، خو "الف" ورسره يوازې په ليکنه کښې تحقق لري او تلفظ وړباندې نه کېږي، لکه چې د "أنا" ضمير کيفيت په هر ځای کښې همدغه ډول صورت نيسي.

ب: ذکره شوې د "أنا" کلمه مبتدأ ده، او خبر يې مقدر دی چې په "أقول" سره ترې تعبير کوو. په دغه تقدير باندې د ﴿ وَلَآ أُشْرِكُ بِرَبِّيٓ أَحَدًا ﴾ جمله دلالت کوي، چې مؤمن سړي د خپلې عقيدې اظهار کړی دی.

(۱) تفسير القاسمي ج۱۰ ص۴۲
(۲) روح المعاني ج۱۵ ص۲۷۷
(۳) تفسير الطبري ج۱۵ ص۱۴۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: د ﴿ هُوَ ﴾ كلمه ضمير شان دى او مبتدأ ده.

د: د ﴿ ٱللَّهُ ﴾ مباركه كلمه دوهمه مبتدأ ده او د ﴿ رَبِّى ﴾ كلمه يې خبر دى.

هـ: دغه خبريه جمله د ﴿ هُوَ ﴾ ضمير شان دپاره خبر واقع شوې ده او بله خبريه جمله ترې جوړېږي چې د "أقول" دپاره مقوله ګرځي.

نو د معنى حاصل يې داسې راځېږي چې: اى كافره ملګريه! ته خو د خپل رب ﷻ سره شريكان دروې، "لكن" زه دغسې كار نه كوم، زه وايم چې شان دا دى چې الله ﷻ زما رب دى او بس او زه د خپل رب ﷻ سره هيڅوک نه شريكوم.

## د آفتونو څخه د بچ پاتې كېدلو دعاء

۱۰ـ مونږ د الله ﷻ په توفيق د [يوسف:۶۷] ايت لاندې د يوه حديث شريف په استناد ليكلي دي چې د ﴿ مَا شَآءَ ٱللَّهُ لَا قُوَّةَ إِلَّا بِٱللَّهِ ﴾ په ويلو سره د بدو سترګو د اثر مخه نيوه كېږي، خو په دې مقام كښې څينو مفسرينو كرامو د ذكرو شوو كلماتو د خواصو په هكله زښت ډېر احاديث راغونډ كړي دي چې الله ﷻ پرې سړى د آفتونو او مصيبتونو څخه بچ ساتي[1] نو كه څوک د زياتو معلوماتو دپاره هلته مراجعه وكړي ښه به وي.

## "حسبان" څه معنى؟

۱۱ـ په ﴿ وَيُرْسِلَ عَلَيْهَا حُسْبَانًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ ﴾ كښې د "حُسْبَان" كلمه اصلاً د "حساب" (شمېرلو) معنى وركوي مګر څرنګه چې د دقيق حساب سره تعذيب ملګرى وي چې عفوه پكښې هيڅ صورت ونه نيسي، نبي كريم ﷺ په يوه اوږده حديث كښې فرمايلي دي چې: «مَنْ حُوسِبَ عُذِّبَ»[2] هرڅوک چې (په دقت سره) محاسبه كړى شي نو هغه به معذب كړى شي؛ نو ذكره شوې كلمه د عذاب په معنى باندې هم استعمالېږي[3] په دې مقام كښې همدغه معنى مطلب ده.

د معنى حاصل يې داسې راځېږي چې: زه خپل رب ﷻ ته اميد لرم چې ستا په باغ باندې د اسمان له طرفه (په غيبي توګه) يو عذاب ورنازل كړي چې د همدې عذاب په اثر ستا باغ ښويه خمكه وګرځي او د ونو (بوټو) او اباديو څخه بالكل خالي جوړ شي.

## داسې معلومېږي

۱۲ـ په ﴿ وَأُحِيطَ بِثَمَرِهِۦ ﴾ كښې د "و" د توري څخه داسې معلومېږي چې دلته يوه مقدره جمله شته چې ذكره شوې جمله ورباندې معطوفه شوې ده، نو څه لرې نه ده چې مونږ ترې په دغه دول: "فَتَحَقَّقَ بَعْضُ مَا تَرَجَّى بِهِ الْمُؤْمِنُ وَأُحِيطَ بِثَمَرِهِ" سره تعبير وكړو يعني د مؤمن سړي اميد د الله ﷻ د پلوه

(۱) تفسير القرطبي ج۱۰ ص۴۰۶؛ الدر المنثور ج۵ ص۳۹۱

(۲) صحيح البخاري ج۱ ص۲۱

(۳) لسان العرب ج۱ ص۳۱۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



متحقق کړی شو او د کافر سړي د میوجاتو باغونه په لوی آفت باندې احاطه کړی شوه او پوپنا شوه.

## سوال جواب

۱۳ـ که څوک وایي چې: د ﴿ وَيَقُولُ يَٰلَيْتَنِي لَمْ أُشْرِكْ بِرَبِّيٓ أَحَدًا ﴾ څخه څرګندېږي چې کافر دنیادار سړی په خپل کفر او شرک باندې پښېمانه شو، خو پوښتنه دا ده چې نوموړی په ایمان مشرف شو او که څنګه؟

مونږ وایو چې: ځینو علماوو کرامو ترجیح ورکړې ده چې نوموړی کافر پاتې شو ځکه چې ندامت او پښېماني خو ایمان راوړل نه دي ترڅو چې ورباندې صراحت ونه کړي او صراحت دلته نشته[۱].

خو د نوموړي د وینا د طرز څخه برېښي چې نوموړی په ایمان باندې مشرف شوی دی، دا ځکه چې هغه یقین درلود چې د آفت او مصیبت نزول د کفر او شرک څخه منشا نیولې ده او زما د مؤمن ملګري ویناوې حقیقت لري، خو افسوس چې د مصیبت د نزول څخه وړاندې مې د هغه نصیحت قبول کړی وی چې د دنیاوي عذاب څخه هم بچ پاتې شوی وی.

که بالفرض نوموړي ایمان نه وی راوړی نو کفر او شرک به یې د مصائبو منشا نه ګڼلی، لنډه دا چې د نوموړي په ایمان باندې په حکایت کښې صراحت نه دی شوی خو د اشاراتو څخه څرګندېږي چې واقعیت یې درلود او مسلمان شوی وه، والله ﷻ أعلم.

## هُنَالِكَ څه شي ته اشاره ده؟

۱۴ـ په ﴿ هُنَالِكَ ٱلْوَلَٰيَةُ لِلَّهِ ٱلْحَقِّ ﴾ کښې د ﴿ هُنَالِكَ ﴾ کلمه د اسماء الاشاراتو څخه ده چې کله زمان ته اشاره وي او کله مکان ته[۲]. ځینو علماوو کرامو په دې مقام کښې د قیامت ورځې ته اشاره ګڼلې ده او د ﴿ ٱلْوَلَٰيَةُ ﴾ کلمه یې د سلطې په معنی اخستې ده[۳] یعنې لکه څنګه چې په دنیا کښې حقیقي سلطه او اقتدار الله ﷻ پورې مختص دی همدارنګه د قیامت په ورځ هم ټول اختیار او سلطه هم د ﷻ پورې اختصاص لري، نو د همدې کبله یې د کافر دنیادار باغونه پوپنا کړه او د قیامت په ورځ به ورته د دوزخ جزا ورکړي.

مګر مونږ ته بهتره برېښي چې په دې مقام کښې د ﴿ هُنَالِكَ ﴾ کلمه هغه زمان یا مکان ته اشاره ده په کوم کښې چې د کافر دنیادار باغونه هلاک شوي وه، چې د خپل مقدر متعلق (كَانَ) په اعتبار سره د هغه ﴿ ٱلْوَلَٰيَةُ ﴾ دپاره مقدم خبر دی کوم چې د نصرت او کومک معنی ورکوي، یعنې په دغه وخت یا دغه مکان کښې چې د نوموړي باغونه د آفت سره مخامخ شوه یوازې او یوازې نصرت او مدد الله ﷻ پورې اختصاص درلود چې په حقه د ټولو مخلوقاتو واکدار او نصرت کوونکی دی، خو د نوموړي باغونو ته یې د آفت څخه نجات ورنه کړ او نه بل څوک مونده شو چې نجات ورکړي. په دې

---

[۱] روح المعاني ج۱۵ ص۲۸۲
[۲] مفردات الراغب ص۵۴۴
[۳] تفسیر الخازن ج۴ ص۱۱۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تقدیر به ذکر شوی ایت شریف د وړاندېني ایت. ﴿ وَلَمْ تَكُن لَّهُۥ فِئَةٌ ﴾ الآية، مضمون تائید کړي.

﴿ وَٱضْرِبْ لَهُم مَّثَلَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا كَمَآءٍ أَنزَلْنَٰهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ فَٱخْتَلَطَ بِهِۦ نَبَاتُ
ٱلْأَرْضِ فَأَصْبَحَ هَشِيمًا تَذْرُوهُ ٱلرِّيَٰحُ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ مُّقْتَدِرًا ﴿٤٥﴾ ٱلْمَالُ
وَٱلْبَنُونَ زِينَةُ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ وَٱلْبَٰقِيَٰتُ ٱلصَّٰلِحَٰتُ خَيْرٌ عِندَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَخَيْرٌ أَمَلًا
﴿٤٦﴾ وَيَوْمَ نُسَيِّرُ ٱلْجِبَالَ وَتَرَى ٱلْأَرْضَ بَارِزَةً وَحَشَرْنَٰهُمْ فَلَمْ نُغَادِرْ مِنْهُمْ أَحَدًا ﴿٤٧﴾
وَعُرِضُوا۟ عَلَىٰ رَبِّكَ صَفًّا لَّقَدْ جِئْتُمُونَا كَمَا خَلَقْنَٰكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍۭ ۚ بَلْ زَعَمْتُمْ أَلَّن نَّجْعَلَ
لَكُم مَّوْعِدًا ﴿٤٨﴾ وَوُضِعَ ٱلْكِتَٰبُ فَتَرَى ٱلْمُجْرِمِينَ مُشْفِقِينَ مِمَّا فِيهِ وَيَقُولُونَ يَٰوَيْلَتَنَا
مَالِ هَٰذَا ٱلْكِتَٰبِ لَا يُغَادِرُ صَغِيرَةً وَلَا كَبِيرَةً إِلَّآ أَحْصَىٰهَا ۚ وَوَجَدُوا۟ مَا عَمِلُوا۟
حَاضِرًا ۗ وَلَا يَظْلِمُ رَبُّكَ أَحَدًا ﴿٤٩﴾ ﴾

[۴۵] او (ای پیغمبره!) خلکو ته د نړدي (حقیر) ژوند مثال د داسې اوبو وګرځوه (بیان کړه) چې مونږ د اسمان د پلوه (ښکته) نازلې کړې دي نو د (همدې) اوبو په سبب سره د ځمکې نباتات (زرغون شوي بوټي) سره خلط (ګډوډ) شي (چې ګڼ شنیلي وریاندې زرغون شي) نو (بیا پرې مونږ زوال ورنازل کړو چې) بوټي داسې میده-میده وګرځي چې بادونه یې الوزوي. او الله ﷻ په هر شي باندې د توان خاوند دی.

[۴۶] مالونه او زامن د حقیر (نړدي) ژوند ښائست دی (خو بقاء نه لري) او صالح باقي پاتې کېدونکي (اعمال او اقوال) چې دي ستا د رب ﷻ په نزد د ثواب (بدل) د حیثه بهتر دي او د امید د حیثه هم خیر (او بهتر) دي.

[۴۷] او (ای پیغمبره!) داسې ورځ (خلکو ته وریاد کړه) چې مونږ غرونه روان کړو او ته ځمکه لوڅه پوڅه وګورې (چې نه وریاندې تعمیرات لیدلی کېږي، نه نبات او نه غرونه) او (بیا به د قبرونو څخه) مونږ (ټول) خلک حشر کړو نو د دوی څخه به هیڅوک پرېنږدو (چې حشر نه کړی شي).

[۴۸] دوی ټول به ستا په رب ﷻ باندې (د محاسبې دپاره) صفونه کړی شوي وړاندې کړی شي (او دوی ته به وویلې شي چې) یقیناً تاسو مونږ ته په داسې کیفیت سره راغلئ (راغونډ شوئ) لکه څنګه مو چې تاسو اول ځل پیدا کړي وئ (چې ټول بربنډ او لوڅ پوڅ یاست)، بلکې تاسو ګومان کاوه چې مونږ به هیڅکله ستاسو دپاره د حشر کېدلو وخت ونه ګرځوو (ونه ټاکو، تاسو ترې منکر وئ).

[۴۹] او (د اعمالنامو جنس) کتاب به (د خلکو په لاس کښې) کېښودلی شي نو ته به مجرمان

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ګوري چې د هغو (جنایاتو) څخه به ډارېدونکي وي کوم چې په کتاب کښې دي. او دوی به (په حسرت سره) وایي چې: ای زمونږ افسوسه! (راشه همدا دې وخت دی) دغه (عمل نامه) څرنګه کتاب دی چې نه وړه ګناه پرېږدي او نه لویه ګناه (پرېږدي) مګر (ټولې یې) احاطه کړي دي (او ټولې پکښې ثبتې دي). او خلک به هغه شی حاضر مونده کړي کوم چې دوی (په دنیا کښې) کړي وه.

او (ای پیغمبره!) ستا رب ﷻ په هیچا باندې ظلم (او تېری) نه کوي.

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې د هغو باغونو بیان وه کوم چې د کافر مالدار د جنایت د کبله د سزا په توګه د هلاکت سره مخامخ شوي وه او په دې ایتونو کښې د یو پلوه ټوله دنیا فاني تمثیله شوې ده، او هغو برخو ته یې هم اشاره شوې ده کومې چې نه فاني کېږي او د الله ﷻ په نزد باقي دي، او د بله پلوه د دنیا د وړانېدلو کیفیت او د وړانېدلو څخه وروسته د قیامت د ورځې څه کیفیات بیان شوي دي چې حاصل یې داسې راځېژي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! که څه هم د ذکر شوي کافر مالدار باغونه الله ﷻ د هغه د جنایت د کبله پوېنا کړه خو اصلاً ټوله دنیا فاني کېدونکې ده، چې ضرور به یوه ورځ د زوال سره مخامخه شي او صرف هغه جزونه به یې د فنا سره مخامخ نه شي کوم چې د الله ﷻ په نزد باقیات دي. نو د ښه وضاحت دپاره په خپل امت باندې لاندې نکات قرائت کړه:

١ـ د دنیا د فاني کېدلو مثال داسې دی لکه:

الف: چې مونږ له اسمانه (د غیبو) څخه په شېبو شېبو بارانونه نازل کړو.

ب: په دغو باراني اوبو باندې وچه کلکه ځمکه په حرکت راشي او ډول-ډول نباتات پکښې را زرغون شي او ټوله ګل او ګلزار وګرځي.

ج: خو څه لږ وخت وروسته په ذکره شوې زرغونه ځمکه باندې خزان ورشي، ګلان یې ورژېږي او تازه بوټي (نباتات) یې وچ او مېده-مېده شي چې بادونه یې اخوا دېخوا الوزوي را الوزوي.

یا په بل عبارت: ځمکه د تازګۍ څخه وروسته بېرته پخواني حالت ته وروګرځي چې نه یې نباتات درلوده او نه پکښې زرغونه لیدی شوه.

نو خلکو ته په کار دي چې د دنیا په مالونو او تازګیو باندې ونه غولېږي او د آخرت دپاره ترې د توښې کار واخلي.

٢ـ دا کار څکه ضرور کېدونکی دی چې الله ﷻ په هر شي باندې مقتدر دی او د هر شي اراده چې وکړي هغه ترسره کولی شي.

٣ـ نو کله چې ضرور دا دنیا د زوال سره مخامخ کېدونکې ده نو د دنیا مالونه او دولتونه او هم ښانسته تعمیرونه او باغونه او بالآخره په دنیا کښې د ډېرو زامنو او نفرو درلودل بل شی نه دی فقط

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او فقط د دنیا ټول او سنګار دی، نو لکه څنګه چې دنیا په ګلانو او ښاپانو باندې سنګارېږي او بیا د خزان سره مخامخ کېږي همدارنګه په دنیا کښې مالونه او اولادونه هم هیڅ ها نه بقاء نه کوي.

۴ـ هوا کوم شی چې د دنیا څخه باقي دی او زوال نه لري هغه نېک عملونه دي او د آخرت دپاره خوری او توښه ده. نو ای پیغمبره! دغه اخروي خوری او توښه ستا د رب ﷻ په نزد د عوض د حیثه هم بهتره ده او د امید د حیثه هم بهتره ده.

یا په بل عبارت: که څه هم دنیا فاني ده مګر د بقاء دپاره سبب جوړېدلی شي، نو خلکو ته به کار دي چې په دنیا کښې من حیث دنیا ژوند ونه کړي بلکې د دنیا څخه د آخرت او د دائمي ژوند دپاره خوری او توښه ترلاسه کړي.

## قیامت ضرور راتلونکی دی:

۵ـ ای پیغمبره! د قیامت ورځ ضرور راتلونکې ده او الله ﷻ دا دنیا عبثه نه ده پیدا کړې چې په انجام کښې هیڅ تصفیه ونه لري، نو د قیامت ورځ ځینې کیفیات په خپل امت باندې په لاندې ډول قرائت کړه:

الف: کله چې مونږ اراده وکړو چې قیامت قائم کړو نو د هر څه څخه وړاندې به دغه قوي او محکم غرونه د خپلو ځایونو څخه روان کړو او په هوا کښې به یې په ګرد او غبار باندې بدل کړو، نه به وایې چې وریځ یا مالوچ په ډانډس باندې وهلی شوي دي.

ب: نو په دغه وخت کښې به ته ټوله ځمکه لوڅه وګورې چې نه به وربانډې کوم غر ولاړ پاتې وي او نه به کوم تعمیر پرې اباد ولاړ وي، او هم به یې باغونه او نبات ټول هم په مخ باندې ونه لیده شي.

ج: بیا به مونږ د ذکرې شوې هوارې ځمکې څخه ټول مخلوق ژوندي راپورته کړو او هیڅوک به پکښې پرېنږدو چې د خاورو لاندې پاتې شي.

د: ای پیغمبره! په دغه ترتیب سره به ټول خلک ستا د رب ﷻ په حضور کښې صفونه صفونه ودرېږي او د حساب کتاب دپاره به منتظر کړی شي.

نو زمونږ د پلوه خلکو ته ورسوه چې ضرور به تاسو زمونږ حضور ته په هغه کیفیت باندې راشئ په کوم باندې چې مونږ تاسو اول ځل پیدا کړي وئ، چې نه به مو په تنو کښې جامې او لباس موجودیت ولري او نه به مو په پښو باندې څپلۍ او پڼې شتون ولري، په دغه وخت کښې به تاسو مخاطب کړی شئ چې دا هغه ورځ ده د کومې د راتللو چې مونږ ستاسو سره وعده کړې وه، خو تاسو ګومان کاوه چې مونږ به ستاسو سره په خپله وعده باندې وفا ونه کړو او د وعدې په مطابق به قیامت قائم نه کړو.

هـ: په دغې ورځ کښې به د هر چا په لاس کښې د خپلو کړو وړو کتاب (عملنامه) کېښودله شي، یا په بل عبارت: مومنانو ته به په ښي لاسونو باندې عملنامې ورکړی شي او کافران به مجبور کړی شي چې په چپو لاسونو باندې یې قبضې کړي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لنډه دا چې هرڅوک به خپله دوسیه په لاس د حساب کتاب دپاره منتظر ولاړ وي چې د دنیاوي ژوند حالات ورسره تصفیه کړی شي.

و: کله چې هر چاته خپله-خپله دوسیه په لاس ورکړی شي نو مؤمنان به ډېر خوشاله شي او یو بل ته به د خوشالۍ چیغې وهي چې هلئ راشئ زما علمنامه ولولئ.

خو بالمقابل به کفار ډېر خپه شي او د لاندې کیفیاتو سره به مخامخ شي:

اول: دوی به د هغه شي څخه په سخت ډار کښې واقع شي کوم چې د دوی په اعمالنامو کښې لیکلي وي، نو ته به دوی ګورې چې له سخته ډاره به د دې خبرې ارمان کوي چې کاش دوی خاورې وی او څه چې په دغو کتابونو کښې لیکلی شوي دي هغه ټول پټ پاتې شوي وی.

دوهم: دوی به په ډېر حسرت او افسوس سره وایي چې: دغه څه عجیب ډول کتاب دی چې نه یې زمونږ د دنیاوي ژوند وړه ګناه پرېښې ده او نه یې لویه د لیک څخه غورزولې ده، بلکې په ټولو باندې یې احاطه کړې ده او ټولې یې د شمېر لاندې راوستلې دي.

ز: لنډه دا چې ټول خلک به خپل ټول عملونه (ښه وي او که بد وي) د خپلو ځانونو په وړاندې حاضر وګوري او هیڅ شی به ترې غائب نه شي.

ح: ای پیغمبره! ستا رب ﷻ به هر چاته جزا یا سزا ورکړي او په هیچا باندې به تېری ونه کړي چې یا چاته د نېکۍ عوض ورنه کړي او یا چاته د استحقاق څخه اضافه سزا ورکړي.

## توضیحات

۱ـ د دنیا د فنا دپاره چې په دې مقام کښې کوم مثال نازل شوی دی هغه د [یونس:۲۴] ایت لاندې په دې تفسیر کښې د الله ﷻ په توفیق ښه واضحه شوی دی، که محترم لوستونکي یو ځل هلته مراجعه وکړي نو بده به نه وي.

## د دوه وو لغاتو معناوې

۲ـ په ﴿ فَأَصْبَحَ هَشِيمًا تَذْرُوهُ ٱلرِّيَـٰحُ ﴾ کښې د "هَشِيم" کلمه د "هَشْمٌ" ـلکه "ضَرْبٌ"ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "هَشْمٌ" د یوه پاسته شي میده کولو ته ویل کېږي لکه چې وایي: "هَشَمْتُ الْخُبْزَ" ډوډۍ مې په کاسه کښې میده-میده کړې وه. د نبي کریم ﷺ غور نیکه ته ځکه د هاشم لقب ورکړی شوی دی چې هغه به میلمه پالنه کوله او په شوروا کښې به یې میده کړې ډوډۍ ورکوله، خو اصلي نوم یې "عَمرو" وه[1]. په دې مقام کښې د "هَشِيم" کلمه د "مَهْشُوم" (میده کړی شوي) معنی ورکوي.

او د ﴿ تَذْرُوهُ ﴾ کلمه د "ذَرْوٌ" ـلکه "ضَرْبٌ"ـ څخه اخستله شوې ده، "ذَرْوٌ" دې ته وایي چې باد یو شی پورته کړي[2]، چې په پښتو کښې ترې مونږ په الوزولو باندې تعبیر کوو.

---

[1] لسان العرب ج۱۲ ص۶۱۱

[2] مفردات الراغب ص۱۸۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو د معنی حاصل یې داسې راڅرګيږي چې: د دنیا مثال داسې دی چې وچه کانګره ځمکه په اوبو باندې تکه شنه او ښایسته شي خو لږ وخت وروسته یې ښنيلی وچ او میده-میده شي او بادونه یې یو پلو او بل پلو ته الوزوي را الوزوي، ته به وایې چې هیڅکله دلته کوم شنیلی نه دی تېر شوی.

## باقیات صالحات د څه شي څخه عبارت دي؟

٣ـ په ﴿ وَٱلْبَٰقِيَٰتُ ٱلصَّٰلِحَٰتُ خَيْرٌ عِندَ رَبِّكَ ﴾ کښې د "بَاقِيَات"، "صَالِحَات" کلمات مفسرينو کرامو(١) د احاديثو په رڼا کښې په متعددو معناوو باندې تفسير کړي دي لکه "سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ" او داسې نورې. خو ظاهره دا ده چې په رواياتو کښې به حصر مطلب نه وي او د مثال په توګه به په ځينو ښکو اعمالو او ښکو اقوالو باندې صراحت شوی وی.

نو په همدې بنياد مونږ وايو چې: ټول د خير کارونه او ټولې د خير خبرې او بالآخره ټول تحميدات او تنزيهات په ﴿ وَٱلْبَٰقِيَٰتُ ٱلصَّٰلِحَٰتُ ﴾ کښې شامل دي(٢).

دغو ټولو ته د "بَاقِيَات" لقب ځکه ورکړی شوی دی چې اثرات او نتائج یې د الله ﷻ په نزد باقي دي او فنا ورباندې نه ورځي.

## مُغَادَرَة او غَدر څه معنی؟

٤ـ په ﴿ فَلَمْ نُغَادِرْ مِنْهُمْ أَحَدًا ﴾ او ﴿ لَا يُغَادِرُ صَغِيرَةً وَلَا كَبِيرَةً ﴾ کښې د ﴿ نُغَادِر ﴾، ﴿ يُغَادِر ﴾ دواړه کلمې د "مُغَادَرَة" ـ لکه "مُضَارَبَة" ـ څخه اشتقاقي شوي دي چې د ترک کولو (پرېښودلو) معنی ورکوي(٣). په عهد کښې تګي کول هم ځکه د غدر په نامه يادېږي چې تګي د ترک الوفاء (د وفاء د پرېښودلو) څخه په غير بل شی نه دي.

نو د لومړنی جملې معنی داسې کېږي چې مونږ به ټول خلک حشر کړو او يو کس به هم پرېنږدو. او د دوهمې جملې معنی دا ده چې دا څنګه عجيب کتاب دی چې نه وړه ګناه پرېږدي او نه غټه بلکې ټولې یې ثبتې کړي دي.

نو په ﴿ وَوُضِعَ ٱلْكِتَٰبُ ﴾ کښې د کتاب څخه د اعمالنامو جنس کتاب مراد دی چې ټولو اعمالنامو ته شاملېږي.

﴿ وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَٰٓئِكَةِ ٱسْجُدُوا۟ لِءَادَمَ فَسَجَدُوٓا۟ إِلَّآ إِبْلِيسَ كَانَ مِنَ ٱلْجِنِّ فَفَسَقَ عَنْ أَمْرِ رَبِّهِۦٓ ۗ أَفَتَتَّخِذُونَهُۥ وَذُرِّيَّتَهُۥٓ أَوْلِيَآءَ مِن دُونِى وَهُمْ لَكُمْ عَدُوٌّۢ ۚ بِئْسَ لِلظَّٰلِمِينَ بَدَلًا ٥٠

---

(١) تفسير ابن کثير ج٣ ص٨٥
(٢) تفسير الطبري ج١٥ ص٢٥٦
(٣) لسان العرب ج٥ ص٨

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿مَّآ أَشۡهَدتُّهُمۡ خَلۡقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلَا خَلۡقَ أَنفُسِهِمۡ وَمَا كُنتُ مُتَّخِذَ ٱلۡمُضِلِّينَ
عَضُدٗا ﴿٥١﴾ وَيَوۡمَ يَقُولُ نَادُواْ شُرَكَآءِيَ ٱلَّذِينَ زَعَمۡتُمۡ فَدَعَوۡهُمۡ فَلَمۡ يَسۡتَجِيبُواْ
لَهُمۡ وَجَعَلۡنَا بَيۡنَهُم مَّوۡبِقٗا ﴿٥٢﴾ وَرَءَا ٱلۡمُجۡرِمُونَ ٱلنَّارَ فَظَنُّوٓاْ أَنَّهُم مُّوَاقِعُوهَا وَلَمۡ
يَجِدُواْ عَنۡهَا مَصۡرِفٗا ﴿٥٣﴾﴾

[۵۰] او (ای پیغمبره!) هغه وخت (خلکو ته) یاد کړه چې مونږ ملائکو ته (د ابلیس په شمول) وویلې چې تاسو ټول آدم ﷺ ته (د تعظیم) سجده وکړئ، نو (ټولو) سجده وکړه مګر ابلیس (سجده ونه کړه دا ځکه چې) ابلیس د پیریانو څخه وه نو د خپل رب ﷻ د امر څخه یې فسق (وتل) وکړه. ایا نو تاسو (ای انسانانو!) ابلیس او د ده اولاده زما څخه په غیر په دوستۍ سره نیسئ حال دا چې هغوی (ټول) تاسو (ټولو) ته دښمنان دي؟.

ظالمانو (کفارو) ته دا کار د بدل د حیثه ډېر بد دی (چې د الله ﷻ دوستي یې د ابلیسانو په دوستۍ باندې بدله کړه).

[۵۱] ماخو دوی (ابلیسان) نه د اسمانونو او ځمکو پیداکولو ته حاضر کړي دي او نه د دوی د خپلو نفسونو پیداکولو ته (چې تاسو راشئ زما سره کومک وکړئ)، او نه زه یم چې ګمراه کوونکي کومکیان ونیسم.

[۵۲] او هغه ورځ (یاده کړه) چې الله ﷻ (مشرکانو ته) ووایي چې تاسو زما هغو شریکانو ته اواز وکړئ کوم چې (په دنیا کښې ورباندې) تاسو (زما د شریکانو) ګومان کاوه (خپل کومک ته یې رابولئ)، نو دوی به ورته اواز وکړي (خپل کومک ته به یې راوبلي) خو هغوی به یې دعوت قبول نه کړي. او مونږ به د دغو (ټولو عابدانو او معبودانو) ترمنځ د (معنوي) هلاکت ځای (دوزخ) وګرځوو (چې ټول به پکښې په ګډه معذبیږي).

[۵۳] او مجرمان (کفار) به اور (دوزخ) وګوري نو یقین به وکړي چې دوی پکښې ورپرېوتونکي دي (نو د سخت حسرت سره به مخامخ شي) او دوی به د (همدغه) اور څخه د بېرته ګرځېدلو (په ځنګېدلو) ځای مونده نه کړي.

## ارتباطونه

۱ـ په وړاندېنیو ایتونو کښې غولوونکی شی بیان شوی وه چې په دنیا باندې خلک تېروزي، او په دې ایتونو کښې غولوونکي کس ته اشاره شوې ده چې شیطان خلک تېر باسي.

۲ـ هلته د قیامت په ورځ د مجرمانو حسرت ته اشاره شوې وه او دلته د حسرت وجه بیانه شوې ده چې د شیطان پیروي کول دي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

یعني ای پیغمبره! خپل امت ته د ابلیس علیه اللعنة قیصه وریاده کړه ترڅو دوی ترې عبرت واخلي او په دروغینو وعدو باندې یې ونه غولیږي. هغه دا چې

۱ـ مونږ ټولو پرښتو ته امر وکړ چې آدم ﷺ ته سجده وکړئ. چې ابلیس هم د همدوی په ټولګي کښې موجودیت درلود او مکلفیت ورته متوجه شو.

۲ـ نو پرښتو خپل مکلفیت پوره کړ او آدم ﷺ ته په سجده باندې پرېوتل مګر ابلیس خپل مکلفیت اداء نه کړ او د سجدې څخه یې خپل ځان ګوښه کړ، چې زه د آدم ﷺ څخه بهتر یم باید بالعکس امر شوی وی نو هغه مکلف شوی وی چې ماته یې سجده کړې وی.

۳ـ د ابلیس د سجده نه کولو وجه دا وه چې نوموړی د پرښتو په ټولګي کښې شامل وه مګر د دوی د جنس څخه نه وه بلکې د پیریانو د جنس څخه وه، نو په ذکر شوي امر سره هغه خپل اصل ځرګند کړ او د خپل رب ﷻ د اطاعت څخه یې غاړه وغړوله. او په دا که یې د فاسق لقب وګاټه.

۴ـ په دې باندې علاوه د آدم ﷺ او د ده د اولادې سره د عداوت دپاره یې ملا وتړله او خپل حسادت یې پټ پرېښنود بلکې اعلان یې کړ.

۵ـ حتی چې خپل عداوت ته یې بو خل عملي جامه هم وروا غوستله او آدم ﷺ او بي بي حواء رضی یې دواړه په ممنوعه بوټي باندې وغولول او د دروغو په سوګندونو باندې یې تېر ویستل.

د قیصې ارشاد:

۶ـ ای پیغمبره! د ذکر شوي قیصې ارشاد ته خپل امت متوجه کړه او زمونږ د پلوه ورته ووایه چې

الف ـ ایا تاسو ذکر شوی فاسق (ابلیس) او د ده اولاده زما څخه په غیر په دوستی سره نیسئ؟ ایا تاسو خپل پوخ دښمن ته د دوستی لاس ورکوئ؟

ب ـ هرڅوک چې دغه کار وکړي هغه فاسق او ظالم دی لکه څنګه چې ابلیس فاسق او ظالم دی، او ټولو ظالمانو ته ډېر ناکاره بدل دی چې د الله ﷻ دوستي یې د ابلیس په دوستی باندې تبدیله کړه، چې ناکاروالی به یې د قیامت په ورځ په خپلو سترګو وګوري او په خپله کړنلاره باندې به د غټ حسرت سره مخامخ شي.

۷ـ ای پیغمبره! د ابلیس وعدې دروغینې دي چې نه یې په لاس (اختیار) کښې څه وه او نه به یې راتلونکي کښې د کوم شي واک او اختیار ولري او دا څکه چې

الف ـ ما د اسمانونو او ځمکو د پیدا کولو په وخت کښې ابلیس او د ده اولاده نه وه حاضره کړې چې تاسو راشئ زما سره کومک وکړئ. بلکې په هغه وخت کښې خو لا دوی ټولو موجودیت نه درلود. نو لکه څنګه چې د ټولې دنیا واک په هغه وخت کښې ما پورې مختص وه نن هم په ما پورې اختصاص لري او په راتلونکي کښې هم یکښې څوک برخه نه لري

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: همدارنګه ابلیس او د ده اولاده ما پیدا کړي دي او اوس هم د دوی بقاء او فناء په ما پورې اختصاص لري. لکه چې دوی په خپل پیدایښت کښې څه مداخله نه ده کړې، او نه یې کولی شوه چې ځینې د ځینو نورو پیدایښت ته حاضر کړی شوي وي چې راشه دلته کومک وکړه، همدارنګه په راتلونکي کښې هم دوی په خپلو ځانونو کښې د تصرف واک او اختیار نه لري. بنه نو چې کله دوی په ذکر شوي تفصیل سره بې وسې او ناتوانه دي نو تاسو ته څه مناسب دي چې د هغوی په دروغینو وعدو باندې غولېږئ چې دوستی به یې ستاسو څه په درد باندې وخوري.

ج: زه په یوه شي کښې هم چاته احتیاج نه یم او د هیچا څخه کومک نه غواړم، خو که بالفرض المحال ما څه کومکیان نیولی نو ایا ما به ګمراه کوونکي (ابلیسان) د کومکیانو په حیث نیولي وی؟ بلکې زه نه یم چې ګمراه کوونکی د کومکیانو په حیث ونیسم.

نو تاسو ته هم په کار دي چې ګمراه کوونکي په دوستی سره ونه نیسئ او په دروغینو کومکي وعدو باندې یې باور او اعتماد ونه کړئ.

د: د ابلیس ناتواني به د قیامت په ورځ باندې ښه پوره څرګنده شي چې:

اول: کله چې الله ﷻ مشرکان او کفار مخاطب کړي چې زما هغو شریکانو ته اوس اواز وکړئ کوم چې تاسو په خپل خیال زما سره شریکان درولي وه او د هغوی اطاعت مو کړی وه، ترڅو تاسو زما د عذاب څخه بچ کړي، تاسو خو زما دوستي د هغوی په دوستی تبدیله کړې وه.

دوهم: دوی به ورته نارې وکړي او خپل کومک ته به یې راوبلي خو هغوی به هیڅ جواب ورنه کړي، چې نه به یې د لاسه کومک کېږي او نه به یې کومک ورکولو ته چمتو وي.

دریم: په عین حال کښې به مونږ د ابلیسانو او د دوی د دنیاوي پیروانو ترمنځ د دوزخ اور حائل کړو چې په ابدي توګه به هلته پکښې معذبېږي ، او هر یو به د خپل ځان په غم باندې اخته شي.

څلورم: کفار به د زیات حسرت او افسوس سره هغه وخت مخامخ شي کله چې دوی په لومړي ځل دوزخ وګوري او ښه متیقن شي چې دوی پکښې ضرور ورغوزېدونکي دي، او هیڅ طرف ته د تېښتېدلو توان نه لري، او بالآخره هغه وخت چې دوی پوه شي چې دنیاوي دوستانو ابلیسانو د لاسه هم څه پوره نه دي.

## توضیحات

١ـ مونږ د [البقرة:٣٤] ایت لاندې ـلله الحمد والشکرـ څه تحقیق لیکلی دی چې ابلیس علیه اللعنة د پرښتو د جنس څخه نه دی لکه چې په دې مقام کښې په همدغه مطلب باندې ﴿ كَانَ مِنَ ٱلْجِنِّ ﴾ جمله دلالت کوي، یعنې ابلیس د پیریانو څخه وه.

نو د هغه څخه اضافه تحقیق ته اړتیا نه ګورو او نه ورته څه ضرورت شته دی، خو فقط لاندې معلومات درباندې دراضافه کوو:

الف: ځینې علماء کرام وایي چې: د ابلیس نسبت پیریانو ته داسې دی لکه څنګه چې د آدم ؑ

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نسبت بشر ته دی، يعنې ابليس ابو الجن دی او آدم ﷺ ابو البشر دی[۱].

ب: ځينې نور وايي چې ابليس د ټولو پيريانو پلار نه دی بلکې د ده ځخه وړاندې نور پيريان هم تېر شوي دي لکه ځنګه چې د نوح ﷺ ځخه وړاندې انسانان تېر شوي دي چې د ده په اولاده کښې شامل نه وه، نو ابليس ابو الجن الثاني دی لکه ځنګه چې نوح ﷺ ابو البشر الثاني (دوهم آدم) دی[۲]. په هر تقدير لکه ځنګه چې د آدم ﷺ اولاده په مؤمنانو او کافرانو دواړو باندې مشتمله ده، همدارنګه د ابو الجن په اولاده کښې مسلمانان پيريان او کافران پيريان دواړه موجوديت لري.

## تبصره

۲ـ ځرنګه چې د دوهمې ډلې علماوو کرامو نظر د ايت ﴿كَانَ مِنَ ٱلْجِنِّ﴾ ځخه سرې ته په تبادر سره ذهن ته ورځي نو همدغه نظر مونږ ته په زړه پورې بريښي چې لنډيز يې په لاندې ډول دی:

الف: لکه چې د الله ﷻ په توفيق د [الأعراف: ٦٤] ايت لاندې تحقيق شوی دی، موجوده انسانان ټول د نوح ﷺ اولاده ده، د ده د اولادې ځخه په غير د آدم ﷺ د نورو اولادونو زوزات پاتې نه دي. اما موجوده پيريان ځينې د ابليس اولاده ده او بس، او ځينې د ابو الجن اولاده ده او بس.

ب: د نوح ﷺ اولاده په کفارو او مسلمانانو (دواړو) باندې مشتمله ده، اما د ابليس په اولاده کښې مسلمان نشته بلکې ټول کفار دي، لکه چې د ﴿أَفَتَتَّخِذُونَهُۥ وَذُرِّيَّتَهُۥٓ أَوْلِيَآءَ مِن دُونِى وَهُمْ لَكُمْ عَدُوٌّۢ﴾ کلمات وربانديې دلالت کوي، والله ﷻ أعلم بحقيقة الحال و إليه المرجع والمآل.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې: د ﴿ذُرِّيَّتَهُۥ﴾ د کلمې ځخه خو په ډاګه ځرګندېږي چې ابليس اولاده لري خو پوښتنه دا ده چې د دوی توالد او تناسل په څه ډول دی؟

مونږ وايو چې: علماوو کرامو د دوی په توالد او تناسل کښې مختلف کيفيتونه ليکلي دي[۳] چې يو هم په قوي حديث باندې ثابت نه دی، نو بهتره ده چې څه تفحص او تجسس پکښې ونه کړو او الله ﷻ ته يې وسپارو.

## د "موبق" د کلمې معنى

۴ـ په ﴿وَجَعَلْنَا بَيْنَهُم مَّوْبِقًا﴾ کښې د "مَوْبِق" د کلمې دپاره علماوو کرامو متعدد تفسيرونه کړي دي[۴] خو بهتر هغه تفسير په نظر راځي کوم چې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ځخه روايت شوی دی هغه دا چې "مَوْبِق" د مهلک معنى ورکوي[۵]، يا په بل عبارت: ذکره شوې کلمه اسم ظرف ده او

---

(۱) تفسير الخازن ج۴ ص۱۱۳

(۲) تفسير المحرر الوجيز ج۱۰ ص۴۱۱

(۳) تفسير البغوي ج۳ ص۱٦۷

(۴) زاد المسير ج۵ ص۱۰۹؛ التفسير الكبير ج۲۱ ص۱۳۹

(۵) الدر المنثور ج۵ ص۴۰۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د "وَبَقَ" لکه "ضَرَبَ" څخه اشتقاقه شوې ده چې د هلاک معنی ترې اخستله کېږي.

د همدغه مصدر څخه د "مُوبِقَات" کلمه هم اصلاً مشتقه شوې ده چې نبي کريم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمايلي دي چې: «اجْتَنِبُوا السَّبْعَ الْمُوبِقَاتِ»[1] تاسو د اوو هلاکوونکو ګناهونو څخه احتناب وکړئ (خانونه ترې وساتئ).

نو د معنی حاصل به يې داسې راوخېږي چې کله مشرکان د خپلو دنياوي باطلو معبودانو څخه هم نااميده شي نو مونږ به د عابدانو او معبودانو ترمنځ د معنوي هلاک ځای (دوزخ مشترک وګرځوو چې ټول به پکښې په مشترکه توګه معذبېږي او هرڅوک به د خپل ځان په وير اخته شي.

## يادونه

۵ـ څرنګه چې د "ظَنّ" کلمه اصلاً د ګومان دپاره وضعه شوې ده مګر کله-کله د "يقين" په معنی باندې هم استعمالېږي[2] مونږ ته داسې برېښي چې په ﴿ فَظَنُّوٓاْ أَنَّهُم مُّوَاقِعُوهَا ﴾ کښې به د ﴿ فَظَنُّوٓاْ ﴾ کلمه د هغه ظن څخه اشتقاقه شوې وي کوم چې د يقين معنی ورکوي، لکه چې په همدې بنياد مو ذکر شوی ايت شريف ترجمه او تفسير کړی دی.

﴿ وَلَقَدْ صَرَّفْنَا فِي هَٰذَا ٱلْقُرْءَانِ لِلنَّاسِ مِن كُلِّ مَثَلٍ ۚ وَكَانَ ٱلْإِنسَٰنُ أَكْثَرَ شَىْءٍ
جَدَلًا ﴿٥٤﴾ وَمَا مَنَعَ ٱلنَّاسَ أَن يُؤْمِنُوٓاْ إِذْ جَآءَهُمُ ٱلْهُدَىٰ وَيَسْتَغْفِرُواْ رَبَّهُمْ إِلَّآ أَن
تَأْتِيَهُمْ سُنَّةُ ٱلْأَوَّلِينَ أَوْ يَأْتِيَهُمُ ٱلْعَذَابُ قُبُلًا ﴿٥٥﴾ وَمَا نُرْسِلُ ٱلْمُرْسَلِينَ إِلَّا مُبَشِّرِينَ
وَمُنذِرِينَ ۚ وَيُجَٰدِلُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِٱلْبَٰطِلِ لِيُدْحِضُواْ بِهِ ٱلْحَقَّ ۖ وَٱتَّخَذُوٓاْ ءَايَٰتِى وَمَآ
أُنذِرُواْ هُزُوًا ﴿٥٦﴾ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن ذُكِّرَ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِۦ فَأَعْرَضَ عَنْهَا وَنَسِىَ مَا قَدَّمَتْ
يَدَاهُ ۚ إِنَّا جَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَن يَفْقَهُوهُ وَفِىٓ ءَاذَانِهِمْ وَقْرًا ۖ وَإِن تَدْعُهُمْ إِلَى
ٱلْهُدَىٰ فَلَن يَهْتَدُوٓاْ إِذًا أَبَدًا ﴿٥٧﴾ وَرَبُّكَ ٱلْغَفُورُ ذُو ٱلرَّحْمَةِ ۖ لَوْ يُؤَاخِذُهُم بِمَا كَسَبُواْ
لَعَجَّلَ لَهُمُ ٱلْعَذَابَ ۚ بَل لَّهُم مَّوْعِدٌ لَّن يَجِدُواْ مِن دُونِهِۦ مَوْئِلًا ﴿٥٨﴾ وَتِلْكَ ٱلْقُرَىٰٓ
أَهْلَكْنَٰهُمْ لَمَّا ظَلَمُواْ وَجَعَلْنَا لِمَهْلِكِهِم مَّوْعِدًا ﴿٥٩﴾ ﴾

[1] صحيح البخاري ج۱ ص۳۸۸
[2] مفردات الراغب ص۳۲۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۵۴] او یقیناً مونږ د خلکو دپاره په دغه قرآن (کریم) کښې د هر ډول مثالونو څخه (چې دوی ورته ارتیا لري) بیان کړي دي، او انسان د ټولو (جګړه کوونکو) شیانو څخه د جګړې د حیثه زیات دی.

[۵۵] او خلک د دې څخه چې ایمان راوړي او د خپل رب ﷻ څخه مغفرت وغواړي (هیڅ شي) نه دي منعه کړي (هیڅ شی نه منتظر نه دي)، کله چې دوی ته هدایت (اسلام) ورغی مګر دې خبرې چې دوی ته د ړومبنیو (هلاکو شوو قومونو) طریقه (قانون) ورشي (چې بیخ ویستونکی عذاب ورباندې ورنازل شي)، او یا دوی ته مخامخ عذاب ورشي (قیامت قائم شي).

[۵۶] او مونږ پیغمبران (په هیڅ حال کښې) نه لیږو مګر په داسې حال کښې چې زیرې ورکوونکي او ډاروونکي وي (څو دوی ته د معجزاتو فرمایش ورکولی کېږي) او هغه کسان ورسره په باطله طریقه باندې جګړې کوي کومو چې کفر غوره کړی دی. (البته) د دې دپاره چې په دې (باطل) سره حق د منځه یوسي (او کفر په اسلام غالب شي).

او (په دې باندې علاوه) دوی زما ایتونه او هغه شی چې دوی ترې ډارول کېږي په مسخرو (ملنډو) سره نیسي.

[۵۷] او د هغه چا څخه څوک ظالم بل څوک دی چاته چې د خپل رب ﷻ په ایتونو باندې پند ورکړی شي نو هغه ترې اعراض وکړي او هغه (جنایات) هېر کړي کوم یې چې دواړو لاسونو وړاندې لیږلي دي.

(د دې وجه دا ده چې) یقیناً مونږ یې په زړونو باندې د دې څخه پردې ګرځولې (اچولې) دي چې په دې (قرآن) باندې پوه شي او مونږ یې په غوږونو کښې دروندوالی ګرځولی (اچولی) دی. (نو دوی پند نه اخلي) او که ته یې هدایت (اسلام) ته دعوت کړې نو هیڅکله به د همیشه دپاره دوی په دغه وخت کښې (سمه) لاره مونده نه کړي.

[۵۸] او (ای پیغمبره!) ستا رب ﷻ بښونکی (او) د رحمت (مهرباني) خاوند دی (نو په ګناهونو باندې سمدستي نیول نه کوي)، که چېرته ستا رب ﷻ دوی په هغو (ګناهونو) باندې (سمدستي) نیولی کوم چې دوی کسب کړي دي نو ضرور به یې دوی ته په عذاب باندې تونده کړې وی (او سمدستي به یې هلاک کړي وی).

بلکې دوی ته (د الله ﷻ په نزد د عذاب دپاره) میعاد (وخت) دی چې هیڅکله به پرته د هغه (وخت) څخه د پناه اخستلو ځای مونده نه کړي (چې نجات ترلاسه کړي).

[۵۹] او دغه ښارونه (لکه عادیان او ثمودیان او نور) مونږ هلاک کړي دي (البته) کله یې چې ظلم وکړ (او په کفر باندې کلک شوه) او مونږ یې د هلاکولو دپاره میعاد (متعین وخت) ګرځولی (ټاکلی) وه.

## ارتباط

تقریباً د دې سورت د [۲۸] ایت څخه راپدېخوا د کفارو هغه نظر رد شوی وه کوم چې دوی د فقیرانو مسلمانانو په هکله درلوده. نو کفار په ډول ډول طریقو باندې پوه کړی شو چې دنیا فاني

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ده، غولیدل وربانديږ په کار نه دي که نه نو د قیامت په ورځ به د ډېر لوی حسرت سره مخامخ شي، خو د دې سره سره هغوی په خپل نظر باندې کلک پاتې شوه. نو په دې ایتونو کښې لاندې نکاتو ته اشاره شوې ده:

١_ د قرآن کریم د بیان په طرز کښې قصور نشته بلکې انسان جګړه مار دی په هیڅ ډول بیان باندې نه قانع کېږي.

٢_ د پیغمبرانو دنده فقط ابلاغ دی، دوی د کفارو فرمایشات نه شي قبلولی.

٣_ د چا په زړه باندې چې مهر لګېدلی وي د هغه څخه بل غټ ظالم نشته چې په دوامداره توګه د خپل رب ﷻ د ایتونو څخه اعراض کوي او دروغ ورپورې تېږي.

٤_ که د الله ﷻ مهرباني نه وي نو کفار به سمدستي هلاک کړی شي او هیڅ مهلت به ورنه کړی شي.

٥_ د عذاب نزول ټاکلی وخت لري چې وړاندې ېېرته نه شي کېدلی، بلکې پخواني هلاک شوي ښارونه هم هر یو په خپل ټاکلي وخت باندې هلاک شوي دي.

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! د دلایلو په نتیجه کښې په خپل امت باندې لاندې مطالب قرائت کړه:

١_ مونږ په دې قرآن کریم کښې د هر ډول دلایلو څخه په بیلو-بیلو طریقو باندې بیا-بیا بیان کړي دي ترڅو خلک د کفري خط السیر (تګلارې) څخه اسلامي خط السیر ته راواوړي.

لکه چې په دې مقام کښې مو د پخوانیو دوه سړیو خبرې اترې حکایت کړي چې یو غریب مسلمان وه او بل مالدار کافر وو او هم مو د دنیا فانیتوب په محسوس مثال کښې واضحه کړه، خو د دې سره-سره هغوی په خپل کفر باندې کلک دي، نو معلومه شوه چې د کلکوالي وجه یې نه د دلایلو کمبود دی او نه ستا د بیان قصور دی بلکې اصلي وجه یې دا ده چې انسان جګړه مار او دعوه جلب دی، چې په ټولو شیانو کښې د جګړه ماری د حیثه زیات دی.

٢_ نو د پاسني بیان په نظر کښې نیولو سره په ثبوت رسېږي چې اوس هم چې څوک ایمان نه راوړي هغه لاندې دوه شیانو ته منتظر دي:

الف: چې یا ورسره د پخوانیو کفارو په طریقه باندې عمل وکړی شي چې هلاکوونکی عذاب وربانديږ ورنازل کړی شي چې ټول پوپنا کړي او د ایمان راوړلو او هم د استغفار چانس یې په دائمي توګه د لاسه ووځي.

ب: او یا قیامت قائم شي او الهي عذاب مخامخ ورشي او په خپلو سترګو باندې یې وګوري نو هلته به ایمان راوړي او په خپلو جنایاتو باندې به پښېمانه شي خو هیڅ ګټه به ورته ونه رسوي.

٣_ نو څوک چې ستا دعوت ته پاملرنه نه کوي او په خپل کفر باندې کلک پاتې دي، ستا په غاړه باندې یې هیڅ مسولیت نشته او دا خکه چې ته خو بل څوک نه یې بلکې د پیغمبرانو د جملې څخه یو پیغمبر یې او مونږ ټول پیغمبران فقط او فقط د بشارت ورکولو او ډارولو دپاره لېږلي دي

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او په یوه باندې مو هم د خپل امت د کافر پاتې کېدلو مسؤلیت په غاړه نه دی وراچولی.

۴_ د کفار جګړه ماري د دې کبله ادامه لري ترڅو (د دوی په خیال) حق (اسلام) د منځه یوسي او باطل (کفر) ورباندې غلبه مونده کړي، خو دوی دې په یاد ولري چې په دې غرض کښې به هیڅکله کامیاب نه شي.

۵_ کفارو یوازې په جګړه مارۍ اکتفاء نه کوي بلکې د عناد د امله زما ایتونه (قرآن کریم) او هغه شی چې دوی ورباندې ډارول کېږي په مسخرو او ملنډو سره نیسي، او خندنې ورپورې کوي، یا په بل عبارت بشارت او انذار ورته دواړه دروغ برېښي.

۶_ بیا نو د هغه چا څخه به بل څوک غټ ظالم وي چې د خپل رب ﷻ په ایتونو پند ورکړی شي خو هغه ترې مخ واړوي او د قبول څخه یې انکار وکړي، او هم خپل جنایات ټول هېر کړي او هغې طریقې ته شا کړي په کومه باندې چې نوموړی د کفریاتو او جنایاتو د پېټي څخه خلاصون موندلی شي.

۷_ ای پیغمبره! د دغسې غلطې لارې نیولو اصلي وجه دا ده چې:

الف: مونږ د دوی په زړونو باندې د دوی د جنایاتو د کبله مهر وهلی دی او د دوی زړونه مو په داسې پرده کښې اچولي دي چې حقاني تفکر نه شي کولی او د خپل رب ﷻ په ایتونو باندې نه پوهېږي.

ب: همدارنګه مونږ د دوی په غوږونو باندې معنوي کوڼوالی اچولی دی چې حقایق او قناعت ورکوونکي دلایل نه اوري.

نو ترڅو پورې چې کفار د ذکر شوي کیفیت درلودونکي وي هیڅکله به ورته ستا دعوت ګټه ونه شي رسولی او هیڅکله به په دغه وخت کښې دوی حقه لاره موندہ نه کړي که څه هم بل څوک نه بلکې همدا نه ورته دعوت ورکړې او حقې لارې ته یې در وبلې.

۸_ ای پیغمبره! ستا رب ﷻ بښونکی او مهربان دی چې ذکرو شوو کفارو ته په دنیا کښې لا د ژوند کولو فرصت ورکوي او بېخ او بنیاد یې نه وباسي، که نه نو که ستا رب ﷻ دوی په جنایاتو باندې سمدستي نیولي وی نو ضرور به یې په توندی او جلتی سره ورباندې عذاب ورنازل کړی وی او د ژوند کولو فرصت به یې ترې اخستی وی.

یا په بل عبارت ستا رب ﷻ کفارو ته د فرصت ورکولو په اعتبار سره غفور او رحیم دی، چې مهلت یې ورکړی دی، مګر د عفوې په اعتبار سره پرې غفور او رحیم نه دی چې بالکل ورته کفر عفوه کړي او د نیولو څخه په دائمي توګه نجات ورکړي.

نو د عذاب د تاخیر وجه یې بله نه ده بلکې فقط همدا ده چې ټاکلې نېټه یې نه ده رارسېدلې او ستا د رب ﷻ په نزد د هر شي دپاره وخت ټاکلی دی.

نو کله چې د کفارو د عذاب نېټه راورسېږي هیڅکله به ترې نجات مونده نه کړي او نه به کوم ځای مونده کړي چې خپل ځانونه ترې بچ کړي.

۹_ دغه پخوانې قومونه لکه عادیان او ثمودیان او نور مونږ د بل شي د کبله نه دي هلاک کړي بلکې فقط د همدې کبله چې لوی ظلم یې کړی وه او په کفر باندې کلک وه. خو د هر قوم

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هلاکولو دپاره وخت ټاکلی شوی وه نو کله به چې ټاکلې وخت وروړسېد بیا مو یوه قوم ته هم فرصت ورنه کړ او یوه قوم هم پناځای مونده نه کړ.

## توضیحات

۱_ په ﴿ وَكَانَ ٱلْإِنسَٰنُ أَكْثَرَ شَيْءٍ جَدَلًا ﴾ کښې د ﴿ شَيْءٍ ﴾ کلمه د هر هغه څیز څخه عبارت ده د کوم څخه چې جدال او جګړه متصوره وي لکه پرښتې او پیریان او انسانان[1].

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې د هر هغه شي د جګړې څخه د انسان جګړه ډېره ده د کوم څخه چې د جګړې کولو امکان دی.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه دلته د جګړې څخه هغه جګړه مراده ده کومه چې د باطلو په بنیاد باندې څرګنېږي. لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: چې د ښکاره معجزاتو سره-سره د پیغمبر په نبوت کښې جګړه کوي.

ب: چې د مقابلې د ناتوانی سره-سره د قرآن کریم په حقانیت کښې جګړه کوي. لکه چې په راتلونکې ایت کښې ورته اشاره شوې ده چې: ﴿ وَيُجَٰدِلُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِٱلْبَٰطِلِ لِيُدْحِضُوا۟ بِهِ ٱلْحَقَّ ﴾ یعنې کفار د دې دپاره په باطل ډول باندې جګړې کوي ترڅو پرې د حق مخه ونیسي او د منځه یې یوسي.

لنډه دا چې دلته هغه جګړه مراده نه ده کومه چې په حقایقو باندې ولاړه وي چې په [النحل:۱۲۵] ایت کښې یې پوره وضاحت تېر شوی دی، او د موسی ﷺ او د خضر ﷺ په قیصه کښې یې یو مثال راروان دی.

په هر تقدیر دلته د ځینو انسانانو کړنلاره ټولو ته منسوبه شوې ده، لکه چې دا ډول نسبت په محاوراتو کښې جاري دی چې د [البقرة:۷۲] ایت لاندې یې شرحه تېره شوې ده، والحمد لله ﷻ.

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې په ﴿ إِلَّآ أَن تَأْتِيَهُمْ سُنَّةُ ٱلْأَوَّلِينَ أَوْ يَأْتِيَهُمُ ٱلْعَذَابُ قُبُلًا ﴾ کښې د ﴿ سُنَّةُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴾ څخه خو عذاب مطلب دی چې عین په همدغې معنی باندې په ﴿ أَوْ يَأْتِيَهُمُ ٱلْعَذَابُ قُبُلًا ﴾ کښې صراحت شوی دی، نو پوښتنه دا ده چې: ایا په دغه مقام کښې د "أو" د توري استعمال صحت لري؟ حال دا چې دغه توری د متغایرینو په منځکښې استعمالېږي.

مونږ وایو چې: د ﴿ سُنَّةُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴾ څخه دنیاوي عذاب مطلب دی او د ﴿ ٱلْعَذَابُ ﴾ څخه اخروي عذاب مراد دی[2] چې دواړه سره متغایرین دي، نو حاصل یې هاغسې راځېږي لکه څنګه چې په خلاصه مطلب کښې ورته اشاره شوې ده.

---

[1] تفسیر الکشاف ج۲ ص۷۲۹: حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۳ ص۲۶۵

[2] تفسیر ابي السعود ج۵ ص۲۳۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ادحاض څه معنی؟

۳_ په ﴿ لِيُدۡحِضُواْ بِهِ ٱلۡحَقَّ ﴾ کښې د "لِيُدۡحِضُوۡ" کلمه چې "ن" یې ساقط شوی دی د "اِدۡحَاضۡ" _لکه "اِكۡرَامۡ"_ څخه اشتقاقه شوې ده، چې د زائل کولو او د منځه وړلو معنی ورکوي[1] یعنې کفار په ناحقه او عنادي ډول سره په باطل باندې د حق مقابله او جګړه کوي ترڅو حق د منځه یوسي خو دا کار به هیڅکله ونه کړی شي الله ﷻ اراده کړې ده چې په حق باندې ټوله دنیا رڼا کړي او د اسلام پلوشې هر ګوټ ته ورسوي.

## یادونه

۴_ په ﴿ بَل لَّهُم مَّوۡعِدٞ ﴾ کښې علماوو کرامو د "موعد" کلمه په لاندې دوه ډوله باندې تفسیره کړې ده:

الف: د ﴿ مَّوۡعِدٞ ﴾ څخه د بدر مقام مطلب دی[2] کله چې د کفارو اویا (۷۰) نفره مشران اسیران کړی شوه او هم یې اویا (۷۰) نفره ووژل شوه.

ب: د ﴿ مَّوۡعِدٞ ﴾ کلمه د قیامت د ورځې څخه عبارت ده[3] چې ډېره نژدې راروانه ده.

مونږ ته بهتره بریښي چې د ﴿ مَّوۡعِدٞ ﴾ څخه "مَا يُطۡلَقُ عَلَيۡهِ الۡمَوۡعِدُ" (هر هغه شی چې د موعد اطلاق پرې کېږي) واخستله شي ترڅو آن د قیامته پورې د عذاب ټولو خایونو او وختونو ته شامله شي.

﴿ وَإِذۡ قَالَ مُوسَىٰ لِفَتَىٰهُ لَآ أَبۡرَحُ حَتَّىٰٓ أَبۡلُغَ مَجۡمَعَ ٱلۡبَحۡرَيۡنِ أَوۡ أَمۡضِيَ حُقُبٗا ﴿٦٠﴾
فَلَمَّا بَلَغَا مَجۡمَعَ بَيۡنِهِمَا نَسِيَا حُوتَهُمَا فَٱتَّخَذَ سَبِيلَهُۥ فِي ٱلۡبَحۡرِ سَرَبٗا ﴿٦١﴾ فَلَمَّا جَاوَزَا
قَالَ لِفَتَىٰهُ ءَاتِنَا غَدَآءَنَا لَقَدۡ لَقِينَا مِن سَفَرِنَا هَٰذَا نَصَبٗا ﴿٦٢﴾ قَالَ أَرَءَيۡتَ إِذۡ أَوَيۡنَآ إِلَى
ٱلصَّخۡرَةِ فَإِنِّي نَسِيتُ ٱلۡحُوتَ وَمَآ أَنسَىٰنِيهُ إِلَّا ٱلشَّيۡطَٰنُ أَنۡ أَذۡكُرَهُۥۚ وَٱتَّخَذَ سَبِيلَهُۥ فِي
ٱلۡبَحۡرِ عَجَبٗا ﴿٦٣﴾ قَالَ ذَٰلِكَ مَا كُنَّا نَبۡغِۚ فَٱرۡتَدَّا عَلَىٰٓ ءَاثَارِهِمَا قَصَصٗا ﴿٦٤﴾ فَوَجَدَا عَبۡدٗا
مِّنۡ عِبَادِنَآ ءَاتَيۡنَٰهُ رَحۡمَةٗ مِّنۡ عِندِنَا وَعَلَّمۡنَٰهُ مِن لَّدُنَّا عِلۡمٗا ﴿٦٥﴾ قَالَ لَهُۥ مُوسَىٰ هَلۡ
أَتَّبِعُكَ عَلَىٰٓ أَن تُعَلِّمَنِ مِمَّا عُلِّمۡتَ رُشۡدٗا ﴿٦٦﴾ قَالَ إِنَّكَ لَن تَسۡتَطِيعَ مَعِيَ صَبۡرٗا ﴿٦٧﴾

---

(۱) مفردات الراغب ص۱۶۷
(۲) تفسیر الطبري ج۱۵ ص۲۶۹
(۳) تفسیر البغوي ج۳ ص۱۶۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وَكَيْفَ تَصْبِرُ عَلَىٰ مَا لَمْ تُحِطْ بِهِۦ خُبْرًا ﴿٦٨﴾ قَالَ سَتَجِدُنِىٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ صَابِرًا وَلَآ
أَعْصِى لَكَ أَمْرًا ﴿٦٩﴾ قَالَ فَإِنِ ٱتَّبَعْتَنِى فَلَا تَسْـَٔلْنِى عَن شَىْءٍ حَتَّىٰٓ أُحْدِثَ لَكَ مِنْهُ ذِكْرًا
﴿٧٠﴾ فَٱنطَلَقَا حَتَّىٰٓ إِذَا رَكِبَا فِى ٱلسَّفِينَةِ خَرَقَهَا ۖ قَالَ أَخَرَقْتَهَا لِتُغْرِقَ أَهْلَهَا لَقَدْ جِئْتَ
شَيْـًٔا إِمْرًا ﴿٧١﴾ قَالَ أَلَمْ أَقُلْ إِنَّكَ لَن تَسْتَطِيعَ مَعِىَ صَبْرًا ﴿٧٢﴾ قَالَ لَا تُؤَاخِذْنِى بِمَا
نَسِيتُ وَلَا تُرْهِقْنِى مِنْ أَمْرِى عُسْرًا ﴿٧٣﴾ فَٱنطَلَقَا حَتَّىٰٓ إِذَا لَقِيَا غُلَـٰمًا فَقَتَلَهُۥ قَالَ أَقَتَلْتَ
نَفْسًا زَكِيَّةًۢ بِغَيْرِ نَفْسٍ لَّقَدْ جِئْتَ شَيْـًٔا نُّكْرًا ﴿٧٤﴾ ﴾

[۶۰] او هغه وخت (یاد کړه) چې موسی عليه السلام خپل خدمتګار ته وویلې چې: زه به همېشه یم (چې مزل به کوم) آن تر دې چې مجمع البحرین ته ورسېږم (هلته خپل مطلوب مونده کړم) او یا به (هلته ډېره) زمانه تېره کړم (ترڅو چې خپل مرام حاصل کړم).

[۶۱] نو کله چې دواړه (موسی عليه السلام او د ده خدمتګار) د دواړو دریابونو منځ (مجمع البحرین) ته ورسېده نو دواړو هلته خپل ماهي (کب) هېر کړ نو ماهي خپله لاره په دریاب کښې د سورنګ (تونل) په شکل ونیوله.

[۶۲] نو کله چې دواړه (روان شوه او څه وړاندې یې) تجاوز وکړ (تېر شوه) نو موسی عليه السلام خپل خوان (خدمتګار) ته وویلې چې: مونږ ته خپل سباناری راکړه، یقیناً چې مونږ د خپل دغه سفر څخه د سختی (ستومانی) سره ملاقي شوه.

[۶۳] خدمتګار وویلې چې: ایا ته ماته خبر راکړه (ایا ته خبر نه یې؟) چې مونږ (په پرونی مینه کښې) کله مو چې ډبرې ته پنا وېوړه (هلته مو ارام وکړ) نو یقیناً ما (هلته) ماهي هېر کړ (د هغه عجیبه حالت مې تاته بیان نه کړ) او زما څخه هغه (ماهي) هیڅ شي هېر نه کړ مګر شیطان (راڅخه هېر کړ) چې (تاته) یې (عجیبه قیصه) یاده کړم، (هغه دا چې ماهي ژوندی شو) او خپله لاره یې په دریاب کښې په عجیبه توګه ونیوله.

[۶۴] موسی عليه السلام وویلې چې دغه (په هغه شي باندې دلالت کوي) چې مونږ یاستو چې غواړو یې (مونږ یې په پلټنه پسې راوتلي یاستو).

نو دوی دواړه په خپلو قدمونو باندې بېرته په داسې حال کښې تاو شوه چې خپل قدمونه یې بیانول (لټول چې لیدلې لاره خطا نه کړي).

[۶۵] نو (چې بېرته ورسېده هلته یې) زمونږ د بندګانو څخه یو داسې بنده مونده کړ چې مونږ د خپله نزده لوی رحمت (نبوت) ورکړی وه او د خپله جانبه مو (غیبي) علم ورزده کړی وه (چې وحې پورې یې ارتباط درلود).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۶۶] موسی ﷺ ورته وویلې چې: ایا زه ستا متابعت (پیروي) وکړم په دې شرط چې ته ماته د هغه علم څخه کوم چې تاته درزده کړی شوی دی د سمې لارې ښودونکی علم رازده کړې؟.

[۶۷] (زمونږ بنده ورته په جواب کښې) وویلې چې: په یقینې ډول ته به هیڅکله زما سره د صبر کولو (اوسېدلو) توان ونه لرې.

[۶۸] او ته به څنګه په هغه شي باندې صبر وکړې په کوم باندې چې تا د خبرو د حیثه احاطه نه وي کړې؟ (او ستا په شریعت کښې جواز ونه لري).

[۶۹] موسی ﷺ وویلې چې ژر دی چې ته به ما، که د الله ﷻ خوښه وي، صبر کوونکی مونده کړې او زه به تالره په امر کښې عصیان (نافرماني) ونه کړم.

[۷۰] (نو زمونږ بنده وویلې چې: نو که ته زما متابعت کوې (او زما سره ګرځې راګرځې) نو زما څخه د هیڅ شي پوښتنه مه کوه ترڅو چې زه تاته د هغه څخه څه ذکر شروع کړم (او زه یې درته پخپله بیان کړم).

[۷۱] نو دواړه روان شوه آن تر دې چې دواړه په بېړۍ کښې سواره شوه، (نو زمونږ بنده) بېړۍ څیرې (سورۍ) کړه.

(نو موسی ﷺ (ورته) وویلې چې ایا تا بېړۍ څیرې (سورۍ) کړه چې د بېړۍ (ټول) اهل (سورلۍ) غرقې (په اوبو کښې ډوبې) کړې؟

یقینًا چې تا په یوه لوی کار باندې راتګ وکړ (او باید دا دې نه وی کړی).

[۷۲] (زمونږ بنده) وویلې چې: ایا ما نه وه ویلي چې یقینًا ته به هیڅکله زما سره د صبر کولو توان ونه لرې؟

[۷۳] موسی ﷺ وویلې چې: ته ما په هغه شي باندې مه نیسه کوم چې ما هېر کړی دی، او ته زما د کار څخه ما په سختۍ کښې مه پټوه (په هېرېدلو باندې مې مه ملامته کوه).

[۷۴] نو (بیا) دواړه روان شوه تر دې چې دواړه د یوه هلک (ماشوم) سره ملاقي شوه نو (زمونږ بنده) هغه وواژه، (نو موسی ﷺ ورته) وویلې چې: ایا تا (د ګناه څخه) پاک نفس بدون د بل نفس (د قصاصه) وواژه؟ یقینًا چې تا په داسې شي باندې راتګ وکړ چې (په شریعت کښې بالکل) ناآشنا دی (او ستا سره هیڅ مناسب نه دی).

## ارتباطونه

۱ـ د دې سورت په [۲۳، ۲۴] ایتونو کښې نبي کریم ﷺ ته په "إن شاء الله" ویلو باندې توصیه شوې وه او دلته عین کلمات د موسی ﷺ څخه حکایت شوي دي، چې خضر ﷺ ته یې په إن شاء الله سره وعده ورکړه.

۲ـ په وړاندېنیو ایتونو کښې دې ته اشاره شوې وه چې بنیادم جګړه مار دی، په دې ایتونو کښې د جانېزې جګړې یو مثال ښودلی شوی دی چې د موسی ﷺ او خضر ﷺ ترمنځ یې صورت نیولی وه.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳_ هلته دا مضمون هم شامل وه چې پيغمبران صرف د تشريعاتو (بشارت او انذار) دپاره استولی کيږي او صرف د تشريعاتو پورې مربوط علوم ورکولی کيږي، دلته همدا مضمون تائيد شوی دی چې موسی ﷺ ته په تکويناتو باندې علم نه وه ورکړی شوی که نه نو په خضر ﷺ باندې به يې اعتراض نه وی کړی چې بېړۍ دې ولې تخريب کړه او ماشوم دې ولې ووژه او بالآخره د شوم قوم پورې مربوط ديوال دې ولې د نړېدلو څخه بچ کړ؟.

۴_ هلته د کفارو څخه د علومو سپکاوی حکايت شوی وه چې په الهي ايتونو پورې ملنډې وهې او دلته د علومو قدرداني نزول موندلی دی چې حتی موسی ﷺ (اولو العزم پيغمبر) هم ورپسې سفر کړی دی.

## د مطلب خلاصه

يعنې ای پيغمبره! په خپل امت باندې د حکمتونو او عبرتي درسونو په بنياد د موسی ﷺ او د خضر ﷺ د قيصې مهم نکات په لاندې ډول باندې قرائت کړه:

۱_ د هر څه څخه وړاندې هغه وخت ياد کړه چې موسی ﷺ د يوه علمي سفر اراده وکړه او د خپل خان سره يې يو خدمتګار هم ملګری کړ ترڅو په دغه اوږده سفر کښې ورسره کومک وکړي.

۲_ موسی ﷺ خپل ملګری د سفر په مطلب باندې خبر کړ او د خپلې کلکې ارادې په کيفيت يې ورته په واضحه ټکو کښې صراحت وکړ ترڅو هغه هم د اوږده سفر د مشکلاتو ګاللو التزام وکړي.

۳_ نو په صريحو الفاظو کښې يې خپل ملګري مخاطب کړه چې زه به خپل دغه سفر ته ترهغه ادامه ورکوم ترڅو چې مجمع البحرين ته ورسېږم او هلته د هغه چا سره ملاقي شم د کوم څخه چې زه د څه علومو د زده کولو نيت لرم. که هلته مې سمدستي مونده نه کړ نو زه به تر ډېرو کلونو او تر اوږدې زمانې پورې ګرځم راګرځم ترڅو په خپل مطلب باندې بريالی شم.

۴_ کله چې موسی ﷺ او د ده ملګری د مجمع البحرين پراخې منطقې ته ورسېده نو هلته دواړو هغه ماهي (کب) هېر کړ کوم چې دوی دواړو د توښې (خوړې) په توګه درلود چې تفصيل يې دا دی:

الف: هلته يې د يوې لويې ډبرې د سورې لاندې ارام وکړ او دمه يې جوړه کړه.

ب: د ارام کولو په حال کښې موسی ﷺ ويده شو او ملګری يې يا د حالاتو د مراقبت په منظور وېښ ناست وه او يا د موسی ﷺ څخه وړاندې راوېښ شو.

ج: په دغه وخت کښې يوه ډېره عجيبه واقعه پېښه شوه هغه دا چې: د دوی دواړو هغه وريت کړی شوی ماهي (کب) ژوندی شو او درياب ته يې خپل خان ورواچاوه.

د: په درياب کښې يې د نورو کبانو (ماهيانو) په څېر تلل ونه کړه بلکې په ډېره عجيبه توګه په درياب کښې ورننووت چې د خط السير څخه يې تونل (سورنګ) جوړ شو او تا به ويل چې په اصطلاح په اوبو کښې ناليدلی پيپ اينودلی شوی دی.

هـ: بيا دوی دواړو د ارام کولو څخه وروسته د مجمع البحرين په لويه منطقه کښې خپل سير او منزل ته ادامه ورکړه.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



و: بیا موسی ﷺ خپل ملګری (یوشع ﷺ) مخاطب کړ چې:
ز: زمونږ سباناری راوړه چې څه خوراک څښاک وکړو او د دوهم ځل دپاره څه دمه جوړه کړو چې د دغه سفر د کبله زیات ستومانه شوو کوم چې مونږ د وړاندېنۍ ارامګاه څخه پیل کړی دی.

## د موسی ﷺ د ملګري جواب:

۵ـ ملګري موسی ﷺ مخاطب کړ چې: ای کلیم الله! ایا تا هغه شی ولید کوم چې ما ولید؟ ایا ته په هغه شي باندې خبر شوې په کوم چې زه خبر یم؟ هغه دا چې:
الف: کله چې مونږ د ډېرې د سوري لاندې ارام وکړ او ته ویده شوې نو هلته زمونږ هغه وریت کړی شوی ماهي (کب) ژوندی شو او دریاب ته یې ورټوپ کړ کوم چې مونږ د توښې په توګه درلود (د کوم چې ته غوښتنه کوې او غواړې چې سبا ناری پرې وکړې).
ب: زما زړه وه چې کله ته د خوب څخه راپېدار شي نو زه به تاته د کب (ماهي) ټوله قیصه د اول څخه تر آخره پورې بیانه کړم خو ما دغه قیصه ټوله هېره کړه او ته مې پرې خبر نه کړې.
ج: زما څخه د ماهي د کیفیت بیان بل شي هېر نه کړ مګر د شیطان وسوسو زما د ذهن څخه وویست چې زه یې تاته یاد کړم او تا پرې خبر کړم.
د: ای کلیم الله! د هغه ځای څخه د راروانېدلو په وخت کښې ستا څخه هم ماهي (کب) هېر شو او ماته دې د هغه تذکر ونه کړ، که بالفرض هلته یې ستا د پلوه څه تذکر شوی وی نو ماته به ټوله قیصه راپه زړه شوې وی.
ه: د ماهي (کب) قیصه داسې شوه چې د دې سره-سره چې هغه وریت کړی شوی وه راژوندې کړی شو او دریاب ته یې ټوپ کړ تابه ویل چې نه ترې سا وتلې ده او نه وریت کړی شوی دی.
و: نوموړي په دریاب کښې عجیبه لاره ونیوه چې د خط السیر څخه یې سورنګ جوړ شو او په نرمو اوبو کښې یې داسې نقش پرېښود لکه چې کلکه ډبره سوری کړی شي.

## موسی ﷺ د خپل هدف نښه مونده کړه:

۶ـ په ذکره شوې ماجرا باندې د پوهېدلو څخه وروسته موسی ﷺ خپل ملګری مخاطب کړ چې همدغه د ماهي د ورکېدلو ځای هغه ځای دی په کوم کښې چې مونږ خپل مطلوب او هدف لټوو.
۷ـ نو د همدې کبله دواړه بېرته ستانه شوه ترڅو هغه مکان ته ورشي په کوم کښې چې دوی دواړو ارام کړی وه او ماهي پکښې دریاب ته ورټوپ کړي وه.
دواړو په ډېر دقت سره د خپلو قدمونو نښې (پلونه) تعقیب کړه ترڅو خپل هدف ته ورسېږي او لاره خطا نه کړي.

## موسی ﷺ خپل هدف ته ورسېد:

۸ـ کله چې موسی ﷺ او د ده ملګری د ماهي د ورکېدلو مقام ته ورسېده هلته یې زمونږ د بندګانو د جملې څخه داسې یو بنده مونده کړ چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: هغه ته مونږ د خپله نزده رحمت ورکړی وه او وحې مو ورته کړې وه.
ب: هغه ته مونږ د خپل غیبي علم څخه علم ورکړی او وربښودلی وه، البته هغه غیبي علم کوم چې مونږ موسی ﷺ ته نه وه ورکړی.

## د موسی ﷺ او د خضر ﷺ سوال جواب:

۹_ د ملاقات څخه وروسته موسی ﷺ او خضر ﷺ یو تربله لاندې سوال جواب وکړ:

الف: موسی ﷺ وړاندیز وکړ چې: ایا ته ماته د دې خبرې فرصت راکوې چې زه ستا سره وګرځم راوګرځم (ستا پیروي وکړم) ترڅو ته ماته د هغه علم څخه کوم چې تاته د الله ﷻ د پلوه دربښودلی شوی دی څه داسې علم رازده کړې چې ماته خیر ورسوي او زما د رشد (په سمه لاره باندې د تللو سبب جوړ شي.

ب: خضر ﷺ د موسی ﷺ وړاندیز رد کړ او ورته یې وویل چې ستا په توان کښې نشته چې زما سره وګرځې راوګرځې او هغه کارونه وګورې کوم چې ستا په شریعت کښې نااشنا او نه پېژاندل شوي دي. یا په بل عبارت ته زما په کارونو باندې صبر نه شې کولی او هرومرو به په مابانډې اعتراض وکړې او د لیدلو حوصله به یې ونه لرې.

ج: موسی ﷺ هغه ته په "إن شاء الله" ویلو سره وعده ورکړه چې که د الله ﷻ خوښه وي نو ته به ما صابر مونده کړې او په تا باندې به نه اعتراض وکړم او نه به ستا د امر څخه نافرماني او مخالفت وکړم.

د: نو خضر ﷺ په موسی ﷺ باندې دا شرط کړه چې که ته زما پیروي کوې او غواړې چې زما څخه څه زده کړې نو زما څخه به د یوه شي هم پوښتنه نه کوې او ترهغه به ساکت اوسې ترڅو زه پخپله تاته د خپل کار ذکر وکړم او وجه یې درته بیانه کړم چې ته وربانډې قانع شې.

هـ: موسی ﷺ همدغه شرط قبول کړ او د دواړو معاهده په ذکرو شوو شرطونو باندې ختمه شوه.

## دواړه روان شوه:

۱۰_ د ذکرې شوې معاهدې څخه وروسته دواړه روان شوه او په یوه بېړۍ کښې سواره شوه نو:

الف: خضر ﷺ د بېړۍ څخه یوه د لرګي تخته وویستله او سوری (څیرې) یې کړه.

ب: موسی ﷺ پرې اعتراض وکړ چې تا خو عجیبه کار وکړ، ایا تا په دریاب کښې بېړۍ سوری کړه چې اوبه پکښې راوخوتېږي او د بېړۍ خلک ټول غرق شي؟، یا په بل عبارت ته خو په دغه کار سره یوازې خپل ځان او خپل ملګري نه وژنې بلکې د بېړۍ ټول سواره دې د هلاکت سره مخامخ کړه، یقیناً چې د ضرر د حیثه دې ډېر لوی کار وکړ.

ج: خضر ﷺ ورته نور څه ونه ویلې فقط خپلې معاهدې ته یې متوجه کړ او خپله خبره یې وریه یاده کړه چې: ایا ما نه وه ویلي چې ته زما سره د اوسېدانې او صبر کولو توان نه لرې؟

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: موسی ﷺ اعتذار وړاندې کړ چې ما خپله معاهده هېره کړې وه څکه مې درباندې اعتراض وکړ، نو د دې خطا څخه راتېر شه او زما په کار کښې سختي مه کوه چې په اول ځل مې د خپله ځانه جدا کړې.

بیا روان شوه:

۱۱ـ خضر ﷺ د موسی ﷺ اعتذار قبول کړ نو بیا دواړه روان شوه حتی چې دواړه د یوه ماشوم هلک سره ملاقي شوه نو:

الف: خضر ﷺ ذکر شوی ماشوم وواژه.

ب: د موسی ﷺ بیا حوصله تنګه شوه او په اعتراض باندې یې پیل وکړ چې عجیبه کار دې وکړ چې یو بې ګناه انسان دې وواژه چې هغه څوک وژلی هم نه وه چې ورباندې دې قصاص کړی وي؟ بې شکه چې یو نااشنا کار دې وکړ چې ستا سره هیڅ مناسبت نه لري.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ وَإِذۡ قَالَ مُوسَىٰ لِفَتَىٰهُ ﴾ کښې د "فتی" کلمه نوي او تازه ځوان ته ویل کېږي[۱] خو د خادم په معنی باندې هم استعمالېږي[۲] په دې مقام کښې همدغه معنی مراده ده د همدې کبله یې موسی ﷺ ته اضافت شوی دی او د همدې کبله تري موسی ﷺ د خدمت غوښتنه کړې ده چې: ﴿ ءَاتِنَا غَدَآءَنَا ﴾ مونږ ته زمونږ سباناری راکړه.

مفسرین کرام وایي چې: نوموړی ځوان یوشع بن نون ﷺ نومېده او د یوسف ﷺ د نسل څخه وه او د موسی ﷺ د خور زوی وه[۳].

۲ـ په ﴿ لَآ أَبۡرَحُ حَتَّىٰٓ أَبۡلُغَ مَجۡمَعَ ٱلۡبَحۡرَيۡنِ ﴾ کښې د ﴿ لَآ أَبۡرَحُ ﴾ کلمه د "لا أزالُ" معنی ورکوي چې د افعال ناقصه وو څخه ده او خبر یې مقدر دی چې په "أسيرُ" سره تري تعبیر کوو[۴]، یعني زه به زائل نه شم (زه به همېشه یم) چې مزل (سیر) به کوم ترڅو چې زه مجمع البحرین ته ورسېږم، او یا ډېر کلونه (ډېره زمانه) تېره کړم.

اما د مجمع البحرین په مفهوم کښې اختلاف نشته چې د هغه ځای څخه عبارت دی په کوم کښې چې دوه دریابونه سره ګډ شوي وي، خو اختلاف په دې کښې دی چې دغه دواړه دریابونه کوم-کوم دی او په کوم ځای کښې سره ګډ شوي دي؟.

لنډه دا چې علماوو کرامو یې په تعین کښې ډېر اقوال کړي دي[۵] لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

---

(۱) مفردات الراغب ص۲۸۶
(۲) لسان العرب ج۵ ص۱۴۷
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۹۲؛ المحرر الوجیز ج۱۰ ص۴۲۰
(۴) تفسیر الکشاف ج۲ ص۷۳۱
(۵) تفسیر القرطبي ج۱۱ ص۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: دواړه بحرونه د فارس د بحر او د روم د بحر څخه عبارت دي مګر د دواړو د اجتماع څخه قرب او نژدېکت مراد دی[1] ځکه چې دغه دواړه دریابونه سره یو تربله نژدې شوي دي مګر ګډ شوي نه دي بلکې دواړه په بحر محیط کښې توېږي او هلته جدا جدا ورګډېږي.

ب: دواړه بحرونه د بحر الاردن او بحر القلزم څخه عبارت دي[2].

ج: دغه دواړه بحرونه په افریقا کښې موقعیت لري[3].

د: مجمع البحرین د هغه ځای څخه عبارت دی په کوم کښې چې د (البحر الأبیض، البحر الأرزق) سپین دریاب او شین دریاب دواړه یو د بل سره ګډ شوي دي چې په اوسنۍ زمانه کښې د خرطوم په نامه یادېږي چې د سوډان مرکز (پلازمېنه) ده[4].

مونږ ته همدغه څلورم نظر په زړه پوری برېښي چې د نقشې د مخې مصر او سوډان سره نژدې دي او غالبه دا ده چې ذکره شوې قیصه به په هغه وخت کښې پېښه شوې وي په کوم کښې چې موسی ﷺ په مصر کښې وه او فرعون ښه په غورو پش کښې په بني اسرائیلو باندې خپل تېری او ظلم ته ادامه ورکوله. لکه چې په ځینو روایاتو کښې وربانديې صراحت شوی دی[5]، والله ﷻ أعلم.

د جهاد په دوران کښې[6] مونږ ذکر شوی مجمع البحرین لیدلی دی او کومه عجیبه قیصه چې هلته پېښه شوه هغه مو د [البقرة:۱۷۳] ایت لاندې لیکلې ده، والحمد لله ﷻ.

## حُقُب څه معنی؟

۳_ په ﴿ أَمْضِيَ حُقُبًا ﴾ کښې د "حُقُب" کلمه مفرده ده چې په "أحقاب" _لکه "أعناب"_ باندې جمعه کېږي[7]، په دې مقام کښې مفسرینو کرامو د ذکرې شوې کلمې په معنی کښې متعدد قولونه کړي دي چې تقریبًا نهو یا لسو ته رسېږي[8]، لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: د "حُقُب" کلمه د اتیا (۸۰) کالو څخه عبارت ده.

ب: او یا (۷۰) کاله د "حُقُب" په نامه یادېږي.

ج: اوه زره (۷۰۰۰) کالو ته "حُقُب" وایي.

د: اتیا زره (۸۰۰۰۰) کاله د "حُقُب" په نامه بلل کېږي او داسې نور.

مګر مونږ ته هغه معنی په دې مقام کښې په زړه پورې برېښي کومه چې د عبد الله بن عباس

---

(۱) روح المعاني ج۱۵ ص۳۱۲
(۲) تفسیر القرطبي ج۱۱ ص۹
(۳) تفسیر البغوي ج۳ ص۱۷۱
(۴) تفهیم القرآن ج۳ ص۴۶
(۵) روح المعاني ج۱۵ ص۳۱۳
(۶) ۱۳۶۳/۷/۳ هـ ش
(۷) لسان العرب ج۱ ص۳۲۶
(۸) روح المعاني ج۱۵ ص۳۱۲؛ زاد المسیر ج۵ ص۱۱۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



رضي الله عنهما څخه روايت شوې ده هغه دا چې د "حُقُب" کلمه د مطلق زمان (الدهر) څخه عبارت ده[۱] دغه معنی په ټولو معناوو باندې شامله ده چې يوه هم ترې نه ده وتلې.

## سوال جواب

۴_ که څوک وايي چې نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې يوه ورځې موسی ﷺ په بني اسرائيلو کښې خطابه ورکړه نو چا ترې پوښتنه وکړه چې په خلکو کښې څوک ډېر پوه دی؟ موسی ﷺ جواب ورکړ چې: زه ډېر پوه يم (چې د وخت پيغمبر يم او وحې راته کېږي)، خو دغه جواب د الله ﷻ خوښ نه شو؛ (مناسب وه چې په "الله ﷻ أعلم" سره يې جواب ورکړی وی چې الله ﷻ ډېر ښه پوهېږي چې زما څخه به په نني زمانه کښې بل څوک زيات پوه وي او که نه؟). «فَأَوْحَى اللهُ إِلَيْهِ أَنَّ لِيْ عَبْدًا بِمَجْمَعِ الْبَحْرَيْنِ هُوَ أَعْلَمُ مِنْكَ»[۲] نو الله ﷻ ورته وحې وکړه چې يقيناً ماته په مجمع البحرين کښې يو بنده دی چې ستا څخه ښه پوه دی؛ نو پوښتنه دا ده چې څه وجه ده چې موسی ﷺ د ﴿ حَتَّىٰٓ أَبۡلُغَ مَجۡمَعَ ٱلۡبَحۡرَيۡنِ ﴾ په کلماتو باندې اکتفاء ونه کړه او د ﴿ أَوۡ أَمۡضِيَ حُقُبٗا ﴾ کلمات يې خپل خادم ته ورواورول، حال دا چې هغه ته خو مجمع البحرين بالخاصه ښودلی شوی وه؟

مونږ وايو چې: ذکر شوی اعتراض به په هغه وخت کښې په ځای وی که د مجمع البحرين څخه بعينه هغه مقام مطلب وی په کوم کښې چې دوه دريابونه يو د بل سره ګډ شوي دي او يو درياب ترې جوړ شوی دی بلکې دلته د مجمع البحرين څخه هغه منطقه مراده ده په کومه کښې چې دواړو دريابونو ګډون موندلی وه، او دا ځکه چې:

الف: که بالفرض منطقه ترې مراده نه وی نو د وحې مطابق بايد موسی ﷺ د خضر ﷺ سره په درياب (بېړۍ) کښې ملاقي شوی وی حال دا چې دوی دواړه په وچې کښې يو ترېله ملاقي شوه.

ب: په ذکر شوي حديث کښې دا خبره هم روايت شوې ده چې: موسی ﷺ الله ﷻ ته عرض وکړ چې: ای ربه! زه به د ذکر شوي ښه عالم سره څنګه ملاقي شم؟ نو الله ﷻ جواب ورکړ چې: «تَأْخُذُ مَعَكَ حُوتًا فَتَجْعَلُهُ فِي مِكْتَلٍ فَحَيْثُ مَا فَقَدْتَ الْحُوتَ فَهُوَ ثَمَّ» ته به د خپل ځان سره يو ماهي (کب) واخلې او په ستل کښې به يې واچوې نو په کوم ځای کښې چې تا ذکر شوی کب (ماهي) ورک کړ نو ښه عالم هملته دی.

نو که بالفرض د مجمع البحرين څخه مشخص ځای مراد وی نو موسی ﷺ به همغه ځای ته خپل ځان رسولی وی نه به يې د ملاقات د کيفيت غوښتنه کړې وی او نه به الله ﷻ هغه ته د موندلو نښه ورښودلې وی. يا په بل عبارت په مجمع البحرين باندې صراحت کول (په اصطلاح) داسې ګڼلی کېږي لکه چې موسی ﷺ ته الله ﷻ ارشاد کړی وي چې ذکر شوی ښه عالم به په سوداڼ کښې مونده کړې، چې لويه او پراخه منطقه ده.

---

(۱) تفسير ابن کثير ج۳ ص۹۲
(۲) صحيح البخاري ج۲ ص۶۸۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


نو د موسی ﷺ د کلام حاصل داسې را اوځي چې زه به دوامداره مزل کوم ترڅو چې مجمع البحرین ته ورسېږم او هلته په خپل مطلب باندې فائز شم او یا به هلته ډېره زمانه په ګرځېدلو او لټولو تېره کړم ترڅو خپل مطلب ته ورسېږم.

پاتې شوه دا خبره چې د څه حکمت په بنیاد الله ﷻ د ملاقات دپاره د مجمع البحرین منطقې ته تخصیص ورکړ؟.

نو د دې جواب دا دی ـوالله ﷻ أعلمـ: ترڅو چاته د موسی ﷺ په ارتباط د کسر الشان خیال پیدا نه شي، ته به وایې چې خلک اشارةً په غوړ باندې وهلی شوي دي چې موسی ﷺ د علم د حیثه یو بحر وه چې د بل علمي بحر (خضر ﷺ) سره ملاقي شو.

د همدې حکمت څه زیات وضاحت ـإن شاء الله ﷻـ په راتلونکې (۱۱) توضیح کښې راروان دی.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۵ـ که څوک وایي چې الله ﷻ په ﴿ نَسِيَا حُوتَهُمَا ﴾ کښې د نسیان نسبت موسی ﷺ او یوشع ﷺ دواړو ته کړی دی حال دا چې دا کار خو یوازې د یوشع ﷺ څخه واقع شوی وه، د همدې کبله یې خپل اعتذار موسی ته وړاندې کړ چې ﴿ فَإِنِّي نَسِيتُ ٱلْحُوتَ ﴾ هلته ما کب (ماهي) هېر کړ؟

مونږ وایو چې:

الف: نسیان خو د دواړو څخه صورت نیولی وه مګر په کیفیت کښې سره بیل-بیل وه چې یوشع ﷺ د ماهي را اوچتول هېر کړه او موسی ﷺ ارشاد هېر کړ چې ما هي راواخله[1] (چې دلته درڅخه پاتې نه شي).

ب: د یوه ملګري کار کله بل ملګري یا ټول قوم ته هم نسبت کېږي نو د یوشع ﷺ نسیان داسې وګڼل شو لکه چې دواړو هېر کړی وي، د همدې قبیلې څخه لاندې حدیث شریف هم شمېرلی کېږي:

نبي کریم ﷺ یوه ورځې مالک بن الحویرث او د ده ملګري ته وویلې چې: «إِذَا حَضَرَتِ الصَّلَاةُ فَأَذِّنَا وَأَقِيمَا وَلْيَؤُمَّكُمَا أَكْبَرُكُمَا»[2] کله چې لمونځ حاضر شو نو دواړه اذان وکړئ او دواړه اقامت وکړئ او تاسو دواړو ته دې ستاسو دواړو مشر امامت وکړي.

پوره واضحه ده چې اذان او اقامت خو د یو نفر د پلوه صورت نیسي مګر دواړو ته پرې امر وکړی شو ته به وایې چې د یوه ملګري اذان او اقامت د بل ملګري د پلوه هم صورت نیولی دی.

## مړ ماهي ژوندی شو

۶ـ په ﴿ فَٱتَّخَذَ سَبِيلَهُۥ فِي ٱلْبَحْرِ سَرَبًا ﴾ کښې د ﴿ سَبِيلَهُۥ ﴾ ضمیر ماهي ته راجع دی یعنې مړ ماهي ژوندی شو او په دریاب کښې یې خپله لاره د سورنګ په توګه ونیوله.

---

(۱) تفسیر زاد المسیر ج۵ ص۱۱۶
(۲) سنن ابن ماجه ص۶۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ځینو علماوو کرامو لیکلي دي چې د هغې ډبرې ترڅنګ د کومې د سورې لاندې چې موسی ﷺ او یوشع ﷺ استراحت کړی وه د اوبو داسې چینه وه چې هیڅ (مړ) شي ته د هغې اوبه نه نژدې کېدلې مګر هغه به بېرته ژوندی کېده[1] څرنګه چې څڅکي شوي ماهي ته اوبه ورنژدې کړی شوې نو ژوندی شو.

خو مونږ ته دا هم څه لرې نه برېښي چې نوموړی ماهي به الله ﷻ په خارق العاده توګه ژوندی کړی وي لکه څنګه یې چې په خارق العاده ډول د دریاب په اوبو کښې سورنګ جوړ کړ.

## سرب او عجب څه فرق لري؟

٧ـ د "سَرَب" کلمه د تیټ ځای څخه عبارت ده[2] او د "عَجَب" کلمه د هغه شي څخه عبارت ده د کوم چې سبب نه پېژاندلی کېږي[3] په دې مقام کښې د دواړو کلمو مصداق یو شی دی هغه دا چې مړ ماهی ژوندی شو او اوبو ته یې ورټوپ کړه او اوبو د هغه خط السیر اشغال نه کړ بلکې لکه د سورنګ غوندې خلاص پاتې شو، او د همدغه کار ظاهراً سبب نه پېژاندل کېده.

نو ذکر شوی تونل (سورنګ) ته د ماهي په اعتبار سره د "سَرَب" لقب ورکړی شو او د موسی ﷺ او یوشع ﷺ په لحاظ سره ورته د "عَجَب" نوم کېښود شو[4].

## موسی ﷺ ستومانه شو

٨ـ کله چې موسی ﷺ د دمې جوړولو څخه وروسته نور مزل وکړ په اصطلاح د خپل هدف څخه په لا شعوري توګه وړاندې لاړ نو ستوماني وریېښه شوه نو ځکه یې خپل ملګری مخاطب کړ چې: ﴿ لَقَدْ لَقِينَا مِن سَفَرِنَا هَـٰذَا نَصَبًا ﴾ یقیناً مونږ ته د دغه سفر څخه چې د ډبرې د سورې څخه مو پیل کړی دی ستوماني او سختې راپېښه شوه.

څه لرې نه ده چې الله ﷻ به د دې دپاره ستومانه کړی وي ترڅو د سباناري غوښتنه وکړي او خپل ماهی وریه یاد شي چې بېرته وګرځي او په هدف باندې فائز شي.

## سوال جواب

٩ـ که څوک وایي چې په دې کښې څه حکمت دی چې الله ﷻ د یوشع ﷺ څخه د ماهي د قیصې په هکله دوه خبرې حکایت کړي چې:

الف: ﴿ نَسِيتُ ٱلْحُوتَ ﴾ یقیناً ما ماهی (د ماهي قیصه) هېره کړه.

ب: ﴿ وَمَآ أَنسَـٰنِيهُ إِلَّا ٱلشَّيْطَـٰنُ أَنْ أَذْكُرَهُ ﴾ زما څخه ماهی هېر نه کړ مګر شیطان، چې زه یې تاته یاد کړم (او قیصه یې درته وکړم).

---

(١) جامع الترمذي ج٢ ص١٤٧؛ عمدة القاري على البخاري ج١٩ ص٤١

(٢) مفردات الراغب ص٢٣٤

(٣) مفردات الراغب ص٣٣٣

(٤) صحيح البخاري ج٢ ص٦٨٧

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وايو چې: امکان لري چې يوشع ﷺ به خپلې هغې خبرې ته متوجه شوی وي کومه چې د ده د خولې څخه د موسی ﷺ سره په محاوره کښې وتلې وه. هغه دا چې:

موسی ﷺ خپل ملګري مخاطب کړ چې: زه په تاباندې زيات تکليف نه اچوم مګر دا چې ماته به په هغه ځای کښې خبر راکوي کله چې ستا څخه ماهی جدا شو (د ماهې په قیصه به مې خبروې).

يوشع ﷺ ورته د خولې څخه ووتل چې: «مَا كَلَّفْتَنِي كَثِيرًا»[1] چندان په ډېر (درانه) کار باندې خو دې مکلف نه کړم (دا خو اسان کار دی)، يا په بل عبارت: يوشع ﷺ د ماهي د مراقبت وعده ورکړه خو "إِنْ شَاءَ الله" يې ونه ويلې، خو بيا وروسته پوه شو چې دا شيطاني وسواس وه چې زما څخه د "إِنْ شَاءَ الله" ويل هېر شوه.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه که څوک غواړي چې د موسی ﷺ د ماهي (کب) په هکله بنه ډېر عجائب او غرائب ولولي چې تر اوسه پورې يې نسل باقي دی نو ځینو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[2].

## د خضر ﷺ په هکله معلومات

۱۰ـ په ﴿ فَوَجَدَا عَبْدًا مِّنْ عِبَادِنَآ ﴾ کښې د "عَبْد" څخه په دې مقام کښې د جمهورو علماوو په نزد خضر مراد دی، چې اصلي نوم يې "بَلْيَا بن مُلْكَان" دی[3] او نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِنَّمَا سُمِّيَ الْخَضِرَ لِأَنَّهُ جَلَسَ عَلَى فَرْوَةٍ بَيْضَاءَ فَاهْتَزَّتْ تَحْتَهُ خَضِرًا»[4] يعني خضر ﷺ ته دغه لقب ځکه اينبودلی شوی دی چې کله په سپينه ځمکه (چې زرغونه ورباندې نه وي) کيني نو (د ده د برکته) د ده لاندې ځمکه تکه شنه وګرځي، او زرغونه جوړه شي.

ځينو مفسرينو کرامو د خضر ﷺ او د موسی ﷺ د ملاقات قیصه ډېره مفصله او متصله ليکلې ده[5] او ځينو په همدې هکله بنه پوره ډېر احاديث راغونډ کړي دي[6] مګر مونږ د دوی دواړو د قیصې څخه صرف په هغو اجزاوو او د هغو احاديثو په ليکنه باندې اکتفاء کړې ده او اکتفاء پرې کوو کوم چې د ايتونو سره زيات اړوند لري، که د چا اوږدو بحثونو ته زړه نه په تنګېږي نو هيله ده چې هملته مراجعه وکړي.

همدارنګه شهاب الدين ابن حجر العسقلاني عليه الرحمة د خضر ﷺ په هکله په مختلفو اړخونو باندې بنه اوږد بحث کړی دی[7] مګر مونږ غواړو چې فقط په دوه وو موضوعګانو باندې لږ څه رڼا

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۸ ص۱۸
(۲) روح المعاني ج۱۵ ص۳۱۵
(۳) تفسير ابي السعود ج۵ ص۲۳۴
(۴) جامع الترمذي ج۲ ص۱۴۸
(۵) تفسير ابن کثير ج۳ ص۹۲؛ تفسير الطبري ج۱۵ ص۲۷۵، ۲۸۲
(۶) الدر المنثور ج۵ ص۴۰۹
(۷) الاصابة في تميز الصحابة ج۱ ص۴۲۹، ۴۵۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



واچوو او بس، یوه دا چې: خضر ﷺ یو پیغمبر وه، او بله دا چې: ایا خضر ﷺ ژوندی دی او که وفات شوی دی؟.

## اوله موضوع {خضر ﷺ پیغمبر وه}

۱۱_ که څه هم ځینې علماء کرام وایي چې خضر ﷺ د اولیاء الله څخه یو ولي وه، مګر موږ ته د لاندې وجوهو د کبله بهتره څرګندېږي چې هغه به د پیغمبرانو څخه یو پیغمبر وه:

اول: په ﴿ ءَاتَيْنَٰهُ رَحْمَةً مِّنْ عِندِنَا ﴾ کښې د ﴿ رَحْمَةً ﴾ کلمه نکره نازله شوې ده چې په عظمت باندې دلالت کوي او واضحه خبره ده چې لوی رحمت نه دی مګر نبوت (پیغمبري) ده، چې په همدې معنی باندې علماوو کرامو تفسیره کړې هم ده[1].

دوهم: په ﴿ وَعَلَّمْنَٰهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا ﴾ کښې د ﴿ عَلَّمْنَٰهُ ﴾ د کلمې څخه سړي ته په تبادر سره ذهن ته ورځي چې خضر ﷺ ته د کوم پیغمبر په ذریعه علم نه وه ورکړی شوی بلکې مستقیماً د وحې په ذریعه ورکړی شوی وه، دا د یوه پلوه او د بله پلوه د علم د کلمې څخه څرګندېږي چې د خضر ﷺ علم یقیني وه او د اولیاء الله الهامات او کشفیات خو یقیني نه وي او تحلیل او تحریمورباندې نه مرتبېږي حال دا چې د خضر ﷺ په علم باندې د هلک وژل او د بېړۍ تخریب دواړه جائز کړی شوي وه.

دریم: د واقعاتو په تفصیل کښې الله ﷻ د خضر ﷺ د خولې څخه په صراحت سره حکایت کړی دی چې: ﴿ وَمَا فَعَلْتُهُۥ عَنْ أَمْرِى ﴾ [الکهف:۸۲] یعنې دغه کار ما د خپله ځانه نه دی کړی بلکې ماته د الله ﷻ د پلوه امر شوی وه چې همدغسې وکړم.

څلورم: که بالفرض خضر ﷺ پیغمبر نه وی او وحې ورته نه وی شوې نو موسی ﷺ به یې اعتذار نه وی قبول کړی او قناعت به یې پرې نه وی کړی چې تاته په کوم دلیل د غلام وژل او د بېړۍ تخریبول جائز ګرځولی شوي دي؟، عجیبه دا ده چې موسی ﷺ د خضر ﷺ په نبوت باندې قانع وه خو ځینې علماء کرام پرې قناعت نه لري.

یا په بل عبارت: د موسی ﷺ قناعت د اسماعیل ﷺ قناعت ته ورته وه البته کله چې ورته خپل پلار (ابراهیم ﷺ) د وژلو نیت څرګند کړ، الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ قَالَ يَٰٓأَبَتِ ٱفْعَلْ مَا تُؤْمَرُ ﴾ [الصافات: ۱۰۲] یعنې ابراهیم ﷺ خپل ځوی (اسماعیل ﷺ) ته خبر ورکړ چې: ای زوي ګوتیه! ستا په هکله زه په خوب کښې ګورم (ماته وحې کېږي) چې تا ذبحه کړم (ووژنم) نو ته فکر وکړه چې کوم شی درته ښه برېښي (ذبحه دې کړم او که نه؟)، اسماعیل ﷺ جواب ورکړ چې: ای پلاره! هغه کار عملي کړه په کوم باندې چې ته مامور ګرځولی شوی یې (ما ذبحه کړه).

پنځم: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې د موسی ﷺ او د خضر ﷺ محاوره (خبري اترې) د مسنونه سلام او د سلام د جواب څخه وروسته داسې حکایت کړې ده چې:

---

(۱) المحرر الوجیز ج۱۰ ص۴۲۵؛ تفسیر القرطبي ج۱۱ ص۱۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خضر ﷺ: «مَنْ أَنتَ» ته څوک یې؟

موسی ﷺ: «أنا مُوسَى» زه موسی یم.

خضر ﷺ: «مُوسَى بَنِي إِسْرَائِيلَ» د بني اسرائیلو موسی یې؟

موسی ﷺ: «نَعَمْ» هو.

خضر ﷺ: «فَمَا شَأْنُكَ» نو څه حال دی (څنګه راغلی یې)؟

موسی ﷺ: «جِئْتُ لِتُعَلِّمَنِي مِمَّا عُلِّمْتَ رُشْدًا» د دې دپاره راغلی یم چې د هغه علم څخه ماته څه لاره سموونکی علم رازده کړې کوم چې تاته درښودلی شوی دی.

خضر ﷺ: ای موسی! ایا دا دې بس نه ده چې د تورات خبرونه ستا په لاس دي او وحې درته راځي؟ «إِنَّ لِي عِلْمًا لَا يَنْبَغِي أَنْ تَعْلَمَهُ وَإِنَّ لَكَ عِلْمًا لَا يَنْبَغِي أَنْ أَعْلَمَهُ فَجَاءَ طَائِرٌ فَأَخَذَ بِمِنْقَارِهِ» یقیناً ماته داسې علم دی چې مناسب نه دی چې ته پرې پوه شې، او یقیناً تاته داسې علم دی چې مناسبه نه ده چې زه پرې پوه شم نو (بیا په همدغه وخت کښې) یوه مرغۍ راغله او په خپلې مښوکې سره یې (د دریاب څخه اوبه) واخستې (پورته کړې) نو خضر ﷺ وویلې چې: «وَاللهِ مَا عِلْمِي وَعِلْمُكَ فِي عِلْمِ اللهِ إِلَّا كَمَا أَخَذَ الطَّائِرُ بِمِنْقَارِهِ مِنَ الْبَحْرِ»[1] په الله ﷻ مې دې سوګند وي چې زما علم او ستا علم (دواړه) د الله ﷻ د علم (په نسبت) کښې نه دي مګر هومره دي لکه چې دغې مرغۍ د دریاب څخه په خپلې مښوکې سره (اوبه را) پورته کړې.

د ذکرې شوې محاورې څخه ثابته شوه چې د خضر ﷺ علم د موسی ﷺ د علم سره موازي او متشابه وه، نو څرنګه چې د موسی ﷺ علم د نبوت علم وه او په وحې باندې یې اتکاء درلوده نو د خضر ﷺ علم به هم د وحې او نبوت څخه منشا اخستې وي.

نهایت د دواړو علومو دومره فرق درلود چې موسی ﷺ په علم الشریعة کښې زیات وه او خضر ﷺ په علم الباطن (علم الحقیقة) کښې اضافه وه، یا په بل عبارت: د دواړو په علومو کښې عموم خصوص من وجه وه، په ځینې علم الشریعة او په ځینې علم الحقیقة دواړه پوهېده او په ځینې علم الشریعة کښې موسی ﷺ اختصاص درلود او ځینې علم الحقیقة په خضر ﷺ پورې مختص وه.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۱۲ـ که څوک وایي چې: ایا دا خبره صحت لري چې خضر ﷺ بنیادم نه وه بلکې یوه پرښته وه او علم یې هم د نبوت علم نه وه بلکې د یوې پرښتې علم وه؟

مونږ وایو چې: خضر ﷺ پرښته نه وه که نه نو د ښاریانو څخه به یې څه خوراکي څیز نه وی غوښتی الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَتَيَآ أَهۡلَ قَرۡيَةٍ ٱسۡتَطۡعَمَآ أَهۡلَهَا ﴾ [الكهف:۷۷] یعنې ان تردې چې دوی دواړه د یوه ښار اوسېدونکو ته ورغله نو دواړو ترې خوراکي شی (ډوډۍ) وغوښتله.

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۴۸۲؛ صحیح مسلم ج۲ ص۲۶۹؛ مسند احمد بن حنبل ج۸ ص۱۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۱۳ـ که څوک وایي چې که خضر ﷺ پیغمبر وګڼل شي نو په کار دي چې امت هم ولري حال دا چې هغه خو امت نه درلود؟

مونږ وایو چې:

الف: څه لري نه ده چې الله ﷻ داسې پیغمبران هم مبعوث کړي وي چې امتونه به يې نه درلوده نو هر پیغمبر ته امت ضرور نه دی.

ب: که هر پیغمبر ته امت ضرور شي نو د بعثت په ابتداء کښې به ورته ضرور وي اما په بقاء کښې خو ورته ضرور نه دي د همدې کبله عیسی ﷺ اوس هم پیغمبر دی مګر امت نه لري او چې کله ځمکې ته راښکته شي نو د آخر الزمان پیغمبر د امتیانو څخه به وګرځي، خو د نبوت درجه به یې باقي وي. نو څه لرې نه ده چې خضر ﷺ به هم په یو وخت کښې امت درلود او بیا به یې امت د منځه تللی وي.

## سوال جواب

۱۴ـ که څوک وایي چې که دا ومنلی شي چې خضر ﷺ پیغمبر وه نو دا خو نه شي منل کېدی چې د اولو العزمو پیغمبرانو ﷺ څخه وه حال دا چې موسی ﷺ خو یقیناً د اولو العزمو څخه وه، نو پوښتنه دا ده چې: ایا دا عقل مني چې لوړ رتبه پیغمبر (موسی ﷺ) د ټيټ رتبه پیغمبر (خضر ﷺ) څخه څه زده کړه وکړي، یا په بل عبارت: چې دا د هغه استاذ شي؟.

مونږ وایو چې: د علم په زده کړې کښې دا ضرور نه ده چې د زده کوونکي رتبه دې د ښوونکي څخه ټيټه وي، د ښه وضاحت دپاره لاندې مثال ولولئ:

نبي کریم ﷺ د جبرائیل امین ﷺ څخه بهتر او افضل وه مګر الله ﷻ فرمایي چې ﴿ عَلَّمَهُۥ شَدِيدُ ٱلْقُوَىٰ ﴾ [النجم:۵] یعنې دا قرآن کریم نبي کریم ﷺ ته د الله ﷻ د پلوه هغه چا ښودلی او تعلیم کړی دی کوم چې د کلکو قوتونو خاوند دی او جبرائیل نومېږي.

## دوهمه موضوع {ایا خضر ﷺ اوس هم ژوندی دی؟}

۱۵ـ خینو اوږدو کتابونو په دې کښې هم ډېر اوږد بحث کړی دی چې ایا خضر ﷺ اوس ژوندی دی او که وفات شوی دی، که ژوندی وي د دومره اوږد عمر وجه یې څه وه، او عام خلک یې ولې نه شي لیدلی؟ او داسې نور[۱].

مونږ ته په دې موضوع کښې سکوت او توقف بهتر ښکاره شو چې د هغه ﷺ په ژوند او مرګ پورې زمونږ کوم شرعي حکم مربوط نه دی نو که د چا اوږده بحث ته زړه نه په تنګېږي همله دې مراجعه وکړي او د ټولو جوانبو دلایل دې د نظره تېر کړي.

---

(۱) روح المعاني ج۱۵ ص۳۲۰ـ ۳۳۱؛ اضواء البیان ج۴ ص۱۷۷، ۱۹۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## هېر مو نه شي!

١٦ـ هېر مو نه شي چې په ﴿ فَٱنطَلَقَا ﴾ کښې مستتر ضمير موسى ﷺ او خضر ﷺ ته راجع دی او د يوشع ﷺ ذکر ځکه نه دی شوی چې په دې سفر کښې تابع او پيرو وه، که نه نو په ټول سفر کښې يې ورسره تر آخره پورې ملګرتيا کړې ده لکه چې په ځينو رواياتو کښې د جمعې ضمير هم روايت شوی دی چې: «فَحَمَلُوهُمْ فِي سَفِينَتِهِمْ بِغَيْرِ نَوْلٍ»[1] يعنې بېړۍ والانو دوی درېواړه پخپله بېړۍ کښې بدون د اجرته (کرايې) پورته (سواره) کړه.

## خضر ﷺ بېړۍ سوري کړه

١٧ـ په ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا رَكِبَا فِي ٱلسَّفِينَةِ خَرَقَهَا ﴾ کښې نبي کريم ﷺ د ﴿ خَرَقَهَا ﴾ کلمه داسې تفسيره کړې ده چې:

الف: په يوه اوږده حديث کښې يې فرمايلي دي چې: «فَعَمَدَ الْخَضِرُ إِلَى لَوْحٍ مِنْ أَلْوَاحِ السَّفِينَةِ فَنَزَعَهُ»[2] يعنې موسى ﷺ او خضر ﷺ دواړه د درياب په غاړه روان وه چې د يوې بېړۍ د خاوندانو سره يې خبره وکړه چې مونږ د درياب څخه بلې خواته پورې باسئ نو هغوی خضر ﷺ وپېژاند چې يو صالح بنده دی نو دوی يې په بېړۍ کښې بدون د اجرت (کرايې) څخه سواره کړه.

د سوربدلو څخه وروسته خضر ﷺ د بېړۍ يوې تختې ته قصد وکړ نو هغه يې د خپل ځای څخه وويستله نو موسى ﷺ وويلې چې: ايا د داسې قوم بېړۍ تا عيبجنه کړه کوم چې مونږ يې بدون د اجرت څخه په بېړۍ کښې سواره کړو او احسان يې راسره وکړ؟، ته لکه چې غواړې چې په بېړۍ کښې ناست خلک (زمونږ په شمول) ټول په درياب کښې غرق کړې، يقيناً چې تا ډېر لوی کار وکړ.

ب: په بل اوږده حديث کښې نبي کريم ﷺ ذکر شوی مضمون راحکايت کړی دی خو د «وَتُرِيدُ أَنْ تَخْرُقَهَا لِتُغْرِقَ أَهْلَهَا»[3] کلمات يې پکښې فرمايلي دي، يعنې موسى ﷺ خضر ﷺ مخاطب کړ چې: ايا ته اراده لرې چې بېړۍ څيرې (سورۍ) کړې چې اهل يې ټول په درياب کښې غرق کړې.

## تبصره

١٨ـ الله ﷻ ډېر ښه پوهېږي خو د ذکرو شوو دواړو احاديثو څخه څرګندېږي چې موسى ﷺ د بېړۍ په سورۍ کولو باندې دوه ځله ناخوښي څرګنده کړې ده، يو ځل هله چې خضر يې سوري کولو ته اراده وکړه لکه چې دوهم حديث ورباندې دلالت کوي، او بل ځل هله چې عملاً يې پکښې سوری وکړ لکه چې په لومړي حديث کښې ورته په «فَنَزَعَهُ» سره اشاره شوې ده.

---

(١) صحيح البخاري ج٢ ص٦٩٠
(٢) جامع الترمذي ج٢ ص١٤٧
(٣) مسند احمد بن حنبل ج٨ ص١٤

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## دوه اشتباهګانې

١٩_ د دې ایتونو د تفسیر په وخت کښې زمونږ په ذهن کښې دوه اشتباهګانې ګرځېدلې راګرځېدلې، یوه دا چې کله خضر ﷺ د بېړۍ دسورۍ کولو عملیه ترسره کړه نو بېړۍ څنګه غرقه نه شوه، لکه چې موسی ﷺ یې د خطر احساس کړی وه؟.

نو مونږ د خپل خان سره دا جواب کړې وه چې: البته غرقېدلو به یې په خارق العاده توګه صورت نه وي نیولی او یا به د بېړۍ داسې څنډه سورۍ کړی شوې وي کومې چې په دوامداره توګه د اوبو سره تماس نه درلود.

خو په یوه اوږده حدیث کښې مو د ذکرې شوې اشتباه جواب مونده کړ چې: «وَوَتَدَ فِيهَا وَتِدًا»(١) یعنې خضر ﷺ بېړۍ سورۍ کړه مګر په سوري کښې یې موږۍ ورټکواهه او د اوبو د راخوټېدلو مخه یې پرې ونیوله.

لنډه دا چې د بېړۍ عیب دومره نه وه چې د جریان څخه پاتې شي، که بالفرض داسې وی نو خضر ﷺ به په همغه کار کښې واقع شوی وی په کوم کښې چې ظالم او غاصب پاچا واقع وه، او بېړۍ به یې د مسکینانو د مزدورۍ څخه وېستلې وی.

بله اشتباه دا وه چې: د موسی ﷺ څخه په غیر نورې سورلۍ او بلکې د بېړۍ خاوندان څنګه چپ پاتې شوه (اعتراض یې ونه کړ) او یا یې د سوري کولو څخه مخنیوی ونه کړ؟.

نو دا اشتباه مو په دې جوابه کړې وه چې: البته بېړۍ څه خاص ځای درلوده چې هلته یې خضر ﷺ او د ده ملګرې کېنولي وه او نور څوک ورسره نه وه چې ذکر شوی کار یې لیدلی وی، بېړۍ وانانو هغوی ته د ډېرو محترمو میلمنو په نظر کتل.د همدې کبله یې ترې د سورلۍ اجرت هم وانخست.

د پلټنې په وخت کښې مو په ځینو شروحو کښې(٢) فقط همدومره مونده کړه چې: د بېړۍ په سورۍ کولو باندې د بېړۍ چلوونکې او نورو سورلیو نظر نه وه لګېدلی نو ځکه یې ورباندې اعتراض ونه کړ، والحمد لله ﷻ علی حسن بعض الموافقة.

## إِمْر څه معنی؟

٢٠_ په ﴿ لَقَدْ جِئْتَ شَيْئًا إِمْرًا ﴾ کښې د "إِمْر" کلمه د "أمر، یامر" _لکه "حسب، یحسب"_ دپاره مصدر ده چې د لوی معنی ورکوي(٣) خو په دې مقام کښې د ﴿ شَيْئًا ﴾ دپاره مبالغةً صفت واقع شوی دی یعنې یقیناً تا یو شی (کار) راوړ (وکړ) چې ډېر لوی دی (او قباحت یې ډېر زیات دی).

---

(١) صحیح البخاري ج٢ ص٦٩٠

(٢) عمدة القاري علی البخاري ج١٩ ص٤١

(٣) مفردات الراغب ص٢١

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## غلام يعنې ماشوم

٢١_ که څه هم په ﴿ لَقِيَا غُلَٰمًا ﴾ کښې د "غُلام" کلمه ځينو علماوو کرامو په سړي سره تفسيره کړې ده، مګر عبدالله بن عباس رضي‌الله‌عنهما يې په ماشوم باندې معنی کوي چې همدا د جمهورو علماوو کرامو قول دی[١]. نو په همدې بنياد په ﴿ أَقَتَلْتَ نَفْسًا زَكِيَّةً ﴾ کښې د ﴿ زَكِيَّةً ﴾ معنی داسې کېږي چې ايا تا داسې ماشوم وواژه چې ماشوم دی (بلوغ ته نه دی رسېدلی) او د اوسه پورې ګنهګار نه دی، چې وژل يې په ګناه سره جائز شي[٢].

## سوال جواب

٢٢_ که څوک وايي چې: ماشوم خو د چا په وژلو باندې نه قصاص کېږي، حال دا چې د ﴿ بِغَيْرِ نَفْسٍ ﴾ څخه څرګندېږي چې که ذکر شوي غلام قتل کړی وي نو بيا به يې خضر عليه‌السلام ته وژلو جواز درلودی؟.

مونږ وايو چې ـوالله ﷻ أعلمـ: دغه ټکی به موسی عليه‌السلام د عمل د تقبيح دپاره د فرض په بنياد ويلی وي يعنې د دغه ماشوم وژل خو په قصاص باندې هم جواز نه لري خو بالفرض که جواز يې پرې ولري هم دلته يې د جواز صورت تحقق نه شي موندلی ځکه چې څوک يې وژلی نه دی.

## د ماشوم د وژلو ډول

٢٣_ که څه هم علماوو کرامو د ماشوم د وژلو په ډول کښې ډېر صورتونه ليکلي دي[٣] لکه «ذَبَحَهُ بِالسِكِّينِ»[۴] چې په چاړه باندې يې ذبحه کړ او داسې نور خو څرنګه چې د دغو صورتونو په تشخيص کښې څه مهم مطلب نه وه نو الله ﷻ هم ورته تشخيص ورنه کړ.

## د قرآن کريم د ټولو حرفونو مجموعه څو ته رسېږي؟

٢۴_ د حجاج بن يوسف په دوران کښې تقريبًا په څلورو مياشتو کښې د قرآن کريم حرفونه شمېرلی شوي وه چې د اقوالو په اختلاف سره يې ټوله شمېره درې لکو څلوېښتو زرو اوو سوو او څلوېښتو (٣۴٠٧۴٠) حرفونو ته رسېده[۵]، بيا دغه مجموعه په دوه برخو باندې وېشلې شوې ده خو د لومړنۍ برخې په اختتام کښې په لاندې ډول اختلاف دی:

الف: مشهوره دا ده چې: لومړنۍ مجموعه د همدې سورت (الکهف) په [١٩] ايت کښې د ﴿ وَلْيَتَلَطَّفْ ﴾ د کلمې د "ف" په توري باندې تمامه شوې ده، او د همدې ايت په ﴿ وَلَا يُشْعِرَنَّ بِكُمْ

---

(١) تفسير البغوي ج٣ ص١٧۴
(٢) تفسير ابن کثير ج٣ ص٩٧
(٣) تفسير القرطبي ج١١ ص٢٠
(۴) صحيح البخاري ج٢ ص۶٨٩
(۵) البرهان في علوم القرآن ج١ ص٢۴٩

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



أَحَدًا ﴾ باندې دوهمه مجموعه پيل کېږي[۱].

ب: ځينې علماء کرام وايي چې: لومړنۍ مجموعه د همدې سورت په [۷۴] ايت کښې د ﴿ نُكْرًا ﴾ د کلمې په "ن" باندې اختتام مونده کوي او دوهمه مجموعه د همدې کلمې ﴿ نُكْرًا ﴾ د "ک" په توري باندې پيل کېږي[۲].

مونږ ته همدغه دوهم قول په زړه پورې برېښي او دا ځکه چې ظاهره دا ده چې قرآن کريم به په دېرشو برخو باندې د حرفونو د شمېر په اعتبار وېشلی شوی وي.

نو که بالفرض لومړی قول غلط مشهور نه وی نو شپاړلسمه سپاره به په ﴿ وَلَا يُشْعِرَنَّ بِكُمْ أَحَدًا ﴾ باندې پيل شوې وی چې د لومړنۍ برخې د تکميل ځخه وروسته لومړنۍ پوره جمله ده، حال دا چې شپاړسمه سپاره په ﴿ قَالَ أَلَمْ أَقُل لَّكَ ﴾ سره پيل شوې ده چې د ذکر شوي دوهم قول په بنياد په دوهمه مجموعه کښې لومړنۍ پوره جمله ده او بس.

## د پنځلسمې سپارې اختتام

۲۵ـ دا کتاب (عزيز التفاسير) د الله ﷻ په نامه په ۱۳۶۹/۶/۲ هـ ش نېټه په پاکستان (دار الهجرة) کښې شروع شوی وه او په ۱۳۷۷/۲/۲۳ هـ ش نېټه د الله ﷻ په توفيق په همدغه وطن کښې خپل نيمايي ته ورسېد، چې ټول وخت ورباندې اوه کاله شپږ مياشتې او پنځه ويشت ورځې مصرفې شوې دي.

د خپل رب ﷻ ځخه اميد لرو چې نور اضافه توفيق هم راکړي ترڅو د ﴿ مِنَ ٱلْجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ ﴾ ترجمه او تفسير هم محترمو مسلمانانو ته تقديم کړو او دا کتاب په خپل لاس مکمل او بيا-بيا چاپ کړو.

همدارنګه د خپل رب ﷻ ځخه سوال کوو چې تېرې شوې خطاوې راته تصحيح کړي او ګناهونه راته وبښي او په راتلونکي کښې مو د خطاکېدلو او ښويېدلو ځخه بچ وساتي، او د لا زيات توفيق عنايت راباندې وکړي.

ای ربه! دا کتاب د ټولو مسلمانانو دپاره په دنيا او آخرت کښې ګټور وګرځوې او هم عام مقبوليت ورکړې، آمين يا رب العالمين.

۱۴۱۹/۱/۱۷ هـ ق – ۱۳۷۷/۲/۲۳ هـ ش – ۱۹۹۸/۵/۱۳ ميلادي.

---

(۱) البرهان في علوم القرآن ج۱ ص۲۵۳
(۲) المحرر الوجيز ج۱۰ ص۴۳۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿قَالَ أَلَمْ أَقُل لَّكَ إِنَّكَ لَن تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا ﴿٧٥﴾ قَالَ إِن سَأَلْتُكَ عَن شَيْءٍ بَعْدَهَا
فَلَا تُصَاحِبْنِي قَدْ بَلَغْتَ مِن لَّدُنِّي عُذْرًا ﴿٧٦﴾ فَانطَلَقَا حَتَّىٰ إِذَا أَتَيَا أَهْلَ قَرْيَةٍ
اسْتَطْعَمَا أَهْلَهَا فَأَبَوْا أَن يُضَيِّفُوهُمَا فَوَجَدَا فِيهَا جِدَارًا يُرِيدُ أَن يَنقَضَّ فَأَقَامَهُ
قَالَ لَوْ شِئْتَ لَتَّخَذْتَ عَلَيْهِ أَجْرًا ﴿٧٧﴾ قَالَ هَٰذَا فِرَاقُ بَيْنِي وَبَيْنِكَ سَأُنَبِّئُكَ بِتَأْوِيلِ
مَا لَمْ تَسْتَطِع عَّلَيْهِ صَبْرًا ﴿٧٨﴾﴾

[۷۵] (خضر ؑ موسی ؑ ته) وویلې چې: ایا ما (بل چاته نه بلکې همدا) تاته نه وو ویلي چې: یقینًا ته به هیڅکله زما سره په صبر کولو باندې ونه توانېږې.

[۷۶] موسی ؑ (په جواب کښې ورته) وویلې چې: که چرته زه ستا څخه د یو شي په هکله د دې کرت څخه وروسته پوښتنه وکړم نو ما (د خپله خانه سره) مه ملګری کوه، بې شکه چې (په دغه وخت کښې به) ته زما د پلوه (د) عذر (معذوریت حد) ته رسېدلی وې.

[۷۷] نو دواړه روان شوه آن تردې چې کله دوی دواړه د یوه داسې کلي (ښار) اهل ته ورغله چې (د بل چا څخه نه بلکې د همدې ښار) د اهالیوو څخه یې د طعام مطالبه وکړه (چې مونږ ته د مېلمستیا خپل حق راکړئ).

نو هغوی (په کلکه) منعه وکړه چې دوی دواړه مېلمانه کړي، نو دواړو په همدې ښار (کلي) کښې یو داسې دیوال مونده کړ چې د لوېدلو اراده یې درلوده (نژدې وه چې سقوط وکړي)، نو خضر ؑ دیوال (په اشارئ سره) سم کړ.

موسی ؑ (په دریم ځل پرې اعتراض وکړ او) وې ویل چې که تا (د دیوال سمول) غوښتلي وی نو په دې باندې به دې اجرت (مزدوري) اخستې وی.

[۷۸] خضر ؑ ورته وویلې چې: دغه (دریم اعتراض) زما په منځکښې او ستا په منځکښې جدايي ده (د جدا کېدلو سبب دی).

ډېر ژر به زه تا د هغو شیانو په مصداقاتو (او وجوهو) باندې خبر کړم په کومو باندې چې تا د صبر کولو توان نه درلود.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د موسی ؑ او خضر ؑ د قیصې پاتې برخې ته اشاره شوې ده. نو حاصل یې داسې راځېږي چې:

۱ـ کله چې موسی ؑ په خضر ؑ باندې اعتراض وکړ چې بې ګناه ماشوم دې ولې ووژه؟ نو هغه ورته وویلې چې: ایا ما بل چاته نه بلکې همدا تاته نه وه ویلي چې ته به هیڅکله زما سره

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دملګرتیا او اوسېدانې توان ونه لرې؟ زما وړاندوینې د دوهم ځل دپاره تحقق مونده کړ چې په ما دې تکراراً اعتراض وکړ.

۲_ موسی ﷺ ورته وویلې چې دا ځل ماته فرصت راکړه چې ستا سره ملګرتیا وکړم که بیا مې د دربم ځل دپاره په تاباندې اعتراض وکړ نو بیا مې خپل ملګری مه ګرځوه او انډیوالي را سره پرې کړه، په دغه صورت کښې به ته ستا د پلوه نه بلکې زما د پلوه د معذوریت مقام ته رسېدلی وې چې زه نوره ستا انډیوالي نه شم کولی، او بیا به زما خوله تاته د دې خبرې دپاره جوړه نه شي چې د څلورم ځل دپاره هم فرصت وغواړم.

۳_ نو خضر ﷺ د موسی ﷺ وړاندیز قبول کړ او بیا دواړه روان شوه چې لاندې کیفیت پېښ شو:

الف: دواړه یوه ښار ته نه بلکې د ښار اوسېدونکو ته په قصدي توګه ورغله او ورسره ملاقي شوه.

ب: د بل چا څخه نه بلکې د خپله ښاریانو او اوسېدونکو څخه یې مطالبه وکړه چې مونږ مېلمانه کړئ او څه د خوراک شیان راکړئ.

ج: ښاریانو د دوی مطالبه په کلکه رده کړه چې مونږ تاسو ته مېلمستیا نه درکوو.

د: ښاریانو د دوی مطالبه رده کړه او د میلمستیا حق یې اداء نه کړه حال دا چې دغه کار څه دروند کار هم نه وه بلکې فقط دوه درې نفرو ته په بېدیا کښې نه بلکې په ښار کښې ډوډۍ ورکول وه، او د دوی حق پوره کول وه.

د دغسې سوکت او شوم قوم د حال سره مناسبه وه چې هیڅ ښېګڼه ورسره نه وی شوې خو دوی دواړو هلته یو دېوال مونده کړ چې لوېدلو ته نژدې وه تا به ویل چې دغه دی دستي سقوط کوي.

خضر ﷺ ذکر شوی دېوال په پښو باندې ودراوه چې د سقوط خطر یې د منځه لاړ او ښه قوي شو.

هـ: دلته نو موسی ﷺ خپل ملګری (استاذ) مخاطب کړ چې که تا غوښتلی چې د ذکر شوي شوم قوم دېوال د سقوط څخه بچ کړې نو څه اجرت خو به دې پرې اخستی وی ترڅو مو په هغه باندې خپل خوراک او څښاک تهیه کړی وی. یا په بل عبارت په وړې ګېډه دې د سوکت قوم دېوال په مفته توګه ولې د سقوط څخه بچ کړ څکه چې هغوی تاته خپل حق درنه کړ او ته ورسره احسان کوې؟.

۴_ خضر ﷺ د ذکر شوي اعتراض په اورېدلو سره موسی ﷺ ته وویلې چې دغه اعتراض بل شی نه دی بې د دې چې زما او ستا ترمنځ جدایي واقع کړي او یو تربله سره بېل شو.

خو اوس د دې خبرې وخت رارسېدلی دی چې زه تا د هغو شیانو په اصلي مصداقاتو باندې خبر کړم په کومو باندې چې تا صبر ونه کړی شو او د چپ کېناستلو توان دې ورباندې ونه شو درلودلی.

## توضیحات

۱_ د موسی ﷺ لومړی اعتراض (چې ببرېه دې ولې عیبجنه کړه؟) د نسیان څخه منشا اخستې وه نو څکه خضر ﷺ د رد په کلام کښې شدت ونه کړ، خو دوهم اعتراض یې (چې هلک دې ولې ووژه؟) په قصدي توګه صورت نیولی وه نو څکه هغه د رد په کلام کښې شدت (سختي) وکړه او د

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿لَّكَ﴾ کلمات يې وراضافه کړه یعنې: ای موسی! ایا ما بل ځاته نه بلکې تاته نه وه ویلي چې ته زما سره په ملګرتیا کښې صبر نه شې کولې؟ او تا راته د صبر وعده نه وه راکړې؟

اما د موسی ﷺ دربېم اعتراض د دې دپاره وه چې ترې جدا شي د همدې کبله نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْنَا وَعَلَى مُوسَى لَوْلَا أَنَّهُ عَجِلَ لَرَأَى الْعَجَبَ وَلَكِنَّهُ أَخَذَتْهُ مِنْ صَاحِبِهِ ذَمَامَةٌ»[١] یعنې په مونږ او په موسی ﷺ باندې دې د الله ﷻ رحمت وي که چرته هغه بیره نه وی کړې (په دریم خل باندې یې د جدا کېدلو وعده نه وی ورکړې) نو ډېره عجیبه به یې لیدلې وی (او مونږ ته به الله ﷻ په قرآن کریم کښې راحکایت کړي وی) مګر د خپل ملګري (خضر ﷺ) څخه حیاء ونیوه او وعده یې ورکړه چې که بل اعتراض مې وکړ ﴿فَلَا تُصَاحِبْنِي﴾ نو ما مه ملګری کوه، او یا زما ملګرتیا مه کوه.

## دلته کوم ښار (کلی) مراد دی؟

٢ـ په ﴿حَتَّىٰٓ إِذَآ أَتَيَآ أَهْلَ قَرْيَةٍ ٱسْتَطْعَمَآ أَهْلَهَا﴾ کښې د ﴿قَرْيَةٍ﴾ د کلمې په مصداق کښې علماوو کرامو متعدد اقوال کړي دي خو غالبه دا ده چې د "مجمع البحرین" په مربوطاتو کښې به دوی یوه کلي او یوه ښار ګوتې ته ورغلي وه. یا په بل عبارت: لکه چې د همدې سورت د [٦٠] ایت لاندې مونږ ـ د الله ﷻ په توفیق ـ په دوهمه توضیح کښې دې ته ترجیح ورکړې ده چې د "مجمع البحرین" څخه د سوډان مملکت مراد کړی شي نو دلته به د ﴿قَرْيَةٍ﴾ څخه د همدغه مملکت کوم یو ښارګوټی مطلب وي، والله ﷻ أعلم.

## سوال جواب

٣ـ که څوک وایي چې د څه حکمت په بنیاد په ذکر شوي عبارت کښې د "أَهْل" کلمه دوه کرته نازله شوې ده حال دا چې که یو کرتې هم نه وی نازله شوې مطلوبه معنی د لاسه نه وتله او عبارت لنډون مونده کاوه؟ چې دواړه یوه ښارګوټي ته ورغله او هلته یې د خوراک مطالبه وکړه.

مونږ وایو چې: د ذکر شوي سوال دپاره علماوو کرامو زښت ډېر اوږده جوابونه کړي دي[٢] مګر کوم جواب چې مونږ ته غوره بریښي هغه دا دی چې ذکره شوې کلمه څکه دوه کرته نازله کړی شوې ده ـ والله ﷻ أعلم ـ ترڅو د خلکو په زیات بخل (شومتیا) باندې دلالت وکړي چې:

الف: که اول کرت نه وی نازله شوې نو د "أَتَيَا قَرْيَةً" معنی به دا وی چې دوی ښارګوټي ته ورغله، خو په دې به صراحت نه وی شوی چې د ښاریانو سره یې ملاقات وشو.

او هم به په صریحو ټکو کښې نه وی نازله شوې چې دوی د ښاریانو ملاقات ته هم په قصدي توګه ورغلي وه، حتی چې نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «فَطَافَا فِي

---

[١] صحیح مسلم ج٢ ص٢٧١، سنن ابي داوٗد ج٢ ص١٩٨

[٢] روح المعاني ج١٦ ص٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الْمَجَالِسِ»[١] دوی دواړه د ښاريانو په ډېرو مجالسو کښې وګرځېده راوګرځېده او ملاقاتونه يې ورسره وشوه، په کار خو دا وه چې بدون د مطالبې څخه يې خوراک او څښاک ورکړی وی.

ب: همدارنګه که ذکره شوې کلمه دوهم کرت نه وی نازله شوې نو دا احتمال به موجود شوی وی چې دواړو به د مسافرانو څخه د خوراک مطالبه کړې وي، نه د ښار د اهاليوو او اصلي اوسېدونکو څخه، چې په دې صورت کښې هم د ښار اصلي اوسيدونکو ته د شومانو لقب نه شو ورکول کيدی، همدې مطلب ته نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې اشاره کړې ده چې: «حَتَّى إِذَا أَتَيَا أَهْلَ قَرْيَةٍ لِئَامًا»[٢] يعنې دواړه روان شوه ترڅو چې کله يوه ښارګوټي ته ورسېده چې اصلي اوسېدونکي (اهالي) يې بخيلان (شومان) وه.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۴_ که څوک وايي چې: د څه حکمت په بنياد د ﴿ فَأَبَوْاْ أَن يُضَيِّفُوهُمَا ﴾ په عوض "فَأَبَوْا أَنْ يُطْعِمُوهُمَا" نازل نه کړی شو حال دا چې موسی ﷺ او خضر ﷺ خو د ښاريانو څخه د ضيافت (مېلمستيا) مطالبه نه وه کړې بلکې د طعام مطالبه يې ترې کړې وه چې ﴿ ٱسْتَطْعَمَآ أَهْلَهَا ﴾؟

مونږ وايو چې: په ذکر شوي عبارت کښې دې ته اشاره ده چې هغوی دواړو اصلاً د ضيافت (مېلمستيا) مطالبه کړې وه چې د دواړو شرعي حق وه خو د خپل حق څخه يې د طعام په مطالبه باندې تعبير وکړ ترڅو يې ښاريانو ته اسانه وبرېښوي چې که تاسو مونږ ته فقط طعام راکړئ هم مونږ به يې په مېلمستيا باندې مجرا کړو.

نو که بالفرض نازل شوی عبارت نه وی نازل شوی نو چا به ګومان کړی وی چې موسی ﷺ او خضر ﷺ به د ښاريانو څخه د خيرات مطالبه کړې وي نه د خپل حق. د ښه وضاحت دپاره لاندې حديث شريف ولولئ چې په شروحو کښې ډېر ښه شرحه شوی دی چې:

يوه ورځې نبي کريم ﷺ ته خپلو صحابه وو کرامو ﷺ وويلې چې: يا رسول الله ته خو مونږ د (نمايندګانو په حيث) استوې نو که مونږ په داسې قوم باندې ورشو کوم چې مونږ ته مېلمستيا رانه کړي نو ته په دوی کښې څه وايې؟

نو نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «إِنْ نَزَلْتُمْ بِقَوْمٍ فَأَمَرَ لَكُمْ بِمَا يَنْبَغِي لِلضَّيْفِ فَاقْبَلُوا فَإِنْ لَمْ يَفْعَلُوا فَخُذُوا مِنْهُمْ حَقَّ الضَّيْفِ»[٣] يعنې که تاسو په يو قوم باندې واړول نو ستاسو دپاره (هلته) په هغه شي باندې امر وکړی شو کوم چې مېلمه ته مناسب وی نو تاسو يې ترې قبول کړئ او که دا کار يې ونه کړ نو د هغوی (د مالونو) څخه د مېلمه حق واخلئ.

---

(١) صحيح مسلم ج٢ ص٢٧١
(٢) مسند احمد بن حنبل ج٨ ص١٧
(٣) صحيح البخاري ج١ ص٣٣٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## دېوال د لوېدلو نیت درلود

۵_ په ﴿ جِدَارًا يُرِيدُ أَن يَنقَضَّ فَأَقَامَهُ ﴾ کښې د ﴿ يُرِيدُ ﴾ مستتر ضمیر جدار (دېوال) ته راجع دی، یعني دېوال نبت (اراده) درلوده چې سقوط وکړي، که څه هم اراده کول د ژوندیو کار دی او جمادات اراده نه شي کولی، مګر څرنګه چې دغه ډول استعمال په محاوراتو کښې شائع دی او قرآن کریم د عربي محاوراتو اسالیب د نظره نه غورزوي نو د لوېدلو پلو ته د دېوال میلان داسې وګڼل شو لکه چې د سقوط نیت یې کړی وي.

د دې ډول استعمال نظیر وړاندې تېر شوی دی چې: ﴿ وَلَمَّا سَكَتَ عَن مُّوسَى ٱلْغَضَبُ ﴾ [الأعراف: ۱۵۴] اوهر کله چې د موسی ﷺ څخه غضب ساکت شو (غُصه یې سړه شوه).

## د دېوال د ودرولو کیفیت

۶_ په ذکر شوي عبارت کښې د ﴿ فَأَقَامَهُۥ ﴾ د کلمې معنی واضحه ده چې خضر ﷺ هغه دېوال (کوم چې سقوط ته نژدې شوی وه او د ځمکې طرف ته کوږ وه) سم کړ او د سقوط څخه یې بچ کړ. خو د سمولو په کیفیت کښې یې علماوو کرامو لاندې اقوال کړي دي[1]:

الف: خضر ﷺ ورته په لاس باندې اشاره وکړه چې دېوال دستې سم شو.

ب: دېوال ته یې پشتې ورواچوله (د دېوال بېخ یې قوي کړ).

ج: دېوال یې د بېخه وغورزاوه او بیا ورته کښناست چې د سره یې جوړ کړي.

الله ﷻ ډېر ښه پوهېږي خو مونږ ته بهتره برېښي چې خضر ﷺ به ذکر شوی دېوال په خارق العاده توګه په اول ډول باندې سم کړی وي چې همدا ډول د یو پلوه د نبوت سره ښه مناسب دی او د بله پلوه ځینو علماوو کرامو د دېوال طول او عرض زښت ډېر ښودلی دی لکه (۵۰، یا ۵۰۰) ګزه او داسې نور[2] چې د خضر ﷺ د توانه پوره نه وه چې یا پشتې ورواچوي او یا یې بیا جوړ کړي.

﴿ أَمَّا ٱلسَّفِينَةُ فَكَانَتْ لِمَسَٰكِينَ يَعْمَلُونَ فِى ٱلْبَحْرِ فَأَرَدتُّ أَنْ أَعِيبَهَا وَكَانَ وَرَآءَهُم مَّلِكٌ يَأْخُذُ كُلَّ سَفِينَةٍ غَصْبًا ﴿٧٩﴾ وَأَمَّا ٱلْغُلَٰمُ فَكَانَ أَبَوَاهُ مُؤْمِنَيْنِ فَخَشِينَآ أَن يُرْهِقَهُمَا طُغْيَٰنًا وَكُفْرًا ﴿٨٠﴾ فَأَرَدْنَآ أَن يُبْدِلَهُمَا رَبُّهُمَا خَيْرًا مِّنْهُ زَكَوٰةً وَأَقْرَبَ رُحْمًا ﴿٨١﴾ وَأَمَّا ٱلْجِدَارُ فَكَانَ لِغُلَٰمَيْنِ يَتِيمَيْنِ فِى ٱلْمَدِينَةِ وَكَانَ تَحْتَهُۥ كَنزٌ لَّهُمَا وَكَانَ أَبُوهُمَا صَٰلِحًا فَأَرَادَ رَبُّكَ أَن يَبْلُغَآ أَشُدَّهُمَا وَيَسْتَخْرِجَا كَنزَهُمَا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ ع

(۱) روح المعاني ج۷ ص۱۶
(۲) تفسير القرطبي ج۱۱ ص۳۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ وَمَا فَعَلْتُهُۥ عَنْ أَمْرِى ۚ ذَٰلِكَ تَأْوِيلُ مَا لَمْ تَسْطِع عَّلَيْهِ صَبْرًا ﴿٨٢﴾ ﴾

[۷۹] هر چې بېړۍ وه نو هغه د څو مسکینانو وه چې په دریاب کښې یې (ورباندې) کار کاوه (او خپله روزي یې ورباندې حاصلوله)، نو ما نیت وکړ چې (نوموړې) بېړۍ عیبجنه کړم، حال دا چې د دوی په وړاندې یو داسې پاچا وه چې هره (روغه او بې عیبه) بېړۍ یې په زور (او ظلم) سره نېوله (د مالکانو د لاسه به یې ویستله).

[۸۰] او هر چې (وژلی شوی) هلک وه نو د هغه مور او پلار (سوچه) مؤمنان وه نو مونږ وډار شو (په شوو چې که ژوندی پاتې شي) نو په دواړو باندې به (د خپل خان په شان) سرکشي او کفر ورتحمیل کړي (کفر ته به یې وباسي او سوچه ایمان به یې په کفر بدل شي).

[۸۱] نو مونږ اراده وکړه چې (هلک ووژنو ترڅو) د هغه مور او پلار ته د دوی دواړو رب ﷻ د وژل شوي څخه د پاکبزګۍ د حیثه ډېر بهتر او د صله رحمۍ د حیثه ډېر نژدې، عوض ورکړي.

[۸۲] او هر چې دېوال وه نو هغه په ښار کښې د دوه وو یتیمانو هلکانو وه او د دېوال څخه لاندې د دواړو هلکانو دپاره خزانه (پټه) وه حال دا چې د دواړو پلار صالح سړی (تېر شوی) وه.

نو (ای موسی!) ستا رب ﷻ اراده وکړه چې (د دواړو هلکانو خزانه پټه وساتله شي ترڅو) دوی دواړه خپل قوت ته ورسېږي او دواړه خپله خزانه راوباسي، (دا کار) ستا د رب ﷻ د پلوه (په هلکانو باندې) لوی رحمت وه.

(ای موسیٰ! ذکر شوی هر یو) کار ما د خپل فکر (او اجتهاد) د کبله نه دی کړی (بلکې ستا د رب ﷻ په هدایت مې ترسره کړی دی).

(ای موسی!) دغه (بیان) د هغه شي تاویل (وجه) وه په کوم باندې چې ته ونه توانېدلې چې صبر ورباندې وکړې.

## د مطلب خلاصه

یعنې د جدایۍ څخه وړاندې خضر ﷺ د ذکرو شوو درېوو واقعاتو په اسرارو باندې خپل ملګری (موسی ﷺ) په لاندې ډول خبر کړ:

۱_ هر چې د بېړۍ واقعه ده نو د هغې تفصیل دا دی چې:

الف: ذکره شوې بېړۍ څو مسکینانو پورې مربوطه وه چې په دریاب کښې یې ورباندې کار کاوه او خپله نفقه یې پرې لاسته راوړه.

ب: کوم طرف ته چې نوموړې بېړۍ درروانه وه هلته یو ظالم پاچا وه چې هره بې عیبه او روغه بېړۍ یې په زور او غصب نیوله.

ج: نو ما وغوښتل چې د مسکینانو بېړۍ عیبجنه کړم ترڅو د ظالم پاچا د نیولو څخه بچ پاتې شي که نه نو په زور او غصب سره به یې نیولې وی او د مسکینانو د نفقې یو سبب به یې د منځه وړی وی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲_ اما د وژل شوي هلک واقعې د لاندې وجې د کبله صورت ونیوه چې

الف: د نوموړي هلک مور او پلار ښه صحیح مسلمانان وه، خو پخپله هلک ازلي کافر وه. یا په بل عبارت د هغه په هکله ازلاً لیکلې شوي وه که د اوږد عمر خاوند شي او خوانۍ ته ورسېږي نو ضرور به کفر غوره کړي او د اسلام لاره به پرېږدي.

ب: نو مونږ په دې وډار شوو که نوموړی هلک ژوندی پاتې شي نو د خپل خان په شان به په خپل مور او پلار باندې هم سرکشي او کفر تحمیل کړي او د اسلام څخه به یې کفر ته واړوي.

ج: نو مونږ اراده وکړه چې نوموړی په ماشومتوب کښې ووژنو ترڅو د ده په مرګ باندې مور او پلار صبر وکړي او د دوی دواړو رب ﷻ دوی ته د وژلي شوي هلک څخه بهتر اجر وکړي، چې هم د پاکیزګۍ د حیثه د هغه څخه بهتر وی چې ښه سوتره مسلماني ولري او هم د ترحم او مهربانۍ د حیثه د هغه څخه غوره وي چې خپلې مور او پلار سره به صله رحمي کوي او د عقوق الوالدین څخه به خپل خان بچ ساتي.

۳_ د هغه دېوال (چې ما د ښومانو په ښار کښې د لوږدو څخه بچ کړ) تفصیل په لاندې ډول دی:

الف: ذکر شوی دېوال د هغو کسانو نه وه کومو چې مونږ ته د ضیافت خپل حق رانه کړ، بلکې هغه د شوم ښار په دوه وو یتیمانو پورې اړه درلوده چې دواړه ماشومان وه او د خپل مال څخه یې دفاع نه شوه کولی.

ب: د همدغه دېوال لاندې د ماشومانو پورې مربوطه خزانه ښخه وه، نو که بالفرض دېوال سقوط کړی وی خزانه به په ډاګه شوې وی او د غاصبانو او غلو لاس ته به ورغلې وی.

ج: د ذکرو شوو دواړو ماشومانو پلار صالح سړی وه هغه ذکره شوې خزانه د خپلو بچیانو د طغیان دپاره نه وه دفنه کړې بلکې دا کار یې د دې دپاره کړی وه ترڅو پرې هغوی دنیا او آخرت دواړه وګټي.

د: نو ای موسی! ستا رب ﷻ اراده وکړه چې د هغوی دواړو خزانه خوندي وساتله شي ترڅو دواړه بلوغ او قوت ته ورسېږي او خپله خزانه راوباسي او بالآخره د خپل صالح پلار د وصایاوو مطابق یې په کار باندې واچوي.

هـ: ای موسی! دا کار ستا د رب ﷻ د پلوه په یتیمانو باندې یو لوی رحمت او مهرباني وه.

لنډه دا چې ما ذکر شوی هر یو کار ستا د رب ﷻ د هدایت په بنیاد انجام کړی دی چې زما د خپلې شخصي مفکورې څخه یې منشا نه وه اخستې.

۴_ ای موسی! په ذکر شوي بیان سره تاته هغه څه څرګند شوه په کوم باندې چې تا صبر ونه شو کړی، نو دا درسره په یاد ولره او نور دې په الله ﷻ باندې سپارم.

## توضیحات

۱_ په ﴿أَمَّا ٱلسَّفِينَةُ فَكَانَتۡ لِمَسَٰكِينَ﴾ کښې د "مَسَاكِين" کلمه د [التوبة: ۶۰] ایت لاندې څه ناڅه شرحه شوې ده خو په دې مقام کښې وربانډې وراضافه کوو چې د ایت شریف څخه د الله ﷻ په

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وړاندې د مسکینانو د منزلت لوړوالی څرګندېږي د همدې کبله:

الف: «كَانَ ابْنُ عُمَرَ لَا يَأْكُلُ حَتَّى يُؤْتَى بِمِسْكِينٍ يَأْكُلُ مَعَهُ»[۱] يعنې د عبد الله بن عمر ﷺ عادت وه چې تر هغه به يې طعام نه خوړ ترڅو به چې يو داسې مسکين وروستلی شو چې په خوراک کښې به يې ورسره اشتراک وکړ.

ب: ابو ذر ﷺ په يوه اوږده حديث کښې وايي چې: «أَمَرَنِي بِحُبِّ الْمَسَاكِينِ وَالدُّنُوِّ مِنْهُمْ»[۲] يعنې ماته خپل دوست (پيغمبر ﷺ) امر کړی دی چې د مسکينانو سره محبت وکړم او دوی ته ورنژدې شم.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي چې: نبي کريم ﷺ دا ايت شريف چې: ﴿ وَأَمَّا ٱلْغُلَـٰمُ فَكَانَ أَبَوَاهُ مُؤْمِنَيْنِ ﴾ داسې تفسير کړی دی چې: «الْغُلَامُ الَّذِي قَتَلَهُ الْخَضِرُ طُبِعَ كَافِرًا وَلَوْ عَاشَ لَأَرْهَقَ أَبَوَيْهِ طُغْيَانًا وَكُفْرًا»[۳] يعنې هغه هلک چې خضر ﷺ وژلی وه طبيعتاً کافر (پيدا کړی شوی) وه، او که نوموړي ژوند کړی وی (ژوندی پاتې شوی وی) نو ضرور به يې په خپل مور او پلار باندې (د خپل ځان غوندې) سرکشي او کفر تحميل کړی وی؛ حال دا چې په يوه بل اوږده حديث کښې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «كُلُّ إِنْسَانٍ تَلِدُهُ أُمُّهُ عَلَى الْفِطْرَةِ»[۴] يعنې هر انسان د خپلې مور څخه د اسلامي فطرت په حال کښې زېږېږي چې بيا يې مور او پلار کفري مذاهبو ته اړوي لکه يهوديت او نصرانيت او داسې نور.

نو پوښتنه دا ده چې ايا ذکر شوي دواړه احاديث يو تربله تناقض نه لري؟

مونږ وايو چې: د اولني حديث معنی دا نه ده چې په وژل شوي هلک کښې د اسلام استعداد نه وه او فقط په کفري استعداد باندې پيدا کړی شوی وه، که بالفرض معنی يې همداسې وی نو تناقض به متحقق شوی وی. بلکې معنی يې دا ده چې نوموړی هلک الله ﷻ ته په ازل کښې معلوم وه چې د خضر ﷺ د لاسه به په ماشومتوب کښې وژلی کېږي او دا هم ورته معلومه وه چې که بالفرض په ماشومتوب کښې مړ نه شي او بلوغ ته ورسېږي نو کفر به اختيار کړي حتی په خپل مور او پلار باندې به هم کفر او سرکشي تحميل کړي او د صله رحمۍ په عوض به ورسره د عقوق لاره خپله کړي.

## د وضاحت دپاره يو نظير

۳ـ د نوموړي هلک واقعه کټ مټ د دغه ايت شريف مضمون ته ورته ده چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَلَوْ قَـٰتَلَكُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَوَلَّوُا۟ ٱلْأَدْبَـٰرَ ﴾ [الفتح: ۲۲] يعنې ای مؤمنانو! الله ﷻ په ازل کښې ليکلې وه چې د حديبيه په مقام کښې به صلحه صورت نيسي او جنګ به نه واقع کېږي، لکه چې همداسې وشوه. که بالفرض صلحې صورت نه وی نيولی او کفارو (مشرکانو) ستاسو سره په جنګ لاس پورې کړی وی

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۸۱۲
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۸ ص۹۴
(۳) سنن ابي داوٗد ج۲ ص۲۹۱
(۴) صحيح مسلم ج۲ ص۳۳۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو ضرور به دوی تاسو ته خپلې شاګانې درتاوې کړې وی او د جنګ د میدان څخه به تښتېدلي وی.

## د خضر عليه السلام غوښتنه پوره شوه

۴ـ په ﴿ فَأَرَدْنَآ أَن يُبْدِلَهُمَا رَبُّهُمَا خَيْرًا ﴾ کښې دې ته اشاره ده چې د غلام په وژلو کښې د خضر عليه السلام زړه غوښتل چې د نوموړي مور او پلار ته الله ﷻ بهتر عوض ورکړي لکه چې د نبي کريم ﷺ په زمانه کښې ابو طلحه رضي الله عنه او د هغه ماندينې (أم سليم رضي الله عنها) ته د يوه زوی په وفات سره مصيبت ورسېد او دواړو پرې صبر وکړ حتی چې په عين شپه کښې دواړو جنسي ارتباط هم ونيوه نو نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «لَعَلَّ اللهَ أَنْ يُبَارِكَ لَهُمَا فِي لَيْلَتِهِمَا»[1] الله ﷻ ته اميد دی چې دواړو ته به پخپله (تېره شوې) شپه کښې برکت واچوي، نو الله ﷻ دواړو ته ته يو ماشوم وبانبه چې د هغه د اولادې څخه يې نهه اولادونه وزېږول چې ټولو قرآن کريم لوسته.

نو په ذکره شوې قيصه کښې الله ﷻ د خضر عليه السلام د زړه غوښتنه پوره کړه او د وژل شوي هلک عوضونه يې ورته ورکړه چې په لاندې نکاتو کښې واضحه کيږي:

الف: نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «وَوَقَعَ أَبُوهُ عَلَى أُمِّهِ فَعَلِقَتْ فَوَلَدَتْ مِنْهُ خَيْرًا مِنْهُ زَكَاةً وَأَقْرَبَ رُحْمًا»[2] يعني او د وژلي شوي ماشوم پلار د هغه د مور سره جنسي ارتباط ونيوه چې هغې علوقه واخستله نو د همدې علوقې څخه يې د وژل شوي څخه بهتر اولاد وزېږاوه چې د دين د حيثه بهتر وه او مور او پلار ته د صلة الرحم په حيث نژدې وه.

ب: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې: «فَوَلَدَتْ جَارِيَةً وَلَدَتْ نَبِيًّا»[3] يعني د وژلي شوي هلک مور يوه ماشومه انجلۍ وزېږوله چې د هغې د ګېډې څخه يو پيغمبر تولد شو، نو هغوی دواړه د پيغمبر نيا او نيکه وګرځېده.

## کنز څه معنی؟

۵ـ په ﴿ وَكَانَ تَحْتَهُۥ كَنزٌ لَّهُمَا ﴾ کښې د ﴿ كَنزٌ ﴾ کلمه د الله ﷻ په توفيق د [التوبة:۳۴] ايت لاندې ښه پوره معنی کړی شوې ده چې خزانې ته ويل کيږي، خو په دې مقام کښې ورباندې دغه څو معلومات وراضافه کوو:

الف: د ﴿ وَكَانَ أَبُوهُمَا صَٰلِحًا ﴾ څخه څرګندېږي چې ذکر شوي مدفونه خزانه په علمي او شرعي نصائحو باندې هم مشتمله وه، او دا ځکه چې صالح سړی به هيڅکله داسې ونه کړي چې د خپل اولاد مادي ګټې په نظر کښې ونيسي او معنوي ګټې يې هېرې کړي د همدې کبله د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې ذکره شوې دفن کړی شوې خزانه د سرو زرو او سپينو زرو تختې

---

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۱۷۴
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۸ ص۱۷
(۳) تفسير القرطبي ج۱۱ ص۳۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وې چې په دواړو باندې نصيحتونه نقش كړى شوي وه[١].

ب: همدارنګه سړي ته ذهن ته ورځي چې نوموړي صالح سړي به د مدفوني خزانې مشخصات په بنه اطمناني ځاى كښې ساتلي وه ترڅو د ده دواړه زامن وكړى شي چې د بلوغ څخه وروسته خپله خزانه مونده كړي او د دواړو دنياوو استفاده ترې وكړي، كه بالفرض د مدفوني خزانې مشخصات نه وى ښودل شوي نو د خزانې ښخول به د ضائع كولو معنى درلودى چې خپلو اولادونو به يې هم نه وي موندلې، او صالح سړى خو داسې كار نه كوي.

## درېګوني اسلوبونه

۶ـ الله ﷻ مونږ ته د خضر ﷺ د خولې څخه د درېګونو واقعاتو په تشريح كښې درېګوني اساليب (طريقې) حكايت كړي دي چې په ترتيب سره يې ﴿ فَأَرَدتُّ، فَأَرَدْنَا، فَأَرَادَ رَبُّكَ ﴾ كلمات استعمال كړه.

علماء كرام وايي چې په بيان كښې د اساليبو (طريقو) د اختلاف وجه دا وه[٢] چې:

لومړۍ واقعه (د بېړۍ سوري كول) عيب وه او په كسب سره يې صورت نيولى وه نو خضر ﷺ يې يوازې خپل ځان ته نسبت وكړ او ﴿ فَأَرَدتُّ ﴾ سره يې تعبير كړ.

هيچا ته جائزه نه ده چې الله ﷻ ته په "يَا خَالِقَ الْقِرَدَةِ وَالْخَنَازِيرِ" سره خطاب وكړي چې د بې ادبۍ بوى ترې پورته كېږي، چې څه بيان يې د [الأعراف: ١٨٠] ايت لاندې تېر شوى دى، والحمد لله ﷻ.

او په درېمه واقعه كښې د دوه وو يتيمانو غټول او بالغ ګرځول صرف د الله ﷻ كار وه چې كسب پكښې هيڅ مداخله نه درلوده نو ځكه خضر ﷺ صرف الله ﷻ ته منسوب كړ او په ﴿ فَأَرَادَ رَبُّكَ ﴾ سره يې ترې تعبير وكړ.

بالآخره څرنګه چې دوهمه واقعه په دوه وو برخو مشتمله وه: يوه برخه يې د هلک وژل وه چې د خضر ﷺ په كسب باندې يې ترتب موندلى وه او دوهمه برخه يې د عوض وركول وه چې كسب پكښې مداخله نه درلر۔ه نو خضر ﷺ ترې په ﴿ فَأَرَدْنَا ﴾ سره تعبير وكړ يعني مونږ (الله ﷻ او خضر ﷺ) اراده وكړه: يا په بل عبارت خضر ﷺ د قتل (كسب) اراده وكړه او الله ﷻ د عوض وركولو اراده وكړه.

## سوال جواب

٧ـ كه څوک وايي چې: كله په ﴿ فَأَرَدْنَا ﴾ كښې د "نا" ضمير د الله ﷻ او خضر ﷺ څخه عبارت وګڼلى شي نو په كار دي چې په ﴿ فَخَشِينَا ﴾ كښې هم د "نا" ضمير د الله ﷻ او خضر ﷺ څخه عبارت شي حال دا چې د "خَشْيَة" (ډار) نسبت كول الله ﷻ ته بې انتهاء بې ادبي ده؟

مونږ وايو چې: په دې مقام كښې "خَشْيَة" د علم معنى وركوي[٣] نو حاصل يې داسې كېږي چې مونږ (الله ﷻ او خضر ﷺ) پوه شوو چې ذكر شوى ماشوم به په خپل مور او پلار باندې كفر تحميل كړي.

---

(١) روح المعاني ج١۶ ص١٣؛ تفسير البغوي ج٣ ص١٧٧

(٢) تفسير البيضاوي في هذا المقام

(٣) لسان العرب ج١۴ ص٢٢٨

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یوه پوښتنه او د هغې جواب

٨_ که څوک وايي چې: د الله ﷻ او د یوه بنده په منځکښې د مشترک ضمیر استعمال خو جواز نه لري او دا څکه چې یوه ورځې د نبي کریم ﷺ په حضور کښې یوه سړي داسې خطبه وویلې چې: «مَنْ يُطِعِ اللهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ رَشَدَ وَمَنْ يَعْصِهِمَا فَقَدْ غَوَى» یعنې هرڅوک چې د الله ﷻ او دده ﷺ د پیغمبر اطاعت وکړي نو هغه په سمه لاره روان شو او هرڅوک چې د دوی دواړو څخه عصیان وکړي نو هغه بې لارې شو. نبي کریم ﷺ نوموړی خطیب مخاطب کړ چې: «بِئْسَ الْخَطِيبُ أَنْتَ قُلْ وَمَنْ يَعْصِ اللهَ وَرَسُولَهُ»[١] ته ډېر بد خطیب یې (چې مشترک ضمیر دې استعمال کړ) د "مَنْ يَعْصِهِمَا" په عوض «وَمَنْ يَعْصِ اللهَ وَرَسُولَهُ» ووایه.

مونږ وایو چې: په ذکر شوي کیفیت سره مشترک ضمیر بې ادبي ده خو کله چې د عوامو د پلوه استعمال شي لکه چې په سوال کښې ورته اشاره شوې ده.

اما د پیغمبر د پلوه دا ډول استعمال بې ادبي نه ده، او مونږ _د الله ﷻ په توفیق_ د همدې سورت د [٦٥] ایت په یوولسمه توضیح کښې دېته ترجیح ورکړې ده چې خضر ﷺ د پیغمبرانو د جملې څخه یو پیغمبر وه. نو څرنګه چې د پیغمبر کلام د وحې څخه سرچینه اخلي نو د مشترک ضمیر استعمال د الله ﷻ په اجازه باندې صورت نیسي او بې ادبي نه ګڼله کېږي.

د همدې کبله نبي کریم ﷺ په یوه خطبه کښې همدغه ډول مشترک ضمیر استعمال کړی دی چې: «مَنْ يُطِعِ اللهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ رَشَدَ وَمَنْ يَعْصِهِمَا فَإِنَّهُ لَا يَضُرُّ إِلَّا نَفْسَهُ وَلَا يَضُرُّ اللهَ شَيْئًا»[٢] یعنې هرڅوک چې د الله ﷻ اطاعت وکړي نو هغه سمه لاره موندلې کړه او هرڅوک چې د دوی دواړو څخه عصیان وکړي نو هغه ضرر نه رسوي مګر خپل ځان ته او الله ﷻ ته هیڅ ضرر نه شي رسولی.

## یوه لطیفه اشاره

٩_ په ﴿ ذَٰلِكَ تَأْوِيلُ مَا لَمْ تَسْطِع عَّلَيْهِ صَبْرًا ﴾ کښې د ﴿ لَمْ تَسْطِع ﴾ کلمه د استفعال د باب څخه ده چې په معنی کښې د "لَمْ تَسْتَطِعْ" سره مرادفه ده[٣]، د دې باب سره د "ت" توری داسې کلکه انډیوالي لري لکه چې موسی ﷺ د خضر ﷺ سره انډیوالي درلوده.

همدارنګه د "ت" توری د "ط" د توري سره په مخرج کښې متحد دی[٤] لکه څنګه چې موسی ﷺ او خضر ﷺ په نبوت کښې متحد وه.

نو د ذکرې شوې کلمې څخه د "ت" د توري حذف او د "ط" د توري سره یې د انډیوالي پرېښودل لطیفه اشاره ده چې د موسی ﷺ انډیوالي هم په همدې ځای انجام شوه او خاتمه یې ومونده.

---

(١) صحیح مسلم ج١ ص٢٨٦
(٢) سنن ابي داوٗد ج١ ص٢٨٩
(٣) مفردات الراغب ص٣١٩
(٤) لسان العرب ج٨ ص٢٤٢

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## يوه په زړه پورې او ضروري تبصره

۱۰_ الله ﷻ په تکویناتو او ایجاداتو باندې خپلو بندګانو ته علم نه دی ورکړی چې ضرورت ورته نه لري، خو د دوی د قناعت دپاره او د دې دپاره چې دوی په الهي قضاء باندې د زړه د کومې راضي شي او د خپل علم په قصور باندې اعتراف وکړي په خپل لوی فضل سره يې په قرآن کريم کښې د موسى عليه السلام او خضر عليه السلام ذکره شوې درې فقرئيزه قيصه نازله کړې ده، ترڅو د هغو زرګونو سوالونو دپاره جواب واقع شي کوم چې د واقعاتو او ایجاداتو په نسبت د سړي په زړه کښې خطور کوي، لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

الف: کله چې د مالدار سړي په مالونو باندې آفت نازل نه شي بلکې په څنګ کښې يې د يوه مسکين سړي مالداري پوپنا شي، نو څه لرې نه ده چې د چا په ذهن کښې وګرځي چې دا کار بايد بالعکس صورت نيولی وی.

ب: کله چې د ډېرو زامنو پلار د بل زوی پلار جوړ شي خو په څنګ کښې يې بې اولاده سړی وي چې د يوه زوی او يوې لور په ارمان کښې ژوند تېروي.

همدارنګه کله چې ديوه سړي زامن ټول ژوندي وي خو بل سړي يو زوی ولري او هغه هم وفات شي چې مېنه يې ميراثه شي.

نو احتمال لري چې د چا په ذهن کښې سوال پيدا شي چې بايد په اول صورت کښې بې اولاده سړي ته زوی ورکړی شوی وی او په دوهم صورت کښې بايد د ډېرو زامنو څخه کوم يو مړ شوی وی.

ج: کله چې صالح سړی د پولی ټک ته ناست وي او په احتياج کښې ژوند کوي خو په څنګ يې فاسق او فاجر سړی ښه پراخه روزي لري او ټول احتياجات يې پوره وي.

کيدی شي چې د چا په ذهن کښې پوښتنه وګرځي چې د دغو دواړو سړيو سره بايد بالعکس معامله شوې وی هغه بايد محتاج نه وی او دغه بايد حاجتمند وی.

د: کله چې په فرعونيانو باندې آفت نازل نه شي خو په مقابل کښې مظلومان د مصيبت سره مخامخ شي دا هم کيدی شي چې څوک سوال واقع کړي چې دا ولې؟

هـ: همدارنګه هغه سيلابونه هم خلکو ته پوښتنې پيدا کولی شي کوم چې په ودانيو او ښارونو باندې وروخېژي او ټول د خاورو سره برابر کړي.

د ذکرو شوو سوالونو او دغسې د نورو زرګونو سوالونو هغه يو جواب دی کوم ته چې په ذکره شوې قيصه کښې اشاره شوې ده او حاصل يې داسې راځېژي چې:

د دنيا ټول وقائع د الله ﷻ د پلوه د حکمتونو او پټو اسرارو په بنياد صورت نيسي نو په کار دي چې هرڅوک د الله ﷻ د علم په کمال او د خپل علم په قصور باندې معترف شي او په الله ﷻ باندې اعتراض ونه کړي چې خپل ايمان د زوال په خطر کښې واچوي، او خپل ځان داسې کافر کړي لکه څنګه چې ابليس عليه اللعنة خپل ځان دائمي مردود وګرځاوه.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدې مضمون ته الله ﷻ په لاندې دوه ایتونو کښې اشاره کړې ده چې:

الف: ﴿لَا يُسْـَٔلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْـَٔلُونَ﴾ [الأنبياء:٢٣] يعنې د الله ﷻ څخه څوک پوښتنه نه شي کولی او نه د پوښتنې حق لري چې دا کار دې ولې داسې وکړ، او هاغسې دې ونه کړ بالمقابل ټول مخلوقات به د الله ﷻ د پلوه وپوښتلي شي، چې: دا دې ولې کړي دي؟ او دا دې ولې نه دي کړي؟

ب: ﴿كُتِبَ عَلَيْكُمُ ٱلْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ ۖ وَعَسَىٰٓ أَن تَكْرَهُوا۟ شَيْـًٔا وَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۖ وَعَسَىٰٓ أَن تُحِبُّوا۟ شَيْـًٔا وَهُوَ شَرٌّ لَّكُمْ ۗ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ﴾ [البقرة:٢١٦] یعنې: ای مؤمنانو! د الله ﷻ د پلوه په تاسو باندې وسلوال جهاد فرض کړی شوی دی حال دا چې وسلوال جهاد تاسو ته په طبیعت کښې ناخوښه دی شاید چې تاسو یو شی خوښ نه کړئ او هغه درته خیر وي، او شاید چې تاسو یو شی خوښ کړئ خو هغه درته شر وي، او الله ﷻ پوهېږي او تاسو نه پوهېږئ.

نو بالفرض که ذکر شوي پنځه کارونه الله ﷻ د خضر ؑ په لاس اجراء کړي وی او موسی ؑ ورسره ملګری وی نو د هر یو کار په باره کښې به یې ترې ضرور پوښتنه کړې وی او د هرې پوښتنې په هکله به یې مناسب او د قناعت وړ جواب اورېدلی وی.

همدې خبرې ته نبي کريم ﷺ اشاره کړې ده چې: «يَرْحَمُ اللهُ مُوسَى لَوَدِدْنَا أَنَّهُ كَانَ صَبَرَ حَتَّى يَقُصَّ عَلَيْنَا مِنْ أَخْبَارِهِمَا»[1] یعنې په موسی ؑ باندې دې الله ﷻ رحم وکړي چې په درېیم ځل باندې یې د جدا کېدلو وعده ورکړه او صبر یې ونه کړه یقیناً مونږ خوښوله چې صبر یې کړی وی ترڅو چې په مونږ باندې د الله ﷻ د پلوه د دواړو د خبرونو او قیصو څخه څه زیات بیان رانازل شوی وی.

لنډه دا چې د موسی ؑ او خضر ؑ ذکرې شوې قیصې د تکویناتو او ایجاداتو د یوې کوچنۍ څنډې څخه پرده پورته کړه او مونږ یې متوجه کړو چې په قضاء باندې راضي شو او په الله ﷻ باندې اعتراض او نیوکه ونه کړو.

﴿وَيَسْـَٔلُونَكَ عَن ذِى ٱلْقَرْنَيْنِ ۖ قُلْ سَأَتْلُوا۟ عَلَيْكُم مِّنْهُ ذِكْرًا ﴿٨٣﴾ إِنَّا مَكَّنَّا لَهُۥ فِى ٱلْأَرْضِ وَءَاتَيْنَٰهُ مِن كُلِّ شَىْءٍ سَبَبًا ﴿٨٤﴾ فَأَتْبَعَ سَبَبًا ﴿٨٥﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ مَغْرِبَ ٱلشَّمْسِ وَجَدَهَا تَغْرُبُ فِى عَيْنٍ حَمِئَةٍ وَوَجَدَ عِندَهَا قَوْمًا ۗ قُلْنَا يَٰذَا ٱلْقَرْنَيْنِ إِمَّآ أَن تُعَذِّبَ وَإِمَّآ أَن تَتَّخِذَ فِيهِمْ حُسْنًا ﴿٨٦﴾ قَالَ أَمَّا مَن ظَلَمَ فَسَوْفَ نُعَذِّبُهُۥ ثُمَّ يُرَدُّ إِلَىٰ رَبِّهِۦ فَيُعَذِّبُهُۥ عَذَابًا نُّكْرًا ﴿٨٧﴾ وَأَمَّا مَنْ ءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحًا فَلَهُۥ جَزَآءً ٱلْحُسْنَىٰ ۖ وَسَنَقُولُ لَهُۥ مِنْ أَمْرِنَا يُسْرًا ﴿٨٨﴾﴾

[1] جامع الترمذي ج٢ ص١٤٨؛ مسند احمد بن حنبل ج٨ ص٢١

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[٨٣] او (ای پیغمبره!) ستا څخه کفار د ذوالقرنین (د کیفیت) په هکله پوښتنه کوي.

ته ورته ووایه چې: (دغه دی) ډېر ژر به په تاسو باندې د نوموړي د حال (کیف) څخه څه یادونه تلاوت (قرائت) کړم (هغه دا چې:)

[٨۴] یقینًا مونږ نوموړي ته په ځمکه کښې توان (حکومت) ورکړی وه، او (هم مو) ورته د هر شي (د ذرائعو) څخه ذریعه (طریقه او سامان) ورکړی وه (چې مطلب ته به پرې رسېده).

[٨۵] نو (نوموړي د سفر) سامان تعقیب کړه (او د غرب لاره یې ونیوله).

[٨۶] آن تردې چې د لمر د پرېوتلو ځای ته ورسېد (هلته یې) لمر مونده کړ چې په تور رنګې ختېنه چینه (تور رنګي بحر) کښې یې غروب کاوه. او د همدې تور رنګې ختېنې چینې په نزد (د بحر په ساحل کښې) یې (یو کافر) قوم وموند.

مونږ وویلې چې: ای ذو القرنینه! (د دې قوم په هکله ستا فریضه دا ده چې) یا (په وژلو سره) دوی ته تعذیب ورکړې او یا په دوی کښې ښه کار (د شریعت تعلیم) ونیسې.

[٨٧] نوموړي وویلې چې: (زه به ضرور همدغه فریضه عملي کړم) نو هرڅوک چې ظلم وکړي (او په کفر باندې کلک شي) ژر دی چې مونږ به یې (په قتل سره) معذب کړو بیا به (د قیامت په ورځ) خپل رب ﷻ ته ورتاو کړی شي نو په ناآشنا (د دوزخ په دائمي) عذاب باندې به یې معذب کړي.

[٨٨] او هرڅوک چې ایمان راوړي او صالح عمل وکړي نو ده لره د جزا (او بدلې) د حیثه ښکه (درجه جنت) دی. او ژر دی چې مونږ به ورته (په دنیا کښې هم) د خپل امر څخه اساني ووایو (او سختي به ورباندې ورنه ولو).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د خضر ؑ قیصه بیانه شوې وه کوم چې د ځینو اقوالو په بنیاد د ذو القرنین وزیر وه نو په دې ایتونو کښې خپله د پاچا (ذو القرنین) څه حالاتو ته اشاره کېږي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه په دې ایتونو کښې د یهودانو د درېګونو پوښتنو څخه درېمه پوښتنه جوابه شوې ده د کومو شرحه چې د [الإسراء:٨۵] ایت په شان نزول کښې تېره شوې ده، هغه دا چې که ته رښتیانی پیغمبر یې نو د هغه شخص څه حالات بیان کړه د کوم پاچاهي چې شرق او غرب ته رسېدلې وه. نو حاصل یې داسې راځېږي چې:

ای پیغمبره! یهودان ستا څخه په مستقیمه او یا غیر مستقیمه توګه د ذو القرنین په هکله پوښتنه کوي نو ته ورته زمونږ د پلوه داسې جواب ورکړه چې:

١ـ ډېر ژر به زه د الله ﷻ د پلوه په تاسو باندې د ذو القرنین د حالاتو څخه ځینې حالات قرائت کړم، ډېر ژر به ماته د نوموړي په هکله وحې وکړی شي، خو د دې سره سره به تاسو په خپلو کفریاتو باندې کلک پاتې شئ او زما په نبوت باندې به باور ونه کړئ. هغه دا چې:

٢ـ الله ﷻ فرمایي چې مونږ ذو القرنین ته په ځمکه کښې ښه ډېر قوت او قدرت ورکړی وه، او د

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هر هغه شي څخه مو پوره وسائل ورکړي وه کوم چې د یوه مقتدر پاچا دپاره ضرورت وي.

۳ـ نو نوموړي ذو القرنین د خپلو امکانیاتو څخه استفاده وکړه او د سفر وسائل او سامانونه یې تهیه کړه ترڅو د غرب طرف ته سفر وکړي او معلومه کړي چې د لمر لوېدو پورې څومره مسافه پرته ده او څومره مخلوقات ژوند کوي.

۴ـ نو سفر ته یې ادامه ورکړه آن تر دې چې د لمر لوېدیخ ته ورسېد او هلته د لاندې حالاتو سره مخامخ شو:

الف: داسې ځای ته ورسېد چې ابادي تمامه شوې وه او وچه ځمکه ختمه وه، نو لمر یې مونده کړ چې د تورو ختټو په چینه کښې یې غروب کاوه، یا په بل عبارت هلته د دریاب او شنو ختټو څخه په غیر بل شي موجودیت نه درلود، نو د لېدونکو په نظر کښې لمر داسې برېښېده لکه چې په دریاب او شنو ختټو کښې غروب کوي.

ب: ذو القرنین په همدې مقام کښې چې ابادي ختمه شوې وه یو قوم مونده کړ چې هملته اوسېده او هماغه یې اصلي وطن او ټاټوبی وه.

۵ـ په دغه وخت کښې مونږ نوموړی مخاطب کړ چې: ای ذو القرنینه! ته کولی شې چې د دغه قوم سره د لاندې دوه وو لارو څخه یوه لاره غوره کړې:

الف: چې دوی ته په وژلو او بندي کولو باندې تعذیب ورکړې.

ب: او یا په دوی کښې اسانه او ښائسته لاره ونیسې، چې نه یې ووژنې او نه یې معذب کړې.

ج: دا هم کولی شې چې د ځینو سره اوله درنه طریقه اختیار کړې او د ځینو نورو سره په دوهمه اسانه لاره باندې لاړ شې.

۶ـ نو ذو القرنین ذکر شوې ارشاد ته په لبیک سره غاړه کېښودله او خپله کړنلاره یې د همدې مطابق داسې تشریح کړه چې:

الف: هرڅوک چې ظالم وي او په خپل ظلم (کفر) باندې کلک وي نو زه به ضرور هغه په دنیا کښې معذب کړم چې زما تعذیب به په مرګ باندې اختتام مونده کړي، بیا به د قیامت په ورځ د خپل رب ﷻ حضور ته ورتاو کړی شي، او د ناآشنا او دائمي عذاب سره به مخامخ شي.

ب: بالمقابل هرڅوک چې ایمان راوړي او نېک عمل وکړي نو هغه ته د خپل رب ﷻ په نزد لویه جزا او لوړه درجه ده چې په جنتونو باندې به سرلوړی شي.

اما مونږ به هم د نوموړي سره په دنیا کښې سخته لاره غوره نه کړو او تعذیب به ورنه کړو بلکې مونږ به ورته په هغو کارونو کښې (کوم چې مونږ پورې ارتباط لري) اسان اوامر متوجه کړو او په پسته او نرمه لاره به ورسره خبرې وکړو.

## توضیحات

۱ـ کومه امتحاني پوښتنه چې کفارو د ذو القرنین په هکله کړې وه د هغې د جوابولو دپاره الله ﷻ

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نبي كريم ﷺ ته د نوموړي فقط د درېوو سفرونو په ارتباط څه معلومات وحې کړه چې يو سفر د مغرب په طرف صورت نيولی وه چې په ذکرو شوو ايتونو کښې ورته اشاره شوې ده، او دوه سفرونه يې (چې يو مشرق طرف ته او بل د شرقي شمال په لور وه) په وروستنيو ايتونو کښې راروان دي.

خو ذکر شوي درېواړه سفرونه الله ﷻ په داسې طريقه باندې او د داسې کلماتو په بڼه کښې نازل کړه چې د سړي خيال ته ورځي چې نبي كريم ﷺ به ورسره په درېواړو سفرونو کښې ملګری وه او ټول واقعات به يې په سترګو باندې ليدلي وي.

نو د همدې کبله د وخت کفارو په همدغه نازل شوي جواب باندې اکتفاء وکړه او د خپلو سوالونو لکۍ يې نوره اوږده نه کړه، که نه نو دوی کولی شوه چې لاندې پوښتنې يې د دوهم ځل دپاره نبي كريم ﷺ ته راجع کړې وي چې:

الف: د ذو القرنين اصلي نوم څه شی وه؟

ب: نوموړی په ذو القرنين باندې ولې ملقب کړی شوی دی؟

ج: د نوموړي اصلي استوګنځای کوم وطن او کومه منطقه وه؟

د: نوموړی په کوم تاريخ کښې تېر شوی دی؟

هـ: ايا د نوموړي وزير خضر ﷺ وه؟ او که ارسطاطاليس؟

و: نوموړي څومره عمر درلود؟

ز: ذکر شوي درېواړه سفرونه يې په څومره-څومره موده کښې انجام کړه؟ او داسې نور.

کفارو ځکه د خپلو سوالونو لړۍ اوږده نه کړه چې د هغوی يقين وه چې نبي كريم ﷺ د هر ډول سوال د جوابولو توان لري، نو څومره چې د سوال جواب لړۍ اوږدېږي هومره به زمونږ رسوايي او خجالت زياتېږي، دا ځکه چې الله ﷻ د ذو القرنين د حالاتو په بيان کښې داسې هم فرمايلي دي چې: ﴿ وَقَدْ أَحَطْنَا بِمَا لَدَيْهِ خُبْرًا ﴾ [الكهف: ٩١] يعنې او يقيناً مونږ په هغو شيانو باندې کوم چې د ذو القرنين په نزد وه د خبردارۍ د حيثه احاطه کړې ده، او ټول راته هو بهو معلوم او څرګند دي.

## يادونه

٢ـ مګر په مفسرينو کرامو باندې دې الله ﷻ د خپل پراخه رحمت باران وکړي دوی ذکرې شوې پوښتنې مطرحې کړې دي او د اوږدو بحثونو په ضمن کښې يې ورته لاندې جوابونه کړي دي:

الف: د ذو القرنين د اصلي نوم په هکله يې تقريباً څلور احتماله ښودلي دي خو زيات زور يې په دې اچولی دی چې اصلي نوم يې "الاسکندر" وه[١].

ب: د ذو القرنين (يعنې د دوه وو ښکرونو خاوند) لقب ورته تقريباً د يوولسو وجهو د کبله ورکړی شوی وه[٢]. لاندې مثالونه يې ولولی:

(١) تفسير القاسمي ج١١ ص٩٠

(٢) زاد المسير ج٥ ص١٢٨؛ التفسير الكبير ج٢١ ص١٦٤؛ لسان العرب ١٣ ص٣٣٢

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: نوموړي د دنيا دوه ښكرونه (شرق او غرب) ليدلي وه.
دوهم: نوموړی داعي الی الله وه او د دعوت په جريان كښې دوه خله په سر باندې وهلی شوی او زخمي كړی شوی وه.
دريم: د هغه د سر پادشاهي تاج داسې جوړ وه چې دوه ښكرونه يې درلوده او داسې نور.
ج: اصلي وطن يې يونان او يا روم وه او يا د يمن د متعلقاتو څخه "حِمْيَرْ" وه[1].
د: خينې وايي چې د عيسی ﷺ څخه درې سوه او دوه دېرش (۳۳۲) كاله وړاندې تېر شوی دی. او خينې نور وايي چې څه كم دوه زره كاله د عيسی ﷺ څخه وړاندې يې دوران ختم شوی دی[2].
ه: خينې وايي چې خضر ﷺ ورسره د وزارت دوره تېره كړې ده، او خينې نور وايي چې نوموړی د ارسطاطاليس فيلسوف شاګرد وه او د خپل استاذ څخه يې د يوه وزير په حيث په دولتي امورو كښې استفاده كوله[3].
و: په عمر كښې يې هم اختلاف دی حتی چې خينې ورته دوه زره كاله عمر اثباتوي خينې زيات او خينې كم[4].
ز: د سفرونو په موده كښې يې هم اتفاقي خبره نشته چې څومره-څومره وخت يې نيولی وه.
مونږ ته د ذكرو شوو سوالونو په جواب كښې تعمق كول بې ګټې څرګند شو نو څكه مو ورباندې درنده ډېره كېښودله كه څوک پكښې تعمق كوي نو تفاسيرو ته دې مراجعه وكړي.

## سبب څه معنی؟

۳ـ په ﴿ مِن كُلِّ شَيْءٍ سَبَبًا ﴿٨٤﴾ فَأَتْبَعَ سَبَبًا ﴾ كښې د "سَبَب" كلمه د "سَبٌ" ـلكه "مدٌ"ـ سره په اصلي توررو كښې متحده ده، "سَبٌ" پړېكولو ته ويل كېږي[5] خو ذكره شوې كلمه د هر هغه شي دپاره استعمالېږي كوم چې مطلوب ته د رسېدلو وسيله او ذريعه جوړېږي لكه علم او قدرت او هم آلات او ذرائع او داسې نور[6] نو د لومړۍ جملې د معنی حاصل داسې راخېژي چې: مونږ ذو القرنين ته د هر شي د وسائلو څخه دومره وسائل وركړي وه كومو چې نوموړی خپل مطلوب او مقصود ته رساوه.
او د دوهمې جملې د معنی حاصل داسې كېږي: نو ذو القرنين قصد وكړ چې د مغرب طرف ته سفر وكړي نو د همدغه مقصود وسائل يې تعقيب كړه او د همدغه سفر سامان (آلات) يې تهيه كړه او په سفر يې پيل وكړ د يوې مېنې څخه بلې مېنې ته او د يو منزل څخه بل منزل ته وروړاندې شو آن تر دې چې مغرب ته ورسېد او په خپل مطلوب باندې كامياب شو.

---

(۱) روح المعاني ج۱۶ ص۱۲۷؛ تفسير المراغي ج۱۶ ص۱۳
(۲) تفسير القاسمي ج۱۱ ص۹۱؛ تفسير ابي السعود ج۵ ص۲۴۰
(۳) تفسير ابن كثير ج۳ ص۱۰۰؛ تفسير القاسمي ج۱۱ ص۹۲؛ تفسير ابي السعود ج۵ ص۲۴۱
(۴) البحر المحيط ج۷ ص۲۱۹
(۵) لسان العرب ج۱ ص۴۵۵
(۶) حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۳ ص۲۷۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ايا لمر په خټه كښې پرېوزي؟

۴_ په ﴿ تَغۡرُبُ فِي عَيۡنٍ حَمِئَةٖ ﴾ كښې د ﴿ عَيۡنٍ ﴾ كلمه اصلاً سترګې ته وضعه شوې ده مګر د ځينو مناسباتو د كبله په ډېرو معناوو كښې استعمالېږي لكه د اوبو چينه او د غره سر او داسې نور[1] همدارنګه د ﴿ حَمِئَةٖ ﴾ كلمه د "حَمَأ" _لكه "شَرَفٌ"_ څخه اشتقاقه شوې ده، "حَمَأ" هغې تورې خټې ته ويل كېږي كومه چې ورسته شي او بوينه وګرځي[2].

نو د ذكر شوي جملې د معنى حاصل داسې راځېژي چې: د ذو القرنين په نظر ورغله چې لمر د اوبو په داسې چينه كښې لوېږي چې هلته د شنو بوينو ختو څخه په غير بل شى نشته، (نه هلته تعميرات شته او نه هلته انسان استوګنه كوي).

لنډه دا چې د ذكرې شوې جملې په نزول كښې د ابادۍ اختتام ته اشاره ده چې په عمومي توګه د درياب سفر كوونكو ته ذكره شوې منظره په نظر ورځي، چې هاغه دى لمر په درياب كښې غروب وكړ او هلته ډوب شو.

دا هغه معنى وه كومه چې مفسرينو كرامو غوره كړې ده او زمونږ په ذهن كښې يې تقرر نه مونده كاوه، زمونږ ذهن ته دا راتله چې دلته به د عين د كلمې څخه لوى درياب مطلب وي او د ﴿ حَمِئَةٖ ﴾ كلمه به محض د تور معنى وركوي نو حاصل به يې داسې شي چې هلته ذو القرنين وليده چې ابادي ختمه شوې ده او لمر په تور درياب كښې غروب كاوه.

په بل وخت كښې مې عين ذكره شوې معنى په ځينو تفاسيرو كښې[3] مونده كړه، فالحمد لله ﷻ على الموافقة.

## سوال جواب

۵_ كه څوک وايي چې د ﴿ قُلۡنَا يَٰذَا ٱلۡقَرۡنَيۡنِ ﴾ څخه سړي ته ذهن ته ورځي چې ذو القرنين پيغمبر وه او الله ﷻ ورته وحې وكړه، نو پوښتنه دا ده چې: ايا دغه طرز فكر صحت لري؟

مونږ وايو چې: كه څه هم ځينې علماء كرام ورته د ذكر شوي خطاب د كبله په نبوت باندې قائل دي[4] مګر صحيحه خبره دا ده چې نوموړى يو صالح او مجاهد پاچا وه او پيغمبر نه وه[5] نو په دې صورت كښې د خطاب لاندې معناوې كېدلى شي:

الف: مونږ ذو القرنين ته د وخت د پيغمبر په ذريعه خطاب وكړ چې: اى ذا القرنين![6].

---

(١) مفردات الراغب ص٣۶٧
(٢) لسان العرب ج١ ص۶١
(٣) اضواء البيان ج۴ ص١٩٧
(۴) تفسير الخازن ج۴ ص١٣۵
(۵) تفسير البغوي ج٣ ص١٧٩
(۶) روح المعاني ج١۶ ص٣۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: مونږ نوموړی د فراست په توګه پوه کړ[1]، ته به وايې چې هغه ته مو خطاب کړی وي چې ای ذا القرنين! تاته اختيار دی چې د دغه قوم سره هره یوه لاره غوره کوې (کومې چې په ايت شريف کښې ذکرې دي).

د فراست ښه تحقيقي بحث د [الحجر:۷۵] لاندې د الله ﷻ په توفيق تېر شو دی چې بيا ليکلو ته يې اړتيا نه ګورو.

که بالفرض ذکر شوی خطاب ذو القرنين ته د یوه پیغمبر په حيث متوجه شوی وي نو د هغه څخه په ضرور د ﴿ ثُمَّ يُرَدُّ إِلَىٰ رَبِّهِۦ ﴾ په عوض "ثُمَّ يُرَدُّ إِلَيْكَ" کلمات حکايت شوي وی چې: ای الله! ما ستا فرمان د زړه په غوږونو واورېد، زه به ظالم معذب کړم او بيا به تاته درتاو کړی شي نو ته به ورته د قيامت په ورځ نااشنا عذاب ورکړې، نو پخپله قرآن کريم د نوموړي نبوت نه تائيدوي.

﴿ ثُمَّ أَتْبَعَ سَبَبًا ﴿٨٩﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ مَطْلِعَ ٱلشَّمْسِ وَجَدَهَا تَطْلُعُ عَلَىٰ قَوْمٍ لَّمْ نَجْعَل لَّهُم مِّن دُونِهَا سِتْرًا ﴿٩٠﴾ كَذَٰلِكَ وَقَدْ أَحَطْنَا بِمَا لَدَيْهِ خُبْرًا ﴿٩١﴾ ﴾

[۸۹] بيا ذوالقرنين (د سفر) سامان (او ذرائع) تعقيب (تهيه) کړه (او ختيځ طرف ته لاره يې ونيوله).

[۹۰] آن تر دې چې کله د لمر د ختلو ځای ته ورسېد (هلته) يې لمر مونده کړ چې په يو داسې قوم باندې راخوت چې مونږ هغوی لره د لمر په وړاندې پرده نه وه ګرځولې (پيدا کړې، د هغوی څخه وړاندې بل قوم پورت نه وه).

[۹۱] (ای پيغمبره! د دغه قوم په هکله زمونږ توصيه او د ذو القرنين کړنلاره) د همغه قوم غوندې وه (کومه چې وړاندې په غربي سفر کښې ذکره شوه). او يقيناً مونږ د خبرتيا د حيثه په هغو شيانو باندې احاطه کړې ده کومو چې د نوموړي په نزد موجوديت درلود.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

يعني کله چې ذو القرنين د غربي سفر څخه بېرته راستون شو نو اراده يې وکړه چې دا ځل د شرق (ختيځ) په لور سفر وکړي او خپل خان ته معلومه کړي چې دغې خوا ته څومره مسافه ده او څومره قومونه پراته دي؟.

۱ـ نو دا ځل يې د شرقي سفر سامان او ضروريات تهيه کړه او همدغې خواته لاره يې منزل په منزل تعقيبه کړه.

۲ـ آن تر دې چې هغې منطقې ته ورسېد چرته چې ابادي ختمه شوې وه او چرته چې لمر په داسې قوم باندې طلوع کوله چې د دغه قوم او د لمر ترمنځ د ابادۍ پردې موجوديت نه درلود. يا په بل عبارت: مونږ د ذکر شوي قوم او د لمر د راختلو ترمنځ بل قوم نه وه حائل کړی بلکې دغه قوم

[1] تفسير ابي السعود ج۵ ص۲۴۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وروستني قوم وه چې خمکه ورباندې اباده وه.

۳_ ای پیغمبره! دغه قوم هم د غربي قوم غوندې کافر قوم وه او مونږ ذو القرنین ته د دوی په هکله هغه ارشاد وکړ کوم مو چې ورته د غربي قوم په هکله کړی وه او نوموړي دلته هم خپل هغه خط السیر تعقیب کړ کوم يې چې هلته تعقیب کړی وه.

۴_ ای پیغمبره! مونږ تاته د ذو القرنین د سفرونو د کړیو څخه صرف وروستنۍ یوه-یوه کړۍ بیانه کړه او په همدې باندې مو اکتفاء وکړه که نه نو مونږ ته خو د نوموړي صالح بنده ټول حالات معلوم دي، او د سفرونو په ټولو جزئیاتو باندې يې خبردار یاستو.

نو که بالفرض ستا څخه د وخت کفار د عناد په توګه نورې پوښتنې وکړي نو د هر ژر به درته د هغو جوابونه هم وحې کړو، او دا څکه چې مونږ په نوموړي باندې د خبردارۍ د حیثه احاطه کړې ده او هرڅه يې مونږ ته هو بهو څرګند دي.

## توضیحات

۱_ په ﴿ لَمْ نَجْعَل لَّهُم مِّن دُونِهَا سِتْرًا ﴾ کښې د "دُون" کلمه متعددې معناوې لري چې تقریباً نهو ته رسېږي[1] خو په دې مقام کښې اکثرو مفسرینو کرامو د "تحت" په معنی اخستې ده چې د "فوق" سره مناقضه ده نو حاصل يې داسې راوباسي[2] چې:

الف: مونږ د دغه قوم دپاره د لمر څخه لاندې هیڅ پرده او حجاب نه وو ګرځولې (نه وو پیدا کړی) چې جامې يې نه درلودې او لوڅ پوڅ (بربنډ) وه.

ب: د هغه قوم په اوسېدنځای کښې تعمیرات او ابادي نه شوه ودرېدلی او کورونه پکښې نه شوه جوړېدلی چې خمکه يې ډېره نرمه او یا شګلنه وه، او یا خو د هغوی د کورونو جوړول زده نه وه.

ج: هلته ونې او غرونه نه وه چې هغوی د لمر د وړانګو څخه خپل خانونه بچ کړي وی او د سورو څخه يې استفاده کړې وی.

نو کله به چې لمر طلوع وکړه ذکر شوي قوم به خپل خانونه په اوبو کښې پټول او د ماهیانو غوندې به يې هلته پنا اخسته، او یا به د حشراتو غوندې په سوړو کښې ننوتل، او کله به چې لمر غروب وکړ نو بیا به د دریاب یا سوړو څخه راوتل او د روزۍ تالاش به يې کاوه.

د: بالآخره نوموړی قوم د لمر څخه هیڅ ډول پرده نه درلوده، نه يې قلاګانې او کوټې درلودې، او نه هلته غرونو او ونو موجودیت درلود، او نه يې لباس او پوښاک درلود.

مګر مونږ ته داسې برېښي ـوالله ﷻ اعلمـ چې دلته به د "دُون" کلمه د "اَمَام" ـلکه "تُراب"ـ په معنی وي چې په پښتو کښې ترې په "وړاندې" باندې تعبیر کوو. یعني مونږ د ذکر شوي قوم دپاره د لمر په وړاندې په بل قوم سره کومه پرده نه وه پیدا کړې چې هغه قوم د دوی او د لمر په منځکښې

(۱) لسان العرب ج۱۳ ص۱۶۵
(۲) البحر المحیط ج۷ ص۲۲۴؛ تفسیر الخازن ج۴ ص۱۳۶؛ تفسیر البغوي ج۳ ص۱۷۹؛ تفسیر القرطبي ج۱۱ ص۵۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



حائل واقع شوی وي، بلکې لمر د دریاب څخه مستقیماً په همدوی باندې طلوع کوله نو شرقي طرف ته دغه قوم وروستنی قوم وه او د دوی څخه وړاندې بل قوم موجودیت نه درلود.

مونږ ذکره شوې معنی ځکه خوښه کړه ترڅو د ذو القرنین شرقي سفر د غربي سفر غوندې د ابادۍ په اختتام باندې دلالت وکړي لکه چې لږ وړاندې د همدې سورت په [۸٦] ایت کښې ورته اشاره شوې ده، په دې باندې علاوه ذکرې شوې څلور واړه معناوې د تناقض څخه خالي نه دي چې د یو پلوه وایي چې د لمر د شعاعو څخه یې هیڅ پرده نه درلوده او د بله پلوه وایي چې د غارونو او اوبو پرده یې درلوده او داسې نور.

## یادونه

۲ـ مفسرینو کرامو د ﴿ كَذَٰلِكَ ﴾ کلمات په متعددو معناوو باندې تفسیر کړي دي[۱] لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: ای پیغمبره! د ذو القرنین حال دغه وه چې تاته وحې کړی شو، ته وګوره چې الله ﷻ ورباندې څومره لوی فضل کړی وه او څومره لویه پراخه پاچاهي یې ورکړې وه.

ب: ای پیغمبره! دغه قوم چې د شرق په انتهاء کښې اوسېده د هغه قوم په شان کافر وه کوم چې د غرب په انتهاء کښې یې استوګنه درلوده.

ج: ای پیغمبره! مونږ ذو القرنین ته د دغه شرقي قوم په هکله همغه توصیه وکړه کومه مو چې ورته د غربي قوم په ارتباط کړې وه.

د: ای پیغمبره! د دغه قوم په باره کښې ذوالقرنین خپله هغه رنګ تګلاره تعقیب کړه کومه یې چې د غربي قوم په باره کښې تعقیب کړې وه، او دلته یې هغه وینا وکړه کومه وینا یې چې هلته کړې وه.

مونږ ته ذکرې شوې څلور واړه معناوې یو تربله منافي نه بریښي نو که د بدلیت په اعتبار سره تولې اراده کړی شي هیڅ باک یې نشته.

﴿ ثُمَّ أَتْبَعَ سَبَبًا ﴿٩٢﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ بَيْنَ ٱلسَّدَّيْنِ وَجَدَ مِن دُونِهِمَا قَوْمًا لَّا يَكَادُونَ يَفْقَهُونَ قَوْلًا ﴿٩٣﴾ قَالُوا۟ يَـٰذَا ٱلْقَرْنَيْنِ إِنَّ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مُفْسِدُونَ فِى ٱلْأَرْضِ فَهَلْ نَجْعَلُ لَكَ خَرْجًا عَلَىٰٓ أَن تَجْعَلَ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمْ سَدًّا ﴿٩٤﴾ قَالَ مَا مَكَّنِّى فِيهِ رَبِّى خَيْرٌ فَأَعِينُونِى بِقُوَّةٍ أَجْعَلْ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ رَدْمًا ﴿٩٥﴾ ءَاتُونِى زُبَرَ ٱلْحَدِيدِ ۖ حَتَّىٰٓ إِذَا سَاوَىٰ بَيْنَ ٱلصَّدَفَيْنِ قَالَ ٱنفُخُوا۟ ۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَعَلَهُۥ نَارًا قَالَ ءَاتُونِىٓ أُفْرِغْ عَلَيْهِ قِطْرًا ﴿٩٦﴾

---

(۱) روح المعاني ج۱٦ ص۳٦؛ تفسیر القاسمي ج۱۱ ص۸۵؛ زاد المسیر ج۵ ص۱۳۱؛ التفسیر الکبیر ج۲۱ ص۱٦۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



فَمَا ٱسۡطَـٰعُوٓاْ أَن يَظۡهَرُوهُ وَمَا ٱسۡتَطَـٰعُواْ لَهُۥ نَقۡبٗا ﴿٩٧﴾

[۹۲] بیا ذو القرنین (د سفر) سامان تعقیب (تهیه) کړ (او په شرقي شمالي سفر باندې يې پیل وکړ).

[۹۳] آن تر دې چې د دوه وو غرونو منځ ته ورسېد نو د دواړو غرونو په وړاندې يې يو داسې قوم مونده کړ چې نژدې نه وه چې (د ذو القرنین سره) په خبره باندې پوه شي.

[۹۴] دوی (دغه قوم د ترجمانانو او اشاراتو په ذريعه خطاب وکړ او) ويې ويلې چې: ای ذا القرنینه! یقیناً یاجوج او ماجوج (چې د دغو دواړو غرونو تر شا اوسېږي) په ځمکه کښې فساد کوونکي (خلک) دي (او زمونږ په خانونو او مالونو باندې تجاوز کوي).

نو ایا مونږ تاته څه مزدوري درکړو په دې شرط چې ته زمونږ او د دوی ترمنځ (په دغو دواړو غرونو کښې) بند (دېوال) وګرځوې (جوړ کړې چې د هغوی د را اوښتلو مخه ونیوله شي)؟

[۹۵] ذو القرنین (په جواب کښې) ووېلې چې: هغه شی چې ماته پکښې خپل رب ﷻ وسه (قدرت) راکړې دی (ستاسو د مزدورۍ څخه) ډېر ښه دی.

(زه ستاسو څخه مزدوري نه اخلم او د سوال اجابت مو کوم) نو تاسو زما سره د قوت (د کارېګرو او وسائلو) کومک وکړئ ترڅو ستاسو ترمنځ او د دوی ترمنځ ښه مضبوط (قوي محکم) بند وګرځوم (جوړ کړم).

[۹۶] (د هرڅه څخه وړاندې) ماته د اوسپنې ټوټې (تختې) راوړئ. (هغوی د کارېګرو او وسائلو کومک وکړ او د اوسپنې تختې يې وروړې نو کار يې پیل کې) آن تر دې چې د دوه وو غرونو (د څوکو) منځ يې (په اوسپنو باندې) برابر (مساوي) کړ.

(بیا يې کارېګرو ته) وویلې چې: (اور ورباندې بل کړئ او) پوکی (هوا) ورکړئ.

(هغوی امر عملي کړ) آن تر دې چې د دوه وو غرونو منځ يې اور وګرځاوه (ښه يې ګرم کړ).

(نو بیا يې امر وکړ او) ويې ويلي چې ويلي کړی شوي زېړ (تانبه) ماته راوړئ چې زه يې ورباندې ورواړم (چې سوري او چاودونه يې بند کړي).

[۹۷] نو (په دائمي توګه) ياجوجو او ماجوجو توان ونه شو درلودی چې په بند باندې ورپورته شي (او په سر باندې يې واوړي)، او (په موقته توګه) يې (نوموړي) بند لره د سوري کولو وسه (هم) ونه شوه درلودلی (مونده نه کړی شوه).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د ذوالقرنین د دریم سفر څه بیان نازل شوی دی نو حاصل يې داسې راځېږي چې: ای پیغمبره! ذو القرنین د خپل دوهم سفر په تعقیب دریم سفر شروع کړ نو په خپل امت باندې د همدغه سفر لاندې څه بیان قرانت کړه:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۱_ ذو القرنین سامان او ذرائع تهیه کړه او په درېیم سفر باندې یې پیل وکړ د همدغه سفر په اوږدو کښې د ډول-ډول حالاتو سره مخامخ شو، دغه یو مثال یې خپل امت ته ورسوه چې:

۲_ په همدغه سفر باندې مشغول وه آن تر دې چې د دوه وو غرونو منځ ته ورسېد او هلته لاندې کیفیتونه ورپېښ شوه:

الف: د دواړو غرونو په نزد د یوه داسې قوم سره ملاقې شو چې هغوی نژدې نه وه چې د ده سره په خبره باندې پوه شي خو د دې سره-سره د ترجمانانو او اشاراتو څخه یې د ګونګانو غوندې کار واخست او لاندې سوال جواب یې ورسره وکړی شو. نو هغوی وویلې چې:

ب: ای مقتدره پاچا! (چې د ذو القرنین لقب دې ګټلی دی) زمونږ په قرب او جوار کښې یو قوم استوګنه کوي چې د یاجوج او ماجوج په نامه یادېږي.

د: دغه قوم وخت په وخت زمونږ په مالونو او ځانونو باندې تعرض کوي او په ځمکه کښې فساد جوړوي، د دوی دا کار دائمي عادت دی چې نه په سوال زاریو باندې د خپل عادت څخه اووښتونکي دي او نه په نصیحت باندې ترې لاس اخلي.

هـ: زمونږ وړاندیز دا دی چې د نوموړي قوم د فساد مخه په اساسي توګه ونیسې او مونږ د دوی د شر او فساد څخه په دائمي ډول خلاص او بچ کړې.

و: اساسي چاره یې دا ده چې زمونږ او د نوموړي مفسد قوم ترمنځ ښه قوي دېوال جوړ کړې، یا په بل عبارت هغه دره په خپل پاچاهي قوت سره بنده کړې په کومه باندې چې هغوی مونږ ته د اذیت (ضرر) رسولو دپاره تګ راتګ کوي.

ز: ای پاچا! که دغه کار ته عملي جامه ورواغوندې نو د هغوی مخه به په اساسي توګه بنده شي چې د همدغې درې څخه په غیر بله لاره نه لري.

ح: هو! د دغه بند (دېوال) په جوړولو کښې مونږ تیار یاستو چې تاته څه مزدوري درکړو، ترڅو د مفسدانو مخنیوی وکړی شي.

ط: ذو القرنین ذکر شوی وړاندیز قبول کړ چې ډېر ژر به تاسو د مفسدانو د ولکې څخه وباسم او د الله ﷻ په توفیق به ښه لوړ دېوال جوړ کړم.

ي: زه ستاسو څخه څه مزدوري او اجرت نه غواړم کومه توانایي او اقتدار چې ماته خپل رب ﷻ رابښلی دی هغه ستاسو د اجرت څخه ډېر بهتر دی، خو:

یا: زه ستاسو څخه یوازې دا غواړم چې ما سره د کاریګرو کومک وکړئ چې په اجرت او مزدورۍ باندې زما سره د دېوال جوړولو په عملیه کښې اشتراک وکړي.

او بله دا چې د نوموړي دېوال خام مواد ماته د عوض په مقابل کښې راکړئ، ترڅو زه ستاسو غوښتنه پوره کړم او د مفسدانو مخنیوی وکړم نو:

یب: هلئ ژر شئ! ماته کاریګر راغونډ کړئ او د اوسپنې تختې او توټې راټولې کړئ.

۳_ ای پیغمبره! کله چې هغوی د ذو القرنین غوښتنو ته لبیک وویلې نو نوموړي مقتدر پاچا د

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بند د جوړولو عملیه په لاندې ډول باندې پیل کړه:

الف: د هر څه څخه وړاندې یې د دوه وو غرونو ترمنځ فاصله په اوسپنو باندې ډکه کړه آن تردې چې د دواړو څوکې یې سره وصل کړې او دره یې بنده کړه.

ب: بیا یې امر وکړ چې په دغو اوسپنو باندې اور بل کړئ او په بنیو او نورو ذرائعو باندې باد او هوا ورکړئ چې اور ښه تېز او توند شي.

ج: کاریګرو همدغه امریه عملي کړه او اور یې ښه تېز کړ آن تر دې چې د اوسپنې انبار شوې ټوټې دومره ګرمې شوې چې تکې سرې وګرځېدلې تا به ویل چې دا پخپله د اور ټوټې دي.

د: بیا ذو القرنین فرمان صادر کړ چې اوس نو زیړ (تانبه) راټوله کړئ او په هغې باندې اور بل کړئ آن تردې چې ویلې شي او اوبه وګرځي ترڅو یې زه په ذکر شوي اوسپنیز دېوال باندې ورواړوم او سوري او چاودونه یې وربانډې بند کړم.

هـ: نو کارېګرو دغه امریه هم عملي کړه چې تانبه یې ویلي کړه او د نوموړي پاچا د دوهم امر د اجراء دپاره یې تیاره او چمتو کړه.

و: نو نوموړي امر صادر کړ چې دغه ویلې کړی شوي تانبه په ذکر شوي اوسپنیز دېوال باندې ورتویه کړئ چې په چاودونو او سوریو کښې یې ننوځي.

۴ـ ای پیغمبره! کله چې دغه عملیه هم اجراء کړی شوه نو په نتیجه کښې داسې یو قوي دېوال او بند جوړ کړی شو چې یاجوج ماجوج (مفسد قوم) نه دا توان درلود چې وربانډې وروخېژي او په سر باندې یې واوړي او نه یې د دې وسه وه چې سوري پکښې وکړي، او د فساد دپاره ترې راووځي.

نو د مظلوم قوم غوښتنه پوره کړی شوه او د مفسدانو مخه ونیوه شوه.

## توضیحات

۱ـ د "سَدّ" کلمه ـ لکه "شَدّ" ـ اصلاً د "سَدَّ، یَسُدُّ" ـ لکه "مَدَّ، یَمُدُّ" ـ دپاره مصدر ده چې د منعه کولو او مخنیوي معنی ورکوي، خو په محاوراتو کښې د هر مانع په معنی باندې استعمالېږي[1]، برابره خبره ده چې خلقي مانع وي کله غر او یا مصنوعي مانع وي لکه دېوال یا د اوبو بند او داسې نور.

د همدې کبله مفسرینو کرامو[2] په ﴿ بَيْنَ ٱلسَّدَّيْنِ ﴾ کښې د ﴿ ٱلسَّدَّيْنِ ﴾ کلمه (چې د "سَدّ" مثنی ده) په دوه وو غرونو باندې تفسیره کړې ده او په ﴿ أَن تَجْعَلَ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمْ سَدًّا ﴾ کښې یې د قوي دېوال په معنی اخستې ده.

## داسې معلومېږي چې

۲ـ الله ﷻ د خپل کتاب په اسرارو باندې د هر ښه پوهېږي خو مونږ ته په دې مقام کښې داسې معلومېږي چې:

---

(۱) لسان العرب ج۳ ص۲۰۷

(۲) تفسیر ابي السعود ج۵ ص۲۴۴؛ تفسیر البغوي ج۳ ص۱۸۲؛ تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۱۰۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: ذو القرنین به ذکر شوی قوم اسلام ته دعوت کړی وي او هغوی به ټول په یوه خوله په ایمان باندې مشرف شوي وي او بیا به یې نوموړي مقتدر پاچا ته د خپلو احتیاجاتو په لړ کښې د فساد د مخنیوي دپاره د یوه بند د جوړولو وړاندېز هم کړی وي، چې مهمو ټکو ته یې په ایتونو کښې اشارې شوې دي.

ب: نوموړی پاچا به د هغو دواړو قومونو په خبرو اترو باندې ښه په زغرده پوه شوی وي د کومو دواړو سره چې د دنیا په غربي او شرقي دواړو څنډو کښې مخامخ شوی وه، اما د دغه قوم د کوم سره چې په دریم سفر کښې ملاقې شوی وه په خبرو باندې به په سختۍ سره پوه شوی وي او د اشارو او ترجمانانو څخه به یې استفاده کړې وي.

## د یَأجُوج او مَاجُوج څه بیانات

۳ـ که څه هم ځینو مفسرینو کرامو د ﴿إِنَّ يَأۡجُوجَ وَمَأۡجُوجَ مُفۡسِدُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ﴾ په تفسیر کښې زښت ډېر اوږده بحثونه کړي دي[١]، خو څرنګه چې په دې تفسیر کښې زمونږ طرز العمل دا دی چې هغه خبرې پکښې نه لیکو کومې چې د ایتونو سره نژدې پیوند ونه لري، نو د همدې کبله مونږ فقط د لاندې نکاتو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

الف: د ﴿يَأۡجُوجَ وَمَأۡجُوجَ﴾ دواړه کلمې اصلاً اعجمي دي چې د عربي کلماتو د اشتقاقي قوانینو لاندې نه واقع کېږي، که بالفرض څوک پکښې د اشتقاق التزام وکړي نو په لاندې دوه وو صورتونو سره امکان لري[٢]:

اول: چې د "أجّتِ النّارُ" څخه مشتقې وګڼلې شي یعنې اور ډېر زیات تېز بل شوی وه.

دوهم: چې د "هذا ماءٌ أجَاجٌ" څخه واخستلی شي یعنې دغه ډېرې زیاتې تروې اوبه دي چې په خپل ډېر تریوالي سره پوستکی سوزوي.

څرنګه چې ذکرې شوې دواړه طائفې په فساد کښې ډېرې تیزې دي چې انسانان وژني او شنه بوټي د ښځه اوباسي نو ذکر شوي دواړه نومونه ورسره ښه مناسب دي، ته به وایې چې یا په ګرموالي سره او یا په ډېر تریووالي سره د سړي پوستکی سوزوي.

## یاجوج او ماجوج څوک-څوک دي؟

ب: صحیحه خبره دا ده[٣] چې یاجوج د یوه سړي نوم دی او ماجوج د بل سړي نامه ده چې دوی دواړه بنیادمان دي او د نوح ﷺ د هغه زوی اولاده ده کوم چې د (یافث) په نوم باندې یادېږي.

همدغه مطلب د دې ایت شریف څخه هم څرګندېږي چې: ﴿وَجَعَلۡنَا ذُرِّيَّتَهُۥ هُمُ ٱلۡبَاقِينَ﴾ [الصافات:

(١) تفسیر الطبري ج١٦ ص١٩: الجواهر للطنطاوي ج٩ ص٢٠٢، ٢١٢

(٢) لسان العرب ج٢ ص٢٠٧

(٣) عمدة القاري على البخاري ج١٥ ص٢٣٢

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۷۷] یعنې مونږ فقط د نوح ﷺ اولاده په ځمکه باندې باقي پرېښودله.

نو چا چې ذکر شوي قومونه یوازې د آدم ﷺ اولاد ګڼلی دی (چې د ده ﷺ د احتلام ځخه پیدا شوي دي او د بي بي حواء رضي الله عنها د ګېډې ځخه نه دي) هغوی غلط شوي دي.

## یاجوج او ماجوج څرته اوسېږي؟

ج: یاجوج او ماجوج (چې پښتو کښې د زوزو مازوزو په نامه باندې مشهور دي) د ذو القرنین د سد (بند) ځخه هغې خوا ایسار دي، او د هغه وخت پورې به هلته بند پاتې وي ترڅو چې د قیامت ورځ نژدې شي، نو بیا به راخوشې کړی شي او الله ﷻ به ورته د بند د سوري کولو توان ورکړي. د ښه وضاحت دپاره لاندې نصوص ولولئ:

اول: د یوه اوږده حدیث مضمون دی چې یوه ورځې نبي کریم ﷺ په وارخطایي سره وویلې چې: «فُتِحَ الْيَوْمَ مِنْ رَدْمِ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مِثْلُ هَذِهِ»[١] نن ورځ د یاجوج ماجوج د قوي بند ځخه دغومره سوری ښېرته شو (د ځپلې غتې ګوتې او سبابې ګوتې ځخه یې کړۍ جوړه کړه او په "هذه" سره یې ورته اشاره وکړه).

نو څه لرې نه ده چې حقیقتاً پکښې وړوکی سوری شوی وي او دا هم څه لرې نه ده چې دغه وړوکې کړۍ د ډېر نژدېوالي ځخه کنایه وي[٢].

دوهم: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «قَالَ الَّذِي عَلَيْهِمْ ارْجِعُوا فَسَتَخْرِقُونَهُ غَدًا إِنْ شَاءَ اللهُ»[٣] یعنې زوزي مازوزي هره ورځ د ذوالقرنین د اوسپنیز دیوال (بند) په ځېرولو مشغول دي او د هرې ورځې په ښېګاه کښې کارکوونکو ته ځپل مشر وایي چې سبا ته به یې سوری کړئ او د وتلو لاره به خلاصه کړئ خو په یوه ښېګاه کښې هم د "إِنْ شَاءَ اللهُ" کلمات نه وایي، کله چې سبا ته کارېګر د پاتې دېوال د سوري کولو او ځېرولو دپاره ورشي نو د الله ﷻ په قدرت سره دېوال ښېرته ځپل پخواني حالت ته ګرځولی شوی وي، ته به وایې چې پرون ورباندې لږ کار هم نه دی شوی.

مګر کله چې د قیامت ورځ نژدې شي او الله ﷻ اراده وکړي چې د هغوی لاره خلاصه کړي نو په همغه ښېګاه کښې به د کارېګرو مشر دوی مخاطب کړي چې: ان شاء الله ﷻ سبا ته به تاسو دغه دېوال ځېرې کړئ او د وتلو لاره به ښېرته کړئ.

نو د دغه ښېګا په سهار کښې چې دوی بیا کار ته ورشي نو دېوال به پخواني حال ته تغیر نه وي کړی بلکې په همغه حال باندې به پاتې وي په کوم باندې چې دوی په ښېګاه کښې پرېښی وه، او د څه کار کولو ځخه وروسته به بریالی شي چې د وتلو لاره خلاصه کړي او ځپله ډېره اوږده محاصره ماته کړي.

---

(١) صحیح مسلم ج٢ ص٣٨٨

(٢) عمدة القاري شرح صحیح البخاري ج١٥ ص٢٣٨

(٣) جامع الترمذي ج٢ ص١٤٨

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د زوزو مازوزو تعداد

د: د زوزو مازوزو تعداد زښت ډېر دی د ښه وضاحت دپاره لاندې نصوص ولولئ:

اول: الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَهُم مِّن كُلِّ حَدَبٍ يَنسِلُونَ ﴾ [الأنبياء:۹۶] يعنې کله چې هغوی د ذوالقرنين د دېوال محاصره خلاصه کړي نو دوی به (برسېره په هوارو ځمکو باندې) د هرې لوړې او غونډۍ څخه ښه په سرعت سره راکوزېږي چې د هيڅا سره به يې د مقابلې توان نه وي. يا په بل عبارت د ذو القرنين په زمانه کښې دوی په يوه قوم باندې تجاوز کاوه چې په دېوال باندې يې د فساد او تجاوز مخنيوی وکړی شو مګر کله چې محاصره ماته کړي نو په ټوله دنيا باندې به تجاوز وکړي او هيڅوک به يې مخنيوی ونه کړی شي.

دوهم: نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «فَحَرِّزْ عِبَادِي إِلَى الطُّورِ»[۱] يعنې کله چې هغوی محاصره ماته کړي او په ځمکه باندې راخواره شي نو په دغه وخت کښې به عېسی ﷺ د اسمانه راښکته شوی وي او دجال به يې مردار کړی وي نو الله ﷻ به ورته وحې وکړي چې: ای عيسی! اوس بله لويه فتنه درروانه ده چې زوزي مازوزي د بند څخه درخوشې کړی شوه چې د هيڅا سره يې د مقابلې توان نشته او هر طرف ته د ډېروالي د کبله لکه سېلاب ښويېږي، نو زما بندګان (مسلمانان) د طور غره ته اوچت کړه چې هلته د دغو مفسدانو څخه په امن کښې پاتې شي او بس.

دريم: نبي کريم ﷺ په بل اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «فَيَمُرُّ أَوَائِلُهُمْ عَلَى بُحَيْرَةِ طَبَرِيَّةَ فَيَشْرَبُونَ مَا فِيهَا وَيَمُرُّ آخِرُهُمْ فَيَقُولُونَ لَقَدْ كَانَ بِهَذِهِ مَرَّةً مَاءٌ»[۲] يعنې د زوزو مازوزو اولنۍ ډله به په يوه درياب ګوټي باندې تېرېږي (چې د طبرې درياب ګوټی نومېږي)، نو د دغه درياب ګوټي ټولې اوبه به وڅښکې کله چې د همدغه قوم آخرنۍ ډله هلته ورسېږي نو په درياب کښې به هيڅ اوبه پاتې نه وي، نو دوی به يو تربله وايي چې: يقيناً دلته يو خل اوبو موجوديت درلود چې د اوبو نښې او نښانې پکښې برېښي.

څلورم: نبي کريم ﷺ يوه ورځې صحابه وو کرامو ﷺ ته واضحه کړه چې د آدم ﷺ په اولاده کښې د هرو زرو تنو څخه يو کس جنتي دي او متباقي نهه سوه او نهه نوي (۹۹۹) ټول دوزخيان دي، نو دوی ډېر وارخطا شوه او ويې ويل چې: ای د الله رسوله! زمونږ څخه به دغه کس څوک وي چې جنت ته به لاړ شي؟ نبي کريم ﷺ د دوی تشويش پورته کړ او ويې ويل چې: «أَبْشِرُوا فَإِنَّ مِنْكُمْ رَجُلًا وَمِنْ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ أَلْفًا»[۳] يعنې ای صحابه وو! مه خپه کېږئ او خوشاله شئ چې يقيناً ستاسو (مسلمانانو) څخه يو سړی دی او د زوزو مازوزو څخه يو زر تنه دي چې ستاسو د يو تن په مقابل کښې د هغوی زر تنه تناسب لري.

---

(۱) صحيح مسلم ج۲ ص۴۰۱، جامع الترمذي ج۲ ص۴۸

(۲) صحيح مسلم ج۲ ص۴۰۱؛ جامع الترمذي ج۲ ص۴۸

(۳) صحيح البخاري ج۱ ص۴۷۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نبي کريم ﷺ ذکر شوی تناسب په يوه بل حديث کښې په ډېرو واضحو الفاظو کښې بيان کړې دي چې: «مَا الْمُسْلِمُونَ فِي الْكُفَّارِ إِلَّا كَشَعْرَةٍ بَيْضَاءَ فِي ثَوْرٍ أَسْوَدَ أَوْ كَشَعْرَةٍ سَوْدَاءَ فِي ثَوْرٍ أَبْيَضَ»(١) مسلمانان د کافرانو په نسبت کښې نه دي مگر لکه سپين ويښته چې په تور غوايه کښې وي او يا لکه تور ويښته چې په سپين غوايه کښې وي (ټول مسلمانان لکه چې يو ويښته وي او ټول کفار لکه چې د غوايه ټول ويښتان وي).

## هغوی به په يوه ځل مړه شي

هـ: ژوزي مازوزي د خپلې دورې د پوره کولو او په دنيا کښې (د طور د غره څخه په غيس) په ځمکه کښې د گرځېدلو څخه وروسته به ټول (د "الف" څخه تر "ي") پورې په يو ځل مړه شي. نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې عيسى ﷺ به الله ﷻ ته سوال وکړي چې: اى الهي! مونږ د دغه مصيبت څخه خلاص کړې او ځمکه راته ترې اوزگاره کړې چې مونږ د طور د غره څخه ورښکته شو. «فَيُرْسِلُ اللهُ عَلَيْهِمْ النَّغَفَ فِي رِقَابِهِمْ فَيُصْبِحُونَ فَرْسَى كَمَوْتِ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ»(٢).

نو الله ﷻ به د عيسى ﷺ سوال قبول کړي او په هغوی باندې به چينجي حواله کړي چې د هر يوه په غاړه کښې به ځای ونيسي او ټول به په يو ځل مړه شي ته به وايې چې يو نفر مړ شوی دی، بيا به الله ﷻ د هغوی په لاشونو باندې مرغان مسلط کړي او نامعلومه ځای ته به يې انتقال کړي او ځمکه به يې د مردارو او بويونو لاشونو څخه پاکه صافه کړي، چې عيسى ﷺ او ورسره مسلمانان به د طور د غره څخه ورته ورښکته شي.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وايي چې: هغه قوم د ذو القرنين څخه د "سَدّ" د جوړولو غوښتنه کړې ده کوم چې د ژوزو مازوزو د فسادونو څخه په تنگ وه لکه چې الله ﷻ ترې حکايت کوي چې: ﴿ عَلَىٰٓ أَن تَجْعَلَ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمْ سَدًّا ﴾، خو نوموړي پاچا ورته د "رَدْم" په جوړولو باندې اجابت وکړ چې: ﴿ أَجْعَلْ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ رَدْمًا ﴾، نو پوښتنه دا ده چې: ايا د "سَدّ" او د "رَدْم" ترمنځ څه فرق شته دی؟

مونږ وايو چې: د "رَدْم" کلمه د دې دپاره وضعه شوې ده چې يو سوری په ډېرو يا بل شي باندې بند کړی شي(٣) چې همدغې معنى ته د "سَدّ" د کلمې لغوي معنى هم شامله ده، خو په استعمال کښې هغه مصنوعي بند يا دېوال ته ردم ويل کېږي چې د "سَدّ" څخه قوي او مضبوط وي(۴). نو د جواب حاصل دا دی چې: هغوی ترې د کمزوري بند غوښتنه کړې وه خو ذوالقرنين ورته د قوي او محکم بند د جوړولو وعده ورکړه.

---

(١) صحيح مسلم ج١ ص١٠٧
(٢) سنن ابن ماجه ص٢٩٧
(٣) تفسير القاسمي ج١١ ص٨۶
(۴) روح المعاني ج١۶ ص۴٠

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## زُبَرَة څه معنی؟

۵ـ په ﴿ ءَاتُونِي زُبَرَ ٱلْحَدِيدِ ﴾ کښې د ﴿ زُبَرَ ﴾ کلمه د "زُبْرَةٌ" ـ لکه "غُرْفَةٌ" ـ جمعه ده چې د لویې ټوټې معنی ورکوي[1] یعنې ماته د بند د جوړولو دپاره د اوسپنې لویې لویې ټوټې او تختې راوړئ.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۶ـ که څوک وایي چې: د ذکر شوي قوم وړاندېز خو ذوالقرنین رد کړ چې: ﴿ مَا مَكَّنِّي فِيهِ رَبِّي خَيْرٌ ﴾ په څه کښې چې زه خپل رب ﷻ متمکن کړی یم (امکانیات یې راکړي دي) هغه ستاسو د مزدورۍ اخستلو څخه ډېر بهتر دی.

خو په عملي ساحه کښې یې د همغوی څخه کومک وغوښت او هم یې ترې د اوسپنې د ټوټو مطالبه وکړه نو پوښتنه دا ده چې: ایا دغه ډول کړنلاره د خپل قول څخه اووښتل نه دي؟

مونږ وایو چې: ذو القرنین د هغوی څخه د لاندې دوه وو کارونو مطالبه وکړه:

الف: یو دا چې ماته د کاریګرو کومک راکړئ: ﴿ فَأَعِينُونِي بِقُوَّةٍ ﴾.

ب: بل دا چې د اوسپنې ټوټې (خام مواد) ماته را انتقال کړئ (راکړئ) ﴿ ءَاتُونِي زُبَرَ ٱلْحَدِيدِ ﴾.

حال دا چې دغه دواړه کارونه اجرت نه دی.

په دې باندې علاوه دا هم څه لرې نه ده چې ذکر شوي دواړه کارونه یې ترې د اجرت او پیرودلو په توګه غوښتي وي چې هغوی ته به مزدوري ورکړم او د دغو (اوسپنو) به قیمت درکړم.

## صدف څه معنی؟

۷ـ په ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا سَاوَىٰ بَيْنَ ٱلصَّدَفَيْنِ ﴾ کښې د "صَدَفَيْنِ" کلمه د "صَدَف" ـ لکه "شَرَف" ـ مثنی ده، "صَدَف" هر لوړ شي ته ویل کېږي لکه غر یا دېوال او داسې نور[2] خو په دې مقام کښې ذکره شوې کلمه عبد الله بن عباس رضی الله عنهما په دوه وو غرونو باندې تفسیره کړې ده[3] یعنې ذو القرنین د دوه وو غرونو څوکې سره برابرې کړې چې د مابین ژوروالی یې د اوسپنې په ټوټو باندې ډک او هوار کړه.

## د قطر معنی؟

۸ـ په ﴿ ءَاتُونِيٓ أُفْرِغْ عَلَيْهِ قِطْرًا ﴾ کښې د ﴿ قِطْرًا ﴾ کلمه د دواړو فعلونو ﴿ ءَاتُونِيٓ أُفْرِغْ ﴾ دپاره د تنازع په توګه مفعول واقع شوې ده، خو اکثرو علماوو کرامو په دې مقام کښې په ویلې کړی شوي تانبې (زیړو) باندې تفسیره کړې ده[4]، یعنې ماته ویلې کړی شوي تانبه راوړئ چې دغه ویلې کړی شوې تانبه په ګرمو کړی شوو اوسپنو باندې ورواچوم (ورتوی کړم) چې سورې او چاودونه یې ښه

---

(۱) لسان العرب ج۴ ص۳۱۶
(۲) لسان العرب ج۹ ص۱۸۷
(۳) صحیح البخاري ج۱ ص۴۷۲
(۴) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۱۰۴ ؛ روح المعاني ج۱۶ ص۴۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کلک بند شي. البته چې دغه عملیه په خاصو وسائلو سره اجراء کړی شوه چې د دې زمانې خلک پکښې معلومات نه لري.

## لطیفه اشاره

۹_ په ﴿ فَمَا ٱسۡطَٰعُوٓاْ أَن يَظۡهَرُوهُ ﴾ کښې د ﴿ ٱسۡطَٰعُوٓا ﴾ کلمه د استفعال د باب څخه ده چې په اصل کښې "اسۡتَطَاعُوا"وه، او د ﴿ أَن يَظۡهَرُوهُ ﴾ کلمات یې مفعول دی، نو د "ت" د توري په حذف سره دېته لطیفه اشاره ده چې: زوزي مازوزي به هیڅکله ونه توانېږي چې په بند باندې وړپورته شي او په سر باندې یې بلې خواته ورښکته شي، ته به وایې چې د "ت" د توري سقوط د هغوی د توان او قدرت سقوط ته اشاره ده.

او په ﴿ وَمَا ٱسۡتَطَٰعُواْ لَهُۥ نَقۡبٗا ﴾ کښې د ﴿ ٱسۡتَطَٰعُوا ﴾ د کلمې څخه د "ت" توری حذف نه کړی شو بلکې په خپل حال پرېښودلی شو ترڅو مونږ ته یوه باریکه اشاره وکړی شي چې د بند د سوري کولو توان د هغوی څخه نه دی اخستلی شوی، نو کله چې د قیامت ورځ نژدې شي هغوی به دا کار وکړي او بلې خوا ته به ووزي؛ لکه چې په درېمه توضیح کښې ورته اشاره شوې ده.

## د ذکر شوي اوسپنیز بند کمیت، کیفیت او موقعیت

۱۰_ که څه هم مفسرینو کرامو د ذو القرنین په بند کښې په مختلفو برخو کښې ښه ډېر بحثونه کړي دي، چې څومره لوړ دی او څومره سور لري او څومره په څمکه کښې ژور دی او څومره اوږد دی او هم چرته موقعیت لري او خلکو ولې نه دي لیدلي؟ او داسې نور[1] که د چا اوږدو بحثونو ته زړه نه په تنګېږي نو هملته دې مراجعه وکړي، مونږ فقط لاندې بحثونه د لنډیز په توګه لیکو او بس:

الف: ټول علماء کرام متفق دي چې ذکر شوی بند ذو القرنین په خپل درېم سفر کښې جوړ کړی دی، چې د دوهم سفر د انجام څخه وروسته یې شروع کړی وه، خو په ایت او په احادیثو کښې داسې صراحت نشته چې درېم سفر یې جنوب طرف ته صورت نیولی وه او که شمال طرف ته، مګر بیا هم ټول علماء کرام متفق دي چې جنوب طرف ته یې صورت نه وه نیولی.

ب: همدارنګه په دې خبره کښې هم صراحت نشته چې نوموړی پاچا د خپل شرقي سفر د اختتام څخه وروسته یو ځل مرکز ته راستون شوی وه او بیا یې درېم سفر پیل کړ او که مرکز ته نه وه راستون شوی بلکې هملته (په شرق کښې) یې د درېم سفر وسائل برابر کړي وه او پیل یې پرې کړی وه. د علماوو کرامو د اکثریت د اقوالو څخه څرګندېږي چې یو ځل خپل اصلي ټاټوبي (یونان یا روم او یا یمن) ته راستون شوی وه او بیا یې په درېم سفر باندې برید کړی وه د همدې کبله دوی وایي چې:

ج: ذکر شوی تاریخي بند د شمال په طرف د آذربیجان په شاوخوا کښې[2] او یا شمال طرف ته د

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۱۰۴: تفسیر القاسمي ج۱۱ ص۹۹: حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۳ ص۲۷۴

(۲) تفسیر المظهري ج۶ ص۶۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ابادي په وروستني څنډه کښې موقعيت لري[١].

د: څرنګه چې په هغه کيفيت سره کوم ته چې قرآن اشاره کوي په موجوده زمانه کښې د خلکو د سترګو لاندې کوم بند نه دی واقع شوی نو د همدې کبله ځينې علماء کرام دې ته ترجيح ورکوي چې ذکر شوی بند يو معنوي بند دی او زوزي مازوزي د مغولو او تتاريانو څخه عبارت دي چې د چنګيز خان او هلاکو او نورو پاچاهانو په دوران کښې يې تحقق موندلی دی او دوره يې تېره شوې ده[٢]، مګر مونږ ته په همدې موضوع کښې لاندې نکات صحيح برېښي، والله ﷻ اعلم:

اول: ذو القرنين خپل دوهم شرقي سفر د اختتام څخه وروسته مرکز ته نه وه راستون شوی بلکې د دنيا په شرقي څنډه کښې يې شمال طرف ته خپل دريم سفر بيل کړی دی.

دوهم: نو په همدې بنياد ذکر شوی بند د دنيا په شرقي شمالي خوا کښې موقعيت لري، او في الحال هم په هغه کيفيت باندې حقيقتاً موجوديت لري په کوم باندې چې قرآن کريم صراحت کړی دی، ذکر شوی بند معنوي بند نه دی بلکې حقيقي بند دی، او زوزي مازوزي د چنګيزيانو او نورو څخه عبارت نه دي او تر اوسه يې دوره نه ده شروع شوې[٣]

دريم: په شرقي شمال کښې في الحال زښت ډېر جزائر شته چې نړيوالو ورباندې احاطه نه ده کړې او ترې خبر نه دي، څه لرې نه ده چې د وخت په مرور سره هغه دريابونه وچ شي کوم چې زمونږ او د نومورې بند ترمنځ واقع دي، او بيا دا منطقه د هغې منطقې سره اتصال مونده کړي، يا په بل عبارت: اوس پرې خلک علم نه لري خو بيا به پرې خبر شي.

څلورم: عدم معلوميت د عدم موجوديت معنی نه ورکوي، د امريکا په موجوديت باندې هم ډېره موده خلکو علم نه درلود او خيال يې کاوه چې زمونږ څخه په غير نوره اباده ځمکه نشته، مګر دا خيال يې غلط ثابت شو.

پنځم: لنډه دا چې د ذکر شوي بند په حقيقت باندې او هم د زوزو مازوزو په واقعيت باندې عقيده کول واجب دي، او انکار ترې کفر دی، خو تاويل ورکول ګناه ده.

﴿قَالَ هَٰذَا رَحْمَةٌ مِّن رَّبِّي ۖ فَإِذَا جَآءَ وَعْدُ رَبِّي جَعَلَهُۥ دَكَّآءَ ۖ وَكَانَ وَعْدُ رَبِّي حَقًّا ﴿٩٨﴾
وَتَرَكْنَا بَعْضَهُمْ يَوْمَئِذٍ يَمُوجُ فِي بَعْضٍ ۖ وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِ فَجَمَعْنَٰهُمْ جَمْعًا ﴿٩٩﴾ وَعَرَضْنَا
جَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ لِّلْكَٰفِرِينَ عَرْضًا ﴿١٠٠﴾ ٱلَّذِينَ كَانَتْ أَعْيُنُهُمْ فِي غِطَآءٍ عَن ذِكْرِي وَكَانُوا۟ لَا
يَسْتَطِيعُونَ سَمْعًا ﴿١٠١﴾﴾

(١) التفسير الكبير ج٢١ ص١٦٩
(٢) تفسير المراغي ج١٦ ص١٣.٢٠
(٣) اضواء البيان ج٣ ص٢٠١

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۹۸] ذو القرنین (د بند د انجام ځخه وروسته) وویلې چې: دغه (د بند جوړول) زما د رب ﷻ د پلوه لوی رحمت (او مهرباني) ده (چې د مفسدانو مخنیوی یې وکړ).

نو کله چې زما د رب ﷻ وعده راشي (د قیامت قیام رانژدې شي) زما رب ﷻ به یې هوار وګرځوي (هواره لاره به پکښې جوړه کړي)، او زما د رب ﷻ وعده حقه (رښتیا) ده (خامخا راتلونکې ده).

[۹۹] او مونږ به په دغه ورځ کښې (چې لاره ورته خلاصه کړو زوزي مازوزي په داسې حال راپرېږدو (راخوشې کړو) چې ځینې به په ځینو نورو کښې (د دریاب په شان) چپې وهي (او ګڼ ازدحام او ګڼه او ګونه به یې جوړه کړې وي).

(بیا چې کله عین قیامت شي نو د دوی په شمول به ټول ساکښان هلاک کړی شي) او بیا به په شپېلۍ کښې پوکی وکړی شي نو دوی ټول به (د محشر میدان ته) راغونډ کړو، راغونډول (چې یو کس به هم پرې نږدو).

[۱۰۰] او مونږ به په دغې ورځ کښې کفارو ته دوزخ وروړاندې کړو وړاندې کول (البته).

[۱۰۱] هغو کفارو ته د کومو سترګې چې (په دنیا کښې) زما د ذکر ځخه په پرده کښې وې، او کوم چې دوی (هلته) وه چې (حقې خبرې یې د عناد د کبله) نه شوې اورېدلی (او توان یې نه درلود).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د ذو القرنین د بند د جوړولو پورې مربوط بیان وه او پکښې د زوزو مازوزو د مخنیوي او بندولو د قیصې بیان وه. په دې ایتونو کښې د بند ړنګولو او د هغوی د راخوشې کولو حالات واضحه شوي دي، نو د مطلب خلاصه یې داسې راځېږي چې:

۱ـ د بند د جوړولو ځخه وروسته ذو القرنین تواضع ځرګنده کړه او د متکبرو پاچاهانو غوندې یې تکبر او لویي ونه کړه نو ویې ویلې چې:

الف: ای خلکو! د دغسې قوي بند جوړول زما په توان کښې نه وه، بلکې دا صرف زما د رب ﷻ رحمت او مهرباني وه چې ماته یې د مفسدانو د مخنیوي توان او توفیق راکړ او د ثواب مستحق یې وګرځولم.

ب: همدارنګه (ای خلکو!) دغه بند په تاسو باندې هم زما د رب ﷻ فضل دی چې د ظالمانو ځخه یې په امن کښې وګرځولئ، نو تاسو ته په کار دي چې د خپل رب ﷻ په عبادت باندې لا کلک شئ او هم پخپله باندې فسادونو ته لاس وانه چوئ.

ج: که څه هم دا بند ډېر قوي بند دی مګر زما د رب ﷻ د قدرت په مقابل کښې ډېر زیات کمزوری دی، زما رب ﷻ وعده کړې ده چې یو وخت به دا دنیا ورانوي، نو کله چې دغه وعده را نژدې شي د ذکر شوي قوي بند قوت به ختم کړي او د ځمکې سره پیوسته هواره لاره به پکښې جوړه کړي.

د: زما د رب ﷻ د ټولو وعدو په شمول دغه وعده هم حقه ده او ضرور راتلونکې ده، دا دنیا دائمي کور نه دی دائمي کور د بېرته راژوندي کېدلو ځخه وروسته تحقق مومي، نو تاسو ته په کار

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دي چې تياري ورته ونيسئ.
٢_ اى پيغمبره! ذو القرنين حقيقت ويلى دى كله چې د دنيا عمر پاى ته ورسېږي او هغه وخت رانژدې شي چې مونږ پكښې دنيا ورانوو، نو:
الف: ذكر شوى قوي اوسپنيز بند به مونږ كمزورى كړو او زوزو مازوزو ته به توان وركړو چې پراخه سوري پكښې وكړي او د راوتلو لاره پكښې جوړه كړي.
ب: په دغه وخت كښې به هغوى د پخوا په شان په لږ تعداد كښې نه وي بلكې په ډېر زيات تعداد كښې به د ذكر شوې بنديخانې څخه را بهر شي او مونږ به يې خوشې كړو چې په ځمكه باندې خواره واره شي او هر طرف ته يو تربله سره ټېل جوړ كړي.
ج: په دغه وخت كښې به د هغوى مثال د يوه لوى درياب وي چې هرې خوا ته به څپې وهي او هيڅوک به يې د شر او فساد څخه بچ نه شي الا ما شاء الله ﷻ.
٣_ دا خو به هغه وخت وي چې د قيامت قيام رانژدې شوى وي، خو كله چې عين د قيامت وخت راورسېږي نو:
الف: په شپېلۍ كښې به پوكى وكړى شي ټول ساكښان به مړه شي او دنيا به ورانه او هواره كړى شي.
ب: بيا به دوهم ځل شپېلۍ پوكړى شي نو د زوزو مازوزو په شمول به ټول ساكښان بېرته راژوندي كړى شي او په داسې عجيبه توګه به ټول د قبرونو څخه راغونډ كړو چې هيڅوک به د خاورو لاندې پټ پاتې نه شي.
ج: بيا به نو د محشر په ميدان كښې ټول ودروو او كفارو ته به په دغې ورځ كښې په داسې عجيب ډول باندې دوزخ ورمخامخ كړو چې يو كس به يې هم ترې لېدلو پاتې نه شي، او ټول به د ندامت او حسرت سره لاس او ګرېوان شي.
د: په دغې ورځ كښې به د هغو كافرو سترګې بېرته شي د كومو سترګې چې په دنيا كښې زما د ذكر او زما د شريعت څخه په پرده كښې وي او په حقائقو باندې ړانده وه.
ه: همدارنګه به د همدغو كفارو غوږونه حقيقت واوري د كومو چې په دنيا كښې غوږونه كاڼه وه او توان يې نه درلود چې زما د پيغمبرانو خبرې واوري او واقعيتونه درک كړي.

## توضيحات

د ذو القرنين په ذوكرو شوو قيصو كښې ځينو علماوو كرامو متعدد ارشادات ليكلي دي[1] خو مونږ فقط د لاندې ارشاداتو په ذكر باندې اكتفاء كوو:
الف: ذوالقرنين د بند جوړول د خپل رب ﷻ رحمت او فضل وباله چې: ﴿ هَٰذَا رَحْمَةٌ مِّن رَّبِّي ﴾ يعني دغه د بند جوړول زما د رب ﷻ رحمت او فضل دى. نو په كار دي چې هيڅوک په هيڅ وخت كښې

(١) تفسير القاسمي ج١١ ص٨٨

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خپل رب ﷻ هېر نه کړي او د قارون غوندې په خپل مالي قوت یا په بل کوم قوت باندې غره نه شي.

ب: نوموړي د خپل رب ﷻ په وړاندې تواضع او عاجزي وښودله چې: ﴿ جَعَلَهُۥ دَكَّآءَ ﴾ یعنې زما قوي بند د الله ﷻ د قدرت په مقابل کښې هیڅ شی دی. نو په کار دي چې هیڅکله څوک تواضع هېره نه کړي.

ج: نوموړي خپل رعیت هم په غوږ باندې وواهه چې په دنیا باندې آخرت غوره نه کړي: ﴿ وَكَانَ وَعْدُ رَبِّى حَقًّا ﴾ او ځما د رب ﷻ وعده حقه ده باید هیڅوک پکښې شک او شبه ونه کړي. نو هر مشر ته په کار دي چې په دوامداره توګه د خپل رعیت دپاره یوازې د دنیا خدمت په نظر کښې ونه نیسي بلکې آخرت ته یې هم متوجه کړي.

## دوه ډوله تفسیر

۲ـ ذکر شوي ایتونو مفسرینو کرامو په لاندې دوه وو ډولونو باندې تفسیر کړي دي:

الف: یو تفسیر په لاندې بنیادونو باندې ولاړ دی[1]:

اول: په ﴿ وَعْدُ رَبِّى ﴾ کښې د ﴿ وَعْدُ ﴾ څخه د قیامت ورځ (د لومړۍ شپېلۍ وخت) مطلب دی.

دوهم: په ﴿ جَعَلَهُۥ دَكَّآءَ ﴾ کښې د ﴿ دَكَّآءَ ﴾ څخه د بند هوارول او ړنګول مراد دي.

دریم: په ﴿ وَتَرَكْنَا بَعْضَهُمْ ﴾ کښې د ﴿ بَعْضَهُمْ ﴾ ضمیر ټولو انسانانو او پیریانو ته راجع دی. نو حاصل یې داسې راځېږي:

چې کله لومړۍ شپېلۍ ووهله شي نو زما رب ﷻ به دغه قوي اوسپنیز بند د ځمکې سره هوار کړي، بیا به بله شپېلۍ ووهله شي او ټول مخلوقات به راژوندي شي او یوه لویه ګڼه ګونه به جوړه شي چې د یوه لوی دریاب غوندې به څپې وهي او ټېل به یې جوړ کړی وي.

مګر موږ ته ذکر شوی تفسیر یو د دې کبله غوره نه برېښي چې د وړاندېنیو ایتونو سره یې ارتباط او ترون کمزوری معلومېږي چې هلته ټول بحث د بند په متعلق وه او دلته د کلام مخ په ناڅاپي توګه د قیامت قیام ته ورواوړي. او بل د دې وجې څخه چې د ﴿ وَتَرَكْنَا بَعْضَهُمْ ﴾ ذکره شوې معنی خو د ایت په آخر ﴿ وَنُفِخَ فِى ٱلصُّورِ فَجَمَعْنَـٰهُمْ جَمْعًا ﴾ کښې راروانه ده نو دلته اراده کول یې سړی مجبوروي چې په تاکید باندې قول وکړي حال دا چې د تاکید څخه تاسیس بهتر دی.

ب: په دوهم تفسیر کښې لاندې نکات په نظر کښې نیول شوي دي[2]:

اول: په ﴿ فَإِذَا جَآءَ وَعْدُ رَبِّى ﴾ کښې د ﴿ وَعْدُ ﴾ څخه د لومړۍ شپېلۍ د وخت نژدېکت مطلب دی.

دوهم: په ﴿ جَعَلَهُۥ دَكَّآءَ ﴾ کښې د ﴿ دَكَّآءَ ﴾ څخه هواره لاره مراده ده.

دریم: په ﴿ وَتَرَكْنَا بَعْضَهُمْ ﴾ کښې د ﴿ بَعْضَهُمْ ﴾ ضمیر زوزو مازوزو ته راجع دی.

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۱۰۵

(۲) تفسیر البغوي ج۳ ص۱۸۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو حاصل به يې داسې راوخېژي چې كله زما د رب ﷻ د قيامت ودرولو وخت رانژدې شي او لوېې نښې يې په ظهور باندې پيل وكړي نو زما رب ﷻ به په دغه محكم او قوي بند كښې هواره لاره جوړه كړي، ته به وايې چې تول بند هواره لاره ده او هيڅ لوړوالى پكښې نشته.

نو په دغه وخت كښې به ذكر شوي مفسدان په خمكه باندې راخواره شي او د ډېر كثرت څخه به د درياب غوندې څپې وهي او هره لوړه ژوره به يې اشغاله كړې وي.

مونږ ته همدغه تفسير په زړه پورى برېښي.

## يادونه

٣ـ په ﴿ وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِ ﴾ كښې د "صُورِ" كلمه د [الأنعام:٧٣] ايت لاندې څه اندازه شرحه شوې ده ـ والحمد لله ﷻ ـ چې بيا شرحه كولو ته يې اړتيا نه وينو.

## سوال جواب

٤ـ كه څوك وايي چې: د ﴿ وَعَرَضْنَا جَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ لِّلْكَٰفِرِينَ عَرْضًا ﴾ څخه څرگندېږي چې د قيامت په ورځ به كافرانو ته دوزخ وروړاندې كېږي حال دا چې په بل ايت كښې الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَنَسُوقُ ٱلْمُجْرِمِينَ إِلَىٰ جَهَنَّمَ وِرْدًا ﴾ [مريم:٨٦] او مونږ به مجرمان (كفار دوزخ ته په داسې حال كښې ورسوق (وروړاندې) كړو چې دوى به ښه كلك تږي وي. نو پوښتنه دا ده چې ايا دغه دواړه ايتونه يو تربله څه تضاد او منافات نه لري؟

مونږ وايو چې:

الف: په دې مقام كښې د محشر په ميدان كښې د جهنم محض ورڅرگندول مطلب دي ترڅو لا د وړاندې څخه دوى غمژن شي[1]، او په هغه ايت كښې د دوى ورداخلول مراد دى نو څه منافات يې سره نشته.

ب: دا هم څه لري نه ده چې دلته د جهنم څخه د جهنم هغه برخه مطلب وي كومه چې د خينو خاصو كفارو د رانبولو دپاره د محشر ميدان ته ورغزېږي چې په لاندې حديث كښې ورته اشاره شوې ده:

نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې: «يَخْرُجُ عُنُقٌ مِنَ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَهَا عَيْنَانِ تُبْصِرَانِ وَأُذُنَانِ تَسْمَعَانِ وَلِسَانٌ يَنْطِقُ يَقُولُ إِنِّي وُكِّلْتُ بِثَلَاثَةٍ بِكُلِّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ وَبِكُلِّ مَنْ دَعَا مَعَ اللهِ إِلٰهًا آخَرَ وَبِالْمُصَوِّرِينَ»[2] يعنې د قيامت په ورځ به يوه غاړه (يو برخه د محشر په ميدان كښې) راووځي چې د اور څخه به عبارت وي چې دوه سترگې به لري چې ليدل به پرې كوي او د دوه غوږونه به لري چې اورېدل به پرې كوي او (بالآخره) ژبه به لري چې خبرې به پرې كوي او وايي به چې: يقيناً زه په درې كسانو باندې مقرر كړى شوې يم (چې خپل خان ته يې د تعذيب دپاره راكاږم) يو په هر متكبر عناد كوونكي، او بل په هر

(١) تفسير ابن كثير ج٣ ص١٠٦
(٢) جامع الترمذي ج٢ ص٨٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هغه چا باندې چې د الله ﷻ سره يې بل معبود بللی (درولی) وی، او (هم) د ژونديو (ساكښانو) د تصوير په جوړونكو باندې.

﴿ أَفَحَسِبَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَن يَتَّخِذُواْ عِبَادِى مِن دُونِىٓ أَوْلِيَآءَ ۚ إِنَّآ أَعْتَدْنَا جَهَنَّمَ
لِلْكَٰفِرِينَ نُزُلًا ﴿١٠٢﴾ قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُم بِٱلْأَخْسَرِينَ أَعْمَٰلًا ﴿١٠٣﴾ ٱلَّذِينَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِى ٱلْحَيَوٰةِ
ٱلدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ يُحْسِنُونَ صُنْعًا ﴿١٠٤﴾ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمْ
وَلِقَآئِهِۦ فَحَبِطَتْ أَعْمَٰلُهُمْ فَلَا نُقِيمُ لَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ وَزْنًا ﴿١٠٥﴾ ذَٰلِكَ جَزَآؤُهُمْ جَهَنَّمُ بِمَا
كَفَرُواْ وَٱتَّخَذُوٓاْ ءَايَٰتِى وَرُسُلِى هُزُوًا ﴿١٠٦﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ كَانَتْ لَهُمْ
جَنَّٰتُ ٱلْفِرْدَوْسِ نُزُلًا ﴿١٠٧﴾ خَٰلِدِينَ فِيهَا لَا يَبْغُونَ عَنْهَا حِوَلًا ﴿١٠٨﴾ ﴾

[١٠٢] ايا نو هغه كسان گومان كوي كومو چې كفر غوره كړی دی (او پرې كلك دي داسې گومان)
چې يقينًا دوی زما څخه په غير زما بندگان (مخلوقات) دوستان (ناصران او شفيعان) نيولي دي؟.
(دغسې نه ده) يقينًا مونږ (ټولو) كفارو ته جهنم د مېلمستيا په حيث تيار كړی دی (چې هيڅوک
به يې ترې بچ نه كړی شي).

[١٠٣] (ای پيغمبره! خپل امت ته) ووايه چې: ايا مونږه تاسو د اعمالو د حيثه په ډېرو (سختو)
زيانكارانو باندې خبر كړو؟ (هغه دا چې:)

[١٠٤] (ډېر سخت زيانكاران) هغه كسان دي چې (ټول) كوښښ (او زيار) يې په حقير ژوند
كښې ورک وي (جاري وي)، حال دا چې دوی (په خپلو ځانونو باندې) گومان كوي چې يقينًا دوی د
عمل (او صنعت) د حيثه احسان كوي (ښه كار كوي).

[١٠٥] دغه (ډله) هغه كسان دي كومو چې د خپل رب ﷻ په ايتونو او د همده ﷻ په ملاقات (د
قيامت په ورځ) كفر غوره كړی دی (او پرې كلک دي).
نو د دوی (ټول) اعمال (د الله ﷻ په وړاندې) ضائع شوه نو مونږ به د دوی دپاره د قيامت په ورځ
تله ونه دروو (په څه عزت به ورته قائل نه شو).

[١٠٦] دغه د دوی جزا ده چې د جهنم څخه عبارت ده (البته) په دې سبب چې دوی كفر غوره
كړي دي او زما ايتونه او زما پيغمبران يې په مسخرو (لنډو) سره نيولي دي.

[١٠٧] يقينًا هغه كسان چې ايمان يې راوړی دی او نېک عملونه يې كړي دي د همدوی دپاره
د مېلمستيا په حيث د لوړې درجې جنتونه دي (چې د فردوس په نامه يادېږي).

[١٠٨] حال دا چې (دوی به) هلته همېشه وي (او) دوی به ترې بېرته (دنيا ته) گرځېدل نه غواړي
(نه خوښوي).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط

مونږ د الله ﷻ په توفیق د [البقرة:۱۲۲] ایت لاندې لیکلي دي چې هر مطلب د استدلال څخه وړاندې د مدعی په نامه یادېږي او د استدلال څخه وروسته عین مطلوب ته نتیجه وایي.

نو په همدې بنیاد د دې سورت په اول سر کښې د کفارو انذار (ډراول) او د مؤمنانو بشارت د مدعی په شکل نازل شوی وه لکه چې فرمایي: ﴿لِّيُنذِرَ بَأْسًا شَدِيدًا مِّن لَّدُنْهُ وَيُبَشِّرَ ٱلْمُؤْمِنِينَ﴾ [الکهف:۲]

یعنې الله ﷻ دا قرآن کریم په خپل بنده (محمد ﷺ) باندې د دې دپاره نازل کړی دی چې (کفار) د خپله جانبه د سخت عذاب څخه وډار کړی او مؤمنانو ته بشارت (زیری) ورکړي.

بیا الله ﷻ د ذکرې شوې مدعی د اثبات دپاره په ډېره عجیبه طریقه لاندې قیصې د استدلال په توګه نازلې کړي:

الف: د اصحاب الکهف قیصه، چې د ظالمانو څخه تېښتېدلي وه.

ب: د دوه وو سړیو قیصه، چې یو شکر ګذار بنده وه او بل ناشکره وه.

ج: د موسی ﷺ او خضر ﷺ قیصه، چې په درېوو فقرو باندې مشتمله وه.

د: د ذو القرنین عادل پاچا قیصه، چې په دنیا کښې یې درې عجیبه سفرونه کړي وه.

د دغو استدلالاتو څخه وروسته په دې ایتونو کښې یو ځل بیا د کفارو انذار (ډراول) او د مؤمنانو دپاره بشارت د نتیجې په شکل نازل کړی شو ترڅو ورته خلک ښه توجه وکړي او خپل ځانونه ورباندې رانده کاږه وانچوي. لکه چې همدا عادت په کافرانو کښې په عمومي توګه روزمره د اجراء لاندې دي او په وړاندېني نژدې متصل ایت شریف کښې ورته اشاره شوې ده. نو حاصل یې داسې راځېږي:

### د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! د ذکرو شوو استدلالاتو څخه وروسته یو ځل بیا د نتیجې په شکل کفار وډار کړه او مؤمنانو ته بشارت ورکړه چې:

۱_ ایا نو کفار خیال کوي چې یقینًا دوی زما بندګان او زما مخلوقات زما څخه پرته په دوستی سره نیولي دي؟ دغسې نه ده، همدغه چې دوی ورباندې د دوستانو نوم ږدي د دوی دښمنان دي.

۲_ مونږ د همدغو کفارو دپاره د دوزخ اور تیار کړی دی چې د همدغه ځای څخه به وړاندې تېر نه شي او نه به یې ترې باطل معبودان خلاص کړی شي، نو کومه ارامي چې دوی ورته سترګې په لار دي او ورته په تمه دي، په لاس به ورنه شي.

۳_ نو ای پیغمبره! ته خپل امت ته ووایه او په دې پوښتنې باندې یې مخاطب کړه چې:

الف: ایا زه تاسو په هغو خلکو باندې خبر کړم کوم چې د اعمالو د حیثه ډېر زیانکاران دي؟ چې دوی څوک دي؟

ب: دوی به ټول سکوت وکړي نو ته پخپله هغوی ته ذکر شوي خلک ورمعرفي کړه چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: ډېر تاوانیان هغه کسان دي کوم چې:
اول: ټول کوښښ یې په حقیر او نژدې ژوند کښې صورت نیسي او آخرت یې بالکل هېر وي.
دوهم: خو د دې سره-سره ګومان کوي چې دوی په ډېره ښه لاره باندې روان دي او کومه تګلاره چې دوی خپله دستور العمل ګرځولې ده هغه ورته په ګټه ده.
د: ای پیغمبره! دغسې نه ده لکه چې دوی تمه لري او دوی، خیال کوي بلکې:
اول: ذکر شوي کسان هغه خلک دي چې د خپل رب ﷻ په ایتونو باندې کافر شوي دي، او ترې انکار کوي.
دوهم: او همدارنګه دوی د خپل رب ﷻ سره د ملاقات (د قیامت د ورځې) څخه هم انکار کوونکي دي. نو ایا هغه څوک چې د خپل رب ﷻ د ایتونو او هم د قیامت ورځې څخه انکار کوي څه ګټور کار کوونکي دي؟
دریم: د دغسې خلکو هغه اعمال هم ضائع دي کوم چې دوی ته ګټور برېښي او د خپل نجات دپاره یې وسیله ګڼي، پاتې لا نور اعمال. نو د همدې کبله به مونږ د دوی نېکو اعمالو ته د قیامت په ورځ د تللو دپاره تله ونه دروو ځکه چې دوی نېک اعمال هیڅ نه لري، او نه به دوی ته په کوم دروندوالي باندې قائل شو.
هـ: لنډه دا چې ای پیغمبره! خبره همدغسې ده لکه چې ذکره شوه نو یو ځل یې بیا ورته په صریحو عبارتونو کښې واوروه چې:
د کفارو جزا د دې کبله دوزخ دی چې زما د وحدانیت څخه انکار کوي او زما ایتونه او زما رسولان (برسېره پر انکار) په مسخرو او ملنډو سره نیسي.
۴ـ ای پیغمبره: بالمقابل مؤمنانو او نېکو کارانو ته بشارت ورکړه چې د دوی دپاره د الله ﷻ په وړاندې اعلی جنتونه دي چې د فردوس په نامه یادېږي، دوی به هلته د مېلمنو په ډول د وقار او عزت ژوند تېروي او د همېشه دپاره به پکښې په ارامۍ سره اوسېږي، او هم به دوی پکښې خوشاله وي چې هیڅکله به ترې بهرته ګرځېدل نه غواړي. یا په بل عبارت دوی ته به د دنیا ارمان ورنه شي چې کاشکې بېرته دنیا ته تللي وی او هلته مو څه ارام ژوند کړی وی لکه چې کفارو ته د دنیا د ژوند ارمان ورځي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ أَفَحَسِبَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَن يَتَّخِذُواْ عِبَادِي مِن دُونِيٓ أَوۡلِيَآءَ ﴾ کښې د اعراب په اعتبار سره علماوو کرامو متعدد تحلیلونه کړي دي[۱]، خو په زړه پورې تحلیل دا دی چې د ﴿ أَن يَتَّخِذُوٓاْ ﴾ دا د یو پلوه، او د بله پلوه په "حَسِبَ" دپاره د دوه وو مفعولانو قائم مقام دي.
په ﴿ عِبَادِي ﴾ کښې اضافت د تشریف دپاره نه دی چې یوازې پرښتو

---

(۱) تفسیر المظهري ج۶ ص۷۲؛ روح المعاني ج۱۶ ص۴۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او عیسی ﷺ او نورو امثالو (معبودانو) پورې اختصاص ولري. لکه چې ځینو علماوو کرامو همدا تفسیر غوره کړی دی[١]، بلکې دغه اضافت د سلطې او اقتدار په لحاظ سره دی.

نو د معنی حاصل به یې داسې راوځېږي چې ایا نو هغه کسان کومو چې کفر اختیار کړی دا ګومان کوي چې دوی زما بندګان (چې زما د تسلط او اقتدار لاندې دي) بدون زما څخه دوستان (شفیعان) او ناصران نیولي دي؟ هیڅکله دغسې نه ده بلکې زما مخلوقات به (چې دوی یې په باطله عبادت کوي) ډېر ژر د دوی دپاره دښمنان جوړ شي.

همدا مضمون الله ﷻ په بل ایت کښې داسې نازل کړی دی: ﴿ كَلَّا ۚ سَيَكْفُرُونَ بِعِبَادَتِهِمْ وَيَكُونُونَ عَلَيْهِمْ ضِدًّا ﴾ [مریم: ۸۲] یعنې: دغسې نه ده (لکه چې دوی خیال کوي) ډېر ژر به د دوی (باطل معبودان د دوی د عبادت څخه انکار وکړي او په دوی باندې به دښمنان (نه جمعه کېدونکي) وګرځي.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې: په ﴿ إِنَّآ أَعْتَدْنَا جَهَنَّمَ لِلْكَٰفِرِينَ نُزُلًا ﴾ کښې د "نزل" کلمه هغه خوراک او څښاک ته وضعه شوې ده کوم چې د احترام او اعزاز دپاره مېلمه ته د کوربه د پلوه ورکول کېږي[٢]، نو پوښتنه دا ده چې: د څه حکمت په بنیاد په دې مقام کښې د جهنم د تیارولو څخه په ذکره شوې کلمه باندې تعبیر وکړی شو؟

مونږ وایو: دا څکه چې کفار خیال کوي چې د باطلو معبودانو عبادت د دوی دپاره اعزاز او اکرام دی نو الله ﷻ د همدې خیال مطابق دوی پوه کړه چې د باطلو معبودانو په عبادت باندې خو د دوزخ څخه پرته بل شی نه مرتبېږي، نو که اعزاز وي همدا به اعزاز وي.

## خطرناکه ګناه

۳ـ ډېره خطرناکه ګناه هغه ده کومه چې ګناهګار ته ګناه نه برېښي بلکې خیال کوي چې په ډېره ښه لاره باندې روان دی او ډېر ښه عمل یې د اجراء لاندې نیولی دی، دا څکه ډېره خطري ده چې نوموړي ګناهګار ته امید نشته چې توبه به وباسي او په خپلې ګناه باندې به پښېمانه شي، همدې ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ وَهُمْ يَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ يُحْسِنُونَ صُنْعًا ﴾ یعنې کفار په دې خیال ېدکاري کوي چې دوی ډېر ښه کار کوي او ډېر په سمه لاره روان دي.

## وزن څه معنی؟

۴ـ په ﴿ فَلَا نُقِيمُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيَٰمَةِ وَزْنًا ﴾ کښې د "وَزْن" کلمه د یو شي د قدر د معلومولو دپاره وضعه شوې ده[٣] خو په دې مقام کښې مفسرینو کرامو[۴] په لاندې څلورو معناوو باندې تفسیره کړې ده:

---

(١) تفسیر الطبري ج١٦ ص٣١؛ زاد المسیر ج٥ ص١٣٧
(٢) مفردات الراغب ص٥١٠
(٣) مفردات الراغب ص٥٥٩
(۴) روح المعاني ج١٦ ص۴٩؛ زاد المسیر ج٥ ص١٣٨؛ تفسیر المظهري ج٦ ص٧٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: نو د دغو کفارو دپاره به د قیامت په ورځ تله ونه دروو (په درنښت به ورته ونه ګورو).

ب: د دغو کفارو نېکو اعمالو ته به د قیامت په ورځ تله ونه دروو ځکه چې د دوی نېک اعمال ضائع شوي دي چې دوی ایمان نه لري.

ج: د دوی دپاره به د قیامت په ورځ تله ونه دروو چې ګټه ورته ورسوي، بلکې ټول به د دوی په تاوان باندې تمام شي چې د کفر غټوالی به یې ورباندې څرګند شي.

د: هغوی ته به تله ونه دروو بلکې بدون د محاسبې به دوزخ ته راښکولی شي چې د کفر معیار به یې بالکل واضحه وي. یا په بل عبارت: لکه چې ځینې جنتیان جنت ته بدون د محاسبې ځغله ورداخلولی شي همدارنګه به ځینې کفار دوزخ ته بدون د حساب کتاب ځغله وراچولی کېږي چې د کفر معیار به یې واضحه وي. الله ﷻ فرمایي: ﴿ يُعْرَفُ ٱلْمُجْرِمُونَ بِسِيمَـٰهُمْ فَيُؤْخَذُ بِٱلنَّوَٰصِى وَٱلْأَقْدَامِ ﴾ [الرحمن:۴۱] یعنې مجرمان (کافران) به په خپلو نښو سره پېژاندلی کېږي نو د اوچولو (سرونو) او پښو ځغله به نیولی کېږي او دوزخ ته به وراچولی کېږي.

لنډه دا چې په کفارو کښې داسې اشخاص هم شته چې د هغوی د جرم معیار به په دومره اوچته اندازه کښې څرګند وي چې تللو او اندازه کولو ته به یې اړتیا نه لېده کېږي.

## تبصره

۵ـ مونږ ته ځلور واړه تفسیرونه یو تربله منافي نه برېښي که ټول د بدلیت په اعتبار سره مراد کړی شي هم څه باک یې نشته.

## هېر مو نه شي!

۶ـ هېر مو نه شي چې مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الأعراف:۸] ایت لاندې د قیامت د ورځې تله د نصوصو په رڼا کښې ډېره ښه څېړلې ده، چې یو ځل لوستل یې بالکل ضروري دي.

## فردوس څه معنی؟

۷ـ په ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّـٰلِحَـٰتِ كَانَتْ لَهُمْ جَنَّـٰتُ ٱلْفِرْدَوْسِ ﴾ کښې د "فِرْدَوْس" کلمه نبي کریم ﷺ په احادیثو کښې ډېره ښه تفسیره کړې ده، لکه:

الف: په یوه اوږده حدیث کښې یې فرمایلي دي چې: «فَإِذَا سَأَلْتُمُ اللهَ فَسَأَلُوهُ الْفِرْدَوْسَ فَإِنَّهُ أَوْسَطُ الْجَنَّةِ وَأَعْلَى الْجَنَّةِ وَفَوْقَهُ عَرْشُ الرَّحْمَنِ وَمِنْهُ تَفَجَّرُ أَنْهَارُ الْجَنَّةِ»[1] یعنې نو کله چې تاسو الله ﷻ ته سوال کوئ نو د فردوس سوال ترې وکړئ ځکه چې دا افضل د جنتونو دی او لوړ د جنتونو دی، د همدې جنت څخه د پاسه (بل جنت نشته بلکې) عرش الرحمن ترې دپاسه دی، او د همدې جنت څخه د جنت (ځلور) ویالې بهېږي.

ب: په یوه بل اوږده حدیث کښې یې فرمایلي دي چې: «فَإِنَّ فِي الْجَنَّةِ مِائَةَ دَرَجَةٍ مَا بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۱۱۰۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَالْفِرْدَوْسُ أَعْلَى الْجَنَّةِ وَأَوْسَطُهَا»[۱] یعنې په جنت کښې سل درجې دي چې د هرو دوه وو درجو ترمنځ دومره تفاوت دی لکه چې د اسمان او ځمکې ترمنځ تفاوت دی. خو د فردوس جنت (د درجو د حیثه) اوچت او افضل دی.

## سوال جواب

۸_ که څوک وایي چې: د فردوس د کلمې د ذکر شوي تفسیر په بنیاد سړي ته ذهن ته ورځې چې ټول نېک عمله مؤمنان به په یوه درجه (اعلی درجه) کښې قرار ولري او د رتبو تفاوت به مراعات نه شي، حال دا چې جنتیان ټول په یوه درجه او یوه رتبه کښې قرار نه لري، بلکې اعلی او ادنی پکښې شته دی؟ لکه چې نبي کریم ﷺ د یوه جنتي په اوږده قیصه کښې فرمایلي دي چې: «هَذَا أَدْنَى أَهْلِ الْجَنَّةِ مَنْزِلًا»[۲] یعنې دغه جنتي چې د ټولو څخه وروسته د دوزخ څخه راوځي او د ټولو څخه وروسته جنت ته ننوځي د منزلت او رتبې د حیثه ډېر ادنی او ټیټ جنتي دی.

مونږ وایو چې: د ذکر شوي سوال په جواب کښې خینو علماوو کرامو[۳] التزام کړی دی چې په ایت شریف کښې د "فِرْدَوْس" کلمه په هغې معنی سره نه ده په کومې معنی باندې چې په احادیثو کښې شرحه شوې او تفسیره شوې ده، بلکې هلته په لغوي معنی سره ده، هغه دا چې: د "فِرْدَوْس" کلمه عربي ده او یا اصلاً رومي ده، په هر تقدیر دا د هغه لوی باغ دپاره وضعه شوې ده چې په زیښتو ډېرو مېوه لرونکو ونو باندې مشتمل وي[۴]. نو د معنی حاصل به یې داسې را وځېږي چې: یقیناً نېک عملو مؤمنانو ته د الله ﷻ د پلوه د ډېرو مېوه دارو ونو باغونه دي، او پوره واضحه ده چې د فردوس د کلمې ذکره شوې لغوي معنی ټولو جنتیانو او ټولو جنتونو ته شامله ده.

مګر دا جواب مونږ ته په زړه پورې نه برېښي څکه چې احادیث خو د قرآن کریم دپاره د تفسیر حیثیت لري، نو دا به څنګه زړه ته ولوېږي چې په ایت کښې د فردوس یوه معنی مراده وي او په احادیثو کښې دې بله معنی مطلب وي؟.

مونږ ته په جواب کښې بهتره برېښي چې د فردوس کلمه په ایت شریف کښې په همغې معنی سره ده په کومه باندې چې په احادیثو کښې تشریح شوې ده، خو په دې لحاظ نه چې ټول مؤمنان به په همدغې یوه اعلی جنتي درجه کښې قرار ولري. بلکې د خینو اشخاصو په لحاظ سره نوموړې درجه ټولو مؤمنانو ته اثباته شوې ده چې هغه اشخاص په ایمان او نېک عمل کښې اول نمرګان وي او پرته د حسابه به جنت ته ورداخل شي لکه چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِي سَبْعُونَ أَلْفًا بِغَيْرِ حِسَابٍ»[۵] یعنې زما د امت څخه به اویا زره بدون د حسابه جنت ته ورداخل شي.

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۷۹
(۲) سنن ابن ماجه ص۳۲۳
(۳) روح المعاني ج۱٦ ص۵۱
(۴) لسان العرب ج٦ ص۱٦۳
(۵) صحیح مسلم ج۱ ص۱۱٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د ذکر شوي تفسیر نظیر کتې مټ هغه ځلورم ډول تفسیر دی کوم چې لږ وړاندې په ځلورمه توضیح کښې تېر شو چې ﴿ فَلَا نُقِيمُ لَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ وَزْنًا ﴾ مونږ به کفارو ته د قیامت په ورځ تله ونه دروو او بدون د محاسبې څخه به یې دوزخ ته ورټېل وهو.

پوره واضحه ده چې د کفارو ذکر شوی حال د ځینو اشخاصو په اعتبار سره دی چې په کفریاتو او جنایاتو کښې اول نمرګان دي، نه دا چې د ټولو به همدغه حال وي.

## یادونه

۹ـ په ﴿ لَا يَبْغُونَ عَنْهَا حِوَلًا ﴾ کښې تعریضاً دې ته اشاره ده چې کفار به په ډېر حسرت سره غواړي چې کاش دوی دنیا ته بیول شوي وی او د دې ځای څخه ویستلی شوي وی ځکه چې کفارو ته دنیا د جنت مثال لري او د مؤمنانو دپاره د بندیخانې حیثیت درلودونکې ده.

﴿ قُل لَّوْ كَانَ ٱلْبَحْرُ مِدَادًا لِّكَلِمَـٰتِ رَبِّى لَنَفِدَ ٱلْبَحْرُ قَبْلَ أَن تَنفَدَ كَلِمَـٰتُ رَبِّى وَلَوْ جِئْنَا بِمِثْلِهِۦ مَدَدًا ﴿١٠٩﴾ قُلْ إِنَّمَآ أَنَا۠ بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوحَىٰٓ إِلَىَّ أَنَّمَآ إِلَـٰهُكُمْ إِلَـٰهٌ وَٰحِدٌ فَمَن كَانَ يَرْجُوا۟ لِقَآءَ رَبِّهِۦ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَـٰلِحًا وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِۦٓ أَحَدًۢا ﴿١١٠﴾ ﴾

[١٠٩] (ای پیغمبره! خپل امت ته) ووایه چې: که جنس دریاب زما د رب ﷻ د کلماتو دپاره سیاهي شي (او پرې ولیکل شي) نو جنس دریاب به د دې څخه وړاندې ختم (تمام) شي چې زما د رب ﷻ کلمات تمام (او پوره) شي.

اګر که مونږ د جنس دریاب مثل د کومک په حیث راوړو هم (نو مثل به یې هم ختم شي او کلمات به پوره نه شي).

[١١٠] (ای پیغمبره! خپل امت ته) ووایه چې: زه یقیناً ستاسو غوندې بشر (بنیادم) یم (خو مانه (د خپل رب ﷻ د پلوه) وحې رالېږله کېږي، چې بې شکه ستاسو (حقیقي) معبود (فقط) یو معبود دی، نو هرڅوک چې د خپل رب ﷻ د ملاقات تمه لري (او د خجالت څخه یې ډارېږي) نو صالح عمل دې وکړي او د خپل رب ﷻ په عبادت کښې دې هیڅوک (نه عقیدةً او نه عملاً) شریکوي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې دواړو ایتونو کښې په هغو استدلالاتو باندې یوې تبصرې ته اشاره ده کوم چې د سورت د اول څخه د کفارو په انذار او د مؤمنانو په بشارت باندې اقامه کړی شوې وه.

دغه استدلالات (چې د اصحاب الکهف او نورو قیصو په شکل کښې نازل کړی شوي دي) د الله ﷻ د علم په کمال باندې اتکاء لري، نو ذکره شوې تبصره په لاندې ټکو کښې خلاصه کېږي:

یعنې ای پیغمبره د سورت په پای کښې او د استدلالاتو په انتهاء کښې خپل امت مخاطب کړه او ورته ووایه چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



١ـ په ذکرو شوو قیصو کښې زما د رب ﷻ د کامل علم څو مثالونو ته اشاره شوې ده او کوم ایتونه چې په همدې هکله نازل شوي دي هغه هم محض د نمونو حیثیت لري که نه نو:

الف: زمونږ د پلوه خلکو ته ووایه چې که بالفرض جنس دریاب (چې ټولو موجوده دریابونو ته شامل دی) د لیکلو رنګ (سیاهي) شي او په دغه رنګ باندې هغه کلمات ولیکلی شي کوم چې زما د رب ﷻ د علومو او معلوماتو څخه تعبیرات دي، نو دغه ټول دریابونه به ختم شي او زما د رب ﷻ د علومو تعبیرات به پای ته ونه رسېږي.

ب: که بالفرض د ذکر شوي جنس دریاب سره مونږ (زما رب ﷻ) د همده غوندې یو بل جنس دریاب هم ضمیمه کړو او د لیکلو د رنګ (سیاهي) کار ترې واخستلی شي هم زمونږ (زما د رب ﷻ) د معلوماتو کلمات او تعبیرات به سرته ونه رسېږي او دغه دوهم جنس دریاب به هم ختم شي. او دا ځکه چې دغه دریابونه ټول متناهي (پای درلودونکي) دي او زما د رب ﷻ علوم غیر متناهي (پای نه درلودونکي) دي چې پای نه لري.

٢ـ ای پیغمبره! د سورت په اخر کښې خپل امت لاندې ټکو ته هم متوجه کړه او ورته ووایه چې:

الف: یقیناً زه ستاسو غوندې یو انسان او یو بشر یم څو فقط زه په تاسو باندې همدومره امتیاز لرم چې ماته د خپل رب ﷻ د پلوه وحې کېږي او په ځینو غیبي علومو باندې پوهول کېږم، که نه نو ما څو د اصحاب الکهف سره په غار کښې نه پنا اخستې وه او نه د ذو القرنین سره په سفرونو کښې ملګری وم.

ب: نو په همدې بنیاد د ذکرو شوو معلوماتو هوبهو بیان زما د رسالت او نبوت یو پوخ او قوي دلیل دی.

ج: نو ای خلکو! زه یو ځل بیا تاسو په دې حقیقت باندې خبروم چا چې ماته د ذکرو شوو قیصو څه معلومات وحې کړي دي همغه اقدس ذات ماته دا وحې هم کوي چې یقیناً ستاسو حقیقي معبود یکې یو دی او بل معبود تاسو نه لرئ نو تاسو ته په کاري دي چې د همدغه حقیقي معبود په عبادت باندې اکتفاء وکړئ او شریک ورسره ونه دروئ.

د: ای خلکو! دا وه زما هغه مسؤلیت او مکلفیت د کوم رسونه چې زما فریضه ده، لله الحمد ما خپله وجیبه او فریضه اداء کړه نور نو تاسو پوهېږئ او کار مو.

ه: نو هرڅوک چې د خپل رب ﷻ د ملاقات (د قیامت د قیام) امید ولري او په همدې باندې معتقد وي هغه ته په کار دي چې:

اول: خپل رب ﷻ واحد او لا شریک وګڼي او په همدې عقیده باندې کلک شي.

دوهم: د همدغې عقیدې سره دې صالح عمل هم ملګری کړي.

دریم: په صالح عمل کښې دې هم اخلاص څرګند کړي، د ریاکارۍ څخه دې خپل ځان وساتي او د خپل رب ﷻ په عبادت کښې دې هیچا ته په اشتراک نه قائل کېږي، او خپل نیت دې نه خرابوي، او نه دې بېرته شرک ته رجوع کوي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضيحات

١ـ مفسرين كرام وايي(١) چې په ﴿ لَّوْ كَانَ ٱلْبَحْرُ مِدَادًا ﴾ كښې د ﴿ ٱلْبَحْر ﴾ كلمه ټولو موجوده دريابونو ته شامله ده البته چې دغه شمول په لاندې دوه وو وجو سره صورت ونيولى شي:

الف: چې د "الف، ل" توري پكښې د جنس دپاره شي، چې په ټولو دريابونو كښې پروت دى.

ب: چې همدغه دواړه توري يې په استغراق باندې دلالت وكړي چې د موجوده ټولو دريابونو هر يو فرد ته شموليت ولري.

نو دا ايت شريف د [لقمان: ٢٧] ايت شريف څخه زيات بليغ دى څكه چې هلته د ﴿ سَبْعَةُ أَبْحُرٍ ﴾ كلمات نازل شوي دي چې په يوه معين عدد باندې دلالت كوي او دلته د ﴿ ٱلْبَحْر ﴾ كلمه د جنسيت يا استغراق په اعتبار سره محصوره نه ده همدارنګه په ﴿ وَلَوْ جِئْنَا بِمِثْلِهِ ﴾ كښې د ذكرې شوې كلمې مثل هم غير محصور دى.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه په ذكر شوي عبارت كښې د ﴿ مَدَدًا ﴾ كلمه اصلاً د هغه شي دپاره وضع شوې ده 'په كوم باندې چې د بل شي كومک صورت نيسي مګر په عرف كښې يې په هغه رنګ باندې اطلاق كېږي كوم چې د ليكلو دپاره په مشوانۍ كښې اچولى كېږي او يا هغو ټېلو ته "مِداد" وايي كوم چې په ډيوه كښې درڼا دپاره استعمالېږي(٢).

نو د معنى حاصل يې داسې راځېږي چې كه بالفرض زما رب ﷻ د خپلو معلوماتو څخه په خپلو كلماتو سره اخبار وكړي لكه څنګه يې چې د اصحاب الكهف په قيصه او نورو قيصو كښې د خپلو معلوماتو څخه په خپلو كلماتو سره اخبار كړى دى، نو دغه كلمات به دومره ډېر او زيات شي چې د انسانانو په اذهانو او په تصوراتو كښې به په قطعي صورت ځاى ونه شي نيولى.

خو اى پيغمبره! د تقريب (نژدېكولو) دپاره ذكر شوى وسعت په هغوى باندې په يوه مثال كښې قرائت كړه چې ﴿ لَّوْ كَانَ ٱلْبَحْرُ ﴾ الآية. يعني كه بالفرض زما رب ﷻ د خپلو معلوماتو څخه د اخبار دپاره كلمات نازل كړي او هغه په دريابونو دريابونو او بيا په دريابونو دريابونو باندې وليكلى شي او دا ټول ختم شي هم زما د رب ﷻ د معلوماتو كلمات به ختم نه شي او نه د ختېمدلو امكان لري، څكه چې دريابونه متناهي دي او زما د رب ﷻ معلومات غير متناهي دي نو اخباري كلمات به يې هم ضروري غير متناهي وي.

### د مخلوقاتو وسعت هم د تصور څخه بهر دى

٢ـ لكه څنګه چې د الله ﷻ د معلوماتو وسعت او پراخي د تصور څخه وتلې ده، همدارنګه د ده ﷻ د مخلوقاتو پراخوالى هم په اذهانو كښې نه ځايېږي، چې ځينو مفسرينو تقريباً په (١٩) مثالونو

(١) روح المعاني ج١٥ ص١٦

(٢) تفسير الكشاف ج٢ ص٧٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښې واضحه کړې دی[١]. مونږ يوازې د يوه مثال په رانقلولو باندې اکتفاء کوو. هغه دا چې:
د مخابرې او راديو د نشرياتو موجونه په يوه ثانيه کښې (چې د دقيقې شپېتمه برخه ده) يو سلو شپږ اتيا زره ميله مسافه طي کوي، چې د ځمکې د کُرې ځخه فقط په اوو (٧) ثانيو کښې تاوېدلی شي او خپله يوه دوره پوره کولی شي. خو بالفرض که ذکر شوي موجونه د ټول عالم (ټولې فضاء) ځخه د راتاوېدلو دوره شروع کړي نو ايله په ايله په يو زر مليونه کلونو کښې به خپله دوره پوره کړي.
دا هم د رصدخانو په ترصد او تخمين سره، څه لږې نه ده چې لا په ذکر شوي عدد کلونو کښې بې هم پوره نه کړی شي.
يا په بل عبارت: خپله دوره به په يوه نوري دقيقه کښې نه، په يوه ګړۍ کښې نه، په يوه شپه او ورځ کښې نه، په يوه مياشت کښې نه، په يوه کال کښې نه، په لسو کلونو کښې نه، په سلو کلونو کښې نه، په زرو کلونو کښې نه، په لسو زرو کلونو کښې نه، په سل زره کلونو کښې نه، په يو مليون کلونو کښې نه، په لس مليونه کلونو کښې نه، په سل مليونه کلونو کښې نه، بلکې په يو زر مليونه (يو مليارد) نوري کلونو کښې پوره کړي، فاعتبروا يا أولي الأبصار.
نو مونږ ته بهتره ده چې د ﴿ رَبَّنَا مَا خَلَقۡتَ هَٰذَا بَٰطِلٗا سُبۡحَٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ﴾ په ويلو باندې د خپل رب ﷻ د بندګۍ او هغه ﷻ ته د عاجزۍ اظهار وکړو.

## رجاء څه معنی؟

٣ـ په ﴿ فَمَن كَانَ يَرۡجُواْ لِقَآءَ رَبِّهِۦ ﴾ کښې د ﴿ يَرۡجُوا ﴾ کلمه د "رَجَاء" ځخه اشتقاقه شوې ده او مونږ د الله ﷻ په توفيق د [يونس:٧] ايت لاندې ليکلي دي چې "رَجَاء" اميد ته وضعه شوې ده خو خوف (ډار) ورسره ملګری دی. نو د معنی حاصل يې داسې راځېږي چې: هرڅوک چې د خپل رب ﷻ د ديدار اميد لري او د ده ﷻ په حضور کښې د خجالت ځخه ډارېږي نو هغه دې صالح عمل وکړي، او د خپل رب ﷻ په عبادت کښې دې هيڅ ته ګډون نه ورکوي.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وايي چې شرک خو عقيدوي شی دی چې د عمل ځخه بايد وړاندې تصحيح کړی شي که نه نو صالح عمل تحقق نه شي موندلی. نو پوښتنه دا ده چې: د څه حکمت په بنياد د ﴿ وَلَا يُشۡرِكۡ بِعِبَادَةِ رَبِّهِۦٓ أَحَدَۢا ﴾ کلمات په ﴿ فَلۡيَعۡمَلۡ عَمَلٗا صَٰلِحٗا ﴾ باندې وړاندې نازل نه کړی شوه؟
مونږ وايو چې:
الف: دلته د شرک ځخه عقيدوي شرک مطلب نه دی کوم چې په عمل باندې وړاندې دی بلکې دلته عملي شرک مراد دی چې د رياکارۍ ځخه عبارت دی[٢]. او دا ځکه چې: د عقيدې سوچه والي

(١) تفسير المراغي ج١٦ ص٢٧
(٢) تفسير الخازن ج٣ ص١۴۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ته وراندې د ﴿ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞ ﴾ په کلماتو باندې اشاره شوې ده. نو حاصل يې داسې راځېږي چې هرڅوک چې عقيده يې په خالص توحيد باندې ولاړه وي او د عقيدوي شرک څخه يې خپل ځان ساتلی وي نو هغه دې د عملي شرک څخه هم خپل عمل خالص او سوچه وګرځوي چې د قيامت په ورځ د خپل رب ﷻ په حضور کښې د خجالت او شرمندګۍ سره مخامخ نه شي.

ب: دلته د ﴿ وَلَا يُشۡرِكۡ ﴾ کلمه د هغه شرک څخه اشتقاقه شوې ده کوم چې کفر او رياکارۍ (جلي شرک او خفي شرک) دواړو ته شامل دی[1]. نو حاصل يې داسې اخلو چې نوموړی شخص دې د خپل رب ﷻ په عبادت کښې نه رياکاري کوي او نه دې د توحيد څخه وروسته بېرته شرکي عقيدې ته ورتاوېږي چې په خپل عبادت کښې عقيدةً چاته په اشتراک باندې قائل شي او خپل ځان پرې کفر ته وباسي.

## د رياکارۍ تعريف او ډولونه

۵ـ د الله ﷻ په توفيق مونږ د [يوسف: ۱۰۶] ايت لاندې د رياکارۍ د ډولونو او په نورو مربوطو مسائلو باندې د نصوصو په رڼا کښې ښه تحقيقي بحث کړی دی چې بيا ليکلو ته يې اړتيا نه ګورو، په دې مقام کښې ورباندې فقط همدومره اضافه کوو چې ځينو علماوو کرامو د رياکارۍ مربوط زښت ډېر احاديث راغونډ کړي دي[2]، چې لوستل يې بې ګټې نه دي، نو هيله ده چې يو ځل هلته مراجعه وکړی شي.

## د خوب څخه د راويښېدلو دعاء

۶ـ يوه ورځې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ته يوه سړي وويلې چې کله-کله زه غواړم چې د شپې په فلانۍ برخه کښې راويښ شم خو خوب راباندې غلبه وکړي او په ټاکلي وخت نه شم راويښېدلی (نو څه چاره وکړم)؟ رئيس المفسرين ﷺ جواب ورکړ چې څه وخت چې ته ويده کېدلی او غوښتل دې چې په فلاني وخت رابېدار شې نو دا ايتونه ﴿ قُل لَّوۡ كَانَ ٱلۡبَحۡرُ مِدَادٗا لِّكَلِمَٰتِ رَبِّي ﴾ د سورت تر اخره پورې قرائت کړه «فَإِنَّ اللهَ يُوقِظُكَ مَتَى شِئْتَ مِنَ اللَّيْلِ»[3] نو يقيناً الله ﷻ به دې راويښ کړي د شپې په هر وخت کښې چې ته غواړې.

د الکهف سورت د الله ﷻ په توفيق باندې ختم شو، د الله ﷻ څخه لا زيات توفيق غواړو چې راتلونکي سورتونه هم يو په بل پسې ختم کړو او پکښې خطا نه شو، او ثبات او استقامت مو پکښې زيانمن نه شي، امين يا رب العالمين.

۱۴۱۹/۳/۲۲ هـ ق - ۱۳۷۷/۴/۲۵ هـ ش.

(۱) روح المعاني ج۱۶ ص۵۴
(۲) تفسير ابن کثير ج۳ ص۱۰۸
(۳) تفسير القرطبي ج۱۱ ص۷۲

Scanned by CamScanner

# مریم (۱۹)



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

د دې سورت په ترجمه او تفسیر باندې د شروع څخه وړاندې لازمه ګڼو چې محترم لوستونکي څو ټکو ته متوجه کړو چې د مطالبو په لاس ته راوړولو کښې ورسره مرسته وکړي هغه دا چې:

۱_ د دې سورت نوم "مریم" په [۱٦] ایت کښې نازل شوی دی، خو دا نومول په دې معنی نه دی چې د سورت ټول بحث په بي بي مریمې رضي الله عنها پورې انحصار لري بلکې په دې معنی چې دا هغه سورت دی چې د نومورې بي بي یادونه هم پکښې شوې ده.

۲_ دغه ټول سورت په اتفاق سره مکي دی او د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی خو یوازې د یوه ایت په مکیتوب کښې یې اختلاف دی کوم چې په سجده باندې مشتمل دی او په شمېره کښې [۵۸] واقع دی[۱].

څېنو کتابونو لیکلي دي چې یوه ورځې یوه صحابي رضي الله عنه نبي کریم ﷺ ته په مکه معظمه کښې خبر ورکړ چې: ای د الله رسوله! بېګاه شپه زما په کور کښې یوه انجلۍ زېږېدلې ده. نبي کریم ﷺ ورته وویلې چې: «وَاللَّيْلَةَ أُنْزِلَتْ عَلَيَّ سُوْرَةُ مَرْيَمَ سَمِّهَا مَرْيَمَ»[۲] او همدا بېګاه شپه په ماباندې د مریم سورت نازل شوی دی نو په انجلۍ (لور) باندې دې د مریم نوم کېږده (نو هغه پرې همدغه نوم کېښود).

۳_ د دې سورت اعداد په لاندې ډول دي[۳]:

الف: د ایتونو شمېر یې اته نوي (۹۸) دی.

ب: د کلمو شمېر یې اوه سوه اتیا (۷۸۰) دی.

ج: د حرفونو شمېر یې درې زره اوه سوه (۳۷۰۰) دی.

## د دې سورت محوري موضوع

۴_ دا سورت هم د نورو مکي سورتونو غوندې (په محوري توګه) په عقیدوي امورو پورې ارتباط لري البته چې د اداء او بیان په طرز کښې یې سره فرق شته، نو د دې سورت محوري موضوع په لاندې ټکو کښې را خلاصه کولی شو:

الف: الله ﷻ واحد او لا شریک دی، او د ولد د نیولو څخه پاک او منزه دی.

ب: د مرګ څخه وروسته بیا را ژوندي کېدل حق دي، هیڅ شک او شبه پکښې نشته.

ج: د مؤمنانو اعزاز او د کفارو توهین په دنیا او آخرت کښې هر یو ضرور صورت نیوونکي دي، که څه هم څو شپې او ورځې په منځکښې تېرې شي، او داسې نور.

## د دواړو سورتونو تناسب

۵_ دا سورت د وړاندېني سورت (الکهف) سره د لاندې وجوهو د کبله تناسب لري:

(۱) المحرر الوجيز ج۱۱ ص۱۰
(۲) المعجم الكبير للطبراني ج۲۲ ص۳۳۲
(۳) تفسير الخازن ج۴ ص۱۴۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: لکه څنګه چې هغه سورت په عجائبو او غرائبو باندې مشتمل وه لکه د اصحاب الکهف اوږده موده ژوندي پاتې کېدل او داسې نور، همدارنګه په دې سورت کښې هم د یحیی ﷺ او د عیسی ﷺ د عجیبه زېږېدلو بیان نازل شوی دی.

ب: ځینې علماء کرام لا وايي چې د قیامت د قیام څخه وړاندې چې کله عیسی ﷺ د اسمانه راښکته شي نو الله ﷻ به اصحاب الکهف هم د غار څخه را اوچت کړي او د عیسی ﷺ په ملګرتیا به د کعبې شریفې زیارت (حج) اداء کړي[1]، والله أعلم بحقیقة الحال وإلیه المرجع والمآل.

نو که دا خبره صحت ولري د دواړو سورتونو تناسب به ډېر واضحه شي چې هلته د عیسی ﷺ د ملګرو ذکر نازل شوی وه او دلته پخپله د عیسی ﷺ د تولد قیصه بیانه شوې ده.

## د حبشې پاچا په ایمان مشرف شو

۶_ بالآخره دا هغه سورت دی د کوم په اورېدلو سره چې د حبشې پاچا په ایمان باندې مشرف شوی وه، البته کله چې مسلمانانو هلته هجرت وکړ او د مکې مشرکانو د پلوه تعقیب شوه چې د نیصې مهم تکي یې د [الأنعام:۸۳، ۸۶] ایتونو په شان نزول کښې _د الله ﷻ په توفیق_ لیکلی شوي دي او بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿كٓهيعٓصٓ ۝١ ذِكْرُ رَحْمَتِ رَبِّكَ عَبْدَهُۥ زَكَرِيَّآ ۝٢ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُۥ نِدَآءً خَفِيًّا ۝٣
قَالَ رَبِّ إِنِّى وَهَنَ ٱلْعَظْمُ مِنِّى وَٱشْتَعَلَ ٱلرَّأْسُ شَيْبًا وَلَمْ أَكُنۢ بِدُعَآئِكَ رَبِّ شَقِيًّا
۝٤ وَإِنِّى خِفْتُ ٱلْمَوَٰلِىَ مِن وَرَآءِى وَكَانَتِ ٱمْرَأَتِى عَاقِرًا فَهَبْ لِى مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا ۝٥
يَرِثُنِى وَيَرِثُ مِنْ ءَالِ يَعْقُوبَ ۖ وَٱجْعَلْهُ رَبِّ رَضِيًّا ۝٦﴾

د ډېر مهربان (او) خورا با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱]

[۲] (ای پیغمبره! دا راتلونکی بیان) ستا د رب ﷻ د رحمت بیان دی (البته) په خپل بنده باندې چې د زکریا ﷺ څخه عبارت دی (هغه دا چې:).

[۳] کله چې زکریا ﷺ خپل رب ﷻ په پټه بلنه سره وباله (او سوال یې تری وکړ).

[۴] زکریا ﷺ وویلې چې: ای زما ربه! یقینا زه چې یم زما (د بدن) څخه هډوکي کمزوري (سست) شوي دي او زما سر د سپینو ویښتانو د حیثه شغلې وهي.

[1] روح المعاني ج۱۶ ص۵۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او زه دې څخه پخوا) زه ستا په بللو سره ای ربه! شقي (او بد بخت) نه وم (چې زما سوال دې نه وي قبول کړی).

[۵] او (ای ربه!) زه د خپل (خان) څخه وروسته د خپلو اقاربو (خپلوانو) څخه ډارېږم (چې زما نیابت به ونه کړي)، حال دا چې زما ماندینه (برسېره په زوړوالي) شنډه (هم) ده.

نو ماته د خپله نزده (صرف د خپل فضل په اثر) یو وارث (زوی) راوبښي.

[۶] چې (په علم او نبوت کښې) زما مېراث واخلي او (هم) د یعقوب ﷺ د ټبر میراث واخلي.

ای زما ربه! (دغه ماشوم) راضي کړی شوی وګرځوې (چې هم ترې ته راضي یې او هم ترې نور خلک راضي او خوشاله وي).

## ارتباطونه

۱ـ وړاندېنی سورت (الکهف) د توحید په مضمون باندې ختم شوی وه، او دا سورت د نبوت اثبات ته په اشاره باندې پیل کېږي.

۲ـ د هغه سورت په وروستنیو ایتونو کښې د الله ﷻ د علم کمال بیان شوی وه، او دا سورت د ده ﷻ د قدرت د کمال دپاره د څو مثالونو په ښودانې سره شروع کېږي چې حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! د "بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ" د ویلو څخه وروسته په خپل امت باندې لاندې مطالب قرائت کړه چې:

۱ـ ته په حقه پیغمبر یې او ستا د پیغمبرۍ (نبوت) اثبات دپاره همدغه قرآن کریم کفایت کوي. او دا څکه چې دغه قرآن کریم د همغو تورو څخه ترکیب موندلی دی د کومو څخه چې د خلکو کلامونه ترکیب مومي لکه "ک، ه، ي، ع، ص" او داسې نور. خو د دې سره-سره هیڅوک وسه او توان نه لري چې د دې قرآن کریم په مثل یو سورت او یا یو ایت جوړ کړی شي، که څه هم ټول انسانان لا څه چې پرښتې او پیریان هم ورسره لاسونه یو کړي او ټول یې په شریکه باندې د جوړولو دپاره هڅې وکړي.

بنه نو چې دوی ټول د یوه ایت یا یوه سورت په جوړولو باندې توان نه لري نو ته به په یوه سر څنګه وسه ولرې چې متعدد سورتونه جوړ کړې؟، نو پوره واضحه ده چې دا قرآن کریم ستا تصنیف نه دی، بلکې ستا د رب ﷻ د پلوه په تاباندې په حقه نازل شوی دی او ته په حقه پیغمبر یې.

۲ـ ای پیغمبره! ستا رب ﷻ لکه چې د خپل کامل قدرت یوه نمونه د قرآن کریم په نازلولو کښې ښودلې ده، همدارنګه یې د زکریا ﷺ په قیصه کښې هم د خپل کامل قدرت اظهار او څرګندونه کړې ده. هغه دا چې:

الف: ستا رب ﷻ په خپل بنده (زکریا ﷺ) باندې رحمت کړی دی چې یادونه یې په راتلونکو ایتونو کښې داسې کېږي چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: زكريا ﷺ خپل رب ﷻ ته د عاجزۍ په اواز سره د خلكو څخه پټ په توره شپه كښې سوال وكړ، او د مقدمې په توګه یې داسې وویلې چې:

ج: اى زما ربه! زه زوړ (بوډا) شوی يم او غوښه مې توی كړې ده او هم مې پوستكي غونج شوی دی او هډوكي مې كمزوري او ویلي شوي دي او بالآخره ډېره لا څه چې د سر ویښتان مې هم د ورایه سپین خلېږي (نو زه د ډېر ترحم او مهربانۍ جوګه یم).

د: اى زما ربه! د همېشه دپاره تا زما سوالونه قبول كړي دي او څه چې ما غوښتي دي هغه دې راكړي دي (زه دې د سوال په قبول باندې روږدی كړی يم) نو اوس چې زه كوم سوال تاته وړاندې كوم هغه هم راته راكړه او نااميد كوه مې مه.

هـ: اى زما ربه! په دې ټولو باندې علاوه زه د خپلو اقاربو څخه ډارېږم چې زما د مرګ څخه وروسته به دوی ستا د شريعت د اشاعت (خوروني) دپاره پوره كار ونه كړي او ستا د دين په دعوت كښې به قصور وكړي او بلكې په ضرر به ورته تمام شي، يا په بل عبارت د نبوت كومه سلسله چې ماته د يعقوب ﷺ څخه راپاتې ده هغه به زيانمنه شي.

و: اى زما ربه! زما حالت د عادت په اعتبار سره د هغه سوال سره مناسب نه دی كوم چې زه يې ستا په حضور كښې د وړاندې كولو اراده لرم او دا څكه چې برسېره زما په بوډاتوب زما ماندينه هم بوډۍ ده، او بلكې لا شنډه ده چې په ځوانۍ كښې يې هم اولاد نه دی زېږولی.

ز: خو د دې ټولو عادي موانعو سره-سره ستا د قدرت په وړاندې هيڅ شی مانع نه شي واقع كېدلی نو هيله ده چې ماته د خپل نزد (بدون د استحقاقه) يو وارث (زوی) راوبښې ترڅو زما د مرګ څخه وروسته زما په ځای ودرېږي او د نبوت هغه سلسله ژوندۍ وساتي كومه چې ماته د يعقوب ﷺ څخه راپاتې ده او د ده په اولاده كښې آن زما پورې جاري ده.

ح: اى زما ربه! زه محض او په نوم وارث نه غواړم بلكې داسې وارث غواړم د كوم څخه چې ته راضي يې او ستا په نزد مقبول بنده وي، او هم ترې د وخت ټول خلك راضي وي چې د همدوی د خير دپاره دوامداره كار كوي او په همدې كار كښې مصروف وي.

## توضيحات

١ـ د ﴿كٓهيعٓصٓ﴾ توري د مقطعاتو څخه دي چې په متشابهاتو كښې شامل دي او مونږ د الله ﷻ په توفيق د [آل عمران:٧] ايت لاندې په متشابهاتو كښې ښه په زړه پوري تحقيق كړی دی، چې دوهم ځل تحقيق ته پكښې ضرورت نه ګورو.

مونږ هلته ليكلي دي چې علماء كرام د متشابهاتو په نسبت دوه ډلې دي: يوه ډله د راسخ علم خاوندان دي چې د مشروعو لارو څخه يې د تاويلاتو پلټنه كوي، او بله ډله اهل الزيغ (د كوږوالي خاوندان) دي چې په غير مشروعه طريقه يې تاويل ته لاس اچوي.

په دې مقام كښې اهل التشيع په غير مشروعه توګه ذكرو شوو تورو ته تاويل وركړی دی هغه دا

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې دوی وايي[۱]:

الف: دلته د کاف توری د کربلا څخه مخفف دی.

ب: د "ه" توری پکښې د اهل البیت څخه تخفیف موندلی دی.

ج: د "ی" توری یزید ته اشاره ده.

د: د "ع" د توري څخه د اهل البیت عطش (تنده) مراده ده.

ه: بالآخره د "ص" په توري ګڼښې د دوی صبر او استقامت ته اشاره ده.

نو د پنځو وارو تورو حاصل داسې راځېږي چې د عراق د کربلا په مقام کښې د یزید د لاسه اهل البیت (لکه حسین ﷺ او د ده نور ملګري) د تندې او صبر (استقامت) په حال کښې هلاک او شهیدان کړی شوه.

دغه ډول تاویل په محکماتو باندې اتکاء نه لري کومو ته چې د متشابهاتو په تاویل کښې مراجعه ضرور ده، او برسېره په دې د مفسرینو کرامو د اجماع څخه مخالف دی، او هر هغه تاویل چې د دوی د اجماع څخه مخالف وي هغه صحت نه لري او مردود دی[۲].

## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي چې: په ﴿ نِدَآءً خَفِيًّا ﴾ کښې د ﴿ نِدَآءً ﴾ کلمه لوړ او اوچت اواز ته وضعه شوې ده، او د ﴿ خَفِيًّا ﴾ کلمې د "خَفَاءٌ" ـلکه "ثَنَاءٌ"ـ څخه اشتقاق موندلی دی چې د پټ معنی ورکوي، نو پوښتنه دا ده چې: ایا لوړوالی د پټوالي سره منافي نه دی؟

مونږ وایو چې:

الف: د پټوالي معنی دا ده چې د زکریا ﷺ سوال د خلکو څخه پټ وه چې په نیمه شپه کښې يې صورت نیولی وه او هیچا نه وه اورېدلی[۳].

ب: دلته د ﴿ نِدَآءً ﴾ کلمه د لوړ اواز په معنی نه ده بلکې فقط د بللو معنی ورکوي چې د پټوالي سره څه منافات نه لري[۴].

د همدې کبله په راتلونکي ایت کښې ورباندې صراحت وکړی شو، چې ﴿ وَلَمۡ أَكُنۢ بِدُعَآئِكَ رَبِّ شَقِيًّا ﴾ نازل کړی شو او "بِنِدَائِكَ" نازل نه کړی شو.

زمونږ په نزد ذکر شوي دواړه جوابونه سره څه منافات نه لري، څه لرې نه ده چې دواړه مراد کړی شي.

۳ـ که څه هم په بوډاتوب کښې لکه څنګه چې د سرې هډوکي کمزوري کېږي همدارنګه غوښنه او اعصاب هم د کمزورۍ خواته زور کوي او عقل هم په خپل قوت سره نه پاتې کیږي مګر

(۱) تفسیر نمونه ج۱۳ ص۷
(۲) تفسیر الطبري ج۱۵ ص۱۸۸
(۳) روح المعاني ج۱۶ ص۵۹
(۴) مفردات الراغب ص۵۰۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



زکریا ﷺ د عقل د کمزورۍ هیڅ ذکر ونه کړ ځکه چې پیغمبران علیهم السلام بوډاګان کیږي خو د عقلونو د کمزورۍ سره نه مخامخ کیږي.

نو د همدې کبله زکریا ﷺ یوازې د خپلو هډوکو په کمزورۍ باندې صراحت وکړ چې: ﴿ إِنِّي وَهَنَ ٱلْعَظْمُ مِنِّي ﴾ یعنې ای زما ربه! زما هر یو هډوکی کمزوری شوی دی، دا ځکه چې د هډوکو کمزوري ځرګنده وي او د ترحم دپاره ډېره جالبه جوړېږي.

یو پښتون شاعر همدا مضمون ځومره ښه اداء کړی دی(١) چې:-

ښایسته مخه وي تور کودی شي په پېرۍ کښې :: سم قامت وي کوږ لرګی شي په پېرۍ کښې

یو طرف ته رېږدي بل خوا دروميي :: خپل صورت تمام پردی شي په پېرۍ کښې

دا ځواني ده چې څه اورې یا څه وینې :: نه لیدی نه اورېدی شي په پېرۍ کښې

ای رحمانه! پیري هسې عاجزي ده :: که رستم وي زړه پرې سوی شي په پېرۍ کښې

۴_ که څه هم په بوډاتوب کښې لکه څنګه چې د سر ویښتان سپينېږي همدارنګه ږېره هم سپینوالي ته میلان کوي خو زکریا ﷺ یوازې د خپل سر په سپینوالي باندې صراحت وکړ چې: ﴿ وَٱشْتَعَلَ ٱلرَّأْسُ شَيْبًا ﴾ یعنې ای زما ربه! زما د سر ویښتان د بوډاتوب د کبله سپینې شغلې وهي. دا ځکه چې:

الف: د سر ویښتانو په ذکر سره یې اشاره وکړه چې زما د ماندینې سر هم تک سپین دی، د همدې کبله زکریا ﷺ د خپلې ماندینې په شنډوالي باندې صراحت وکړ چې ﴿ وَكَانَتِ ٱمْرَأَتِي عَاقِرًا ﴾ مګر د هغې د بوډۍ توب په هکله یې په ذکره شوې اشاره باندې اکتفاء وکړه.

نو که بالفرض د سر په عوض یې د ږېرې د سپینوالي تذکر کړی وی نو دغه اشاره به پټه پاتې وی چې زنانه ږیره نه لري.

ب: برسېره په دې د اکثرو خلکو د ږیرې ځخه وروسته په سر کښې سپین ویښتان پیل کېږي، نو کله چې زکریا ﷺ د خپل سر د ویښتانو د سپینوالي تذکر وکړ نو د ږیرې د سپینوالي تذکر ته څه ارتیا پاتې نه شوه، چې هغه خو به لا د دې ځخه وړاندې تکه سپینه ګرځېدلې وي.

## وَلِي څه معنی؟

۵_ مونږ د الله ﷻ په توفیق د [النساء:۳۳] ایت په توضیحاتو کښې لیکلي دي چې د "وَلِي" کلمه _لکه "ضرب"_ په ډېرو معناوو کښې استعمالېږي چې په ټولو کښې نژدېکت پروت دی. لکه د نسب نژدېکت، د امارت نژدېکت او داسې نور.

نو دلته په ﴿ وَإِنِّي خِفْتُ ٱلْمَوَٰلِيَ ﴾ کښې د "مَوَالِي" کلمه د هغه "وَلِي" ځخه اشتقاقه شوې ده چې د نسب په نژدېکت باندې دلالت کوي. یعنې ای ربه! زه د خپلو تربورانو ځخه ډارېږم چې زما د مرګ ځخه وروسته به په درستو معناوو کښې زما خلافت ونه شي کړی او په خلکو کښې به شریعت پیاده

(١) د عبد الرحمن مومند دیوان ص۲۵۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نه کړي او فسق او فجور به عمومیت مونده کړي.

او په ﴿ مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا ﴾ کښې د ﴿ وَلِيًّا ﴾ کلمه د هغې "وَلِي" څخه اخستلې شوې ده کومه چې د ولدیت د نژدېکت په معنی سره ده. یعنې ای ربه! ماته د خپله نزده یو زوی راوبښي چې زما د مرګ څخه وروسته په علم او نبوت کښې زما قائم مقام جوړ شي او د جنایاتو مخه ونیسي.

د همدغه ولد (زوی) څخه زکریا ﷺ په پاکیزه اولاده باندې هم تعبیر کړی دی لکه چې الله ﷻ د همده د خولې څخه حکایت کوي چې: ﴿ رَبِّ هَبۡ لِي مِن لَّدُنكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً ﴾ [آل عمران:٣٨] یعنې ای زما ربه! ماته پاکیزه اولاده راوبښه.

## د وراثة معنی

٦_ په ﴿ يَرِثُنِي وَيَرِثُ مِنۡ ءَالِ يَعۡقُوبَ ﴾ کښې د "يَرِثُ" دواړه کلمې د "إِرْث" _لکه "عِلْم"_ یا "وِرَاثَة" _لکه "كِرَامَة"_ څخه اشتقاقي شوي دي، "إرْث" یا "وِرَاثَة" اصلاً د دې دپاره وضعه شوی دی چې د سړي لاس ته بدون د هر ډول عقد څخه څه سرمایه (پانګه) مفته انتقاله شي[1]، د همدې کبله د هغه مال رانیولو ته هم "إرث" یا "وراثة" ویل کېږي کوم چې چاته د وفاتو شوو اقاربو د پلوه لاس ته ورشي.

مګر په محاوراتو کښې د علمي پانګې یا د نبوت د پانګې په انتقال باندې هم استعمالېږي، لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ فَخَلَفَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ خَلۡفٌ وَرِثُواْ ٱلۡكِتَٰبَ ﴾ [الأعراف:١٦٩] یعنې په یهودانو کښې د پخوانیو څخه وروسته بدو خلیفه ګانو خلافت وکړ چې کتاب (توارت) هم ورته د هغوی څخه په وراثت سره پاتې وه خو عمل یې ورباندې ونه کړ.

ب: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «وَإِنَّ الْعُلَمَاءَ وَرَثَةُ الْأَنْبِيَاءِ»[2] یقینًا (د هر ملت) علماء د (خپلو) پیغمبرانو وارثان دي (البته په علم او دعوت الی الله کښې).

په دې مقام کښې ذکرې شوې دواړه کلمې د علمي او نبوتي وراثة یا ارث څخه اشتقاقي شوې دي، او دا خکه چې:

اول: د ﴿ مِنۡ ءَالِ يَعۡقُوبَ ﴾ کلمات دلالت کوي چې دلته مالي وراثت مطلب نه دی دا خکه چې زکریا ﷺ ته خو د یعقوب ﷺ څخه کومه مالي پانګه پاتې نه وه چې د هغې د سنبالولو دپاره یې د صالح اولاد سوال کاوه، بلکې هغه ته د پخوانیو نېکونو څخه د علم او د نبوت پانګه پاتې وه او غوښتل یې چې په مېنه باندې یې یو عالم او پیغمبر پاتې شي چې د خلکو ارشاد او دعوت ته ادامه ورکړي.

دوهم: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «كَانَ زَكَرِيَّا نَجَّارًا»[3] یعنې زکریا ﷺ نجار (ترکاڼ) وه چې

---

(١) مفردات الراغب ص٥٥٥

(٢) سنن داوٗد ج٢ ص١٥٧

(٣) صحیح مسلم ج٢ ص٢٦٨

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خپله نفقه يې په خپل لاس باندې ګټله. لکه څنګه چې داوود ﷺ د خپل لاس په ګټلي مال باندې خپله ګوزاره کوله. یا په بل عبارت: زکریا ﷺ څه غټ سرمایه دار نه وه چې د مرګ څخه وروسته د خپلې سرمایې په غم کښې لوېدلی وه، او نه دا کار د پیغمبرانو سره څه مناسبت لري.

دریم: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «وَإِنَّ الْأَنْبِيَاءَ لَمْ يُوَرِّثُوا دِينَارًا وَلَا دِرْهَمًا وَرَّثُوا الْعِلْمَ فَمَنْ أَخَذَهُ أَخَذَ بِحَظٍّ وَافِرٍ»[1] یعنې یقیناً پیغمبرانو خپلو اولادونو ته نه یو دینار پرېښی دی او نه یو درهم (بلکې په مالي ترکه کښې يې ټول مؤمنان شریکان دي). هو! پیغمبرانو دیني علم په میراث سره پرېښی دی چې یوازې علماء پکښې برخه اخلي، نو هر چا چې علم زده کړ هغه لویه او ډېره برخه واخستله، او که نه نو بې برخې پاتې شو.

همدا زمونږ د اهل السنت والجماعت مذهب دی چې پیغمبران د عامو خلکو غوندې میراث خواره نه لري.

څلورم: یوه ورځې ابو هریره ﷺ هغو خلکو ته وویلې کوم چې په بازار کښې په تجارتونو باندې مشغول وه، چې تاسو دلته یاست او د نبي کریم ﷺ میراث په جومات کښې ویشلی کېږي.

کله چې تجاران په منډه-منډه جومات ته ورغله او هلته يې د قرآن کریم د درس او د علمي حلقو څخه پرته بل شی مونده نه کړ، نو ابو هریره ﷺ يې مخاطب وګرځاوه چې د نبي کریم ﷺ میراث چرته دی؟ (دلته خو نشته).

نو هغه جواب ورکړ چې: «هَذَا مِيرَاثُ مُحَمَّدٍ ﷺ يُقَسَّمُ بَيْنَ وَرَثَتِهِ وَلَيْسَ مِيرَاثُهُ دُنْيَاكُمْ»[2] دغه د نبي کریم ﷺ میراث دی چې د ده ﷺ د وارثانو ترمنځ وېشلی کېږي (تاسو ترې محروم یاست)، او د نبي کریم ﷺ میراث ستاسو دنیا نه ده (چې تاسو ورباندې مشغول یاست).

## اهل التشیع څه وایي؟

٧_ اهل التشیع وایي[3] چې په دې مقام کښې مالي ارث او وراثة مطلب دی او دا څکه چې زکریا ﷺ ډېر مالدار وه چې د ده مېرمن د سلیمان ﷺ د اولادې څخه وه او ښه پرېمانه سرمایه يې په لاس کښې درلوده. برسېره په دې پخپله زکریا ﷺ هم په خپل وخت کښې دیني مشر وه او د هر طرفه به ورته نذرونه او تحفې وررواني وې، چې ښه غټه پانګه ورسره غونډه شوې وه.

لنډه دا چې شیعګانو زکریا ﷺ په خپلو موجوده مشرانو باندې قیاس کړی دی چې د ثروت (پانګې) د جمعه کولو څخه په غیر يې بل کار نشته.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

٨_ که څوک وایي چې: په اهل الشیع باندې څه باعث دی چې په دې مقام کښې د مالي وراثت

(١) سنن ابي داوُد ج٢ ص١۵٧
(٢) حواشي ابن ماجه ص٢٠
(٣) تفسیر نمونه ج١٣ ص١٠

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



...مطلولو باندې کلک دي او د أهل السنة والجماعة دلايلو ته غوږ نه ږدي؟

مونږ وايو چې: په دوی باندې د غوږ د نه ايښودلو باعث فقط يوه قيصه ده او بس، هغه دا چې:

د نبي کريم ﷺ د وفات څخه وروسته بي بي فاطمه رضي الله عنها ابو بکر (أمير المؤمنين) ﷺ ته ورغله او ورته يې وويلې چې ماته هغه مالونه راکړه کوم چې زما پلار (نبي کريم ﷺ) د غنيمتونو څخه په خمس کښې اخستي وه، البته هغه مالونه چې څه برخه يې په خيبر او فدک او نورو ځايونو کښې باقي ده.

ابو بکر ﷺ جواب ورکړ چې ما د نبي کريم ﷺ څخه اورېدلي دي چې: «لَا نُورَثُ مَا تَرَكْنَا صَدَقَةٌ»[1] يعنې زمونږ د ټولګي (پيغمبرانو عليهم السلام) څخه ميراث نه وړل کېږي کوم مال چې مونږ د خپل مرګ څخه وروسته پرېږدو هغه صدقه (خيرات) دی چې ټول مؤمنان پکښې اشتراک لري.

د دې جواب په اورېدلو سره بي بي فاطمه رضي الله عنها په غُصه شوه او خپل کور ته لاړه او بيا تقريبًا شپږ مياشتې وروسته وفاته شوه.

که څه هم د مريضتيا په وخت کښې ابو بکر (أمير المؤمنين) ﷺ د عيادت په توګه د علي ﷺ په اجازه ورغی (قناعت يې ورکړ) او د خپله خانه يې راضي کړه[2] مګر اهل التشيع تر اوسه پورې په غُصه دي او په خليفه باندې پړه اچوي حال دا چې هغه د صحابه وو کرامو ﷺ په حضور کښې په صحيح حديث باندې استدلال قائم کړ او هيچا يې رد هم ونه کړ.

بالآخره که څوک په ذکره شوې موضوع کښې اوږد بحث غواړي نو څينو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[3].

﴿ يَٰزَكَرِيَّآ إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَٰمٍ ٱسْمُهُۥ يَحْيَىٰ لَمْ نَجْعَل لَّهُۥ مِن قَبْلُ سَمِيًّا ۝٧ قَالَ رَبِّ أَنَّىٰ يَكُونُ لِى غُلَٰمٌ وَكَانَتِ ٱمْرَأَتِى عَاقِرًا وَقَدْ بَلَغْتُ مِنَ ٱلْكِبَرِ عِتِيًّا ۝٨ قَالَ كَذَٰلِكَ قَالَ رَبُّكَ هُوَ عَلَىَّ هَيِّنٌ وَقَدْ خَلَقْتُكَ مِن قَبْلُ وَلَمْ تَكُ شَيْـًٔا ۝٩ قَالَ رَبِّ ٱجْعَل لِّىٓ ءَايَةً ۚ قَالَ ءَايَتُكَ أَلَّا تُكَلِّمَ ٱلنَّاسَ ثَلَٰثَ لَيَالٍ سَوِيًّا ۝١٠ فَخَرَجَ عَلَىٰ قَوْمِهِۦ مِنَ ٱلْمِحْرَابِ فَأَوْحَىٰٓ إِلَيْهِمْ أَن سَبِّحُوا۟ بُكْرَةً وَعَشِيًّا ۝١١ ﴾

[7] (مونږ د زکريا عليه السلام سوال قبول کړ او ورته مو ويلې چې:) ای زکريا! يقينًا مونږ تاته په داسې يو هلک سره زيری درکوو چې نوم يې يحيی دی، (او) مونږ د ده دپاره د ده څخه وړاندې همنامی نه دی ګرځولی (نه دی پيدا کړی).

---

(١) صحيح البخاري ج٢ ص٩٩٦؛ جامع الترمذي ج١ ص٢٩٠؛ ابي داوٗد ج٢ ص٥٦؛ سنن النسائي ج٢ ص١٧٩؛ مسند احمد بن حنبل ج١ ص٣٢؛ موطا إمام مالک ص٦١٤

(٢) حواشي صحيح البخاري ج١ ص٤٣٥

(٣) اضواء البيان ج٤ ص٢٢٧

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۸] زکریا ﷺ وویلې چې: ای زما ربه! څنګه به ماته هلک شي (او زه به یې څنګه پلار شم) حال دا چې زما ماندینه شنډه ده او زه د بوډاتوب د کبله داسې حد ته رسېدلی یم چې حال مې د اصلاح (او معالجې) قابل نه دی.

[۹] (زکریا ﷺ ته خپل) رب ﷻ وویلې چې (د همدې حال سره-سره خبره) همداغسې ده (زېرې تحقق مونده کوي).

(ای زکریا!) ستا رب ﷻ وایي چې: دا کار په ماباندې (ماته) اسان دی، او یقیناً ته مو لا مخکښې په داسې حال کښې پیدا کړې وې چې هیڅ شی نه وې (هیڅ موجودیت دې نه درلود).

[۱۰] زکریا ﷺ وویلې چې: ای زما ربه! ماته (د ذکر شوي بشارت په تحقق باندې) یوه نښه مقرره کړه (ترڅو زه مطمئن شم چې زېري تحقق مونده کړې).

خپل رب ﷻ ورته وویلې چې ستا نښه دا ده چې ته به درې شپې د خلکو سره په داسې حال کښې خبرې نه شې کولی چې ته به برابر (روغ رمټ) یې.

[۱۱] نو زکریا ﷺ د خپلې عبادتګاه څخه په خپل قوم باندې ورووت (چې هغوی ورته منتظر وه) نو اشاره یې ورته وکړه چې تاسو (هم زما غوندې) سبا او بېګا (د الله ﷻ) تسبیحات وایاست (دېر عجیبه کار راروان دی چې بوډا او بوډۍ به د زوی پلار او مور جوړ شي).

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! مونږ د زکریا ﷺ ذکر شوی سوال قبول کړ او د یوه ټولګي پرښتو په ذریعه مو ورته خطاب متوجه کړ چې:

۱_ ای زکریا! مونږ تاته د داسې یوه ماشوم (هلک) په زېږېدنه باندې زېری درکوو چې:

الف: د هغه نوم یحیی (نعمت الرب) دی، او دا استعداد پکښې شته دئ چې هم ستا دپاره او هم د نورو مسلمانانو دپاره د یو رحمت او نعمت لقب وګټي.

ب: مونږ په دغه نامه (یحیی) باندې د ده څخه وړاندې څوک نه دی نومولی او داسې څوک مو نه دی پیدا کړی چې هغه په همدې نامه باندې یا پخوا تېر شوی وي او یا په همدې نامه باندې په موجوده زمانه کښې ژوند کوي. نو ته ښه پوره ډاډه اوسه چې دا کار کېدونکی دی.

۲_ زکریا ﷺ د خپل اطمنان د تحصیل دپاره او د ذکر شوي ماشوم (هلک) د بیا-بیا تذکر دپاره (چې تلذذ پرې واخلي) وویلې چې:

الف: ای زما ربه! ماته به هلک د کومه شي؟ ایا زه به د هلک دپاره پلار جوړ شم؟

ب: حال دا چې ماندینه مې زړه بوډۍ ده او برسېره په دې شنډه هم ده چې د ځوانۍ په وخت کښې یې هم اولاد نه دی زېږولی.

ج: او زه هم د زوړوالي د کبله داسې حالت ته رسېدلی یم چې په عالم الاسباب کښې د اصلاح قابل نه دی. یا په بل عبارت: لکه څنګه چې تر اوسه پورې په هیڅ بوډا باندې د ځوانۍ دوره د دوهم

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خل دپاره نه ده ورغلې نو په ماباندې به څنگه بیا د خوانۍ دوران پیل شي؟.

۳_ زکریا ﷺ ته خپل رب ﷻ وویلې چې خبره همدغسې ده لکه چې تاته خبر درکړی شو چې ته به زوړ بوډا یې او ماندینه به دې زړه بوډۍ او شنډه وي خو د دې سره-سره به زېری تحقق مونده کړي او دا څکه چې:

۴_ ستا رب ﷻ وایي چې دغه ډول کار په ما باندې اسان دی او څه مشکلات راته نه لري، که څه هم تاته عادةً لرې برېښي خو په نظر سره زمونږ کامل قدرت ته څه لرې نه دی، ایا ته نه گورې:

۵_ ای زکریا ﷺ چې ته مو د نشت څخه پیدا کړې حال دا چې تا په هیڅ ډول سره موجودیت نه درلود، همدارنگه به مونږ یحیی ﷺ هم موجود کړو حال دا چې سمدستي په هیڅ ډول سره موجودیت نه لري.

۶_ بیا نو زکریا ﷺ د خپل اطمنان د زیاتولو دپاره خپل رب ﷻ ته بیا د سوال لاسونه پورته کړه چې: ای زما ربه! ماته یوه نښه وښاکه ترڅو زه پوه شم چې زما ماندینه په یحیی ﷺ باندې امیدواره شوه ترڅو زما ډاډینه زیاته شي، او زړه مې پوره مطمئن وگرځي.

۷_ د زکریا ﷺ دغه سوال هم خپل رب ﷻ قبول کړ چې تاته د قبول نښه دا ده چې ته به د صحت په حال کښې یوازې د خلکو سره تر درې شپو او ورځو پورې خبرې نه شې کولی او ژبه به دې پرې نه چلېږي، خو د خپل رب ﷻ په تسبیحاتو او اذکارو کښې به هیڅ بندش نه لرې او کله چې درې شپې او ورځې تېرې شي نو بیا به بېرته عادي حالت ته وگرځولی شې.

۸_ کله چې په زکریا ﷺ باندې ذکر شوی کیفیت ورغی او بدون د گونگوالي څخه د خلکو د خبرو څخه منعه کړی شو نو د خپلې عبادتگاه څخه خپل قوم او خپل امت ته ورووت او په اشاره باندې یې هغوی پوه کړه چې: ای زما قومه! تاسو هم سبا او بېگا (مابنام) د الله ﷻ تسبیحات وایاست چې زه هم په همدغه کار باندې مشغول یم.

## توضیحات

۱_ که څوک وایي چې په دې مقام کښې الله ﷻ فرمایلي دي چې ﴿إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَٰمٍ ٱسۡمُهُۥ يَحۡيَىٰ﴾ یقیناً مونږ تاته په داسې یو هلک سره زېری درکوو چې نوم یې یحیی دی حال دا چې په بل ایت کښې د همدغه زېري ورکولو نسبت پرښتو ته شوی دی چې ﴿فَنَادَتۡهُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَهُوَ قَآئِمٞ يُصَلِّي فِي ٱلۡمِحۡرَابِ أَنَّ ٱللَّهَ يُبَشِّرُكَ بِيَحۡيَىٰ﴾ [آل عمران: ٣٩] یعنې په زکریا ﷺ باندې پرښتو په داسې حال کښې اواز وکړ چې هغه په خپل عبادت خای کښې په لمانځه باندې مشغول وه (داسې اواز چې) یقیناً الله ﷻ تاته په یحیی سره زېری درکوي. نو پوښتنه دا ده چې: ایا دغه دواړه ایتونه سره څه منافات نه لري؟

مونږ وایو: څرنگه چې بشارت (زېری) اصلاً د الله ﷻ د پلوه وه خو د پرښتو په سلسله زکریا ﷺ ته ورسېد نو دلته اصل ته کتلی شوي دي، او هلته د ابلاغ سلسله په نظر کښې نیولې شوې ده.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یادونه

۲_ د زکریا ﷺ بشارت د اداء کولو د حیثه د ابراهیم ﷺ او د ده د ماندینې بشارت ته ورته دی چې په یوه ایت کښې الله ﷻ خپل اقدس خان ته منسوب کړی دی او په بل ایت کښې یې د عین بشارت نسبت پرښتو ته کړی دی. چې په لاندې آیتونو کښې واضحه کیږي:

الف: الله ﷻ فرمایي چې: ﴿فَبَشَّرْنَٰهَا بِإِسْحَٰقَ﴾ [هود:۷۱] نو مونږ (د ابراهیم ﷺ ماندینې) بي بي سارې رضی الله عنها ته په اسحق ﷺ باندې زیری ورکړ.

ب: الله ﷻ فرمایي چې: ﴿قَالُواْ لَا تَخَفْ وَبَشَّرُوهُ بِغُلَٰمٍ عَلِيمٍ﴾ [الداريات:۲۸] یعنې پرښتو ابراهیم ﷺ ته وویلې چې مه ډارېږه، او په داسې حال کښې یې په یوه پوه هلک (اسحق ﷺ) باندې زیری ورکړ چې د ده ماندینه بي بي ساره رضی الله عنها هم حاضره وه او بشارت او زیری یې اورېد.

## سَمِيًّا څه معنی؟

۳_ په ﴿مِن قَبْلُ سَمِيًّا﴾ کښې د "سَمِيٌّ" کلمه د هغو تورو څخه اشتقاقه شوې ده د کومو څخه چې د "اسم" کلمه اخستله شوې ده، چې د نامه معنی ورکوي. نو د "سَمِيٌّ" کلمه په اصل کښې "سَمِيوٌ" _لکه "شَرِيْفٌ"_ وه نو د ابدال او ادغام د کبله ترې "سَمِيٌّ" کلمه _لکه "عَلِيٌّ"_ جوړه شوه.

دغه کلمه په محاوراتو کښې په لاندې دوه وو معناوو باندې استعمالېږي[1]:

الف: یوه د مثل او نظیر (مماثل) معنی ده. یعنې مونږ د یحیی ﷺ دپاره د نن څخه وړاندې کوم مثل او نظیر نه دی پیدا کړی. یا په بل عبارت د بوډا پلار او بوډۍ شنډې مور څخه مو بل څوک نه دی زېږولی، او کوم صفات مو چې ده ته ورکړې دي هغه مو بل چاته نه دي ورکړي.

ب: هغه چاته هم "سَمِيٌّ" ویل کېږي چې د بل چا سره یې نوم شریک وي او ورسره همنامی وي. نو د دې معنی په لحاظ سره یې حاصل داسې راځېږي چې مونږ د یحیی ﷺ دپاره د ده څخه وړاندې بل همنامی نه دی پیدا کړی، نومړی لومړی انسان دی چې په همدغه نامه باندې مونږ نومولی دی.

## تبصره

۴_ که څه هم ځینو مفسرینو کرامو[2] د ذکرو شوو دواړو معناوو څخه په دې مقام کښې اوله معنی صوابه ګڼلې ده مګر زمونږ په نزد که دواړه معناوې د بدلیت په اعتبار واخستلی شي هم څه بده نه ده، ځکه چې د دواړو په منځکښې څه منافات نه لیده کېږي.

## سوال جواب

۵_ که څوک وایي چې: په دې کښې د یحیی ﷺ دپاره څه منقبه (عظمت) دی چې د ده همنامی په دنیا کښې د ده څخه وړاندې نه وه تېر شوی؟

---

(۱) لسان العرب ج۱۴ ص۴۰۲: تفسیر القاسمي ج۱۱ ص۱۱۲

(۲) المحرر الوجیز ج۱۱ ص۱۴: اضواء البیان ج۴ ص۲۳۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو چې: که څه هم ځینو مفسرینو کرامو د دغه سوال دپاره نور جوابونه کړي دي[۱] مګر کوم جواب چې مونږ ته بهتر برېښي هغه دا دی چې: د یحیی ﷺ لوی عظمت دا هم دی چې الله ﷻ وربانديې پخپله نوم ایښی دی نو خلاصه یې داسې راځېږي چې یحیی په هغه ګروپ انسانانو کښې شامل دی په کومو باندې چې مونږ نومونه ایښي دي، خو دغه نوم مو په بل چا باندې نه دی ایښی.

ذکره شوې منقبه (توقیر) د زینب (أم المؤمنین رضي الله عنها) توقیر ته ورته ده چې هغې به د نورو امهات المؤمنین په وړاندې په دې باندې افتخار کاوه چې تاسو خپلو اقاربو نبي کریم ﷺ ته په نکاح باندې ورکړې یاست، او زما په هکله الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ زَوَّجْنَـٰكَهَا ﴾ [الأحزاب: ۳۷] یعنې ای پیغمبره! مونږ زینب بنت جحش تاته په نکاح باندې درکړې ده[۲].

## د عِتِيًّا معنی

۶_ په ﴿ وَقَدْ بَلَغْتُ مِنَ ٱلْكِبَرِ عِتِيًّا ﴾ کښې د "عِتِيٌّ" کلمه په اصل کښې "عُتُوْوٌ" _لکه "قُعُوْدٌ"_ وه او په ابدال او ادغام سره ترې "عِتِيٌّ" جوړه شوې ده چې د "عُتُوٌّ" _لکه "عُلُوٌّ"_ څخه اشتقاقه شوې ده، "عُتُوٌّ" داسې حالت ته د رسېدلو څخه عبارت دی چې د علاج او دارو درملو صلاحیت پکښې ختم شوی وي[۳] او د حد څخه یې وړاندې تجاوز کړی دی.

نو حاصل یې داسې راځېږي چې: ای زما ربه! ایا زه به په داسې حال کښې هم د زوی پلار شم چې بوډاتوب مې د حد څخه تجاوز کړی دی او د دارو درملو صلاحیت پکښې ختم شوی دی؟!.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۷_ که څوک وایي چې په دې مقام کښې زکریا ﷺ ته د بشارت نښه د درېوو شپو په موده کښې خبري نه کول ښودلې شوې ده چې ﴿ ثَلَـٰثَ لَيَالٍ سَوِيًّا ﴾، حال دا چې په بل ایت کښې ورته همدغه نښه د درېوو ، ورځو موده ټاکله شوې ده چې: ﴿ ءَايَتُكَ أَلَّا تُكَلِّمَ ٱلنَّاسَ ثَلَـٰثَةَ أَيَّامٍ إِلَّا رَمْزًا ﴾ [آل عمران: ۴۱] یعنې ستا دپاره د بشارت د تحقق نښه دا ده چې ته به د خلکو سره درې ورځې خبرې نه شې کولی مګر په اشارې سره. نو پوښتنه دا ده چې: ایا دغه دواړه ایتونه سره منافات نه لري؟

مونږ وایو چې: اصلاً درې ورځې او درې شپې علامه ټاکلې شوې وه خو هلته ورځې ذکرې شوې دي او دلته د شپو په ذکر باندې اکتفاء شوې ده، نو په حقیقت کښې یو ایت د بل دپاره متمم دی او ورسره منافي نه دی.

## محراب څه معنی؟

۸_ په ﴿ فَخَرَجَ عَلَىٰ قَوْمِهِۦ مِنَ ٱلْمِحْرَابِ ﴾ کښې د "مِحْرَاب" کلمه د "حَرْبٌ" _لکه "ضَرْبٌ"_ څخه

---

(۱) روح المعاني ج۱۶ ص۶۵
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۱۱۰۴؛ جامع الترمذي ج۲ ص۱۵۶
(۳) لسان العرب ج۱۵ ص۲۷؛ مفردات الراغب ص۳۳۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



انتقاله شوي ده چې د جنګ معنی ورکوي، خو په محاوراتو کښې په متعددو معناوو باندې استعمالېږي[۱]، لاندې څو مثالونه يې د وضاحت دپاره ولولئ:

الف: هغه ځوک چې په جنګ کښې د هر غښتلي او خورا تکړه وي، چې د "مُحَارِب" د کلمې دپاره مبالغه ګڼلی کېږي.

ب: په يوه کور کښې اشرفه او بهتره (اوچته) کوټه، چې سړی پورته ورخېژي.

ج: په يوه کوټه کښې اشرف (اوچت) او بهتر مقام.

د: لوړه او دنګه مانۍ، چې د لرې منطقې څخه ځرګندېږي.

ه: هغه مقام کوم کښې چې د پاچا د کېناستلو دپاره ځانګړی شوی وي، چې بل چاته ورباندې د کېناستلو اجازه نه وي، چې په پښتو کښې ورته پاچايي تخت وايي.

شايد چې د جومات محراب ته به هم دغه نوم د دې کبله اېښودلی شوی وي چې امام پکښې د صف څخه جدا په انفرادي توګه په لمانځه ودرېږي لکه چې پاچا په خپل تخت باندې يوازې کيني.

و: هغه کوټه کومه چې د عبادت دپاره خاصه ګرځولې شوې وي.

ځينې مفسرين وايي[۲] چې په دې مقام کښې همدغه شپږمه معنی مراده ده، او دا ځکه چې زکريا ﷺ ته خپل امت د لمانځه دپاره ورغونډ شوه او منتظر وه چې د عبادت د کوټې دروازه ورته پرانېزي خو هغه پرې راووت او په اشاره باندې يې ورته توصيه وکړه چې سبا او بېګاه د الله ﷻ تسبيحات ووايا ست.

﴿يَٰيَحۡيَىٰ خُذِ ٱلۡكِتَٰبَ بِقُوَّةٖۖ وَءَاتَيۡنَٰهُ ٱلۡحُكۡمَ صَبِيّٗا ١٢ وَحَنَانٗا مِّن لَّدُنَّا وَزَكَوٰةٗۖ
وَكَانَ تَقِيّٗا ١٣ وَبَرَّۢا بِوَٰلِدَيۡهِ وَلَمۡ يَكُن جَبَّارًا عَصِيّٗا ١٤ وَسَلَٰمٌ عَلَيۡهِ يَوۡمَ وُلِدَ وَيَوۡمَ
يَمُوتُ وَيَوۡمَ يُبۡعَثُ حَيّٗا ١٥﴾

[۱۲] (مونږ وويلې چې) ای يحيی کتاب (تورات) په قوت سره (کلک) ونيسه (عمل پرې وکړه او خلک ورته دعوت کړه)، او مونږ هغه (يحيی ﷺ) ته د ماشومتوب په حال کښې د حکم کولو (توان) ورکړی وه (چې پوره پوهه او پوخ عقل يې درلود).

[۱۳] او (هم مو ورته) د خپله نزده (په خلکو باندې) رحمت (او زړه سوی ورکړې وه) او (همدارنګه هغه ته مونږ د نفس او اخلاقو) پاکيزګي (ورښېلې وه). او يحيی ﷺ (د استمرار په توګه) پرهيزګار وه.

[۱۴] او (هم) د خپل مور او پلار د پاره نېکي کوونکی (وه)، او تکبر کوونکی (او) نافرمانه نه وه.

[۱۵] او (زمونږ د پلوه) په يحيی ﷺ باندې د ولادت په ورځ او د مرګ په ورځ او (هم) په هغې ورځ

(۱) لسان العرب ج۱ ص۳۰۲
(۲) تفسير ابي السعود ج۵ ص۲۵۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو

سلامتیا ده چې (د قبر څخه) ژوندي راپورته کړی شي (بلکې په ده باندې زمونږ د پلوه هیڅ ډول نیوکه او انتقاد نشته).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د یحیی ؈ حالاتو ته اشاره شوې ده البته کله چې هغه تولد شو او داسې عمر ته ورسېد چې په خبره باندې د پوهېدلو د صلاحیت درلودونکی شو:

۱ـ یعنې ای پیغمبره! کله چې په یحیی ؈ کښې په خطاب باندې د پوهېدلو استعداد پیدا شو نو مونږ ورته توصیه وکړه چې: ای یحیی! د الله ﷻ کتاب (لکه تورات او نور) په کلکه سره ونیسه او په زیات کوښښ سره ورته خلک دعوت کړه، نو ده ؈ د خپل رب ﷻ توصیه په عمل کښې پیاده کړه او دا خکه چې:

۲ـ مونږ یحیی ؈ ته لاندې صفات ورکړي وه:

الف: نوموړي ته مو د ماشومتوب په حال کښې پوخ فکر ورکړی وه چې په مسائلو او قضایاوو کښې یې فیصلې کولی شوې.

ب: مونږ ورته د خپله طرفه مهرباني او زړه سوی ورکړې وه چې د الله ﷻ په مخلوقاتو باندې ډېر مهربان او خواخوږی وه.

ج: هغه ته مونږ د نفس پاکیزګي ورکړې وه چې د ښو اخلاقو خاوند وه او سپکې سپورې خبرې یې نه کولې.

د: نوموړی متقي او پرهېزګار سړی وه، چې نه ګناه ته ورنژدې کېده او نه یې ورته قصد کاوه.

ه: په دې باندې علاوه د خپل مور او پلار د حقوقو یې پوره مراعات کاوه او د پښو یې نه لاندې کول.

و: هغه متکبر نه وه، تواضع او عاجزي یې خاصیت وه.

ز: لکه څنګه چې د الله ﷻ د ارشاداتو پابند وه همدارنګه د خپل مور او پلار د اوامرو څخه یې هم عصیان او نافرماني نه کوله.

۳ـ لنډه دا چې: ای پیغمبره! په یحیی ؈ باندې زمونږ د پلوه سلامتیا وه کله چې هغه تولد شو، او کله چې وفات شو او بالآخره په هغې ورځ به همورباندې زمونږ د پلوه سلامتیا وي کله چې د قبره څخه ژوندی راپورته کړی شي او د محشر میدان ته راپاخولی شي، یا په بل عبارت په ټولو زمانو کښې په هغه باندې سلامتیا ده.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ خُذِ ٱلۡكِتَٰبَ بِقُوَّةٍ﴾ کښې د کتاب څخه تورات مراد دی[۱] څکه چې د موسی ؈ څخه وروسته د بني اسرائیلو ټول پیغمبران ؈ د همدې کتاب په تبلیغ باندې مکلف وه، یوازې په عیسی ؈ باندې په انجیل کښې څه اختصاصي احکام هم نازل شوي وه.

(۱) المحرر الوجیز ج۱۱ ص۱٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## يحيى ﷺ او نبوت

۲ـ په ﴿ وَءَاتَيْنَهُ ٱلْحُكْمَ صَبِيًّا ﴾ كښې د "حُكْم" څخه پوهه او عقل او يا د تورات حفظ مطلب دى[1]، همدې مطلب ته نبي کريم ﷺ اشاره کړې ده چې: «مَنْ قَرَءَ الْقُرْآنَ قَبْلَ أَنْ يَحْتَلِمَ فَقَدْ أُوتِيَ الْحُكْمَ صَبِيًّا»[2] يعنې هرڅوک چې د بلوغ څخه وړاندې قرآن کريم ولولي نو هغه ته د يحيى ﷺ غوندې د بلوغ څخه وړاندې حکم ورکړى شو، او دغه لوړه منقبه يې په برخه شوه. مونږ ته همدغه تفسير غوره برېښي.

خو ځينو علماوو کرامو[3] په دې مقام کښې د حکم کلمه په نبوت سره تفسيره کړې ده، نو دغه تفسير په لاندې تاويلونو باندې صحت مونده کولى شي:

الف: چې د "صَبِيّ" د کلمې څخه ماشوم مطلب نه کړى شي بلکې په هغه چا باندې تفسيره شي چې په نژدې وخت کښې بلوغ ته رسېږي.

ب: چې د ماشومتوب په حال کښې يحيى ﷺ ته د نبوت ورکړې په خارق العاده توګه باندې صورت نيولى وي چې نور پيغمبران د بلوغ څخه وروسته همدغې درجې ته رسولى شوي دي.

## د "حنان" او "زکوة" معناوې

۳ـ په ﴿ وَحَنَانًا مِّن لَّدُنَّا وَزَكَوٰةً ﴾ کښې د "حَنَان" کلمه د "رَحْمَة" دپاره وضعه شوې ده[4] يعنې مونږ يحيى ﷺ ته په خلکو باندې رحمت او زړه سوى ورکړې وه او پخپله هم د زړه نرمښت د کبله دائمي ژړېدونکى وه.

او د ﴿ زَكَوٰةً ﴾ کلمه د طهارت او نماء (زيادت) او هم د برکت او مدحې په معناوو باندې استعماله شوې ده[5] په دې مقام کښې ټولې معناوې صحت لري، يعنې مونږ يحيى ﷺ ته د اخلاقو پاکېزګي او زيادت ورکړى وه، او هم مو د برکتونو او ښو صفاتو خاوند جوړ کړى وه چې د ستاينې مستحق وه.

## د الله ﷻ د پلوه سلام څه معنى؟

۴ـ په ﴿ وَسَلَٰمٌ عَلَيْهِ يَوْمَ وُلِدَ ﴾ الآية کښې دې ته اشاره ده چې په يحيى ﷺ باندې د الله ﷻ د پلوه هيڅ ډول مواخذه نشته، نو د دې ايت شريف مضمون هغه ايت شريف ته ورته دى په کوم باندې چې نبي کريم ﷺ مخاطب کړى شوى دى چې: ﴿ لِّيَغْفِرَ لَكَ ٱللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِن ذَنۢبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ ﴾ [الفتح:۲] يعنې مونږ تاته د دې دپاره ښکاره فتحه درکړه ترڅو تاته الله ﷻ هغه ګناه وبښي چې وړاندې تېره شوې ده او هغه ګناه هم چې وروسته ده (بلکې په تاباندې په هيڅ ډول مواخذه نشته).

---

(۱) تفسير ابن کثير ج۳ ص۱۱۳
(۲) شعب الايمان للبيهقي ج۲ ص۳۳۰
(۳) تفسير الخازن ج۳ ص۱۴۹
(۴) لسان العرب ج۱۳ ص۱۲۹
(۵) لسان العرب ج۱۴ ص۳۵۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یادونه

۵_ د الله ﷻ په توفیق مونږ د [آل عمران:۳۸، ۴۱] ایتونو په توضیحاتو کښې د زکریا علیه السلام او د یحیی علیه السلام په حالاتو باندې پوره رڼا اچولې ده، که د چا زړه زیات تفصیل غواړي نو هیله ده چې هملته مراجعه وکړي، هلته لاندې پوښتنو ته هم جوابونه ورکړی شوي دي:

الف: د یحیی علیه السلام د ولادت په وخت کښې د زکریا علیه السلام عمر څو کالو ته رسېده او د ده د ماندینې عمر څومره وه؟.

ب: ایا په زکریا علیه السلام باندې د اولاد غوښتنې دپاره یوازې همغه باعث موجود وه کوم ته چې په ایت کښې اشاره شوې ده او که نور بواعث یې هم درلوده؟

ج: ایا دا عجیبه نه ده چې زکریا علیه السلام پخپله د ولد غوښتنه وکړه خو کله چې ورته د ولد (یحیی علیه السلام) بشارت ورکړی شو نو بیا یې تعجب کاوه چې ﴿ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي غُلَٰمٌ ﴾ ماته به هلک د کومه شي چې مونږ دواړه بوډاګان یاستو؟.

د: ایا د "یحیی" کلمه عربي ده او په څه مناسبت ورته دغه انتخاب کړی شوی وه؟ او داسې نور.

﴿ وَٱذْكُرْ فِي ٱلْكِتَٰبِ مَرْيَمَ إِذِ ٱنتَبَذَتْ مِنْ أَهْلِهَا مَكَانًا شَرْقِيًّا ﴿١٦﴾ فَٱتَّخَذَتْ مِن دُونِهِمْ حِجَابًا فَأَرْسَلْنَآ إِلَيْهَا رُوحَنَا فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرًا سَوِيًّا ﴿١٧﴾ قَالَتْ إِنِّيٓ أَعُوذُ بِٱلرَّحْمَٰنِ مِنكَ إِن كُنتَ تَقِيًّا ﴿١٨﴾ قَالَ إِنَّمَآ أَنَا۠ رَسُولُ رَبِّكِ لِأَهَبَ لَكِ غُلَٰمًا زَكِيًّا ﴿١٩﴾ قَالَتْ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي غُلَٰمٌ وَلَمْ يَمْسَسْنِي بَشَرٌ وَلَمْ أَكُ بَغِيًّا ﴿٢٠﴾ قَالَ كَذَٰلِكِ قَالَ رَبُّكِ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ وَلِنَجْعَلَهُۥٓ ءَايَةً لِّلنَّاسِ وَرَحْمَةً مِّنَّا وَكَانَ أَمْرًا مَّقْضِيًّا ﴿٢١﴾ ﴾

[۱٦] او (ای پیغمبره!) په قرآن کریم کښې د بي بي مریمې (حال) یاد کړه، کله یې چې د خپل اهل (خپلوانو) څخه په شرقي مکان (عبادتځای) کښې دېره ونیوله.

[۱۷] نو د خپلوانو څخه یې (هلته) پرده واخستله (او د عبادت دپاره یې خاصه کوټه اشغاله کړه). نو مونږ ورته خپل روح (جبرائیل علیه السلام) ورواستاوه نو هغې ته یې خپل ځان د برابر (ښایسته) بنیادم په څېره کښې ورڅرګند کړ.

[۱۸] (بي بي مریمه وډاره شوه او) ویې ویلې چې: یقینًا زه په ډېر مهربان الله ﷻ باندې ستا څخه پناه غواړم، که ته پرهېزګار یې (لکه چې د څېرې څخه دې برېښي، ماته رانږدې نه شې).

[۱۹] جبرائیل علیه السلام وویلې چې: یقینًا زه (بنیادم نه یم زه) ستا د رب ﷻ رالېږلې شوی (پرښته) یم، ترڅو تاته (ستا د رب ﷻ د پلوه) پاکیزه (نېک خویه) هلک دروبښم.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۰] بي بي مریمې ووېلې چې: ماته به هلک د کومه شي حال دا چې زه هیڅ بنیادم (په مشروعه طریقه) نه یم مسه کړې، او نه یمه زه بدکاره (چې په غیر مشروعه طریقه یې مسه کړې یم).

[۲۱] (جبرائیل) ووېلې چې همدغسې ده (دا کار په همدغه حالت کښې صورت نیوونکی دی).

ستا رب ﷻ وایي چې دا (کار) په ماباندې اسان دی (مونږ د ډېرو حکمتونو په منظور دا کار کوو) او هم د دې دپاره چې تاته بښلی شوی ماشوم (هلک) د خلکو دپاره (د خپل قدرت) یوه نښه وګرځوو او (هم یې) د خپله جانبه (د دوی دپاره) رحمت جوړ کړو.

او (دا کار) کړی شوی (فیصله شوی) کار دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

دا دوهمه قیصه ده چې د الله ﷻ د کامل قدرت یوه مثال ته پکښې اشاره شوې ده چې مونږ یې د الله ﷻ په توفیق په لاندې ټکو کښې خلاصه کوو:

۱ـ ای پیغمبره! د یحیی ؈ د عجیبه پیدا کولو څخه وروسته اوس په قرآن کریم کښې په خپل امت باندې د بي بي مریمې رضي الله عنها عجیبه حال قرائت کړه چې په څومره معجزانه توګه د بې پلاره زوی (عیسی ؈) مور جوړه شوه، نو:

۲ـ هغه وخت خپل امت ته وریه زړه کړه کله چې بي بي مریمه رضي الله عنها د خپلو اقاربو (خپلوانو) څخه د بیت المقدس شرقي څنډې ته لاړه او هلته یې د عبادت کولو دپاره ډېره ونیوله ترڅو هغه نذر پوره کړي کوم چې د دې مور د دې د زېږېدلو څخه لا پخوا په خپل خان باندې منلی وه، چې زه به دغه راتلونکي اولاد د عبادت دپاره پرېږدم او د خپلو خدمتونو څخه به ازادي ورکوم.

۳ـ په دې باندې علاوه په عبادت خای کښې یې یوه خاصه کوټه اشغاله کړه ترڅو هلته په فراغت سره د خپل رب ﷻ په عبادت باندې مشغوله شي.

۴ـ د بي بي مریمې رضي الله عنها د ټولو تدابیرو سره‌سره هلته ورسره هغه ښائسته سړی مخامخ شو کوم چې زمونږ د پلوه هغې ته وراستولی شوی وه، هغه څوک وه؟

هغه د جبرائیل امین ؈ څخه عبارت وه چې هغې ته یې خپل څان (د خپل عادت په مطابق) د ښایسته سړي په څېره کښې ورڅرګند کړ.

۵ـ د جبرائیل ؈ په لیدلو سره بي بي مریمه رضي الله عنها سخته وارخطا شوه او په حیرت کښې پرېوته چې په ناڅاپي توګه دا سړی د کومه راغی او دا څه نیت لري؟.

۶ـ نو په ډېرې بیړې سره یې هغه مخاطب کړ چې: زه په مهربان الله ﷻ باندې ستا څخه پنا غوارم، پام کوه چې د خپل ناکاره نیت څرګندونه ونه کړي، لکه څنګه چې ستا د څېرې څخه پرهېزګاري د ورایه برېښي نو که ته رښتیا همدغسې یې نو ماته رانژدې نه شي.

۷ـ جبرائیل ؈ د بي بي مریمې رضي الله عنها وارخطایي لرې کړه او ورته یې ووېلې چې: زه انسان نه یم، تشویش مه کوه، په یقین سره زه پرښته یم چې ستا د رب ﷻ د پلوه تاته د دې دپاره را استولی

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شوې یم ترڅو تاته پاکیزه او پاک خویه هلک (زوی) دروبښم، او تا د زوی مور جوړه کړم.

٨ـ د ذکرې شوې خبرې په اورېدلو سره بي بي مریمه رضي الله عنها داده شوه خو په بل لحاظ په حیرت کښې ولوېده او په حیرانتیا سره یې وویلې چې:

ماته به ماشوم د کومه شي؟ زه به څنګه د ماشوم مور جوړه شم حال دا چې زه نه د چا منکوحه یم چې په جائزه توګه یې لاس راغزولی وي او نه (د الله ﷻ په فضل) بدکاره ښځه یم چې د چا سره مې غیر شرعي جنسي ارتباط نیولی وي.

٩ـ جبرائیل علیه السلام د هغې دغه حیرت لرې کړ چې حیرانتیا مه کوه خبره همدغسې ده لکه چې تا واورېده، هیڅ شک او شبه پکښې نشته.

١٠ـ بلکې ستا رب ﷻ وایي چې: دغه کار (بي پلاره ماشوم پیدا کول) ماته اسان دي، هیڅ مشکل کار نه دی، زما قدرت په اسبابو پورې توقف نه لري.

١١ـ ای بي بي مریمې! د دغه ډول ماشوم په پیدا کولو کښې بې شماره ګټې او حکمتونه نغښتي دي، لاندې څو مثالونه یې واوره:

الف: ترڅو دغه ډول ماشوم مونږ د خلکو دپاره د خپل کامل قدرت یوه نښه وګرځوو، چې یقیناً مونږ په هر څه باندې قدرت لرو.

ب: ترڅو همدغه ماشوم د خلکو د هدایت دپاره رحمت او فضل جوړ کړو، چې د یو پلوه به په خپل پیدایښت باندې خلکو ته لاره وښایي او د بله پلوه به نوموړی زمونږ پیغمبر وي چې د ده په دعوت باندې به ډېر خلک زمونږ د رضامندۍ جوګه شي، او بالآخره د قیامت د ورځې پورې به د قدرت د یوې نمونې شکل ولري.

## توضیحات

١ـ په ﴿ إِذِ ٱنتَبَذَتۡ مِنۡ أَهۡلِهَا مَكَانٗا شَرۡقِيّٗا ﴾ کښې د ﴿ ٱنتَبَذَتۡ ﴾ کلمه اصلاً د "نَبۡذ" ـلکه "ضرب"ـ څخه اشتقاقه شوې ده. "نَبۡذ" په بې اهمیتۍ سره د یوه شي غورزولو ته ویل کېږي[1]، نو کله چې انتباذ ته واړولی شي نو په بې اهمیتۍ سره د یوه شي د غورزېدلو معنی ورکوي.

نو د معنی حاصل یې داسې راځښي کله چې بي بي مریمه رضي الله عنها د خپل اهل څخه جدا شوه او په شرقي مکان (عبادتګاه) کښې یې خپل ځان په بې اهمیتۍ سره واچوه او هملته وغورزېده، هلته د عبادت دپاره ډېره شوه.

نو په دې مقام کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

الف: په انتباذ کښې دوه نکتې پټې دي، یوه دا چې بي بي مریمې رضي الله عنها د تواضع او هضم للنفس دپاره خپل ځان بې اهمیته وګاڼه، او خپل ځان ته په څه عظمت باندې قائله نه شوه، ترڅو د دې عبادت د الله ﷻ په دربار کښې قبول کړی شي. بله دا چې عبادتځای ته د څه وخت دپاره ورننغله

(١) مفردات الراغب ص٥٠٢. لسان العرب ج٣ ص٥١١

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بلکې هلته د دېرې په نیت ورغله ته به وایې چې هلته یې خپل ځان داسې ورغورزولی وه چې د بېرته راوتلو نیت یې نه درلود.

ب: د ﴿ مِنْ أَهْلِهَا ﴾ کلماتو څخه څرګندېږي چې بي بي مریمه رضی الله عنها په هغه وخت کښې عبادت خانې ته لاړه او هلته دېره شوه کله چې نومورې په خپله کورنۍ کښې داسې وخت ته ورسېده چې د عبادت جوګه شوه.

ج: د ﴿ مَكَانًا شَرْقِيًّا ﴾ څخه داسې برېښي چې د هغوی عبادت خانې د بیت المقدس په شرقي طرف کښې موقعیت درلود، بلکې د وخت مسلمانان شرقي طرف ته په عظمت سره قائل وه[۱].

۲_ په ﴿ فَاتَّخَذَتْ مِن دُونِهِمْ حِجَابًا ﴾ کښې، که څه هم ځینو علماوو کرامو د کپړې یا بل شي پرده مراده کړې ده[۲] چې په عارضي توګه په جومات کښې ودرولی شي او بیا د څه وخت څخه وروسته اوچته کړی شي لکه څنګه چې زمونږ په زمانه کښې اعتکاف کوونکی د خپل ځان دپاره په جومات کښې پرده ودروي؛ مګر مونږ ته داسې برېښي چې بي بي مریمې رضی الله عنها به عارضي پرده نه وه درولې بلکې هلته به یې د عبادت دپاره کوټه جوړه کړې وه او دا ځکه چې:

الف: د هغې دېره خو په عبادتځای کښې د معتکف په شان عارضي نه وه بلکې هغې خو هلته د اوږدې دېرې نیت کړی وه لکه څنګه چې خپلې مور د عبادت دپاره د ولادت څخه وړاندې نذر کړې وه لکه چې الله ﷻ د هغې د والدې د خولې څخه حکایت کوي چې: ﴿ رَبِّ إِنِّي نَذَرْتُ لَكَ مَا فِي بَطْنِي مُحَرَّرًا ﴾ [آل عمران:۳۵] ای زما ربه! ما هغه څه ستا دپاره نذر کړي دي کوم چې زما په ګېډه (نس) کښې دی چې د عبادت دپاره به زمونږ د خدمت څخه ازاد کړی شوی وي.

ب: د همغه محجوب مکان څخه الله ﷻ په محراب سره تعبیر کړی دی لکه چې فرمایي: ﴿ كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ وَجَدَ عِندَهَا رِزْقًا ﴾ [آل عمران:۳۷] یعنې: هر کله به چې بي بي مریمې رضی الله عنها باندې زکریا علیه السلام محراب ته ورننووت (چې د دې متکفل وه) نو د هغې په نزد به یې (نا اشنا) روزي (مېوه) مونده کوله.

او پوره واضحه ده چې د محراب کلمه د هغې دېوالي کوټې نوم دی کومه چې د عبادت دپاره تیاره کړی شوې وي، نه د هغې کوټې چې د کپړې او بل شي څخه په عارضي توګه هلته ودرولې شوې وي. لکه چې دهمدې سورت د [۱۱] ایت لاندې یې شرحه تېره شوې ده.

## یادونه

۳_ د وړاندېنیو دوارو توضیحاتو څخه څرګنده شوه چې د ځینو مفسرینو کرامو[۳] هغه بیان د منلو قابل نه دی کوم چې په لاندې نکاتو باندې ولاړ دی:

(۱) المحرر الوجیز ج۱۱ ص۱۹
(۲) تفسیر کبیر ج۲۱ ص۱۹۶
(۳) تفسیر البغوي ج۳ ص۱۹۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: بي بي مریمه رضي الله عنها د عبادت خای څخه بهر وتلې وه او بهر یې د خلکو څخه حجاب نېولی وه.

ب: نوموړې بي بي د غسل دپاره او یا د خپل سر ګومنځولو او نورو اغراضو دپاره بهر تللی وه که څه هم نورې زنانه د دغسې اغراضو دپاره بهر نه وځي.

څکه د منلو وړ نه دی چې د یوه پلوه د ځینو مفسرینو کرامو ذکر شوی بیان په کوم حدیث باندې اتکاء نه لري، او د بله پلوه زمونږ د بیان غوندې د ایتونو د اشاراتو څخه هم نه څرګندېږي.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وایي چې په ﴿ فَأَرۡسَلۡنَآ إِلَيۡهَا رُوحَنَا ﴾ کښې د "ف" د توري څخه د ځینو مفسرینو کرامو د بیان تائید معلومېږي او دا څکه چې دغه توری خو په اتصال باندې دلالت کوي[1]، یعنې بي بي مریمې رضي الله عنها د خلکو څخه پرده ونېوله چې متصل (بې درنګه) مونږ جبرائیل امین عليه السلام هغې ته ورواستاوه.

که بالفرض هغه بیان واقعیت درلودی کوم چې وړاندې په دوه وو توضیحاتو کښې ورته اشارې شوي دي چې نوموړې د خپلو اقاربو څخه په عبادتخای کښې جدا شوه او هلته ورسره جبرائیل عليه السلام هغه خبرې اترې وکړې کومې چې په ایت کښې ذکرې دي نو په کار وه چې: "ثُمَّ أَرْسَلْنَا إِلَيْهَا رُوحَنَا" نازل شوی وی، چې په څه درنګ او مهلت باندې یې دلالت کړی وی.

مونږ وایو چې: د "ف" توری د اتصال دپاره دی خو اتصال په دوه ډوله دی چې: یو حقیقي اتصال دی، لکه چې سائل پرې خپل سوال بناء کړی دی؛ او بل عرفي اتصال دی، چې څه فاصله ولري خو په عرف کښې اتصال ګڼلی کېږي لکه چې وایي: "فُلَانٌ تَزَوَّجَ فَوَلَدَ لَهُ"[2] یعنې فلانې نکاح (واده) وکړ نو اولاد یې وزېږاوه (مثلاً: نهه میاشتې وروسته).

په دې مقام کښې همدغه معنی مراده ده چې په عبادتخای کښې د مکث (درنګ) کولو سره څه منافات نه لري.

لنډه دا چې لکه څنګه چې زکریا عليه السلام ته د یحیی عليه السلام بشارت په عبادتخای کښې ورکړی شوی وه: ﴿ وَهُوَ قَآئِمٞ يُصَلِّي فِي ٱلۡمِحۡرَابِ ﴾ [آل عمران:۳۹] یعنې حال دا چې زکریا عليه السلام هلته په لمانځه باندې ولاړ وه؛ همدارنګه بي بي مریمې عليها السلام ته د عیسی عليه السلام بشارت هم په خپل هغه خاص مقام کښې ورکړی شو کوم چې هغې د خپل عبادت دپاره خانګړی کړی وه.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۵ـ که څوک وایي چې: د اکثرو مفسرینو کرامو په نزد په ﴿ إِلَيۡهَا رُوحَنَا ﴾ کښې د "رُوح" څخه

(۱) شرح ملا جامي ص۳۶۸
(۲) روح المعاني ج۱۶ ص۶۵

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یوازې جبرائیل امین ﷺ مراد دی نو داسې څرګندېږي چې نوموړی بي بي ته د څه خبرو اترو څخه وروسته یوازې همدغې پرښتې بشارت ورکړ، حال دا چې بل ایت کښې الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ إِذْ قَالَتِ ٱلْمَلَـٰٓئِكَةُ يَـٰمَرْيَمُ إِنَّ ٱللَّهَ يُبَشِّرُكِ ﴾ [آل عمران: ۴۵] یعنې هغه وخت یاد کړه چې د پرښتو یوه ټولګي بي بي مریمې رضي الله عنها ته وویلې چې یقینًا الله ﷻ تاته په عیسی ﷺ سره زیری درکوي. نو پوښتنه دا ده چې ایا دا ایت د هغه سره څه منافات نه لري؟

مونږ وایو چې: الله ﷻ د خپل کتاب په اسرارو باندې ډېر ښه پوهېږي خو مونږ ته داسې برېښي چې جبرائیل امین ﷺ به بي بي مریمې رضي الله عنها ته د یوه ټولګي پرښتو په ملګرتیا سره بشارت (زېری) ورکړی وي خو نورې پرښتې به الله ﷻ د هغې د نظر لاندې نه وي واقع کړې، نو په هغه ایت کښې واقعیت ته کتل شوي دي او د ﴿ ٱلْمَلَـٰٓئِكَةُ ﴾ کلمه نازله شوې ده چې په جمعیت (ټولګي) باندې دلالت کوي، او په دې مقام کښې یوازې د نماینده او نطاق حالت ته کتلی شوي دي چې یو تن (جبرائیل ﷺ) وه نو په افراد سره ترې حکایت شوی دی.

څرنګه چې ابراهیم ﷺ ته په اسحق ﷺ باندې بشارت او زکریا ﷺ ته په یحیی ﷺ باندې بشارت د جبرائیل امین ﷺ په مشرۍ د یوه ټولګي پرښتو دپلوه صورت نیولی وه، نو غالبه دا ده چې بي بي مریمې ﷺ ته به په عیسی ﷺ باندې بشارت هم یوازې د جبرائیل ﷺ د پلوه سرته نه وي رسېدلی، بلکې څه نورې پرښتې به ورسره ملګرې وي.

## سوال جواب

۶ـ که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې جبرائیل ﷺ د بي بي مریمې رضي الله عنها سره د یوه ښایسته انسان په څېره کښې خبرې وکړې: ﴿ فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرًا سَوِيًّا ﴾ یعنې جبرائیل امین بي بي مریمې رضي الله عنها ته د یوه برابر (ښایسته) انسان په څېره کښې خپل ځان وښود، چې په ملکي څېره کښې یې هغې د لېدلو توان نه درلود؟

مونږ وایو چې: ځینو علماوو کرامو[1] په دې باره کښې داسې یوه حکمت ته ګوته نیولې ده چې زمونږ قلم د هغه د لیکلو څخه شرمېږي، که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي. خو مونږ ته پکښې حکمت دا برېښي چې د ټولو پرښتو او په خاصه توګه د جبرائیل ﷺ عادت دا دی چې کله په بشري څېره کښې د خپل ځان ښودلو اړتیا پېښه شي نو د یوه ښایسته سړي څېره غوره کوي. د همدې کبله جبرائیل ﷺ د خپل ځان دپاره د دحیة الکلبي ﷺ څېره ډېره انتخابه کړې ده. لکه چې په لاندې احادیثو کښې واضحه کیږي:

الف: کله چې نبي کریم ﷺ د بني قریظه وو غزا ته روان وه او په لاره کښې د "صَورَین" مقام ته ورسېد نو هلته یې پوښتنه وکړه چې: ایا زمونږ څخه مخکښې د هغوی غزا ته څوک په دې لاره باندې

[1] تفسیر القاسمي ج۱۱ ص۱۲۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تېر شوه؟ خلکو جواب ورکړ چې هو، ای د الله رسوله! ستاسو څخه وړاندې دحیة الکلبي د هغوی غزا ته لاړ چې په سپینه قچره باندې سور وه چې زین یې د وربښمو په کپړې باندې جړاوو کړی شوی وه.

نو نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «ذٰلِكَ جِبْرِیلُ ﷺ بُعِثَ إِلَى بَنِي قُرَیْظَةَ»[۱] یعنې دغه جبرائیل ﷺ دی چې د الله ﷻ د پلوه د بني قریظه وو غزا ته استول شوی دی ترڅو د هغوی کلابندي کمزورې کړي او په زړونو کښې یې رعب واچوي.

ب: بي بي عائشه رضي الله عنها په یوه اوږده حدیث کښې وایي چې: «وَكَانَ دِحْيَةُ الْكَلْبِيُّ تُشْبِهُ لِحْيَتُهُ وَسِنُّهُ وَوَجْهُهُ جِبْرِيلَ ﷺ»[۲] یعنې او د دحیة الکلبي ډېره او عمر او بالآخره مخ یې جبرائیل امین ﷺ ته ورته وه (البته کله چې د بني قریظه وو غزا ته روان وه).

## په "الرحمن" باندې د پنا غوښتنې انتخاب

۷ـ بي بي مریمې رضي الله عنها د الله ﷻ د نومونو څخه دپنا غوښتلو دپاره د "الرَّحْمٰن" نوم انتخاب کړ چې: ﴿إِنِّیٓ أَعُوذُ بِٱلرَّحۡمَـٰنِ مِنكَ﴾ یعنې یقیناً زه د ډېر مهربان الله ﷻ په نامه باندې ستا څخه پنا غواړم.

شاید چې د ذکر شوي انتخاب وجه به دا وه چې همدغه مبارک نوم په تورات کښې په کثرت سره نازل شوی وه او د بني اسرائیلو په ژبو باندې یې زیات جریان درلود، ترڅو موسی ﷺ ته توصیه وکړی شي چې د رحمت او مهربانۍ وصف په خپل ځان کښې تقویه کړي او د غُصې مخه پرې ونیسي[۳]. دا ځکه چې موسی ﷺ ډېر غُصناک پیغمبر وه، او د همدې کبله یې خپل ورور (هارون ﷺ) د ږیرې څخه ونیوه او خپل ځان ته یې راکش کړ: [الأعراف: ۱۵۰].

همدارنګه یې ډېره په همسا باندې ووهله، او ملک الموت ته یې په مخ باندې څپېړه ورکړه چې د دغو دواړو بیان د [الأعراف:۱۵۴] ایت لاندې تېر شوی دی، والحمد لله ﷻ.

خو په نبي کریم ﷺ کښې نرمښت او رحمت (زړه سوی) ډېر وه نو د "الرَّحْمٰن" کلمه په ټول قرآن کریم د "بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ" څخه په غیر ایله شپېته کرته نازل شوې ده، چې شپاړس کرته نزول یې په همدې سورت کښې متحقق شوی دی په کوم کښې چې بحث روان دی.

شاید چې په دې سورت کښې به ځکه د "الرَّحمن" کلمه زیاته نازله شوې وي چې دلته د مشرکانو غټې‌غټې کفري خبرې حکایت شوی دی.

نو د ذکرې شوې کلمې په نزول سره کفار په غوږ وهلی شوي دي چې که الله ﷻ د خپل رحمانیت مراعات ونه کړي نو سمدستي تاسو جوګه یاست چې پوپنا کوونکی عذاب درباندې درنازل کړي، لکه چې همدې مطلب ته په راتلونکي [۹۰] ایت کښې اشاره شوې ده.

---

(۱) سیرت ابن هشام ج۳ ص۲۵۳
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۹ ص۴۷۳
(۳) روح المعاني ج۱۵ ص۱۹۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿فَحَمَلَتْهُ فَانتَبَذَتْ بِهِۦ مَكَانًا قَصِيًّا ﴿٢٢﴾ فَأَجَآءَهَا ٱلْمَخَاضُ إِلَىٰ جِذْعِ ٱلنَّخْلَةِ
قَالَتْ يَٰلَيْتَنِى مِتُّ قَبْلَ هَٰذَا وَكُنتُ نَسْيًا مَّنسِيًّا ﴿٢٣﴾ فَنَادَىٰهَا مِن تَحْتِهَآ أَلَّا تَحْزَنِى قَدْ
جَعَلَ رَبُّكِ تَحْتَكِ سَرِيًّا ﴿٢٤﴾ وَهُزِّىٓ إِلَيْكِ بِجِذْعِ ٱلنَّخْلَةِ تُسَٰقِطْ عَلَيْكِ رُطَبًا جَنِيًّا ﴿٢٥﴾
فَكُلِى وَٱشْرَبِى وَقَرِّى عَيْنًا فَإِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ ٱلْبَشَرِ أَحَدًا فَقُولِىٓ إِنِّى نَذَرْتُ لِلرَّحْمَٰنِ صَوْمًا
فَلَنْ أُكَلِّمَ ٱلْيَوْمَ إِنسِيًّا ﴿٢٦﴾﴾

[٢٢] نو بي بي مریمه په عیسی ﷺ باندې بارداره (امیدواره) شوه نو (د ولادت د نژدېوالي په وخت کښې) د عیسی ﷺ سره په لرې مکان کښې پرېوتله (چې هیڅا ورسره هلته موجودیت نه درلود).

[٢٣] نو (هلته) د لنګوالي درد د خرما د ونې (وچ) ډډ ته بوتله (مجبوره کړه).

(کله چې عیسی ﷺ تولد شو نو) بي بي مریمې رضي الله عنها وویلې چې: ای کاش چې زه د دغه (حال) څخه وړاندې مړه شوې وی او بې اهمیته هېره کړی شوې ګرځېدلې وی (چې د هیڅا په یاده نه وی).

[٢٤] نو (سمدستي) د دې څخه لاندې ورته عیسی ﷺ غږ (اواز) وکړ چې: (ای مورې!) مه خپه کېږه، بې شکه ستا رب ﷻ ستا څخه لاندې (تاته نژدې) د اوبو وروکی لښتی ګرځولی (پیدا) کړی دی (چې د خپل قدرت یو مثال دروښایي).

[٢٥] او (هم) ته د خرما د ونې وچ ډډ خپل خان ته وښوروه (راکاږه) ترڅو په تاباندې تازه پخې کجورې درتوی کړي (نو د همدغو کارونو کوونکی به ستا د غم چاره هم وکړي).

[٢٦] نو (په بې غمۍ سره کجورې) خوره او (اوبه) څښه او (بالآخره په خپل زوی باندې) خپلې سترګې یخوه (پرې خوښېږه) نو که چرته ته د بنیادمانو څخه هرومرو څوک وګورې (او د زوی په هکله درڅخه پوښتنه وکړي) نو (په اشاره سره ورته) ووایه چې: یقیناً ما د ډېر مهربان الله ﷻ دپاره (د سکوت) روژه نیولې ده.

نو زه به هیڅکله نن ورځ د هیڅ بنیادم سره خبرې ونه کړم (او نه به چاته جواب ورکړم).

## د مطلب خلاصه

١ ــ یعني کله چې بي بي مریمه رضي الله عنها قانعه شوه او د بې پلاره ماشوم په زېږولو باندې یې اطمنان حاصل شو نو سمدستي پرې امیدواره شوه.

٢ ــ مګر د قناعت سره‌سره یې خپل قوم ته د خجالت کېدلو مفکوره د زړه څخه نه وه وتلې، نو کله یې چې د زېږولو وخت رانژدې شو او پوه شوه چې اوس بې پلاره ماشوم څرګندېږي، نو د خپلې عبادت خانې څخه ووتله او لرې مسافه یې ووهله چې هلته خپل ماشوم وزېږوي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دې باندې علاوه عبادت خانې د ماشوم د زېږولو سره مناسبت هم نه درلود ځکه چې د ولادت سره ځه فضلات ملګري وي چې هغه د عبادتخایونو سره نه ښایېږي.

۳ـ کله چې د ماشوم د زېږولو دردونه وربانديې پيل شوه او هيڅوک ورسره نه وه چې د هغې سره بې د نورو زنانه وو غوندې څه کومک کړی وی نو مجبوره شوه او د خرما د ونې يوه زاړه وچ ډډ ته ورغله او هغه ته يې تکيه ووهله.

۴ـ خو کله چې مبارک ماشوم تولد شو نو د بي بي مريمې رضي الله عنها په زړه کښې يو ځل بيا د خپل قوم په وړاندې خجالت کېدل منعکس او تاو او راتاو شوه، نو په ډېر حسرت سره يې چيغه کړه چې: ای کاش چې زه د دغه اولاد زېږولو څخه لا وړاندې مړه شوې وی چې اوس د ټولو خلکو څخه هېره شوې وی او د هيچا په ياد نه وی پاتې چې يوه انجلۍ لا د مريمې په نوم باندې تېره شوې ده.

۵ـ خو د هغې د حسرت او د خفګان د پورته کولو دپاره ورته سمدستي خپل ماشوم د همدې د لمنې لاندې اواز وکړ چې:

الف: ای مورې! مه خپه کېږه، ډېر ژر به ستا رب ﷻ تا د خجالت څخه خلاصه کړي او په قدرتي توګه به ستا د نجات لاره برابره کړي.

ب: ای مورې! د دې دپاره چې ته ښه مطمئنه شي ته لاندې وګوره چې همدا اوس ستا رب ﷻ ستا د استفادې دپاره څومره سپېځلې اوبه راوخوټولې چې ستا د سترګو لاندې بهېږي.

ج: ته خو د خرما همدغه وچ ډډ وښوروه چې تازه کجورې دربانديې راتوی شي. نو کوم اقدس ذات ﷻ چې دغه عجيبه کارونه وکړه هغه به ډېر ژر تاته د خجالت څخه د خلاصون چاره هم درزده کړي.

د: نو ای مورې! ته په بې غمی سره او په ډاډه زړه سره تازه کجورې وخوره او دغه سپېځلې اوبه وڅښه او هم وربانديې خپل نظافت برابر کړه.

هـ: ای مورې! ته د خپل زوی خوشالي د خجالت د ډار د کبله په خپل ځان باندې مه زار کوه، بلکې په خپل زوی باندې سترګې يخې کړه او ټول غمونه شاته واچوه او هيڅ فکر مه خرابوه، او د نجات په لاره باندې لاړه شه هغه دا چې:

و: که ته د انسانانو څخه هرڅوک وګورې نو د هيچا سره هم خبرې مه کوه او ټولو ته په اشاره باندې ووايه چې ما د خپل مهربان رب ﷻ دپاره د سکوت روژه نيولې ده نو زه به هيڅکله نن ورځ د هيڅ بنيادم سره خبرې اترې او سوال جواب ونه کړم، که بالفرض ستاسو سره کومه پوښتنه وي نو هغه زما دغه زوی ته وړاندې کړئ چې درته جوابه يې کړي.

## توضيحات

۱ـ علماوو کرامو په دې کښې متعدد اقوال کړي دي چې عيسى عليه السلام د خپلې مور په ګېډه کښې څومره وخت تېر کړی دی؟ چې ټول اقوال پکښې تقريبًا اوو قولونو ته رسېږي[1].

(۱) زاد المسير ج۵ ص۱۵۴؛ تفسير کبير ج۲۱ ص۲۰۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مګر څرنګه چې د ﴿ فَحَمَلَتْهُ ﴾ کلمه مطلقه ده نو داسې ګومان کېږي چې د حمل موده به یې په متعارفې اندازې سره وه چې د نهو میاشتو څخه عبارت ده، همدې قول ته جمهورو علماوو کرامو تلل کړي دي[1].

٢ـ په ﴿ مَكَانًا قَصِيًّا ﴾ کښې د "قصي" کلمه د بعيد (لرې) معنی ورکوي نو ځينې علماء کرام وايي چې دغه لرې مکان (چې بي بي مريمه رضي الله عنها هلته د خپل حمل د وضعې دپاره ورغلې وه) د بيت اللحم څخه عبارت دی[2] چې د بيت المقدس څخه ځلور ميله په لرې فاصله کښې واقع دی.

مګر موږ ته غوره برېښي چې د دغه لرې مکان څخه به د ابادۍ او د خلکو د ګڼې ګوڼې څخه ورانډې (بېديا) مطلب وي چې د چا سترګې ورباندې ونه لګېږي، همدا مطلب د اميدوارۍ ښځې سره ښه مناسب دی چې د هر زيات مزل نه شي کولی، همدارنګه د حمل دوضعې څخه وروسته د بېرته راستنېدلو سره هم ښه تناسب لري چې دغسې زنانه د ډېر مزل توان نه لري، والله ﷻ أعلم.

## "نَسْيًا مَّنسِيًّا" څه معنی؟

٣ـ په ﴿ وَكُنتُ نَسْيًا مَّنسِيًّا ﴾ کښې د "نسي" کلمه ـ لکه "ضرب" ـ هغه شي ته وضعه شوې ده کوم چې د خلکو په نزد څه اهميت نه لري او نږدې وي چې هېر شي[3]، او د "منسي" کلمه د همدغې معنی دپاره تاکيد واقع شوې ده، يعنې کاشکې چې زه د خلکو په نزد بې اهميته (د هېرېدلو قابله) وی بلکې بالکل د دوی د اذهانو څخه وتلې او هېره شوې وی.

## يادونه

٤ـ نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «لَيْسَ الْخَبَرُ كَالْمُعَايَنَةِ»[4] خبرېدل د ليدلو غوندې نه دي بلکې د ليدلو اثر زيات وي. نو که څه هم بي بي مريمې رضي الله عنها ته جبرائيل ﷺ د عيسى ﷺ د زېږي خبر ورکړی وه چې هغه پرې قانعه او ډاډه شوې وه خو کله چې د عيسى ﷺ تولد صورت ونيوه او په سترګو باندې يې وليد نو په ايت شريف کښې ذکرې شوې د حسرت کلمې يې د خولې څخه ووتلې، که بالفرض ورانډې قناعت نه وی ورکړی شوی او نه وی خبره شوې چې داسې کار صورت نيوونکی دی نو سړی ګومان کوي چې د ډېرې حياء او خجالت څخه به مړه شوې وی او زړه به يې ودرېدلی وی.

## سوال جواب

٥ـ که څوک وايي چې: په ﴿ فَنَادَاهَا مِن تَحْتِهَآ ﴾ کښې د "نادى" مستتر ضمير چاته راجع دی؟ يا په بل عبارت بي بي مريمې رضي الله عنها ته چا ډاډ ورکړ چې مه خپه کېږه؟

---

(١) تفسير ابن كثير ج٣ ص١١٦
(٢) المحرر الوجيز ج١١ ص٢٠، تفسير البغوي ج٣ ص١٩٢
(٣) مفردات الراغب ص٥١٣؛ روح المعاني ج١٦ ص٨٢
(٤) مسند احمد بن حنبل ج١ ص٢٦١

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو چې: د ذکر شوي ضمیر په مرجع کښې علماء کرام په لاندې دوه وو ګروپونو باندې ویشلی شوي دي:

الف: ځینې وایې چې ذکر شوی ضمیر جبرائیل ﷺ ته راجع دی[۱]، چې بي بي مریمې رضي الله عنها ته يې د یوه ټیټ ځای څخه اواز وکړ او ډاډ يې ورکړ.

ب: دغه ضمیر پخپله عیسی ﷺ ته راجع دی[۲] چې د تولد څخه وروسته یې د خپلې مور سره خبرې وکړې ډاډه يې کړه چې خفګان مه کوه.

مونږ ته همدغه دوهم نظر د قبول وړ برېښي او دا ځکه چې:

اول: جبرائیل ﷺ اوه ایتونه وړاندې د ﴿ فَأَرْسَلْنَآ إِلَيْهَا رُوحَنَا ﴾ په کلماتو سره ذکر دی او عیسی ﷺ څلور ایتونه مخکښې د ﴿ أَنَّىٰ يَكُونُ لِى غُلَـٰمٌ ﴾ په کلماتو سره ذکر دی.

پوره واضحه ده چې قریبه مرجع د بعیدې مرجع څخه بهتره وي.

دوهم: په نږدې وړاندېنیو ایتونو کښې عیسی ﷺ ته ضمیرونه راجع دی، نو که بالفرض ذکر شوی ضمیر جبرائیل ﷺ ته راجع وګڼل شي نو بې ضرورته به د ضمائرو انتشار لازم شي چې په عربیت کښې بې ضرورته دا کار چندان ښه نه دی.

دریم: راتلونکی ایت شریف ﴿ فَأَشَارَتْ إِلَيْهِ ﴾ همدغه دوهم نظر ته ترجیح ورکوي او دا ځکه که بالفرض بي بي مریمې رضي الله عنها د خپل زوی (عیسی ﷺ) څخه خبرې نه وی اورېدلې او دا ډاډ يې نه درلودی چې د دې برائت اعلانولی شي نو د خپل قوم د پوښتنې په وخت کښې به يې خپل مبارک زوی ته اشاره نه وی کړې چې دا به جواب درکړي.

## سَرِيًّا څه معنی؟

۶ـ په ﴿ تَحْتَكِ سَرِيًّا ﴾ کښې د "سَرِيّ" کلمه دوه معناوې لري[۳] یوه معنی يې شریف دی او بله معنی يې ورکوټې لښتی دی. چا چې اوله معنی غوره کړې ده نو هغوی يې په عیسی ﷺ سره تفسیروي[۴]، یعنې ستا رب ﷻ ستا څخه لاندې شریف انسان تولد کړی دی.

خو ظاهره دا ده چې دلته به دوهمه معنی مراده وي[۵] چې ستا رب ﷻ په معجزانه توګه ستا دپاره ستا څخه لاندې (تاته ډېر نږدې) د صافو اوبو لښتی جاري کړی دی، چې ته پرې د خپل نظافت مراعات وکړې او خپله تنده پرې ماته کړې.

همدغه معنی د راتلونکې ﴿ وَٱشْرَبِى ﴾ د کلمې سره ښه سمون خوري.

(۱) تفسیر القاسمي ج۱۱ ص۱۱۸؛ زاد المسیر ج۵ ص۱۵۶
(۲) تفسیر الطبري ج۱۶ ص۶۸
(۳) اضواء البیان ج۴ ص۱۶۶
(۴) تفسیر المراغي ج۱۶ ص۴۵
(۵) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۱۱۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿فَأَتَتْ بِهِۦ قَوْمَهَا تَحْمِلُهُۥ ۖ قَالُوا۟ يَـٰمَرْيَمُ لَقَدْ جِئْتِ شَيْـًٔا فَرِيًّا ﴿٢٧﴾ يَـٰٓأُخْتَ هَـٰرُونَ مَا
كَانَ أَبُوكِ ٱمْرَأَ سَوْءٍ وَمَا كَانَتْ أُمُّكِ بَغِيًّا ﴿٢٨﴾ فَأَشَارَتْ إِلَيْهِ ۖ قَالُوا۟ كَيْفَ نُكَلِّمُ مَن
كَانَ فِى ٱلْمَهْدِ صَبِيًّا ﴿٢٩﴾ قَالَ إِنِّى عَبْدُ ٱللَّهِ ءَاتَىٰنِىَ ٱلْكِتَـٰبَ وَجَعَلَنِى نَبِيًّا ﴿٣٠﴾ وَجَعَلَنِى
مُبَارَكًا أَيْنَ مَا كُنتُ وَأَوْصَـٰنِى بِٱلصَّلَوٰةِ وَٱلزَّكَوٰةِ مَا دُمْتُ حَيًّا ﴿٣١﴾ وَبَرًّۢا بِوَٰلِدَتِى وَلَمْ
يَجْعَلْنِى جَبَّارًا شَقِيًّا ﴿٣٢﴾ وَٱلسَّلَـٰمُ عَلَىَّ يَوْمَ وُلِدتُّ وَيَوْمَ أَمُوتُ وَيَوْمَ أُبْعَثُ حَيًّا ﴿٣٣﴾﴾

[٢٧] نو بي بي مریمې (رضی الله عنها) خپل قوم ته عیسی ﷺ په داسې حال کښې درووړ چې (په خپله غېږه کښې) یې اوچت کړی وه.

(نو د هغوی چې ورباندې سترګې ولګېدلې) ویې ویلې چې: ای مریمې! بې شکه چې تا (د عادت څخه) پرې شوی (وتلی، لوی) شی راووړ (چې ډېر عجیبه دی).

[٢٨] ای د هارون (نومې متقي سړي) خورې! ستا خو نه پلار بد سړی وه او نه دې مور فاحشه (کچنی) وه، (دا کار خو ستا سره ډېر غیر مناسب دی).

[٢٩] نو بي بي مریمې (رضی الله عنها) خپل زوی (عیسی ﷺ) ته اشاره وکړه (چې دا به جواب درکړي).
هغوی (د بي بي مریمې رضی الله عنها اشاره رده کړه او) ویې ویلې چې مونږ به د هغه چا سره څنګه خبرې (سوال جواب) وکړو کوم چې په زانګو کښې (پروت) ماشوم وي؟ (ستا زوی هم د زانګو ماشوم دی).

[٣٠] (سمدستي) عیسی ﷺ وویلې چې: یقیناً زه د الله ﷻ بنده (او مخلوق) یم (چې قدرت یې په اسبابو پورې توقف نه لري)، ماته الله ﷻ (په ازل کښې) کتاب (انجیل) راکړی دی (مقرر کړی دی) او پیغمبر یې ګرځولی یم (ایا حرامي د کتاب یا نبوت خاوند جوړېدلی شي؟).

[٣١] او زه الله ﷻ برکتناک ګرځولی یم په هر ځای کښې چې زه یم (خلکو ته به مې خیر رسېږي، ایا حرامي برکتناک جوړېدلی شي؟).
او ماته الله ﷻ په لمانځه او زکات باندې کلک حکم کړی دی ترڅو چې زه ژوندی یم (همدغه کلک حکم به عملي کوم).

[٣٢] او زه الله ﷻ د خپلې (ماجدې) مور دپاره نېکوکار ګرځولی یم، او زه الله ﷻ متکبر (سرکش) بدبخت نه یم پیدا کړی.

[٣٣] او جنس سلامتیا دې په ماباندې په هغه ورځ کښې وي چې زه (پکښې) تولد شوی یم او په هغه ورځ کښې چې زه (پکښې) مړ کېږم او (بالآخره) په هغې ورځ کښې چې زه (پکښې د قبره څخه) ژوندی مبعوث (پورته) کړی شم (چې حقایق مې بیان کړه).
(بالمقابل عذاب دې په هغه چا باندې وي کوم چې د حقایقو څخه انکار کوي).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د عیسی ﷺ د قیصې وروستنۍ کړۍ ته اشاره شوې ده چې حاصل یې داسې راځېږي:

١_ کله چې عیسی ﷺ خپله مور ډاډه کړه او د قوم د جوابولو طریقه یې ورزده کړه نو هغې خپل زوی په غیږ کښې واخست او خپل قوم ته یې ورووړ نو د هرڅه څخه وړاندې ورته هغوی همغه خبره وکړه د کومې څخه چې دغه بي بي رضی الله عنها ډارېدله، هغه دا چې:

٢_ ای بي بي مریمې! یقینا چې تا ډېر لوی کار کړی دی او ډېر عجیب ماشوم دې راوړی دی چې پلار نه لري، که دا کار بل چا کړی وی نو ډېر عجیب به نه وي خو ستا د شان سره دغـــې کار ډېر عجیب دی. بیا دوی د خپلې حیرانتیا وجې ته اشاره وکړه چې:

٣_ ای د هارون خورې! ستا ټوله کورنۍ په صلاح او تقوی باندې شهرت لري او په دې باندې علاوه ستا پلار خو هم بد سړی نه دی تېر شوی چې د هغه خاصیت په تا کښې سرایت کړی وي، او نه دې مور فاحشه او بدکاره وه چې د هغې بدخوی او کچنیتوب په تا کښې منعکس شوی وي، نو مونږ حیران یاستو چې دغه بدخوی په تا کښې د کوم ځای څخه نښنت کړی دی او د څه وجې څخه یې په تا کښې وده کړې ده؟.

۴_ بي بي مریمې رضی الله عنها د خپل قوم سپورې، ستغې خبرې په سکوت سره واورېدلې او د پخواني اعلان په مطابق یې (چې زه روژه یم) فقط خپل زوی ته اشاره وکړه چې: ستاسو د ټولو سوالونو دپاره به دغه ماشوم جوابونه درکړي.

۵_ قوم د خپلو سوالونو مخه د بي بي مریمې رضی الله عنها څخه وانه ړوله او لا ورته په غُصه شوه چې مونږ به د هغه چا سره څنګه خبرې وکړی شو کوم چې په زانګو کښې د ماشوم په حیث پروت وي؟.

ای مریمې! ستا زوی خو بل څوک نه دی فقط د زانګو ماشوم دی، که څه هم سمدستي ستا په غیږ کښې پروت دی او تی روي، نو ستا د اشارې معنی دا ده چې د یو پلوه په مونږ باندې خندنی کوې او د بله پلوه خپل ځان ته د دروغو بهانه تراشې.

٦_ عیسی ﷺ د قوم ټولې خبرې واورېدلې او په دقت سره ورته متوجه وه، خو په عین حال کښې د تي په رودلو باندې مشغول وه.

کله چې د هغوی خبره ذکر شوي پړاو ته ورسېده نو د تي رودل یې بس کړه او د مور په غیږ کښې یې هغوی ته خپل مخ ورواړاوه او په لاندې خبرو باندې یې مخاطب کړ چې:

الف: یقینًا زه د الله ﷻ بنده او عابد یم، زه معبود او اله نه یم.

ب: ماته الله ﷻ کتاب راکړی دی او پیغمبر یې ګرځولی یم، څوک چې حرامي وي هغه ته نه الله ﷻ کتاب ورکوي او نه یې پیغمبر جوړوي.

ج: زه چې هر چرته یم هملته یې د خیر او برکت خاوند ګرځولی یم، زه د حرامیانو په شان بې خیره او بې برکته (بدخویه او بدکاره) نه یم.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د. ماته الله ﷻ په لمانځه او پاکیزګۍ باندې توصیه کړې ده تر څو پورې چې زه ژوندی یم په پاکو وختونو کښې به لمونځونه دروم او په پاکېزه خوی باندې به کلک یم، نه به مالي عبادت پرېږدم او نه به بدخوی اختیاروم.

هـ. څرنګه چې زه الله ﷻ په قدرتي توګه بې پلاره پیدا کړی یم نو یوازې د خپلې مور دپاره یې نیکي کوونکی او ښه سلوک کوونکی ګرځولی یم، چې زه به هیڅکله خپله مور نه خپه کوم او هیڅکله به یې نه ازاروم، او بې اطاعتي به یې نه کوم.

و. ای قومه! زه الله ﷻ متکبر او سختي کوونکی نه یم جوړ کړی چې په خپلې مور او په بل چا باندې تکبر وکړم او حقوق یې د پښو لاندې کړم او یا وربانديې سختي ورولم.

ز. ای قومه! تاسو هیڅکله ماته ضرر نشئ رسولی او نه ستاسو د پروپاګند څخه څه شی جوړېدلی شي او دا ځکه چې:

اول. په ما باندې د الله ﷻ د پلوه سلام او سلامتیا ده په هغې ورځې کښې چې زه پکښې زیږېدلی یم چې همدا نن ورځ ده.

دوهم. او په هغې ورځ کښې هم چې زه مرم او د دنیا څخه رحلت کوم.

دریم. بالآخره په هغې ورځ کښې هم چې کله زه د الله ﷻ په حضور کښې د قبر څخه ژوندی راپورته کړی شم.

## توضیحات

۱ــ که څوک وایي چې د ﴿ فَأَتَتْ بِهِۦ قَوْمَهَا ﴾ معنی دا ده چې بي بي مریمې رضي الله عنها خپل زوی (عیسی ﷺ) خپل قوم ته وروړ حال دا چې همدغه مضمون د ﴿ تَحْمِلُهُۥ ﴾ په جمله کښې پروت دی نو بیا ښتنه دا ده چې په دغه تاکید کښې څه حکمت دی؟

موږ وایو چې: څرنګه د وړاندېنی [۲۴] ایت څخه واضحه شوه چې عیسی ﷺ د خپلې مور سره په خارق العاده توګه خبرې وکړې او داډ یې ورکړ، نو که د ﴿ تَحْمِلُهُۥ ﴾ جمله نه وی نازله شوې چا به ګومان کړی وی چې بي بي مریمې رضي الله عنها به عیسی ﷺ په خارق العاده توګه په پښو خپل قوم ته وروستلی وي او د نورو ماشومانو په خلاف به یې مزل هم کولی شو، حال دا چې حقیقت داسې نه وه.

## فري څه معنی؟

۲ــ په ﴿ لَقَدْ جِئْتِ شَيْـًٔا فَرِيًّا ﴾ کښې د "فَرِيّ" کلمه په اصل کښې "فَرِيّ" ــلکه "شَرِیف"ــ وه چې د "فَرْيٌ" ــلکه "ضَرْبٌ"ــ څخه اشتقاقه شوې ده، چې د پوستکي د پرې کولو معنی ورکوي، مګر په استعمال کښې د عجیب او عظیم کار په معنی باندې استعمالېږي[۱]، نه به وایي چې د عادت او رواج څخه وتلی او جدا شوی کار دی.

(۱) مفردات الراغب ص۳۹۳؛ روح المعاني ج۱۶ ص۸۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو د معنى حاصل يې داسې راځېږي چې: اى بي بي مريمې! تا خو مونږ ته داسې عجيبه او لوى شى راوړى چې د عادت څخه بالكل وتلى دى او مونږ ورته د سره د صحت وجه نه شو موندلى.

## سوال جواب

۳_ که څوک وايي چې: د ﴿ يَٰٓأُخۡتَ هَٰرُونَ ﴾ څخه څرګند يږي چې بي بي مريمه رضي الله عنها د هارون عليه السلام او د موسى عليه السلام خور وه، حال دا چې نوموړې بي بي د هغوى څخه ډېره زمانه وروسته پيدا شوې وه، نو پوښتنه دا ده چې: د دغه نسبت وجه څه ده؟

مونږ وايو چې: علماء کرامو د دې نسبت ډېرې وجې ښودلې دي[1]، لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: د "أُخْتَ" او "أَخٌ" کلمات کله-کله د تشبيه دپاره استعمالېږي، لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَمَا نُرِيهِم مِّنۡ ءَايَةٍ إِلَّا هِيَ أَكۡبَرُ مِنۡ أُخۡتِهَا ﴾ [الزخرف:۴۸] يعنې او مونږ فرعونيانو ته د موسى عليه السلام د حقانيت هيڅ دليل نه وو ښودلى مګر هغه به د خپل پخواني مثل دليل څخه لوى وه، خو دوى په يوه باندې هم قناعت ونه کړ.

نو په دې مقام کښې يې حاصل داسې راځېږي چې: اى بي بي مريمې! ته خو په عفت او پاک لمنۍ کښې د هارون عليه السلام غوندې وې نو تا څنګه بې پلاره زوى راوړ؟.

ب: بي بي مريمه رضي الله عنها د هارون عليه السلام د نسل څخه وه او په عربي محاوره کښې کله د يو فرد اضافت خپل اصل ته صورت نيسي لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَٱذۡكُرۡ أَخَا عَادٍ ﴾ [الأحقاف:۲۱] يعنې اى پيغمبره! خپل امت ته د عاد ورور ياد کړه چې د هود عليه السلام څخه عبارت دى (د ده قيصه ورباندې ولوله).

نو دلته يې حاصل کېږي چې: اى هغې ښځې! چې ته د هارون عليه السلام د نسل څخه يې تا ولې دغسې کار وکړ او خپل پاکيزه اصل دې وشرماوه؟.

ج: مګر په ټولو جوابونو کښې هغه جواب غوره دى کوم چې د ذکر شوي سوال دپاره د نبي کريم ﷺ څخه روايت شوى دى، هغه دا چې: المغيره بن شعبه رضي الله عنه وايي: زه نبي کريم ﷺ نجران ته د څه کار دپاره ولېږلم، هلته هغوى (نصاراوو) زما څخه پوښتنه وکړه چې: ايا تاسو په خپل کتاب کښې د ﴿ يَٰٓأُخۡتَ هَٰرُونَ ﴾ کلمات نه لولئ؛ حال دا چې د موسى عليه السلام او د عيسى عليه السلام ترمنځ ډېره زمانه (يو زره کاله[2]) فاصله وه؟.

نو زه د دغه سوال په جواب باندې پوه نه شم چې څه ورته ووايم کله چې زه بېرته راستون شوم او ذکر شوې قيصه مې هو بهو د نبي کريم ﷺ په حضور کښې بيانه کړه. نو هغه ﷺ راته وويلې چې: «أَلَا أَخْبَرْتَهُمْ أَنَّهُمْ كَانُوا يُسَمُّونَ بِأَنْبِيَائِهِمْ وَالصَّالِحِينَ قَبْلَهُمْ»[3] ايا تا دوى ته خبر (جواب) ورنه کړ چې: يقيناً هغوى چې وه (خپل اولادونه) به يې د خپلو پيغمبرانو او پخوانيو نېکانو (په نومونو باندې) نومول.

---

(۱) زاد المسير ج۵ ص۱۵۹؛ تفسير القرطبي ج۱۱ ص۱۰۰
(۲) تفسير الكشاف ج۳ ص۱۴
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۱۴۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يا په بل عبارت: تا به ورته جواب ورکړی وی چې: د بي بي مريمې رضي الله عنها ورور هم هارون نومېده، نو د دې خپل ورور ته اضافت شوی دی، نه هغه هارون (عليه السلام) ته کوم چې د موسی عليه السلام ورور وه.

## د دې ايت شريف ارشاد

۴ـ د ذکر شوي ايت شريف د ارشاراتو څخه څرګندېږي چې د مور او پلار ښه خويونه او يا بد خويونه په لا شعوري توګه اولاد ته انتقالېږي، نو هرچا ته په کار دي چې په نېکو خاصيتونو باندې خپل ځان روږدی کړي او د بدو خاصيتونو څخه ځان بچ وساتي چې په لوی لاس خپل اولادونه بې لارې نه کړي چې د الله ﷻ په عصيان کښې ترې د خپل پلار او مور د مغفرت سوال هم هېر شي.

د ښه وضاحت دپاره لاندې احاديث ولولئ:

الف: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ وَلَدُ زِنْيَةٍ وَلَا مَنَّانٌ وَلَا عَاقٌ وَلَا مُدْمِنُ خَمْرٍ»[۱] جنت ته به ولد زنا (حرامي) داخل نه شي او نه احسان اېښودونکی او نه د مور او پلار ازاروونکی او (بالآخره) او نه په شرابو باندې عادت شوی کس.

که څه هم په حرامزاده کښې څه ګناه نشته ګناه خو په فاحش او فاحشه کښې ده، مګر د دغو دوارو خاصيتونه به ډېر ژر هغه ته ورانتقال شي او د داسې جناياتو به مرتکب شي چې د دغو دوارو جنايات به يې د پښو ګرد ته هم ونه شي رسېدلی، او په نتيجه کښې به د دوزخ د اور خوراک شي.

ب: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «وَلَدُ الزِّنَا شَرُّ الثَّلَاثَةِ»[۲] يعنې ولد زنا (حرامزاده) په درېوو کسانو کښې زيات بد دی (دې کسان د زناکار سړي او زناکارې ښځې او د ولد زنا څخه عبارت دي). يا په بل عبارت حرامي په بدخوی کښې د فاحش او فاحشې څخه زيات دی.

## سوال جواب

۵ـ که څوک وايي چې: په ﴿ ءَاتَىٰنِيَ ٱلْكِتَٰبَ ﴾ کښې د ﴿ ءَاتَىٰنِيَ ﴾ کلمه او همدارنګه په راتلونکو ايتونو کښې د ﴿ وَجَعَلَنِي ﴾، ﴿ وَجَعَلَنِي ﴾، ﴿ وَأَوْصَٰنِي ﴾ کلمې ټولې د ماضي صيغې دي او معناګانې يې داسې راځېږي چې ماته الله ﷻ پخوا کتاب راکړی دی، او پيغمبر يې ګرځولی يم او هم يې مبارک ګرځولی يم او په لمانځه او زکات باندې يې راته توصيه کړې ده، حال دا چې دغه ټول حقائق په هغه وخت کښې متحقق شوه کله چې عيسی عليه السلام د ماشومتوب مرحله تېره کړه؟

مونږ وايو چې:

الف: د ذکرو شوو ماضيګانې معناوې دا دي چې دغه حقايق ماته په ازل کښې ليکلی شوي دي که څه هم تحقق به يې په خپلو خپلو وختونو کښې صورت ونيسي.

د دې جواب نظير د نبي کريم ﷺ هغه حديث دی چې فرمايي: «إِنِّي عَبْدُ اللهِ لَخَاتَمُ النَّبِيِّينَ وَإِنَّ آدَمَ

---

(۱) سنن الدارمي ج۲ ص۳۷، مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۶۴۷
(۲) سنن ابي داود ج۲ ص۱۹٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عَلَيْهِ السَّلَامُ لَمُنْجَدِلٌ فِي طِينَتِهِ»[١] يعني زه يقينًا د الله ﷻ بنده يم (او بې شكه زه) د ټولو پيغمبرانو عليهم السلام خاتم (او وروستنی) وم حال دا چې آدم ﷺ لا هرومرو په خپله خټه كښې نغښتی وه (هغه لا د سره خلق كړی شوی نه وه).

ب: په ټولو محاوراتو كښې عادت دی چې د هغه شي څخه چې تحقق يې يقيني وي په ماضي سره تعبير كېږي كه څه هم خارجي موجوديت يې په راتلونكي وخت كښې صورت نيسي.

## لمونځ او زكات

۶ـ د ﴿ وَأَوْصَٰنِي بِٱلصَّلَوٰةِ وَٱلزَّكَوٰةِ ﴾ څخه څرګندېږي چې لمونځ په ټولو پيغمبرانو باندې (د كيفياتو په تفاوت سره) مشروع كړی شوی وه، مګر دا بېله خبره ده چې عيسی ﷺ د دومره مال خاوند ونه ګرځېده چې زكات ورباندې فرض كړی شوی وی[٢].

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۷ـ كه څوك وايي چې په دې كښې څه حكمت دی په ﴿ وَٱلسَّلَٰمُ عَلَيَّ يَوْمَ وُلِدتُّ ﴾ كښې د "السّلام" كلمه معرفه نازله كړی شوه او "سلام" نكره نازله نه كړی شوه لكه څنګه چې د يحيی ﷺ په هكله په تېر شوي [١۵] ايت كښې نكره نازله شوې ده؟

مونږ وايو چې: د ځينو علماوو كرامو[٣] په نظر د "السّلام" په كلمه كښې د "ل" توری د جنس دپاره دی چې تعريض ته پكښې اشاره ده. نو د معنی حاصل يې داسې راځي چې د الله ﷻ ټوله سلامتيا دې په ما باندې وي چې ذكر شوي حقايق مې بيان كړه او د الله ﷻ لعنت دې په هغه چا باندې وي چې د دغو حقايقو څخه انكار كوي او زما په مور (بي بي مريمې) باندې بهتان لګوي.

﴿ ذَٰلِكَ عِيسَى ٱبْنُ مَرْيَمَ قَوْلَ ٱلْحَقِّ ٱلَّذِي فِيهِ يَمْتَرُونَ (٣٤) مَا كَانَ لِلَّهِ أَن يَتَّخِذَ مِن
وَلَدٍ سُبْحَٰنَهُۥٓ إِذَا قَضَىٰٓ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ (٣٥) وَإِنَّ ٱللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ
فَٱعْبُدُوهُ هَٰذَا صِرَٰطٌ مُّسْتَقِيمٌ (٣٦) فَٱخْتَلَفَ ٱلْأَحْزَابُ مِنۢ بَيْنِهِمْ فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ كَفَرُوا۟
مِن مَّشْهَدِ يَوْمٍ عَظِيمٍ (٣٧) أَسْمِعْ بِهِمْ وَأَبْصِرْ يَوْمَ يَأْتُونَنَا لَٰكِنِ ٱلظَّٰلِمُونَ ٱلْيَوْمَ فِي ضَلَٰلٍ
مُّبِينٍ (٣٨) وَأَنذِرْهُمْ يَوْمَ ٱلْحَسْرَةِ إِذْ قُضِيَ ٱلْأَمْرُ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ وَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ (٣٩) إِنَّا
نَحْنُ نَرِثُ ٱلْأَرْضَ وَمَنْ عَلَيْهَا وَإِلَيْنَا يُرْجَعُونَ (٤٠) ﴾

---

(١) مسند احمد بن حنبل ج۶ ص۸۴
(٢) تفسير البغوي ج٣ ص١٩۵
(٣) تفسير الكشاف ج٣ ص١۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[٣٤] (ای پیغمبره!) دغه دی عیسی ﷺ د بي بي مریمې رضي الله عنها زوی (چې ورانديې یې قیصه بیانه شوه).

(په دې باندې الله ﷻ قول کړی دی) هغه حق قول چې (کفار پکښې جګړې کوي (او هم پکښې شک کوي).

[٣٥] مناسب نه دی الله ﷻ ته چې (یو ډول) ولد ونیسي، همده ﷻ ته (د ولد نیولو څخه) پاکي ده (او دا خکه چې) کله چې د کوم کار (د کولو) فیصله وکړي نو یقیناً ورته وواېي چې: شه! (موجود شه!) نو هغه (سمدستي) شي (موجود شي).

[٣٦] او (همدا حقیقت ورته عیسی ﷺ هم ویلی دی چې) یقیناً الله ﷻ زما رب هم دی او ستاسو رب هم دی، نو خاص د همده ﷻ عبادت وکړئ (زما عبادت مه کوئ).

دغه برابره لاره ده (نه هغه چې تاسو ورباندې روان یاست).

[٣٧] نو (د دې سره-سره) ټولګي د خپل منځ څخه مختلف شوه (د همدوی د منځ څخه اختلاف راپورته شو چې لږ مسلمانان پاتې شوه او ډېر پرې کافر شوه).

نو هغو کسانو ته حسرت (او افسوس) دی کومو چې کفر غوره کړی دی، (البته) د لویې ورځې دحضور څخه (چې هلته به ورسره مخامخ شي).

[٣٨] (ای پیغمبره! په کومه ورځ چې دوی مونږ ته راشي نو) دوی به (هلته) څومره ښه اورېدونکي او څومره ښه لیدونکي وي، مګر ظالمان (کفار نن ورځ په ښکاره ګمراهۍ کښې دي (چې نه حق اوري او نه حق ګوري).

[٣٩] او (ای پیغمبره!) کفار د حسرت (او افسوس) د ورځې څخه ووار کړه (البته) کله چې کار (حساب) انجام شي (جنتیان جنت لاړ شي او دوزخیان په دوزخ کښې وغورزولی شي). حال دا چې (نن ورځ ترې) دوی په غفلت کښې دي حال دا چې دوی ایمان نه راوړي.

[٤٠] یقیناً مونږ همدا مونږ (بل څوک نه) د ځمکې وارثان یاستو او د هغه چا هم چې په دې ځمکه باندې وي (ژوند کوي)، او خاص مونږ ته به دوی راجع کړی شي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د عیسی ﷺ په خارق العاده پیدایښت باندې یوې په زړه پورې تبصرې ته اشاره شوې ده چې حاصل یې داسې راځي:

۱ـ ای پیغمبره! دغه ماشوم چې د تولد قیصه یې په وړاندېنیو ایتونو کښې بیانه شوه بل څوک نه دی بلکې عیسی ﷺ دی چې یوازې د بي بي مریمې رضي الله عنها زوی دی، او په خارق العاده توګه تولد شوی دی.

په دې بیان کښې هیڅ شک او شبه نشته، دا بیان د هغه اقدس ذات د پلوه نازل شوی دی چې وړاندې او ببرته ټول حالات ورته څرګند دي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خو د دې سره-سره په همدغه حق او واقعي بيان کښې کفار شبهات راپورته کوي چې:

۲_ عيسى ﷺ ته د ابن الله (د الله ﷻ زوی) لقب ورکوي او وايي چې همدی د عبادت مستحق دی، خو دوی د خپل مطلب په اثبات باندې هيڅ وجه او دليل نه شي قائمولی او دا ځکه چې:

الف: د الله ﷻ سره هيڅ مناسبت نه لري چې د خپلو مخلوقاتو د جملې څخه کوم يو په ولديت سره ونيسي، حال دا چې په مخلوقيت کښې ورته ټول يو برابر دي.

ب: الله ﷻ د ولد نيولو څخه پاک او منزه دی ځکه چې په ولديت کښې احتياج نغښتی دی او الله ﷻ هيڅ شي ته اړتيا او احتياج نه لري.

ج: د الله ﷻ د ارادې تحقق په اسبابو پورې متوقف نه دی کله چې د يو شي په باره کښې په کوم کيفيت سره د موجودولو فيصله وکړي نو فقط دومره ووايي چې: شه!، نو نوموړی شی په ټاکلي کيفيت سره موجود شي.

نو د چا د موجوديت په هکله چې د والدينو طريقه انتخابه کړي هغه د والدينو په طريقه موجودېږي او که د چا په باره کښې چې بدون د پلاره طريقه غوره کړي هغه بې پلاره پيدا کېږي لکه عيسى ﷺ. بالآخره د چا په هکله يې چې د مور او پلار سلسله د نظره غورزولې وي نو هغه بدون د والدينو څخه موجودېږي لکه آدم ﷺ.

لنډه دا چې بې پلاره تولد کېدل خارق العاده کار دی خو په الوهيت او معبوديت باندې دلالت نه کوي، لکه چې ځينې خلک تري د عيسى ﷺ په باره کښې همدغه مفهوم اخلي.

۳_ ای پيغمبره! په ذکر شوي تحقيق باندې علاوه، پخپله عيسى ﷺ هم دوی په همدغه تحقيق باندې خبر کړي دي او ورته ويلي يې دي چې:

الف: يقيناً الله ﷻ زما رب هم دی او ستاسو رب هم دی نو يوازې د همده ﷻ عبادت وکړئ لکه چې زه يوازې د همده ﷻ عبادت کوم.

ب: ای خلکو! زما عبادت مه کوئ، زه بل څوک نه يم، زه ستاسو غوندې يو مخلوق يم چې د معبوديت لياقت نه لرم، دغه برابره لاره ده، په همدې لاره باندې لاړ شئ، خپله ځانونه مه بې لارې کوئ.

۴_ خو د دې سره-سره مختلفې ډلې د عيسى ﷺ په باره کښې په خپلمنځي اختلاف باندې اخته شوې، نه يې دلايلو ته وکتل او نه يې د عيسى ﷺ ارشاد ته غوږ ونيوه، نو څوک ورته د الله ﷻ په ابنيت (زوی والي) قائل شوه، چا ورباندې د معبود نوم کېښود او چا ورته د دريم اله لقب ورکړ، او بالآخره لږو خلکو په همغې خبره باندې باور وکړ کومه چې ورته عيسى ﷺ تلقين کړې وه.

۵_ نو د هغو کسانو دپاره افسوس او حسرت دی چا چې کفر اختيار کړی دی او څرګند دلايل يې د پښو لاندې کړي دي.

دغه افسوس او حسرت به دوی ته په هغې لويه ورځ کښې عملاً متوجه شي، کله چې قيامت قائم شي او دوی هلته ورحاضر کړی شي.

۶_ ای پيغمبره! کله چې دوی زمونږ په حضور کښې ودرېږي نو دوی به څومره ښه اورېدونکي او

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



څومره ښه ليدونکي وي، مګر نن ورځ دوی نه څه اوري او نه څه ويني او د ظلم د کبله يې څوپوله ګانه او سترګې يې ړندې دي، او په څرګنده ګمراهۍ باندې يې منګولې ښخې کړي دي.

٧_ ای پيغمبره! د ذکرو شوو کافرانو په شمول ټول ظالمان د افسوس او حسرت د ورځې څخه ودار کړه، البته کله چې خبره فيصله شي او هرڅوک خپل مقرر او ټاکلي ځای ته بوتلل شي، ترڅو ورته تياری ونيسي چې په هغې ورځ کښې حسرت او افسوس کول هيڅ ګټه نه شي رسولی.

٨_ دوی څکه ودار کړه چې دوی نن ورځ په غفلت کښې پراته دي او د هغې ورځې هيڅ غم ورسره نشته بلکې په غفلت کښې وړاندې روان دي او خپلې بې ايمانۍ ته ادامه ورکوي، ته به وايې چې هيڅکله به دوی د دنيا څخه رحلت ونه کړي او مونږ ته به رانه وستلی شي څو خبره داسې نه ده لکه چې دوی خيال کوي او دا څکه چې:

٩_ په يقين سره همدا مونږ د دې ځمکې وارثان ياستو او حتی د هغو کسانو هم وارثان ياستو کوم چې په ځمکه باندې په غفلت کښې ژوند کوي ته به وايې چې دوی به د مرګ سره مخامخ نه شي او د قيامت په ورځ به زمونږ په حضور کښې ونه درولی شي.

څو دغه خيال باطل دی، دوی ټول به څمکه همدا مونږ ته پرېږدي او همدا زمونږ حضور ته به راتاو کړی شي او د حساب کتاب دپاره به متوقف کړی شي.

## توضيحات

١_ که څوک وايي چې په ﴿ قَوْلَ ٱلْحَقِّ ٱلَّذِى فِيهِ يَمْتَرُونَ ﴾ کښې د "قول" کلمې ته څه شی نصب ورکړی دی او د ﴿ ٱلْحَقِّ ﴾ کلمې ته په کوم دول اضافت سره مضافه شوې ده؟

مونږ وايو چې: په ذکرو شوو دوارو مطلبونو کښې مفسرينو کرامو ډېر احتمالات ليکلي دي[1] چې په واقع کښې يوه مضمون ته راجع کېږي، که څوک يې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي، مګر کوم احتمال چې مونږ ته بهتر ښکاره شوی دی هغه دا دی چې:

الف: ﴿ قَوْلَ ﴾ ته د مقدر "قال" کلمې د مصدريت په اعتبار سره نصب ورکړی دی.

ب: او اضافت يې د "وعد الصدق" د قبيلې څخه دی چې موصوف خپل صفت ته مضاف شوی دی.

نو حاصل يې داسې راځي چې: الله ﷻ قول کړی دی، داسې حق قول چې کفار پکښې جګړې او اختلافونه کوي او هيڅ دليل ورباندې نه لري.

## يادونه

٢_ په دې حقيقت کښې چې الله ﷻ د ولديت څخه پاک او منزه دی، د الله ﷻ په توفيق د [البقرة: ١١٦، ١١٧] ايتونو او د [الأنعام: ١٠١] ايت په خلاصه مطالبو کښې ډېر ښه تحقيقي او مستدل بحث تېر شوی دی چې بيا ليکلو ته يې اړتيا نه ګورو.

---

(١) البحر المحيط ج٧ ص٢٦٠؛ تفسير الطبري ج١٦ ص٨١

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یو اعرابي تحلیل

۳ـ د ﴿ وَإِنَّ ٱللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ ﴾ الآیة په اعراب کښې مفسرینو کرامو ډېر تحلیلونه کړي[۱] چې مونږ ته یو هم په زړه پورې ښکاره نه شو، نو د همدې کبله مو د هغو په ذکر باندې ډېره کېښودله.
خو مونږ ته بهتره برېښي چې دغه جمله به د "قَالَ" په تقدیر سره په ﴿ مَا كَانَ لِلَّهِ أَن يَتَّخِذَ مِن وَلَدٍ ﴾ په جمله باندې عطفه وي. نو حاصل به یې داسې راوخېژي چې: کفار په حق قول کښې شک او شبه کوي او عیسی ﷺ د ابن الله په نامه یادوي خو د دوی دغه شک د لاندې وجوهو د کبله باطل دی:
الف: یوه وجه یې دا ده چې د الله ﷻ سره ولدیت منافات لري، لکه چې وړاندې یې بیان شو.
ب: بله وجه یې دا ده چې پخپله عیسی ﷺ د وخت ټولو خلکو ته ویلي وه چې یقیناً الله ﷻ زما رب دی او هم ستاسو رب دی، همدغه لاره سمه لاره ده، ماته د ابن الله لقب مه راکوئ چې دا باطله لاره ده. نو که بالفرض المحال د کفارو اشتباه څه حقیقت درلودی نو د هر چا څخه وړاندې به پرې عیسی ﷺ اقرار او اعتراف کړی وی.

## احزاب څوک دي؟

۴ـ په ﴿ فَٱخْتَلَفَ ٱلْأَحْزَابُ مِنۢ بَيْنِهِمْ ﴾ کښې د "أَحْزَاب" کلمه مفسرینو کرامو په لاندې معناوو سره تفسیره کړې ده:
الف: "أَحْزَاب" د یهودو او نصاراوو څخه عبارت دی چې د عیسی ﷺ په هکله یهود تفریط کوي، چې په مور پورې یې بهتان تړي، او نصارا افراط کوي[۲] چې د ابن الله او نور غیر مناسب لقبونه ورباندې ږدي.
ب: "أَحْزَاب" کلمه دلته خپله د نصاراوو څخه عبارت ده چې اسمان ته د عیسی ﷺ د پورته کېدلو څخه وروسته په لاندې فرقو او ډلو باندې ووېشلی شوه[۳]:
اول: ځینو وویلې چې عیسی ﷺ پخپله الله وه چې اوس بېرته اسمان ته وخوت.
دوهم: نورو ویلې چې عیسی ﷺ ابن الله وه چې الله ﷻ اسمانونو ته وخېژاوه.
درېیم: بلې ډلې وویلې چې عیسی ﷺ د درېوو معبودانو څخه یو معبود وه، چې درېواړه د الله ﷻ، بي بي مریمې رضي الله عنها او د عیسی ﷺ څخه عبارت دي.
څلورم: مسلمانانو وویلې چې عیسی ﷺ د الله ﷻ بنده او پیغمبر وه، په قدرتي توګه تولد شوی او په قدرتي توګه اسمانونو ته ژوندی وخېژولی شو.
نو په دغو څلورو واړو ډلو کښې فقط څلورمه ډله په حقه وه او نورې درېواړه ډلې کافرې دي او کافرې دي چې په ﴿ فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ كَفَرُوا ﴾ سره ورته اشاره شوې ده.

---

(۱) روح المعاني ج۱۶ ص۹۲؛ تفسیر القرطبي ج۱۱ ص۱۰۸
(۲) تفسیر ابي السعود ج۵ ص۲۶۵
(۳) المحرر الوجیز ج۱۱ ص۳۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ ته دواړه تفسیرونه سره منافي نه برېښي، که دواړو ته د "الأحزاب" کلمه شامله وګڼله شي نو هم څه باک یې نشته.

## مَشْهد څه صیغه ده؟

۵ـ په ﴿ مِن مَّشْهَدِ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴾ کښې د ﴿ مَّشْهَدِ ﴾ په کلمه کښې ځینو مفسرینو کرامو نهه احتماله ذکر کړي دي، چې څه صیغه ده او د شهود څخه ده که د شهادت څخه[١]؟

مونږ ته داسې برېښي ـ والله ﷻ أعلم ـ چې نوموړې کلمه د میمي مصدر صیغه ده او د شهود (حضور) څخه اشتقاقه شوې ده. نو د معنی حاصل یې داسې راځېږي چې د کفارو افسوس او حسرت د لوېې ورځې د حضور څخه نشأت کوي چې په دنیا کښې تري منکران وه خو هلته به ورسره مخامخ شي.

## یادونه

۶ـ د ﴿ أَسْمِعْ بِهِمْ وَأَبْصِرْ ﴾ دواړه کلمې د تعجب صیغې دي چې د اعرابي تحقیق څای ته یې د [الكهف: ۲۶] ایت لاندې اشاره شوې ده ـ والحمد لله ﷻ، بیا اشارې ته یې اړتیا نه ګورو.

همدا مضمون الله ﷻ د کفارو د خولې څخه حکایت کړی دی چې: ﴿ رَبَّنَآ أَبْصَرْنَا وَسَمِعْنَا فَٱرْجِعْنَا نَعْمَلْ صَٰلِحًا إِنَّا مُوقِنُونَ ﴾ [السجدة: ١٢] یعنې د قیامت په ورځ به کفارو زوړند سرونه نیولي وي او وایي به چې: ای زمونږ ربه! مونږ ولیده او مونږ واورېده نو مونږ بېرته دنیا ته تاو کړه چې نېک عمل وکړو، بې شکه مونږ یقین کوونکي یاستو.

## د حسرت ورځ

۷ـ یوه ورځې نبي کریم ﷺ دا ایت شریف ﴿ وَأَنذِرْهُمْ يَوْمَ ٱلْحَسْرَةِ ﴾ الآیة قرائت کړ او بیا یې په یوه اوږده حدیث سره تفسیر کړ چې لنډ مضمون یې دا دی:

کله چې جنتیان جنت او دوزخیان دوزخ ته داخل کړی شي نو مرګ به د یو ه چوپړ (ایرو رنګي) پسه په شکل د جنت او دوزخ ترمنځ ودرولی شي او د دواړو ډلو څخه به پوښتنه وکړی شي چې دا پېژنئ؟ دواړه ډلې به اعتراف وکړي چې: هو، دا پېژنو، دا مرګ دی؛ بیا به د دواړو ډلو د نظر لاندې په ډېره څملولی شي او د پسه په شان به ذبحه کړی شي: «فَلَوْلَا أَنَّ اللهَ قَضَى لِأَهْلِ الْجَنَّةِ الْحَيَاةَ فِيهَا وَالْبَقَاءَ لَمَاتُوا فَرَحًا وَلَوْلَا أَنَّ اللهَ قَضَى لِأَهْلِ النَّارِ الْحَيَاةَ فِيهَا وَالْبَقَاءَ لَمَاتُوا تَرَحًا»[٢] نو که بالفرض یقینًا الله ﷻ د جنتیانو دپاره ژوند او بقاء نه وی فیصله کړې نو دوی به د ډېرې خوشالۍ د کبله مړه شوي وی، او که بالفرض یقینًا الله ﷻ د دوزخیانو دپاره په دوزخ کښې ژوند او بقاء نه وی فیصله کړې نو دوی به د ډېر غم د وجې مړه شوي وی[٣].

(١) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج٣ ص٢٨٨
(٢) صحیح البخاري ج٢ ص٦٩١؛ جامع الترمذي ج٢ ص١٤٨
(٣) "ترح" د "فرح" نقیض دی. لسان العرب ج٢ ص٤١٧

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدارنګه نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لَا يَدْخُلُ أَحَدٌ الْجَنَّةَ إِلَّا أُرِيَ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ لَوْ أَسَاءَ لِيَزْدَادَ شُكْرًا وَلَا يَدْخُلُ النَّارَ أَحَدٌ إِلَّا أُرِيَ مَقْعَدَهُ مِنَ الْجَنَّةِ لَوْ أَحْسَنَ لِيَكُونَ عَلَيْهِ حَسْرَةً»(١) یعني: هیڅوک جنت ته نه داخلیږي مګر هغه ته د اور څخه خپل د ناستې ځای ورلیده کېږي (ورښودلی کېږي البته په هغه صورت کښې چې) که بالفرض نوموړی بدکاره وي (جنتي نه وي) ترڅو د شکر (خوشالۍ) د حیثه زیات شي.

او هیڅوک دوزخ ته نه داخلیږي مګر هغه ته د جنت څخه خپل د ناستې ځای ورلیده کیږي (ورښودلی کیږي البته په هغه صورت کښې چې) که بالفرض نوموړی نیکو کار وي، ترڅو ورباندې دغه ښودانه حسرت (او افسوس) وګرځي.

﴿ وَٱذْكُرْ فِى ٱلْكِتَٰبِ إِبْرَٰهِيمَ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ صِدِّيقًا نَّبِيًّا ﴿٤١﴾ إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ يَٰٓأَبَتِ لِمَ تَعْبُدُ مَا لَا يَسْمَعُ وَلَا يُبْصِرُ وَلَا يُغْنِى عَنكَ شَيْـًٔا ﴿٤٢﴾ يَٰٓأَبَتِ إِنِّى قَدْ جَآءَنِى مِنَ ٱلْعِلْمِ مَا لَمْ يَأْتِكَ فَٱتَّبِعْنِىٓ أَهْدِكَ صِرَٰطًا سَوِيًّا ﴿٤٣﴾ يَٰٓأَبَتِ لَا تَعْبُدِ ٱلشَّيْطَٰنَ ۖ إِنَّ ٱلشَّيْطَٰنَ كَانَ لِلرَّحْمَٰنِ عَصِيًّا ﴿٤٤﴾ يَٰٓأَبَتِ إِنِّىٓ أَخَافُ أَن يَمَسَّكَ عَذَابٌ مِّنَ ٱلرَّحْمَٰنِ فَتَكُونَ لِلشَّيْطَٰنِ وَلِيًّا ﴿٤٥﴾ قَالَ أَرَاغِبٌ أَنتَ عَنْ ءَالِهَتِى يَٰٓإِبْرَٰهِيمُ ۖ لَئِن لَّمْ تَنتَهِ لَأَرْجُمَنَّكَ ۖ وَٱهْجُرْنِى مَلِيًّا ﴿٤٦﴾ قَالَ سَلَٰمٌ عَلَيْكَ ۖ سَأَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّىٓ ۖ إِنَّهُۥ كَانَ بِى حَفِيًّا ﴿٤٧﴾ وَأَعْتَزِلُكُمْ وَمَا تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَأَدْعُوا۟ رَبِّى عَسَىٰٓ أَلَّآ أَكُونَ بِدُعَآءِ رَبِّى شَقِيًّا ﴿٤٨﴾ فَلَمَّا ٱعْتَزَلَهُمْ وَمَا يَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَهَبْنَا لَهُۥٓ إِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ ۖ وَكُلًّا جَعَلْنَا نَبِيًّا ﴿٤٩﴾ وَوَهَبْنَا لَهُم مِّن رَّحْمَتِنَا وَجَعَلْنَا لَهُمْ لِسَانَ صِدْقٍ عَلِيًّا ﴿٥٠﴾ ﴾

[٤١] او (ای پیغمبره!) په کتاب (قرآن کریم) کښې (خپل امت ته) ابراهیم ؑ یاد کړه. یقیناً ابراهیم ؑ د ډېر رښتینی پیغمبر وه.

[٤٢] هغه وخت چې خپل پلار (آزر) ته یې وویلې چې: ای زما پلاره! ته ولې د هغه شي عبادت کوې چې نه اوریدل کوي او نه لیدل کوي او (بالآخره) نه ستا څخه د څه شي (د ضرر) مخنیوی کولی شي؟.

[٤٣] ای زما پلاره! یقیناً ماته د علم (او پوهې) څخه هغه شی راغلی دی کوم چې تاته نه دی درغلی. نو ته زما پیروي وکړه چې سمه (برابره) لاره درته وښایم.

(١) صحیح البخاري ج٢ ص٩٧٢

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۴۴] ای زما پلاره! د شیطان عبادت مه کوه (د ده په اشاره بوت پرستي مه کوه) يقيناً چې شيطان د ډېر مهربان الله ﷻ دپاره نافرمانه (عصيان كوونكى) دى.

[۴۵] ای زما پلاره! یقیناً زه (په تاباندې) ډارېږم چې د ډېر مهربان الله ﷻ د پلوه به تاته (د عصیان د دوام په صورت کښې) عذاب ورسېږي، نو ته به د شیطان دپاره دوست (او ملګرى) وګرځې (او په دوزخ کښې به ورسره انډيوال جوړ شې).

[۴۶] (د ابراهيم ﷺ پلار خپل زوى مخاطب کړ او ورته یې) وویلې چې: ایا ته زما د معبودانو څخه رغبت كوونكى (څنګ کوونکی) یې؟ ای ابراهیمه!

هرومرو که چرته ته (د همدغه کار څخه) منعه نه شې نو خامخا ضرور به دې زه رجم (سنګسار) کړم. (نو د دې کار څخه لاس واخله) او اوږده موده (باقي عمر) زما څخه جدا شه.

[۴۷] (ابراهيم ﷺ خپل پلار ته جواب ورکړ او ورته یې) وویلې چې: په تا باندې دې (زما د پلوه) سلام وي (زه درڅخه رخصت شوم).

ژر دی چې د خپل رب ﷻ څخه به تاته مغفرت وغواړم (دا مې وعده ده).

بې شکه زما رب ﷻ په ماباندې ډېر مهربان دی (د هجرت په وطن کښې به د ژوند سامان راته برابر کړي).

[۴۸] زه ستاسو څخه او د هغو بوتانو څخه د کومو چې تاسو د الله ﷻ څخه پرته بلنه کوئ په څنګېږم (هجرت کوم)، او د خپل رب ﷻ بلنه کوم (او همدلته به ورته دعوت چلوم).

زه (خپل رب ﷻ ته) امید کوم چې زه به د خپل رب ﷻ په دعوت (او عبادت) کښې بدبخت ونه ګرځم (چې هیڅوک مې دعوت قبول نه کړي او هیڅ پیرو مونده نه کړم).

[۴۹] نو کله چې (ابراهیم ﷺ) د دوی (خپل پلار او قوم) او د هغو بوتانو څخه ډډه وکړه (او ترې په څنګ شو) د کومو چې دوی د الله ﷻ څخه په غیر بلنه (او عبادت) کاوه، نو مونږ ورته اسحق ﷺ (زوی) او یعقوب ﷺ (لمسی) ورووبښل، او هر یو مو پیغمبر وګرځاوه.

[۵۰] او دوی ټولو ته مو د خپل رحمت څخه (ډېر مالي او ديني منافع) ورووبښل، او (هم) مو دوی ته په اوچته درجه رښتینی یادښت وګرځاوه (ورکړ چې ټول په نېک نامه يادېږي).

## ارتباطونه

۱ـ په وړاندېنیو ایتونو کښې د اهل الکتابو د باطلې عقیدې بیان وه چې د الله ﷻ د یوه مخلص بنده (عیسی ﷺ) په هکله ځینو افراط کاوه چې په معبودیت باندې ورته قائل وه او ځینو تفریط کاوه چې د ده په ماجدې مور باندې یې تهمت لګاوه.

په دې ایتونو کښې د مشرکانو باطله عقیده رده شوې ده چې کفر یې د هغوی څخه زیات څرګند دی چې بې روحه جماداتو ته په الوهیت باندې قائل دي.

۲ـ هلته د اهل الکتابو د عقیدې رد د عیسی ﷺ د خولې څخه حکایت شوی وه چې: ﴿ وَإِنَّ ٱللَّهَ

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴾ او يقيناً الله ﷻ زما رب دی او ستاسو رب هم دی نو د همده ﷻ عبادت وکړئ (زما عبادت مه کوئ) دغه برابره لاره ده.

او دلته د مشرکانو د عقيدې رد د هغوی د نيکه (ابراهيم ؑ) د خولې څخه حکايت کېږي چې د خپل پلار سره يې په همدې هکله مناظره کړې وه.

## د مطلب خلاصه

يعنې ای پيغمبره! د خپل وخت په مشرکانو باندې په احاديثو کښې نه بلکې په قرآن کريم کښې د ابراهيم ؑ حال بيان کړه چې د شرک په رد کښې يې څومره هلې ځلې کړې دي، او دا خکه چې نوموړی جليل القدر ډېر رښتينی پيغمبر وه چې د ده اولاده ورباندې افتخار کوي؛ کېدی شي چې مشرکان د شرک څخه لاس واخلي. هلې ځلې يې دا دي چې:

۱ـ ابراهيم ؑ لکه څنګه چې خپل قوم ته د توحيد د عقيدې دعوت ورکاوه همدارنګه يې د خپل پلار په دعوت کښې هم ډېر زيات تاند وهلی دی لکه چې لاندې سوال جواب ورباندې ډېر ښه دلالت کوي:

۲ـ نوموړي جليل القدر پيغمبر خپل پلار مخاطب کړ چې:

الف: ای پلاره! ته ولې د هغه جماد عبادت کوې کوم چې نه ستا خبره اورې او نه دې لېدلی شي (نه غوږونه لري او نه سترګې) او بالآخره نه ستا څخه د څه ضرر مخنيوی کولی شي؟ تاته په دې ډول عبادت کښې څه ګټه ده؟

ب: ای پلاره! د ذکر شوي بې ګټې عبادت وجه دا ده چې تا خپل رب ﷻ نه دی پېژاندلی او د خپل رب ﷻ په توحيد باندې علم نه لرې.

نو په دې هکله ماته د خپل رب ﷻ د پلوه علم راکړی شوی دی او د همده ﷻ د پلوه پيغمبر ګرځولی شوی يم، نو د خپل جهالت څخه راتاو شه او زما پيروي وکړه چې سمه لاره دروښايم، او د پلار ولی حق دې پوره کړم چې د دوزخ د اوره نجات مونده کړې.

ج: ای پلاره! د کوم شي په عبادت باندې چې ته مشغول يې هغه په حقيقت کښې د شيطان عبادت دی چې شيطان دې همدغې لارې ته هڅوي.

او شيطان خو بل څوک نه دی بلکې هغه څوک دی چې د ډېر مهربان الله ﷻ د ارشاداتو نافرماني او عصيان کوي، نو هر چا چې د دغه عاصي او سرکشه پيروي وکړه هغه به هم د عاصيانو او ناشکرانو څخه جوړ شي، نو د الله ﷻ د مهربانيو شکريه وکړه (بې شماره نعمتونه يې مه د پښو لاندې کوه) او په توحيد ورته قائل شه.

هـ: ای پلاره! که ته په همدغې شرکي عقيدې باندې پاتې شي نو زه ډارېږم چې د ډېر مهربان الله ﷻ د پلوه به درته عذاب ورسېږي او دوزخ ته به واچولی شي نو په دائمي توګه به د شيطان ملګری او دوست وګرځې، حال دا چې دا څومره سادګي ده چې څوک د ډېر مهربان الله ﷻ دوستي د

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شيطان په دوستۍ باندې عوض کړي؟!.

په دې باندې علاوه، که ته په همدغې شرکي عقيدې باندې پاتې شې او د څه مشکل سره مخامخ شې نو زه ډارېږم چې د الله ﷻ په عوض به د شيطان څخه مدد وغواړې او کفر به دې لا پسې قوي او کلک شي.

۳_ ای پیغمبره! د ابراهيم ﷺ پلار د خپل زوی د دعوت په مقابل کښې لاندې غبرګون وښود:

الف: د هر څه څخه وړاندې يې د هغه څخه په تعجب سره پوښتنه وکړه چې:

ايا ته زما د الهانو (معبودانو) څخه مخ اړوونکی يې؟ او لا غواړې چې زه هم ترې خپل مخ واړوم او ستا په قدم باندې لاړ شم؟ دا کار به هيڅکله صورت ونه شي نيولی.

ب: زه تاته اخطار درکوم چې که ته د خپل ذکر شوي دعوت اوکړنلارې څخه لاس وانخلې نو زه به دې ضرور په توهينوونکي مرګ سره ووژنم چې په کاڼو به دې رجم کړم.

ته زما زوی يې مګر د خپلو معبودانو د عزت ساتنې په هکله زه ستا زوی توب د پښو لاندې کوم.

نو ای ابراهيمه! په خپل ځان باندې رحم وکړه او په لوی لاس خپل ځان په مصيبت باندې مه اخته کوه، او د مرګ د ورځې پورې زما سره متارکه وکړه (بيا راته ذکر شوی دعوت مه تکراروه).

۴_ کله چې ابراهيم ﷺ د خپل پلار اخطار او سپورې ستغې خبرې واورېدلې نو په لاندې ډول باندې يې خپل دعوت ته اختتام ورکړ چې:

الف: ای زما پلاره! زما د پلوه په تاباندې سلامتيا ده چې د نن څخه وروسته به تاته د توحيد دعوت نه درکوم، چې د ګټې په عوض ترې شر جوړېږي.

ب: خو د خپل رب ﷻ څخه به تاته مغفرت وغواړم، يقيناً زما رب ﷻ په ما باندې ډېر مهربان دی نو اميد دی چې زما سوال قبول کړي او تاته مغفرت وکړي.

ج: ای پلاره! د نن څخه هغې خوا زما تګلاره دا ده چې زه به ستاسو څخه او د هغو بوتانو څخه چې تاسو يې عبادت کوئ او خپل احتياجات ترې غواړئ ډډه وکړم او کوم بل وطن ته به هجرت وکړم او دا ځکه چې تاسو زما د دعوت مخه بنده کړه او د رجم کولو اخطار مو راکړ.

د: د نن څخه هغې خوا به زه د خپل رب ﷻ عبادت کوم او ستاسو څخه پرته نور خلک به د هجرت په وطن کښې خاص د همده ﷻ عبادت ته دعوتوم.

هـ: زه خپل رب ﷻ ته اميد کوم چې د هجرت په وطن کښې به داسې خلک راپيدا کړي چې زما دعوت ته لبيک ووايي او قبول يې کړي، او دا ځکه چې زه د خپل رب ﷻ په دعوت کښې بدبخت نه يم چې هيڅوک مې دعوت قبول نه کړي.

۵_ ای پيغمبره! کله چې ابراهيم ﷺ خپل قصد عملي کړ او د مشرکانو او د دوی د معبودانو قرب (نژدېکت) يې پرېښود او هجرت يې وکړ نو لاندې ځال چلند مو ورسره وکړ:

الف: که د ابراهيم ﷺ پلار د توحيد دعوت قبول نه کړ نو ابراهيم ﷺ ته مو داسې اولاده ورکړه چې هغوی د همده په قدم باندې روان وه مثلاً هغه ته مو يو زوی ورو بښه چې اسحق ﷺ نومېده او

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د همدغه زوی څخه مو هغه ته یو لمسی هم ورو بانه چې یعقوب ﷺ نومېده، او دغه دواړه هر یو مو پیغمبر ګرځولی وه چې د ابراهیم ﷺ د نبوت مېنه سپېره (بې پیغمبره) پاتې نه شوه.

ب: او مونږ دوی ټولو (ابراهیم، اسحق، یعقوب علیهم السلام) ته د خپل لوی رحمت څخه ډېر څه ورکړي وه چې د بندګانو په نزد د شمار او انحصار لاندې نه شي واقع کېدلی.

ج: خو په دې ټولو باندې د پاسه هغوی ته مو په وروستنیو خلکو کښې آن د قیامت تر ورځې پورې د صداقت او رښتینولی لوړې درجې ورکړې چې هر وخت یې په نېکیو باندې ستاینې او د الله ﷻ څخه ورته صلات او سلام غواړي.

## توضیحات

١ـ که څه هم ابراهیم ﷺ خپل قوم ته عمومًا او د وخت متکبر پاچا ته خصوصًا په پوره متانت سره دعوت ورکړی وه، لکه چې څه بیان یې په [البقرة:٢٥٨] ایت کښې تېر شوي دي او په [الزخرف:٢٦] ایت کښې راروان دي؛ مګر په دې مقام کښې د اهل الکتابو د ذکر څخه وروسته الله ﷻ د ابراهیم ﷺ د هغه دعوت په ذکر باندې اکتفاء کړې ده کوم یې چې فقط پلار ته متوجه وه، او دا څکه چې:

الف: ترڅو مشرکانو ته هغه لاپې وربه یادې کړې په کومو باندې چې دوی د نبي کریم ﷺ د بعثت څخه وړاندې مشغول وه، الله ﷻ د دوی د خولو څخه حکایت کوي چې: ﴿ وَأَقْسَمُوا۟ بِٱللَّهِ جَهْدَ أَيْمَـٰنِهِمْ لَئِن جَآءَهُمْ نَذِيرٌ لَّيَكُونُنَّ أَهْدَىٰ مِنْ إِحْدَى ٱلْأُمَمِ ﴾ [فاطر: ٤٢] یعني: او مشرکانو به په الله ﷻ باندې کلک سوګندونه خوړل چې که چرته دوی ته د اهل الکتابو غوندې کوم وېرونکی (پیغمبر) ورغلی وی نو هرومرو به دوی د تېرو شوو قومونو د هر یوه څخه ښه هدایت موندونکي جوړ شوي وی.

نو دوی په غوږ باندې ووهل شوه چې په خپلو وعدو او سوګندونو باندې ودرېږئ او د اهل الکتابو څخه اقلاً خپل ځانونه مه ټیټوئ چې هغوی د ژوندي (عیسی ﷺ) عبادت ته اقدام کړی وه او تاسو جمادات معبودان ګرځولي دي چې نه پکښې روح شته او نه حس او حرکت.

ب: مشرکانو به د شرکي عقیدې سره‌سره خپل ځانونه په ابراهیمي دین باندې ګڼل چې همدا دین مونږ ته د ابراهیم ﷺ (خپل پلار) څخه راپاتې دی او په همدې باندې یې راته توصیه کړې ده، نو دوی پوه کړی شوه چې ابراهیم ﷺ د توحید په دعوت کښې لا په خپل پلار باندې صرفه نه ده کړې نو د اولادونو په شرکیاتو باندې به یې څنګه توصیه کړې وي!؟.

ج: لکه چې د دې سورت په سریزه کښې اشاره شوې ده چې دا سورت په هغه وخت کښې نازل شوی وه کله چې په مکه معظمه کښې مسلمانان د مشرکانو د لاسه په تنګ شوه او د حبشې په لور هجرت کولو ته مجبور کړی شوه، نو د ذکرو شوو ایتونو په نزول سره مسلمانانو ته ډاډ ورکړی شو چې په پوره اطمنان سره هجرت وکړي لکه څنګه چې ابراهیم ﷺ هجرت کړی وه او په دواړو دنیاوو کښې یې درجې لوړې شوې دي، همدارنګه به دوی ته هم هجرت ګټور واقع شي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## يادونه

٢ـ په ﴿ إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ يَٰٓأَبَتِ ﴾ كښې د ﴿ يَٰٓأَبَتِ ﴾ كلمه د [يوسف:۴] ايت لاندې په صرفي تحليل سره شرحه شوې ده ـ والحمد لله ﷻ ـ چې بيا تحليلولو ته يې اړتيا نه ګورو.

## مَلِيًّا څه معنی؟

٣ـ په ﴿ وَٱهۡجُرۡنِى مَلِيًّا ﴾ كښې "مَلِيّ" كلمه د "مَلَاوَةٌ" ـ لكه "شَرَافَةٌ" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، چې د اوږدوالي معنى وركوي(١). لاندې وضاحت ولولئ:

الف: نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِنَّ اللهَ لَيُمْلِي لِلظَّالِمِ حَتَّى إِذَا أَخَذَهُ لَمْ يُفْلِتْهُ»(٢) يقيناً الله ﷻ ظالم ته مهلت وركوي (د اوږد وخت دپاره يې پرېږدي) آن تر هغه وخته پورې چې كله يې ونيسي نو بيا يې نه خوشې كوي (چې د اعتذار وخت يې تېر شوى وي).

ب: شپې او ورځې ته "مَلَوَانِ" وايي چې د "مَلَا" ـ لكه "رَضَا" ـ مثنى ده(٣)، چې د دنيا د پيدايښت څخه تر قيامته پورې اوږده زمانه شپه او ورځ يو بل تعقيبوي.

نو په دې مقام كښې يې د معنى حاصل داسې راځي چې: اى ابراهيمه! ما اوږده زمانه پرېږده او د نن څخه هغې خوا ټول عمر ماته ذكر شوى دعوت مه راكوه.

## د متاركې سلام

٣ـ په ﴿ سَلَٰمٌ عَلَيۡكَ ﴾ كښې هغه سلام مطلب نه دى كوم چې يو مسلمان يې په بل مسلمان باندې اچوي بلكې د متاركې (پرېښودلو) سلام مطلب دى، ته به وايې چې په دغه سلام سره سړى خپل مخاطب پوه كوي چې تا خو زه وزورولم مګر زما د پلوه تاته زورول نشته، زه به تاته ستغې سپورې خبرې ونه كړم، د خداى په امان درڅخه لاړم.

همدغه مضمون ته الله ﷻ اشاره كوي چې: ﴿ وَإِذَا خَاطَبَهُمُ ٱلۡجَٰهِلُونَ قَالُواْ سَلَٰمًا ﴾ [الفرقان:٦٣] يعنې د مؤمنانو يو خاصيت دا دى چې كله ورته جاهلان ستغې سپورې خبرې وكړي نو دوى بالمثل جواب نه وركوي بلكې د پرېښودلو سلام ورباندې اچوي، او خپل حلم او حوصله نه خرابوي.

## يادونې

۴ـ په دې مقام كښې محترمو لوستونكو ته لاندې دوه څېړنې وړيه زړه كوو:

الف: دا موضوع چې ايا كافر ته د مغفرت غوښتل جواز لري او كه څنګه؟ او د ابراهيم ﷺ د مغفرت غوښتنه (البته خپل پلار ته) په كوم ملحوظ باندې ولاړه وه؟ د [التوبة:١١۴] ايت لاندې د الله ﷻ په توفيق پوره څېړلې شوې ده، چې بيا څېړلو ته يې اړتيا نه ګورو.

---

(١) مفردات الراغب ص۴٩۴
(٢) صحيح البخاري ج٢ ص٦٧٨
(٣) لسان العرب ج١۵ ص٢٩١

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: همدارنګه په ﴿ إِنَّهُۥ كَانَ بِي حَفِيًّا ﴾ کښې د "حَفِيّ" د کلمې صرفي تحلیل د [الأعراف:١٨٧] ایت لاندې تېر شوي، ولله الحمد والمنة.

## اعتزال څه معنی؟

۵ـ په ﴿ وَأَعْتَزِلُكُمْ ﴾، ﴿ فَلَمَّا ٱعْتَزَلَهُمْ ﴾ کښې د "أَعْتَزِلُ" او "اعْتَزَلَ" دواړه کلمې د "اِعْتِزَال" څخه اشتقاقي شوي دي، چې د جداکېدلو او په څنګېدلو معنی ورکوي[1]، په دې مقام کښې د "اِعْتِزَال" څخه هجرت مراد دی چې ابراهیم ﷺ د عراق څخه شام ته هجرت وکړ[2] او د کفارو د لاسه یې د وطن پرېښودلو ډېره کېښودله.

د ابراهیم ﷺ د هجرت مفصله قیصه ـ إنشاء الله ﷻ ـ د [الأنبیاء:٧١] ایت لاندې راروانه ده.

## لسان څه معنی؟

۶ـ په ﴿ وَجَعَلْنَا لَهُمْ لِسَانَ صِدْقٍ عَلِيًّا ﴾ کښې د ﴿ لِسَانَ ﴾ کلمه د ژبې دپاره وضعه شوې ده مګر د نېک یادښت دپاره هم استعمالېږي چې په دې مقام کښې همدغه معنی مراده ده. دا د یو پلوه، او د بله پلوه ذکره شوې کلمه خپل صفت ﴿ صِدْقٍ ﴾ ته مضافه شوې ده. نو د معنی حاصل یې داسې راځېږي چې مونږ ابراهیم ﷺ او د ده اولادې ته په وروستنیو خلکو کښې نېک یادښت ورکړی دی چې په نېکۍ سره یې یادوي او دغه یادښت ډېر اوچت او لوړ دی چې ټولو خلکو ته شامل دی.

ذکر شوي ایت شریف مونږ ته خبر راکړ چې د ابراهیم ﷺ هغه سوال قبول شوی دی کوم چې الله ﷻ د همده ﷺ د خولې څخه راحکایت کړی دی چې: ﴿ وَٱجْعَل لِّي لِسَانَ صِدْقٍ فِي ٱلْآخِرِينَ ﴾ [الشعراء:٨٤] یعنې ای زما ربه! ماته په وروستنیو خلکو کښې رښتینی یادښت راکړه چې ټول مې په ښو اوصافو یادوي او دعاوې راته کوي.

نو ځکه پرې مونږ ټول مسلمانان په لمونځونو کښې درود استوو چې: «اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ».

﴿ وَٱذْكُرْ فِي ٱلْكِتَٰبِ مُوسَىٰٓ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ مُخْلَصًا وَكَانَ رَسُولًا نَّبِيًّا ﴿٥١﴾ وَنَٰدَيْنَٰهُ مِن جَانِبِ ٱلطُّورِ ٱلْأَيْمَنِ وَقَرَّبْنَٰهُ نَجِيًّا ﴿٥٢﴾ وَوَهَبْنَا لَهُۥ مِن رَّحْمَتِنَآ أَخَاهُ هَٰرُونَ نَبِيًّا ﴿٥٣﴾ وَٱذْكُرْ فِي ٱلْكِتَٰبِ إِسْمَٰعِيلَ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ صَادِقَ ٱلْوَعْدِ وَكَانَ رَسُولًا نَّبِيًّا ﴿٥٤﴾ وَكَانَ يَأْمُرُ أَهْلَهُۥ بِٱلصَّلَوٰةِ وَٱلزَّكَوٰةِ وَكَانَ عِندَ رَبِّهِۦ مَرْضِيًّا ﴿٥٥﴾ ﴾

---

(١) لسان العرب ج١١ ص٤٤٠

(٢) تفسیر ابن کثیر ج٣ ص١٢٣؛ تفسیر البغوي ج٣ ص١٩٨

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[٥١] او په قرآن کريم کښې موسی ﷺ ياد کړه، يقيناً موسی ﷺ (د الله ﷻ د پلوه په امتحانونو باندې) سوچه کړی شوی وه او (هم) لېږلی شوی پيغمبر وه.

[٥٢] او مونږ ورته د طور غره د ښی څنډې څخه اواز وکړ او د مناجات کوونکي په حيث (حال) مو (خپل خان ته په بلا کيفه توګه) رانژدې کړه.

[٥٣] او د خپل رحمت د کبله مو ورته د هغه ورور (هارون ﷺ) د يوه پيغمبر په حيث وبانبه.

[٥٤] او (ای پيغمبره!) په کتاب (قرآن کريم) کښې (خپل امت ته) اسماعيل ﷺ هم ياد کړه چې: يقيناً نوموړی په وعده کښې رښتينی وه او (هم د الله ﷻ د پلوه) لېږلی شوی پيغمبر وه.

[٥٥] او (هم) وه اسماعيل ﷺ چې خپل اهل (خپلې کورنی) ته به يې په لمانځه او زکات باندې امر کاوه، او وه اسماعيل ﷺ د خپل رب ﷻ په نزد غوره کړی شوی (خپل رب ﷻ ترې راضي وه).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ايتونو کښې د ابراهيم ﷺ د زوزات څخه د اسحق ﷺ او يعقوب ﷺ په ذکر باندې علاوه د څو نورو پيغمبرانو عليهم السلام نومونه هم ذکر شوي دي چې حاصل يې داسې راځېژي:

١ـ ای پيغمبره! په قرآن کريم کښې د موسی ﷺ ذکر په لنډه توګه وکړه هغه دا چې:

الف: يقيناً موسی ﷺ زمونږ د پلوه د شرک او رياکارۍ څخه سوچه کړی شوی وه او پاک ترې ساتلی شوی وه، او هم مو په ډېرو امتحانونو باندې د استعداد د کمزورۍ څخه بچ ساتلی وه.

ب: همدارنګه موسی ﷺ زمونږ د پلوه خلکو ته لېږلی شوی وه چې خپل رسالت يې په ډېره ښه طريقه باندې انجام کړ او زمونږ شرائع يې په اکمله توګه خلکو ته ورسول، او خلک يې پرې خبر کړه.

ج: د موسی ﷺ د رسالت او لېږلو شروع داسې وشوه چې: مونږ ورته د طور غره د هغې څنډې څخه په بلا کيفه ډول باندې اواز وکړ کومه څنډه چې د موسی ﷺ ښي پلو ته واقع وه.

د: خپل اقدس ذات ته مو په بلا کيفه توګه په داسې حال کښې نژدې کړه چې نوموړی زمونږ سره راز کوونکی وه.

هـ: کله چې موسی ﷺ مونږ ته د خپل ورور (هارون ﷺ) د نبوت سوال وکړ نو د ده سوال مو قبول کړه او ده ته مو د ده ورور د خپل بې پايانه رحمت او مهربانۍ څخه د يوه پيغمبر په صفت وبانبه، او په دعوت کښې مو ورته د وزير په حيث منظور کړ.

٢ـ همدارنګه په دې کتاب کښې د ابراهيم ﷺ د يوه بل زوی (اسماعيل ﷺ) ذکر هم وکړه کوم چې د بني اسرائيلو پلار نه بلکې د مکې معظمې د اوسېدونکو پلار دی، نوموړي دا صفات درلوده:

الف: اسماعيل ﷺ په خپله وعده کښې ډېر رښتينی وه او په خپل عهد باندې ډېر کلک وه.

ب: اسماعيل ﷺ هم د موسی ﷺ غوندې د خپل رب ﷻ د پلوه لېږلی شوی وه چې خپل رسالت يې په ډېره ښه توګه انجام کړ او شريعت يې خلکو ته ورساوه.

ج: اسماعيل ﷺ به ټولو خلکو ته عموماً او خپل اهل ته خصوصاً په لمانځه او زکات باندې امر

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کاوه او بدني او مالي عبادت ته به يې متوجه کول.

د: نوموړی جليل القدر پيغمبر د خپل رب ﷻ په نزد غوره کړی شوی وه او خپل رب ﷻ ترې راضي وه، نو اولادې ته يې هم په کار دي چې د همده ﷺ په اخلاقو باندې خپل ځانونه متخلق (اموخته) کړي او په شرکي عقيدې سره خپل رب ﷻ ناراض نه کړي.

## توضيحات

۱ـ د ﴿ إِنَّهُۥ كَانَ مُخْلَصًا ﴾ کښې د "مُخلص" کلمه د "اِخلاص" څخه اشتقاقه شوې ده چې د سوچه ګرځولو معنی ورکوي. که څه هم په دې مقام کښې يې خينو مفسرينو کرامو د معنی حاصل داسې اخستی دی چې يقيناً موسی ﷺ مونږ د شرک او رياکارۍ څخه سوچه ګرځولی وه او پاک مو ترې ساتلی وه[۱]. مګر مونږ ته بهتره برېښي چې معنی به يې داسې وي چې مونږ موسی ﷺ د ډېرو امتحانونو څخه تېر کړ او د استعداد د کمزورۍ څخه مو سوچه خلاص کړ چې په نيتجه کښې د نبوت د ورکړې دپاره ښه مستعد شو.

همدې مضمون ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ وَفَتَنَّٰكَ فُتُونًا ﴾ [طه: ۴۰] يعنې: ای موسی! ته مونږ د ډېرو تودو او سړو څخه تېر کړې او په امتحان کښې مو واچولې امتحان کښې اچول، لکه د فرعون په کور کښې غتېدل، د قبطي وژل او داسې نور.

## د رسول او نبي څه فرق دی؟

۲ـ په ﴿ وَكَانَ رَسُولًا نَّبِيًّا ﴾ کښې موسی ﷺ په دوه وو لقبونو باندې ياد شوی دی، همدارنګه اسماعيل ﷺ ته هم ذکر شوي دواړه لقبونه ورکړی شوي دي، حال دا چې هارون ﷺ يوازې د نبي په نامه باندې ياد شوی چې: ﴿ أَخَاهُ هَٰرُونَ نَبِيًّا ﴾.

نو په دې هکله چې ذکر شوي دواړه لقبونه سره څه فرق لري او که نه، علماء کرام په لاندې ګروپونو باندې ويشلی شوي دي[۲]:

الف: خينې وايي چې رسول او نبي صرف په مفهوم کښې فرق لري چې د يوه مفهوم لېږلی شوی دی، او د بل مفهوم خبر ورکوونکی دی که د "نَبَأ" ـ لکه "شَرَف" ـ څخه کړی شي، او يا د لوړې درجې درلودونکی دی که د نبوة څخه مشتق وګڼل شي چې د لوړوالي معنی ورکوي[۳]؛ اما په مصداق کښې دواړه سره مساوي او برابر دي.

ب: رسول هغه څوک دی چې د الله ﷻ د پلوه رالېږلی شوی وي او وحې ورته کېږي، او نبي هغه څوک دی چې نه رالېږلی شوی وي او نه ورته وحې کېږي بلکې د الهام خاوند وي او په خوب کښې په خينو احکامو باندې پوهولی کېږي.

---

(۱) تفسير ابي السعود ج۵ ص۲۶۹
(۲) التفسير الكبير ج۲۳ ص۴۸؛ المحرر الوجيز ج۱۱ ص۳۷؛ تفسير المظهري ج۶ ص۳۳۷
(۳) روح المعاني ج۱۶ ص۱۰۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: خو ډېره قوي خبره دا ده چې نبي د رسول څخه عام دی، هرڅوک چې رسول وي نو هغه به نبي هم وي، خو هر نبي رسول نه دی.

پاتې شوه دا خبره چې هغه کوم قيد دی چې رسول ته يې د نبي څخه تخصيص ورکړی دی؟، نو په هغه قيد کښې علماوو کرامو متعدد اقوال کړي دي لاندې مثالونه يې ولولئ:

اول: په رسول کښې د مجدد (نوي) کتاب درلودل ضرور دی او په نبي کښې دا قيد نشته.

دوهم: د رسول شريعت بايد د وړاندېني شريعت ناسخ وي او نبي دغه قيد ته ضرورت نه لري.

درېيم: رسول بايد مستقل امت ولري او په نبي کښې د مستقل امت درلودل ضروري نه دي، لکه چې د بني اسرائيلو پيغمبرانو به په تورات باندې دعوت کاوه او د يوه امت (د موسی ﷺ د امت) ارشاد يې په غاړو باندې اخستی وه.

څلورم: په رسول کښې په ښکاره ډول سره د وحې دپاره د پرښتې ورتلل ضرور دي او په نبي کښې يې ضرورت نشته.

## تبصره

۳_ مونږ ته داسې برېښي چې د نبي د عموميت دپاره به علماوو کرامو هر يوه يو-يو مثال ښودلی وي او حصر به يې مطلب نه وي. نو په دې صورت کښې به يې حاصل داسې را وخېژي چې رسول هغه څوک دی چې څه امتيازي وصف ولري لکه نوی کتاب او ناسخ شريعت، مستقل امت او په ډاکه وحې، د الله ﷻ سره مناجات او يا معراج ته ختل او داسې نور، او نبي هغه څوک دی چې د امتيازي صفت خاوند وي او که نه وي. د مثال په توګه يوشع ﷺ نبي دی او رسول نه دی چې په کوم امتيازي صفت باندې نه دی مشهور شوی خو د موسی ﷺ سره د خضر ﷺ په علمي سفر کښې ملګری وه، اما اسماعيل ﷺ برسېره په نبوت رسول هم دی چې په "صادق الوعد" باندې شهرت لري چې يو امتيازي صفت دی، که څه هم کتاب ورباندې نه دی نازل شوی.

## يادونه

۴_ د ﴿ وَقَرَّبْنَٰهُ نَجِيًّا ﴾ د جملې پوره شرحه او تفسير په "طه، القصص" او نورو سورتونو کښې راروان دی _إن شاء الله ﷻ_ همته به يکښې څه ولیکو.

## سوال جواب

۵_ که څوک وايي چې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په روايت هارون ﷺ د موسی ﷺ څخه مشر وه[1] حال دا چې د ﴿ وَوَهَبْنَا لَهُۥ ﴾ الآية څخه بالعکس څرګندېږي چې هارون ﷺ بايد کشر وي او موسی ﷺ ته هبه کړی شوی وي؟

مونږ وايو: که څه هم هارون ﷺ د عمر په لحاظ سره مشر وه خو د نبوت په اعتبار سره کشر وه،

[1] الدر المنثور ج۵ ص۵۱۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



څکه کله چې موسی ﷺ د نبوت په درجه باندې سرلوړی شو نو الله ﷻ ته یې سوال وکړ چې: ﴿ وَٱجۡعَل لِّي وَزِيرٗا مِّنۡ أَهۡلِي ﴾ [طه: ۲۹] یعنې ای ربه! ماته د خپلوانو څخه یو کس د کومکي په حیث وټاکه چې زما ورور هارون ﷺ د دغه کار دپاره ښه مناسب دی. نو الله ﷻ یې دغه سوال قبول کړ او هارون ﷺ یې د یوه پیغمبر په حیث ور وبانښه.

## د صادق الوعد مثالونه

۶_ په ﴿ إِنَّهُۥ كَانَ صَادِقَ ٱلۡوَعۡدِ ﴾ کښې د اسماعیل ﷺ د مناقبو څخه دا هم ده چې نوموړی په خپله وعده باندې ډېر کلک او رښتینی وه. لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: اسماعیل ﷺ (چې د حجاز د عربو ټولو پلار دی) په خپله وعده باندې په وفا کولو سره زیات مشهور وه نو د خپل رب ﷻ سره یې د یوه عبادت وعده نه ده کړې مگر هغه نذر یې پوره کړی دی[۱].

ب: یوه ورځې یې د یوه سړي سره وعده وکړه چې فلاني ځای ته ورشي، نو اسماعیل ﷺ هغه ځای ته ورغی او سړي خپله وعده هېره کړې وه نو آن د سبا پورې ورته هلته ناست وه، کله چې سبا ته سړی ورغی نو لاندې سوال جواب یې ورسره وکړ:

سړی: ته د همدې ځای څخه نه یې ښوربدلی (د پرونه راهیسې همدلته ناست یې)؟

اسماعیل ﷺ: هو زه همدلته تاته ناست یم.

سړی: ما خپله وعده هېره کړې وه، خکه وروسته شوم.

اسماعیل ﷺ: "لَمْ أَكُنْ لِأَبْرَحَ حَتَّى تَأْتِيَ"[۲] زه به همدلته ناست وی ترڅو چې راته ته راغلی وی (که څه هم ډېرې ورځې او شپې تېرې شوې وی).

ج: همدارنگه اسماعیل ﷺ په خپلې هغې وعدې باندې کلک ودرېد چې خپل پلار ته یې د ذبحې دپاره ورکړې وه، چې: ﴿ يَٰٓأَبَتِ ٱفۡعَلۡ مَا تُؤۡمَرُۖ سَتَجِدُنِيٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴾ [الصافات: ۱۰۲] یعنې ای پلاره! هغه څه وکړه چې تاته وربادې امر کېږي، ژر دی چې که د الله ﷻ اراده وي نو ما به د صبر کوونکو څخه مونده کړې.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۷_ که څوک وایي چې د نبي کریم ﷺ څخه خو هیڅ پیغمبر په خپله وعده باندې کلک نه وه، حتی یوه ورځې یې د یوه سړي سره د بعثت څخه وړاندې وعده کړې وه او آن تر درېیو ورځو پورې ورته د وعدې په ځای کښې ناست وه ترڅو چې د وعدې خاوند ورته ورغی[۳]. نو پوښتنه دا ده چې په څه منظور د صادق الوعد لقب اسماعیل ﷺ ته ورکړی شوی دی؟

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۱۲۵
(۲) تفسیر الطبري ج۱٦ ص۹۵
(۳) السنن الکبری للبیهقي ج۱۰ ص۱۹۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو: د پیغمبرانو لقبونه احترازي نه دي چې د یوه لقب د بل څخه د سلبولو معنی ورکړي، بلکې هر یو پیغمبر په هغه لقب سره یادېږي په کوم باندې چې په خلکو کښې شهرت لري او یا یې مقام د لقب د ذکر مقتضی وي، لکه چې دلته اسماعیل ﷺ په ﴿ صَادِقَ ٱلْوَعْدِ ﴾ لقب باندې ځکه ذکر شوی دی ترڅو قریش په غوږ باندې ووهلی شي چې ستاسو نیکه په خپله وعده باندې ډېر کلک وه نو تاسو هم په خپلې هغې وعدې باندې کلک ودرېږئ او ایمان راوړئ کومه چې تاسو د نبي کریم ﷺ د بعثت څخه وړاندې کړې وه، لکه چې د همدې سورت د [۴۱] ایت په لومړنی توضیح کښې یې تفصیل تېر شوی دی، والحمد لله ﷻ.

﴿ وَٱذْكُرْ فِى ٱلْكِتَٰبِ إِدْرِيسَ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ صِدِّيقًا نَّبِيًّا ﴿٥٦﴾ وَرَفَعْنَٰهُ مَكَانًا عَلِيًّا ﴿٥٧﴾ ﴾

[۵۶] او (ای پیغمبره!) په کتاب (قرآن کریم) کښې ادریس ﷺ یاد کړه، یقیناً چې نوموړی ډېر رښتینی پیغمبر وه.

[۵۷] او (همدارنګه) مونږ ادریس ﷺ لوړ ځای ته اوچت کړی وه.

## ارتباط او توضیحات

۱ـ وړاندې د سورت د سر څخه د هغو پیغمبرانو ذکر وشو کوم چې د ابراهیم ﷺ د زوزات څخه وه، چې ځینې د اسحق ﷺ او ځینې د اسماعیل ﷺ په سلسله هغه ته ور رسېږي، خو په دې ایتونو کښې د هغه پیغمبر ذکر ته اشاره شوې ده چې د ابراهیم ﷺ څخه لا څه چې آن د نوح ﷺ څخه هم وړاندې تېر شوی دی. ترڅو خلک په غوږ ووهلی شي چې د ټولو پیغمبرانو د شریعتونو اصول متحد دي او ټولو کفري او شرکي عقېدې ته په کرکه کتلي دي، نو د دوی په منځکښې هیڅ اختلاف نشته او یوه د بل تائید کړی دی، مګر اختلاف یې پیروانو کړی دی. په همدې مطلب باندې راتلونکي ایتونه صراحت کوي.

## لوړ مکان د کوم ځای څخه عبارت دی؟

۲ـ په ﴿ وَرَفَعْنَٰهُ مَكَانًا عَلِيًّا ﴾ کښې د ﴿ مَكَانًا عَلِيًّا ﴾ کلمات علماوو کرامو په لاندې دوه ډولونو باندې تفسیر کړي دي:

الف: دا کلمات د معنوي لوړوالي او منزلت څخه عبارت دی[۱]، یعنې مونږ ادریس ﷺ ډېرې لوړې درجې او د قرب مقام ته خېژولی وه چې نبوت مو ورکړی وه او مونږ ترې راضي وو.

ب: لوړ مکان د اسمانونو څخه عبارت دی[۲]، یعنې لکه څنګه چې الله ﷻ عیسی ﷺ اسمانونو ته ژوندی پورته کړی دی همدارنګه یې ادریس ﷺ هم هملته ژوندی خېژولی دی.

پاتې شوه دا خبره چې په څه وجه او په کومه طریقه باندې هلته وخېژولی شو؟، نو په دې کښې

(۱) روح المعاني ج۱۶ ص۱۰۵
(۲) المحرر الوجیز ج۱۱ ص۳۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مفسرينو كرامو تقريبًا دري اوږدې قيصې ليكلې دي[١] چې يوه هم په كوم اعتباري سند باندې ولاړه نه ده[٢] كه څوک يې د لوستلو شوق لري همدلته دې مراجعه وكړي.

## تبصره

٣ـ د امام البخاري رحمه الله د بيان د طرز څخه څرګندېږي چې د ﴿ مَكَانًا عَلِيًّا ﴾ دپاره يې دوهم تفسير غوره كړی دی او دا څكه چې:

الف: عنوان يې داسې ايښی دی: بَاب ذِكْرِ إِدْرِيسَ عليه السلام وَقَوْلِ اللهِ تَعَالَى: ﴿ وَرَفَعْنَٰهُ مَكَانًا عَلِيًّا ﴾.

ب: بيا يې د معراج اوږد حديث روايت كړی دی او ويلي يې دي چې: «أَنَّهُ وَجَدَ فِي السَّمَوَاتِ إِدْرِيسَ»[٣] يعنې نبي كريم ﷺ په اسمانونو كښې د ادريس عليه السلام او نورو پيغمبرانو عليهم السلام سره ملاقات وكړ او هلته يې مونده كړ.

او په بل حديث كښې يې د نبي كريم ﷺ څخه روايت كړی دی چې: «فَأَتَيْنَا السَّمَاءَ الرَّابِعَةَ... فَأَتَيْتُ عَلَى إِدْرِيسَ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ»[٤] يعنې مونږ (نبي كريم ﷺ او جبرائيل عليه السلام) څلورم اسمان ته لاړو نو هلته زه ادريس عليه السلام ته ورغلم او سلام مې ورباندې واچاوه.

نو كه څه هم ذكر شوي دواړه تفسيرونه سره څه منافات نه لري، كه دواړه اراده كړی شي هم څه باک يې نشته، مګر مونږ ته همدغه دوهم تفسير (چې امام البخاري غوره كړی دی) غوره برېښي، والله أعلم بحقيقة الحال وإليه المرجع والمآل.

## د ادريس عليه السلام څو اوليات

٤ـ ادريس عليه السلام چې د نوح عليه السلام څخه تقريبًا يو زر كاله وړاندې تېر شوی دی[٥] په لاندې اولياتو باندې شهرت لري[٦]:

الف: ادريس عليه السلام لومړی سړی دی چې په قلم باندې يې خط كړی دی.

ب: ادريس عليه السلام لومړی خياط دی چې جامې يې ګنډلې دي، د ده عليه السلام څخه وړاندې به خلكو د حيواناتو د پوستكو څخه استفاده كوله.

ج: ادريس عليه السلام د ادم عليه السلام څخه وروسته لومړی پيغمبر دی چې دېرش صحيفې هم ورباندې نازلې شوې وې.

د: ادريس عليه السلام لومړی سړی دی چې تول او پيمانې ته يې رواج وركړی دی، او د مقاديرو واحدونه يې ايجاد كړي دي.

---

(١) زاد المسير ج٥ ص١٦٨؛ الدر المنثور ج٥ ص٥١٩؛ تفسير القرطبي ج١١ ص١١٨
(٢) تفسير ابن كثير ج٣ ص١٢٦
(٣) صحيح البخاري ج١ ص٤٧٠
(٤) صحيح البخاري ج١ ص٤٥٥
(٥) روح المعاني ج١٦ ص١٠٥
(٦) تفسير البغوي ج٣ ص١٩٩؛ البحر المحيط ج٧ ص٢٧٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ه: ادریس ﵇ لومړی سړی دی چې وسله یې جوړه کړې ده (هر ډول وسله چې وه).
و: ادریس ﵇ لومړی سړی دی چې وسلوال جهاد یې کړی دی، البته د قابیل د اولادې سره.

﴿أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ مِن ذُرِّيَّةِ ءَادَمَ وَمِمَّنۡ حَمَلۡنَا مَعَ نُوحٖ وَمِن
ذُرِّيَّةِ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡرَٰٓءِيلَ وَمِمَّنۡ هَدَيۡنَا وَٱجۡتَبَيۡنَآۚ إِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُ ٱلرَّحۡمَٰنِ خَرُّواْۤ
سُجَّدٗاۤ وَبُكِيّٗا ۩ (٥٨) ۞ فَخَلَفَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ خَلۡفٌ أَضَاعُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَٱتَّبَعُواْ ٱلشَّهَوَٰتِۖ فَسَوۡفَ
يَلۡقَوۡنَ غَيًّا (٥٩) إِلَّا مَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا فَأُوْلَٰٓئِكَ يَدۡخُلُونَ ٱلۡجَنَّةَ وَلَا يُظۡلَمُونَ
شَيۡـٔٗا (٦٠) جَنَّٰتِ عَدۡنٍ ٱلَّتِي وَعَدَ ٱلرَّحۡمَٰنُ عِبَادَهُۥ بِٱلۡغَيۡبِۚ إِنَّهُۥ كَانَ وَعۡدُهُۥ مَأۡتِيّٗا (٦١)
لَّا يَسۡمَعُونَ فِيهَا لَغۡوًا إِلَّا سَلَٰمٗاۖ وَلَهُمۡ رِزۡقُهُمۡ فِيهَا بُكۡرَةٗ وَعَشِيّٗا (٦٢) تِلۡكَ ٱلۡجَنَّةُ ٱلَّتِي
نُورِثُ مِنۡ عِبَادِنَا مَن كَانَ تَقِيّٗا (٦٣)﴾

[۵۸] (ای پیغمبره!) دغه (ذکر شوي کسان او امثال یې) هغه کسان دي چې الله ﷻ ورباندې (په نبوت او نورو فضائلو سره) انعام کړی دی، چې د پیغمبرانو څخه عبارت دي، (دوی ځینې) د آدم ﵇ د اولادې څخه دي (چې په منځکښې یې بل پیغمبر نه دی تېر شوی لکه ادریس ﵇)، او (ځینې) د هغو کسانو (د اولادې) څخه دي کوم چې مونږ د نوح ﵇ سره (په بېړۍ کښې) اوچت کړي وه، او (ځینې) د ابراهیم ﵇ او یعقوب ﵇ د اولادونو (زوزات) څخه دي، او (همدارنګه ذکر شوي کسان او امثال یې) د هغو کسانو څخه عبارت دي کومو ته چې مونږ هدایت کړی وه او (کوم چې) مونږ غوره کړي وه.

(زمونږ د هدایت او غوره کولو اثار دا وه) چې کله به ورباندې د ډېر مهربان الله ﷻ ایتونه ولوستلی شو نو دوی به سجده کوونکي او ژړېدونکي په ځمکه باندې ولوېده (او تواضع به یې څرګنده کړه).

[۵۹] نو د دوی څخه وروسته بدو خلیفګانو خلافت وکړه چې لمونځ یې ضائع کړه (ترې منکر شوه) او د خواهشاتو (لذتونو) پیروي یې وکړه، نو ډېر ژر دی چې دوی به د خپلې فاسدې عقیدې (د جزا) سره ملاقي (مخامخ) شي.

[۶۰] مګر هغه څوک (به ورسره مخامخ نه شي) چې ایمان یې راوړی وي (فاسده عقیده یې پرېښې وي)، او صالح عمل یې کړی وي نو دغه کسان به (جنس) جنت (جنتونو) ته داخل شي چې هیڅ ظلم (او تېری) به ورباندې (د ثواب په کمبود سره) ونه کړی شي.

[۶۱] (الله ﷻ په جنتونو سره) د دائمي اوسېدانې هغه جنتونه (مرادوي) چې ډېر مهربان الله ﷻ

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خپلو بندګانو ته په غیبو سره وعده کړې دی.

یقیناً شان دا دی چې د الله ﷻ وعده راوستلې شوې ده (تحقق یې یقیني دی).

[۶۲] جنتیان به په جنتونو کښې عبثې خبرې نه اورې مګر سلام (به اورې)، او (هم) دوی لره به هلته خپله (مقرره) روزي سبا او بېګا (د دوام په توګه) وي (ورکوله کېږي).

[۶۳] دغه جنت (جنتونه) هغه دی کوم چې مونږ یې د خپلو بندګانو څخه هغه چاته وړیا ورکوو چې پرهېزګار وي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې په هغه مضمون باندې صراحت شوی دی کوم ته چې په وړاندېنیو ایتونو کښې اشاره شوې وه، هغه دا چې الله ﷻ د خپل رحمت او فضل په اثر وخت په وخت پیغمبران را لېږلي دي ترڅو بنیادمان توحید او د دواړو دنیاوو ښېګڼو ته رهبري کړي، نو حاصل یې داسې راځېږي:

۱ـ ای پیغمبره! ذکر شوي مخلص بندګان ـچې د مثال په توګه د ځینو نومونه اخستلي شوي دي ـ هغه کسان دي چې الله ﷻ وربانديې د بنیادمانو د رهبرۍ دپاره انعام کړی دی او په نبوت سره یې سرلوړي کړي دي، دوی ټول په مجموعي توګه په یوه زمانه کښې نه دي استولي شوي بلکې د انسانانو د اړتیا او احتیاج په بنیاد یوه زمانه هم تېرې بالکل خالي نه ده تېره شوې مثلاً:

الف: ترڅو پورې چې آدم ﵇ ژوندی وه نو خپل اولادونه یې د بې لمانځۍ او شهوت پرستۍ څخه منعه کول. خو د هغه د وفات څخه وروسته یې په زوزات کښې فجائعو وده وکړه، او د مخنیوي کوونکي لېږلو ته خلک محتاج شول نو:

ب: الله ﷻ د ذکر شوي مطلب د پوره کولو دپاره ادریس ﵇ واستاوه، چې په خپل وخت کښې یې بشریت ته مادي او معنوي ګټې ورسولې، حتی ځینو ربنتینو امتیانو هم ورسره پکښې برخې واخستې.

ج: بیا د ادریس ﵇ د وفات څخه وروسته په ورو ورو جنایاتو وده وکړه او حتی بوت پرستي رواج شوه، چې الله ﷻ فضل وکړ او نوح ﵇ یې د ذکر شوي مطلب دپاره مبعوث کړ چې آن تر نهه نیم سوه کاله پورې یې د فجائعو مخنیوی وکړ، چې په نتیجه کښې مونږ کفار هلاک کړه او یوازې هغه لږ مسلمانان مو ژوندي پرېښودل کومو ته چې مونږ نجات ورکړ او د نوح ﵇ سره مو په بېړۍ کښې پورته کړه.

د: کله چې خمکه وچه شوه او په بېړۍ کښې اوچت کړی شوي خلک مو پکښې پلي کړه نو د یو څه وخته پورې په سمه لاره باندې روان وه، خو کله چې نوح ﵇ وفات شو بیا پکښې بې دینۍ وده وکړه نو وار په وار مونږ دېر پیغمبران د هغې د مخنیوي دپاره واستول، حتی چې د ابراهیم ﵇ (بوت شکن) د مبعوثیت وخت هم ورسېد.

هـ: د ابراهیم ﵇ په ژوند کښې مو د ده په ځینو اولادونو باندې انعام وکړ او هم مو د ده د زوزات

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



څخه په ښېنو کسانو باندې انعام وکړ او د اسماعیل ﷺ او اسحق ﷺ څوندې جلیل القدر پیغمبران مو پکښې مبعوث کړه.

و: بیا مو د اسحق زوی (یعقوب ﷺ) د فجائعو د مخنیوي دپاره ولېږه چې د ده په زوزات کښې مو هم په زښتو ډېرو پیغمبرانو (لکه موسی ﷺ، هارون ﷺ، عیسی ﷺ، یوسف ﷺ، او په داسې نورو) باندې د جنایتکارانو مخنیوی وکړ او هم مو ورسره په همدې کار کښې مخلص امتیان ملګري کړه.

ز: لنډه دا چې د بشریت د ارشاد او لارښوونې دپاره مو ډېر کسان وخت په وخت غوره کړه او د دعوت او نبوت په لاره مو روان کړه.

نو داسې هیڅ وخت نه دی تېر شوی چې بنیادمان مونږ بې هدایته پرېښې وي، بلکې په هر وخت کښې به یو لارښود او یا ډېر لارښودونکي موجود وه او یا به د هغوی اثار باقي وه چې د هدایت دپاره به یې کفایت کاوه.

۲ـ ای پیغمبره! پیغمبرانو او مخلصو امتیانو لکه څنګه چې د خلکو په هدایت کښې په ژبه باندې زیار ویسته همدارنګه هغوی په عمل سره هم دعوت ته ادامه ورکوله، حتی چې کله به ورباندې د مهربان الله ﷻ ایتونه تلاوت کړی شوه نو زړونه به یې نرم شوه او په سجدو باندې به پرېوتل او د مبارکو سترګو څخه به یې د اوښکو رودونه روان شوه.

۳ـ نو د پیغمبرانو د وفات څخه وروسته موقع په موقع او وار په وار بدو خلیفګانو خلافت وکړ او خپلې تګلارې یې په لاندې ډول بدلې کړې چې:

الف: لمونځونه یې ضائع کړه او څنګه چې ورباندې لازم کړی شوي وه هغسې یې ونه ساتل، حتی چې په پای کښې یې د لمانځه د فرضیت څخه انکار خپل کړ.

ب: شهوت پرستي یې غوره کړه او د شیطان پیروی ته یې ملاوې وتړلې.

۴ـ ای پیغمبره! د ذکرو شوو مفسدانو د اصلاح دپاره مونږ وخت په وخت مصلحان ور استولي دي چې د قیامت په ورځ اعتذار نه شي وړاندې کولی، نو ژر ده چې دوی به د لاندې برخلیک سره مخامخ شي:

الف: د خپلو بدو عقائدو او بدو اعمالو نتیجه به ضرور وګوري او د تېښتې لاره به مونده نه کړی شي.

ب: صرف هغه کسان به د نجات لاره مونده کړي کومو چې د خپلې بدې کړنلارې څخه توبه ویستلې وي او نېک اعمال یې ورسره ملګري کړي، یا په بل عبارت: چې عقیدةً او عملاً یې خپل ځان اصلاح کړی وي.

ج: نو دغه ډول کسان به جنت ته داخل شي او په هیڅ ډول تېری او ظلم به ورباندې ونه کړی شي چې یا په بښلو شوو جنایاتو ونیولی شي او یا د نېکو اعمالو اجرونه ورته پوره نه کړی شي. او دا څکه چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: کوم جنت ته چې دوی به ورداخل شي هغه د دوی د همېشه اوسېدانې ځای دی چې د ورکړې څخه وروسته ترې هېڅوک نه وېستلی کېږي.

هـ: په دې باندې علاوه د ذکر شوي جنت وعده د ډېر مهربان الله ﷻ خپلو بندګانو ته په غیبانه توګه ورکړې ده او پوره څرګنده ده چې مهربان الله ﷻ به هېڅکله په خپله وعده کښې بې وفايي ونه کړي، نو په کار دي چې د ده ﷻ وعده داسې وګڼله شي لکه چې سمدستي راغلې وي او پوره کړی شوې وي.

۵ـ ای پیغمبره! وعده کړی شوی جنت لاندې صفات لري:

الف: جنتیان به پکښې نه سپکې سپورې خبرې او نه عبثې ویناوې اوري.

ب: مګر یو به په بل سلامونه اچوي او پرښتې به هم ورته د سلامونو تحفې وړاندې کوي او بالآخره د الله ﷻ د پلوه به هم ورباندې سلامونه استول کېږي.

ج: دوی ته به هلته سبا او بېګا بلکې د دوام په توګه خوندوره روزي مقرره وي چې هېڅکله به انقطاع او پرېکون نه لري.

۶ـ ای پیغمبره! دغه ذکر شوی جنت هغه جنت دی کوم چې مونږ یې د خپلو بندګانو څخه متقیانو ته وړیا ورکوو او صرف د خپل فضل او مهربانۍ سره یې پکښې ورداخلوو، که نه نو هېڅوک به د نېکیو د عوضیت په اعتبار سره وردننه نه شي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ خَرُّواْ سُجَّدًا وَبُكِيًّا ۩ ﴾ کښې لاندې صرفي تحلیلونه ولولئ:

الف: د ﴿ سُجَّدًا ﴾ کلمه د "سَاجِد" جمعه ده لکه څنګه چې "نُصَّر" د "نَاصِر" جمعه ده.

ب: ﴿ بُكِيًّا ﴾ کلمه په اصل کښې "بُكُوْيٌ" وه چې د "بَاكِيٌ" جمعه ده لکه څنګه چې "نُصُوْرٌ" د "نَاصِرٌ" جمعه ده، نو د "و" توری په "ي" باندې د بدلون څخه وروسته د "ي" په توري کښې مدغم شو او د "ک" د توري پېښ د "ي" له خاطره په زېر بدل شو نو هغه کلمه ترې جوړه شوه کومه چې په ایت شریف کښې لوستله کېږي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه ذکرې شوې دواړه کلمې د ﴿ خَرُّوا ﴾ د ضمیر څخه حالونه واقع شوي دي، یعنې کله به چې په پیغمبرانو باندې د خپل وخت د الهي کتاب ایتونه لوستل کېدل نو دوی به د تواضع او شکرېې په توګه سجدې کولې او د زړونو د رقت او نرمښت د کبله به یې د مبارکو سترګو څخه اوښکې بهېدلې.

د هغوی حالات کټ مټ د آخر الزمان (محمد ﷺ) حال ته ورته وه چې په لاندې حدیث کښې انځور شوي دي: عبد الله بن مسعود ؓ وايي چې یوه ورځې ما د نبي کریم ﷺ په امر په هغه باندې د سورت النساء څو ایتونه ولوستل چې د بسوالې اشاره یې راته وکړه، نو چې ما ورته وکتل: «فَإِذَا عَيْنَاهُ تَذْرِفَانِ»[١] نو ګورم چې د نبي کریم ﷺ مبارکې دواړه سترګې بهېدلې.

(١) صحیح البخاري ج٢ ص٧٥٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د تلاوت د سجدې پنځم ایت

۲ـ په ذکر شوي ایت شریف کښې د تلاوت د څوارلسو سجدو څخه پنځمه سجده ده، چې څه ناڅه اړونده احکام يې د [الأعراف: ۲۰۶] ایت لاندې تېر شوي دي والحمد لله ﷻ، په دې مقام کښې وړباندې لاندې مطالب وراضافه کوو:

الف: په کومو ایتونو کښې چې په مونږ باندې د تلاوت سجدې واجبېږي هغه په لاندې ډولونو باندې وېشلی شوي دي:

اول: يو ډول هغه دی چې په مونږ باندې پکښې په صراحت سره امر نازل شوی وي، لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَٱسْجُدْ وَٱقْتَرِب ۩ ﴾ [العلق: ۱۹] يعنې ای پيغمبره! خپل رب ﷻ ته سجده وکړه او په عبادت سره ورنژدې شه، همدارنګه دې ستا امت هم سجدې وکړي او په عبادت سره دې ورنژدې شي.

دوهم: بل ډول هغه دی چې په ایت شریف کښې د سجده کوونکو کسانو مدحه شوې وي چې مونږ پکښې په غوږ باندې وهلی شوي یاستو چې تاسو د همدغو کسانو څخه خپل ځانونه شمېر کړئ، لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ إِنَّمَا يُؤْمِنُ بِـَٔايَٰتِنَا ٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُواْ بِهَا خَرُّواْ سُجَّدًا ﴾ [السجدة: ۱۵] يعنې يقينًا زمونږ په ایتونو باندې هغه کسان ايمان راوړي کومو ته چې زمونږ په ایتونو باندې پند ورکړی شي (او وړباندې تلاوت کړی شي) نو د سجدې په حال کښې په ځمکه باندې لوېږي.

دريم: چې په ایت شریف کښې د متکبرانو او سرکشانو د حال تقبيح شوې وي، ته به وايې چې مونږ ته د کنايې په توګه امر شوی وي چې تاسو د دغه خوی څخه اجتناب وکړئ او خپله تواضع په سجدو سره څرګنده کړئ، لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَإِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ ٱلْقُرْءَانُ لَا يَسْجُدُونَ ۩ ﴾ [الإنشقاق: ۲۱] يعنې کفار هغسې خلک دي کله چې وړباندې قرآن کريم قرائت کړی شي نو دوی سجدې نه کوي او تکبر غوره کوي.

څلورم: چې ایت شریف د پرښتو يا نورو مخلوقاتو او بالآخره يا د پيغمبرانو او صالحانو د سجدو په بيان او حکايت باندې مشتمل وي، چې مونږ ته پکښې اشارةً ارشاد راکول کېږي چې تاسو د همدغو سجده کوونکو سره توافق وکړئ او خپل رب ﷻ ته خپل سرونه په سجدو سره په ځمکه باندې کېږدئ.

ب: دغه د سجدې ايت چې بحث پکښې روان دی د همدغه څلورم ډول څخه ګڼلی کېږي. خو څرنګه چې همدغه ايت شريف د ژړا په بيان باندې هم مشتمل دی او ژړا اختياري شی نه دی بلکې په قلبي رقت پورې اړه لري، نو دلته بهتره سجده هغه ده د کومې سره چې ژړا هم ملګرې شي، او که نه نو وجوب يوازې په سجده باندې اداء کېږي.

د همدې کبله کله چې عمر الفاروق ﷺ د ذکر شوي ايت په قرائت سره سجده وکړه نو ويې فرمايل چې: «هذا السُّجُوْدُ فَأَيْنَ الْبُكى»[1] يعنې دا خو سجده شوه نو ژړا کومه ده؟

(۱) تفسير ابن کثير ج۳ ص۱۲۷؛ تفسير الطبري ج۱۶ ص۹۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



څه لرې نه ده چې نبي کریم ﷺ په ښکاره فرمایلي وي چې: «اُبْكُوا فَإِنْ لَمْ تَبْكُوا فَتَبَاكَوْا»[۱] یعنې ای مؤمنانو! تاسو د الله ﷻ له ډاره وژاړئ او که نه ژاړئ (ژړا نه درځي) نو په تکلف سره خپل ځانونه ژړغوني کړئ (داسې وضعه غوره کړئ لکه د ژړېدونکو کسانو).

## د لمانځه ضائع کول څه معنی؟

۳ـ په ﴿ فَخَلَفَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ خَلۡفٌ أَضَاعُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَٱتَّبَعُواْ ٱلشَّهَوَٰتِ ﴾ کښې د ﴿ أَضَاعُوا ﴾ کلمه د "إضاعَة" ـ لکه "إقالَة" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د خورولو (شندلو) معنی ورکوي، خو په دې مقام کښې یې مفسرین کرام په لاندې دوه وو ډولونو باندې تفسیروي:

الف: د لمانځه شندل او ضائع کول د دې څخه عبارت دي چې په مشروع ترتیب سره یې اداء نه کړي، چې نه یې د فروضو او واجباتو مراعات وکړي او نه یې د اوقاتو لحاظ وساتي[۲]. یعنې د پیغمبرانو څخه وروسته بد خلیفګان پاتې شوه چې خپل لمونځونه یې شیت په شیت کړه او د شهوانیاتو پیروي یې وکړه.

ب: د لمانځه ضائع کول د انکار په معنی دی[۳]، یعنې هغوی د لمانځه د فرضیت څخه انکار وکړ او وربانديې کافر شوه.

## تبصره

۴ـ که څه هم د لاندې وجوهو د کبله په دې مقام کښې دوهم تفسیر غوره بریښي چې:

الف: په ﴿ فَسَوۡفَ يَلۡقَوۡنَ غَيًّا ﴾ کښې د "غَيّ" کلمه دلالت کوي چې دلته د "إضاعة الصلاة" څخه انکار مطلب دی، ځکه چې دغه کلمه هغه جهل ته وضعه شوې ده کوم چې د فاسدې عقیدې څخه منشأ نیولې وي[۴]، یعنې د لمانځه ضائع کوونکي او د شهوت پیروان به ډېر ژر د خپل فاسد اعتقاد (انکار) د بدو عواقبو او عذابونو سره ملاقي شي.

ب: په ﴿ إِلَّا مَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا ﴾ کښې د ﴿ وَءَامَنَ ﴾ د کلمې څخه بریښي چې دلته د ضائع کوونکو څخه منکران مطلب دي، که نه نو د دغې کلمې نزول ته به اړتیا نه وي، یعنې هغه کسان به د عذابونو څخه بچ وي چې توبه تائب شوي وي او ایمان یې راوړی وي.

مګر مونږ ته بهتره ښکاري چې په دې مقام کښې به ذکر شوي دواړه تفسیرونه مراد دي، نو حاصل به یې داسې راوخېژي چې: بدو خلیفګانو په اوله وهله کښې خپل لمونځونه د ارکانو او حقوقو د حیثه ضائع کړه او د وخت په تېرېدلو سره یې ترې انکار هم وکړ او خپل ځانونه یې پرې سوچه کافران وګرځول.

---

(۱) سنن ابن ماجه ص۳۰۹

(۲) تفسیر القرطبي ج۱۱ ص۱۲۲

(۳) تفسیر الطبري ج۱۶ ص۹۹

(۴) مفردات الراغب ص۳۸۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۵_ که څوک وايي چې: په ﴿ وَلَهُمْ رِزْقُهُمْ فِيهَا بُكْرَةً وَعَشِيًّا ﴾ کښې د ﴿ بُكْرَةً وَعَشِيًّا ﴾ دواړو کلمو څخه څرګندېږي چې په جنت کښې شپه او ورځ شته ځکه چې "بُكْرَة" سبا ته وايي او "عَشِي" د ماښام معنی ورکوي، حال دا چې هلته د لمر طلوع او غروب نشته چې د سبا او ماښام سبب جوړېږي؟

مونږ وايو چې: ذکرې شوې دواړه کلمې د دوام څخه کنایه دي[1] او په کنایاتو کښې د "موضوع له" معنی د تحقق امکان ضرور نه دی، د همدې کبله هغه سخي سړي ته هم د طویل الید (اوږد لاسي) لقب ورکول کېدلی شي کوم چې بالکل لاس ونه لري. د مثال په توګه چې کوم افغان سخي مجاهد وي او دواړه لاسونه یې په جهاد کښې د منځه تللي وي، هغه ته هم د اوږد لاسي لقب ورکولی کېږي.

﴿ وَمَا نَتَنَزَّلُ إِلَّا بِأَمْرِ رَبِّكَ لَهُۥ مَا بَيْنَ أَيْدِينَا وَمَا خَلْفَنَا وَمَا بَيْنَ ذَٰلِكَ وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا ﴿٦٤﴾ رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا فَٱعْبُدْهُ وَٱصْطَبِرْ لِعِبَٰدَتِهِۦ هَلْ تَعْلَمُ لَهُۥ سَمِيًّا ﴿٦٥﴾ ﴾

[۶۴] او (جبرائیل ﷺ ووېلې چې: ای پیغمبره!) مونږ (په وقفه وقفه باندې) نه رانښکته کېږو مګر ستا د رب ﷻ په امر سره (زمونږ خپل واک نه دی)، خاص ستا رب ﷻ ته هغه څه دي چې زمونږ په وړاندې دي (او د قیامت څخه پیل کېږي) او هغه څه هم کوم چې زمونږ شاته دي (زمونږ څخه ببرته پاتې شوي دي) او (بالآخره) هغه شیان هم (همده ﷻ پورې مختص دي) کوم چې په دغه منځکښې دي (او د اوس څخه تر قیامته پورې په صورت ونیسي). او (ای پیغمبره!) ستا رب ﷻ هېروونکی نه دی (چې ته به یې هېر کړی وې لکه چې کفار خیال کوي).

[۶۵] (دا ځکه چې همدی ﷻ) د اسمانونو او ځمکو او د هغو شیانو رب دی کوم چې د دغو دواړو په منځکښې دي، نو ته د همده ﷻ عبادت کوه (ادامه ورکړه) او د همده ﷻ عبادت ته کلک (او صابر) اوسه (او دا ځکه چې) ایا ته خپل رب ﷻ ته په مثل (او نظیر) باندې علم لرې؟ (که بالفرض المحال مثل او نظیر یې درلودی نو د هرچا څخه وړاندې به تاته ښه معلوم وی).

## ارتباط او شان نزول

په وړاندېنیو ایتونو کښې د هغې وحې تدریج ته اشاره شوې ده کومې به چې د پیغمبر ګرځولو دپاره صورت نیوه، او دلته د هغې وحې تدریج ته اشاره کېږي کومې چې آخر الزمان پیغمبر (محمد ﷺ) ته د درویشتو کلونو په اوږدو کښې صورت نیولی وه.

اما د شان نزول په هکله یې علماوو کرامو ډېر روایتونه ذکر کړي دي[2] چې مونږ یوازې د لاندې روایتونو په لیکلو باندې اکتفاء کوو:

---

(۱) تفسیر ابي السعود ج۵ ص۲۷۳ ؛ اضواء البیان ج۴ ص۳۶۶

(۲) زاد المسیر ج۵ ص۱۷۳ ؛ اسباب النزول للواحدي ص۲۰۲ ؛ تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۱۳۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: یوه ورځې نبي کریم ﷺ جبرائیل ؑ ته وویلې چې: «أَلَا تَزُورُنَا أَكْثَرَ مِمَّا تَزُورُنَا» یعنې ای جبرائیله! ته ولې زمونږ زیارت (ملاقات) ته د هغه څخه زیات نه راځې کوم چې اوس راته راځې؟ یا ته ولې څه وخت ټال شوې؟ چې ستا ملاقات ته زمونږ زیات شوق او رغبت دی. «فَنَزَلَتْ ﴿وَمَا نَتَنَزَّلُ إِلَّا بِأَمْرِ رَبِّكَ﴾ الآيَةَ»[1] نو ذکر شوي ایتونه نازل شوه.

ب: ځینو علماوو کرامو دغو ایتونو ته د هغو درېوو پوښتنو پورې ارتباط ورکړی دی کومې چې د مشرکانو د پلوه نبي کریم ﷺ ته د امتحان په توګه راجع کړې شوې وې چې اصحاب الکهف څوک دي او روح څه شی دی او ذو القرنین څوک وه، چې پوره شرحه یې د [الإسراء:٨٥] ایت لاندې تېره شوې ده. نو د څه وخت ټال څخه وروسته چې جبرائیل ؑ نازل شو نو نبي کریم ﷺ مخاطب کړ چې ستا ملاقات ته زما ډېر شوق وه خو ته ټال شوې، هغه ؑ جواب ورکړ چې: «إِنِّي كُنْتُ أَشْوَقَ وَلَكِنِّي عَبْدٌ مَأْمُورٌ»[2] یعنې زه هم ستا ملاقات ته په شوق کښې وم خو زه په خپل اختیار ښکته پورته نه شم کېدلی. لکه چې همدې مضمون ته په ایت شریف کښې اشاره شوې ده نو حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! تاته جبرائیل امین ؑ تسلي درکوي او د نورو پرښتو په نمایندګۍ درته وایي چې:

١ـ ای د الله ﷻ پیغمبره! تاته زمونږ راښکته کېدل زمونږ په خوښه او اختیار کښې نه دي، که نه نو مونږ به ستا ملاقات ته ډېر زیات راښکته کېدلی، او دا څکه څنګه چې ته زمونږ د ملاقات شوقمند یې همدارنګه مونږ هم ستا ملاقات ته ډېر زیات په شوق کښې یاستو بلکې په تدریج او دمه دمه سره زمونږ راښکته کېدل فقط ستا د رب ﷻ په امر سره صورت نیسي، هرکله چې مونږ د نزول امر ترلاسه کړو نو سمدستي راښکته کېږو او بس.

٢ـ ای د الله ﷻ پیغمبره! زمونږ په هر څه باندې ستا رب ﷻ کامل علم لري او د همده ﷻ د کامل قدرت لاندې دي، زمونږ وړاندې او ښېرته او هم د دغو دواړو ترمنځ دا ټول د همده ﷻ ملکیت دی، مونږ پرته د ده ﷻ د اجازې څخه د یوې ذرې په اندازه هم حرکت نه شو کولی.

٣ـ په دې باندې علاوه ستا رب ﷻ هېرونکی هم نه دی چې ته به یې هېر کړی وې او پرېښی به یې وې لکه چې مشرکان پروپاګند کوي، بلکې د ده ﷻ ټول کارونه او ارشادات د حکمتونو په بنیاد باندې څرخېږي. دا څکه چې:

٤ـ ستا رب ﷻ د اسمانونو او ځمکو او بلکې د هغو شیانو رب دی کوم چې د دواړو په منځ او داخل کښې واقع دی، نو لکه څنګه چې دغه ټول موجودات ترې نه هېرېږي او د ټولو اړتیاوې پوره کوي نو ته به ترې څنګه هېر شې او ستا اړتیاوې به څنګه پوره نه کړي.

٥ـ ای د الله ﷻ پیغمبره! ستا ټول کره وړه د ده ﷻ د څارنې لاندې دي نو ته هیڅ تشویش مه کوه

---

(١) صحیح البخاري ج١ ص٤٥٧، مسند احمد بن حنبل ج١ ص٥٠٢

(٢) تفسیر البغوي ج٣ ص٢٠٢

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او صرف د همده ﷻ عبادت کوه او د همده ﷻ په عبادت باندې کلک اوسېږه او د مشرکانو په چټیاتو باندې مه غمژن کېږه.

٦ـ ایا ستا د خپل رب ﷻ په مثل باندې څه علم شته؟ نو لکه څنګه چې وړباندې ستا علم نشته همدارنګه وړباندې مونږ هم علم نه لرو. او دا ځکه چې اصلاً الله ﷻ هیڅ مثل او سیال نه لري.

## توضیحات

١ـ د ﴿لَهُۥ مَا بَيْنَ أَيْدِينَا وَمَا خَلْفَنَا وَمَا بَيْنَ ذَٰلِكَ﴾ په تفسیر کښې علماوو کرامو زښت ډېر تفسیرونه کړي دي[١] چې ایت شریف د ټولو تحمل کولی شي، مګر مونږ د شیخ المفسرین (العلامه الطبري) د تفسیر په ذکر باندې اکتفاء کوو هغه دا چې[٢]:

الف: د ﴿مَا بَيْنَ أَيْدِينَا﴾ کلمات د اُخروي اُمورو څخه عبارت دي چې زمونږ په وړاندې دي راروان دي.

ب: د ﴿وَمَا خَلْفَنَا﴾ کلمات د هغو امورو څخه عبارت دي کوم چې زمونږ څخه وروسته پاتې شوي دي او مونږ ترې راتېر شوي یاستو.

ج: د ﴿وَمَا بَيْنَ ذَٰلِكَ﴾ کلمات د هغو امورو او کارونو څخه عبارت دي کوم چې د سمدستي حال څخه نیولې آن د قیامت تر قیامه پورې صورت نیسي.

نو د معنی حاصل به یې داسې راوخېژي چې: خاص د الله ﷻ د علم او قدرت د احاطې لاندې هغه شیان دي کوم چې راتلونکي دي او د قیامت د قیام څخه پیل کېږي، او هغه شیان هم کوم چې د نن ورځې پورې پخوا تېر شوي دي او بالآخره هغه شیان هم کوم چې د نن څخه شروع او د قیامت تر قیامه پورې تحقق مومي.

٢ـ په ﴿هَلْ تَعْلَمُ لَهُۥ سَمِيًّا﴾ کښې د "سَمِيّ" کلمه د همدې سورت د [٧] ایت لاندې ښه شرحه شوې ده چې په دوه وو معناوو باندې استعمالېږي، یوه معنی یې همنامي ده او بله یې مثل او نظیر ده. په دې مقام کښې دواړه معناوې[٣] په لاندې تفصیل سره صحت لري:

الف: که د همنامي په معنی باندې واخستله شي نو حاصل به یې داسې راوخېژي چې:

اول: ای پیغمبره! ایا ته بل څوک پېژنې چې د اسمانو او ځمکو او د دغو دواړو د مابین رب وي؟

دوهم: ایا د الله ﷻ څخه پرته بل څوک شته چې زمونږ په وړاندې او ډېرته بلکې زمونږ په ټولو حالاتو باندې یې علماً او قدرةً احاطه کړې دي؟

دریم: ایا ته د "الله" په نامه باندې په بل چا علم لرې؟ که څه هم مشرکانو خپل بوتان د آلهه وو په نامه یادول چې د "إله" جمعه ده مګر هیچا خپل بوت د "الله" په نامه نه دی یاد کړی.

---

(١) روح المعاني ج١٦ ص١١٤؛ تفسیر القرطبي ج١١ ص١٢٩
(٢) تفسیر الطبري ج١٦ ص١٠٥
(٣) روح المعاني ج١٦ ص١١٦؛ البحر المحیط ج٧ ص٢٨٤

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خلورم: ایا بل څوک شته چې په حقه معبود (اله) وي؟

ب: که ذکر شوې کلمه د نظیر او مثل په معنی واخستله شي نو حاصل به یې داسې راوخېژي چې: ای پیغمبره! ایا تاته د خپل رب ﷻ مثل او نظیر معلوم دی؟

مونږ ته همدغه معنی په دې مقام کښې بهتره برېښي، څکه چې الله ﷻ ورباندې صراحت کړی دی چې: ﴿لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ﴾ [الشوری: ۱۱] یعنې د الله ﷻ مثل هیڅ شی نشته چې یا ورسره په ذات او صفاتو کښې مماثل وي او یا ورسره په معبودیت او فیصلو کښې سیالي وکړی شي او داسې نور، خو د دې سره-سره د بدلیت په لحاظ د دواړو معناوو اراده کول هم څه ممانعت نه لري.

﴿وَيَقُولُ ٱلْإِنسَٰنُ أَءِذَا مَا مِتُّ لَسَوْفَ أُخْرَجُ حَيًّا ﴿٦٦﴾ أَوَلَا يَذْكُرُ ٱلْإِنسَٰنُ أَنَّا خَلَقْنَٰهُ مِن قَبْلُ وَلَمْ يَكُ شَيْـًٔا ﴿٦٧﴾ فَوَرَبِّكَ لَنَحْشُرَنَّهُمْ وَٱلشَّيَٰطِينَ ثُمَّ لَنُحْضِرَنَّهُمْ حَوْلَ جَهَنَّمَ جِثِيًّا ﴿٦٨﴾ ثُمَّ لَنَنزِعَنَّ مِن كُلِّ شِيعَةٍ أَيُّهُمْ أَشَدُّ عَلَى ٱلرَّحْمَٰنِ عِتِيًّا ﴿٦٩﴾ ثُمَّ لَنَحْنُ أَعْلَمُ بِٱلَّذِينَ هُمْ أَوْلَىٰ بِهَا صِلِيًّا ﴿٧٠﴾ وَإِن مِّنكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا ۚ كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا ﴿٧١﴾ ثُمَّ نُنَجِّي ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوا۟ وَّنَذَرُ ٱلظَّٰلِمِينَ فِيهَا جِثِيًّا ﴿٧٢﴾﴾

[۶۶] او (کافر) انسان وايي چې: ایا هر کله چې زه مړ شم ډېر ژر دی چې زه به (د خاورو څخه) ژوندی راوویستلی شم (راپورته کړی شم)؟

[۶۷] ایا انسان (ذکره شوې خبره کوي) او (دا خبره) نه یادوي چې یقینًا مونږ (د دې وخت) څخه وړاندې په داسې حال کښې پیدا کړی وه چې نوموړی هیڅ شی نه وه (بالکل معدوم وه).

[۶۸] نو (ای پیغمبره!) ستا په رب ﷻ باندې زما سوګند دی چې ضرور هرو مرو به دوی د خپلو (ګمراه کوونکو) شیطانانو سره (یو ځای) حشر کړو، بیا به یې هرومرو د دوزخ چاپېره (شاوخوا) په داسې حال کښې حاضر کړو چې (له ډېره هیبته به) په زنګنونو باندې پراته وي.

[۶۹] بیا به هرو مرو ضرور مونږ د هرې ډلې څخه هغه څوک را جدا کړو کوم چې (هغه) په ډېر مهربان الله ﷻ باندې د سرکشۍ د کبله زیات کلک (او سخت) وي (او دوزخ ته به یې ورواچوو).

[۷۰] بیا نو خامخا مونږ په هغو کسانو باندې ډېر ښه پوهېږو کوم چې دوزخ ته د ورداخلولو د حیثه بهتر وي (نو لمبر په لمبر به یې دوزخ ته ورواچوو).

[۷۱] او (ای انسانانو!) ستاسو څخه (هیڅوک) نه دی مګر دوزخ ته (په یو حیثیت باندې) ورداخلېدونکي دي. (ای پیغمبره!) دا کار ستا په رب ﷻ باندې حتمي (لازم) فیصله کړی شوی دی (ستا رب ﷻ د همدغه کار التزام کړی دی).

[۷۲] بیا به مونږ هغو کسانو ته (د دوزخ څخه) نجات ورکړو کومو چې تقوی غوره کړې ده او مونږ به پکښې ظالمان (کفار په دائمي توګه) په ګونډو کړی شوي پرېږدو.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنيو ايتونو مضمون د اخرت په ذکر باندې مشتمل وه او په دې ايتونو کښې هغه پلمه (بهانه) د منځه وړله شوې ده په کومه باندې به چې د آخرت (بعث بعد الموت) منکرانو استدلال نيوه چې وراسته هډوکې بيرته نه شي راژوندې کيدلی، نو حاصل يې داسې راځېږي:

ای پيغمبره! ستا د دعوت په مقابل کښې کافر بنيادم وايي او په انکار سره پوښتنه کوي چې: ايا کله چې زه مړ شم او د خاورو سره خاورې شم نو ايا هرومرو ضرور به زه د ځمکې څخه راپورته کړی شم او بېرته به ژوندی کړی شم؟ دغه کار هيڅکله کېدونکی نه دی.

نو ای پيغمبره! د ذکر شوي کافر بنيادم د اشتباه د جوابولو په هکله په خپل امت باندې لاندې مطالب قرائت کړه چې:

١_ ايا ذکر شوی کافر انسان دا خبره نه په زړه کوي چې نومړی مونږ پيدا کړ حال دا چې په دنيا کښې يې نه قبر درلود او نه يې چرته خاوره موجوده وه؟

نومړی بايد د ځاروېو له قطاره خپل ځان راوباسي او د يوه انسان په حيث فکر وکړي او يقين ولري چې هغه الله ﷻ چې نومړي ته يې يو ځل د نشت څخه وجود ورکړی دی نو دوهم ځل خو يې د خپلو خاورو څخه په ډېره اسانه توګه بيا موجودولی شي، نو ده ته په کار دي چې د آخرت څخه انکار ونه کړي.

٢_ نو ای پيغمبره! ستا په رب ﷻ باندې دې زمونږ سوګند وي چې مونږ به ضرور دغه د آخرت منکران د شيطانانو سره حشر کړو او خواره واره او تار په تار بدئونه به يې راغونډ کړو.

٣_ او بيا به يې هرومرو او خامخا د دوزخ په شاوخوا په زنګنونو باندې پرېوتلي حاضر کړو چې ورتېله کولو او ورغورزولو ته چمتو وي.

۴_ او سوګند دی چې مونږ به بيا کفار ډلې ډلې کړو او د هرې ډلې څخه به ډېر زيات سرکشه کافران او هغه کسان چې په خپل ډېر مهربان الله ﷻ باندې د نورو څخه د نافرمانۍ او بغاوت د حيثه په دنيا کښې زيات وه، راجدا کړو او د نورو څخه به يې وړاندې دوزخ ته ورتېل وهو.

۵_ لنډه دا چې بيا به مونږ د کفارو ټولګی لمبر په لمبر په دوزخ کښې ورواچوو او دا ځکه چې هرو مرو او مخامخا مونږ په هغو کسانو باندې ډېر ښه علم لرو او ډېر ښه يې پېژنو کوم چې دوزخ ته د ورداخلولو او وراچولو دپاره د نورو څخه بهتر او زيات مستحق دي.

۶_ ای پيغمبره! دا خبره چې مونږ به ټول کفار هر يو په خپل لمبر سره دوزخ ته ورواچوو، په خپل امت باندې قرائت کړه، ځکه چې ستاسو يو ټولګی هم داسې نه دی چې دوزخ ته به ورتلونکی نه وي بلکې هر څوک کافر وي او که مسلمان وي دوزخ ته واردېدونکی او ورتلونکی دی.

٧_ دا کار ستا په رب ﷻ باندې حتمي او لازم دی بلکې د ده ﷻ سره فيصله شوی کار دی چې ترسره کول يې همده ﷻ حتمي ګرځولي دي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۸_ بیا نو مونږ په خپل اقدس ذات باندې ضروري کړې ده چې مونږ به هغو کسانو ته نجات ورکړو کومو چې د کفر څخه خپل خانونه ساتلي دي او اجتناب یې ترې کړی دی. او ظالمان (کفار) به پکښې په زنګونو باندې پرېوتلي پرېږدو چې تر ابد الآباد پورې به پکښې کړېږي، نو هلته به د آخرت منکران په خپل انکار باندې پښېمانه شي خو کار به د کاره تېر وي او پښېماني به ورته څه ګټه نه شي رسولی.

## توضیحات

۱_ په ﴿ أَوَلَا يَذْكُرُ ٱلْإِنسَـٰنُ ﴾ الآية، کښې د مرګ څخه وروسته د بیا راژوندي کېدلو دپاره عقلي دلیل ته اشاره شوې ده او په ﴿ فَوَرَبِّكَ لَنَحْشُرَنَّهُمْ وَٱلشَّيَـٰطِينَ ﴾ کښې نقلي دلیل نغښتی دی، نو بعث الموت عقلاً او نقلاً په اثبات ورسېد.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه په ﴿ وَٱلشَّيَـٰطِينَ ﴾ کښې د "و" توری د "مع" په معنی سره دی نو مضمون بې داسې راخېژي چې: الله ﷻ به د قیامت په ورځ هر یو کافر د خپل ګمراه کوونکي شیطان سره یو ځای حشر کړي ترڅو ورته ښه څرګنده شي چې د ده ګمراه کوونکی خپل ځان هم د عذاب څخه نه شي خلاصولی پاتې خو لا د خپل پیرو او ګمراه کړی شوي خلاصون.

همدا مضمون په لاندې ایتونو کښې ډېر ښه تفسیر شوی دی چې:

الـف: الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ وَتَرَى ٱلْمُجْرِمِينَ يَوْمَئِذٍ مُّقَرَّنِينَ فِى ٱلْأَصْفَادِ ﴾ [إبراهیم:۴۹] یعنې ای پیغمبره! د قیامت په ورځ به ته کفار وګورې چې په زولنو کښې به (د خپلو ګمراه کوونکو شیطانانو سره) نژدې کړی شوی وي چې په یوه زولانه باندې به دواړه تړلي وي.

ب: الله ﷻ فرمایې چې: ﴿ ...حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَنَا قَالَ يَـٰلَيْتَ بَيْنِى وَبَيْنَكَ بُعْدَ ٱلْمَشْرِقَيْنِ فَبِئْسَ ٱلْقَرِينُ ﴾ [الزخرف:۳۸] یعنې مونږ د هر اعراض کوونکي (کافر) دپاره یو ګمراه کوونکی شیطان مقرروو چې همدغه شیطان به آن په هغې ورځ هم ورسره ملګری او انډیوال وي کله چې مونږ ته راشي او قیامت قائم شي، نو په دغه وخت کښې به خپل همدغه شیطان ملګري ته خطاب کوي چې کاشکې چې ستا مخ مې نه لیدی او زما او ستا ترمنځ د مشرق او مغرب فاصله وی، نو ته خو ډېر بد (ناکاره) انډیوال یې چې په دنیا کښې دې ګمراه کړم او اوس راسره یو ځای زولانه یې.

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې په ﴿ حَوْلَ جَهَنَّمَ جِثِيًّا ﴾ کښې د "جِثِيّ" کلمه چې په اصل کښې "جُثُوْوٌ" _لکه "نُصُوْرٌ"_ وه د "جَاثِي" جمعه ده، لکه چې "نُصُوْرٌ" د "نَاصِرٌ" جمعه ده، چې د تورو او حرکاتو په صرفي تحلیل سره ترې "جِثِيّ" جوړ شوی دی. نوموړې کلمه د "جُثُوٌّ" _لکه "عُلُوٌّ"_ څخه اشتقاقه شوې ده، "جُثُوٌّ" دې ته ویل کېږي چې سړی د ډېر هیبت د کبله د ودرېدلو توان ونه لري او خپل زنګونونه په

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ځمکه باندې ولګوي[۱]، یعنې د قیامت په ورځ به کفار (چې د حشر څخه انکار کوي) د ډېر هیبت د کبله په زنګنونو باندې پرېوزي، حال دا چې په بل ایت کښې الله ﷻ فرمایلي دي چې. ﴿ وَتَرَىٰ كُلَّ أُمَّةٍ جَاثِيَةً ﴾ [الجاثية:۲۸] یعنې ای پیغمبره! د قیامت په ورځ به ته هر ټولګی په زنګنو باندې لوېدلي (په ګونډو باندې) ګورې برابره خبره ده چې مسلمان وي او که کفار؛ نو پوښتنه دا ده چې ایا دغه دواړه ایتونه سره څه منافات نه لري؟

مونږ وایو چې: د محشر په میدان کښې داسې هیبتي حال راروان دی چې ټول خلک به د زیات رعب د کبله په ګونډو شي او د نبي کریم ﷺ څخه په غیر نور ټول پیغمبران به هم "نفسي نفسي" اواز پورته کوي او د هر چا سره به فقط د خپل ځان غم وي[۲]. اما په دې ایت شریف کښې چې اوس د بحث لاندې دي هغه ګونډه کېدل مطلب دي کوم چې کفارو پورې اختصاص لري، د همدې کبله په دې مقام کښې د ﴿ حَوْلَ جَهَنَّمَ جِثِيًّا ﴾ کلمات هم نازل شوي دي، یعنې د قیامت په ورځ به د دوزخ په شاوخوا باندې ټول کفار د زیات هیبت د کبله په ګونډو شي او بیا به ورته‌ل وهل شي.

## یو نحوي تحلیل

۳ـ په ﴿ ثُمَّ لَنَنزِعَنَّ مِن كُلِّ شِيعَةٍ أَيُّهُمْ أَشَدُّ عَلَى الرَّحْمَٰنِ عِتِيًّا ﴾ کښې د "أَيُّ" په اعرابي تحلیل کښې علماوو کرامو ډېر اوږد بحث کړی دی[۳]، که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي مونږ فقط په لاندېني یو تحلیل باندې اکتفاء کوو[۴] چې:

الف: د "أَيُّ" کلمه په پېښ سره مبني ده او محلاً منصوبه ده چې د ﴿ لَنَنزِعَنَّ ﴾ دپاره مفعول واقع شوې ده.

ب: دغه کلمه د "الَّذِي" موصول معنی ورکوي چې صله ورته ضرور ده.

ج: د ﴿ أَشَدُّ ﴾ کلمه د مقدر "هُوَ" دپاره خبر ده چې دغه مبتدأ او خبر (جمله) د "أَيُّ" دپاره صله واقع شوې ده ته به وایې چې "أَيُّهُمْ هُوَ أَشَدُّ" نازل شوی دی.

نو د معنی حاصل یې داسې راځېږي چې: بیا به مونږ د هر ټولګي څخه د دې هغه کس جدا کړو کوم چې په مهربان الله ﷻ باندې د سرکشی او تجاوز د حیثه سخت او کلک وي. یا په بل عبارت بیا به د هر ټولګی په جنایاتو کښې اول نمره ترې راوباسو او دوزخ ته به یې ورته‌ل وهو، په همدې ترتیب به نمره په نمره تر آخره پورې د کفارو ټول ټولګي دوزخ ته ورواچوو.

## ایا ټول خلک به یو ځل دوزخ ته داخلېږي؟

۴ـ په ﴿ وَإِن مِّنكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا ﴾ کښې د "وَارِدٌ" کلمه د "وُرُوْدٌ" ـ لکه "قُبُوْلٌ" ـ څخه اشتقاقه شوي

(۱) روح المعاني ج۱٦ ص۱۱۸ ؛ مفردات الراغب ص۸٦
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۱۵۱
(۳) البحر المحیط ج۷ ص۲۸۷ ؛ تفسیر الکشاف ج۳ ص۳۴
(۴) شرح ملا جامي في النحو ص۲۳۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ده، چې په دې مقام کښې علماوو کرامو په ډېرو معناوو باندې تفسيره کړې ده[۱] مګر مونږ صرف هغه تفسيرونه ليکو د کومو چې ايتونه تحمل کولی شي او په احاديثو باندې يې تائيد موندلی دی، هغه دا چې:

الف: دلته د "وُرُوْدْ" کلمه د "دُخُوْلْ" په معنی سره ده، لکه چې په همدې معنی باندې په بل ايت کښې استعماله شوې ده چې: ﴿ أَنتُمْ لَهَا وَارِدُونَ ﴾ [الأنبياء:۹۸] يعنې ای کفارو! تاسو او ستاسو باطل معبودان (ټول) دوزخ ته داخلېدونکي ياست.

نو په دې تفسير باندې يې د معنی حاصل داسې راځېژي چې: ای انسانانو! تاسو ټول يو خل دوزخ ته داخلېدونکي ياست چې مؤمنان به ترې د مراتبو په تفاوت سره راووځي او کفار به پکښې به دائمي توګه پاتې شي. همدا تفسير په لاندې احاديثو باندې ترجيح مومي:

اول: د يوه اورېده حديث مضمون دی چې يوه ورځې جابر بن عبد الله ﷺ خپلو دواړو غوږونو ته اشاره وکړه چې دغه دواړه دې کاڼه شي که ما به د نبي کريم ﷺ څخه نه وي اورېدلي چې: «الْوُرُودُ الدُّخُولُ لَا يَبْقَى بَرٌّ وَلَا فَاجِرٌ إِلَّا دَخَلَهَا فَتَكُونُ عَلَى الْمُؤْمِنِ بَرْدًا وَسَلَامًا كَمَا كَانَتْ عَلَى إِبْرَاهِيمَ»[۲] يعنې "وُرود" د دُخول (ننوتلو) معنی ورکوي، چې نه به نېکوکار پاتې شي او نه به بدکار مګر دوزخ ته به داخل شي، نو په مؤمن باندې يخ او سلامتيا وي لکه چې په ابراهيم ﷺ باندې د نمرود اور يخ او سلامتيا وګرځېد، نو بيا به الله ﷻ مؤمنانو ته نجات ورکړي او کافران (ظالمان) به پکښې په ګونډو کړی شوي حال باندې پرېږدي.

دوهم: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «لَا يَمُوتُ لِمُسْلِمٍ ثَلَاثَةٌ مِنَ الْوَلَدِ فَيَلِجَ النَّارَ إِلَّا تَحِلَّةَ الْقَسَمِ»[۳] يعنې د هيڅ مسلمان درې تنه اولادونه نه مړه کېږي چې اورته به داخل شي مګر د سوګند د خلاصون دپاره. يا په بل عبارت: د درېوو تنو مړه شوو اولادونو مور يا پلار به د ډېر لږ وخت دپاره دوزخ ته داخل شي ته به وايې چې الله ﷻ ورباندې خپل هغه سوګند پوره کوي کوم ته چې په ذکر شوي ايت کښې اشاره شوې ه او د ﴿ حَتْمًا مَّقْضِيًّا ﴾ کلمات پکښې نازل شوي دي.

درېم: نبي کريم ﷺ په يوه اورېده حديث کښې فرمايلي دي چې الله ﷻ به پرېښتو ته امر وکړي چې: «أَخْرِجُوا مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ إِيمَانٍ»[۴] تاسو د دوزخ څخه هغه څوک راوباسئ د چا په زړه کښې چې د اوري د دانې په اندازه ايمان وي، نو پرېښتې به ترې ځينې خلک راوباسي چې تک تور به ګرځېدلي وي چې د ژوندانه په اوبو کښې به يې واچوي او تک زېړ به ترې راووځي.

څلورم: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «سَيَخْرُجُ قَوْمٌ مِنَ النَّارِ قَدْ احْتَرَقُوا وَكَانُوا مِثْلَ الْحُمَمِ»[۵]

---

(۱) زاد المسير ج۵ ص۱۷۷؛ التفسير الكبير ج۲۱ ص۲۴۲؛ اضواء البيان ج۴ ص۳۷۶
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۵ ص۸۰
(۳) صحيح البخاري ج۱ ص۱۶۷؛ صحيح مسلم ج۲ ص۳۳۰؛ جامع الترمذي ج۱ ص۲۰۴
(۴) صحيح البخاري ج۱ ص۸
(۵) مسند احمد بن حنبل ج۴ ص۱۵۴؛ صحيح مسلم ج۱ ص۱۰۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يعنې ژر دی چې د اور څخه به يو قوم (ځينې خلک) راووځي چې سوي به وي او د سکرو په شان به تک تور ګرځېدلي وي، چې د جنت په اوبو باندې به يې څېرې تکې زيړې راووځي.

پنځم: بالآخره نبي کريم ﷺ په اوږده حديث کښې د هغه دوزخي حال هم بيان کړی دی کوم به چې د ټولو څخه په وروستنۍ مرتبه کښې د دوزخ څخه راوځي[١] چې د ده د راوتلو څخه وروسته به د دوزخ دروازې په کفارو باندې په ابدي توګه وتړلی شي، العياذ بالله ﷻ.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه په دې تفسير سره په ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ عَنۡهَا مُبۡعَدُونَ ﴾ [الأنبياء: ١٠١] کښې د ﴿ مُبۡعَدُونَ ﴾ معنی دا ده چې مؤمنان به د دوزخ په داخل کښې له عذابه لرې کړی شوي وي حتی چې اواز به يې هم نه اوري، او يا دا چې کله دوی د دوزخ څخه راووېستلی شي نو بيا به هيڅکله ورنژدې هم نه کړی شي او په جنت کښې به په ډېرې خوشالۍ سره دائمي ژوند تېروي.

ب: په دې مقام کښې د "وُرُود" څخه مرور او تېرېدل مطلب دي، چې په همدغې معنی باندې په يوه حديث کښې استعمال شوی دی چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: «اتَّقُوا الْمَلَاعِنَ الثَّلَاثَ الْبَرَازَ فِي الْمَوَارِدِ وَالظِّلِّ وَقَارِعَةِ الطَّرِيقِ»[٢] يعنې تاسو د درې کارونو څخه خپل ځانونه وساتئ چې ستاسو دپاره د لعنت ويلو (ښېراوو کولو) سبب جوړېږي هغه دا چې: په هغو ځايونو کښې د اودس د ماتولو څخه خپل ځانونه وساتئ چرته چې خلک د اوبو دپاره تېرېږي راتېرېږي، او چرته چې د خلکو سيوري وي چې هلته پکښې کيني او بالآخره د لارې په منځکښې د اودس ماتولو څخه خپل ځانونه وساتئ.

د همدې کبله ځينو ړګونو ته د "أَوْرِدَةٌ" نوم ايښودلی شوی دی[٣] چې وينه پکښې ګرځي راګرځي، او تېرېږي راتېرېږي.

په ذکرې شوې معنی باندې يې حاصل داسې کېږي چې: ای بنيادمانو! ستاسو يو کس به هم پاتې نه شي مګر په دوزخ باندې به ضرور د تېرېدلو تاند ووهي چې ځينې به د مراتبو په تفاوت سره تېر شي او ځينې نور به پکښې د مراتبو په تفاوت سره ورولوېږي، چې څوک به ترې بېرته راووځي او څوک به پکښې په دائمي توګه پاتې شي. همدغه معنی په لاندې نصوصو کښې منعکسه شوې ده:

اول: نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «وَيُضْرَبُ الصِّرَاطُ بَيْنَ ظَهْرَيْ جَهَنَّمَ فَأَكُونُ أَنَا وَأُمَّتِي أَوَّلَ مَنْ يُجِيزُ»[٤] يعنې په دوزخ باندې به لار (پول) ووهلی شي نو زه او زما امت به اولني هغه کسان وي چې په همدغې لاره باندې به تېرېږي.

دوهم: نبي کريم ﷺ په بل اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «وَيُضْرَبُ جِسْرُ جَهَنَّمَ»[٥] يعنې: د دوزخ پول به ووهلی شي (جوړ به کړی شي)، چې په منځ باندې به يې کېښودلی شي ترڅو ورباندې

---

(١) صحيح البخاري ج٢ ص٩٧٢؛ صحيح مسلم ج١ ص١٠٥
(٢) سنن ابن ماجه ص٢٨
(٣) لسان العرب ج٣ ص٤٥٩
(٤) صحيح البخاري ج٢ ص١١٠٦
(٥) صحيح البخاري ج٢ ص٩٧٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



جنتيان جنت ته ورپورېوځي.

دريم: يوه ورځې بي بي حفصې (أم المؤمنين رضی الله عنها) د نبي كريم ﷺ سره لاندې سوال جواب وكړ:

نبي كريم ﷺ: «لَا يَدْخُلُ النَّارَ إِنْ شَاءَ اللهُ مِنْ أَصْحَابِ الشَّجَرَةِ أَحَدٌ»[۱] يعنې كه د الله ﷻ اراده وي د ونې د ملګرو څخه به هيڅوک اور ته داخل نه شي (كومو چې د حديبيه په صلحه كښې د ونې لاندې د نبي كريم ﷺ سره بيعت كړی وه).

حفصه رضی الله عنها: «بَلَى» دغسې نه ده ای د الله رسوله! (چې د خپل ځان د پوه كولو دپاره يې د "بَلَى" د كلمه استعماله كړه).

نبي كريم ﷺ ذكره شوې بي بي ورټله چې د "بَلَى" كلمه مه استعمالوه.

حفصه رضی الله عنها: زه ځكه د "بَلَى" كلمه استعمالوم چې الله ﷻ فرمايلي دي چې ﴿ وَإِن مِّنكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا ﴾ يعنې ستاسو څخه هيڅوک نه دي مګر دوزخ ته داخلېدونكی دی، زمونږ د جملې څخه خو اصحاب الشجره هم دي.

نبي كريم ﷺ: «قَدْ قَالَ اللهُ ﷻ ﴿ ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِينَ اتَّقَوْا وَنَذَرُ الظَّالِمِينَ فِيهَا جِثِيًّا ﴾» يعنې: الله ﷻ فرمايلي دي چې بيا به مونږ هغو خلكو ته نجات وركړو كومو چې د شرک او كفر څخه خپل ځانونه ساتلي وي او ظالمان (كافران) به پكښې په ګونډو باندې پرېږدو.

ته به وايې چې نبي كريم ﷺ د ﴿ وَارِدُهَا ﴾ كلمه په عبور او تېرېدلو سره تفسيره كړه چې كه بالفرض د "وُرُود" معنی "دُخول" وی نو بيا به يې نوموړې (ام المؤمنين رضی الله عنها) نه وی رټلې، او ورته ويلي به يې وی چې هغوی به دوزخ ته داخل شي خو باقي به پكښې پاتې نه شي.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه په ﴿ ثُمَّ نُنَجِّي ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوا ﴾ كښې د ﴿ نُنَجِّي ﴾ كلمه د "نجاة" څخه اشتقاقه شوې ده. كه څه هم نجات دې ته وايي چې څوک په آفت باندې اخته شي او بيا ترې خلاص شي، مګر (نجات) دې ته هم ويلی شي چې په آفت باندې د اخته كېدلو سبب د چا سره ډېر نژدې تحقق ومومي، د همدې كيله الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ فَأَنجَيْنَـٰهُ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥ فِى ٱلْفُلْكِ وَأَغْرَقْنَا ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا بِـَٔايَـٰتِنَآ ﴾ [الأعراف:۶۴] يعنې نو مونږ نوح ؑ او هغو كسانو ته نجات وركړ كوم چې د ده سره په بېړۍ كښې وه او هغه كسان مو غرق كړه كومو چې زمونږ ايتونو ته د دروغو نسبت كاوه.

په دې مقام كښې همدغه دوهمه معنی ښه مناسبه برېښي چې مؤمنان به په تېرېدلو سره دوزخ ته ورنژدې شي او بيا به ترې د الله ﷻ په فضل نجات مونده كړي.

څلورم: نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې: «شِعَارُ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى الصِّرَاطِ رَبِّ سَلِّمْ سَلِّمْ»[۲] يعنې كله چې مؤمنان په پل صراط باندې تېرېږي نو د دوی شعار به دا وي چې: ای ربه! روغ رمټ مو پورېباسې چې په دوزخ كښې سقوط ونه كړو، ای ربه! روغ رمټ مو پورېباسې.

(۱) صحيح مسلم ج۲ ص۳۰۲
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۶۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بنځم: نبي كريم ﷺ په يوه اوږده حديث كښې فرمايلي دي چې: «وَلِجَهَنَّمَ جِسْرٌ أَدَقُّ مِنَ الشَّعْرِ وَأَحَدُّ مِنَ السَّيْفِ عَلَيْهِ كَلَالِيبُ وَحَسَكٌ يَأْخُذْنَ مَنْ شَاءَ اللهُ وَالنَّاسُ عَلَيْهِ كَالطَّرْفِ وَكَالْبَرْقِ وَكَالرِّيحِ وَكَأَجَاوِيدِ الْخَيْلِ وَالرِّكَابِ وَالْمَلَائِكَةُ يَقُولُونَ رَبِّ سَلِّمْ رَبِّ سَلِّمْ فَنَاجٍ مُسَلَّمٌ وَمَخْدُوشٌ مُسَلَّمٌ وَمَكْوُرٌ فِي النَّارِ عَلَى وَجْهِهِ»[١] يعنې په دوزخ باندې يو پول اېښودلی شوی دی چې د وېښتو څخه نری دی او د تورې څخه تېره دی، په دې باندې (د اوسپنې) چنګکونه (خنجکي) او اغزي دي، چې هغه څوک نيسي (پكښې نښلی) كومو ته چې د الله ﷻ اراده وشي. خلک به په دغه پله باندې په داسې ډولونو سره وي چې: ځينې به ورباندې د سترګو د رپ په اندازه وخت كښې تېرېږي، ځينې به پرې د برېښنا په دود وي، ځينې به ورباندې د باد غوندې وي، ځينې به داسې وي لكه چې په ښه غښتلو اسونو باندې سواره وي، ځينې به لكه چې په نورو څارويو باندې سواره وي.

په دغه حال كښې به پرښتې دعاء كوي چې: ای ربه! روغ رمټ يې پورېباسې، ای ربه! روغ يې تېر كړې، نو ځينې خلک به د سلامتيا په حال نجات مونده كړي او ځينې نور به شوكارې شوي (زخمي شوي) د سلامتيا خاوندان شي، او بالآخره ځينې به سر په څړې په دوزخ كښې ورواچولی شي.

شپږم: ذكر شوی مضمون په نورو احاديثو كښې هم په څه تفاوت سره انځور شوی دی[٢].

## تبصره

زمونږ په فكر په ﴿ وَإِن مِّنكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا ﴾ كښې به د "وَارِد" كلمه د هغه "وُرُود" څخه اشتقاق شوې وي كوم چې ذكرو شوو دوارو معناوو ته شاملېږي چې مونږ ترې په "مَا يُطْلَقُ عَلَيْهِ الْوُرُوْدُ" (هر هغه شی چې د "ورود" اطلاق پرې كېږي) باندې تعبير كوو، نو حاصل به يې داسې راوځېژي چې:

ای بنيادمانو! ستاسو څخه به هيڅوک بې وروده پاتې نه شي چې ستاسو ځينې كسان به د مراتبو په تفاوت سره د صراط په پله باندې تېر شي (چې په دوزخ باندې دپاسه اېښی دی) او جنت ته به داخل شي، نو په پله باندې تېرېدل هم يو ډول دخول دی. او نور به دوزخ ته ننوځي چې ځينې به ترې د مراتبو په تفاوت سره بېرته راووځي او جنت ته به لاړ شي او ځينې نور به پكښې د دركاتو په تفاوت سره همېشه پاتې شي او د دوزخ دروازې به ورباندې وروتړلی شي.

﴿ وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٍ قَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لِلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَىُّ ٱلْفَرِيقَيْنِ خَيْرٌ
مَّقَامًا وَأَحْسَنُ نَدِيًّا ﴿٧٣﴾ وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّن قَرْنٍ هُمْ أَحْسَنُ أَثَٰثًا وَرِءْيًا ﴿٧٤﴾ قُلْ مَن
كَانَ فِى ٱلضَّلَٰلَةِ فَلْيَمْدُدْ لَهُ ٱلرَّحْمَٰنُ مَدًّا ۚ حَتَّىٰٓ إِذَا رَأَوْا۟ مَا يُوعَدُونَ إِمَّا ٱلْعَذَابَ وَإِمَّا

(١) مسند احمد بن حنبل ج٩ ص٤١٥
(٢) صحيح مسلم ج١ ص١٠٧؛ مسند احمد بن حنبل ج٥ ص١١٣؛ صحيح البخاري ج٢ ص١١٠٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ٱلسَّاعَةَ فَسَيَعۡلَمُونَ مَنۡ هُوَ شَرّٞ مَّكَانٗا وَأَضۡعَفُ جُندٗا ﴿٧٥﴾ وَيَزِيدُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ
ٱهۡتَدَوۡاْ هُدٗىۗ وَٱلۡبَٰقِيَٰتُ ٱلصَّٰلِحَٰتُ خَيۡرٌ عِندَ رَبِّكَ ثَوَابٗا وَخَيۡرٞ مَّرَدًّا ﴿٧٦﴾

[۷۳] او کله چې په کفارو (مشرکانو) باندې زمونږ واضحه ایتونه ولوستل شي (لکه چې وړاندې پرې ولوستل شو) نو هغه کسان کومو چې کفر غوره کړی دی هغو کسانو ته چې ایمان یې راوړی دی وایي چې: کوم یو د دواړو ډلو (زمونږ او ستاسو) څخه د مرتبې د حیثه بهتر دی او د مجلس د حیثه ښائسته (او ډولي) دی؟

[۷۴] او (حال دا چې) مونږ د دوی څخه پخوا څومره ډېر قرنونه (پېړۍ) هلاکې کړې دي چې هغوی د دوی څخه د سامانونو او څېرو د حیثه ډېر ښائسته وه (خو زمونږ د عذابه یې نجات ونه موند).

[۷۵] (ای پیغمبره! بیا ورته) ووایه چې: هرڅوک چې په ګمراهۍ کښې (ډوب) دی نو هغه ته ډېر مهربان الله ﷻ (د مال او عمر د حیثه) اوږدوالی (زیادت) ورکوي، اوږدوالی (زیادت).
آن تردې چې کله هغه شی وګوري په کوم شي باندې چې دوی ډارولی کېږي چې د عذاب یا د قیامت څخه عبارت دی، نو ژر دی چې دوی به پوه شي چې هغه څوک دی چې د مرتبې د حیثه ډېر ناکاره او د لښکر (قوت) د حیثه ډېر کمزوری دی.

[۷۶] او الله ﷻ هغو کسانو ته هدایت (لاره موندل) زیاتوي (عقیدې یې کلکوي) کومو چې لاره مونده کړې ده. او صالح (عملونه او ویناوې) چې اثرات یې باقي دي (او فنا ورباندې نه ورځي) ستا د ربّ ﷻ په نزد د ثواب د حیثه بهتر دی او د انجام (عاقبت) د حیثه خیر دی.

## ارتباطونه

۱ـ په وړاندېنیو ایتونو کښې د کفارو شرکي او کفري عقیده رده شوې وه چې د مرګ څخه وروسته بیا ژوندون نشته، او په دې ایتونو کښې د همدغې فاسدې عقیدې فاسد استدلال ردېږي چې د دنیا خوشالي د آخرت د خوشالۍ دلیل نه شي ګرځېدلی.

۲ـ هلته د کفارو اخروي بدحالي او د مؤمنانو نجات ته اشاره شوې وه او دلته د کفارو عکس العمل ته اشاره کېږي. نو حاصل یې داسې راځېږي چې:

## د مطلب خلاصه

۱ـ ای پیغمبره! کله چې ستا د پلوه په کفارو باندې زمونږ ایتونه قرائت کړی شي چې تاسو به د مرګ څخه وروسته یو ځل بیا را ژوندي کړی شئ او لمبر په لمبر به په دوزخ کښې ور واچولی شئ؛ نو دوی سمدستي مؤمنانو ته په تعجب سره پوښتنې راجع کوي چې:

۲ـ مونږ ته د لاندې پوښتنو جوابونه راکړئ:

الف: نن ورځ (په مونږ او تاسو کښې) کومه ډله د مراتبو د حیثه بهتره ده؟ د قوم مشران زمونږ سره ناست دي او که ستاسو سره؟ مالداران په تاسو کښې ډېر دي او که په مونږ کښې؟

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: د مجالسو او ناستې پاستې په حيث تاسو ډولي او ښائسته یاست او که مونږ؟ ښه تعميرونه ستاسو دي او که زمونږ؟ ښایسته فرشونه تاسو لرئ او که مونږ؟ د غوړو څښو او ډولي جامو خوانان ستاسو سره کيني او که زمونږ سره؟.

۳ـ د ذکرو شوو پوښتنو څخه د کفارو مطلب دا دی چې خپلې فاسدې عقیدې ته د حقانیت جامه ورواغوندي چې: اول خو د مرګ څخه وروسته بیا ژوندون نشته او که بالفرض بیا ژوندون وي هم مونږ به ستاسو څخه په خوشالی کښې زيات ياستو، داسې به ونه شي چې تاسو جنت ته لاړ شئ او مونږ به په دوزخ کښې په ګونډو شو، بلکې بالعکس مونږ به جنت ته داخل شو او تاسو به په دوزخ کښې ورواچولی شئ: ځکه چې دغه دی نن ورځ مونږ ستاسو څخه بهتر یاستو که بالفرض ستاسو د عقيدې څخه الله ﷻ راضي وی نو دغه بهتري به یې تاسو ته درکړې وی، تاسو به یې په ګېډه ماړه کړي وی او په جامو به یې پټ کړي وی او بالآخره زمونږ څخه به یې بهتر ګرځولي وی، او یا اقلاً زمونږ سره خو به یې برابر کړي وی.

۴ـ ای پیغمبره! زمونږ د پلوه د کفارو ذکر شوی استدلال په لاندې ډول جواب کړه چې:

مونږ ستا د زمانې څخه وړاندې څومره ډېر کفار او د فاسدې عقیدې خاوندان هلاک کړي دي؟ ایا دوی ته د عادیانو، ثمودیانو، نمرودیانو او د لوط ؑ د قوم قیصې نه دي بیانې شوې؟ هغوی خو د دوی څخه د سامانونو او څېرو د حیثه ښایسته او ډولي وه، هغوی ته قوي بدنونه ورکړی شوي وه چې دوی ته نه دي ورکړی شوي، هغوی اوږده عمرونه درلوده چې دوی یې نه لري، خو د دې سره-سره مونږ هغوی په غضب باندې هلاک او پوپنا کړه، نو که د کفارو ذکر شوی استدلال صحت درلودی نو په کار وه چې هغوی مو په غضب نه وی اخته کړي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه د دنیا ټول مالونه او دولتونه عارضي شيان دي او زمونږ په نزد څه ارزښت نه لري، دوست او دښمن دواړو ته یې ورکوو، نو موجودیت یې د عزت علامه نه ده او نه موجودیت یې زمونږ په نزد د توهین څخه نمایندګي نه شي کولی.

۵ـ څرنګه چې دنیا د امتحان ځای دی نو مهربان الله ﷻ خپل دښمنان په فاسده عقیده باندې سمدستي نه نیسي، او د څه وخته پورې مهلت ورکوي چې د قیامت په ورځ اعتذار وړاندې نه کړی شي چې مونږ د خپلې عقیدې د تصحیح دپاره وخت مونده نه کړه، تا خو به لږ فرصت او مهلت راکړی وی.

۶ـ نو ای پیغمبره! همدغه ذکر شوی قانون د خپل وخت کفارو ته قرائت کړه او ورته ووایه چې تاسو ته هم مهربان الله ﷻ د ګمراهي سره-سره فرصت درکوي چې د قیامت په ورځ مو د اعتذار مخه ونیوه شي، که نه نو تاسو د مهربان الله ﷻ په نزد څه قدر اوعزت نه لرئ او تاسو د همده ﷻ دښمنان یاست.

کفار ستا خبرو ته غوږونه نه نیسي او په خپل باطل خیال باندې به تر هغه کلک وي چې ترڅو هغه شی په خپلو سترګو سره وګوري د کوم څخه چې دوی دارولی کېږي، هغه دا چې:

الف: یا به وربادنې الله ﷻ په دنیا کښې عذاب ورنازل کړي او خوشالي به یې په غم بدله شي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: او یا به د دنیاوي عذاب سره مخامخ نه شي خو د مرګ څخه وروسته به هرو مرو په غم باندې اخته کېږي چې کله قیامت قائم شي او دوی د قبرونو څخه راپورته کړی شي، نو:

ج: بیا به پوه شي چې (په مؤمنانو او کفارو کښې) د چا مرتبه ټیټه او بده ده، او څوک د لوړې رتبې خاوندان دي؟ څوک د لښکرو او نفرو د حیثه کمزوری دی او څوک قوي دی؟

یا په بل عبارت: دوی به هلته پوه شي چې مالونه او ډول سنګار دوی ته څه ګټه نه شي رسولی او د الله ﷻ د عذابه نجات نه شي ورکولی.

٧_ ای پیغمبره! الله ﷻ دا التزام نه دی کړی چې خپلو دوستانو او د هدایت خاوندانو ته به ضرور د دنیا ساز او سامان ورکوي، خو دا التزام یې کړی دی چې هدایت یې ورځ په ورځ زیاتوي او د پاکې عقیدې نورانیت او پلوشې یې روزمره اضافه کوي، چې نه وربانديې د کفارو ډول سنګار څه اثر غورزولی شي او نه یې دنیاوي تنګ لاسي او یا پراخي د خپل اثر لاندې راوستلی شي.

٨_ ای پیغمبره! د ذکر شوي بحث نتیجه دا راووتله چې:

الف: ستا د رب ﷻ په نزد صالح عملونه او صالحې ویناوې (چې اثرات یې په دنیا او آخرت کښې نه فاني کېږي) د ثواب او اجر د حیثه غوره او بهتر دي.

ب: همدغه شیان د انجام او نتیجې په حیث هم غوره او بهتر دي چې په دنیا او آخرت دواړو کښې نېک عواقب لري او بد عواقب نه لري.

## توضیحات

١_ د لاندې څو لغاتو معناوې ولولئ:

الف: په ﴿وَأَحۡسَنُ نَدِيّٗا﴾ کښې "نَدِيٌّ" کلمه د "ندی" _لکه "رَضی"_ څخه اشتقاقه شوې ده، "ندی" د هغه لوندوالي نوم دی کوم چې د شپې د مخې په ګلانو او بوټو باندې وربږي او د لمر د راختلو سره سم د منځه ځي[1] چې په پښتو کښې ورته "پرخه" او په دري کښې ورته "شبنم" وايي.

څرنګه چې خبرې کول د خولې او ژبې لوندوالي ته ضرورت لري، نو د همدې کبله هر مجلس او ټولنې ته چې د خبرو کولو دپاره راټول شوي وي د "نَدِيٌّ" لقب ورکول کېږي، یعنې مؤمنانو ته مشرکان وايي چې تاسو ربښتیا وواياست چې موږ د مجلس د حیثه ډولي او ښایسته یاستو او که تاسو؟

ب: په ﴿أَحۡسَنُ أَثَٰثٗا وَرِءۡيٗا﴾ کښې د "أثاث" کلمه د [النحل: ٨٠] ایت لاندې شرحه شوې ده چې د سامانونو معنی ورکوي، بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو.

ج: او په همدغه عبارت کښې د "رِئۡيٌ" کلمه د "رُؤۡيَة" سره په اصلي تورو کښې متحده ده چې د لیدلو معنی ورکوي، مګر د لغت کتابونو په "منظر" سره معنی کړې ده[2]، چې موږ ترې په څېره او ظاهري وضعې سره تعبیر کوو کومه چې په سترګو باندې لیدله کېږي.

---

(١) مفردات الراغب ص٥٠٨

(٢) لسان العرب ج١٤ ص٢٩٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يعنې ای مشرکانو! هغه کفار چې مونږ ستاسو څخه پخوا هلاک کړي دي د هغوی سامانونه هم ستاسو څخه زيات وه او ښېرې يې هم ستاسو څخه ډولي وې، که بالفرض د سامانونو ډول او سنګار او هم د ښېرو ښائست زمونږ د رضا نښه وی لکه چې تاسو خيال کوئ نو هغوی به مونږ په غضب باندې په اجتماعي توګه نه وی هلاک کړي.

## مباهلې ته د مشرکانو دعوت

۲ـ ځينو علماوو کرامو(۱) دا ايت شريف ﴿ قُلْ مَن كَانَ فِى ٱلضَّلَـٰلَةِ فَلْيَمْدُدْ لَهُ ٱلرَّحْمَـٰنُ مَدًّا ﴾ په مباهلې باندې تفسير کړی دی چې تعريف يې د [البقرة:۹۴] او د [آل عمران:۶۱] ايتونو لاندې تېر شوی دی. نو د معنی حاصل يې داسې اخلي چې: ای پيغمبره! د خپل وخت مشرکان خو تاته د ضلالت (ګمراهی) نسبت کوي چې تا سمه لاره خطا کړې ده، نو ته ورته ووايه چې راځئ چې مونږ او تاسو (دواړه جانبه) د سوال لاسونه پورته کړو او ښېراوې وکړو چې هرڅوک چې په ګمراهی کښې وي نو هغه ته دې ډېر مهربان الله ﷻ تر هغه مهلت ورکړي چې يا په دنيا کښې په عذاب باندې اخته شي او يا د آخرت د عذاب سره مخامخ شي، نو هلته به پوه شي چې ګمراه څوک وه او سمه لاره باندې څوک روان وه.

مګر مونږ ته ذکر شوی ايت شريف په مباهله باندې تفسيرول چندان موزون او په زړه پورې نه برېښي، مونږ ته بهتره بربښي چې د ﴿ فَلْيَمْدُدْ ﴾ کلمه که څه هم انشاء ده خو د خبر په معنی سره ده(۲) لکه چې په ﴿ قُلْ أَنفِقُوا۟ طَوْعًا أَوْ كَرْهًا ﴾ [التوبة:۵۳] کښې د ﴿ أَنفِقُوا ﴾ کلمه انشاء ده خو د خبر په معنی سره ده، لکه چې شرحه يې هملته تېره شوې ده.

نو په دې مقام کښې به يې د معنی حاصل داسې راوځېږي چې: ای مشرکانو! تاسو په خپل ساز او سامان باندې مه نازېږئ او خيال مه کوئ چې ستاسو څخه ډېر مهربان الله ﷻ راضي دی، بلکې خبره دا ده چې ډېر مهربان الله ﷻ د خپلې مهربانی د مخې ګمراهانو (خپلو دښمنانو) ته مهلت ورکوي او په عمر کښې اوږدوالی او په مالونو او سامانونو کښې زياتوالی ورکوي، او سمدستي يې په عذاب باندې نه اخته کوي، مګر عاقبت يې په عذاب باندې مبتلا کوي چې يا يې د دنياوي عذاب سره او يا د اخروي عذاب سره مخامخ کوي، نو په هغه وخت کښې به ورته خپل خان واضحه شي چې نه کوم قدر او عزت لري او نه کوم قوي لښکر لري.

## يادونه

۳ـ په ﴿ وَٱلْبَـٰقِيَـٰتُ ٱلصَّـٰلِحَـٰتُ خَيْرٌ عِندَ رَبِّكَ ثَوَابًا ﴾ کښې د ﴿ ٱلْبَـٰقِيَـٰتُ ٱلصَّـٰلِحَـٰتُ ﴾ تفسير مونږ د الله ﷻ په توفيق د [الكهف:۴۶] ايت لاندې ليکلي دي چې بيا ليکلو ته يې اړتيا نه ګورو، هملته دې وکتل شي.

(۱) تفسير ابن كثير ج۳ ص۱۳۴؛ البحر المحيط ج۷ ص۲۹۱
(۲) روح المعاني ج۱۶ ص۱۲۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿أَفَرَءَيْتَ ٱلَّذِى كَفَرَ بِـَٔايَٰتِنَا وَقَالَ لَأُوتَيَنَّ مَالًا وَوَلَدًا ﴿٧٧﴾ أَطَّلَعَ ٱلْغَيْبَ أَمِ ٱتَّخَذَ
عِندَ ٱلرَّحْمَٰنِ عَهْدًا ﴿٧٨﴾ كَلَّا ۚ سَنَكْتُبُ مَا يَقُولُ وَنَمُدُّ لَهُۥ مِنَ ٱلْعَذَابِ مَدًّا ﴿٧٩﴾
وَنَرِثُهُۥ مَا يَقُولُ وَيَأْتِينَا فَرْدًا ﴿٨٠﴾ وَٱتَّخَذُوا۟ مِن دُونِ ٱللَّهِ ءَالِهَةً لِّيَكُونُوا۟ لَهُمْ عِزًّا ﴿٨١﴾
كَلَّا ۚ سَيَكْفُرُونَ بِعِبَادَتِهِمْ وَيَكُونُونَ عَلَيْهِمْ ضِدًّا ﴿٨٢﴾﴾

[۷۷] (ای پیغمبره!) ایا نو تا هغه څوک کتلی دی کوم چې زمونږ په ایتونو باندې کفر (انکار) غوره کړی دی او وایي چې: هرو مرو ضرور به ماته (په آخرت کښې) مال او اولاد راکړی شي؟

[۷۸] ایا نوموړي په غیبو (لوح محفوظ) باندې اطلاع حاصله کړې ده (چې ذکره شوې دعوه کوي) او یا یې د ډېر مهربان الله ﷻ په نزد عهد (وعده) اخستې ده؟

[۷۹] دغسې نه ده (لکه چې نوموړی اټکل کوي)، ډېر ژر دی چې مونږ به هغه خبره ولیکو (جزا به ورباندې ورکړو) کومه چې نوموړی (کافر) یې وایي، او هم به ورته عذاب اوږد (زیات) کړو، اوږدول (زیاتول).

[۸۰] او هم به ترې هغه شیان (په کلي توګه) واخلو د کومو (په سبب سره) چې نوموړی (نازېږي او کفري) خبرې کوي (چې مونږ د مسلمانانو څخه بهتر یاستو)، او (بالآخره) مونږ ته به یوازې راشي (چې نه به ورسره مال وي او نه اولاد).

[۸۱] او کفارو بدون د الله ﷻ څخه (باطل) معبودان د دې دپاره نیولي دي چې د دوی دپاره به عزت وګرځي (او د اعزاز سبب به یې جوړ شي).

[۸۲] دغسې نه ده (لکه چې دوی خیال کوي)، ډېر ژر دی چې د دوی معبودان به د دوی د عبادت څخه انکار وکړي او په همدوی باندې به دښمنان جوړ شي.

## شان نزول او ارتباط

۱ـ د دې ایتونو په شان نزول کښې په مختلفو الفاظو سره د خباب الارت ؓ او د عاص بن وائل قیصه روایت شوې ده چې مونږ د رانقلولو دپاره لاندې دوه روایتونه انتخاب کړي دي:

الف: خباب بن الارت ؓ وایي چې زه د جاهلیت په زمانه کښې اهنګر (پښ) وم چې العاص بن وائل مې د همدغه صنعت د کبله پور وړی شو، کله چې زه په اسلام باندې مشرف شوم او د نوموړي څخه مې د خپل دَین (پور) مطالبه وکړه نو لاندې سوال جواب یې راسره وکړ:

خباب ؓ: زما حق (دَین) راکړه.

العاص: تر هغې به یې درنه کړم ترڅو چې ته په محمد باندې بېرته کافر جوړ شې.

خباب ؓ: زما دې په الله ﷻ باندې سوګند وي چې زه به کفر ته ترهغه بېرته ورتاو نه شم ترڅو چې الله ﷻ تا مړ کړي او بیا دې بېرته راژوندی کړي (هیڅکله به زه کفر غوره نه کړم).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



العاص: نو ما پرېږده ترڅو زه مړ شم او بیا بېرته راژوندی شم، که بالفرض همدغسې وشي نو ډېر ژر دی چې هلته به ماته مالونه او اولادونه راکړی شي، هلته به دې قرض (دَین) خلاص کړم.

«فَنَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةُ»[١] نو ذکر شوی ایت شریف د نورو ایتونو په شمول نازل شو.

ب: خباب بن الارت ﷺ او العاص بن وائل په لاندې ډول سوال جواب وکړ چې:

خباب ﷺ: زما قرض راکړه.

العاص: نن ورځ زما سره هغه څه نشته په کوم باندې چې ستا قرض اداء کړم.

خباب ﷺ: زه به تاته همدلته ناست یم ترڅو چې زما قرض راکړې.

العاص: ته خو پخوا دغسې په سختۍ سره غوښتونکی نه وې، دا ولې داسې شوې؟

خباب ﷺ: پخوا زه ستا په دین وم (نو ستا مراعات مې کاوه) او نن ورځ په اسلام باندې مشرف شوی یم او ستا څخه په دین کښې جدا یم.

العاص: ایا تاسو مسلمانان نه وایاست چې په جنت کښې سره زر او سپین زر او هم ورېښم شته؟

خباب ﷺ: ولې نه، مونږ په همدغې عقیده باندې یاستو.

العاص (د تمسخر او ملنډو په توګه وویلې چې): قرض دې وروسته کړه ترڅو یې تاته په جنت کښې درکړم، او دا څکه چې زما دې په الله ﷻ باندې سوګند وي که بالفرض ستا خبره حقه وي چې د مرګ څخه وروسته ژوندون شته دی نو هلته به زما برخه ستا څخه بهتره وي (او زه به ستا څخه لوی جنتي یم). نو الله ﷻ ذکر شوي څو ایتونه نازل کړه[٢].

٢ـ اما د ارتباط وجه یې دا ده چې په دې ایتونو کښې په هغه مضمون باندې صراحت شوی دی کوم ته چې په وړاندېنیو ایتونو کښې اشاره شوې ده، چې د مشرکانو په نزد هغه څوک بهتر دی کوم چې ډېر مالونه او پراخه اولادونه لري، خو واقعیت داسې نه دی.

## د مطلب خلاصه

١ـ یعنې ای پیغمبره! کفار او مشرکان عقیده لري چې د مالونو او اولادونو کثرت او ډېروالی د عزت او الله ﷻ ته د نژدېکت نښه ده، د همدې کبله مؤمنانو ته د حقارت په نظر ګوري، او په خپلو خانونو باندې ګومان کوي چې دوی الله ﷻ ته ډېر نژدې دي.

نو څکه ته هغه څوک ګورې چا چې زمونږ په ایتونو باندې کفر غوره کړی دی، چې په ذکره شوې عقیده باندې کلک دي او مسلمانانو ته وایي چې: اول خو بیا ژوندون نشته او که بالفرض زه بیا راژوندی شم نو ضرور او هرومرو به ماته مالونه او اولادونه هلته هم راکړی شي لکه چې دلته راکړی شوي دي.

٢ـ ای پیغمبره! د نوموړي کافر دغه عقیده هیڅ ثبوت نه لري، او دا څکه چې:

---

(١) صحيح البخاري ج٢ ص٦٩٢؛ جامع الترمذي ج٢ ص١٤٩

(٢) اسباب النزول للواحدي ص٢٠٤

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: د آخرت ټول حالات غیوب دي، ایا نوموړی په غیبو باندې علم لري چې پخپله همده ته وحې ورغلې ده چې تاته به دا او هغه درکړی شي؟.

ب: او یا دا ده چې نوموړی د کوم پیغمبر په ذریعه د ډېر مهربان الله ﷻ څخه عهد او وعده اخستې ده، چې تاته به هغه او دغه درکول کېږي؟

۳ـ دغسې نه ده لکه چې نوموړی خیال کوي، نه په غیبو پوهېږي او نه ورته وعده ورکړه شوې ده، بلکې د نوموړي خبره د رجماً بالغیب څخه په غیر بل شی نه ده.

۴ـ نو ژر دی چې د نوموړی د جنایاتو په دوسیه کښې به هغه څه هم ولیکو په کومو باندې چې خوله ښوروي او د عذاب ونډه به یې ورباندې وراضافه کړو. یا په بل عبارت: نوموړی به د کفر په عذاب باندې علاوه د ذکرې شوې کفري خبرې په سزا باندې هم ورسوو او عذاب به یې ورزیات کړو.

۵ـ نوموړي ته چې مونږ په دنیا کښې هرڅه ورکړي دي دا د څو ورځو دپاره دي چې همدلته ورباندې امتحان شي. نو ډېر ژر دی چې د ده د مرګ سره سم به ترې هغه څه ټول بېرته واخلو او مونږ ته به پاتې شي په کومو باندې چې نوموړی افتخار کوي او د ذکرې شوې وینا باعث یې جوړېږي او بالآخره مسلمانانو ته په سپک نظر ګوري.

نوموړی به مونږ ته په داسې حال راشي چې هیڅ شی به ورسره نه وي، نه به یې مالونه ملګرتیا وکړی شي او نه به ورسره اولادونه اندېوالي وکړي.

۶ـ ای پیغمبره! د ذکرې شوې کفري خبرې د کولو وجه دا ده چې کفارو د الله ﷻ څخه په غیر باطل معبودان په الوهیت سره نیولي دي او عبادت یې کوي، ترڅو همدغه باطل معبودان ورته د عزت سبب وګرځي او په سخته ورځ کښې یې په درد وخوري.

۷ـ خو خبره دغسې نه ده، باطل معبودان به یې په هیڅ درد باندې دوا نه شي بلکې:

الف: هغوی به یې د عبادت څخه انکار وکړي چې تاسو زمونږ عبادت نه دی کړی بلکې تاسو د خپلو خواهشاتو عبادت کړی دی.

ب: حتی هغوی به ورته په غُصه شي او د دوی په خلاف به دښمني قائمه کړي چې مونږ ستاسو دښمنان یاستو، او ستاسو څخه بېزار یاستو.

## توضیحات

۱ـ که څوک وایي چې د شان نزول په ځینو روایاتو کښې شته[١] چې مشرک سړي (العاص بن وائل) لاندې سوال جواب هم وکړ چې:

العاص: ته د دغه سړي (محمد ﷺ) سره نه یې؟

خباب ﷺ: ولې نه، ما ورباندې ایمان راوړی دی.

العاص: ایا دغه سړی دا ګومان نه کوي چې ستاسو دپاره به په آخرت کښې جنت وي او هم به

---

(١) الدر المنثور ج۵ ص۵۳۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ستاسو دپاره په جنت کښې مالونه او زامن وي؟

خباب ﷺ: ولې نه (مونږ یقین لرو چې خبره یې واقعیت لري).

العاص: لاړ شه، ستا قرض به هیڅکله درنه کړم مګر هملته (په جنت کښې).

نو پوښتنه دا ده چې: ایا په جنت کښې جنتیان اولادونه درلودلی شي؟

مونږ وایو چې: الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَشْتَهِيٓ أَنفُسُكُمْ ﴾ [فصلت:۳۱] یعنې ای مؤمنانو! تاسو ته په جنت کښې هغه شی دی چې ستاسو زړونه یې غواړي.

همدارنګه نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «الْمُؤْمِنُ إِذَا اشْتَهَى الْوَلَدَ فِي الْجَنَّةِ كَانَ حَمْلُهُ وَوَضْعُهُ وَسِنُّهُ فِي سَاعَةٍ كَمَا يَشْتَهِي»[۱] یعنې کله چې مؤمن سړی په جنت کښې د ولد اشتهاء وکړي (ولد وغواړي) نو سمدستي به هغه د ولد خاوند شي، چې په ولد باندې امیدواره کېدل او زېږول او بالآخره غټېدل دا ټول شیان به په ګړی کښې صورت ونیسي.

نو معلومه شوه چې جنتیان د اشتهاء (غوښتنې) په وخت کښې اولاد درلودلی شي، مګر کومه اشتهاء چې د جنت سره مناسبه نه وی هغه به د دوی په زړونو کښې نه ګرځي لکه چې د ادنی جنتي په زړه کښې هم نه ګرځي چې دی دې د لوړو درجو خاوند شي، بلکې هرڅوک به په خپل جنت باندې راضي وي او په خیال کښې به یې ورځي چې د ده څخه لوړ هیڅوک نشته.

همدې مضمون ته نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې اشاره کړې ده چې: «...وَمَا يَرَوْنَ أَنَّ أَصْحَابَ الْكَرَاسِيِّ بِأَفْضَلَ مِنْهُمْ مَجْلِسًا»[۲] یعنې: وخت به داسې هم راشي چې د لوړو درجو جنتیان به د نور په چوکیو (تختونو) باندې ناست وي او د ټیټو درجو خاوندان به د مشکو او کافورو په غونډیو باندې ناست وي، مګر دوی به داسې ګوري (په خیال کښې به یې ورځي) چې د چوکیو خاوندان د دوی څخه د کېناستلو د حیثه بهتر نه دي، ترڅو دوی غمژن نه شي چې غمژن کېدل د جنت سره مناسب نه دي.

نو د ذکر شوې تحقیق په بنیاد اکثره علماوو کرامو دې ته ترجیح ورکړې ده چې په جنت کښې توالد او تناسل نشته[۳].

۲ـ په ﴿ أَمِ ٱتَّخَذَ عِندَ ٱلرَّحۡمَٰنِ عَهۡدًا ﴾ کښې ځینو علماوو کرامو د "عَهْد" کلمه په "کلمه طیبه" باندې تفسیره کړې ده[۴]، یعنې ایا ذکر شوي کافر په غیبو باندې اطلاع حاصله کړې ده او د خپل ځان په ارتباط یې لوح محفوظ لیدلی دی، او یا دا چې د الله ﷻ څخه یې عهد او وعده اخستې ده چې په توحید باندې قائل شوی دی؟ نو کله چې دغه دواړه وجې په نوموړي کښې منفي دي نو په څه دلیل باندې د جنت دعوه کوي.

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۸۴
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۸۱
(۳) روح المعاني ج۱٦ ص۱۳۱
(۴) تفسیر ابي السعود ج۵ ص۲۷۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مگر مونږ ته بهتره برېښي چې عهد به په خپله معنی سره وي، یعنې ایا نوموړي د ګفر سربېره په غیبو علم حاصل کړی دی او یا یې د الله ﷻ څخه وعده اخستې ده چې ته به په کفر باندې نه نیولی کېږي؟.

نو زمونږ د تفسیر په بنیاد به ذکر شوی ایت شریف هغه ایت شریف ته ورته وي کوم چې د یهودانو په هکله نازل شوی دی چې: ﴿ قُلْ أَتَّخَذْتُمْ عِندَ ٱللَّهِ عَهْدًا فَلَن يُخْلِفَ ٱللَّهُ عَهْدَهُۥٓ ﴾ [البقرة: ۸۰] یعنې یهودان وایي چې مونږ به د شمېرلو شوو ورځو څخه په غیر اور مسه نه کړي، نو ته ورته ووایه چې ایا تاسو د الله ﷻ په نزد کوم عهد (وعده) اخستې ده چې هیڅکله به الله ﷻ د خپلې وعدې (عهد) څخه مخالفت ونه کړي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۳_ که څوک وایي چې: په ﴿ سَنَكْتُبُ مَا يَقُولُ ﴾ کښې د "س" توری په تاخیر باندې دلالت کوي او د ﴿ مَا يَقُولُ ﴾ کلمات د هغې وینا څخه عبارت دي کومه چې الله ﷻ په وړاندېني ایت کښې د کفارو د خولو څخه حکایت کړې ده چې: ﴿ لَأُوتَيَنَّ مَالًا وَوَلَدًا ﴾؛ نو حاصل یې داسې راځېږي چې د کفارو ذکره شوې باطله وینا به وروسته ولیکو. حال دا چې د انسان ټولې ویناګانې د تکلم په وخت کښې لیکلی کېږي، نه دا چې لیکل یې څه وخت ټالېږي؟.

مونږ وایو چې: دلته د کنایې په توګه د کتابت (لیکلو) څخه جزا مطلب ده، لکه چې د ایت شریف متصله ټکړه وړباندې دلالت کوي چې: ﴿ وَنَمُدُّ لَهُۥ مِنَ ٱلْعَذَابِ مَدًّا ﴾ یعنې او مونږ به ورته عذاب اوږد (زیات) کړو اوږدول.

## سوال جواب

۴_ که څوک، وایي چې: په ﴿ وَنَرِثُهُۥ مَا يَقُولُ ﴾ کښې د ﴿ مَا يَقُولُ ﴾ کلمات د کفارو کومې وینا څخه عبارت دي؟

مونږ وایو چې: په دغو کلماتو کښې د کفارو هغه وینا مطلب ده کومې ته چې په ﴿ أَيُّ ٱلْفَرِيقَيْنِ خَيْرٌ مَّقَامًا وَأَحْسَنُ نَدِيًّا ﴾ کښې اشاره شوې ده، یعنې مونږ به د کافر انسان څخه مالونه او اولادونه داسې واخلو لکه د مړي څخه چې خپل وارثان مالونه اخلي چې په مړي کښې یې د غوښتنې توان نه پاتې کېږي. یا په بل عبارت: مونږ به ترې هغه څه واخلو د کومو په سبب باندې چې نوموړی د تکبر او خان خانۍ خبرې کوي او مؤمنانو ته د حقارت او سپکاوي په نظر ګوري، نو د هر څه څخه به خالي لاس زمونږ په حضور کښې ودرولی شي.

## هېر مو نه شي!

مونږ د دوهم ځل ﴿ مَا يَقُولُ ﴾ څخه هغه ویناوې مرادې نه کړې کومې چې په لومړي ځل ﴿ مَا يَقُولُ ﴾ کښې مرادې وې، ځکه که داسې وی نو دوهم ځل به ورته په ضمیر سره اشاره شوې وی او

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



"وَنَرِثُهُ إِيَّاهُ" به نازل شوی وی، ترڅو د عربیت د قواعدو مراعات شوی وی چې دوهم ځل ذکر په ضمیر سره کېږي البته کله چې کومه نکته په نظر کښې نه وي نیولې شوې.

## ضد څه معنی؟

۵ـ په ﴿ وَيَكُونُونَ عَلَيْهِمْ ضِدًّا ﴾ کښې د "ضِد" کلمه هغه شي ته وضعه شوې ده چې د بل شي څخه مخالف وي او په یوه ځای کښې ورسره نه شي جمعه کېدلی، لکه حرکت اوسکون. په ذکره شوې کلمه کښې مفرد او مثنی او حتی جمعه درېواړه یو برابر دي[۱]. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې د کفارو باطل معبودان به د قیامت په ورځ خپلو عابدانو ته دښمنان جوړ شي او د دوی سره به په یوه ځای کښې نه جمعه کېږي.

همدې مضمون ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې د ﴿ وَإِذَا حُشِرَ ٱلنَّاسُ كَانُوا۟ لَهُمْ أَعْدَآءً ﴾ [الأحقاف:۶] یعنې او کله چې خلک د قیامت په ورځ حشر کړی شي نو د کفارو دپاره به خپل معبودان دښمنان وګرځي او د عبادت څخه به یې انکار وکړي.

﴿ أَلَمْ تَرَ أَنَّآ أَرْسَلْنَا ٱلشَّيَـٰطِينَ عَلَى ٱلْكَـٰفِرِينَ تَؤُزُّهُمْ أَزًّا ﴿٨٣﴾ فَلَا تَعْجَلْ عَلَيْهِمْ ۖ إِنَّمَا نَعُدُّ لَهُمْ عَدًّا ﴿٨٤﴾ يَوْمَ نَحْشُرُ ٱلْمُتَّقِينَ إِلَى ٱلرَّحْمَـٰنِ وَفْدًا ﴿٨٥﴾ وَنَسُوقُ ٱلْمُجْرِمِينَ إِلَىٰ جَهَنَّمَ وِرْدًا ﴿٨٦﴾ لَّا يَمْلِكُونَ ٱلشَّفَـٰعَةَ إِلَّا مَنِ ٱتَّخَذَ عِندَ ٱلرَّحْمَـٰنِ عَهْدًا ﴿٨٧﴾ ﴾

[۸۳] (ای پیغمبره!) ایا ته نه ګورې چې یقیناً مونږ په کفارو باندې شیطانان وراستوو (ورمسلطوو) چې په شدت سره یې (د جنایاتو په لور د میچنې او ژرندې غوندې) چورلوي (ته به وایې چې چورلول یې اواز کوي)، چورلول.

[۸۴] نو (ای پیغمبره!) ته د دوی (په تعذیب) باندې تادي (جلتي) مه کوه، یقیناً مونږ ورته (ورځې او شپې) شمېرو شمېرل (چې میعاد یې پوره شي نو سمدستي به یې معذب کړو).

[۸۵] هغه ورځ (یاده کړه) چې مونږ د ډېر مهربان الله ﷻ (جنت) ته متقیان د (رابللې شوې جرګې (مېلمنو) په حیث (په اعزاز سره) غونډ کړو (ورداخل کړو).

[۸۶] او (هغه ورځ هم یاده کړه) چې مونږ مجرمان (کافران) دوزخ ته د تږو اوښانو غوندې سوق (او په زغلولو روان) کړو.

[۸۷] (په دغې ورځ کښې) د کفارو بوتان (او باطل معبودان) به توان ونه لري چې (دوی ته) شفاعت وکړي (لکه څنګه چې ورته دوی په تمه دي). مګر هغه څوک (به بل چاته د شفاعت توان لري) چې د ډېر مهربان الله ﷻ په نزد یې عهد (وعده او اجازه) اخستې وي (چې تاته اذن دی شفاعت وکړه).

---

(۱) لسان العرب ج۳ ص۲۶۳

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباطونه

۱_ هلته د کفارو اوتې بوتې خبرې حکایت شوې وې او دلته یې وجه ښودلې شوې ده چې شیطانان وربانديې مسلط دي.

۲_ هلته بوتانو ته د مشرکانو د پلوه د اعزاز او شفاعت تمه حکایت شوې وه او دلته د همدغې تمې رد ته اشاره شوې ده.

## د مطلب خلاصه

۱_ یعنې ای پیغمبره! د کفارو د مزخرفو کارونو او مزخرفو ویناګانې اصلي وجه دا ده چې مونږ وربانديې شیطانان مسلط کړی دي، ته نه ګورې چې یو پلو او بل پلو ته یې اړوي او څه یې چې خوښه وي هغه وربانديې اجراء کوي، که بالفرض دوی د شیطانانو پیروي پرېښې وی او اقلاً د خپل عقل څخه یې کار اخستی وی نو د توحید په عقیده به کلک ولاړ وی او د اضطراب څخه به یې خپل خانونه بچ کړي وی.

۲_ نو ای پیغمبره! ته د یو پلوه امید مه کوه چې دوی به ستا په دعوت باندې د شیطانانو د پیروی څخه لاس واخلي، او د بله پلوه تادي مه کوه چې مونږ دوی ټول پوپنا کړو او د فساد څخه یې د ځمکې مخ خالي کړو. او دا ځکه چې دوی ته مونږ د څه وخته پورې مهلت ورکړی دی نو ورځې او شپې او هم ګړۍ او دقیقې یې شمېرو، کله چې مهلت پوره شو او ټاکلی وخت راورسېد نو په طرف العین کښې به ترې د ځمکې مخ خالي کړو.

۳_ ای پیغمبره! کفار دنیاوي اعزاز د اخروي اعزاز نښه ګڼي مګر حقیقت داسې نه دی لکه چې دوی خیال کوي، حقیقت داسې دی چې:

الف: په آخرت کښې فقط متقیان د اعزاز خاوندان دي، نو ته دوی ته هغه ورځ ورپه یاده کړه چې کله مونږ متقیان د مېلمنو په څېر په ډېر اعزاز سره د خپل ډېر مهربان رب ﷻ رضا او جنت ته حشر کړو.

ب: او هغه وخت هم ورپه زړه کړه چې مونږ په ډېر توهین او د بې عزتۍ په توګه ټول مجرمان (کفار) دوزخ ته د تږو اوښانو غوندې سوق کړو او هلته یې پکښې ورواچوو.

ج: د دغه توهین څخه به باطل معبودان دوی خلاص نه شي کړی لکه چې ورته په تمه دي چې مونږ ته به شفاعت وکړي. او دا ځکه چې:

په دغې ورځ کښې به د کفارو باطل معبودان وسه او توان ونه لري چې خپلو عابدینو ته د الله ﷻ په نزد شفاعت وکړي او له عذابه نجات ورکړي.

هو! د شفاعت توان به هغه څوک لري چې د ډېر مهربان الله ﷻ په نزد یې عهد اخستی وي او د ده ﷻ په اجازه باندې یې شفاعت کولو ته اقدام کړی وی. او پوره واضحه ده چې د کفارو باطل معبودان نه د شفاعت کولو استعداد لري او نه اجازه تر لاسه کولی شي او بالآخره نه به د شفاعت د قبول وعده ورکړی شي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

١ـ په ﴿ تَؤُزُّهُمْ أَزًّا ﴾ کښې د "أز" کلمه چې "ئؤز" کلمه تري اشتقاقه شوي ده هغه اواز ته ویل کېږي کوم چې د شدت او قوت څخه نمایندګي کوي[١]. د ښه وضاحت دپاره لاندې مثالونه ولولئ:

الف: یو صحابي ﷜ وایي چې: «رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي وَفِي صَدْرِهِ أَزِيزٌ كَأَزِيزِ الرَّحَى مِنَ الْبُكَاءِ»[٢] ما نبي کریم ﷺ ولید، چې په داسې حال کښې یې لمونځ کاوه چې په مبارکه سینه کښې یې د ژړا څخه داسې اواز وه لکه د ژرندې یا مېچنې اواز.

ب: او په بل روایت کښې وایي چې: «أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يُصَلِّي وَلِجَوْفِهِ أَزِيزٌ كَأَزِيزِ الْمِرْجَلِ يَعْنِي يَبْكِي»[٣] زه نبي کریم ﷺ ته په داسې حال کښې ورغلم چې لمونځ یې کاوه او په ګېډه (سینه) کښې یې داسې اواز وه لکه د خوټېدونکې کټوې (دېګ) اواز، یعنې ژړل یې.

نو په دې مقام کښې یې حاصل یې داسې راځېږي چې مونږ په کفارو باندې شیطانان مسلط کړي دي چې په شدت سره یې کله یوه جنایت ته اړوي او کله بل ته، بلکې د هېڅ جنایت څخه مخونه نه اړوي (د هغوی پیروي نه پرېږدي).

### وفد څه معنی؟

٢ـ په ﴿ يَوْمَ نَحْشُرُ الْمُتَّقِينَ إِلَى الرَّحْمَٰنِ وَفْدًا ﴾ کښې د "وَفْد" کلمه هغه معزز ټولګي ته وضعه شوي ده کوم چې په عزت او وقار سره د یوه پاچا د پلوه بل پاچا ته وراستولی کېږي او په ښانسته سورلیو باندې سواره وي[٤]. یا هغه معزز ټولګی دی کوم چې د پاچایانو حضور ته د څه احتیاجاتو د پوره کولو دپاره د نمایندګانو په حیث وروړاندې کېږي، برابره خبره ده چې سواره وي او که پیاده وي[٥].

نو څه لرې نه ده چې په دې مقام کښې ترې مونږ په رابللو شوو مېلمنو سره تعبیر وکړو، مګر په کار دي چې لاندې نکات په دې مقام کښې هېر نه کړی شي:

الف: دلته د ﴿ إِلَى الرَّحْمَٰنِ ﴾ د کلماتو څخه "إِلَى جَنَّتِ الرَّحْمنِ" مطلب دی، یعنې متقیان به د محشر د میدان څخه د ډېر مهربان الله ﷻ جنتونو ته د معززو مېلمنو په شکل ورځي. اما د قبرونو څخه به د حشر میدان ته پیاده او لوڅ پوڅ ورټولېږي لکه چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّكُمْ مَحْشُورُونَ إِلَى اللهِ حُفَاةً عُرَاةً غُرْلًا»[٦] یعنې ای خلکو! یقینًا تاسو الله ﷻ ته حشر کړی شوي یاست په داسې حال کښې چې پښې لوڅې (پیاده) او لوڅ او نا سنته به یاست.

---

(١) مفردات الراغب ص١٢
(٢) سنن ابي داوُد ج١ ص١٣٠
(٣) سنن النسائي ج١ ص١٧٩
(٤) لسان العرب ج٣ ص٤٦٤
(٥) مفردات الراغب ص٥٦٥
(٦) صحیح البخاري ج٢ ص٦٦٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: د ﴿ نَحْشُرُ ٱلْمُتَّقِينَ ﴾ د کلمې څخه معلومیږي چې ټول متقیان به د وفد په شکل جنت ته داخل شي، نو کومو درېوو کسانو ته چې په یوه حدیث کښې د وفد لقب ورکړی شوی دی هلته به حصر مطلب نه وي، والله ﷻ أعلم.

حدیث دا دی چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: «وَفْدُ اللهِ ثَلَاثَةٌ الْغَازِي وَالْحَاجُّ وَالْمُعْتَمِرُ»[١] یعنې د الله ﷻ په نزد محترم او معزز ټولګی درې کسان دي چې یو غازي دی او بل حاجي دی او درېم عمره کوونکی دی.

## د "وِرد" معنی

۳ـ په ﴿ إِلَىٰ جَهَنَّمَ وِرْدًا ﴾ کښې د "وِرْد" کلمه مونث د الله ﷻ په توفیق د [هود:۹۸] ایت لاندې څېړلې ده چې متعددې معناوې لري، خو په هغو تږو اوښانو باندې هم د "وِرْد" اطلاق کېږي کوم چې اوبو ورکولو ته روان کړی شوي وي[٢].

په دې مقام کښې همدغه معنی ډېر ښه مناسبه برېښي، چې الله ﷻ د دوزخیانو څخه په ډېره توهین آمیزه توګه تعبیر وکړ چې مونږ به یې د تږو اوښانو غوندې د دوزخ په لور باندې سوق کړو، دوړي او ګردونه به ترې پورته کېږي او د پرښتو د پلوه به په متروکو وهل کېږي.

## څلورښت ډوله تفسیر

۴ـ په ﴿ لَّا يَمْلِكُونَ ٱلشَّفَٰعَةَ إِلَّا مَنِ ٱتَّخَذَ عِندَ ٱلرَّحْمَٰنِ عَهْدًا ﴾ کښې د مفسرینو کرامو د اقوالو څخه استنباط کېږي چې دلته تقریبًا د څلوېښتو ډولونو تفسیر احتمال شته دی هغه دا چې:

د ﴿ لَا يَمْلِكُونَ ﴾ په مستتر ضمیر کښې لاندې څلور احتماله جواز لري[٣]:

الف: چې ﴿ ءَالِهَةً ﴾ کلمې ته راجع شي کومه چې په لږ وړاندې ایت کښې ذکره ده.

ب: چې په ﴿ نَحْشُرُ ٱلْمُتَّقِينَ ﴾ کښې د ﴿ ٱلْمُتَّقِينَ ﴾ کلمې ته راجع وګڼل شي.

ج: چې په ﴿ وَنَسُوقُ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴾ کښې د ﴿ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴾ کلمې ته راجع وبلل شي.

د: چې د ﴿ ٱلْمُتَّقِينَ ﴾، ﴿ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴾ دواړو مجموعې ته راجع کړی شي.

همدارنګه د ﴿ ٱلشَّفَٰعَةَ ﴾ کلمه دوه معناوې درلودلی شي، یوه دا چې دوی بل چاته شفاعت نه شي کولی او بله دا چې د دوی شفاعت بل څوک نه شي کولی[۴]؛ نو دوه چې په څلورو کښې ضرب کړی شي اته (٨) ترې جوړېږي.

---

(١) سنن النسائي ج٢ ص٥٥
(٢) لسان العرب ج٣ ص۴٩٦
(٣) روح المعاني ج١٦ ص١٢٧؛ المحرر الوجيز ج١ ص١٣٨؛ تفسير القاسمي ج١١ ص١۴٨؛ تفسير القرطبي ج١١ ص١۵۴
(۴) حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج٣ ص٢٠۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د ﴿ عَهْدًا ﴾ کلمه لاندې معناوې درلودلی شي[1]:

اول: "عَهْد" د کلمې طیبې څخه عبارت دی.

دوهم: دا د اطاعت معنی ورکوي.

دریم: دا د صالح عمل په معنی اخستلی شي.

څلورم: دا د کتاب الله ﷻ د حفظ په معنی سره اخستل کېږي.

پنځم: بالآخره عهد په دې مقام کښې د اذن او اجازې معنی ورکوي.

نو پنځه (۵) چې په ذکرو شوو اتو (۸) کښې ضرب کړی شي څلوېښت (۴۰) احتماله ترې جوړېږي.

په دغو څلوېښتو احتمالاتو کښې ځینې احتمالات په منقطعه استثناء باندې ولاړ دي او په ځینو کښې متصله استثناء تحقق مومي[2].

په ټولو احتمالاتو کښې مونږ ته د دې مقام (سباق او سیاق) په لحاظ سره چې د بوت پرستانو د عقیدې په رد کښې بحث روان دی، هغه تفسیر غوره برېښي کوم چې په لاندې بنیادونو باندې ولاړ دی:

اول: د ﴿ لَّا يَمْلِكُونَ ﴾ مستتر ضمیر مونږ په ﴿ وَٱتَّخَذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ ءَالِهَةً ﴾ کښې د ﴿ ءَالِهَةً ﴾ ته راجع کړی دی چې د کفارو د باطلو معبودانو معنی ورکوي او دوی ورته د شفاعت کولو په تمه عبادت کوي.

دوهم: د ﴿ ٱلشَّفَٰعَةَ ﴾ کلمه د مبني للفاعل مصدر دی چې بل چاته د شفاعت کولو معنی ورکوي.

دریم: د ﴿ عَهْدًا ﴾ څخه د اجازې او اذن معنی اخلو.

څلورم: بالآخره استثناء پکښې منقطعه معتبره وو.

نو د معنی حاصل به یې داسې راوځېږي چې: مشرکان خو خپلو باطلو معبودانو (بوتانو) ته د شفاعت تمه لري مگر دغه تمه یې غلطه ده او دا ځکه چې هغوی وسه نه لري چې چاته شفاعت وکړی شي، هو! هغه څوک بل ته شفاعت کولی شي چا چې د ډېر مهربان الله ﷻ په نزد د شفاعت کولو اجازه او اذن ترلاسه کړی وي، حال دا چې الله ﷻ نه بوتانو ته د شفاعت کولو اجازه ورکوي او نه په هغوی کښې د اجازې اخستلو استعداد شته او بالآخره نه مشرکان د دې جوگه دي چې څوک ورته شفاعت وکړي، ځکه چې الله ﷻ کفر او شرک بالکل نه بښي.

ذکر شوی تفسیر په لاندې نصوصو کښې منعکس شوی دی:

په یوه ایت کښې الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ وَلَا يَمْلِكُ ٱلَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِهِ ٱلشَّفَٰعَةَ إِلَّا مَن شَهِدَ بِٱلْحَقِّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴾ [الزخرف: 86] یعنې او هغه معبودان د شفاعت ملکیت (توان) نه لري کوم چې مشرکان یې د الله ﷻ څخه په غیر بلي، مگر هغه څوک شفاعت کولی شي چې په حقه

(١) البحر المحیط ج٧ ص٢٩٩

(٢) تفسیر ابي السعود ج٥ ص٢٨٢؛ تفسیر ابن کثیر ج٣ ص١٣٨

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يې شاهدي ورکړې وي (د توحيد اقرار يې کړى وي) حال دا چې دوى پوهېږي (او يقين لري) چې الله ﷻ شريک نه لري.

په بل ايت شريف کښې الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿ مَن ذَا ٱلَّذِى يَشْفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذْنِهِۦ ﴾ [البقرة: ٢۵۵] يعنې دا هغه کس څوک دى چې د الله ﷻ په نزد بدون د ده ﷻ د اجازې (او اذن) څخه (د چا) شفاعت وکړي؟

﴿ وَقَالُوا۟ ٱتَّخَذَ ٱلرَّحْمَٰنُ وَلَدًا ﴿٨٨﴾ لَّقَدْ جِئْتُمْ شَيْـًٔا إِدًّا ﴿٨٩﴾ تَكَادُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ يَتَفَطَّرْنَ مِنْهُ وَتَنشَقُّ ٱلْأَرْضُ وَتَخِرُّ ٱلْجِبَالُ هَدًّا ﴿٩٠﴾ أَن دَعَوْا۟ لِلرَّحْمَٰنِ وَلَدًا ﴿٩١﴾ وَمَا يَنۢبَغِى لِلرَّحْمَٰنِ أَن يَتَّخِذَ وَلَدًا ﴿٩٢﴾ إِن كُلُّ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ إِلَّآ ءَاتِى ٱلرَّحْمَٰنِ عَبْدًا ﴿٩٣﴾ لَّقَدْ أَحْصَىٰهُمْ وَعَدَّهُمْ عَدًّا ﴿٩٤﴾ وَكُلُّهُمْ ءَاتِيهِ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ فَرْدًا ﴿٩٥﴾ ﴾

[٨٨] او کفار وايي چې: الله ﷻ ولد (ولديت) نيولى دى.

[٨٩] (اى پيغمبره! دوى ته ووايه چې) يقيناً تاسو (د جنايت د حيثه) په ډېر لوى شي باندې راتګ وکړ.

[٩٠] چې (ټول) اسمانونه نژدې دي چې د همدغه شي (همدغې خبرې) د کبله وچوي او ځمکه (ترې) څېرې شي (وشکېږي) او (بالآخره) غرونه (ترې) په ټوټه ټوټه کېدلو سره راولوېږي.

[٩١] (دا ځکه چې) کفارو ډېر مهربان الله ﷻ ته ولد بللى (او په ولديت نيولو يې قول کړى) دى.

[٩٢] (حال دا چې) ډېر مهربان الله ﷻ ته مناسبه نه ده چې (د خپلو مخلوقاتو د جملې څخه) ولد ونيسي (ځينو ته په ولديت قائل شي).

[٩٣] هيڅ يو کس نه په اسمانونو کښې دى او (نه) په ځمکو کښې مګر ډېر مهربان الله ﷻ ته د (يوه) بنده په حيث ورتلونکى دى (چې اطاعت يې کوي).

[٩٤] يقيناً الله ﷻ په دوى (ټولو) باندې (په علم او قدرت سره) احاطه کړې ده، او شمېرلي يې دي شمېرل (چې يو هم ترې نه وځي او نه ترې وتلى شي).

[٩٥] او دوى ټول د قيامت په ورځ الله ﷻ ته په انفرادي توګه ورتلونکي دي (چې نه به ورسره مال او دولت وي او نه مددګاران او دوستان).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنيو ايتونو کښې د مشرکانو د بوت پرستۍ عقيدې ته او د همدغې باطلې عقيدې وجې ته اشاره شوې وه، او په دې ايتونو کښې د هغوى يوې بلې کفرې او شرکي عقيدې ته اشاره کېږي چې ـ العياذ بالله ﷻ ـ د ولديت د نيولو عقيده ده. نو د مطلب خلاصه يې داسې راځي:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ای پیغمبره! د کفارو یوه بله کفري عقیده هم د رد دپاره یاده کړه هغه دا چې:

۱ـ کفار په دې عقیده دي چې ډېر مهربان الله ﷻ د خپلو مخلوقاتو څخه ځینې د ولدیت په صفت نیولي دي چې مشرکان پرښتو ته بنات الله وایي او نصارا عیسی ؑ ته د ابن الله لقب ورکوي او بالآخره یهودان عُزیر ؑ د ابن الله په نامه یادوي.

۲ـ نو ای پیغمبره! زمونږ د پلوه ذکر شوي کفار (هره یوه ډله) مخاطبه کړه چې: ای د دغې باطلې عقیدې خاوندانو! تاسو لږ څه خپلو ځانونو ته متوجه شئ چې تاسو څه وایاست؟ تاسو خو ډېره لویه ګناه کوئ، او په ډېره لویه مجرمانه خبره باندې خولې ښوروئ، دغه خبره د جنایت او فساد د حیثه دومره لویه ده چې:

الف: نژدې ده چې د همدغې خبرې د امله اسمانونه وچوي.

ب: او هم نژدې ده چې ځمکه د کلکوالي سره سره کاواکه شي او څیرې شي.

ج: بالآخره نژدې ده چې د همدغې خبرې په اثر لوړ او قوي غرونه سقوط وکړي او په ځمکه باندې سر په څړې وغورځېږي.

د دغو درېواړو کارونو د نژدېکت بله وجه نه ده فقط همدا وجه ده چې مشرکانو او کفارو بل چاته نه بلکې ډېر مهربان الله ﷻ ته په ولدیت باندې قول کړی دی او د همده ﷻ په ځینو مخلوقاتو باندې یې ورته د ولدیت نوم اینبی دی.

۳ـ ای پیغمبره! د ذکر شوې عقیدې خاوندانو ته ووایه چې: د ولدیت نیول ډېر مهربان الله ﷻ ته هیڅ مناسب نه دي، د هغه ﷻ سره دغسې کار هیڅ پیوند نه خوري، چې ابدي او ازلي دی، هیڅ شي ته احتیاج نه دی او د ټولو نواقصو او عیبونو څخه پاک او منزه دی، او دا خکه چې:

۴ـ هرڅوک چې په اسمانونو او ځمکو کښې دي دا ټول (د پرښتو، عیسی ؑ او عُزیر ؑ په شمول) نه دي مګر ډېر مهربان الله ﷻ ته د یوه منقاد بنده په حیث ورتلونکي دي، نه د هغه چا په حیث (لکه چې کفار خیال کوي) چې هغه د الله ﷻ سره د ولدیت اړیکه ولري او د نورو مخلوقاتو څخه یې د مخلوقیت حیثیت بېل او جدا وي.

نو کله چې ټول مخلوقات د مخلوقیت په صفت کښې یو برابر دي او په همدغه صفت کښې یو په بل باندې څه امتیاز نه لري، نو ځینو ته په ولدیت باندې قائل کېدل او ځینو نورو ته پرې نه قائل کېدل څومره لویه سپین سترګي او څومره لویه سادګي ده.

کفارو ته د ذکر شوي مساوات د کبله مناسب وه چې یا ټولو مخلوقاتو ته په ولدیت باندې قائل شوي وي او یا بالکل د ولدیت د عقیدې څخه صرف نظر شوي وي، کله چې هغوی اول شق نه شي قبلولی نو ورته په کار دي چې په دوهم شق باندې هم قائل نه شي او د مخلوقاتو ترمنځ ځینو مخلوقاتو ته د مرجح د موجودیت څخه په غیر په ترجیح باندې قول ونه کړي.

۵ـ ای پیغمبره! د ځمکې او اسمانونو په اوسېدونکو ټولو باندې الله ﷻ په یوه ډول سره په علم او قدرت باندې احاطه کړې ده، او په یو ډول سره یې دوی په شمېرلو سره شمېرلي دي چې هیڅوک پرته

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د ده ﷻ د اجازې څخه نه ژوند کولی شي او نه واک او اختیار لري چې په څه شي کښې تصرف وکړي.

همدارنګه ټول مخلوقات په یو ډول سره په انفرادي توګه د الله ﷻ حضور ته د قیامت په ورځ ورتلونکي دي، یا په بل عبارت: په مخلوقاتو کښې داسې مخلوق نشته چې هغه د ولدیت د کبله د الله ﷻ حضور ته د حساب کتاب دپاره ورنه شي او په نورو باندې امتیاز ولري، نو د دې سره-سره څینو ته په ولدیت باندې امتیاز ورکول څومره لوی کفر او څومره لوی دروغ او بهتان دی.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ شَيۡـًٔا إِدّٗا ﴾ کښې د "إِدّ" کلمه د عجیب لوی شي معنی ورکوي[١]، یعنې د ولدیت په قول سره تاسو په ډېر لوی عجیب شي باندې راتګ وکړ چې د صحت وجوه نه لري او د بطلان وجوه یې بالکل څرګند دي، نژدې ده چې په ځمکو او اسمانونو او حتی په غرونو کښې یې اثرات څرګند شي.

۲ـ په ﴿ وَتَخِرُّ ٱلۡجِبَالُ هَدًّا ﴾ کښې د "هَدّ" کلمه د نړېدلو او تېز اواز دپاره وضعه شوې ده[٢]، یعنې د ذکرې شوې خبرې د کبله نژدې دی چې غرونه د غټوالي او لوړوالي سره-سره په کړنګ او غرز سره راولېږي، او دړې وړې شي، خو کافر انسان پرې هیڅ نه متاثر کېږي.

د ذکرې شوې کلمې څخه د تهدید کلمه هم اخستله شوې ده، لکه چې مونږ وایو: فلانی سړی مې ډېر تهدید کړ او د کنځلو دپاره مېورباندې چیغه ورووېستله.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې: د اسمانونو د راولوېدلو او د ځمکو د پرق چاودلو او بالآخره د غرونو د چپه کېدلو سره د کفارو د دې باطلې خبرې (چې الله ﷻ ولدیت نیولی دی) څه ارتباط دی، حال دا چې ذکر شوي شیان جمادات دي (ادراک او تمیز نه لري)؟

مونږ وایو چې: د ذکر شوي سوال دپاره مفسرینو کرامو متعدد جوابونه کړي دي[٣] لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: د ﴿ تَكَادُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ ﴾ الآیة- مطلب دا دی چې که د الله ﷻ د حلم وجه نه وی نو فقط د ولدیت د نیولو خبرې کفایت کاوه چې دنیا یې ورانه کړې وی او قیامت یې قائم کړی وی، نو اسمانونه به رالوېدلي وی او ځمکه به چاودې وی او غرونه به سرچپه شوي وی.

د همدې مطلب نظیر ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ وَلَوۡ يُؤَاخِذُ ٱللَّهُ ٱلنَّاسَ بِمَا كَسَبُواْ مَا تَرَكَ عَلَىٰ ظَهۡرِهَا مِن دَآبَّةٖ ﴾ [فاطر:۴۵] یعنې او که چرته الله ﷻ خلک د خپلو کسبونو (په ګناه) باندې (سمدستي) نیولی (او د حلم څخه یې کار نه اخستی) نو د ځمکې په شا باندې به یې هیڅ ساکښ

---

(١) لسان العرب ج٣ ص٧١

(٢) لسان العرب ج٣ ص۴٣٢

(٣) روح المعاني ج١٦ ص١۴٠؛ البحر المحيط ج٧ ص٣٠٠؛ تفسير الكشاف ج٣ ص۴۴؛ المحرر الوجيز ج١١ ص۵٩

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نه وي پرېښي (او تول به يې پوپنا کړي وي).

ب: جماداتو ته هم الله ﷻ څه تميز ورکړی دی حتی څه ادراک يې هم ورکړی دی چې د خپل رب ﷻ تسبيحات د قال په ژبه باندې وايي، چې پوره څېړنه يې د [الإسراء:۴۴] لاندې بيانه شوې ده، والحمد لله ﷻ.

نو څه لرې نه ده چې د ولديت په پوچه خبره باندې د ذکر شوي تميز او ذکر شوي ادراک د کبله اسمانونه او ځمکې او هم غرونه متاثر شي او هغو کيفياتو ته ورنژدې شي کومو ته چې په ايت شريف کښې اشاره شوې ده.

ج: که بالفرض ذکرو شوو جماداتو ادراک درلودی او يا ادراک ورکړی شوی وی نو د ولديت د دروغجنې خبرې په اورېدلو سره به د هغو کيفياتو سره مخامخ شوي وی کوم چې په ايت شريف کښې نازل شوي دي.

د: که بالفرض د ولديت پوچه او بې مغزه خبره مجسمه او محسوسه ګرځولې شوې وی نو نه به يې په اسمانونو کښې ځای موندلی وی او نه په ځمکه او غرونو کښې، بلکې د هغې د قرب څخه به دغه درېواړه هلاک ته ورنژدې شوي وی.

ه: په عربي محاوره کښې عادت دی چې د ډېر بد کار او ډېرې بدې وينا څخه د اسمانونو په راولوېدلو او د ځمکې په څېرې کېدلو سره تعبير کوي او د کناياتو په توګه يې استعمالوي.

همدغه عادت زمونږ په پښتو محاوره کښې هم شته، د وضاحت دپاره لاندې مثالونه ولولئ:

اول: دا کار مه کوه چې اسمان به راولوېږي.

دوهم: دومره لوی کار وشو او اسمان لا ولاړ دی؟!

درېم: دا کار يا وينا مه کوه چې د قارون غوندې به دې ځمکه راکاږي او داسې نور.

که څه هم ذکر شوي پنځه واړه جوابونه هر يو د سوال د مخنيوي توان لري مګر مونږ ته په زړه پوری جواب دوهم جواب برېښي.

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَيَجۡعَلُ لَهُمُ ٱلرَّحۡمَٰنُ وُدّٗا ﴿٩٦﴾ فَإِنَّمَا يَسَّرۡنَٰهُ بِلِسَانِكَ لِتُبَشِّرَ بِهِ ٱلۡمُتَّقِينَ وَتُنذِرَ بِهِۦ قَوۡمٗا لُّدّٗا ﴿٩٧﴾ وَكَمۡ أَهۡلَكۡنَا قَبۡلَهُم مِّن قَرۡنٍ هَلۡ تُحِسُّ مِنۡهُم مِّنۡ أَحَدٍ أَوۡ تَسۡمَعُ لَهُمۡ رِكۡزَۢا ﴿٩٨﴾ ﴾

[۹۶] يقينًا هغه کسان کومو چې ايمان راوړی دی او نېک عملونه يې کړي دي ژر دی چې ډېر مهربان الله ﷻ به ورته (په مختلفو څېرو کښې) محبت وګرځوي (پيدا او مونده کړي).

[۹۷] نو بې شکه (ای پيغمبره!) مونږ قرآن کريم د دې دپاره ستا په ژبې سره اسان کړی دی چې ته پرې متقيانو ته بشارت ورکړې او ډېر جګړماران قوم پرې وډار کړې.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۹۸] او مونږ (ستا د زمانې) د کفارو څخه مخکښې څومره ډېر قرنونه (پېرۍ) هلاکې کړې دي، ایا ته د دوی څخه یو نفر لیدلی شې؟ (شته چې ته یې وګورې؟) یا دوی لره څه نرۍ (او په ورو ورو) اواز اورې؟

## ارتباطونه

۱ـ په وړاندېنیو ایتونو کښې د هغو کسانو ذکر ته اشاره شوې وه د کومو څخه چې الله ﷻ ناراض دی او اسمانونه او ځمکې او حتی غرونه ورسره عداوت لري او نژدې دي چې د هغوی د دروغینې خبرې د کبله دړې وړې شي. په دې ایتونو کښې بالمقابل د هغو کسانو ذکر ته اشاره کېږي چې الله ﷻ ترې راضي دی او حتی جمادات (اسمانونه او ځمکې او غرونه) ورسره مینه او محبت لري.

۲ـ هلته دې مضمون ته اشاره شوې وه چې ټول مخلوقات په دې خبره کښې یو برابر دي چې د الله ﷻ دپاره ولد نه شي جوړېدلی، او په همدې کښې یو په بل څه امتیاز نه لري. دلته هغې وجې ته اشاره کېږي د کومې د کبله چې د مخلوقاتو ترمنځ امتیاز تحقق موندلی شي او الله ﷻ ته ورنژدې کېدلی شي، نو حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! اوس نو په خپل امت باندې د هغه خاصیت ذکر وکړه د کوم په سبب سره چې څوک مخلوقاتو ته محبوب جوړېږي او په نورو باندې د الله ﷻ په نزد امتیاز موندلی شي، هغه دا چې:

۱ـ یقینًا هغه کسان کومو چې په الله ﷻ باندې په رښتیانیو معناوو کښې ایمان راوړی دی او د شرکي عقیدې څخه یې اجتناب کړی دی او الله ﷻ ته په وحدانیت معتقد دي او د ولدیت درلودلو د عقیدې څخه یې ځانونه ساتلي دي، او د دې سره-سره د نېک عمل خاوندان هم دي، نو ډېر ژر دی چې ډېر مهربان الله ﷻ به ورته لاندې محبتونه ورپېرزو کړي:

الف: الله ﷻ به هغوی محبوب وګرځوي، نو ګناهونه به ورته وبښي او ترې راضي به شي.

ب: په خپلو منځو کښې به د مینې او محبت خاوندان جوړ شي او په دنیا او آخرت کښې به یې ذکر شوی محبت ادامه ولري.

ج: بالآخره اسمانونه او ځمکې به ورسره محبت لري چې په مرګ باندې به یې ژاړي او هم به پرې ویرونه کوي، او بالآخره غرونه به یې په ملاقات او پیوستون سره خوښي څرګندوي.

۲ـ ای پیغمبره! د ذکرو شوو محبتونو د موندلو طریقه به ډېره ګرانه وی که الله ﷻ ستا په ژبه باندې نه وی اسانه کړې، دغه طریقه خو فقط قرآن کریم دی او بس، چې د لاندې مطالبو دپاره تاته مونږ درنازل کړی دی:

الف: ترڅو پرې ته متقیانو ته بشارت او زیری ورکړې چې د محبتونو موندلو لاره دغه ده، په همدغې لاره باندې لاړ شئ چې مطلب ته ورسېږئ.

ب: ترڅو پرې ته جګړه مار قوم وډار کړې چې الله ﷻ د هرې نکاه څخه واحد او لا شریک وګڼئ؛

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بوتان ورسره شریکان مه دروئ او په ولدیت نیولو باندې یې قول مه کوئ، که نه نو په دنیا کښې به حتی د جماداتو دپاره مبغوض وګرځئ او هم به په آخرت کښې د خپل رب ﷻ د غضب سره مخامخ شئ او هم به هلته ستاسو خپل باطل معبودان ستاسو ښکاره دښمنان جوړ شي.

۳ـ ای پیغمبره! جګړه مار قوم په دې باندې خبر کړه چې د دوی څخه وړاندې مونږ څومره قومونه هلاک کړي دي او څومره ډېرې پېړۍ مو د منځه وړي دي؟

ایا نن ورځ د هغوی څخه ته یو نفر لیدلی شې؟ چې په ځمکه باندې به په ناز او نخرو ګرځېدل راګرځېدل. ایا نن ورځ ته د هغوی څه نری اواز اورې؟ حال دا چې بازارونه وربانديې ډک وه او په شورماشور سره به یې ژوند کاوه.

نو همدغسې به ستا د زمانې جګړماران هم د تاکلي وخت څخه وروسته پوپنا شي او د خاورو سره به خاورې شي، نه به یې یو نفر ولیده شي او نه به یې څه اواز واورېدلی شي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ سَيَجْعَلُ لَهُمُ ٱلرَّحْمَٰنُ وُدًّا ﴾ کښې د "وُدّ" کلمه د محبت دپاره وضعه شوې ده[۱]، نو څرنګه چې دغه کلمه مطلقه نازله شوې ده نو زمونږ په فکر لاندې ټولو صورتونو ته شاملېږي چې الله ﷻ به یې صالحانو مؤمنانو ته په نصیب کړي:

الف: الله ﷻ به یې د اقدس ذات دپاره محبوب وګرځوي. لکه چې نبي کریم ﷺ په یوه اوږده قدسي حدیث کښې د الله ﷻ څخه حکایت کوي چې: «وَمَا يَزَالُ الْعَبْدُ يَتَقَرَّبُ إِلَيَّ بِالنَّوَافِلِ حَتَّى أُحِبَّهُ إِنْ سَأَلَنِي أَعْطَيْتُهُ وَإِنْ دَعَانِي أَجَبْتُهُ»[۲] یعنې او همېشه وي یو بنده چې ماته په نوافلو (غیر واجبي عبادتونو) باندې نژدې کېږي آن تر دې چې زه یې د (خپل اقدس ذات دپاره) محبوب وګرځوم، چې که (د څه شي) سوال راڅخه وکړي هغه ورکوم، او چې ما وبلي اجابت یې کوم.

ب: د الله ﷻ او پیغمبر ﷺ سره به یې مینه او محبت زیات کړی شي. لکه چې نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «أَنْ يَكُونَ اللهُ وَرَسُولُهُ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِمَّا سِوَاهُمَا»[۳] یعنې هغه یو شی چې په موندلو سره یې سړی په خپل زړه کښې د ایمان حلاوت او مزه حس کولی شي دا دی چې الله ﷻ او د ده ﷻ پیغمبر ﷺ ورته د بل هر شي څخه زیات محبوب او ګران وي.

ج: پرته د کوم مادي دلیل څخه به ورسره مسلمانان مینه او محبت لري او د خلکو په نزد به محبوب وګرځي، که څه هم عناد نیولي کسان به ورسره دښمني خپلوي.

د: بلکې د پرښتو په نزد به هم محبوب جوړ شي چې د الله ﷻ څخه به ورته مغفرت او ښښنه غواړي. همدغو دواړو محبتونو ته نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې اشاره کړې ده چې: «إِذَا أَحَبَّ اللهُ عَبْدًا

(۱) لسان العرب ج۳ ص۴۵۴
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۱۰ ص۱۱۲
(۳) صحیح البخاري ج۱ ص۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نَادَى جِبْرَئِيلَ أَنِّي قَدْ أَحْبَبْتُ فُلَانًا فَأَحِبَّهُ قَالَ فَيُنَادِي فِي السَّمَاءِ ثُمَّ تَنْزِلُ لَهُ الْمَحَبَّةُ فِي أَهْلِ الْأَرْضِ فَذَلِكَ قَوْلُ اللهِ ﴿ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا ﴾ الآيَة»[١] يعني کله چې الله ﷻ خپل يو بنده محبوب وګرځوي نو جبرائيل ﷺ ته اواز وکړي (خبر ورکړي) چې يقيناً ما فلانی سړی محبوب وګرځاوه نو ته يې هم محبوب وګرځوه، نو بيا به جبرائيل ﷺ په اسمانونو کښې اواز وکړي چې: ای د دې ځايونو اوسېدونکو (پرښتو) تاسو يې هم محبوب وګرځوئ، بيا به په همدې سلسلې سره د نوموړي بنده دپاره د ځمکې په اهاليو (اوسېدونکو) کښې محبت رابښکته شي او د دوی محبت به هم ورسره بالغيب په زړونو کښې صورت ونيسي، بيا نو نبي کريم ﷺ د استشهاد دپاره ذکر شوی ايت شريف تلاوت کړ.

په همدې مضمون باندې څه نور احاديث هم روايت شوي دي[٢].

د ذکر شوي حديث د مضمون سره په ځينو رواياتو کښې لاندې ټکره هم د نبي کريم ﷺ څخه روايت شوې ده چې: «وَإِذَا أَبْغَضَ اللهُ عَبْدًا دَعَا جِبْرِيلَ فَيَقُولُ إِنِّي أُبْغِضُ فُلَانًا فَأَبْغِضْهُ، فَيُبْغِضُهُ جِبْرِيلَ، ثُمَّ يُنَادِي فِي أَهْلِ السَّمَاءِ إِنَّ اللهَ يُبْغِضُ فُلَانًا فَأَبْغِضُوهُ، فَيُبْغِضُونَهُ، ثُمَّ تُوضَعُ لَهُ الْبَغْضَاءُ فِي الْأَرْضِ»[٣] يعني او کله چې الله ﷻ يو بنده مبغوض وګرځوي نو جبرائيل ﷺ راوبلي چې ما فلانی بنده مبغوض وګرځاوه ته هم ورسره بغض وکړه، نو جبرائيل ﷺ يې هم مبغوض وګرځوي او بيا په اسمانونو کښې اعلان وکړي چې يقيناً الله ﷻ فلانی بنده مبغوض جوړ کړی دی تاسو يې هم مبغوض جوړ کړئ، نو د اسمانونو اهالي (پرښتې) يې هم مبغوض وګرځوي، نو په همدې سلسلې سره د ځمکو اوسېدونکو ته هم د نوموړي بنده دپاره بغضاء او دښمني رابښکته شي.

ه: د همدې جملې څخه د غرونو محبت هم دی چې څه مثالونه يې د احاديثو په رڼا کښې د [الإسراء: ۴۴] ايت لاندې تېر شوي، هيله ده چې هملته مراجعه وکړی شي.

و: بالآخره اسمانونه او ځمکې به هم ورسره محبت پيدا کړي، لکه چې الله ﷻ ورته اشاره کړې ده چې: ﴿ فَمَا بَكَتْ عَلَيْهِمُ ٱلسَّمَآءُ وَٱلْأَرْضُ ﴾ [الدخان: ۲۹] يعنې مونږ فرعونيان هلاک کړه خو نه ورباندې اسمان وژړل چې کومه د خير کلمه يې پورته نه وه ختلې او نه پرې ځمکې وژړل چې د الله ﷻ دپاره يې ورباندې سجده نه وه ايښې، که بالفرض دوی صالحان مؤمنان وی نو په مرګ باندې به يې هم اسمان ژړلي وی او هم به ورباندې ځمکې اوښکې توی کړې وی.

## لُدّ څه معنی؟

۲_ په ﴿ وَتُنذِرَ بِهِۦ قَوْمًا لُّدًّا ﴾ کښې د "لُدّ" کلمه د "أَلَدّ" جمعه ده چې د سختو جګړمارانو معنی ورکوي[۴]، کفارو ته ځکه د سختو جګړمارانو نوم کېښودلی شو چې دوی د الله ﷻ په وحدانيت

---

(١) جامع الترمذي ج٢ ص١۴٩؛ صحيح البخاري ج٢ ص٨٩٢
(٢) صحيح البخاري ج١ ص۴۵۶، ج٢ ص٨٩٢، ١١١۵
(٣) صحيح المسلم ج٢ ص٣٣١
(۴) مفردات الراغب ص۴۶٩

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښې جګړې کوي او ورته د مخلوقاتو څخه د ولدیت په نیولو باندې قول کوي، چې باید یو هوښیار سړی هم ورباندې قائل نه شي.

## د رِکز معنی ولولئ

٣_ په ﴿ أَوۡ تَسۡمَعُ لَهُمۡ رِكۡزَۢا ﴾ کښې د "رِکز" کلمه خو اصلاً د پټولو دپاره وضعه شوې ده[١]، د ښه وضاحت په غرض لاندې مثالونه ولولئ:

الف: "رِکَاز" هغې خزانې ته ویل کېږي کومه چې په ځمکه کښې ښخه شوې (پټه کړی شوې) وي او یا پکښې پټه خلق کړی شوې وي.

ب: د یوې دائرې منځ ته "مرکز" وایي ځکه چې ټول اطراف ترې راتاو وي او منځنۍ نقطه یې پکښې پټه وي.

ج: خلک وایي چې: "رَکَزَ الرِمۡحُ" نېزه په ځمکه کښې چوخ شوه چې څه برخه یې پکښې پټه شي او نوره نېغه ودرېږي.

څرنګه چې په ذکره شوې کلمه کښې خفا (پټوالی) اصلي معنی ده نو په همدې ارتباط باندې هغه اواز ته هم "رِکز" ویل کېږي کوم چې ډېر نری او ډېر باریکه وي[٢] ته به وایې چې د اورېدونکي څخه پټېږي، په دې مقام کښې همدغه معنی مراده ده.

یعنې ای پیغمبره! هغه خلک به چې ډېر په لوړ اواز باندې غږېدل (لکه چې په دې زمانه کښې په رادیوګانو او لودسپیکرونو کښې ګړېږي چې په خپل اواز باندې ټوله نړۍ خبروي) د هغوی څخه نن ورځ څه ډېر نری او باریکه اواز اورېدلی شي؟

## د الله ﷻ په توفیق

د الله ﷻ په توفیق په پښتو ژبه د مریم سورت ترجمه او تفسیر بشپړ شو، د ډېر مهربان الله ﷻ څخه هیله او امید کوو چې لا نور زیات توفیق راکړي او فرصت او فراغت راته په نصیب کړي ترڅو په همدغه طرز البیان سره ﴿ مِنَ ٱلۡجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ ﴾ ته ورسېږو.

همدارنګه د ډېر مهربان خپل رب ﷻ څخه امید کوو چې زمونږ دغه شروع کړی شوی کار د خپلې رضا سبب وګرځوي او په خپل دربار کښې یې قبول او منظور کړي، ترڅو د هغه محبت څخه استفاده وکړو کوم ته چې د همدې سورت په [٩٦] ایت کښې اشاره شوې ده.

نېټه: ١٤١٩/٥/٦ هـ ق = ١٣٧٧/٦/٦ هـ ش.

---

(١) روح المعاني ج١٦ ص١٤٤
(٢) لسان العرب ج٥ ص٣٥٥

Scanned by CamScanner

# طه (۲۰)



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

وراندې له دې چې د طه سورت په ترجمه او تفسیر باندې پیل وکړو د محترمو لوستونکو توجه د همدغه سورت په ارتباط لاندې ټکو ته را اړوو:

١ـ دا سورت "طه" نومېږي چې په همدغو تورو باندې شروع شوی دی، او د "کلیم" سورت هم ورته ویل کېږي[1] چې په دې سورت کښې هغه کیفیاتو ته هم اشاره شوې ده کوم چې د موسی ؈ د کلیم الله په جوړېدلو پورې ارتباط لري.

٢ـ د دې سورت اعداد په لاندې ډول دي:

الف: د ایتونو شمېر یې یو سلو پنځه دېرش (١٣۵) دی[2].

ب: د کلمو شمېر یې یو زرو درې سوه یو څلوېښت (١٣٤١) دی[3].

ج: د حرفونو شمېر یې پنځه زره دوه سوه دوه څلوېښت (۵٢٤٢) دی[4].

## د دواړو سورتونو تناسب

٣ـ دا سورت د وړاندېني سورت (مریم) سره د لاندې وجوهو د کبله تناسب لري:

الف: هلته د موسی ؈ قیصې ته په اجمالي توګه اشاره شوې وه او دلته دغه اجمال پورته کړی شوی دی، او قیصه په ښه مناسب بسط سره نازله شوې ده.

ب: همدارنګه هلته د آدم ؈ یوازې د نامه ذکر شوی وه او دلته یې څه تفصیل نازل شوی دی.

ج: هلته د وخت د فرعونیانو کفري او فرعوني خبرو ته اشاره شوې وه او دلته د موسی ؈ د زماني د فرعون پوره حال بیان شوی دی چې د توحید د دعوت مخنیوي ته یې ډېرې بهانې او حیلې جوړې کړې مګر هیڅ ګټه یې ورته ونه شوه رسولی او په نتیجه کښې د خپل قوم سره پوپنا شوه.

د: بالآخره هغه هم په مقطعاتو حروفو سره پیل شوی وه او دا هم په همدغو حروفو باندې پیل کېږي.

## د دې سورت محتویات

۴ـ که څه هم د قرآن کریم د سورتونو محتویات څوک نه شي محدودولی چې په معجزانه بیان سره یو سورت زښتو ډېرو مضامینو ته شاملېږي، مګر مونږ د مثال په توګه د دې سورت ځینو محتویاتو او موضوعاتو ته په اجمالي توګه اشاره کوو هغه دا چې:

الف: په دې سورت کښې هم د نورو مکي سورتونو غوندې عقیدوي موضوعګانې شرحه شوې دي لکه د الله ﷻ توحید، د انبیاؤ نبوت، د قیامت د ورځې راتلل، د جنت او دوزخ موجودیت او داسې نور.

ب: دلته د موسی ؈ قیصه د دې دپاره ټکي په ټکي نازله شوې ده ترڅو نبي کریم ﷺ ته تسلي

---

(١) روح المعاني ج١٦ ص١٤٧

(٢) تفسیر الطبري ج١٦ ص١٣۵

(٣) اللباب في علوم الكتاب ج١٣ ص١٦۵

(۴) تفسیر الخازن ج۴ ص١٨۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورکړی شي چې ستا د زمانې فراعنه (فرعونیان) به هم ډېر ژر د موسی ﷺ د زمانې د فرعون غوندې هلاک شي او کامیابي به ستا په برخه شي، نو خپله حوصله مه کمزورې کوه او خپل استقامت ته ادامه ورکړه.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ طه (١) مَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡقُرۡءَانَ لِتَشۡقَىٰٓ (٢) إِلَّا تَذۡكِرَةٗ لِّمَن يَخۡشَىٰ (٣) تَنزِيلٗا مِّمَّنۡ
خَلَقَ ٱلۡأَرۡضَ وَٱلسَّمَٰوَٰتِ ٱلۡعُلَى (٤) ٱلرَّحۡمَٰنُ عَلَى ٱلۡعَرۡشِ ٱسۡتَوَىٰ (٥) لَهُۥ مَا فِي
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا وَمَا تَحۡتَ ٱلثَّرَىٰ (٦) وَإِن تَجۡهَرۡ بِٱلۡقَوۡلِ فَإِنَّهُۥ يَعۡلَمُ
ٱلسِّرَّ وَأَخۡفَى (٧) ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ لَهُ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰ (٨) ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[١]

[٢] (ای پیغمبره!) مونږ په تاباندې قرآن کریم د دې دپاره نه دی نازل کړی چې ته د مشکلاتو سره مخامخ شې (د کفارو په کافر پاتې کېدلو باندې ډېر زیات غمژن شې).

[٣] مګر (د دې دپاره مو درباندې نازل کړی دی چې پند ورکړې) هغه چا ته پند ورکول چې (د الله ﷻ څخه) ډارېږي (همدوی ترې استفاده کوي).

[۴] (دا قرآن) د هغه اقدس ذات د پلوه (نازل کړی شوی دی) نازل کول چې (اوه) ځمکې او لوړ (اوچت) اسمانونه یې پیدا کړي دي.

[۵] ډېر م ریان الله ﷻ (د ذکر شوي پیدا کولو څخه وروسته) په عرش (عظیم) باندې (د خپل اقدس ذات سره مناسب) استقرار نیولی دی (هرڅه یې په قبضه کښې دي).

[۶] خاص همده ﷻ ته هغه شیان دي کوم چې په اسمانونو کښې دي او کوم چې په ځمکو کښې دي او (بالآخره) کوم چې د دواړو په منځکښې دي او کوم چې د اومې ځمکې څخه لاندې دي.

[٧] او که ته په خبره باندې جهر وکړې (او یا پرې جهر ونه کړې نو د الله ﷻ په علم باندې څه اثر نه پرېوځي) ځکه چې یقیناً همدی ﷻ په پټه خبره باندې پوهېږي او په زیاته پټه خبره (باندې هم پوهېږي).

[٨] الله ﷻ (چې دی په حقه) معبود نشته مګر همدی ﷻ دی (او بس)، خاص همده ﷻ ته سپېڅلي (ښایسته) نومونه دي (چې د ده ﷻ په صفاتو باندې دلالت کوي).

## ارتباطونه

د دې سورت ذکر شوي لومړني ایتونه د وړاندېني سورت (مریم) د وروستنیو ایتونو سره د لاندې وجوهو د کبله ارتباط او تړون درلودلی شي:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



١_ هغه سورت په دې باندې ختم شوی وه چې مونږ پخوانې ډېر کفري طاقتونه هلاک کړي دي او په دې ایتونو کښې الله ﷻ خپل کامل علم او کامل قدرت ته اشاره کړې ده چې ټول واک او اختیار د همده ﷻ پورې اختصاص لري او د عرش عظیم څخه نیولې آن د ما تحت الثرى پورې د همده ﷻ د علم او قدرت د احاطې لاندې دي، نو د کفري طاقتونو هلاک ورته څه اشکال نه لري.

٢_ هلته الله ﷻ اشاره کړې وه چې: ای پیغمبره! مونږ قرآن کریم (چې د سعادت متکفل دی) فقط ستا په ژبه باندې اسان کړی دی، او په دې ایتونو کښې یې همدغه مضمون تعقیب کړی دی چې خلاصه یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! د "بسم الله الرحمن الرحیم" د ویلو څخه وروسته لاندې مطالب په خپل امت باندې قرائت کړه او پخپلهورباندې مطمئن شه چې:

١_ مونږ دغه قرآن کریم ستا په مبارکه فصیحه او بلیغه ژبه باندې نازل کړي او د هغو تورو څخه مو ترکیب ورکړی دی د کومو څخه چې عربي کلام ترکیب مومي، لکه طه او داسې نور.

که بالفرض مونږ قرآن کریم په کومه یوه اعجمي ژبه باندې نازل کړی وی او د اعجمي تورو څخه مو ترکیب ورکړی وی نو بیا به کفارو ته د نه منلو دپاره ډېره ښه بهانه په لاس ورغلې وی چې: عجیبه ده مونږ عرب یاستو او اسماني کتاب راته په اعجمي نازل کړی شوی دی.

٢_ نو ای پیغمبره! د قرآن کریم د نزول په ارتباط تاته نور هیڅ مسئولیت متوجه نه دی بې د دې څخه چې ایمان راوړونکو ته بشارت ورکړي او نه منونکو ته انذار ورکړي او د الله ﷻ له عذابه یې وډار کړي.

٣_ لنډه دا چې مونږ په تا باندې قرآن کریم د دې دپاره نه دی نازل کړی چې ته د سختیو او مشقتونو سره مخامخ شې چې فلانی ولې کافر پاتې شو؟ او فلاني ته دې ولې قناعت ورنه کړ او په توحید باندې دې ولې قائل نه کړ او داسې نور.

۴_ قرآن کریم مونږ فقط د همدې دپاره په تا باندې درنازل کړی دی چې پند او نصیحت وکړې او ټول خلک ورته راوبلې، البته چې ستا د دعوت په صورت کښې به ترې یوازې هغه څوک ګټه پورته کړي کوم چې د الله ﷻ څخه ډارېږي او د ډار استعداد یې د منځه نه وي تللی او اقلاً ستا د دعوت د اثر لاندې واقع کېدی شي؛ او یا هغه څوک چې د الله ﷻ څخه په ډار کښې وي او په سمې سیدې لارې موندلو پسې تاند وهي.

یا په بل عبارت: کوم مسئولیت چې تاته د قرآن کریم په هکله متوجه وه، چې خلک ورته دعوت کړې، هغه تا په ډېره ښه طریقه باندې اداء کړی دی نور نو په تاباندې دا تکلیف نشته چې هله ژر شه خلک په قرآن کریم باندې راټول کړه که نه نو ته به د الله ﷻ په نزد مسئول اوسې. خکه چې:

۵_ دا قرآن کریم تا ته د هغه اقدس ذات د پلوه نازل شوی دی کوم چې ټولې ځمکې او لوړ

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اسمانونه يې پيدا كړي دي. او په دې باندې علاوه بيا همدغه ډېر مهربان الله ﷻ په عرش عظيم باندې هغسې استواء كړې ده كومه چې د همده ﷻ د شان سره مناسبه ده (خو په نور كيفيت باندې يې تاسو نه پوهېږئ) ټول يې په واک او اختيار كښې دي او روزمره پكښې خپل كامل قدرت جاري ساتي چې يوه ذره هم بدون د ده ﷻ د ارادې څخه ښكته پورته بدلون نه شي موندلى. او دا څكه چې:

٦ـ لاندې شيان ټول د الله ﷻ ملكيت دي او د ده ﷻ د قدرت د احاطې لاندې دي:

الف: څه چې په اسمانونو كښې دي او تاسو ورباندې علم نه لرئ.

ب: څه چې په ځمكو كښې موجوديت لري چې ځينې تاسو كتلى شئ او ډېر مو له نظره پټ دي.

ج: څه چې د اسمانو او ځمكو ترمنځ په دغې پراخه فضاء كښې موجود دي.

د: بالآخره څه چې د ټولو ځمكو څخه لاندې او د لمدو ختو څخه ښكته شتون لري.

٧ـ اى پيغمبره! لكه چې د الله ﷻ كامل قدرت ټولو شيانو ته شامل دى همدارنگه د ده ﷻ د كامل علم څخه هم ټول شيان لاندې دي. لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: الله ﷻ په هغې خبرې پوهېږي كومه چې ته په زوره او لوړ اواز سره كوې.

ب: او په هغې خبرې باندې هم پوهېږي كومه چې ته په ټيټ اواز سره او يا د چا سره د راز په توگه په يوه گوښه كښې كوې.

ج: بالآخره هغه خبره هم ورته معلومه ده په كومې باندې چې تا بالكل تلفظ نه وي كړى او ستا په زړه كښې د تصور په توگه تحقق ولري، او بلكې لا په هغې خبره باندې هم پوه دى چې په راتلونكي كښې ستا په زړه كښې خطور كوي او في الحال پكښې موجوده نه وي.

٨ـ لنډه دا چې الله ﷻ هغه اقدس ذات دى چې د ده ﷻ څخه په غير په حقه باندې معبود بل څوک نشته او حقاني معبوديت په همده ﷻ پورې اختصاص لري.

په دې باندې علاوه د همدغه ﷻ دپاره ډېر ښائسته نومونه شته چې تاسو ته يې ورباندې خپل اقدس ذات دربېژندلى دى، لكه خالق، رازق او داسې نور، ترڅو تاسو پوه شئ چې تاسو يوازې او يوازې همده ﷻ ته احتياج ياست او بس.

٩ـ اى پيغمبره! كله چې الله ﷻ په ذكر شوي تفصيل سره په ټولو كائناتو باندې د علم او قدرت د حيثه احاطه كړې ده نو د كفارو د كافر پاتې كېدلو مسئوليت به ولې تاته متوجه كوي؟ كه بالفرض د ده ﷻ اراده شوې وى نو ټول خلک به يې مؤمنان گرځولي وى او د ټولو څخه به يې پرښتې جوړې كړې وى، د ده ﷻ قدرت خو د ذكرې شوې خبرې د تعميل څخه عاجز نه دى.

## توضيحات

١ـ د ﴿ طه ﴾ او د دې امثالو په هكله چې مونږ څه ليكل غوښتل هغه مو د [آل عمران: ٧] ايت لاندې ليكلي دي ـ والحمد لله ﷻ ـ، مونږ نه غواړو چې نور بيان او شرحه ورباندې وراضافه كړو؛ مگر ځينو علماوو كرامو په دې مقام كښې د ﴿ طه ﴾ توري د اشاراتو د حيثه په ډېرو معناوو باندې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تشریح کړي دي[١]، که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي.

## شقاوة څه معنی؟

٢ـ په ﴿ مَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡقُرۡءَانَ لِتَشۡقَىٰٓ ﴾ کښې د "تَشْقَی" کلمه د "شقاوة" څخه اشتقاقه شوې ده، "شقاوة" په لاندې دوه معناوو باندې استعمالېږي:

الف: یوه معنی یې ستوماني ده[٢] یعنې مونږ په تا باندې قرآن کریم د دې دپاره نه دی نازل کړی چې ته ستړی او ستومانه شې او ستا ارامي پرې د منځه لاړه شي.

ځینې علماوو کرامو همدې معنی ته ترجیح ورکړې ده، دوی وایي چې د قرآن کریم د نزول په لومړیو وختونو کښې به نبي کریم ﷺ په اوږده قیام سره لمونځ کاوه نو قریشو به د تمسخر او ملنډو په توګه ویلې چې قرآن کریم خو په محمد باندې نه دی نازل شوی مګر د ستوماني دپاره[٣]، نو الله ﷻ ذکر شوي ایتونه نازل کړه او د کفارو ملنډې یې ردې کړې.

ب: بله معنی یې بدبختي ده چې په مقابل کښې یې سعادت استعمالېږي، مونږ د الله ﷻ په توفیق د [هود:١٠٥] ایت لاندې شقاوت او سعادت ښه پوره شرحه کړي دي؛ یعنې مونږ په تا باندې قرآن کریم ستا د بدبختۍ دپاره نه دی نازل کړی.

ځینو نورو علماوو کرامو همدې معنی ته ترجیح ورکړې ده، دوی وایي چې یوه ورځې ابو جهل او نورو مشرکانو نبي کریم ﷺ مخاطب کړ چې: "إِنَّكَ لَتَشْقَى بِتَرْكِ دِيْنِنَا"[٤] یقیناً ته زمونږ د دین په پرېښودلو سره بدبخته شوې، نو په ذکرو شوو ایتونو کښې د هغوی خبره رده شوه.

## تبصره

**٣ـ که څه هم ذکرې شوې دواړه معناوې سره څه منافات نه لري، که د شقاوة څخه ما یطلق علیه الشقاوة مراد کړی شي هیڅ باک یې نشته ترڅو ایت شریف دواړو معناوو ته شامل شي، خو مونږ ته دوهمه معنی ترجیح لري خو په هغې معنی سره نه کومه چې ځینو علماوو کرامو روایت کړې ده بلکې په دې معنی چې: مونږ قرآن کریم په تا باندې د دې دپاره نه دی نازل کړی چې ته پرې بدبخت وګرځې چې یا د کفارو په کافر پاتې کېدلو باندې ونیولی شې او یا پرې دومره خپه شې چې خپل ځان هلاکت ته ورنژدې کړې.**

مونږ دغې معنی ته د لاندې وجوهو د کبله ترجیح ورکوو چې:

الف: په همدې معنی باندې متصل ایت شریف اشارةً دلالت کوي چې: ﴿ إِلَّا تَذۡكِرَةٗ لِّمَن يَخۡشَىٰ ﴾ یعنې مونږ قرآن کریم فقط د همدې دپاره نازل کړی دی چې د هغه چا دپاره پند او نصیحت

---

(١) روح المعاني ج١٦ ص١٤٨؛ زاد المسیر ج٥ ص١٨٨

(٢) مفردات الراغب ص٢٧١

(٣) زاد المسیر ج٥ ص١٨٧

(٤) اسباب النزول للواحدي ص٢٠٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وګرځي کوم چې د الله ﷻ څخه په ډار کښې وي او استعداد يې د منځه نه وي تللی، نو په تا باندې فقط ابلاغ واجب دی او په دې کښې خو تا هيڅ قصور نه دی کړی، نو د هغوی د کافر پاتې کېدلو مسئوليت ستا په غاړه نه دی.

ب: الله ﷻ ذکر شوی مضمون په بل ايت کښې داسې نازل کړی دی چې: ﴿ لَعَلَّكَ بَٰخِعٞ نَّفۡسَكَ أَلَّا يَكُونُواْ مُؤۡمِنِينَ ﴾ [الشعراء:٣] يعني: ای پيغمبره! شايد چې ته په دې خبره باندې چې کفار ولې ايمان نه راوړي او ولې کفار پاتې شوه او په لوی لاس ولې خپل ځانونه دوزخ ته وراچوي؟ خپل ځان له غمه مړ کړې، او خلک درباندې ګومان وکړي چې په نن سبا کښې به مړ شې. ته مه خپه کېږه ځکه چې نه ستا په دعوت کښې نقصان شته او نه د دوی د کفر مسئوليت ستا په غاړه دی او نه د الله ﷻ په نزد د زور ايمان مقبول دی که نه نو په زور باندې مؤمنان جوړول خو همده ﷻ ته ډېر اسان دي.

## يادونه

۴ـ مونږ د الله ﷻ په توفيق د [الأعراف:۵۴] ايت لاندې د ﴿ ٱلرَّحۡمَٰنُ عَلَى ٱلۡعَرۡشِ ٱسۡتَوَىٰ ﴾ مربوط تحقيق ليکلی دی، چې نه يې بيا ليکلو ته اړتيا ګورو او نه پکښې د نور تحقيق زياتول غواړو، نو هيله ده چې محترم لوستونکي هملته مراجعه وکړي.

هو! په دې مقام کښې هم ځينو مفسرينو کرامو[1] پکښې اوږد بحث کړی دی او زښت ډېر احاديث يې ورته راغونډ ګړي دي، که څوک په عربي ژبه پوهېږي او د زياتو معلوماتو دپاره ورته مراجعه وکړي هم ګټور کار به وکړي.

## ثَرى څه معنی؟

۵ـ په ﴿ وَمَا تَحۡتَ ٱلثَّرَىٰ ﴾ کښې د "ثَرَی" کلمه د "ثَرْوَةٌ" ـلکه "قُدْرَةٌ"ـ څخه اخستلې شوې ده، چې په لاندې معناوو کښې استعمالېږي[2]:

الف: "ثَرْوَة" د مال د کثرت او ډېروالي په معنی، لکه چې نبي کريم ﷺ په اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «وَمَنْ سَأَلَ النَّاسَ لِيُثْرِيَ بِهِ مَالَهُ كَانَ خُمُوشًا فِي وَجْهِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»[3] هرڅوک چې د دې دپاره سوال کوي چې مال يېورباندې زيات شي (حاجت يې ورته نه وي) نو د قيامت په ورځ به د ده د مخ دپاره شوکارې (په نوکانو باندې زخمونه) وګرځي.

ب: "ثَرْوَة" د قوم او ټبر د ډېروالي او زيادت په معنی، لکه چې نبي کريم ﷺ په يوه بل اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «مَا بَعَثَ اللهُ بَعْدَهُ نَبِيًّا إِلَّا فِي ثَرْوَةٍ مِنْ قَوْمِهِ»[4] يعني: د لوط ﷺ څخه وروسته الله ﷻ هيڅ پيغمبر نه دی استولی مګر د خپل قوم او ټبر په ډېروالي کښې.

---

(١) روح المعاني ج١٦ ص١٥٣، ١٦١
(٢) لسان العرب ج١٤ ص١١١
(٣) جامع الترمذي ج٢ ص١٤١
(٤) جامع الترمذي ج٢ ص١٤٤

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: "ثروة" د لوندوالي په معنی سره، لکه چې یو صحابي ﷺ د خیبر د غزا په ارتباط په یوه اورېده حدیث کښې وايي چې: «ثُمَّ دَعَا بِالْأَزْوَادِ فَلَمْ يُؤْتَ إِلَّا بِالسَّوِيقِ فَأَمَرَ بِهِ فَثُرِّيَ فَأَكَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَكَلْنَا»[1] یعنې بیا نبي کریم ﷺ توښې (خوري) راوغوښتل چې بل هیڅ شی رانه وړ شو مګر ستوان (هیڅا بل شی نه درلود) نو نبي کریم ﷺ پرې امر وکړ نو لامده کړی شوه نو نبي کریم ﷺ هم وخواړه او مونږ هم وخواړه.

نو که څه هم د "ثری" کلمه د نمناکې ځمکې او نمجنې خاورې په معنی باندې استعماله شوې ده لکه چې نبي کریم ﷺ په یوه اورېده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «ثُمَّ خَرَجَ فَإِذَا هُوَ بِكَلْبٍ يَلْهَثُ يَأْكُلُ الثَّرَى مِنَ الْعَطَشِ»[2] یعنې یو سړی کوهي (څا) ته ښکته شو او هلته یې اوبه وڅښې او خپله تنده یې ماته کړه نو کله چې د کوهي څخه رابهر (راپورته) شو ناڅاپه د یوه سپي سره مخامخ شو چې ژبه یې اوږده راویستلې وه او لمدې (نمناکې) خاورې یې د تندې څخه خوړې، نو سړی بېرته کوهي ته ورښکته شو او خپله پنه یې د اوبو څخه ډکه کړه او د سپي دپاره یې پکښې اوبه راپورته کړې، نو الله ﷻ د نوموړي سړي د دغه نېک عمل شکریه وکړه او بښنه یې ورته وکړه.

مګر مفسرینو کرامو ذکره شوې کلمه په دې مقام کښې په اومه ځمکه باندې تفسیره کړې ده، نو د معنی حاصل یې داسې راځېږي چې: د الله ﷻ علم او قدرت او هم د ده ﷻ ملکیت هغو شیانو ته هم شامل دی کوم چې د اوو ځمکو څخه لاندې دي، چرته چې د مخلوقاتو علم منقطع او پرې کړی شوی دی او په یوه پیغمبره باندې هم د هغه ځای معلومات نه دي ورنازل شوي[3].

## د سِرّ او أخفی ترمنځ فرق

٦_ په ﴿فَإِنَّهُۥ يَعْلَمُ ٱلسِّرَّ وَأَخْفَى﴾ کښې د "سِرّ" کلمه هغې پټې خبرې ته ویل کېږي کومه چې سړی د خپله ځانه سره پټه کېږي[4]، او د "أخفی" کلمه د اسم تفضیل صیغه ده او د "خفَا" _لکه "جفَا"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې د ډېر پټوالي معنی ورکوي[5].

دا وه د ذکرو شوو دواړو کلمو هغه معناوې کومې چې د لفظ څخه څرګندېږي، اما په هغو معناوو کښې یې کومې چې په ایت شریف کښې مرادې دي علماوو کرامو لاندې قولونه کړي دي[6]:

الف: عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وايي چې "سِرّ" هغې خبرې ته ویل کېږي کومه چې سړی بل چا ته په پټه کښې (د راز په توګه) ووايي، او د دې څخه چې نوره زیاته پټه وي هغې ته "أخفی" وايي چې د

(١) صحیح البخاري ج١ ص٣٤
(٢) صحیح البخاري ج١ ص٣١٨، ٣٣٣؛ صحیح مسلم ج٢ ص٢٣٧
(٣) تفسیر البغوي ج٣ ص٢١٢؛ الدر المنثور ج٥ ص٥٥٢؛ تفسیر ابن کثیر ج٣ ص١٤٢
(٤) مفردات الراغب ص١٣٣
(٥) لسان العرب ج١٤ ص٢٣٤
(٦) احکام القرآن للجصاص ج٣ ص٢١٩؛ المحرر الوجیز ج١١ ص٦٤؛ تفسیر الطبري ج١٦ ص١٤١؛ اضواء البیان ج٤ ص٤٣٦؛ زاد المسیر ج٥ ص١٨٩

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خپله خانه سره یې وساتي او بل څوک ورباندې خبر نه کړي.

ب: سعيد بن جبير علیه الرحمة وايي چې: "سِرّ" د هغې خبرې نوم دی کومه چې څوک د خپله خانه سره وساتي او هیڅوک پرې خبر نه کړي، او د دې څخه زياته پټه خبره (أَخْفَى) هغې خبرې ته ويل کېږي چې لا د سړي په زړه کښې نه وي تېره شوې او په راتلونکي وخت کښې به پکښې تېرېږي.

ج: "سِرّ" د هغې خبرې لقب دی چې يا د سړي په زړه کښې وي او يا پکښې په راتلونکي کښې موجوديت پيدا کوي، او ډېره پټه (أَخْفَى) هغه خبره ده چې د هغې علم په الله ﷻ پورې اختصاص ولري او د هيچا په ذهن کښې نه تېرېږي.

د: "سِرّ" (پټه خبره) هغه ده چې سړی يې د خپله خانه سره وساتي او ډېره پټه "أَخْفَى" هغه ده چې د سړي په ذهن کښې وګرځي او بيا ترې هېره شي.

## تبصره

٧ـ مونږ ته داسې برېښي چې ذکرې شوې معناوې سره څه منافات نه لري او د "ما يطلق عليه السِرّ وما يطلق عليه أخفى" په اعتبار سره ټولې مرادېدلی شي، نو ښه دا ده چې ټولې مرادې وګڼو او حاصل يې داسې واخلو چې: او ای انسانه! که ته په خپله خبره باندې جهر کوې او که د خپله خانه سره يې پټه ساتې دواړه الله ﷻ ته يو برابر دي څکه چې همدې ﷻ په ټولو معناوو سره په "سِرّ" باندې پوهېږي او په ټولو معناوو سره په "أَخْفَى" باندې هم پوهېږي.

## يادونه

٨ـ مونږ د الله ﷻ په توفيق د ﴿ٱلْأَسْمَآءُ ٱلْحُسْنَىٰ﴾ په هکله د [الأعراف: ١٨٠] ايت لاندې څه معلومات ليکلي دي چې تکرارولو ته يې اړتيا نه ګورو او په هغو باندې د معلوماتو د زيادت اراده هم نه لرو، نو هيله ده چې هملته مراجعه وکړی شي.

﴿وَهَلْ أَتَىٰكَ حَدِيثُ مُوسَىٰٓ ۝٩ إِذْ رَءَا نَارًا فَقَالَ لِأَهْلِهِ ٱمْكُثُوٓا۟ إِنِّىٓ ءَانَسْتُ نَارًا لَّعَلِّىٓ
ءَاتِيكُم مِّنْهَا بِقَبَسٍ أَوْ أَجِدُ عَلَى ٱلنَّارِ هُدًى ۝١٠ فَلَمَّآ أَتَىٰهَا نُودِىَ يَـٰمُوسَىٰٓ ۝١١ إِنِّىٓ أَنَا۠
رَبُّكَ فَٱخْلَعْ نَعْلَيْكَ إِنَّكَ بِٱلْوَادِ ٱلْمُقَدَّسِ طُوًى ۝١٢ وَأَنَا ٱخْتَرْتُكَ فَٱسْتَمِعْ لِمَا
يُوحَىٰٓ ۝١٣ إِنَّنِىٓ أَنَا ٱللَّهُ لَآ إِلَـٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعْبُدْنِى وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِذِكْرِىٓ ۝١٤ إِنَّ
ٱلسَّاعَةَ ءَاتِيَةٌ أَكَادُ أُخْفِيهَا لِتُجْزَىٰ كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا تَسْعَىٰ ۝١٥ فَلَا يَصُدَّنَّكَ عَنْهَا مَن
لَّا يُؤْمِنُ بِهَا وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ فَتَرْدَىٰ ۝١٦﴾

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[٩] او ایا تاته (ای پیغمبره!) د موسی ﷺ خبر (قیصه) درغلې ده؟ (اجمالاً درغلې ده خو تفصیل بې دا دی):

[١٠] هغه وخت یاد کړه چې موسی ﷺ اور (رڼا) ولیده نو خپل اهل ته یې وویلې چې تاسو (دلته) درنګ وکړئ (ما پسې مه راځئ)، یقیناً زه اور ګورم (او غواړم چې هلته ورشم) شاید چې تاسو ته به ترې څه شغله راوړم (چې اور به ترې بل کړئ) او یا به زه په همدې اور باندې هدایت مونده کړم (هلته به څوک ورکه شوې لاره راوښایي).

[١١] نو کله چې اور ته ورغی (په بلا کیفه توګه) پرې اواز وشو چې: ای موسی!

[١٢] یقیناً زه همدا زه ستا رب یم، نو پڼې دې وباسه، یقیناً ته په پاکیزه وادي (میدان) کښې یې (چې) طوی (نومیږي).

[١٣] او (بله دا چې) ته ما (د رسالت دپاره) اختیار کړی یې نو هغه شي ته غوږ شه کوم چې تاته (زما د پلوه) وحې کیږي.

[١٤] یقیناً زه همدا زه الله ﷻ یم چې په حقه باندې معبود نشته مګر همدا زه یم، نو خاص زما عبادت کوه او خاص زما د یادو دپاره لمونځ ودروه.

[١٥] یقیناً قیامت راتلونکی دی (خو د راتګ وخت یې ما پټ ساتلی دی آن تر دې چې) زه نژدې وم چې (د خپل خانه څخه یې هم) پټ وساتم (خو دا کار ممکن نه وه).

(دا) د دې دپاره چې هر نفس ته د هغه (کار) جزا ورکړی شي د کوم (په تحصیل کښې) چې کوښښ کوي (که بالفرض پټه مو نه وی ساتلې نو هره ګړۍ به ترې په ډار کښې نه وی).

[١٦] نو (ای موسی!) هرو مرو دې تا د قیامت څخه هغه څوک وانه روي کوم چې (پخپله) ورباندې ایمان نه راوړي او د خپلو خواهشاتو پیروي کوي، (که بالفرض تا د قیامت د ورځې څخه واړوي) نو ته به هلاک شې (دنیا او آخرت به دې دواړه خوار شي).

## ارتباطونه

١_ په وړاندېنیو ایتونو کښې هغې طریقې ته اشاره شوې ده په کومه باندې چې نبي کریم ﷺ ته نبوت ورکړی شوی وه او د جبرائیل ﷺ په سلسله ورته قرآن کریم نازل کړی شوی وه، او په دې ایتونو کښې د هغې طریقې بیان پیل کیږي په کومه باندې چې موسی ﷺ ته نبوت ورکړی شوی وه.

٢_ هلته دې ته اشاره وه چې الله ﷻ په ټولو موجوداتو باندې واکدار دی او دلته د همدغې واکدارۍ د یوې کړۍ بیان شروع شوی دی چې موسی ﷺ ته یې په څه طریقې سره نبوت ورکړ.

٣_ هلته د رسالت هدف بیان شوی وه چې د الله ﷻ توحید دی، او دلته اشاره شوې ده چې د همدغه هدف دپاره ټول پیغمبران را استولي شوي دي لکه چې یو مثلل یې موسی ﷺ دی چې فرعون یې همدغه هدف ته دعوت کړی وه.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۴_ بالآخره په دې ایتونو کښې د یو پلوه نبي کریم ﷺ ته تسلي مطلب ده چې د خپلې زمانې د فرعونیانو په مقابل کښې خپله حوصله کمزورې نه کړي او د موسی علیه السلام غوندې خپل جد او جهد ته ادامه ورکړي، او د بله پلوه کفار په غور باندې وهلی شوي دي چې که د کفر څخه لاس وانخلي نو په نتیجه کښې به د فرعونیانو غوندې پوپنا شي.

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! ایا تا ته د پخوانیو پیغمبرانو قیصې عمومًا او د موسی علیه السلام قیصه خصوصًا نه ده رسېدلې؟ تاته دغه قیصې رسېدلې دي البته څینې په تفصیل سره او څینې په اجمال سره، نو د همدغو قیصو څخه عبرت واخله او د خپل خان دپاره یې دستور العمل وګرځوه.

دا دی په تا باندې اوس د موسی علیه السلام قیصه په تفصیل سره قرائت کېږي چې:

١_ د موسی علیه السلام د پیغمبر ګرځېدلو قیصه داسې وه چې:

الف: موسی علیه السلام د مدین د ښار څخه مصر ته روان وه، هغه مصر ته چې څو کاله وړاندې ترې مهاجر شوی وه او د فرعونیانو د پلوه پکښې په قتل سره تهدید شوی وه، په دغه سفر کښې ورسره خپله مېرمن هم ملګرې وه چې د شعیب علیه السلام لور وه.

ب: کله چې دوی هغې منطقې ته ورسېدل په کومه کښې چې د "طُوی" مقام واقع دی، نو په دوی باندې شپه راغله چې د ژمې ډېره سړه شپه وه، موسی علیه السلام د پنډ (چقمق) په ذریعه کوښښ وکړ چې اور بل کړي او څه د سړوښې مخه ونیسي خوورباندې کامیاب نه شو. په دې باندې علاوه دوی په دغې توره یخه شپه کښې لاره هم ورکه کړې وه.

ج: په عین حال کښې د موسی علیه السلام نظر په یوه رڼا باندې ولګېد.

د: نو موسی علیه السلام خپل کهول (مېرمنه) مخاطبه کړه چې تاسو دلته څه دمه جوړه کړئ او همدلته کینئ (ما پسې مه راځئ) زه ان شاء الله ډېر ژر بېرته راستنېدونکی یم.

ه: زه په هغه ځای کښې اور ګورم نو نیت مې دی چې هلته ورشم، نو شاید چې یا به د اور څخه شغله راوړم او اور به ترې بل کړو (د سړوښې مخه به پرې ونیسو)، او یا به هلته د چا څخه د لارې معلومات واخلم او ورکه شوې لاره به مونده کړو.

٢_ نو کله چې موسی علیه السلام ذکر شوي اور او رڼا ته ورغی نو هلته ورته غیبي اواز وکړی شو چې: ای موسی! (لاندې مطالبو ته متوجه شه):

الف: یقینًا زه همدا زه ستا رب یم او ستا سره خبرې کوم.

ب: نو ته خپلې پڼې وباسه او دا خکه چې ته سمدستې په مقدس میدان (وادي) کښې قرار لرې چې د طُوی څخه عبارت دی.

ج: په دې باندې علاوه ته مې د ټولو خلکو څخه د نبوت دپاره غوره کړی یې او د نبوت لوړه درجه مې نن ورخ همدا تاته درتبریک کړه.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: نو ای موسی! هغه شي ته غوږ کېږده او په دقت سره یې واوره کوم چې تاته زما د پلوه وحي کېږي او د نبوت په ارتباط تاته توصیه کېږي، هغه دا چې:

٣_ ای موسی! یقینًا زه همدا زه الله ﷻ یم چې په حقه باندې معبود نشته مګر همدا زه یم، نو:

الف: ته خاص زما عبادت کوه او خاص همدا زما د عبادت دپاره دعوت چلوه.

ب: په دې باندې علاوه، په عبادتونو کښې د لمانځه د ودرولو زیات اهتمام وکړه او زما د یادولو دپاره یې په دوامداره توګه ودروه او هم ورباندې خلکو ته توصیه کوه، چې ماته د نژدېکت دپاره لمونځ ډېره ښه وسیله ده او د ګناهونو څخه د اجتناب دپاره ډېره ښه چاره ده.

۴_ ای موسی! یقینًا د قیامت ورځ راتلونکې ده چې په دغې ورځ کښې به د هر شي څخه وړاندې د حقوق الله په حیث د لمانځه پوښتنه کېږي.

هو! د دغې ورځې د راتللو ټاکلې نېټه ما هیچا ته نه ده ښودلې او هیچا ته معلومات نشته چې قیامت به کله قائمېږي، حتی چې زه نژدې وم چې د خپله خانه یې هم پټه کړم خو دا کار ممکن نه وه، دا د دې دپاره چې خلک ورته په دوامداره توګه تیاری ونیسي او هرڅوک د خپلې کړنلارې د جزا یا سزا سره مخامخ شي.

که بالفرض دنیا په پای کښې تصفیه نه درلودی نو دا به د عبثیاتو څخه په غیر بل شی نه وی، او د ځمکو او اسمانونو پیدا کول به د عبث کار معنی ورکړې وی.

۵_ مګر د ذکر شوي ضرورت سره-سره ځینې خلک د قیامت د قیام څخه انکار کوي او د دنیا لذتونه د خپل ژوند نهایي هدف بولي.

نو ای موسی! د یوه پیغمبر په صفت ستا وظیفه ده چې خلکو ته زما ارشادات ورسوې او د قیامت په ورځ باندې یې معتقد ګرځېدلو ته دعوت کړې.

په خلکو کښې لا داسې کسان هم شته چې تاته دعوت درکوي چې د قیامت د ورځې انکار درباندې تحمیل کړي، نو پام کوه چې د خپلې مستقیمې عقیدې څخه دې هغه څوک وانه ړوي کوم چې د قیامت په ورځ عقیده نه لري او د خپلو خواهشاتو پیروي کوي. که بالفرض المحال ته ترې انکار وکړې نو ته به هلاک شې او په لوی لاس به خپل ځان په کنده کښې وغورزوې.

## توضیحات

١_ موسی ﵇ د خپل زلمیتوب په وخت کښې یو فرعوني سړی په خطا سره وژلی وه، کله چې فرعونیانو د ده ﵇ د نیولو او وژلو فیصله وکړه او ده ﵇ ته خبر ورسېد نو د مصر څخه د مدین ښار ته وتښتېد او هلته یې د شعیب ﵇ سره لس کاله تېر کړه او د همده جلیل القدر پیغمبر لور یې هم په نکاح واخستله.

د لسو کالو څخه وروسته موسی ﵇ خپله ماندینه د خپله خانه سره واخستله او د مصر په لور روان شو چې ګوندي وژلی شوی سړی د خلکو څخه هېر شوی وي او زه هلته د خپلو اقاربو ملاقات

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وکړم، دغه حالات د "القصص" په سورت کښې راروان دي.

په همدغه سفر کښې چې د مدين د ښار څخه د مصر په لور روان وه، الله ﷻ ورته د نبوت تاج ورپه سر کړ لکه چې په ایتونو کښې ورته اشاره شوې ده.

## سوال جواب

۲_ که څوک وايي چې: په ﴿ فَقَالَ لِأَهۡلِهِ ٱمۡكُثُوٓاْ ﴾ کښې د ﴿ ٱمۡكُثُوٓاْ ﴾ کلمه جمعه ده، نو پوښتنه دا ده چې د موسى ﷺ د ماندينې سره په دغه وخت کښې څوک موجود وه چې ټولو ته توصیه وشوه چې هملته درنګ وکړئ او ما پسې مه راځئ؟

مونږ وايو چې: ځينو علماوو کرامو ذکر شوی سوال داسې جواب کړی دی چې په همدغې توره شپه کښې د موسى ﷺ يو زوی تولد شوی وه او يو نفر ورسره خدمتګار وه، نو ټول درې کسان تکميل شوه او د جَمعې عدد پوره شو[١].

خو په ایت شریف کښې کومه اشاره نشته چې په ذکر شوي جواب باندې دلالت وکړي او په روایتونو کښې هم په مُستنده توګه زمونږ په نظر رانغله، نو بهتره به دا وي چې موسى ﷺ به خپلې ماندينې ته د تفخيم (او تکريم) په اعتبار سره ذکر شوی د جمعيت خطاب متوجه کړی وی لکه څنګه چې الله ﷻ د هغې څخه په "أهل" سره تعبير وکړ چې عمومًا په جَمعيت کښې استعمالېږي.

او دا هم څه لرې نه ده چې موسى ﷺ به څه اولادونه درلوده دا څکه چې لس کاله پخوا يې خپل کور اباد کړی وه، والله ﷻ أعلم بحقيقة الحال وإليه المرجع والمآل.

## د قَبَس معنى

۳_ په ﴿ ءَاتِيكُم مِّنۡهَا بِقَبَسٍ ﴾ کښې د "قَبَس" کلمه د اور هغې برخې ته وضعه شوې ده کومه چې د غټ اور څخه واخستله شي[٢] ترڅو بل ځای ته انتقاله کړی شي او هلته ترې اور بل کړی شي.

يعنې موسى ﷺ خپل اهل ته داډ ورکړ چې زه به د ليدلي شوي اور څخه څه برخه راوړم او دلته به ترې اور بل کړو.

## اور په څلور ډوله دی

۴_ د "نَار" کلمه چې مونږ ترې په اور باندې تعبير کوو او د "نُور" کلمه چې مونږ ترې په رڼا (او روښنانتيا) سره تعبير کوو، دواړه کلمې په اصلي تورو (ن، و، ر) کښې متحدې دي[٣]، د همدې کبله علماء کرام وايي چې اور (نَار) په لاندې څلورو ډولونو باندې ويشلی کېږي[۴]:

---

(١) التفسير الكبير ج٢٢ ص١٥
(٢) لسان العرب ج۶ ص١۶٧
(٣) مفردات الراغب ص۵٣٠
(۴) روح المعاني ج١۶ ص١۶٧

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: هغه اور چې رڼا هم لري او سوزول هم کوي لکه د دنیا اکثره اورونه.

ب: هغه اور چې سوزول کوي خو رڼا نه لري لکه د دوزخ اور، نعوذ بالله منها.

ج: هغه اور چې نه سوزول کوي او نه رڼا لري لکه هغه اور چې الله ﷻ په شنه ونه کښې خاى په خاى کړې دى او د اړتیا په وخت کښې ترې انسانان استفاده کوي، لکه چې فرمايي: ﴿ ءَأَنتُمْ أَنشَأْتُمْ شَجَرَتَهَآ أَمْ نَحْنُ ٱلْمُنشِـُٔونَ ﴾ [الواقعة:۷۲] یعنې اى بنیادمانو! تاسو ماته خبر راکړئ چې: ایا د اور شنه ونه تاسو په اوبو باندې زرغون کړې ده او که مونږ يې زرغونوونکي یاستو؟.

د: هغه اور چې رڼا لري خو سوزول نه کوي لکه چې موسى ؏ په شنه ونه کښې لیدلى وه، او سمدستي پکښې بحث روان دى.

د دغه څلورم ډول اور څخه که په نُور باندې تعبیر وکړو هم څه باک يې نشته. د ښه وضاحت دپاره لاندې حدیث شریف ولولئ:

یوه ورځې نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې وفرمایل(۱) چې: «حِجَابُهُ النُّورُ» یعنې کوم شى چې په دنیا کښې د الله ﷻ د لیدلو (دیدار) مانع واقع کېږي هغه نُور (رڼا) ده، او د همدې حدیث د ابي بکر بن ابي شیبه ؒ په روایت کښې د نبي کریم ﷺ څخه د «النُّورُ» په عوض د «النَّارُ» کلمه حکایته شوې ده یعنې د الله ﷻ حجاب (په دنیا کښې د دیدار مانع) اور دى.

د همدغه څلورم ډول څخه د "اوربَلبَلکي" رڼا هم شمېرله کېږي چې په عربي لغت کښې ورته "حُباحب" وايي او شرحه يې د [یس: ۸۰] ایت لاندې راروانه ده، إن شاء الله ﷻ.

## څو نور معلومات

۵_ په دې مقام کښې مفسرینو کرامو زښت ډېر معلومات لیکلي دي(۲) که څوک غواړي چې د نظره يې تېر کړي نو همغته دې مراجعه وکړي، مونږ څکه دلته رانقل نه کړه چې په اثبات کښې يې کوم قوي حدیث لاس ته رانغى او د قرآن کریم د اشاراتو څخه هم راته څرګند نه شوه، مونږ ته فقط لاندې معلومات په اشاراتو سره په اثبات ورسېده:

الف: د ﴿ ءَانَسْتُ نَارًا ﴾ د کلماتو څخه معلومېږي چې د موسى ؏ مناجات په توره شپه کښې صورت نیولى وه چې په شپه کښې اور د ډېرې لیرې مسافې څخه لیدلى کېږي.

ب: د ﴿ ءَاتِيكُم مِّنْهَا بِقَبَسٍ ﴾ د کلماتو څخه څرګندېږي دغه د مناجات شپه ښه پوره سړه وه چې د اور بلولو ته اړتیا وه، لکه چې په همدې مطلب باندې په بل ایت کښې صراحت شوى دى چې: ﴿ لَعَلَّكُمْ تَصْطَلُونَ ﴾ [القصص:۲۹] یعنې: موسى ؏ خپل اهل مخاطب کړ چې تاسو دلته منتظر اوسئ چې زه اور ته ورشم نو یا به ترې د لارې خبر راوړم او یا به د اور څه نیم سوى لرګى راوړم

(۱) صحیح مسلم ج۱ ص۹۹

(۲) الدر المنثور ج۵ ص۵۵۴؛ تفسیر البغوي ج۳ ص۲۱۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شاید چې تاسو ترې اور بل کړئ او خپل ځان وربانديې تود کړئ.

ج: د ﴿ أَوْ أَجِدُ عَلَى ٱلنَّارِ هُدًى ﴾ کلمات دلالت کوي چې موسی ؑ په دغه وخت کښې هغه لاره هم خطا کړې وه کومه چې د مدین د ښار څخه د مصر په لور غزېدلې وه.

## د پڼو د ویستلو وجوه

۶ـ الله ﷻ موسی ؑ ته امر وکړ چې: ﴿ فَٱخْلَعْ نَعْلَيْكَ ﴾ نو دواړه پڼې دې وباسه. مفسرینو کرامو د پڼو د ویستلو دپاره متعدد وجوه ذکر کړي دي[1] لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: ځینې وايي چې د موسی ؑ پڼې د خره د خامې څرمنې څخه جوړې وې، دوی وايي چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «كَانَ عَلَى مُوسَى يَوْمَ كَلَّمَهُ رَبُّهُ كِسَاءُ صُوفٍ وَجُبَّةُ صُوفٍ وَكُمَّةُ صُوفٍ وَسَرَاوِيلُ صُوفٍ وَكَانَتْ نَعْلَاهُ مِنْ جِلْدِ حِمَارٍ مَيِّتٍ»[2] یعنې په موسی ؑ باندې په هغې وخت کښې په کوم کښې چې ورسره خپل رب ﷻ خبرې وکړې ورین لباس وه، او ورینه چپن يې په تن وه او هم ورینه خولۍ يې په سر وه، او ورین لنګ یا پرتوګ يې اغوستی وه، او هم په دغه وخت کښې يې دواړه پڼې د خره د خام پوستکي څخه جوړې وې (خو دا حدیث ضعیف دی).

ب: ځینې وايي چې: په دغه کار باندې د تواضع دپاره مکلف کړی شوی وه.

ج: دغه کار د دې دپاره صورت نیولی وه ترڅو په خپلو پښو باندې مبارک مقام مسه کړي.

خو مونږ ته بهتره برېښي چې د پڼو د ویستلو دپاره څه نورې وجهې ونه لټوو او فقط په همدې باندې اکتفاء وکړو چې الله ﷻ ورته پرې امر وکړ او موسی ؑ دستي عملي کړ، نور نو الله ﷻ ډېر ښه پوهېږي چې په څه منظور به يې د پڼو په ویستلو باندې مامور کړی وي.

## لمونځ د الله ﷻ د یادولو دپاره

۷ـ په ﴿ وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِذِكْرِيٓ ﴾ کښې د ﴿ لِذِكْرِيٓ ﴾ کلمات مفسرینو کرامو په زښتو ډېر معناوو باندې تفسیر کړی دی[3] لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: په ﴿ لِذِكْرِيٓ ﴾ کښې د "ل" توری د وخت دپاره دی او د "ذِکْرِي" کلمات د لمانځه څخه کنایه دي، یعنې لمونځ په وخت کښې ودروه کله چې زه درياد شم (هېر شوی لمونځ درته زړه شي او درته ياد شي).

همدا مضمون په یوه اوږده حدیث کښې منعکس شوی دی چې: کله نبي کریم ﷺ او صحابه کرام ؓ د خیبر د غزا څخه بېرته راستانه شوه نو د شپې په څه برخه کښې ویده شوه آن تر دې چې د سبا

---

(١) تفسیر القرطبي ج١١ ص١٧٣؛ روح المعاني ج١٦ ص١٦٩؛ المحرر الوجيز ج١١ ص٦٧
(٢) جامع الترمذي ج١ ص٣٠٤
(٣) روح المعاني ج١٦ ص١٧١؛ تفسير القرطبي ج١١ ص١٧٧؛ تفسير الطبري ج١٦ ص١٤٨

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لمانځه ته هيڅوک راويښ نه شوه، نو کله چې راويښ شوه او لمر راختلی وه، نو د څه مزله څخه وروسته يې د سبا لمانځه قضايي اداء کړه او بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل: «مَنْ نَسِيَ صَلَاةً فَلْيُصَلِّهَا إِذَا ذَكَرَهَا فَإِنَّ اللهَ ﷻ قَالَ ﴿ وَأَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي ﴾»(١) يعنې هرڅوک چې لمونځ هېر کړي (لکه مونږ چې د خوب د کبله هېر کړی وه) نو بيا دې د لمانځه قضاء راوړي (لکه چې مونږ قضاء راوړه) او دا ځکه چې الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿ وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِذِكۡرِيٓ ﴾ او لمونځ زما د يادو په وخت کښې ودروه (چې کله لمونځ درپه ياد شو نو د ارکانو سره يې ودروه).

ب: لمونځ د دې دپاره ودروه چې زه دې په اجر او ثواب سره ياد کړم.

ج: لمونځ خاص زما د يادولو دپاره ودروه، هسې نه چې رياکاري پکښې خلطه ملطه کړي.

د: لمونځ د دې دپاره ودروه چې ترڅو په زړه او ژبه بلکې په ټولو اندامونو سره زما يادوونکی وګرځې.

هـ: لمونځ د دې دپاره ودروه چې په هغو کسانو کښې شامل شې کوم چې ما يادوي، او دا ځکه چې لمونځ زما د يادولو ډېر بهتر صورت دی.

مونږ ته داسې برېښي چې ذکرې شوې معناوې يو تربله څه منافات نه لري نو که د بدليت په اعتبار سره ټولې مرادې کړی شي هم څه باک يې نشته.

## مشكل المعنى كلام

٨ـ ځينو علماوو کرامو ليکلي دي چې د ايت شريف دا ټکړه ﴿ أَكَادُ أُخْفِيهَا ﴾ مشکل المعنى کلام دی(٢)، شايد چې د اشکال وجه به يې دا وي چې د "أَكَادُ" کلمه د "كَادَ" دپاره مضارع ده او "كَادَ" د دې دپاره وضعه شوې ده چې خبر يې فعل ته نژدې شوی وي خو عملي صورت يې نه وي قبول کړی(٣). نو نظر همدې قاعدې ته بايد د ذکر شوې کلام معنى دا راوخېژي چې: زه نژدې يم چې د قيامت ورځ پټه کړم، خو پټه مې نه کړه؛ حال دا چې دغه ډول معنى د نورو نصوصو څخه مخالفه ده چې د قيامت د قيام وخت الله ﷻ د خپل اقدس ذات سره پټ ساتلی دی او هيچا ته يې نه دی ښودلی.

نو علماوو کرامو د همدغه اشکال څخه د وتلو دپاره متعددې لارې اختيارې کړې دي(٤) چې تقريباً لسو لارو ته يې شمېره رسېږي، که څوک يې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي مونږ فقط د يوې طريقې په ذکر باندې اکتفاء کوو کومه چې مونږ ته غوره برېښي او اکثرو علماوو

(١) سنن ابن ماجه ص ٥٠

(٢) تفسير القرطبي ج١١ ص١٨٢

(٣) مفردات الراغب ص ٤٦٢

(٤) المحرر الوجيز ج١١ ص٦٨؛ التفسير الكبير ج٢٢ ص٢١؛ حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج٣ ص٣١٠؛ البحر المحيط ج٧ ص٣١٨

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



كرامو خوښه كړې ده[١] او بالآخره د عبد الله بن عباس (رئيس المفسرين) رضي الله عنهما څخه روايت شوې ده[٢]، هغه دا چې:

په دې مقام كښې د "عَنْ نَفْسِيْ" كلمات د كلام سره مقدر دي لكه چې په يوه قرائت كښې ورباندې صراحت شوى دى[٣]، نو حاصل يې داسې راځيږي چې: زه نږدې وم چې د قيامت د ورځې د قيام وخت د خپله خانه هم پټ كړم خو څرنګه چې دا كار محال وه او نه كېدونكى وه نو د خپله خانه مې پټ نه كړ بلكې په خپل ځان پورې مې كامل اختصاص وركړ.

په عربي كلام كښې د مبالغې دپاره كله-كله يو مضمون په نه كېدونكي چوكاټ كښې اچولى كېږي، د همدې قبيلې څخه لاندې حديث هم ګڼلى كېږي چې:

نبي كريم ﷺ په يوه اوږده حديث كښې فرمايلي دي چې: «...وَرَجُلٌ تَصَدَّقَ إِخْفَاءً حَتَّى لَا تَعْلَمُ شِمَالُهُ مَا تُنْفِقُ يَمِينُهُ»[۴] يعنې د قيامت په ورځ به اوه كسان د الله ﷻ د رحمت د سيورې لاندې وي چې د دغو اوو كسانو څخه به يو كس هغه سړى وي كوم چې خيرات وكړي او داسې پټ يې وركړي چې چپ لاس يې په هغه شي باندې پوه نه شي كوم چې د ده ښي لاس نفقه كړى وي.

## سوال جواب

۹ـ كه څوك وايي چې: د ﴿ لِتُجْزَىٰ كُلُّ نَفْسٍ بِمَا تَسْعَىٰ ﴾ كښې د "لِ" تورى د كومې جملې سره ارتباط لري؟

مونږ وايو چې: ځينو علماوو كرامو د "لِ" توري ته د ﴿ إِنَّ ٱلسَّاعَةَ ءَاتِيَةٌ ﴾ د جملې سره ارتباط وركړى دى[۵]، يعنې د قيامت ورځ خامخا ضرور راتلونكې ده ترڅو هرڅوك د خپل عمل (نېك وي او كه بد وي) په جزا باندې ورسېږي.

خو دا هم څه لرې نه ده چې د نږدې جملې ﴿ أَكَادُ أُخْفِيهَا ﴾ سره ارتباط ولري[۶] يعنې مونږ څكه د قيامت د ورځې د قيام وخت د هر كلك پټ ساتلى دى ترڅو هر چاته د خپل عمل جزا وركړه شي، كه بالفرض مونږ پټ نه وى ساتلى نو خلكو به جنايات كولى او د قيامت د قيام سره په نږدې وخت كښې به يې توبه ويستلى او د خپل بد عمل د جزا څخه به يې خپل ځان بچ كولى.

نو په دې جواب كښې د قيامت د قيام پټول د مرګ د وخت پټولو ته ورته ګڼل كېږي چې بايد په هر وخت كښې ورته سړى چمتو وي چې دغه دى قيامت قائم شو او هغه دى قائم شو.

---

(١) تفسير الخازن ج٣ ص١٩٠؛ تفسير الطبري ج١٦ ص١٥٠
(٢) تفسير ابن كثير ج٣ ص١۴۴
(٣) تفسير البغوي ج٣ ص٢١۴
(۴) صحيح البخاري ج١ ص٩١
(۵) تفسير المراغي ج١٦ ص١٠٠
(۶) تفسير الخازن ج٣ ص١٩١

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دې باندې علاوه مجهول الوقت خطر د گناه کولو روحیه په سړي کښې ډېره ښه مړه کوي، او معلوم الوقت خطر دومره ډېر موثر نه واقع کېږي.

﴿ وَمَا تِلْكَ بِيَمِينِكَ يَٰمُوسَىٰ ﴿١٧﴾ قَالَ هِيَ عَصَايَ أَتَوَكَّؤُاْ عَلَيْهَا وَأَهُشُّ بِهَا عَلَىٰ غَنَمِي وَلِيَ فِيهَا مَـَٔارِبُ أُخْرَىٰ ﴿١٨﴾ قَالَ أَلْقِهَا يَٰمُوسَىٰ ﴿١٩﴾ فَأَلْقَىٰهَا فَإِذَا هِيَ حَيَّةٌ تَسْعَىٰ ﴿٢٠﴾ قَالَ خُذْهَا وَلَا تَخَفْ سَنُعِيدُهَا سِيرَتَهَا ٱلْأُولَىٰ ﴿٢١﴾ وَٱضْمُمْ يَدَكَ إِلَىٰ جَنَاحِكَ تَخْرُجْ بَيْضَآءَ مِنْ غَيْرِ سُوٓءٍ ءَايَةً أُخْرَىٰ ﴿٢٢﴾ لِنُرِيَكَ مِنْ ءَايَٰتِنَا ٱلْكُبْرَى ﴿٢٣﴾ ٱذْهَبْ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ إِنَّهُۥ طَغَىٰ ﴿٢٤﴾ ﴾

[۱۷] او دغه څه شی دی (چې) ستا په ښي لاس کښې (قرار لري)؟ ای موسی!.

[۱۸] موسی عليه السلام ووېلې چې: دا زما همسا ده چې (په مزله کښې) وربانديې تکیا کوم، او په خپلو گډو باندې پرې (د ونو څخه) پاڼې راځنډم، او (بالآخره) ماته په دې (همسا) کښې ډېر نور حاجتونه دي (چې وربانديې يې اجراء کوم).

[۱۹] الله جل جلاله ووېلې چې: ای موسی! دا (همسا) وغورزوه.

[۲۰] نو موسی عليه السلام (سمدستي) وغورزوله نو ناڅاپه دا (همسا) منگور (ښامار) دی چې (په تېزۍ سره) څغلي (منډې وهي).

[۲۱] الله جل جلاله (موسی عليه السلام ته) ووېلې چې: (دا ښامار) ونيسه او (ترې) ډارېږه مه، ژر دی چې مونږ به يې پخواني حالت ته واړوو (بېرته به ترې همسا جوړه کړو).

[۲۲] او (ای موسی!) خپل لاس دې د خپل تخرگ سره پيوسته کړه چې بدون د بدې (برص مرض) څخه په داسې حال کښې تک سپين راووځي چې (ستا د نبوت د اثبات دپاره) بله نښه ده.

[۲۳] (دا کارونه مونږ) د دې دپاره (وکړه) چې تاته د خپلو لويو دلايلو څخه ځينې درولیده کړو.

[۲۴] (ای موسی! د دغو معجزو سره) فرعون ته لاړ شه يقيناً چې فرعون سرکشي کوي (توحيد ته يې دعوت کړه).

## د مطلب خلاصه

يعني ای پيغمبره! مونږ د موسی عليه السلام سره خپل مناجات ته په لاندې ډول ادامه ورکړه چې:

۱ـ مونږ موسی عليه السلام مخاطب کړ چې: ای موسی! په ښي لاس کښې دې څه شی نيولی دی؟

۲ـ موسی عليه السلام په جواب کښې ووېلې چې: دا بل شی نه دی فقط زما همسا ده چې لاندې احتياجات پرې پوره کوم:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: کله چې ستومانه شم او وغواړم چې په ولاړه دمه جوړه کړم نو په همدې همسا باندې تکیا کوم، همدارنګه د همدې همسا څخه په مزله کښې هم استفاده کوم او خان پرې قوي کوم.

ب: کله چې مېږې (ګډې) څروم نو د ونو څخه پرې پاڼې راڅنډوم (راتویه وم).

ج: همدارنګه په دې کښې زما دپاره نور احتیاجات او ارتیاوې پوره کول هم شته چې سپي پرې شړم او د دښمن مقابله پرې کوم او داسې نور.

۳_ الله ﷻ وویلې چې: ای موسی! خپله همسا وغورزوه، او بیا ورته وګوره چې د دې څخه څه شی جوړېږي؟

۴_ نو سمدستي موسی ﷺ خپله همسا وغورزوله چې ګوري سمدلاسه ترې یو لوی مار (اژدها) جوړ شو چې د نرې مار په څېر یې تېزه منډه وهله.

۵_ الله ﷻ موسی ﷺ ته امر وکړ چې: ای موسی! دغه اژدها په خپل لاس باندې ونیسه او بالکل ترې مه ډارېږه، ډېر ژر دی چې مونږ به یې په پخواني شکل سره بېرته واړوو، او د پخوا په شان همسا به ترې جوړه کړو.

۶_ نو موسی ﷺ ښامار (اژدها) ته لاس ورواچاوه ګوري چې په لاس کښې یې د همسا څخه په غیر بل شی نشته، تا به ویل چې هیڅکله ترې اژدها نه وه جوړه شوې.

۷_ مونږ بیا موسی ﷺ مخاطب کړ چې: ای موسی! خپل لاس دې تخرګ ته ننباسه او د خپل څنګ سره یې وصل کړه او بیا یې بېرته راوباسه، نو سمدستي به تک سپین راووځي چې سپین به ځلېږي او څه مرض او آفت به هم ورباندې نه وي ورنازل شوی (لکه برص او نور).

ای موسی! دابه ستا د نبوت د اثبات دپاره بله معجزه وي.

نو موسی ﷺ في الحال ذکره شوې عملیه هم اجراء کړه چې خپل لاس یې په ګرېوان کښې ننویست او تک سپین یې راوویست او بیا یې چې ننویست په عادي شکل باندې یې بېرته راوویست، یا په بل عبارت: لکه څنګه چې پخوا غنم رنګی وه بېرته غنم رنګی وګرځېد.

۸_ بیا مونږ موسی ﷺ ته خطاب وکړ چې ستا د نبوت دېرې لویې-لویې معجزې شته دي چې وخت په وخت به څرګندېږي او ستا دښمن به پرې ملامته کېږي. مګر مونږ ذکرې شوې دوه معجزې سمدستي تاته ځکه دروښودلې چې ته یې په خپلو سترګو باندې وګورې او ښه په اطمنان او ډاډه زړه دعوت ته ادامه ورکړې، او کله چې ورته ضرورت پېښېده نو په ښودلې شوې طریقې سره به ترې کار اخلې او بیا به یې بېرته په زده کړې طریقې سره سنبالوې.

۹_ لنډه دا چې: ای موسی! ته لاړ شه او فرعون توحید ته دعوت کړه ځکه چې نوموړی یقیناً سرکشي کوي حتی چې د الوهیت مدعي دی او هم په خلکو باندې خپل عبادت تحمیلوي.

## توضیحات

۱_ کله چې الله ﷻ وغوښتل چې موسی ﷺ ته د همسا څخه معجزه جوړه کړي نو رومبی یې د

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هغه څخه پوښتنه وکړه چې په لاس کښې دې څه شی دی؟
موسی ﷺ خپله همسا ښه پوره شرحه کړه خو دا یې ونه ویلې چې د دې همسا څخه کله ښامار هم جوړېږي، که بالفرض الله ﷻ د نوموړې همسا څخه بدون د ذکرې شوې شرحې څخه اژدها جوړه کړې وی نو بعید احتمال به یې درلودلی وی چې د موسی ﷺ خیال ته ورغلی وی چې زما په لاس کښې به د لرګي همسا نه وه بلکې ما به په ناخبرۍ کښې اژدها په لاس کښې نیولې وه.
دا د یو پلوه، او د بله پلوه به مونږ ته الله ﷻ د موسی ﷺ د خولې اعتراف نه وی را حکایت کړی نو خلکو به ګومان کړی وی چې موسی ﷺ به په ناخبرۍ کښې همسا په لاس کښې نه بلکې اژدها به یې په لاس کښې نیولې وه.
شاید چې موسی ﷺ د همسا شرحه ځکه اوږده کړې وي چې د کلام څخه به یې لذت آخست لکه چې په همدې وجه کله-کله سړی ورې موضوع ته ډېره شرحه ورکوي. که نه نو د ﴿ هِیَ عَصَایَ ﴾ په کلماتو باندې به یې اکتفاء کړې وی چې د جواب دپاره یې کفایت کاوه.

## مآرب څه معنی؟

۲ـ په ﴿ وَلِیَ فِیهَا مَآرِبُ أُخْرَیٰ ﴾ کښې د ﴿ مَآرِبُ ﴾ کلمه د "مَأْرَبَةٌ" جمعه ده چې د "ر" توری یې درې حرکتونه (زور، زبر، پېښ) درلودلی شي، او د حاجت معنی ورکوي[۱]، نو حاصل به یې داسې راوځېږي چې: په همسا کښې زما د نورو حاجتونو پوره کېدل هم شته دی، لکه د مار او لړم وژل او د دښمن مقابله او هم د خوړونکي سپي مخنیوی او داسې نور.
ځینو مفسرینو کرامو د ﴿ مَآرِبُ ﴾ کلمه په ډېرو خوارقو باندې تفسیره کړې ده چې د شپې د پلوه به د موسی ﷺ څخه خپلې همسا دفاع کوله او د یوه پیره دار حیثیت به یې درلود، د کوهي څخه به یې ورته اوبه راپورته کولې او په ځمکه باندې به یې چې چوخه کړه هلته به دستي چینه راخوټېدله او داسې نور[۲].
مونږ ځکه ذکره شوې کلمه په دغسې غیر عادي خاصیتونو باندې تفسیره نه کړه چې صحیح روایات پکښې نشته[۳] او غالب ګومان کېږي چې ټول به اسرائیلیات وي[۴]، که څوک یې د لوستلو شوق لري هملته دې مراجعه وکړي.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې الله ﷻ د هغه مار څخه کوم چې د موسی ﷺ همسا څخه جوړ شوی وه په

---

(۱) لسان العرب ج۱ ص۲۰۸: مفردات الراغب ص۱۱
(۲) تفسیر الکشاف ج۳ ص۵۸: التفسیر الکبیر ج۲۲ ص۲۷
(۳) روح المعاني ج۱٦ ص۱۸٦
(۴) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۱۴۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[الأعراف:١٠٧] ایت کښې په ﴿ ثُعۡبَانٌ ﴾ سره تعبیر کړی دی چې د نر ښامار (اژدها) معنی ورکوي[١]، او په [القصص:٣١] ایت کښې یې ترې په ﴿ جَآنٌّ ﴾ سره تعبیر کړی دی چې د نري مار دپاره وضعه شوې دی[٢]، او بالآخره په دغه ایت کښې چې بحث پکښې روان دی د نوموړي مار څخه په ﴿ حَيَّةٌ ﴾ سره تعبیر شوی دی چې د مطلق مار (منګور) نوم دی، برابره ده چې نر وي او که ښځه وي او هم برابره ده چې غټ وي او که نری یا وړوکی وي[٣]؛ نو پوښتنه دا ده چې: ایا د ذکرو شوو درې ایتونو ترمنځ منافات نشته؟

مونږ وایو چې: د ﴿ حَيَّةٌ ﴾ کلمه خو د مطلق مار (منګور) نوم دی او دواړو ته شامله ده څه منافات ورسره نه لري، اما د ﴿ ثُعۡبَانٌ ﴾ او ﴿ جَآنٌّ ﴾ دوه نومونه په لاندې اعتباراتو سره تطابق مومي:

الف: ذکر شوی منګور په ابتداء کښې نری وه خو په انتهاء کښې ترې ښامار جوړ شو، نو په یوه ایت کښې ابتدایي حالت ته کتل شوي دي او په ﴿ جَآنٌّ ﴾ سره ترې تعبیر شوی دی، او په بل ایت کښې یې انتهاء په نظر کښې نیولې شوې ده او د ﴿ ثُعۡبَانٌ ﴾ په نوم یاد شوی دی.

ب: ذکر شوی مار که څه هم غټ وه خو په تېزۍ او سرعت کښې د نري مار غوندې وه، نو په یوه ایت کښې یې سرعت ته کتل شوي دي او په بل ایت کښې یې د غټوالي لحاظ ساتلی شوی دی.

په همدې ځای باندې ـ د الله ﷻ په توفیق ـ اوم ټوک پای ته ورسید او په تعقیب یې د همده ﷻ په توفیق اتم ټوک پیل کیږي.

(١) لسان العرب ج١ ص٢٣٦
(٢) لسان العرب ج١٣ ص٩٧
(٣) البحر المحیط ج٧ ص٣٢٣؛ زاد المسیر ج٦٥ ص١٩٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



النحل (١٦)


سریزه ........ ۵
د "أَتَىٰ أَمْرُ اللهِ" معنی ........ ۷
سوال جواب ........ ۸
یو نحوي تحلیل ........ ۹
دوه ډوله تفسیر ........ ۱۳
"جَمَالٌ" څه معنی؟ ........ ۱۳
اوبښان او درانه بارونه ........ ۱۴
د ایت شریف ارشاد ........ ۱۵
د نحویت تحلیلونه ........ ۱۵
اورګاډي او الوتکه ........ ۱۶
تبصره ........ ۱۷
سوال جواب ........ ۱۷
"شَجَرٌ" څه معنی؟ ........ ۲۱
"طَرَاوَةٌ" څه معنی؟ ........ ۲۲
سوالونه او جوابونه ........ ۲۲
یوه عجیبه قیصه ........ ۲۳
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۲۴
یو نحوي تحلیل ........ ۲۴
یادونه (د ځمکې اضطراري حرکت ودرولی شو) ........ ۲۴
په ټوله ځمکه کښې د غرونو او سیندونو تعداد ۲۵
سوال جواب ........ ۲۵
"عَلَامَاتٍ" څه معنی؟ ........ ۲۵
سوال جواب ........ ۲۸
سوال جواب ........ ۲۹
د دې ایت یو نظیر ........ ۳۰
یادونه ........ ۳۰
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۳۱
یادونه ........ ۳۱
"استکبار" څه معنی؟ ........ ۳۱
د "کبر، تکبر، کبریاء" معناوې ........ ۳۲
یادونې ........ ۳۳
د مفهوم عموم ته اعتبار دی ........ ۳۹
دا تمثیل دی که د واقع بیان؟ ........ ۴۰
سوال جواب ........ ۴۱
یوه خونډوره قیصه ........ ۴۱
د مشرکانو شرمول ........ ۴۲
دوه نحوي تحلیلونه ........ ۴۲
په بندګانو باندې د الله ﷻ حق ........ ۴۹
د "في" توری د اجلیه "ل" معنی ورکوي ........ ۵۱
"مُبَاءَةٌ" څه معنی؟ ........ ۵۲
د آخرت اجر لوی دی ........ ۵۳
یادونه ........ ۵۳
اهل الذکر څوک وه؟ ........ ۵۵
یادونه (د څلورو مذاهبو استنباط) ........ ۵۵
سوال جواب ........ ۵۶
"مکرة" څه معنی؟ ........ ۵۹
د "تَقَلُّب" معنی ........ ۵۹
د "تَخَوف" دوه معناوې ........ ۶۰
په همدې ارتباط یوه قیصه ........ ۶۰
تبصره ........ ۶۱
یادونه ........ ۶۱
سوال جواب ........ ۶۱
څو پوښتنې او د هغو جوابونه ........ ۶۲
په اعراب کښې دوه نظره ........ ۶۴
سوال جواب ........ ۶۴
یادونې ........ ۶۶
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۶۸
"وُصُوب" څه معنی؟ ........ ۶۹
سوال جواب ........ ۶۹
مشرکان خپلو بوتانو ته په خپلو مالونو کښې برخې ټاکي ........ ۷۴
الله ﷻ د ولدیت څخه پاک دی ........ ۷۴


Scanned by CamScanner

هیر مو نه شي! ۷۵
"کَظم" څه معنی؟ ۷۵
د "هُون" معنی ۷۶
د لورګانو د وژلو دولونه ۷۶
یادونه ۷۷
ایا نن هم لور وژنه شته؟ ۷۷
د "شغار" په هکله معلومات ۷۹
تبصره ۷۹
د دغه ایت شریف ارشاد ۸۰
سوال جواب ۸۱
"حُسنی" څه معنی؟ ۸۲
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۸۲
د "مُفرَطون" معنی ۸۲
سوال جواب ۸۴
سوال جواب ۸۵
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۸۹
د "فَرث" معنی ۹۰
سوال جواب ۹۰
د شودو د جوړیدلو مراحل ۹۱
یو نحوي تحلیل ۹۱
سوال جواب ۹۲
د "وَحي" معنی ۹۲
"نحل" جمعه ده که مفرد؟ ۹۲
"عرش" څه معنی؟ ۹۳
د شاتو حقیقت څه شی دی ۹۳
یوه لنډکۍ قیصه ۹۳
د شاتو مختلف دولونه ۹۴
سوال جواب ۹۴
شاتو پوري مربوط عجائب او غرائب ۹۶
د انسان د عمر مراتب ۹۷
په بوډاتوب کښې سوال جواب ۹۸
پښتون شاعر او بوډا ۹۹
د دي ایت شریف یو نظیر ۱۰۲
"حَفَدَة" څه معنی؟ ۱۰۲
یو نحوي تحلیل ۱۰۲
دلته "امثال" څه معنی؟ ۱۰۲
سوال جواب ۱۰۶
سوال جواب ۱۰۷
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۱۰۷
سوال جواب ۱۰۷
یادونه ۱۰۸
د دوه وو ژوندونو ضروریات ۱۱۲
سوال جواب ۱۱۲
"ظعن" او "إقامة" څه معنی؟ ۱۱۳
په یاد ولرئ! ۱۱۳
"أثاث" او "متاع" څه فرق لري؟ ۱۱۳
"أكنان" څه معنی؟ ۱۱۴
سوال جواب ۱۱۴
یادونه ۱۱۵
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۱۱۵
سوال جواب ۱۱۶
د "يُستَعتَبُون" د کلمې صرفي تحلیل ۱۱۹
سوال جواب ۱۲۰
دوه دوله تفسیر ۱۲۰
"تِبيان" څه معنی؟ ۱۲۱
د قران کریم جامع ایت ۱۲۲
سوال جواب ۱۲۳
د شپږو لغاتو معناوي ۱۲۳
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۱۲۶
دا ایت د خطبې جز وګرزولی شو ۱۲۶
"عهد" څه معنی؟ ۱۳۰
تبصره ۱۳۱
تاکید او توکید څه فرق لري ۱۳۱
سوال جواب ۱۳۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




دا قيصه ده که تمثيل ...... ۱۳۲
تبصره ...... ۱۳۳
د څو لغاتو معناوې ...... ۱۳۳
سوال جواب ...... ۱۳۳
"دَخَل" څه معنی؟ ...... ۱۳۴
يوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۱۳۴
هیر مو نه شي! ...... ۱۳۴
سوال جواب ...... ۱۳۵
پاکيزه کوم ژوند دی ...... ۱۳۵
نبي کريم ﷺ هم شيطان درلود ...... ۱۳۸
په انسانانو کښې هم شيطان شته ...... ۱۳۸
څو مسائل ...... ۱۳۸
سوال جواب ...... ۱۳۹
يوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۱۳۹
دلته د "آيَة" معنی ...... ۱۴۲
سوال جواب ...... ۱۴۳
د "رُوحُ الْقُدُس" معنی ...... ۱۴۳
دلته د "بَشَر" د کلمې مصداق ...... ۱۴۳
د "لِسَانٌ" د کلمې معنی ...... ۱۴۴
د نحويت يو تحليل ...... ۱۴۷
سوال جواب ...... ۱۴۷
يوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۱۴۸
دا عزيمت دی که رخصت؟ ...... ۱۴۸
د شرعي "إِكْرَاه" اندازه ...... ۱۴۹
يادونه ...... ۱۴۹
سلفو صالحينو په دواړو عمل کړی دی ...... ۱۴۹
يو نحوي تحليل ...... ۱۵۰
سوال جواب ...... ۱۵۱
"جِدَال" څه معنی؟ ...... ۱۵۱
دلته د "ضَرَب" کلمه د "جَعَل" کلمې ته متضمنه ده ...... ۱۵۶
سوال جواب ...... ۱۵۶
يوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۱۵۷
سوال جواب ...... ۱۵۸
يو نحوي تحليل ...... ۱۶۱
يادونه ...... ۱۶۲
په ياد ولرئ! ...... ۱۶۲
ابراهيم عليه السلام يو امت وه ...... ۱۶۲
يوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۱۶۳
سوال جواب ...... ۱۶۳
يادونه ...... ۱۶۴
سوال جواب ...... ۱۶۵
يوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۱۶۹
د "حکمة" د کلمې معنی ...... ۱۶۹
د "مَوْعِظَة حَسَنَة" معنی ...... ۱۷۰
ښايسته مباحثه ...... ۱۷۰
سوال جواب ...... ۱۷۱
په قصاص کښې مثليت ضرور دی ...... ۱۷۲
يادونه ...... ۱۷۲


## بني إسرآئيل (۱۷)


سريزه ...... ۱۷۴
د "سُبْحَانَ" په ارتباط څو نکات ...... ۱۷۶
"إِسْرَاء" څه معنی؟ ...... ۱۷۷
شپه د مناجات دپاره مناسبه ده ...... ۱۷۸
"إِسْرَاء" او "مِعْرَاج" څه فرق لري ...... ۱۷۸
کټور معلومات ...... ۱۷۸
د دې مبارکې رحلې نښته ...... ۱۷۹
دا مبارکه رحله په ويښه او جسماني توګه وه ۱۷۹
"براق" د کوم څاروي نوم دی؟ ...... ۱۸۰
يوه عجيبه اشاره ...... ۱۸۰
د ټولو پيغمبرانو عليهم السلام امامت ...... ۱۸۱
ديوه يهودي ديني مشر شهادت ...... ۱۸۱
ايا د معراج څخه انکار کفر دی؟ ...... ۱۸۲


Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




"أَقْصَىٰ" څه معنی؟ ...... ۱۸۲
سوال جواب ...... ۱۸۲
دوه اشاري ربنتيا شوي ...... ۱۸۸
دلته د "الكتاب" معنی ...... ۱۸۸
د بني اسرائيلو تواريخ ...... ۱۸۸
"كَرَّة" څه معنی؟ ...... ۱۹۰
سوال جواب ...... ۱۹۰
يادونه ...... ۱۹۱
"حَصِير" څه معنی؟ ...... ۱۹۱
كفار د خپلو ځانو دپاره شر غواړي ...... ۱۹۴
سوال جواب ...... ۱۹۵
يوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۱۹۵
سوال جواب ...... ۱۹۶
يو نحوي تحليل ...... ۱۹۶
د "طَائِر" كلمه څه معنی؟ ...... ۱۹۶
سوال جواب ...... ۱۹۷
هير مو نه شي! ...... ۱۹۸
سوال جواب ...... ۱۹۸
ايا د كفارو ماشومان جنتيان دي؟ ...... ۱۹۸
ايا هغه كسان چې بې دعوته پاتي وي مكلف دي؟ ...... ۱۹۹
سوال جواب ...... ۲۰۱
يوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۲۰۲
"أُوْلُ الرُّسُل" د كوم پيغمبر لقب دی؟ ...... ۲۰۵
يو ارشاد ...... ۲۰۵
مشكور عمل څه معنی؟ ...... ۲۰۶
يادونه ...... ۲۰۶
د آخرت درجات څومره او څو دي؟ ...... ۲۰۶
"خُذْلَان" څه معنی؟ ...... ۲۱۱
د "قضاء" معنی ...... ۲۱۱
سوال جواب ...... ۲۱۱
د "أُف" ويل څه معنی؟ ...... ۲۱۲
د "كريم قول" معنی ...... ۲۱۲
د "جَنَاحَ الذُّلِّ" معنی ...... ۲۱۳
مور او پلار ته مغفرت غوښتنه هم يو حق دی ۲۱۳
سوال جواب ...... ۲۱۳
د مرگ څخه وروسته د مور او پلار حقوق .. ۲۱۴
كافران مور او پلار هم حقوق لري ...... ۲۱۵
سوال جواب ...... ۲۱۵
"أَوَّاب" څه معنی؟ ...... ۲۱۶
د "تَبْذِير" معنی؟ ...... ۲۱۷
سوال جواب ...... ۲۱۷
د "بخل" نوم د كنايې په توگه ...... ۲۲۰
سوال جواب ...... ۲۲۰
"مَحْسُور" څه معنی؟ ...... ۲۲۱
سوال جواب ...... ۲۲۱
"إِمْلَاق" څه معنی؟ ...... ۲۲۲
زنا كارې بده لاره ده ...... ۲۲۳
عجيبه قيصه ...... ۲۲۳
په حقه وژل وپيژنئ! ...... ۲۲۴
په جائز قتل كښې هم اسراف روا نه دی ...... ۲۲۴
"قِسْطَاس" څه معنی؟ ...... ۲۲۷
د "قَفُوْ" معنی ...... ۲۲۸
سوال جواب ...... ۲۲۸
دوه ډوله تفسير ...... ۲۲۹
څو يادونې ...... ۲۳۰
يو نحوي تحليل ...... ۲۳۰
سوال جواب ...... ۲۳۱
د څلورو لغاتو معناوې ...... ۲۳۱
يادونه ...... ۲۳۲
د شركي عقيدې دوه خبرې ...... ۲۳۵
دوه ډوله تفسيرونه ...... ۲۳۵
ايا هر شی د الله ﷻ تسبيحات وايي؟ ...... ۲۳۶


Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د جماداتو او حیواناتو تسبیحات اوریدلی
شوي هم دي ........................ ۲۳۸
تبصره ........................ ۲۳۹
د "مَنثُور" معناوي ........................ ۲۴۳
فائده ده خو تفسیر نه دی ........................ ۲۴۴
سوال جواب ........................ ۲۴۵
دوه ډوله تفسیر ........................ ۲۴۶
تبصره ........................ ۲۴۶
دوه خبري په یاد ولرئ ........................ ۲۴۹
سوال جواب ........................ ۲۴۹
سوال جواب ........................ ۲۵۲
دلته عامه قرینه مراده ده او که خاصه ........................ ۲۵۳
د صالح ﷺ د معجزي اوښه ........................ ۲۵۷
په یاد ولرئ! ........................ ۲۵۷
سوال جواب ........................ ۲۵۷
ملعونه شجره کومه یوه ده؟ ........................ ۲۵۸
سوال جواب ........................ ۲۵۹
کله-کله اور سوزول نه کوي ........................ ۲۵۹
دلته د آدم ﷺ د قیصې هدف ........................ ۲۶۲
سوال جواب ........................ ۲۶۲
یادونه ........................ ۲۶۳
"احتناک" څه معنی؟ ........................ ۲۶۳
سوال جواب ........................ ۲۶۴
هیر مو نه شي! ........................ ۲۶۴
د "استفزاز" معنی ........................ ۲۶۴
د ابلیس صوت (اواز) ........................ ۲۶۴
ایا ابلیس اسونه لري؟ ........................ ۲۶۵
سوال جواب ........................ ۲۶۶
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۲۶۷
دوه ډوله تفسیر ........................ ۲۶۷
"إزجاء" څه معنی؟ ........................ ۲۷۱
د "حَاصِب" او "قَاصِف" معناوي ........................ ۲۷۱
"تُبیع" د چا لقب دی؟ ........................ ۲۷۱
انسان د کرامت خاوند دی ........................ ۲۷۲
سوال جواب ........................ ۲۷۳
یو نحوي تحلیل ........................ ۲۷۳
یادوني ........................ ۲۷۴
دوه ډوله تفسیر ........................ ۲۷۶
تبصره ........................ ۲۷۷
سوال جواب ........................ ۲۷۷
"فتیل" څه معنی؟ ........................ ۲۷۸
روند په دوه ډوله دی ........................ ۲۷۸
سوال جواب ........................ ۲۷۹
تبصره ........................ ۲۷۹
"افتنان" څه معنی؟ ........................ ۲۸۳
د "ضِعف" معنی ........................ ۲۸۳
سوال جواب ........................ ۲۸۴
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۲۸۴
یو نحوي تحلیل ........................ ۲۸۶
د "دُلُوک" او "غَسَق" معناوي ........................ ۲۹۰
سوال جواب ........................ ۲۹۱
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۲۹۱
د سهار لمونځ مشهود دی ........................ ۲۹۲
"تَهَجُّد" څه معنی؟ ........................ ۲۹۲
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۲۹۲
سوال جواب ........................ ۲۹۳
د تهجد د لمانځه رکعتونه څو دي؟ ........................ ۲۹۴
سوال جواب ........................ ۲۹۴
یادونه ........................ ۲۹۴
محمود مقام د کوم مقام نوم دی ........................ ۲۹۴
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۲۹۵
د "مُدخَل" او "مُخرَج" معناوي ........................ ۲۹۵
د تـلـې دپاره یو بل خارق العاده ........................ ۲۹۷
یو نحوي تحلیل ........................ ۲۹۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




یادونه ........ ۲۹۸
"شاکِلَة" څه معنی؟ ........ ۲۹۸
د "روح" د پیژاندلو پوښتنه چا کړي وه؟ ........ ۳۰۱
تبصره ........ ۳۰۳
دلته "روح" په کومه معنی سره دی ........ ۳۰۳
سوال جواب ........ ۳۰۴
د کفارو شپږ وړاندیزونه ........ ۳۱۰
"یَنْبُوع" څه معنی؟ ........ ۳۱۰
"کِسَف" څه ته وایي؟ ........ ۳۱۰
د "قَبِیْل" معنی ........ ۳۱۰
د "زُخْرُف" د کلمې معنی ........ ۳۱۱
که پرښتې په ځمکه کښې میشتې وي ........ ۳۱۱
سوال جواب ........ ۳۱۲
په مخونو باندې بیول ........ ۳۱۲
د دوه وو لغاتو (خَبَتْ، سَعِیْر) معناوې ........ ۳۱۳
دوه ډوله تفسیر ........ ۳۱۳
یو نحوي تحلیل ........ ۳۱۴
د ایت شریف یو نظیر ........ ۳۱۵
"اِمْسَاك" څه ته وایي؟ ........ ۳۱۵
د "قَتُور" معنی ........ ۳۱۶
سوال جواب ........ ۳۱۶
د موسی ﷺ نهه معجزات کوم-کوم دي ........ ۳۱۹
تبصره ........ ۳۱۹
سوال جواب ........ ۳۲۰
یادونه ........ ۳۲۱
"ثبور" څه معنی؟ ........ ۳۲۲
یادونه ........ ۳۲۲
د "لفیف" معنی ........ ۳۲۲
د ایتونو ارشاد ........ ۳۲۳
قران کریم په حقه نازل شوی دی ........ ۳۲۵
سوال جواب ........ ۳۲۵
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۳۲۶
یادونه ........ ۳۲۶
د ایت شریف ارشاد ........ ۳۲۶
یادونه ........ ۳۲۸
دغه توصیه عامه ده ........ ۳۲۹
د غلو څخه په امن کښې کیدلو دعاء ........ ۳۳۰
یادونه ........ ۳۳۰
هیر مو نه شي! ........ ۳۳۰


## الکهف (۱۸)


سریزه ........ ۳۳۳
د "قَیِّمًا" د کلمې تفسیر او اعراب ........ ۳۳۷
"آثار" څه معنی؟ ........ ۳۳۸
یادونه ........ ۳۳۸
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۳۳۸
د "صَعِید" او "جُرُز" معناوې ........ ۳۳۹
د "کهف" معنی ........ ۳۴۱
اصحاب الرقیم څوک دي؟ ........ ۳۴۱
سوال جواب ........ ۳۴۲
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۳۴۲
یو صرفي او نحوي تحلیل ........ ۳۴۳
د "نَبَأ" معنی ........ ۳۴۸
سمڅې ته د پنا وړلو سبب ........ ۳۴۸
"شَطَط" څه معنی؟ ........ ۳۴۹
یادونه ........ ۳۴۹
د سمڅې عجیبه جوړښت ........ ۳۴۹
سوال جواب ........ ۳۵۱
د اصحاب الکهف سپی ........ ۳۵۱
د "قالُوا" د ضمیر مرجع ........ ۳۵۵
هیر مو نه شي! ........ ۳۵۵
اصحاب الکهف راویښ شوه ........ ۳۵۵
سوال جواب ........ ۳۵۷


Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د اصحاب الکهف د بیدارېدلو حکمتونه ..۳۵۷
یادونه ..........۳۵۸
دوه پوښتنې او د هغو جوابونه ..........۳۵۹
سوال جواب ..........۳۶۰
یوه پوښتنه او د هغې جواب ..........۳۶۴
سوال جواب ..........۳۶۴
"مُمَارَاةٌ" څه معنی؟ ..........۳۶۵
یو نحوي تحلیل ..........۳۶۵
ایا "إن شاء الله" د نفاذ مخه نیسي؟ ..........۳۶۶
تبصره ..........۳۶۶
سوال جواب ..........۳۶۷
حسن توافق ..........۳۶۸
سوال جواب ..........۳۶۸
یادونه ..........۳۶۹
دوه د تعجب صیغې ..........۳۶۹
د فقیرانو د شړلو دپاره د کفارو بهانې ..........۳۷۳
د "فُرُط" معنی ..........۳۷۴
"سُرَادِقُ" څه ته وایي؟ ..........۳۷۴
"مهل" د څه شي څخه عبارت دی ..........۳۷۵
د "ارتفاق" معنی ..........۳۷۵
د "أسَاوِر" تحلیل ..........۳۷۵
"سُندُس" او "إستَبْرَق" څه فرق لري؟ ..........۳۷۵
"أرِيكَةٌ" څه معنی؟ ..........۳۷۶
دا فرضي مثال نه دی ..........۳۸۲
یوه پوښتنه او د هغې جواب ..........۳۸۲
سوال جواب ..........۳۸۳
هیر مو نه شي! ..........۳۸۳
سوال جواب ..........۳۸۴
د دوارو سرېو یو تربله څه علاقه درلوده ..........۳۸۴
"جِوَارٌ" او "مُحَاوَرَةٌ" څه معنی؟ ..........۳۸۴
سوال جواب ..........۳۸۵
یو نحوي تحلیل ..........۳۸۵
د آفتونو څخه د بچ پاتې کېدلو دعاء ..........۳۸۶
"حُسْبَان" څه معنی؟ ..........۳۸۶
داسې معلومېږي ..........۳۸۶
سوال جواب ..........۳۸۷
په "هُنَالِكَ" کښې څه شي ته اشاره ده؟ ..........۳۸۷
د دوه وو لغاتو (هَشِمٌ، ذَرْوٌ) معناوې ..........۳۹۱
"باقیات صالحات" د کومو شیانو څخه عبارت دی ..........۳۹۲
"مُغَادَرَةٌ" او "غدر" څه معنی؟ ..........۳۹۲
ابلیس د پیریانو څخه دی ..........۳۹۵
تبصره ..........۳۹۶
سوال جواب ..........۳۹۶
د "مَوْبِق" د کلمې معنی ..........۳۹۶
د "ظن" کلمه کله د "یقین" معنی ورکوي ..........۳۹۷
دلته کومه جګړه مراده ده؟ ..........۴۰۱
سوال جواب ..........۴۰۱
"إدْحَاضٌ" څه معنی؟ ..........۴۰۲
یادونه ..........۴۰۲
د "فَتی" معنی ..........۴۰۸
د "لا أبْرَحُ" معنی ..........۴۰۸
د مجمع البحرین مصداق ..........۴۰۸
"حُقُب" څه معنی؟ ..........۴۰۹
سوال جواب ..........۴۱۰
یوه پوښتنه او د هغې جواب ..........۴۱۱
مړ ماهي ژوندی شو ..........۴۱۱
"سَرَب" او "عَجَب" څه فرق لري؟ ..........۴۱۲
موسی ﷺ ستومانه شو ..........۴۱۲
سوال جواب ..........۴۱۲
د خضر ﷺ په هکله معلومات ..........۴۱۳
اوله موضوع (خضر ﷺ پیغمبر و) ..........۴۱۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۴۱۵
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۴۱۶
سوال جواب ........ ۴۱۶
دوهمه موضوع (ایا خضر ﷺ اوس هم ژوندی دی؟) ........ ۴۱۶
هیر مو نه شي! ........ ۴۱۷
خضر ﷺ بیړی سوری کړه ........ ۴۱۷
تبصره ........ ۴۱۷
دوه اشتباهګانې ........ ۴۱۸
"إِمْرٌ" څه معنی؟ ........ ۴۱۸
دلته د "غُلام" مصداق ........ ۴۱۹
سوال جواب ........ ۴۱۹
د ماشوم د وژلو دول ........ ۴۱۹
د قران کریم د ټولو حرفو مجموعه ........ ۴۱۹
د پنځلسمي سپارې اختتام ........ ۴۲۰
د موسی ﷺ درې اعتراضونه ........ ۴۲۲
دلته کوم ښار (کلی) مطلب دی ........ ۴۲۳
سوال جواب ........ ۴۲۳
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۴۲۴
د دېوال د لوېدلو نیت درلود ........ ۴۲۵
د دېوال د ودرولو کیفیت ........ ۴۲۵
"مسکین" څه معنی؟ ........ ۴۲۷
سوال جواب ........ ۴۲۸
د وضاحت دپاره یو نظیر ........ ۴۲۸
د خضر ﷺ غوښتنه پوره شوه ........ ۴۲۹
د "کنز" معنی ........ ۴۲۹
درېګوني اسلوبونه ........ ۴۳۰
سوال جواب ........ ۴۳۰
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۴۳۱
یوه لطیفه اشاره ........ ۴۳۱
یوه په زړه پورې او ضروري تبصره ........ ۴۳۲
د ذوالقرنین درې سفرونه ........ ۴۳۵
یادونه ........ ۴۳۶
"سَبَب" څه معنی؟ ........ ۴۳۷
ایا لمر په خټه کښې پرېوزي؟ ........ ۴۳۸
سوال جواب ........ ۴۳۸
د "دُون" د کلمې معنی ........ ۴۴۰
یادونه ........ ۴۴۱
د "سَدّ" معنی ........ ۴۴۴
داسې معلومېږي چې ........ ۴۴۴
د یاجوج ماجوج بیانات ........ ۴۴۵
یاجوج او ماجوج څوک څوک دي ........ ۴۴۵
یاجوج او ماجوج چرته اوسیږي ........ ۴۴۶
د زوزو مازوزو تعداد ........ ۴۴۷
زوزي مازوزي به په یو خل مړه شي ........ ۴۴۸
سوال جواب ........ ۴۴۸
"زُبَرَة" څه معنی؟ ........ ۴۴۹
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۴۴۹
"صَدَف" څه معنی؟ ........ ۴۴۹
د "قطر" معنی ........ ۴۴۹
لطیفه اشاره ........ ۴۵۰
د دغه بند کمیت، کیفیت او موقعیت ........ ۴۵۰
د ایتونو ارشادات ........ ۴۵۳
دوه ډوله تفسیر ........ ۴۵۴
سوال جواب ........ ۴۵۵
یو أعرابي تحلیل ........ ۴۵۸
سوال جواب ........ ۴۵۹
خطرناکه ګناه ........ ۴۵۹
"وَزن" څه معنی؟ ........ ۴۵۹
تبصره ........ ۴۶۰
"فِرْدَوْس" څه معنی؟ ........ ۴۶۰
سوال جواب ........ ۴۶۱
یادونه ........ ۴۶۲
د "الْبَحْر" او "مِدَاد" معناوي ........ ۴۶۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د مخلوقاتو وسعت هم د تصور څه بهر دی. ۴۶۴
"رَجَاء" څه معنی؟ ۴۶۵
سوال جواب ۴۶۵
د ریاکارۍ تعریف او ډولونه ۴۶۶
د خوب څخه د راویښېدلو دعاء ۴۶۶
مریم (۱۹)
سریزه ۴۶۸
اهل التشیع څه وایي؟ ۴۷۱
سوال جواب ۴۷۲
"وَلِيّ" څه معنی؟ ۴۷۳
د "وِرَاثَة" معنی ۴۷۴
اهل التشیع څه وایي؟ ۴۷۵
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۴۷۵
سوال جواب ۴۷۸
یادونه ۴۷۹
"سَمِيًّا" څه معنی؟ ۴۷۹
تبصره ۴۷۹
سوال جواب ۴۷۹
د "عِتِيًّا" معنی ۴۸۰
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۴۸۰
"مِحْرَاب" څه معنی؟ ۴۸۰
د بني اسرائیلو مهم کتاب تورات وه ۴۸۲
یحیی ﷺ او نبوت ۴۸۳
د "حَنَان" او "زَكَوَة" معناوي ۴۸۳
د الله ﷻ د پلوه سلام څه معنی؟ ۴۸۳
یادونه ۴۸۴
د څو لغاتو معناوي ۴۸۶
یادونه ۴۸۷
سوال جواب ۴۸۸
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۴۸۸
سوال جواب ۴۸۹
د "الرحمن" په کلمې سره پنا غوښتل ۴۹۰
د عیسی ﷺ د تولد په هکله معلومات ۴۹۲
"قَصِيًّا" څه معنی؟ ۴۹۳
د "نَسْيًا مَنْسِيًّا" معنی ۴۹۳
یادونه ۴۹۳
سوال جواب ۴۹۳
د "سَرِيًّا" معنی ۴۹۴
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۴۹۷
"فَرِيّ" څه معنی؟ ۴۹۷
سوال جواب ۴۹۸
د دې ایت ارشاد ۴۹۹
سوال جواب ۴۹۹
لمونځ او زکات ۵۰۰
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۵۰۰
یو نحوي تحلیل ۵۰۳
یو اعرابي تحلیل ۵۰۴
دلته "أَحْزَاب" د چا څخه عبارت دی؟ ۵۰۴
"مَشْهَد" څه صیغه ده؟ ۵۰۵
د حسرت ورځ ۵۰۵
ابراهیم ﷺ خپل پلار توحید ته دعوت کړ ۵۱۰
"مَلِيًّا" څه معنی؟ ۵۱۱
د متارکې سلام ۵۱۱
یادونې ۵۱۱
"أَعْتَزِلُ" څه معنی؟ ۵۱۲
"لِسَان" څه معنی؟ ۵۱۲
د "إِخْلَاص" معنی ۵۱۴
رسول او نبي څه فرق لري؟ ۵۱۴
تبصره ۵۱۵
سوال جواب ۵۱۵
د "صَادِقَ الْوَعْدِ" مثالونه ۵۱۶
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۵۱۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




لوړ مکان د کوم ځای څه عبارت دی؟ ....... ۵۱۷
تبصره ....... ۵۱۸
د ادریس ﷺ ځو اولیات ....... ۵۱۸
صرفي تحلیلونه ....... ۵۲۲
د تلاوت د سجدې د وجوب وجوه ....... ۵۲۳
د لمانځه ضائع کول څه معنی؟ ....... ۵۲۴
تبصره ....... ۵۲۴
سوال جواب ....... ۵۲۵
یو غوره تفسیر ....... ۵۲۷
الله ﷻ "سَمي" نه لري ....... ۵۲۷
د بیا راژوندي کېدلو د اثبات دوه دلیلونه .. ۵۳۰
سوال جواب ....... ۵۳۰
یو نحوي تحلیل ....... ۵۳۱
ایا ټول خلک به یو ځل دوزخ ته داخلېږي؟ . ۵۳۱
تبصره ....... ۵۳۵
د ځو لغاتو معناوې ....... ۵۳۸
مباهلې ته د مشرکانو دعوت ....... ۵۳۹
سوال جواب ....... ۵۴۲
دلته د "عَهد" معنی ....... ۵۴۳
یوه پوښتنه او د هغې جواب ....... ۵۴۴
سوال جواب ....... ۵۴۴
هیر مو نه شي! ....... ۵۴۴
"ضِد" څه معنی؟ ....... ۵۴۵
د "أز" معنی ....... ۵۴۷
"وَفد" څه معنی؟ ....... ۵۴۷
د "وِرْد" معنی ....... ۵۴۸
څلویښت (۴۰) دوله تفسیر ....... ۵۴۸
د "إدّ" او "هَدّ" معناوې ....... ۵۵۲
سوال جواب ....... ۵۵۲
د "وُدّ" د کلمې معنی ....... ۵۵۵
"لُدّ" څه معنی؟ ....... ۵۵۶
د "رِکز" د کلمې معنی ولولئ ....... ۵۵۷


## طه (۲۰)


"شقاوة" څه معنی؟ ....... ۵۶۳
تبصره ....... ۵۶۳
"ثَرى" څه معنی؟ ....... ۵۶۴
د "سِرّ" او "أخفَى" ترمنځ فرق ....... ۵۶۵
تبصره ....... ۵۶۶
د مدین څخه مصر ته د موسی ﷺ سفر ..... ۵۶۹
سوال جواب ....... ۵۷۰
د "قَبَس" معنی ....... ۵۷۰
اور په څلور ډوله دی ....... ۵۷۰
څه نور معلومات ....... ۵۷۱
د پنبو د ویستلو وجوه ....... ۵۷۲
لمونځ د الله ﷻ د یادولو دپاره ....... ۵۷۲
مشکل المعنی کلام ....... ۵۷۳
سوال جواب ....... ۵۷۴
د موسی ﷺ د همسا مشخصات ....... ۵۷۶
"مآرب" څه معنی؟ ....... ۵۷۷
سوال جواب ....... ۵۷۷


Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



Scanned by CamScanner